دورہ موقوف علیہ کے طلباء وطالبات کے لئے گراں قدر تحفہ



الامداد الرجیح

شرح

مشکوٰۃ المصابیح

جلد اول

از افادات

شیخ القرآن والحدیث مولانا امداد الحق صاحب شیوِوی حفظہ اللہ تعالیٰ

ناشر: جامعہ جواہر القرآن والسنۃ

مرغز صوابی خیبر پختونخواہ

هدیہ من جانب أستاذي المكرم شيخ القرآن والحديث مولانا امداد الحق صاحب شیوی
7/1/2021

بسم اللہ الرحمن الرحیم

﴿ وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾

اصل دین آمد کتاب اللہ معظم داشتن　　پس حدیث مصطفیٰ بر جاں مسلّم داشتن

دورہ موقوف علیہ کے طلباء وطالبات کے لئے گراں قدر تحفہ

الامداد الرجیح

شرح

مشکوۃ المصابیح

جلد اول

از افادات

شیخ القرآن والحدیث

مولانا امداد الحق صاحب شیووی

حفظہ اللہ تعالی



جمع وترتیب

مولوی عبدالرحمن پلوسوی

بسم اللہ الرحمن الرحیم

د کتاب نوم : الامدادالرجیح شرح مشکوۃ المصابیح

افادات : شیخ القرآن والحدیث مولانا امداد الحق شیووی

جمع وترتیب : مولوی عبدالرحمن پلوسوی


ډیزائنگ : محمد قاسم ادینوی

اشاعت اول: محرم الحرام ۱۴۴۲ھ =ستمبر ۲۰۲۰

تعداد : ۱۱۰۰

ناشر : جامعہ جواهر القرآن والسنۃ مرغز صوابی خیبر پختونخواه

رابطه نمبر : 0342 0855541



فهرست د الامداد الرجیح شرح مشکوة المصابیح

تقریظ

قائد الجماعة وضرغام الموحدین ، رافع لواء حفاظة الدین المتین ، وقامع اساس المبتدعین والملحدین ، طیب القول والعقیدة ، ودرة الیتیمة الفریدة ، فضیلة الشیخ محمد طیب الفنج فیری وبارك له فی اوانه وساعاته

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله منزل الکتاب ، والصلوة والسلام علی من ارسل بالآیات البینات ، وعلی آله واصحابه ومن تبعهم فی العبادات والمعاملات أما بعد!

د ډیرمودے داسے زما آرزو وه چه په پښتو ژبه یو حنفی عالم د مشکوة المصابیح شرح اولیکی. ځکه چه د احادیثو په خدمت کښې د افغانی علماء یولوئی او لوړمقام دے. چه د هغے نه مکحول ، نافع ، مقاتل بن حیان ، مقاتل بن سلیمان ، عطاء بن میسره ، ابو مسلم خراسانی ، امام ضحاك ، مکی بن ابراهیم ، قتیبه بن سعید بغلانی ، امام ابوداود ، ملاعلی قاری هروی ، امام ابو حنیفه رحمهم الله۔ او داسے نور ډیر لوئی لوئی جبال العلم تیر شویدی۔

نن چه ما د مولانا امداد الحق صاحب شرح مشکوة په نامه د (الامداد الرجیح) اولیده نو ډیر زیات خوشحاله شوم او د زړه نه دعا کوم چه الله تعالی دے دَ دوی په علم ، عمر ، عمل او قلم کښې نور برکت کړی۔ او الله تعالی دے دا خدمت دَ دوی د رفعت او ترقی سبب او د آخرت د نجات ذریعه اوګرځوی . آمین .

احقر: محمد طیب طاهری

تقریظ

رئیس دار الافتاء جامعة الامام محمد طاهر دارا لقرآن فنج فیر زینة العلماء ، تقی الاتقیاء ،زبدة السلف و بقیة الاولیاء الشیخ مفتی سراج الدین حفظه الله تعالی

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم وعلی آله وصحبه اجمعین أما بعد !

امام محی السنة قامع البدعة ابو محمد حسین بن مسعود بن محمود الفراء البغوی رحمة الله علیه یو مجموعه د احادیثو راجمع کړے وه. په نوم د المصابیح اوپه هغه مجموعه کښی : ۴۴۸۴ فی قول ، وفی قول : ۴۴۳۴ . بیا د امام ابو عبدالله ولی الدین محمد بن عبدالله العمری الخطیب التبریزی رحمه الله ته د هغوی شیخ علامه حسین بن محمد طیبی رحمه الله امر اوفرمائیل چه په دغه مجموعه بانده کار اوکړه ۔ او په مصابیح کښی کوم کمے دے. هغه پوره کړه. نو خطیب صاحبؒ دا عظیم خدمت شروع کړو. او په دغه مجموعه بانده څه اضافات اوکړه. مثلاً : ۱۵۱۱ ، نو دے اضافاتو سره کل تعداد : ۵۹۹۵ فی قول ، یا : ۵۹۴۵ . او د امام بغویؒ دوه فصلونو بانده یو دریم فصل اضافه او سره د ذکر د نوم د صحابی او آخر کښی ذکر د حواله اودے نسبت مجموعے نوم کیخوده المشکوة المصابیح. او الله رب العزت دے مجموعے له دومره عزت ، شرافت او برکت ورکړو. چه د طالبانو او د طالباتو د دورے حدیث نه مخکښی دا مجموعه موقوف علیه اوګرځول. بغیر ددے د وئیلونه طالب العلم ته دوره حدیث کښی بصیرت نه حاصلیږی. دے وجے نه زمونږه مدارسو کښی طالبان او طالبات دوره حدیث نه مخکښی دا مجموعه لازمًا وائی.

او ددے مجموعے په هردور کښی شروحات په ډیرو لغتونو کښی شائع شویدی. پخپله د مصنف شیخ علامه طیبیؒ په نوم الطیبی یا په نامه د الکاشف عن حقائق السنن لیکلے دے. لکه څنګه چه د امام نسفیؒ کتاب کنز الدقائق د هغوی شیخ فخرالدین عثمان بن علی الزیلعی تبیین الحقائق لیکلے دے. او د مجموعے شروحات په ډیرو لغتونو کښی شائع شویدی. فارسی ، اردو اوزما د شیخ قاضی شمس الدین صاحبؒ هم یو شرح په نوم د التعلیق الفصیح په نوم بانده. خو په لغت د پښتو کښی یوه مضبوط حنفی عالم د یو شرح په لغت د پښتو کښی چه د غیرمقلدینو د هفواتو غابښ شکن

جوابونه سره ډك وي. د يو شرح نهايت ضرورت وو. او د الله رب العزت مونږه شكرادا كوو پدے نعمت باندے چه محقق العصر حضرت العلام مولانا امداد الحق صاحب حفظه الله ورعاه دے خدمت دپاره منتخب كړو او د ده درس مشكوة طالبان صاحبان ډير پسند كوي. ددوي دا كتاب په نوم د الامداد الرجيح باندے فهرس او څه موضوعات ما اوكتله مثلًا خطبه، نيت او اراده كښې فرق، د اخلاص باره كښې واقعات، او ايمان بسيط دے كه مركب، نزاع لفظي، او د ايمان، اسلام كښې نسبت، وغيره مباحث څه بهتر لطائف مجموعه ده. فجزاه الله عنا على ذالك احسن الجزاء.

د مشكوٰة درس كوونكو علماء اوطالبانو ته الله نافع مجموعه اوګرځوي. اودمؤلف صاحب اعمال صالحواو باقياتو صالحاتو كښې دے الله رب العزت اوګرځوي. څه عاجز كم علمه د داسے علمي مجموعي باندے ليكلو قابل نه يم. شايد چه دا دَدوي حسن ظن وي. الله تعالى په حقيقت بدل كړي. آمين يا رب العلمين.

احقرسراج الدين

تقریظ

حبیب المؤحدین ، فقیه الدین المتین ، المحترم المفتی حبیب الله صاحب ،

شیخ الحدیث تعلیم القرآن اٹک

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین نبینا وشفیعنا محمد ﷺ وآله وصحبه اجمعین أما بعد!

دے خبره کښې شك نشته۔ چه مشکوة المصابیح په کتب الاحادیث کښې یو بنیادي او اهم کتاب دے۔ هم په دے وجه بانده د مشکوة تدریس کوونکي استاذان د علوم الحدیث بیانولو سره سره فقهي مباحث هم په تفصیل سره ددے کتاب د تدریس په دوران کښې بیانوي۔ شاید هم ددے وجه نه درجه سابعه ته الدرجة الموقوف علیها وئیلے کیږي۔ ځکه چه په دوره حدیث کښې چه کوم کتابونه د احادیث وئیلے کیږي۔ هغوي کښې هم دغه مباحث په تفصیل سره بیانیږي۔ کوم چه په مشکوة کښې بیان شویدي۔ کوم طالبان چه مشکوة صحیح اووائي۔ نو هغه ته بیا د صحاح ستوو فهم آسان وي۔ د مشکوة په مختلفو ژبو کښې شروح لیکلے شویدي۔ خو په پښتو ژبه کښې یو تحقیقي شرح اوسه پورے زمونږ مخے ته نه وه راغلے۔ ددے ضرورت د پوره کولو دپاره الله رب العزت د استاذ محترم محقق عالم دین حضرت مولانا امداد الحق صاحب زیدمجدهم انتخاب اوکړلو۔ چه هغوي د مشکوة په تدریس کښې ډیرلوئي شهرت او لوړمقام لري۔ خصوصًا د مذهب حنفي په اثبات بالدلیل او دفاع کښې ښه مهارت لري۔ محترم موصوف د " الامداد الرجیح شرح مشکوة المصابیح " په نوم ددے کتاب یو نهایت ښائسته مُدلله او وقیع شرح اولیکله۔ ما دا شرح د بعض مواضع نه اوکتله۔ یقینًا ډیره تحقیقي او د علمي نکاتو او مباحث نه ډکه شرح ده۔

زما د موقوف علیه طالبانو ته بلکه د مشکوة تدریس کوونکو استاذانو ته دا نصیحت دے۔ چه ددے علمي شرح قدر اوکړي۔ او ددے نه ښه استفاده اوکړي۔ الله تعالی دے دا شرح د حضرت موصوف او ددے د مرتب او مؤلف دپاره د نجات او رفع الدرجات ذریعه او سبب اوګرځوي۔ آمین۔

کتبه : ابو محمد حبیب الله کوئټه

تقریظ

الشیخ الألمعی والمحدث الزکی ذوالتحقیق الجلی والمفسر الجری المفتی القوی والنقاد السری العلامہ زرولی زیدمجدہ

الحمد للہ وکفی وسلام علی عبادہ الذین اصطفیٰ امابعد! فقد قال المحدثون من وظیفۃ المحدث الاشتغال فی الاسانید،ومن وظیفۃ الفقہاء والمجتہدین الاشتغال فی متون الاحادیث ومعانیھا وقد قال المحدثون الاعتماد فی الاحادیث علی الاسانید ومالاسند لہ فلا قیمۃ لہ .

اس قسم کے اصول اور ضوابط کے پیش نظر حضرات محدثین نے علم حدیث کی خدمت کی چنانچہ شیخ ولی الدین عراقی جنہوں نے مشکوۃ المصابیح لکھی وہ بھی اس منوال اور منہاج کا شاخسانہ ہے اس وقت سے لیکراب تک علماء نے مشکوۃ کی چھوٹی بڑی پوری اور ادھوری عربی اور غیر عربی زبانوں میں شروح لکھی ہیں جیسے شیخ عبدالحق کی لمعات التنقیح ،مولانا ادریس کاندہلوی کی ،التعلیق الصبیح وغیرہ جبکہ ملاعلی قاری کی مرقاۃ ضخامت میں زیادہ ہے امام العصر محدث کبیر فقیہ علی الاطلاق حضرت مولانا محمد انورشاہ، شیخ عبدالحق کی لمعات کے بارے میں فرماتے تھے کہ یہ ملاعلی قاری کی مرقاۃ سے زیادہ نافع ہے بہر حال یہ ایک طویل داستان ہے اور خوش وخرم بیان ہے آمدم برسر مطلب ہمارے زمانے میں بھی بہت سارے لوگوں نے مختلف زاویوں سے مشکوۃ شریف کی تراجم اور شروح کی انداز سے خدمت کی ہے مولانا امدادالحق صاحب شیوہ نے بھی کچھ اپنی علوم اور کمالات مشکوۃ سے متعلق ''الامدادالرجیح'' کے نام سے جمع فرمائے ہیں مجھے اشغال اور امراض کے ہموم سے باقاعدہ استفادہ کا موقع تو نہیں ملا مگر بعض جگہ نگاہ ڈال کر اندازہ ہوا کہ مصنف کسی حمایت یا مخالفت میں منہاج اعتدال پر قائم ہیں اور ایک مصنف اور شارح کی یہ بڑی کامیابی ہوتی ہے کہ وہ اس طرح کے مواطن سے بخیر وخوابی اور اعتدال کے ساتھ نبرد آزما ہو جائے برادرم ضیاء الحق اور عزیزم لایق احمد ہر دونوں کی محبت بھری اداؤں نے اور شفقت آمیز کرم فرمائشوں نے مجھ جیسے کمزور اور طالب علم کو بھی یہ چند سطور لکھنے پر مجبور کیا۔ وصلی اللہ تعالیٰ علیٰ خیر خلقہ محمد وآلہ واصحابہ اجمعین۔

اندک پیش تو گفتم غم دل ترسیدن ~ کہ دل آزردہ شوی ورنہ سخن بسیار است

والسلام مع خیر الاختتام

وانا الاحقر والافقر: محمد زرولی خان عفااللہ عنہ

خادم جامعہ عربیہ احسن العلوم گلشن اقبال بلاک: ۲ کراچی

وخادم الحدیث والتفسیر والافتاء

ضروري وضاحت

الحمد لله وحده والصلوة والسلام علی من لا نبي بعده

زیرنظر کتاب الامداد الرجیح شرح مشکوۃ المصابیح د شیخ محترم ، استاذ مکرم شیخ القرآن والحدیث علامه مولانا امداد الحق صاحب شیووی د تیرو دوو کالو د مشکوۃ شریف د درس هغه مجموعه ده. چه ما دوران درس او د کیسټونه لیکلے ده. نو که په شرحه کښې څه غلطی راغلے وی. او دَ غلطی امکان د انسان په کتاب کښې خواه مخواه وی. ځکه انسان د نسیان او د خطاء مجموعه ده. ځکه چه یو انسان قصدًا قرآن وحدیث یا د علم خبره غلطه نه لیکی. نو د تقاضائے بشری په اعتبار سره که غلطی په کتابت وغیره کښې راغلے وی. نو د هغے نسبت ما عاجز بنده ته کوے. زمانه به یقینًا هرقسم غلطی صدور ته راغلے وی. قال المزني قرء ت کتاب الرسالة علی الشافعيؒ ثمانین مرة فما من مرة الا وکان یقف علی خطاء فقال الشافعي هیه ابی الله ان یکون کتابًا صحیحًا غیر کتابه. (شامی : ۳۰ ' کشف الاسرارشرح اصول البزدوی). لوستونکوته دا عاجزانه درخواست دے. که چرته غلطی مخے ته درشی. نو مونږته د هغے خبرراکړے. چه آئنده ایډیشن کښې د هغے اصلاح اوشی. زما استاذ محترم له الله رب العزت په علمی میدان کښې په تولوفنونو کښې که هغه علوم عالیه دی. او که علوم آلیه دی. یوناآشنا مهارت ورکړیدے. چه ددے یوجهلك به تاسوته ددے شرحے کتلوسره معلوم شی. د تقوی ' استغناء ' زهد او د خائسته اخلاقو یو نمونه ده.

څه د مولانا قاری عبدالرحیم صاحب او د مولانا شیرین زاده صاحب ډیره شکریه اداکوم. چه د کتاب په ترتیب او تصحیح کښې ئې ماسره خدمت کړیدے. الله رب العزت دے ددوی او د شیخ محترم او زماعاجز بنده په علم وعمل ' تقوی و زهد ' عمراو صحت کښې برکت واچوی. اودا شرحه دے الله رب العزت د معلمینو ' معلماتو ' طلباء او د طالباتو دپاره فائده مند اوګرځوی. او الله تعالی دے زمونږ دا سعی او کوشش په خپل دربارلایزال کښې قبول او منظور اوګرځوی. (آمین).

دعاګو

عبدالرحمن بن مولانا نورمحمد صاحبؒ (جمعه دین استاذ) پلوسی (صوابی)

فاضل دار القرآن پنج پیرصوابی خیبرپختونخوا پاکستان

بسم الله الرحمن الرحیم

سپړدنه

اول وآخر تو ہی سب سے خلاق انام　　پاک ہے بے مثل ہے بس ذات تیری بے کلام

سب سے آخر میں پیغمبر آخرزمان　　یا الہ العالمین ان پر صلوۃ ان پر سلام

الحمد لله الذی شبّه صدر النبی بالمشکوة ' والصلوة والسلام علی صاحب الآیات والمعجزات الباهرات ' و علی آله و اصحابه الذین وصلوا الی سباق الغایات ' و بینوا لنا طریق الفوز والنجاة۔

دا یو حقیقت دے۔ چه کوم ځائی د قرآن کریم رنړا ده۔ هلته د حدیث رنګ دے۔ نبی ﷺ فرمائیلے دی: الا انی اوتیت القرآن ومثله معه ۔ د قرآن وحدیث بعض مواضع کښی د تفصیل او اجمال فرق دے۔ دا تعلق داسے مضبوط دے۔ لکه چه د روح او د زړه تعلق څنګه مضبوط دے۔

برصغیر پاك و هند ته دا فخر حاصل دے۔ چه محدث کبیر ربیع بن صبیح متوفی ۱٦۰ هجری دلته تشریف راوړیدے۔ محدث عبدبن حمید متوفی ۲۴۹ د سند هـ د ګچھ علاقے وو۔ د ابوبکر بیهقی المتوفی ۴۵۸ هجری وفات نه بعد د أحادیثو د مختلف انواعو خدمت شروع شو۔ د حدیثو د اهمیت او د حجتیت اقرار د ایمان د لوازمو سره تعلق لری۔ مونږ چه قرآن منو د نبی ﷺ د فرمان د وجے ئی منو۔ د قرآن د حجتیت دلیل ' فرمان نبوی دے۔ او فرمان نبوی هم د مسلمان دپاره مشعل راه دے۔ د أحادیثو یو بنیادی کتاب چه د دوره حدیث موقوف علیه دے۔ مشکوة المصابیح دے۔ داد ولی الدین ابوعبدالله ' محمد بن عبدالله الخطیب المتوفی ۷۴۰ هجری تصنیف دے۔ په دے کښی یو کم دیرش کتابونه او ۳۲۷ أبواب دی۔ ۱۳۰۸ فصلونه په کښی دی۔

مصابیح کښی ټول ۴۴۳۴ احادیث دی۔ صاحب د مشکوة ۱۵۱۱ زیات کړے دی۔ ټول احادیث په کښی ۵۹۴۵ دی۔

ددے مقصدی او ضروری کتاب شروح عربی ' فارسی ' اردو او پښتو کښی ډیرے زیاتے موجود دی۔ چه اصل ئے "فتح الاله" "الکاشف عن حقائق السنن" او مرقات دے د شیخ عبدالحق اشعة اللمعات او لمعات التنقیح عربی او فارسی کښی فائده مندے شرحے دی۔ اګرچه بعض اقوال ئی ضعیف دی۔ د لمعات په تصنیف ئی شپږ کاله لګولے دی۔ ۱٦۱٦ء کښی ئی مکمل کړیدے۔ اوکشف المناهج

والتناقيح د علامه محمد بن ابراهيم المناوي المتوفى ۸۰۳ هجري شروح دی. او د مصابيحو هم ډيرزيات شروح دی. كشف الظنون كښې چه كومے شرحے ليكلے دی. يو څودادی. (۱) : التوضيح فی شرح المصابيح لمحمدبن محمد الجزري. (۲) : شرح المصابيح د علی بن عبدالله المعروف بزين العرب. (۳) : الميسرفی شرح مصابيح السنة د فضل الله توريشتی. (۴) : المفاتيح شرح المصابيح د حسين بن محمود. (۵) : الاذهار فی شرح المصابيح من احاديث سيد الابرار د يوسف عز الدين الشافعي. (٦) : شرح المصابيح لابن العاقولی. (۷) : التجاريح فی فوائد المصابيح لمحمد بن يعقوب فيروز آبادی دے.

بعض ملگروو وئيل : چه حنفی مسلك كښې مفتٰی بها اقوالوسره چه سمون لری. كه يوه شرح پښتنوله پښتو كښې وی. دابه فائده منده وی. ماته د خپل علم د كمئ احساس دے. په دے وجه انكار كښې عافيت او سهولت زما خوښ وو. خاموش پاتے كيدل. د پردے اچولودعوت راكولو.

من كان هذا القدرمبلغ علمه فليستتر بالصمت والكتمان

ليكن دے خاموشئ ته خپل ملگری مولانا عبدالرحمن صاحب چه زما د مشكوة په درسونو كښې پاتے شويدے. پرے نه خودم. آخرهغوی ته د كيسټونه د نقل كولو ما اجازت وركړو. ورنه "من آنم كه من دانم". سره د خپلے نالائقئ چه درس كښې طالب علمانوته كوم انداز باندے سبق وئيلے شوے وو. دوی هغه شان قلم بند كړو. د تفسيراود حديث ددے خدمت دپاره به په تقديركښې د هغوی په نوم قُرعه راختلے وه. الله دے ددوی دا مبارك كوشش د خپلے رضا دپاره كړی. ددے نه مخكښې هم ددوی د محنت د وجے "الاصول الامدادیه لفهم العلوم القرآنية" شائع شويدے. كتونكی دے دا حقيقت مخے ته ملحوظ ساتی. چه دا مستقل تصنيف نه دے. بلكه "امالی" دوی قلم بند كړيدی. غلطئ به خواه مخواه وی. د هغے نه صرف نظر اوكړی. اوكه معمولی درجه كښې چا فائده حاصله كړه. مونږ دے خصوصًا په نيكو دعاګانو كښې نه هيره وی.

الله د آخرت د سفر د آسانئ او خوشحالئ دپاره مونږه تولوله دا كتاب يو كامياب زاد راه اوګرځی.

آخرت میں عمل نیک ہی کام آئیں گے پیش ہے تجھ کوسفر زادِ راہ پیدا کر

دعا گو و دعا جو

امداد الحق عفی الله عنه وعافاه

واوصله الی غاية ما يتمناه

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمدلمن ارسل خاتم الانبیاء لتبیین الفرقان ' فوضح القرآن باقواله وافعاله فی کل حین وآن ' والصلوة والسلام علی من مثل نوره کمشکوة فیها مصباح ' وبین رموزالکتاب لاولی الالباب بانفاسه وکلماته التی فیها النجاح والفلاح واصطفی لنشرها الصحابة الذین نشروا جوامع الکلم ' وجعلهم ائمة وفازوا بانواع النعم ' فهنیئاً لهم ' جلسوا تحت ظلال شجرة الاحادیث واکلوا من اثمارها واوصلوا فی اطراف العالم اضوائها وانوارها۔ اما بعد : فان من اهم واجل کتب الحدیث المشکوة ' والکتاب کفقارالظهرلطالبی سلوك النجاة ' ولا یخفی ان المشکوة لفهم الاحادیث کالسلم والمرقات وقد شرح الشارحون بالایجاز والاطناب ' فی کل لغة من اللغات فاردت بتبیان احادیث المشکوة باللغة الافغانیة لاهل اللسان لیفهموا احادیث خیرالبریة باسهل البیان ' فها أنا اشرع فی المقصود ' بتوفیق المنان الودود۔

دا هرچاته واضحه ده ـ چه مشکوة المصابیح داحادیثوپه بنیادی کتابونوکښې اهم اوضروری کتاب دے ـ په موقوف علیه کښې ددے یوکلیدی حیثیت دے ـ چه دوره حدیث کښې د صحاح سته پوهه په دے موقوف گڼرلے شي ـ قاري محمدطیب صاحبؒ سابق مهتمم دارالعلوم دیوبندخطبات حکیم الاسلام کښې د بانی دیوبندمولانا قاسم نانوتویؒ باره کښې لیکلے دی : چه زمونږ په کورکښې به د مشکوة درس ورکیدے شو ـ د شاه اسماعیل او سید احمد شهیدان بلا چنین وچنان په حالاتوکښې راځي ـ چه مجاهدینوته به دمشکوة درس ورکیدے شو۔

نواب صدیق حسن خان صاحب د " التاج المکلل " آخری ترجمه د خپلے ښځے نواب شاه جهان بیگم لیکلے ده ـ په دغه کتاب کښې لیکی : چه هغے زمانه مشکوة المصابیح ' مشارق الانوار او بلوغ المرام وئیلے وو۔

مبادئ الحدیث

حدیث لغةً و اصطلاحًا : د علم تعریف به ان شاء الله د کتاب العلم ابتداء کښې ذکرشي.

حدیث لغة : دحدیث لغوی معنی مطلق خبره ده. که ښه وی اوکه بده. په معنی د کلام راځی :

﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ﴾ (سورة الاعراف : ١٨٥) ـ ای بالکلام. یا : الله نزل احسن الحدیث ای احسن الکلام. ﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ﴾ (سورة الغاشیه : ١) ﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَى﴾.

(سورة النازعات : ١٥)

دَ سورة المومنون آیت ۴۴ کښې دی : ﴿وَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ فَبُعْداً لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ﴾ تفسیر النکت والعیون کښې د آیت په وضاحت کښې لیکلے دی : احادیث جمع حدیث وهو جمع شاذ وجمع احدوثة ، و هو جمع قیاسی ، والظاهر ان المراد الثانی وقیل یجوز ان یکون جمع حدیث والمعنی انه لم یبق منهم عین ولا اثر الاالحدیث عنهم ، وقال الزمخشری الاحادیث تکون اسم جمع للحدیث ومنه احادیث الرسول ﷺ ، والصحیح انه جمع تکسیر لا اسم جمع لان افاعیل لیس من ابنیة اسم الجمع.

کافیه مبنی کښې دی : وکیت ذیت للحدیث. انګړه دنګړه. آخوادیخوا خبرے اترے. د حدیث عرفی معنی مطلق کلام خبرے دی. چه د انشاء ضد دے.

دویمه لغوی معنی : حدیث په معنی د جدید. چه د قدیم ضد دے. عرب وائی : لبثت ثوبا حدیثا ای جدیدا. مانوے جامے واغوندلے.

دحدیث اصطلاحی لقبی معنی : علم یعرف به اقوال الرسول وافعاله واحواله. (المرعاة).

ابن الصلاح مقدمه کښې په النوع السادس باندے لیکلے دی : ما اضیف الی رسول الله ﷺ خاصةً.

او امام سیوطیؒ ئی داسے تفصیل کوی : علم یشتمل علی اقوال النبی ﷺ وافعاله وروایتها وضبطها وتحریر الفاظها. (مقدمة اوجز المسالك).

دَ علم حدیث تعریف : فتح المغیث د علامه سخاویؒ کښې ئی د علم حدیث دا تعریف کړیدے :

ما اضیف الی النبی ﷺ قولًا او فعلًا او تقریرًا او صفةً حتی الحرکات والسکنات فی الیقظة والمنام.

علم حدیث مطلقًا درے قسمه دے:

[۱] العلم بروایة الحدیث [۲] العلم بدرایة الحدیث [۳] علم مصطلح الحدیث

[۱] **العلم بروایة الحدیث**: هو علم ما یعرف به نقل الفاظ الحدیث وضبطها (زیر، زبر، تثنیه او جمع) وتقریرها (د هغے لیکل).

[۲] **العلم بدرایة الحدیث**: علم یبحث فیه عن المعنی المفهوم من الفاظ الحدیث وعن المراد بها مبنیًا علی قواعد العربیة وضوابط الشریعة ومطابقًا لاحوال النبی ﷺ.

او مختصر تعریف ئې داسے کوی: ما یبین فیه مفاهیم الاحادیث وانواعها واحکامها وشروطها.

[۳] **علم مصطلح الحدیث**: علم باصول وقوانین یعرف بها احوال السند والمتن من حیث الرد والقبول.

دے ته اصول الحدیث یا علوم الحدیث هم وئیلے کیدے شی.

دے تعریفونو کښې د تقریر مطلب شیخ عبدالحقؒ داسے بیان کړیدے: چه کله د نبی په ﷺ مخکښې یوه خبره او یا څه کار اوشو. او نبی ﷺ ئې نه منع کوی. او انکارپرے نه کوی. بلکه سکوت ئې کړیدے. دے ته تقریر وائی. دے کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اقوال وافعال او تقریرات هم راځی.

معلومه شوه: چه د کامل مسلمان کار په منکرانکار دے نه سکوت: الساکت عن الحق شیطان اخرس. او السکوت فی معرض البیان بیان ـ څکه سیدنا موسیٰ علیه السلام د سیدنا خضرعلیه السلام په هغے درے معرکة الآراء کارونو سکوت نه دے کړے.

مولانا بدرعالم صاحب ترجمان السنة کښې داسے مثال ذکرکوی: چه نبی ﷺ په کورکښې ناست وو. د اَخترموقع باندے وړو جینکوپه خوږ آواز شعرونو باندے ځان مشغول کړے وو. نبی ﷺ مخ مبارک بلبے غاړے ته واړو ـ دوی ئې منع نه کړے. او ځان ئې ناغرضه کړو. هغوی لیکی وجه دا وه: چه رد سره دا کار دَ حرام زمره کښې داخلیدو. اوکه کتل ئې او خاندل ئې. اویو قسم شرکت ئې خوښ کړے وو. بیا مستحب کیدو. حالانکه دا مباح عمل دے. نه ممنوع او نه مطلوب.

د حدیث تقریری یو بل مثال

یو ورځ نبی ﷺ د غزوه تبوک یا خیبر نه تشریف راوړو. د ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها د کور په الماری پرده زوړنده وه. هوا اوچلیده نو پرده بیرته شوه. او د لوبو ګډی ښکاره شوے. تپوس ئے اوکړو

- "ما هذا " د جواب نه پس ئے اوفرمائیل : ما هذا الذی اری وسطهن فرس - عائشے رضی الله عنها اوفرمائیل دا دَ اس وزرے دی. نبی ﷺ اوفرمائیل : دَ اس وزرے هم وی ؟ . مور بی بی جواب ورکړو. د سلیمان بن داود علیه السلام د اسونو وزرے وے. پیغمبر اوخاندل اوغابنونه مبارك ئی ښکاره شو.

(ابو داود ' کتاب الادب) .

د حدیث نه معلومه شوه: چه مجسمے حرام دی. لیکن د نبی ﷺ د سکوت نه معلومه شوه. چه د جینکو ورے ورے ګډیانے د حرمت نه مستثنٰی دی.

د نبی ﷺ احوال په کښی هم داخلیدے شی - خو محدثین مطلقًا هغه امور بیانوی. چه نبی ته ئی نسبت وی. که احوال اختیاریه وی یا غیراختیاری احوال وی. چه نسبت ئی پیغمبر ﷺ ته کیدے شی. او د اصول فقه علماء احوال غیراختیاری ځکه نه بیانوی. چه د هغوی کاراستنباط د احکامو دے. اوهغه نه شی کیدے. محدثین ئی ځکه حلیه مبارکه شمائل کښی ذکرکوی. قد وقامت ' خائست او خندا ' شکل و صورت ' قعود ' قیام ' اکل و شرب ضیافت ' سترګے تورول ' سر منګزکول ' ولادت ' وفات ' او د هغوی سره متعلق زمان او مکان ' خوشبوئی او سورلی وغیره ددے تذکرے ډیرپه مینه او محبت کوی. امام نسائی په دے امورو کښی د هریو امر دپاره باب تړلے دے.

فی الجملہ نسبتے بہ تو کافی بود مرا　　　بلبل ہمیں کہ قافیہ گل شود بس است

د نبی ﷺ اتباع په داسے امورو کښی نشته - چه د هغوی سره خصوصیت لری. د څلورو نه زیات نکاحونه یووخت کښی یا بے مهره د ښځے سره نکاح ﴿ خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾(سورة الاحزاب: ٥٠) دوجے بل چا دپاره ناجائز دی.

علامه آلوسی ؒ د دے آیت :﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾ (سورة الاحزاب : ٢١) .

د لاندے دا قید لګولے دے : اِذَا لَمْ يَكُنْ مِنْ خُصُوْصِيَاتِ النَّبِيِّ ﷺ -

معجزات د نبی ' خرق عادت کارونه د پیغمبر ﷺ سره خاص دی - مثلًا واقعه د معراج ' یا د قلیب بدر مردارانو په دغه وخت کښی د نبی دغه خاص خبرے اوریدلے دی. لیکن صاحب د مشکوة دا واقعه په باب المعجزات کښی ذکرکوی. فرمائیلے وو :انهم الآن ليسمعون ما اقول لهم. دا قضیه شخصیه وقتیه ده.

سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د نبی ﷺ په اتباع ډیره دلچسپی لرله. د صحیح بخاری روایت کښی راځی : چه د مکے مکرمے او د مدینے منورے په مینځ کښی سفرکړے وو. چه کوم مسجد ته نبی ﷺ تلے وو. یا د کومے اونے سره ئی آرام کړے وو. یا داسے نورامورد هغے ئی التزام کړیدے.

دا په دین کښې مطلوب نه وو. لیکن د محبت تقاضه وه. لیکن چه کله ددوی پلار سیدنا عمر رضی الله عنه په دے خپل نازك نظراوغور څولو. چه کارصحیح دے. لیکن د بعضو خلقود افراط فی المحبت د وجے د عقیدے د خرابیدو خطره وه. نوسدًا للباب ئی هغه مبارکه اونه هم کټ کړه. چه د هغے لاندے پیغمبر ﷺ اوصحابو ناسته کړے وه. اود پیغمبر ﷺ سره ئی بیعت کړے وو. او دا تبرك صحیح وو. ځکه د نبی ﷺ په تبرکاتو کښې هیڅ اختلاف نشته. ځکه شیخ الحدیث مولانا محمدزکریا صاحبؒ لیکلے دی د بخاری شریف په اردو شرح کښې: چه سیدنا عمر رضی الله عنه نجدیانو ته نزدے وو. (تقریر بخاری ۲ : ۱۸۱).

(یعنی نجدیان د تبرك مسئله کښې د عمر رضی الله عنه په لار روان دی).

چه کله عقیده د خلقو خرابیږی یا خطره وی. نو بیا اجتناب اولیٰ دے.

د علم حدیث د تعریف خلاصه سوچ او تدبر کول دی. د نبی ﷺ او د صحابه کرامو په اقوالو، افعالو او احوالو کښې.

آتی ہی رہے گی تیرے انفاس کی خوشبو گلشن تیری یادوں کا مہکتا ہی رہے گا

حدیث، أثر، سنت او خبر کښې فرق او د نسبت بیان په شرح نخبة الفکر کښې راځی.

موضوع: د علم حدیث موضوع د نبی ﷺ ذات په دے حیثیت سره چه هغوی د الله رب العزت د طرفه رسول رالیږلے شویدے. علامه کرمانیؒ فقط د نبی ذات موضوع جوړه کړیده. لیکن علامه سیوطیؒ اعتراض کړیدے: چه داد علم طب موضوع ده. لیکن د علامه کرمانیؒ مقصد "ذات من حیث الذات" فقط نه دے. بلکه "من حیث الرسالة" دے. او بعض وائی: د صحابه کرامو ذوات مبارکه په دے حیثیت سره چه د صحابیت شرف ورته حاصل دے. هغوی ئی هم موضوع جوړیدے شی.

د علم حدیث د موضوع خلاصه عظمت اوغټ والے د پیغمبر دے.

تازہ خواہی داشتن گر داغہائے سینہ را گاہے گاہے باز خواں ایں قصہ پارینہ را

غرض و غایه: د نبی ﷺ دَ هغے دعاګانو ځان مصداق جوړول چه علم حدیث کښې مشغولیت لرونکو د پاره ئی کړیدی. چه انسان په دغه فضائلو خائسته شی. او د سعادة الدارین تمغه امتیاز واخلی او د الله رب العزت په مرضیاتو عمل شروع کړی. او د خشیت الهیه او مسؤلیت عند الله جذبات په کښې پیدا شی. په خپله به د هغے امورونه اجتناب کوی. چه الله رب العزت خفه کوی. ګویا غرض د غایه لذت او خوند شو.

شرافت و فضیلت د علم حدیث

[۱] نضر الله عبدا سمع مقالتی فحفظها ووعاها واداها کما بلغ فرب مبلغ اوعی من سامع ۔ (ترمذی) ۔

یا جملہ انشائیہ دہ یا جملہ خبریہ . خلق خوشحالیږی چہ خپل پیر او مرشد راتہ دعا اوکړه . د علم حدیث شغل لرونکوتہ نبی ﷺ دعاگانے کړیدی ۔ چہ الله دے دوی تروتازه اوخائستہ ساتی ۔ الله دلتہ او آخرت دواړو کښی دوی تہ د مخونوتازگی ورکړیده . قرآن کښی دی : ﴿تَعْرِفُ فِيْ وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيْمِ﴾ (سورة المطففين : ٢٤) ۔ یوبا عملہ محدث د : ﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ﴾ (سورة آل عمران : ١٠٦) ۔ پہ دے دنیا کښی هم مصداق ښکاری . ځوك چہ د نبی ﷺ خبرے کوی . د نبی ﷺ خوښ دے ۔ او پہ محب ، د محبوب خبرے خوږے لگی :

ډیرے خوږے راباندے لگی — ځوك چہ خبرے د جانان راتہ کوینہ

علامہ مبارکپوریؒ پہ مرعاة المفاتیح کښی لیکی : لِأَنَّهُمْ سَعَوا فِيْ نَضَارَةِ الْعِلْمِ ۔ دوی د علم باغ تروتازه پاتے کولو لہ کوشش کړیدے ۔ جزاء من جنس العمل وی . د دوی مخونہ ئی هم تروتازه ساتلے دی۔

ساقی نے آج چیز کچھ ایسی کری عطاء — جس سے کہ اپنا رنگ طبیعت بدل گیا

دے محدثینو اشاعت د سنت او تجدید د سنت چہ بدعت مړاوے او ختم شی ۔ د خپل ژوند شعارجوړ کړیدے . علامہ ابن حکم المدینی ابو عمرو الأصفهانی پہ دے حدیث مستقلہ رسالہ لیکلے دہ ۔

[۲] یحمل هذا العلم من کل خلف عدولہ ، ینفون عنہ تحریف الغالین وانتحال المبطلین وتاویل الجاهلین ۔

دا دریواړه حدیث کښی خودلے شوے مشاغل ډیرمقام لری ۔ او داد محدثینو وظیفہ دہ ۔

(مشکوة کتاب العلم) ۔

دحدیث مقام : حافظ ابن کثیرؒ خپل تفسیر کښی ددے آیت د لاندے : ﴿وَرُسُلاً قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلاً لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيماً﴾ . (سورة النساء : ١٦٤) ۔

لیکلے دی : معان بن رفاعة السلامی ضعیف . او خپل تاریخ کښی ئی لیکلے دی : یحمل هذا العلم من کل خلف عدولہ ، هذا الحدیث مرسل واسناده فیہ ضعف . والعجب ان عبدالبر صححہ واحتج بہ علی عدالة کل من حمل العلم . (البدایة والنهایة ٦ : ٩٨٧) ۔

مجموع فتاوی ب : ۱۷۵ په تعلیق کښې دی : العقیلی فی الضعفاء و عمرو بن خالد . کذبه یحی بن معین واحمد بن حنبل ونسبه الی الوضع۔

علامه قسطلانیؒ لیکی : و هذا الحدیث رواه من الصحابة علی وابن عمر ، وابن عمرو وابن مسعود وابن عباس و جابر بن سمرة و معاذ وابوهریرة واورده ابن عدی من طرق کثیرة کلها ضعیفة کما صرح به الدارقطنی وابونعیم وابن عبدالبر ولکن یمکن ان یتقوی بتعدد طرقه ویکون حسنًا . (ارشاد الساری ۱ : ۱۲)۔

علامه ابن حزمؒ لیکی : وفی روایة معان بن رفاعة والقاسم بن عبدالرحمن وعلی بن زید وهو ابوعبدالملك الالهانی و کلهم ضعفاء . (المحلی ۸ : ۲۶۵)۔

اوالکامل فی ضعفاء الرجال ۸ : ۲۷ په تعلیق کښې دی : معان بن رفاعة السلامی ضعیف لیس بحجة ۔ اودغه شان په تقریب او تهذیب کښې هم په ده کلام شته۔ تعلیق د مسنداحمد ۲۱ : ۶۱ باندے دی : خلاصة القول فیه انه حسن الحدیث الا عند المخالفة اوعند ما یتحدث بما یستنکر فیضعف ۔ الکامل فی ضعفاء الرجال کښې علامه ابن عدیؒ لیکلے دی : قال ابن عدی وهذه الاحادیث التی رواها خالد عن اللیث عن یزید بن ابی حبیب کلها باطلة . (الکامل فی ضعفاء الرجال ۳ : ۴۵۸)۔

او ۸ : ۳۷ باندے لیکلے دی : معان بن رفاعة السلامی ضعیف لیس بحجة ۔ او تهذیب الکمال ، تقریب او تهذیب کښې هم په دے کلام موجود دے۔

حافظ ابن حجرؒ لیکی : صاحب حدیث ولیس بمتقن . وقال المزی قال محمدبن عوف عن احمد لم یکن به باس . وقال علی ابن المدینی ثقة . وقال ابوحاتم یکتب حدیثه ولا یحتج به ۔ وعن ابی داود لیس به باس . وقال ابراهیم لیس بحجة ۔ وقال یعقوب لین الحدیث ۔ وقال ابوحاتم منکر الحدیث ۔

زین الدین عراقیؒ فرمائی : وکلهاضعیفة لا یثبت منها شیء ولیس فیها شیء یقوی المرسل المذکور ۔

(التقیید والایضاح : ۱۱۶)

حافظ ابن کثیرؒ الباعث الحثیث : ۹۳ باندے لیکی : فی صحته نظر قوی والاغلب عدم صحته ولوصح لکان ماذهب الیه قوی ۔ لیکن علامه صنعانیؒ فرمائی : د حدیث صحت قوی دے ۔ او علامه ابن قیمؒ مفتاح دارالسعادة کښې ددے روایت متعدد طرق بغیر د نقد نه راجمع کړیدے ۔ نو تحسین لغیره کښې ئی حرج نشته۔

[۳] اولی الناس بی یوم القیامة اکثرهم علی صلوة . او د حدیث استاذ او شاګرد هر حدیث کښې ﷺ وائی ابوحاتمؒ فرمائی : چه دا طائفه به نبی ﷺ ته ډیره نزدے وی۔

دحدیث مقام : علامه البانیؒ الضعیفة کښې ۸۵۴ نمبر باندے ذکر کړیدے .

علامه البانیؒ ضعیف او موضوعات بعض مواضعو کښې خلط ملط کړیدی ۔ بعض مقامات کښې

خپله یو ځائی حدیث ضعیف کړی۔ او بیا ئی بل ځائی صحیح کړے وی۔ ددوی جرح وتعدیل حرف آخرنه دے۔ او دے کښی شك نشته۔ چه د حدیثو یو غټ ماهرتیرشویدے۔

د شیخ ارنووط البانی یوشاګرد دے۔ شیخ ابراهیم زیبق د کتاب نوم ئی دے۔ المحدث العلامه الشیخ شعیب الارنووط سیرته فی طلب العلم وجهوده فی تحقیق " التراث " مطبوعة دار البشائر الاسلامیة ـ کتاب کښی دده خبرے کافی وضاحت دے۔ چه د هغه نه په کتابونوکښی ډیر تسامحات راغلے دی۔ کله کله د شاذ او د ثقه روایت په مینځ کښی ئی فرق هم نه دے کړے۔ د تشهد په حالت کښی د انګشت شهادت د حرکت په مسئله کښی ئی د عاصم بن کلیب نه صرف یو راوی زائده بن قدامه ذکرکړیدے۔ چه هغه "یحرکها" لفظ نقل کوی۔ لیکن د عاصم باقی شاګردان عبدالواحد بن زیاد، شعبه، سفیان ثوری، ذهیربن معاویه، سفیان بن عیینه، بشربن فضل، قیس بن ربیع، ابوعوانه او خالد بن عبدالله واسطی د "یشیرها" لفظ نقل کوی۔

لیکن بل طرف ته راقم اثیم وائی: چه علامه ابن خزیمه صحیح کښی لیکلے دی: خبر تفرد به زائدة۔ او دوی د شذٌ لفظ نه دے راوړے۔ او تفرد او شذوذ کښی فرق دے۔ مطلق تفرد خاص علت نه دے۔ ځکه د ثقه امین تفرد مقبول او د ضعیف هغه مردود وی۔

دا شاذ روایت د شیخ ابراهیم د تحقیق مطابق شیخ ناصر الدین (البانیؒ) په سلسلة الاحادیث الصحیحة کښی صحیح ګرځولے دے۔ او وئیلے دی: چه لفظ د اشارے د تحریك سره منافات نه لری۔ صرف د اشارے دا الفاظ د تحریك متعلق صریح نه دی۔ لیکن منافی هم نه دی۔ نو آیا د متقدمینوعلماء حدیثود منهج مطابق دے۔ شاذ لفظ ته د صحیح وئیلو څه ګنجائش شته؟۔ او کله کله د خپل رأی او مذهب سره موافق روایت تصحیح کوی۔ اګرچه قوی شاهد ورله نه وی۔ لکه صحیح ترمذی کښی ئی حدیث نمبر: ۲۴۷۱ د لاندے د عدی بن حاتم " اتخذوا احبارهم " په وضاحت کښی حدیث ذکرکړیدے۔ حالانکه امام ترمذی لیکلے دی: هذا حدیث غریب لا نعرفه الا من حدیث عبدالسلام بن حرب وغطیف بن اعین لیس بمعروف فی الحدیث۔

اودا هم ده۔ چه ائمه مجتهدین د یهودو او د نصاری علماء په شان برابرول داهم د انصاف نه لرے خبره ده۔ سلسله احادیث صحیحه د اردو مقدمه کښی دی: چه ددوی پلار نوح نجاتی البانی غټ حنفی فقیه تیر شویدے۔ لیکلے دی: ان کے والد گھڑی ساز تھے انہوں نے بیٹے کو گھڑی سازی کا فن سکھایا علامہ دن میں صرف ۳ گھنٹے کام کرتے بقیہ وقت مکتبۃ الظاہریہ میں چلے آتے مطالعہ میں مصروف ہوتے جامعہ اسلامیہ مدینہ میں ۳ سال استاد رہے ۲۲ جمادی الاولی ۱۴۲۰ ہجری کو وفات ہے

واقعی محنت سره یو ګهری ساز ډیر محقق عالم جوړیدے شی۔ اګرچه د هرچا کلام بے د نبی ﷺ نه کله کله پریخودلے هم شے۔ ابوداود کښی ئی ۱۲۸، ترمذی کښی ۸۳۲، نسائی کښی ۴۲۷ او ابن ماجه کښی ۹۲۹ روایات ضعیف کړے دی۔ حالانکه داد سننو کتابونه دی۔ هرځائی کښی هغوی سره

موافقت ضروری نه دے۔

شیخ محمدتقی عثمانی مدظله انعام الباری ۴ : ۳۴۶ بانده لیکی : شیخ ناصرالدین البانی صاحب تصحیح وتضعیف کے بارے میں حجت نہیں چنانچہ انہوں نے بخاری اور مسلم کی بعض احادیث کوضعیف کہہ دیااور عجیب بات یہ ہے کہ ایک ہی حدیث کے بارے میں بڑی شدومد سے کہہ دیا کہ یہ ضعیف ہے نا قابل اعتبار ہے مجروح ہے ساقط الاعتبار ہے او پانچ سال کے بعد وہی حدیث آئی اس پر گفتگوفرمانے کیلئے کہا گیاتو کہا کہ یہ بڑی پکی اوصحیح حدیث ہے۔......علماء کرام نے فرمایا چوتھی صدی ہجری کے بعد کسی آدمی کا یہ مقام نہیں کہ وہ سلف کی تصحیح وتضعیف سے قطع نظر خود تصحیح وتضعیف کا حکم لگائے کہ میرے نزدیک یہ صحیح ہےاور یہ صحیح ہے یہاں تک کہ حافظ ابن حجر جیسا شخص بھی یہ نہیں کہتا کہ حدیث صحیح ہے یا ضعیف بلکہ کہتا ہے" رجاله رجال الصحیح " اور" ورجاله ثقات "الفاظ استعمال کرتے ہیں اپنی طرف سے تصحیح کا حکم نہیں لگاتے آج جولوگ کہتے ہیں" هذا عندی ضعیف ۔"

یقولون هذا عندنا غیر جائز ومن انتم حتی یکون لکم عندی

علامه قسطلانیؒ لیکی : قال الترمذی حسن غریب وفی سنده موسی بن یعقوب الزّمعی قال الدارقطنی انه تفرد به ۔

ابن حجر هیثمیؒ د مشکوة د "باب الصلوة علی النبی ﷺ وفضلها الفصل الثانی" کښې لیکلے دی : وفی سنده موسی بن یعقوب الربیعی لکن بالقوی لکن وثقه یحی بن معین وابوداود وابن حبان وابن عدی وجماعةٌ ۔ انتهی ۔

دا عبارت په التاریخ الکبیر کښې هم امام بخاریؒ ۵ : ۷۷۱ کښې ذکرکړیده ۔ او دغسې ابن عدی۶ :۳۴۲ کښې راغستې ده ۔

[۴] اللهم ارحم خلفائی قلنا یا رسول الله ﷺ ومن خلفائك قال الذین یروون احادیثی ویعلمونها الناس ۔

(رواه الدارقطنی فی الاوسط) ۔ اود علم حدیث د استاذ او شاګرد شغل د احادیثو روایت وی ۔ قال العراقی رواه ابن عبدالبر فی العلم . والهروی فی ذم الکلام من روایة عمرو بن ابی کثیر ۔

علامه البانیؒ په ضعیفه ۲ : ۲۴۷ نمبر ۸۵۴ بانده په ۲۷۰ داسې لیکلې دی۔

[۵] العلم ثلاثة آیة محکمة او سنة قائمة او فریضة عادلة ۔ (ابوداود ، ابن ماجه) ۔

اعلام الموقعین ۱ : ۹۳ تحت ما یحکم به الحاکم نوعان ۔ العلم ثلاثة روایت کښې عبدالرحمن بن زیاد بن النعیم عن عبدالله بن رافع ده ۔ وهما ضعیفان ۔ امام ذهبیؒ په التلخیص ۴ : ۳۳۴ بانده پرې کلام کړیده ۔

د سند اهمیت

د سند اهمیت ددې امت خصوصیت دے .

[۱] ﴿ وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ وَقُولُوا آمَنَّا بِالَّذِي أُنزِلَ إِلَيْنَا وَأُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴾ (سورة العنکبوت : ۴۶)

دَدې آیت د لاندې حافظ ابن کثیرؒ تفسیر کښې لیکلې دی : لانهم لم یکن فی ملتهم حفاظ متقنون کهذه الامة العظیمة ومع ذالك وقرب العهد وضعت احادیث کثیرة فی هذه الامة لا یعلمها الا الله عزوجل ومن منحه الله

تعالی علمًا بذالك كل بحسبه ولله الحمد والمنة.

[۲] د سند اهمیت څکه دے . چه دد ے معرفت دین دے : الاسناد من الدين لولا الاسناد لقال من شاء ماشاء ـ په دے د دین دفاع کیږی ـ (مقدمه د مسلم) ـ امام نووی" په خپله مقدمه د مسلم کښی لیکلے دی : الاسناد كالحيوان ـ لکه چه حیوان بغیر د خپونښی اودریدے . دغسے حدیث د سند نه بغیرنښی اودریدے.

[۳] علامه ابن حزم" په الفصل فی الملل والنحل کښی دد ے اهمیت واضح کړیدے ـ اوخطیب بغدادی" په شرف اصحب الحدیث کښی د علامه اصفهانی" قول نقل کړیدے : چه اسناد ، اعراب او انساب دربواړه دد ے امت خصوصیت دے.

[۴] ضیاء النور کښی شیخ القرآن علامه محمد طاهر" لیکلے دی : او اثارة من علم ، اسناد الحدیث ئی مصداق دے ـ (۱۸۳) ـ

او واقعه نقل کوی : چه یو ځل امام زهری" حدیث ذکرکولو ـ نو سفیان بن عینیة" ورته اووئی : هاته بلا اسناد فقال الزهری أ ترقى السطح بلا سلم وقال الثوری الاسناد سلاح المومن ـ او شعبة" به د مزاح په طور وئیل : تعالوا نعتاب فی دین الله ـ (البصائر) ـ

اهل الحدیث او اهل السُّنة کښی فرق

دواړو کښی عموم وخصوص مطلق دے ـ او د اطلاق او د تقیید فرق دے ـ دواړو کښی که یو مطلق ذکرشی ـ نو دویم په کښی داخلیږی ـ او خپل ذات په اعتبار سره داد فرقه ناجیه په تولو ډلو او قسمونو دلالت کوی ـ په دوی کښی فقهاء ، محدثین ، علماء ، حکمران ، امراء ، زاهدین ، مجاهدین او مقاتلین داخل دی ـ او علماء اصول ، د نحو او لغت د تولو خیر والو قسمونه په کښی شامل کیدے شی ـ که عبارت کښی اهل حدیث او اهل سنت یو ځائی راشی ـ نو د اهل حدیث اطلاق به دد ے فن خصوصی شیوخ باندے کیږی ـ او د اهل سنت اطلاق به په نورو اهل خیرو باندے کیږی ـ

اهل الحدیث هم اهل النبی وان — لم یصحبوا نفسه انفاسه صحبوا

علیك باصحاب الحدیث فانهم — خیار عباد الله فی کل محفل

لقد شرقت شمس الهدی فی وجوههم — وقدر هم فی الناس لا زوال یعتلی

حدیث او سنت

سنت خاص او حدیث عام دے ـ هر سنت حدیث دے ـ او د حدیث دپاره سنت نه دے ضروری ـ حدیث کښی د نبی ﷺ په اولاړه واړه بول راغلے دی ـ جائز دی لیکن سنت نه دی ـ سنت او هدی رائجه 'دوامی طریقه ده ـ حدیث کله ضعیف ، موضوعی او منسوخ وی ـ او سنت نه ضعیف وی ، نه موضوعی او نه منسوخ ـ حدیث هغے ته هم وائی : چه علی وجه التشریع نه وی ـ که د پیغمبرسره ئی خصوصیت دے

هم حدیث دے۔ عام محدثین په کښې فرق نه کوی۔

بعض علماء لیکی: چه حدیث نبی ﷺ ته منسوب قول، فعل او تقریر دے۔ او سنت هغه لار چه نبی ﷺ په سنت مطهره کښې اختیار کړے ده۔ ګویا سنت خاص او حدیث عام دے۔ عمومًا د سنت اطلاق د نبی ﷺ اعمالو سره خاص دی۔ او حدیث قول او عمل دواړو ته شامل دے۔ (علوم الحدیث لصبحی صالح: ۲۰)

لیکن امام طحاوی فرمائی: چه د بعض علماء په نزد سنت عام دے۔ چه اطلاق ئی د نبی ﷺ او د صحابو په قول و فعل کیږی۔ (شرح معانی الآثار ۱ : ۶۰) ۔ امام سخاوی فرمائی: الحدیث اعمّ من السنة. (فتح المغیث) ۔ لیکن غوره داده: چه د یو بل په ځائی په قرائنو استعمالیدے شی۔

د حدیث وجه تسمیه

علامه ابن حجر لیکلے دی: چه حدیث په معنی د حادث راځی۔ او حادث په معنی د حدیث یعنی نوے۔ او علامه سیوطی هم وائی: الحدیث ضد القدیم ۔ قرآن کریم قدیم دے۔ او حدیث د هغے په نسبت حادث دے۔ لیکن دا وجه بعیده ده۔

شاه ولی الله محدث دهلوی الاعتقاد الصحیح: ۴ باندے الله له قدیم صفت ذکر کړیدے۔

شاه ولی الله سند المحدثین دے۔ مولوی عبدالرحمن ګیلانی خپل کتاب شریعت و طریقت کښې چه دارالسلام مطبع کښې چهاپ دے۔ ۱۱۳ باندے لیکلے دی: شاہ ولی اللہ اور کشف قبور۔ بیائی: ۳۳۳ باندے لیکلے دی: چه هغوی نذر د غیرالله جائز ګنړو۔ د قبرونو د طواف قائل وو۔ د قبر خپے باندے د اننګی کیخودو جواز ئی لیکلے دے۔ بلکه غیرالله ته رابلل ئی لیکلے دی۔ روستو لیکی: اب اگر اتنی باتیں شاہ صاحب جیسے بزرگ اور عالم دین سے ثابت ہو جائیں تو اگر عام لوگ اس میں قبروں پر چراغ جلانے جھاڑ و دینے اور ان کے قبور سے مانگنے کا اضافہ کریں تو ان بے چاروں کا کیا قصور ہے ۔

بنده وائی: ﴿وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ﴾ ۔ بعض خبرے ئی د اول دور دی۔ روستنو کتابونو کښې دا ثابت نه دی۔ او نواب صاحب ئی شرح کښې د ملا علی قاری قول نقل کوی: لیس القدیم من الاسماء الحسنی وان اطلق علیه علماء الکلام مع انه انکره کثیر من السلف وکذا بعض من الخلف منهم ابن حزم وانما جاء الشرع باسمه "الاول" دون القدیم ۔ لیکن بعض دا تحقیق ذکر کوی چه ددے اطلاق په الله په دے حیثیت چه اسم او صفت د الله دے په کښې اختلاف دے: واما من حیث الاخبار فیجوز اتفاقا فان باب الاخبار اوسع من باب الصفات ۔ او شق اول کښې هم جمهور متکلمین په الله اطلاق صحیح ګنړی: الا شرذمة قلیلة من اصحب الحدیث۔

دویمه وجه: فتح الملهم کښې علامه شبیر احمد عثمانی لیکی: چه حدیث په معنی د خبر او بیان سره راځی :سورة الضحی ۱۱ کښې دی: ﴿وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ﴾ د رب د نعمتونو خبر او بیان ورکړه ۔ دے سورة کښې درے نعمتونه دی۔ او په هغے ئی درے امور مرتب کړے دی۔ یعنی چه کله ته د شریعت د تفصیلاتو نه خبر نه وے۔ او خبر شوے۔ نو اوس ئی بیان اوکړه۔

تدوین د حدیث

د نبی ﷺ په زمانه کښې احادیث وو. ځکه چه د نبی ﷺ نه احادیث شروع دی. لیکن تدوین ئې نه وو شوے ـ په دے بحث مولانا مناظر احسن گیلانی ډیرقیمتی کتاب تدوین حدیث په نوم سره لیکلے دے ـ سیدنا عمر بن عبدالعزیز له الله رب العزت حکومت ورکړو. تقریبًا ۹۹ هجری ده. او تقریبًا درے کاله ئې د حکومت زمانه ده. هغوی به فرمائیل : چه د سنت اشاعت او احیاء، دغسے د بدعاتو تردید له ژوند غواړم. (حلیة الاولیاء) ـ د خلافت نه پس هغوی د حدیث د جمع و تدوین دپاره عملی قدم واغستلو. او دا تدوین ئې ضروری عمل اوگنړلو.

امام بخاری" کتاب العلم کښې : "باب کیف یقبض العلم" د لاندے روایت راوړیدے : وکتب عمربن عبدالعزیز الی ابی بکر بن حزم : انظرماکان من حدیث رسول الله ﷺ فاکتبه فانی خفت دروس العلم وذهاب العلماء ولا یقبل الا حدیث النبی ﷺ ـ ابوبکربن محمدبن عمرو بن حزم المدنی ۱۰۲ یا ۱۲۰ هجری کښې د هشام بن عبدالملك په خلافت کښې د ۸۴ کاله عمرکښې وفات شویدے.

او علامه قسطلانی" ۱ : ۲۷۲ باندے لیکلے دی : وقد کان الاعتماد اذ ذاك انما هو علی الحفظ فخاف عمربن عبدالعزیز فی رأس المأة الاولی من ذهاب العلم بموت العلماء فامر بذالك.

د هغے نه پس ابوبکر بن حزم د احادیثو د جمع کولو د تدوین حدیث دپاره تتبع او استقراء شروع کړه. اومحدث ابن شهاب زهری چه نوم ئې محمدبن مسلم بن عبید الله بن عبدالله بن شهاب دے. تقریبًا دواړه هم عصر دی. هغوی هم تدوین کښې دلچسپی لرله. منکرین حدیث او دغه ذهن لرونکی زهری ته د بنی امیه نمك خوار وائی. العیاذ بالله.

تمنا عمادی د بخاری اول روایت باره کښې لیکی : ابن شہاب زہری اس کی روایت عروہ بن زبیر سے کرتے ہیں اور عروہ بن زبیر سے زہری کا سماع حدیث ثابت نہیں ـ ۲۱ باندے لیکی : زہری، حدیث میں اپنا کلام بھی ملا دیا کرتے ہیں اور موسیٰ بن عقبہ نے زہری سے جتنی حدیثیں سنی تھی سب کو ضائع کردیا۔ (نماز پنج گانہ کا قرآنی ثبوت علامہ تمنا عمادی)

اکثر علماء امام زهری" مدوّن د أحادیثو گنړی. د حافظ ابن حجر"، امام مالك" او د جمهورو دغه رائی ده. د امام بخاری" میلان ابوبکر بن حزم ته دے. علامه ابن حجر" باب کتابة العلم کښې فتح الباری شرح کښې لیکلے دی : اتفقوا علی اتقانه وامامته ـ او فتح الباری مع البخاری ۱ : ۱٦۸ کښې علامه ابن حجر" لیکلے دی : اول من دون الحدیث ابن شهاب الزهری علی راس المأة بامر عمربن عبدآلعزیز.

امام سیوطی" الفیه کښې لیکلے دی :

اول جامع الحدیث والآثر ابن شهاب آمر له عمر



د حدیث کتابت

پرویز طلوع الاسلام جون ۱۹۷۵ ، ص : ۳۹ باندے لیکلے دی : جس دور میں دین کا نظام قائم رکھا یعنی رسالت مآب اور خلافت راشدہ ، اس میں نافذ العمل جزئیات کا کوئی مستند مجموعہ تحریری طور پر امت کے پاس موجود نہیں تھا بنا بر ایں اس کے علاوہ کوئی شکل نہیں تھی کہ جو کچھ لوگوں کی زبانی معلوم ہوا سے جمع ، مدون اور مرتب کیا جائے یوں روایات کے مجموعے مرتب کئے گئے اور جو جزئیات ان میں لکھیں انہیں احکام شریعت قرار دے کر امت کے لئے واجب العمل ٹھہرایا گیا ہے ظاہر ہے کہ جو روایات اسی طریقہ سے جمع ہوئی تھیں ان میں بہت سے اختلافات اور تضادات تھے ان اختلاف کی بناء پر امت میں تفرقہ پیدا ہو گیا اور مختلف فرقے وجود میں آ گئے بالخصوص اس کے لئے بے شمار روایات خود وضع کر کے انہیں رسول اللہ کی طرف منسوب کیا گیا۔ انتہی ۔

پرویزیان احادیثو ته عجمی سازش وائی . تمنا عمادی "نماز پنجگانہ کا قرآنی ثبوت" کتاب کښی عنوان قائم کړیدے : روایات کو پرکھنے کا معیار ، باندے لیکلے دی : ایسی کتنی جھوٹی اور بالکل جھوٹی باتیں روایات کے ذریعہ کتابوں میں مذکور ہیں جن کو درایت قرآنیہ ہرگز قبول نہیں کرتی اور ایسی بھی بعض باتیں ہیں جن کے وقوع کی شہادت قرآنی درایت دے رہی ہے مگر اس کے متعلق کوئی روایت نہیں ملتی اس لئے

؎ کرتا ہے ہر خبر پر تمنا یقین کیوں   ناداں ، نوید دوست فریب عدو نہ ہو

روایات کو سوچ سمجھ کر قبول کرنا چاہئے اور درایت قرآنیہ کا ہر موقع پر پتہ لگانا ضروری ہے کیونکہ اصل حقیقت کا پتہ قرآنی درایت ہی سے مل سکتا ہے صرف روایت سے نہیں مل سکتا : (ص : ۳۰)

نو کله پرویزیان وائی : هغه حدیث منو چه قرآن سره ئې مطابقت وي . لیکن مطابقت معلومول د هرچا کار نه دے . لکه بعضے وائی : هغه فقه منم چه حدیث سره ئې مطابقت وي . لیکن د مطابقت یا مخالفت ډونګوته کوزیدل د هرچا کار نه دے .

که حدیث خوك نه مني . دے د قرآن آیتونه هم نه مني . مثلاً :

[۱] ﴿وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا﴾ دَ دے بیت المقدس د قبلے ذکر قرآن کښی کوم ځائی دے

[۲] سورة الفتح کښی راځی : ﴿قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ اللَّهُ مِن قَبْلُ﴾ . ددے " قال الله " ذکر قرآن کښی کوم آیت کښی دے ؟

[۳] ﴿ مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ (سورة الحشر : ۵)

دا اذن الهی قرآن کښی کوم ځائی دے . معلومه شوه :

؎ گفتہ او گفتہ اللہ بود   گرچہ از حلقوم عبداللہ بود

ځکه خو قرآن کښی دی : ﴿ مَّن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ﴾ . او سورة النجم کښی دی : ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴾ . نبی ﷺ د سنت نبویه اهمیت واضح کوی ﴿ یاایها الناس انی قد ترکت ما ان

اعتصمتم به فلن تضلوا ابدا کتاب الله وسنة نبیه۔ (السنن الکبریٰ للبیهقی ۱۰ : ۱۱٤ ، حدیث نمبر ۲۰۸۳۳ ۔ صحیح لغیره) ۔ ربیع بن صبیح ، سعید بن ابو عمرو او امام زهری رحمهم الله دأحادیثو سره متعلق هر باب کښی رسالے لیکلے دی۔ چا د مسانید او چا د ابواب الفقه په اعتبار سره کتابونه لیکلے دی۔ په دے موضوع ددے عاجز بنده کتاب " تحفة الامداد لمنکری السنة من اهل الالحاد " دے۔

(۱) ابوداود ۱ : ۲۷٦ کښی یو روایت راځی : چی نبی ﷺ د حج احکامات بیانول۔ د یمن یو سړی مطالبه د لیکلو اوکړه۔ نبی ﷺ اوفرمائیل : اکتبوا لابی شاه ۔ او دا روایت صحیح بخاری کښی : ۲۱ او:۴۳۸ باندے دے۔ (بخاری : ۱ : ۳۲۸ ، ۳۲۹ ، صحیح مسلم ۱ : ٤۳۸)۔

(۲) امام ترمذی باب تړلے دے : بـاب مـاجـاء فی الرخصة فیه ـ د باب د لاندے : استعن بیمینك ـ روایت راوړیدے۔ دارمی : ٦۹ کښی د ابن عمر رضی الله عنه بیان دے چه علم اولیکی۔ تفسیرقرطبی کښی د سورة طه آیت : ﴿ عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّیۡ فِیۡ کِتَابٍ ﴾ د لاندے : استعن بیمینك ۔ روایت ذکرکړیدے۔ (معجم اوسط للطبرانی کما فی المجمع ۱ : ۱۵۲)۔

صحابه کرامو کښی د سیدنا عمر بن الخطاب ، انس بن مالك ، ابوامامه ، عبدالله بن عمر ، جابر بن عبدالله ، او د عبدا لله بن مسعود او عبدالله بن عباس وغیرهم رضوان الله علیهم نه کتابت د حدیث ثابت دے۔ او دا واقعه ثابته نه ده۔ چه سیدنا ابوبکر رضی الله عنه صحیفه سوزولے وه۔ علامه ذهبیؒ لیکلے دی : فهذا لا یصح والله اعلم۔ (تذکرة الحفاظ ۱ : ۵)۔ او ډاکټر مصطفی سباعی المتوفی ۱۹٦۴ خپل کتاب السنة ومکانتها فی التشریع الاسلامی : ۱۷۲ باندے لیکلے دی : قال عنها الذهبی : انها لا تصح وهو الذی تطمن الیه النفس۔

(۳) ابوداود او ترمذی کښی د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنه بیان دے۔ چه نبی ﷺ د خپل ژوند آخر کښی عاملانوته کتاب الصدقة لیکلے وو۔ چه د څناورو او د زکوة سره متعلق حدیثونه په کښی وو۔ لیکن هغوی وفات شو۔ او اوئے نه لیږلو۔ او بیا شیخینو سره وه۔

(سنن ابی داود ۱ : ۲۱۹ ، سنن ابن ماجه : ۱۲۸ ، جامع ترمذی ۱ : ۷۹)۔

(۴) مشکوة جلدثانی کښی روایت دے۔ یو ځل ابوجحیفه رضی الله عنه د سیدنا علی رضی الله عنه نه تپوس اوکړو۔ تاسو سره داسے احکام شته۔ چه نبی ﷺ تاسوته خاص د هغے بیان کړے وی۔ ځکه خلقو مشهوره کړے وه۔ چه د اهل بیت سره خصوصی علوم شته۔ نو د علی رضی الله عنه جواب دا وو۔ چه نشته۔ د قرآن او د فهم قرآن نه علاوه صرف زما د تورے په تیکی کښی څه احکامات ما

لیکلے دی. چه په هغے کښې د قصاص و دیت او قیدیانو سره متعلق احکامات دی. او توره ئې ځکه ذکر کړه. چه ددے حفاظت به په توره کوم.

باب کتابة العلم بخاری : ۲۱ : هل عندکم کتاب قال لا الا کتابُ الله او فَهْم أعطیه رجل مسلم او ما فی هذه الصحیفة. دغسے : بخاری ۱ : ۲۵۱ تحت فضائل المدینة.

(د) عبدالله بن عمروبن العاص به فرمائیل : ما یرغبنی فی الحیوة الا الصادقة والوهط. وهط ئې جائیداد او زمکه وه. یو روحانی او بل مادی جائیداد. فاما الصادقة فصحیفة کتبتها من رسول الله ﷺ. (دارمی : ۶۸) مشکوة کښې عمروبن شعیب عن ابیه عن جده روایت راځی. علامه ابن قیم الجوزیه اعلام الموقعین ۱:۱۰۷ کښې لیکلے دی : وقد احتج الائمة الاربعة والفقهاء قاطبة بصحیفة عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ولا یعرف فی ائمة الفتوی الا من احتاج الیها.

نبی ﷺ په خپله گوته مبارکه، خولے مبارکے طرف ته اشاره اوکړه. او عبدالله بن عمروبن العاص ته ئې اوفرمائیل : اکتب فوالذی نفسی بیده ماخرج منه الا حق.

(مسند دارمی : ۶۷، سنن ابی داود ۲ : ۵۱۳، مستدرك حاکم ۱ : ۱۰۴، جامع بیان العلم ۱ : ۱۷۱)

سیدنا ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی : چه زمانه زیات احادیث د عبدالله بن عمرو نه علاوه چاسره نه وو ځکه هغه لیکل کول او مانه کول. (مسنددارمی : ۶۷، صحیح بخاری ۱ : ۲۲).

دکتور محمد مصطفی الاعظمی لیکلے دی : چه یو ځل کاتبین د حدیث او د هغوی صحیفے اوشمارلے شوے. نو نو ۵۲ صحابه وو. (دراسات فی الحدیث النبوی) او د تابعینو صحائف او رسائل ۱۵۱ نه زیات جوړیږی.

اود ابونعیم د تاریخ اصفهانی په حواله فتح الباری کښې دی : چه آفاقو ته ئې خط لیکلے وو : انظروا الی حدیث رسول الله ﷺ فاجمعوه.

او د مسند دارمی متعلق علامه ابن تیمیه فرمائی : چه دے افضل دے : بکثیرمن مسلم والترمذی ونحوها. (مجموع فتاوی ۱ ب : ۹). اگرچه د یو څیز حجت کیدل په کتابت موقوف نه دی. داد ضبط یو ذریعه ده. دغسے بله ذریعه ئې حفظ ده. او د عربود حافظے غوندے قوی حافظه د چا هم نشته.

د عبدالله بن عباس متعلق جامع بیان العلم کښې دی : چه د عمر بن ابی ربیعة قصیده چه په دے مصرعه شروع کیږی : امن آل نعم انت غاد فمبکر ـ د اویا (۷۰) شعرونو قصیده ئې په یو مجلس کښې

یاده کړے وه. آخر کښی لیکی : ولیس احد الیوم علی هذا.

(بحواله سنت نبویہ اور قرآن کریم ، زمونږ د شیخ ډاکټر حبیب الله مختارؒ : ۲۵۰).

واضحه دے وی چه د عبدالله بن عمروبن العاص نقل شده روایات فی الحال د ابو هریرة رضی الله عنه نه په دے وجه کم دی. چه عبدالله بن عمروبن العاص په طائف کښی او ابو هریرة رضی الله عنه په مدینه کښی اوسیدو. او مدینه د علم مرکز وو. ځکه ئی شاګردان روایت کونکی د سیدنا ابو هریرة رضی الله عنه زیات دی. او دویمه وجه دا هم ده : چه د نبی ﷺ په دعاګانو او د څادر د دم کولو په وجه د ابو هریرة رضی الله عنه حافظه قوی وه.

د حفظ حدیث اهتمام او قوت حافظه

نصرة الحدیث : ۲۸ باندے دی. چه سیدنا ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی : چه پیغمبر ﷺ زما د جسم نه څادر لرکړو. او بیائے خورکړو. او د آحادیثوبیان ئی شروع کړو. بیا ئی اوفرمائیل چه څادر سینے سره جخت کړه. د هغے نه روستو رانه چرته یو حرف هم نه دے هیر شوے. (تذکره ۱ : ۳۳).

داسے روستو د محدیثونو حافظے ډیرے قوی وے. لکه امام شعبیؒ ، ابو صالح سمانؒ ، مکحولؒ او د امام زهریؒ د خانسته حافظے تذکره ئی د تذکره په حواله کړے ده. دغسے د امام بخاریؒ ، حافظ ابوذرعهؒ او د امام ترمذیؒ حافظے ضرب المثل دے.

د منکر حدیث اشکال او د هغے جواب

وائی : چه مسلم کښی روایت دے : لاتکتبوا عنی ، ومن کتب عنی غیر القرآن فلیمحه.

(مسلم فی کتاب الزهدوالرقاق).

الزامی جواب : د حدیث نه استدلال خومنکر حدیث څنګه کوی. هغه ئی منی نه. نو هغوی وائی دا تاسو باندے زمونږ الزامی اعتراض دے.

جوابات : (۱) داخو موقوف روایت دے. (فتح المغیث للسخاوی ۲ : ۱٤٥ ، تدریب الراوی للسیوطی : ۲۸۷ ، الباعث الحثیث : ۱۲۳ لابن کثیر). او صحیح مرفوع روایات د کتابت ذکرشو.

(۲) **دویم جواب :** داپه عارض حمل دے. ممانعت په ابتدائے اسلام کښی وقتی وو. د قرآن د نزول په وخت کښی خطره د التباس موجود وه. چه دغه خطره ختمه شوه. نو ممانعت ختم شو. (تدریب

الراوی ۲۸۶ ، مقدمه ابن صلاح : ۱٤۱). دا خبره امام نووی په شرح د مسلم کښی کتاب الزهد ۲ : ۴۱۵م باندے لیکلے ده.

(۳) دریم جواب : د مطلقًا کتابت ممانعت نه وو. بلکه هغه وخت کښی د قرآن غوندے مدوّن کولو نه منع راغلے وه. (السنة و مكانتها في التشريع الاسلامي : ۷٤)

(۴) څلورم جواب : ممانعت عمومی وو. لیکن بعض افرادو ته خصوصی اجازت څکه ورکړے شوے وو. چه د کتابت ماهران وو. السنة قبل التدوين ، دا جواب فتح الملهم کښی علامه شبیراحمد عثمانیؒ ذکرکړیدے. او دا ابن قتیبهؒ قول دے.

(۵) پنځم جواب : ممانعت هغه چاله وو. چه یره وه چه صرف په لیك به اعتماد ساتی. او یادول او ضبط به پریږدی. (جامع بیان العلم)

(٦) شپږم جواب : حافظے قوی وے. لکه مخکښی ذکراوشو . او د سستی ختمولو دپاره وقتی بندیز لګولے شوے وو. (تدریب الراوی).

معرفة طبقات كتب الحديث

شاه ولی اللهؒ حجة الله ۱ : ۱۳۳ باندے بحث کوی : وكتب الحديث على طبقات مختلفة ـ د صحت او د شهرت په اعتبار سره ئی څلور قسمه طبقات جوړ کړیدی. اوله طبقه کښی استقرائی دلیل سره درے کتابونه ذکرکړیدی. موطا ، صحیح بخاری او صحیح مسلم. شاه صاحبؒ لیکلے دی : چه د امام مالكؒ او د هغوی د موافقینو په نزد ددے ټول روایات صحیح دی. او نور علماء هم فرمائی : چه ددے مراسیل او منقطع روایات په نورو طریقوسره سندًا متصل دی. په دے وجه صحیح دی.

او لیکلے دی : وقد صنف في زمان مالك موطآت كثيرة في تخريج احاديثه ووصل منقطعه مثل كتاب ابن ابی ذئب وابن عيينه والثوری و معمروغیرهم ـ لیکن د ابن ابی ذئب نه علاوه د چا د تالیف نوم موطا نه دے. او نه تاریخی طور دا خبره ثابته ده. چه دوی څه کتابونه د موطا د احادیثو د تخریج ، یا د منقطع روایاتو د وصل دپاره تصنیف کړے دی. والله اعلم.

د امام مالكؒ شاګردان فقهاء کرامو کښی امام شافعیؒ ، امام محمد بن الحسنؒ ، ابن وهبؒ او ابن القاسمؒ دی. واضحه دے وی چه د ابن القاسمؒ باره کښی علامه ابن تیمیهؒ لیکلے دی : فان خاصة كل امام ساخلر

اموره مثل مالك بن انس فان ابن القاسم لما كان اخص الناس به واعلمهم بباطن امره اعتمد اتباعه على روايته حتى انه تؤخذ عنه مسائل السر التي رواها ابن ابي الغمر وان طعن بعض الناس فيها وكذلك ابوحنيفة فابويوسف و محمد و زفر اعلم الناس به. (مجموع فتاوى : ۲ب ۵۸).

په کتاب تحریم نکاح الشغار د محترم ابومحمد امین الله کښې لیکلے دی: فتوی د امام مالك " قال ابن القاسم في المدونة الكبرى ٤ : ۱۵۳ سئل مالك عن رجل ...الخ - د ابن القاسم قول ئې د امام مالكؒ فتوی گرځولے ده. او علامه ابن عبدالبرؒ لیکلے دی: لا اخلف رواية ابن القاسم لأن الجماعة عندنا اليوم عليها. (الاستذكار ٤ : ۱۰۳). شاه ولی اللهؒ الانصاف في بيان سبب الاختلاف : ۵۸ باندے لیکلے دی: فنجد اصحاب مالك لا يعتمدون في مذهبه الا ما كان من رواية ابن القاسم واشهب ...الخ.

شاه صاحبؒ لیکلے دی: اما الصحيحان فقد اتفق المحدثون على ان جميع ما فيهما من المتصل المرفوع صحيح بالقطع وانهما متواتران الى مصنفيهما وانه كل من يهون امرهما فهومبتدع غير سبيل المومنين.

الطبقة الثانية: ددے طبقے مصنفین وثوق، عدالت، حفظ او مهارت د حدیثو په فنونو کښې معروف دی. لکه سنن ابی داود، جامع ترمذی او مجتبی نسائی.

الطبقة الثالثة: دے طبقه کښې مسانید، جوامع او مصنفات راځی. دے کښې هر قسم روایات شته .او مذکوره شهرت ورته نه دے حاصل. اگرچه د نکارت مطلقه نوم ترے زائل دے. لکه مسند ابی یعلی او مصنف عبدالرزاق او مصنف ابی بکربن ابی شیبه و مسندعبدبن حمید والطیالوسی وکتب البیهقی والطحاوی والطبرانی.

الطبقة الرابعة: واصلح هذه الطبقة ماكان ضعيفا محتملا واسوءها ماكان موضوعًا او مقلوبًا شديد النكارة وهذه الطبقة مادة كتاب الموضوعات لابن الجوزي - دا هغه آثار د صحابو او تابعینو چه په کښې راجمع وی . یا د حکماء، واعظانو هغه خبرے چه سهوًا یا عمدًا راویانو د احادیثو سره گډوډ کړے وی. په هغے کښې د خطیب، ابن عساکر، دیلمی اود ابونعیم کتابونه شمار کړیدی.

واضحه دے وی: چه امام ذهبیؒ کتاب لیکلے دے المعین فی طبقات المحدثین. د ابن سعد کتاب دے الطبقات الکبری. د امام سیوطی کتاب دے طبقات الحفاظ. الطبقات للنسائی. یو الطبقات د خلیفه دے. دغسے علمی، نسلی او معاشرتی تقسیم بدعت نه دے.

تصنیف په اعتبار دکتابت حدیث طبقات

د کتابت حدیث په اعتبار سره کوم تصنیفونه چه علماء کرامو کړے دی۔ د هغے ۵ طبقات دی طبقات په مختلفو حیثیتونو وی۔

اوله طبقه: دا طبقه د تابعینو ده مخکښې دد ے ذکرمونږه اوکړو۔ د جمهورو قول دادے: چه مدون ئی اول ابن شهاب زهری دے۔

دویمه طبقه: په مدینه منوره، مکه مکرمه، یمن، کوفه او په شام کښې چا چا کتابونه اولیکل۔ نو په مدینه منوره کښې موطا د امام مالک لیکلے شویدے۔ امام مالک مدنی دے۔ د ټولو نه مخکښې کتاب د موطا دے۔ ۱۲۰ هجری او ۱۳۰ هجری په دے مینځ مینځ کښې لیکلے شویدے۔ او ښکاره ده چه د امام بخاری بخاری نه وه۔ نو د موطا راج وو۔ شاه ولی الله په حجة الله البالغه کښې دا لیکلے دی: چه اول موطا وو۔ بیا روستو امام بخاری چه کله راغے۔ نو بخاری ترے نه نمبر واغستو۔ لکه چه مخکښې ذکراوشو۔

ددے وجے نه پرویزیان دا خبره کوی چه کوم شیء د نبی ﷺ د وفات نه ۱۲۰ سال روستو لیکلے شوے وی۔ نو هغے له څه اعتبار دے۔

مکه مکرمه کښې محدث ابن جریج وو۔ او په یمن کښې محدث معمر بن راشدؒ وو۔ او په کوفه کښې محدث سفیان ثوری وو۔ او په شام کښې محدث عبدالرحمن اوزاعی وو۔ دا دویمه طبقه ده په دے کښې غټو غټو محدثینو کتابونه اولیکل۔

دریمه طبقه: د تصنیف په اعتبار سره طبقه هغے ته مسانید وئیلے کیږی۔ مسانید هغے کتابونو ته وئیلے کیږی۔ چه په هغے کښې د صحابه کرامو د مرتبے په اعتبار سره ترتیب وی۔ یا د حروف هجاء په اعتبار سره ترتیب وی۔ او احادیث یې ورله راوړے وی۔ یا د تقدم او د تأخر په اعتبار چه اسلام ته څوک مخکښې راغلے دی۔ اوڅوک روستو مونږه درے خبرے ذکر کړے۔ یو د رتبے په اعتبار سره د رتبے په اعتبار سره اول ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے۔ مرتبه دده اوله ده۔ لکه تذکرة الحفاظ د امام ذهبی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه شروع کیږی۔ صرف یوه صفحه پرے لګولے ده۔ او دا یې وئیلے دی: چه هغه محدث وو په حدیثو کښې ډیر ماهر وو۔ او بیا یې ورپسے وئیلے دی چه اصل کوم

محدثین او اهل الحدیث دی. هغوی په خاوروکښی پراته دی. او اوس داسے څوك نشته. چه په دنیا کښی ژوندی وی ـ او په احادیثو کښی غټ غټ ماهران وی. علم حدیث صرف لاف و گزاف جوړے شویدی.

دغه شان په صحابه کرامؓ کښی چه کوم اوچت وو لکه: ابوبکر ' عمر او عثمان رضی الله عنهم ددوی چه کوم احادیث دی. که هر رنگ وی که په اودس ' میراث او که په زکوۃ کښی وی. کیف مااتفق داجمع شوے دی ـ دے ته مسند وائی. یا د حروف هجاء ترتیب لکه ابو هریره رضی الله عنه نو اول په کښی الف دے ـ یا ترتیب د تقدم او د تآخر دے اسلام ته مخکښی راغلے دے. او دے روستو راغلے دے. نو چه څوك روستو راغلے دے ـ نو هغه له یې په مسند کښی ترتیب روستو ورکړیدے. او د هغه احادیث یې ذکرکړے دی دا درے واړه قسمونه د مسانیدو دی. دغه شان مسند د دارمیؒ او مسند د امام احمدؒ اوس تفصیلی چهاپ شوے دی سره د تحقیق او د تعلیق . مصنف د ابن ابی شیبهؒ داده امام بخاریؒ استاذ دے. دا دویمې صدۍ آخر او د دریمې صدۍ اول دے. چه دا کتابونه لیکلے شوے دی ـ دا درے طبقات شوخو په دے درے واړو طبقاتو کښی چه څومره کتابونه لیکلے شوے دی. نودا گډ وړ یعنی مخلوط دی ـ تنقیح یې نه ده شوے ـ مرفوع ' موقوف ' ضعیف ' حسن او صحیح روایتونه په کښی هم شته. د دوی مطلب داوو چه احادیث راجمع شی. هغه تعلیق واله چه گورے هلته یې ورسره دا وئیلے دی. دا روایت ضعیف دے. او وجه ورله داده.

څلورمه طبقه: په دے طبقه کښی مصنفین د صحاح سته وو دی. امام بخاریؒ ' امام مسلمؒ ' امام نسائیؒ ' امام ترمذیؒ ' امام ابوداودؒ او ابن ماجهؒ دے. د مشکوۃ د خطبه په رومبۍ صفحه باندے ددوی نومونه شته.

پنځمه طبقه: دا طبقه د متاخرینو محدثینو ده دوی په خپله روایت نه ذکرکوی. بلکه دوی روایت د متقدمینو په حواله باندے ذکرکوی. خو مستقل سندونه ورله حذف کوی. صرف د صحابی نوم ذکرکوی ـ لکه مثلاً د (مشکوۃ مصنف) په دے پنځو طبقو کښی صاحب د مشکوۃ په پنځمه طبقه کښی دے ـ او د متاخرینو نه دے. او په خپل سند دے روایت نه ذکرکوی. لکه حدیث د بخاری: انما الاعمال بالنیات راوړی ـ لیکن په هغے کښی سند نه ذکرکوی ـ چه کوم سند په بخاری کښی ذکرشویدے ـ دے ده متقدمینو سند حذف کوی. او زمونږ اعتماد به په ده باندے وی. چه دده سند اکثریه تیك روان دے. د کتاب المصابیح هم او د مشکوۃ هم دا دواړه مصنفین جدا جدا دی.

شاہ عبدالعزیزؒ عجالہ نافعہ کبنی څلور طبقات داسے ذکر کوی

(۱) موطا مالك، بخاری، مسلم۔

(۲) چہ هغہ کتابونہ شهرت، قبولیت او صحت کبنی امام بخاری او مسلم تہ نہ رسی۔ لیکن دوی تہ نزدے دی۔ لکہ ترمذی، ابوداود، نسائی چہ ددوی عدالت، حفظ او ضبط او فنون حدیث کبنی تبحر مشهور دے۔ جامع الاصول د ابن الاثیر کبنی ددے شپږو کتابونو احادیث جمع شویدی۔ د الفاظ غریبو شرحہ ئی کړے دہ۔ مشکلات ئی ضبط کړیدی۔ او د نورو متعلقاتو ئی ښه وضاحت کړیدے۔ گویہ جامع الاصول ددے شپږو کتابونو داسے شرحہ دہ۔ لکہ مشارق الانوار چہ د موطا او د صحیحینو شرحہ دہ۔

(۳) پہ دے طبقہ کبنی هغہ احادیث داخل دی۔ چہ علماء متقدمینو د امام بخاری او د مسلم نہ مخکبنی لیکلے دی۔ یا د هغوی معاصرین دی۔ یاد هغے نہ روستو ئی پہ خپلو کتابونو کبنی روایت کړیدے۔ لیکن د صحت التزام ئی نہ دے کړے۔ او شهرت او قبولیت کبنی مخکبنی دوو طبقو تہ نہ رسی۔ اگرچہ مؤلفین ئی د علوم حدیث ماهران وو۔ پہ دے کبنی بعض موضوع هم دی۔ او اکثر پہ کبنی د فقهاء معمول بہ نہ دی۔ بلکہ د اجماع او د امت د عمل نہ مخالف دی۔ لکہ مسند شافعی، ابن ماجہ، مسند ابویعلی، مسندداری، ابوداود طیالسی، دارقطنی وغیرہ۔

(۴) قرون اولی کبنی ئی نشانات نشتہ۔ او متاخرین علماء نقل کړے دی۔ داسے قسم احادیث ډیر محدثین پہ غلطئ کبنی مبتلاء کوی۔ او دهوکہ کیږی۔ لکہ کتاب الضعفاء د ابن حبان او عقیلی، مسند د بن مردوی، او مسند فردوس، او تصانیف د خطیب وغیرہ۔ ددوی پہ صحت کبنی تساهل وی۔ صرف ددینہ استنباط د مسائلو پہ خصوصی طور باندے صحیح نہ دی۔

تقریب التهذیب کبنی ئی بلہ طبقہ داسے ذکر کړیدہ۔ چہ پہ راوی کبنی داسے څیز یعنی "علت" نہ وی۔ چہ د هغے پہ وجہ ئی حدیث پریخودلے شی۔ او چہ متابع ئی موجود وی۔ نو پہ دے کبنی اشارہ دہ۔ چہ روایت مقبول دے۔ ورنہ لین الحدیث دے۔

د بحث آخر کبنی یو فائدہ

شیخ عبدالسلامؒ لیکلے دی: ۱۹۰ ہجری تک تقریباً آٹھ کتب حدیث وجود میں آئیں موطا امام مالکؒ، جامع سفیان ثوریؒ، جامع ابن المبارکؒ، مسند امام ابوحنیفہؒ، کتاب الخراج للامام ابویوسفؒ، کتاب الآثار للامام محمد بن حسن شیبانیؒ (انکار حدیث سے انکار قرآن تک: ۱۳۴)

(گویا درے پہ کبنی د احنافو دی) او لیکی: دوسری صدی ہجری میں چند مسانید منظر عام پر آگئے مسند احمد، مسند امام ابوحنیفہ، مسند شافعی (ص: ۱۳٤) او پہ: ۱۲۴ ئی غتهو حفاظ حدیث او ائمہ حدیث کبنی چہ څنگہ اول د امام بخاریؒ نوم اغستلے دے۔ دغسے د امام ابوحنیفہؒ نوم ئی هم ذکر کړیدے۔

د صحاح سته د مصنفينو مختصر حالات

د مشکوة په خطبه کښې چه کوم علماء کرام ذکر شوے دی. د هغوی مختصر لړ لړ حالات ذکر کوو. او خطبه کښې د دوی ذکر شته.

(۱) امام بخاری رحمه الله

د ټولونو نه مخکښې امیرالمومنین فی الحدیث امام بخاریؒ دے. د امام بخاریؒ کنیت ابوعبدالله وو. د عبدالله په نوم د ده اړو ځوے نشته. بلکه ځوی ئی د سر نه نشته. علامه ابن تیمیةؒ لیکی: فاذا کنوه بابی فلان تارة یکنون الرجل بولده کما یکنون من لا ولد له. (مجموع فتاویٰ ۱۳ :۱٦٤).

بعض علماء ئی د یو ځوی ذکر کوی.

ابن منیر وائی: چه امام بخاریؒ ته د هغه ځوی احمد د تجارت څه سامان رالیږلے وو. ددینه معلومیږی چه احمد ځوی ئی وو. (سیر اعلام النبلاء ' طبقات السبکی).

مولوی امین الله صاحب په الحق الصریح کښې لیکلے دی: د عبدالله په نوم ځوی نه وو پاتے شوے. بلکه بغیر د ولد نه یې دا کنیه ایخے وه. (او بغیر د ولد نه هم کنیه کیخودل سنت عمل دے).

معلومیږی چه کنیت له دا نه ده ضروری. چه ځوی اولور به یې موجود وی. او د هغے په بنیاد باندے به وی که وی نوډیره ښه ده. لکه مثلًا د یو تن د ځوی نوم معمر دے. او هغه ځان سره ابو معمر لیکی یا ابو راشد لیکی اوکه نه وی او کنیت ذکر کوی. نو دے به دروغجن نه وی. مثلًا د نبی ﷺ خادم وو انس رضی الله عنه د ده د رور بلبل مړ شوے وو. نبی ﷺ خفګان له تلے وو. نو هغه ته وائی: یا ابا عمیر ما فعل النغیر. نو نبی ﷺ ورله کنیت کیخودو ابوعمیر. دا نه ده چه هغه د عمیر پلار وو.

کله کله خلق اعتراض کوی. چه تاسو ابو حنیفةؒ ته دا ابو حنیفةؒ ولے وائی؟. چه د امام صاحب حنیفه لورخو اړو وه نه. چه دوی ئی " اب " شی. نو دا کنیت خو ورله څنګه ایخے دے.؟

جواب داد ے: چه د امام بخاریؒ عبدالله ځوے وو؟. چه دے ئی " اب " دے. چه ابوعبدالله. نو دغه شان امام ابو حنیفةؒ دے. ابوعبدالله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن مغیره بن بَرۡدِزۡبَه الجعفی دا دده سلسله نسب ده.

امام ذهبیؒ په سیر اعلام النبلاء کښې لیکلے دی: چه دده پلار اسماعیل بن ابراهیم د عبد الله بن

مبارکؒ سره ملاقات کړیدے : وَ صَافَحَه بکلتا یدیه ۔ او ده سره یې په دواړو لاسونو مصافحه کړے ده۔
سیراعلام النبلاء ۹ : ۸۹ باندے دی : سمع ابی من مالك بن انس ورای حماد بن زید وصافح ابن المبارك بكلتا یدیه ۔ دوی وائی په دواړو لاسونو مصافحه د امام بخاریؒ نه ثابته ده ؟ ورته وایه د امام بخاریؒ د پلار نه ثابته ده ۔ او امام ذهبیؒ لیکلې دی : وقال الحاکم کان محمد بن اسماعیل یسکن بسکة الدهقان ، وکان جماعة یختلفون الیه یظهرون شعار اهل الحدیث من افراد الاقامة ورفع الیدین فی الصلوة وغیر ذالك۔

او دا ئی هم یو وجه د اخراج من وجه لیکلے ده۔

د امام بخاریؒ په حالاتو کښې راځی : کان نحیف الجسم ۔ د جسم په لحاظ سره کمزورے او نرے وو۔ غټ اوسورب نه وو۔ خو په علم باندے اوچت وو۔ اسماعیل بن ابراهیم وائی : چه ما خپل ځوے ته د شبهے یو روپے نده پریخے ۔ بلکے تولے د حلالو پیسے دی۔

د حلالو په مال چه دچا تربیت اوشی الله رب العزت ترے د امام بخاریؒ غوندے عالم جوړه وی۔ او دا اوسنی علمونه چه وران او خراب دی۔ اکثریه په کښې د حراموګټه ده۔ د هغے د وجے نه دا حافظے کار نه کوی ۔ هغه شان علماء کرام نه پیدا کیږی۔

واقعه : د امام بخاریؒ په حالاتو کښی راځی : چه ځان یې ډیر د شك اود شبهاتو نه بچ کړیدے۔ ایك هزار اشرفی، درهمه سمندر ته یې دے له غورزولے دی۔ چه په علم والو باندے څوك ګوته پورته نه کړی ۔ یو تن امام بخاریؒ سره زر روپے اولیدلے ۔ او دوی په کشتی، کښی سفرکوو۔ چاپلوسی یې کوله ۔ او ده ته نزدے شوے وو۔ او بیا یې شور جوړ کړو۔ چه زما نه چا بټوا پټه کړے ده۔ او زر روپے دی په کښې او تالاشی واخلے ۔ مطلب یې دا وو چه ماله دا پیسے راکړی۔ او امام بخاریؒ غلا کړے ده۔ امام بخاریؒ چه پو هه شو ۔ چه شیء خو په ما جه کیږی۔ نو تحقیق ته به ضرورت راځی۔ دا اوګده خبره ده۔ نو زر یې هغه بټوه سمندر ته غورځولے ده۔ چه کله تالاشی شوے ده۔ نو هغه سره نه ده راوتے۔ امام بخاریؒ بیا روستو وئیلے دی : چه د علماء کرامو شان مے بچ کوو۔ کنی اوس به دے پرویزیانو امام بخاریؒ ته غلاګر وئیلو۔ چه داڅه غلاګر انسان تیر شویدے۔

علامه عجلونیؒ الفوائد الدراری کښی دا واقعه ذکر کړے ده۔

امام بخاریؒ چه پیدا شویدے۔ نو بیا روستو ړوند شویدے : ان البخاری ذهب بصره فی صغره فرات امه فی المنام ا، اهیم الخلیل علیه السلام فقال لها یا هذه قد رد الله علی ابنك بصره بکثرة دعائك او بکائك فاصبح و

قد رد الله بصره علیه۔ او مور یې ډیرے ژړاګانے الله رب العزت ته کړے دی۔ یو شپه یې ابراهیم علیه السلام په خوب کښې اولیدلو چه پاسه د ځوی نظر دے واپس راغلے دے۔ نووے کتل امام بخاریؒ بینا وو۔ او سترګے یې ښه برابر وے۔

د امام بخاریؒ دویم ځل هم په نظر کښې نقصان راغلے دے۔ د ډیرے ګرمۍ او د ډیرو سفرنود وجے ئې نظر ختم شوے وو۔ یو کس ورته اووئیل چه د سر ویخته لرکړه۔ ګل خطمي پرے اولګوه۔ دے سره ئې نظر بیا واپس شو۔ (طبقات السبکی ' سیر اعلام النبلاء) ۔

د جمعے په ورځ په ۱۳ شوال ۱۹۴ کښې د جمعے د مانځه نه پس دده ولادت شوید ے۔ امام ابو حنیفهؒ په ۱۵۰ هجري کښې وفات شوید ے۔ ددینه دا معلومه شوه : چه د امام صاحبؒ د وفات نه ۴۴ کاله روستو امام بخاریؒ دنیا ته راغے۔

امام بخاریؒ د خالی شپه او د وروکی آختر شپه وه۔ په ۲۵۶ هجري کښې وفات شوید ے۔ او دفن شوید ے د آختر په ورځ د ماسپخین د مانځه نه پس : اسرعوا بالجنازة۔ راغلے دے خو ډیره تلوارمه کوه ۔ که د ضرورت د وجے لږ وخت تیرشي نوخیر دے۔ لوئی سړے وو علماء کرام او مشایخ به راتلل۔ او د هغه په جنازه کښې به یې شرکت کوو۔

د امام بخاریؒ ټول عمر ۷۲ کاله دے۔ خو ۱۳ ورځے په کښې کمے دی۔

الله رب العزت چه د چا نه کار اخلی۔ نو هغه له حافظه ډیره ښکلے ورکړی۔ دا خو مره مجتهدین او محدثین چه دی۔ شاه انورؒ لیکلے دی : چه دوی ممتاز دی په خه ښکلے حافظے سره۔

او زمونږ خودغه حافظے دی۔ چه یو تن وائی تقریر له راشه نو ورته وایو ډائرے کښې یې لیکو۔ زمونږ نه هیریږي۔ او د دوی حافظے ته دنیا حیرانه وه۔

امام بخاریؒ د ۱۱ کالو وو۔ چه حدیث یې د استاذ نه وئیلو۔ نو استاذ له یې په سند کښې آواز ورکړید ے۔ چه ته خو ابو الزبیر ذکر کوے۔ خو داد زبیر روایت دے۔ استاذ چه کاپی کتلے ده۔ د امام بخاریؒ هغه خبره ټیك وه۔ علماء کرام وائی : د امام بخاریؒ نه بخاری شریف ۹۰ هزار شاګردانو بنفس نفیس خپله اوریدلے دے۔

د امام بخاریؒ د کتاب په باره کښې په الحق الصریح ۳۰ کښې لیکلے دی : چه د ټول امت اجماع ده په صحت ددے کتاب باندے۔ یعنی دده دا کتاب بالاجماع دا ده ټولو نه مستند کتاب دے۔ صحیح ده ۔

لیکن دوی دا کله کله لیکی : چه اجماع اړو ثابته نه ده ۔ چه یوتن وائی چه په تقلید باندے اجماع ده۔
اصح الکتب بعد کتاب اللہ الباری کتاب البخاری ۔ د اللہ رب العزت د کتاب نه روستو د ټولونه بهترین
کتاب هغه د امام بخاریؒ کتاب دے ۔ دا خو په حدیث کښی نه راځی ۔ بلکه په دے باندے د علماء
کرامو اجماع ده ۔ بس ابن الصلاحؒ یوه خبره کړے ده۔ او د نورو پرے صلاح راغلے ده۔ دغه شان په
تقلید کښی هم ابن الصلاحؒ خبره کړے ده۔ چه په دے باندے اجماع ده ۔ او د نورو پرے صلاح راغلے
ده ۔ د امین الفتاوی ۲ : ۵۳۰ ئی المغنی ۷ : ۱۱۵ باندے د ابن المنذر قول نقل کوی : قال ابن المنذر
اجمع کل من نحفظ من اهل العلم علی ان الخنثی یورث من حیث البول ۔
علامه ابن المنذرؒ په ټولو عالمانو کړځیدلے نه دے ۔ خو د معتدبه عالمانو د فتاوی د معلومیت نه بعد
ئی دا قول کړیدے ۔
او لیکی: بلکه په دے خبره هم اجماع ده چه دے په فن الحدیث باندے ډیر زیات خه پو هیدلو۔
(الحق الصریح: ۳۲)

امام بخاریؒ په بخاری کښی ډیر زیات د تنقیح نه کار اغستے دے ۔ لیکن بعض روایات کښی راوی
ضعیف راوړی ۔ باب الوضوء ثلاثا کښی حمران مولی عثمان ته خپله بخاری په الضعفاء کښی
ضعیف وئیلے دے ۔ کتاب الجهاد کښی روایت دے : کان للنبی فی حائطنا فرس ۔ سند کښی ابو ابن
عباس بن سهل ته امام احمد ، نسائی ، یحی بن معین او خپله بخاری ضعیف وئیلے دے ۔
صحیح بخاری :۱۵۸۲ دا رنګه ۳۸۲۹ نمبر روایت چه امام مسلم په بحث د حیض کښی هم
ذکر کړیدے چه جابر بن عبداللہ فرمائی : چه کله کعبه ئی جوړوله نو نبی ﷺ او سیدنا عباس رضی اللہ
عنه ګټے راوړلے ۔ سیدنا عباس رضی اللہ عنه ورته وے د ګټو د وجے ډِ لنګ په اوګه واچوه ۔ هغوی
په زمکه راوغورځیدل ۔ او دواړه سترګے ئی آسمان ته لګیدلے دے ۔ لیکن بیا اودریدو ۔ اوئی فرمائیل
زما خادر زما خادر ۔
لیکن په دے حدیث کښی تصریح د ستر ښکاره کیدو نشته ۔ او بعض وائی : چه لنګ څنګ
اوغورځیدو بے هوشه راوغورځیدو ۔ غالبًا د چا پرے نظر نه وی غورځیدلی ۔ او المعجم الکبیر کښی
دا واقعه ده ۔ لیکن د حدیث سند کښی سفیان بن محمد فزاری راوی متفرد دے ۔ ابن جوزی په العلل
المتناهیه ۱ : ۱۶۵ باندے په دے جرحه کړے ده ۔ لیکن د درایت نه هم خلاف ښکاری ۔ ځکه چه دغه

وخت کښې ئې عمر ۳۵ کاله وو ـ نو د تره دا وئیل چه څادر په اوګه کیده ـ دا به څنګه وی ؟ ـ کم عمر بچې په باره کښې صحیح ده ـ او د ۳۵ کاله عمر ابن حجر د عبدالرزاق په سند لیکلے دے ـ او راوی جابر رضی الله عنه دغه وخت د دوو کالو وو ـ ځکه چه د ۹۴ کاله عمر کښې ۷۴ هجری کښې وفات شویدے ـ (الاستیعاب علی هامش اصابه ۱ : ۲۲۲) .

او دوی خو مدینه کښې وو ـ دا واقعه د مکے ده ـ چا به ورته اوروله وی ـ زیات عظمت د نبی ﷺ د حیاء او د وقار دے ـ

دده نور کتابونه هم شته ـ لکه جزء رفع الیدین ' جزء القراة او قضایا الصحابه والتابعین ' الادب المفرد وغیره ـ خو په دے کتابونو کښې یې دغه پیمانه باندے تنقیح نه ده کړے .

امام بخاریؒ په ١٦ کاله کښې صحیح بخاری لیکلے دے : و صنف الکتاب فی ست عشرسنة ـ

چرته به تلو راتلو نه او دے ته دیره وو ـ امام بخاریؒ د تصحیح نه او د جمع کولو نه د روایتونو د چهان بین نه بل کار نه دے کړے ـ

د صحیح بخاری کتاب خپل نوم دادے :الجامع الصحیح المسند المختصر من امور رسول الله ﷺ وسننه و ایامه ـ

الجامع : جامع هغے کتاب ته وائی : چه په هغے کښې عقائد ' عبادات ' معاملات ' تفسیر ' سیر ' احکام ' مناقب ' آداب ' فتن ' ملاحم او د رقاق د زړه د نرمولو احادیث وی ـ آیا مسلم هم جامع دے او یا نه دے ؟ ـ څوك چه دے ته ګورے چه په جامع کښې تفسیر وی ـ نو په مسلم کښې تفسیر ډیرکم دے نو دوی وائی مسلم جامع نه دے ـ غوره قول دادے : چه مسلم جامع دے ـ ځکه تفسیر په کښې شته اګر چه کم دے ـ او په بخاری کښې کتاب التفسیر د تولونو نه زیات دے ـ نو بخاری شریف بالاتفاق جامع دے ـ

الصحیح : امام بخاریؒ خپله وائی : چه ددے دا مطلب نه دے چه په بخاری کښې حدیث وی ـ نو هغه به صحیح وی ـ او د بخاری نه علاوه به حدیث صحیح نه وی ـ نور هم ما صحیح احادیث پریخے دی ـ بعضے خلق په یو غلط فهمی کښې اخته دی ـ وائی چه داد بخاری حدیث دے او که نه ؟ ـ داسے اووایه چه سند یې صحیح دے او که نه ؟ تیك ده که هغه د هر کتاب وی ـ نو امام بخاریؒ استیعاب د تولو صحیح احادیثو په بخاری کښې په خپله وائی چه مانه دے کړے ـ د دے نه علاوه نور ما پریخے دی:

ودعوی الحکم بتصحیح جمیع ما اورده البخاری فی کتابه غیر موجهة لان دعوی الکلیة تحتاج الی دلیل قاطع ـ

(عمدة القاری ، کتاب المناقب ، باب القسامة فی الجاهلیة)

په الحق الصریح ص ۳۰ کښی لیکلے دی: په صحیح بخاری کښی ټول ۷۰۰۰ احادیث دی۔ غیرمکرر په کښی ۴۰۰۰ دی۔ او سره د تکرار نه ۹۰۰۰ دی۔
حالانکه بخاری کښی سره د تکرار احادیث: ۷۳۹۷ دی ځکه امام بخاریؒ یو حدیث ۷ کرته راوړی لکه: انما الاعمال بالنیات۔ او بغیر د تکرار نه د بخاری شریف احادیث مرفوعه ابن حجرؒ ۲۳۵۳ ذکر کړیدی۔ او موقوفات د صحابو او تابعینو په کښی ۳۴۱ دے۔
علامه ابن حجرؒ د فتح الباری په لیکلو باندے ۲۲ کاله تیر کړے دی۔ او علامه عینیؒ د عمدة القاری په لیکلو باندے ۱۰ کاله تیر کړے دی۔ ځان یې ورته وقف کړے وو۔ ابن عساکرؒ چه کله ځوان شو۔ نو کتاب تاریخ ابن عساکر شروع کړو۔ او چه بوډا شونو ایله یې ختم کړو۔
په امام بخاریؒ کښی ادب ډیر زیات وو۔ یو ځل امام بخاریؒ یو سړے اولیدلو چه د هغه د ګیرے نه خخنړے په جماعت کښی پریوتو۔ نو امام بخاریؒ هغه په جیب کښی واچو۔ بیا بهر وتلو نو وے غورځوو۔ او هغه ته یې اووئیل: چه دا خخنړے ستا د ګیرے نه ډیر دروند نه وو۔ تا ولے جماعت کښی اوغورځولو۔ ټول علماء کرامو دده په حالاتو کښی لیکلے دی: چه کله به امام بخاریؒ حدیث لیکلو نو اول به یې غسل اوکړو۔ او بیا به یې دوه رکعته مونځ اوکړو۔ اوس ترینه دا جوړنه کړے۔ چه نبی ﷺ او صحابه کرامو داسے کړے دی چه هر حدیث له یې غسل کړیدے۔ امام ابو حنیفةؒ د عشاء په اودس باندے د سحر مونځ کړیدے۔
امام بخاریؒ "ما" او "الا" سره خپله دا خبره ذکر کړے ده: ما وضعت فی کتابی هذا حدیثًا الا اغتسلت قبل ذلك وصلیت رکعتین ۔ (التاج المکلل للنواب : ۹٤)۔ نده داسے مګر چه کله مے حدیث لیکلو نو ما غسل کړیدے۔ او دوه رکعته مونځ مے کړیدے۔ او بیا مے د الله رب العزت نه سوال کړیدے۔ آیا صحابو کښی یو صحابی دغه عمل کړیدے۔
فتاوٰی علماء حدیث کتاب الجنائز ۵ : ۲۸ باندے لیکی: امام شافعیؒ فرمائی: والمزنی ناصر مذهبی۔ جب آپ کتاب "مختصر" تصنیف کر رہے تھے تو جس مسئلہ کی تحقیق سے فارغ ہوتے اس کو کتاب میں درج کر کے تو ۲ رکعت شکرانہ نماز پڑھتے تھے۔
فقه البخاری فی تراجمه ۔ ترجمة الباب یې ډیر قیمتی دے: و ترجم ابوابه فی الروضة المبارکة ۔ دا یې د نبی ﷺ روضے مبارکے سره برابر کړے دی۔ دد ے تدوین یې دلته کړیدے۔

د امام بخاریؒ نظر ډیر زیات تیز وو۔ یا خو ړوند شوے وو۔ شیخ د پنج پیرؒ په نیل السائرین کښې لیکلے دی : چه امام بخاریؒ د تاریخ کتاب د سپوږمۍ په رڼړا باندے لیکلے دی۔
امام بخاریؒ مجتهد وو۔ شاه انورؒ فرمائیلے دی : واعلم ان البخاری مجتهد بلا ریب فیه وما اشتهر انه شافعی فلموافقته ایاه فی المسائل المشهورة والا فموافقته للامام الاعظم لیس اقل مما وافق فیه الشافعی ، وکونه من تلامذة الحمیدی لا ینفع لانه من تلامذة اسحق بن راهویه ایضا وهو حنفی ...الخ۔ (فیض الباری ۱ : ۵۸)
په ټوله صحیح بخاری کښې د امام بخاریؒ د استاذ امام احمد بن حنبلؒ نوم صرف څلور ځایه دے۔ او د امام شافعیؒ یو حدیث هم په صحیح بخاری کښې نشته۔ حالانکه دوی بغداد ته اته ځله تلے دی : وکان یجتمع فیها کل مرة بالامام احمد ۔ او امام احمدؒ فرمائی : ما اخرجت خراسان مثل محمدبن اسماعیل رواه الخطیب باسناد صحیح۔ او د بغداد خلقو ورته شعر کښې لیکلے وو :

المسلمون بخیرمابقیت لهم ولیس بعدك خیر حین تفتقد

امام بخاریؒ غیور شخصیت وو۔ د بخارا حاکم دعوت ورکړو۔ چه دلته راځه او زما ځامنو ته سبق بنایه نو امام بخاریؒ ورته اووئیل : علم چا له ځی نه۔ که سبق وائی دلته دے راځی۔ نو بیا یې ورته اووئیل تا له به درځی خو په دغه وخت کښې به ورسره څوك یې نه۔ امام بخاریؒ ورته اووئیل : چه راځی نو د عامو خلقو غوندے به دلته کښې ناست وی۔ د امام بخاریؒ جواب دے : انا لا اذل العلم ولا احمله الی ابواب الناس ۔ (تاریخ بغداد ۲ : ۳۳) ۔ ان اخص بالسماع قوما دون قوم۔ (تاریخ بغداد)
نو حاکم ترینه خفه شو۔ نو دے یې د بخارا نه اوباسلو۔ چه کله امام بخاریؒ تلونو خیرے یې اوکړے الله رب العزت د بے عزته کړه۔ نولا میاشت نوه تیره شوے چه بل بادشاه ترے خفه شو۔ نو ډیر یې بے عزته کړیدے ۔ د داسے غوندے د علماؤ د خیرونه به ځان بچ کوے : لحوم العلماء مسمومة ۔ ددوی د غیبت نه به هم ځان بچ کوے ۔ (شرح مجموع مهذب للنوویؒ)
امام بخاریؒ چه خرتنګ ته اورسیده۔ نو دلته بیا وفات شویدے۔ څوك وائی : دا نوم یې ورله روستو ایښے دے۔ کله چه دده جنازه شروع کیدله نو خلق په آسونو یا په خرو باندے راتلل۔ نو هغه ځائې تنګ شویدے ۔ دا اتفاقی خبره ده چه امام بخاریؒ د قبر نه خوشبو راتللهٔ : ولما دفن خاح من تراب قبره رائحة طیبة کالمسك وکان الناس تاتی الی قبره یاخذون التراب منه للتبرك به ولشمه ۔ د خلقو عمل حجت نه دے۔ ځکه چه د قبر نه خاورے اوړل اګرچه د امام بخاریؒ قبر ولے نه وی۔ د شریعت نه خلاف خبره ده۔

ہر جا کہ تو بگزری وبرداری پے
گلے خوشبو ے در حمام روزے
بدوگفتم تو مشکے یا عنبرے
بگفتا من گل نا چیز بودم
جمال ہمنشیں در من اثر کرد

گل روید ولالہ روید واندرتہ وی
رسید از دست محبوبے بدستم
کہ از بوئے دل آویز تو مستم
ولیکن مدتے باگل نشستم
وگرنہ من ہما خاکم کہ ہستم

مولانا زبیرعلی زی د ے واقعے ته ضعیف وائی۔
دا کرامت تیك د ے۔ خودا اصطلاحی نه د ے۔ کرامت لغوی بمعنی عزت د ے۔
مولانا عبدالحیؒ اومجدد صاحبؒ دواړو لیکلی دی: چه کرامت اصطلاحی بعد الممات نشته۔ دا د ممات نه بعد سلب کیږی۔ یو کرامت په معنی لغوی آثار د کرامت، قبر سره رنړا ښکاره کیدل۔ اود قبرخاوره خوشبویه کیدل نو دا کرامتونه شته دی۔ لکه ابوداود کښی راځی: باب ما یری من النور عند قبر الشریف۔ د نجاشی قبر سره به رنړا ښکاره کیدله۔ دغه شان د عامر بن فهیره باره کښی راځی: چه دهغه لاس به په بره باند ے تللو۔ د عاصم رضی الله عنه په باره کښی راځی: چه ډنډار ے دهغه په سر باند ے مسلط و ے۔ چه مشرکان دهغه سر اونه تختوی۔
امام بخاریؒ باند ے لکه د امام ابو حنیفةؒ بعض خلقوجرح کړیده۔ خود دواړه جرحو اعتبار نشته۔ محدث عقیلی کتاب الضعفاء کښی ضعیف کړید ے۔ چه د روایت او د درایت امامان مخدوش شو۔ نودا ډیره خطرناکه خبره ده۔
طبقات الشافعیه ۲ : ۱۲ باند ے د امام بخاریؒ د خلورو دیرشوروایاتو استاذ د معاصرت او د تقاضائے بشریت دوجے په هغوی سخته جرحه کړ ے ده۔ چه لیکل ئی مناسب نه دی۔ ابوزرعه، ابوحاتم، بخاری متروك کړید ے: قال عبدالرحمن بن ابی حاتم کان ابوزرعه ترك الروایة عنه عن اجل کان منه فی تلك المحنة۔ او امام ابوعبدالله محمد بن یحی متوفی ۳۰۱ هجری چه په ابن مَندةؒ مشهور د ے۔ دوی ئی مدلسینو کښی شماری۔ لیکن دواړه د علم د آسمان نمراو سپوږمی دی۔
شیخ د پنج پیرؒ په نیل السائرین کښی د یوعالم ذکر کړ ے د ے چه د هغه په قبر باند ے یو تن د قصده اودس ماتے کوو۔ بے ادبی یې کوله د یوولی الله: فعمی مکانه۔ په ځائی ړوند شوید ے۔
شیخ د پنج پیرؒ د امام جوینیؒ په باره کښی لیکلے دی: چه هغه له یې کله غسل ورکوو۔ نو په تخته

باندے یې دا بنے لاس ځلیدو او پړقیدو. چه چا لامبونو هغوی وئیل چه داد هغے فتوی آثاردی. چه ده په بنی لاس باندے لیکلے دی. دا یې خپل برکات دی نو شیخ صاحبؒ خو انکار نه دے کړے. کرامت لغوی د ولی دا ټیك دے.

الجوینی : عبدالملك بن عبدالله بن یوسف نسبة الی جُوین محلّة کبیرة بنیسابور.

دغه شان د مولانا احمد علی لاهوریؒ حالات دی. نظام الدین لاهوررساله کښې زمونږ قاضی شمس الدین صاحبؒ په کښې مضمون لیکلے دے. په هغے کښې یې لیکلے دی د مولانا احمد علی لاهوریؒ د قبر نه لږ روستو خوشبو راتلله.

څوك د قرآن او د حدیث خدمتونه اوکړی. نو دهغه د دین د خدمت هغه آثار الله رب العزت کله کله ښکاره کوی.

فائده : امام بخاریؒ به کله کله شاعری کوله. امام حاکمؒ خپل تاریخ کښې د هغوی اشعار نقل کوی :

اغتنم فی الفراغ فضل رکوع　　　فعسی ان یکون موتك بغتة

د امام بخاریؒ عالی سند ثلاثیات دی.

د امام بخاریؒ علم سره شوق

محمد بن یوسف وائی : چه څه یو شپه د امام بخاری سره د هغوی په کورکښې مقیم ووم. ما اوشمارل چه امام بخاری اتلس ځله په شپه کښې د بسترے نه اوچت شو. چقماق ئې روښانه کړو. ذهن کښې ئې کومے نکتے راغلے. هغه ئې اولیکلے. (تهذیب الکمال ' سیر اعلام النبلاء).

مرقات کښې دی : امام بخاریؒ فرمائی : ارتحلت فی استفادة الحدیث الی مصر ' والشام مرتین ' والی البصرة اربع مرات ' ولا احصی ما دخلت مع المحدثین فی بغداد ' والکوفة ' واقمت فی الحجاز ست سنین طالبًا لعلم الحدیث.

د رضاعت مسئله کښې د امام بخاریؒ فتوی صحیح نه ده. چه د یوے گډے په پیو چه ماشوم او ماشومه ترے پې اوڅکی هم رضاعت ثابتیږی. دا اجتهادی خطاء ده. مولانا عبدالحئ لکهنویؒ ئې نه منی. لیکن مبسوط سرخسی کښې دا واقعه ذکر ده. (تاریخ خمیس ۳ : ۲۸۳ ' الخیرات الحسان : ۷۱).

(۲) امام مسلم رحمه الله

ابو الحسین مسلم بن الحجاج القشیری ابوالحسین یې کنیت دے. او د پلار نوم یې حجاج دے. او القشیری د عربویو قبیله ده. بنو قشیر طرف ته یې نسبت دے.

امام مسلمؒ د امام بخاریؒ شاگرد دے ۔ علماء کرام وائی: لولا البخاری لماذهب مسلم ولاجاء که امام بخاریؒ نه وے۔ نو امام مسلمؒ به څلیدونه۔ دده علم د امام بخاریؒ د وجے نه دے۔
په الحق الصریح کښی دی : داد امام بخاریؒ شاگرد دے۔ خو په مسلم کښی یی ترے حدیث نه دے نقل کړے ۔ او امام ترمذیؒ ترینه هم نه دے راوړے۔ خو په رجالو کښی یی ذکر کوی۔ چه په دے روایت باندے کلام دے امام بخاریؒ دا وائی۔
امام مسلمؒ به امام بخاریؒ ته وئیل :دَعْنِيْ اُقَبِّلُ رِجْلَيْكَ يَا اُسْتَاذَ الْاُسْتَاذِيْنَ وَ يَا سَنَدَ الْمُحَدِّثِيْنَ وَ يَا طَبِيْبَ الْحَدِيْثِ فِيْ عِلَلِه ۔ امام مسلمؒ حدیث په مصر کښی وئیلے دی۔ عراق ، حجاز ، شام او بخارا د مشایخو نه یی ډیر څه اوریدلے دی ۔ یحی بن یحیؒ ، امام احمدؒ او اسحاق بن راهویهؒ دا یی استاذان دی۔ امام ترمذیؒ یی په یو حدیث کښی شاگرد دے۔ شرح نخبه کښی د هلال هغه حدیث شته۔ چه امام ترمذیؒ د امام مسلمؒ نه وئیلے دے۔ امام مسلمؒ وائی : صنفت هذا المسند الصحیح من ثلاثمائة الف حدیث مسموعة۔
ما داخپل کتاب تصنیف کړیدے۔ دا مے د درے لاکهو احادیثو نه چه ما په خپله اوریدلے دی۔ د هغے نه راچانړ کړے دی۔ امام مسلمؒ په صحیح مسلم کښی چه څو مره احادیث ذکر کړے دی۔ هغه ټول صحیح دی۔ خو شیخ الاسلام علامه ابن تیمیهؒ مجموع فتاوی ۹ : ۱۳۲ کښی لیکلے دی : مثلاً مسلم روایت دے : خلق الله التربة یوم السبت ۔ باره کښی لیکی : فهو حدیث معلول قدح فیه ائمة الحدیث کالبخاری وغیره ۔ یا مثلاً دا روایت چه ابوسفیان د اسلام نه پس اراده اوکړه۔ چه ام حبیبه نبی ته واده کړی ۔ چه په صحیح مسلم کښی دوه درے روایتونه باندے کلام شته۔ چه په هغے کښی د علماء تنازع شته۔ نورد هغه په احادیثو باندے اجماع ده ۔
شیخ عبدالسلام صاحبؒ په تفسیر احسن الکلام کښی په تفسیر د سورة الحجر کښی په واقعه د آدم علیه السلام کښی لیکلے دی : هغه حدیث چه امام مسلمؒ راوړیدے۔ او دلالت کوی۔ چه د آسمانونو او د زمکے په پیدائش پسے متصل آدم علیه السلام پیدا شویدے۔ هغه په ظاهره کښی دده آیت نه خلاف دے د دے وجے نه محدثینو هغه رد کړیدے۔
علامه البانیؒ آداب الزفاف : ٦٢ کښی لیکلے دی : حدیث ضعیف فی صحیح مسلم ۔ او ضعیف الجامع الصغیر ۲ : ۱۹۲ ، سلسلة الضعیفة ۱ : ۹۱ ، ارواء ۳ : ۱۲۹ کښی د مسلم روایتونه رد کړیدی۔
امام مسلمؒ خپله وائی دده حدیث د لاندے : اذا قرء فانصتوا ۔ ما دلته هغه صحیح احادیث ذکر کړے

دی چه په هغے باندے د علماء کرامو اجماع ده۔ د مسلم روایاتو سره دغسے معامله د علامه البانیؒ نامناسبه ده۔

د امام مسلمؒ ولادت هیڅ په ضبط سره نه دے لیکلے۔ خو په دے اتفاق دے چه د ۲۰۰ هجری نه پس پیدا شوید ے۔ ابن صلاح ئی ولادت ۲۰۲ هجری او ابن خلکان ئی ولادت ۲۰۶ هجری ذکر کوی۔
او وفات شوید ے د اتوار په شپه ۲۴ رجب په ۲۶۱ هجری کښې۔ او دده عمر ۵۵ کاله وو۔ لکه زر وفات شوید ے۔ او د کل په ورځ باندے دفن شوید ے، او په نصر آباد کلی کښې یې قبر دے۔

د امام مسلمؒ د وفات واقعه

ددوی د وفات واقعه ابو عمرو بن صلاح لیکلے ده۔ چه د امام مسلمؒ نه په مجلس او مذاکره کښې دیو حدیث تپوس اوکړے شو۔ چه هغوی ته ئی معرفت نه وو۔ حاصل داد ے۔ چه کور ته ئی تشریف راوړو۔ او اعلان ئی اوکړو: لا یدخلن احد منکم هذا البیت ـ چه په تاسو کښې دے یو تن دے کور ته نه راځی۔ اوورته اووئیلے شو: اهدیت لنا سلة فیها تمر۔ چه مونږ له په توکرۍ کښې کجهورے هدیه کښې راکړے شویدی۔ کجهوری ئی راوغوختلے۔ یوه یوه ئی خوړله۔ چه صبا شو۔ کجهوری ختمے شوے۔ اوحدیث ئی اوموندلو۔ حکم فرمائی: چه ماته ثقه ملګرو وئیلے دی۔ چه د ډیرو کجهورو د خوراك د وجے مریض شو۔ او هغه ئی د وفات سبب جوړ شو۔ رحمه الله رحمة واسعةً۔

د امام مسلمؒ کتاب چه ګورے۔ نو د ه دحدیثونو سندونه په یو ځائی کښې راجمع کړے دی۔ او په هغے کښې چه کوم ځائی کښې الفاظ سیوا راتلل هغه یې راجمع کړے دی۔

تعدد د طرق دا ځانله یو اهم اختلاف دے۔ چه په بخاری او په مسلم کښې کوم یو اوچت دے۔ نو اوچت خو بخاری دی۔ خو لیکن په بعضے حیثیتونو سره امام مسلمؒ دے کتاب له خلق ترجیح ورکوی۔

تنازع قوم فی البخاری ومسلم لدی وقالوا ای زین تقدم
فقلت لقد فاق البخاری صحة کما فاق فی حسن الصناعة مسلمٌ

په مسلم کښې یو هم ثلاثی روایت نشته۔ عالی سند ئی رباعی دے۔ لیکن بعض ځایونو کښې وسائط کم دی۔ او د امام بخاریؒ زیات دی۔ علامه ابن حجرؒ خپل کتاب " عوالی " کښې لیکلے دی: چه داسے روایات په مسلم کښې څلویښت دی۔ او داد امام مسلمؒ فضیلت دے۔

(مباحث فی الحدیث و علومه : ۲۸۴ ' ۲۸۵)

(۳) امام ترمذی رحمه الله

د امام ترمذیؒ خپل نوم محمد بن عیسیٰ دے۔ او ابو عیسیٰ یې کنیت دے۔ داد امام بخاریؒ شاګرد وو۔ او په بعضو شیوخو کښې د قتیبه بن سعید، علی بن حجر او ابن بشار سره شریك دے۔ امام ترمذیؒ په ۲۰۹ هجری کښې پیدا شویدے او په میاشت د رمضان ۲۷۹ هجری کښې وفات شویدے۔ (مرعاة، مرقات)

د امام ترمذیؒ د کتاب په باره کښې علماء کرام وائی: من کان فی بیته کتاب الترمذی فکانما فی بیته نبی یتکلم۔ او علامه هیثمیؒ لیکلے دی: قول ابن حزم انه مجهول کذب منه۔

ملا علی قاریؒ لیکلے دی: دا کتاب: کاف للمجتهد ومغن للمقلد۔

امام ترمذیؒ له الله رب العزت ډیره ښکلے او اوچته حافظه ورکړے وه۔ دده په باره کښې راځی چه امام ترمذیؒ د خپلو ملګرو سره د حج په سفر کښې روان وو۔ یو ځائی ته اورسیدو۔ نو سر یې ټیټ کړو ملګرو ورته اووئیل چه دلته څه اونه وغیره خو نشته۔ چه تا سر ټیټ کړو۔ امام ترمذیؒ ورته په جواب کښې اووئیلو چه شته اوکه چرته نه وی تاسو تحقیق اوکړے۔ نو څه به احادیث بیانول پریږدم۔ د هغے مطلب به دا وی چه زما حافظه خرابه ده۔ چه کله معلومات اوشو۔ نو مشرانو ورته اووئیل چه دلته اونه وه۔ هغه تکلیف ده وه۔ نو هغه یې لرکړے ده۔ او دا ولے امام ترمذیؒ سر ټیټ کړو او اونه نه وه۔ دے اول بینا وو۔ په آخری عمر کښې یې سترګو کار پریخے وو۔ نا بینا شوے وو نو په هغه زوړ خیال باندے یې چه دلته اونه ده نو سر یې ټیټ کړیدے۔ امام ترمذیؒ ډیر کتابونه لیکلے دی لکه: سنن الترمذی، او کتاب العلل او شمائل وغیره د ترمذی د عامو نسخو په آخر کښې هم کتاب العلل ګنډلے شویدے۔

د امام ترمذیؒ په باره کښې تولو لیکلے دی چه د جرح و تعدیل په اعتبار سره په احادیثو کښې دده لږ تساهل دے۔ د سستے نه یې کار اغستے دے۔

امام ترمذیؒ کتاب العلل کښې دعوٰی کړے ده۔ چه زما د کتاب ټول آحادیث معمول بها دی۔ بے د دوو حدیثونو نه په هر حدیث د چا عمل شته دے۔ (۱) حدیث ابن عباس ان النبی ﷺ جمع بین الظهر والعصر بالمدینة، والمغرب والعشاء من غیر خوف ولا سفر ولا مطر۔

بعض غیر مقلدین پرے عمل کوی۔ چه زمونږ د حدیث سره مینه ده۔ لیکن مولانا زبیرعلی زی لیکی: بعض لوگ شرعی عذر کے بغیر حضرو، اپنے گھر، گاوں اور شہر میں دو نمازیں جمع کرتے رہتے ہیں یہ عمل کتاب وسنت سے ثابت نہیں بلکہ سراسر مخالف ہے ایسے امور سے اجتناب کرنا چاہئے وما علینا الا البلاغ (ماہنامہ اہل حدیث ۵۲ ص ۲۵ مقالات ۲: ۱۳۵)۔

او دویم روایت دے : من شرب الخمر فاجلدوه فان عاد في الرابعة فاقتلوه ۔
دَ ده دکتاب په خصوصیاتو کښې یو داده : چه کله دے روایتونه ذکر کړی : باب ما جاء فی۔ عنوان سره ئې ذکر کوی۔ بیا روستو آحادیث ذکرکوی نو آخرکښې وائی : وفی الباب عن فلان و فلان و فلان ۔ په باب کښې د فلانکو فلانکونه هم روایتونه راغلے دی ۔ او مذاهب بیانوی ۔لکه دے وائی په باب کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت دے۔ نو اوس دا روایت کوم ځائې کښې په کوم کتاب کښې دے چا راغستے دے۔ نو دا ډیره تفصیل طلب مسئله ده۔ ددے تخریج بیا روستو علماء کرامو کړیدے۔ لکه په دوی کښې یو زما استاذ محترم ډاکټر حبیب الله مختار صاحبؒ وو چه د وفاق المدارس صدر پاتے شوے وو۔ په عربی کښې یې اللباب کتاب لیکلے دے۔ چه امام ترمذیؒ په کوم ځائې کښې فی الباب وئیلے دے۔ نو دهغے تخریج یې کړیدے چه دا حدیث په فلانکی کتاب کښې دے۔
امام ترمذیؒ د مسلك په اعتبار سره غوره قول دادے : چه دے شافعي دے۔ خوداسے شافعي نه دے چه شافعیت سره تړلے شوے دے۔شاه انورؒ لیکی : اما الترمذی فهوشافعی المذهب لم یخالفه صراحة الا فی مسئلة الابراد ۔ (**فیض الباری ۱ : ۵۸**) ۔
د امام ترمذیؒ **خپل استاذ امام بخاریؒ** سره دومره محبت وو۔ چه د هغوی د وفات نه پس د هغوی په یاد کښې د ژړا د وجے ړوندشوے وو۔ (تهذیب التهذیب ۹ : ۳۸۳) ۔
ملا علی قاریؒ خطاء شویدے۔ چه د ترمذی خصوصیت دادے چه یو حدیث ئې ثنائی دے : یاتی علی الناس زمان الصابر فیه علی دینه کالقابض علی الجمر ۔

ملحوظه : ترمذی کښې ټول روایات ۳۹۵۴ دی ۔او ۵۰ کتب په ترمذی کښې دی۔ د امام ترمذی عالی سند ثلاثی دے۔ په ټوله ترمذی کښې صرف یو ثلاثی روایت دے۔ په دے کښې د امام ترمذی استاذ اسماعیل بن موسیٰ الکوفی دے۔
او شیخ عبدالحقؒ اشعة اللمعات کښې لیکلے دی : چه هغه دا روایت دے۔ یاتی علی الناس زمان الصابرمنهم علی دینه کالقابض علی الجمر ۔

(۴) امام ابوداود رحمه الله

امام ابوداود سلیمان بن اشعث ۔ او دا سجستانی دے سجستان کوم ځائې دے۔ نوپه دے کښې هم اختلاف دے۔ څوك وائی دادے کابل سره خواکښې یو ځائې دے۔ اوڅوك نور ځایونه یادوی۔

امام ابوداودؒ انتهائی درجه کښې زاهد او متقي وو. د عراقیانو، شامیانو او د مصریانو نه ئې احادیث لیکلې دي. او چه کله ئې خپل سنن اولیکه او امام احمدؒ ته ئې پیش کړو. نو دهغوی ډیر خوښ شو. او ددوی په باره کښې ابراهیم الحربيؒ فرمائي: چه ابوداود ته ئې احادیث داسې نرم کړیدي لکه چه داود علیه السلام ته ئې اوسپنه نرمه کړې ده.

ابو حاتم بن حبانؒ به فرمائیل: چه په فقه، علم حدیث، عبادت، ورع، اتقان کښې مقتداء وو.

د هغوی ځوی ابوبکربن عبدالله بن ابی داود په اکابرو حفاظو کښې حسابیږي.

امام ابوداودؒ په ۲۰۲ هجري کښې پیدا شویدې. او په بصره کښې د جمعې په ورځ په ۱۶ شوال ۲۷۵ هجري کښې وفات شویدې. (مظاهر حق). هغوی وصیت کړې وو. چه حسن بن مثنی به راله غسل راکوي. کتاب الغسل به د سلیمان بن حرب مطالعه کوي. او غسل به راکوي. د سفیان ثوريؒ سره ئې خواه کښې قبر دې.

ډیر حق پرست وو. خپل ځوی ته ئې کذاب وئیلې دې. (تذکرة الحفاظ ۱ : ۲۰).

امام ابوداودؒ د سنت په اتباع کښې ډیر زیات مخکښې وو. دده په حالاتو کښې ټولو محدثینو دا واقعه ذکر کړې ده: چه یو ځل د سیند په غاړه روان وو. کشتۍ کښې یو تن ناست وو. نو هغه پرنجې اوکړو. د هغې نه پس یې الحمد لله اووئی. دا چه واورې نو یرحمك الله به وائي. نو هغه سرې لرې آخوا لرې تلې وو. نو امام ابوداودؒ بله مستقله کشتۍ په یو درهم کرایه باندې اونیوله. او خواله ورله اورسیدو. او یرحمك الله یې اووئیلو. چه زما په دې سنت باندې عمل پاتې نه شي. نو خوب یې لیدو چه ابوداود ځانله په یو درهم باندې جنت واغستو.

د دوی دوه لوستنړي وو غټ کتابونه او یو ضروریاتوله.

د امام ابوداودؒ یو خپله اصطلاح ده په کتاب کښې: قال ابوداود ـ دا دې وائي. دې چه کله د یو روایت نه غلې پاتې شي: ما سکت عنه ابوداود ـ نو په دې کښې اختلاف دې ځوك وائي حجت دې. او ځوك وائي حجت نه دې. منذريؒ فرمائي: ماسکت عنه لا یزال عن درجة الحسن ـ لیکن تحقیقي قول دا دې: چه امام ابوداودؒ د یو حدیث نه غلې پاتې شوې وي. او نور کتابونه چه ګورې هغوی هم په دغه روایت باندې کلام نه دې کړې. او رد یې نه دې کړې نو په هغه وخت کښې دا حجت دې. او که بل چا پرې کلام کړې وي. نو د ابوداودؒ سکوت له په دې حیثیت سره اعتبار چه د حدیث توثیق د

اوشی نو هغه نشته دے۔

امام ابوداودؒ په دے خپل سنن ابی داود کښې د خپل سفر حالات هم ذکرکوی لکه بئر بضاعة ته تلے دے۔ اودهغے حالات یی ذکرکړے دی۔

امام ابوداودؒ وائی : چه ما یوتره اولیدله چه هغه ۱۳ لیشتے اوګده وه۔ دغه شان دے وائی : چه ما یو میوه اولیدلو چه هغه په دوو حصو کښې تقسیم شوے وو۔ او په اوښ یی راوچت کړے وو۔ دومره غټه وه ـ بهرحال په احادیثو کښې د ابوداود ډیرلوئی مقام دے۔ ددے بیا خپلے شرحے دی۔ مشهوره شرحه حنفی مسلك کښې ئی بذل المجهود ده۔ او نور تصانیف ئی شته (۱) : مراسیل ابی داود (۲) : المسائل (۳) : فضائل الانصار۔

مسلك : والنسائی وابوداود حنبلیان صرح به الحافظ ابن تیمیه۔ (فیض الباری ۱ : ۵۸) ۔

ددوی په شاګردانو کښې امام ترمذیؒ او امام نسائیؒ هم شامل دی۔

د ابوداود په استاذانو کښې امام احمدؒ او ابوداود الطیالسی هم شامل دی۔ ددوی جلیل القدر استاذ امام احمدؒ د خپل شاګرد ابوداود نه یو روایت نقل کړیدے۔ په رفتاراوعاداتو کښې د امام احمدؒ سره مشابهت وو۔ ابن الاعرابیؒ فرمائی : که یو سړی سره صرف قرآن او ابوداود وی۔ دا ورله هم کافی جوړیدے شی۔ د ټولو ابواب تعداد په ابوداود کښې ۱۸۷۱ دے۔ او ټول احادیث په کښې څوك وائی ۴۸۰۰ دی۔ او بعض وائی : ۵۲۷۴ دی۔ د ابوداود سند رباعی دے۔ یو په کښې هم ثلاثی نشته۔ ټول رباعی روایات په کښې ۲٦۷ دی۔

(۵) امام ابن ماجه رحمه الله

ابوعبدالله محمد بن یزید ابن ماجهؒ القزوینی دے۔ د حدیثو امام وو۔ عراق ، بصره ، کوفه ، بغداد ، مکه ، شام ، ریٔ او مصرته ئی د علم دپاره سفرے کړے دی۔ د قرآن یو تفسیر ئی هم لیکلے دے۔ او تاریخ ملیح هم ددوی تصنیف دے۔ په ۲۰۹ هجری کښې پیدا شویدے۔ او د ګل په ورځ درمضان په میاشت کښې ۲۷۳ هجری کښې وفات شویدے۔ او د نهے (منګل) په ورځ دفن شویدے۔ جنازه ئی خپل رور ابوبکر کړے ده۔ القزوینی وطن طرف ته نسبت دے۔

ابن ماجه کښې اختلاف په یو حیثیت سره شته۔ چه دا ابن ماجه څوك دے ؟ (۱) یوقول دادے : چه ابن ماجه دده د پلار د یزید لقب وو۔ (۲) دویم قول دادے : چه ددے محمد چه مصنف ددے کتاب دے۔ دده د مور نوم ماجه دے ـ (۳) دریم قول دادے : قاموس د لغت کتاب دۓ۔ دده د تحقیق نه دا

معلو میږی چه دا ابن ماجه لقب دے د محمد بن یزید۔
درے اقوال مونږه ذکرکړل (۱) چه ابن ماجه د یزید لقب دے۔ (۲) ابن ماجه د محمد لقب دے۔
(۳) ابن ماجه د محمد مور ده ۔ غوره قول داد ے : چه دا ماجه د یزید ښځه ده۔ او د محمد مور ده۔
شاه عبدالعزیزؒ بستان المحدثین کښی دغه قول راجح کړیدے او لیکی : چه "ابن "کښی الف لیکل
پکار دے۔ چه پته اولګی چه ابن ماجه د "محمد"صفت دے۔ نه د عبدالله۔ (نفحات التنقیح)۔
د اشرف التوضیح مؤلف لیکی : چه د ماجه د یزید او د هغوی د ځوی " محمد " سره رشته څه ده ؟۔په
دے کښی دوه رائے دی۔(۱) : ماجه د یزید ښځه او د محمد یعنی د مصنف مور ده۔ نو په یزید او ماجه
کښی علاقه د زوجیت ده۔(۲) : ماجه د محمد د پلار د یزید لقب دے۔ نو اوس یزید او ماجه د یو تن دوه
نومونه دی۔ یزید د محمد د والد عَلم دے۔ او ماجه ددوی لقب او عرف دے۔ نو په یزید او ماجه کښی
علاقه د عنیت ده۔
حافظ ابن کثیرؒ په البدایه والنهایه کښی لیکلے دی : چه ماجه د یزید لقب او عرف وو۔ امام نوویؒ هم
دغه غوره کوی۔
مشکوة کښی دوه ځله دے ځائی ابن راغلے دے۔ د مخکښی " ابن " نه به همزه حذف کول ځکه پکار
وی۔ چه د علمین متناسلین مینځ کښی راغلے دے۔
دغه شان ترکیب که چرته په بل ځائی کښی راځی۔ نو هم دا طریقه به اختیاره وے۔ لکه عبدالله بن ابی
ابن سلول۔ دا سلول د ابی ښځه ده۔ او د عبدالله مور ده۔ دویم مثال عبدالله بن مالك ابن بجینه۔دا
عبدالله ځوی د مالك دے۔ او دا بجینه ښځه د مالك ده۔ او مور د عبدالله ده۔ دغه شان عبدالله بن عمرو
ابن ام مکتوم کښی دغه طریقه جاری کړه۔
امام نوویؒ لیکلے دی : چه غوره قول داد ے : چه دا یی د پلار لقب دے۔ (تهذیب الاسماء والصفات)۔
محمدبن یزید بن ماجه لاثبات الف ابن خطاء فانه بدل من ابن زید ۔ په قاموس کښی دی : " ماجه " محمد بن یزید
د پلار لقب دے۔ چه کوم صاحب السنن دے۔ او په شرح الاربعین کښی دی : چه دا ئی د مور نوم دے۔
د ابن ماجه عالی سند ثلاثی دے۔ په دے کښی ۵ ثلاثیات دی۔
او په باب د فضیلت قزوین کښی منکربلکه موضوع روایت ذکر کړے دی۔
امام ذهبیؒ په تذکرة الحفاظ کښی لیکلے دی : چه ابن ماجه کتاب ابوزرعه ته پیش کړو۔ نو هغه

اوفرمائیل : ان وقع هذا في ایدی الناس لتعطلت هذه الجوامع ـ یعنی که دا کتاب د خلقو لاس ته اورسیده ـ نور د حدیث دواوین به خلق پریږدی ـ په دے کتاب کښی ۵۰۰ ابواب دی ـ او ۴۰۰۰ احادیث دی ـ
علامه ابن حجرؒ په تهذیب التهذیب کښی د ابن ماجه په ترجمه کښی لیکلے دی : کتاب " فی السنن " جامع جید کثیر الابواب والغرائب وفیه احادیث ضعیفة جدًا ـ
الرسالة المستطرفة : ۱۲ طبع دار البشار الاسلامیة باندے دی : چه اول په صحاح سته کښی دا کتاب ابوالفضل محمدبن طاهربن علی المقدسی داخل کړیدے ـ

(٦) امام نسائی رحمه الله

ابوعبدالرحمن بن احمد بن شعیب بن بحربن سنان النسائی ـ د امام نسائیؒ خپل نوم احمد او د پلار نوم یی شعیب دے ـ اوکنیت یی ابوعبدالرحمن دے ـ امام نسائیؒ په ۲۱۴ هجری یا ۲۱۵ هجری کښی پیدا شویدے ـ او په ۳۰۳ هجری کښی وفات شویدے ـ نَسَاء د خراسان سره خوا کښی یو مقام دے ـ امام نسائیؒ په اسماء الرجال او په عللو کښی ډیرمخکښی وو ـ بعضے علماء کرام وائی : چه په بخاری اومسلم پسے دده د کتاب نمبر دے ـ
مرقات کښی دی : ونقل من تاج السبکی عن شیخه الحافظ الذهبی ووالده الشیخ الامام السبکی ان النسائی احفظ من مسلم صاحب الصحیح وان سننه اقل السنن بعد الصحیحین حدیثًا ضعیفًا ـ
د امام نسائیؒ په باره کښی راځی : چه څرګان به یی ساتل ـ او دا به یی غټول ـ او ځانله به یی پخول ـ او ښه خوراکونه به یی کول ـ ښه جامے به یی اغوستے ـ او ښه په عیش سره ده خپل ژوند تیرکړیدے ـ
ددوی څلور ښځے وے ـ او تقسیم ئی د شرع سره موافق کړے وو ـ
شیخ عبدالحقؒ لیکی : وموصوف بود بکثرت جماع ـ
مکه کښی صفا ، مروه سره دفن دے ـ
علامه ذهبیؒ د نسائی باره کښی فرمائی : هواحذق بالحدیث وعلله ورجاله من مسلم والترمذی وابی داود وهوجاء فی مضمار البخاری وابی زرعة ـ او امام ذهبیؒ دا هم لیکی : چه داد هغوی د کتاب اختصار دے ـ
چه د هغوی مشهور شاګرد حافظ ابوبکربن السنی د قلم یوشاهکار دے ـ دیته سنن صغریٰ هم وائی ـ
فواد عبدالباقی لیکلے دی : چه په دے کښی ۲۱ کتابونه دی ـ چه په غټوعنواناتو مشتمل دی ـ او ټول روایات په کښی ۵۷۷۲ دی ـ د امام نسائی عالی سندرباعی دے ـ امام نسائی د صوم داودی پابند وو ـ

ډیر حجونه ئی کړیدی۔ د امراء او د حکامو د محفل نه به ئی اجتناب کولو۔ امام نسائی سیرت او صورت دواړو اعتباراتو سره ډیر برابر وو۔

امام نسائیؒ باره کښی د نسائی د حاشیے په ابتداء کښی علامه سندھیؒ لیکلی دی: چه ډیرداسے احادیث شته۔ چه ابوداود او ترمذی ئی تخریج کړیدے۔ لیکن نسائی ئی د تخریج نه اجتناب کړیدے: ولذالك مثل ان لابی عبدالرحمن شرطا فی الرجال اشد من شرط البخاری ومسلم وروی عن النسائی انه قال لما عزمت علی جمع السنن استخرت الله فی الراویة عن شیوخ کان فی القلب منهم بعض الشیء فوقعت الخیرة علی ترکهم۔ ولذالك ما اخرج حدیث ابن لهیعة والا فقد کان عنده حدیثه ترجمة ترجمة۔

او لیکلے ئی دی: وبالجملة فکتاب السنن للنسائی اقل الکتب بعد الصحیحین حدیثا ضعیفا ویقاربه کتاب ابوداود و کتاب الترمذی۔

ابن خلکان لیکی: کان امام اهل عصره فی الحدیث۔ (وفیات الاعیان ۱ : ۵۹) ۔ او امام ذهبیؒ فرمائی: الحافظ الامام شیخ الاسلام۔ (تذکرة الحفاظ ۲ : ۶۹۸) ۔ او دا ئی هم لیکلے دی: چه په دریو صدو کښی دده نه بل احفظ نه وو۔ او دے د حدیث په عللو کښی ډیر ماهر وو۔

(۷) امام دارَقطنی رحمه الله

ابو الحسن بن علی بن عمر حافظ حدیث۔ داد امام شافعیؒ په مذهب باندے بهترین فقیه تیرشویدے۔ په خپله زمانه کښی په علم حدیث کښی دده نظیرنه وو۔ شاګردانو کښی ئی حافظ ابونعیم اصفهانیؒ وغیره دی۔

حافظ عبدالغنیؒ فرمائی: په احادیثو درے کسان پوهیدل (۱) علی بن مدینیؒ په خپل وخت کښی۔ (۲) موسی بن هارونؒ په خپله زمانه کښی۔ (۳) دارقطنیؒ په خپل دور کښی۔

ولادت ئی ۳۰۵ هجری کښی شویدے۔ او په ۳۸۵ هجری کښی د منګل په ورځ وفات شویدے۔ مصر او شام ته ئی سفر کړیدے۔

ابو حامداسفرائنیؒ ئی جنازه کړے ده۔ او د معروف کرخیؒ سره خواه کښی د "باب حرب" مقبره کښی دفن دے۔

خطیب بغدادیؒ دده په باره کښی فرمائی: کان فریدَ عصره وقریعَ دهره وامامَ وقته۔

او علامه ابن تیمیةؒ لیکی: والدارقطنی هو ایضا یمیل الی مذهب الشافعی ۔ او لیکی: چه دارقطنی په

تقلید کښې د بیهقي نه کم وو ۔ (مجموع فتاوی ۱۰ : ۲۶) ۔
علم د معرفت بالعلل په ده باندے ختم شوید ے ۔ په دے کښې یې مهارت وو ۔ بعضے علماء کرام وائي : کان دارقطني امیر المومنین في الحدیث ۔ امام دارقطنيؒ ته امیر المومنین في الحدیث وائي لکه څنګه چه امام بخاريؒ ته وائي ۔
لیکن بعض مواضعو کښې امام دارقطنيؒ د تعصب نه کار اغستلے دے ۔ الرفع والتکمیل : ۱۰ او مجموعة الرسائل ۵ : ۱۲۴ باندے مولانا عبدالحيؒ لکهنويؒ لیکي : فانه لا اعتداد بقول المتعصب کما قدح الدارقطني في الامام الهمام ابی حنیفة رضی الله عنه بانه ضعیف في الحدیث و ای شناعة فوق هذا فانه امام ورع تقي نقي خائف من الله وله کرامات شهیرة فبایّ شيء تطرق الیه الضعیف ۔ انتهی ۔
مثلاً د " اذا قرء فانصتوا " د شذوذ حکم ئې کړید ے ۔ سره ددے نه چه سلیمان التیمي راوی احفظ الناس دے ۔ حالانکه دده متابع او شاهد شته ۔ او بیا ئې په تشهد کښې د " وحده لا شریك له " روایت تحسین کړید ے ۔ حالانکه تیمي په دے زیادت کښې تفرد لري ۔
او دارقطن د زوړ بغداد یو غټه محله ده ۔
دارقطني عام اعلان کړے وو : یا اهل بغداد لا تظنون ان احدا یقدر یکذب علی رسول الله ﷺ وأنا حي ۔
(الموضوعات لابن الجوزيؒ ۱ : ٤٥ ' تنزیه الشریعة ۱ : ۱٦) ۔

(۸) امام بیهقي رحمه الله

امام احمد بن حسین بیهقيؒ ۔ دده کنیت ابوبکر دے ۔ د نیشاپور نه شل فرسخه لرے یو کلے دے ۔ هغے ته بیهق وائي دے طرف ته یې نسبت دے ۔ امام بیهقيؒ په شعبان ۳۸۳ هجری کښې پیدا شوید ے ۔ او په جمادی الاولی ۴۵۸ هجری کښې وفات شوید ے ۔ نیشاپور کښې وفات دے ۔ او بیهق ته ئې تابوت راوړلے شوید ے ۔
علماء کرام دده په باره کښې لیکلے دي : چه د احادیثو حافظ وو او اصولي عالم وو ۔
او دده په شاګردانو کښې یو شیخ الاسلام ابو اسماعیل الانصاريؒ دے ده له یې اجازه ورکړے وه ۔ او دا هغه شخصیت دے چه علامه ابن قیمؒ دده د کتاب شرحه کړے ده ۔ د ایاك نعبد وایاك نستعین تشریح د مدارج السالکین متن چه دے دا دده دے ۔ او د علامه انصاريؒ د کتاب نوم منازل السائرین دے ۔
ارواء الغلیل جلد ۱ باشراف محمدبن زهیرالشاویش : ۱۸ باندے دي : صاحب منار السبیل امام علی ' منهج

الامام ابن حنبل قد کان مهدیا وقد کان هادیا ۔

د التاج المکلل : ۲۶۹ باندے نواب صاحب لیکلے دی : منهم شیخ الاسلام ابو اسماعیل الانصاری الهروی قال الذهبی و کان مظهرًا للسنة 'داعیًا الیها 'رادًا علی اهل الفلسفة والالحاد 'لا یخاف فی الله لومة لائم 'حافظًا للحدیث بارعًا فی اللغة ۔

او نواب صاحب په خپل تاج کښې : ۱۳۵ باندے لیکلے دی : عبدالله بن محمدبن احمد الهروی شیخ الاسلام ابو اسماعیل صاحب منازل السائرین وانشد علی المنبر بهراة فی یوم مجلسه ۔

؎ انا حنبلی ما حییت وان امت فوصیتی للناس ان یتحنبلوا

دا شعر د ارواء په مقدمه کښې هم شته ۔

علامه مبارکپوری صاحبؒ او نورو تولو علماء کرامو دده په حالاتو کښې د امام الحرمین ابو المعالیؒ دا خبره ئې نقل کړے ده وائی : چه هرخوك چه دے نود امام شافعیؒ احسان دے په هغه باندے بغیر د امام بیهقیؒ نه : ما من شافعی الا وللشافعی علیه منة الا ابابکر البیهقی فان له المنة علی الشافعی ۔

(التاج المکلل : ۱۷) په هرشافعی باندے د امام شافعیؒ احسانات دی ۔ مګر دا یو بیهقیؒ نه ۔ د امام بیهقیؒ احسانات په امام شافعیؒ باندے ډیر زیات دی ۔ وجه یې ورله دا ذکر کړے ده :لکثرة تصانیفه فی نصرة مذهبه ۔

د امام شافعیؒ د مذهب په اثبات او د هغه د نصرت د پاره یې ډیر کتابونه لیکلے دی ۔ او په تولو کښې یې د امام شافعیؒ د مسلك تائید ډیر زیات کړیدے ۔ او علامه ابن تیمیةؒ لیکلے دی : اما البیهقی فکان علی مذهب الشافعی منتصرًا له فی عامة اقواله والدارقطنی ایضا یمیل الی مذهب الشافعی وائمة السند والحدیث لکن لیس هو فی تقلید الشافعی کالبیهقی مع ان البیهقی له اجتهاد فی کثیر من المسائل ۔

(مجموع فتاوی ۱۰ : ۲۶) ۔ او د کتاب بیان خطامن اخطا علی الشافعی په مقدمه کښې : ۱۳ باندے د امام الحرمین په حواله لیکلے دی ۔

(۹) الحاکم ابو عبدالله النیسابوری رحمه الله

ابو عبدالله محمدبن عبدالله بن محمد واسع العلم او ثقه دے ۔ تقریبًا دوه زره شیوخ ئې وو ۔ یو نیم زر تصانیف ئې دی ۔ معرفة الحدیث او مستدرك په کښې ډیر مشهور دی ۔ د علمائے نیشاپور تاریخ ئې هم لیکلے دے ۔ د نیشاپور قاضی پاتے شویدے ۔ د ابوبکر قفال شاشی شاګرد دے ۔ ولادت ئې ۳۲۱ هجری او وفات ئې ۴۰۳ هجری دے ۔

د دوی د کتاب نوم مستدرك دے ـ امام حاکم باره کښې خلق وائی : چه کلام کښې تساهل دے ـ بغیرذهبی وغیره د توثیق نه معتمد نشی حسابیدے۔ په دے کښې ضعیف بلکه موضوعی روایات موجود دی۔ ځکه دوی په مسوده نظرثانی کولو ته نه وو فارغ شوے۔

امام حاکم د مستدرك مقدمه کښې لیکی : وقد سالنی جماعة من اعیان اهل العلم بهذه المدینة وغیرها ان اجمع کتابا یشتمل علی الاحادیث المرویة باسانید یحتج محمدبن اسماعیل و مسلم بن الحجاج بمثلها اذ لا سبیل الی اخراج ما لا علة له فانهما رحمهما الله لم یدعیا ذالك لانفسهما وانا استعین الله علی اخراج احادیث رواتها ثقات قد احتج بمثلها الشیخان رحمهما الله او احدهما وهذا شرط الصحیح عند کافة فقهاء اهل الاسلام ان الزیادة فی الاسانید والمتون مع الثقات مقبولة ۔

(۱۰) امام رزین رحمه الله

ابو الحسن رزین بن معاویه العبدری منسوب دے عبدالدار بن قصی ته۔ دا هغه عالم دے چه د صحاح سته آحادیث یی په خپل کتاب کښې ذکرکړے دی۔ او د هغے تجرید یی کړیدے۔ او ورسره یی په کښې د تابعینو اقوال هم ذکرکړے دی۔

مرعاة کښې مبارکپوری ؒ لیکلے دی : العبدری منسوب الی عبدالدار بن قصی بطن من قریش وهذه النسبة علی خلاف قواعد النسبة وهوالذی جمع الکتب الستة فی کتابه۔

علامه شوکانی ؒ په فوائد المجموعه او علامه مبارکپوری ؒ په مرعاة المفاتیح کښې لیکلے دی : چه دده په کتابونو کښې موضوعات هم شته ۔ پته نشته چه دا موضوعات یی د کوم ځائی نه راوړے دی مثلًا : رزین محدث د صلوة غوثیه اثبات هم کړیدے ۔شیخ عبدالقادرجیلانی ؒ له چه مونځ کوی۔ قاضی شوکانی ؒ وائی : دا موضوعی روایت دے ۔ او دده وفات ۲۵۰ هجری کښې شویدے۔

(۱۱) امام دارمی رحمه الله

ابومحمد عبدالله بن عبدالرحمن بن الفضل بن بهرام السمرقندی الدارمی۔

ملاعلی قاری ؒ په مرقات کښې لیکلے دی : دارمی دارم طرف ته دده نسبت دے۔ او د بنو تمیم دیو

قبیلے نوم دے۔ امام دارمیؒ په ۱۸۱ هجری کښې پیدا شوید ے۔ او په ۲۵۵ هجری کښې وفات شوید ے۔ امام دارمیؒ د امام بخاریؒ تقریباً هم عصر دے۔

او علامه ابن تیمیةؒ لیکلے دی : چه امام دارمیؒ روایات افضل دی : بکثیر من مسلم والترمذی ونحوهما ۔

(مجموع فتاوٰی ۱ جزء ب : ۱٤) ۔

شیخ عبدالحقؒ اشعة اللمعات : ۹ باندے لیکلے دی : وبعض گفته اند دارمی سزاوارتر است بگردانیدن وے سادس کتب زیرا که رجال وی در ضعف کمتر اند

امام دارمیؒ کله وفات شو. نو امام بخاریؒ ته چا اووئیل ۔ ډیر زیات خفه شو۔ یو شعر یې اووئی داده امام بخاریؒ خپل شعر دے :

ان عشت تفجع بالاحبة کلهم

و فناء نفسك لا ابالك افجع

که ژوندے داسے پاتے شوے۔ چه خومره ستا یاران او دوستان دی۔ په هغوی به خفه کیږے۔ اطلاع به درته ملاویږی۔ چه فلانکے مړ شو۔ او یو ځل به دا هم واورے۔ چه امام بخاریؒ هم ددے دنیا نه تشریف اوړید ے ۔

اشعة اللمعات کښې دی : وکلمه استرجاع گفت وآب چشم بر رخسارهائے او فرود ویدرحمه الله علیه

د ائمه اربعو مختصر حالات

(۱) امام ابو حنیفه رحمه الله او د هغوی مقام

یو سوال راځی : چه صاحب مشکوة امام ابو حنیفهؒ ولے ذکر نه کړو. ددے وجه څه ده ؟.

بعضے خلق وائی : چه وجه داده : چه ده سره یې نه لګیده . نو دا خبره غلطه ده . وجه داده: چه دده بل کتاب دے : الاکمال فی اسماء الرجال. دمشکوة په آخر کښی شته. په دے کښی د : الباب الثانی فی ذکر ائمة اصحاب الاصول. اول په کښی مالك بن انسؒ دے . او دده ترجمه یې ذکر کړے ده . بیا یې امام شافعیؒ ذکر کړیدے. او دے په خپله شافعی دے. بیا یې لیکلے دی : وکنت فقیرًا بحیث ما املك ما اشترٰی به القراطیس . چه امام شافعیؒ دومره غریب وو. چه هغه سره دومره پیسے نه وے. چه کاغذ پرے څانله واخلی . او د استاذ سبق پرے اولیکی. خو علم سره یې شوق وو. نو الله رب العزت ترے ډیر غټ عالم ، امام او مجتهد جوړ کړو.

مولانا زبیر علی زی په جزء رفع الیدین:۱۸ بانډے لیکی : ابو حنیفه النعمان بن ثابت بن زوطی اصله من کابل. نواب صدیق حسن خان په خپل مایه ناز تصنیف التاج المکلل : ۱۱۹ نمبر بانډے د امام ابو حنیفهؒ حالات ذکر کړے دی : النعمان بن ثابت ابن الزوطی. زوطی یې نیکه دے . نیکه ئې د کابل وو.

الاکمال کښی دی :وکان فی ایامه اربعة من الصحابة انس بن مالك بالبصرة و عبدالله بن ابی اوفی بالکوفة و سهل بن سعد الساعدی بالمدینه و ابو طفیل عامر بن واصله بمکة .

خطیب په خپل تاریخ کښی لیکلے دی : چه څلور صحابه کرام ئې موندلے دی. انس رضی الله عنه په بصره کښی وو . عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه په کوفه کښی وو. سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه په مدینه منوره کښی وو. ابو طفیل بن عامر واصله رضی الله عنه په مکه مکرمه کښی وو . لیکن نواب صاحب دا خبره کړے ده : چه ملاقات ئې هم د چا سره نه دے شوے. لیکن دا خبره غوره نه ده . خطیب په تاریخ بغداد کښی لیکلے دی : چه انس بن مالك رضی الله عنه ئې لیدلے دے اتفاقی خبره داده : چه ملاقات یې صحابو سره کړیدے. رؤیةً امام ابو حنیفهؒ تابعی دے. بعضو خو داسے وئیلے دی : لکه تاریخ بغداد او علامه ابن عبدالبرؒ په جامع بیان العلم وفضله کښی روایت شته.

مولانا امین الله صاحب لیکی : امام صاحب تابعی دے. یا تبع تابعی. (تحفة المناظر: ۱۱۲).

علامہ قسطلانیؒ په ارشاد الساری کښی د عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه په باره کښی هم لیکلے دی۔ چه ملاقات ئی ورسره شوید ے۔

قاعده : الراجح الذی علیه العمل قول الحاکم وغیره فلا فی الاکتفاء بمجرد الرؤیة دون اشتراط الصحبة وعلیه یدل عمل ائمة الحدیث مسلم بن الحجاج وابی حاتم بن حبان وابی عبدالله الحاکم وعبدالغنی بن سعید وغیرهم ۔

(التقیید والایضاح : ۲۷٤ طبع حلب)

او تقریب النووی :۲۱۲ طبع مصرکښی هم دی : وقیل لم لقیه وهو اظهر ۔

مرقات کښی د مناقب صحابه الفصل الثانی کښی روایت دے : طوبی لمن رآنی وآمن بی وطوبی لمن رآنی من رآنی ۔ راوه الطبرانی والحاکم ۔او حدیث مطلق دے۔ په اطلاق ئی جاری کړه۔ المطلق یجری علی اطلاقه۔ د رؤیت لفظ مطلق دے۔ د صحبت قید نشته ۔

فقه ئی د حماد بن سلیمانؒ او عطاء بن ابی رباحؒ نه حاصله کړے ده۔ عبدالله بن مبارکؒ او وکیع بن جراحؒ ئی شاګردان دی۔ دے عالم، عامل، زاهد او عابد وو۔ انتهائی د الله نه یریدونکے وو۔ خائسته وو۔ مجلس ئی هم ډیربهتر وو۔ سخاوت په کښی زیات وو۔ د همدردۍ جذبه ئی زیاته وه۔ درمیانه قد وو۔

مسعربن کدام فرمائی : ما احسد احد بالکوفة الا رجلین اباحنیفة فی فقهه والحسن بن صالح فی زهده۔

سفیان ثوریؒ به فرمائیل : هذا رجل من اهل العلم فان لم اقم لعلمه قمت لسنه وان لم اقم لسنه قمت لفقهه وان لم اقم لفقهه قمت لورعه۔

امام احمدؒ چه به د هغوی د کوړو هغه مشکلات رایاد کړل۔ نو ژړل به ئی او دعاګانے به ئی ورله غوختلے۔

امام شافعیؒ فرمائی : چه چا د امام مالكؒ نه تپوس اوکړو چه تا ابو حنیفهؒ لیدلے دے۔ هغه ورته اووئیل آو۔ داسے سړے مے لیدلے دے۔ که ددے ستنے نه سره جوړول غواړی د هغے دلیل به درته هم بیان کړی۔ او امام شافعیؒ فرمائی : که څوك په فقه کښی مهارت حاصلول غواړی۔ نو هغوی په دے کښی به د امام ابو حنیفهؒ ته محتاج وی۔

د مرقات مقدمه ۱ : ۲۰ ط ملتان کښی دی : قیل لم یلق احدا منهم قلت لکن من حفظ حجة علی من لم یحفظ والمثبت مقدم علی النافی۔ (مرقات ۱ : ۲۰)۔

علامه ابن قیمؒ اعلام الموقعین ۱ : ۱۳۰ بانده د شهادة الزور په بحث کښی ددوی سند معتبر ګرځولے دے : وقال الحسن بن زیاد اللؤلؤی ثنا ابوحنیفة قال کنا عند محارب بن دثار ...الخ ۔

امام حاکمؒ په معرفة علوم الحدیث : ۲۲۵ طبع القاهره کښی لیکلے دی : هذا النوع من هذه العلوم معرفة

الائمة الثقات المشهورين من التابعين واتباعهم ....الخ ۔
په دے ائمه څه ثقات دی۔ په دے کښې د امام ابوحنیفة نوم موجود دے۔
اوپه مقدمه د میزان الاعتدال : ۱۱۲ طبع لاهور کښې دی : وکذا لا اذکر فی کتابی من الائمة المتبوعین فی الفروع احدًا لجلالتهم فی الاسلام وعظمتهم فی النفوس مثل ابی حنیفة والشافعی والبخاری۔
امام بخاریؒ سره ئې د امام ابوحنیفةؒ نوم ذکرکړیدے۔
صاحب د مشکوة وائی : چه ما د ده ذکر د برکت د پاره کړیدے۔ چه دا ډیر لوئی سړے تیرشویدے اوډیر القاب یې ورله ذکرکړیدی : فانه کان عالمًا عاملًا ورعًا زاهدًاعابدًا امامًا فی علوم الشریعة والغرض بایراد ذکره فی هذا الکتاب وان لم نروعنه حدیثًا فی المشکوة للتبرك به۔ اگرچه په دے کتاب کښې یې ذکر نشته خوما د هغه ذکر اوکړو: للتبرك به۔
نوڅلور امامان دی او صاحب د مشکوة په مقدمه کښې درے امامان ذکرکړے دی۔
تهذیب الکمال د علامه مزیؒ کښې ۱۹ : ۱۱۵ ئې د امام ابوحنیفةؒ ترجمه ذکرکړے ده : فقیه اهل العراق .رأی انس بن مالك ـ او د یحی بن معینؒ قول دے : کان ابوحنیفة ثقة لا یحدث بالحدیث الا ما یحفظه ولا یحدث بما لا یحفظ ـ کان ابوحنیفة ثقة فی الحدیث ـ (ص : ۱۰۵)۔
او دا ئې لیکلے دی : چه یحی بن سعید به ددوی فتوی له ترجیح ورکولو ـ او د هغوی د فراست واقعه ئې ذکرکړے ده۔
واقعه : چه ددوی یو شیعه ګاونډی دوه قچرے ساتلے وے۔ او یو له ئې ابوبکر او بل له ئې عمر نوم ایخے وو ـ یو ورله د شپے لته ورکړه ـ او مردار ئې کړو۔ امام ابوحنیفةؒ اوفرمائیل : انظروا البغل الذی رمحه الذی سماه عمر فنظروا فکان کذالك ـ (۱۱۵) ـ (فتح اله لابن حجر الهیثمی : ۱۰۹)۔
او د عبدالله بن مبارکؒ اشعار ئې نقل کړے دی :

رأیت ابا حنیفة کل یوم ... یزید نبالة ویزید خیرا
وینطق بالصواب ویصطفیه ... اذا ما قال اهل الجور جورا
یقایس من یقایسه بلب ... فمن ذا تجعلون له نظیرا
کفانا فقد حماد وکانت ... مصیبتنا به امرا کبیرا
فرد شماتة الاعداء عنا ... وابدی بعده علما کثیرا
رأیت اباحنیفة حین یوتی ... ویطلب علمه بحرا غزیرًا
اذا ماالمشکلات تدافعتها ... رجال العلم کان بها بصیرا
(ص : ۱۱۵)

او اخبار ابی حنیفة واصحابه د علامه صمیری کښې دی : من احب ابی حنیفة فهو سنی ومن ابغض فهومبتدع ۔ (ص : ۷۹) ۔ او عبدالله بن مبارک فرمائی : رایت افقه الناس ۔ (تبیض الصحیفة : ۸۹) ۔

امام یحی بن معین المتوفی ۲۲۳ھ چه هغوی ته حافظ ابن حجر د امام الجرح والتعدیل لقب ورکړیدے ۔ فرمائی : چه امام ابو حنیفة په حدیث کښې مرجع الخلائق وو ۔ محدثینو ترے خوشه نشینی کړے ده ۔ (تهذیب التهذیب ۱۱ : ۲۸۸) ۔

تهذیب الکمال ئی ددوی اویا (۷۰) شیوخ ذکرکړے دی ۔ امام سیوطی تبییض الصحیفة : ۱۲۹ باندے لیکلے دی : من مناقب ابی حنیفة التی انفردها انه اول من دوّن علم الشریعة ورتبه ابواباً ثم تبعه مالک بن انس فی ترتیب الموطا ولم یسبق اباحنیفة احد ۔

او دے کتاب کښې د عبدالله بن مبارک قول نقل کړیدے : رأیت اعبدالناس' رأیت اورع الناس' رأیت افقه الناس ۔ د ډیرے ګنړے د وجے ئی شپږ ځله جنازه شوے ده ۔

اخبارابی حنیفة واصحابه : ٦٠ باندے دی : سمعت یحی بن معین یقول القراء ة عندی حمزة والفقه ' فقه ابی حنیفة علی هذا ادرکت الناس ۔ او لیکلے دی : کان ابوحنیفة ثقة صدوقًا فی الحدیث والفقه مامونًا علی دین الله ۔

د امام ابو حنیفة د مذهب متعلق علامه ابن قیم لیکلے دی : واصحاب ابی حنیفة مجمعون علی ان مذهب ابی حنیفة ان ضعیف الحدیث عنده اولی من القیاس والرأی و علی ذالک بنی مذهبه ۔ (اعلام الموقعین ۱ : ۷۷)

د ابو حاتم قول صاحب الانساب ذکرکړیدے : ولیس من الانصاف ترک حدیث شیخ ثبت عدالته باوهام ولو سلکنا هذا المسلک یلزمنا ترک حدیث الزهری وابن جریج والثوری والشعبة لانهم اهل حفظ واتقان وکانوا یقولون من حفظهم ولم یکونوا معصومین ۔

علامه عینی ۲ : ۴۴۹ باندے لیکلے دی : امام طبق علمه الشرق والغرب ولما سئل ابن معین عنه فقال ثقة مأمون ماسمعت احدا ضعفه ...الخ ۔

امام ابو حنیفه او د هغوی تعدیل

تدریب الراوی : ۳۴۲ باندے دی : اما الفاظ التعدیل فعلی مراتب ۔ الاولی قال ابن حاتم اذا قیل للواحد انه ثقة او متقن فهو ممن یحتج بحدیثه ۔ او د امام ابو حنیفه په شان کښې د اسماء الرجال په کتابونو کښې دی ۔ چه " ثقة ثقة " " عدل ثقة " " ثقة صدوق " لا باس به ثقة فی الحدیث ۔ " جید الحفظ " " احسن الضبط " او ددوی توثیق ابن معین ' ابن مبارک او امام وکیع وغیرهم کړیدے ۔

او خیرات الحسان کښې : ۳۷ باندے لیکلے دی : وکان ابصر بالحدیث الصحیح ۔
اعلام الموقعین ۴ : ۲۹۶ کښې ائمة الحدیث کښې د امام بخاریؒ سره امام ابو حنیفهؒ هم په ائمة الحدیث کښې ذکر کړید ے۔
مولانا عبدالحی لکهنویؒ په النافع الکبیر : ۴۵ باندے لیکلے دی : واما الطاعنون علیه فلم یطعنوا الا لشبه عرضت لخاطرهم الفاتر ' او لتعصبهم الوافر ' ولیس لهم سعة المقابلة بهولاء المادحین ' فلا یقبل کلامهم معارضًا لکلام طائفة من ائمة الدین ' فهم فی جنب هؤلاء مطعونون خامدون ' ویابی الله الا ان یتم نوره ' ولو کره الکارهون ۔ (مجموعة الرسائل ۳ : ۳۲۵) ۔
ده الرفع والتکمیل په المرصد الرابع کښې : ۶۳ باندے لیکلے دی : فلا یلتفت لکلام الثوری وغیره فی ابی حنیفة وابن ابی ذئب وغیره فی مالك وابن معین فی الشافعی والنسائی فی احمدبن صالح ونحوه ولو اطلقنا تقدیم الجرح لما سلم لنا احدمن الائمة اذا ما من امام الا وقد طعن فیه طاعنون ' وهلك فیه هالکون ۔ انتهی ۔
وفات : وفات ئې د بغداد په جیل کښې په ۱۵۰ هجری کښې شوید ے۔ ځکه چه د قضاء نه ئې انکار کړے وو۔ شرف الملك ابوسعد محمدبن منصور الخوارزمی د امام ابو حنیفهؒ د مزار سره د احنافو دپاره غټه مدرسه جوړه کړے وه۔ او دا ۴۵۹ هجری وو۔
ملحوظه : حنفی اصل کښې حنیفی دے۔ او حنفی ځکه وئیلے او لیکلے شی۔ چه د عربو په قانون کښې د کلمے ثقل نامنظور او خفت ئې منظور دے۔ په دے وجه د یاء غورځول بهتردی۔ او که حنیفی اوئیلے شی۔ نو هم عیب نه دے۔ (شرح شافیه : ۵۳) ۔ او حنیفة " تاء " د مبالغے ده نه د تانیث۔ اقول تاء حنیفیة وخلیفة للمبالغة ولیس للتانیث ۔ (شرح رضی ۲ : ۱۳۱) ۔
او کنیت دوه قسمه دے ابن یا أب سره لکه ابن عباس ' ابو یوسف۔ او دویم وصف سره لکه ابو الحسنات ' ابو التراب ' او امام صاحب د ملت حنیف د تابعدارۍ د وجے په دے صفت متّصف شوید ے۔

(۲) امام شافعی رحمه الله

ابوعبدالله محمد بن ادریس بن عباس بن عثمان بن شافع۔ شافع طرف ته یې نسبت دے۔ په دے بنیاد ورته شافعی وائی۔ نبی ﷺ سره ئې نسب په عبدمناف کښې جمع شوید ے۔
امام شافعیؒ په ۱۵۰ هجرۍ کښې پیدا شوید ے۔ په کوم کال چه امام ابو حنیفهؒ وفات شوید ے۔ دا رنګ به ورله نه ورکوو ے۔ چه امام شافعیؒ راتلے نه شو۔ ځو پورے چه امام صاحبؒ ژوندے وو۔ دا خو

تقدیری معاملات دی۔ او داسے وئیل بے ادبی دہ۔
نواب صدیق حسن خان لیکلی دی: چہ چا وئیلی دی چہ پہ کومہ ورځ چہ امام ابو حنیفہؒ وفات شو۔ هم پہ دغہ ورځ امام شافعیؒ پیدا شوید ے۔ (التاج المکلل)۔
او د جمعے پہ شپہ د رجب پہ آخری تاریخ ۲۰۴ ھجری کښی وفات شوید ے۔ او د جمعے پہ ورځ د مازیگرنہ پس د فن شوید ے۔ ټول عمر دده ۵۴ کالہ وو۔ د امام شافعیؒ مصر تہ د راتلونہ مخکښی چہ کوم روایات دی۔ هغے تہ قدیم روایات وائی۔ او چہ کلہ مصر تہ راغلے دے۔ بیا یی چہ کوم روایات دی۔ نو هغے تہ جدید روایات وائی۔ کتاب الام یی پہ مصر کښی لیکلے دے۔ دا پہ جدید کښی راځی۔ ثم رجع الشافعی الی مصر وصنف کتابہ الجدید۔ (مجموع فتاوی ۱۰ : ۱۸۲)۔
آخری قول د امام شافعیؒ پہ دے مسئلہ کښی څہ دے۔ نو هغہ د کتاب الام نہ معلومیږی۔ د امام شافعیؒ استاذ امام مالکؒ او سفیان ابن عیینہؒ دے ددوی نہ یی اوریدل کړے دی ۔ او دده پہ شاگردانو کښی ابو ثورؒ او امام احمدؒ دے۔ امام احمدؒ وائی: چہ ما خودا ناسخ او منسوخ اړو پیژندلو نہ چہ دا څہ تہ وائی څو پورے زما ناستہ د امام شافعیؒ سرہ نوہ شوے۔ ددے نہ دا معلومیږی چہ امام شافعیؒ پہ مسائلو د نسخ کښی هم ډیر مهارت لرو۔
امام احمدؒ فرمائی: د دیرشو کالونہ څہ د امام شافعیؒ دپارہ استغفار غواړم۔ او دعاگانے ورلہ کووم۔ فرمائیل بہ ئی: اللهم اغفر لی ولوالدی ولمحمدبن ادریس الشافعی۔
امام شافعیؒ پہ اصول الفقہ کښی اول بحث کړید ے۔
امام زعفرانیؒ فرمائی: محدثین اودہ وو۔ امام شافعیؒ دوی راویخ کړے دی۔
امام شافعیؒ فرمائی: لولم یکن العلماء اولیاء فلیس للہ ولی ' ماتخذ اللہ ولیا جاهلا۔ (مرقات)۔
د قریشو چہ صحیح أحادیثو کښی فضیلت چہ کوم راغلے دے۔ دوی ئی مصداق دی۔ دوی شعر جوړولو کښی مهارت لرلو۔ د امام مالکؒ شاگرد دے۔ ددوی د وفات نہ پس یمن کښی قاضی وو۔ ددوی کتاب الرسالة امام مزنیؒ پنځہ سوہ ځلہ مطالعہ کړے وو۔
فتح الہ کښی دی چہ فرمائیل ئی: اذا صح الحدیث ای غیر معارض فهو مذهبی۔
الاکمال کښی ورلہ غریب والے ذکر کړید ے۔ خپلہ فرمائی:

علیّ ثیاب لو یباع جمیعها ‏ ‏ ‏ بفلس لکان الفلس منهن اکثرا
وفیهن نفس لو یقاس بمثلها ‏ ‏ ‏ جمیع الوری کانت أجلّ وآخطر

امام شافعیؒ بہ فرمائیل: فقر العلماء فقر اختیار وفقر الجهال فقر اضطرار۔

(۳) امام مالك رحمه الله

ابوعبدالله مالك بن انس بن مالك الاصبحي او ابوعبدالله یې کنیت دے۔

اصبح د یمن په بادشاهانو کښې یو بادشاه تیرشوید ے۔ داد امام مالکؒ نهم نیکه وو۔ نو هغے نهم نیکه طرف ته یې نسبت دے۔ اصبحي ورته په دے بنیاد باندے وائی۔

الحق الصریح کښې لیکلے دي: صاحب المذهب دے۔ په ائمو کښې دے۔

اوعلامه ابن تيميةؒ ليكلے دي: ثم اتفق انه لما انتشر مذهب مالك بالاندلس وكان يحى بن يحى عامل الاندلس والولاة فكانوا يامرون القضاة الا يقضوا برواية من مالك ثم رواية غيره۔ (مجموع فتاوی ۱۰ : ۱۸۰)۔

مجموع فتاوی ۲ : ۵۸ کښې دي: فان خاصة كل امام اعلم بباطن اموره مثل مالك بن انس فان ابن القاسم لما كان اخص الناس به واعلمهم بباطن امره اعتمد اتباعه على روايته ..الخ۔

امام مالكؒ په ۹۰ يا ۹۳ يا ۹۴ هجری کښې پیدا شوید ے۔ (مرعاة ' نفحات التنقيح)۔ او اشعة اللمعات کښې دي: ۹۵ يا ۹۱ هجری۔

الحق الصريح کښې دي: چه امام مالکؒ د مور په خیټه کښې درے کاله حصار پاتے شوے وو۔

او وفات شوید ے د اتوار په ورځ ' ۱۰ يا ۱۱ يا ۱۳ ربيع الاول ۱۷۹ هجری کښې۔ او په آخري عمر کښې ۲۲ ورځے نا جوړه وو۔ او په بقیع کښېؒ دفن شوید ے۔

د امام مالكؒ بعض تفردات دي۔ د اوبو استنجاء بالكل نه مني۔ او ددے د ثبوت نه که د وړو بولونه پس وی۔ یا د غټ اودس ماتی نه روستو مطلقًا انکار کوی۔ (نيل الاوطار ۱ : ۹۶ ' قسطلانی ۱ : ۱۹۵)۔

دغسے د وړوکی اخترنه پس شپږ روژے نه مني۔ بلکه د بدعت یره ئی ذکر کړے ده۔
(موطا مطبع فاروقی دهلی : ۹۸ ' نيل الاوطار مصر ٤ : ۱۲۰)۔

دغسے امام مالكؒ او عبدالله بن عمر رضی الله عنه د مقیم دپاره د موزو د مسح د ثبوت نه انکار کړید ے۔ (موطا محمد مطبوعه مصطفائی : ۶۹ ' قسطلانی ۱ : ۲۲۷)۔

امام زرقانیؒ وائی: چه د امام مالکؒ استاذان ۹۰۰ وو بلکه ددینه هم زیات وو۔ (مرعاة)۔

موطا امام مالكؒ چه كله اوليكلے شو۔ نو هارون الرشید ورته اووئیل چه دابه په بیت الله کښې زوړند کړو تول خلق به ددے مطابق فیصلے کوی۔ که بل عالم وے نو هغه به وئیل چه زما د پاره دومره لوئی اعزاز دے۔ چه زما تصنیف د په خلقو باندے لازم کیږی۔ لیکن امام مالکؒ دا خبره اونه منله۔ خلق پریده چه کوم ځائی ته د نبی ﷺ صحیح طریقه رسیدلے ده۔ هغوی په هغه صحیح حدیثونو باندے عمل دے خپل جاری ساتی ۔ اوکه ته پرے دا لازمه وے۔ چه د موطا په روایتونو به خواه مخواه عمل

کوے ۔ نو دے سره به د نورو خلقو اختلاف سو اشی نو دا خو تیك نه ده ۔
دا تهولو لیکلے دی د امام مالكؒ په حالاتو کښی ۔ او دا ډیره ښه خبره ده ۔ مثلاً په ریاض او په سعودی کښی اکثر حنابله دی ۔ هغوی رفع الیدین کوی نو کوی به ۔ او امین بالجهر وائی نو وائی به ۔ ته به ددے ځائی نه ځے چه اے خلقو هغه احادیث چه په هغے کښی راغلے دی ۔ چه دا به نه کوے په دے باندے عمل اوکړے ۔ کنی د دغے کتابونو نه دغه پاڼړے اوشلوے ۔ داسے به ورته نه وائی ۔ اونه به هغوی راځی چه دلته دا خبرے اوکړی ۔ (فتح الاله شرح مشکوة لابن حجر الهیثمی) ۔
بس هغوی پریده ۔ چه په خپله طریقه باندے عمل کوی ۔ او دوی هم پریده ۔ چه په خپله طریقه باندے عمل کوی ۔ سنت باندے یو طریقه ثابته ده ۔ او په علاقه کښی پرے عمل دے ۔ بدعت نه دے ۔ نو په هغے خپله توانائی مه خرچ کوه ۔ ځانله بل څه کارکوه ۔ د بدعاتو رسمونو رواجونو نه خلق سنت ته راواروه ۔
ابو عمرو الاوزاعیؒ فرمائی : چه څلویښت ورځے مونږ موطا امام مالك نه اوئے اوئے فرمائیل : کتاب الفته فی اربعین سنة اخذتموه فی اربعین یومًا فلما تفقهون فیه ۔ (التمهید ۱ : ۱۷۷) ۔
ګویا څلویښت کاله ئی د موطا تصنیف برابر کړیدے ۔
د امام مالكؒ عجیبه احتیاط وو ۔ بے ګیرے به ئی درس کښی نه پریخودلو ۔ هشام خپله روستو ناست وو، چه شپاړس احادیث ئی ترے واوریدل ۔ امام امالكؒ چه خبر شو ۔ شپاړس کوړے ئی ورکړیدی ۔ هشام به فرمائیل کاش چه سل احادیث مے اوریدلے وے ۔ او سل کوړے مے خوړلے وے ۔ (مجموع فتاوی ۷ : ۲۱۸)
شیخ عبدالحقؒ اشعة اللمعات کښی لیکلی دی : چه امام شافعیؒ فرمائیل : لولا مالك وابن عیینه لذهب علم اهل الحجاز ۔

(۴) امام احمد بن حنبل رحمه الله

ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل الشیبانیؒ شیبانی ورته ځکه وائی چه شیبان دده په نیکونو کښی تیر شویدے ۔ او دے طرف ته یی نسبت دے ۔
علامه مبارکپوریؒ په مرعاة المفاتیح کښی دده په حالاتو کښی لیکلے دی : صاحب المذهب دے ۔ په ائمه اربعو کښی دے ۔ او مولانا امین الله صاحب هم لیکلے دی ۔
د امام احمدؒ مور د "مَرْو" نه په کده باندے تلے وه ۔ او په دغه وخت کښی دا حامله وه په امام احمدؒ باندے ۔ او دے په بغداد کښی په ربیع الاول ۱۶۴ هجری کښی پیدا شویدے ۔ او په بغداد کښی وفات شویدے د جمعے په ورځ د ساخت په وخت کښی ۱۲ ربیع الاول ۲۴۱ هجری کښی د مازیګر نه پس دفن شو ۔
علماء د امام احمدؒ په باره کښی لیکی : کان امامًا فی الفقه والحدیث والزهد والورع والعبادة ۔
او دده کتاب الزهد هم شته ۔ او د عبدالله بن مبارکؒ او د ابوداود هم شته ۔ د امام احمدؒ نه خپل دوه ځامن روایت کوی یو صالح او بل عبدالله ۔ او امام بخاریؒ هم دده نه روایت کوی : حدثنی احمدبن الحسن ، حدثنا

احمد بن محمد بن حنبل بن هلال ـ (داد کتاب المغازی آخری باب دے : ۱۲۵) ـ او علامه کرمانیؒ لیکلے دی : ولم یخرج البخاری له فی هذا الجامع سندًا غیر هذا الحدیث ـ

امام احمد بن محمد بن حنبلؒ د امام بخاریؒ استاذ دے ـ په خدمت کښې ډیر پاتے شوید ے ـ په بخاری کښې ئې ترے صرف یو روایت اغستے دے ـ هغه هم د احمد بن الحسن په واسطه ـ په ټوله بخاری کښې امام بخاریؒ د خپل استاذ امام احمدؒ صرف څلورمقاماتو کښې نوم اغستے دے ـ او د امام شافعیؒ نه ئې هم یو حدیث بخاری کښې نه دے ذکر کړے ـ نو دا خبره د بعض خلقو صحیح نه ده ـ چه په صحیحینو کښې چه د امام ابو حنیفهؒ حدیث نشته نو کمزورے دے ـ بیا خو امام شافعیؒ او امام احمدؒ هم په دغه منطق کمزورے شول ـ

داد امام بخاریؒ ، امام مسلمؒ او د امام ابوداودؒ هم استاذ دے ـ امام احمدؒ ډیر مجاهد امام تیرشوید ے ـ د خلق قرآن په مسئله کښې یې زیات تکلیف برداشت کړے دی ـ

په الحق الصریح : ۳۴ کښې دده ډیر فضیلتونه ذکر کړے دی ـ اومرعاة المصابیح کښې د امام احمدؒ باره کښې دی : کشف قبر احمد حین دفن الشریف ابوجعفربن ابی موسی الی جانبه فوجد کفنه صحیحًا لم یبل ، و جنبه لم یتغیر ، وذالك بعد موته بمائتین وثلاثین سنة ـ

او الحق الصریح والا دا هم لیکلے دی : بعضے اقوال یې د حدیث مخالف راغلے دی ـ ځکه ده به اکثر د ظاهر د احادیثو تابعداری کوله ـ انتهی ـ (۳۴) ـ

او علامه ابن قیمؒ په بدائع الفوائد کښې لیکلے دی : چه د مدینے تعامل له به ئې اعتبار ورکوو ـ اگرچه د حدیث نه به ظاهرًا خلاف وو ـ

د ددینه دا معلومه شوه ـ چه د ظاهر حدیث په اتباع سره سرے کله کله هغے حد ته نه رسی ـ

د امام احمدؒ باره کښې علامه ابن تیمیهؒ لیکلے دی : ولذالك استحب الائمة احمد وغیره ان یدع الامام ما هو عنده افضل اذا کان فیه تالیف المومنین ـ (مجموع فتاوی ۱۲ : ۱۰۶) ـ

التاج المکلل کښې : ۱۵ باندے نواب صدیق حسن خان لیکلے دی : چه امام احمدؒ ته چا اووئیل چه دلته یو سرے عمربن عبدالعزیزؒ له په سیدنا معاویه رضی الله عنه باندے ترجیح ورکوی ـ نو امام احمدؒ اوفرمائیل : لا تجالسه ولا تؤاکله ولا تشاربه واذا مرض فلا تعده ـ

او امام احمدؒ فرمائی : چه د ایمان اصول درے دی (۱) : دال ، الله دے ـ (۲) : او دلیل قرآن دے ـ (۳) : او مستدل مومن دے ـ

د هغوی ځوی عبدالله وائی : چه د مانځه نه پس به ئی دا دعا ډیره کړ : اللهم کما صنت وجهی عن السجود لغیرك فصن وجهی عن السؤال لغیرك ـ

حالات د صاحب مصابیح

صاحب مشکوۃ خپله د مصابیح تذکرہ پہ کتاب کښې کړے دہ : وکان کتاب المصابیح الذی صنفه الامام محی السنة قامع البدعة ابو محمد الحسین بن مسعود الفراء البغوی ۔ چہ کلہ کتاب ئې اولیکلو نو خوب یې اولیدلو۔ او دایې ورتہ اوویل : چہ تا سنت تازہ او ژوندے کړیدے ۔ ځکہ ورتہ محی السنہ وائی او دایې لقب شو ۔ محدث مفسر وو ۔ د علومو یو سمندر وو ۔

"الفراء ": الفراء ورتہ ځکہ وائی : چہ پوستین او قالین بہ یې جوړول ۔ او یا یې پلار جوړول ۔ یا یې خرڅول ۔ علماء کرامو ددہ پہ بارہ کښې لیکلے دی : چہ دے شافعی عالم تیر شوے دے ۔ او کتابونہ یې هم شتہ یو پہ هغے کښې ښکلے تفسیر معالم التنزیل دے ۔ او پہ فقہ کښې یې هم کتاب لیکلے دے ۔ پہ الحق الصریح : ۲۳ کښې د فراء پہ تشریح کښې لیکلے دی : ددہ قول ساقط نشتہ لکہ څنګہ چہ د بعض علماؤ نہ بعض ساقط اقوال صادریږی ۔ یعنی ددہ پہ اقوالو کښې یو قول ساقط نشتہ ۔ ددہ ټول اقوال سم دی ۔ او بعضے علماء داسے شتہ چہ د هغوی بعضے اقوال ساقط وی ۔

علامہ مبارکپوریؒ هم دا خبرہ کړے دہ : قال بعض مشائخنا لیس له قول ساقط ۔

علامہ ذهبیؒ سیراعلام النبلاء ۱۹ : ۴۴۱ باندے لیکلے دی : بورك له فی تصانیفه ، ورزق فیها القبول التام، لحسن قصده ، وصدق نیته ۔

"بغوی ": بغشور طرف تہ منسوب دے ۔ اکثر نسبت پہ مرکب کښې اول جزء طرف تہ کیږی ۔ لکہ مثلاً "بعلبك " دا مرکب دے ۔ د دوو نہ " بعل " او د "بك " نہ ۔ لیکن وئیلے کیږی "بعلی" اوس دا "بغوی " د " بغ "نہ دے ۔ او داد " اسماء مخذوفة الاعجاز " نہ دے ۔ لکہ مثلاً " دم " دے ۔ نو قانون پہ دے کښې دا وی چہ کلہ ددے نسبت کوے ۔ چہ کوم دریم لفظ حذف شوے دے ۔ هغہ بہ بیا راوړے "دم " "دموی" داسے "بغ "کښې بہ وائی" بغوی "ولے کہ تہ" بغوی " نہ وائی نو دغلطے معنی احتمال جوړیږی " امك بغية " نافرمانہ او فاجرہ ښځہ ۔

دے پہ ۴۳۵ هجری کښې پیدا شویدے ۔ پہ فقہ کښې د قاضی حسینؒ شاګرد پاتے شویدے ۔ او پہ احادیثو کښې د ابوالحسن عبدالرحمن بن محمد شاګرد دے ۔ او ددہ پہ حالاتو کښې راځی : چہ همیشہ بہ ئې درس پہ اودس کښې کوو ۔ او ددہ پہ صفاتو مختصو کښې راځی چہ دہ لہ اللہ رب العزت ډیرغټ

زهد او قناعت ورکړے وو. د دنیا نه بے رغبتي په کښې ډیره زیاته وه. د ښځے میراث ورته ډیر پاتے شو. لیکن د هغے د میراث نه یې څه وانه غسته. او ښځه یې ډیره مالداره وه. او د شوال په میاشت کښې ۵۱۶ هجری کښې د ۸۰ کالو نه سوا عمر کښې د دنیا نه تشریف اوړیدے.

امام ذهبیؒ فرمائي: چه حج ئې نه وو کړے.

په دے مصابیح کښې ټول احادیث څومره دی ؟. نو اول قول دادے: چه په دے کښې ټول احادیث ۴۴۸۴ دے. او په دے کښې د بخاری او دمسلم نه چه کوم روایتونه راغستے دی. لکه بلکل صحیح احادیث ۴۴۳۴ دی. او دا غوره قول دے. (۲): دویم قول دادے: چه په دے کښې ټول احادیث ۴۷۱۹ دی ـ په دے احادیثو کښې ۳۲۵ په بخاری کښې دی. او ۷۸۵ په مسلم کښې دی ـ او د مشکوة المصابیح احادیث ټول ۵۹۴۵ دی.

کتابونه: (۱) کتاب التهذیب ئې په فقه کښې لیکلے دے. (۲) کتاب شرح السنة په حدیث کښې. (۳) او معالم التنزیل دائې د قرآن تفسیر دے. (۴): کتاب المصابیح.

علمي مقام: طاش کبری زاده مفتاح السعادة ۲ : ۱۰۲ کښې لیکلے دی: کان ثبتًا حجةً صحیح العقیدة في الدین. او ابن خلکان وفیات الاعیان کښې ورته وائي: الفقیه الشافعي المحدث المفسر کان بحرًا في العلوم. علامه ابن حجر هیثميؒ لیکلے دی: چه دے حبر الامة وو. یو سړی ورته اوئے چه ما حلف بالطلاق کړیدے. چه فقه وعلم کښې دے وخت کښې ستانه غټ عالم نشته. د سوچ نه پس ئې ورته اوئے چه ستا طلاق نه واقع کیږی.

حالات د صاحب مشکوة

دده نوم ولی الدین ابوعبدالله محمد بن عبدالله وو۔ او دے مشهور دے په خطیب تبریزی سره تبریز وطن دے۔ د هغے خطیب دے۔ د فصاحت او د بلاغت امام تیرشوے دے او په احادیثو کښی انتهائی ماهر دے۔ بعضے علماء داسے تیر شوے دی۔ چه هغوی ته دا مشکوة په یادو باندے یاد وو۔ په هغه کسانو کښی یو شخصیت په هندوستان کښی هم تیرشوید ے۔ هغه ته به یی بابا داود مشکاتی وئیلو د مشکوة حافظ وو۔

شاه عبدالعزیز" په بستان المحدثین کښی لیکلے دی: چه دده د ولادت او د وفات پوره تعین نشته لیکن رمضان ۷۳۷ هجری کښی دده کتاب نه فارغ شوید ے۔ او دا یقینی خبره ده۔ الاکمال آخر کښی لیکلے دی تر دغه وخته ژوند ے دے۔

الحق الصریح :۲۳ کښی لیکلے دی: چه صاحب د مشکوة شافعی المسلك دے۔

د مشکوة ډیرزیات شروح دی۔ په دے کښی ښکلے شرحه د علامه فضل الله توریشتی۔ او دویمه شرحه د علامه طیبی" ده الکاشف عن حقائق السنن۔ مشکوة هغه کتاب دے چه استاذ د شاگرد د کتاب شرحه کړے ده۔ مشکوة والا شاگرد دے د علامه طیبی"۔

د مشکوة د شارح د علامه طیبی" تعارف

ددوی نوم حسین بن محمدبن عبدالله وو۔ ابتدائی دورکښی ډیرمالدار وو۔ روستوئی مال دومره تقسیم کړو۔ چه په آخری عمرکښی فقیر وو۔ مونځ ئی کړے وو۔ او د بل مونځ د انتظار دپاره ئی قبلے ته مخ برابر کړے وو۔ چه وفات شو۔ وفات ئی په شعبان ۷۴۳ هجری کښی شوید ے۔(التاج المکلل للنواب: ۳۶۵)

الحق الصریح کښی دی: چه علامه طیبی حنفی دے۔ او علامه مبارکپوری" په دے بحثونو کښی لیکلے دی: چه ماته د علامه طیبی" مذهب نه دے معلوم۔ لیکن حنفی خونه دے۔ ده خو په الکاشف کښی په احنافو باندے اعتراضات کړے دی۔ چه ملاعلی قاری ورله جوابونه ورکوی۔

علامه محمد بن ادریس کاندهلوی" په التعلیق الصبیح :۵ باندے لیکلے دی: من محدث جلیل افضل العلماء فی زمانه واکمل الفضلاء فی عوامه. آخرکښی لیکی:الحسین بن عبدالله بن محمد الطیبی الشافعی طیب الله ثراه.

نوټ: اګرچه مولانا محمد ادریس کاندهلوی" خپل تعلیق کښی او نفخات التنقیح کښی شیخ سلیم

الله خان صاحب او دغسے "الاکمال" کښې صاحب د مشکوة د علامه طیبي نوم حسین بن عبدالله بن محمد لیکلے دے۔ لیکن نواب صاحب په "التاج المکلل" کښې حسین بن محمد بن عبدالله لیکلے دے۔ او امام سیوطیؒ او علامه زرقانیؒ هم حسین بن محمد بن عبدالله له ترجیح ورکړے ده۔ ددے وضاحت مقدمه د مرقات کښې مولانا محمدعبدالحلیم صاحب مدظله العالی کړیدے۔

الحق الصریح کښې بیا لیکلے دی: چه د پخوانی زمانے علماؤ به چه ځان ته شافعي یا حنفي وئیلو نو ددے مطلب دا نه وو۔ چه دوی داسے مقلدین وو۔ چه که د امام خبره به حقه وه او که باطله۔ نو هغه به ئی منله ۔ بیا لړ روستو وائی: زمونږ د زمانے د مقلدینو پشان نه وو۔ چه د امام حق او باطل نه ګوری بلکه د خپلے رائے پسے روان وی۔ دده دخبرے مطلب دادے: چه دا شافعي ' حنفي ' مالکي او حنبلي دے د هغوی تقلیدونه ددے دور د تقلید غوندے نه وو۔ چه خبره د امام غلطه وی۔ او ته یی منے تقلید دیته وائی۔ لیکن دیته چا تقلید وئیلے دے۔ دا خو بلکل غلطه ده۔ چه یو شيء غلط شو۔ نو ته به څنګه غلط کښې د یو امام پسے روان شے۔ دا خبره د سرنه صحیح نه ده وائی دا چه تقلید دیته وائی چه رسا او خطاء د امام هر رنګه به منے۔ هغوی داسے تقلیدونه نه دی کړے۔ نو داسے تقلید اوشته نه

وضاحت: علامه ابن تیمیهؒ لیکی: انتساب الناس الی امام کالحنفی والماکی والشافعي والحنبلي او الی شیخ کالقادری والعدوی ونحوهم او مثل الانساب الی القبائل کالقیسي والیماني وفي الامصار کالشامي والعراقي والمصری فلایجوزلاحدان یمتحن الناس بها ولا یوالی بهذه الاسماء ولا یعادی علیها۔ (مجموع فتاوی ۲: ۲۵۵)

او مولانا عبدالحی لکهنویؒ د امام الکلام ص: ۴ باندے لیکی: والعجب کل العجب ممن یستکره اطلاقاتها ویتنفر عن الانتساب بها واعجب منه جعله شرکاً او مکروهًا او ممنوعا من غیر حجة ودلیل ولو کان مظنونًا۔

سند

مشکوة اول ما وئیلے دے۔ د مفتی احمد الرحمن صاحبؒ نه د وفاق المدارس په مشرانو کښې پاتے شویدے۔ او د بنوری ټاون مهتمم پاتے شویدے۔ او د شیخ الحدیث مولانا بنوریؒ ځوم وو۔ او د شیخ الحدیث مولانا عبدالرحمنؒ ځوے دے۔ په مظهر العلوم سهانپور او په جامعه اکوړه خټك چه اوس ورانه ده۔ په دے کښې هم شیخ الحدیث پاتے شویدے۔

د مولانا عبدالرحمنؒ تقریر معارف ترمذی په نوم باندے په دوو جلدونو کښې شائع شویدے۔ مولانا عبدالرحمنؒ هغه شخصیت وو۔ چه کله مولانا تهانویؒ له لاړو۔ او بیعت یی اوکړو۔ نو مولانا تهانویؒ

ورلـه په هغه ورځ خلافت ورکړيدے. د تصوف په سلسله کښې پیرمرید له دومره زرخلافت نه ورکوی په دے باندے ډیر وخت لګی.

او مشکوٰۃ ثانی د ډاکټرحبیب الله مختار شهید نه ما وئیلے ده. د مدینه یونیورسټۍ نه فارغ وو. اودے دَ مولانا بنوری په څومانوکښې یوقابل ترین څوم وو. صاحب د تصانیفو کثیرو دے.

مسنداحمدپه تحقیق کښې شعیب ارناووط ١٠ : ٢٧٨ باندے لیکلے دی : وقد خرجها کلها الدکتور محمد حبیب الله المختار فی کشف النقاب.

د بسم الله برکات

د هدایة النحوشارحین د بسم الله ۵ فوائد او برکات ذکرکوی : کلمة بسم الله فاتقة للمرتوق ومسهلة للوعور وجنة للشرور و شفاء لما فی الصدور وامان یوم النشور. کلمه د بسم الله چه په اخلاص سره اووائی نوبندکار به درته کهولاو شی. ګرانے به درته آسانے شی. او د شرونونه یو ډال دے. د سینے مرضونه به د ختمیږی. او د قیامت په ورځ امان دے. ددینه پس یې الحمد لله اووئی. مشکوٰة ثانی کښې یوحدیث راځی چه کومه خطبه کښې حمد ذکرنه شی : کل خطبة لیس فیها تشهد فهی کالید الجذماء. بل حدیث کښې راځی : کل امر ذی بال لا یبدا فیه بالحمد لله فهواقطع.

بـل حدیث کښې راځی: کـل امـر ذی بال لا یبدا فیه ببسم الله الرحمن الرحیم فهو ابتر. بـل حدیث کښې راځی: کل کلام ذی بال لا یبدا فیه بالحمد لله فهواجزم. (ابوداود ' ابن ماجه 'مجموعة الفتاوی لعلامة ابن تیمیة ١ : ١٦١)

داسے کارچه شان والا وی. هغه په بسم الله یا په الحمدلله سره شروع نه شه. نو هغه کار به اقطع او اجزم وی. علامه البانیؒ په ارواء الغلیل کښې دوه ځایه لیکلے دی چه : ضعیف جدًا. او بیا وائی : مرسل دا روایت صحیح دے. او وجه ورلـه دا ذکرکوی چه په دے کښې راوی کرّا بن عبدالرحمن راوی باندے کلام دے. لیکن جمهوررته حسن وائی.

علامه مبارکپوریؒ مرعات کښې لیکلے دی : حسنه ابن الصلاح. او امام نوویؒ ورته هم حسن وائی. ابن عدیؒ کامل ٦ : ١٠٠ باندے روایت راوړیدے : من رفع قرطاسا من الارض فیه بسم الله الرحمن الرحیم اجلالا لله ان یداس. کتبه الله من الصدقین وخفف عن والدیه وان کانا مشرکین. (ذکره العجلونی فی کشف الخفاء وعزاه للدارقطنی فی الافراد. عن ابی هریرة رفعه لابی الشیخ عن انس رفعه الالبانی). رواة ابن عدی فیه ابان وابوحفص العبدی وابوسالم الرواسی فیبطل الاحتجاج به. اورده ابن الجوزی فی الموضوعات.

ډیرو علماؤ دَ ده توثیق کړیدے.

اشکال : دلته یو سوال دے چه "کل امرذی بال" حدیث دے. نو "بسم الله" وئیل هم یو "امرذی بال"

دے۔ دیله بله "بسم الله" پکار ده۔ او بیا هغه بله "بسم الله" وئیل هم "ذی بال" دے۔ هغلے بله "بسم الله" پکار ده۔ نو دا خو تسلسل دے او تسلسل باطل دے۔

اول جواب: تسمیه په قیاس او دلیل عقلی سره ددے نه مستثنی ده۔ د "ذی بال" نه مراد د "بسم الله" غیر دے۔ **دویم جواب**: تسلسل په امورو خارجیو کښې محال وی۔ او دا امورو اعتباریه دی۔

دریم جواب: او په دے حدیث کښې د "امر ذی بال" نه مراد مقصود اصلی دے۔ یعنی د مقصود اصلی نه شروع کول پکار دی۔ او "بسم الله" اګرچه "ذی بال" دے۔ لیکن دا مقصد اصلی دپاره واسطه او زریعه ده۔ **څلورم جواب**: چه هغے سره د "بال" یعنی د زړه قصد او اراده متعلق وی۔ داسے علامه آلوسیؒ هم په مقدمه د تفسیر کښې لیکلے دی۔

اشکال: که شروع په بسم الله کوو۔ نو الحمدلله را نه پاتے کیږی۔ او که په الحمدلله شروع کوو۔ نو بسم الله را نه پاتے کیږی ځکه ابتداء به په یو څیز باندے کوی۔ دا خو کون الشیء اولاً دے۔ په دے کښې خووسعت نشته۔ **جواب**: شرح تهذیب کښې او په مرقات کښې ملا علی قاریؒ دلته ذکر کړے دی چه ابتداء په دوه قسمه ده: (۱): یو ابتداء حقیقی ده۔ (۲): او بله ابتداء اضافی ده۔

(۱) ابتداء حقیقی دے ته وائی: چه د ټولو امورو نه مخکښې وی۔ یعنی التقدم علی کل شیء۔

(۲) ابتداء اضافی دے ته وائی: چه د بعضے امورو نه مخکښې وی۔ او حکمت القرآن تفسیر کښې: ﴿وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ﴾۔ د لاندے دا عبارت دے۔ اولیت اضافی دے۔ په نسبت د خپلو کشرانو۔ نسبتًا مخکښې وی نو بسم الله په ابتداء حقیقی باندے حمل کړه۔ او الحمدلله په ابتداء اضافی باندے حمل کړه۔ (۲): دویم جواب دادے: چه دا الحمدلله په ابتداء عرفی باندے حمل کړه۔ په عرف کښې ابتداء او افتتاح څه ته وائی بس شروع کول۔ په دے کښې وسعت دے۔ ممتد خبره ده که هغه په بسم الله سره وی۔ او که هغه په الحمدلله سره وی۔ ابتدائی عرفی التقدیم علی شیء۔ ابتدائی حقیقی د موجبه کلیه او ابتدائی اضافی د موجبه جزئیه په حکم کښې وی۔

(۱) ابتدائے حقیقی تعریف: هو الذی لم یتقدمه شیء ۔(۲) ابتدائی اضافی تعریف: الابتداء بالشیء مقدم بالقیاس الی امر آخرًا سواء کان مؤخرا بالنسبة الی شیء آخر اولاً۔ لکه چه د مرفوعاتو بحث په منصوباتو مقدم وی۔(۳) ابتدائے عرفی: هو الذی لم یتقدمه شیء من المقصود بالذات.(التعریفات الفقهیة)

شاه انور کشمیریؒ په فیض الباری کښې لیکلے دی: چه دا ټولے خبرے اوګدے دی۔ لکه ابتداء حقیقی یا اضافی وی۔ او یا دواړه په ابتداء عرفی باندے حمل کوے۔ دا خو په هغه وخت کښې وی چه دواړه حدیثونه جدا جدا وی۔ اودلته خو حدیث او راوی یو دے۔ خو تعبیرات یې مختلف دی۔ د ټولو مطلب ذکر الله دے۔ چه کوم کار شروع کوے۔ او په هغے کښې د الله رب العزت یاد اونه کړے۔

که هغه په تسمیه سره وی ـ اوکه په حمد سره هم وی ـ نو ذکر الله عام دے ـ
او ددے دلیل دادے : چه شیخ عبدالقادر فرهاویؒ په خپل اربعین کښې د ذکر الله لفظ ذکرکړیدے : کل امر ذی بال لا یبدأ فیه بذکر الله فهو اقطع ـ په مسند احمد کښې د ذکر الله ذکر دے ـ تطبیقونه په دوو مختلفو حدیثونو په مینځ کښې وی ـ او دلته دا یو حدیث دے ـ
د مشکوٰة شرح فتح الاله کښې دی : صح انه سئل عن بسم الله الرحمن الرحیم فقال هو اسم من اسماء الله وما فیه وبین اسم الله الأکبر الا کما بین سواد العین وبیاضها من القرب ـ لیکن ددغه کتاب محقق لیکی : چه ابن ابی حاتم په تفسیراو علل کښې ذکرکړیدے ـ لیکن دے ته ئې منکر حدیث وئیلے دے ـ
اسم عین د مسمّٰی دے یا غیر : په دے کښې درے مسلکه دی (۱) : حشویه ، کرامیه او اشعریه وائی : چه اسم د مسمی سره عین دے ـ دواړه د یو څیز غوندے دی ـ او د نفس تسمیه نه غیر دے ـ دا قول سیبویه ، ابن فورك ، باقلانی ته منسوب دے ـ (۲) : دویم مسلك د معتزلو دے ـ اسم غیر د مسمی دے ـ او عین د تسمیه دے ـ (۳) : حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : غوره قول دادے : چه اسم د مسمی او د تسمیه دواړو نه غیر دے ـ لیکن دا نزاع لفظی ده ـ په اسم کښې دوه جهته دی یو د لفظ اسم جهت دے ـ یعنی اسم داسے آواز دے ـ چه هغه منقطع کیږی ـ او حروف مرکبه دی ـ نو بیا اسم غیر دے مسمی نه ـ ځکه چه اسم یو لفظ دے ـ او مسمی ذات دے ـ لیکن دویم جهت دادے چه د اسم نه مراد ذات مسمی واخلے نو بیا عین دے ـ ددے وجے نه امام رازیؒ دیته نزاع لفظی وائی ـ لیکن د علامه آلوسیؒ رجحان د امام رازیؒ نه خلاف دے ـ
" اللّٰه " : علامه ابن قیمؒ وائی : دا په اصل کښې " اله " وو ـ دا سیبویه هم وائی ـ او بدائع الفوائد کښې علامه ابن قیمؒ دا قول صحیح گرځولے دے ـ لفظ د خدا لفظ د الله په حیثیت د علم ئې واخلے ـ نو په هیڅ لفظ ئې ترجمه کول صحیح نه دی ـ داد بعض علماء رائی ده ـ لیکن تفصیل دادے : لفظ د الله کوم چه ذات باری تعالی دپاره اسم ذاتی وی ـ په هیڅ لفظ ئې ترجمه صحیح نه ده ـ البته د صفتی اسماء ترجمه کیدے شی ـ نو لفظ د خدا په معنی د مالك ، د حاکم او د آقا سره د لغت په کتابونو کښې موجود دے ـ او په غیر عربی کښې ئې داسے ترجمه نه شی کیدے ـ چه د لفظ د الله غوندے په کښې جامعیت وی ـ او په لغات کشوری کښې لفظ د خدا یو معنوی تحقیق داسے کوی چه دا مرکب دے ـ د " خُد " جمع " آ " نه ـ یعنی خُدا دا لفظ د خُد آ مخفف دے ـ او اسم فاعل دے ـ او په اسماء حسنی کښې د ظاهراو د شاهد په معنی راځی ـ لیکن د استعمال نه ئې احتراز اولیٰ دے ـ هرچه د " راعنا " استعمال دے ـ نو په هغه ماحول کښې د یهودیانو د غلط انداز د وجے نه هغوی صرف په قبیح کښې استعمالو ـ
" الرحمن الرحیم " : په دے دواړو اسماء کښې علمیت او وصفیت د یو بل معارض نه دی ـ لفظ د

" الرحمن " د " الله " علم هم دے ـ او صفت هم دے ـ اسميت ئی د صفت سره منافات نه لری ـ او " الرحمن الرحيم " کښی صفت د ذات " الرحمن " دے ـ نو د " الله " سره ئی جخت راوړو ـ او په دے خصوصيت سره لفظ د " الرحمن " د لفظ د " الله "سره مشابهت لری ـ ليکن " الرحيم " د " الله " داسے صفت دے ـ چه د " الله " سره خاص نه دے ـ نو په غيرالله ئی اطلاق کيدے شی ـ نو د " الرحمن " نه پس ئی راوړو ـ (اعراب ثلاثين سورة لابن خالويه النحوی) ـ رحمن په اصل کښی صفت بمعنی کثير الرحمة دے ـ ثم غلب علی الغالب فيها حتی لم يسم به غيرالله ـ (فتح الاله) ـ

علماء ليکی : چه د " بسم الله " ۲٦۴۸۸ ترکيبونه کيدے شی ـ او د " بسم الله " نه تعبير په ۷۸٦ سره غلط دے ـ مسلمانان د " بسم الله " د ثواب نه محروم کيږی ـ او اعداد چرته هم د الفاظو بدل نه شی راتلے ـ بلکه يهود اعداد له اهميت ورکوی ـ او هندوانو د خپل معبود د کرشن نعره "هرے کرشنا" جوړه کړے ده ـ ددے د اعداد مجموعه هم ۷۸٦ ده ـ (کشف المعضلة فی مباحث البسملة) ـ

مسئله : تفسير مظهری کښی دی : د ﴿ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴾ په وضاحت کښی چه د ابو هريره رضی الله عنه روايت دے د روټی نه مخکښی " بسم الله وعلی برکة الله " وئيلے شے ـ

علامه آلوسیؒ روح المعانی کښی سورة التکاثر کښی د ايوب يو روايت نقل کړيدے : فضربتم بايديکم فقولوا بسم الله ـ

بسم الله وعلی برکة الله الحصن الحصين : ۱٦۱ باندے شيخنا المحترم علامه محمد ادريسؒ نقل کړے ده ـ هغوی هم د سيدنا ابو هريره رضی الله عنه نه دا نقل کړيدے ـ

او مستدرک کښی دی : خبز ولحم وتمر وبسر ورطب اذا اصبتم مثل هذا فضربتم بايديکم فقولوا بسم الله وبرکة الله ـ (کتاب الاطعمة روايت : ۸۱۷٦) ـ او حاکم ورته صحيح وائی ـ نو " بسم الله و برکة الله " شته دے ـ ليکن د سيدنا ابن عباس رضی الله عنه نه ئی دا نقل کړيدے ـ

غوره بسم الله وئيل دی ـ ليکن برکة الله ته بدعت وئيل صحيح نه دی ـ

مسئله : علامه محمد طاهر پټنیؒ تذکرة الموضوعات : ۸۰ باندے ليکلے دی : چه دا روايت ثابت نه دے ـ چه استاد بچی ته بسم الله وئيل شروع کړی ـ نو داد والدينو دپاره د جهنم نه براء ت دے ـ

دا روايت الکشف والبيان کښی د سورة الفاتحه په فضيلت کښی او بيا د " بسم الله " په فضيلت کښی ۱:۲۱ مطبوعه دارالکتب العلمية بيروت کښی موجود دے ـ د حسام بن سليمان راوی باندے کلام دے ـ او د اللآلی او دغسے کتاب الموضوعات کښی هشام بن سليمان دے ـ امام ذهبیؒ ، امام ابن جوزیؒ او علامه ابن عرّاق ورته موضوع روايت وائی ـ

خطبه د مشکوٰة المصابیح

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سیات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له و من یضلل فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا الله شهادة تکون للنجاة وسیلة و لرفع الدرجات کفیلة و اشهد ان محمدًا عبده و رسوله الذی بعثه و طرق الایمان قد عفت اثارها و خبت انوارها و وهنت ارکانها و جهل مکانها فشید صلوات الله علیه و سلامه من معالمها ما عفا و شفی من العلیل فی تائید کلمة التوحید من کان علی شفا و اوضح سبیل الهدایة لمن اراد ان یسلکها و اظهر کنوز السعادة لمن قصد ان یملکها۔

ترجمه: مونږه حمدونه الله لره بیانوو اونیغ په نیغه مونږه مدد غواړو د رب العزت نه۔ او مونږه پناه نیسو په الله سره د دے نه چه زمونږ د نفسونو شرور ښکاره شی۔ او هغه څوک چه الله ورته هدایت اوکړی څوک نشته گمراه کوونکے د هغه د پاره څوک چه الله گمراه کړی نو هدایت ورکوونکے دے۔ او گواهی ورکوم چه بل معبود د الله نه سوا نشته داسے گواهی چه شی دغه شهادة خالص لپاره د خلاصون یو زریعه او د درجاتو د اوچتوالی د پاره ضامن وی۔ او گواهی ورکوم چه محمد ﷺ د الله بنده او رسول دے۔ هغه ذات چه یی لیږلے دے په داسے حال کښی چه د ایمان د لارو هغه آثار وران شوے وو۔ یا ورانیدو ته نزدے وو۔ اصول او فروع هم خراب شوے وو۔ اخلاص او رنړا ختمه شوے وه۔ په دے دوارو کښی نقصان راغلے وو۔ او په ارکانو کښی هم ضعف راغلے وو۔ د ارکان نه مطلب عبادات او عقائد هم خراب وو۔ او د هغے مکان مکان ظرف دے مکان او یا مصدر میمی د ے۔

او مضبوط کړلو نبی ﷺ دهغے نښے نښانے چه هغه وران شوے وو۔ او نبی ﷺ شفاء ورکړه۔ روحانی بیمارانوله (د روحانی مرضونونه) یعنی د شرك نه ئی توحید طرف ته رابللی دی۔ په کلکوالی د توحیدپه کلمه کښی هغه چاله چه هغه په غاړه د دوزخ باندے وو۔ او ښکاره یی کړل لار د هدایت هغه چاله چه غوختہ یی چه په دے روان شی۔ او ښکاره یی کړل د نیك بختی خزانے دهغه چا د پاره چه قصد یی کړے وو۔ چه ددے څه مالك شم۔

دا مسنونه خطبه په مشکوة کښې دوه ځایه نوره هم راځي. یو مشکوة ثاني په الفصل الثاني کښې په: باب اعلان النکاح والخطبة والشرط کښې. او دویم په: باب علامات النبوة. د فصل اول آخري حدیث دے نبي ﷺ به داسے خطبے په اول کښې وئیلے.

"الحمد للّٰه نحمده": "الحمد للّٰه "جمله اسمیه ده او "نحمده" جمله فعلیه ده. په اصل کښې دا جمله اسمیه جمله فعلیه وه. جمله اسمیه یې ترے جوړه کړه. ددے د پاره چه دا دلالت اوکړي په دوام ثبات او استمرار باندے. او په جمله فعلیه کښې تجدد او حدوث دے. الحمد للّٰه دا جمله خبریه ده لفظًا او معنًا. نحمده دا جمله خبریه ده لفظًا او انشائیه ده معنًا.

"الحمد للّٰه": د الف لام په باره کښې عام علماء کرام وائي: دا جنسي دے. ځوك وائي: دا استغراقي دے. که الف لام استغراقي وي موجبه کلیه ده. او که جنسي وي ماهیت طبعي من حیث هي هي. یعني مطلق شيء بیا مهمله قد مائیه ده. او که ماهیت په معنی د شيء مطلق یعني من حیث العموم وي. نو قضیه طبعیه ده.

او زمونږه استاذان دے له ترجیح ورکوي. چه دا الف لام عهد خارجي دے. ټول صفات د الوهیت او د کارسازۍ صرف الله رب العزت د پاره دي. هسے حمدونه خوته د هرچاکولے شے. تلویح او المنار کښې راځي: چه اصل په الف لام کښې عهد خارجي دے.

"الله": لفظ الله جامد دے. او که مشتق او مشتق منه څه ده؟. نو دا په بیضاوي کښې شته.

"نحمده": دا جمله فعلیه شوه. دلالت کوي په تجدد او حدوث باندے.

د الله رب العزت نعمتونه داسے راوریږي. لکه د برے نه د باران څاڅکي په یو بل پسے خکته راځي.

شکر نعمت ہائے تو چنداں کہ نعمت ہائے تو ذکر تقصیرات ما چنداں کہ تقصیرات ما

"ونستعینه": کله استعانت بالذات متعدي کیږي. او کله په واسطے سره وي. کوم ځائې کښې چه په واسطے سره وي نو په هغے کښې وسیله هم وي. اونیغ په نیغه د الله رب العزت نه مدد غوختل ورسره هم مقصد وي: ﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ﴾ استعانت متعدي شویدے په ب سره. او کله دا متعدي کیږي بالذات. لکه دے ځائې کښې. ملا علي قاري په مرقات کښې لیکلے دي: مونږه د الله رب العزت نه مدد غواړو په حاجاتو دنیویو کښې هم. او په حاجاتو اخریو کښې هم.

او دلته کښې دے مدد غواړی د الله رب العزت نه په کتاب لیکلو کښې چه څه دا کتاب لیکم۔ او دا ډیر ګران کار دے۔

"ونستغفره": که زمانه د کتاب په لیکلو کښې څه کوتاهی کیږی۔ نو څه بخښنه غواړم۔ او مسئله هم داده چه کله نیك عمل اوکړے۔ نو بیا به بخښنه غواړے۔ لکه سورة آل عمران کښې روستو راځی: ﴿وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْأَسْحَارِ﴾۔ او سورة البقرة کښې چه کله دحج احکامات ختم شی۔ نو بیا روستو دا ذکرکوی: ﴿وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ﴾ د الله رب العزت نه بخښنه غواړے۔ او د عرفات نه راکوزیږے۔

تبلیغیان هم وائی: چه کله ګشت ختم شی نو په استغفار سره واپس کیږی۔ ځکه د دین یو کار اوشی نو آخرکښې به استغفار وی نو د عمل په آخرکښې استغفار د نیکانو عمل دے۔

په توبه او په استغفار کښې فرق دے۔ یو تن په تیره زمانه کښې یو کار کړے دے۔ او وائی بیا به څه دا کارنه کوم۔ او دویم په مستقبل کښې مے عزم بالجزم دادے۔ چه دے کار ته به داسے نه ورنزدے کیږم لکه څنګه چه پی د غلانزے نه راوتے پی وی او واپس ورته نه شی تلے۔ څه به توبه کوم او بیا به چرته غلط کار ته نه ورځم۔ دغسے ته نشے وئیلے چه څه ستا د پاره توبه اوباسم۔ او دا وئیلے شے چه څه ستا د پاره استغفار غواړم۔ نو د ګناه نه توبه صرف د الله رب العزت نه غواړی۔

علامه ابن قیمؒ په قصیده نونیه کښې یو دا خبره ذکرکړے ده: وکذا متاب العبد من عصیان۔

کله چه یو بنده توبه اوباسی۔ نو د الله رب العزت په مخکښې به اوباسی۔

علامه ابن قیمؒ مدارج السالکین ۱: ۲۶۴ باندے لیکی: التوبة للشیخ فانها شرك عظیم فان التوبة لا تکون الا لله کالصلوة والصیام والحج والنسك فهی خالص حق الله۔

"ونعوذ بالله من شرور انفسنا": من ظهور شرور انفسنا۔ چه زمونږ د نفسونو دا شرور یعنی ریاء، کبر او عجب ښکاره نه شی۔ یو تن تصنیف کوی او په زړه کښې یی څه غلطے خبرے راشی۔ د هغے نه پناه غواړی۔ یو د بدن او بل دے روح۔ او دا دواړه بلکل د یو بل نه جدا جدا دی۔ یو خکته او بل بره عالَم ربّانی سره تعلق ساتی۔ ددے اتصال د پاره الله رب العزت نفس پیدا کړے دے۔ نو دا نفس د جسم او د روح دواړو سره تعلق ساتی۔

"ومن سئیات اعمالنا": د بدو اعمالو نه څه پناه غواړم۔ پناه غوختلو کښې ځان ته ئی نسبت اوکړو

هسے نه چه څوك اووائي : چه دے ځان ته عقل كل وائي . او ټول نسبتونه صرف او صرف دے خپل ځان طرف ته كوي . نو ورپسے وائي . شرور انفسنا . باطني گناه مراد دے . او سئيات ظاهري گناه وي .

"من يهده الله " . نودوه خبرے دي . يو كسب دے او بل خلق دے . په دے دواړو كښې فرق دے . كسب بنده كوي او خلق الله رب العزت كوي . د اهل السنت والجماعت مسلك دا دے : چه انسان مجبور محض نه دے . او انسان د خپلو افعالو خالق هم نه دے . بلكه انسان كاسب دے . زما كسب دا دے چه څه به پناه غواړم او د شرورونه مے الله رب العزت ته بچ كړه .

هدايت عامه دفع مضرت او جلب منفعت دے : ﴿ أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى ﴾ . (۲) هدايت بمعنی اراءة الطريق : ﴿ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ ﴾ . (۳) بمعنی ايصال الی المطلوب : ﴿ اهدِنَــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ ﴾ .

باقي ضلالت او هدايت كښې څه سوال كولے شم چه هدايت راكړه . او ضلالت نه مے بچ كړه .

په مسنونه خطبه كښې : و نومن به و نتوكل عليه . دا نشته لكه بعضے خطيبان يې چه وائي .

"واشهد ان لا اله الا الله " : . اول يې د جمعے صيغے سره ذكر د نحمده اوكړو . اوس د مفرد په صيغے سره د اشهد ذكر كوي . نو په دے كښې نكته څه ده ؟ . نكته په كښې دا ده : چه نحمده كښې اشاره ده دے خبرے طرف ته چه څه يو اځے قابل د دے نه يم . چه د الله رب العزت حمد څه بيان كړم او هغه څه سر ته اورسوم څو پورے چه ما سره په دے كښې نورملگري نوي شريك شوے . يعني ما سره په دے حمد كښې ټوله دنيا شريكه ده . يو اځے څه نه نورملگري ' انسانان او بلبلان هم د الله رب العزت حمدونه بيانوي .

نه بلبل بر گلش تسبیح خواں نیست   که هر خارے به تسبیحش زبانیست

يو اځے بلبل د الله رب العزت حمدونه نه بيانوي چه په گل باندے ناست دے . هر يو ازغے د الله رب العزت حمدونه بيانوي : ﴿وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ﴾ . نو په دغه اعتبار سره يې حمد د جمعے په صيغے سره ذكر كړو .

او اشهد دا مقام د شهادت دے . مقام د شهادت كښې انسان د بل خبره نه شي نقل كولے . خپله خبره به نقل كوي . چه دده په زړه كښې څه دي نو د صميم قلب نه چه دده كوم آواز راووځي . نو هغے ته

شهادت وائی ۔ او د توحید مقام بناء په تصدیق قلبي وي ۔ چه هغه باطني امر دے ۔
اشهد مقام د جمع او نحمده مقام د تفریق دے ۔ په دے کښي د تفریق مطلب داوي چه ته مخلوق ته هم گورے ۔ اوهغه هم د ځان سره شریك کوے ۔ نبی ﷺ به فرمائیل : اللهم لا احصی ثناء علیك انت كما اثنیت علی نفسك ۔
څه ستا د حمد هغه حق سر ته نشم رسولے ۔

خدا در انتظار حمد ما نیست محمد چشم برراه ثنا نیست

الله رب العزت په دے انتظار نه دے ۔ چه بنده به کله حمد کوي او محمد ﷺ هم سترګے نه دي بره کړے ۔ چه زما تعریف خلق کوي ۔ دا زمونږ خپل سعادت دے ۔ چه د الله رب العزت حمدونه بیانوو ۔
"نحمده" ځکه چه یوانسان ظاهري په حمد کښي بل شریك کولے شي ۔ او اشهد صمیم قلب د زړه اراده د بل انسان نه شي پیژندلے ۔ نو دد ے وجے نه یې " اشهد "مفرد صیغے سره اووئی ۔
" الا الله " : مرقات کښي دي : ای الذات الواجب الوجود صاحب الكرم والجود ۔
"**شهادة تكون للنجاة وسيلة**": ۔ شهادة موصوف دے ۔ او تكون للنجاة وسيلة دا ورله صفت دے ۔
نَجات د ن زبر دے لکه سورة مومن ۴۱ کښي راځي : ﴿وَيَا قَوْمِ مَا لِيٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى النَّجَاةِ وَتَدْعُونَنِيٓ إِلَى النَّارِ﴾ ۔ اشهد کلمه د توحید په داسے شهادت سره وایم ۔ چه دا زما د پاره د آخرت د عذاب نه د بچاؤ یو زریعه اوګرځي ۔ یعني داسے شهادت چه هغه سبب اوګرځي د پاره د دے چه ما د عذاب نه خلاص کړي ۔ "**ولرفع الدرجات كفيلة**": ۔ داسے شهادة د رفع الدرجات د پاره ضامن جوړ شي ۔ ګویا اول دفع د مضرت اوکړے شوه ۔ چه هغه دے نجات ۔ او دویم نمبر جلب منفعت دے اوکړے شي ۔ چه هغه دے رفع درجات ۔ چه په جنت کښي چه کومے مرتبے دي ۔ هغه زما د پاره سوا شي ۔ او دا رفع الدرجات زیاتیږي ۔ علامه مبارکپوری په مرعاة المفاتیح کښي لیکلے دي : چه دا په صدق ، اخلاص ، زړه او د ژبے په موافقت باندے ، ظاهر او د باطن په یوشان والي او په استقامت باندے سوا کیږي ۔ لکه قرآن کریم کښي راځي : ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ﴾ ۔

ملاعلی قاریؒ په مرقات کښې لیکلے دی : چه شهادت په دے هیت کذائیه سره چه ته ادا کړے. نودا بیداری په انسان کښې جزبه د اعمال صالحو راولی. ددینه روستو بیا نیك عملونه کوی. او دا انسان بچ کوی د هغے افعالونه چه هغه غلط وی. او ددے په وجه سره دا انسان د علود درجاتو هغه مرتبه حاصلولے شی. او ددے په وجه سره د جهنم د درکاتونه بچ شی. او درجات د جنت ورته ملاؤ شی.

شهادت چه په صمیم قلب نه وی. نودا باعث جوړیږی ددے د پاره چه دده نه به اعمال صالحه صدور ته نه راځی. او دده نه به بے کاره عملونه صدور ته راځی. دا به سبب د پاره د علو الدرجات نه ګرځی. علوا الدرجات مانع دے. د وقوع الدرکات نه. شهادة تکون للنجاة وسیلة وائی. او د رفع الدرجات د پاره به دا یوذریعه اوګرځی. شهادت چه انسان معروفات کوی. اودمنهیاتونه بچ شی. دا "تکون للنجاة وسیلة" دے. (۲) : ورسره چه دااعمالو پابندی د عقیدے د صحت نه بعد وی. دا لرفع الدرجات کفیلة دے.

قرآن کښې دی : ﴿ وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِناً قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَى ﴾ (طه : ۷۵)

"**واشهد ان محمدًا عبده ورسوله**": عبدیت دا ډیره اوچته مرتبه ده. ملا علی قاریؒ په مرقات کښې اشعار **نقل کړے** دی :

لا تدعنی الا بیا عبدها   فانه اشرف اسمائیا

بیا یې یو بل شعر نقل کړیدے :

و مما زادنی عجبا و تیهًا   و کدت باخمصی اطأ الثریا

دخولی تحت قولك یا عبدی   وان صیرت احمد لی نبیًا

کومه خبره چه ماله په تعجب کښې زیادت راولی. یعنی په کومه خبره څه تعجب کومه. اوحیرانیږمه چه څه پامال کړم په دے دواړو تلود خپو سره ثریا ستورے. دومره اوچت لاړم چه ثریا ستورے پائمال کوم په هغے باندے خپے ایږدم. ډیر خوشحاله یم والوتم دا په څه. نو یو په دے خبره چه څه په دے کښې راغلم : ﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ﴾ : ﴿ يَا عِبَادِ فَاتَّقُونِ ﴾

چه ما ته یې نسبت د عبدیت کړیدے. او دویمه وجه داده : چه زمونږ د پاره یې پیغمبر جناب محمد رسول اللهﷺ خائسته او ښکلے پیغمبر جوړ کړے دے. نو عبدیت یې اول ذکرکړو. اورسالت یې وروسته ذکرکړو. او عبده و رسوله کښې دا اضافتونه د شرافت دی. او په دے کښې اشاره ده کمال

مرتبے د عبودیت تہ چہ د عبودیت دا مرتبہ ډیرہ زیاتہ اوچتہ دہ۔ قرآن کښی دی: ﴿ سُبْحَانَ الَّذِیْ أَسْرَی بِعَبْدِهِ ﴾ ﴿ فَأَوْحَی إِلَی عَبْدِهِ مَا أَوْحَی ﴾ ﴿ وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ ﴾ ﴿ لَّن يَسْتَنكِفَ الْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْداً لِّلّهِ ﴾. ﴿ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيّاً ﴾ قرآن کریم ترینہ ډک دے۔

عبودیت او رسالت یی دوارہ دلتہ پہ دے غرض باندے راوړو۔ چہ پہ دے کښی پہ عیسایانو باندے تعریض دے۔ پہ دین کښی بہ غلونہ کوے۔ د نبی ﷺ بہ داسے مدحہ هم نہ کوے۔ چہ هغہ تہ الوهیت او خدائیتوب تہ اورسوے۔ او نہ بہ د هغہ توهین کوے۔ دا بہ نہ وائی چہ تش زما غوندے عبد دے۔ نہ "عبد انعمنا علیه" داسے عبد چہ ما پرے انعام کړیدے۔

نبی ﷺ فرمائی: لا تطرونی کما اطرت النصاری عیسی بن مریم۔

او بیا یی اوفرمائیل: چہ څہ د اللہ رب العزت بندہ او رسول یم۔

"**الذی بعثه**": هغہ پیغمبر چہ اللہ رب العزت لیږلے دے۔ محمد دا نوم د یو ثلورو پنځو کسانو وو۔ د نبی ﷺ پیدا کیدلو نہ مخکښی۔ خولیکن دا نوم ورلہ اللہ رب العزت ایخے دے۔

پنځہ انبیاؤ لہ اللہ رب العزت نومونہ ایخودے دی۔ یو پہ کښی محمد ﷺ دے۔ او پہ انجیل کښی احمد دے: ﴿وَمُبَشِّراً بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ ﴾۔ دویم عیسی علیه السلام او دریم یحی علیه السلام، ثلورم یعقوب علیه السلام او پنځم اسحق علیه السلام۔ (اتقان)۔

دا امت حمادون دی هر وخت دا وائی الحمد للہ۔ او نبی ﷺ فرمائی: بیدی لواء الحمد۔ زما پہ لاس کښی بہ د حمد جهنډا وی۔

مشکوٰۃ کښی یو روایت راځی: چہ کلہ د یو تن بچے مړشی۔ هغہ پلار لہ بہ یو بنګلہ جوړہ شی۔ هغے لہ بہ نوم بیت الحمد کیږدی۔ یو شاعر وائی:

وشق له من اسمه لیجله فذو العرش محمود و هذا محمد

(ابن کثیر، معالم التنزیل للبغوی)

حدیث کښی راځی: چہ د ابولهب ښځے یا نورو مشرکانو بہ نبی ﷺ تہ مذمم وئیلو۔ نو نبی ﷺ فرمائی: چہ اللہ رب العزت زما نہ دا خبرہ واړولہ۔ څہ خو مذمم نہ یم څہ خو محمد ﷺ یم۔

د بعث یو معنی دہ د خوب نہ پاڅیدل لکہ سورۃ انعام ٦٠ کښی راځی: ﴿ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ ﴾ بیا بلہ ورځ تاسو

راویخ کړی۔ او دلته کښی د بعث معنی ده لیږل ۔ هغه پیغمبر چه اولیږلو په داسے حال کښی۔

"وطرق الایمان قد عفت اثارها" :- د ایمان د لارو آثار وران شوے وو۔ "طرق الایمان" مضاف مضاف الیه په ترکیب کښی مبتداء ده۔ او " قد عفت اثارها " ورله خبر واقع شوے دے۔ " وطرق الایمان" دا جمله حالیه ده په داسے حال کښی یی اولیږلو۔ چه د ایمان هغه آثار ختم شوے وو ۔ څه مطلب ؟۔

ملا علی قاریؒ او علامه مبارکپوریؒ دے یی هم د ملا علی قاریؒ نه لیکی دواړه وائی : چه په داسے وخت کښی یی راولیږلو۔ چه د خلقو ورته حاجت وو۔ فی حال کمال احتیاج الناس الیه ۔

د مسلم په حدیث کښی راځی : الله رب العزت چه دے دنیا ته اوکتل : فمقتهم عربهم وعجمهم ۔ دا دنیا یی بدی شوه عربیان او عجمیان یی بدے شو ۔ بیا الله رب العزت فیصله اوکړه ۔ چه څه پیغمبر جوړوم ۔ هغه له به قرآن کریم ورکومه ۔ چه په دے قرآن کریم سره د ایمان لارے تازه کړی۔ د خلقو ورته حاجت دے۔ دا خلق انتهائی په ګمراهی او جهالت کښی وو څوك داسے نه وو۔ چه هغوی شریعت ته اورسی د عیسٰی علیه السلام آسمان ته د ختلونه بعد څه لږ کسان وو۔ چه هغه متبعین د عیسٰی علیه السلام وو ۔ او هغوی هم په میدان کښی نه وو۔ بلکے تختیدلے وو۔ او په غرونو کښی دیره وو۔ او څه لږکسان داسے وو۔ چه هغه مؤحدین وو د جاهلیت د دور۔ لکه قرآن کریم ورته اشاره کوی : ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴾ په هغے کښی زید بن عمروبن نفیل، ورقه بن نوفل او قیس بن ساعده وو۔ او نور عام خلق په تیاره کښی پراته وو۔ : ﴿ فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ، الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ، وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴾ شپه وه ﴿ وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴾ (سورة التکویر) صبا شو۔ چه کله نبی ﷺ ساه واغستو۔ او دنیا ته راغے او نبوت ورته ملاؤ شو۔ نود جهالت تولے تیرے خورے او ختمے شوے او نور راغے ۔

طرق الایمان د ایمان لارے څه دی ؟۔ (۱) : اول قول دادے : دانبیاؤ او د رسولانو خودلے شوے لارے، کتابونه او د پیغمبرانو تابعدار علماء ۔ (۲) : دویم قول دادے : چه علوم، معارف، اعمال صالحه، آداب مرضیه، مجاهدات نفسیه، ریاضات بدنیه صفات جمیله او اخلاق حمیده۔ دے سره انسان ته د ایمان تکمیل ملاویږی۔ صحیح عقائد اول ضروری دی۔ (۳) : فتح اله شرح کښی دی : چه د تصدیق اجزاء مراد دی۔ په الله، رسولانو او ملائکو۔

" عفت اثارها ": د عفٰی معنی ده ورانیدل. عفوه معافی او درګزری ته وائی. په نوے عربئ کښی معفاة ربړ ته وائی چه په پنسل باندے کرخه راخکے. او په ربړ یی اورانه کړے.

آثار نښو ته وئیلے کیږی: ان اثارنا تدل علینا فانظروا بعدنا الی الآ ثار

" قد عفت آثارها ": په دے امورو نه علم وو او نه عمل.

"وخبت انوارها ": - خبت معنی ده مړه کیدل یا مړه کیدو ته چه نزدے شی. لکه قرآن کریم کښی راځی: ﴿كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا﴾ (سورة الاسراء : ۹۷) چه د جهنم لمبے مړے شی نو مړے کیږی نه- د جهنم لمبے مړے کیدو ته نزدے شی. نو﴿ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا ﴾ نو مونږ ورله دا اور نور بل کړو. د هغے انوار مړه شوے وو. یا مړه کیدو ته نزدے شوے وو. ''انوارها " د اخلاص د علم صحیح وجود د دنیا نه اوتے وو. چه انبیاء کرام علیهم السلام کوم شرائع راوړے وو. په هغے باندے عمل ختم شوے وو. اعمال ، اخلاق او آداب ناپید وو.

"ووهنت ارکانها ": - په ارکانو کښی کمزورتیا راغلے وه. دا بنیادی ارکان کوم کوم دی نو.(۱) اول قول دادے : التوحید ، النبوت ، الایمان او بعث بعد الموت دا ترینه مرا د دی. (۲) دویم قول دادے : چه دینه مراد صلوة ، زکوة او ټول عبادات دی.

"وجهل مکانها ": - او مکان یی مجهول وو. ځائی هم چاته نه وو معلوم. په هغه لاره څوك تلے نه دی. خوشے او شاړے دی. چا اهتمام د دے نه دے کړے چه دا دے ماته حاصل شی.

" فشید " : - د شید معنی ده مضبوطیا په یو څیز باندے. پلستر او چونه لګول. قرآن کریم کښی راځی: ﴿ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾ - (سورة النساء : ۷۸) - اګرچه تاسو په هغه کورونو کښی یی چه هغه چونه ګشت دی.

"صلوات الله وسلامه علیه ": - دا جمله مینځ کښی جمله معترضه ده. " من معالمها"- د هغے نښے نښانے چه ورانے شویوے. " ما عفی " - دا ما موصوله واخله داده شید د پاره مفعول به دے شید ما عفٰی. چه کوم وران شوے وو. هغه یی مضبوط کړل.

"و شفٰی من العلیل ":- شفی او علیل یعنی صحت او مرض دا دواړه تضاد لري ـ دے جنسونو کښې جنس د طباق راغلے دے. او جنس د طباق هغے ته وئیلے کیږي چه د یو بل سره ضد والے راغلے وي. طباق کامل په کښې معنوی طور دے. او جناس تام په کښې لفظًا دے.

" من العلیل " بیان مقدم دے. او " علی الشفاء " مبین مؤخر دے.

مسئله : نبی ﷺ ته د شافي نسبت ټیك دے او که نه ؟. نسبت یې نبی ﷺ ته کړیدے. چه دے نبی ﷺ شفٰی ورکړه. نسبت صحیح دے. خو د دے شفاء نه به دا معنی نه اخلے چه مرضونه لرې کوي او قحطونه ختموي لکه درود تاج کښې راځي : دافع البلاء والوباء والقحط والمرض والالم - دا به ترینه نه اخلے بلکے د دے نه به د شرك مرض اخلے. لکه نبی ﷺ فرمائي : انا الماحی الذی یمحو الله بی الکفر. څه هغه ماحی یم چه زما په وجه سره الله رب العزت د خلقو نه دا کفر او شرك ختموي.

نو په شفٰی کښې دا نسبت نبی ﷺ ته ټیك دے. دا داسے دے لکه "روف رحیم" وئیلے شي. نو په دے اعتبار ورته وئیلے شي. چه نبی ﷺ خلقوله د شرکیاتو او د غلطو کارونو نه یو قسم له شفاء ورکړه. او دلته کښې لفظ د توحید راغے. پخوا به بعض عالمانو وئیل چه مونږه خود توحید لفظ چرته په کتاب کښې نه دے لیدلے. دلته مشکوة کښې لفظ د توحید راغلے دے.

" شفا " : شفا معنی ده غاړه څوك چه د جهنم په غاړه باندے وي. شفٰی او شفا په دے دواړو کښې صنعت د جناس دے. لکه مختصر المعاني کښې راځي : یحی او یحیا د شفٰی معنی ده شفاء ملاویدل او د شفا معنی ده غاړه د دوزخ : ﴿ وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ﴾ (آل عمران : ۱۰۳). علامه قشیری ؒ فرمائي :

قطعنا الأخوة من معشر	بهم مرض من کتاب الشفاء
و کم قلت یا قوم انتم علی	شفا جرف من کتاب الشفا
فلما استهانوا بتنبیهنا	رجعنا الی الله حتی کفی
و ماتوا علی دین ارطالس	و عشنا علی سنة المصطفی

(مجموع فتاوی ۵ : ۱۳٦)

ما دے منطقیانو ته څوځله اووئي. گورے تباه شوے. قرآن کریم نه وائي او تفسیر نه زده کوے. هر

وخت قاضی مبارك اوشفا وائی۔ او د ارسطو په دين باندے مړه شوے۔ او مونږه د نبی ﷺ په طريقه باندے خپل ژوند تيره وو۔ "**سبيل**": ۔ سبيل په عربئ كښى مذكر او مؤنث دواړه راځی :﴿قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ﴾ (سورة يوسف : ۱۰۸)۔ د سبيل خپله معنی ده د باران هغه څاځكی چه د برے نه صفا صفا راځی۔ او لا زمكے ته نه وے رارسيدلے۔ ځكه چه زمكے ته راورسی۔ نو آلودگی په كښى وی ـ خاوره ورسره يو ځائی شی۔ او سورة الحجر ۷٦ كښى دی : ﴿وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ﴾۔ مذكر استعمال شويدے۔

"**اراد**": ۔ اراد او قصد كښى اشاره ده دے خبرے ته چه الله رب العزت يی داسے نه دركوی۔ كيف ما اتفق ته اراده نه لرے۔ او تا له دی دركړی۔ او ته قصد نه لرے۔ چه تا له دے د يو منقبت حصول دركړی۔ ﴿أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَارِهُونَ﴾ (سورة هود : ۲۸)۔ ددے د پاره به ژړا او محنت پكار وی۔ نو هغه چاله يی وركومه۔ ان يملكها چه په دے پسے روان شی۔

"**واظهر كنوز السعادة لمن قصد ان يملكها**": ۔ د كنوز السعادة نه مراد ايمان، اسلام، احكام، عبادات، شريعت او طريقت دے۔ او ددے ذكر راروان دے۔ په حديث جبرائيل عليه السلام كښى۔ نو دا خزانے دی د نيك بختيا د پاره۔

"**اما بعد**": ۔ اما بعد په خطبواو په خطونو كښى د نبی ﷺ نه "اما بعد" ثابت عمل دے۔ په دے باندے ابوداود باب هم تړلے دے۔ او بخاری كښى هم روايات راځی چه نبی ﷺ اما بعد وئيلے دے۔ علامه البانیؒ په ارواء كښى ليكلے دی : چه اما بعد په ډيرو احاديثو سره ثابت دے۔ البانیؒ ليكی : وروی البخاری فی الادب المفرد (۱۱۲۱) عن هشام بن عروة قال رأيت رسائل النبی ﷺ كلما انقضت قصة قال "اما بعد" واسناده صحيح ۔ (ارواء الغليل : ۳۸)۔

دغه شان عبدالقاهر فرهاویؒ په اربعين كښى ليكلے دی : چه تقريباً د ۴۰ صحابه كرامو‌ؓ نه اما بعد په داسے مواقعو كښى ثابت دے۔ بعضے خلق بَعْدُ ذكر كوی خو دا ثابت نه دے۔ او اما بعد دا خو بلكل مسنون دے۔ مولانا موسٰی خانؒ په اما بعد باندے مستقله يوه رساله ليكلے ده۔ دے په جامعه اشرفيه كښى شيخ الحديث وو۔ او د پنډی شيخؒ شاگرد وو۔ او ډير قابل سړے تير شويدے۔ په لفظ د

الله یې ۹۰۰ صفحے کتاب " فتح الله بخصائص اسم الله " لیکلے دے۔ او د بیضاوی مقدمه یې په دوو جلدونو کښې لیکلے ده۔

"امابعد" :۔ اما شرطیه دے۔ د "بعد" درے حالته لري۔ په دوو حالتونو کښې معرب دے۔ (۱) : چه مضاف الیه ئې ذکر کوی۔ لکه " من قبل ذالك ومن بعد ذالك " ۔ (۲) : چه مضاف الیه ئې لفظًا هم نه وی ذکر او په نیت کښې هم نه وی مراد بلکه نسیًا منسیًا او هیره تیره وی نو معرب دے۔ لکه " من قبل ومن بعد " معرب به وی۔

فساغ لی الشراب وقد کنت قبلًا اکاد اغص بالمآء الحمیم

(۳) : دریم حالت کښې مبنی دے۔ چه مضاف الیه په لفظ کښې نه ده ذکرشوے۔ خود زړه په دنیا کښې شته دے۔ لکه : " من قبل ' من بعد ' لله الامر من قبل ومن بعد ۔

اول " اما بعد" چا وئیلے دے ؟

په دے مسئله کښې اختلاف دے۔ څوك آدم علیه السلام یا یعرب بن قحطان یا قیس بن ساعده یادوی۔ او په ټولو کښې غوره قول دادے : چه دا اول داود علیه السلام وئیلے دے۔ او په طبرانی کښې په یو ضعیف روایت کښې راغلی۔ او د نورو په نسبت دا قول اولیٰ دے۔ علامه تفتازانیؒ وائی : چه کله یو خبره ختمو ے۔ او بله شروع کوے۔ نو په داسے وخت کښې به کوم لفظ راوړے۔ لکه بعضے کتابونو کښې فصل راغلی سورة ص ۵۵ کښې راغلی : ﴿ هَـٰذَا وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ ﴾ دا خو دے واوریده۔ نو وروستو دویم بحث د طاغینو شروع کوی۔ دا اما بعد مخکښې چه کومه خطبه وه۔ نود هغے نه ځان راوباسی۔ دویمه یوبله خبره شروع کوی۔ او دا بعد مبنی علی الضم دے لکه " لله الامر من قبل ومن بعد " ددے مضاف الیه دے۔ بعد البسملة و بعد الحمدلة و بعد الصلوة علی النبی ﷺ ۔ لکه دا درے واړه خبرے مخکښې ذکر شوے دی۔ ددے نه پس څه خبره کومه " اما بعد"۔

د اما بعد نه روستو اول صاحب د مشکوة باعث د تالیف د مشکوة ذکرکوی ۔ چه ما دا مشکوة ولے اولیکلو۔ په دے ضمن کښې دویمه خبره د فضیلة الحدیث څکه ذکرکوی چه کتاب یې په حدیث کښې دے : فان التمسك بهدیه لا یستتب ۔ عبارت راروان دے۔

چه کله یو تن مستقل کتاب اولیکی۔ اویا خودا کتاب مستقل نه دے لیکلے شوے۔ بلکے ددے

تعلق د مصابیحو د کتاب سره دے۔ نو دے به فضیلت او اهمیت د مصابیح هم ذکرکوی۔ چه ما ولے د مصابیح د پاره د خپلے شرحے انتخاب کړے دے: وکان کتاب المصابیح الذی صنفه الامام محی السنة قامع البدعة ابومحمد الحسین سره۔

دریمه خبره داده: چه هغه کتاب اولیکلو۔ نوتا ولے کتاب لیکلو۔حدیثوکښی کتاب وو۔ نو څه ضرورت راپیښ شو۔ چه تا د هغے نه پس په کتاب کښی ردو بدل اوکړو۔ او د هغے شرحه دے اوکړه. وجه یې داده چه د مصابیح په کتاب کښی څه نقصانات وو۔ نوما د هغے نقصاناتو ازاله اوکړه۔ او بیان د تصرف به خپل کتاب کښی ذکرکوی۔ چه د هغے په وجه سره د مصابیح او د مشکوٰة په مینځ کښی فرق هغه واضح شی۔ او د خطبے په آخرکښی به دا ذکرکوی۔ چه ما دے کتاب له نوم ایخے دے "وسمیت الکتاب مشکوٰة المصابیح" او ورسره دعا غواړی۔ دا خلاصه شوه د اما بعد نه د کتاب الایمان پورے۔ ددے راتلونکو مباحثو۔

اوله خبره د "اما بعد" نه چه شروع کیږی۔نو هغه د احادیثو اهمیت دے۔ او هغه داده چه یوتن دا غواړی چه ما ته دے هدایت ملاؤشی۔ نو دا بغیر د دوو څیزونه نه ملاویږی۔ یوقرآن کریم او بل احادیث۔ د قرآن کریم د اجمال وضاحت نبی ﷺ په احادیثو سره کړید ے۔

(۱):د اثر الحدیث الشریف په مقدمه کښی: ۲٦ باندے دی: چه امام ابو حنیفهؒ فرمائی: لم تزل الناس فی صلاح مادام فیهم من یطلب الحدیث فاذا طلبوا العلم بلاحدیث فسدوا۔ (میزان الکبری ۱ : ۵۱)۔

(۲): امام شافعیؒ یوځل حدیث بیان کړو۔شیخ حمیدی چه د امام بخاریؒ استاذ دے۔ ورته وائی: اتاخذبه ؟ فقال الشافعی رأیتنی خرجت من کنیسة علی زنار۔ (بحواله طبقات الکبری ۲ : ۱۳۸)۔

(۳): امام مالکؒ فرمائی: السنة سفینة نوح من رکبها نجا ومن تخلف عنها غرق۔ (مفتاح الجنة)۔

(۴): امام احمدؒ فرمائی: من رد حدیث رسول الله ﷺ فهوعلی شفا هلکته۔

(مناقب الامام احمد لابن الجوزی : ۱۸۲)

چه کله دا خبره وه چه د احادیثو اهمیت وو نوما په فنونو کښی د احادیثو انتخاب په دے وجه باندے کړیدے.

"فان التمسك بهدیه لا یستتب الا بالاقتفاء لما صدر من مشکوته والاعتصام بحبل الله لا یتم الا ببیان کشفه": - **ترجمه**: یقیناً راتینګول د هدی د نبی ﷺ دا نه حاصلیږی۔ مګر په اتباع سره د هغے چه هغه صادر شوے دی۔ د سینے د نبی ﷺ نه۔ او منګولے لګول د الله رب العزت په

رسیږ چه قرآن کریم دے۔ او دا نه تام کیږی مگر په بیان د کشف د نبی ﷺ سره۔
دهدی معنی ده د نبی ﷺ هغه طریقه چه چلنده وی۔ په هغے باندے هغه استمرار کړے وی۔
یو خود نبی ﷺ یو طریقه ده عمل یی پرے کړیدے۔ انکار ترے نشته۔ خو یو وخت یی کړیدے "واقعة الحال لا عموم لها"۔ لکه په حدیث د بخاری کښی راځی: چه نبی ﷺ په اولاړه باندے واړه بول کړیدی.
خو لیکن هدی د نبی ﷺ دا نه ده۔ چه واړه بول یی په اولاړه باندے کول۔
علامه ابن قیمؒ کتاب دے "زاد المعاد من هدی خیر العباد۔ د نبی ﷺ طریقه داده۔ دے وائی: چه د نبی ﷺ هدی دا نه ده۔ چه جنازه به یی په تاوه باندے کوله۔ داسے چه جنازه به یی په جماعت کښی کوله په جماعت کښی هم شوے ده۔ رابه شی په جنائز کښی۔ خو دا ده نبی ﷺ هدی یعنی طریقه مستمره نه ده: ان خیر الهدی هدی محمد ﷺ۔
او اعلام الموقعین ۲: ۳۸۷ باندے دا عبارت دے: بل فعلها فی غیر المسجد افضل من فعلها فیه۔
هدی د نبی ﷺ اقوال وافعال واحوال ته وائی۔ چه استمرار ئی پرے کړے وی۔
علامه ابن قیمؒ زاد المعاد ۱: ۸۲ کښی لیکلے دی: وفی حدیث ابن عجلان ما یدل علی انه کان ینهض علی صدور قدمیه وقد روی عن عدة من اصحاب النبی ﷺ وسائر من وصف صلوته لم یذکر هذه الجلسة وانما ذکرت فی حدیث ابی حمید ومالك بن الحویرث ولو کان هدیه فعلها دائما لذکرها کل من وصف صلاته ومجرد فعلها لها لا یدل علی انها من سنن الصلوة الا اذا علم انه فعلها علی انها سنة یقتدی به فیها۔
"لایستتب": ۔ معنی یی کړے ده: لا یستقیم، لا یستمر۔ دا نه برابریږی دا استمرار نه شی لرلے دا نه شی حاصلیدے: الا بالاقتفاء۔ **"بالاقتفاء"**: ۔د چا په قفی یعنی شاتے پسے تلل: ﴿وَقَفَّيْنَا مِن بَعْدِهِ﴾ (سورة البقرة: ۸۷)۔ ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾۔ (سورة الاسراء: ۳۶)۔
"مشکوته": ۔ چه کوم کنستل په دیوال کښی شوے وی هغے ته مشکوۃ وائی۔ پښتو کښی ورته درے او تاخ وائی۔ د مشکوۃ درے معنی دے (۱) سینه (۲) زړه (۳) خوله۔ خو غوره قول دادے: چه مراد ترینه سینه ده۔ او په مشکوۃ کښی براعة الاستهلال دے اول یی ذکر کړو "من مشکوته"۔
یو پرویزی وائی: چه څه به اعتصام بحبل الله کومه: ﴿وَمَن يَعْتَصِم بِاللَّهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا﴾. (سورة آل عمران: ۱۰۱، ۱۰۳)۔

اوزما حدیثو طرف تہ ضرورت نشتہ۔ نودا دروغ دی بغیرد احادیثو نہ د قرآن کریم وضاحت نہ شی کیدے۔ عمران بن حصین رضی اللہ عنہ تہ یو تن دا خبرہ اوکڑہ چہ ما لہ بہ جواب صرف پہ قرآن کریم سرہ راکوے۔ نودے ورتہ غصہ شو۔ او ورتہ یی اووئیل چہ پہ قرآن کښې د رکعتونو تعداد شتہ۔ د فرائضو او د واجباتو ذکر پہ کښې شتہ وغیرہ۔ نودا نشتہ پہ قرآن کریم کښې۔ (الکفایہ : ۱۵).

او سعی طواف وو(۷) چکرے۔ (الأبانة ۱ : ۲۳٤ نمبر ٦٧ ' معجم کبیر ۸ : ۱۸۲).

عبداللہ چکڑالوی دہ بہ د احادیثونہ انکارکوو۔ نو پہ دہ باندے دا سوال شوے دے۔ طلوع اسلام رسالہ کښې پرویز لیکلے دی چہ تہ ماتہ د قرآن کریم نہ د مونځونو رکعتونہ ثابت کړہ۔ دہ ورتہ پہ جواب کښې وئیلے دی :﴿ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ﴾. (سورة النساء : ۳ ' سورة فاطر : ۱)۔ نو پہ دے کښې خود رکعتونو ذکر نشتہ۔ دا خو یا د ښځو بیان دے۔ او یا د ملائکو د وزرو بیان دے۔

داسے څوک نشتہ چہ هغہ اووائی چہ بے د احادیثو نہ څہ د قرآن کریم نہ خپلہ تولہ خبرہ اغستے شم نو احادیث بہ ورلہ ضروری وی۔

مرقات کښې دی : کل العلوم سوی القرآن مشغلة الا الحدیث والا الفقه فی الدین

العلم متبع مافیه حدثنا وما سوی ذالك وسواس الشیاطین

" والاعتصام " :۔ دا منصوب او مرفوع دواړہ وئیلے شے۔

"ان التمسك " کښې د إن اسم جوڑے نو " الاعتصامَ " اووایہ "ان التمسك وان الاعتصامَ " ۔ او کہ "الاعتصامُ "وائی نو ددے عطف د تمسك پہ محل باندے دے۔ محل تمسك چہ دے هغہ مرفوع دے ځکہ د ان اسم چہ وی هغہ محلاً مرفوع وی۔ دادہ مبتداء پہ ځائی کښې راغلے وی۔

"بحبل الله ":۔ ددے نہ مراد قرآن کریم دے۔ او دادہ ترمذی پہ حدیث کښې د حارث الأعور راځی۔ وفیه مقال۔ اګرچہ لږ کلام پہ دے کښې شتہ : فیه نبا ما قبلکم و خبرما بعدکم ۔ یو پہ کښې دا چہ قرآن کریم حبل اللہ دے۔ او د ابو موسٰی اشعری رضی اللہ عنہ خبرہ دادہ چہ دا حبل اللہ دے۔

بل حدیث کښې راځی : هو حبل الله الممدود من السماء الی الارض ۔ دا یو رسی اوږدہ شوے دہ۔ د آسمان نہ زمکے طرف تہ راغلے دہ ۔ نو قرآن کریم رسئ دہ ۔ کوم کسان چہ د ضلالت او د جهالت پہ کوهیانو کښې غورځیدلے دی۔ نو د قرآن کریم پہ رسی بہ دوی راوباسے۔

"لا یتم الا ببیان کشفه ": - دا اضافت بیانیه دے. دا به هله کیږی چه دددے وضاحت اوشی. دا بیان یی په خپله باندے کشف دے بیان او کشف یو شی ء دے. بغیر د حدیث نه قرآن کریم نه حل کیږی. اوتا ته بغیر د حدیث نه هدایت او اتباع النبی والا دولت نشی ملاؤیدے. بله خبره داده چه کتابونه خو ډیر دی نو څه وجه ده چه ته مستقل کتاب نه لیکی. او د کتاب د محنت مرکز دے. کتاب المصابیح جوړ کړیدے. نو وجه ورله ذکر کوی د کتاب د مصنف د مصنّف د دواړو حالات دی.

"و کان کتاب المصابیح الذی صنفه الامام محی السنة قامع البدعة ابو محمد الحسین بن مسعود الفراء البغوی رفع الله درجته اجمع کتاب صنف فی بابه ": -

" قامع ": - په لفظ د قامع کښی مبالغه ده داسے نه وائی چه قاطع د بدعت دے. څکه چه په دے کښی مبالغه نشته قاطع خودیته وائی: لکه انګور دی. او ته یی کټ کړے او جړے ورله پریدے. بل کال به بیا رازرغونه شی. او قامع دیته وائی: چه ویخ او زیلے ورله راوباسے. د بدعاتو زیلے او جړے یی راویاسلے دی. نو د بدعتی او د بدعاتو جړے به ختموے. دے له به مضبوط لاس ورړے اوپره لاس به ورته نه اچوے. غوږ به شے شرغشی دی. هسے اوپره به بدعت بدعت نه کوے. د ویخ نه به شیء ورانوے.

"رفع الله درجته ": - چه چا ځان خکته کړے دے. نو الله رب العزت ورله درجات ورکړے دی. دا لږ روستو هم راځی: لا الی جناب الشیخ رفع الله قدره فی الدارین - حدیث کښی راځی نبی ﷺ فرمائی: من تواضع لله رفعه الله - په یو سړے کښی څومره تواضع وی. نو هغه الله رب العزت دومره اوچتوالے ورکوی. او چه یو سړے کښی څومره تکبر وی نو الله رب العزت یی روکوی او تباه کوے یی.

"اجمع کتاب ": - داده کان د پاره خبر دے: وکان کتابُ المصابیح اجمَع کتاب. کتاب المصابیح مضاف مضاف الیه دکان د پاره اسم او "اجمع" ورله خبر- د ټولونه جامع کتاب وو. د جامع تعریف مخکښی تیر شویدے. او په باب د احادیثو کښی یی جامع کتاب لیکلے وو.

د علامه بغویؒ د کتاب " مصابیح " په مقدمه کښی دی: اما بعد فهذه الفاظ صدرت عن صدر النبوة وسنن سارت عن هدی الرسالة.

"واضبط لشوارد الاحادیث واوابدها": ـ دضبطه معنی ده راګیرول یو "شوارد" او بل "اوابد" لفظونه راغلـے دی ـ شوارد دیته وائی: چه هغه احادیث چه په غتو غتو کتابونوکښی موجودوی خولیکن طالب علمان هغے ته نه شی رسیدلے ـ د دوی د وس نه بهر خبره ده ـ
اوابد د آبدة جمع ده ـ هغے ته وائی چه معنی مرادی ئی معلوم نه وو ـ
اوس خو خبره آسانه ده پخوا زمانه کښی کتابونه ناپید وو ـ ډیرکم به وو ـ نو د هغے نه یې تعبیرکړے دے په شوارد سره او د اوابد معنی ده تریدونکی چه نفرت وی په کښی ـ شوارد چه مآخذئی معلوم نه وی ـ نو مطلب دا که بعضے کتابونه هم وو ـ نو هغه داسے وو ـ که رسائی ورته کیدے هم شوه ـ خو معنی مقصودی باندے دلالت په هغے کښی واضح نه وو ـ په دے کښی خفا او ابهام وو ـ
شوارد هغه احادیث چه په اصولو کښی موجود وی ـ خو په طالیبانو پټ دی ـ چه دا به کوم ځائی وی ـ او اوابد هغه احادیث چه په هغے کښی دلالت په دے معانی مفاهیمو باندے په خفی درجه کښی موجود دے ـ او د احادیثو تشبیه یې د ځناورو سره ورکړے ده ـ یو خو هغه ځناور دی چه غره ته تختیدلے وی ـ او اوډو پته نه یې لګی ـ دغه شوارد دی ـ او یو داسے دی چه پته یې لګی خو هغه غر ډیر دنګ دے ـ په هغه ځائی کښی لږه خفا موجوده ده ـ نو څنګه چه د غرونو ځناور اوتریږی ـ نو د هغے ضبط کول ګران کار دے ـ هغوی توپ وهی نیول نه ورکوی ـ ځان اوباسی نو دے احادیثو توپونه وهل ـ حدیث کښی راځی نبی ﷺ فرمائی: قرآن کریم به کلك رانیسے ـ او یاه وے یې دا ګورے توپ وهی اوځی لکه څنګه چه اوښ د پړے نه پرانزے اوتختی ـ
الحق الصریح ص: ۲۴ باندے لیکلے دی: دلته یې تشبیه د احادیثو ورکړے ده ـ د هغه حیواناتو سره چه په لاس نه راځی ـ دا بے ادبی نه ده بلکه دا تشبیه صرف په تنفراوناشنا والی کښی ده ـ انتهی ـ
خبره یې تیك ده څوك به دا نه وائی چه ګوره حدیث ته یې ځناور اووئی ـ
امام نوویؒ هم تشبیه ورکړے ده: الحدیث کالحیوان ـ حدیث د حیوان غوندے دے ـ (مقدمه نوویؒ) ـ
لکه حیوان بغیر دخپو نه نشی اودریدے ـ نو حدیث بغیر د سند نه نه اودریږی ـ په تشبیه کښی من کل الوجوه مماثلت نه وی ـ نودے وائی دا بے ادبی نه ده بیا روستو مولوی صاحب په دے حدیث کښی: نم کنومة العروس ـ کښی یې د الله رب العزت تشبیه یې د ناوے سره ورکړے ده ـ نودے وائی دا بے ادبی نه ده ـ

غیر مقلد اعتراض کوی۔ او لیکلے یی. هم دی۔ چه: ان الهدایة کالقرآن قد نسخت ما صنفوا قبلها فی الشرع من کتب۔ بس هر یو دوی کښې دا افتراء کوی: چه د هدائے نه ئی قرآن جوړ کړو۔
لیکن دا خو تشبیه ده۔ هدایه د قرآن غوندے ده۔ او په تشبیه کښې من کل الوجوه مماثلت نه وی۔ لکه حدیث کښې راځی: نبی ﷺ فرمائی: ان الدین لیارز الی الحجاز کما تارز الحیة الی جحرها۔
د دین تشبیه ئے ورکړے ده د مار سره او د مار د سوړے تشبیه ئے د مدینے سره ورکړے ده۔
علامه ابن تیمیهؒ لیکلے دی: چه د شرع مصداق فقه ده۔ لکه قدوری۔ چه څو مره فقهی کتابونه لیکلے شوے دی۔ که په هغے کښې د هدائے نه خلاف مسئله وی۔ نو الهدایه مسئله به عمومًا اخلے۔ لکه قرآن کریم چه ناسخ دے د آسمانی کتابونو د پاره نو هدایه ناسخه ده۔ د هغے فقهی مدون کتابونو د پاره چه د هدایه نه هغه مسئله خلاف وی۔ لیکن د صاحب هدایه تسامحات معلوم دی۔
کله کله خلق وائی: په فتاوٰی نور الهدی او په فتاوٰی برهنه کښې دی۔ او په هدایه کښې د هغے خلاف وی۔ نو هدایه به اخلے۔ خبره دا وه نو دوی ترے دغه جوړه کړه۔ او خپله غیر مقلدین په هر ځائی کښې په تشبیه کښې دا خبره کوی چه په تشبیه کښې من کل الوجوه مماثلت نه وی۔ او دلته کښې د تشبیه دغه قانون نه سترگے پټوی۔ الحق الصریح کښې د حدیث تشبیه د څناورو سره ورکړے ده۔ خو حدیث څناور نه دے۔ صرف په تنفر کښې ئے تشبیه ورکړے ده۔ نو دا بے ادبی نه ده۔ نو دا هم بے ادبی نه ده۔ چه هدایه د قرآن غوندے ده په دغه تشبیه سره۔ نور خو د فقهے د کتاب " هدایه " او د هدایة آسمانی چه قرآن دے۔ په هغے کښې د زمکے او د آسمان نه زیات فرق دے۔ قرآن د عصمت نه ډک کتاب دے۔ او هدایه کښې بعض غلطی شته۔ لکه صحیح بخاری کښې چه شته۔
"ولما سلك رضی الله عنه طریق الاختصار وحذف الاسانید": ـ مصابیح والا چه کوم کتاب لیکلے دے۔ نو ده ولے بدل کړیدے۔ نو په دے کښې لږ سقم بیانوی چه نقصان په کښې وو۔
لکه ابن حجرؒ په نخبة الفکر کښې وائی: چه تا ولے کتاب اولیکلو۔ ولے مخکښې کتابونه نه وو۔ بلکه وو فلانی کتاب لیکلے دے۔ خو په هغے کښې دا چل دے۔ او ما چه اولیکلو نو په دے کښې چل نشته۔ نو ابن حجرؒ سم مزیدار کتاب لیکلے دے۔
دوی وائی: په هغه مصابیح کتاب کښې سقم وو۔ دغه سقم ترے ما لرکړے دے۔ او هغه دادے چه هغه په اختصار روان شوے دے۔ صاحب د مصابیح طریقه د اختصار غوره کړے ده۔ او ددے مطلب

دلته دادے چه هغه په مصابیح کښی د حدیث په اول کښی صحابی هم نه دے ذکر کړے. او د حدیث په آخر کښی ئے مخرج هم نه دے ذکر کړے. د کتاب حواله هم نه ذکر کوی. چه د کوم ځائی نه مے دا حدیث راغستے دے. او ما په اول کښی صحابی ذکر کړے دے. او په آخر کښی مے حواله ورکړے ده لکه حدیث راروان دے: عن عمر بن الخطاب. نو صحابی ئے ذکر کړو. بیا روستو وائی د شیخین روایت دے نو مخرج ئے ورله ذکر کړو. صحابی خودے له ذکر کومه چه تا ته د د صحابی مقام معلوم وی. چه فقیه دے که غیر فقیه دے. یا مخکښی ئے اسلام راوړیدے او که روستو ئے اسلام راوړیدے. په ناسخ او منسوخ کښی به درته آسانه شی. او تخریج ددے د پاره کوی چه یو ځائی وائی په بخاری کښی دی. او بل ځائی وائی په مسندفردوس کښی دی. نو دواړه خویوشان نه دی. دهغے د وضاحت د پاره ما تخریج کړے دے. او دا وریسے لفظ حذف الاسانید دا په دووطریقو سره ددے وئیل تیك دی.

(۱): لما سلك و حذَف الاسانید دواړه ماضی. (۲): یا حذُف الاسانید. یا لفظ د ماضی دے: وحذَف الاسانید. په دغه وخت کښی دا عطف دے په "سلك "باندے "ولما حذَف الاسانید".

او دویمه داده: چه دا مصدر دے "و حذُف الاسانید" او عطف دے په اختصار باندے. او غوره قول دادے او دا "واو" د تفسیر دے اختصار دغه دے. چه حذف د اسانیدو ئے کړے دے. نو دوه نقصان ئے ذکر کړل په مصابیح کښی یو طریقه د اختصار. او بله طریقه د اسانیدو دحذف. د متن نه مخکښی چه کوم رجال ذکر کیږی نو هغے ته سند وئیلے کیږی.

"تکلم فیه بعض النقاد": - په هغے کښی خبرے کړے دی بعضے ناقدینو. د بعض النقاد مصداق امام نوویؒ او ابن صلاحؒ دی. دوی په بعضے روایاتو کښی په دے طریقه باندے دده راوړلو دا انداز چه دے په دے کښی ئے خبرے کړے دی. چه دا څنګه کتاب دے چه په هغے کښی سند نشته دے. تنقید وئیلے کیږی کره او کوټه معلومول.

"وان کان نقله وانه من الثقات کالاسناد": - په دے کښی ورله جواب ورکوی. حاصل ئے دا دے چه صاحب د مصابیح په کتاب کښی حدیث راوړے دے. دده دا راوړل سند دی. اګر چه سند نشته. په ده باندے زمونږ اعتماد دے. ځکه چه دے ده ثقاتو نه دے دده دا نقل چه دے دا ځانله دلیل دے. علامه مبارکپوریؒ په مرعاة المفاتیح کښی لیکلے دی: چه ثِقَة.

شاه ولی اللهؒ په حجة الله البالغه کښی حدیث له سند نه ذکر کوی. او حدیثونه ئے ذکر کړے دی. او ستا

په هغـه باندے اعتماد دے ـ او د هغه خبره منبے دغه اعتمادي خبره د هغه یو قسم له تقریر هم دے ـ او سړے ثقـه دے نـو دا ټیك ده ـ ملا علی قاري ؒ په مرقات کښې ابن حجر ؒ ته غصه شوے دے ـ چه امام طحاوي ؒ دا خبره ذکر کړے ده ـ هغـه دے ددے سند پیش کړي ـ نو ملا علی قاري ؒ ورته وائي : د امام طحاوي یو خبره په خپل کتاب کښې راوړل دا مستقل سند دے ـ ځکه هغهٔ ثقه دے : انه من الثقات ـ نو دا داسے شوه ـ لکه سند ئے ذکر کړیدے ـ

ملاعلی قاري ؒ لیکي : لان هـذا شان من اشتهرت امانته وعلمت عدالته وصیانته فیعول علی نقله وان تجرد عن اسناد الشيء لمحله ـ (مرقات) ـ

"لـکن لیس ما فیه اعلام کالاغفال " : ـ اوس په دے کښې نقصان ذکر کوي ـ د مصابیح نقصان ته اشاره کوي ـ او دا په دوو طریقو سره وئیلے شے ـ إعلام او إغفال مصادر دي ـ او أعلام او أغفال جمع ده د عَـلم او غَـفـل غُـفـل اغفال او أعلام عَلم نو دا هم ټیك ده ـ أعلام هغے لارو ته وئیلے کیږي چه د هغے لارے چلـنده وي ـ او په هغے کښې میلونه واضح وي شارع عام ' موټروے ' جرنیلي سړك ' سپرهائي وے او جي ټي روډ چه ورته وائي په دے کښې اعلام وي ـ

شرح ابن عقیل کښې د تنوین په بحث کښې راځي :

وقاتم الاعماق خاوي المخترقن   و مشتبه الاعلام لماع الخفقن

مـا پـه ځنګل کښې مزلے کړے دي ـ چه د هغے نښے نښانے روکے وے ـ د لرے نه شګے ځلیدے ـ او پرقیدے او ځنګل دشت و بیابان وو ـ اغفال هغے ته وئیلے کیږي : چه نښے نښانے په کښې روکے وي ـ او پـه هـغـے څوك تلے نه وي ـ ددے مطلب دادے لکه ته وائي "زید کالاسد '' نو زید دے اوچت کـړو ـ اویا دے برابر کړو تشبیه کښې به ئے برابره وے یا کم ازکم اوچتوے به ئے ـ او" زید لیس کالاسد " نـو دا زیـد بـه کـمـه وے ـ او اسد به پرے سوا کوے ـ اوس دے وائي چه یو زما کتاب دے چه په دے کښـې اعـلام دي ـ او بـل د صـاحـب د مـصـابیح تصنیف دے ـ چه په دے کښې اغفال دي ـ هغه نښے نښانے نه دي ورکړے د صحابي نوم اود حدیث تخریج نه ذکر کوي ـ او د کتابونو تذکره نه کوي ـ اوما په کښې اعلام جوړ کړے دي ـ څه وایم د ابو هریره رضی الله عنه روایت دے بخاري او مسلم راغستے دے او دغسے نورو محدثینو د هغے ذکر کوم ـ او هغه نه دے کړے ـ اصل عبارت دله داسے وئیل پکار وو ـ چه پـه کـوم کتـاب کښـې اغـفـال وي ـ هغه د اعلام پشان نه دے په کوم کتاب کښې چه نښے نښانے

روکے وی۔ هغه د هغے کتاب پشان نه دے۔ چه اعلام په کښې وی۔ د تواضع او د عاجزی نه ئے کار اغستے دے۔ په نیکانو علماؤ کښې عاجزی وی۔ چه د هغه د اغفال والا کتاب زما د دے اعلام کتاب نه غوره دے۔ نو ځکه ئے قلب کړے دے۔ اګرچه دغه نقصان دے خود غټ سړی کتاب دے سره د نقصان نه د هغه کتاب زما د کتاب نه اوچت دے۔ او زما کتاب د دے په نسبت لږ کمزورے دے۔
خلق وائی چه غوښه او سوزی نو د پیتے نه ښه وی که پیتی ډیره مزیداره وی۔ خو لیکن دا غوښه ترینه ښه ده۔ نو دده به دا رائے وی او د چا به دا رائے وی چه مونږ په سوزیدلے غوښے باندے څه کوو۔ بس پیتی چه ترکه کړے۔ نو دا ترینه ښه وی۔ هغه ځان له خبره ده۔
دے وائی: چه د هغه په کتاب کښې اغفال دے۔ بیا هم ډیر ښه دی۔ خو زما په کتاب کښې اعلام دی۔ نو څه به څه یم۔ او زما کار به څه وی۔ دا تواضع او عاجزی ده۔
" فاستخرت الله و استوفقت منه ": ۔ ما استخاره او کړه الله رب العزت ته او دا ډیر ښه شيء دے۔ کله چه یو کار کوے نو یو به مشوره کوے۔ او بل به استخاره کوے۔ چه چا دا دواړه کارونه کړے دی۔ نو دوی ناکامه شوے نه دی۔ ما ندم من اشار و ما خاب من استخار۔ (طبرانی فی الاوسط نمبر : ٦٦٢٧، جامع صغیر نمبر : ٩٨٠)۔ چه چا مشورے کړے دی۔ نو هغه خپیمانه شوے نه دے۔ هغه سره تول قوم او خلق دے۔ که هغه ته نقصان ملاویږی۔ نو تولو ته ملاویږی۔ او چه چا استخاره کړے ده۔ نو هغه ناکامه شوے نه دی۔
او د الله رب العزت نه مے توفیق او غوختلو 'س' د طلب د پاره دے۔ د توفیق معنی ده د خیر د کار د پاره اسباب مهیا کول (شرح تهذیب)۔
" فاعلمت ما اغفله ": ۔ ما نښه دار کړو هغه حدیث چه صاحب د مصابیح هغه اغفال له بوتلے وو۔ هغه نښے نښانے روکے کړے وے۔ یعنی سندئی ورله نه دے ذکر کړے۔ او نه صحابی۔
" فاودعت کل حدیث منه فی مقره ": ۔ ما پریخودو هر یو حدیث په دے کښې په خپل ځائی کښې۔ " کما رواه الائمة المتقنون و الثقات الراسخون ": ۔ هغے امامانو چه روایت ئے د هغے کړے وو۔ هغوی اتقان والا دی : ﴿أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ﴾ (سورة النمل : ٨٨)۔ یو څیز مضبوط او کلك

جوړول علم ئے کلك دے. او هغه ثُقه خلق چه هغوی راسخ فی العلم دی: ﴿الرَّاسِخُونَ فِیُ الْعِلْمِ﴾.
(آل عمران: ۷ ،سورة النساء: ۱۶۲).

"**وقلیل ما هو**" :- دغه کسان ډیرکم دی مثلًا د ابن عبدالبرؒ او د ابن جوزیؒ نه یې هم کم روایتونه ذکرکړے دی.

"**وانی اذا نسبت الحدیث الیهم کانی اسندت الی النبی ﷺ لانهم قد فرغوا منه واغنونا عنه**" - **ترجمه**: ځه چه کله نسبت د حدیث اوکړم دے محدثینوته. ګویا چه ما دا سند تر نبی ﷺ رسولے دے. ځکه چه دا سلف علماء دوی فارغ شوے دی د اسناد نه. "منه" ضمیر اسناد ته راجع دے - هغه اسناد چه "اسندت" کښې پرے دا لفظ دلالت کوی. لکه: ﴿اعْدِلُواْ هُوَ﴾ نو "هو" عدل دے. چه "اعدلوا" پرے دلالت کوی. نو دا "اسندت" فعل په هغے باندے دلالت کوی. المرفوعات هو ما اشتمل "هو". ضمیر مرفوع ته راجع دے. چه مرفوعات کښې موجود دے.

سوال: په دے کښې دیو سوال جواب دے معترض اعتراض کوی - چه تا اووئیل چه صاحب د مصابیح سندونه نه دی ذکرکړے. نو تا د کومے سند ذکرکړیدے سندونه خو په بخاری او مسلم کښې دی - ته خو صرف دومره اووائی عن عمر بن الخطاب او په آخرکښې وائی رواه البخاری - چه کوم پوره سند دے. هغه تا هم نه دے ذکرکړے .

جواب: ما باندے اعتراض مه کوه ما حدیث منسوب کړیدے. ځه چه کله رواه البخاری، رواه المسلم ، ترمذی، نسائی، دارمی او ابن ماجه اووایم. نو دوی سندونه ذکرکړے دی. ګویا چه ما هم سندونه ذکرکړے دی . ځکه چه زما په دغه مشایخو باندے اعتماد دے. او ددے عمل نوم اتصال حکمی دے - دحکم اتصال ما راوستو. او علت ورله داد ے: لانهم قد فرغوا منه واغنونا عنه - دوی د سند د هغے لیکلونه فارغ شوے دی. اومونږه ئے د هغے نه بے پرواه کړے یو. مونږ ته د تحقیق الاسناد حاجت نشته زمونږ مشران شته. هغوی که یو روایت رسولے دے. هغه به متصل وی. اوکه هغه مقطوع وی. نو مقطوع او که هغه ضعیف وی نو ضعیف. چه څنګه دے نو بس هغه شان دے.
اوته خپل تحقیق کوه که فرض کړه ستا ځه خلاف راځی. او ته په دلیل باندے لګیا یې. چه یره دغه

سند په فلانکی ځائی کښې شته. او دا تیك نه دے یا عبارت په متن کښې سوا دے. هغه خبره ته کولے شے. خولیکن مجموعے حیثیت سره بس دغه ستا د پاره هم سند شو.

ملاعلی قاریؒ په مرقات کښې ددے عبارت په تشریح کښې لیکلے دی: چه یو کتاب متداول وی. او په هغے کښې د یوتن مسلك ذکرکړے شی. اگر چه د هغے سند ته ترآخره نه شے رسولے. گویا چه تا اورسوو: وعلم من کلام المصنف ایضًا انه لا یشترط فی النقل من الکتب المعتمدة للعمل والاحتجاج ان یکون له به روایة الی مؤلفیها.

اوخپله رساله شم کښې چه مجموعة الرسائل کښې هم شته لیکلے دی: وفی اصول الفقه لابی بکر الرازی (جصاص) فاما ما یؤخذمن کلام رجل ومذهبه فی کتاب معروف قد تداولته النسخ یجوز لمن نظر فیه ان یقول قال فلان کذا 'وان لم یسمعه من احد ' نحو کتب محمدبن الحسن وموطا مالك ونحوها من الکتب المصنفة فی اصناف العلوم ' لان وجودها علی هذا الوصف بمنزلة خبر المتواتروالاستفاضة لا یحتاج مثله الی اسناد.

لکه یو مثال ذکرکوو امام نوویؒ په شرح مهذب کښې او داسے ددوی په مجموعة الرسائل کښې هم شته. اووائی چه داده امام شافعیؒ مسلك دے. نودادے.

علامه شامیؒ هم دغه خبره ذکرکړے ده. چه کله د فقهاؤ متداول کتابونه دی لکه عالمگیری او قاضی خان وغیره. او په دے کښې اووائی چه د امام ابوحنیفةؒ مسلك یا د بل امام داد ے نو بس. دا به ورته نه وائی لکه بعضے خلق وائی څه اورسوه امام ابوحنیفةؒ ته. بس چه هغوی اولیکل متداول کتاب دے. دس په کښې نه دے شوے. او کمے زیاتے په کښې نه دے راغلے. گویا چه تا دا خبره اورسوله.
شیخ عبدالسلامؒ په تفسیر احسن الکلام کښې د سماع موتی په بحث کښې لیکلے دی: چه د امام شافعیؒ مسلك دادے او امام نوویؒ هغه ذکرکړیدے.

نو دے یی د امام نوویؒ نه امام شافعیؒ ته نه شی رسولے. خو لیکن یو متداول کتاب کښې یو خبره راغستے شوے ده. نودغه به د هغه مسلك وی. دوی چه وائی چه: اذا صح الحدیث فهو مذهبی. دوی ئی سلسله وار سند سره امام ابوحنیفةؒ ته نه شی رسولے.

دغه شان د سندونواو د فقهاؤ خبره هم وه لکه امام ترمذیؒ چه دویم جلد کتاب التفسیرچه شروع کیږی. او دا وائی چه داده مجاهد ' قتاده او سعید بن جبیر قول دے. او دا د دوی توجیه ده نودیته اتصال حکمی وئیلے کیږی.

او مجموع فتاوی ۷ : ۱۹۹ کښی علامه ابن تیمیهؒ هم دغسے لیکلے دی : واما الذی روی عن مجاهد وقتادة وغيرهما من اهل العلم انهم فسروا القرآن فليس الظن بهم انهم قالوا فی القرآن وفسروه بغير علم او من قبل انفسهم. دغے ته من وجه تقلید وائی.

"وسردت الكتب والابواب كما سردها ":- د سرد خپل معنی ده چه یو شیء په ناپ او په اندازه داسے برابرول چه کړے ئے د کړے سره برابر شی. نو خبره پیل 'پیوسته' متصل ' بوتلل او ذکرکول. قرآن کریم کښی راځی : ﴿وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ (سورة سباء : ۱۱) په کړو کښی اندازه ساته. " واقتفيت اثره فيها ":- او ما په هغے کښی دهغه د خپود نښوتابعداری کړے ده. اَثر او یا اِثر دواړه تیك دی. د خپے نښے هغه چه په کوم ځائی کښی قدم ایخے دے. نودغه شان ما په هغه ځائی کښی قدم ایخے دے.

"وقسمت كل باب غالبًا على فصول ثلثة اولها ما اخرجه الشيخان اواحدهما ".

دا بیان د تصرف شروع شو. کوم کمے او زیاتے ما په دے کتاب کښی کړیدے. د هغے بیان څه فرق دے د مصابیح او د مشکوة په دے مینځ کښی. نو دا فرقونه ذکرکوی.

(۱) : یوفرق دادے : چه زما کتاب په درے فصلونو باندے مشتمل دے. دا قاعده کلیه نه ده لزوم نه دے. اکثریه ده. کله کله په دے کښی دوه فصله هم راځی یا په کښی فصل ثانی نه وی او یا په کښی فصل ثالث نه وی. بیا هلته وائی : هذالباب خال عن الفصل الثانی یا والثالث.

(۲) : یوفرق دادے : چه په مصابیح کښی دوه فصله دی یو صحاح او بل حسان.

د بخاری او د مسلم روایتونه د صحاح په عنوان سره راوړی. او نور خو مره کتابونه چه دی. هغه د حسان په عنوان سره مُعَنْوَنْ دی. د صاحب المصابیح په اصطلاح باندے.

په اول فصل کښی بخاری اومسلم په دویم فصل کښی ابوداود ' ترمذی ' نسائی او ابن ماجه. او په دریم فصل کښی ما د امام حاکم د مستدرك' بیهقی او دارقطنی نه هم روایتونه ذکرکړے دی. اگرچه په مصابیح کښی بعضے روایتونه موقوف شته. د صحابه کرامؓ اقوال په کښی شته خو هغه طردًا للباب دی. "ما اخرجه الشيخان ": هغے ته وئیلے کیږی. چه په هغه روایت باندے بخاری او مسلم دواړو اتفاق کړے وی. شیخ عبدالحقؒ په اشعة اللمعات او ابن حجرؒ په شرح نخبة الفکر کښی لیکلے

دی : چه "ما اخرجه الشیخان " به هغه وی - چه په هغے کښی راوی یو وی - لکه د ابو هریره رضی الله عنه روایت په بخاری او په مسلم دواړو کښی وی - نو دا به متفق علیه وی - بعضے وائی چه نه خیر دے یو دے د ابو هریره رضی الله عنه وی - او بل دے د انس رضی الله عنه وی - خو چه حدیث یو وی نو دا هم "اخرجه الشیخان " دے -

تخریج یو عمل دے شرح نخبه کښی شروع کښی ئی ذکر دے - د تخریج مطلب دا دے : یو مصنف په خپل سند سره د یو حدیث سند ذکر کوی - چه هغه مخکښی عالم په خپل کتاب کښی نه وی ذکر کړے - یا د خپل سند نه علاوه که په هر سند سره ئے هغه ذکر کړو - خو چه مخکښی کتاب کښی د هغے ذکر نه وے شوے دیته تخریج وائی -

ملاعلی قاریؒ لیکی : ثم المراد بقوله فی مستدرکه علی شرطهما او شرط احدهما عند النووی وابن دقیق العید والذهبی کابی الصلاح ان یکون رجال ذالك الاسناد باعیانهم فی کتابیهما او کتاب احدهما والا قال صحیح فحسب ومخالفته لذالك فی بعض المواضع تحمل علی الذهول -

" واکتفیت بهما وان اشترك فیه الغیر لعلو درجتهما فی الروایة " :- د غیر نه مراد د بخاری، مسلم نه علاوه نورد حدیثو کتابونه - دا یو بله خبره کوی بعضے وخت کښی روایت د بخاری او د مسلم وی - او هغه روایت د ابوداود ' ترمذی 'نسائی او د ابن ماجه کښی هم وی - خو څه بخاری او مسلم څکه یادومه - چه د نورو کتابونو په نسبت باندے ددے د روایتونو مقام ډیر اوچت دے - اګر چه نور به هم د سره په تخریج کښی شریك وی - د هغے نه انکار نشته دے - یو تن د چا میلمه شی نو هغه به ورله چرګ ' ساګ او بنډے هم پخ کړے وی خو چه هغه تذکره کوی نو وائی ماله ئے چرګ پخ کړے وو - دا نه وائی چه ماله ئے بنډے راوړے وے - دا ټول کتابونه ښه دی - خولیکن بخاری او مسلم ډیر اوچت اوچت کتابونه دی - چه په مجموعی حیثیت سره ترے انکار نه دے پکار -

" وثانیها ما اورده غیرهما من الائمة المذکورین " :- او په دویم فصل کښی مے د هغے کتابونو روایتونه ذکر کړے دے - چه د بخاری او د مسلم نه علاوه نورو ائمو هغه ذکر کړے دی - ددے هم کله کله خلاف راځی په نورو فصلونو کښی به د بخاری او د مسلم روایتونه راځی - خو هغه به موقوف وی لکه د عائشه رضی الله عنها روایت به وی - او د بخاری به وی هغه به په فصل اول کښی نه وی - خو چه کوم مرفوع روایتونه د بخاری او د مسلم دی هغه به په فصل اول کښی وی -

"وثالثها مااشتمل علی معنی الباب من ملحقات مناسبة ":- او په دریم فصل کښې د باب په معنی باندے چه کوم احادیث مشتمل دی سره د ملحقات دمناسبت نه. دا مناسبة صفت دے د ملحقات - څه معنی د دارمی ، مستدرك او په بعضے ځایونوکښې ابن جوزیؒ او امام نوویؒ هم ذکرکړے دی. دده ملحقات مناسبة دا قصدًا او اصالةً دے. اوصاحب صحاح که ذکرکړے دی. نودا لږ دی اودا قصدًا نه دی بلکه تبعًا دی چلتے هوئے طردًا للباب دی .

"مع محافظة علی الشریطة " :- سره ددے نه چه ما د شرطونو حفاظت په دے کړیدے. د شرطونود حفاظت مطلب دادے: چه ما د راوی نوم ذکرکړیدے. ما تخریج کړیدے. او د کوم کتاب نه مے چه حدیث راوړیدے. د هغے حواله مے ذکرکړے ده.

دا شرطونه څه دی دا په شرح نخبه کښې شته. او په دے باندے امام حازمیؒ مستقل کتاب لیکلے دے. چه د بخاری او د مسلم څه شرطونه دی ؟. د هغوی شرطونه مثلًا دادی : چه د هر راوی نه چه روایت ذکرکوی. هغه به دوه ثقه او دوه عادلان وی. خواوس دا شرطونه دوی په خپله باندے نه دی لیکلے. خو روستو علماء کرامو دهغوی کتاب ته کتلے دی. او د هغے په رنړا کښې ئے دا شرطونه جوړکړے دی.

شرطونه : مثلًا د امام بخاریؒ شرط دادے : چه راوی به مضبوط وی د حافظے په اعتبار سره. او شیخ سره به ورته د ملازمے سعادت حاصل وی. او د معاصرت سره ئی یو ځل ملاقات شوے وی. د امام مسلمؒ صرف د لقاء امکان او د راوی د خپل استاذ سره معاصرت کافی دے. د امام ابوداودؒ او نسائیؒ شرط اتقان نه دے. او ډیره ملازمه د استاذ سره شرط دے. او د ترمذی په نزد اتقان او کثرت ملازمه کښې یو هم شرط نه دے. او ابوداودؒ چه په ترك د راوی اجماع نه وی. او د حدیث سند متصل وی. ابن جوزیؒ ئی شرط ثقة او اشتهار خودلے دے.

"وان کان ماثورًا عن السلف والخلف " :- اګر چه نقل شوے دی د سلفو او د خلفو نه.

اوله اصطلاح : علامه مبارکپوریؒ په مرعاة المفاتیح کښې دا خبره ذکرکړے ده. سلف متقدمین دی. چه صحابه کرامؓ دی. اوخلف تابعین دی. او دا مرقات کښې هم دی.

دویمه اصطلاح : سلف "هم اهل القرون الثلاثة " دی - خلف چه دی په فقهاؤپه اصطلاح کښې په

امام محمدؒ باندے ختمیږی ۔ سلف : من الصدر الاول الی محمدبن الحسن الشیبانی ۔ والخلف من محمدبن الحسن الی شمس الائمة ۔ دا د فقهاء اصطلاح ده ۔ والمتاخرین عنه الی الامام حافظ الدین البخاری.
(عیون الاخیارتکمله رد المختار لعلاؤالدین آفندی : ۱۲۲) ۔

مولانا عبدالحی لکهنویؒ په النافع الکبیر : ٦١ باندے لیکلی دی : فیریدون بالسلف من ابی حنیفة الی محمد ، وبالخلف من محمد الی شمس الائمة الحلوائی ، وبالمتاخرین من الحلوائی الی حافظ الدین محمد بن محمد البخاری المتوفی سنة ثلاثین وست ماة ۔

مسئله : ملاعلی قاریؒ په مرقات کښی دلته یو مسئله ذکرکړے ده ۔ چه ابن عبدالبرؒ دا زعم کړیدے ۔ چه په خلفو کښی افضل د صحابه کرامو نه پیدا کیدے شی ۔ یعنی په خلفو کښی روستو اود سلفو نه پس داسے کس پیدا کیدے شی ۔ چه هغه افضل وی د صحابه کرامو نه ۔ د احادیثو د علم په اعتبار سره ۔ نو دا خبره دده ټیك ده اوکه نه ؟ ۔

دوه خبرے دی (۱) یو خبره داده : چه په مرتبه کښی خلف سلفو ته اورسی ۔ نو دا خو نه رسی ۔ که روستو ډیر لوئی اوچت عالم وی ۔ خو ادنی صحابی ته نشی رسیدے ۔ لکه عمربن العزیز د سیدنا معاویه رضی الله عنه د اس د پوزے دوړے ته هم نه رسی ۔ لکه عبدالله بن مبارکؒ فرمائی ۔
(۲) : چه په حدیثو کښی مهارت الله رب العزت ډیر ورکړے وی ۔ د بعضے صحابه کرامو نه ۔ هغه کیدے شی ــ اګرچه هغه په خلفو کښی دے روستو راغلے دے ــ خو د اهمو ، فقیه اود مجتهدینو صحابو نه نه ۔ خو د عامو بعض صحابو نه ئے ورله مهارت ورکړیدے ۔ د دے امکان شته دے ۔ حدیث د مشکوة کښی راځی : زما د امت مثال پشان د باران دے ۔ دا پته نه لګی چه اوله حصه ئے ښه ده ۔ اوکه آخره ۔

ملاعلی قاریؒ فرمائی : والمفضول قد توجد فیه مزیة بل مزایا لا توجد فی الفاضل ومن ثمة قیل لابن المبارك ایما افضل معاویة او عمر بن عبدالعزیز ؟ فقال الغبار الذی دخل انف فرس معاویة مع النبی ﷺ خیر من مثل عمر بن عبدالعزیز .... ان الخنف یوجد فیهم الکمالات العلمیة والریاضات العملیة والحقائق الاسنیة والدقائق القدسیة وحالات من الکرامات وخوارق العادات بحیث انهم یکونون افضل من بعض السلف ممن لیس له ذالك ۔ (مرقات) ــ د علمی کمالاتو ، او د علمی ریاضاتو ، د حقائقو او د دقائقو او د کراماتو او د خارق عادات په اعتبار سره بعض روستنی د مخکښی نه افضل کیدے شی ۔ خو د صحابی د فضیلت حیثیت ته غیر صحابی

چرته نه شي رسیدلے۔
او دے خبرے ته نبي ﷺ اشاره پخپله کړے ده فرمائي : رب مبلغ اوعی من سامع ۔
"ثم انك ان فقدت حديثًا في باب فذلك عن تكرير اَسْقَطُه ":۔ کله چه په دے مشکوۃ کښې دریم فصل دے په مشکوۃ کښې به احادیث د مصابیح نه زیات وي۔
بل فرق داد ے : تا یو حدیث په یو باب کښې روك اومندلو۔ لکه مثلًا :الاعتصام بالکتاب والسنة۔ کښې یو حدیث په مصابیح کښې شته۔ او په مشکوۃ کښې نشته۔ نو په دے کښې به څه نکته وي۔ هغه نکته به داوی : چه په هغے کښې به تکرار راغلے وي۔ او څه به د تکرار اسقاط کومه۔ او دا به ختمومه او ده به حدیث دوه ځله راوړے وي۔ چه یو ځل ئے ذکرکړم۔ نودویم ځل ته حاجت نشته۔
ددینه دا معلومه شوه چه په مصابیح کښې به یو ځائی حدیث وي۔ کله کله به په مشکوۃ کښې هغه نه وي۔ ځکه چه په مصابیح کښې به هغه حدیث مکرر راغلے وي۔ اوصاحب د مشکوۃ تکرارنه منی۔
"وان وجدت آخر بعضه متروكًا على اختصاره او مضمومًا اليه تمامه "۔
آخر صفت دے۔ او موصوف ئے مخذوف دے : وان وجدت حديثًا آخر۔ دا ترکیب کښې بدل بعض دے او متروكًا حال دے۔ که تا یو بل حدیث اومندلو چه بعضے حصه پریخودلے شوے ده د اختصار د وجے نه۔
یو فرق په کښې داد ے : صاحب د مصابیح به یو حدیث ذکرکړے وي۔ خوما به ټول په ټوله نه وي ذکرکړے۔ نیمګړے به مے ذکرکړے وي۔ اونور به مے پریښے وي د اختصار نه به مے کار اغستے وي۔ اوکله کله به داسے وي هغه به یو حدیث مختصر ذکرکړے وي۔ او ما به مفصل کړے وي۔ یا به د صاحب مصابیح اوږد حدیث به راوړے وي ما رالنډ کړے وي۔ ټوله جمله به مے ورله نه وي نقل کړے ۔اویا به د هغه لنډه جمله ما اوږده کړے وي۔ اویا به مے هغے سره یوه بله حصه یو ځائی کړے وي۔
چه دا حدیث پوره تام شي دا دواړه کارونه ما کړے دي۔
یعنی صاحب د مصابیح به یو حدیث مفصل راوړے وي۔ او ده به په هغے کښې کمے راوستے وي۔ صاحب د مصابیح به یو حدیث مختصر راوړے وي۔ او ده به هغه حدیث تفصیلي کړے وي۔ او د هغے وریسے جمله به ئے هم ذکرکړے وي۔
"فعن داعي اهتمام اتركه والحقه ": ۔ څه به د ډیر اهتمام د داعي د وجے پریږدم هغے لره۔ متروكًا سره ئے لګوه ټوله حصه نه ذکرکوم۔ نور به پریږدم۔ اویا به ئے ورسره یو ځائی کوم۔ مضمومًا اليه

سره یی. اولکوه. لف نشر مرتب شو. که ما بعضے حصه پریخے وی دے کښې به څه نکته وی د ډیر اهتمام د وجے نه یی. څه پرېږدم. یا ما هغے سره یوه بله حصه یو ځائی کړے وی الحاق مے ورسره کړے وی. اوملاعلی قاریؒ په مرقات کښې لیکلے دی: چه دا "و" په معنی د" او" دے.

"وان عثرت علی اختلاف فی الفصلین من ذکر غیر الشیخین و ذکرهما فی الثانی".

ددے عبارت مطلب دادے: کله کله به ته ګورے په دے مشکوة کښې. چه په مصابیح کښې به یو روایت به په صحاح (بخاری او مسلم) کښې راغلے وی. خو ما به په فصل اول کښې نه وی راوړے ځکه ما تتبع او استقراء کړے ده. نو هغه د بخاری او د مسلم نه دے. شیخ صاحبؒ به خطاء شوے وی هغه ته به د بخاری او د مسلم ښکاری. اوما چه تحقیق کړیدے. نو د تحقیق نه بعد دا معلومه شوے ده. چه داده بخاری او د مسلم نه دے. نو ما به فصل ثانی ته راوستے وی. او کله به ددے عکس وی. هغه به یو روایت په حسان کښې راوستے وی. هلته به یی دا وئیلے وی. چه داده بخاری او د مسلم نه دے د ترمذی وغیره دے. خو چه ما تحقیق کړیدے. نو ما به هغه حدیث په بخاری او مسلم کښې موندلے وی. نو ما به په فصل اول کښې ذکر کړے وی. نو داسے به په کښې کله کله اختلاف راځی. خو ما پورا تقلید د هغه په دے مسئله کښې نه دے کړے. چه هغه کوم ځائی کښې کوم شی اولیکلو. نو ما هم په هغه ځائی کښې هغه اولیکلو.

دا بل فرق شو په فرقونو کښې کله به هغه فصل اول کښې حدیث راوړی. څه به ئے ثانی کښې راوړم کله به هغه ثانی کښې حدیث راوړی. څه به یی په اول کښې راوړم. ځکه هغه ته د بخاری او د مسلم ښکاری چه دا روایت د صحاح دے. ما چه اوکتل نو په بخاری او مسلم کښې نشته. ما فصل ثانی ته بوتلے دے. او کله به داسے وی چه دے به وائی داده حسان روایت دے. د حسان روایت ثانی کښې دے ما چه ورته کتلے دی. نو هغه د بخاری او د مسلم روایت دے. نو ما فصل اول ته راوړیدے.

او د صحاح او حسان اصطلاح د امام بغویؒ ده. مرقات کښې دی: ولا مشاحة فی الاصطلاح بل تخطئة المرء فی اصطلاحه بعیدة عن الصواب والبغوی قد صرح فی کتابه بقوله اعنی بالصحاح کذا وبالحسان کذا.

ابن صلاح په خپله مقدمه ۳۷ باندے لیکلے دی: چه صاحب د مصابیح احادیث دو نوعو ته تقسیم کړے دی. الصحاح او الحسان. د صحاح نه هغه احادیث مراد اخلی. چه یا په بخاری یا په مسلم کښې دی. نو بیا ئی لیکلے دی: فهذا اصطلاح لا یعرف ولیس الحسن عند اهل الحدیث عبارة عن ذالك.

او دغسے پہ دے اصطلاح امام نووی ؒ هم رد کړیدے. هغه التقریب والتیسیر : ۳۰ کښې لیکي : فلیس بصواب لان فی السنن الصحیح والحسن والضعیف والمنکر . او ابن کثیر ؒ، طیبی ؒ او علامه عراقی ؒ هم په دے اصطلاح رد کړیدے. حالانکه مشهور ضرب المثل دے. لا مشاحة فی الاصطلاح. ځکه خو علامه کافیجی لیکلے دی په المختصرفی علم الاثر ۱۱۴ کښې : تقسیم یستحق القبول لا الرد وان کان مخالفًا لما اشتهر عندهم فان ذالك اصطلاح ولا مشاحة فی الاصطلاح وهذا هو الراجح .

" فاعلم انی بعد تتبعی کتابی الجمع بین الصحیحین للحمیدی وجامع الاصول اعتمدت علی صحیحی الشیخین و متنیهما ".

په دے علم حاصل کړه چه ما تتبع کړے ده د دوو کتابونو. یو د الجمع بین الصحیحین دا کتاب د الحمیدی ابوعبدالله محمد بن ابی نصرفتوح بن عبدالله الازدی الاندلسی دے. ددوی اصل د قرطبه وو. د علامه ابن حزم ظاهری شاګرد دے. دده نه ئی ډیره زیاته استفاده کړے ده.

نواب صدیق حسن خان لیکلے دی : چه دے د علامه ابن عبدالبر ؒ شاګرد دے. په ۴۴۸ هجری کښی ئی مشرق ته سفر کړیدے.

او دا ډیر لوئی محدث تیرشویدے. او حمید دده په نیکانو کښی یو نیکه وو. او الامیر ابو نصر علی بن ماکولا صاحب کتاب الاکمال فرمائی : اخبرنا صدیقنا ابوعبدالله الحمیدی . او مشهور محدث ابن ماکولا دده دوست دے ـ دے وائی : چه ما ورسره ډیر وخت په دوستانه کښی تیرکړیدے. خو په ده کښی دا یو صفت وو. چه غیبتونه به یې د چا نه کول . او : لم ار مثله فی نزاهته وعفته وورعه.

او د امام حمیدی ؒ ولادت په ۴۲۰ هجری نه مخکښی شویدے. او وفات کښی اختلاف دے. څوك وائی : ۴۸۸ هجری کښی. او څوك وائی : ۴۹۱ هجری کښی وفات شویدے. او په ده باندے جنازه ابو بکرشامی ؒ کړے ده. او دے فقیه دے شافعی مسلك سره ئی تعلق دے. او ددوی مشهور کتاب الجمع بین الصحیحین دے.

او ابن حجر هیثمی ؒ ئی ولادت ۴۲۰ هجری نه مخکښی او وفات ئی ذی الحجة ۴۸۰ هجری کښی ذکر کړیدے.

واضحه دے وی : چه د جمع بین الصحیحین په نوم د علامه اشبلی المتوفی ۵۸۱ هجری او د علامه صاغانی المتوفی ٦٥١ هجری کتابونه هم شته دے.

علامه مبارکپوریؒ په مرعاة المفاتیح کښې او نورو علماؤ هم لیکلي دي: چه ابوبکر بن میمونؒ یو ځل دده ملاقات له لاړو۔ د ابو بکر بن میمونؒ خیال دا وو۔ چه ما ته یې اجازت راکړیدے۔ او هغه لیدلے نه وو۔ او اجازت یې ورله نوو ورکړے۔ په دے وخت کښې دده پتون ښکاره وو۔ نو هغه دده پتون لیدلے دے۔ نو په ژړا یې شروع کړے ده۔ نو بیا هم د ډیر ورع او دحیاء د وجے نه ډیر زیات ژړلے دی لکه حیاء په کښې ډیره زیاته وه۔ چه زما پتون تردے وخته چا هم نه وو لیدلے۔

د پتون د عورت مسئله

اگرچه مسئله اجتهادي ده۔ اختلاف په کښې دے۔ څوك وائي: خیر دے که پتون ښکاره کړے۔ او څوك وائي: چه پتون به پټوے۔

دلته د حمیدي نه هغه مراد دے۔ چه جامع بین الصحیحین دے۔

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریاؒ په فضائل الاعمال کښې او نورو هم دده په حالاتو کښې لیکلي دي: چه دده له به خوب ډیرورتلو۔ نوده به په تپ کښې اوبه ایخے وے۔ او په هغے کښې به ناست وو۔ چه زما نه خوب اوتختي اومطالعه به یې کوله۔ شیخ الحدیثؒ اشعار نقل کړیدي: چه دوي به فرمائیل:

لقاء الناس لیس یفید شیئًا سوی الهذیان من قیل و قال

فاقلل من لقاء الناس الا لاخذ العلم او اصلاح حال

(التاج المکلل للنواب: ١٠٤)

د خلقوسره ملاقات دا فائده نه ورکوي ګپ شپ، بکواس په کښې ډیر وي۔ خلقو سره ملاقات کم کړه۔ دوه کسانوسره به ملاقات کوے۔ یواستاذ سره چه علم ترے اخلې۔ او دویم پیرصاحب سره چه ستاد حال اصلاح کوي۔

چاچه په سلفو یا نزدے زمانه کښې وقت قیمتي کړیدے۔ الله د هغوي نه ددین خدمت اغستے دے۔

علامه جمال الدین القاسمي خپله خبره په الفضل المبین او قواعد التحدیث کښې ذکرکوي: وقد اتفق لی بحمده تعالی قراءة صحیح مسلم بتمامه روایة فی اربعین یومًا۔ او د ابن ماجه قراءت ما په ۲۱، د موطا په ۱۹ ورځو کښې پوره کړیدے۔

او امام ذهبیؒ سیراعلام النبلاء کښې د محدث معمَر ابو محمد عبدالله بن محمد الاندلسي په ترجمه کښې لیکلي دي: ان الحافظ ابا عبدالله بن البار قرء علیه صحیح مسلم فی ستة ایام۔

او قاضی عیاضؒ په المدارك کښې د ابو اسحاق په ترجمه کښې لیکلي دي: لقد كنا نجتمع ...الخ- چه یو میاشت کښې مدونه مونږه ایزده کړه: ندرس النهار ونلقى الليل فما علمت انا ظنا ذالك الشهر.
د صحیح وقت پابندي او کوشش سره مرتبې ملاویږي.
بل کتاب دے "جامع الاصول في احاديث الرسول" داده علامه ابن الاثیرؒ دے مبارك بن محمد. او مشهور دے په ابن الاثیر سره. او دده بل کتاب دے "تاریخ علماء الاندلس" چه بل نوم ئې "جزوة المقتبس" دے. (التاج المكلل: ١٠٣) - الامام مجدد الدين ابی السعادات موصل سره نزدے یو ځائی دے جزیره ابن عمر کښې وفات شویدے. ۵۴۴ هجری کښې ولادت دے. او وفات ئې ٦٠٦ هجری دے. ډیرخه او خائسته عالم دے." اسد الغابة في معرفة الصحابة" د ابن الاثیرؒ دا ډیر مشهور کتاب دے.
په جامع الاصول کښې د صحاح سته جمع واری ده کړے ده.
په لغات الحدیث ئې "النهاية" نومے کتاب ډیر بهترین لیکلے دی. او مناقب الاخبار ددوی کتاب دے - ما اعتماد کړیدے د شیخینو په تصحیح باندے. او ددے دواړو په متنونو باندے د بخاری او دمسلم په تصحیح او په متن باندے. دده د عبارت نه دا معلومیږی چه په ابوداو او ترمذی کښې ډیره تتبع نه ده کړے. او دے وائی چه په مسلم کښې ما کړے ده. خو په دے کښې یې هم ډیره تتبع نه ده کړے.
مشکوة ثانی په باب المعجزات ۵۴۴ کښې یو روایت راځی: داعی امراته. چه د مړی ښځے نبی ﷺ له دعوت ورکړو. (بدعتیان یې پیش کوی). او ده حواله ورکړے ده په ابوداود باندے.
حالانکه ابوداود چه دا روایت ذکرکړیدے. نو په هغے کښې "امراته" نشته. بلکه "امراة" دے. هسے یو ښځه وه. او د مړی ښځه نه وه. رجوع اوکړه ابوداود کښې کتاب البیوع ته. او د نسخود اختلاف خبره هسے هوائی ده.
په مسند د امام ابو حنیفهؒ کښې روایت راځی: چه دعوت ورکونکے سړے وو. بیا نور علماء وائی: چه عامه ښځه وه. او صاحب د مشکوة دا لیکلے دے: چه د مړی ښځه وه. د سړی نه ښځه جوړه شوه. او د ښځے نه د مړی ښځه جوړه شوه. نودلته خطاء شویدے.
دغه شان مشکوة په باب الذکر بعد الصلوة: ۸۸ کښې یو روایت ذکرکوی: كان رسول الله ﷺ اذا سلم من صلوته يقول بصوته الا على لا اله الا الله وحده لا شريك له ... الخ - (رواه مسلم)-
دے وائی په مسلم کښې روایت راځی چه نبی ﷺ به د مانځه نه پس په زوره ذکرکوو. دے خو حواله په

مسلم ورکوی۔ نوته به مسلم گورے۔ نو په مسلم کښې دا نشته۔ چه نبی ﷺ به په زوره وئیلو۔ بس انسان دے کله کله خطاء کيږی۔

" وان رایت اختلافًا فی نفس الحدیث فذلك من تشعب طرق الاحادیث ولعلی ماطلعت علی تلك الروایة التی سلکها الشیخ رح " :-

ترجمه : او که تا اختلاف اوکتلو په نفس حدیث کښې ددے وجه داده : چه د حدیثو طریقے مختلفے راغلے دی ۔تشعب څانگے یی۔ گډے وډے دی۔ ډیری دی مختلف الفاظو سره راغلے دی۔ شاید چه څه نه یم خبرشوے په دغه روایت چه کوم باندے شیخ تلے دے۔

په هغے فرقونو کښې بل فرق ذکرکوی: کله په مصابیح کښې د یو حدیث لفظ وی۔ هغه الفاظ دغه شان نشته۔ ما په مشکوٰة کښې نه دے ذکر کړے۔ دهغے وجه داده : دغه حدیث په مختلفو طریقو سره د الفاظو په اعتبار سره راغلے وی۔ خوماته دغه طریقه چه ما کومه راوړے ده۔ دا راته غوره ښکاره کیدله په هغے کښې په معنی کښې فرق نه راځی۔ صرف د الفاظو جداوالے په هغے کښې راغلے وی۔ نوما تتبع کړے ده چه ماته کوم لفظ صحیح ښکاره کیدو هغه مے ذکرکړے دے۔ د مصابیح د کتاب هغه لفظ ما پریښے دے۔دا په نفس حدیث کښې اختلاف فی اللفظ دے ځکه د احادیثو طرق ډیر دی۔په بعضے طریقو کښې دغه لفظ شته چه ما ذکرکړے دے۔د هغه به هم وی خولیکن څه په هغے باندے خبر نه یم۔ هغه ماته معلوم نه شو۔ ماته چه کوم معلوم شوے دے۔نو هغه مے لیکلے دے۔

"وقلیلًا ما تجد اقول ما وجدت هذه الراوایة فی کتب الاصول اووجدت خلافها فیها ":-

او ډیرکم کرته به ته مومی چه څه دا وایم۔ ما دا روایت په کتب الاصول کښې نه دے موندلے'' قلیل'' ماده کم لام کښې تنوین هم کم او دا '' ما '' پرے تاکید شو۔نودا نورهم کم نو د کم نه کم یو څو ځایونه دی ۔ یا چه صاحب د مصابیح ذکرکړے دے۔نوما د هغے خلاف روایت په کتب الاصول کښې موندلے دے۔

د الحق الصریح ترجمه دلته شوے ده : ډیر کرت به ته مومے چه څه به وایم۔ دا معنی صحیح نه ده بیا روستو مولوی صاحب په تشریح کښې معنی ټیك کړے ده۔

"فاذا وقفت علیه فانسِبِ القصورَ الی لقلة الدرایة لا الی جناب الشیخ رفع الله قدره فی الدارین حاشا لله من ذلك " : -چه کله ته په دے باندے اګاه شوے اوخبرشوے۔ نوماته د

کوتاهی نسبت کوه ـ شیخ صاحب ته به د خطاء نسبت نه کوے ـ خبره به ماسره کوے ـ ځکه چه ما کښې درایت کم دے ـ زما کمزورتیا ده ما نه ده موندلے ـ

حاشا اسم ، فعل او حرف هم راځی حرف خو مشهور دے ـ

با و تا و كاف و لام واو منذ مذ خلا رب حاشا من عدا في عن على حتّٰى الى

دویم حاشا چه فعل راځی نو "جانب" معنی ئی اوکړه ـ الله رب العزت دے شیخ صاحب یوغاړے ته کړی دے قصورونه ـ

شیخ عبدالحق محدث دهلویؒ په اشعة اللمعات کښې معنی کوی :

منزه است شیخ از نسبت قصور وایں منزه بودن از جهت خدا است

بچ دے شیخ د قصور د نسبت نه او دا منزه کیدل د الله رب العزت د طرف نه دی ـ

مغنی اللبیب کښې وائی : چه صحیح خبره داده : چه دا اسم مرادف د تنزیه د پاره دے ـ مغنی اللبیب په دوه جلدونو کښې د نحوے ډیر ښکلے کتاب دے داده ابن هشام نحوه ده ـ یود ابن مالك او بل د ابن حاجب نحوه ده ـ دا درے مشهورے نحوے دی ـ

حاصل دادے : چه حاشا حرف او فعل دواړه راځی :﴿وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَـٰذَا بَشَرًا ﴾ اوحاش اسم مرادف د تنزیه هم دے ـ دغه تنزیه والا معنی شیخ عبدالحقؒ کړے ده ـ

" رحم الله من اذا وقف على ذلك نبهنا عليه وارشدنا طريق الصواب ": ـ

الله رب العزت دے په هغه چا باندے رحم اوکړی ـ چه هغه کله په هغه لفظ باندے اګاه شو ـ او مونږ له یې خبر راکړو ـ چه تا خو دا لیکلے دی چه دا لفظ نشته ـ او دا خو په فلانکی ځائی کښې موجود دی ـ او الله رب العزت دے مونږ له طریق د ثواب ته راهنمائی اوکړی ـ

سیدنا عمر رضی الله به فرمائیل : رحم الله امرء ااهدى الى عيوب نفسي ـ

"ولم آل جهدا في التنقير والتفتيش بقدر الوسع والطاقة ونقلت ذلك الاختلاف كما وجدت " ـ همیشه اووم څه چه ما سَرِيَّہُ ' قصور او کوتاهی نه ده کړے ـ کوشش کښې مے کمے نه دے کړے ـ د تنقیر معنی ده توګل د حدیث او د تفتیش معنی ده ـ د حدیث تحقیق کول چه دا ضعیف دے ـ او که موضوعی دے ـ ده خپل وس مطابق اوما دا اختلاف نقل کړے دے چه څنګه مے موندلے دے ـ

" وما اشار اليه رضي الله عنه من غريب اوضعيف اوغيرهمابينت وجهه غالبًا ": ـ

کله کله یې اشاره کړے ده. چه دا روایت غریب دے. یا ضعیف دے. یا دد ے نه علاوه منکر دے. ده خو وئیلے دی. چه څه منکر روایت نه ذکرکوم. خو بیا یې هم منکر روایت ذکرکړے دے. نو دهغے وجه ذکرکوی نودے وائی: چه ما اکثریه د هغے وجه هم ذکرکړے ده. چه دا په کومه وجه باندے غریب ضعیف، منکر، شاذ او معلل دے.

غریب: چه راوی د نورو راویانو نه تفرد اختیارکړی. څوك ورسره د مروی عنه نه په نقل کښی شریك نه وی. ضعیف: هغه روایت چه په کښی د صحیح او حسن صفات موجود نه وی. مثلاً یو راوی باندے څه قدح شوے وی. یا په هغه څه تهمت لګیدلے وی.

شروط د قبول شرط دی: اتصال السند، عدالت، ضبط، نفی الشذوذ، نفی العلة القادحة، اوالمعاضد عندالاحتیاج الیه.

منکر: چه یو ضعیف راوی د ثقه خلاف نقل کوی. شاذ: چه ثقه راوی د اوثق خلاف اوکړی.

او علامه هیثمیؒ لیکی: واما المنکر فقیل هو الفرد الذی لا یعرف منه من غیر جهة روایة ولا متابع له ولا شاهد.

"ومالم یشر الیه مما فی الاصول فقد قفیته الا فی مواضع لغرض".

اوچه ده ورته اشاره نه ده کړے. چه صاحب د مصابیح ورته غږ نه دے کړے. هغے خبرے چه کوم په اصول کښی موجود دی. یعنی هغه ورته ضعیف، موقوف او منقطع وئیلے دے. نو ما د هغے اتباع کړے ده. مګر یو څو ځایونو کښی د غرض د وجے اوغرض دده دادے شافعی مسلك کلکول. چه چرته حدیث حنفی مستدل دے. نودے به په هغے پسے خبرے کوی. او په هغے روایت کښی به کلام کوی. د اصول نه سنن اربعه. موطا، مسند الشافعی، مسند الدارمی، دارقطنی، جامع، رزین او سنن البیهقی مراد دی.

"وربما تجد مواضع مهملة": - اوکله کله به ته وینے. یو څو ځایونه مهمل ډیرکم کرته به نه مومے. اګرفی نفسه به ډیر وی.

"وذلك حیث لم اطلع علی روایة فترکت البیاض": - دا په هغه ځائی کښی ما بیاض پریخے دے - وئیلے مے نه دی چه دا روایت د چا دے - روستو دغه بیاضونه یو محدث دے. چه نوم یې میرك شاهؒ دے ده ډك کړے دی.

"فان عثرت علیه فالحقه به": - که ته پرے خبر شوے. دغه حدیث سره یې جخت کړه. ما خو وئیلے دی رواه..... اوځائی مے پریخے دے. او ته ورسره اولیکه رواه الدارمی. (علیه): ای علی

الراوی مثلاً۔ او (به) ضمیر بیاض ته راجع دے۔

" **احسن الله جزاء ك** " :- الله رب العزت دے تاله بدله درکړی۔ شیخ محمد جزری شمس الدینؒ هم دغه خلاء ډکه کړے ده۔

" **وسمیت الکتاب بمشکوة المصابیح** " :- ما د کتاب نوم مشکوة المصابیح ایخے دے۔

د مشکوة معنی ده درے هغه درے ۔ چه په هغے کښی پورے راپورے سورے نه وی شوے۔ او مصابیح جمع د مصباح ده۔ ډیوے ته وئیلے کیږی۔ او دده دا مصابیح دے۔ او زما دا مشکوة دے۔ یو خو اشاره دے خبرے ته کوی۔ چه زما او د هغه د کتاب په مینځ کښی د ظرف او د مظروف نسبت دے۔ یو ظرف وی او بل مظروف وی۔ او دا اوچت وی او ظرف د هغے په نسبت باندے کم وی۔ نو زما کتاب ظرف دے یو لوښے او درّے دے۔ چه په هغے کښی ډیوه پرته ده۔

دویم: چه کله ډیوه په میدان کښی پرته وی۔ نو دهغے رڼا ښکلے نه وی هغه منتشره وی۔ او چه کله هغه دری ته راوړی۔ او د هغے ډیوے د پاره ډیوټ وی۔ او خپل ډیوټ کښی ډیوه کیدے۔ نو دهغے رڼا ډیره مزیداره وی۔ دا خبره مفتی شفیعؒ په معارف القرآن کښی ددے آیت: ﴿اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ﴾ (سورة النور: ۳۵) ددے د لاندے لیکلے ده۔

نو گویا چه کوم احادیث د مصابیح منتشر وو۔ نو دهغے رڼا ډیره خوره نه وه۔ اطراف د عالم ته هغه نه وه رسیدلے۔ ما چه ورله دا مشکوة برابر کړو۔ نو دهغے په وجه سره دا رڼا ډیره خوره وره شوه۔

اشعة اللمعات کښی دی: د چراغ سره ئی تشبیه ورکړه۔ چه د ایمان ویقین په لار به رڼا ورکوی۔ او زړه به ئی په نور د علم ومعرفت منور شی۔

" **واسال الله التوفیق والاعانة والهدایة والصیانة و تیسیر ماقصده وان ینفعنی فی الحیوة و بعدالممات وجمیع المسلمین والمسلمات حسبی الله ونعم الوکیل ولا حول ولا قوة الا بالله العزیز الحکیم** " :- داده علماء کرامو خصوصیات دی۔ چه د الله رب العزت نه به دعاگانے غواړی۔ ژاړی به۔ مشورے او استخارے کوی۔ عاجزی په کښی وی۔ د خپلو مشرانو صفتونه کوی۔ ددے په وجه سره ورله الله رب العزت خائسته علمونه ورکړے دی۔ او تیسیر دادے چه زما کوم قصد دے۔ څه دا غواړم چه بعد الممات به ان شآء الله هغه ته ثواب ډیر زیات څکه ملاویږی۔ چه دے کتاب له الله رب العزت چه کوم مقبولیت ورکړیدے۔ داسے بل کتاب له یی نه دے ورکړے۔

"العلی العظیم" هم شته۔

غټ فرق په مینځ د مشکوة او مصابیح کښې

(۱) په مصابیح کښې دوه فصله دي. یو ته صحاح او بل ته حسان وائي. په صحاح کښې د بخاري اود مسلم روایتونه ذکرکوي. او په حسان کښې نور روایتونه د نورو کتابونونه ذکرکوي.
اوصاحب د مشکوة په درے فصله باندے غالبًا دا کتاب برابرر کړیدے. په فصل اول کښې بخاري او مسلم. او په دویم فصل کښې ابوداود، ترمذي، نسائي او ابن ماجه. او په دریم فصل کښې بیهقي، دارقطني او طبراني وغیره ذکرکوي.

(۲) په مصابیح کښې یې د حدیث راوی نه وو ذکرکړے. او صاحب د مشکوة راوی د حدیث ذکرکوي.

(۳) په مصابیح کښې یې مخرج نه وو ذکرکړے. اوصاحب د مشکوة مخرج ذکرکوي. بخاري کښې دے مسلم کښې دے. او ددے دواړو فائدے دي که صحابي ذکرکړي. اوکه مخرج. ځکه چه مخرج انسان اوګوري نو پته اولګي چه د بخاري روایت دے که د بیهقي. نو په دواړوکښې فرق دے. داسے تول صحابه کرام دي خویو فقیه صحابي دے. او بل غیرفقیه صحابي دے. یو هغه دے چه اسلام ئې اول راوړیدے. او بل لږروستو اسلام راوړیدے. په هغے کښې د ناسخ اود منسوخ اود راجح مرجوح مسئلو کښې تقویت مونږ ته ملاویږي.

(۴) په مصابیح کښې حدیث مختصر وي. نو صاحب د مشکوة هغه مکمل کړیدے. اوکه هلته مکمل وي نو صاحب د مشکوة هغه نیمګړے پریخے دے بل ځائی ته یې حواله کړیدے.

(۵) په مصابیح کښې یې یو روایت ذکرکړے وي. چه داده بخاري او د مسلم دے. او هغه د بخاري اود مسلم نه وو. نو صاحب د مشکوة په فصل اول کښې نه دے ذکرکړے.

(٦) په مصابیح کښې یې یو روایت حسان کښې ذکرکړیدے. په دے اعتبار سره چه داده بخاري اود مسلم نه دے. نو چه صاحب د مشکوة تتبع او استقراء کړے ده. نو ده ته پته لګیدلے ده. چه داده بخاري اود مسلم روایت دے. نو ده د فصل ثاني دا روایت مخکښې کړے دے. او فصل اول ته یې رسولے دے.

د اجمال وضاحت

مشكوة ثاني د "باب الاشربه" نه مخکښې يو عبارت ذکر کړيدے :وهذا الباب خالٍ عن الفصل الاول۔
په دے باب کښې فصل اول نشته صرف فصل ثاني دے۔ کله کله په کښې داسې راشي۔ چه فصل اول اوثالث په کښې هم نه وي۔ دوه په کښې نه وي۔ يوپه کښې نه وي خوغالبًا يې چه راغستے دي۔
مشکوة اول په "باب الغصب والعارية الفصل الثالث" کښې اول روايت راوړيدے : عن سالم عن ابيه قال قال رسول الله ﷺ من اخذ من الارض شيئًا بغير حقه خذف به يوم القيامة الى سبع ارضين۔
د باب الموقف فصل ثاني آخري روايت دے : عن سهل بن سعد الساعدى انه سئل من اى شيء المنبر۔
نو آخرکښې وائي : رواه ابوداود يوائحي ۔رواه البخاري اګرچه د بخاري روايت هم دے۔
باب تعجيل الصلوة د فصل ثالث روايت دے : عن عبدالله بن عمر قال مكثنا ذات ليلة ننتظر رسول الله ﷺ صلوة العشاء الاخرة .... الخ ۔ (رواه مسلم)۔ ځکه چه داموقوف روايت د عبدالله بن عمر رضى الله عنه دے۔ هم ددے باب آخري روايت دے : عن عبيد الله بن عدى ....الخ ۔ (رواه البخارى)۔ موقوف روايت د بخاري په فصل ثالث کښې ډير راځي۔ چه کله موقوف د صحابي دے۔
باب الوقوف بعرفة د فصل ثالث روايت دے : عن عائشه قالت كان قريش .....الخ ۔ (متفق عليه)۔
ځکه چه د عائشه رضى الله عنها موقوف روايت دے۔
باب صلوة الليل د فصل ثالث اول روايت دے : عن مسروق قال سالت عائشة ....الخ ۔ (متفق عليه)۔
داده عائشه رضى الله عنها موقوف روايت دے۔ اګرچه د بخاري او د مسلم د دواړو دے۔ نوفصل ثالث ته يې په دے بنياد باندے راوړيدے۔
كتاب العلم فصل ثاني چه ختميږي : وسنذكر حديث جابر فانما شفاء العي السوال في باب التيمم ان شاء الله تعالى۔ دا روايت په دے ځائي کښې په مصابيح کښې وو۔ خو ده بوتلے دے باب التيمم ته۔
ده دا وئيلے وو ـ کله کله به څه دده يو تفصيلي روايت نيمګړے کوم۔ او نيم چه کوم ځائي سره مناسب وي۔ هلته به يې ذکرکوم۔ او داسې هم ده لکه دا حديث باب التيمم سره لګي۔
دکتاب الايمان فصل ثاني نه مخکښې روايت دے : والحديثان المرويان عن ابى هريرة قال قال الله تعالى انا اغنى الشركاء عن الشرك والاخر الكبرياء ردائي سنذكرهما في باب الرياء والكبر ان شاء الله تعالى ۔
اګرچه په مصابيح کښې په دے ځائي کښې وو۔ خوصاحب د مشکوة دا حديث جلد ثاني ته اوړيدے

په كتاب الآداب كښې د باب السلام فصل اول دوه ځايه استشهاد دے۔ اول روايت د ابو هريرة رضى الله عنه دے۔ او يو روايت پس بيا د ابو هريرة رضى الله عنه روايت دے۔ نو آخر كښې وائى : لم اجده فى الصحيحين ولا فى كتاب الحميدى ولكن ذكره صاحب الجامع برواية النسائى ۔
دا روايت ما په بخارى، مسلم او په كتاب د حميدى كښې نه دے ليدلے۔ دا صاحب الجامع په روايت داد نسائى سره ذكركړيدے ۔ ځكه چه داده نسائى روايت دے۔ بيا ددے فصل آخرى روايت ته اوګوره:
عن عمر عن النبى ﷺ فى هذه القصة۔ نو آخر كښې وائى : ولم اجدهما فى الصحيحين ۔
باب التيمم د فصل اول آخرى حديث دے : عن ابى الجهيم بن الحارث۔ آخر كښې وائى :ولم اجد هذه الرواية فى الصحيحين ولا فى كتاب الحميدى ولكن ذكره فى شرح السنة۔
په صاحب د مصابيح باندے اعتراض كوى چه فصل اول كښې به دے دا روايت نه راوړو۔ فصل ثالث كښې دے : عن ابى الجهيم بن الحارث بن الصمة۔ نو آخر كښې وائى : متفق عليه۔
باب الاعتصام بالكتاب والسنة د فصل اول آخرى حديث دے : وعنه قال قال رسول الله ﷺ ان الايمان ليارز الى المدينة كما تارز الحية الى جحرها متفق عليه وسنذكر حديث ابى هريرة ذرونى ما تركتم فى كتاب المناسك و حديثى معاويه و جابر لا يزال من امتى ولا يزال طائفة من امتى فى باب ثواب هذه الامة ان شاء الله تعالى. روايت دلته كښې وو۔ ددے ځائى نه يې لرې كړو كتاب المناسك ته يې اوړو او دوه حديثه دى يود معاويه رضى الله عنه او بل د جابر رضى الله عنه۔ خو دے دلته په خپله لړخطاء شوے دے ځكه چه په باب ثواب هذه الامة كښې صرف د معاويه رضى الله عنه روايت راځى:عن معاوية قال سمعت النبى ﷺ يقول لا يزال من امتى.د دواړو نه راوړى.
يو څو روايته پس بيا وائى :عن معاوية بن قرة عن ابيه قال قال رسول الله ﷺ اذا فسد اهل الشام فلا خيرفيكم ولا يزال طائفة من امتى ۔ بيا روستو د فصل اول آخرى حديث كښې اوګوره : وسنذكر حديث معاويه لا يزال من امتى فى باب ثواب هذه الامة ان شاء الله تعالى۔ د جابر رضى الله عنه نوم يې دلته نه دے ذكركړے دے بل حديث كښې يې ذكركړے وو۔ نو يو ځائى خطاء شوے دے۔ نو په بل ځائى كښې يې خپله ټيك كړے دے۔ غټ غټ محدثين وى۔ خو انسان باندے خطاء راتلے شى ۔
مشكوة ثانى باب الصلح د فصل ثانى آخرى كرخه ده : انما قولى لمائة امراة كقولى لامراة واحدة رواه .....الخ ۔ اصل كښې بياض دے ميرك شاه محدث دا ډك كړے دى۔ چه دا په ترمذى اونسائى كښې دے ۔باب الاعتصام بالكتاب والسنة كښې روايت راځى :عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ من تمسك

بسنتی عند فساد امتی فله اجر مائة شهید رواه ...الخ - بیا یې روستو ډك کړے دے رواه البیهقی۔
کتاب فضائل القرآن په فصل اول کښې یو روایت ذکرکوی. داددے د پاره مثال دے. چه کله دے په روایاتو کښې اختلاف ذکرکوی۔ او د هغے تعین کوی چه لفظ د بخاری داد ے۔ او د مسلم داد ے :
عن ابی سعید الخدری ان اسید بن حضیر - نو آخرکښې وائی : واللفظ للبخاری وفی مسلم -
بیا روستو بل حدیث راوړی : عن انس قال ان رجلاً - نو آخر کښې وائی : رواه الترمذی و روی البخاری معناه د معنے په اعتبار سره دا روایت ئې راغستے وی۔
باب ما یقرأبعد التکبیر د فصل ثانی آخری حدیث دے : ولم یسکت هکذا فی صحیح مسلم وذکره الحمیدی فی افراده و کذا صاحب الجامع عن مسلم وحده۔ نو فصل ثانی کښې ولے ذکرکوی -
باب سنن الوضوء په فصل اول کښې اوږد روایت دے : وعنه قال قال رسول الله ﷺ - په دے مینځ کښې بیا وائی : رواه مالك والنسائی ولابی داود نحوه ذکره صاحب الجامع وفی المتفق علیه ـ نو بیا آخر کښې وائی: وفی روایة فمضمض واستنشق. څه په کښې د کتابونو اختلاف ذکرکوم۔
کله کله په روایتونو باندے کلام کوی د ضرورت د وجے نه. هغه ضرورت داد ے : چه دے په احناف باندے رد کوی ـ چه کله حنفی مسلك مستدل راشی لکه مثلًا: باب ما یوجب الوضوء فصل ثانی اوګوره۔ او دے عجیبه غوندے کارکوی۔ چه کله دے په احناف باندے ردکوی۔ نودے به د امام نووی او د محی السنة قول راخلی۔ چه دوی د حدیث تشریح داسے کړے ده۔ نو دوی به خود داسے کوله۔ دا مسئله ذکرکوی چه په خوب باندے اودس ماتیږی اوکه نه ؟ ـ قال الشیخ الامام محی السنة هذا فی غیر القاعد ـ وریسے دوه روایته ذکرکوی۔ یو روایت د بسرة : قالت قال رسول الله ﷺ اذا مس احدکم ذکره فلیتوضا ـ چه کله مس ذکر اوشی۔ نواودس به پرے راځی۔ اختلافی مسئله ده نوشوافع داسے وائی۔ وریسے بل روایت : عن طلق بن علی قال سئل رسول الله ﷺ عن مس الرجل ذکره بعد ما یتوضأ قال و هل هوالا بضعة منه ـ ستا د بدن یو ټکړه ده۔ لکه پوزے له د لاس ووړو ـ بیا لیکی : و قال الشیخ محی السنة هذا منسوخ لان ابا هریرة اسلم بعد قدوم طلق ـ دا ځکه وائی چه دا روایت منسوخ دے۔چه دده د مسلك نه خلاف شو۔ او دده دا خبره د ابن حجرؒ د تحقیق خلاف ده۔ چه یو قاعده ئې شرح نخبة الفکرکښې ذکرکړے ده۔
یو بله اختلافی مسئله ده : چه ښځے له لاس واوړے یا ښځه ښکل کړے۔ آیا دے سره اودس ماتیږی اوکه نه ماتیږی ؟ نو شافعی مسلك کښې ماتیږی۔ اوحنفی مسلك کښې نه ماتیږی۔

حديث كنبي راځي : عن عائشة قالت كان النبي ﷺ يقبل بعض ازواجه ثم يصلي ولا يتوضأ۔
داده احنافو مستدل شو۔ اودس نه ماتيږي۔
نو اوس دوی پرے کلام کوی : وقال الترمذی لا يصح عند اصحابنا۔ په سند باندے کلام کوی زمونږ د
اصحابو (شوافع) په نزد باندے دا نه صحیح کیږی۔
ددے باب آخری روایت ته اوګوره : قال رسول الله الوضوء من کل دم سائل۔
حنفی مسلك دادے : چه په وينه باندے اودس ماتیږی۔ دا زمونږ مستدل دے۔ د شوافع اود
غیر مقلدین په مسلك کنبی اودس نه ماتیږی۔ نو دے وائی : و قال عمر بن عبدالعزیز لم یسمع من تمیم
الداری۔ په دے دواړو باندے يې کلام اوکړو۔ دے وائی څه کلام نه کوم : الا لغرض۔ نو غرض يې دادے
نو چه کلام کوی نو خیر دے۔ ځکه اکثر هر مقلدد خپل امام قول له ترجیح ورکوی۔
تفسیر بیضاوی والا شافعی دے۔ دے وائی : ولاصحابنا۔ زمونږه خپل مسلك والا دا خبره کوی۔
د ابن عادل حنبلیؒ خپل تفسیر اللباب چه ګورے۔ ډیر ښکلے تفسیر دے۔ نو دے وائی : والعجب من ابی
حنیفةؒ۔ څه د امام ابو حنیفةؒ نه تعجب کوم۔ نو په هغه باندے رد اوکړی۔ ځکه مسلك ئې حنبلی دے۔
خپل تقلید يې کلك کړیدے۔
اوپه کوموځایونو کنبی چه د منکر، ضعیف یا د غریب حکم لګولے دے۔ د هغے نمونے دادی مثلاً:
(١) : کتاب الادب د باب السلام د فصل ثانی روایت : عن جابر هذا حدیث منکر۔ او د عمرو بن شعیب قال
اسناده ضعیف۔ او "هکذا عن جابر" باندے بیا د منکر حکم لګوی۔ وعن زید بن ثابت غریب واسناده
ضعیف۔ دا وو "الا مواضع لغرض"۔

حديث ١ : عن عمر بن الخطاب قال قال رسول الله ﷺ انما الاعمال بالنيات وانما لامرىء ما نوى فمن كانت هجرته الى الله ورسوله فهجرته الى الله ورسوله و من كانت هجرته الى دنيا يصيبها او امرأة يتزوجها فهجرته الى ما هاجر اليه۔ (متفق عليه)۔

ترجمه : عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائی : د اعمال د ثواب دارومدار په نیت باندے دے
۔ یقیناً د هر یو کس د پاره هغه وی۔ چه د کوم نیت يې کړے وی۔ هغه څوك چه دده هجرت الله او رسول ته وی
۔ د نیت او د قصد په اعتبار سره هجرت يې الله او رسول ته اوکړو۔ یعنی قبول شو۔ ده له به ثواب ورکوی۔ اودچا
هجرت چه دنیا ته وو۔ او وطن يې پریخودلو۔ چه اوګټی دنیا لره یا يې مقصد دے ښځه چه واده ورسره اوکړی۔
نو دده هجرت هغه څیز ته دے، چه ده هغے طرف ته هجرت کړے دے چه دنیا او ښځه ده۔

حالات د عمر رضی اللہ عنہ

د عمر رضی اللہ عنہ د پلار نوم خطاب وو۔ د عام الفیل ۱۳ کالہ روستو عمر رضی اللہ عنہ پیدا شویدے۔ عمر رضی اللہ عنہ ۵ یا ٦ کال باندے اسلام قبول کړیدے۔ دده نه مخکښې ۴۰ سړو او ۱۰ ښځو اسلام قبول کړیدے۔

علامه اقبال فرمائی:

زشام ما بیرون آمد سحر را — بہ قرآن باز خواں اہل نظر را

تو مے دانی کہ سوز قراءت تو — دگرگون کند تقدیر عمر را

د عمر رضی اللہ عنہ د اسلام نه بعد مسلمانانو ته تقویت ملاؤ شویدے۔ په دارارقم کښې چه کله ده کلمه اووئی۔ نو اعلان یې اوکړو۔ چه جماعت ته به مسلمانان ځی۔ او دروازه د کعبې یې کھولاؤ کړه: اوّل من فتح باب الکعبة عمر، اوّل من هاجر علانیة عمر۔

نبی ﷺ به ده له دعاګانې غوختلے۔ چه اے اللہ رب العزت اسلام له عزت ورکړه۔ چه سیدنا عمر رضی اللہ عنہ دے۔ مراد پیغمبر دے۔ یو مرید وی او بل مراد وی۔ نبی ﷺ غوختله۔ چه دے ایمان راوړی۔ دده منقبت ددے نه ښکاره دے۔ چه د قرآن کریم ډیر آیتونه دده په چاهت باندے نازل شویدی لکه: ﴿يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ﴾ (سورة الاحزاب: ۵۹): ﴿وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ (سورة البقرة: ۱۲۵)۔: ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا﴾ (سورة التوبة: ۸۴)۔ داده چه څنګه اووئی نو هغه شان آیتونه راغلے دی۔

نبی ﷺ به فرمائیل: چه په کومه لار باندے عمر رضی اللہ عنہ روان دے۔ په هغه لار شیطان مخامخ ده ته نه راځی۔ شیطان تیخته کوی که شیعه ګان دی او که نیم شیعه ګان۔ د عمر رضی اللہ عنہ فیصلو ته نه شی تېنګیدلے۔ او د نیم شیعه توب خبره شیخ عبدالسلامؒ په غیث السحابة کښې کړے ده۔

مولانا امین اللہ صاحب مدظله لیکی: خوك چه سیدنا عمر رضی اللہ عنہ سره دشمنی لری۔ هغه د اللہ هم دشمن او د رسول اللہ ﷺ هم دشمن دے۔ لکه شیعه ګان۔ (سیرة الرسول ۱: ۳۷٦)۔

الفوائد لمولوی امین اللہ ۳: ٦ باندے دی: لووضع علم عمربن الخطاب فی کفة المیزان وعلم اهل الارض فی کفة لرجح علم عمربن الخطاب۔

او سیرة الرسول ۲: ۱۱۳ باندے لیکی: فائده: څلوېښت مقامات داسے دی۔ چه د سیدنا عمر رضی اللہ عنہ د رائے مطابق اللہ تعالی آیت رالیږلے دے۔ دے ته موافقاتِ عمر وائی۔ د عمر رضی اللہ عنہ د مزاج موافق اللہ ولے حکم رالیږلو؟ ددے راز دادے: چه په عمر رضی اللہ عنہ کښې د خواهشاتو تابعداری نه وه۔ هره خبره ئې د اللہ د رضا دپاره وه۔ په دماغو کښې بله خبره نه وه۔ بغیر د اللہ

نه ـ بله دا چه د الله په باره کښي سخت وو ـ د چا پرواه ئي نه کوله ـ انتهی ـ

لیکن افسوس چه بیانئ سره ددے لیکلے دی د طلاقو په مسئله کښي چه دا فیصله سیاسي ده.
(امین الفتاویٰ : ٥٤٧)

څه وایم دا ددے دور سیاست نه دے ـ د هغه مزاج کښي اسلامي سیاست اغړلے شوے وو ـ او ددغے روایت سند کمزورے دے ـ لکه خپل بحث کښي به راشي ـ

نبي ﷺ دا دعا هم غوختلے وه : اے الله رب العزت دا حق د عمر رضي الله عنه په ژبه او په زړه دواړو باندے جاري کړه ـ او د نبي ﷺ چه کومے دعاګانے وے ـ هغه به قبولے شوے وی ـ عمر رضي الله عنه په ۲۲ لاکھ څوك ۲۳ لاکھ یاده وی ـ مربع میل زمکه باندے حکومت کړیدے ـ او ډیر ښارونه دده په دور خلافت کښي فتح شوے دی ـ

شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ د مشکوة په شرحه التقریر الرفیع کښي لیکلے دی : چه اول امیرالمومنین دے عمر رضي الله عنه ته وئیلے شویدے ـ اوتفصیل ئي داسے ذکر کړیدے ـ چه یو ځل د عمر رضي الله عنه ملاقات له دوه کسان راغلل ـ یو په کښي زیاد او بل په کښي عدی بن حاتم وو ـ عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنه ته یې اووئیل چه مونږ له د امیرالمؤمنین نه د ملاقات اجازت اوغواړه ـ هغه چه دا نوم واوریدو ـ نو ډیر خوشحاله شو ـ او عمر رضي الله عنه ته یې اووئیل ـ ددے نه پس په امیر المؤمنین باندے مشهور شو ـ

البدایه والنهایه کښي دی : اول من سمي بآمیرالمؤمنین و کان اول من حیاه بها المغیرة بن شعبة ـ (٤ : ٢١).

نودوی اول مغیرة رضي الله عنه یاد کړیدے ـ

کنیت دده ابو حفص وو " اقسم بالله ابو حفص عمر " ـ او لقب یې امیرالمؤمنین جوړ شو ـ

لکه څنګه چه اول امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه جوړ شویدے ـ داسے د هغوی نورے کارنامے دی ـ مثلاً د هجري اسلامي کلینډر آغاز دوی کړیدے ـ په اول ځل دوی باقاعده د فوج اود پولیس محکمه قائمه کړیده ـ او بیت المال ئي برابر کړیدے ـ اول ئي مردم شماري کړیده ـ چه کومے علاقے ئي فتح کړے ـ نو څلور زره نوے جماعتونه ئي په هغه علاقو کښي جوړ کړے دی ـ دغسے د معلمینو او د مدرسینو دپاره ئي باقاعده وظائف مقرر کړے دی ـ د غلے او د غزائي اجناسو د حفاظت په غرض ئي په ټول ملك کښي ګودامونه جوړ کړے دی ـ د اسلامي ریاست باقاعده سکه دوی جاري کړیده ـ او د تراویحو په مانځه کښي مسلمانانو له یو امام دوی متعین کړیدے ـ

المجالسة وجواهر العلم للشیخ الدینوري ابوبکر بن احمد مالکي المتوفی : ۳۳۹ کښي چه تحقیق

ئی ابو عبیده مشهورابن حسین آل سلمان کړیدے۔ په : ٦٨ ، نمبر ٥٠ جزء دوم کښې دی : ان عمر بن الخطاب کان یدعی الفاروق لانه فرق بین الحق والباطل واعلن بالاسلام ، والناس یحفونه ۔

اکثر محققین وائی : چه د عمر رضی الله عنه نه ۵۳۹ احادیث نقل دی۔ په ۲٦ د شیخینو اتفاق دے۔ دا به نه وائی چه دده نه صرف ۵۳۹ احادیث نقل دی۔ ځکه دے په ډیرو احادیثو نه پو هیدو۔ د احادیثو روایت ځانله دے۔ او د حدیثو فهم ځانله دے۔

بخاری کښې روایت راځی : لقد کان فیمن قبلکم من الامم محدثون فان یك فی امتی احدفانه عمر ۔

عمر رضی الله عنه به دا دعا کوله : اللهم ارزقنی شهادة فی سبیلك وارزقنی الموت فی بلد حبیبك ۔

یا الله رب العزت ستا په لار کښې شهادت غواړم۔ او یا الله رب العزت ستا د نبی ﷺ په کلی کښې مرګ غواړم ۔ هم په مدینه کښې مرګ غواړی۔ او سره د شهادت او دعا یې قبوله شوے ده۔ او د ابولؤلؤ مجوسی چه د مغیره رضی الله عنه غلام وو۔ په ګزار سره زخمی شویدے۔ او دا به یې وئیل چه الحمد لله د مسلمان د لاسه څه نه یم قتل کړے شوے۔ بیا د هغے نه بعد ساه په کښې وو۔ نو خپل ځوی عبدالله رضی الله عنه ته یې اووئیل چه لاړ شه۔ د عائشه رضی الله عنها نه تپوس اوکړه۔ چه زما پلار په خپل کور کښې پریږدے ۔ چه څه یې دلته د نبی ﷺ سره دفن کړم ۔ دا ورته مه وایه چه امیر المؤمنین وائی۔ نو عائشه رضی الله عنها ته یې اووئیل۔ عائشه رضی الله عنها ورته وائی چه دا ځائی خو ما ځانله غوره کړے وو ۔ خو څه ترجیح ورکومه عمر رضی الله عنه له۔ بیا یې دومره احتیاط کړیدے۔ چه ځوی ته یې اووئیل هسے نه چه څه ژوندے یم۔ او زما لحاظ یې کړے وی۔ چه ساه مے اووځی۔ نو بیا وریسے لاړ شه او ورته وایه۔ چه ما له په خپل کور کښې اجازت راکوے۔ چه څه دا خپل پلار اوس دفن کړم ۔ ابو حفص عمر رضی الله عنه د ذی الحجے په آخر کښې په ۲۳ هجری کښې په یکم محرم باندے د بده په ورځ وفات شو ۔ چه د ٦۳ سال په عمر کښې عمر رضی الله عنه د خپل انتقال نه پس دنیا خفه او زهیره پریخودله۔ رحمه الله رحمة واسعة ۔ غسل ورله خپل ځوی عبدالله بن عمر رضی الله عنه ورکړے وو۔ او جنازه ئی سیدنا صهیب رومی ادا کړے ده۔

عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمائی: کان راس عمر فی حجری فی مرضه الذی مات فیه۔ قال ضع خدی علی الارض، ما اووئیل چه خیردے زما غیږ کښې خه ئی۔ اوئے فرمائیل ضعه لا ام لك ، ویل لامی ان لم یرحمنی ربی.
(حلیة الاولیاء ۱ : ۵۲)

مقام او مرتبه : د صحیح بخاری شرح د شیخ جلال الدین سیوطی ؒ یو شاګرد شیخ شمس الدین شافعی کړے ده۔ دے کښې لیکلے دی : چه الله دده مقام د څلورو عناصرو په وساطت ښکاره کړو۔

(۱) : دریائے نیل ته ئی خط غورځولے دے ۔ او اوبه راغلے دی ۔ ددوی دا کرامت حافظ ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کښې د آلم سجده په آخر کښې هم ذکر کړیدے ۔ (۲) : یا ساریة الجبل مشهوره صحیح واقعه چه د هوا په زریعه دغه خبره سیدنا ساریه رضی الله عنه ته اورسیدله ۔

بعض علماء ددے په سند کښې په ابن عجلان او فرات ابن السائب باندے کلام هم کوی ۔

(۳) : وُور ۔ عجیبه واقعه : وفی الموطاعن مالك بن انس ان امیر المؤمنین سأل رجلاعن اسمه فقال جمرة ، فقال عمر ابن من ؟ قال ابن شهاب ، قال ممن قال من الحرقة ، قال این مسکنك فقال بحرّة النار ، فقال این بایها قال بذات لظی قال عمر ادرك اهلك فقد احترقوا ، فکان الامر کما قال عمر ۔ (موطا نمبر : ۱۷۵۳) ۔

واقعی دائی عجیبه فراست او کرامت ښکاره شویدے ۔

(۴) : علامه آلوسیؒ تفسیرروح المعانی کښې د سورة بنی اسرائیل ددے آیت چه : ﴿تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا﴾ د لاندے لیکلے دی : د دریائے نیل د واقعے نه روستو : وضرب الارض بالدرة حین تزلزلت وقال لها انی اعدل علیك ۔

الحلیة المبارکة : دے اوگد ، جسیم او گورے گیرے والا وو ۔ او نکریزه به ئی په گیره لگوله ۔ بو عبقری شخصیت وو ۔ لس ئی بچی وو ۔

اهمیت حدیث : انما الاعمال بالنیات ۔ ددے حدیث ډیرلوئی مقام دے ۔ امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې اول راوړی ۔ او صاحب د مشکوة د صاحب د مصابیح د اتباع د وجے نه هم اول دا حدیث راوړے دے ۔ عبدالرحمن بن مهدیؒ فرمائی : چه په هرعالم دا لازم دی که هغه تصنیف کوی ، سبق بنائی ، یا طالب سبق زده کوی ۔ چه دے حدیث ته اول سوچ اوکړی ۔ په ده کښې اخلاص پیدا شی ۔ ځکه دے حدیث ته " طلیعة الکتب " وائی ۔

فضیل بن عیاضؒ فرمائی : ترك العمل لاجل الناس ریاء والعمل لاجل الناس شرك والاخلاص ان یعافیك الله منهما ۔ عمل پریخودل د خلقو د وجے دا ریاء ده ۔ یو سړے عمل ځکه پریږدی ۔ چه خلق به راته گوری ۔ اوړومونځ نه کوم او سبق نه وایم دا ریاء ده ۔ او عمل د خلقو د وجے نه کول دا شرك دے ۔ او اخلاص دے ته وائی چه الله رب العزت تا د دواړو نه بچ کړی ۔ نه په کښې ریاء وی او نه په کښې شرك وی ۔ نو دے ته اخلاص وئیلے کیږی ۔ ابوسلیمان دارانیؒ فرمائی : طوبی لمن صحت له خطوة واحدة یرید بها وجه الله ۔ چه څه خودا وایم خوشحالی ده د هغه چا د پاره چه هغه یو قدم د الله رب العزت په لار کښې اغستے دے ۔ او هغه قبول شوے دے ۔ بعض علماء کرام فرمائی : چه د الله رب العزت د رضا په بنیاد یو سجده قبوله شی د هغوی د پاره هم طوبیٰ ده ۔

د اخلاص په باره کښې واقعات

(۱) واقعه د علی رضی الله عنه او د اعرابی

نـزهة المجالس : ۵کښې ليکلے دی : قال العلائی فی سورة براء ة دخل اعرابی المسجدفصلی صلاة خفيفة فقام اليه علی رضی الله عنه بالدرة وقال اعدالصلوة فاعادها مطمئنا فقال اهذه خير ام الاولی فقال الاعرابی الاولی لانی صليتها لله والثانية صليتها خوفا من الدرة ـ

چه علی رضی الله عنه په جماعت کښې ناست وو۔ يوباندچی ډزغړپ سره مونځ اوکړو۔ چه هغه مونځ خلاص کړو۔ نوعلی رضی الله عنه ورته اووئيل ديخوا راشه دا تا مونځ اوکړو۔ دا دُره ما سره ده څه درته ګورم ۔ ښکلے مونځ اوکړه ۔ که بيا دے مونځ ددے مخکښې پشان اوکړو۔ نو دا دُره درله رابغوم هغه باندچی لاړو۔ او ډير په دمه دمه مونځ يې اوکړو۔ نود مونځ نه پس راغے ۔ علی رضی الله عنه ورته وئيل هسے باندچی تپوس درنه کووم ۔ دا مخکښې مونځ ښه وو۔ اوکه دا روستنے ؟ باندچے ورته وائی دا مخکښې ښه وو۔ علی رضی الله عنه ورته وئيل دا روستنے ښه نه وو۔ چه مزيداردے اوکړو۔ نو هغه وئيل که دا مخکښې ما هر رنګه زرکړيدے ۔خو د الله رب العزت د رضا په بنياد باندے مے کړے وو۔ او دا روستنے که مے هر رنګه ښکلے کړيدے خو د دُرے نه يريدم۔ چه کوم اخلاص وو۔ هغه په دے کښې ختم شويدے۔ د مخلوق د يرے نه بغير اخلاص قيمتی جو هر دے۔

(۲) واقعه د علی رضی الله عنه اود يهودی

شيخ الحديثؒ په فضائل الاعمال کښې ذکرکړے ده ـ چه علی رضی الله عنه يو ځل يو يهودی راغورځولے وو۔ اوګوډه يې پرے ايخے وه۔ چه هغه ورله کله په مخ توکانړی توکلے دی۔ نوبيا يې پريخے دے ۔ هغه ورته وئيل دا ولے ۔نوعلی رضی الله عنه ورته وئيل چه د هغے وجه داده چه ته ما راغورځولے وے لله فی الله۔ او توکانړی دے چه کله اوتوکل ۔ نو نفسی جزبه راغله۔ نوما ذاتی انتقام غوختل۔ هغے سره اخلاص ختميده۔ ددے وجے نه ته ما پريخودے۔

(۳) واقعه د يو نيك سړی

امام غزالیؒ په احياء العلوم کښې او شيخ الحديثؒ په فضائل الاعمال کښې يوواقعه ذکرکړے ده ـ يونيك سړے ديوے اونے د کټ کولود پاره روان شو ـ چه خلق ددے عبادت کوی۔ د شرك جرړے

ختمومه. نوشیطان ورله د انسان په شکل کښې مخے له راغے. چه څه کوے. نوده ورته حال اووئی. نوشیطان ورته اووئیل چه دے ته هیڅ حاجت نشته. په آرام باندے کینه. او دا پیسے واخله او واپس لاړ شه. نو په دویمه ورځ ورته بیا پیسے دجائے نماز د لاندے نه ملاؤشوی. په دریمه ورځ باندے بیا پیسے نه وے. نوده بیا ډیر کوشش اوکړو. خواونه یې کټ نه کړه. ځکه هغه اخلاص ختم شو. بنیادی څیز هغه اخلاص دے. د اخلاص نه خلاص کس شیطان نه شی راوغورځولے. اوورته ئې وئیلے وو: غضبت لنفسك وللدنیا. او د دینار د نه ملاویدو په وجه غضب کښې اخلاص پاتے نه شو.

(۴) واقعه د یو عالم

علامه ابن کثیرؒ په البدایه والنهایه کښې د یو عالم په باره کښې لیکلے دی: چه د بادشاه عضدالدوله د هغه ټولے د شرابو مټکے یې ماتے کړے. صرف یو مټکه یې پریخودله. بادشاه راوغختلو چه دا یو دے ولے پریخودله. نو دے عالم وئیل چه زما په زړه کښې عجب راغے. چه څه دومره لوئی سړے یم. چه بادشاه سره مقابله کولے شم. هغه اخلاص زما ختم شو. نو د هغے د وجے نه ما په آخری مټکه باندے ګزار نه دے کړے.

اودا واقعه امام رازیؒ سورة طه کښې د: ﴿وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِن قَبْلُ﴾. د لاندے هم درج کړے ده. په اخلاص چه چا ګزار کړیدے. نو په هغے کښې لوئی زور دے.

زمونږ شیوخؒ په دے علاقو کښې د توحید او د سنت آواز اولګو. او په هر اعتبار سره یوائې وو. خو آواز یې د اخلاص وو. نو الله رب العزت د اخلاص هغه آواز په دے ټوله دنیا خور کړو.

د منیٰ لوئی میدان دے. مسجد خیف کښې نبی ﷺ بے لاوډ سپیکره خطبه ورکړے ده. اوتقریباً په اتو(۸) میله کښې دا میدان خوردے. او په دے کښې صحابه کرام منتشر اوګډوډ وو. او دا آواز دے ټولو اوریدلے دے. په اخلاصی آواز کښې ډیر لوئی کمال وی.

(۵) واقعه د آدم علیه السلام او د هوسی

شیخ شمس الدینؒ چه دامام سیوطیؒ استاذ دے. په شرح د بخاری کښې یې یو واقعه نقل کړے ده: آدم علیه السلام چه کله دنیا (سرندیب) ته راغے. نو ځناور ورله تماشے له لاړل. چه مونږ یې وینو. نو د دنیا فوائد یې مخکښې کړل. لیکن هوسۍ وئیل زما هیڅ قسم له د دنیا فائده ملحوظ نه ده. صرف یو نبی دے نیک سړے دے. څه ورله خوا له ځم. او نور څه مقصد مے نشته هوسۍ چه کله

لاړه ـ نو آدم علیه السلام ورله لاس په بدن باندے راکاږه ـ د هغے نه پس د هغے په نافه کښې مشك جوړیدل شروع شو ـ

د هغه نه تر دے وخته پورے د بعضو هوسو خاصه داده :

فان تفق الانام ولست منهم　　　فان المسك بعض دم الغزال

د هغے نه مشك جوړیږی ـ دا مشك په اخلاص سره جوړیږی ـ

دا واقعه نزهة المجالس کښې علامه صفوری شافعیؒ په ۴: باندے ذکر کړے ده : نحن زرناه لله، لیکن یو اسرائیلی واقعه ده" لا نصدق ولا نکذب "او دا واقعه علامه دمیریؒ هم په حیوة الحیوان کښې ذکر کړے ده.

(٦) واقعه د یو مجاهد

علامه ابن قتیبةؒ لیکلے دی : مسلمه فوجی جرنیل وو ـ او ده یو قلعه فتح کول غوختل ـ د هغے قلعے نه پرے گزارونه کیدل ـ او دشمنانو به غشی راویشتل ـ او دوی په قلعه کښې بند وو ـ په دوی کښې یو کس وو ـ هغه به گزارکوو ـ او د هغه په مقابله کښې چا رسا او برابر گزار نه شوکولے ـ صرف یو سړے د مسلمانانو نه داسے وو ـ چه د هغه شیش توله وو ـ چه کله گزار یې اوکړو ـ نو تندے د هغه اولگیدو ـ په شا واوریدو ـ او قلعه فتح شوله ـ نو مسلمه اعلان اوکړو ـ چه دا کار چا کړیدے ـ ماته دے ځان اوښائی ـ دا ډیره لوئیه قربانی ده ـ نو ده ورته ځان نه ښا وو ـ مسلمه چه په دریم ځل باندے اعلان اوکړو ـ نو دے لاړو ورته وائی ـ ماته سړے معلوم دے ـ خو هغه شرطونه لگولے دے ـ که هغه شرطونه برابره وے ـ نو ټیك ده ـ هغه وئیل بالکل یې برابرومه ـ چه څه سړے اووینم ـ نو اول شرط د هغه دادے : بادشاه ته به د هغه نوم نه لیږے ـ د دنیا فائده ترینه جوړه نه شی ـ دویم شرط دادے : چه د هغه نه به ددے تپوس هم نه کوے ـ چه ستا نوم څه دے ؟ ـ او ته د کوم کلے یې ؟ ـ دریم شرط دادے : چه چا ته به وائی هم نه ـ چه دا څه یم غشے ماویشتلے دے ـ ددینه پس به مسلمه دا دعا غوختله یا الله رب العزت زما حشر د هغه چا سره اوکړه ـ چه چا دغه گزار کړیدے ـ ځکه په هغه کښې اخلاص وو ـ

(٧) : واقعه د پنډی شیخ رحمه الله

پنډی شیخؒ د پشاور مسجد قاسم علی خان کښې تقریر اوکړو ـ چه کله خلق لاړو ـ نو عارف نومے بریلے وو ـ د خدمت اود عقیدت په انداز د محراب خواه ته راغے ـ او خلق د مسجد نه وتلی وو ـ اوچاړه یې راواغسته ـ اوهغه یې حلالو چاړه تر څه وخته پورے لړه غوندے چلیدله ده ـ خو شیخ صاحب یې

زورکړو۔ نو الله رب العزت بچ کړو۔ هغه بریلے یی بیا معاف هم کړو۔ په درس کښې به ورته چا چیتیے اولیکله۔ چه واقعه بیان کړه۔ نو شیخ صاحبؒ به وئیل : چھوڑاس سے نفس موٹا ہوتا ہے پریدوه دے سره نفس غټیږی۔ او چه نفس غټیږی نو اخلاص ختمیږی۔

(۸) واقعه د ابو موسی اشعری رضی الله عنه

امام بخاریؒ په غزوه ذات الرقاع کښې یوروایت نقل کړے دے۔ چه ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه اوفرمائیل چه مونږه کله غزا له تلو۔ نو زمونږه خپو پوستکی غورځولے وو۔ او وینے ترے بهیدلے۔ او مونږه سفر د جهاد جاری ساتلے وو۔ د هغے نه پس یی اووئیل ارمان چه ما دغه خبره نوه ذکرکړے. ځکه په هغے اخلاص کښې فرق راغے۔

قاعده بغدادی او نورانی ځکه مقبولیت لری، چه مصنف ئی د اخلاص د وجے ځان نه دے معرفی کړے. دلته استاذ او شاګرد دواړو ته وائی سبق ته کینے۔ او حدیثو نه وائی یا اورے۔ نو اول تاله پکاردادی۔ چه ته اخلاص په ځان کښې پیدا کړے۔ چه څومره اخلاص وی ۔ نو دومره به ستا مرتبه اوچته وی۔

علامه قسطلانیؒ په ارشاد الساری کښې ددے حدیث په تشریح کښې لیکلے دی : ادراك المقاصد على نية القاصد۔ د قاصد چه څومره نیت اوچت وی۔ دومره به الله رب العزت ده ته مقاصد ورکوی۔ چه ښه نیت او اخلاص سره سبق اووائی۔ نو الله رب العزت به ډیرکار د هغه نه واخلی ۔ او چه څوك په اخلاص سره سبق اونه وائی۔ نود هغه نه کار نه اخلی۔ روغ نیت او منزل آسان۔ حدیث کښې دغه پیغام دے۔

د نیت د پاره شرائط

(۱) اول شرط اسلام و ایمان دے۔ چه یو سړے کافر وی۔ او هغه هر څومره نیتونه اوکړی هغے له د آخرت په اعتبار فائده ځکه نشته چه قرآن کښې دی : ﴿وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا﴾ (سورة الفرقان : ۲۳)

(۲) دویم شرط ورله تمیز دے۔ کوم کس چه تمیز نه شی کولے ، د هغه نیت له اعتبار نشته۔ لکه لیونی دے۔ دغه شان صبی ماشوم یعنی نابالغه دے۔

(۳) دریم شرط ورله : العلم بالمنوی دے۔ چه کوم نیت کوی۔ نو ددے علم به ورته وی۔ چه دا څه شئ

دے۔او په کومه طریقے سره به ددے نیت کوے۔

(۴) څلورم شرط دادے: په دغه کارکولو وخت کښی داسے یوکار اونکړی۔ چه هغه منافی وی د نیت۔لکه مثلاً العیاذ بالله مونځ هم کوی۔او په مانځه کښی دے ارتداد اختیارکړی مرتد شی۔
یعنی هغے کارسره ئی منافات دی۔ مثلاً مونځ سره د ارتداد یا د شرکی عقیدے نه په خشوع خضوع سره ادا کوی۔
علامه ابن نجیمؒ لیکی: اول مقصد الله ته د نزدیکت نیت اوکړه: فرارا من الرياء والثانی: التمییز بین الالفاظ المحتملة لغیر المقصود۔والثالث قصد الانشاء لیخرج سبق اللسان یعنی فی غیر الایمان والطلاق۔
(الاشباه والنظائر ۱: ۱۶)

دحدیث عظمت: انما الاعمال بالنیات۔دا حدیث امام بخاریؒ ۷ کرته ذکرکړیدے۔اول د باب: بدؤ الوحی کښی، نکاح، عتق، هجرت، ترك الحیل او نذورکښی۔(کنوزالسنة)۔
امام احمدؒ فرمائی: د نبی ﷺ په احادیثوکښی د ډیرو فائدو مشتمل دا حدیث دے۔ددے نه زیات فائدو والا حدیث نشته۔ ځکه د اخلاص اهمیت مسلم دے۔الفیه د عراقی کښی خطبه داسے ذکرده:
الحمدلله الذی قبل بصحیح النیة حسن العمل۔
امام شافعیؒ او امام احمدؒ دواړه فرمائی: چه دا حدیث ثلث العلم دے۔د علم دریمه حصه ده۔ ځکه چه درے څیزونه دی۔(۱): ژبه (۲): اندامونه (۳): زړه۔او په دے کښی د زړه خبره ده۔ ځکه دے ته ثلث العلم وئیلے کیږی۔
اود بعض علماؤ امام شافعیؒ ته منسوبه دا خبره ده۔ چه دا نصف العلم دے۔ ځکه چه دوه څیزونه دی (۱): بدن (۲): روح۔یوقلب دے۔بل قالب دے۔یو ظاهر دے بل باطن دے۔او په دے حدیث کښی یی د هغے نه یوراغستے دے چه باطن یعنی زړه دے۔ چونکه دا دوو کښی یو شو۔نو په دے اعتبار سره نصف العلم شو۔
میاں نذیرحسین دهلوی به فرمائیل: چه دا حدیث په ۲۷ ورځوکښی څه طالبانوته درس کوم۔
(الحیاة: ۶۵ مؤلف فضل حسین مظفرپوری)

بعض وائی: چه څلوراحادیث د دین بنیاد دے: (۱): الحلال بین والحرام بین و بینهما مشتبهات لا یعلمهن کثیر من الناس۔ حلال اوحرام دواړه ښکاره دی۔او ددے په مینځ کښی بعضے هغه څیزونه دی۔ چه

انسان په شك او اشتباه کښې غورځوي. په هغې باندې ډیر خلق نه پوهیږي.

(۲): حدیث کښې راځي: د دنیا نه بې رغبتي اختیارکړه. نو د خلقو به درسره مینه پیدا شي. دا "زهد في الدنیا یحبك الله.

(۳): حدیث کښې راځي: من حسن اسلام المرء ترکه مالا یعنیه - بې فائدې خبرې چه ستا د دنیا او د آخرت په کښې یو فائده نشته. دا پریده دا ډیره اهمه خبره ده.

شیخ سعد د هندوستان په خپل کتاب منتخبات کښې د "ترك لا یعني" مستقل بحث کړیدې. او ددې آیت نه ئې استدلال کړیدې: ﴿إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّناً وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ﴾. (سورة النور: ۱۵).

حافظ ابن کثیرؒ د سورة المؤمن: ۵۰ په تشریح کښې لیکلې دي: قال وهیب بن الورد حدثني رجل كنت اسیر ذات یوم في الارض الروم فسمعت هاتفًا من فوق رآس جبل وهویقول یارب عجبت لمن عرفك كیف یرجوا احدا غیرك - یارب عجبت لمن عرفك كیف یطلب حوائجه الى احد غیرك ثم عاد الثانية فقال یارب عجبت لمن عرفك كیف یتعرض لشيء من سخطك یرضي غیرك قال فنادیته أجني انت ام انسي ؟ قال بل انسي اشغل نفسك بما یعنیك عمالا یعنیك. یعني دغه تعلیم وو. چه "ترك لایعني" اختیار کړه.

(۴): انما الاعمال بالنیات دې.

امام احمدؒ ورسره دا حدیث هم نقل کړیدې: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد.

ځکه بعض علماؤ دا وئیلې دي: چه دا "ربع العلم" دې.

ملا علي قاريؒ په مرقات کښې شعرونه نقل کړې دي. او امام شافعيؒ ته ئې منسوب کړیدي:

عمدة الدین عندنا كلمات اربع ما قالهن خیر البریة
اتق السیآت وازهد ودع ما لیس یعنیك واعمل بنیة

(مرقات ۲٤) په ۴۲ کښې لیکي: عمدة الخیر عندنا كلمات ...الخ.

د دین خلاصه زمونږ په نزد باندې څلور خبرې دي. نبي ﷺ د هغې ذکرکړیدې.

ددې نه یو بله خبره معلومه شوه. چه دا ته وئیلې شي. چه د دین خلاصه او د دین اهمې خبرې چه د نورو خبرو د چلیدو د پاره بنیاد دې دا دومره دي. تبلیغیان چه وائي مونږ ته مشرانو ٦ خبرې خودلې دي - که مونږ په هغې باندې عمل اوکړو. نو مونږ ته به په ټول دین باندې تلل آسان شي. لکه دلته ملاعلي قاريؒ دا شعر ذکرکوي. چه د خیراو د دین خلاصه اوعمده خبرې څلور دي.

دوه اهمے خبرے

ملاعلی قاریؒ په مرقات کښې ددے حدیث په تشریح کښې دوه اهمے خبرے ذکر کړے دی.

(۱) یو یې د حسن بصریؒ قول نقل کړیدے. دے یو ځل په لاره باندے تلو نو مداری یې اولیدلو: لما رای بهلوانا یلعب فوق الحبال. د رسئ د پاسه ګرځیده لوبے یې کولے. او منډے یې وهلے. نو وے فرمائیل: چه دا سړے د هغے عالمانو نه غوره دے. چه د هغه د علم مقصد صرف یکم تاریخ وی. چه صرف دنیا ده د دوی نه دا مداری غوره دے. ځکه دے دنیا په دنیا ګټی او دا نور غلط عالمان دوی دنیا د دین په نوم باندے ګټی.

(۲) دویمه ئے دا خبره ذکر کړے ده: چه د بنی اسرائیلو یو سړے وو. هغه په یو ریګستان باندے تیریدو او دائے اووئیل چه یا الله که ماله د دومره پیسے راکړیوے. چه څومره په دے ریګستان کښې شګی دی. نو دا ټولے پیسے به د الله رب العزت په لاره کښې وقف او تقسیم کړم. وخت د پیغمبر ته وحی اوشوه. چه دے سړے له ددے ټولے صدقے ثواب اولیکلو شو. خو نیت ئے ښه دے.

دا په مسند ابو یعلی کښې هم یو روایت راځی. نبی ﷺ فرمائی: چه انسان کله خپله اعمالنامه اوګوری نو په دے کښې به څه څیزونه اوګوری. وائی به دا دومره اجر وثواب د کومے غاړے راغے. ما خو دا کارونه نه دے کړے. د الله رب العزت نه به تپوس اوکړی. په جواب کښې به ورته اووائی. چه تا خو دا نه دی کړے. خو نیت او عزم مصمم ستا داوو. چه دا کارونه به څه کوومه. د هغے نیت د وجے نه تاته دا ثوابونه او اجرونه ملاو شو.

علامه نیلوی صاحبؒ مجموعه رسائل نهم جلد په "اصلاح النیة" لګولے دے.

په دے د ملا علی قاریؒ مستقله رساله ده "تطهیر الطویة بتحسین النیة" د هغے په: ۲۴ باندے دی: الخلق کلهم هلکی الا العالمون، والعالمون کلهم هلکی الا العاملون، والعاملون کلهم هلکی الاالمخلصون والمخلصون علی خطر عظیم ـ او علامه آلوسیؒ هم "فقد صح" سره داد: ﴿ تَوَلَّوْاْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ﴾ (سورة البقرة: ٢٤٦) د آیت د لاندے لیکلے دی.

دغسے ملا علی قاریؒ د ابوشکور سالمی د التمهید آخر کښې خپله رساله د اعتدال فی الصلوة په دے ختمه کړے ده.

"انما الاعمال ": " الاعمال " جمع د عمل ده. په عمل او په فعل کښې یو څو مشهور فرقونه دی. او دائے اونه وئیل چه : انما الافعال -

او قرآن کریم کښې لفظ د عمل ۳۶۰ دفعه او لفظ د فعل ۱۰۹ دفعه راغلے دے. اکثریه فرق څه دے؟

(۱) یو فرق داد ے : چه عمل د انسان اختیاری کارته وائی. چه د عقل مندنه صدورته راغلے وی. او فعل عام دے. که اختیاری دے. اوکه غیراختیاری وی. نو هغے ته هم وائی. دد ے وجے نه د بهائم کارته فعل وائی : فعل البهائم عمل البهائم ورته نه وائی. د انسانانو هغے ته عمل وائی. او د فعل نسبت بهائم ته کیږی. صرف یو ځائی دے. شیخ الحدیث صاحبؒ په التقریر الرفیع کښې لیکلے دی : چه ځناورو ته ئی دد ے نسبت کړے دے. لکه په فقه کښې راځی : عوامل کار کوونکی څاروی. چه په پټو کښې کارکوی.

(۲) دویم فرق داد ے : په فعل کښې دوام نه وی دا وقتی وی :﴿ أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ ﴾ (سورة الفیل). ﴿ وَفَعَلۡتَ فَعۡلَتَكَ الَّتِي فَعَلۡتَ وَأَنتَ مِنَ الۡكَافِرِينَ ﴾ (سورة الشعراء : ۱۹). او په عمل کښې دوام وی ځکه قرآن کریم کښې راځی :﴿ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ ﴾ دا نه وائی چه : وافعلوا ـ یونیم یو ځائی کښې راځی : ﴿وَافۡعَلُوا الۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴾ (سورة الحج : ۷۷). عام طور باند ے "واعملوا "عمل کښې نسبت انسان ته کیږی . او دا عمل د انسان به هله عمل وی. چه کله هغه دائمی وی.

داد علامه حُوبی جواب دے : فعل لږه زمانه کښې صدور ته راځی. عمل زمانه اوګده ، استمرار او تجدد غواړی. قرآن کریم کښې دی : ﴿ فَلۡيَعۡمَلِ الۡعَامِلُونَ ﴾. (سورة الصافات : ٦١) ـ نو عمل اخص دے د فعل نه.

عمل کردن ته وائی. او فعل ساختن ته وائی. اوقول عمل کښې داخل دے. فعل کښې نه دے داخل.

(۳) د عمل دپاره د صحت ملحوظیت به ضروری وی. او د فعل دپاره نه دے ضروری. بے اودسه مونځ فعل دے. مګر عمل نه دے. نو عمل د مکلف د فعل اختیاری نوم دے.

(۴) عمل خاص او فعل عام دے. ځکه چه عمل کښې نیت شرط دے. او فعل کښې نه دے.

او د عمل الجوارح نه عمل القلب لکه توحید ، او خوف او تل.

"النيات ": جمع د نیت ده۔ نیت د باب " ضرب یضرب " نه راځی لغةً۔ د قصد په معنی وی۔ یا د" نوی" معنی " بعد " دے۔ نیت کوونکے د کار نه لرے دے۔ نو په خپلو اندامونو او حرکاتو د هغے طلب ئی د عزم په درجه کښې مقصود دے۔ او دے حدیث کښې لغوی معنی مراد ده۔ ځکه روستو خه او خراب نیت ته تقسیم ذکرکوی۔ علامه طیبی" فرمائی: چه لغوی نیت ئی مراد دے۔

او لغوی نیت: انبعاث القلب لما یراه موافقا لغرض من جلب نفع او دفع ضرّ۔

نیت او اراده کښې فرق

نیت او اراده کښې څه فرق دے؟۔ مثلاً یو طالب د طالب علمی اراده اوکړه۔ د سفر شروع کیدو پورے دیته عزم وائی۔ دا په فعل باندے مقدم وی۔ د شروع کیدو نه روستو چه د علم کوم مقصد دے چه ځه به اخلاص سره علم حاصلوم۔ او د حق اشاعت به کوم دا نیت دے۔ نو عزم او اراده دا په فعل باندے مقدم وی۔ او قصد د فعل سره متصل وی۔ لیکن نیت او اراده متصل هم وی او په هغے کښې د عمل غایه هم ملحوظ وی۔

یعنی (۱): عزم هغه اراده ده۔ چه د فعل نه مخکښې وی۔ (۲): قصد دا هغه اراده ده چه د فعل سره متصل وی۔ (۳): نیت هغه اراده ده چه د فعل سره متصل هم وی۔ او په هغے کښې د عمل غرض وغایت هم ملحوظ وی۔ مثلاً یو سړی د عمرے اراده کوی۔ د سفر نه د شروع کیدو تروخته دیته عزم وائی۔ د شروع کیدو نه بعد مقصد شروع کیږی۔ اوکه داد ملحوظ وی۔ چه د عمرے دا سفر د آخرت د ثوابونو د ګټلو زریعه ده۔ که د الله د رضا دپاره وی۔ نو دے ته نیت وئیلے کیږی۔

علامه قسطلانی" په ارشاد الساری کښې دا تعریف ذکرکړیدے: چه توجه د زړه یو کار طرف ته: ابتغاءً لمرضاة الله وامتثالاً لحکمه۔ چه الله رب العزت خوشحاله شی۔ او څه د هغه دحکم تعمیل اوکړم۔ په الأشباه والنظائر کښې ئے دا تعریف کړیدے۔

او فتح الاله کښې تعریف دے: قصد الشیء مقترنًا لفعله ابتغاء لوجه الله وامتثالاً لحکمه۔

علماء کرامو اختلاف کړیدے۔ حدیث ئے حنفی او شافعی فقه طرف ته بوتلے دے۔ حالانکه صحیح داده۔ حدیث کښې دغه خبره نشته۔ انما الاعمال بالنیات کښې دا بالنیات جار مجرور تعلق به څه سره قائمه وے؟ احناف وائی: انما ثواب الاعمال بالنیات یا انما تعتبر الاعمال بالنیات۔ او شوافع وائی: انما صحة الاعمال بالنیات۔ عمل به هله صحیح کیږی چه نیت اوکړی۔

او علامه ابن حجر هیثمیؒ شرح کښې د احنافو تقدیر ذکر کوي : انما کمال الاعمال.
اودس له نیت ضروري دے یا نه دے ؟ دامسئله ئے دے حدیث نه راوستے ده. شوافع وائي : اودس یو عمل دے ـ دے له به نیت پکار وي. که نیت دے اوکړو. نو اودس دے اوشو. اوکه نیت دے نه وي کړے. نو اودس دے نه دے شوے.
احناف وائي : چه اودس خالص عبادت غیرمقصوده دے. ځکه چه په تش اودس کولو بے د عمل د ادا کولو نه ثواب نشته. اودس کښې دا یو تردد دے. چه عبادت محضه یعني غیرمعقولة المعنی دے. ځکه چه مقصد په دے سره مونځ وغیره عبادت سره د الله رب العزت قرب حاصلول دي ـ او یا دا عبادت معقولة المعنی دے. د جنابت یا د غسل غوندے. او اتفاق دے. چه عبادت محضه نیت ته محتاج وي. او عبادت مفهومة المعنی نیت ته نوي محتاج. او اودس کښې دواړه قسمه مشابهتونه موجود دي. ځکه په کښې اختلاف راغے. اودس کښې عبادت او نزاکت دواړه شته. او چه چا سره ئې الحاق زیات مشابهت لري. هغے سره دے مُلحَق شي. (کذا في بدایة المجتهد ، التعلیق الصبیح لشیخ محمد ادریس کاندهلوی)
یو تن متے اونغاړي. او دوچے ته کیني یا کوزے له ځي. نو نیت ئے داد ے. چه ځه به اودس کومه. په دے کښې دا نشته ـ چه ځه نیت کومه د اودس د پاره. ځکه دده قصد او اراده شته. که د شکال موسم وي ـ او باران پرے اوشو ـ او اندامونه ئے لامده شو. اوس اختلاف کولے شے. چه آیا دده دا اودس اوشو یا او نه شو. ددے وجے نه شاه انور کشمیریؒ فرمائي : انما الاعمال بالنیات . تقدیر راویاسه : تعتبر بالنیات . او د نیت نه معنی لغوي واخله. روستو هغوي وائي : د حدیث مطلب داد ے : چه خلق دوه قسمه نیتونه کوي. یو صحیح او بل وران نیت کوي. او د سم نیت نتیجه سمه ده. او د وران نیت نتیجه ورانه ده ـ لکه یو تن د الله رب العزت د رضا په بنیاد باندے جماعت جوړوي : من بنیٰ لله مسجداً بنی الله له بیتاً في الجنة . لیکن یو بل تن جماعت جوړوي : ﴿ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (سورة التوبة : ۱۰۷) ـ دا دواړه جماعت جوړوي. خو د یو دا جماعت تباهي ده. او د بل دا جماعت د اجرونو ' ثوابونو د پاره باعث جوړیږي. ځکه د یو نیت سم دے او د بل خراب دے.
قاضي شمس الدینؒ لیکي : چه د زړه مثال د کوهي دے. که دننه په کښې اوبه پاکے وي. پاکے به راوځي. اوکه پلیتے وي نو پلیتے به راوځي. او دائي حقیقت لیکلے دے ځکه : الاناء یترشح بما فیه.
حدیث د بخاري کښې راځي : چه یو فاجره او فاسقه ښځه وه. ډیره تږے شوے وه. اوبه چه ئے اوڅکلے

نو سپی ئے اولیدلو۔ چه د تندے نه ئے ژبه راوباسلے ده۔ دا پرے خفه شوه۔ نو دے سره موزه یا پنړه وه۔ هغے ته ئے لوپټه غوټه کړه۔ او اوبه ئے د کوهی نه راوباسلے۔ او سپی ته ئے واچولے۔ نو الله رب العزت بخلے ده۔ ځکه نیت ئے سم وو۔ ثوب خونه وو۔ او ویډیو کیمره هم نه وه۔ اونه سپی چاته حال وئیلو۔ ځکه چه سپی خوخبرے نه شوے کولے۔ چه دلته یوے ښځے ما سره احسان اوکړو۔

او په مسند احمد ۱۲ : ۴٦۱ باندے دی: بینما رجل یمشی وهو بطریق اذ اشتد علیه العطش فوجد بئرا فنزل فیها فشرب ثم خرج فاذا کلب یلهث یاکل الثری من العطش فقال لقد بلغ هذا الکلب من العطش مثل الذی بلغنی فنزل البئر فملأ خفه ماء ثم امسکه بفیه حتی رقی به فسقی الکلب فشکر الله له فغفر له۔

دا عمل ډیر د اخلاص په بنیاد باندے شوید ے۔

دغه شان هجرت یو هغه دے چه د الله رب العزت او د رسول د پاره دے۔ اویو هجرت د ښځے او د دنیا د پاره دے۔ د یو هجرت آثار مرتبه ښکلے دی۔ او د بل آثار قبیح دی۔

په انما الاعمال کښی صرف اعمال نه دی۔ بلکه اقوال هم دی۔ ځکه دا هم د ژبے عمل دے۔ دے له هم نیت ضروری دے ـ که یو کس غیراختیاری طور باندے د ژبے نه د ارتداد کلمه اوباسی ـ دا سړے به مرتد نه وی۔ دے پو هه نه شو۔ غیراختیاری طور باندے یو غلطه خبره ئے د خولے نه اوباسله۔ په دے کښی دده اختیار نشته۔ ددے نه مستثنیٰ دے طلاق اوعتاق او رجعت۔ یو تن ښځے له طلاق ورکړو الفاظ د طلاق ئے اووئی ـ اګر چه ده ورته وئیل ـ اوبه راوړه او د خولے نه ئے اوختل ته طلاقه ئی۔ نو طلاق حنفی مسلك کښی واقع کیږی۔ وجه داده چه نیت طلاق له نه دے ضروری۔ دا اقوال عام مخصوص عنه البعض دے۔

حدیث کښی راځی : ثلاث جدهن جد وهز لهن جد الطلاق والنکاح والرجعة لماحسنه الترمذی ـ په هغے کښی د نکاح ذکر راغلے دے ـ او د طلاق اود رجعت۔ علامه البانیؒ ارواء کښی ۱۸۲٦ نمبر باندے ذکرکړیدی۔ اوګوره : (باب رکنی النکاح وشروطه : ۲۲۸)۔

حب اوبغض هم د زړه یوعمل دے۔ ځکه حدیث کښی راځی : من احب لله وابغض لله واعطی لله ومنع لله فقد استکمل الایمان۔ چه څه کوے۔ نودا به د الله رب العزت د پاره کوے۔ ځکه : انما الاعمال بالنیات۔

قاضی شمس الدینؒ لیکلے دی : چه ترك بمعنی کف النفس عند تهیئ اسباب المعصیة۔ دا هم په هغه عمل کښی داخل دے۔ چه الله پرے اجر ورکوی۔ : ﴿وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ

الْهَوَى ' فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى ﴾ . (سورة النازعات : ٤٠ ' ٤١) . لیکن ترك مجرد نه دے مراد.
دا نیت ددے د پاره دے . چه عادت د عبادت نه . اویو عبادت د بل عبادت نه جدا کړی . یو تن عادةً قبلے ته مخ کړیدے . او یوتا نیت تړلے دے . قیام کوی الله رب العزت ته . دا یو دے عادت اودا بل دے عبادت.
بل مثال داد ے : یو هسے ستا د سحرنه ترمابنامه طبیعت خراب دے . روټئی نه خورے . او د شهوت نه ځان بچ کوے . او اوبه نه څکے . دا روژه نه ده . او یو دے نیت کړے دے . د الله رب العزت د رضاپه بنیاد باندے تا امساك کړیدے . ددے امورونه . ددے په مینځ کښی امتیاز په نیت باندے راځی.
د یو عبادت او د بل عبادت په مینځ کښی امتیاز په نیت راځی . لکه مونځ دے . داده ظهر دے که د عصر . داده نیت سره متعلق دے.
په دے کښی امتیاز د معبود نه دمعبود راځی . ته عبادت کوے . نو چا له ئے کوے . الله رب العزت له ئے کوے . اوکه غیرالله د پاره ئے کوے.
یو مباحات دی ددے نه ته عبادت جوړولے شی . په دے کښی ښکلے نیت اوکړه . دا به دے عبادت شی مباحات دا معنی د مازیگر نه پس چکر لگوے . هغه ستا خوښه ده که چکر لگوے او که نه ؟ . نیت اوکړه چه دا چکرلگومه . چه ذهن برابر شی . او بیا کتاب ښه کتلے شم . نو دا ستا د پاره عبادت دے.
دغه شان خوب دے . یو عالم اوطالب علم خوب کوی . چه دماغ برابر شی . څه کتاب کتلے شم . سبق وئیلے شم . او د دین یو بل کارکولے شم . نو دا خوب ورله عبادت دے.
بخاری کښی روایت راځی معاذ رضی الله عنه فرمائی : احتسب نومتی کما احتسب قومتی.
په خوب کښی چه څنګه ثواب ګڼړم . په تهجدوکښی هم ثواب ګڼړم.
علامه ابن تیمیہؒ فرمائی : وقال معاذ بن جبل لابی موسی انی احتسب نومتی کما احتسب قومتی . وفی الأثر نوم العالم تسبیح . (مجموع فتاوٰی ٤ : ٣٢) .
تبلیغیان وائی : د عالم خوب عبادت دے . د نبی ﷺ په طریقه ملاست دے . او نیت ئی دے . چه آرام حاصل کړم . د دین دپاره به ځان سترے کوم .
مشکوۃ کښی روایت راځی : یوتن ښځے له په خُله کښی نوړے ایږدی . دا هم عبادت دے . صحابی اووئیل نبی ﷺ ته . چه په دے کښی څه ثواب دے ؟ . نبی ﷺ ورته اووئیل که پردے جینئ ته وائی خُله وازه کړه . او دا نوړے ورله په خُله کښی ایږدی . نو عذاب به ورته ملاویږی او که نه ؟ . صحابی

اوویـل چـه آو ـ ولـے دلته شهوت پوره کوی. او دیخوا د شهوت نه ئے دین جوړ کړیدے. دا هم ثواب دے.

په ګناه کښی به ته نیت د ثواب نه کوے. لکه مثلاً یو تن وائی : څه د پاتلے اونے کټ کوومه. ما نیت کړے دے. چه جماعت له به ترے دروازے جوړومه. نودے نیت له اعتبار نشته.

یابه یو سړے اووئی : العیاذ بالله چه څه زناګانے کوومه. چه دا ښځے یو څو بچی راوړی. ددوی نه مجاهدین جوړومه. دوی به جهاد له لیګم. زما نیت ښه دے. نو مخکښی به کارته هم ګورے چه ښه دے او که نه ؟ ـ دا خو د یوسف علیه السلام د رونړو هغه کار شولو. چه کوهی ته ئی اوغورځوه. زمونږ نیت ښه دے. چه دے نه وی نو مونږ به خپل پلار او پیغمبر ته محبوب شو.

په معصیت کښی ښه نیت اونه کړے. د معصیت ښه نیت ځانله لوئی معصیت دے.

مباحات کښی نیت کوه. په دے کښی به تاته ثواب ملاویږی.

په مونځ کښی د نیت مسئله

په مونځ کښی نیت څنګه دے ؟ نیت مے اوکړو د زړه د اخلاص ... الخ.

یو صورت دادے : چه د ژبے دا الفاظ ځوك عبادت اوګنړی. او دے ته تعبد وائی. نودا بدعت دے. تصریح کوی ملاعلی قاریؒ په مرقات کښی د علامه ابن قیمؒ قول نقل کړیدے. هغه وائی : د نبی ﷺ داسے معمول نه وو. چه هغه داسے نیتونه تړلے دی. په دے ضمن کښی ئے دا عبارت راوړیدے : ولا یجوز التلفظ بالنیة فانه بدعة والمتابعة کما تکون فی الفعل تکون فی الترك ایضًا فمن واظب علی فعل لم یفعله الشارع فهو مبتدع ـ ځوك چه په فعل باندے مواظبت کوی. او د شارع نه نوی ثابت. نودا سړے بدعتی دے. په فعل او په ترك کښی د نبی ﷺ اتباع ده. نبی ﷺ دا نیتونه نه دی کړے.

حنابلو د ابن قیمؒ عبارتونه راغستے دی. هغه خودے ته مطلقًا بدعت وائی.

علامه ابن حجر هیثمیؒ فتح الہ : ۳۰۲ په باب صفة الصلوة کښی لیکلے دی : التلفظ بالنیة والاستقبال والعدد والأداء أو القضاء وکونه امامًا او مأمومًا وفرض الوقت وصلاة کذا.

علامه ابن تیمیةؒ په فتاوی کښی دوه ځایه تفصیل کوی.

(۱) یو صورت دادے : چه دے وائی : زما زړه ته به هله کوزیږی. چه زما الفاظ ادا شی. لکه بعض امیان ئے چه څنګه وائی. اوس په دے کښی دا الفاظ په ژبه ادا کوی. او زړه ته نه ځی. نو دا خو هیڅ

خبره نه شوه۔ ځکه نیت د زړه سره تعلق ساتي۔ او زړه ته خبره کوزه نه شوه۔

علامه ابن نجیمؒ لیکی متن کښې دی : ولا یقوم اللسان مقامه الا عند التعذر ۔ او شرح حموی کښې دی : ومن لا یقدر ان یحضر قلبه لینوی بقلبه او یشك فی النیة یكفیه التكلم بلسانه : ﴿ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْساً إِلَّا وُسْعَهَا﴾ ۔ (انتهی) ۔ (الاشباه والنظائر ۲ : ۲۵) ۔

مجدد صاحب مکتوبات کښې لیکلے دی : د فرضو ځائي دے وران کړلو۔ فرض د زړه سره تعلق ساتي د نیت محل زړه دے۔ او چه زړه متوجه نه شو۔ دغه فرض په ژبه نه ادا کیږی۔

ملا علی قاریؒ لیکی : لا یخفی ان النیة باللسان مع غفلة الجنان غیر معتبرة۔

(۲) دویم صورت دا دے : چه په تاوه نیت تړی۔ دا هم بالاتفاق بدعت دے۔ لکه بعض امیان ئے وائی نیت مے اوکړو .... الخ۔

(۳) دریم صورت دا دے : چه الفاظو ته عبادت وئیل بدعت دے۔

(۴) څلورم صورت دا دے : د الفاظو نه بغیر د زړه اراده برابریږی۔ نو بیا الفاظ وئیل دا بدعت دے۔

(۵) دا یو صورت فقهاء ذکر کوی۔ هدایه کښې هم شته۔ چه شکی او وسوسے والا انسان دے۔ چه الفاظ اووائی نو زړه ته کوز شی۔ دے ته عبادت نه وائی۔ نو دے ته به بدعت نه وائی دا : من احدث فی امرنا۔ کښې نه راځی۔ " احداث فی الدین " نه دے۔ بلکه دا : احداث للدین دے۔ لکه تسپے ' محراب شو په جماعت کښې دا بدعت نه دے۔ نو داسے دا نیت بدعت نه دے۔ په نیت کښې دغه تفصیل دے۔ د مرقات حواله ورکوی په هغے کښې دادی : چه وسوسے والا انسان که الفاظ وائی ' الفاظو ته تعبد نه وائی او حضورئی برابریږی، نو دغسے قسم خلقوله گنجائش شته۔ خو عادت به د زړه د نیت د اکتفاء جوړوے۔

علامه ابن تیمیةؒ لیکی : هل یستحب التلفظ بالنیة ، فقالت طائفة من اصحاب ابی حنیفة والشافعی واحمد یستحب لیکون ابلغ ، وقالت طائفة من اصحاب مالك واحمد لا یستحب لیکون بل التلفظ بها بدعة۔ فان النبی ﷺ واصحابه والتابعین لم ینقل عن واحد منهم انه تکلم بلفظ النیة لافی صلوة ولا فی طهارة ولا صیام قالوا لانها تحصل مع العلم بالفعل ضرورة فالتکلم بها نوع هوس وعبث وهذیان ۔ (مجموع فتاوی ۹ : ۱۴۹) ۔

او په جلد ۱۱ : ۱۳۵ باندے دی : منهم من استحب التلفظ بها کما ذکر ذالك من ذکره من اصحاب ابی حنیفة والشافعی واحمد وقالوا التلفظ بها اوکد ۔ آخر کښې لیکی : منهم لم یستحب التلفظ بها کما قال ذالك من قاله من اصحاب مالك وهذا هو الصواب ۔ او په ۱۴۰ ورته بدعت وائی ۔

حاصل دا : چه عادت د زړه د نیت جوړول شرعًا مطلوب دی.

دا حدیث په حدیث النیة سره. او په حدیث د ممبرسره مشهور دے. حدیث النیة خوورته ځکه وائی. چه په دے کښې د نیت د تصحیح ذکر شوید ے. اوحدیث ممبر ورته ځکه وائی. چه یا نبی ﷺ اګر چه دا قول کمزورے دے. یا عمر رضی الله عنه په ممبر باندے دا روایت بیان کړید ے. د ممبر نه مراد عرفی ' استدعائی ممبر نه دے. دا چه کوم مونږ ورته ممبروایو. دا خو ډیر روستو یوے ښځے د نبی ﷺ د پاره په مدینه کښې جوړ کړید ے. ممبر باندے یعنی اوچت ځائی باندے عمر رضی الله عنه ختلے دے. او دا روایت ئے ذکر کړید ے. د عمر رضی الله عنه دا روایت علقمه ازده کړے دے. اوعلقمه په دے روایت کښې تفرد لری یوائې دے تر یحی بن سعید پورے. په دے کښې چه څومره راویان دی. دا ټول یو یودی. د یحی بن سعید نه پس په دے روایت کښې کثرت پیدا شوے دے. تقریبًا ۷۰۰ راویان په کښې بیا راغلے دی. شیخ الحدیث ؒ په التقریر الرفیع کښې دا خبره ذکر کړے ده. دا روایت غریب دے.

په شرح نخبة کښې په څلورو قسمونو کښې یو قسم غریب هم دے. د امام بخاری ؒ د خپل صحیح بخاری اول اوآخری روایت دواړه غریب دی.

ملاعلی قاری ؒ لیکی : فالحدیث مشهور بالنسبة الی آخره وغریب بالنسبة الی اوله.

ملاعلی قاری ؒ دلته لیکی : المثبت مقدم علی النافی لانا نقول محله اذا تعارض دلیلان احدهما علی النفی والآخر علی الاثبات والخصم هنا سواء جعلناه مثبتا او نافیا لیس معه دلیل ودلیلنا علی النفی ثابت بنقل المحدثین المؤید بالاصل الذی هو عدم الوقوع فتامل فانه موضع زلل.

او مرقات ۱۰ : ۳۵۱ کښې لیکی : قلت هذا اذا کان الاثبات مستندًا الی حسن ولا فمن آداب البحث ان کلام المانع معتبر ' لا سیما مع سندا لمنع ' حتی یوتی الخصم ببرهان جلی ' اذا الاصل هوالعدم فالوجود یحتاج الی تحقق بدلیل قطعی من النقل او العقل.

علامه ابن همام ؒ لیکی : المثبت اولیٰ من النافی فیترجح حدیث انس علی حدیث ابن عمر لیس بشیء فان الحق عند المحققین ان النفی اذا کان من جنس ما یعرف بدلیله کان کالاثبات فیعارضه.

(فتح القدیر بحث نوافل النهار ان شاء : ۳۱۸).

"وانما لامرئ ما نویٰ ": - هر یو کس او تن ته به هغه څه ملاویږی. چه دده کوم نیت دے.

په دے کښې ښځه هم راغلے ده " النساء شقائق الرجال ". " ما " موصوله او " نوی " ئی صله ده. او صله

کښې عائد وی " ای ما نواه ".
واضحه دے وی: چه " النیات " د اعمال غوندے جمع قلت دے. خو د جمع قلت او کثرت فرق په نکرو کښې وی. معرفه کښې نه وی.

اشکال: دلته ظاهر کښې یو اشکال دے: انما الاعمال بالنیات. او انما لامرئ ما نوٰی. په دے دواړو کښې څه فرق دے؟ ظاهر کښې خو دواړه یو شان معلومیږی.

جواب: علامه خطابیؒ او قرطبیؒ وائی: دا دویم د اول تاکید دے ـ انما الاعمال بالنیات له ئے تاکید اوکړو. ځکه مسئله مهتم بالشان ده: انما لامرئ ما نوٰی. لیکن شاه انور کشمیریؒ فرمائی: چه د تاکید دا خبره زما خوښه نه ده. ځکه قاعده داده: چه تاسیس اولیٰ دے د تاکید نه. (مختصر المعانی).
داسے اووایه: انما الاعمال بالنیات. کښې عمل دے: وانما لامرئ ما نوٰی کښې عامل دے.

دویمه توجیه: علامه سندهیؒ فرمائی: انما الاعمال بالنیات ـ دا یو قضیه عرفیه تجربیه ده. عرف کښې هم خلق وائی: روغ نیت او منزل آسان. او انما لامرئ ما نوٰی دا قضیه شرعیه ده. عرف او شرع دواړه وائی چه د عمل دارو مدار په نیت باندے دے. لکه حدیث کښې راځی: لکل شیء زینة وزینة القرآن سورة الرحمن ـ د هر څیز د پاره زینت دے او زینت د قرآن کریم سورة الرحمن دے. داسے راځی: لکل امة امین وامین هذه الامة ابوعبیدة بن الجراح ـ د هر امت د پاره امین دے. او زما د امت امین ابوعبیدة بن الجراح دے. سیدنا ابوعبیده رضی الله عنه ته امین وئیل شرعی خبره ده.

(صحیح بخاری باب مناقب ابوعبیدة حدیث نمبر: ۳۷٤٤)

دریمه توجیه: داده امام نوویؒ فرمائی: انما الاعمال بالنیات ـ داد نیت بیان دے: وانما لامرئ ما نوٰی. داده منوی د تعین بیان دے ـ چه منوی کښې به تعین کوی. چه کوم څیز زړه ته ئی راولے. هغه به متعین کوی.
ملاعلی قاریؒ مرقات کښې لیکلی دی: چه یو تن د ظهر مونځ کوی. او په خُله باندے دا اووائی- چه ما څلور رکعته د عصر شروع کړے دی. او په زړه کښې ئی دادی. چه داده ظهر مونځ دے. نو دا کیږی- د زړه خبرے له اعتبار دے. اګرچه الفاظ ئی د ظهر په ځائی د عصر وئیلے دی.

څلورمه توجیه: داده انما الاعمال بالنیات ـ د اعمال دارومدار په نیت باندے دے. او: وانما لامرئ ما نوٰی

۔کښې راتـه دا ښائي۔ چه ستا د نیت نیابت بل څوك نه شي كولے۔ یو كس وائي ما ستا دپاره نیت كړے دے۔ نو نیتونه څوك د چا دپاره نه شي كولے۔نو په دے كښې نیابت نه چلیږي۔لیكن علامه عینیؒ په دے اعتراض كړیدے۔ په حج الانسان عن غیره سره۔ او زكوة ادا كولو كښې د وكیل د نیابت مسئله۔

پـنځمه توجیه : داده تـه پـه یـوخبره كښـې د دیـن نیتونه راجمع كولے شي۔ او په هغے به درله آجر و ثواب دركوي۔ مثلاً : جماعت ته مانځه له ځی۔ نو نیتونه په كښې نور اوكړه۔ لكه جماعت ته ځم چه زما مسلـمـا نـانـو سـره پـه كښې ملاقات اوشي ، د قرآن كریم درس كیږي هغه به واورم ، غریب كه مے اولیدو نو ځه به ورله پیسے وركړم۔ ثواب به مے اوشي وغیره۔ نو ته په یو عمل كښې ډیر نیتونه برابرولے شے۔

شپږمه توجیه : داده اولـه جمله كښې " ربط بین النیة والعمل " دے۔ او د دوئمے جملے نه مباحات مراد دي۔

اول كښـې د عـلت فاعلي او په دویم كښې د علت غائي ذكردے۔ قرآن كښې آیت دے : ﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ ﴾۔ دا علت فاعلي دے۔ ﴿ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾۔ ئي علت غائي دے۔

(سورة آل عمران : ١٦٦)۔

" انما لامرئ مانوی " :۔ شاه انورؒ فرمائي : جزاء جنس عمل دے۔ نو تقدیرته حاجت نشته۔ جمهور وائي : جزاء او عمل كښې مغائرت دے۔ تاویل كوي۔ انما لامرئ جزاء مانوی۔

مسئله : د مجنون عبادت ، عقود نه صحیح كیږي۔ نیت ئي نشته : ولا یجب علیه القود ولا الحدود۔

مسئله : عـلامـه عـیـنـيؒ لیكي : چه د جمهورو په نزد په اول ځل هرعمل كښې نیت ضروري دے۔ لیـكـن د امـام مـالكؒ مسـلك دادے : چه ټول رمضان له یو نیت كافي دے۔ لیكن امام ابو حنیفةؒ ، امام شافعيؒ فرمائي : چه هره ورځ روژه مستقل عبادت دے۔ هره ورځ له نیت ضروري دے۔

مظاهر حق كښې دي : چه په نذر كښې د زړه نیت كافي نه دے۔ په ژبه الفاظ ادا كول ضروري دي۔

"فـمـن كـانـت هـجـرته الی الله ورسوله فهجرته الی الله ورسوله ومن كان هجرته الی دنیا یصیبها او امرأة یتزوجها فهجرته الی ما هاجر الیه " :۔ (متفق علیه)۔

یو هـغـه هـجـرت دے۔چه هـغـه صـحیح دے۔ او بل هغه هجرت دے۔ چه په هغے كښې ستا غلط

مقصد دننه پروت دے۔ دا دوه مثالونه ئے ځکه ورکړے دي۔ يو "هجرت الى الله ورسوله" دے۔ او يو "هجرت الى الدنيا" دے۔ يو هجرت "لامرآة" دے۔ يو ښه له او بل بد له مثال دے۔

شان ورود : يوے ښځے مدينے منورے ته هجرت کړے وو۔ او يو سړے په مکه مکرمه کښې وو. د مکے سړي د مدينے ښځے ته پيغام د نکاح اوليږلو۔ چه ماسره واده اوکړه۔ هغے ورته شرط کښې دا اوونی۔ چه واده به درسره کوومه۔ خو ته دلته مدينے ته راشه هجرت اوکړه۔ هغه ډير زر زر کده ترلے ده او هجرت يې کړيدے (د مانځه په بهانه ترے خوری)۔ او راغے مدينے منورے ته۔ په هغه اعتبار سره دغه حديث نبي ﷺ يا عمر رضي الله عنه صحابه کرام ته بيان کړيدے۔

د ښځے څه نوم دے؟ او د سړي څه نوم دے؟ څوك وائي د ښځے نوم آمنه دے۔ يا قيله دے۔ او دا ابو الخطاب ابن دحيه وائي۔ داخبره د بخاري شارحينولکه شيخ شمس الدين ذکر کړے ده۔ داد عکاشه رضي الله عنه خور ده۔ دا ډيره مشهوره ده په مهاجرام قيس سره۔ ام قيس ورته وئيلے کيږي کنيت ئے دا وو۔ بيا څه نه څه درجه کښې د جينئ نوم معلوم شويدے۔ خو په سړي يې پرده اچولے ده۔ د هغے لا تراوسه مونږ ته پته اونه لگيده۔ چه دا څوك دے۔

نواب صاحب، حافظ ابن حجر په فتح الباري کښې اوعلامه قسطلاني په ارشاد الساري کښې ليکلے دي: مونږه ډيرتحقيق اوکړو۔ د سړي پته اونه لگيده۔ چه دا څوك دے؟ مطلب دا چه پرده اچول په داسے موقع باندے ښه وي۔ نوم څه له ذکر کوے۔

سوال : نسائي کښې روايت راځي : چه ابو طلحه رضي الله عنه ام سُليم ته اووئيل چه ما سره واده اوکړه۔ نوام سُليم ورته اووئيل چه تا سره به هم څوك واده اوکړي۔ ستا نه سوا بل کم عقل نشته۔ د اونے نه دے ځانله بت جوړکړيدے۔ او سجدے ورته کوے۔ نو هغه بت پرستي پريخودله۔ او اسلام يې قبول کړو۔ او واده يې ورسره اوکړو۔

نواعتراض راځي هغه چه واده کړيدے؟ جواب دادے : چه د ابو طلحه اسلام ته د مخکښې نه نيت وو۔ دا په کښې هسے روستو يو خبره راغلے ده۔ خو اسلام ته يې عزم کړے وو۔ او دے سړي عزم نه وو کړے۔ صرف ښځے ورته اووئيل دلته راشه۔ نو دے سړي بيا د هجرت نيت کړيدے۔

هجرة بروزن فعلة د " هجر " نه ماخوذ دے۔ ضد دے د وصل۔ هجرت هجر معني پريخودل: أهجر استفهموه۔ نبي ﷺ مونږه پريدی د دنيا نه روان دے۔ او ﴿سَامِراً تَهْجُرُونَ﴾ (سورة المومنون : ٦٧)۔

په اتلسمه سیپاره کښې راځي پريخودل: ﴿وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِيْ اتَّخَذُوا هَذَا الْقُرْآنَ مَهْجُوراً﴾ (سورة الفرقان: ۳۰) - هجران ددے نه دے. يو وصل دے. او بل هجران دے. بيلتون ته وائي.

ـ كه د وصال بادشاهي راغله ځه به فرياد د بيلتانه ورته كومه

اصطلاح کښې هجرت دے ته وائي: چه د دين په تقاضه کلے، کور او وطن پريخودل.

اقسام الهجرة

دهجرت ډيرقسمونه دی. دا قسمونه په پنځمه سیپاره کښې: ﴿وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِراً إِلَى اللّهِ وَرَسُولِهِ﴾ (سورة النساء: ۱۰۰). ددے آيت د لاندے تفسيرقرطبی کښې مفسر ذکرکړے دی.

(۱) يو هغه هجرت دے: چه يو کس د دارالفساد نه دار الامن ته ځی. لکه دوه هجرته صحابه کرام کړی دی - حبشے طرف ته اولنی هجرت کښی ۱۰ کسان وو - او يوولس ښځے وے. عثمان رضی الله عنه او د هغه ښځه په کښی وه. اوهجرت ثاني کښی ۸۲ کسان وو. داد فساد د ځائی نه امن ته تلل حبشه په دارالامن کښی حسابيدله.

(۲) يو هغه هجرت دے: چه دار الحرام نه دار الحلال ته ځی. تاته په يو ځائی کښی حلاله روتی نه ملاويږی - او کتے حرامه دغه ځائی پريږده. اوهغه ځائی ته لاړ شه. چه تاته حلاله روتی او رزق ملاويږی. معاش دے برابر وی.

(۳) يو هغه هجرت دے: امام مالك فرمائي: د بدعت د کورنه د سنت کورطرف ته يعنی د دار البدعة نه دار السنة ته تلل - چه کوم ځائی کښی بدعات ډير دی. او ددے غلبه ده. که هغه محله ده. اوکه کلے دے دا پريږده. اوداسے ځايی ته لاړ شه. چه هلته د سنت راج دے.

(۴) يو هغه هجرت دے: چه طالب علمانو د علم د پاره کور او وطن پريخودلو. قبائلو به قبيلے پريخودے. او نبی ﷺ له به راتلل.

(۵) يو هجرت هغه دے: چه د مکے مسلمانانو مدينے ته اوکړو. دا هغه مشهور هجرت دے: لا

هجرة بعد الفتح۔ د فتح مکے نه پس دغه هجرت بیا نشته۔ اودا نور هجرتونه چه دی دا شته۔ خویو صحیح مهاجر دے : المهاجر من هجر ما نهی الله عنه ۔ مهاجر هغه ته وائی چه الله رب العزت څه هم منع کړی دی۔ او دے د هغے کارونو او گناهونونه ځان بچ کوی۔ د امامت حقدار د " اقرء " او علم نه روستو " اقدمهم هجرةً " دے۔

د علامه ابن قیمؒ په دے باندے یو جلد کښی ښکلے کتاب لیکلے دی۔ د هغے نوم دے طریق الهجرتین۔ یو دا هجرت دے : چه یو تن کلے او وطن پریدی۔ او بل ځائی ته ځی۔ اویو دا هجرت دے۔ چه یو تن گناه پریدی۔ او د الله رب العزت اطاعت طرف ته ځی۔ ددے دواړو طریقے ئے خودلے دی۔ په هغے کښی ئے د علم فضائل ذکر کړے دی۔ په هغه کتاب کښی ئے لیکلے دی : ماسره د علم په فضیلت کښی ۲۰۰ دلائل دی۔ چه ارفع ' اشرف او اکرم شیء دے۔ او دا ئے وئیلے دی : چه کوم کس علم حاصل کړو۔ او عمل ئے پرے اوکړو : من علم و عمل وعلم یدعی عظیما فی ملکوت السماء ۔ په آسمان کښی به دا عظیم شخصیت حسابیږی ۔ طالب علم د پاره دا حدیث راوړی۔ یو هجرت خوتا کړے دے لکه مثلاً : ته د خپل وطن نه د سبق د پاره راغلے یې۔ نو یو بل هجرت هم اوکړه۔ هغه گناهونه پریږده او اطاعت اختیار کړه۔ المهاجر من هجر ما نهی الله عنه۔ (بخاری ' ابوداود)۔

د چا چه هجرت الله او رسول ته وی۔ نو هجرت یې الله او رسول ته دے۔

اشکال : "فمن کانت هجرته الی الله ورسوله "شرط دے۔ او "فهجرته الی الله ورسوله "ورله جزا ده۔ شرط او جزا خودواړه یو شان دی۔ هغه هم " الی الله ورسوله " دے او دا هم دے۔ حالانکه شرط و جزاء کښی مغایرت وی۔

جواب (۱) فمن کانت هجرته الی الله ورسوله فهجرته الی الله ورسوله مقبولة۔ نو دا هجرت ئے مقبول دے۔ جزاء سره "مقبولة " اولګوه۔

(۲) فمن کانت هجرته الی الله ورسوله نیة وقصدا فهجرته الی الله ورسوله ثوابًا واجرًا۔ علامه قسطلانیؒ په ارشاد الساری کښی دغه تغایر راوستے دے۔

(۳) کلام د بلاغت نه ډک دے فهجرته الی الله ورسوله۔ په دے یو شان والی کښی د هجرت کمال طرف ته اشاره ده۔ لکه مثلاً : انا ابوالنجم و شعری شعری۔ دا شعری شعری خو یو شیء دے۔ زما شعر د بوډاتوب داسے شعر دے لکه د ځوانئ په هغے کښی هیڅ قسم له کمے نه دے راغلے۔ د فصاحت او د بلاغت

نه ؤك دے ـ عرب وائي : انت انت و انا انا ـ تـه تـه يي اوځه ځه يم ـ نو د بلاغت د قانون مطابق يي دد ے
ذكر اوكړو ـ د تعظيم مبالغه كښې اوپه تحقيركښې مبالغه كښې دغسے استعمال شائع دے ـ
(۴) تـغائر اكثر په لفظ سره ښكاره شي ـ او كله په معنی سره هم تغائر د سياق نه معلوميدلے شي ـ لكه
سورة الفرقان ۷۱ كښې دي : ﴿ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَالِحاً فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَاباً ﴾ ـ اى مرضيًا عندالله
ماحيا للعقاب محصلا للثواب ـ (ارشاد السارى) ـ

اشكال : د دنيا او د ښځے چه ذكركوى ـ نو په هغے كښې وائي : فهجرته الى ما هاجراليه ـ هغے كښې
دا نه وائي : فهجرته الى الدنيا يا لامرأة دا ولے ؟ ـ

جواب : لذت او خوند د الله رب العزت او د رسول ﷺ په خبروكښې دے ـ په ښځو او په دنيا كښې نه دے ـ

اهمه فائده : عـلامه ابن تيمية ؒ په فتاوى كښې ليكلے دي : كوم كس چه په يو مذهب باندے كلك
دے ـ يا د يو مذهب نه عدول كوى لا مذهبه كيږي ـ او دننه غرض يي دنيا ده ـ نو هغه ددے حديث
مصداق دے ـ ولاريب ان التزام المذاهب والخروج عنها ان كان لغيرامر ديني مثل : ان يلتزم مذهبا لحصول
غرض دنيوى من مال او جاه اونحوذالك فهذا مما لا يحمد عليه بل يذم عليه فى نفس الامر ، ولوكان ما انتقل اليه
خيرًا مما انتقل عنه وهو بمنزلة من لا يسلم الا لغرض دنيوى اويهاجرمن مكة الى المدينة ـ لامرء ة يتزوجها اودنيا
يصيبها وقد كان فى زمن النبى ﷺ رجل هاجرلأمرء ة يقال لها ام قيس ..الخ ـ
لږ روستوليكي : واما ان كان انتقاله من مذهب الى مذهب لأمر ديني مثل ان يتبين رجحان قول على قول فيرجع
الى القول الذى يرى انه اقرب الى الله ورسوله فهو مثاب على ذالك بل واجب ..الخ (مجموع فتاوى ۱۰ : ۱۲۴)
او مقدمه ميزان الكبرى ۱ : ۴۶ باندے دي : ان يكون الحامل له على الانتقال امرا دنيويا اقتضه الحاجة الى
الرفاهية اللائقة به كحصول وظيفة او مرتبة او قرب من الملوك واكابر الدنيا فهذا حكمه حكم مهاجرام قيس ـ
سلطان صلاح الدين ايوبي ؒ ډيرلوئي شخصيت تيرشويدے ـ چه كله يي بيت المقدس فتح كړو ـ نو
دے وائي ما تـه دوه خبرے مانع اوگرځيدے ـ يو خوانگريزيانو جينكۍ راوباسلے وے ـ او دويم پيسے
يي ډيرے زياتے خورے كړيوے ـ
ددے دوو د وجے نه كارخرابيږي ـ كوم كس چه په مذهب كلك دے ـ دے وائي ځه حنفي يم ـ خو
پيسو او عهدے له حنفي دے ـ يا د مذهب نه اووځي ـ ځكه چه په هغه ځائي كښې دنيا ډيره ده ـ نو دے
په كښې هم راځي ـ

علامہ ابن تیمیہؒ داسے لیکی : چہ پہ مذھبونو کښې دننہ بل یو مذھب کښې داخل شي ۔ او چہ دغہ مفاداتو لہ شي ۔ نو ھغہ خو ډیر غور ځیدلے انسان دے ۔

زما پہ خیال واللہ اعلم دغہ عالم بہ پہ کښې ھم راځي ۔ چہ ھغہ یو ځائی نہ بل ځائی تہ تدریس د پارہ دے لہ ځي ۔ چہ ھلتہ روپے سیوا دي ۔ او مقصد ئی پہ یو فائدہ مند مقام کښې تدریس نہ وي ۔

او کہ ھلتہ ددے عالم نہ فائدہ ډیرہ اغستلے شي ۔ نو بیا صحیح دہ ۔ چہ ھلتہ طالب علمان زیات وي ۔ نو ددے فائدہ زیاتہ دہ ۔ دا خو ټیک دہ ۔

نو حدیث بہ عام کوے ۔ ھر کار چہ کوي پہ اخلاص یې نہ کوي ۔ د ښځے اود دنیا د وجے نہ یې کوي ۔ نو دا بہ د ھغے مصداق وي ۔

مسئلہ : پہ ښہ کار کښې د دنیا ګډون راغلے دے ۔ دے سرہ دا ټول کار خراب شو ؟ ۔

قرآن کریم خو شرائط ذکر کړے دي :﴿ وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُوراً﴾ ۔ یو اخلاص او بل د نبی ﷺ اتباع ۔ ﴿ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا ﴾ مفعول مطلق دے ۔ چہ ځنګہ کوشش یې درتہ خودلے دے ۔ د ځان نہ بہ کوشش نہ کوی :﴿ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ ۔ او بل ایمان : ﴿فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُوراً﴾ ۔

اوس یو کس کوشش کوی ۔ خو پہ غلط طرز کښې ئی کوی ۔ نو دہ تہ ثواب نہ ملاویږی ۔ ځکہ د نبی ﷺ د طریقے خلاف دے ۔ خو کہ د دین پہ کار کښې یې د دنیا رش راوستلو ۔ نو ثواب ملاویږی او کہ نہ ؟ یعنی د مباح څیز نیت شاملول ځنګہ دی ؟ ۔ یا د تبلیغ پہ سفر کښې کہ داسے نیت راولی ۔ نو د مولانا احسان صاحب مد ظلہ التقریر الصحیح : ٦٧ باندے داسے عبارت دے : یہی سے تبلیغ والوں نے نکالا ہے کہ تبلیغ میں سیر کی نیت نہ ہو پہلے پشاور باڑہ تشکیل کراتے تھے اور لنڈی کوتل تشکیل کراتے تھے کہ سامان بھی خرید کرلائیں گے اور چلہ بھی لگ جائے اب تو ہر شہر میں باڑہ بنا ہوا ہے ۔

جواب : پہ دے کښې دوہ قولہ دی ۔

(١) یو قول د علامہ عزالدین بن عبدالسلامؒ دے ۔ دے وائی : چہ د دین پہ کار کښې دے ۔ د دنیا شائبہ لږہ غندکے راوستلہ ۔ دا ټول ختم شو ۔ لکہ مثلاً ښکلے او سوچہ پئ دی یو څاڅکے وارہ بول دے ورتہ ورګډ کړل ۔ نتیجہ د اخس ارزل تابع وی ۔ پلیت شو ۔ داسے یو پو چے د دنیا ارادہ پہ کښې وردننہ

شوه۔ نو هرڅه روړه شو۔

(۲) دویم قول د امام غزالیؒ او د بعض نورو علماؤ دے۔ چه اکثریه یې نیت د دین وی۔ او لږه غندکے په کښې دنیا راغلـه۔ نو ده له ثواب ورکوی۔ خو چه دنیا څومره راغلے ده۔ نودومره ترینه هغه ثواب کټ کوی ۔د دین یوکارکوے۔او ۸۰ فیصد ستا د دین خیال دے۔او ۲۰ فیصد په کښې دنیا راغله۔ نوتاله به ۸۰ نمبرے درکوی۔ ۱۰۰ نمبرے نه درکوی۔ دا ۲۰ نمبرے به ستا نه کټ کیږی۔ او علامه عزالدین بن عبدالسلامؒ وائی چه نه۔ صفر نمبرے به درکوی۔

(اشرف التوضیح ' اسعد المفاتیح للشیخ المکرم عبدالغنی جاجروی استادی وشیخیؒ)

د چا چه هجرت د دنیا د پاره وی۔ یو ځائی نه بل ځائی ته ځی :﴿ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُواْ فِي الْبِلَادِ﴾ مقصد دنیا۔ قرآن کریم دا ذکرکړی دی : ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاء وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَآب ﴾۔(سورة آل عمران : ۱۹۶ ' ۱٤)۔

اوله ښځه ده۔ بیا بنین ځامن دی۔ قناطیر المقنطرة دا دنیا ده۔ دنیا یا دناء ة نه ده۔ یا د دُنُوْ نه ده الدنیا الدنیة۔

یا خاطب الدنیا الدنیة انها شرك الردی وقرارة الأكدار ۔(مختصر المعانی)۔

اے ذلیلے دنیا سره نکاح کونکیه دا خو د هلاکت جال او د گندگو یو گتهرد ے۔

دنیا به وی ۔ خو په دے باندے به غاوره کیږی نه۔ دد ے مثال د مار دے۔ په شاه باندے نقش و نگار دے ډیر ښکلے ښکاری۔ خودننه په کښې ز هر دی ۔

مکن بچشم ارادت نگاه بر دنیا　　　که پشت مار بہ نقش است زہراو قتال

کافرخلق څومره چه دی۔ دا اهل الدنیا دی۔

اہل الدنیا کافران مطلقا اند　　　شب روز در چق چق و در بق بق اند

دنیا قریب الزوال او سریع الفناء ده۔ او دَناء ت هم لری۔ ته خو کتهوی ته ناست یې۔ چه دا به ختهکیږی او ما له به روتی راکوی۔ او هغوی درته وائی مه خوره۔

بئس المطاعم حين الذل تكسبها　　　فالقدر مرتفع والقدر مخفوض

کتهوی خوباندے ده۔ خو عزت ترے لاندے دے۔ د کتهوی غوښه به گیډے ته واچوے خو بے عزتی په کښې ده۔

ددے زمکے د پاسه چه خومره فضاء اوهواء ده ۔ دے ته دنیا وئیلے کیږی ۔ یا دنیا " کل المخلوقات قبل الدار الآخرۃ " ته وائی ۔

ابن ابی الدنیاؒ لیکلے دی : دنیا دے ته وائی : چه کتهوی، خوتکیږی او تتہی ډکیږی ۔

او ابن عطارؒ فرمائی : انها علی الارض ' الجواهر والاعراض الموجودۃ قبل امور الآخرۃ وهو الاظهر ۔

"او امرأۃ یتزوجها " : ۔ یا یی د ښځے قصد دے ۔ چه څه ورسره واده کووم ۔

سوال : ښځه په دنیا کښی راځی : وخیر متاع الدنیا المرأۃ الصالحة ۔ بیا یی ولے د ښځے ذکراوکړو؟ ۔

جواب : یوه وجه داده : چه ددے شان ورود ښځه ده ۔ دویمه وجه داده : چه د دنیا خطرناکه حصه هغه دا ښځه ده ۔ یعنی په دنیا کښی خطرناکے مسئلے د ښځود وجے نه دی ۔

ما ترکت بعدی فتنة اضر علی الرجال من النساء ۔ (بخاری نمبر : ۴۸۰۸ ' ابن ابی شیبه نمبر : ۳۷۲۷۲) ۔

دریمه وجه داده : دا لازمه نه ده چه ښځه دے په دنیا کښی دلته مراد وی ۔ ځکه د " دنیا " دا لفظ نکره ده او په اثبات کښی دا عامه نه وی ۔ (التقریر الرفیع) ۔ او بعض وائی : چه د شرط مقام کښی ترے عموم اغستلے شی ۔

لقمان حکیم قول دادے : دا ورانه او شرارتی ښځه به دے بے وخته بوډا کړی ۔

نو د ښځے آفات ډیر زیات دی ۔ ددوی د غلط منلو د وجے حکومتونه تباه شوے دی ۔

کتاب الایمان

د مسائلو په اعتبار سره یود عموم د جهت لحاظ وی ۔ چه د دغے جنس د لاندے انواع متعدده ذکرکیدے شی ۔ دے ته کتاب وائی : دا متحد الجنس او مختلف النوع وی ۔ اوچه صرف یونوع ته شامل وی هغے ته باب وائی ۔ اوکه یو صفت ته شامل وی ۔ هغه فصل دے ۔

ایمان په واجباتو کښی موقوف علیه د عباداتو او اصل الاصول دے ۔ نو ددغے اشرفیت واهمیت او عظمت د وجے مقدم راوړو ۔

ایمان لغوی : لغت کښی د باب افعال مصدر دے ۔ مجرد ئی امن دے ۔ ضد ئی خوف دے ۔ اود باب افعال یو خاصه سلب المآخذ دے ۔ یعنی ازالة الخوف ۔ معنی ئی ده امن ورکول ۔ ددے معنی په اعتبار

کله یو او کله دوه مفعولو ته متعدی کیږی. اول له مثال دے: آمنته ـ او دویم مفعول ته کله بالذات متعدی کیږی. آمنته غیری ـ او کله په واسطے د "من" سره. لکه "آمنهم من خوف "ـ او کله معنی لغوی ئی تصدیق وی. او د "باء" مدخول کله ذات او کله وصف وی.

اول له مثال: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾. (سورة الحجرات : ۱۵). او د وصف مثال دے: ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾. (سورة البقرة : ۲۸۵)

ـ او لغوی معنی کښی د باور اعتماد و وثوق په معنی کم استعمالیږی. لکه: ﴿وَمَا أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا﴾ (سورة یوسف : ۱۷). ته په مونږه باور نه کوے.

د تصدیق لغوی یعنی ایمان او د تصدیق منطقی فرق

ایمان په دے معنی چه تصدیق لغوی دے. دا د "خبر" یا د "مخبر به" د تصدیق نوم دے. او تصدیق منطقی ادراك النسبة ته وائی. چه د مبتداء او د خبر مینځ کښی موجود وی. لکه خالد عاقل.

تصدیق لغوی کښی اختیار دے. او تصدیق منطقی کښی اختیار لا بشرط شیء دے. او تصدیق لغوی او تکذیب و انکار مانعة الجمع دی. او تصدیق منطقی ورسره جمع کیدے شی. چه کله تصدیق علم وی.

تصدیق منطقی او شرعی کښی فرق

تصدیق منطقی عام دے. که اذعان علی وجه التسلیم وی ـ او که نه وی. د سلم العلم تصدیقات کښی دی: ان کان اذعانًا للنسبة فتصدیق ـ لیکن تصدیق شرعی خاص دے. علی وجه التسلیم ـ او د اغیارو د دین نه به براءت کوے.

علامه قاضی شمس الدینؒ لیکلے دی: چه تصدیق منطقی یقین او معرفة تامه ته وائی. چه شك په کښی نه وی ـ دا ابو طالب او اهل کتاب ته حاصل وو. او تصدیق شرعی اختیاری تسلیم او انقیاد قلبی ته وائی. (التعلیق الفصیح : ٦)

دا تصدیق منطقی چه د تصور قسیم دے. دا بعینه لغوی دے. چه تعبیر ترے په "گرویدن" سره کوی. چه مقابل ئی تکذیب دے. د بعض په نزد لغوی تصدیق او منطقی تصدیق کښی فرق نشته. په دے معنی چه دواړه اختیاری منلے دے. صدر الشریعت صاحب شرح وقایه وائی: چه په ایمان کښی کوم تصدیق له اعتبار دے. د اختیاری قید په کښی لگول پکار دی. او علامه تفتازانیؒ په نزد د اختیاری قید لگولو ته ضرورت نشته.

د ایمان شرعی تعریف

(۱) تصدیق النبی ﷺ بامور مخصوصة علی کونها من الدین ضرورة مع التزام الطاعة والتبری عن کل دین ما سوی الاسلام۔ (۲) التصدیق بجمیع ما جاء به النبی ﷺ اجمالاً فیما عُلم اجمالاً و تفصیلاً فیما عُلم تفصیلاً۔

دواړو تعریفونو کښې تصدیق د خبر یا د مخبر صدق ته وائي۔ او د ضرورة نه مراد بداهة او قطعًا، یقینًا، جزمًا، باتًّا دے۔ یا علمي دنیا کښې د خواصو په مینځ کښې شهرت واضح وی۔ د قبر عذاب اجمالاً علم ورله کافي دے۔ تفصیل و توضیح ئې د خواصو سره خاص دے۔ د کنه او حقیقت نه ئې یو الله رب العزت خبر دے۔ او د مونځ، اودس تفصیلات عوامو له معلومول پکار دی۔ فقهائے کرام وائي: تصدیق سره اقرار کول ئې شرط دے۔ او ابو طالب، یهودیانو په ژبه اقرار نه دے کړے۔ او دا هم د... چه د یهودو تصدیق اضطراري دے۔ نه اختیاري۔ او دلته تصدیق اختیاري مراد دے۔ هرقل بادشاه په ژبه وائي: لوانی اعلم اخلص الیه لتجشمت لقائه ولو کنت عنده لغسلت عن قدمیه۔ (بخاری)۔ او داسے وائي چه زما یقین وو۔ چه دوی به مبعوث کیږي۔ وغیره۔ لیکن التزام د طاعت او تبری د عیسائیت نه اونه کړه۔ په دے وجه کافر دے۔

ابو طالب وائي:

والله لن یصلوا الیك بجمعهم — حتی اوسد فی التراب دفینا
وعرضت دینا لا محالة انه — من خیر ادیان البریة دینا
فاصدع بامرك ماعلیك غضاضة — وابشر بذاك وقر منه عیونا

(مختصر سیرة الرسول لشیخ محمد بن عبدالوهاب)

او صحیح بخاری کښې د ابو طالب دا قول نقل دے:

وابیض یستسقی الغمام بوجهه — ثمال الیتمی عصمة للأرامل

الولاء والبراء په دے هرقل، ابو طالب کښې نه وو۔ او اعتراف ئې یهودیان هم کوی۔ لیکن انکار کوی۔ ﴿فَلَمَّا جَاءَهُم مَّا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ﴾۔ ﴿يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ﴾ (سورة البقرة: ۸۹، ۱۴۶)

که علم و معرفت ئې وو۔ لیکن تصدیق ئې نه وو۔ او اختیاري تبری په کښې نه وه۔

علامه ابن همامؒ په کښې التزام شریعت او علامه ابن تیمیهؒ په کښې د التزام طاعت شرط لګوی۔ او نجاشی ځکه مسلمان دے۔ چه د الله په حکم ئې دغه التزام طاعت پټ ساتلے وو۔ او د مسلمانانو مرسته او تائید ئې کوو۔ ضروریات د دین هرچا ته معلوم دی۔ په دے باندے عوام هم پو هیږي۔ الله رب العزت شته۔ قیامت شته وغیره۔ سره د التزام د طاعت نه۔

د کفرلغوی او اصطلاحی تعریف

لغوی معنی : د کفر لغوی معنی پټول: فی لیلة کفر النجوم غمامها ـ په داسے شپه کښی چه وریځو ستوری پټ کړے وو۔ په لغوی معنی کفار زمیندارو ته ځکه وائی۔ چه دانه په خاوره کښی پټوی۔

اصطلاحی تعریف : کفر د ایمان ضد دے۔ متنبی کښی وائی :

ونذمهم وبهم عرفنا فضلهم و باضدادها تتبین الاشیاء

د دین په ضروریاتو کښی د یو ضروری خبرے نه انکار ته کفر وائی۔

امام غزالیؒ ئی تعریف کوی : تکذیب النبی ﷺ فی شیء من ضروریات الدین ـ لیکن دا تعریف ځکه کمزورے دے۔ چه د ایمان او د کفر مینځ کښی واسطه راځی۔ او دا خو معتزله منی۔ لکه یو تن د ضروری امر باره کښی وائی : لا نصدق ولا نکذب۔

نو غوره تعریف د امام رازیؒ دے : عدم تصدیق النبی فی شیء من ضروریات الدین ـ نو " لا نصدق " په دغه هیئت کذائیه کفر شو۔

قاضی بیضاویؒ فرمائی : ثم اختلف فی ان مجرد التصدیق بالقلب هل هو کاف لانه المقصود ام لا بد من انضمام الاقرار به للمتمکن منه ولعل الحق هو الثانی ـ انتهی۔

امام غزالیؒ فرمائی: چه په دلیلونو ئی الله پیژندګلو اوکړه۔ او دومره وخت ئی اوموندلو۔ چه د شهادتین تلفظ اوکړے شی،لیکن بیا هم ددے تلفظ نه منع شو۔ نو دا د معاصی غوندے غټ معصیت به ګڼړلے شی۔ نو د ژبے اقرار د خلاصون دپاره ضروری نه دے۔ صرف د زړه تصدیق کافی دے۔ او قاضی صاحب دے ته ترجیح ورکوی چه شاید دا به راجح وی چه د نجاة دپاره تصدیق سره سره اقرار هم ضروری دے۔

د کفر اقسام او د هغے تعریفونه

(۱) انکاری (۲) جحودی (۳) عنادی (۴) نفاقی

(۱) کفر انکاری : زړه کښی ئی تصدیق نه وی۔ او په ژبه اقرار نه کوی۔ لکه عام کافران ـ چه ظاهرًا اباطنًا انکار کوی۔

(۲) کفر جحودی : تصدیق ئی وی۔ او په ژبه اقرار نه کوی۔ لکه ابو طالب۔

(۳) کفر عنادی : په ژبه ئی اقرار او زړه کښی ئی تصدیق وی لیکن التزام د طاعت و شریعت نه کوی لکه هرقل.

(۴) کفرنفاقی : په زړه کښی تصدیق نه وی۔ صرف په ژبه اقرارکوی۔ لکه عبدالله بن ابی او د هغه ملګری.

وجه حصر: وجه حصرئی په څلورو کښی داده : که دا عدم تسلیم به په ژبه او زړه دواړه سره وی. دا کفر انکار دے۔ یا به صرف په ژبه وی۔ دے کښی بیا دوه صورتونه دی که معرفت ویقین د زړه نه پس اوبه ژبه عدم تسلیم دے نو کفر جحود دے۔ او که د معرفت قلبی او زبانی اقرار نه بعد محض عنادًا یا د پلار نیکه په غلط تقلید یا د ملك ودولت په حرص یا په بله وجه عدم تسلیم دے نو دا کفر عنادی دے. او که په ژبه منل او په زړه نه منل وی دا کفر نفاق دے۔

فائده ۱ : د اهل قبله تکفیر نه دے پکار۔ خوددے نه هغه خلق مراد دی۔ چه د دین ضروریاتو نه انکار نه کوی۔ (شرح فقه اکبر) ۔

فائده ۲ : که څوك داسے کلمه د ژبے نه اوباسی۔ چه په هغے کښی د ایمان اود کفر د دواړو احتمال وی۔ نود کفر فتوی به په دے کس په تلوار نه لګوے۔ څوپورے چه د هغه مراد په بیان ، اقرار ، کتابت یا په ګواهانو واضح نه شی۔ (فیض الباری ٤ : ٤٧٣) ۔

فائده ۳ : تاویل د دین په ضروریاتو کښی کول د کفرنه مانع نه دی۔ دے سره کافریا زندیق جوړیدے شی څکه دغه تاویل د صحابو ، تابعینواو د اجماع خلاف وی۔ لکه د قادیانی غلط تاویلونه په خاتم النبیین کښی۔ (اکفار الملحدین د شاه انور کشمیریؒ) ۔

المراحب الی توضیح المذاهب

بحث محل الایمان : (۱) څوك وائی: محل د ایمان قلب دے فقط۔ (۲) لسان دے فقط۔ بعض وائی: قلب او لسان دے۔

(۱) څوك چه محل د ایمان قلب منی۔ دا متکلمین محققین ، مرجئه او جهمیه دی۔ متکلمین محققین فرمائی : چه ایمان تصدیق قلبی ته وائی۔ او اعمال د عوارضودرجه کښی دی۔

داد امام اشعری ، ابواسحق اسفرائنی او حسین بن فضل وغیرهم وائی۔

(۲) مرجئه : ایمان تصدیق قلبی ته وائی۔ اواعمال فضول ، هدر او بے کاره منی۔ اعمالوته د سرنه اعتبار نه ورکوی۔

(۳) جهمیه : ایمان د معرفت قلبیه نوم دے۔ او د اقرار باللسان۔ لیکن دغه معرفت د یهودیانو او د هرقل هم وو۔ نو جهم بن صفوان وائی که معرفت قلبیه اختیاری وی۔ یا غیر اختیاری۔ په هریو صورت کښې ایمان دے۔ د ژبے اقرار ورله نه شرط دے او نه رکن۔ دوی وائی چه معرفت قلبی ئی وی۔ او د ژبے انکار ئی وی۔ او د اقرار کولو نه مخکښې مړ شو۔ نو مومن دے۔

دد ے دریو مذهبونو تعلق د هغے صورت سره دے۔ چه څوك وائی محل د ایمان قلب دے فقط۔

محل الایمان اللسان فقط : (۴) کرامیه وائی : چه اقرار باللسان ایمان دے۔ منافق مومن دے ددوی په نزد. علامه شبیر احمد عثمانیؒ لیکی : د دنیا د احکامود اجراء دپاره صرف دغه اقرار کافی دے۔ نو د منافق دنیوی حکم د مومن دے۔ او د آخرت د احکامو په اعتبار سره کافر دے۔ او علامه عینیؒ عمدة القاری کښې لیکی : چه غیلان بن مسلم دمشقی او فضل رقاشی فرمائی : چه د اقرار باللسان دپاره معرفت شرط دے۔ بعض علماء وائی : چه محل د ایمان یو امر نه دے۔ بلکه دوه دی۔ چه قلب او لسان دے۔

(۵) امام ابو حنیفهؒ ته یو روایت منسوب دے۔ چه ایمان معرفت قلبی او اقرار باللسان ته وائی۔ او فقهاء کرام فرمائی : چه ایمان اقرار باللسان ، تصدیق بالقلب دے۔ او کله کله د اکراه حالت کښې اقرار ساقطیږی۔ دا قول حافظ الدین نسفیؒ فرمائی چه یو روایت د امام ابو حنیفهؒ دے۔

(٦) بعض علماء وائی : چه ایمان د درے څیزونو نه مرکب دے۔ فعل القلب ، اقرار باللسان او عمل بالارکان ته ایمان وائی ــ د امام اوزاعی او د امام احمد ، امام شافعی او د امام مالك رحمهم الله دغه مسلك دے۔ لیکن دا محدثین فرمائی چه د عمل په انتفاء د ایمان انتفاء نه راځی۔ او دغسے امام ابو حنیفهؒ هم فرمائی۔ لیکن هغوی ورسره قید لګوی۔ چه اقرار، د ایمان دپاره د شرط درجه کښې دے۔ دنیوی احکامات مثلاً جنازه ، او د قبرستان دفن کښې به مومن ګنړلے شی۔

(۷) خوارج هم مذکوره درے څیزونه یادوی۔ لیکن د عمل انتفاء سره د ایمان د انتفاء قائل دی۔

(۸) معتزله هم دغه درے امور ذکرکوی۔ لیکن وائی د عمل په انتفاء ، د ایمان انتفاء راغله۔ لیکن کافر ځکه نه دے۔ چه ایمان و کفر کښې واسطه ده ـ نه مومن دے او نه کافر۔ دے ته علماء منزله بین المنزلتین وائی۔

(۹) چاوئیلے دی : ضعیف قول دے۔ چه رکن غیر اصلی او زائد دے۔ ځکه اکراه کښې ساقطیږی۔

وجه د حصر د مذاهبو

د ایمان تعلق به یا صرف د ژبے سره وی۔ یا به صرف د زړه سره وی۔ یعنی تصدیق۔ که چرته اول وو۔ داد کرامیو مسلك دے۔ داد محمد بن کرام اتباع دی۔ او د کرامیو اعتقاد دے۔ چه الله جسم او محل د حوادثو دے۔ او دے خالق رزاق بلا خلق او رزق دے۔

او که زړه سره تعلق وی۔ نو دوو حالونه به خالی نه وی۔ تصدیق به یا اختیاری وی۔ یا غیر اختیاری۔ که غیر اختیاری وی نو داد جهمیو مسلك دے۔ او که اختیاری وی نو بیا د دوو حالونه خالی نه وی۔ یا به اعمال صالحه ضروری او لازمی گنړی یا نه۔ که نه ئی گنړی نو داد مرجئو مسلك دے۔ او که ضروری ئی گنړی نو بیا د دوو حالاتو نه خالی نه وی۔ یابه د اعمالو په پریخودو د ایمان نه خروج گنړی یا به نه گنړی۔ که لازم ئی گنړی نو معتزله او خوارج دی۔ او د خروج په صورت کښی بیا دوه حاله دی۔ یابه ئی د ایمان نه خارجوی۔ او کفر کښی به ئی داخلوی۔ دا خوارج دی۔ او که د ایمان نه ئی خارج کړل او کفر کښی نه داخلوی۔ دا معتزله دی۔ او که چرته د اعمال صالحو په ترك سره خروج علی الایمان نه لازمیږی۔ نو بیا به دوه حاله وی۔ یا به تعبیر کښی عمل جزء گنړی یا نه۔ که گنړی ئی داد ائمه ثلاثه او د محدثینو مذهب دے۔ او که په تعبیراو بیان کښی ئی جزء نه گنړی۔ داد متکلمینو او د احنافو مسلك دے۔

د امام ابو حنیفهؒ او د محدثینو مینځ کښی فرق

امام صاحبؒ اعمال د ایمان مکملات منی۔ او کیفًا ئی د جزئیت نه انکار نه کوی۔ د کیفًا مطلب دادے: چه د اعمالو په ترك د ایمان ضعف او په اعمالو باندے د ایمان قوت او کلکیدل راځی۔ گویا مقوله د" کیف " ئی گنړی۔ په ایمان کښی جلاء، نور، انشراح د اعمالو په وجه راځی۔ د زیادت د ایمان نه انکار نه کوی۔ کیفًا ددے قائل دے۔ حدیث کښی هم راځی: وذالك اضعف الایمان۔

لیکن جمهور محدثین فرمائی: چه اعمال د ایمان اجزاء دی۔ په عمل ئی زیادت او په نه عمل ئی کمے راځی۔ احناف د اعمالو د ضرورت نه انکار نه کوی۔ د جزئیت نه کوی۔ او مرجئه ئی د ضرورت نه انکار کوی۔ او احناف دا هم وائی: چه یو نفس ایمان دے۔ او دویم کامل ایمان۔ د کامل ایمان دغه درے اجزاء دی۔ او د نفس ایمان یو جزء دے۔ چه هغه تصدیق دے۔ او دا خو بعینه د علامه ابن تیمیهؒ او د نورو محققینو هم مسلك دے۔

د یو غلط فهمئ ازاله

امام ابو حنیفة ته د مرجئه نسبت غلط دے۔ اعمال مرتبه کښې اګرچه د ایمان نه روستو دی۔ لیکن د اعمالو اهمیت مسلم دے۔ د سورة الکهف آخری آیت کښې ددغه اهمیت د وجے عمل مخکښې کړو۔ ﴿فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحاً وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَداً﴾۔ او قرآن کښې اکثرایمان مقدم ذکرکیږی۔ او عمل روستو۔ ﴿ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ﴾۔ قرآن کښې ډیر راغلی۔

علامه عبدالحی لکهنوی د الرفع والتکمیل په المرصد الرابع : ۵۳ کښې لیکلے دی : ان کتب الامام ابی حنیفة کالفقه الاکبر وکتاب الوصیة تنادی باعلی النداء علی انه لیس مذهبه فی باب الایمان وفروعه ما ذهبت الیه المرجئة اصحب الاغواء ۔ وکذالك کتب الحنفیة تشهد ببطلان مذهب المرجئة وان الحنفیة وامامهم لیسوا منهم ۔ فهذه النسبة الواقعة فریة بلامریة وصدوره عن مثل هذا الشیخ الذی هو سید الطائفة الرضیة بلیة ایة بلیة۔

(فتاوی محمودیه شپږم جلد کښې هم دی)

او ددے نه مخکښې ئی په ۵۰ کښې لیکلے دی : وفی التمهید لابی شکور السالمی ثم المرجئة علی نوعین ، مرجئة مرحومة وهم اصحاب النبی ﷺ ومرجئة ملعونة وهم الذین یقولون المعصیة لاتضر۔

الملل والنحل ۱۲۷ کښې علامه شهرستانی لیکی : ومن العجیب ان غسان کان یحکی عن ابی حنیفة مثل مذهبه ویعده من المرجئة ولعله کذب علیه ' ولعمری کان یقال لابی حنیفة واصحابه مرجئة السنة ...الخ ۔

ایمان بسیط دے یا مرکب ؟

د محدثینو په نزد مرکب دے۔ د امام ابو حنیفة په مسلك کښې تصدیق بسیط دے۔ صرف د تصدیق قلبی نوم دے ــ دهغوی یو دلیل دادے (۱) : چه قرآن کریم کښې نسبت زړه ته شوے دے : ﴿ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ ﴾ (سورة نحل:۱۰۶) ﴿أُوْلَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ ﴾ (سورة مجادله:۲۲) ﴿مِنَ الَّذِينَ قَالُواْ آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ﴾ (سورة المائده: ۴۱)﴿وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ ﴾ (سورة الحجرات ۱۴)

شاه انور لیکی : نسب الی امامنا رحمه الله انه فی الدماغ کما فی مجمع البحار ، ولا اعتمد علیه لانی لم اجد تلك النسبة فی احد من کتب القدماء ، مع ان فی کتاب الجنائز من الهدایة ، ان الامام انما یقوم حذاء الصدر لان الایمان فی القلب ، فدل علی کونه محل الایمان عند الحنفیة۔ (فیض الباری ۱ : ۶۷)۔

(۲): دویم دلیل : امام ابو حنیفة فرمائی : چه قرآن کریم کښې عطف راغلے دے :﴿ امنوا وعملوا الصلحت ﴾

د عملوا الصلحت عطف په آمنوا باندے شوے دے. معطوف او معطوف علیه کښې مغایرت وی نو ایمان ځانله شو. او عمل ځانله شو. عمل په ایمان کښې دننه نه شو.

(۳) : دریم دلیل دا فرمائی : ﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ (سورة طه : ۱۱۲). دا ایمان ئے شرط گرځولے دے. او عمل صالح ئے ورله مشروط گرځولے دے. او په شرط او مشروط کښې مغایرت وی. نو ددے وجے نه په دے کښې مغایرت راغلے دے.

(۴) : څلورم دلیل دا فرمائی : چه په ترك د عمل سره محدثین چاته کافر نه وائی : ﴿ وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا ﴾ (سورة حجرات : ۹) ـ هم ورته مومن وائی. او قتل هم کړے دے. د ایمان نه ئے نه لرکوی. دغه شان : ﴿ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ ﴾ (سورة بقره : ۱۷۸) ـ هم ورته اخیه وائی او آخوائے قتل هم کړیدے.

(۵) : پنځم دلیل : د ابوذر غفاری رضی الله عنه روایت : وان زنی وان سرق ـ

(٦) : شپږم دلیل : اسامه رضی الله عنه ته ئی اوفرمائیل : هلا شققت عن قلبه. (بخاری نمبر : ٦١٤٨).

(۷) : اووم دلیل : علامه عینیؒ فرمائی : چه قرآن کښې دی : ﴿ آمنوا بالله ﴾. او اهل عرب ایمان تصدیق قلبی ته وائی. که ددے څه بل مطلب وے. نو دغه مطلب په تواتر مونږ ته رارسیدلے.

ددے نه معلومه شوه : چه ایمان صرف تصدیق قلبی دے.

او سیدنا ابوبکر رضی الله عنه د مرتدینو نه صرف په ایمان اکتفاء کړے ده.

الحق الصریح ۸۸ کښې د عطف قسمونه ذکرکوی وائی : چه په هرځائی کښې مغایرت نه وی.

ددے جواب ئے نه دے کړے. چه محدثین ترك د عمل ته ولے کفر نه وائی. دائے دلیل کښې د امام ابو حنیفهؒ ذکرکړے دے. خو جواب ئے ددینه نه دے کړے. ترك د عمل د محدثین په نزد کفر نه دے.

جمهور وائی: چه یو سړے د مونځ عقیده نه ساتی دا کافر دے: ﴿ لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ﴾ (سورة المدثر:۴۳)

بحث د عطف

الحق الصریح کښې د عطف قسمونه ذکرکړیدی. یو ئے فرمائیلے دی چه د عطف یو قسم دے. د مرادف په مرادف باندے حمل کول. په دے کښې مغایرت نه وی. او لیکی : دا قسم عطف په قرآن وحدیث کښې نشته.

لیکن ابن هشام په مغنی اللبیب کښې لیکلے دی : عطف المرادف په بل مرادف قرآن کریم کښې شته هغے له مثال ورکړیدے. (۱) : ﴿ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ ﴾ (سورة یوسف : ۸٦).

بث او حُزن يو شيء دے۔ دا حُزن تفسير دے دپاره د بث۔

(۲) : ﴿قَدْ جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ﴾ (سورة المائدة : ۱۵) ۔ دا مبين تفسير دے د نور۔

حديث كښې راځي : ليلينى منكم اولوالاحلام والنهى ـ دا "والنهى" كښې واو تفسير دے ـ د "اولوالاحلام" د پاره۔

بيا ئى دا وئيلے دى : چه كله عطف د خاص كيږى په عام باندے۔ لكه قرآن كريم كښې راځي : ﴿مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ﴾ (سورة البقرة : ۹۸) ۔ دا جبرائيل او ميكائل عطف په ملائكو دے۔ دا هم په ملائكو كښې راځي۔

دغه شان : ﴿حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى﴾ (سورة البقرة : ۲۳۸) ۔ الصلوة الوسطى په الصلوات كښې داخل دے۔

علامه ابن تيميه ؒ او عطف

وعطف الشيء على الشيء في القرآن وسائر الكلام يقتضي مغايرة بين المعطوف والمعطوف عليه مع اشتراك المعطوف والمعطوف عليه في الحكم الذي ذكرلهما ، والمغايرة على مراتب اعلاها ان يكونا متباينين ليس احدهما هوالآخر ولا جزءه ولا يعرف لزومه له كقوله : ﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ و نحو ذالك وقوله : ﴿وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ﴾ وقوله : ﴿وَأَنزَلَ التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ ، مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ الْفُرْقَانَ﴾ وهذا هو الغالب ويليه ان يكون بينهما لزوم كقوله :﴿وَلاَ تَلْبِسُواْ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُواْ الْحَقَّ﴾ (مجموع فتاوى ۳ : ۱۱۰) ۔ دا عطف د خاص دے په عام۔ ليكن جبريل و ميكال دواړه خپل مينځ كښې تبائن لري۔

او شيخ عبدالسلام ؒ ليكلے دى : اصل ميں مغائرت کے لئے مستعمل ہوتا ہے اگرچہ "من وجہ" مغائرت ہو ۔

(انکار حدیث سے انکار قرآن تک : ۴۳)

الحق الصريح كښې دى : يو عطف دے د جزئى په كلى باندے۔ لكه مثلاً دوى مثال وركړيدے۔ جاء القوم وزيد ـ قوم كلى دے دا زيد جزئى دے ۔ نو بيا ئے وروسته ليكلے دى : دے مسئله كښې ايمان هغه كل دے۔ او عمل جزء دے۔ نو جزئيت ترے نه ثابت نه شو۔

ليكن دا واضحه ده : چه په جزء او په كل ، په جزئى او په كلى كښې فرق دے۔ مخكښې ئې جزبى او

کلی یاد کریدے۔ او تفریع پرے د جزء او د کل کوی ۔ پہ انتفاء د جزء سرہ انتفاء د کل راځی۔ او پہ انتفاء د جزئی سرہ انتفاء د کلی نہ راځی ۔ لکہ زید مړشو ۔ خو انسانان خو تول نہ دے ختم شوے۔ یو جزئی لاړو۔ کُلی انسان هغه شته۔ السکنجبین ماء وخل و عسل ۔ سکنجبین د دریو څیزونہ نہ جوړ دے ۔ اوبہ ' سرکہ او ګبین ۔ کہ پہ دے کښې یو څیز نہ وی۔ لکہ ګبین ترینہ لرکړہ۔ نو دا سکنجبین نہ دے ۔ یو جزء دے۔ یو جزئی دے۔ یو کل دے۔ بل کلی دے۔ جاء نی القوم وزید۔ کلی جزئی دے۔ ایمان او اعمال کل او جزء دی۔ پہ دے کښې فرق دے۔

دویم تعبیر: کل مثلًا زید دے۔ جزء مثلًا د زید ګوتہ دہ۔ خو زید پہ ګوتہ باندے نہ صادق کیږی۔ او کلی مثلًا انسان دے۔ جزئی مثلًا زید باندے صادق دے۔ "زید انسان" ۔ او د جزء د انتفاء نہ د کل انتفاء لازمہ نہ دہ۔ مثلًا "واحد من العشرة" د منتفی کیدو پہ وجہ بہ "عشرة" هم منتفی کیږی۔ پہ خلاف د کلی نہ چہ هغه د جزئی پہ انتفاء نہ منتفی کیږی: لکہ مثلًا کہ زید وفات شو۔ نو انسان کلی نہ منتفی کیږی۔ (نیل الامانی : ۱۲۱)۔ (رجوع اوکړہ : عمدة القاری ۱ : ۱۶۷)۔

نزاع لفظی

دا اختلاف د امام ابو حنیفہؒ او د محدثینو ولے راغلے دے ؟ د هغے وجہ دادہ : چہ د امام ابو حنیفہؒ مقابلہ د معتزلہ سرہ وہ۔ پہ هغه وخت کښې دا معتزلہ او خوارج ډیر زیات وو۔ نو هغوی دا عمل دومرہ اوچت کړے وو۔ چہ د عمل تارک کافر دے ۔ نو امام ابو حنیفہؒ دا عمل لږ روستو کړے دے د ایمان نہ۔ او د محدثینو مقابلہ د مرجئہ سرہ وہ۔ دوی د اعمالو د اهمیت نہ انکار اوکړو۔ چہ اعمالو تہ اړو حاجت نشتہ ۔ ځکہ نشتہ چہ معصیت نقصانی نہ دے۔ محدثینو اووئیل چہ دا دومرہ ضروری دی۔ چہ د ایمان اجزاء دی۔ دا اختلاف د زمانے اختلاف دے۔

لیکن علامہ شبیر احمد عثمانیؒ فرمائی : چہ جهابذہ علماء نزاع لفظی کښې نہ مصروف کیږی۔ بلکہ دا نزاع معنوی دہ۔ محققین وائی : د ایمان مثال د اونے دے۔ چہ پہ کښې جرړ، تنہ ، څانګے او پانړے وی۔ کہ څانګے کټ کړے۔ بیا هم اونہ دہ۔ د محدثینو پہ نزد تنہ ئی د ایمان پشان دہ۔ او اعمال ئی د څانګو غوندے دی۔

امام طحاویؒ عقیدة الطحاویہ کښې لیکلے دی : الایمان یزید بالطاعة و ینقص بالمعصیة ۔

ایمان پہ طاعت سرہ سوا کیږی : وینقص بعدم الطاعة ۔ ووایہ او طاعت یې چہ نہ وی کړے۔ نو پہ هغے

سره ایمان کمیږی۔ نوددینه دا معلومیږی ۔چه حنفی مسلك کښی چه طاعت نه کوی۔ نونقصان دے هغوی داسے نه وائی۔ چه طاعت کوی اوکه نه کوی۔ دا علی السویه دی۔

مسئله : " انا مومن ان شآء الله " وئیلے شے او که نه ؟

درے اقوال دی د جواز ، د عدم جواز او ترك وذکر علی السویه منل۔
عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اواکثرمتکلمین اوائمه ثلاثه وائی : چه وئیلے شی۔ په دے کښی راجح قول دادے چه اول تنقیح اوکړه : چه د ان شآء الله وئیلو مطلب دے څه دے ؟ که مطلب ددا وی۔ چه شك مے دے ۔ نو دا خو ټیك نه ده۔ اوکه د ان شآء الله وئیلو مطلب تبرك وی۔ دا ټیك ده۔ اوکه د ان شآء الله وئیلو مطلب داوی۔ چه د خاتمے پته نه لګی۔ هسے نه چه د بلعم بن باعوره یا د آصف بن برخیا غوندے شم ۔نو بیا په دے وخت کښی ان شآء الله ته وئیلے شے۔ د شك د پاره به نه وائی۔ قرآن کریم کښی راځی :﴿أُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا﴾ (سورة الانفال : ٤) ۔ ددے آیت د لاندے اللباب کښی مفسر لیکلے دی : سال رجل الحسن فقال امومن انت ؟ فقال ان کنت تسالنی عن الایمان بالله وملائکته وکتبه ورسله والیوم الآخر والجنة والنار والبعث والحساب فانا بها مومن ، وان کنت تسالنی عن قوله : ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾ فلا ادری امنهم انا ام لا ؟ ۔ چه د حسن بصریؒ نه تپوس اوشو۔ چه ته مومن ئے اوکه نه ؟ نو هغه وئیل چه کوم مومن سورة الانفال ذکرکوی هغه قسم نه یم اوهسے مومن یم۔ داد هغوی تواضع ده ۔ ان شآء الله تفاؤلاً جائزده۔ ځکه چه انسان ته د خاتمے پته نشته : ﴿وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ﴾۔(سورة الکهف : ٢٣)۔
مولانا اشرف علی تهانویؒ په دے مسئله اشرف التفاسیر ٢ : ٣٠٧ باندے بحث کوی۔ چه علماء اختلاف کوی امام ابو حنیفهؒ فرمائی : انا مومن حقا ۔ وئیل پکار دی۔ او امام اشعریؒ فرمائی چه : انا مؤمن ان شاء الله۔ " انا مومن حقا " نه منع په دے وجه ده۔ چه انجام نه دے معلوم۔ نو د "ان شاء الله" وئیلو تعلیم ئے۔ او چه څوك په حال نظر ساتی۔ نو فی الحال خو تردد په شرك او کفرکښی دے۔ نو د "ان شاء الله" نه ئی منع کړے ده نو دا نزاع محض لفظی ده۔ د حال په اعتبار سره څوك هم د " انا مؤمن حقا " نه منع نه کوی۔ لیکن مولانا تهانویؒ خپل زوق ذکرکوی۔ چه څنګه " انا مؤمن حقا " د حال په اعتبار سره دے۔ نو " انا مؤمن ان شاء الله " هم د حال په اعتبار سره واخله۔ او د امام اشعریؒ مطلب دادے : چه دعوی

د " انا مؤمن حقا " مه کوه۔ د دعوی نه د بچ کیدو دپاره " ان شاء الله " وایه۔ او دا " ان شاء الله " د برکت دپاره ده۔ د تعلیق و تردد دپاره نه ده۔ مقصد ئی تعلیم دے۔ الله ته کارونه سپارل۔ ځکه " ان شاء الله " کله د تعلیق فی المستقبل دپاره راځی۔ او کله حال له راځی .....الخ۔

شیخ شمس الدین سلفی لیکی: قلت ماذهب الیه السکن وابوعزبة غیر صواب لان الاستثناء فی الایمان لاجل الشك غیر جائز بالاتفاق فهذا لیس محلاً للخلاف وانما الخلاف بین الفریقین هو الاستثناء لاحالة الامور الی مشیة الله.

(الماتریدیة)

ایمان مخلوق دے او که نه دے؟

حارث المحاسبی، وجعفربن حرب، عبدالله بن کلاب او عبدالعزیز مکی وائی: چه مخلوق دے۔ او امام احمد او بعض محدثین وائی: چه مخلوق نه دے۔ غوره قول د فقیه ابوالليث سمرقندی دے هغه فرمائی: ان الایمان اقرار وهدایة فالاقرار صنع العبد وهومخلوق والهدایة صنع الرب وهوغیرمخلوق. نو اقرار د بنده کار دے۔ او هغه مخلوق دے۔ او هدایة د رب صنع ده او دا غیرمخلوق دے۔ (عمدة القاری)۔

فتح الہ شرح کښې دی: والحق انه بمعنی الهدایة غیرمخلوق وبمعنی الاقرار والاخذ فی الاسباب مخلوق.

د ایمان اود اسلام په مینځ کښې نسبت

امام غزالی فرمائی: یو عموم خصوص من وجه په کښې مه جوړوه۔ او نور هر رنګه نسبت په کښې جوړیږی۔ که نسبت د تباین، مساوات او که دعموم خصوص مطلق راخلے۔ نو ټیك ده۔ په خپله امام غزالی ترجیح عموم خصوص مطلق له ورکړے ده۔

چه ایمان عبارت دے د تصدیق د قلب نه۔ او اسلام عبارت دے د جوارح او د زړه د دواړو د منقاد کیدو نه نو هغوی داسے وائی: کل مسلم مومن ولا عکس۔ هر مسلمان مومن دے۔ اعتقاد او عمل دواړه ئی برابر دی۔ اود مومن تش اعتقاد دے۔ نو نسبت دعموم خصوص مطلق په داسے طریقے سره شو۔ چه مسلم ئے خاص کړے دے۔ او مومن ئے عام کړیدے۔

لیکن علامه عینی لیکی: والحق ان بینهما عمومًا وخصوصًا من وجه لان الایمان ایضًا قد یوجد بدون الاسلام کما فی شاهق الجبل اذا عرف الله بعقله وصدق بوجوده ووحدته وسائر صفاته قبل ان تبلغه دعوة نبی۔

ایمان به وی او اسلام به نه وی۔ لکه د غره په سر انسان په عقل د الله د وجود، او د وحدانیت عقیده لری۔ او د نبی دعوت ورته نه دے رسیدلے۔ اسلام شته او ایمان نشته: ﴿ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا ﴾ (سورة الحجرات: ١٤)۔

قرآن کریم کښی مختلف آیاتونه راځی :﴿ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا ﴾ ددینه خودا معلومیږی. چه جدا جدا دی. بل ځائی کښی دا راځی : ﴿ فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ، فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ (سورة الذاريات : ٣٦) ـ او کورنی یوه ده. ددے نه دا معلومیږی. چه ایمان او اسلام یو شیء دے. دغه شان : ﴿ يَا قَوْمِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴾ ددے نه دا معلومیږی. چه اسلام او ایمان یو شیء دے.

سورة الاعراف : ١٢٦ کښی دی : ﴿ وَمَا تَنقِمُ مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ رَبِّنَا لَمَّا جَاءَتْنَا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴾ ـ دلاندے مفسرین او علامه آلوسی" لیکی : احتج القاضی بهذاه الآیة علی ان الایمان والاسلام واحد.

غوره قول دادے : اودا امام بخاری" هم فرمائی : اسلام او ایمان یو شیء دے. اسلام شرعی (چه منافقت نه وی) . او ایمان په دے کښی څه فرق نشته. حقیقت کښی چه کوم اسلام دے. نودغه ایمان دے. او چه کوم ایمان دے ـ نودغه اسلام دے ـ دے کښی ترادف او مساوات دے. نودا قول په ټولواقوالو کښی غوره دے. چه دا یوشیء دے .

اوداهم ده چه د مساوات یا د عموم خصوص حاصل دادے نسبت موقوف دے په تفسیر د ایمان.

متاخرین وائی : ایمان ، فقال المتاخرون هوتصدیق الرسول بما علم مجیئه به ضرورة ،
والحنفیة التصدیق والاقراروالکرامیة الاقرار وبعض المعتزلة الاعمال والسلف التصدیق بالجنان والاقرارباللسان والعمل بالارکان ـ او احناف وائی : چه تصدیق او اقرار دے. او کرامیه وائی : صرف اقرار دے. او بعض معتزله وائی : عمل دے. او سلف وائی : چه تصدیق بالجنان ، اقرار باللسان او عمل بالارکان دے.

نو د سلفو په نزد مرکب ثلاثی دے ـ او د متاخرینو، احنافو او کرامیه په نزد بسیط دے ـ نو جمهورمتکلمین او احناف وائی : چه ایمان بسیط دے. او متعلق ئی خاص دے. امور شرعیه به وی. او تصدیق بالاختیار علی وجه التسلیم به هم وی.

په ایمان کښی کمے او زیاتے راځی او که نه ؟

دا یو مشهوره مسئله ده. دا مسئله بناء ده. په دے باندے چه حقیقت د ایمان بسیط دے که مرکب ؟ که څوك ورته بسیط وائی. نو هغوی وائی ایمان کښی کمے او زیاتے نه راځی. اوکه څوك ورته مرکب وائی نواعمال په کښی راددنه کوی. چه اعمال ډیرشو. نوایمان ډیرشو. که اعمال کم شو.نوایمان کم شو. نودا بنائی اختلاف دے.

(۱) اول مسلك : ائمه ثلاثه او ظاهریه او جمهوراشاعره وائی : چه کمے او زیاتے راځی. قرآن کریم کښې آیتونه دی : ﴿فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا﴾(آل عمران : ۱۷۳) ﴿ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً ﴾(انفال : ۲) ﴿فَزَادَتْهُمْ إِيمَاناً ﴾(توبة ۱۲٤) ﴿وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَاناً﴾ (احزاب : ۲۲) ﴿ لِيَزْدَادُوا إِيمَاناً﴾ (فتح: ٤) ﴿وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَاناً﴾ (مدثر: ۳۱).

(۲) دویم مسلك : د امام الحرمین ، امام ابو حنیفهؒ او د جمهورمتکلمینو دے. دوی وائی : په ایمان کښې کمے او زیاتے نه راځی. او دغه خبره ابو منصورالبغدادی هم لیکلے ده.

(۳) دریم مسلك : امام مالكؒ ، عبدالله بن مبارکؒ وائی : زیاتے راځی خو کمے نه راځی. یزید ولا ینقص ـ یا ئی نقصان کښې توقف کړیدے. او علامه عینیؒ لیکی : واما توقف مالك عن القول بنقصان الایمان فخشیه ان یتناول علیه موافقة الخوارج. (عمدة القاری ۱ : ۱۷۱).

علامه زبیدیؒ وئیلے دی : چه د امام ابو حنیفهؒ یو قول دادے :یزید ولا ینقص ـ امام صاحبؒ د زیادت نه انکار اړو کوی نه. دا نه وائی چه ایمان کښې زیادت نه راځی. (النفخات التنقیح : ۲۱۵) .

ظاهرد قرآن کریم نه دا چرته نه معلومیږی. چه په ایمان کښې کمے راځی. او نه د احادیث مرفوعو نه دا معلومیږی - یو هسے قیاس دے. چګ کښې اوبه واچوه زیاتے شوے. کمے کړه نو کمے هم شوے ـ دا قیاسونه دی ـ او یو حدیث مرفوع متصل دے. دا حدیث کښې دی : چه ناقصات د عقل او د دین ښځے دی. او دین او ایمان یو شیء دے. نو چه دا ښځے د دین په اعتبارسره ناقصه. شوے. نو د ایمان په اعتبار سره هم ناقصه شوے. نو په ایمان کښې کمے راغے. دا یو لړے دلیل ورله جوړوی. بعض آثارو کښې ئی ذکرشته.

اصل کښې زیادت او نقصان داد اموراضافیونه دے. چه یو قبلوی نو بل به هم قبلوی. چه زیادت قبلوی نو کمے او نقصان به هم قبلوی.

امام رازیؒ او علامه عثمانیؒ دے ته نزاع لفظی او امام نوویؒ ورته نزاع معنوی وائی. امام رازیؒ فرمائی : که مرکب وی نو راځی ورنه نه راځی. ځکه تصدیق کښې کمے ، زیاتے نه راځی. او امام نوویؒ فرمائی : چه د انبیاء ، اولیاء او د عامو مسلمانانو تصدیق یو شان نه دے. لیکن دا خو کیفیت دے. او جهګړا په " کم " کښې ده.

په دے مسئله باندے بنکلے بحث ایضاح الادلة کښی شیخ الهند" کړیدے۔
دویم علامه آلوسی" او تفسیر قرطبی کښی مفسر په څلورمه سیپاره کښی کړیدے۔ چه کافرانو یو جاسوس مسلمانانو ته اولیږلو۔ چه د مکے خلق تاسو ته تیار شوے دی : ﴿ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا﴾ ۔احناف فرمائی : چه کوم ځائی زیادت او نقصان راغلے دے۔ داد نور ، د انشراح په اعتبار سره دے۔ او خصم ئی په اعتبار د ذات اخلی ۔ (۲) : ایمان تفصیلی کښی کمے زیاتے راځی۔ اجمالی کښی او نفس ایمان کښی نه راځی۔ (۳) : د " مومن به " په اعتبار سره د نبی ﷺ په ژوند کښی کمے زیاتے راتللو۔ په کومو آیتونو کښی چه د زیادت ذکر دے۔ نو هلته مطلب انشراح صدر دے۔ اطمینان د قلب دے۔ ﴿ أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ ﴾ (سورة الزمر : ۲۲)۔ بیا زیادت نه مراد سکینه ' دل جمعی او سکون راتلل دی۔ ﴿ فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ ﴾۔(سورة الفتح : ۲٦)۔
او د احنافو دا مطلب بیانول صحیح دی۔ ځکه چه مجموع رسائل الحافظ ابن رجب الحنبلی : ۷۹۲ باندے یو روایت راوړیدے۔ او دا روایت امام حاکم په " شعار اصحاب الحدیث " کتاب کښی هم ذکرکړیدے : عن حماد بن سلمة عن ابی جعفر الخطمی عن جده عمیر بن حبیب و کان من الصحابة قال الایمان یزید وینقص قیل ومازیادته ونقصانه قال اذا ذکرنا الله وحمدناه وسبحناه فتلك زیادته او اما اغفلناه ونسینا فذالك نقصانه ۔

د مقلد ایمان صحیح دے او که نه ؟

ملاعلی قاری" په مرقات کښی لیکلے دی :فهوصحیح علی الاصح ۔دا خبره علامه ابن عادل حنبلی" په اللباب تفسیرکښی په سورة النصرکښی لیکلے ده : قال جمهور الفقهاء والمتکلمین ایمان المقلد صحیح ۔ واحتجوا بهذه الایة ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ قالوا انه تعالی حکم بصحة ایمان اولئك الافواج ۔
فتح اله کښی ابن حجر هیثمی " ۱۴۹ باندے لیکلے دی : ایمان المقلد فهو صحیح علی الأصح عندالاکثرین وما نقل عن الاشعری من عدم صحته ردّ بانه کذب علیه ۔ (هکذا فی المرقات ایضًا)۔

نوټ : غوره داده : چه مقلد ایمان په دلائلو اوپیژنی ۔
شیخ شمس الدین سلفی لیکلے دی : ذهب جمهور مشائخ الحنفیة الی ان الایمان المقلدصحیح غیرانه عاص بترك الاستدلال وذهب الاشعری وجمهور الاشاعرة الی عدم الاکتفاء بالتقلید فی العقائد وصرح ابوعزبة۔ آخرکښی لیکی : قلت والحق صحة ایمان المقلد وان اول الواجب فی الاسلام هو شهادة ان لا اله الا الله

وهو توحيد العبادة ، للحافظ ابن حجر مبحث طيب ذكرفيه نصوص كبار العلماء في الرد على المتكلمين في هذا الصدد - (فتح البارى ۱۳ : ۳٤۹)-

علامه ابن حجرؒ لیکی : اما من غلا فقال لايكفي ايمان المقلد فلا يلتفت اليه لما يلزم منه من القول بعدم ايمان اكثر المسلمين وكذا من غلا ايضا فقال لايجوز النظرفي الادلة لما يلزم منه من اكابر السلف لم يكونوا من اهل النظر - (فتح البارى مع البخارى ۱۳ : ۳۰۲) -

علامه عینیؒ عمدة القارى کښې لیکی : ان المقلد مامور بالايمان وقد ثبت ان الايمان هو التصديق القلبي وقد اتى به فيكون مومنًا ، وان لم يعرف الدليل - (عمدة القارى ۱ : ۱۷۰) ـ او ١٦٧ باندے لیکی : منها ما يدل على صحة ايمان المقلد -

هدية المهدى کښې غیرمقلد لیکی : وايمان المقلد صحيح ولا يتكلف العامى بمعرفة الدلائل وقيل يفسق بترك الاستدلال ورده الشوكانى من اصحابنا - (۱ : ۱۱۳) -

الانتقاد الرجيح في شرح الاعتقاد الصحيح ۷۰ باندے نواب محمد صدیق حسن په دے مسئله کښې د قاضی شوکانی قول نقل کړیدے : وقد يعنى الصحابة الذين لم يبلغوا درجة الاجتهاد ولا قاربوها الايمان الجملى ولم يكلمهم رسول الله ﷺ وهو بين اظهرهم بمعرفة ذالك ولا اخرجهم بذالك عن الايمان بتقصيرهم عن البلوغ الى العلم بذالك بادلته -

د عبارت نه دا هم معلومه شوه - چه بعض صحابه د اجتهاد مقام ته نه وو رسیدلے -

ډاکټر شمس الدین صاحب الماتريديه لیکلے دے - په ماتریدیانو باندے یې رد کړے دے -

مولانا عبدالعزیزنورستانی صاحب لیکلے دی : چه ایمان د مقلد صحیح دے - مقلد که تقلید په ایمان کښې کوی نو صحیح دے - چه په اصولو کښې د مقلد ایمان صحیح ګنړی - نو په فروعو کښې چه څوك تقلید کوی - نو دے څنګه مشرك شو - يعنى په فرعی مسئله کښې چه يوتن تقليد کوی - نو هغه ته مشرك وائی - او يو تن په اصولو کښې يعنى په ايمانياتو کښې تقليد کوی - دا تقليد يې صحيح دے -

دا ټول امیان چه دی - دوی حج له ځی "لبيك" وائی - نو دوی سره خودلیل مخے ته نه دے موجود - چه دا حدیث دے - چه دے کښې راځی " لبیك " به وائی - شته په احادیثو کښې - خو هغوی ته پته نشته - خو لیکن د هغوی حج صحیح کیږی -

علامه عینیؒ او نوویؒ لیکلے دی : ان المومن الذى يحكم بانه من اهل القبلة ، ولا يخلد فى النار لايكون الا من اعتقدبقلبه دين الاسلام اعتقادًا جازمًا خاليًا من الشكوك و نطق مع ذالك بالشهادتين. (عمدة القارى ۱:۱۷۵)

کتاب الایمان

د کتاب الایمان مقصودی خبره ددے ځائی نه شروع کیږی۔ دا مخکښے خبره خو د نیت د تصحیح د پاره وه ایمان بنیاد دے۔ اعمال ترهغے نه دی معتبرځو پورے چه ایمان یی برابر کړے نه وی۔
یو کتابونه د سنن دی۔ هغوی دفقے په ترتیب سره کتاب لیکی۔ نود طهارت یا د مونځونو مسائل راوړی۔ او یو جوامع دی۔ هغوی کتاب په ایمان سره شروع کوی۔ او د امام بخاریؒ طرز جدا دے۔ هغه کتاب شروع کوی په بدء الوحی سره۔ ځکه چه د ټول دین بنیاد هغه وحی ده۔ په هغے کښې چه یودوه پاڼړے بحث اوکړی۔ نو بیا روستو کتاب الایمان د هغے نه پس شروع کړی۔
قاضی عیاضؒ فرمائی: چه دا حدیث جامع دے۔ ظاهری او باطنی وظائفو او عباداتو ته شامل دے۔ په کښې د عقود الایمان ذکر دے۔ ابتداءً انتهاءً حالاً او مآلاً۔ او د جوارحو د عملونو تذکره په کښې هم موجود ده۔ په دے حدیث کښې د اخلاص او د عملونو د آفاتونه د تحفظ تذکره په کښې شته۔ تردے چه ټول شرعی علوم ددینه راغستلے شوید ے۔

الفصل الاول

حدیث ۱ : عن عمر بن الخطاب رضی الله قال بینهما عند رسول الله ﷺ .....الخ۔

قرآن کریم په "بسم الله" شروع کیږی۔ او وریسے "الحمد" ده۔ نو مصنف د "بسم الله" په ځائی "انماالاعمال" یعنی حدیث النیة او حدیث المبر راوړو۔ او د "الحمد" په ځائی یی حدیث جبرائیل یعنی ام الاحادیث، ام السنة او ام الجوامع راوړو۔ لکه چه د ټول قرآن کریم خلاصه په سورة الفاتحه کښې ده۔ نو د ټولو احادیثو خلاصه په دے روایت کښې دننه موجوده ده۔
صحابو به تمنا کوله ۔ که څوك نا آشنا او بانډچی کس راغے۔ او د نبی ﷺ نه تپوسونه کوی۔ اومونږه اوریدل۔ چه زمونږ په معلوماتو کښې اضافه راشی۔ نو ډیره به ښه وی۔
أخرج الامام مسلم عن انس نهینا ان نسال رسول الله ﷺ عن شیء فكان یعجبنا ان یجئ الرجل من اهل البادیة العاقل فیساله ونحن نسمع۔ (كتاب الایمان باب السوال عن اركان الایمان)۔
او بل طرف ته د نبی ﷺ عمر آخر وو۔ ځکه التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیثؒ، ملا علی قاریؒ په مرقات کښې او ابن حجرؒ هم لیکلے دی : فی آخر عمره ۔ داده حجة الوداع سره لګ بګ لسم کال

کښې جبرائیل علیه السلام راغلے دے۔ چه نبی ﷺ صحابه کرامؓ سره ناست وو۔ او ددے ټول دین خلاصه یې ذکر کړے ده۔ چه صحابه کرامؓ په دے باندے پو هه شي۔

" قال بینما نحن عند رسول الله ﷺ ذات یوم " : دا جمله اسمیه یافعلیه ده۔ جواب ئې ځکه ضروري دے۔ چه معنی د شرط له متضمنه ده۔

په دغه وخت کښې مونږه د نبی ﷺ سره ناست وو۔ نحن جالسون عند رسول الله ﷺ ۔ د بین اضافت مفرد ته کیږي۔ او جملے ته نه کیږي۔ اودلته د بین اضافت جملے ته شوید ے۔ ددے وجه داده : چه دا قاعده او ضابطه ده۔ چه د بین اضافت کله "ما کافه " ته اوشي لکه دلته شوید ے۔ "بینما " ورسره "ما " راځي او "الف " د اشباع ورسره وي۔ نو په داسے وخت کښې ددے اضافت جملے ته هم کیدے شي۔ ځکه یې ورله جملے ته اضافت کړے دے۔ ابوداود کښې لفظ "بین " راځي۔ " ذات یوم " د ورځے رنړا۔ دا "ذات یوم " ځکه وائي چه د یوم معنی مطلق وخت هم راځي۔ نو مطلق وخت والا معنی نه ده۔ بالکل ورځ وه۔ او رنړا وه۔

کشف المناهج والتناقیح کښې دي : والمعنی بین اوقات اوحالات نحن جالسون فیها زمانة طلوع هذا الرجل.

" اذ طلع علینا رجل شدید بیاض الثیاب شدید سواد الشعر " : ناګهانه راوختلو په مونږ باندے یعنی راښکاره شو۔ کله دا په اجرام علویو کښې استعمالیږي۔ "طلعت الشمس " او د سپوږمی راختلو کښې هم وئیلے کیږي۔ نبی ﷺ چه کله مدینے منورے ته تشریف راوړو۔ نو استقبال ورله ماشومانو او لویو کوو۔ نو هغوی شعرونه وئیل :

طلع البدر علینا	من ثنیات الوداع
وجب الشکر علینا	ما دعا لله داع
ایها المبعوث فینا	جئت بالامر المطاع

او جبرائیل علیه السلام د ذات په اعتبارسره نور وو۔ او شکل یې د رجل جوړ کړے وو۔ او راغے۔ دا رجل د چا په شکل کښې راغلے دے ؟۔ نو جبرائیل علیه السلام به اکثریه د دحیة الکلبی رضی الله عنه په شکل کښې راتلو۔ خودغه ځل په دے شکل کښې نه دے راغلے۔ پته نه لګي۔ چه د چا په شکل کښې راغلے دے۔ داسے معروف او مانوس شکل نه وو۔ ځکه چه نبی ﷺ بالکل نه دے پیژندلے۔ د نسائي په روایت کښې راځي : چه دا شکل د دحیة الکلبی رضی الله عنه وو۔ نو داد هغه

وهم دے۔ (اخرجه النسائي في الكبرى نمبر : ٥٠٠٦) ۔ ځکه سيدنا دحيه رضی الله عنه تولو پيژندلو۔
بريلے وائی چه د "طلع علينا رجل" نه زمونږه استدلال دے۔ داسے مونږه هم وايو۔ چه نبی ﷺ په شکل د رجل کښې راغلے دے۔ اوذات يې نور دے۔ لکه څنګه چه جبرائيل عليه السلام ذات د نور دے۔ او د سړی په شکل کښې راښکاره شوے دے۔ دا غلطه خبره ده۔ دهغے وجه داده : چه په قرآن اوحديث کښې چه کوم ځائی کښې داسے واقعه راغلے ده۔ نو روستو يې وضاحت کړے دے۔ چه دا جبرائيل عليه السلام دے : ﴿فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا﴾ جبرائيل عليه السلام ورته شکل د يو روغ موټ انسان جوړ کړو تمثل يې اوکړو۔
هغے اونه پيژندلو۔ نو ورته وائی : ﴿أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ﴾ او دلته حديث کښې آخر کښې راځی : فانه جبرائيل اتاکم يعلمکم دينکم۔ نو تاسو داسے اوښائی۔ چه په دے هيئت کذائيه سره چه تمثل د نبی ﷺ شوے وی۔ او بيا يې روستو وئيلی وی۔ چه دا نور دے۔ حالانکه قرآن کريم کښې خو دا راځی : ﴿إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ ﴿خَالِقٌ بَشَرًا مِن طِينٍ﴾ ﴿مَا أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا﴾ ﴿وَمَا أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا﴾ ﴿مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ ﴿إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ ددے وجے نه د بريلی دا استدلال غلط دے۔
څوك چه د نورنه ئې پيدائش د مادے په اعتبار سره ذاتی منی۔ او د بشريت نفی کوی۔ لکه يو کس وائی : چه بشريت د نبی ﷺ نه منم۔ او د نبی ﷺ نور ذاتی دے۔ نو دا سړے کافر دے۔
ددے آيت : ﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ﴾ ۔ (آل عمران : ١٦٤) ۔ د لاندے علامه آلوسی" روح المعانی کښې د شيخ ولی الدين عراقی" فتوی نقل کړے ده : فقد سئل الشيخ ولی الدين العراقی هل العلم بكونه ﷺ بشر او من الملائكة او من الجن اولا ادری هل هو من العرب او العجم ؟ فلا شك في كفره لتكذيبه القرآن وجحده ما تلقته قرون الاسلام خلفًا عن سلف وصار معلوما بالضرورة عند الخاص والعام ولا اعلم في ذالك خلافًا ' فلو كان غبيًّا لا يعرف ذالك وجب تعليمه اياه فان جحده بعد ذالك حكمنا بكفره۔

" **شديد بياض الثياب** ": دا يا "شديد بياض الثياب" دے دال باندے تنوين دے۔ بياض معمول دے۔ د شديد۔ او يا ترکيب اضافی دے "شديدُ بياض الثياب"۔ نو په دے به اوس اشکال راځی۔

اشکال : چه رجل خو موصوف دے او نکره ده۔ او شديد بياض الثياب ورله صفت دے۔ او دا صفت

په اضافت سره دے۔ او اضافت د تعریف فائده ورکوی۔ دا خو معرفه ده۔ او رجل خو نکره ده۔ او موصوف صفت کښې مطابقت نشته۔ رجل په تنوین نکره دے۔ او شدید بیاض الثیاب په اضافت معرفه ده۔ دواړه به یا نکرے وی۔ یا به معرفے وی۔

جواب : دا اضافت لفظی دے۔ او د اضافت لفظی فائده داده۔ چه داد تعریف فائده نه ورکوی۔ داد تخفیف فائده ورکوی۔ دا بیا هم نکره ده۔ او د تخفیف فائده یې ورکړے ده۔ چه تنوین یې د ځان نه لرکړے دے۔ شدید نه شدیدُ شوید دے۔

جامے یې تکے سپینے وے۔ اشاره ده دے خبرے ته۔ چه طالب علم له صفائی ضروری ده۔ جامے به ښکلے ساتی۔ که سپینے ساتی۔ او که بل رنګ دی۔ ځکه په سلفو کښې بعضے داسے وو۔ چه هغوی به سپینے جامے په طالب علمی کښې نه ساتلے۔ او دا به یې وئیل چه دا زر خیرنیږی۔ او مونږ وینځلو ته نه یوسم۔ نو چه خړے پړے جامے به یې وے۔ نو هغه به یې جوړولے۔

"**شدید سواد الشعر**": ویښته یې تك تور وو۔ دا خو مسند احمد کښې راځی چه د هغه لمه ډیره مزیداره وه۔ سنړے یې پریخے وے۔ علامه ابن حبان وائی : چه دا یې د ګیرے ویښته تك تور وو. لیکن دواړه تور وو۔ هم د سر او هم د ګیرے۔ (اخرجه ابن حبان نمبر : ۳۹۰)۔

اشاره ده دے خبرے طرف ته۔ چه طالب علم به علم په ځوانی کښې کوی۔ ځکه چه ددے مشکلات ډیر دی۔ او په ځوانی کښې انسان تحمل د مشکلاتو ښه کولے شی۔ نو چه څو مره په ځوانی او په هلکوالی کښې علم کوی۔ نو دا ښه خبره ده۔ ینبغی ان یکون الطالب شابًا فارغ القلب غیر ملتفت الی الدنیا. وړوکوالی کښې مبادی زده کړه۔ مونځ، قاعده، قرآن کریم حفظ او کړه۔ داسے چه ښه برابر شے۔ نو بیا د هغے نه پس علم شروع کړه۔ چه زړه دے ورته اوزګار وی۔ علم یو ائې په وخت د اوزګارولو نه کیږی نو زړه به دے ورته هم فارغ وی۔ او د دنیا امورو طرف ته به دے التفات نه وی۔ د صفائی خیال ساته. طالب چه جامے ښکلے لری۔ نو خوند کوی۔ امیان ورته سپك نه ګوری۔ خیر دے که د یو سړی شوق پیدا شی۔ چه زه په بوډاتوب کښې علم حاصلوم۔ نو حاصل دے کړی۔ هغه باندے پابندی نشته۔ علم خود مهد نه ترلحد پورے دے۔ خو لکه وخت یې داد ے۔ چه کله ته ځوان یې۔ نو څه به ایزده کړے۔

"**لا یری علیه اثر السفر ولا یعرفه منا احد**" : امام بخاریؒ روایت راوړید ے چه هغه باندے د سفر آثار نه شو ښکاره کیدلے۔ او دے ځان پټهوی تعمیه ده۔ مسند د امام ابو حنیفةؒ او نسائی کښې روایت

راځي : چه سلام یې کړیدے۔ دا نه چه بے سلامه راغلے دے۔
او د سفر آثار پرے نه ښکاره کیدل څه مطلب ؟ نو داسے معلومیده۔ چه د دغه ځائی دے۔ ځکه چه سفر ځوك اوکړي۔ نو جامے یې خړے پړے وے۔ په هغے دوړے پریوتے وے۔ سر یې بېر وي۔ صفائی یې نه وي۔ او دے بالکل برابر وو۔ ته به وائی چه اوس د غسل خانے نه بهر راوتے دے۔ خو بل طرف ته عجیبه کاردا وو۔ په مونږ کښې یو تن هم نه پیژنده۔ صحابه کرامؓ ډیر زیات ناست وو په مجلس د نبی ﷺ کښې۔ امام بخاریؒ په کتاب الایمان کښې دا حدیث راوړیدے۔ چه نبی ﷺ بارزًا للناس وو۔ ښکاره ناست وو۔ ملاعلی قاریؒ په مرقات کښې لیکلے دی : چه چبوتره یې ورله جوړه کړے وه۔ بعض روایاتو کښې راځي : چه نبی ﷺ بره ناست وو۔ محدثین وائی که چرته استاذ د عذر د وجے نه بره کیني نو ددے اجازت دے۔ نو نبی ﷺ به مخکښې صحابه کرامؓ سره به په مینځ کښې کیناستو۔ چا به نه پیژندو۔ چه مسافر به راغے هغه به تپوس کوو۔ ایکم ابن عبدالمطلب ۔ په تاسو کښې د عبدالمطلب نمسې کوم یو دے۔ نو بیا به ورته هغوی اوو‌ئیل هذا الابیض ۔ دا ښکلے مزیدار سپین سړے چه دے۔ دا نبی ﷺ دے۔ یا د پاره د امتیاز نبی ﷺ له صحابه کرامؓ لږ اوچت ځائی جوړ کړو۔ نو اوچت ځائی استعمال د استاذ د پاره د ضرورت د وجے نه هغه ټیك دے۔

روایت دے : فطلبنا الی رسول الله ﷺ ان نجعل له مجلسًا یعرفه الغریب اذا اتاه قال : فبنینا له دُکّانا من طین۔ (ابوداود نمبر : ٤٧٠٠ ' نسائی : ٥٠٠٨)

معرفت د زړه خبره ده۔ ولا یعرفه منا احد ۔ یو تن هغه نه پیژنده تعارف یې ورسره نه وو۔ دا حدیث دلیل دے په دے خبره باندے چه صحابه کرامؓ ژوندی وو۔ او علم غیب ورته نه وو۔ نکره په سیاق د نفی کښې راغلے ده "منا" صحابه کرامؓ دی "احد" په مونږ کښې یو صحابی داسے نه وو۔ چه هغه یې پیژندلو۔ بریلے وائی : چه دا خو زمونږه دلیل دے۔ چه یو تن ته ځنګه پته اولګیده۔ چه دوی یې نه پیژني۔ نو دا خو دلیل دے چه علم غیب صحابه کرامؓ ته وو۔ لیکن جواب دادے چه د غیاث بن عثمانؒ په روایت کښې راځي چه صحابه کرامؓ یو بل ته اوکتل راوکتل۔ هغوی یو بل ته اشارے اوکړے۔ چه دا سړے پیژني او که نه ؟نو هغوی اوو‌ئیل چه نه ۔فنظر القوم بعضهم الی بعض فقالوا ما نعرفه.(مسنداحمد ١ : ١٩٠)
حدیثونه چه ګورے نو ټول روایتونه به جمع کوے نو هله به کار کیږي۔ اشکالات به دے ختمیږي۔
"حتی جلس الی النبی ﷺ" : دے ته چه ګورو جامے یې سپینے دی۔ زلفے یې ډیرے اعلی او

ښکلے دی۔ چه د سفر آثار پرے نه ښکاره کیږی۔ ددے درے وارو مطلب دا شو۔ چه ددے ځائی دے د لرے نه نه دے راغلے۔ خو چه دے ته ګورو۔ لا یعرفه منا احد ۔ مونږه یې نه پیژنو۔ نود بل ځائی نه راغلے دے۔ نو پته نه لګی چه د بل ځائی نه راغلے دے۔ اوکه ددے ځائی سړے دے۔

"حتی جلس الی النبی ﷺ" مخکښی عبارت" دنی "راوباسه ۔ یو روایت کښی راځی د نبی ﷺ نه یې اجازت اوغختلو "ادن ؟" ۔ درنزدے شم۔ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل او راشه۔ اودے راغے۔ او نبی ﷺ سره خوا کښی کیناستو۔ چه څومره استاذ سره خوا کښی یې۔ نو دومره هغه طالب ښه پو هیږی۔ مقبلاً ومتوجهًا الی النبی ﷺ ۔ کیناسته په داسے حال کښی چه تولہ توجه یې نبی ﷺ ته برابر کړے وه۔ شاګرد له دا پکار وی۔ چه تولہ توجه قلبًا او قالبًا استاذ طرف ته کړی۔ په دغه وخت کښی روح چرته بل طرف ته آخوا دیخوا نه بوځی۔ چه بدن او روح یې دواړه دلته وی۔ ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾۔

د جلوس او قعود فرق

جلوس دے ته وائی: چه یو تن ملاست وی اوکینی۔ او قعود دے ته وائی: چه د اولاړے نه ښکته کیناسته۔ نو پکار وو چه قَعَدَ یې وئیلے وے؟ نوداد یو بل په ځائی استعمالیږی۔ لکه عذاب قبر کښی روایت راروان دے۔ په هغے کښی راځی: یجلسانه و یقعدانه۔ ملائك دغه سړے یعنی مړے کینوی۔ نو جلوس او قعود دواړه راځی۔

جلوس زمونږ دا خلق دے ته وائی چه یو لیډر مخکښی وی۔ او نور ورپسے وی۔ او چغے اوباسی۔ نو دا خو جلوس نه دے۔ جلوس کښی خو ناسته ده۔ او په دے کښی خو تاسو ناسته نه ده کړے۔ نو دا په اعتبار د مایؤول سره ۔ الله رب العزت دے زمونږ دا مطالبه پوره کړی۔ چه په خپل ځائی باندے ښه مزیدار کینو۔ په دغه تفاءلًا انداز سره دا کیږی۔ لکه مثلًا ځنګل ته مفازه وائی۔ ځنګل خو د مفازه ځائی نه دے۔ بلکه دا خو د هلاکت ځائی دے۔ لیکن تفاءلًا چه فوز راشی۔ او دے ددے ځنګل نه په کامیابی سره پورے اووځی۔

کوم کس چه مار اولړم اوچیچی۔ نو هغے ته په عربی کښی سلیم وائی۔ هغه خو سلیم نه دے۔ خو سلیم ورته تفاءلًا وئیلے کیږی۔ ورنه هغه خو" لدیغ" دے۔

"فاسند ركبتيه الى ركبتيه": خپل زنګونان يې ارږم کړل د نبي ﷺ د زنګونانو سره. د التحيات په شکل کښې يې. ګونډے ماتے کړے. خلق وائي چه علم ترهغے وخته پورے نه شي حاصلولے. چه استاذ ته دے ګونډے نه وي ماتے کړے. دا سړے روتې. او تواضع د انسان نه سړے جوړوي. نود ادب شکل يې راته اوخودلو. د استاذ خوا کښې کيناستل، اجازت غوختل، سلام کول، څواني کښې راتلل او د صفائي خيال ساتل.

"ووضع كفيه على فخذيه": دواړه ورغوي يې د خپل يا د نبي ﷺ په پتونانو باندے کيخودل.
دوه قوله دي. (۱) : اول قول دا دے : امام نوويؒ او جمهوردے له ترجيح ورکوي. چه ده دا لاسونه په خپل زنګونانو باندے ايخے وو. لکه يو سړے مونځ کوي. او په التحيات کښې چه څنګه لاس په پتون ايږدي. دا د ادب انداز دے. نو په دے طريقے سره کيناستو.
(۲) : دويم قول: چه امام نسائي روايت راوړيدے. په هغے کښې دادي. چه لاسونه يې د نبي ﷺ په پتونانو باندے کيخودل.
دده کوشش دادے. چه دے ځان پټ کړي. يو طرف ته چه ګورے. نو ډير زيات باآدبه دے د التحيات په شکل کښې ناست دے. او خپل لاسونه يې په خپلو پتونانو باندے ايخے دي. او بيا چه ګورے نو خپل لاسونه راخلي. او د نبي ﷺ په پتون باندے يې ايږدي. دا خو ډير بے ادبه ښکاري. دا خو بے ادبي ده - په ادب کښې بيا تعميه کوي. ددے مطلب دادے: چه دے خو ډير زيات با آدبه دے. او د بل مطلب دادے: چه باندې چي راغلے دے. د آدابو نه خبر نه دے. يا د نبي ﷺ د توجه د قائمولود پاره يې په هغه باندے خپل لاس کيخودل.

" وقال يا محمد ": او وئے وئيل چه اے محمد ﷺ. قاضي شمس الدينؒ په شرح د مشکوٰة کښې ليکلے دي: چه بعض روايتونو کښې يا رسول الله راغي. خو راويانو دهغے نه تعبير په يا محمد سره کړے دے.

سوال : چه يا محمد ده ولے وئيلے دے دا خو ناجائز دي ؟

جواب : (۱) : بعض خلقو ددے جواب دا کړيدے : چه په هغه وخت کښې دا آيت نه وو راغلے.
﴿ لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُم بَعْضاً ﴾. خو دا جواب کمزورے دے. ځکه چه

داد آخری عمر خبره ده ـ آیت راغلے وو۔(۲) : بعض خلق وائی : یو د عَلَمْ لحاظ دے۔او بل د وصف لحاظ دے ـ دے محمد کښې یې د وصف لحاظ کړيدے۔ په دے کښې معنی وصفی ملحوظه ده۔ ځکه چه مشرکانو به نبی ﷺ ته مذمم وئیلو العیاذ بالله ـ چه بدی یې بیان کړے شی ـ نه ته خو محمد ﷺ یې ستا تعریف هغه کړے شوید ے۔ په معنی وصفی سره یې یا محمد وئیلے دے۔

(۳) : ملا علی قاری ؒ وائی : دا حکم د ملك د پاره نه دے۔ ملك خو غیر مکلف دے۔ دا خو جبرائیل علیه السلام دے ـ دے په کښې آزاد دے۔ که هرڅنګه وائی۔ او دا حکم چه یا محمد به نه وائی داد بنی آدم سره خاص دے۔ پیریان او انسانان به یا محمد نه وائی ـ ځکه دوی مکلف دی۔ یا محمد وئیل بے ادبی ده ـ قرآن کریم او احادیث چه ګورے۔ نو نبی ﷺ ته یا محمد باندچیانو وئیلے دی : ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴾ (حجرات : ۶۳) ﴿ یا محمد اخرج الینا .....الخ ﴾۔ لیکن جبرائیل چه کله انسانی شکل کښې دے۔ نو د عامو خلقو حکم به په ده جاری کیږی. اشکال اوس هم شته۔

یا محمد بهر راووځه ـ که مونږ درله تعریف اوکړو۔ نو زنګ به ګرځی۔ او که مونږه درله مذمت اوکړو نو بد رنګه به ګرځی ـ دغه بنو تمیم باندچیان راغلے وو۔ نو نبی ﷺ ته یې یا محمد وئیلے دے۔ یهودیانو ورته یا محمد وئیلے دے۔ چرته یو مئین صحابی نبی ﷺ ته یا محمد نه دے وئیلے۔

دبعض خلقو جماعتونو کښې یا الله او یا محمد لیکلے شوے وی۔ او په پوسترو کښې یې هم یا محمد لیکلے وی۔ حالانکه داد بریلیانو شعار دے۔

مفتی محمد فرید صاحب لیکلے دی : چونکہ یا محمد اہل بدع کا شعار ہے لہذا ایسے کتبوں سے مساجد کو محفوظ رکھنا ضروری ہے۔

(فتاوی فریدیه ۱ :۳۱۷)

غوره جواب د علامه شبیر احمد عثمانی ؒ دے : چه دوی خپل حال پټول غواړی۔ ځکه ئې یا محمد اوئے۔

"اخبرنی عن الاسلام قال الاسلام ان تشهد ان لا اله الا الله و ان محمد رسول الله و تقیم الصلوة و توتی الزکوة و تصوم رمضان و تحج البیت ان استطعت الیه سبیلا " :

مالـه د اسلام په باره کښې خبر راکړه ـ د مسلم په روایت کښې راځی : اخبرنی عن الایمان ـ او دلته اسلام وائی ـ غوره ترتیب داد ے ـ دا نور د راویانو تصرف دے۔ چه څوك چه د اسلام په ځائی باندے ایمان

ذکرکوی ـ شاه انور کشمیریؒ وائی : چه ایمان په زړه کښی وردننه شی ـ په اندامونو راخور شی ـ نو اسلام ترے جوړ شی ـ بیا په اندامونو راښکاره شی ـ نو زړه ته ورکوز شی ـ په صحیح اسلام کښی اوپه ایمان کښی فرق نشته ـ د اسلام ظاهری تعلق د اندامونوسره دے ـ ددے وجے نه " اقامة الصلوة ، ایتاء الزکوة ، اوحج د بیت الله ان استطعت الیه سبیلا ـ ورپسے دے ـ دا په ظاهری اندامونو سره کیږی ـ دا کارونه د مرگ نه بعد نه کیږی ـ یوسړے د مرگ نه روستو مونځ نه شی کولے ـ زکوة نه شی ورکولے ځکه خووائی :﴿ وَأَوْصَانِيْ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴾(مریم : ۳۱) ـ شرح وقایه په جنائزکښی دی ـ او علامه آلوسیؒ هم ددے آیت :﴿ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ (بقرة : ۱۳۲) ـ د لاندے لیکلے دی : چه د اسلام تعلق د اندامونو او د ایمان تعلق د زړه سره دے ـ

او د مونځ نه فرض مونځ مراد دے ـ (مسلم) ـ

مسئله :د مرگ نه روستود اسلام کارونه ختم دی ـ خولیکن ایمان به وی ـ مومن سړے مړشی ـ نو ته به روستو هم ده ته مومن وائی ـ د نبی ﷺ په مرگ سره نبوت نه ختمیږی ـ د مومن په مرگ سره د هغه ایمان نه ختمیږی ـ د مشرك په مرگ سره د هغه شرك نه ختمیږی ـ

ددے وجے نه جنازه کښی مونږه داسے وایو " اللهم من احییته منا فاحییه علی الاسلام " ـ داد حیات سره تعلق ساتی ـ " ومن توفیته منا فتوفه علی الایمان " ـ داد وفات سره تعلق ساتی ـ (روح المعانی ، شرح وقایه) ـ

شرائع الاسلام په باره کښی تپوس کوی : ان تشهد ان لا اله الا الله وان محمدًا رسول الله ـ او بیا د هغے نه بعد اقامة الصلوة ، ایتاء الزکوة ، صوم رمضان او حج د بیت الله ـ دے ته پنځ بناء د اسلام وئیلے کیږی ـ استطاعت حنفی مسلك کښی زاد او راحله دے ـ یوسړی سره دومره پیسے وی ـ چه دے پرے حج کولے شی ـ او بیا چه راشی ـ او دده د بال بچ گزاره کیږی روتی ، خوراك او جامه وغیره ضروریات یی برابریږی ـ نو ده باندے حج فرض دے ـ "ان تشهد ان لا اله الا الله" کښی توحید دے ـ

ملا علی قاریؒ په مرقات کښی څلورمرتبے لیکلے دی : (۱) : توحید نظری : چه په استدلال یا په تقلید ئی علم راشی ـ چه الله د الوهیت په صفت متصف دے ـ او د شرك جلی نه هرحالت کښی ځان بچ کړی ـ (۲): توحیدعلمی : چه د پردو او تیرونه راووځی ـ حقیقی مؤجداو مؤثرمطلقا الله منی ـ او د شرك خفی نه هم ځان بچ کړی ـ (۳) : توحیدحالی : د مؤحد د ذات دپاره توحیدوصف لازمی جوړ شی ـ (۴) : توحید الهی : عقیده ئی وی ـ چه د الله توحید ذاتی شته ـ په صفاتو کښی ورسره شریك نشته ـ عقیده ئی ده کل شیء هالك الا وجهه ـ (مرقات) ـ

حج د بیت اللہ پہ بعض روایاتو کښې نشته۔ دا بہ راوی نہ ھیر شوے وی۔ نو ددے دا جواب کول چہ پہ هغه وخت کښې حج نوو فرض شوے۔ نو دا جواب لږ کمزورے دے۔ دلته صفا حج راغے۔ او بله داده چه ددے واقعے تعلق د نبی ﷺ آخری عمرسره دے۔ او د حجة الوداع نه بعد دے۔ نو حج پہ کښې فرض شوید ے۔ او روایت چه ابن حبان نمبر: ۱۷۳ باندے ' او ابن خزیمه اول کښې نقل کړیدے: تعتمر و تغتسل من الجنابة ۔ هم شته۔

"قال صدقت فعجبنا له یسأله ویصدقه": وئیل یې چه تہ خو رشتیاء وائې۔ دا یې بیا عجیبه کار اوکړو تپوس کوی نو ددے مطلب داد ے: چه نه پو هیږم۔ او چه دستخط کوی چه الجواب صحیح۔ نو ددے مطلب دادے: چه غټ مفتی دے پو هیږی۔ نو اوس دے پو هیږی او که نه پو هیږی۔ تول کار یې داسے دے۔ چه تعمیه پہ کښې جوړه وی۔ نو موږ ه تعجب اوکړو۔ تعجب وئیلے کیږی: ادراك د امرغریب ته: ﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا﴾ (جن: ۱) ﴿وَإِن تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ﴾ (سورة الرعد: ۵)۔

موږ ه تعجب اوکړو۔ چه کله یا محمد وائې۔ چه د آدابو نه خبر نه دے۔ اوکله د نبی ﷺ په پتون باندے لاس ایږدی۔ تہ بہ وائې چہ بے ادبه غوندے دے۔ کله سم په التحیات باندے کینی۔ کله تپوس او سوال کوی۔ چه نه پو هیږم۔ اوکله تصدیق کوی۔ وائې ټیك خبره دے اوکړه۔ دا ټولے خبرے عجیبه عجیبه دی۔ صحابه کرامؓ حیران وو۔ او جبرائیل علیه السلام قصدًا دا کول۔ ځان نه ښکاره کوی۔

او یو روایت کښې دی: انظروا هو یسأله ویصدقه کانه اعلم منه۔ (بخاری فی خلق العباد)۔

"قال فاخبرنی عن الایمان قال ان تؤمن بالله و ملئکته و کتبه و رسوله والیوم الأخر و تؤمن بالقدر خیره و شره قال صدقت": دویم تپوس یې دا اوکړو۔ چه ماله خبر راکړه د ایمان په باره کښې۔ د اسلام نه فقه او د ایمان او د عقائدو نه علم کلام۔ او د احسان نه علم تصوف جوړ دے۔ چه علم التزکیه ورته هم وائې۔ د ایمان د تعریف تپوس نه کوی "مؤمن به" یاده وی۔ په کومو کومو څیزونو باندے ایمان راوړل ضروری دی۔ وئیل یې "ان تؤمن بالله" په دے سوال دے۔ چه دا خودورله مستلزم دے۔ څکه تپوس د ایمان دے۔ او په تعریف کښې دے بیا ایمان ذکر کړو۔ نو محدود او حد ' معرف او معرّف دا یو شو۔ کلّماهکذا شانه۔ دا وی دور۔

سوال: هغه نه پیژنی ایمان اوته وائې ان تؤمن بالله۔

جواب: دا رومبنی ایمان چه دے۔ چه کوم د تعریف په باره کښې یې تپوس کړے دے۔ نو ددے

ایمان نه ایمان اصطلاحي مراد دے۔ او روستو چه تعریف کوی۔ چه "ان تؤمن بالله" دے۔ دے نه ایمان لغوی مراد دے۔ ددے معنی ده اعتراف اوتصدیق "بین السطور" یی تصدیق والا معنی لیکلے ده۔ ته به تصدیق کوی د الله رب العزت۔ دا به منی چه الله رب العزت شته۔ دا به منی چه بے شریکه شته۔ دهري به نه جوړیږی۔ اومشرك به هم نه جوړیږی۔

"وملئکته":۔ دا ملائك یی دے له نه دی مخکښی کړے۔ چه ملائك د رسول نه په مرتبه کښی اوچت دی۔ دا یی دے له اول ذکر کړے دے۔ چه ترتیب ذکری داد ے۔ چه اول ملائك راځی۔ بیا کتاب راوړی بیا رسول ذکرکوی۔ تفسیربیضاوی کښی دی: ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ﴾ (بقرة : ٣٠) ۔ جمع ده د مَلَاكٌ ملائك به منے ۔ دے ته به صرف د خیر طاقت نه وائی۔ سر سید احمد خان لیکلے دی۔ د سر سید تفسیر د سورة الانفال کښی: ﴿إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ﴾ (انفال : ١٢) ۔ ته رجوع اوکړه۔ چه دا ملائك د خیرطاقتونو ته وائی خوخارجي وجود ئی شته نه۔ او جنات د شرطاقتونو ته وائی خوخارجي وجودنه لری ۔ ملائك به هغه شان منے۔چه قرآن کریم څنګه ملائك ذکرکړے دی: ﴿وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ﴾ (انفطار : ١٠) ﴿لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِّن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ﴾ (رعد : ١١) ﴿عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾ (تحریم : ٦) ۔ د ملائکو چه قرآن کریم کوم وضاحت کړے دے۔ په هغے طریقے سره ملائك منل۔

"وکتبه":۔کتابونه به ټول منے۔ چلیږی به په قرآن کریم باند ے۔ اومنے به تورات، زبور، انجیل او صحیفے: ﴿صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ﴾ (سورة اعلی : ١٩) ۔ اوس دا چه دا صحیفے څومره دی؟ ددے مونږ ته یقینی پته نشته۔ بعض خلقو شمارکړے دی۔ چه دومره دی۔

علامه شبیراحمد عثمانی" تفسیر عثمانی کښی د دے آیت : ﴿صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ﴾۔ د لاندے لیکلے دی: چه دغه یقین نشته۔ خودا به منے چه صحائف د ابراهیم اود موسیٰ علیهما السلام شته داسے دا نورکتابونه شته۔ خپل وخت کښی دا برابرکتابونه وو۔

"ورسله":۔ یو به د الله رب العزت رسولان منے ۔ جمع د رسول ده۔ او رسول څه ته وائی: انسان بعثه الله تعالی الی الخلق لتبلیغ الاحکام الشرعیة۔

نبی او رسول کښې فرق

نبی او رسول کښې فرق : دا مسئله اختلافي ده. علامه ابن تیمیة خولیکي : چه نبی هغه ته وائي چه د خپل ذات اصلاح ئې کړې وي. اوخلقو ته مسئلې کوي تردید د اغیارو نه کوي. او رسول هغې ته وائي : چه تردید د غلطو دینیو نو کوي.

حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی بیان القرآن کښې د سورة مریم آیت ۵۱ ﴿وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا﴾ د لاندې لیکلې دي : چه رسول او نبی کښې عموم خصوص من وجه دے. (رسول) مخاطب کوشرع جدید پہنچائے خواہ وہ شریعت خود اس کے اعتبار سے بھی ہو جیسے تورات یا صرف ان کے امت کے اعتبار سے جدید ہوں جیسے اسماعیل علیہ السلام کی شریعت یہ دراصل ابراہیم کی قدیمی شریعت تھی لیکن قوم جرھم کو اس کا علم نہ تھا اور نبی صاحب وحی ہے خواہ شریعت قدیمہ کی تبلیغ کرے یا جدیدہ کے اعتبار سے.

بعض علماء وائي : رسل ۳۱۳ دي. دا اوچت دي. او انبیاء ۱۲۴۰۰۰ کم او زیات دي. دا کم او زیات به ورسره وائي. نبراس کښې دي : چه کم او بیش به ورسره ځکه وائي چه د ۱۲۴۰۰۰ والا روایت کمزورے دے.

حافظ الپوری صاحب شعرونه دي :

انبیاء یو لاکھ څلیریشت زره زیات او کم یادیږي
په عبادت کښې یې رښتوني بے ریاء اوګڼره
نفس او شیطان بے لارے کړے په هیڅ وخت کښې نه وو
دوی ته د جرم او د عصیان نسبت خطاء اوګڼره

د نبی دپاره درې شرائط دي (۱) بشر کیدل (۲) وحی (۳) چه د هغه دپاره امت وي.

"والیوم الاخر" : په ورځ د آخر. ددې نه آخوا بله آخري ورځ نشته. دیته یوم عقیم وائي. دا شنډه ورځ ده ـ دا بله ورځ نه راوړي ـ او آخرت به د قرآن خودلې شوې منې. په دې کښې بعث، حساب، جنت او دوزخ هم شامل دي.

"و تؤمن بالقدر خیره وشره" : د "تؤمن" دا لفظ ولې راوړید ے ؟ اومخکښې یې نه دے راوړے. د هغې وجه داده : چه مسئله د تقدیر ډیرا همه ده. قرآن کریم هم ډیره تفصیلي ځائي په ځائي ذکر کړې ده ـ د صحابه کرام په آخري دور کښې دا اختلاف پیدا شوې وو. امام مسلم اول شروع کوي چه معبد جهني اول د تقدیر نه انکار کړے وو. د ابوداؤد په کتاب السنة کښې د عمر بن عبدالعزیز روایت دے. چا

ورته وئیل دلته څه خلق پیدا شوی دی۔ چه هغوی وائی تقدیراو نصیب نشته۔ او آیاتونه راته هم وائی ۔نو هغه ورله ډیر مزیدار جواب ورکړے دے۔ هغه یو قاعده او ضابطه ده :لقد قرؤا منه ما قرأتم وعلموا من تاویله ما جهلتم وقالوا بعد ذلك کله بکتاب وقدر ۔ یو عام دلیل ورته ذکرکړو۔ دا آیاتونه خو صحابه کرام وئیلے وو۔ په دے مطلب هغوی نه وو پوهه۔ هغوی سره ددے آیاتونو نه تقدیرمنلو۔ دا بعض خلق وائی نصیب خکته کړے خردے۔ دانه منو تړقے وړپورے کوی۔ نن صبا مثلًا څوك داسے وائی چه قرآن کریم کښی راځی :﴿ ادْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ (مومن : ٦٠) ﴿ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ﴾ (بقرة : ١٨٦) ﴿ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴾ (شرح : ٧، ٨) ۔ وائی د سنتونه بعد په جمع دعا ثابتوم۔ ورته وایه دا آیاتونه خو صحابه کرامو او تابعینو هم وئیلے وو۔هغوی د سنتونه بعد په جمع سره دعا نه ده کړے۔

"الاعتصام بالکتاب والسنة" کښی یو روایت راځی :چه عبدالله بن عمر رضی الله عنه ته چا اووئیل چه فلانکی تاته سلام کوو۔ دے ورته وائی : سمعت انه کان قد احدث فان کان قد احدث فلا تقرء ه منی السلام۔ ما اوریدلے دی چه هغه د عقیدے بدعتی شوے دے۔که هغه بدعتی وی۔ نوزما سلام ورته مه وایه۔ علماء لیکی :چه دهغه بدعت د تقدیرنه انکار وو۔ ددے وجے نه ملا علی قاری" په مرقات کښی د حسن بن علی رضی الله عنه خط چه حسن بصری" لیکلے وو۔ هغه یې ذکرکړے دے۔ یو حسن بل حسن ته خط لیکلی دے : من لم یؤمن بقضاء الله وقدره وخیره وشره فقد کفر۔ څوك چه په قضاء او په قدر ' شر او خیر باندے ایمان نه راوړی۔ نو دا سړے کافر دے۔

مونږه ایمان مفصل او ایمان مجمل وایو۔ په هغے کښی یې دواړه خبرے ذکرکړے دی۔ اسماء او صفات منو د الله رب العزت۔ د صفاتو نه انکار نه کوو۔ امیان دا غلطه کوی۔ چه کله خپے وینزی۔نو "امنت بالله" وائی۔ دے ځائی کښی ددے وئیل نه دی ثابت ۔

"قال صدقت ":۔ تا بلکل رشتیاء اووئی۔دوه تپوسونه یې اوکړل د ایمان او د اسلام په باره کښی۔

"فاخبرنی عن الاحسان ":۔دا دریم تپوس دے۔ احسان دا صفت پیدا کول گران عمل دے۔ دے ته علم تزکیه یا علم تصوف هم وئیلے کیږی۔ دا عملی دنیا ده۔ د اعمالو ثمره ده۔ امام مالك" فرمائیل : من تصوف ولم یتفقه فقد تزندق ' ومن تفقه ولم یتصوف فقد تفسق ' ومن جمع بینهما فقد تحقق۔ (اشعة اللمعات)

درکفے جام شریعت درکفے سندان عشق ہر ہوسناکے نداند جام وسندان باختن

ملا علی قاریؒ دلته لږ مخکښې دا روایت راوړیدے۔ او شیخ عبدالقادرجیلانیؒ الفتح الربانی کښې ذکر کړیدے : لا یسعنی ارضی ولا سمائی ولکن یسعنی قلب عبدی المومن۔ او امام غزالیؒ په احیاء العلوم ۳ : ۱۲ باندے دا روایت ذکر کړیدے۔ ددے روایت باره کښې حافظ العراقیؒ لیکلے دی : لم اجد له اصلاً۔ اوملاعلی قاریؒ په خپل کتاب الرد علی القائلین بوحدة الوجود کښې ددے نقل : ۱۱٦ باندے کړیدے لاندے محقق لیکلے دی : موضوع لا اصل له مرفوعا وقد روی من قول وهب بن منبه اخرجه احمدفی الزهد : ۱۸۱۔ وقد تکلمت علیه فی تحقیقی لاحادیث الموضوعة فی الاحیاء : نمبر ۱۳۷ قلت من العجیب ان یجزم القاری بانه حدیث قدسی وهوالذی اورده فی الموضوعات الکبیر : ۱۰٦۔ او د تسلیة الاعمی : ۲۵ په تعلیق کښې دی : ضعیف جدا۔ رواه ابن حبان فی المجروحین والطبرانی فی الکبیر۔ قال الهیثمی فی المجمع وفیه سعید بن زیاد ابن ابی هند متروك ۔ او علامه ابن الاثیرؒ لیکلے دی : قال ابوعمر لا یوجد هذا الحدیث الا عندولده ولیس اسناده بالقوی۔ (اسد الغابة فی معرفة الصحابة ۱ : ۱۷۷ دار الاحیاء التراث بیروت)۔

مرقات کښې دی : چه ډیره ظاهره داده چه احسان العمل ترے مراد وی۔ چه هغه کلکوالی او مضبوطوالی ته وائی۔ او دا اخلاص او د الله سره د حضوری مرتبے نه عبارت دے۔

"ان تعبدالله کانك تراه": ۔ امام راغبؒ وائی : العبادة فعل اختیاری مناف للشهوات البدنیة تصدرعن نیة یراد بها التقرب الی الله طاعةً للشریعة ۔ او امام ماتریدیؒ په تاویلات اهل السنة کښې د : ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ د لاندے لیکلے دی : امتثال د رب العزت د حکمونو قولاً و عملاً۔ اوعلامه ابن قیمؒ عبارت فتاوی فریدیه ۱ : ۳٦۰ باندے دے : صرح ابن القیم فی مدارج السالکین : العبادة هی عبارة عن التسلط الغیبی یعنی حکمًا وقدرةً ۔ اود سورة النساء دآیت۳٦: ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ د لاندے تفسیرمدارك کښې دی : چه عبودیت کښې څلورخبرے دی : الوفاء بالعهود ' والرضاء بالموجود ' والحفظ للحدود ' والصبر علی المفقود ۔ او مرقات کښې د صوفیو کلام داسے ذکرکوی : العبادة حفظ الحدود والوفاء بالعهود وقطع العلائق والشرکاء عن شرك والفناء عن مشاهدتك فی مشاهدة الحق ۔

دحدیث مطلب : محدثین فرمائی : چه د عبادت کونکی دوه حالات دی ۔ اوچت حالت ئی د مشاهدے دے۔ لکه چه الله ته په عبادت کښې د زړه په سترګو داسے متوجه وی لکه چه وینی ئی۔

آنکس کہ در نماز نہ بیند جمال دوست   فتوی ہمی دہم کہ نمازش قضا کند

او دویم حالت ئی د مراقبے دے۔ چه زما هره ادا الله وینی۔ په دے دنیا کښې چه دا یقین دچا وی۔ چه د کیمرے په سترګه کښې څه محفوظ کیږم۔ نو حرکات و سکنات ئی برابر وی۔ د: ﴿إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ﴾ (سورة طارق : ٤)۔ د دهیان نه بعد به عبادت کښې حلاوت وی۔

(۲): امام سیوطیؒ او امام نوویؒ فرمائی: چه فانه یراك " دال برجزاء دے۔ او جزاء محذوفه ده: فان لم تکن تراه فاستمر علی طاعته ـ په استمرار د طاعت قوت پیدا کیږی۔ (۳) بعضے صوفیان یو توجیه ذکر کوی هغه غلطه ده ـ دوی وائی که ته "لم تکن" شوے۔ او ځان دے روك کړو۔ او فناء فی الله شوے۔ "فانه یراك" ته به الله اووینی۔ ورنه نه ئی شے لیدلے۔ دا ځکه غلطه توجیه ده۔ چه "تراه" جزاء د" فان لم تکن " شی ـ نو قانون دادے چه جزاء مجزومه وی۔ حالانکه په ټولو روایاتو کښې "تراه" په الف سره دے۔ لیکن "فان لم تره" هم راغلے دے۔ (ابن عساکر ٣٦ : ٢٠٤)۔

اودا هم ده چه "فانه یراك" بیا زائد شو۔ چه کله "تراه" ورله جزاء جوړوی۔ صحیح داده: چه "ان لم تکن تراه" شرط او "فانه یراك" ورله جزاء ده۔ او "فا" جزائیه ده۔ او امام نوویؒ دا "فا" د تعلیل جوړه وی۔ ځکه چه الله تا وینی۔ نو د استحضار د کیفیت د پیدا کولو کوشش جاری ساته۔ دا مشاهده د سیر فی الله مرتبه ده ـ او مراقبه د سیر الی الله نه عبارت دے۔ قرآن کښې دی: ﴿أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى﴾ (سورة العلق : ١٤)۔ دا یقین پیدا کول د کامیابۍ ذریعه ده۔

د بادشاه مخکښې وفد که ناست وی۔ نو ړوند چه بادشاه نه وینی۔ هغه هم په ادب ناست وی۔ اګرچه دا ړوند بادشاه نه وینی۔ که معاملات خائسته کول غواړے۔ د هغے طریقه: واحب للناس ما تحب لنفسك ـ باندے عمل دے۔ بل له هغه خوښوه۔ چه ځان له ئی خوخوے۔

"قال فاخبرنی عن الساعة": ـ بیا دے ناآشنا میلمه د قیامت باره کښې تپوس اوکړو۔ چه کله به راځی۔ جواب ئی ورکړو۔ ماالمسئول عنها باعلم من السائل ـ یعنی قانون دادے: ان المسئول یکون اعلم من السائل ـ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه هیڅ سائل او هیڅ مسئول ته ئی پته نشته۔ ﴿لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللَّهِ كَاشِفَةٌ﴾ (سورة النجم : ٥٨)۔ ملك مقرب او نبی مرسل ته ئی پته نشته۔ داد عقیدے مسئله ده: چه علم غیب یعنی غیب دانی صرف یو الله له ثابت دے۔ اطلاع علی الغیب، انباء علی الغیب او اظهار علی الغیب پیغمبر ته شوے ده۔ چه قرآن کریم کښې ذکر موجود دے۔

ملاعلی قاریؒ مرقات کښې لیکلې دي: چه د غیب مبادي او لواحق شته. مبادي باندې ملك مقرب او نبي مرسل هم نه دې خبر. او لواحق کښې بعضې اوقات خپلو دوستانو ته ښکاره کوي. دا بیا الغیب المطلق نه دې. بلکه غیب اضافي دې.

"فاخبرني عن اماراتها": ـ ددې سوال د مخکښې سره ربط څه دې؟. مختصر جواب ئې دادې: چه دا انقلاب صغیر چه "ان تلد الامة ربتها". علامت د انقلاب کبیر دپاره دې. چه قیامت دې. او دویم جواب بعضې داذکرکوي چه احسان سره عبادت کمال ته رسي. هرکمالې رازوالې یو حقیقت دې. او د دنیا زوال تـه قیامت وائي. نود قیامت تپوس ئې ځکه اوکړو. "اماراتها" ـ دې ته اشراط وائي سورة محمد ﷺ کښې دي: ﴿فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا﴾ (سورة محمد: ۱۸). او "باب علامات الساعة". په عنوان محدثین بابونه ذکرکوي. اشراط واړه علامات دي. "ان تلد الامة ربتها" ـ وینځه به خپله نائکه اوزیږوي ـ یعني تدبیرمنزل اوسیاست مدینه دواړه به خراب شي. موربه د لور خدمت کړي. دغه لورچه په کټ کښې په آرام ناسته ژوندتیروي. داد قیامت نښه ده. د "ربتها" تا بتاویل نسمة مونث استعمال دې. یا دا "ت" د مبالغې ده. قیامت به هله راځي چه خکته بره او بره خکته شي. عالي به سافل او سافل به عالي شي: ﴿وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ﴾ (سورة القيامة: ۹) ﴿إِذَا السَّمَاءُ انفَطَرَتْ وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ﴾ (سورة الانفطار ۱، ۲). معامله به نا اهلو ته حواله شي.

"اذا وسّد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة. (بخاري) ـ شیخ الحدیث مولانا محمدزکریاؒ لیکلې دي: مهتمم یا مدرس نااهل وي. د تدریس او د اهتمام قیامت راغې. شاه انورؒ فیض الباري کښې لیکلي دي: چه امام شافعيؒ امام مزنيؒ ځکه خپل علمي جانشین جوړکړو چه په: اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة ـ باندې نظر وو. اګرچه رجحان ئې علامه ابن عبدالحکم طرف ته وو. معلومه شوه. که ځوی نااهل وي د پلار علمي جانشین جوړول ئې صحیح نه دي. لکه چه دا یو عام رواج جوړ شویدې. حافظ شیرازيؒ ددې شکایت مخکښې کړیدې:

ایں چه شوریست که دردور قمري مے بینم	پسراں راسربسر خلافت پدرے بینم
اسپ تازي شده زیرپالان مجروح	طوق ازیں همه درګردن خرے بینم

دویمه توجیه: نفخات التنقیح کښې ئې داذکرکړې ده. چه علامه خطابيؒ فرمائي: چه په دې

کښې اشاره ده ـ چه اسلامی فتوحات به زیات شي. کنایه د وسعت اسلام او د مسلمانانو د غلبې نه. د وینځو د ډیر اختلاط او د ډیروالي د وجې به د هغوی اولاد ډیریږي. هغوی به ام ولد جوړیږي. کله چه مولیٰ د مال غنیمت کښې حاصل شوې وینځې سره وطی اوکړي. چه اولاد دې پیدا شي. په نسب کښې به د پلارانو تابع جوړیږي. او د نسب شرافت به ورته حاصل شي. او د مولیٰ د اولاد د کیدلو په وجه به وینځې دپاره د سید غوندې وي. او د "اعتقها ولدها" د قانون مطابق به اولاد د مور د آزادۍ سبب جوړیږي. نو د مور دپاره به سید او منعم ګرځي. او علامه نوویؒ دې ته د ډیرو عالمانو قول وئیلې دې.

لیکن صاحب د نفخات په دې توجیه دخپلې بخاري شرح کښې رد کړیدې: لیکن اشکال یہ ہے کہ یہ کام تو ہو چکا اور حدیث میں قیامت کے قریب حالت کا ذکر ہے ـ غوره توجیه داده: چه تدبیر منزل به خراب شي. اشاره عقوق الوالدین ته ده ـ او دا واقعي د قیامت نښه ده. لکه حدیث کښې راځي: وادنی صدیقه واقصی اباه. او "یطاع الرجل امرءته وعق امه".

"**وان تری الحفاة العراة**": ـ حفاة جمع د حافي ده. خپې ابلې. دومره غریب به وي. چه د غریبۍ د وجې به پیزار نه شي اغستې. بشرالحافي ځکه حافي دې. چه د خپل عزت نفس علاج ئې کړې وو. او خپې ابلې به ګرځیدو. حافظ ابن کثیرؒ ئې وجه ذکر کوي: وکان سبب ترکه النعل انه جاء مرة الی حزاء فطلب منه شراکا لنعله فقال ما اکثر کلفتکم یا فقراء علی الناس؟ فطرح النعل من یده وخلع الاخری من رجله وحلف لا یلبس نعلا ابدا ـ (البدایه والنهایه ٥ : ٧٤٣).

"**عراة**" ـ جمع د عاري ده بربنډ. "**عالة**" جمع د عائل ده. فقیرته وائي. د عال یعیل نه دې. چه کله غریب شي. ځوک وائي: د عال یعول نه دې. چه هم غریب وي. او هم ئې اهل و عیال زیات شي. سورة النساء کښې دي: ﴿ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا﴾. (سورة النساء: ٣).

حافظ ابن کثیرؒ تفسیر کښې لیکي: قال بعضهم ذالك ادنی ان لا تکثر عیالکم قاله زیدبن اسلم وسفیان بن عیینه والشافعي وهوماخوذ من قوله تعالی: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً﴾ ای فقرا ـ وقال الشاعر:

فما یدری الفقیر متی غناه   وما یدری الغني متی یعیل

وتقول العرب عال الرجل یعیل عیلة اذا فتقر: ولکن فی هذا التفسیر ههنا نظر فانه کما یخشی کثرة العائلة من تعداد الحرائر کذالك یخشی من تعداد السراری ایضا والصحیح قول الجمهور: ﴿ذلك ادنی ان لا تعولوا﴾ ـ ای لا تجوروا یقال عال فی الحکم اذا قسط وظلم وجار.

امام ابن کثیرؒ ئی دے آیت کښې د کثرت العیال توجیه نه منی۔ او تفسیر خازن کښې د کسائی قول نقل دے: عال الرجل اذا افتقر واعال اذا کثر عیاله۔

"رعاء": ۔ جمع د راعی ده۔ سورۃ القصص ۲۳ کښې دی: ﴿حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ﴾۔ او حدیث کښې دی: کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته۔ "الشاء"۔ جمع د شاۃ ده ګډو ته وائی۔

او روایت کښې د بخاری راځی: الابل البهم ــ مراد ترے تور رنګ والا دی۔ او "بهم" مجرور دے۔ د "رعاۃ" دپاره صفت دے۔ دا د دوی د جهل یا ددوی د اصل د جهالت نه کنایه ده۔

"یتطاولون فی البنیان": ۔ د یو بل سره په آبادوا و بنګلو جوړولو کښې مقابلے کوی۔ د دوی مشران به خپے ابلے، او لغړ تغړ ګرځیدل۔ لکه اوسنی عرب چه مشران ئی ډیر غریب وو۔

"آپ حج کیسے کریں" کتاب کښې مولانا سید ابوالحسن علی ندویؒ لیکلے دی: چه جده کښې حاجی کله موټر کښې کینی ــ او ماشومان ورپسے منډے وهی ــ څه دے ورله ورکړی ــ دا غریب واړه د صحابو او تابعینو اولاد دے۔ او په دویم ایډیشن کښې ئی لیکلے دی: چه اوس هغوی ډیر مالداردی۔ ځکه چه عربو کښې پټرول رابښکاره شو۔ دا هم یو قسم د سیدنا ابراهیم علیه السلام د دعا د قبولیت مظهر دے۔ او: یجبی الیه ثمرات کل شیء ــ یو مصداق ګرځیدلے شی۔ حدیث کښې هم دغه نښه داسے ذکر کړیده ــ چه حکومت به لکع ابن لکع یعنی شاخي تاخي کوی۔ دے سره د ملك، قانون، امن او نظام خرابیږی۔ لا تقوم الساعة حتی یکون اسعد الناس بالدنیا لکع ابن لکع۔ (مسنداحمد نمبر: ۲۳۳۵۱)۔

ملاعلی قاریؒ لیکلے دی: چه کله حرقة بنت النعمان قید شوه۔ او دا ملکه وه بادشاهی ئی کوله۔ او سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ته حاضره شوه۔ په دغه موقع دا اشعار د هغے ترجمانی کوی:

فبینا نسوس الناس والامر آمرنا اذا نحن فیهم سوقة نتنصف

فاف الدنیا لایدوم نعیمها تقلب تارات بنا و تصرف (فتح الاله)

د الله د شان د قدرت نه یو شاعر داسے تعبیر کړیدے:

څوك له خاورو ایرو پاڅوی تخت ورکړی څوك له تخته د ایرو په ډیران اوولی

کله څوك وزیراعظم وی او بیا اسیراعظم وی کله صدر د وطن وی کله دربدر وی

واقعی: چالره غوری د پولاو ډکے په تخت کیږدی

چالره په لاس کښې تکړه ورکاند له چړه

د بنه خوراك او بهترین څکاك د وجے ځان دهوکه کول نه دی پکار۔

فخیر لباسها نسبحات دود وخیر شرابها قئ الذباب

بعضے عارفین ترے داسے تعبیرکوی : الدنیا احقر من ذراع خنزیر میت بال علیھا کلب بید مجزوم۔
تفسیر روح المعانی کښې دا حقیقت د سورۃ العنکبوت : ٦٤ آیت کښې ذکردے۔

" ثم انطلق ": ۔ چه کله خصوصی میلمه لاړو۔ نونبی ﷺ عمررضی الله عنه ته اوفرمائیل چه راواپس ئی کړه۔ لیکن هغه غائب شوے وو۔ او سیدنا عمر رضی الله عنه درے ورځے پس تشریف راوړو۔ او بیا یو مجلس کښې نبی ﷺ اوفرمائیل چه دا جبریل وو۔

ابوداود ، نسائی کښې دی : قال عمر فلبثت ثلاثا ۔ او ترمذی کښې ، ابن ماجه کښې دی : فلقینی بعد ثلاث ۔

"قلت الله ورسوله اعلم ": ۔ مولانا احسان مدظله فرمائی : بریلوی اس سے نکالتے ہیں کہ اللہ اور رسول علم میں برابر ہیں حالانکہ موٹی بات ہے کہ اس کا مطلب کہ وہ مجھ سے زیادہ علم جاننے والے ہیں ۔ نسبت د علم الله او رسول ته په دے ماده مخصوصه کښې دے۔ دا مطلب نه دے چه د الله او رسول علم برابر دے۔

" اتاکم یعلمکم دینکم ": ۔ نورالانوارکښې د دین تعریف ئی داسے کړیدے : وضع الھی سائق لذوی العقول باختیارھم المحمود الی الخیربالذات ۔ او د دین شرائع اصول ، فروع او اخلاق ته شامل دی۔

دین هغه ربط او تعلق دے۔ چه د هغے په وجه انسان الله ته رسی۔ بعض ئی داسے تعریف کوی : وضع الھی یشیر الی الحق فی الاعتقادات والی الغیر فی السلوك والمعاملات ۔ او بعض داسے تعبیرکوی : وضع الھی سائق لذوی العقول السلیمة باختیارھم الی الصلاح فی الحال والفلاح فی المآل ۔

ددین غټ أجزاء اعتقادیات ، عبادات ، معاملات ، عقوبات او اخلاقیات دی۔ بیا د معاملات پنځه اجزاء دی۔ نکاح ، بیع ، شراء ، مقدمات او ترکات او امانات۔ عقوبات هم پنځه دی سزا د ارتداد ، د تهمت لګولو ، حد زنا ، سرقه او حد قصاص۔ چه کله نبی ﷺ تصدیق اوکړو۔ چه دا جبرائیل وو۔ د هغے نه پس ددینه دین جوړ شو۔

ګویا د حدیث نه معلومه شوه۔ چه د دین مجموعه ایمان ، اسلام او اخلاص دے۔ د اخلاص نه ئی په احسان سره تعبیردے حدیث کښې کړیدے۔ اود احسان درے قسمه علامه طیبی په الکاشف عن حقائق السنن کښې ذکرکړیدی : (۱) احسان فی القصد (۲) احسان فی الاحوال (۳) احسان فی الاوقات۔
قصد دادے : چه عزم بالجزم ئی اوکړے۔ او احسان فی الاحوال چه رعایت ئی کوے او ښکاره کوے ئی نه او خه صحیح ئی وجود ته راولے۔ او فی الاوقات دے ته وائی : چه دا مشاهده ابدی وی۔

"في خمس ": . محلا منصوب دے. تراهم ملوك الارض متفكرين في خمس كلمات . (مرقات) .
اوعلامه طيبيؒ ليكي : علم الساعة داخل في خمس .
فوائد : (۱) : د سوال وجواب اندازذهن كښې خه كيني. تفسير اللباب كښې علامه ابن عادل حنبليؒ د سورة النباء په اول كښې ليكلي دي : وفائدة ذكره في معرض السوال والجواب لانه اقرب الى التفهيم والايضاح ونظيره :﴿ لِّمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ (سورة مومن : ١٦) .
(۲) :" السوال نصف العلم " ليكن بے فائدے سوالات نه دي پكار. جواب جاهلان خاموشي ده .
علامه هيثميؒ ليكلي دي : العلماء خزائن ومفاتيحها الاسئلة .
﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَسْأَلُواْ عَنْ أَشْيَاء إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِن تَسْأَلُواْ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا اللَّهُ عَنْهَا وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴾ (سورة المائدة : ١٠١) .
د ضرورت نه زيات سوال باندے نبي ﷺ خفه شوے وو. د حج متعلق سوال چه صحابي كله اوكړو : افي كل عام ـ يا عوام چه د شريعت د احكامود عللوتپوس اوكړي. داسے نه دي پكار. د عائشے رضي الله عنها نه ښځے تپوس اوكړو. چه د مونځ قضاء نشته. اود روژے شته دا ولے ؟ . هغے ورله جواب وركړو : أحرورية انت ـ بس دغه د نبي حكم وو. اګرچه عقلي حكمتونه په كښې شته. په سوال كښې د تعمق نه منع راغلے ده. چه غوښت بر مه كوے. لكه بني اسرائيلو بے ضرورته تپوسونه د غوا باره كښې شروع كړے وو.
(۳): دا حديث د : ﴿ وَمَا أُوتِيتُم مِّن الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً ﴾ وضاحت دے. چه د قيامت علم ئې هيچاله نه دے وركړے ـ علم غيب يعني غيب داني پيغمبرﷺ له نه كلي شته او نه جزي. ليكن د انباء واعلام واظهار واطلاع د بعضے غيبونه انكارهم غلط دے. ملاعلي قاريؒ ليكي : فيه اشارة ظاهرة الى ابطال الكهانة والتنجيم ـ (۴) :عالم له پكار دي ـ چه كله ورله مسئله نه ورځي ـ الله اعلم دے اووائي ـ تفسيرقرطبي كښې مفسرد : ﴿قَالُواْ سُبْحَانَكَ لاَ عِلْمَ لَنَا إِلاَّ مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ﴾.
د لاندے ليكلے دي : الواجب على من سئل عن علم ان يقول ان لم يعلم : الله اعلم ولا ادرى اقتداء بالملائكة والانبياء ـ امام مالكؒ د ۴۸ سوالاتو په ۳۲ ځايونو كښې لا ادرى وئيلے دے. او البصائر د مولوي حمدالله

الداجوی : ۱۴ باندے دی : عن الامام مالك سئل عن اربعین مسئلة فاجاب عن اربعة وقال فی الباقية لا ادری۔
چه ناپوهه ځان ته پوهه وائی .هم دغه جاهل مرکب دے۔

آنکس کہ نداند ونداند کہ نداند   درجہل مرکب ابدالدہر بماند

د غیب تعریف د : ﴿ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ ﴾ د لاندے قاضی بیضاویؒ کړیدے : الخفی الذی لا یدرکه الحس ولا یقتضیه بداهة العقل ـ او د مخلوق علم په سبب وی : واسباب العلم للخلق ثلاثة ' الحواس السلیمة والخبر الصادق والعقل ـ (عقائد)

(۵): ایمان واسلام چه یو ځائی په حدیث کښی راشی د مغائرت بیان ئے پکار دے۔

(٦) :علم په ځوانئ کښی ډیرفائده مند دے۔ چه د سراوګیرے ویخته تك تور وی۔

(٧) :طالب علم له په طالب علمئ کښی د نظافت اوصفائی خیال ساتل ضروری دی۔

(٨) :طالب علم به بے پته وی او بے مروته په دے معنی وی۔ چه د عوامو سره به ئی اختلاط نه وی۔ ځان دے پټ ساتی۔ (٩) :د طالب علم د ناستے هیئت د آدب پکار دے۔

(١٠): چه څومره استاذ سره نزدے وی ـ او ملازمه دے قوی وی۔ دومره به په علم کښی زیاتوالے راځی ۔ (١١) : رؤیت د باری تعالی دلته دنیا کښی نشته حقیقةً په نفس الامر کښی ځکه چه " کانك تراه " راغلے دے۔

﴿إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَداً وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾ دا د سورة لقمن آیت : ۳۴ دے۔ آخری د سورة آیت دے۔

فیض الباری شرح بخاری کښی دی : چه آیت کښی پنځه انواع دی۔(۱) : مکانی (۲) : زمانی ۔ د زمانے ئی بیا درے انواع ذکرکړیدی۔ ځکه چه زمانے درے دی۔(۱) : ماضی سره ئی تعلق دے۔ (۲) : حال سره ئی تعلق دے۔ (۳) : مستقبل سره ئی تعلق دے۔ دا څلور شو۔ او د قیامت ذکر مستقل شویدے۔(۱) : ﴿ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ﴾۔ د حال غیب دے۔ ځکه د حمل آثار و علامات فی الحال

ښکاره دی۔(۲): ﴿بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ﴾ ۔ مغیبات مکانیه دی مستقبل سره تعلق ساتی۔(۳): ﴿مَّاذَا تَكْسِبُ غَداً﴾ د مستقبل سره ئی تعلق دے۔لیکن زمانی دی۔(۴): ﴿وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ ۔د باران د څاڅکو مقدار کیفیت څومره دے۔کوم ځائی کښی اوس دا باران اوشو۔دد ے پته چاته نشته۔او د باران اسباب مخکښی دی۔ماضی کښی څومره نری اوغټ څاڅکی وریدلے دی۔دد ے علم الله ته دے۔

تفسیر مدارك کښی د سورة لقمن د آیت د لاندے علامه نسفیؒ لیکلے دی: چه منصور بادشاه خوب اولیدو۔د ملك الموت نه تپوس کوی چه زما عمر به څومره وی۔نو پنځه یعنی پنځه گوتے ئی ورته جورے کرے۔ده سوچ کولو چه پنځه ورځے ' میاشتے ' یا کلونه دی۔چه کله ئی د فقیه الامت امام ابو حنیفهؒ نه تپوس اوکړو۔نو هغوی ته ئی اوفرمائیل چه دے پنځو کښی د سورة لقمن آخری آیت ته اشاره ده۔ستاد عمر تعین اصولی او د قاعدے درجه کښی یو الله ته معلوم دے۔

حدیث ۲ : عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ بنی الاسلام ...الخ۔

ابن عمر رضی الله عنه د نبی ﷺ د نبوت نه یو کال مخکښی پیدا شوید ے۔اسلام ئی د خپل پلار سره یو ځائے راوړید ے۔اتباع سنت کښی ډیر زیات مشهور دے۔امام بخاریؒ صحیح کښی دده تتبع او استقراء د هغے مکاناتو' غرونو' مساجدواو اونو ذکر کړیده۔چه د مکی او د مدینی مینځ کښی دغه مواقع دی۔اوهلته ئی د نبی ﷺ په اتباع کښی خپل زړه له تسکین ورکړید ے۔د دوی یو تفرد علامه ابن تیمیهؒ ذکر کړید ے۔چه په اودس کښی به ئی اوبه ستر گو کښی داخلولے۔(مجموع فتاوی ۱: ۱۹۸)۔دغسے حافظ ابن کثیرؒ هم لیکلے دی: ویدخل الماء فی اصول عینیه۔(البدایه والنهایه)۔

علامه ابن الاثیرؒ ۳ ؛ ۳۲۹ باندے خپل کتاب اسد الغابة کښی لیکلے دی: چه دده معمول وو۔چه کوم غلام به ډیر نفلونه او عبادات کول۔ده به هغه غلام آزاد کړو۔غلامانو به دده مخکښی مونځ کولو۔چاورته اووئیل چه دوی تاله دهو که درکوی۔فرمائیل به ئی: ومن خدعنا بالله انخدعنا له۔(اسد الغابة فی معرفة الصحابة ۳ : ۳۲۹)۔تقریباً ایك هزار غلامان ئی آزاد کړے وو۔(البدایة والنهایة)۔

اودا هم علامه ابن الاثیرؒ لیکلے دی: کان سبب قتله ان الحجاج امر رجلا فسم زج رمح وزامحه فی الطریق ووضع الزج فی ظهر قدمه۔یعنی د حجاج د حکم د وجے د ز هروپه نیزه د ویشتلو د وجے وفات شو۔چه دا من وجه شهادت هم دے۔تقریباً ۱۶۳۰ روایات ددوی نه نقل دی۔دوی د ۸۴ کاله عمر وو۔چه د هجرت په ۷۲ هجری کښی د سازش حجاجی د وجے د دنیا نه رخصت شو۔مکه مکرمه کښی په محطة الشهداء کښی مدفون دے۔ډیر روایات ترے خپل ځوی سالم او آزاد شوے غلام نافع نقل کړیدی۔

فائده : شیخ عبدالسلامؒ خپل کتاب غیث السحابة : ۱۸۰ باندے لیکلے دی : وقال الشعبی کان ابن عمر جید الحدیث ولم یکن جید الفقه وقد حمله الورع علی ان لا یکثر من الفتوی ۔

لیکن د شیخ دا تحقیق چه فقاهت کښی عمده نه وو۔ راجح نه دے۔ لکه بعضے غالی احناف دغسے د سیدنا ابو هریرة رضی الله عنه متعلق فرمائی۔ اعلام الموقعین کښی علامه ابن قیمؒ لیکلے دی : چه میمون بن مهران به فرمائیل : ما رایت افقه من ابن عمر۔ او ابن سیرینؒ به دعا کښی وئیل : اللهم ابقنی ما ابقیت ابن عمر اقتدی به ۔ اواعلام الموقعین : ۲۲ باندے دی : چه د عبدالله بن عمر رضی الله عنه د شاګردانو نه امت کښی فقه خوره شوے ده۔ البدایه والنهایه کښی حافظ ابن کثیرؒ لیکلے دی : له جمة تضرب الی منکبیه جسیما یخضب بالصفرة ونحفی شاربه یتوضا لکل صلوة ۔ (۵ : ۷) ۔ او د عبیدبن عمیر قول نقل کړیدے : کان یبکی حتی یبل الحصی بدموعه ۔ او د حدیثو بیان ئی کله کله کولو : عن الشعبی قال جالست ابن عمر سنة فلم اسمعه یذکر حدیثا عن رسول الله ﷺ ۔ (دارمی : ۷۲) ۔

"بنی الاسلام علی خمس ": ۔ لکه بادام کښی غټ پټ، نرے پوستکے ، مغز، او تیل وی۔ او اصل تیل وی مګر حصول ئی موقوف دے د بادام مغز په مرطوبیت۔ او مرطوبیت موقوف په نری پوستکی اوهغه موقوف په غټ پوستکی۔ هریو بل خپل وجود او بقاء کښی د بل محتاج دے۔

وجه د حصر په پنځو کښی داده : چه هره بناء به خالی نه وی۔ یا به ئی د قول سره متعلق وی (قول اعتقادی) دا "شهادة ان لا اله الا الله " دے ۔ یا به ئی د عمل سره تعلق وی ۔ په عمل کښی به ئی یا تعلق د ترک او پرېښودلو سره وی ۔ لکه خواهشات، خوراك څكاك پرېخودل۔ یابه ئی د ترك سره تعلق نه وی۔ بلکه بدن نیکی کښی استعمالول به وی۔ یا مال به لګول وی۔ یا به مال او بدن دواړه وی۔ د بدنی استعمال نوم مونځ او د مال لګولو نوم زکوة۔ اوچه دواړه وی دا حج دے۔ او ترك ته صوم وئیلے کیږی۔ شهادتان اصل او بنیاد وو۔ مخکښی ئی ذکرکړو۔ وروستے ئی مونځ ذکرکړو۔ ځکه چه : ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾ (سورة عنکبوت : ٤٥) ۔ یو حقیقت دے۔ صلوة پسے زکوة یو ځائی د قرآن ۳۲ مقامات کښی راغلے دے۔ درمختار، النهر الفائق او بحرالرائق لیکلے دی : چه ۸۲ مقامات دی۔ لیکن داخبره صحیح نه ده۔ طحاوی کښی ۳۲ ځله ذکردے۔ (بوادر النوادر : ۴۲۸ د مولانا اشرف علی تهانویؒ)

دغه حقیقت د بحرالرائق کتاب البیوع، باب المتفرقات کښی موجود دے : وقد یقع کثیرا ان مؤلفا یذکر شیئا خطأ فی کتابه فیاتی من بعده من المشائخ فینقلون تلك العبارة من غیر تغییر ولا تنبیه فیکثر الناقلون لها واصلها لواحد مخطی ۔

" اشهدان لااله الا الله " کښی تش " الا الله " سره ذکرکول مناسب عمومًا نه دی۔

فائده: علامه آلوسیؒ د سورة الاحزاب: ۲۱ آیت په وضاحت کښې لیکلے دی: ومما ینبغی ان یعلم انه قد صرح بعض الاجلة کالنووی ان ذکر الله تعالی المعتبر شرعا مایکون فی ضمن جملة مفیدة کسبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر۔ او روستو لیکی: وانهم اجمعوا علی ان الذکر المتعبد بمعناه لایثاب صاحبه مالم یستحضر معناه فالتلفظ بنحو سبحان الله ولااله الا الله اذا کان غافلا عن المعنی غیر ملاحظ له ومستحضرًا ایاه لا یثاب اجماعا ' والناس ایضا عن هذا غافلون۔

اومجموع فتاوی لابن تیمیةؒ ۵: ۱۳۳ کښې دی: واما الاسم المفرد مظهرا او مضمرا فلیس بکلام تام۔

حج او صوم رمضان د جمال، مظهر دے۔ د محبوب کلے 'کور' وطن او علاقے ته کتل لذت لری۔

امر علی الدیار دیار لیلی اقبل ذالجدار وذالجدار

وماحب الدیار شغفن قلبی ولکن حب من سکن الدیار

او" اقامة الصلوة او ایتاء الزکوة " د الله د جلالی صفت مظهر دے۔

امام مسلمؒ دا حدیث په څلورو طریقو ذکر کړیدے۔ په دوو طریقو کښې اول حج او بیا روژه ده۔ او په دوو طریقو کښې صوم رمضان د حج نه مخکښې ذکرشویدے۔ د رمضان د تقدیم نکته داده چه دے کښې تخلیه راځی۔ اوحج تحلیه ده۔ تزکیه د تحلیه نه مخکښې وی۔

او امام بخاریؒ په تفسیر کښې لیکلے دی: حدیث د نافع دے۔ چه یو سړی سیدنا ابن عمر رضی الله عنه ته اووئیل اے ابوعبدالرحمن ته ولے یو کال حج او بل کال عمره کوے۔ او جهاد فی سبیل الله دے پریخے دے۔ ورته ئی اوفرمائیل: وراره دا ځکه چه " بنی الاسلام علی خمس " ۔

"بنی الاسلام علی خمس ":۔ امام مسلمؒ "علی خمسة " هم ذکر کړیدے۔ "خمس " کښې تنوین د مضاف الیه نه عوض دے "علی خمس دعائم "۔

حدیث کښې د اسلام تشبیه یو ے خیمے سره ورکړیده۔ داد اسلام د هیئت منتزعه تشبیه دخیمے د هیئت منتزعه سره ده ۔ استعاره تمثیلیه ده۔ لکه انسان په یو مضبوطه خیمه کښې وی۔ د ګرمی ' سردی او د باد و باران نه بچ وی ــ دغه شان چه صحیح اسلام دے قبول کړو ــ نو دنیوی او اخروی نقصاناتو نه بچ شوے۔ "شهادة " ۔ په دے حرف " تا " دریواړه اعراب جاری کیدے شی۔

(۱): اول مرفوع دے۔ خبرد مبتداء محذوفه دے: احدها شهادة وثانیها اقامة الصلوة ..الخ۔

(۲): منصوب دے۔ ځکه د فعل محذوف دپاره مفعول به دے: اعنی شهادة ..الخ۔

(۳) : مجرور هم کیدے شی۔ ځکه د "خمس" نه بدل دے۔ او "خمس" د "علی" د دخول د وجے مجرور دے۔ او د بدل او مبدل منه اعراب یو وی۔

ددے روایت نه د امام بخاریؒ استنباط دے۔ چه د اسلام غوندے د ایمان هم پنځه بنیادونه دی۔ نو ایمان بسیط نه دے۔ مرکب دے۔ لیکن د ایمان چه کومه کامله درجه ده۔ د هغے د مرکب کیدلو نه انکار نه دے پکار۔

اشکال : دلته یو اشکال دے۔ چه په حدیث کښی مبنی او مبنی علیه خو یوشیء شو۔ پنځه امور ئی ذکر کړل ۔ اودیته اسلام وائی ۔ او اسلام هم دغه پنځه امورونه عبارت دے۔ او په مبنی ' مبنی علیه کښی مغائرت پکار وی۔ **جواب** : دلته من وجه داسے مغائرت شته۔ چه د اجمال او تفصیل په اعتبار سره فرق راولے۔ د اجمالی اسلام' تفصیل ئی په پنځه امورو سره کړیدے۔

دویم جواب : "علی خمس" کښی "علی" په معنی د "مِنْ" ده۔

سوال : یوبل سوال دادے : چه د جهاد چه زروة سنامه دے ددے ذکر نشته۔

جواب : دادے چه دلته هغه امور ذکر کوی۔ چه وقتی نه دی۔ اوجهاد وقتی فریضه ده۔

روایت کښی دی : ان الجهاد والصدقة من العمل الحسن۔ (مصنف عبدالرزاق ۳ : ۱۲٦)۔

واقعه : قال الاصمعیؒ وغیرواحد لما ماتت النوار بنت اعین امرء ة الفرزدق وکانت قد اوصت ان یصلی علیها الحسن البصری فشهدها اعیان اهل البصرة مع الحسن۔ والحسن علی بغلته والفرزدق علی بعیره فسار فقال الحسن للفرزدق ماذا یقول الناس ؟ قال یقولون شهدهذه الجنازة الیوم خیرالناس وشرالناس ثم قال له الحسن ما اعددت لهذا الیوم قال شهادة ان لااله الا الله منذ ثمانین سنة۔ (البدایه والنهایه ۵ : ۳۱۲)۔

دے واقعه کښی داهم بعض عالمان نقل کوی : چه حسن بصری ورته اوفرمائیل : فهذا العمود فأین الاوتاد والاطناب ۔ ددے خیمے نور موړی ' میخونه اورسئ چرته دی۔ د مینځ ستنه چه عمود دے۔ د هغے ذکردے صرف اوکړو۔ څلورواړو طرف ته چه کوم اطناب لګیدلے دی۔ د هغے اهتمام هم ضروری دے۔

"**لااله الا الله**" : ۔ وضاحت کښی علامه قسطلانیؒ ددے حدیث وضاحت کښی لیکلے دی : چه نفی ئی په اثبات مقدم کړیده۔ ځکه چه اول ضروری کاردادے چه زړه د غیرالله نه فارغ کړے۔

چه دا دومره لوئی میلمه ته کورته بیائی
اول غولے که جارو د خس خاشاکه

حدیث ۳ :وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الایمان بضع ... الخ.

"ابوهریرة": ۔ غوره دده غیرمنصرف کیدل دی۔ یو علمیت او دویم په کښی ترکیب دے۔ اویوقول د منصرف کیدوهم دے ـ د شیخ الحدیث ؒ په شرح کښی دی : چه په دے مسئله د علماء مستقل کتابونه دی ـ ددوی په نوم کښی ۳۵ اقوال دی ـ غوره داده : چه د جاهلیت نوم ئی عبدالشمس او اسلامی نوم ئی عبدالرحمن دے۔ د ترمذی د روایت مطابق یوه ورځ ئی لستونړی کښی ئی پیشو ایښے وه۔ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : انت ابوهریرة۔ نبی ﷺ به ورته ابو هریره یا ابو هرفرمائیل۔

امام نووی ؒ لیکلے دی : چه ابو هریره رضی الله عنه نه مخکښی د هیچا دا کنیت نه وو۔

او علامه عینی ؒ لیکلے دی : چه په صحابو کښی هم د هیڅ یو صحابی دا کنیت نه وو ۔ او د صحابونه روستو زمانه کښی د محمد بن فراز الصیرفی ؒ دا کنیت وو۔ دغه صیرفی عالم د ابوداود طیالوسی ؒ شاگرد دے۔ او د امام ترمذی ؒ استاذ دے۔ د ابو هریره په نوم باندے کنیت غالب شویدے۔

سیدنا ابو هریره رضی الله عنه د سعید بن المسیب سخروو۔

اعلام الموقعین ۱ :۲۴ باندے دی : وکان سعید بن المسیب صهرابی هریرة زوّجه ابوهریرة ابنته۔

البدایه والنهایه ۴ : ۵۰۵ باندے دی : کان ابوهریرة یسبح کل لیلة ثنتي عشرة الف تسبیحة یقول : اسبح علی قدر ذنبی۔ روی عبدالله بن احمدعن ابی هریرة انه کان له خیط فیه اثنا عشرالف عقدة یسبح به قبل ان ینام ۔ وفی روایة : الفا عقدة فلا ینام حتی یسبح به وهو اصح من الذی قبله : (۵۰۷)۔

په مجموع فتاوی ۱ : ۱۹۹ کښی دی : وکان ابوهریرة یغسل یدیه الی العضدین فی الوضوء۔ وروی عنه انه کان یمسح عنقه ویقول هوموضع الغل ۔ علامه ابن تیمیة ؒ لیکلے دی : د عام صحابو اودس دغه شان نه وو۔ او د فتاوی ۱۰ : ۷٦ باندے مسح العنق بحث ئی کړیدے۔

سیدنا ابو هریره رضی الله عنه بقیع کښی دفن دے۔ او عسفان کښی نه دے۔ ۵۸ هجری کښی وفات دے۔ عمرئی ټول ۷۸ کاله وو۔

واقعه عجیبه : یوسف بن علی د شیخ ابواسحاق شیرازی نه او هغه د قاضی ابوالطیب نه واقعه نقل کوی : کنا یوما بجامع المنصور فی حلقة فجاء شاب خراسانی فذکرحدیث ابی هریرة فی المطرفقال الشاب غیرمقبول فما استتم کلامه حتی سقطت من سقف المسجدحیة فنهض الناس هاربین وتبعت الحیة ذالك الشاب من بینهم فقیل له تب تب فقال تبت ' فذهبت فلا ندری این ذهبت ۔ (البدایه والنهایه ٦ : ٦٥٦)۔

سیدنا ابو ہریرہ رضی اللہ عنہ نه ۵۳۶۴ روایات نقل دی۔ تقریباً څلور کاله ئی نبی ﷺ سره مضبوطه شاګردی کړے ده۔ حافظه ئی قوی وه۔ او د پیغمبر ﷺ ورته ډیرے دعاګانے کړیدی۔

"الایمان بضع و سبعون شعبة": ۔ د ایمان تشبیه ئی یو ګورے غټے اونی سره ورکړے ده۔ چه د هغے تنه، جرړے او څانګے وی۔ څانګه چه اونے سره لګیدلے وی او جخته وی سپرلے پرے راځی۔

پیوستہ رہ شجر سے امید بہار رکھ

قرآن کریم (سورة ابراهیم: ٢٤) کښی هم د لا اله الا الله تشبیه ئی: ﴿ كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ﴾ سره ورکړیده۔

"بضع": ۔ علامه ابن الجوزیؒ لیکلے دی: چه د: ﴿الم ، غُلِبَتِ الرُّومُ﴾ د آیت د نزول موقع کښی نبی ﷺ سیدنا ابوبکر ته اوفرمائیل: ان البضع الی التسع۔

سورۃ یوسف آیت: ۴۲ د لاندے زاد المسیر کښی دا خبره نقل کړے ده۔

سوال: یو روایت کښی "بضع وستون" او بل روایت کښی "سبعون" راځی۔ دا اختلاف ولے راغلے دے.

جواب: عدد اقل د اکثر نفی نه کوی۔ اول ورته د لږو خبرو علم ورکړے شو۔ بیا ئی په هغے اضافه کړیده. د سلیمان علیه السلام واقعه سورۃ ص آیت: ۳۴ کښی ذکر ده۔ اختلاف ئی په ازواجو کښی دے۔ ٦٠ یا ٧٠ یا ٩٠ یا ٩٩ ازواج ئی دی۔ علامه عینیؒ دغه جواب کوی۔ تخصیص بالعدد، د زائد په نفی دلالت نه کوی۔ چه زائد صحیح روایت کښی ثابت وی منل ئی پکار دی۔ او د امام بخاریؒ په نزد د ٩٠ روایت راجح دے۔

په شعب الایمان مستقل کتابونه لیکلے شویدے۔ یو شعب الایمان کتاب د امام بیهقیؒ دے۔ اردو ترجمه ئی هم شوے ده۔ علامه ابن قیمؒ ئی مدارج السالکین کښی وضاحت کړیدے۔

علامه ابن حبانؒ خپله تجربه ذکر کوی: چه ما د قرآن تتبع کوله چه د طاعاتو تعداد مے شمار کړو۔ نو ٧٠ نه زیاتے شعبے وے۔ بیا مے سنت ته رجوع اوکړه۔ تعداد به کمیدلو۔ چه د قرآن و سنت مجموعی تعداد ما شمار کړو۔ نو ٧٧ ئی نتیجه راوختله۔ ملا علی قاریؒ ئی هم دلته تفصیل سره ذکر کړیدے۔ قاضی بیضاوی وائی: چه اعتقاد ته ئی رجع کیږی۔

١٦ شعبے دی: طلب علم، معرفة صانع، تنزیهه عن کل نقص، اثبات کل کمال له، اقرار د وحدانیت، افتقار، حدوث د عالم او فناء د عالم، دوباره پیدا کول، قیامت کښی د روح واپسی جسد ته، علم آخرت، صراط، میزان، جنت، دوزخ۔ تفصیل له رجوع اوکړه۔ (فتح اله: ٢٢٣ ته)۔

(دویم جواب) : ملاعلی قاریؒ اوعلامه طیبیؒ فرمائی : چه معین عدد مراد نه دے۔ بلکه تکثیر مراد دے۔

(دریم جواب) : قاضی عیاض فرمائی : چه "بضع وسبعون" راجح دے۔ اکمال المعلم لفوائد المسلم۔

او ابن صلاح فرمائی : چه د اقل روایت یعنی "بضع وستون" راجح دے۔

"**فافضلها قول لا اله الا الله**" : دا حدیث جبریل کښی د ایمان او ایمانیاتو سره مشابهت لری۔

دا جزاء د شرط محذوف ده۔ اذا كان الايمان ذا شعب متفاوتة فافضلها۔

"**وادناها**" : ـ د اسلام سره تعلق لری۔ او "الحياء شعبة من الايمان" د احسان سره زیات مناسبت لری۔

یوه اعلی شعبه ، بله ادنی ده۔ اود دوارو مینځ کښی وسط هم راغے۔

دوه خبرے د دین بنیاد دے۔ قرآن اوحدیث کښی مثالونه راځی : (۱) التعظيم لامرالله (۲) الشفقة على الخلق۔ سورة الذاريات آیت : ۱۷ کښی دی : ﴿ كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴾۔ دا عظمت لامرالله دے۔ او : ﴿ وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴾ (ذاريات : ۱۹) ـ شفقت دے په مخلوق باندے۔

وملائك هم ددے دوارو شعبو اهتمام کوی۔

سورة المؤمن آیت : ۷ ﴿ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ ﴾۔ عظمت لامرالله دے۔

(۲) : ﴿ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا ﴾ کښی ئی د شفقت على الخلق ذکر دے۔

مفسرین لیکی : كمال السعادة بامرين (۱) : التعظيم لامرالله (۲) : والشفقة على الخلق ، ويجب ان يكون التعظيم لامرالله مقدما على الشفقة على خلق الله۔

"**اماطة**" : لرکول۔ د عقیقه روایت کښی راځی : اميطوا عنه الاذىٰ۔ او "**ادناها**" : په معنی د "اسهلها" هم راځی۔ "**والحياء شعبة من الايمان**" : ـ شعبة کښی تنوین د عظمت دے۔ غټه شعبه ئی حیاء ذکرکړه۔ چه حیاء انسان کنټرول کوی۔ او حدیث د بخاری کښی راځی : دعه فان الحياء من الايمان۔

روایت کښی راځی : ان مما ادرك الناس من كلام النبوة اذا لم تستحي فاصنع ما شئت ۔ بے حیاء باش وہرچہ خواہی کن ۔ یوشاعر ئی اهمیت ذکرکوی :

اذا لم تخش عاقبة الليالي	ولم يستحي فاصنع ما تشاء
فلا والله مافي العيش خير	ولا الدنيا اذا ذهب الحياء
يعيش المرء ما استحيا بخير	ويبق العود ما بقي اللحاء

حدیث کښې راځي : ان الله حي كريم يستحي اذا رفع العبد يديه ان يرد هما صفرا حتى يضع فيهما خيرا .
(مصنف عبدالرزاق نمبر : ۳۲۵۰) .

مشکوۃ ثاني کښې روایت دے : استحیوامن الله حق الحیاء . او طریقه ئې داسے اوخودله : ان یحفظ الراس وما حوی ' ویحفظ البطن وما وعی . یعنې د شهواتو او حرامخورۍ نه ځان بچ کړه . دا مراقبه کوه درته به آسانه شي . چه : ان یذکر الموت والبلی . (مسند احمد نمبر : ۳۶۷۱ ' ترمذی : ۲۴۵۸) .

حیاء لغةً او اصطلاحًا

لغوی معنی ئې ده : تغییر و انکساریعتری الانسان من خوف مایعاب به ویعاقبه .

اصطلاحی تعریف : خُلق یبعث علی اجتناب القبیح ویمنع من التقصیرفی حق ذی الحق .

شیخ عبدالحق ؒ فرمائي چه جنید بغدادی ؒ به فرمائیل : چه د الله دومره نعمتونه او زما دومره ډیر تقصیرات . دا جزبه پیدا کیدل د حیاء اثر دے . (اشعة اللمعات) . او د تصوف وتذکیه ماهران وائي : مولاك لا یراك حیث نهاك .

سوال راځي : چه حیاء خو کافر کښې هم موجود وي . لیکن جواب داد ے : چه مومن خلقو سره هره معامله د حیاء د صفت په موجودګۍ سره کوي . او الله سره ئې دغه معامله نوره ډیره په مناسب طریقے سره وي . اوځوك چه کفر او ګناه نه پریږدي . نوپه ده کښې حقیقةً حیاء نشته . نو چه د بنده نه حیاء نه کوي . نو د الله نه به څه حیاء اوکړي .

ذوالنون المصریؒ فرمائي : " حب " ګویا وي . او " حیاء " غلے وي . او " یره " قلق او اضطراب پیدا کوي .

أقسام : (۱) : که د حیاء سبب شرعي امروي . اوچه حیاء نه کوي نوشرعًا داسے تن د ملامتیا مستحق جوړیږي . دے ته شرعي حیاء وئیلے کیږي . (۲) : اوکه سبب ئې عقلي امروي . اوکه حیاء ئې پریخودله . اوعقلمند خلق ئې ملامته کوي . نودا حیاء عقلي ده . (۳) : که سبب ئې امرعرفي وي چه عام عرف کښې ئې خلق ملامته کوي . نودا حیاء عرفي ده .

د سورة نساء آیت : ۲۲ کښې دي : ﴿ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتاً وَسَاء سَبِيلاً ﴾ .

امام رازیؒ فرمائي او داسے نورمفسرین : چه د قبح درے قسمه دي . عقلي ' شرعي او عرفي عادي . دا دریواړه دے آیت کښې ذکردي . حدیث کښې حیاء شرعي ایماني مراد ده . لکه د کشف عورت نه حیاء . اویا د خلقوپه مینځ کښې جماع .

شمائل ترمذی کښی دی: چه نبی ﷺ کښی د باکرے پیغلے جینئ نه زیاته حیاء وه ۔ په سیدنا عثمان رضی اللہ عنه د حیاء وصف غالب وو۔

یو په کښی حیاء التقصیر ده ۔ لکه مدارك وائی : سبحانك ما عبدناك حق عبادتك ۔ یو قسم حیاء د اجلال ده۔

لکه روایت کښی راځی : د ډیر حیاء د وجے اسرافیل علیه السلام خپل ځان راغونډ کړو۔

حدیث ۴ : وعن عبداللہ بن عمرو رضی اللہ عنه قال قال رسول اللہ ﷺ المسلم ..الخ .

"عبداللہ بن عمرو بن العاص ": ۔ ملا علی قاریؒ لیکلے دی : د پلار نه ئی مخکښی اسلام قبول کړے دے ۔ او د خپل پلار نه یوولس کاله کشر وو۔ څوك دولس یا دیارلس کاله هم یادوی۔ طائف یا مصر کښی وفات شوید ے۔ او ۷۰۰ روایات ترے نقل دی۔ آخری دور کښی ړوند شو ے وو۔

الحق الصریح کښی دی : چه عمرو بن العاص د واده په شپه ټوله شپه عبادت کړید ے۔ زاهد عابد وو۔

مسئله : معلومه شوه ۔ چه ټوله شپه عبادت کول بدعت نه دے ۔ او په تفسیر احسن الکلام کښی د سورة الفرقان ۶۴ آیت : ﴿ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّداً وَّقِيَاماً ﴾ ۔ لفظی ترجمه داسے ده ۔ چه هغه کسان چه شپے روڼوی۔ بغیر د رسم نه ټوله شپه عبادت د سلفو نه ثابت دے۔

دویمه مسئله : چه کله عبداللہ بن عمرو بن العاص د پلار نه یوولس ، دولس کاله کشر وو۔ معلومیږی چه د پنځویشت کالو عمر کښی امام ابو حنیفهؒ فرمائی : چه یو کس نیکه جوړید ے شی ۔ دا د عمرو بن العاص او د هغوی د پلار په مینځ کښی د عمر نسبت ورله شاهد دے۔

علامه ابن الاثیرؒ ددوی په حالاتو کښی لیکی : وکان فاضلا عالما قرء القرآن والکتب المقدمة واستاذن النبی ﷺ فی ان یکتب عنه فاذن له فقال یا رسول اللہ ﷺ اکتب ما اسمع فی الرضاء والغضب قال نعم فانی لا اقول الا حقا ، حفظت عن النبی ﷺ الف مثل ۔ (اسد الغابة ۳ : ۲۳٤) ۔

حافظ ابن کثیرؒ تفسیر کښی د سورة العنکبوت د آیت د لاندے ددوی نه د ایك هزار ضرب الامثال د حفظ تذکره کړے ده ۔

"المسلم من سلم ": ۔ شاه انورؒ ئی تنزیل الناقص بمنزلة المعدوم غوره کوی۔ چه مسلمان ګویا به څه شی ۔ چه د ژبے او لاس نه ئی خلق په آزار وی۔

مباش در پے آزار ے وهر چه خواهی کن

که در شریعت ما غیر ازیں گناهے نیست

(۲) : عام شارحین فرمائی : چه کامل مسلمان نه دے۔ په مقام تذکیر کښې اوله توجیه راجحه ده۔ لکه عرب وائی : المال الابل۔ دویمه توجیه : چرته عوامو کښې سستی پیدا نه کړی۔

''المسلمون'' : ۔ دا قید اتفاقی دی۔ ذمی ته هم شامل دے۔ (کما فی روایة ابن حبان) ۔ لیکن حربی کافر په کښې نه دے داخل۔

سورة الممتحنه ۹ کښې دی : ﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِيْنَ قَاتَلُوكُمْ فِيْ الدِّيْنِ﴾۔

استاذ شاګرد لـه یا پـلار ځوی له سزا ورکوی۔ دا د تادیب دپاره وی۔ چه چرته ډب وی هلته ادب وی۔ او حدود و تنفیذ جاری کولو کښې به ورته خود درد ملاویږی یا به مرکیږی۔ سورة النور کښې الله فرمائی : ﴿وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللَّهِ﴾۔ مارغانوته به هم هسے تکلیف نه ورکوے۔

د سورة النحل آیت : ۹۰ : ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ ذِيْ الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ﴾۔ په وضاحت کښې تفسیر قرطبی کښې دی : چه د مارغه سره به په پنجره کښې او د پیشوسره به په کورکښې خائسته او بے تکلیفه معامله کوے۔ او د پیشو د تکلیف باره کښې روایت کښې راځی : عذبت امرء ة فی هرة۔

د سورة النمل آیت : ۲۱ : ﴿لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَاباً شَدِيْداً أَوْ لَأَذْبَحَنَّهُ أَوْ لَيَأْتِيَنِّيْ بِسُلْطَانٍ مُّبِيْنٍ﴾۔ د لاندے علامه آلوسیؒ تفسیرکښې لیکلے دی : وفی الاکلیل للجلال السیوطی قد یستدل بالایة علی جواز تادیب الحیوانات والبهائم بالضرب عند تقصیرها فی المشی او اسراعها۔

اوعلامه ابن عربیؒ فرمائی : عذاب به د غلطی په مقدار وی۔

د سورة الاحزاب آیت : ۵۸ : ﴿وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَاناً وَإِثْماً مُّبِيْناً﴾ د لاندے علامه نسفیؒ تفسیر مدارك کښې لیکلے دی : لا یحل لك ان تؤذی الکلب والخنزیر بغیر حق فکیف ایذاء المومنین والمومنات ۔ ګاونډی ته که د کور وی۔ یا د دکان یا د پټی یا د ملك و وطن تکلیف رسول خصوصًا صحیح نه دی۔

حدیث کښې راځی : والذی نفسی بیده لا یدخل الجنة من لا یامن جاره بوائقه۔

مشکوة ثانی کښې واقعه راځی : چه د مرغۍ بچے یو صحابی راغستے وو۔ او ځادر کښې پټ کړے وو نبی ﷺ اوفرمائیل : من فجع هذه بولدها۔ بچے جاله کښې کیږده۔

حسن بصریؒ به فرمائیل: چه نیکان هغه خلق دے: لا یؤذون الزرّ ولا یرضون الشر۔ چه هیڅ حیوان ته ضرر نه ورکوی او نه په شر خوشحالیږی۔

حدیث کښی د مسلمان تذکره ئی ځکه فرمائیلے ده۔ چه زمونږ ماحول او معاشره کښی ګیرچاپیره مسلمانان دی۔

"من لسانه": ۔"من کلامه" ئی ځکه اونه فرمائیل۔ چه کله یوتن کلام نه کوی۔ لیکن ژبه د خلے نه راوباسی۔ او خیرے پیښے کوی۔ چه دے ته هم حدیث شامل دے۔

جراحات السنان لها التیام ولا یلتام ما جرح اللسان

د لسان د تقدیم وجه: (۱) اوله وجه داده: چه لاس کله کله ستړے شی۔ لیکن ژبه نه ستړے کیږی ۔(۲): بل لاس به یا په خط کښی استعمال کړی یا چه هغه کس تا سره مخامخ وی۔ لیکن ژبه د انسان په نیشوالی کښی هم غیبتونه کوی۔ بهتان لګوی، چغلی کوی۔ (۳): د لاس تکلیف د انسان دنیوی ژوندپورے خاص دے۔ او ژبه د هغه د مرګ نه پس هم بعض خلق استعمالوی۔

علامه ابن ابی الدنیا مستقل کتاب لیکلے دی۔ ددے موضوع سره ئی جامع او مدلل بحث کړیدے۔ کتاب الصمت ددغے قیمتی کتاب نوم دے۔

"والمهاجر من هجر": ۔ چاچه د عذرد وجے هجرت نه وو کړے۔ هغوی ته تسلی ده۔ اوچاچه هجرت کړے دے۔ هغوی له ترغیب ورکوی۔ لکه وطن دے پریخودلے دے۔ په دے کښی ذاتی خوبی نشته ۔ ددے فوائدوکښی یوه فائده د منهیاتونه بچ کیدل اود احکاماتوپابندی ده۔ نفس ئی اماره نه دی۔ یو روایت کښی راځی: ما حرم الله علیه۔ (دارمی نمبر: ۱٤۲٤)۔

"ای المسلمین خیر": ۔ ددے سوال پیغمبر ﷺ جواب کله افشاء السلام، اطعام الطعام ورکړیدے۔ کله جهاد اوکله په خپل وخت مونځ۔ اوکله حقوق د والدینوادا کول۔ کله ئی ایمان ذکرکړیدے۔ ددے مختلفوتعبیراتو (۱): اوله توجیه داده: ذکرد خیریت دے۔ او د خیر نوع د لاندے داتول داخل کړه۔ لکه د انسان نوع د لاندے، خالد، زاهد، زینب او خالده راځی۔

(۲): دویم جواب: نبی ﷺ روحانی طبیب وو۔ مزاج شناس وو۔ چه کوم وخت کښی چا کښی کوم کمے لیدلے دے ۔ هغه شان داروئی ورکړے دی۔ (۳): دریم جواب: د مکان و زمان په اعتبار سره د مسئلے نوعیت بدلیږی۔ مکه مکرمه کښی د طواف عبادت له ځکه ترجیح ورکوه۔ چه د بیت الله نه علاوه بل هیڅ ځائی کښی طواف نه شی کیدے۔

تمتع من شمیم عرار نجد فما بعد العشیة من عرار

د قحط وخت کښې اطعام الطعام پکار دے۔ د نبی ﷺ نیکیانو کښې د هاشم بن عبد مناف خپل نوم عمرو وو۔ کله چه قریشیانو باندے قحط راغے۔ د شام نه ئې غله راوغختله په اوښانو ورله ډیره غله راغله ۔روټی ئې ذره ذره کړه۔ او ثرید ئې جوړ کړو۔ عرب وائی: هشم الثرید۔ دهغے نه پس ئې ورته په دغه نسبت هاشم دے۔ روح المعانی کښې د سورة الکهف آیت: ۴۵: ﴿فَأَصْبَحَ هَشِيمًا﴾ د لاندے دا واقعه ذکرده.

عمرو العلا هشم الثرید لقومه ورجال مکة مسنتون عجاف

اوچت شخصیت عمرو خپل قوم له ثرید نوړی نوړی کړو۔ او ورئی کړو۔ داسے حال کښې چه د مکے خلق تپ او قحط وهلے وو۔

که څوك بربنډ له چه په خیټه موړ وی خوراك ورکړی ډیره فائده ئې نشته۔

قالوا اقترح شیئا نجد لك طبخه فقلت اطبخوا لی جبة و قمیصًا

چه د مونځ اهمیت ئې پیدا کولو۔ نو د مانځه ذکرئې اوفرمائیلو.

(۳): کله به نبی ﷺ په عظمت لامرالله اوکله په شفقت علی الخلق نظر وو۔ کله به د قهروصف غلبه کړے وه۔ او کله د مینے او د رحمت غلبه وه۔ په دے اعتبار جواب بدل شوید ے۔

حدیث ۵: وعن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لا یومن احدکم حتی ..الخ۔

"انس ":۔ انس بن مالك بن النضر الانصاری الخزرجی۔ نبی ﷺ چه کله مدینی ته تشریف راوړو۔ عمر ئې لس کاله وو۔ او لس کاله ئې د نبی ﷺ خدمت کړید ے۔ په بصره کښې چه کوم صحابه وو۔ دے په آخرکښې ۹۳ هجری کښې وفات شوید ے۔ ټول عمر ئې ۱۰۲ کاله وو۔ کنیت ئې ابو حمزه دے۔ تقریبا د ۱۹ کالووو۔ چه پیغمبر ﷺ وفات شو۔ نبی ﷺ ورله د مال او ولد د زیادت دعاګانے کړیوے۔

دده کهجوروبه ډیرے میوے پیدا کولے۔ علامه ابن حزمؒ الملل والنحل چه د هغے اردو ترجمه شویده ۔قوموں کا عروج وزوال ۔ مترجم مولانا عبدالله عماد دے ۔ ددے کتاب ۱ : ۳۱۹ کښې دا حقیقت ئې ذکرکړید ے۔ چه د وفات نه مخکښې انس بن مالك هغه خپل سل بچی لیدلے وو۔ چه وفات شوے وو ۔الشفاء بتعریف حقوق المصطفی : ۲۱۵ باندے دی: قال انس فوالله ان مالی لکثیروان ولدی وولد ولدی لیعادون الیوم علی نحو المائة ولقد دفنت بیدی هاتین مائة من ولدی۔

"لا یومن احدکم ":۔ شرح نخبة الفکرکښې : ۳۱ باندے ئې حدیث ته عزیزوئیلے دے۔

" احب ":۔ فعل تفضیل په معنی د مفعول غیرقیاسی دے۔

"لا یومن ":۔ شاه انورؒ ئې د قبیلے تنزیل الناقص منزلة المعدوم نه ګنړی۔ چه هغه به څه مومن وی چه نبی محبت ئې د هرڅانه زیات نه وی۔ اوڅوك وائی چه کامل مومن نه دے۔

محبت څه ته وائی ؟

ددے حقیقت او کنه گرانه ده.

محبت جس کو کہتے ہیں میں بھولا بھالا کیا جانوں فقط اتنا سمجھتا ہوں کہ دل میں درد ہوتا ہے

امام غزالیؒ احیاء العلوم کښې لیکلے دی : محبت : میل الطبع الی الشیء الملذ ته وائی.

او امام راغبؒ فرمائی : ماتراه او تظنه خیرا ـ د محبت په موضوع د شیخ الحدیثؒ کتاب دے چه نوم ئی محبت دے ـ علامه ابن قیمؒ الجواب الکافی او روضة المحبین کتابونه لیکلے دی. روضة المحبین کښې ئی لیکلے دی : چه د محبت شپیته نومونه دی. او عشق د افراط المحبت نوم دے.

یحی بن معاذؒ فرمائی : که د اوری د دانے برابر محبت زما زړه کښې پیدا شی. دا ماته د اویا کالو د نفلی عبادت نه غوره خبره ښکاری.

بعض علماء فرمائی : چه محبت د زړونو په زمکه کښې تخم دے. چه د عقل په اوبو به سیراب کولے شی. چه زمکه څومره خوړه او مسته وی. او اوبه څومره صفا وی. نو پیداوار به اعلیٰ او بهتر وی.

او شیخ احمد شهاب الدین قسطلانیؒ په خپل کتاب المواهب اللدنیه کښې په اوم مقصد کښې دا لیکلے دی : چه دا محبت د زړونو ذخیره ده. او د روح غذا ده. او د سترګو یخوالے دے. او دا هغه ژوند دے ـ که څوك ترے محرومه شی. نو هغه د مړوغوندکے وی. او هغه رنړا ده. کچرته دا نه وی. نو په تیرو کښې به انسان پروت وی.

او ابوالقاسم قشیریؒ په خپله رساله کښې لیکی : لا توصف المحبة بوصف ولا تحد بحد.

او جنید بغدادیؒ فرمائی : چه نښه ئی داده : ان تکلم فبالله وان نطق فمن الله وان تحرك فبامر الله وان سكن فمع الله فهو بالله ولله ومع الله.

امام حاکمؒ مستدرك ۳ : ۱۸۲ باندے یو ضعیف روایت ذکرکړیدے. څکه راوی محمدبن عبیدالله په کښې ضعیف دے. دا روایت ئی د ام المومنین خدیجه رضی الله عنها مناقب کښې ذکرکړیدے : قال رسول الله ﷺ الحمدلله الذی اطعمنی الخمیرة والبسنی الحریر وزوجنی خدیجة وکنت لها عاشقا. نبی ﷺ فرمائی : چه د خدیجه سره مے ډیره مینه ده.

اقسام محبت : (۱) : کله د جمال د وجے بعض ناعاقبت اندیش انجام محبت کوی. کله ښکلا په غرونو او آبشارونو کښې هم وی. د چا دغسے ځایونو سره مینه وی. سپوږمی سره د محبوب تشبیه

خلق په خائست کښې ورکوی۔

لاتعجبی من بلی غلالته　　　قد زر ازراره علی القمر

عبدالرحمن بابا وائی :

ستا خائست ته چه نظرکړم سپوږمی. تته راته ښکاری
ته زما دژوند حاصل ئی ته دزړه مے مدعائی

هرمحب خپل محبوب د هرچا نه خائسته ګڼړی۔ اګرچه فی نفسه جمال ئی ناقص وی۔ حبك الشیء یعمی و یصم۔ عزه د عربو محبوبه چه کله حجاج بادشاه له لاړه ورته ئی اووئیل : یا عزة والله ما انت کما قال فیك کثیر' فقالت ایها الامیر انه لم یرنی بالعین التی رایتنی بها۔ (روضة المحبین)۔

ادب الدنیا والدین د شیخ ابوالحسن الماوردی کتاب دے۔ شرح و تعلیق ئی د محمدکریم راجح ده۔ ددے کتاب : ۱۹۱ باندے اشعار نقل کړیدی۔ دغه اشعار د تفسیربحرالعلوم په تعلیق کښې د سورة توبه ددے آیت : ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ ﴾ ـ آیت د لاندے هم دی ـ څوك وائی سعرونه د ابوالاسود دئلی دے۔ لیکن مضمون ئی د سیدنا علی رضی الله عنه نه نقل دے :

وَاَحْبِبْ اذا اَحْبَبْتَ حبًا مقاربًا　　　فانك لاتدری ماانت فارغ

وابغض اذا ابغضت غیر مبائن　　　فانك لاتدری متی انت راجع

د نبی ﷺ د جمال او خائست باره کښې شاعردربار رسالت سیدنا حسان رضی الله عنه فرمائی :

واحسن منك لم ترقط عینی　　　واجمل منك لم تلد النساء

خلقت مبرءً من کل عیب　　　کانك قد خلقت کما تشاء

(۲) : کمال : مولانا محمد قاسم نانوتوی ؒ فرمائی :

جہاں کے سارے کمالات ایک تجھ میں ہے　　　ترے کمال کسی میں نہیں مگر دو چار

د قاضی سلیمان منصورپوری ؒ "رحمة للعلمین "کتاب دے۔ هغه کتاب کښې دی : چه محبت د روح د صحیح میلان نوم دے ـ اومحبوب هغه دے چه د هغوی سره د عملی کمالاتود وجے وی۔ او محبوب بیا هم محبوب دے۔ اګرچه محبت کوونکے ئی نه وی۔ اود معشوق چه څوپورے عاشق نه وی هغه معشوقه نه شی کیدے۔

عطاء بن ابی رباح ؒ د رنګه تور وو۔ اوچیرخ پوزے وو۔ قد ئی چیت وو۔ خپل وخت کښې د هغوی

فتوٰی چلیده۔ امام ابو حنیفہؒ فرمائی : چه زما خپلو استاذانو کښې دغه شیخ سره زیاته مینه ده۔ لقمان حکیم سره د خلقو مینه د کمالاتو د وجې ده۔

د نبی ﷺ د حسن او کمال ثانی نشته :

محاسنها هیولی کل حسن ومقناطیس افئدة الرجال

(روضة المحبین)

(۳) : احسانات : الانسان عبدالاحسان ۔ په چرپاگهر کښې چه د شرمخ او ازمری خدمت کوونکی ته ځناور هم څه نه وائی ۔ دوی ته دا شعور حاصل دے ۔ چه دا کس زما محسن دے ۔ شاذونادر واقعے له اعتبار نشته۔

هارون الرشید یو ځل خپل وزیرته اووئی څه اوغواړه ۔ چه تاله ئی درکړم ۔ وزیرورته اووئیل چه زما ځوی سره مینه ساته۔ هارون الرشیدورته اووئیل چه دا زما اختیار کښې نشته ۔ وزیر ورته اووئیل ډیر احسانات پرے اوکړه ۔ د هغے د وجے به تاته نزدے شی نو ته به ورته هم نزدے شے ۔

(۴) : جزئیت او نزدیکت : د مور او پلار خپل بچی سره اکثر ډیره مینه وی ۔ قرآن کښې ئی د قسم او د شهادت په ځائی ذکر کړیدے : ﴿ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴾ (سورة البلد : ۳) ۔ کافیه کښې مثال دے : زید ابوك عطوفا ۔ د مور که ګیده کښې بچے وی ۔ یا په غیږ کښې ۔ مینه ئی ورسره ډیره وی ۔ قرآن کښې دی : ﴿ النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ (سورة الاحزاب : ٦) ۔ او الله فرمائی : ﴿ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِ ﴾ (سورة التوبة : ۱۲۰) ۔ دا څلورواړه د محبت وجوهات زمونږه نبی ﷺ کښې په درجه اکمل او اتم موجود دی۔

شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خانؒ نفحات التنقیح کښې لیکلے دی : دا دنیا ئی د هغه د برکته پیدا کړیده : لولاك لولاك لما خلقت الافلاك ۔ شاګرد ئی لاندے لیکلے دی : چه ددے روایت الفاظ موضوعی دی۔

د نبی ﷺ د تولونه شت احسان دادے : چه د هغوی او د قرآن د تعلیماتو د وجے مخلوق د اور نه بچ شول. حدیث کښې راځی : انا اخذ بحجزکم عن النار ۔ ما تاسو د بډونه راتینګولے چه دوزخ ته مه ځی۔

دلته د محبت تعین : دوه قوله مشهوردی : (۱) طبعی مینه مراد ده ۔ (۲) عقلی مینه مراد ده۔ ددے نه کله تعبیر په ایمانی محبت سره هم کیدے شی ۔ شیخ الحدیثؒ التقریر الرفیع کښې د سید

السندؒ قول نقل کړیدے : چه عقلی مینه مراد ده۔ او داد بیضاویؒ قول هم دے۔

حب عقلی اختیاری او طبعي غیر اختیاری وی۔ لکه د بچوسره مینه د انسان د طبیعت او فطرت آواز دے۔ که نه کوی۔ نو هم به ئی کوی۔

او حب عقلی دیته وائی : چه د یو څیز نقصانات او فوائد په دواړو ډونګے نظر واچوے۔ او عواقب ئی مخے ته کړے۔ نو که فائده په کښی وی۔ نو انسان تکلیف برداشت کوی۔ هغه کار سره محبت ساتی۔ دا عقلی محبت دے۔ علامه طیبیؒ الکاشف کښی لیکی : چه مشقتونه برداشت کوی او د زړه نه ورته خوشحالیږی۔ لکه اپریشن یا ترخه دوائی استعمالول۔

د نبی ﷺ اتباع او دین باندے عمل کولو کښی د مال او د سر او د مشقتونو پرواه نه ساتی۔ مقصدئی د الله رضا او سعادت د دواړو جهانو حاصلول دی۔ دا محبت په دغه هیئت کذائیه حب عقلی دے۔ دا اغستل راجح دی۔ شیخ الحدیث صاحبؒ او شیخ الحدیث مولانا محمد یوسف بنوریؒ فرمائی : چه داسے تمرین اوکړی۔ چه حب عقلی نه ئی حب طبعی جوړ شی۔ او په شریعت عمل ئی طبیعت اوګرځی۔

که محبت طبعي وی د" لا یومن احدکم " مطلب دادے : چه کامل ایمان په کښی نشته۔ نو بیا اوډ و د ایمان نه خارج دے۔ او د عامو مسلمانانو د نبی ﷺ سره مینه شته۔ که بچی سره هر څومره د یو مسلمان مینه وی۔ لیکن که بچے د توهین په نیت قصدًا قرآن اوغورځوی۔ نو د پلار دینی غیرت راپورته شی۔ او څوی له هم سخته سزا ورکړی۔

قرآن کریم کښی دی سورة المجادلة آیت : ۲۲ : ﴿لَا تَجِدُ قَوماً يُؤمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَه﴾ ۔ ددے آیت د لاندے مفسرین لیکی : ان اباقحافة سب النبی ﷺ فصکه ابوبکر صکة سقط منها علی وجهه ثم اتی النبی فذکر ذالك له ۔ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل بیا داسے مه کوه : فقال هوالذی بعثك بالحق نبیا لو کان السیف منی قریبا لقتلته۔ (ذکره الحافظ فی تخریج الکشاف) .

یعنی په سیدنا ابوبکر حب عقلی داسے غالبه شوه۔ چه حب طبعي ئی جوړ شوے وو۔

الریاض النضرة د محب طبری : ۴۰ باندے داسے واقعات ئی ذکر کړیدی۔ مصعبؓ بن عمیر خپل رورد احد په ورځ مړ کړیدے۔ سیدنا عمرؓ بن خطاب بدر کښی خپل ماما عاص بن هاشم مردار کړے دے۔ عبدالله بن جراح د سیدنا عبیده والد وو۔ ده په خپله پلار اُحد کښی مړ کړیدے۔ عجیبه صحابه وو۔

کانٔ ربك لم یخلق لخشیته سواهم من دون الناس انسانا

د طلحه رضی الله عنه محبت اندازه اولګوه : رایت طلحة یده شلاء وقی بها رسول الله ﷺ یوم احد۔ (مسنداحمد ۳ : ۹ اسناده صحیح) ۔ لاس ئی د نبی په مینه شل شو۔

"من والده ": ۔ بعض روایاتوکښی لکه د نسائی " ولد " ئی مخکښی راوړے دے ۔ اودلته ئی پلار ۔ د خلقوزیاته مینه د بچوسره وی ۔ نوولد ئی مخکښی ذکرکړیدے ۔
علامه ابن قیمؒ روضة المحبین کښی لیکلے دی : ان ابراهیم قدم محبة الله علی محبة الولد خلص مقام الخلة وفدی الولد بالذبح ۔

د والد د تقدیم نکته : والد دهرچا وی ۔ یا مړ یا ژوندے وی ۔ او ځوی د بعض خلقو وی ۔ او د چا نه وی ۔ دے ته تقدم ذاتی وائی ۔ چه مؤخرمحتاج وی مقدم ته ۔ اگرچه د دواړو زمانه یوه وی ۔ لکه د پلار تقدم په ځوی یا د لاس د حرکت تقدم په حرکت د مفتاح ۔ بے پلاره او بے موره بابا آدم علیه السلام پیدا شویدے ۔ او بے پلاره فقط سیدنا عیسی علیه السلام ۔ دنیا ته والد د ولد نه مخکښی راغلے وی ۔ مقدم ئی ځکه راوړو ۔ چه وضع د طبع سره موافق شی ۔ والد کښی والده هم داخله ده ۔ " ذات من له الولد " مراد دے ۔ قرآن کښی راځی : ﴿وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ﴾ ۔ سورة توبة کښی د محبت بحث کښی په اته اموروکښی اول د پلارذکردے : ﴿ قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ ﴾ ۔

د سرسیداحمدخان ځوی لندن کښی بیرسټرجوړیدو ۔ دے به ورله تلوراتلو ۔ امداد الفتاوی کښی مولانا اشرف علی تهانویؒ لیکلے دی : چه د گمراهی سبب ئی د ځوی د مینے نه شروع شویدے ۔
علامه طیبیؒ لیکلے دی : درے قسمه محبتونه دی ۔ (۱) : د لذت محبت لکه خپلے ښځے سره مینه ۔ (۲) : فائده مندخیزسره محبت ۔ (۳) : د علم و فضل سره محبت ۔ دائی هم لیکلے دی : چه د نفس اماره میلان لذت او د دنیا مینے سره دے ۔ آخرکښی د قاضی عیاضؒ قول ئی نقل کړیدے : چه د نبی ﷺ د محبت علامت د سنت مدد او د شریعت دفاع ده ۔ او دا تمنا کول دی ۔ چه ارمان د نبی د حیات سعادت راته حاصل شویوے ۔ مابه خپل مال ونفس په هغوی قربان کړے وو ۔ (الکاشف) ۔
یوځل سیدنا عمررضی الله عنه نبی ﷺ ته اوفرمائیل : چه بے زماد نفس نه د تولے دنیا نه مے خوښ ئی . نبی ﷺورته اوفرمائیل: سوچ اوکړه ۔ روستوئی اوفرمائیل چه د ځان نه مے هم درسره زیاته مینه شته ۔ عمر رضی الله عنه اول فرمائیلے وو : الا نفسی ، حنفی مسلك کښی استثناء په درجه د مسکوت عنه کښی وی. یعنی اول ئی فرمائیلے وو چه نفیًا او اثباتًا د خپل نفس باره کښی هیڅ نه شم وئیلے . داد لا بشرط شیء درجه کښی ده ۔ روستوئی اوفرمائیل ۔ چه د ځان نه راته هم زیات محبوب ئی ۔ (بخاری نمبر: ٦٦٣٤)

عبدالله بن زید بن عبد ربه خپل پټی کښی کارکوو. چه د نبی ﷺ د وفات د سانحے نه خبر کړے شو. نو بے اختیاره ئی دعا اوکړه : اللهم اعمنی فلا اری شیئا بعد حبیبی حتی القی حبیبی فعمی مکانه.

تفسیر قرطبی کښی د محبت دغه واقعه د سورة النساء د آیت ٦٩ : ﴿ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَـٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَـٰئِكَ رَفِيقًا ﴾. د آیت د لاندے نقل ده.

فائده : ضروری نه ده. چه محبت او وقتی معصیت د بے هرځائی مانعة الجمع وی. د صحیح بخاری په کتاب الحدود کښی روایت دے : عن عمربن الخطاب ان رجلاکان یسمی حمارا وکان یضحك النبی ﷺ وکان یشرب الخمرویجلده النبی ﷺ فاتی به مرة فقال رجل لعنه الله ما اکثر ما یوتی به الی النبی ﷺ فقال له النبی ﷺ لا تلعنه فانه یحب الله ورسوله. سره د شرابو څکلونبی د هغه د محبت اعلان اکړو. او عمومی درجه کښی شریعت پرستی او خواهش پرستی مانعة الجمع ده. سورة الجاثیه ۱۸ کښی دی : ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾.

دحدیث پیغام : خلق د حاتم طائی سره د سخاوت د وجے. او نوشیروان بادشاه سره د عدل و انصاف د وجے محبت ساتی. رستم او اسفندیارتذکرے په شجاعت او د سقراط و افلاطون نوم په علم ژوندے دے. سحبان وائل خطیب بے نظیر وو. لبید، او متنبی فصاحت و بلاغت کښی ممتازوو. لیکن نبی ﷺ د هرقسم کمالاتو مجموعه ده. سخاوت باره کښی د بخاری حدیث کښی راځی : کان اجود من الریح المرسلة.

ما قال "لا" قط الا فی تشهده لولاالتشهدلقال لاؤه نعم

نبی ﷺ په صداقت و دیانت، نجابت و شرافت، ایثار، گفتار، کردار، همدردی، شرم و حیاء، سادگی، تواضع، عزت او وقار، متانت اوعفودرگزرکښی ثانی نه لرو. که دے صفاتو او خاتم الانبیاء سره محبت نه وی ـ د انسانیت سره محبت بیا نشته. داد حیوان او وحشی درنده جامه کښی د انسان شکل لری. سینه کښی زړه، سرکښی دماغ، زړه کښی عقل نشته. سرئی کدو دے. او بوس په کښی پراته دی.

حسن یوسف، دم عیسیٰ، ید بیضا داری آنچه خوباں همه دارند تو تنها داری

امام نوویؒ لیکی : چه چا نفس مطمئنه جوړ کړو. د هغه محبت کامل دے.

نبی ﷺ په دعا کوله : اللهم اجعل حبك احب الی من نفسی واهلی ومن الماء البارد ـ اشاره ده ـ چه د محبت دا حقیقت چه کله حاصل شی ـ نو د هغے دلذت غلبه عقل ، زړه او نفس باندے اوشی ـ لکه تږے چه اوبو ته لیواله وی ـ ددے نه زیات ئی ورسره محبت وی ـ

حدیث ٦ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ ثلث من کن فیه وجدبهن حلاوة الایمان ...الخ.

ترکیب کښی " ثلث "مبتدا واقعه کیدو ـ اعتراض دے چه دا نکره دے ـ او نکره مبتداء نه واقع کیږی ـ جواب : د ثلث تنوین د مضاف الیه نه عوض دے ـ "ثلث خصال " ـ دانکره مخصصه ده ـ اوکافیه کښی مسئله ده : وقد یکون المبتدا نکرة اذا تخصصت بوجه ما ـ اول ئی اجمالا ثلث دے له ذکرکړو ـ چه روستوتفصیل سره اوقع فی الذهن شی ـ لکه مختصرالمعانی کښی شعر نقل کړیدے :

ثلثة تشرق الدنیا ببهجتها شمس الضحی وابواسحق والقمر

" من کن فیه " : ـ ای وجدنا فیه ـ **" ان یکون الله ورسوله "** :ـ دے کښی د اخلاقو او د اصحاب الاخلاق بیان دے ـ عبارت کښی تقدیر دے ـ " خصلة من کان " ـ او دغسے " خصلة من احب عبدًا " ـ

" احب " : ـ باعتبار کل واحد ـ نو اعتراض نه راځی ـ چه الله او رسول تعداد کښی دوه دی ـ او " احب" خو مفرد دے ـ اګرچه ددے دا هم جواب کیدے شی ـ چه " احب " اسم تفضیل کله چه په "من" سره مستعمل شی ـ نو بیا مطابقت ضروری نوی ـ که الله او رسول تسمیه ده ـ نو " احب " که مفرد هم وی ـ نو اعتراض نه راځی ـ

دحلاوت قسمونه : (١) حسی حلاوت : چه ژبه پرے خُوګیږی ـ اوخُله کښی خوند پیدا شی ـ مثلًا حلوه خوړل ـ (٢) معنوی حلاوت : مشقتونوبرداشت کولو کښی معنوی طورلذت محسوسوی ـ لکه د سورة الانعام په عقبات سته چه خارجی دنیا کښی عملًا تیریږی ـ نو سره د تکلیفونو خوشحاله وی ـ

مدارج السالکین ٢ : ٣٢٧ باندے علامه ابن قیمؒ د حسن بصریؒ قول نقل کړیدے : تفقدوا الحلاوة فی ثلاثة اشیاء : فی الصلوة وفی الذکر وقراء ة القرآن ـ

ددغے حلاوت په زور شیخ عبدالقادر جیلانیؒ د سنجربادشاه ته لیکلے وو :

چوں چتر سنجری رخ بختم سیاه باد در دل اګر بود هوس ملک سنجرم
زانګه که یافتم خبراز ملک نیم شب من ملک نیم روز بیک جونمی خرم

(تفسیر عثمانی تحت آیة النحل : ﴿ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ﴾ - (۹٦) -

او دلته علامه عثمانی" دا هم لیکلے دی : که فاسقانو ته د دیندارود حلاوت د احساس علم اوشو - ورسره به د حصول دپاره جهگړے کوی - منل ئی پکار دی -

اذالم تری الهلال فسلم لاناس راوه بالابصار

قاضی شمس الدین" شرح کښې لیکلے دی : که څوك خوګ څیزپه کیپسول کښې بندکړی - او د مری نه ئی تیرکړی - هغه د حلاوت بیان بل ته نه شی کولے - او بعضے علماء ترے معنوی حلاوت اخلی -

اشکال : دے : "مما سواهما" ضمیر د تثنیه کښې الله او رسول دواړه جمع کړل - لیکن ابوداود کښې روایت راځی چه خطیب خطبه کښې اووئیل : ومن یعصهما فانه لا یضر الا نفسه - نبی ﷺ ورته غصه شو - بئس الخطیب انت - په جمع ئی نکیراوکړو -

(۱) : اول جواب : یو معصیت دے لکه دخطیب د خطبے الفاظ - او یو محبت دے لکه دلته - په محبت کښې دواړه جمع کولے شی چه مجموعه مراد ده - لکه : ﴿ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنْ يُرْضُوهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴾ (سورة توبة : ٦٢) - په معصیت کښې د جمع صورت کښې د وهم احتمال شته - چه ګنی د الله او رسول په معصیت کښې د یو معصیت اوکړی نوباك ئی نشته - نوسدًا للباب ئی منع کړو -

(۲):دویم جواب : د خطبے مقام کښې اجمال نه دے پکار - ضمیرونه ذکرکول اجمال دے - اوچه د خطبے مقام نه وی لکه دلته - د تثنیه ضمیرپه شکل کښې راجمع کولے شے - اوکه د عبدالله بن مسعود نه په خطبه کښې جمع راغلے ده - هغه د نکاح خطبه ده - خطبه د تقریر نه وه -

(۳):دریم جواب : د عامو خلقو دپاره ضمیر د تثنیه سره جمع کول منع دی - لیکن د نبی ﷺ دپاره منع نه ده - ځکه د منع علت ابهام دے - چه دے الله او رسول دواړه علی السویه شریك کول غواړی - دا ابهام د نبی دپاره نه شے ذکرکولے - نو پیغمبرله جائزاو نورو خلقو له ناجائزدے - علامه ابن عبدالسلام دے له ترجیح ورکوی - لیکن علامه هیثمی" فتح اله کښې لیکلے دی : چه دا توجیه قابل رد ده : وان مال الیه عبدالسلام بان الخصوصیة لا تثبت الا بدلیل اذا الاصل فی افعاله واقواله التشریع فاذا وجد منها ما ظاهره التعارض ولم یقم دلیل علی الخصوصیة وجب الجمع -

(۴): **څلورم جواب**: صاحب الحق الصریح لیکی: یو قول دے د نبی۔ او یو عمل دے د نبی۔ نو داسے وخت کښی به قول له ترجیح وی۔ او قول ئی په منع راغلے دے۔ انتهی۔
د صاحب الحق الصریح جواب او توجیه د احنافو په دے مسلك کښی بیا هم ذکر کولے شے۔

اول مثال: چه د سیدنا ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت: **لا تستقبلوا القبلة ولا تستدبروها**۔ قولی دے۔ بل د سیدنا ابن عمر رضی الله عنه روایت دے۔ چه په کښی عمل د نبی اودس ماتے کښی قبلے ته دے۔ نو احناف قول له ترجیح ورکوی۔

دویم مثال: دادے چه د سحر د مونځ کښی عمل د نبی ﷺ غلس کښی بعض وختونو کښی شوے دے۔ او قولی روایت چه د علامه البانیؒ او ددوی په نزد هم بالکل صحیح دے: **اسفروا بالفجر فانه اعظم للأجر**۔ نو قول له دے ترجیح په عمل ورکړے شی۔

(۵): **پنځم جواب**: که یو حکم باندے دوه قسمه روایات د جواز، عدم جواز، د حِل او د حرمت راشی۔ نو عدم جواز او حرمت له به ترجیح ورکولے کیږی۔

(٦): **شپږم جواب**: خطیب صاحب داسے غلط وقف کړے وو۔ چه د غلطے معنی وهم په کښی راتلے شو۔ نو خطیب ئی ځکه منع کړے وو۔

"**ومن احب عبدًا لا یحبه الا لله**": ۔ دویم دا چه مینه به یو بل سره صرف د الله د رضا په بنیاد وی۔ د عرش د سوری د لاندے او وکسانو کښی داسے دوه تنه هم یادوی: **رجلان تحابان فی الله اجتمعا علیه وتفرقا علیه**۔ ملك داسے کس ته دعا کوی: **وطاب ممشاك**۔

"**ومن یکره ان یعود**": ۔ د یعود مصداق دوه خبرے جوړیدے شی۔
(۱) اول ځل العیاذ بالله کفر کښی داخلیدل۔ ځکه چه د مخکښی نه تر دے وخته په اسلام دے۔
(۲) اول کفر کښی وو۔ بیا مسلمان شو۔ دوباره کفر ته راتلل به ورته داسے ګران ښکاری لکه او رته طبعا دانګل انسان بد ګنړی۔
بهرحال "عود" د عربو لغت کښی دوه طریقو سره استعمالیږی۔ (۱): اصلی په معنی د رجوع راځی اول حالت ته۔ (۲): د صار په معنی ئی هم استعمال راتلے شی۔ لکه سورۃ الاعراف آیت: ۸۸، ۸۹ کښی: ﴿أَوْ لَتَعُودُنَّ فِیْ مِلَّتِنَا﴾۔ او: ﴿إِنْ عُدْنَا فِیْ مِلَّتِکُم﴾ راځی۔ شعیب علیه السلام خود اول نه د کفر

دهر قسم شائبے نه محفوظ وو. نو هغه ته ئې د اول د داخلیدو. او ملګروته ئې ورله د دوباره داخلیدو دعوت ورکړے وو.

ددے بد ګڼړلو تذکره قرآن کښې موجود ده.: ﴿ وَلَـٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ ﴾ . (سورة الحجرات : ٧) .

د مولانا احسان صاحب خبره او د هغے وضاحت

مولانا احسان صاحب مدظله نه د مشکوٰة شرح کښې داسے نقل شوے دی : چه د کافرسره به بغض نه ساتے د کفرسره به بغض ساتے.

وضاحت : مرض او مریض کښې ، ګناه او ګنهګار کښې فرق من وجه شته دے. د مرض نه به نفرت کوے. د مریض نه به نه کوے. که د لیونو ماهرډاکټرد لیونی نه نفرت شروع کړی. نوعلاج به ئې څنګه کوی ؟ دغسے ګناه اګرچه ګنهګارسره لګیدلے دے. هغه ځان ګنهګار ګڼړی. نوعلاج ئې اوکړه. دعوت ورکړه. کتاب الزهد لابی داود کښې ۲۳۲ نمبر روایت کښې دی. او سند ئې صحیح دے : حدثنا ابوداود قال نا ایوب عن ابی قلابة انه قال : مُرَّ علی ابی الدرداء برجل یقاد فی حدّاصابه قال فنال القوم منه فقال لا تسبوا اخاکم ، واحمدالله الذی عافاکم ، قال اریتم لو رأیتموه فی قلیب اکنتم مستخرجیه ؟ قالوا نعم قال فلا تسبوا اخاکم واحمدالله الذی عافاکم فقیل له اتبغضه ؟ فقال انی لا ابغضه ولکن ابغض عمله فاذا ترکه کان اخی.

ددے روایت نه معلومه شوه : په معصیت کښې په چا حد لګی. نو بغض به ورسره نه کوے. لیکن رورولی او تعلق به ورسره هغه وخت ساتے چه ګناه پریږدی. او داسے ربط به ورسره لرے چه نصیحت ورته اوکړے. هغه ګناه ته ګناه وائی.

لیکن بدعت کښې چه څومره نفرت د بدعتی نه دے. هغه هومره د بدعت نه هم دے. یا د شرك نه دے. نو د مشرك نه هم دے. بدعتی دغه کار ته ثواب او مشرك ورله د تعظیم د اولیاء الله عنوان ورکوی. څکه شیخ عبدالقادر جیلانی" غنیة الطالبین کښې ددوی جنازه کښې شرکت او سلام و احترام منع کړیدے. هغوی ګناه ته ثواب وائی.

شیخ القرآن قامع البدعت علامه محمد طاهر" خپل مایه ناز کتاب ضیاء النور کښې : ۴ باندے لیکلے دی : من جلس الی صاحب بدعة فاحذروه.

(که چرته مناظرے او د دعوت د سنت دپاره کینی لاحرج. امداد).

او دائی هم لیکلے دی : من وقر صاحب بدعة فقد اعان علی هدم الاسلام. (٤ ، ٧) . او : ۱۳ باندے ئې لیکلے دی : انا امرنا بمهاجرة اهل البدع . او په : ۱٦ باندے ئې د مجدد الف ثانی" مکتوب : ۵۳ نه نقل

کړیدے : ضررصحبت مبتدع فوق ضررصحبت کافراست ـ او : ۲۰ الهجران من اهل البدع جزئیه ئی ذکر کړے ده ـ
او : ۷۱ باندے لیکی : لا یصلی علیهم اذا ماتوا ـ او : ۲۲ باندے دی : ترك عیادة مرضاهم وشهود جنائزهم ـ
داسے نورمحققینوعالمانودغسے تفصیل کړیدے ـ
الابانة د محمد بن عطیه العکبری دریم جزء : ۴۰۲ نمبر: ۴۴۷ باندے روایت دے : ان رجلا من اصحب الاهواء قال لایوب السختیانی یا ابابکر اسئلك عن کلمة قال ایوب وجعل یشیرباصبعه ولا نصف کلمة ـ
او ۴۷۴ باندے دی نمبر: ۴۹۰ :عن یحی بن ابی کثیرقال اذا لقیت صاحب بدعة ـ : ۲۹ قد آخذفی طریق فخذ فی طریق آخر ـ

دویم : قاضی بیضاویؒ قانون ذکرکړیدے : فان ترتب الحکم علی الوصف یشعربعلیته له ـ د شرك و بدعت د علت د وجے د دعوت ورکولونه علاوه د صحبت نه ئی اجتناب پکار دے ـ اودلته ئی د یحی بن معاذ الرازیؒ قول نقل کړیدے : حقیقة المحبة ان لا تزید بالعطاء ولا تنقص بالجفاء ـ (مرقات) ـ

فائده : ړومبنی دوه خصلتونوکښی اشاره ده : چه په فضائلو ځان خائسته کړه ـ اوآخری خصلت کښی اشاره ده :چه د هرقسم رزائلونه ځان خالی کړه ـ تخلیه او تحلیه د دین بنیادی اموردی ـ

حدیث ۷ : وعن العباس بن عبدالمطلب قال قال رسول الله ﷺ ذاق طعم الایمان ..الخ ـ

حالات د عباس رضی الله عنه : عباس بن عبدالمطلب د نبی ﷺ تره وو ـ او د نبی ﷺ نه دوه کاله مشر وو ـ د عام الفیل نه مخکښی کال پیدا شوے وو ـ ملاعلی قاریؒ لطیفه نقل کړے ده : ومن لطافة فهمه و متانة علمه انه لما سئل انت اکبر ام النبی ﷺ قال هو اکبر وانا اسن ـ (مرقات) ـ مور ئی اول د جاهلیت نزدے دورکښی بیت الله له غلاف جوړکړے وو ـ په وړوکوالی کښی سیدنا عباس رضی الله عنه روك شوے وو ـ مور ئی منخته کړے وه ـ که اوموندلے شو ـ نوځه به خانه کعبه ته غلاف اچومه ـ حافظ ابن کثیرؒ د سورة الدخان د آیت په تشریح کښی لیکلے دی : قال سعید بن جبیر کسا تبع القبلة ـ (ابن کثیر ٤ : ١٤٤)
عباس رضی الله عنه په جاهلیت کښی د سقایه اود عمارة المسجد الحرام نگران وو ـ د مرگ نه مخکښی ئی اویا غلامان آزاد کړے وو ـ او ۱۲ رجب ۳۲ هجری کښی د ۸۸ کاله په عمرکښی وفات دے ـ او بقیع کښی دفن دے ـ جنازه ئی سیدنا عثمان رضی الله عنه کړے ده ـ
د بدرغزا کښی د کافرانو ملگرتیا کښی راغلے وو ـ په هغے لسوکسانوکښی وو ـ چه هغوی د کافرانود

لښکرد روټی انتظام کړے وو۔ او دغے د بدر په ورځ دده نمبر وو۔ د ے مقصد له ئی شل اوقیه هم ځان سره اوړے وو۔ فرمائیل به ئی ماسره شل زره درهمه د شلو تاجرانو ګټه موجود ده۔ پټه پټه ملګرتیا ئی په مکه کښې هم د نبی ﷺ کوله۔

"**ذاق طعم الایمان**": ۔ حدیث کښې ئی د ایمان تشبیه د مزیدار خوراك سره ورکړے ده۔ ایمان مشبه دے ۔ د هغے ذکرئی اوکړو۔ دا ایمان د خوراك غوندے دے۔ دا استعاره بالکنایه ده۔ او د طعام سره مناسبت ښکلے ' خائسته ذائقه ده۔ دا استعاره تخییلیه ده : و کذلك الایمان حین تخالط بشاشته القلوب.
اومناسب ئی خوړل دی۔ دا استعاره ترشیحیه ده۔
په دے دنیا کښې د انسان درے تعلقات دی۔ (۱) تعلق بالله (۲) دینی او مذهبی وابستګی او تړون۔
(۳) د خپل رهنما او مرشد سره تعلق۔ او دا درے واړه حدیث کښې ذکر دی۔

"**من رضی بالله ربا**": ۔ دا عقیده ده ۔ مراد ترے توحید د الوهیت دے۔ ژوندکښې خواږه او تراخه هرقسم احوالوکښې به رضا بالقضاء اختیاروے۔ د صبراو د شکر لمن به نه پریږدے۔

"**وبالاسلام دینًا**" : ۔ عطف د عام په خاص دے۔ بنی الاسلام روایت ته اشاره ده۔

دویم : د اسلام نه علاوه بل دین سوشلزم ' سیکولرازم ' کمیونزم ' کیپیټل ازم وغیره به نه منے۔ دا به نه وائی : چه سوشلزم ہماری معشیت ہے ۔ اسلام کښې قانونی مساوات شته۔ او معاشی مساوات چه د چا دے ملکیت نه وی دا نشته۔ زمونږه قبله نه ماسکو ده او نه واشنګټن بلکه خانه کعبه ده۔ : ﴿لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ﴾ (سورة النور : ۳۵) ۔ **دریم** : او دا به د عقیده وی ۔ چه محمد ﷺ رسول دے۔ دغه درے تپوسه قبر یعنی عالم برزخ کښې به د هرچانه کیږی : من ربك ' ما دینك ' ما تقول فی حق هذا الرجل۔
الوهیت ' بعثت د پیغمبر " لا اله الا الله محمد رسول الله " شو۔ او دغه دین اسلام دے۔
حدیث کښې ترغیب دے۔ چه د سحرادعیه کښې یوذکراو دعا به دا کوی : رضیت بالله ربا وبالاسلام دینا و بمحمد ﷺ رسولا ۔ عطف خاص علی العام دے۔ ددغے نعمت تذکره سورة المائدة ۳ کښې ذکرده :
﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾۔ د "رضیت بالله ربا" مطلب دا هم دے : چه دا به د زړه آوازوی۔ مجبورتیا به دے نه وی۔

(۱) : " من رضی باللہ " : ۔ دا توحید د الوهیت دے ۔ (۲) : " ربًا " کښې په مشرکینو رد دے ۔

(۳) : " وبمحمد رسولا " : ۔ معلومه دا شوه : چه د ابولهب وینزه آزادول فضول دی ۔ ځکه چه دائی د وراره د خوشحالی په جهت آزاد کړے ده ۔ چه د هغے نوم ثویبه وو ۔ لیکن د نبی ﷺ د نبوت او د رسالت نه انکاری وو ۔ دغه شان ابوطالب هم خارج دے ۔

"ویسلموا تسلیما " : ۔ زړه کښې به د اسلام د یو حکم باره کښې څه تنګسیا نه راولے ۔

د سورة النساء ددے ٦٥ نمبر آیت : ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ ۔ د لاندے علامه آلوسی ؒ تفسیر کښې د امام جعفر صادق ؒ قول نقل کړیدے : لو ان قوما عبدوا اللہ تعالی واقاموا الصلوة وآتوا الزکاة وصاموا رمضان وحجوا البیت ثم قالوا لشیء صنعه رسول اللہ ﷺ الا صنع خلاف ما صنع ' او وجدوا فی انفسهم حرجا لکانوا مشرکین ۔

حدیث ٨ : وعن ابی هریرة قال قال رسول اللہ ﷺ والذی نفس محمد بیده .... الخ ۔

"والذی نفس محمد": ۔ کښې اشاره ده ۔ چه نبی ﷺ مختار کل او متصرف نه دے ۔ اګرچه په ټوله دنیا کښې د هرچا نه غوره دے ۔

علامه ابن قیم ؒ زاد المعاد کښې لیکلے دی : چه نبی ﷺ خپل عمر کښې اتیا کرته " والذی نفس محمد بیده " استعمال کړیدے ۔

الحق الصریح کښې دی : چه امام ابو حنیفه ؒ فرمائی : چه د "ید" تاویل به په قدرت سره نه کوی ۔ که څوك دغه تاویل کوی ۔ دا تعطیل دے د صفت د باری تعالی ۔

علامه ابن حجر هیثمی ؒ شرح مشکوة کښې لیکی : ومن ثم قال ابو حنیفة کما نقله عنه العینی وغیره تاویل الید بالقدرة ما یؤدی الی تعطیل ما اثبته تعالی لنفسه وان الذی ینبغی الایمان به لما ذکره اللہ تعالی من ذالك ونحوه علی ما اراده ولا تشتغل بتاویله فنقول : له ید علی ما اراده لا کید المخلوقین ای لا متشابهة بینهما وبین الاجسام بوجه من الوجوه ۔

وضاحت : د امام صاحب ؒ اصل عبارت فقه اکبر کښې داسے دے : لا یقال ان یده قدرته ' د " ید " معنی قطعًا قدرت سره معتزله کوی ۔ دے سره د اللہ د صفت تعطیل رائحی ۔ نو په معتزله رد کوی ۔ هغوی صفات نه منی ۔ که څوك ئی تاویل کوی د عوامو د پوهه کولو دپاره ۔ او " ید " صفت منی ۔ نو داسے کس بدعتی ' تلبیس کوونکے یا جهمی نه دے ۔ راجح داده چه تاویل مه کوه ۔

ملاعلی قاریؒ لیکی : مذهب السلف فیها تفویض علمه الی الله تعالی مع التنزیه عن ظاهره وهو اسلم۔
دغه سالمه او بے غباره خبره ده۔

"لایسمع بی احد" :۔ "لا" بمعنی "لیس"۔او "احد" ئی اسم دے۔ بیا دا "احد" موصوف او "من هذه الامة" ورلـه صفت دے۔ او "یهودی" د "احد" نـه بدل یا بیان واقع شوید ے۔ او "لا نصرانی" عطف "یهودی" بانده دے۔ او اصل کښې یهودی د فعل منفی دپاره د فاعل کیدو په وجه د نفی محل کښې چونکه واقع دے ـ عطف په دے جائز دے ـ لکه : ﴿وَمَا أَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ﴾ (سورة الاحقاف : ۹) ۔ (نفخات التنقیح) ۔

ملاعلی قاریؒ د عبارت داسے تنقیح کوی : لیس احد یسمع بی ثم یموت ولم یؤمن اوغیرمؤمن کائنا من اصحاب شیء الا من اصحاب النار ۔ بعضے علماء داسے تقدیرذکرکوی : لیس احد یسمع مخبرمنی ثم یموت ولم یؤمن بما ارسلت به الا کان من اصحاب النار ۔

د امت نه امت دعوت مراد دے ـ د یهودی اونصرانی ذکربطورمثال دے۔ هرغلط دین والا مراد دے۔ اوکله چه اهل کتاب د نورو په اعتبار سره گزارے والا دی۔ نو چه چاسره کتاب د سره نشته۔ هغه په طریق اولی نـه بچ کیږی۔ یعنی هغه انسان چه د نبی بعثت او د پیغمبری د دعوی نه خه خبردے۔ او منی ئی نه۔ اوپه دے نه منلوکښې مړشو۔ نو حدیث کښې ئی ورله حکم بیان کړو۔ چه دوزخ ته به ځی ـکه د پیغمبرد پیغمبری نـه نه وو خبر۔ او وجود د الله او توحید منی داحکم ئی نه دے۔ دغسے اول ژوندکښې انکار وو۔ آخرکښې ئی د نبی ﷺ تصدیق اوکړو۔ دوی له هم نجات دے۔ حدیث دلیل دے چه نبی ﷺ عمومی پیغمبراو دین اسلام عالمی دین دے۔ د وحدة الادیان فلسفه غلطه ده۔ لکه یهودیت، عیسائیت، اسلام، سوشلزم، کمیونزم یوشان گنړی۔ قرآن کښې دی : ﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ﴾ ۔ (سورة آل عمران : ۸۵) ۔ دا غلطه ده۔که هندومندرته، عیسائی گرجاته، او شیعه امام بارگاته ځی تول یودی۔

حدیث ۹ : وعن ابی موسی الاشعری قال قال رسول الله ﷺ ثلثة لهم اجران رجل ..الخ۔

حالات د ابوموسی اشعری رضی الله عنه : نوم ئی عبدالله بن قیس دے۔ اسلام ئی مکه کښې راوړید ے۔ او ۵۲ هجری کښې وفات دے۔ علامه قسطلانیؒ ارشاد الساری کښې لیکلے دی :

چه ددوی مشرنیکه کله د مورنه پیداشو ـ نوپه هغوی باندے ویختـه وو ـ نو ځکه ورته اشعری وئیلے شی ـ د یمن وو او فقیه دے ـ حبشه اومدینه دواړوته ئی هجرت کړیدے ـ اود یمن یو ے حصے ته ئی سیدنا معاذ رضی الله عنه قاضی او بلے ته دوی لیږلے وو ـ د سیدنا عمر رضی الله عنه په دورکښی د بصرے گورنروو ـ او سیدنا عثمان رضی الله عنه د کوفے والی جوړکړیدے ـ د سیدنا علی او د سیدنا معاویه په اختلاف کښی حکم هم جوړ شوے وو ـ اوپه مکه کښی وفات شویدے ـ ددوی آواز ډیرښکلے او پرسوز وو ـ

الاصابة مع الاستیعاب ۲ : ٦٠ بانـدے دی : چه ابو موسی اشعری رضی الله عنه به د شپے پرتوگ استعمالو ـ ځکه چه په دے کښی پرده ډیره زیاته ده ـ

"**رجل من اهل الکتاب**" : ـ غوره داده چه د اهل الکتاب مصداق یهودی او عیسائی دواړه دی ـ اوبخاری کښی د" آمن بعیسی " د ذکرنه حصر نه دے مراد بلکه تمثیل دے ـ د قرآن د آیت : ﴿ یؤتکم کفلین من رحمته ﴾ ـ نه هم دواړه مراد دی ـ "**و العبدالمملوك** " ـ ټول انسانان د الله عباد دی ـ لکه سورة مریم ۹۳ کښی دی : ﴿ إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَنِ عَبْداً ﴾ ـ نود المملوك قید لګولودا فائده ده چه غلام یعنی مریے (بندی) مراد دے ـ

"**موالیه** " ـ **سوال** راځی : عبد مفرد دے ـ موالیه ئی جمع ولے راوړه ؟ ـ

جواب ۱ : د العبد الف لام جنسی دے ـ جنس عبد مراد دے ـ **دویمه توجیه** : عبد کله د زید اوکله د خالد ملکیت کښی راځی ـ بدلیږی رابدلیږی ـ ځکه چه خرڅیږی ـ په دے اعتبارسره ئی موالیه جمع ذکرکړو ـ **دریمه توجیه** : غلام کله کله د دوو کسانو مینځ کښی مشترك هم وی ـ

"**فادبها**" : ـ ادب مثلًا د کارونوسلیقه ' د نشت وبرخاست او د خبرواندازاو د میلمنو خدمت ـ

"**وعلمها**" : ـ اسلام ئی د حُرّے یواځی نه بلکه وینځے ته د تعلیم ورکولوتلقین کوی ـ زبیده خاتون د هارون الرشید تره لورهم وه ـ او ښځه ئی هم وه ـ حافظ ابن کثیرؒ د مورخ ابن خلکان په حواله لیکلے دی : انه کان لها مأة جاریة کلهن یحفظن القرآن العظیم ـ (البدایه والنهایه ٥ : ۷۱۳) ـ

قرآن کښی د ښکاری سپی د تعلیم ذکردے :﴿ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ﴾ (سورة المائدة: ٤)

اسلام د ښځے تعليم ، كتابت او تعلم له ترغيب وركوى. د آزادى او د سړوسره د اختلاط خلاف دے۔
"ثلثة لهم اجران": "ثلثة" كښى حصرنشته. ددے دريونه علاوه بعض اموروكښى د "اجران" ذكرشته. مشهورحديث دے : والذى يقرء القرآن ويتتعتع فيه وهوعليه شاق له اجران۔
اودلته حديث كښى درے كسانوله د ډبل اجروركولو ذكرموجود دے۔

د دوو اجرونو حكمت

اوله توجيه : قاضى شمس الدين د اشكال ختمولوله داسے مطلب بيانوى يوتن اول ځل زمونږ په آخرى نبى ايمان راوړو. او د مخكښى نه ئى بل پيغمبرباندے ايمان نه دے راوړے. اګرچه ظاهرًا د بل شرط انتفاء ده. ده له دوه اجره ځكه دى. چه زمونږ په پيغمبرايمان دا مستلزم دے د ټولو پيغمبرانو ايمان له. ليكن يوتن يهودى او يا عيسائى دے په موسٰى يا عيسٰى عليهما السلام ئى ايمان شته. ليكن پيغمبرآخرى باندى ايمان نه راوړى. ده له هيڅ اجر نشته. ﴿فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا﴾ ـ(سورة الحديد : ٢٧) ـ كښى دا داخله ده. چه آخرى پيغمبرباندے ئى ايمان وى. دغسے يوغلام د مولى حق ادا كوى. او د الله حق نه ادا كوى ـ ده له هيڅ اجرنشته. ځكه ددے خدمت ورله صله او عوض ملاؤ شويدے. ليكن كه غلام د الله او د مولى دواړو حق ادا كوى. ورله دوه اجرونه دى۔

دويمه توجيه : دوه اجرونه ورله ځكه وركوى. چه دے كس ته غټ مزاحم اومانع موجود دے. او قاعده داده : چه ركاوټ او مزاحمت نه باوجود ورله اجرزيات ځكه وركوى. چه مخے ته ئى خرنډونه هم دى ـ او بيا ئى دغه كارپه خوشحالى اوكړو. مثلًا ملائكوته د شهوت يا د معاش دپاره د اسبابوركاوټونه نشته. بچى او ښځے نه لرى نو ملائك به : ﴿يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ﴾ (سورة الانبياء : ٢٠) وى. او : ﴿لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾ (سورة التحريم : ٦) ئى خصوصيت دے. ليكن مسلمان انسان په هرطرف ركاوټ او مشكل كښى راګيردے. د سمندرمينځ ته ئى اوولى ورته وائى چه اوچ كړس راوځه۔

درميان قعردريا تخته بندم كردى — بازمى گوئى كه دامن تركمن هوشيار باش

دريمه توجيه : مركزاعتقاد بدلول ګران كار دے. دلته يهودى يا عيسائى چه كله اسلام قبول كړو۔

یهودیت و نصرانیت هغه اعتقاد ئی ختم کړو۔ ځکه ئی اجرزیات ذے۔ غلام د الله حکم پوره کولو کښې د مولی حق اداکولو کښې کوتاهی نه کوی۔ او د مولی د حق د ادا کولو د وجے د الله په حق کښې څه تقصیرنه راولی۔

" **فادبها و علمها** ": ۔ ادب او علم په یو حساب کړه۔ یو کس وینځے ته د ادب ځکه تعلیم ورکوی۔ چه خلق ئی تعریف اوکړی۔ چه وینزه ئی ډیره باآدبه ده۔ په دے جزبه باندے ده له اجرنشته۔ چه کله ئی د علم و ادب په صفتونو خائسته کړه۔ بیائی آزاده کړه۔ او نکاح ئی ورسره هم اوکړو۔ معاشره اوماحول کښې دا ګران کار دے۔ چه اول ئی وینزه وه۔ اوس ئی د ژوند ملګرے جوړه کړه۔ علم او ادب یو باندے حساب کړه۔ یوبل سره تړلے دی۔ او اعتاق او بیا ازدواجی تعلق یو شیء دے۔ دلته ځکه څلورامور نه دی۔ بلکه دوه دی۔ معلومه شوه۔ اسلام مونږ ته د غلامانو او وینزو سره د خه سلوك او د آزادي تعلیم راکوی۔ او اسلام کښې دغه غلامی ځکه ده۔ چه د الله حکم نه منی۔ داسے انسان خو: ﴿ أُوْلَـٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ﴾ (سورة الاعراف : ۱۷۹) دے۔

ددے روایت نه علم سره د ادب مقام واضح شو۔ عبدالله بن مباركؒ فرمائی : طلبت الادب ثلثين سنة وطلبت العلم عشرين سنة وكانوا يطلبون الادب ثم العلم۔ (غاية النهاية فی طبقات القراء لابن الجوزیؒ) ۔

ابونعیم حلیة الاولیاء کښې ۵ : ۵۷ باندے روایت ذکرکړیدے : من كانت له بنت فادبها فاحسن تاديبها وعلمها فاحسن تعليمها واسبغ عليها من نعم الله التی اسبغ عليه كانت له سترا وحجابًا من النار ۔

تحفة المودود فی احکام المولود علامه ابن قیمؒ د سیدنا ابن عمر رضی الله عنه قول نقل کړیدے : ادب ابنك فانك مسئول عنه ماذا ادبته وما ذا علمته ۔ او سیدنا علی رضی الله عنه به فرمائیل : ادبوهم وعلموهم۔ او امام بخاری تاریخ کبیر کښې روایت ذکرکړیدے : مانحل والد ولدًا افضل من ادب حسن۔

یوروایت کښې داسے راځی : چه د خراسان نه راغلے سړی د امام شعبیؒ مجلس کښې حاضرشو۔ نو ورته ئی اوفرمائیل واخله په آسانئ دا حدیث مونږ د حدیث دپاره ډیر زیات سفرکړیدے۔

د خراسان خلقو کښې دا مشهوره وه۔ که چا وینزه آزاده کړه۔ او بیا ئی ورسره واده اوکړو۔ خه خبره نه ده۔ حدیث ئی بیان کړو۔ چه دے صورت کښې دوچنداجرورته ملاویږی۔

د حدیث مخکښې سره د " تضاد " مناسبت دے۔ چه د آخری نبی د ایمان راوړلو نه انکار دا کفر دے۔ او د ایمان اوکفرمینځ کښې تقابل د تضاد دے۔

حدیث ۱۰ : وعن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا..الخ

د صحیح بخاری یوروایت کښې راځی : حتی یشهدان لا اله الا الله ویومنوا بی وبما جئت به ۔ او دلته چه

شهادتین ذکرشو ـ نوتول د دین ارکان په کښی راغلل ـ " لا اله الا الله "کښی اسماء و صفات ټول داخل دی.
دے کښی د شرك جلی اوخفی او د فاسد ردی جزباتو نه اجتناب داخل دے.

"امرت" :- فاعل ئی خپله معلوم دے. ذکرئی اونه کړو. الله ورته حکم کړیدے. لکه قرآن کښی
دی: ﴿ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ ﴾ (سورة الانعام : ۱۶۳) . " ان " تفسیریه به وی. ځکه "امرت "کښی ماده د ندا
موجود ده. د هغے نه پس ان تفسیریه راځی. حدیث کښی په شهادة او په اقامة الصلوة والزکاة باندے
"عصموا منی دمائهم واموالهم " بناء کړیدے.

بعض ائمه د حدیث نه استدلال کوی. چه څوك مونځ قصدًا او عمدًا نه کوی. دے کافر دے.

تارك د صلوٰة کافر دے اوکه نه ؟

وضاحت : چه څوك د فرضیت نه انکار کوی ـ دے خو بالاتفاق کافر دے. اوکه عقیده ئی وی.
د سستی او نارستی د وجے مونځ کله کله پریږدی ـ نو د امام احمدؒ په مسلك کښی د مونځ
پریخودنکے مرتد اومباح الدم دے. وژلے به شی. لیکن د امام مالكؒ ، امام شافعیؒ په نزد مرتد خونه
دے ـ لیکن جرم ئی خطرناك کړیدے. نو قتل ئی سزا ده. لیکن امام ابو حنیفهؒ ، امام مزنیؒ ورته مرتد
هم نه وائی. او نه د قتل حکم په ده لګوی. فرمائی : داسے جیل خانه کښی به اچولے شی. چه سزا په
کښی سخته وی ـ وهلے به شی چه یا مړشی ـ اویا توبه اوباسی. سورة توبه ۵ کښی چه راځی :
﴿ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ ـ نو لار بندول جیل
کښی اچول دی. او امام مالكؒ او شافعیؒ فرمائی : د ﴿فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ﴾ مصداق ددوی مړه کول دی.
او ددے حدیث نه ئی هم استدلال دے : امرت ان اقاتل الناس ـ کافر دے. جنګ ورسره اوکړه. لیکن امام
تقی الدینؒ چه اول مالکی او بیا شافعی شو. هغه فرمائی : قتل اوقتال کښی فرق دے. قتال د قتل نه
غیر دے ـ قتل مړه کول او وژل دی. اوقتال له مرګ نه دے ضروری. نو دلالت په کښی صراحةً د تارك
الصلوة په قتل نشته.

ما ثبت بالسنة فی جمیع ایام السنه کښی شیخ عبدالحقؒ لیکلے دی : که د یو علاقے خلق اذان پریږدی
یا ختنه پریږدی ـ نو د قتال حکم ئی ورکړیدے. لیکن دلته قتل ئی نشته. که یو کس د مونځ ګزار
مخکښی تیریږی. دفع دے کړی : فان ابی فلیقاتله فانه شیطان . نو دلته د جنګ معنی ده. جنګ کولو او
مړکولو کښی لزوم نشته.

بعض ددینه هم استدلال کوی: من ترك الصلوة متعمدا فقد کفر ـ چه پیغمبر تارك ته کافر وئیلے دی. دغه کافی ده. دا روایت شم العوارض فی ذم العوارض کښې ملا علی قاریؒ راغستے دے. لیکن په دے د حسن سلمان تعلیق دے. لیکی: رواه الطبرانی فی المجمع الکبیر عن انس ـ ۳ : ۳۴۳ وهوضعیف کما ذکره الحافظ ابن حجر فی تلخیص الحبیر ۲ : ۱۴۰ ـ والشیخ الالبانیؒ فی ضعیف الجامع رقم: ۵۵۲۱ ـ او تاویل ئی داسے کړیدے: فلیس علی ظاهره عنداهل السنة ممن اعتبربل هومؤلی بان معناه قرب الکفر: ۳۰).

غیر مقلد مولانا عبدالعزیز نورستانی لیکی: بے نمازی کو بلا جھجک کافر قرار دیا جائے گا ـ (رساله صلواة : ۳).

د پروفیسر زرعی بارانی یونیورستهی جناب طالب الرحمن کتاب دے. دے د سلفیانو ترجمان اومناظر دے ـ عقائد علمائے دیوبند تحقیق و تعلیق په: ۱۳ داسے تحقیق کوی: علمائے دیوبند کے نزدیک بے نمازی کافر نہیں جبکہ علماء سلفیہ اسے کافر اور خارج از اسلام سمجھتے ہیں ـ

مولانا امین الله غیرمقلد لیکی: چه د مسلمانانو قبرستان کښې به نه شی دفن کیدے. جنازه به ئی نه کیږی ـ میراث به ئی نه تقسیمیږی ـ یعنی د بنکاره کفر تول لوازم ورله ثابتوی. په ده باندے به د مرتدینو احکام جاری کیږی. (فتاوی خالص ۳ : ۶۲) ـ او په التحقیقات کتاب کښې دغه محقق ورته کافر وائی ـ التحقیقات ۴۳۵ : قصدًا بغیرد عذر شرعی نه چه څوك مونځ پریږدی. دا کافر دے.

نو ددوی په خلورو امامانو کښې د دوی هم په کتاب تقریظ دے. اگر چه ایکسپائرډیټ خونه دے معلوم لیکن حکمة القرآن کښې د سورة ابراهیم د ۲۴ آیت: ﴿ كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ ﴾ د لاندے لیکلے دی: مستحبات د وړو څانگوپه شان دی. او فرائض د غټو څانگو پشان دی. انتهی.

دوی کله د سر سید احمد غوندے د فرائضو او مستحباتو نه انکار کوی. او کله ئی مفتی له ثابتوی. او عوامو له ئی نفی کوی. دلته ئی فرض اومستحب باندے قول کړیدے. سرسید احمد خان چه نیچری اوملحد دے. خپل تفسیر کښې: ﴿ وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ﴾ (بقرة : ۱۱۵) د لاندے ئی لیکلے دی: اس بات میں بہت سے لوگوں نے کوشش کی کہ کونسا حکم فرض ہے کونسا واجب کونسا سنت اور کونسا مستحب جو صرف ایک فرضی، خیالی یا اصطلاحی امور ہیں، اسلام سے کچھ چنداں تعلق نہیں ـ

اودغه حکمتی مولانا صاحب د سورة البقره ۲۳۹ آیت: ﴿ فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴾ ـ د لاندے حکمت القرآن کښې لیکلے دی: چه خوب کښې ورته د تفسیر دغه نوم خودلے شویدے. لیکی: الله فرمائی چه په کوم ځائی کښې بنده د

تماموارکانو، واجباتو سنن اومستحباتو رعایت ساتلو سره مونځ نه شی کولے. نوپه داسے حالت کښی به په روانه یا په سورلی مونځ کوی. انتهی.
دلته ئی د واجباتو، سنن، مستحباتونسبت الله ته کړیدے. فیا للعجب.
په مبحوث عنها مسئله کښی سورة ابراهیم دغه آیت د لاندے تشریح کوی. په دے وجه رسول الله ﷺ فرمائی: چه چاپه قصد سره مونځ پریخودو. نوده کفراوکړو. ځکه چه عرف اومحاوره کښی دغه شان حکم کیږی. بیا ددے حدیث مطلب دانه دے. چه تارك الصلوة یقینی کافر دے. بلکه دا په محاوره بناء دے. لکه خلق وائی: چه د اونے نه ئی غټه څانګه وهله داخوئی توله ختمه کړے ده.
نوددے وجے نه راجح قول داد ے: چه څوك همیشه دپاره مونځ پریږدی. نوبیا به یقینی کافرکیږی. اوکه کله کله ئی پریخودوکافرنه دے. انتهی.
عجیبه داده: چه د غیرمقلدینوتعارض یا تناقض تحقیق دے. او د احنافو هغه تعارض وی. فیا للعجب ولضیعة الادب.
علامه البانیؒ په دے موضوع رساله حکم تارك الصلوة لیکلے ده.
دلته ئی راجح قول د عدم کفرهغه چاله ذکرکړو. چه کله کله ئی اوکړی.
فتح الملهم شرح کښی دی: قیل فیه دلیل لمذهبنا ان تارك الصلوة یقتل بشرطه المقرر فی الفقه فیه نظر ظاهر لان الکلام فی المقاتلة لا فی القتال.
د طبقات الشافعیة الکبری په حواله د امام شافعیؒ او امام احمدؒ بحث ئی لیکلے دے: چه امام شافعیؒ د امام احمدؒ نه تپوس اوکړو. چه یوتن مونځونه پریږدی کافر دے اوکه نه دے؟. امام احمدؒ اوفرمائیل کافر دے. تپوس ئی ترے اوکړو. چه د مسلمان کولو طریقه ئی څه ده؟. نوامام احمدؒ اوفرمائیل: چه کلمه دے اووائی. امام شافعیؒ جواب ورکړو. چه کلمه خووائی. ورته ئی اووئیل مونځ دے اوکړی. نوامام شافعیؒ ورته اوفرمائیل: چه دکافرمونځ نه کیږی. امام احمدؒ جواب ورنکړو.
سوال: دادے چه د جزئے ذکرنشته. **جواب:** داسے ورکوی چه د "الناس" په ځائی د نسائی په روایت کښی "المشرکین" راغلے دے. او عربو مشرکانوله یا اسلام راوړل دی. یا ددوی قتل دے. جزیه نشته. **دویم جواب:** مراد د حدیث یا اسلام یا استسلام دے. او استسلام د جزئے په شکل راځی.
اوعلامه طیبیؒ لیکی: چه حدیث ابتداء باندے حمل دے. د جزئے یا صلح ومعاهدے حکم روستوراغلے دے.

د زندیق توبه

التقریرالرفیع کښې شیخ الحدیثؒ لیکلې دي: چه احناف وائي: زندیق هغه دے: من لا یتدین بدین کذا في فتح القدیر والدر والبحر. یعني د هیڅ دین پابند نه وي. سیکولرازم ئې خوښ دے.

حافظ ابن حجرؒ لیکلي دي: داد "یصان بیاد مانی" او د مزدك د فلسفے تابعدار وي. د مزدك باره کښې کتاب الملل والنحل مطبوعه مصر: ۱۴۶ باندے دي: وکان مزدك ینهی الناس عن المخالفة والمباغضة والقتال، ولما کان اکثر ذالك انما یقع بسبب النساء والاموال فاحل النساء واباح الاموال وجعل للناس شرکة فیها کاشتراکهم في الماء والنار والکلاء.

د امام احمدؒ یو روایت او د امام مالكؒ مسلك کښې د زندیق قتل دے. توبه ئې نه ده قبوله. او د امام شافعيؒ مسلك او بل روایت د امام احمدؒ دے. که توبه اوباسي قبلولے به شي. ورنه وژلے به شي.

او علامه شاميؒ لیکلي دي: چه د گرفتارئ نه ئې مخکښې توبه قبلیږي. او روستو به بیا قبلیدے نه شي. دے بحث کښې د سورة النساء آیت: ۱۳۷: ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا﴾. د لاندے تفسیرخازن کښې دي: ومثل هذا المتلاعب بالدین هل تقبل توبته ام لا؟ حکی عن علی بن ابی طالب انه قال لا یقبل توبته بل یقتل.

او علامه آلوسيؒ روح المعاني تفسیرکښې دا لیکلي دي: وخص بعضهم عدم الاستتابة بالمتلاعب المستخف اذا قامت قرینة علی ذالك.

"الا بحق الاسلام": دا اضافت لامیه دے: اذا فعلوا ذالك لایجوز اهدار دمائهم واستباحة اموالهم بسبب من الاسباب الا بحق الاسلام. (مرقات).

(۱): حق الاسلام کښې یو قتل دے قصاصًا: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنثَى بِالْأُنثَى﴾ (سورة البقرة: ۱۷۸). (۲): چه مرتدشو. درے ورځے به ورله د سوچ مهلت ورکړے. که اسلام نه قبلوي نو: من بدل دینه فاقتلوه.

(۳): واده ئې کړے وي. او زنا ترے صدورته راشي. یعني د محصن قتل قرآن کریم کښې سورة الفرقان ۶۸ کښې دي: ﴿وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ

يَلْقَ أَثَاماً ﴾. (۴): حربی سره چه کله د مسلمانانو جنگ وی۔ نو قتل ئی جائز بلکه ضروری ده۔ دغه مخ کښی ځیزونه په دهشت گردی کښی نه راځی۔ (۵): د اسلامی حکومت تنفيذ. چه دار الاسلام کښی اوشی۔ او د هغے خلاف باغیان مسلح بغاوت شروع کړی۔ او صلح نه کوی: ﴿فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ﴾ (سورة الحجرات: ۹)۔ (٦): سرقه کبرٰی چه سورة المائدة کښی ذکر دے: ﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَاداً أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾۔ (سورة المائدة: ۳۳)۔ (۷): د خپل ځان، ښځے، محارم او مال دفاع کښی د ضرورت د وجے حمله کوونکے وژل۔ چه کله په یرولو او حمله کولو نه روستو کیږی۔

فائده: یورپ په اسلام اعتراض کوی۔ چه جهاد کښی خلق مړه کوی۔ غلبیل کوزے ته وائی: چه تا کښی دوه سوری دی۔ او خپله ئی دا حال دے۔

پرتوګ دے سورے سورے راوړو　　چه هره سوړه دے ګندم خندا راځینه

په اګست ۱۹۴۵ء کښی چه کله امریکے د جاپان په هیروشیما او ناګاساکی ښارونو باندے ایتم بم راوغورځولو۔ ۳ لاکھ انسانان ئی په کښی مړه کړے دی۔ او د جرمنی هټلرد ۳۸ کروړ او ۵۲ لاکھ انسانانو د مرګ زمه دار دے۔ داخو مسلمانان نه وو۔ او د اټلی یو ډکټیټر په رومبنی جنګ عظیم کښی د ۸۵ لاکھ ۲۸ هزار ۸۳ انسانانو وینے توئے کړے دی۔ او د اسلام لس کاله ژوندون کښی نبی ﷺ تقریباً ۸۰ جنګونه یعنی جهادونه کړے دی۔ چه ۲۵۹ مسلمانان په کښی شهیدان شوے دی۔ او د مخالفین ۷۵۹ قتل شوے دی۔ د دواړو طرفو کسان ۱۸ ۱۰ دی۔ ګویا اوسطًا مقتولین په یو جنګ کښی دیارلس کسان جوړیږی۔

دا معلومات، "اشتراکیت اور اسلام یعنی معاشی مسائل کا حل" کتاب نه اغستلے شوے دی۔ (شائع کردہ ناظم ادارہ طلوع اسلام دہلی مطبوعہ جید پریس دہلی)۔

"وحسابهم على الله": ۔ قرآن کښی د سیدنا نوح علیه السلام بیان نقل دے: ﴿إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَى رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ﴾ (سورة الشعراء: ۱۱۳)۔ او نبی ﷺ ته الله فرمائی: ﴿فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ

وَعَلَیْنَا الْحِسَابُ﴾ (سورة الرعد : ٤٠) ـ دلته علی تفضلیه ده۔ ځکه په الله څه واجب او ضروری نه ده۔
ملاعلی قاریؒ لیکلے دی : د سبب اطلاق په مسبب باندے شوید ے۔ ځکه چه حساب د پوره علم
دپاره سبب دے۔ چه ګډه، بیزه خومره وخت کښې لوشلے شي۔ ددے نه مخکښې به ئې حساب کړے
وی۔ ددے معنوی متواتر نه معلومیږی۔ چه شرع ظاهرګوری۔ او دا هم معلومه شوه۔ چه اقرار د اسلام
د صحت او د احکامو د ترتب دپاره شرط دے۔ نود مرجئه عندیه غلطه ده۔ چه اعمالو ته حاجت نشته۔
او دا حدیث دلیل دے خبرے له هم دے۔ چه کوم اهل قبله د دین ضروریات منی۔ او د شریعت او
توحید التزام کوی۔ داسے بدعتیانو ته کافر وئیل صحیح نه دی۔

حدیث ۱۱ : وعن انس انه قال قال رسول الله ﷺ من صلی صلوتنا و استقبل قبلتنا..الخ ۔

یعنی "من صلی کصلاتنا" چا چه داسے مونځ اوکړو۔ لکه څرنګه چه مونږه مونځ کوو۔ زمونږ مونځ
کښې " ایاك نعبد و ایاك نستعین " د عقیده توحید او د اخلاص اظهار دے۔ "التحیات لله والصلوات
والطیبات" یعني قولي، بدني او مالي عبادات الله لره خاص کول د مومن شعار دے۔ زمونږ مونځ کښې
دی : ونخلع ونترك من یفجرك۔ عقیدی د توحید سره چه څوك برابر مونځ کوی مؤحد دے۔ او ورسره
نبوت اعتراف کوی د نبی ﷺ۔ ایمان شرعي ورته حاصل دے۔ او د هغے نه پس مونځ کوی۔ ځکه د
مونځ نه مخکښې به عقیده سموی۔ ﴿وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ یَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ یَکُنْ لَّهٗ شَرِیْكٌ فِی
الْمُلْكِ وَلَمْ یَکُنْ لَّهٗ وَلِیٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَکَبِّرْهُ تَکْبِیْرًا﴾ (سورة الاسراء : ۱۱۱) ۔ چه دا عقیده دے سمه
کړه نو : ﴿وَکَبِّرْهُ تَکْبِیْرًا﴾ ۔ نو اوس مونځ اوکړه۔ : ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَکّٰی﴾ عقیده دے سمه کړه :
﴿وَذَکَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰی﴾ بیا مونځ کوے۔ (سورة الاعلی : ۱٤، ۱٥)۔

فضائل اعمال کښې د فضائل تبلیغ رومبے صفحه باندے دا عبارت دے : نماز روزے کا تو کیا ذکر لاکھوں لوگ
کھلے ہوئے کفر و شرک میں مبتلا ہیں ۔

او شهادتین ئې ځکه ذکر نه کړل۔ چه حقیقة یا حکما "الصلوة" کښې داخل دی۔
نو که هغوی مونځونه کوی۔ نو هسے به کوی۔ چه مشرك دے۔ او مونځ ئې اوکړو۔ هغه عبث دے۔
ملاعلی قاریؒ لیکی : ولا توجد الا من مؤحد ، معترف بنبوته ومن اعترف به فقد اعترف بجمیع ما جاء به۔
او علامه هیثميؒ لیکی : ای صلوة مثل صلاتنا الشرعیة من سائر الوجوه ویلزم من ذالك الاعتراف بتوحیدالله
وبرسالته نبیا وعمومها وبجمیع ما جاء به من عندالله۔

" **واستقبل قبلتنا** " : زمونږ قبلے ته ئې مخ کړو۔ دا ځکه وائی چه مونځ نه مخکښې یو کس چه کوم

طرف ته مخ برابره وی۔ دهغے نه ئی دین معلومیدے شی۔ یهودی دے۔ نو دهغه مخ بیت المقدس طرف ته دے۔ نوقبله هرڅوك پیژنی۔ دا ئی دینی شرائع ذکرکول ئی مقصود دی۔

"واکل ذبیحتنا": دا ئی عادات ذکرکړل چه هغه زمونږ ذبیحه خوری۔ نو "فذالك المسلم" نو ده ته به مسلمان وائی۔ چه کله ئی حلال ګنړی۔ که روستو ئی خوری یا نه خوری باك ئی نشته۔

"واستقبل قبلتنا وتوجه الی قبلتنا": مطلب دادے چه اهل قبله دے۔ یعنی د دین ضروریات منی۔ ﴿لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ (سورة البقرة: ۱۷۷) چه هغه عقائد، اعمال او اخلاق دی۔

د اهل کتاب او د مسلمانانو مونځ په بعض اعتباراتو مثلاً قیام او سجده کښی یو حسابیږی۔ نو مکمل امتیاز به د دواړو مینځ کښی په قبلے سره وی۔ او "اکل ذبیحتنا" د عادت سره تعلق ساتی۔ مسلمان او اهل کتاب د یو بل نه "من حیث العبادة والعادة" دواړه جدا دی۔ او د نبی ﷺ په زمانه کښی اهل کتابو د مسلمان ذبیحه نه خوړله۔

بعض په دے غلط فهمی کښی دی۔ چه دا اهل قبله دی۔ نو کافر ورته مه وایه۔ (شرح فقه اکبر)۔

اهل قبله دا معنی نه ده۔ چه قبلے ته مخ کوی۔ اهل قبله معنی داده: چه د دین ضروریات منی۔ څوك د دین ضروریات نه منی۔ نو هغه ته به کافر وائی۔ (اکفار الملحدین) ۔ لکه قادیانے که قبلے ته هم مخ کوی۔ د تسبیح آله هم ورسره وی۔ تهجد، تلاوت هم کوی۔ خود خاتم النبیین په عقیده کښی تاویل غلط کوی۔ نو مونږ ورته کافر وایو۔

شیعه ټول کافر دی او که نه؟

مسئله: د شیعه ګانو اکثرے ډلے کافرے دی۔

مفتی محمدفرید صاحب په فتاوی فریدیه ۱: ۱۳۲ باندے لیکلے دی: موجوده دور کے شیعه صدیق اکبر کی صحبت اور عائشه کی براءت کے منکر ہیں اور الله سے بداء اور قرآن میں کمی وبیشی اور امامت کی نبوت پر فضیلت کلا او بعضا کے قائل ہیں لہذا انکے کافر ہونے میں شک نہیں (شامی ۳: ۳۲۱ مطلب فی حکم سب الشیخین)۔

هرچه خوارج اومعتزله دی۔ دوی ته اکثرعلماء کافرنه وائی۔ خوارج او معتزله په افراط د جعلی تقوٰی کښی خراب شوے وو۔ چه وائی د مسلمان نه خنګه ګناه صدور ته راتلے شی؟۔

مرقات ۷: ۱۰۷ کښی دی: قال الخطابی اجمع علماء المسلمین علی ان الخوارج علی ضلالتهم فرقة من فرق المسلمین واجازوا مناکحتهم واکل ذبائحهم وقبول شهاداتهم۔

جماعت المسلمین که هغوی خپل تنظیم داسے ګنړی۔ چه د ځان نه علاوه بل ته مسلم نه وائی۔ نودا تنظیم بدعت دے۔ (الحق الصریح)۔

معلومه شوه. هغه تنظیم بدعت نه دے چه تنظیم ئی وی. او نورو مسلمانانو ته هم مسلمان وائی.
نودلته حدیث کښې مسلم اوخودلو. چه مسلمین به هغه څوك وی. چه دا درے خبرے په کښې وی "من صلی صلوتنا واستقبل قبلتنا واکل ذبیحتنا فذالك المسلم" ـ نو دوی ته به مسلمان وائی. لنډه دا چه د دین ضروریات څوك منی. نو هغه ته به مسلمان وائی. چه د دین د ضروریاتو نه انکارکوی. نو هغه به مسلمان نه وی.
او علماء چه لیکی: که په چاکښې یو وجه د اسلام او ۹۹ د کفر وی. نود کفرحکم به پرے نه لګوے.
نو شاه انورؒ لیکلے دی: مرادهم ان احدا منهم لو قال کلمة احتملت وجهًا من الاسلام نحملها علیه ،ولا نحملها علی وجه الکفر وان کثرت ، لانا مالم نتبین الحال ،ولم ندر انه اراد هذا الاحتمال ،لا نحکم علیه بالکفربتلك الکلمة المحتملة ولا نبادرالی الاکفار.
روستو هغوی لیکی: چه ددے تعلق د اقوالوسره دے. اود افعالوسره نه دے متعلق. لیکن کتاب کښې لیکی: په ممبر ئی واضح وائی: فانه کافرمکفربلاریب. (فیض الباری ٤ : ٤٧٣).
" **فلا تخفروا الله** ": ـ رباعی دے. خیانت مه کوے یعنی دغه سړے مه مرکوے. کوم کس کښې چه دغه درے خبرے موجود دی. د ده مال بچ دے. "عصموا منی دماء هم واموالهم" ـ نو بیا د هغه وینه مه تویوه. دا خطاب هغه مسلمان ته دے چه امن بربادوی. او تګی ورسره مه کوے.

مسئله: کوم کس چه علماء دیوبند (مجموعی حیثیت سره) د اسلام نه خارج ګنړی. د هغه د لاس ذبیحه به نه خوړلے کیږی. نه به هغه د قربانی په حصوکښې شریکولے شی. ورنه خپله قربانی به ئی مرداره شی. (فتاویٰ محمودیه ٢٦ : ١٧٩).

حدیث ۱۲: عن ابی هریرة قال اتی اعرابی النبی ﷺ فقال دلنی علی عمل ..... الخ.

اعرابی مفرد دے. جمع ئی اعراب ده. قرآن کریم کښې دی: ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا﴾ (سورة الحجرات : ١٤) ـ یو عربی دے. او یو اعرابی دے. دواړو کښې فرق دے. عربی ته د که اعرابی اوئیل نوخفه کیږی. او که اعرابی ته عربی وائی. نو ډیر زیات خوشحالیږی.
"فان العرب الجیل الخاص سواء سکن البوادی ام سکن القریٰ. واما الاعراب فلا یطلق الا علی من کان یسکن البوادی فقط. والاعرابی اذا قیل له : یا عربی فرح ، والعربی اذا قیل له : یا اعرابی غضب. (اللباب فی علوم الکتاب)
نبی ﷺ له راغلو خو ډیر زیرك وو. بعض علماء وائی دده نوم لقیط وو. او بعض وائی سعد وو. تپوس ئی ډیر ښکلے کړیدے: " دلنی علی عمل اذا عملته دخلت الجنة " ـ جنت ته تلل غواړم. ماته د جنت د

تللو اعمال اوخایه۔ جنت ته به ځی د الله په فضل۔ خو عمل د هغه د فضل د راخکلو یوه ذریعه ده۔

حدیث کښی راځی: یو هم په عمل نشی تلے۔ نبی ﷺ ته ئی وئیل: ولا انت یا رسول الله۔ وئیل څه هم : الا ان یتغمدنی الله بفضله ورحمته۔ (بخاری نمبر: ۶۰۰۸، مسلم نمبر: ۲۸۱۶)۔ ورته ئی اووئیل نبی ﷺ : تعبد الله یعنی: اعبدوا الله۔ د الله عبادت کوه۔

"شیئًا" یا مفعول به یا مفعول مطلق "ولا تشرك به اشراكًا" "ولا تشرك به شیئًا"۔ بت ئی نه دے وئیلے که هغه پیر وی۔ که هغه ګنګا وی۔ او که هغه جمنا وی۔ که دیوی وی یا تُلسی۔

غور غشتو باباجی پرے بحث کړیدے "ولا تشرك فی الذات ولا فی الصفات۔ لعموم قوله تعالی ولا تشرك فمن قال ان محمدًا ﷺ و عیسیٰ بن مریم علیهما السلام کان هو الله تعالی ظهر فی صورة الانسان فهو مشرك کافر بالله تعالیٰ بالذات"۔ څوك چه وائی: نبی ﷺ یا عیسٰی علیه السلام د انسان په شکل کښی ظاهر شویدے۔ او صفات ئی ورله د الوهیت ورکړے دی۔ نو هغه به کافر او مشرك وی۔

﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ﴾ (سورة المائدة: ۷۲)۔

شاه عبدالقادرؒ وائی: چه د هغوی دا عقیده وه۔ چه بره الله او خکته عیسٰی علیه السلام دے۔

دے باباجی چه څه اووئیل۔ داده بعضو بریلیانو عقیده هم ده۔

هغوی اوس هم په خپلو جلسو او شعرونو کښی وائی:

وہی جو مستوی تھا عرش پہ خدا ہو کر　　اُتر پڑا ہے مدینہ میں مصطفیٰ ہو کر

بره په عرش ورته الله وائی۔ او خکته په مدینه کښی ورته مصطفی وائی۔ العیاذ بالله۔ نو چه دے مشرك او کافر نه وی۔ نو بیا به څوك وی۔

"والذی نفسی": "ید" کښی غوره خبره د امام مالكؒ ده "الاستواء معلوم والکیفیة مجهول والسؤال عنه بدعة" یا "الاستواء معلوم والکیفیة غیر معقولة"۔

مولا احسان صاحب مد ظله لیکلے دی: چه دا امام محمد وائی۔ امام محمد نه وائی۔ امام مالك داسے وائی د صفاتو مسئله ده۔

د امام مالكؒ اصل الفاظ دادی: الاستواء مجهول والکیف عنه غیر معقول والمسالة عن هذا بدعة۔
(التمهید لابن عبد البرؒ ۱: ۵۹)۔

"لا ازید علی هذا شیئًا ولا انقص منه": دلته یو سوال دے۔ چه کمے خو به نه کوی۔ نو زیاتے خو خیر دے۔ نو ولے ئی داسے اووئیل: "لا ازید ولا انقص"۔

جواب ۱ : کنایۃ عن کمال الانقیاد۔ څه به پوره تابعداری کوم۔ خلق وائی مِنُ و عَنُ به پرے عمل کوم چه دا څه دے راته اووئیل۔ دا به پوره پوره ادا کوم۔

جواب ۲ : شیخ الهندؒ وائی دلته مقصد هغه " لا انقص "او " لا ازید " دے۔ د کلام د تحسین د پاره ذکر دے۔ د هغے دپاره نظیر دادے : ﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ (سورۃ الاعراف : ۳۴) ۔ چه نیته راشي نو مخکښې کیدل خو بالکل نشي کیدے۔ ځرنګه چه مخکښې کیدل ممتنع دی۔ دارنګه روسته کیدل هم ممتنع دی۔ نو دائی په دے بنیاد باندے اووئیلو۔ شیخ الهندؒ د هغے دپاره مثال ذکر کړیدے۔

مثال : چه ته بازار کښې ټوپی اخلے۔ او دوکاندار ته اووائی چه قیمت ئی څه دے ؟۔ نو هغه وائی : دا په اتیا روپی ده۔ نو ته ورته وائی : څه کمے بیشے به په کښې اونه کړے۔ او مقصد ئی صرف کمے وی۔ زیاتے طرداً للباب ذکر شو۔

جواب ۳ : دا سړے د قوم نمائنده وو۔ او دا خبره به ئی قوم ته رسوله۔ نو هغه خبره کوی۔ چه څه به په دے کښې کمے زیاتے نه کوم۔ تا چه راته څه اوفرمائیل نو هغه به رسوم۔ " لا ازید " زیاتے به نه کوم په هغه خبره چه ما واوریده۔

بعض خلق داسے وی۔ چه ته ئی د یو کار د پاره اولیږی۔ چه سوال جواب راوړه۔ نو چه هغه بل ورته څه وئیلے وی۔ نو دے په کښې د ځان نه یوه حاشیه سوا کړی۔ یا هغه غرضی خبره کښې کوتاهی راولی۔ نو وائی څه قاصد یم د قاصد چه کومه طریقه ده۔ هغه به پوره کومه۔ چه څه مے واوریدل هغه به صرف رسوم۔ آخوا دیخوا به په کښې نه کوم۔

څلورم جواب : " لا ازید علی هذا " څه به زیاتے نه کوم۔ په دے سوال نور تپوس نه به نه کوم۔ " ولا انقص فی العمل " په عمل کښې به کمے نه کوم۔

پنځم جواب : خه جواب دادے : چه فرائض یادوی۔ مزید او مزید علیه د یو جنس نه حسابیږی۔ څه به د ځان نه په فرضو کښې فرض۔ په سنتو کښې سنت۔ په مستحبو کښې به مستحب نه جوړوم۔ د مسجد نبوی د سیدنا عثمان د توسیع په مسئله کښې حافظ ابن کثیرؒ لیکلے دی : فیستدل بذالك علی الراجح من قول العلماء ان حکم الزیادۃ حکم المزید ..الخ۔ (البدایۃ والنهایۃ ۲ : ۲۳۰)۔

ظاهر کښې سوال دے حدیث نه دا معلومیږي.چه سنت به نه کوے. صلوة مکتوبه راغے. نود سنت تذکره ئې اونه کړه.

جواب داد ے: سنت به کوي. چه سنت څوك نه کوي. نو یا ورله عتاب او یا ورله عقاب دے.

فتاوی ثنائیه ۱: ۲٦۷ کښې مولانا امرتسری لیکي: سنتوں کی وضع رفع درجات کے لئے ہے ترک سنن سے رفع درجات میں کمی رہتی ہے مواخذہ نہیں ہوگا.

الحق الصریح کښې دی: چه سنت پریږدی. دا ټیك خبره نه ده.

د مولوی ثناء الله او د بعض غیرمقلدینو د سنت متعلق بے وزنه موقف دد ے اهمیت ختمول غواړي. دا صحیح نه دی.

وړیسے دغه کتاب کښې دی ــ چه څوك د سنتو په ترك اصرارکوي ـ دده ګواهی د امام احمدؒ او د شافعیؒ په مسلك کښې رد ده.

د علامه ابن تیمیهؒ مجموعة الفتاوی کښې دی: السنن الرواتب من اصرعلی ترکها دل ذالك علی قلة دینه وردت شهادته فی مذهب احمد والشافعی وغیرهما. (۱۲ : ۷۷).

علامه طیبیؒ هم دلته لیکلے دی: ان المواظبة علی ترك السنن مذمومة وترد بها الشهادة الا انه لیس بعاص بل هومفلح ناج.

شاه عبدالعزیزؒ په فتح العزیز کښې لیکلے دی: چه څوك د مستحباتو اهتمام پریږدی. بله ورځ به د سنتو اهتمام پریږدی. نوبله ورځ به د واجباتو اهتمام پریږدی. نوبله ورځ به بیا د فرائضو اهتمام پریږدی.

عبدالله بن مبارکؒ فرمائي: من تهاون بالادب عوقب بحرمان السنن ومن تهاون بالسنن عوقب بحرمان الفرائض ومن تهاون بالفرائض عوقب بحرمان المعرفة. (مدارج السالکین ۲ : ۳۸۱).

فتح الـه شرح کښې علامه هیثمیؒ په باب السنن وفضلها کښې لیکلے دی: واعلم انه ینبغی الاعتناء بالنوافل والمواظبة علیها لا سیما الرواتب فقد قال ائمتنا ام من داوم علی ترکها او ترك تسبیحات الرکوع والسجود ردت شهادته لتهاونه بالدین.

او علامه محمد ادریس کاندهلویؒ په خپل التعلیق الصبیح کښې دد ے باب په فصل ثانی کښې په: ۴۲ باند ے د " الا ادلك علی ابواب الخیر " په وضاحت کښې لیکي: قال بعض العلماء من ترك الادب عوقب بحرمان النوافل ومن عوقب بحرمان النوافل عوقب بحرمان السنن ومن عوقب بحرمان السنن عوقب

بحرمان الفرائض ۔

اللباب کښې مفسرابن عادل الحنبلی د سورۃ آل عمران د ۱۱۲ آیت : ﴿وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ﴾ ۔ د لاندے د امام احمدؒ قول نقل کړیدے : قال الامام احمد وقدسئل عن تارك السنن هل تقبل شهادته ؟ قال ذالك رجل سوء لانه اذا وقع فی ترك السنن ادی ذالك الی ترك الفرائض 'واذا وقع فی ترك الفرائض 'وقع فی استحقار الشريعة ومن ابتلی بذالك وقع فی الكفر ۔ انتهی ۔

سوال : په دے حدیث کښې ئی د سنتو ذکر ولے نه دے کړے ؟ ۔

جواب : مرقات کښې ملاعلی قاریؒ جواب کوی ۔ چه دا سنت مکملات دپاره د فرائضو دی ۔ داسے نوافل هم دی ۔ په فرائضو کښې چه کومے کوتاهے شوے دی ۔ نو نوافل به ئی ورله پوره کوی ۔ دا به په وقت العرض کښې وی ۔ د هغے تکمله او تتمه به جوړیږی ۔ یعنی چه کله الله ته عملونه پیش کیدے شی ۔

ددے حدیث په رڼا کښې په احنافو باندے اعتراض دے ۔ چه وتر ته تاسو واجب وائی ۔ او په دے حدیث کښې د هغے ذکر نشته ۔ نو وتر واجب نه دی ؟ ۔

جواب : قاضی شوکانیؒ په نیل الاوطار کښې لیکلے دی : ددے حدیث نه دلیل نیول په دے باندے چه وتر واجب نه دی ۔ دا صحیح نه ده ۔ دا ابتدائی تعلیم دے ۔

دویمه خبره داده : چه وتر فرض نه دی وتر واجب دی ۔ د احنافو په نزد باندے د فرضو او د واجبو مینځ کښې فرق شته دے ۔ نو دلته د فرض خبره کوی ۔ د واجب خبره نه کوی ۔

سوال : اخترونه ئی په کښې یاد نه کړل ؟ ۔

جواب : نو دلته هغه یادوی چه فی الیوم واللیلة ۲۴ گھنٹے چه کوم فرائض دی ۔ هغه مراد دی ۔ هغه نه دی مراد چه په کال کښې دوه ځله وی ۔ چه هغے ته اخترونه وئیلے کیږی ۔ شوافع په مونږ باندے دا اعتراض کوی ۔ چه په دے کښې وتر یاد نه کړل ۔ نو دا وتر واجب نه دی ۔ مونږ وایو په دے کښې صدقه فطر هم نه ده یاده کړے ۔ او صدقه فطر ته تاسو فرض وائی ۔

امام نوویؒ په شرح د مسلم کښې لیکی : چه تهجد هم امت له فرض نه دی ۔

سوال : د شهادت او د حد ذکر ولے نشته ؟ ۔

جواب دادے : دا سړے چونکه مسلمان وو ۔ په دے وجه عرض الشهادة ته حاجت نه وو ۔ او د حد تذکره

د سیدنا ابن عباس رضی الله عنه په روایت کښې شته۔

"من اهل الجنة":۔ دا هم مسئله ده۔ چه څوك چاته جنتي نشي وئیلے قطعًا یقینًا۔ خوپورے چه د هغوی جنت تلل په نص سره ثابت نه وی۔ "ابوبکر فی الجنة عثمان فی الجنة عمرفی الجنة علی فی الجنة" چه پیغمبر وئیلے دی۔ لکه دلته چه ددے سړی په باره کښې اووئیل۔

یو کتاب دے په هغے کښې د درویشتمی د سورتونو ذکر وو۔ هغے کتاب ته ئی جواهرالنفیس وئیلو نو هغه یو واقعه داسے شروع کوی: اتحب ان تدخل الجنة قطعًا۔ ته جنت ته قطعًا تلل غواړے۔ نو هغه اووئیل ولے نه۔ جنت خو دهر چا خوخ وی۔ وئیل ئی په درویشتمی په شپه باندے په مونځ کښې سورة العنکبوت اوسورة الروم په فرضو کښې وایه۔ داده بدعتیانو دلیل دے۔

یو خو دا خبره په دے غلطه ده۔ چه قطعًا وئیل غلط دی۔ ته څنګه د یو تن دپاره د سورة العنکبوت او سورة الروم په وئیلو د جنت ټکټ ورکوے۔

دوېم داده: چه دغے ضعیف کتاب کښې دی۔ په فرض مونځ کښې به ئی امام وائی۔ ته ئی په فرض مونځ کښې نه وائی۔

سورة العنکبوت او روم د تورو په پړقا کښې د نجاشی مخکښې صحابو وئیلے دی۔ تفسیرخازن کښې ئی ذکر دے ددے: ﴿إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ﴾ (سورة آل عمران: ۶۸) ـ ایت په تشریح کښې: فقراعلیه سورة العنکبوت والروم ففاضت عینا النجاشی واصحابه من الدمع۔

دا رواجی سورتونه او دهغے تخصیص اود شپے تخصیص بدعت دے۔

"فلما ولّی":۔ دده په مخکښې ئی ورته نه وئیل۔ هسے نه چه دا په عجب کښې راشی۔ نو دهغه د تربیت خیال ئی اوساتلو۔ چه هغه آخوا شو۔ نو نبی ﷺ خبره اوکړه۔ جنت ته به هغه څوك ځی۔ چه "لا ازید علی هذا شیئًا ولا انقص منه" هغه عقیده لری۔ دین کښې د ځان نه کمے او زیاتے نه کوی۔

فوائد الحدیث: (۱): د علماؤنه فائده مند سوالونه مطلوب دی۔ (۲): د مسلمان عزم به تول اوامر پوره کول وی۔ تردے چه په قسم ئی هم مؤکد کولے شی۔ (۳): د یو عالم د چا تعریف کولے شی چه کله ئی ورته فضیلت ښکاره شی۔ (۴): مخامخ تعریفونه کول مناسب نه دی۔ (۵): اول جامع جملے او روستو ئی وضاحت پکار دے۔

حدیث ۱۳ :وعن سفیان بن عبداللہ الثقفی قال قلت یارسول اللہ قل لی فی الاسلام..الخ۔

ای فی مبادئ الاسلام ۔ طائف کښې بنوثقیف کومه قبیله ده۔ د هغې سره ئې تعلق دے۔ په دغه قبیله کښې حجاج بن یوسف هم وو۔ دلته نبی ﷺ په کانړو باندے ویشتلے شوے وو۔ نبی ﷺ فرمائیلے وو ۔ ددے قوم نه به څه خلق پیدا شی ۔ چه نیکان به وی ۔ محمد بن قاسم چه مشهور مجاهد تیرشویدے هغه هم ثقفی دے۔

"لا اسال عنه احدًا بعدك": بعض علماء وائی : بعد موتك۔ خو غوره خبره داده : وفی روایة غیراحد بعدك .

"امنت بالله": ۔ کښې ټول عقائد راغلل او "ثم استقم" کښې چه څومره اعمال دی۔ هغه په کښې راغلل "ثم استقم" کښې د استقامت ذکر دے۔

بحث د استقامت

علامه طیبیؒ وائی : استقامت په عقیده کښې په عمل کښې هم۔ اواستقامت په اخلاقو کښې هم وی۔

استقامت په عقیده کښې دادے : چه په مسئلو د صفاتو کښې به تعطیل نه کوی۔ اونه به تشبیه ورکوی ۔ نه به د الله صفاتوله چهټی ورکوی۔ چه نه منم لکه معتزله ئې نه منی۔ او نه به ئې تشبیه ورکوے ۔ چه د الله صفات العیاذ بالله د مخلوق د صفاتوسره برابر وی۔ دابه دے عقیده وی : ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ﴾ نو دا به دے هم عقیده وی : ﴿وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ﴾ (سورة الشوری : ۱۱)۔

دا په عقیده کښې په مسئلو د صفاتو کښې استقامت دے۔

دویم یوتن استقامت په اعمالو کښې اختیاروی۔ نوپه اعمالو کښې استقامت دادے۔ چه کمے زیاتے به نه کوے۔ لکه اوس تیرشو " لا ازید علی هذا ولا انقص منه " داپه عمل کښې استقامت دے۔

دریم په اخلاقو کښې استقامت دادے : چه افراط او تفریط به نه کوی۔ نه به سړے ډیراوچتوی۔ او نه به ئې ډیرخکته کوی۔ بین بین به ئې ساتی۔

استقامت ته تعصب نه وائی۔ دیته تصلب وائی۔ دواړو کښې فرق دے۔ تعصب غلط دے۔ د تعصب معنی مولانا اشرف علی تهانویؒ کړے ده : ناحق کی پچ رکھنا ۔ (تحفة العلماء) ۔ ضد په کښې راشی۔ په غلطه اولاړوی۔ دغه شان ډرت ډیر نقصانی وی۔ تصلب معنی ده : په خپل موقف حقه باندے کلك

اودریدل ۔ او دا فرق مولانا اشرف علی تهانویؒ بیان القرآن کښې : ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَىٰ شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَىٰ شَيْءٍ ﴾ کښې هم ذکر دے ۔

او بیا د استقامت مصداق سیدنا ابوبکررضی الله عنه بیان کړیدے : چه شرك به نه کوی ۔ سیدنا عثمان رضی الله عنه بیان کړیدے : چه اداء الفرائض دی ۔ سیدنا علی رضی الله عنه بیان کړیدے : چه د اخلاص نه به کار اخلی ۔ سیدنا عمر رضی الله عنه بیان کړیدے : لا یروغون روغان الثعالب ۔

د لومړی په شان تلل راتلل به نه کوی ۔ دیته استقامت وائی ۔ چه په نیغه لار باندے روان وی ۔

ته به نمبر پلیټ نه بدلوے ۔ چه نمبر پلیټ بدلوی ۔ نودا غل وی ۔ ده ته څه خطره ده ۔

آئین جوانمردی حق گوئی و بے باکی   اللہ کے شیروں کو آتی نہیں روباہی

مرقات کښې ملاعلی قاریؒ دا لیکلے دی : الاستقامة خیرمن ألف کرامة ۔

اود سیدنا علی رضی الله عنه قول هم مرقات ذکرکړیدے ۔ یو ځل نبی ﷺ له راغلو ۔ وئیل ئې : یا رسول الله اوصنی ۔ نبی ﷺ ورته اووئیل : قل ربی الله ثم استقم ۔ نبی ﷺ ته سیدنا علی رضی الله عنه اوفرمائیل : دا حکم عملی کول ډیرګران دی : قلت ربی الله وما توفیقی الا بالله علیه توکلت والیه انیب ۔

نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل : لیهنك العلم یا ابا الحسن ۔ اے ابوالحسن علم دے مبارك شه ۔

په دے کښې ټول اعمال د زړه او د بدن اوامر او احسان راغلل ۔ ځکه چه استقامت هله راځی ۔ چه کوږوالے په کښې بالکل نه وی ۔

قرآن کریم کښې راځی : ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ (سورة الاحقاف : ۱۳) ﴿وَأَن لَّوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُم مَّاءً غَدَقًا﴾ (سورة الجن : ۱۶) ۔ ﴿فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾ (سورة التوبة : ۷) ۔ نبی ﷺ صحابو ته فرمائیل : دا ګیره مے ځکه سپینګی : شیبتنی سورة الهود واخواتها ۔ (مسندابویعلی : ۸۸۰) ۔

امام رازیؒ فرمائی : چه استقامت ګران شرط دے ۔ ځکه خوروایت کښې دی استقیموا ولن تحصوا ۔ (بیهقی نمبر : ۳۸۹) ۔

ملاعلی قاریؒ وائی : په استقامت کښې اعمال القلوب هم راځی ۔ د زړه اعمال څومره چه دی ۔ او اعمال الابدان هم راځی ۔ په دے کښې اسلام ، ایمان او احسان هم داخل دے ۔ بغیر ددے نه استقامت نه راځی ۔ ځکه قانون دادے ۔ چه استقامت کښې "شیء من الاعوجاج" بالکل نه راځی ۔

د زاویٔ اقسام

د زاویٔ درے قسمه دی : (۱) زاویه حاده - (۲) : زاویه مُنفرجه - (۳) : زاویه قائمه - دا آخری به جوړوی - نه به حاده کیږی - او نه به منفرجه کیږی - زاویه قائمه ده ۹۰ درجے به برابر وی - نه به ۷۰ ته راځی - او نه به ۱۲۰ ته ځی - نه به افراط کوی - او نه به تفریط کوی -

اوامام غزالیؒ وائی : چه استقامت په دنیا کښی ډیر ګران کار دے - لکه څرنګه چه په پل صراط باندے تیریدل ګران دی -

حدیث ۱۴ : وعن طلحة بن عبید الله قال جاء رجل الی رسول الله ﷺ من اهل نجد..الخ-

ددوی تعلق د قریشو د خاندان د بنوتمیم سره دے - په مکه مکرمه کښی د نبی ﷺ د ولادت نه ۲۵ کاله روستو پیدا شویدے - ددوی په باره کښی نبی ﷺ فرمائیلے دی : من سره ان ینظر الی شهید یمشی علی وجه الارض فلینظر الی طلحة بن عبید الله - (ترمذی کتاب المناقب) -

ابومحمد طلحه رضی الله عنه بدر له نه وو تلے - حصه ورله نبی ﷺ ورکړے وه - ځکه د نبی ﷺ په مشوره باندے پاتے شوے وو - احد کښی د ده ډیری قربانے دی - لاس ئی شل شوے وو - اوخلیریشت غټ غټ زخمونه ئی په بدن باندے وو - ۳۰ هجری د ۵۸ کالو په عمر کښی د بصرے په مضافاتو کښی شهید شویدے -

د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه غوندے اووم پلار کښی نبی ﷺ سره شریک دے - سیدنا ابوبکر رضی الله عنه به فرمائیل : چه د احد ورځ ټوله د طلحه ده -

عشره مبشره کښی دے - د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه په لاس ئی اسلام قبول کړیدے - دوی ته " طلحة الخیر " او " طلحة الجود " هم وئیلے کیږی -

الاستیعاب لابن عبدالبر ۲ : ۲۲۳ باندے دی : طلحه رضی الله عنه چه کله وفات شو - او دفن شو - نوبعض خپلوانو خوب کښی اولیده - چه ما ددے اوبونه بچ کړے - ځکه په کښی غرق یم - او دا خوب ئی درے ځله اولیده - چه کله ئی ورله قبر اوسپړدلو - نو داسے سرسبز شاداب وو لکه چقندر - نو اوبه ئی ترینه لرکړے - او بیائی راویستلو - زمکے سره ئی د ګیرے او د مخ کومه حصه وه - هغه زمکے خوړلے وه - هغوی ورله په اهل ابی بکره کښی یو کور په لس زره واغستو - او په هغے کښی ئی دفن کړو -

"جاء رجل": - دا سړے څوك دے دا ضمام بن ثعلبه دے - ددے نه دا معلومه شوه - چه هغه دمخکښې حدیث سړے او دا سړے جدا دے. هغه مخکښې روایت کښې کوم سړے راغلے وو. د هغه نوم لقیط وو یا سعدبن الاحزم وو. دا راجح قول دے. او دلته حدیث کښې ضمام بن ثعلبه مراد دے. دا ضمام بن ثعلبه د بنوسعد قبیلے نه راغلے وو. بنوسعد د بی بی حلیمې سعدیه قبیله وه.

"من اهل نجد": - د نجدیانو نه وو یو حجاز دے. یو تهامه ده. او یو نجد دے. دا تهامه خکته حصے ته وئیلے کیږی. او نجد وئیلے کیږی بره حصے ته.

مفتی رشید احمد لدهیانویؒ د احسن الفتاوی ۱ : ۴۸۸ باندے لیکی: چه حافظ ابن حجرؒ فرمائی :
اما نجد فهو كل مكان مرتفع وهواسم لعشرة مواضع والمراد منها ههنا ما اعلاها تهامة واليمن واسفلها الشام والعراق ، النجد الناحية التى بين الحجاز والعراق.

حجازوئیلے کیږی هموارې حصے ته. نن صبا دار الخلافة د سعودي عرب دغه ریاض علاقے ته نجد وئیلے کیږی. شیخ محمد بن عبد الوهابؒ نجدی دے. د درعیه کلی سره ئے تعلق وو. درعیه د ریاض نه لږ آخوا څائی دے. د حدیث نه معلومه شوه: چه هرنجدی غلطے عقیدے والا نه وی.

"ثائر الراس": - دا حال واقع شوید ے. د "رجل" نه - بیر ویختو والا. مونږ په پښتو کښې هم دا محاوره استعمالوو. یو تن بل ته وائی څه نائی له څم سرخروم یعنی د سر ویخته خروی. نو ذکرد سر مراد ترینه ویخته. یا میلمه راشی وائی بوتل دریاندے څکوم بوتل خونه دے ما فی البوتل دے. د سر ویخته ئی بیر وو. طالب العلم وو. او مسافر وو. د زیب و زینت فکر ئی نه کولو.

دوېم دا چه ثائرُ الراس دے یعنی مرفوع. نو بیا دا د "رجل" دپاره صفت دے. یو صفت د رجل دادے چه نجدی دے. دویم ثائر الراس دے.

اعتراض: په دے باندے اعتراض دادے چه "رجل" خو موصوف دے او "ثائر الراس" ورله صفت دے. او موصوف صفت کښې مطابقت وی" رجل" نکره دے "ثائر الراس" کښې د اضافت د وجے نه معرفه کیدل راغلے دی. چه صفت معرفه اوموصوف نکره وی. نو دا ترکیب خونه صحیح کیږی.

جواب: دا اضافت لفظی دے. او اضافت لفظی د تخفیف فائده ورکوی. د تعریف نه ورکوی. بیا هم سره د اضافت نه نکره دے. او دلته "ثائر الراس" نکره ده د "رجل" دپاره صفت واقع دے. داخو په هغه

ترتیب باندے چه موصوف اوصفت ئی جوړوی. اوچه حال ئی جوړوی. نو بیا اعتراض دے " جاء رجل " رجل ذوالحال دے " ثائر الراس " حال واقع شوید ے. نوسوال راځی چه د نکرے نه خو حال نه راځی " رجل " خو نکره ده. څنګه ئی ذوالحال جوړوے. ذوالحال نکره نه وی. معرفه وی.

جواب : رجل تش رجل نه دے. "رجل من اهل نجد" دے لکه: ﴿وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ﴾ (سورة البقرة : ۲۲۱). "رجل من اهل نجد" دا موصوف صفت ذوالحال دے. اوحال ترے نه " ثائر الراس" راغلے دے : ای ثائر شعر الراس. ګویا دا نکره مخصصه ده.

" دوی صوته ":- مونږ د هغه د آواز ګنګارے اوریدلو. یریدلو هسے نه چه زما نه سوال هیرشی نودخپل کارسره ئی کاروو. سبق ئی ګوته کولو.

" ولا نفقه ما یقول ":- ټول صحابه کرام دی. آواز ئی اوریدلو. خودخبرے په نوعیت نه پوهیدلو. اګرچه ژوندی صحابه کرام دی.

" حتی دنا من رسول الله ﷺ ":- پوهه دے دلرے نه آواز نه کوی.

" یسال عن الاسلام ":- د شرائعو اومأموراتو باره کښی به نبی ﷺ نه تپوس کوی. د اسلام د فرائضو د حقیقت تپوس ئی کولو.

نبی ﷺ ورته وئیل : خمس صلوات فی الیوم واللیلة. مخکښی حدیث کښی : الصلوة المکتوبة وو. فی الیوم واللیلة نه وو. فی الیوم واللیلة چه په کښی راغلو. نوپه خپله پته اولګیده. چه اخترونه په کښی نه یادوی. هغه کال کښی دوه ځله راځی.

" هل علی غیرها ":- "هل علی" خبرمقدم او "غیرها" مبتداء مؤخره ده.

" الا ان تطوع ":- حنفی مسلك کښی ددے ترجمه ده. که نفل تا شروع کړه. نودهغے پوره کول په تا باندے لازم اوضروری دے. او شوافع معنی کوی. که ته نفل کوے. نونفل فرض نه دی. اګرکه نفل دے شروع کړلو. شوافع وائی : دا استثناء منقطع ده. او احناف وائی : دا استثناء متصل ده.

"لزم النفل بالشروع" مسئله ده. حنفی مسلك کښی دے دپاره ئی دلیل راوړیدے په البدائع والصنائع کښی چه نذر اومنخته قولی ده. خودهغے پوره کول درباندے ضروری دی. داته چه مونځ شروع

کوے۔ نو دا د دغے منختے غوندے دہ۔ قرآن کریم کښې راځي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ﴾ (سورة محمد : ٣٣).

او ابن حجر هیثمی ؒ د مسلك په ترجماني كښې دا نهی د تنزیه دپاره مني۔

كه چرته چا نفلي روژه په مینځ د ورځ كښې خوړلے وي۔ نو نبي ﷺ ورته وئیلے دي: واقضيا يومًا مكانه يا "صوما" يوما مكانه۔ ددے په ځائي باندے په بله ورځ روژه نیسي۔

دا روايت د احتجاج دپاره د: ﴿وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ﴾ د لاندے تفسیر مظهري ته رجوع كول پكار دي۔

او بعض شوافع په استحباب حمل كوي۔

علامه عیني ؒ لیكي: فالترجيح معناه لثلاثة اوجه احدها اجماع الصحابة، والثاني ان احاديثنا مثبتة واحاديثهم نافية والمثبت مقدم، والثالث انه احتياط في العبادة۔ (عمدة القاري)۔

" افلح الرجل ": - امام راغب ؒ لیكلے دي: چه دنیوي فلاح د هغے خصلتونو حاصل دے۔ چه دنیوي ژوندون په كومو څیزونو خائسته كیږي۔ هغه بقاء، غنى او عزت دے۔ او اخروي فلاح كښې څلور څیزونه دي: (١) هغه بقاء چه بیا ورله فناء نشته۔ (٢) هغه مالداري چه د فقیرۍ شائبه په كښې نه وي۔ (٣) عزت چه په هغے كښې ذلت نه وي۔ (۴) هغه علم چه په كښې جهل نه وي۔ او چه فلاح مطلق ذكرشي۔ دا ټول په كښې داخل دي۔ فلاح نیكواو د خوشحالو دپاره یو جامع لفظ دے۔

" افلح الرجل ان صدق ": - په د دواړو جهانو كامیاب شو۔ سړے كه چرته رشتیا وائي۔

كه دا دواړه سړي واقعي جدا جدا وي۔ نو اشكال نشته۔ لكه بعض علماء هم دغه وائي: چه جدا جدا دي۔

شاه انورشاه ؒ وائي: جدا جدا دي۔ د سیاق سباق نه معلومیږي۔

ضمام دلته مراد دے۔ داد پنځم كال واقعه ده۔ او حدیث ١٢ د سیدنا ابو هریره رضی الله عنه دے۔ چه اوم كال باندے ئې اسلام قبول كړیدے۔

په هغے حدیث كښې د فلاح ذكرنشته۔ او په دے حدیث كښې د فلاح ذكر دے۔ هغے كښې د " ان صدق " ذكر نشته۔ او په دے كښې د " ان صدق " ذكر دے۔

سوال: راځي چه دلته ئې " ان صدق " اوفرمائیلو۔ او هلته ئې " ان صدق " ذكر نه كړو۔ په دے كښې څه نكته ده۔

جواب : د هغے دادے : یو جنت ته تلل دی۔ او بل فلاح ده۔ جنت ته به هغه گناهگار مسلمان هم روستو ځی۔ چه جهنم ته اول لاړو۔ او لږ وخت ئی په کښې تیر کړو۔ او بیا جنت ته لاړو۔ نو "رجل من اهل الجنة" شو۔ او یو فلاح دے۔ چه د اولے مرحلے نه جنت ته لاړو۔ جنت ته تلل ئی نه دی مقید کړے په یو قید سره۔ او فلاح ئی ورله مقید کړے په "ان صدق" سره۔ که چرته دا سړے رشتیاء وائی۔

دویمه توجیه دا ده : چه دا ئی ورته مخامخ اووئیل نو "ان صدق" ئی ورسره اوئی چه سړے چرته په غرور کښې رانشی۔ خو دا خبره غوره نه ده۔ دلته هم راغی " فادبر الرجل ویقول " او هلته هم راغی "فلما ولی قال النبی ﷺ "۔

د حدیث نه معلومه شوه : چه علمی سفر مستحب دے۔ او حدیث کښې په مرجئه باندے رد دے۔ او د سوال نه زائده فائده په جواب کښې ذکرکولے شی۔ لکه دلته : الا ان تطوّع ۔

سوال : دادے دا بعض روایتونو کښې " افلح وابیه " چه راغی۔ نو ددے قسم حقیقت څه دے ؟۔

جواب : ددے جواب شاه انور شاهؒ کوی۔ چه کوم ځائی چه " وابیه " راغلے دے۔ نو دا " واو " د قسم مه جوړه۔ دا " واو " ده شهادت جوړکړه۔ نظیر ئی دادے : ﴿ وَقِيلِهِ يَارَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴾ (سورة الزخرف : ۸۸)۔ بناء بریو توجیه۔

بعض علماؤ لیکلے دی : چه دا " واو " د شهادت دے۔ شاهد د پیغمبر دا خبره ده۔

حدیث ۱۵ : وعن ابن عباس قال ان وفد عبد القیس لما اتوا النبی ﷺ .... الخ۔

عبدالله بن عباس ، اجمل الناس او اطول القامت وو۔ حافظ ابن کثیرؒ لیکلے دی : جسیم شخصیت وو۔ او په سر به ئی نکریزے لگولے۔ د نبی ﷺ د وفات وخت کښې دیارلس کاله عمر وو۔ په خدمت ، ادب او کوشش او دعاگانوئی غټه مرتبه حاصله کړه۔ ۷۱ کاله عمر کښې په ۶۸ هجری کښې طائف کښې وفات شوے دے۔ آخری عمر کښې ئی نظر کار نه کولو۔

حافظ ابن کثیرؒ البدایه والنهایه کښې لیکلے دی : چه دوی "حبر هذه الامة " وو۔ او د الله د کتاب مفسر او ترجمان وو۔ البدایه والنهایه ۴ : ۶۹۷ کښې دی : په هلکوالی کښې د سیدنا عمر رضی الله عنه د شورٰی خاص رکن وو۔ علامه آلوسیؒ د سورة النور په ۲۹ نمبر آیت تشریح کښې لیکلے دی : چه دوی به د انصارو د کور په خوا کښې ناست وو۔ چه کله طلب حدیث ئی کولو: فیقعدعلی الباب ولا یستاذن حتی

یخرج الیہ الرجل فاذا خرج ورآہ قال یا ابن عم رسول اللہ ﷺ لواخبرتنی بمکانك فیقول ھکذا امرنا ان نطلب العلم۔ نبی ﷺ ورته دعاگانے کړے دی۔

امام بخاریؒ تقریبًا لسو مواضعو کښې دا حدیث ذکر کوی۔

وفد د عبد القیس چه کله نبی ﷺ له راغلو۔ عبد القیس د ربیعه د قبیلے یو شاخ وو۔ د نبی ﷺ په نیکیانو کښې یو نیکه وو۔ د هغه نوم نزار وو۔ د نزار څلور ځامن وو۔ په هغه ځامنو کښې دوه مشهور وو۔ او دوه غیر مشهور وو۔ په هغه مشهورو کښې دیو ځوئی نوم وو ربیعه۔ او د ه ته به ئی ربیعة الفرس وئیلو۔ پلار ئی وئیلے وو چه زما د مرګ نه روستو به اسونه د ربیعه وی۔

یو په کښې زید او بل په کښې انمار دے۔ دا زید او انمار غیر مشهور دی۔ او ربیعه او مضر د دواړه مشهور وو۔ او مضر له ئی سره زر ورکړے وو۔ مضر الحمراء ورته څکه وائی۔

دا قبیله په بحرین کښې اوسیدله۔ د جمعے په بحث کښې به راشی۔ چه د جمعے مونځ په بانډو کښې کیږی او که نه ؟۔ صاحب د مشکوۃ د بخاری روایت ذکر کوی۔ چه اوله جمعه د نبی ﷺ د مسجد نبوی نه بهر شوے وه۔ هغه جواثی کښې شوے وه۔ قریة من البحرین دا ددے خلقو ځائی وو۔

شان ورود : ددے واقعے داسے وو۔ نبی ﷺ د مدینی په بازار کښې روان وو۔ نو منقذ بن حبان نومی یو تاجر ئی اولیدو۔ هغه به د کپړے تجارت کولو۔ دے د دغے علاقے نه مدینی ته راغلے وو۔ پیغمبر ورسره سلام کلام اوکړو۔ د مشرانو حال ئی ترے معلوم کړو۔ هغه ډیر زیات متاثر شو۔ او اسلام ئی قبول کړو۔ نو نبی ﷺ ورته سورة فاتحه اوخودله او: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ﴾ دا آیتونه ئی ورته اوخودل۔ او یو خط ئی ورله ورکړو۔ چه دا اوسه او خپلو مشرانو ته دے اوخایه۔ چه هغوی اسلام قبول کړی۔ او دلته راشی۔ نو دے چه کله کلی ته لاړو۔ نو یریدلو غږ ئی نشو کولے۔ او مونځ به ئی کولو۔ نو ښځے ئی خپل پلار ته اووئیل۔ چه دا سړے بدل دے۔ نو هغه اووئیل ولے ؟۔ نو دے ښځے ورته اووئیل چه لاس او مخ او خپے اوینځی۔ او بیا اودریږی نو خکته کیږی او پورته کیږی۔ نو څه بدلون په کښې راغلے دے۔ نو پلار ئی ترے تپوس اوکړو۔ نو ده ورته ټوله واقعه بیان کړه۔ نو د عبد القیس د قبیلے مشر په زړه کښې اسلام لاره اوکړه۔ دا منذر الاشج د قافلے امیر وو۔ نو دوی راروان دی۔ د نبی ﷺ ملاقات له چه اسلام قبول کړی۔ نبی ﷺ په موقع ناست ملګرو ته اوفرمائیل : اتاکم وفد عبدالقیس خیر اهل المشرق وفیهم الاشج ای المنذر۔ (شرح مسلم د امام نوویؒ)۔

دوی کله راغلے دی۔ نو دے کښې اختلاف دے۔

علامه ابن قیمؒ ، حافظ ابن کثیرؒ نهم کال د عام الوفود یادوی۔ او جارود بن معلی لسم کال ذکرکوی.
شاه انورشاهؒ وائی : دوی دوه ځله راغلے دی۔ یو ځل شپږم کال بانده ے۔ او دویم ځل اتم کال بانده ے۔ او
ابن حجرؒ وائی : اول ۵ هجری کښی او بیا ۹ هجری کښی راغلے دی۔
بعض علماء وائی : چه دوی د حجة الوداع په کال بانده ے راغلے دی۔
غوره قول داده ے : چه راغلے دوه ځله دی شپږم او اتم کال بانده ے۔ په اتم کال هغه وخت کښی راغلے دی۔ چه نبی ﷺ د فتح مکے تیاری کوله۔ مکه فتحه شوے نه وه۔

سوال : راځی۔ چه د حج ذکرنشته ؟ ۔

جواب (۱) : دا علی التراخی فرض دے۔ لیکن غوره جواب نه دے۔ چه تراخی کیدل ئی د امر ورکولو نه مانع نه دے۔ او د امام مالکؒ او د امام ابویوسفؒ په نزد ئی وجوب علی الفور دے۔
(۲) : حج مشهور وو ــ لیکن مونځ خو هم مشهور وو ــ (۳) : د مضرکافرو په وجه حج له ئی د تلو استطاعت نه لرلو۔ (۴) : حج فرض نه وو۔ ځکه حج په نهم کال فرض شوے وو۔ او دوی مخکښی راغلے وو۔ او بیهقی په سنن کښی چه د حج ذکر کړیده ے۔ دا شاذ روایت دے۔ (عمدة القاری).
(۵) : د ماموراتو استیعاب نه دے مراد۔ بلکه هغه وخت سره د مقتضی الحال مطابق هغوی له چه کوم امور ضروری وو۔ د هغے ذکر دے۔
دا خلق وائی مونږ تاله نه شو رارسیدلے۔ ځکه بد امنی ده۔ د عزت په میاشت کښی ځکه راځو۔ د مضر قبیلے کافران مونږ نه پریږدی ــ د مکے د فتحے نه بعد امن راغلے وو۔ معلومیږی دا چه راغلے مخکښی دی د فتح مکے نه۔ ددے نه علاوه نور اقوال هم شته دے۔ دا څومره کسان دی ؟۔
شیخ الحدیث صاحب په التقریر الرفیع کښی لیکلے دی : اشراف په دوی کښی ۱۴ وو۔ او عام خلق ددوی څلویښت وو۔ دا تطبیق دوی کړیده ے۔
او امام نوویؒ فرمائی : خه خبره داده : چه په تعین هیڅ قطعی دلیل نشته۔ چه دا څومره وو۔
کله چه دوی راورسیدل ــ او مسجد نبی ته راغلل۔ نبی ﷺ تپوس اوکړو : من القوم او قال من الوفد۔ د راوی شك دے ــ دا ئی ددے د پاره اووئیل چه خلق د یو وفد د پاره اکرام کوی۔ نو چه د هغوی کومه طریقه ده۔ نو د هغے مطابق اوکړی۔ د هرے علاقے خپله طریقه وی۔ چه معرفت ورته حاصل شی۔ او د اکرام کولو انداز آسان شی۔

"وفد": الجماعة المختارة من القوم ليتقدموهم الى لقى العظماء والمصير اليهم فى المهمات۔ (عمدة القاری)

"قالوا ربيعة": ۔"نحن ربيعة"۔ مونږه د ربيعى د شاخ سره تعلق ساتو۔ دويم قول داد ے: بعضو صحابه كرامو ورته اووئيل چه او "هم ربيعة" چه داد ربيعى د شاخ سره تعلق ساتى۔ ربيعه ابن نزار بن عدنان يعنى بعض د ربيعه قبيلے نه راغلے يو۔

"مرحبًا": ۔د باب كرُم او يا د سمع نه دے۔ او "مرحبًا" منصوب دے۔ بناء برمفعوليت " اى اتيتم مكانًا ذا سعةٍ "۔ مرحبًا څه مطلب؟۔ سيبويه وائى دلته فعل خذف دے۔ يا صادفت مرحبًا اى سعة فاستانس ولا تستوحش۔ مرحبا خلق ميلمه ته وائى: اهلا وسهلا و مرحبًا۔ عكرمه رضى الله عنه چه كله راغلو۔ نو نبى ﷺ اووئيل :مرحبًا بالراكب المهاجر ـ ام هانى چه وركره كله راغله۔ نو وے وئيل: مرحبًا بام هانى ۔ صفوان رضى الله عنه ته ئى فرمائيلے وو :مرحبًا بطالب العلم ـ مرحبًا ميلمه ته وئيل سنت دى۔ عرب چه ډير خوشحاله شى۔ نو مرحبًا وائى۔ سيدنا معاذ رضى الله عنه ته ئى مرحبًا بالطيب المطيب فرمائيلے وو۔

"مرحبًا بالقوم اوبالوفد": ۔ دوى چه كله راغلل بغير ددوى د مشر منذرالاشج نه ۔ تولو تلوار كوله۔ چه د نبى ﷺ سره زر ملاؤ شو۔ اود ے مشر ئى د وقار او د سنجيدگئ مظاهره كوله ۔ اول ئى صندوق كهولاؤ كړو۔ او كپړ ے ئى تر ے رااوويستے ـ غسل ئى اوكړو۔ او جامے ئى بدلے كړ ے۔ ډير په اطمينان باند ے روستو د نبى خواله راغلو. نو نبى ﷺ ورته اوفرمائيل : ان فيك لخصلتين ۔ په تا كښى هغه دوه خصلتونه دى۔ چه د الله او دهغه د رسول خوښ دى۔ يو تا كښى حلم دے۔ او بل په تا كښى اناءت يعنى بردبارى او په تيكاو باند ے كاركول دى ۔ ده نبى ﷺ ته اووئيل يا رسول الله انسان په ظاهرى ځرمن نه وى خائسته۔ ځان ئى يادولو۔ ځكه ظاهرى دے ښكلے نه وو۔ اصل خو باطنى صفات دى۔ چه نبى ﷺ اشج عبدالقيس ته اوفرمائيل چه تا كښى دوه خصلتونه حلم او اناءة الله خوښوى۔ او دا تا كښى الله ايخے دى۔

معلومه شوه: چه خائسته اخلاق انسان كښى طبعًا وى۔ اوكله په محنت و مشقت ئى انسان ځان كښى پيداكولے يا زياتولے شى۔ ليكن: الطبع بلا شك احسن من التطبع۔

"غيرخزايا ولا ندامى": ۔ ندامى د نادم جمع خلاف القياس ده۔ خزايا د مناسبت د وجے نه ئى داسے لفظ راوړو۔ لكه چه " لا دريت ولا تليت " دلته " لا تلوت " پكار دے سره د واو نه۔ خو د " دريت " د وجے

نه "لا تلیت" راغلے دے۔ چه د دواړو په مینځ کښی مناسبت راشی۔ نادمین ئی ذکر نه کړو۔ د خزایا د مناسبت د وجے نه۔

" خزایا ": تاسو داسے قوم ئی چه نه وے رسوا۔ رسوا په دے معنی چه نه ئی گرفتار کړے شوے۔ خزایا جمع د خزیان ده۔ د خزی نه ده۔ باب علم یعلم یعنی غیر اذلاء۔

" ندامی ": په دے وجه نه ئی چه جنگ نه دے شوے۔ چه د یو بل موقتلونه کړے دی۔ یا موجزیه قبوله کړے ده۔ خه په خپله خوشحالی باندے راغلے ئی۔ ندامٰی جمع د ندمان بمعنی نادم ده۔ یا د نادم جمع ده۔ او نادمین ئی اونه فرمائیل چه د " خزایا " سره سمون اوخری۔

" یا رسول الله ":۔ قرینه ده چه دا کسان مسلمانان دی۔ نبی ﷺ ته یا رسول الله مخامخ وائی۔

" انا لا نستطیع ":۔ عذر پیش کوی۔ چه مونږ طاقت نه لرو۔

" الا فی الشهر الحرام ":۔ مگر د عزت په میاشتو کښی۔ دلته دوه قوله دی (۱) : یو قول دادے : چه د شهرالحرام نه مراد څلور میاشتے دی۔ منها اربعة حرم۔ چه هغه ذی القعده، ذی الحجه، محرم او رجب دی۔ (عمدة القاری ۳ : ۱۰) ۔ او دلیل ئی دادے : چه په مغازی کښی د سیدنا قره روایت دے : الا فی اشهر الحرم ۔ او مناقبو کښی د حماد بن زید روایت دے : الا فی کل شهر حرام ۔ داسے علامه کاندهلوی خپل تعلیق کښی ذکر کړیدے۔ (۲) :دویم قول دادے : ددے نه مراد صرف رجب دے۔ دے ځائی کښی ددے نه مراد بله میاشت نه ده۔

مُضر دا ددوی تربوران وو۔ اودا ډیرزورآور خلق وو۔ لیکن دوی به د رجب ډیر احترام کولو۔ ددے وجے نه ورته مُضر رجب وائی۔ هغه مُضر چه د رجب میاشت خیال ئی ساتلو۔ مونږ تاله په رجب کښی راتللے شو۔ په بله میاشت کښی نشو راتلے۔ ځکه بدامنی ډیره زیاته ده۔

"بامر فصل": ۔ په معنی د فاصل یا په معنی د مفصول سره راځی۔ مصدر په معنی د اسم فاعل یا اسم مفعول دے۔ بیلونکی خبره یا غوڅه شوے خبره۔ او بل ئی " نخبر به " اووئیلو۔ کوم کسان چه هلته پاتی دی۔ هغوی ته مسئله رسول دی۔ ځکه چه " لیبلغ الشاهد منکم الغائب " چه کوم موجودین دی۔ چه هغوی غائبو ته خبراورسوی۔

" بامر فصل " ترکیب توصیفی دے۔ او " امر " یا د " امور " واحد دے۔ په معنی د شان۔ یا د " اوامر " واحد دے۔ یعنی القول الطالب للفعل۔

" وسالوه ":- نو دوی تپوسونه د شرابو د لوښو په باره کښې هم اوکړو.

" عن الاشربة " :- عن حکم الاشربة.

"وان تعطوا من المغنم ":- په غنیمتونو کښې به پنځمه حصه ورکوی. په دے باندے اشکال دے په روایت کښې په اجمال او تفصیل کښې فرق دے.

" قالوا " :- الله ورسوله اعلم - حدیث کښې ددے اثبات دے : چه فقهاء او مفتیان کله د عقیدے مسئلے جواب ورکوی. وبالله التوفیق. آخرکښې لیکی. او د فرعی مسئله جواب کښې " والله اعلم " لیکی. (فتح اله)

"فامرهم باربع ":- دلته ئی داسے شمارل کړے دی. (۱) : امرهم بالله وحده شهادة ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله (۲) : اقامة الصلوة (۳) : ایتاء الزکوة (۴) : صوم رمضان (۵) : وان تعطوا من المغنم.

دا پنځه شو. اجمال کښې اربع دی. او تفصیل کښې پنځه دی.

نوددے اجمال او تفصیل په مینځ کښې مطابقت څه دے ؟

اول جواب : چه ذکر د شهادتینو تمهید او تبرك دے. (قرطبی). ځکه مسلمانان دی یا رسول الله وائی: " نخبر به من وراء نا " وائی جنت غواړی. نود الله ذکر ئی برکت له کړیدے. لکه چه د غنیمت د تقسیم مسئله کښې ئی ذکرشویدے: ﴿وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَیْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ﴾ (سورة الانفال : ٤١). د الله ذکر دپاره د برکت دے نو پنځه شو. نو مقاصد د اقامة الصلوة نه شروع شو. چه څلور دی. داد تولونه خه جواب دے. دا جواب د صحیح البخاری نه معلومیږی. امام بخاری داسے الفاظ راوړی " فقال اربع " شروع په اقامت الصلوة باندے کوی. نوشهادتین په هغے کښې نه ذکرکوی. نود قوم عقیده د توحید برابرده. په هغے باندے قرینه داده. چه مُضرکافر دی. دوی مسلمانان دی قرائن د اسلام ئی مخکښې بیان شو.

دویم جواب : چه اقامت الصلوة او ایتاء الزکوة دواړه په یو باندے حساب دی. لکه قرآن ذکرکوی : ﴿اقیموالصلوة واتوالزکوة﴾.

دریم جواب : " ایتاء الزکوة " " وان تعطوا من المغنم " دا دواړه په یو حساب کړه. ځکه چه دواړو کښې مالی قربانی ده.

څلورم جواب : "وان تعطوا" نه مخکښې عبارت مخذوف راوباسه "وامرهم ان تعطوا من المغنم الخمس"۔ دا ځانله مستقل جمله کړه۔ چه کله پته ورته اولګیده۔ چه ددوی خوجنګ جهګړې دی۔ په جنګ کښې به دوئ ته مال غنیمت ملاویږي۔ مستقل ئې تپوس اوکړو د الله او د رسول حکم څه دے۔

پنځم جواب : علامه عینیؒ لیکي : قال البیضاوی الظاهران الامور الخمسة تفسیر للایمان ـ او باقي درے راوي حذف کړے دي۔

"**عن الحنتم**": ـ د منګی نه۔ بین السطورئي لیکلے دي "الجرة الخضراء "شین منګے۔ خودا ضروري نه دي ـ کله به چه جینکۍ ګودر له تللے۔ نوشین منګي به ئي استعمالولو۔ او شراب به ئې چه په کوم منګي کښي جوړول۔ نو هغه به هم شین وو۔ علامه قسطلانيؒ هم شین منګے ذکرکوي۔ شرابو کښي قانون دادے: چه داسے لوښي کښي چه په هغے کښي مسامات نه وي بند وي۔ نو په هغے کښي شراب ښکلے جوړیږي۔ دوي به په څلورو څیزونو کښي شراب جوړول۔ یو به منګے وو څُله به ئي تنګه وه۔ په هغے کښي به ئي شراب جوړول۔

(۲) : لوښے دباء غټ کدو۔ دا به ئي اوتوګلو۔ نو د هغے نه به ئي لوښے جوړکړو۔ "دباء "مفرد ئي "دباءة" دے۔ (۳) : "نقیر" په معنی د منقور یعني توګلے شوے۔ (۴) : "المزفت" چه په هغے باندے تارکول لګولے شوے وي۔ چه مسامات ئي بند وي۔ چلاس او ګلګت غارے ته۔ بعض خلق سوچه غوړوله زمکه اوکني۔ نو هغه په یولوښي کښي بند کړي۔ او په زمکه کښي ئي خخ کړي۔ نو بیا ئي کال پس راوباسي۔ نو په هغے کښي بیا تیزي ډیره زیاته وي۔ نودا څلورلوښي به دوي ددے دپاره استعمالول ځکه ئي ددے څلورو په باره کښي تپوس اوکړو۔ چه دا مونږ استعمالو او که نه ؟۔ په دے روایت باندے اشکال نشته۔

مسئله : دلته یو مسئله ده۔ چه ددے لوښو استعمال اوس څرنګه دے۔ په هغه وخت کښي خوښي ﷺ پابندي ددے وجے نه اولګوله۔ چه چرته دوي ته هغه زوړ لذت راياد نه شي۔ نفرت ئي پیدا شي۔ شراب لا څه کوے۔ چه د شرابو لوښي راباندے بندکړه۔ او د شاربین د خمرد مشابهت نه ځان بچ کړي۔ او سدًا للزرائع هم دغسے اول کښي منع پکار وه۔

لکه نبي ﷺ اول کښي په زیارت القبور باندے پابندي لګولے وه۔ نودغه شان نبي ﷺ پابندي اولګوله

چه دا لوښي به نه استعمالوے. سدًا للباب چه دروازه بنده شي. یا نوے نوے خبره وه. هسے نه چه بیا واپس شي شرابو ته.

نن صبا دا لوښي استعمالولے شے او که نه ؟. شین منگے په هغے کښي اوبه ایخودلے وی. یا بل څه څیزداسے وریسے نور لوښي. نو په دے مسئله کښي اختلاف دے.

(۱) مسلك د امام ابو حنیفهؒ او د امام شافعیؒ دوی وائی : دغه حکم منسوخ دے ــ اوس ددے لوښو استعمال ټیك دے.

علامه عینیؒ لیکی : وهومذهب ابی حنیفة والشافعي والجمهور. (عمدة القاری).

کتاب الاثار کښي : ۲۰۰ باندے دی : روایت نمبر : ۸۴۱ : فاشربوا فی کل ظرف ' فان الظرف لا یحل شیئًا ولا یحرمه ولا تشربوا المسکر قال محمد و به ناخذ وهو قول ابی حنیفةؒ .

(۲) دویم مسلك د امام مالكؒ او د امام احمدؒ دے هغوی وائی :حکم باقی دے.

دا امام احمدؒ او اسحاقؒ هم د امام مالكؒ غوندے وائی. اود منسوخ کیدو دلیل د ترمذی روایت دے : کنت نهیتکم عن الظروف وان الظرف لا یحل شیئًا ولا یحرمه.

د الحق الصریح مؤلف دلته لږخطاء شویدے. هغه د امام ابو حنیفهؒ سره امام مالكؒ یو ځائی کړیدے. په ۱۵۰ لیکی : ددے لوښو استعمال د ابو حنیفهؒ اومالك په نزد منسوخ دے. حالانکه د امام مالكؒ او امام احمدؒ په نزد منسوخ نه دی. او د امام ابو حنیفهؒ او امام شافعیؒ په نزد منسوخ دے.

(طیبی ، مرقات ، نووی فی شرح مسلم)

کتاب اخبار اهل الرسوخ فی الفقه والتحدیث بمقدار المنسوخ من الحدیث کښي علامه ابن جوزیؒ په :۱۷ کښي لیکلے دی : فاشربوا فی کل وعاء ولا تشربوا مسکرا وهذا دلیل النسخ .

د منسوخ خبره راغله ــ نودا څومره احادیث منسوخ دی ــ نو اعلام الموقعین ۲۷ باندے دی : چه احادیث منسوخه ټول یوولس دی.

الحق الصریح کښي دی : ما تحقیق اوکړو. چه صرف اوویشت احادیث منسوخ دی. انتهی.

واضحه دے وی : چه دغه روایات اصل کښي افادة الشیوخ کښي نواب صاحب ذکرکړے دی.

احناف او شوافع دواړه دا منسوخ وائی. مونږ سره د هغوی دوه دلیلونه دی :

(۱) کتاب الجنائز باب زیارة القبور ـ عن بریدة قال قال رسول الله نهیتکم عن زیارة القبور ...الخ.

(۲) باب النقیع والانبذة ص ۳۹٤ :وعن ابن عمر ان رسول الله ﷺ نهی عن الدّباء والحنتم ....الخ.

نو بیا ئی روستو اوویل : نهیتکم عن الظروف ....الخ.

" واخبروا بھن من ورائکم ": - چه کله کلی ته اورسیدلے ۔ نو خبر ورکړے رشته داروی۔ متعلقین هغوی ته دا اووائی چه مونږ د پیغمبر مجلس کښې شرکت اوکړو۔ او مونږ سره ئی خبرے شوے دی۔ نود څلورو کارونو نه کولو۔ او د څلورو کارونو د کولو ئی راته حکم فرمائیلے دے۔

حافظ ابن حجرؒ لیکی: یشمل من جاؤوا من عندھم وھذا باعتبار المکان ویشمل من یحدث لھم من الأولاد وغیرھم وھذا باعتبار الزمان ۔ (فتح الباری) ۔

فائده : مونږ چه کله په وړه دوره کښې وو۔ نو د انور شاه کشمیریؒ ځوے وو۔ مولانا انظر شاه کشمیریؒ اوس وفات شویدے ۔ دیوبند کښې وو۔ د هلته نه راغلے وو کراچی ته۔ د طالبانو وفد ورله لاړو۔ چه جی مونږ دا غواړو۔ چه تاسو زمونږ د حدیثو په استاذانو کښې راشی۔ نو تشریف راوړی۔ او مونږ ته یو حدیث بیان کړے۔ او مونږ له اجازت راکړے۔ نو مونږ ته ئی حدیث د وفد عبد القیس اوایو۔ په دغه ورځ باندے زمونږ دغه سبق وو۔ نو ددے حدیث تشریح ئی مونږ ته کړے وه۔ او یو گھنته ئی پرے لګولے وه۔

حدیث ۱۶: وعن عبادة بن الصامت قال قال رسول الله ﷺ وحوله عصابة .... الخ ۔

عباده رضی الله عنه خزرجی الانصاری صحابی دے۔ ابوالولید ئی کنیت دے۔ په ۳۴ هجری کښې وفات شو۔ ۱۸۱ روایات ترے نقل دی۔ په دے نوم باندے دولس صحابه کرام دی۔ لیکن دے په کښې د ټولو نه زیات مشهور دے۔ عقبه ثانیه او عقبه ثالثه کښې ئی شرکت کړیدے۔ نبی ﷺ په یولسم کال کښې په مِنی کښې څه خبرے مدینې مشرانو سره کړیوے۔ هغه شپږ کسان وو۔ هغه شپږو کښې سعد بن زراره هم وو ۔ بیا وریسے نبی ﷺ دولسم کال باندے دولس صحابه کرام رضی الله عنهم سره بیعت کړیدے۔ په هغے کښې دا عباده او معاذ رضی الله عنهما هم وو۔ بیا وریسے کال باندے نبی ﷺ اویا صحابه کرامو سره بیعت کړیدے۔ نو عباده رضی الله عنه په دویم او په دریم عقبه کښې هم وو۔ واقعه د ابتدائی وخت ده۔

علامه ابن الاثیرؒ لیکلے دی: وکان عبادة یعلم اھل الصفة القرآن ولما فتح المسلمون الشام ارسله عمربن الخطاب وارسل معه معاذبن جبل واباالدرداء لیعلموا الناس القرآن بالشام ویفقھوھم فی الدین واقام عبادة بحمص واقام ابوالدرداء بدمشق ومضی معاذ الی فلسطین ...الخ ۔ (اسد الغابة ۳ : ۱۰۷) ۔

" وحوله عصابة من اصحابه ": - او د نبی ﷺ نه گیرچاپیره یو ډله وه۔ عصابة ډلے ته وائی۔ او دا د څلویښتو نه کم وی۔ او د دریو نه سیوا وی۔

لیکن مجازًا د عصابة اطلاق د څلویښتونه زیاتو باندے هم کیږی. لکه درے سوه دیارلس ته هم عصابة وئیلے شوے ده. نبی ﷺ د بدر د غزا په موقع اووئیل : اللهم ان تهلك هذه العصابة لن تعبد بعدك.
نو دا وو ۳۱۳ لیکن حقیقةً ددے اطلاق په چالیس نه کم کم باندے کیږی. لکه ددے نه دا معلومیږی. چه دا کسان کم دی. عصابة ورته ځکه وائی : چه د یو بل ملا تړی کوی.
"بایعونی": - تاسو ماسره بیعت اوکړے "علی ان لا تشرکوا بالله شیئًا" په دے خبره باندے چه د الله سره به هیڅ څوك نه شریك کوی.

د بیعت اقسام

بیعت په څلور قسمه باندے دے : (۱) : یو هغه بیعت دے. چه په اسلام باندے کیږی. او سړے پړے مسلمان جوړیږی - (۲) : هغه بیعت دے چه خلیفه جوړوی. اوخلق ورسره لاس ملاوی. او بیعت اوکړی. (۳) : هغه بیعت دے چه په جهاد باندے کیږی :

نحن الذین بایعوا محمدًا   علی الجهاد ما بقینا ابدًا

دا درے بیعتونه اتفاقی دی - (۴) : څلورم بیعت د تصوف صوفیاء کرام ، پیران بیعت کوی. وظائف ورکوی - مریدان ورته خپل روحانی مرضونه ښائی. او بعض دا وائی چه د پیر نه پرده نشته. یعنی شرم نه کوی پیر صاحب ته حال اووایه. شرعی پرده خو د پیرنه هم ده. دا بیعت شته اوکه نشته ؟. هغه پیر ته ګوره که بدعتی پیر وی او ګمراه وی. نو دا دوکانداری ده. دا بیا مه کوه. دا تیك نه دی. که هغه نیك انسان وی متقی وی او ورع په کښی وی. شرك او بدعت نه اجتناب کوی. نو جواز لری خوضروری نه ده. چه خامخوا بیعت اوکړی. دا غلطه ده. چه بیعت دے نه وی کړے. نوستا پیر به شیطان وی. لیکن که صحیح پیر وی. چا ترے بیعت اوکړو. نو بدعت هم نه دے.
اوالحق الصریح شرح کښی دی بیعت نشته. ځکه چه ته لږ په حدیث کښی سوچ اوکړه "لا تحلفوا حلفًا فی الاسلام" په اسلام کښی داحلفونه نشتے. لیکن د لږ سوچ ضرورت هم نشته. بلکه قرآن کښی آیت راځی : ﴿ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ﴾ (سورة النساء : ۳۳). ددے آیت په وضاحت کښی علامه قرطبی "المفهم" کښی اوعلامه نووی خپله شرح کښی لیکلے دی : ان قول النبی ﷺ لا حلف فی السلام المراد به ما کان اهل الجاهلیة یتحالفون علی التناصر والتعاون ولو کان علی الظلم. ددے حدیث مطلب دادے : چه د جاهلیت د رسم مطابق په ظلمونو د یو بل سره ملاتړی نشته. که د بیعت کوونکے پیر او

مرشد بدعتي ، مشرك او ظالم وی۔ او د ظلم كار يا غلطه خبره د يو بل سره كلكوی۔ دا په دين كښې نشته ۔دا ختم كړه ۔ او بل طرف ته دا هم شته : ايما حلف كان في الجاهلية فان الاسلام لم يزده الا شدة ۔ كه په يو صحيح امر په جاهليت كښې معاهده شوے وی۔ اسلام خودا نوره كلكوی۔

ملاعلي قاريؒ ليكلے دی : د لا حلف في الاسلام تشريح كښې : كان اهل الجاهلية يتعاهدون على التوارث والتناصر في الحروب۔ (مرقات ۷ : ۷۸)۔

د سورة النحل ۹۱ ايت د لاندے : ﴿ وَاَوْفُوا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ ﴾ تفسير قرطبي كښې حديث نقل دے : لاحلف في الاسلام وايما حلف كان في الجاهلية لم يزده الاسلام الا شدة ۔ يعني في نصرة الحق ۔ د متبع سنت مرشد په وساطت د ګناه ظلمت د لرے كولو كوشش كه په يو تن كول غواړی۔ اسلام ئی نه منع كوی۔

د حلف الفضول باره كښې پيغمبر ﷺ فرمائيلے دی : لقد شهدت في دار عبد الله بن جدعان حلفًا ما احب ان لي به حمر النعم لو ادعى به في الاسلام لاجبت ۔

او حلف الفضول كښې مشرانو دغه وئيلے وو : تحالفوا وتعاقدو ان لا يقيم ببطن مكة ظالم۔

(مختصر سيرة الرسول لشيخ محمد بن عبدالوهابؒ)۔

دغه شرح كښې د خلاصة الفتاوى حواله ده۔ خودا هم دغسے په غلطو پيرانو او بيعتونو حمل ده۔

کار شیطان مے کند نامش ولی   گر ولی ایں است لعنت بر ولی

او د شيخ عبدالسلام حواله ځكه دلته نه ده معتبره۔ چه هغه خو فريق بلكه د عامو غير مقلدينو نه هم سخت يو خصم دے۔ هغوی په خپل اول دور كښې يو نه بلكه د دوو پيرانو نه بيعت كړيدے۔ لكه هغوی بنده ته خپله يو ځل ددغے ذكر كړيدے۔

اضوء المصابيح كښې دی: یاد رہے کہ جو صوفی حضرات اپنے پیروں کی بیعت وغیرہ کرتے ہیں اس کا کوئی ثبوت کتاب وسنت میں نہیں۔

بل طرف ته علامه وحيد الزمان حواله الزامًا نقل كوم۔ د هغوی يو كتاب دے رفع العجاجة عن سنن ابن ماجه په مقدمه كښې ئی محترم عطاء الله حنيف د هغوی په حالاتو كښې ليكلے دی : اپنے دور کے دستور کے مطابق سلسلہ قادریہ نقشبندیہ میں مولانا فضل الرحمٰن مراد آبادی سے بیعت کر چکے تھے : (ص ۲۰)

مترجم کہتا ہے اس حدیث سے معلوم ہوا کہ دین کی باتوں میں جنکی ضرورت ہوان پر بیعت لینا درست ہے چنانچہ حضرت نے ان باتوں کی بیعت حضرت عثمان سے لی اب جو بیعت کو بدعت کہتے ہے وہ اہل بدعت ہے

او په كتاب الجهاد كښې صاف ليكي : الا تبايعون رسول الله فبسطنا ايدينا۔

چه دا حدیث د صوفیود بیعت اصل دے. ځکه د صوفیودغه بیعت دے. چه سړے د ګناهونو نه د یو نیك سړی په لاس توبه اوباسی. (رفع العجاجة ۲ : ۵۵۵).

او کنزالحقائق من فقه خیرالخلائق ۱ : ۱۰ کښی دی : البیعة الشائعة بین الفقراء لها اصل من الشرع وهی بیعة التوبة.

اومولانا ګوهر الرحمن لیکلے دی: آج بھی لوگ کسی متبع سنت عالم ربانی کے سامنے اپنے رب کی اطاعت ووفاداری کی بیعت کی تجدید کرلیں تو مفید ہے اور اصلاح نفس کی ایک تدبیر ہے (تفهیم المسائل ٤ : ۲۷۱).

شیخ القرآن علامه محمد طاهر پنج پیری د نیل السائرین : ۳٦۷ آخری جملے لیکی : وانا الاحقر محمد طاهر الفنج فیری مولدا و مسکنًا والحنفی مذهبًا والنقشبندی طریقة بایعت علی یده فی عنفوان الشباب ولقنی الاذکار علی طریقة السادة النقشبندیة قدس الله اسرارهم.

الحاصل بیعت څه لازم نه دے. نه دے کوی. لیکن صرف په دے نورو ته بدعتی وئیل صحیح نه دی چه کله ئی مرشد متبع سنت وی. اسلام، جهاد اوخلافت کښی مؤکد بیعت دے. او دا د متبع سنت په لاس بیعت جواز لری. د بیعت مندرجه امورو کښی دادی. چه غلا به نه کوی دا حق العبد دے. او زنا به نه کوی دا حق الله دے. د چا نه مال پټول چه څنګه غلا ده. دغسے مونځ کښی غلا هم خطرناکه ده او د کتابونو نه غلا هم نه ده پکار.

امام زهری فرمائی : ایاکم وغلول الکتب. حوالے پټول هم علمی غلا ده. الکامل لابن عدی کښی یو روایت دے : عن ابی امامة قال کان یقال سرقة العلم اشد من سرقة المال. (۱ : ۲۵۹).

"ولا تقتلوا اولادکم":- د بعض قبیلو په جاهلیت کښی دستور وو. چه وړے جینکۍ به ئی وژلے. قرآن کښی راځی ﴿ وَإِذَا الْمَوْؤُودَةُ سُئِلَتْ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ ﴾ (سورة التکویر: ۸، ۹).

امام شعبی وائی : چه د ماشوم قتل ډیره سنګینه مسئله ده. دے کښی خپلولی کټ کول هم دی.

نن صبا نوے جاهلیت کښی د خاندانی منصوبه بندی سکیمونو سره دغه طریقه روانه ده. او بچی بالکل د قرآن او د توحید او د ایمانیاتو نه لرے ساتی. دا هم روحانی طور باندے د بچو وژل دی. لیکن خاندانی منصوبه بندی په نظریه د بچونه پیدا کول په "الواد الخفی" کښی راځی.

"ولا تاتوا ببهتان":- بدنامه په چا لګول لوئے ګناه دے. الله فرمائی : ﴿ وَمَن يَكْسِبْ خَطِيئَةً أَوْ إِثْماً ثُمَّ يَرْمِ بِهِ بَرِيئاً فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَاناً وَإِثْماً مُّبِيناً ﴾ (سورة النساء : ۱۱۲).

بهتان دے ته وائی چه انسان کښې یو عیب نشته۔ او په دروغه ئې پرے ثوک لګوی۔ دا ډیرغټ ګناه دے ۔ او داد یهودو عادت دے ۔ د سیدنا عبد الله بن سلام رضی الله عنه د اسلام په موقع هغوی فرمائیلے وو : ان الیهود قوم بهت ۔ دا یهودیان بهتان لګونکی قوم دے۔

واقعی " صاحب البیت ادری بما فیه " ۔ یو حقیقت دے۔

غیبت هغے ته وائی چه یو انسان کښې هغه کار شته دے۔ لیکن په ظاهره اومخامخ ئې ورته نه شے کولے ۔ چه آخوا لاړ شی۔ نو بیا وروسته خبرے کوی۔

" تفترونه بین ایدیکم و ارجلکم " : ۔ مطلب ئې داد ے : چه دا کارونه تاسو کوے "مواجها" یو هغه دے ۔ چه یو سرے په بل باندے بهتان لګوی۔ او بل دا چه دا سړے یوبل ته مخامخ ناست دے۔ او ورته وائی تا دا کار نه دے کړے هغه خبرهم نه دے۔ ددے شناعت او قباحت خه واضح دے۔ علامه خطابیؒ دا توجیه غوره کوی۔

دویمه توجیه : دا کنایه ده "من قبیل انفسکم " د خپل طرف نه۔ دا بے دلیله کارمه کوه۔

" ید " او " رجل " کنایه ده ۔ د ذات نه۔ ډیرکارونه په لاس ، خپو کیږی۔ ځکه ئې لاس اوخپے ذکرکړل۔

دریمه توجیه : چه دا کنایه ده د فرج نه ۔داد " ید " او " رجل " مینځ مینځ کښې دے یعنی زمانه جاهلیت کښې ښځې زنا کړے وه۔ او بچے به ئې پیدا شو ۔ نو هغه به ئې خاوند ته نیغ نیغ کوو۔ هغه ته به ئې دا خودله چه بچے مے ستانه پیدا شوید ے۔ دا کارمه کوے۔

څلورمه توجیه : ابوجمره فرمائی : " بین ایدیکم " نه مراد حال او د " ارجلکم " نه مستقبل مراد دے۔ ځکه سعی د خپو کار دے۔ فی الحال او مستقبل کښې بهتان مه لګوه۔

"ولا تعصوا فی معروف " :۔ د نبی ﷺ هر یو کارد معروف وو۔ نبی ﷺ دا خبره اوکړه۔ عالم دے که پیر دے ۔چه تاته منکرله دعوت درکوی۔ نو د هغه خبره به نه منے ۔ د معروف ذکرئې د هغوی خوشحالوله اوکړو۔ د پیغمبر هرقول او فعل معروف دے۔

شاه اسماعیل شهیدؒ ته پیراووئیل تصور شیخ اوکړه۔ دا د غلطو صوفیاء یوه اصطلاح ده.ګویا چه پیر مے مخے ته ناست وی۔ او خبرے ورسره کوی ۔ هغه وئیل دا خونه کووم ۔نو هغه ورته وائی څه دے خو پیریم.

بے سجادہ رنگین کن گرت پیر مغاں گوید
کہ سالک بے خبر نبود زراہ ورسم منزلہا

هغه ورته وائی چه مصلی په شرابو رنګ کولے شم۔خو تصور د شیخ نه کووم ۔ (ارواح ثلاثه)۔

"علی الله": - علی د تفضل دپاره دے اهل سنت وائی - لیکن معتزله وائی داد وجوب دپاره دی۔

"ومن اصاب من ذالك شیئًا": - چاچه په دغه کارونو کښې څه کاراوکړو - غلا ئې اوکړه - لاس ئې کټ شو - زنا ئې اوکړه کوړے پرے اولګیدے یا رجم شه۔

" فعوقب به فی الدنیا فهو کفارة له ": - سزا ورکړے شوه - نو دا کفاره شوه - دده دپاره په دنیا کښې۔ د ګناهونو معاف کیدو دپاره۔

"ومن اصاب من ذالك شیئًا ": - چاچه اوکړو دغه کار " ثم ستره الله علیه " بیا پرے الله پرده واچوله۔

" فهو الی الله": - دده خبره سپارلے شوے ده الله ته۔ " ان شاء عفا عنه " که د الله خوښه شی - نو معافی به ورته اوکړی۔ " وان شاء عاقبه " که د الله خوښه شی - نو عقاب به ورکړی۔ دا رد دے په معتزلو باندے او په خوارجو باندے ۔ هغوی وائی : معافی معافی نشته دے۔ سړے کافر دے۔ ایمان نه وتے دے۔ نوخوارج وائی کافر دے۔ او معتزله وائی د ایمان نه وتے دے۔ د منزله بین منزلتین قائل دی۔

" ان شاء ": - مرجئه وائی چه ایمان وی اعمال نه کول ورله نقصان نه ورکوی۔ معصیت ایمان لره نقصان نه ورکوی۔ غلا ئې اوکړه۔ زنا ئې اوکړه۔ دلته کښې " عاقبه " په دے مرجئه باندے رد دے۔

سوال : نور منهیات مثلًا : ﴿ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ ﴾ ئې ولے ذکرنه کړو۔

جواب : ددے مذکوره څیزونو اهمیت د وجے دا امور بیان شو۔ اوپه " لا تعصوا فی معروف " کښې د "معروف " نه مراد ما جاء فی الشرع حسنه وقبحه ومنکرات په کښې داخل دی۔

" فبایعناه علی ذالك " :- مونږ ورسره په دے خبره باندے بیعت اوکړو۔

دے حدیث کښې یو مسئله ده۔ دا حدود چه دی۔ دا زواجر دی او که دا کفارات دی۔

زواجر مطلب دادے : چه دا خلق د غلا اود زنا نه منع شی۔ غلا او زنا کښې چه کومه توبه پکار ده۔ نو هغه به خامخوا اوباسی۔ او کنه دا حد ئې قائم شو۔ دے پاك شو۔ او توبے ته ئې حاجت نشته۔ اودا ګناه دده ختم شو۔ نوپه دے مسئله کښې اختلاف دے۔ سعیدبن مسیب فرمائی حدود زواجر دی۔

دا اختلاف اکثر محدثین د احنافو او شوافعو په مینځ کښې ذکرکوی۔ په داسے طریقے سره چه احناف وائی چه دا حدود دا صرف زواجر دی - او توبه به ددے دپاره پکار وی۔ او زنا د معافی دپاره به د الله نه

سوال کوی۔ نو کہ کوړے ورته اولګیدے۔ نو په دے معامله ختم شوه۔ او که نه پاتے ده ؟۔

صاحب الهدایه او علامه کاسانیؒ بدائع صنائع کښې دا خبره ذکر کړے ده: چه حدود زواجر او کفارات دی۔ علامه ابن همامؒ فرمائي: زواجر دی او کفارات نه دی۔

امام احمدؒ، حنابله، شوافع، بخاري اوغیر مقلدین وائي: داحد ئې چه اولګولو۔ نو دا حد په خپله باندے ګناهونه معاف کوی۔ او مطهرات، سواتر او کفارات دی۔

او شاه انور شاهؒ فرمائي: چه ماته تحقیقي قول د احنافو نه دے محقق شوے۔

بعض علماء وائي: چه دا اختلاف د احنافو او د شوافعو مینځ کښې نشته۔ هم دلته وائي چه دا کفاره جوړیږي۔ صاحب د ملتقط وائي او دا حنفي دے۔ چه دلته کفاره جوړیږي۔ نو رمتاخرین چه دی لکه شامي وغیره۔ نو هغوی دا اختلاف ذکر کړیدے۔ متاخرین وائي: دا کفاره نه ده۔ بلکه ورسره به توبه اوباسي۔ هله د هغوی به ګناه معاف کیږي۔ روستو متاخرین احناف دا وائي: چه ابو هریرة رضي الله عنه به فرمائیل: لا ادری هل الحدود کفارات ام لا ؟ (مستدرك نمر: ۱۰٤، بیهقي: ۱۷۳۷۳)۔ ماته پته نشته دے چه دا حدود کفارات دی که نه دی۔ نو حدیث کښې خوراځي "فهو کفارة له" او د ابو هریره رضي الله عنه حدیث کښې راځي چه ماته پته نشته دے۔ حدود کفارات دی یا نه دی۔ نو بعض وائي: اول کښې پته نه وه۔ او روستو پته اولګیده۔

دا د ابو هریرة رضي الله عنه روایت دے۔ ابو هریرة رضي الله عنه د هجرت په اووم کال باندے اسلام قبول کړیدے۔ نو د عبادة رضي الله عنه دا روایت د لیلة العقبه سره تعلق ساتي۔

ابن حجرؒ ډیر زور لګولے دے فتح الباري کښې۔ چه دا لیلة العقبه سره تعلق نه ساتي۔ داد فتح مکے نه روستو بیعت دے۔ خو داسے ځکه صحیح نه معلومیږي۔ چه فتح مکے نه بعد ډیر خلق مسلمانان شوے دی۔ او دلته ذکر دے چه ښځو بنستو پوري وو۔ فتح مکے نه بعد روستو حالت دادے: ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِيْنِ اللّٰهِ أَفْوَاجاً﴾ نو ښځو بنت کسان اول اول وو۔ چه د عبادة رضي الله عنه روایت دے "فهو کفارة له" د ابو هریرة رضي الله عنه روایت د اووم کال دے۔

ابن حجرؒ فرمائیلے دی: د ابو هریره رضي الله عنه حدیث په هغه وخت حمل کړه۔ چه علم ئې ورله اول کښې نه وو ورکړے۔ او چه روستوئې ورله علم ورکړو۔ نو قطعي طور باندے اوفرمائیل: الحدود کفارة۔ ګویا د ابن حجرؒ په نزد د ابو هریره رضي الله عنه حدیث مقدم دے۔ او دا حدیث مؤخر دے۔

لیکن علامہ عینیؒ فرمائی : چه په دے کښې خود لیلة العقبة واقعه د هجرت نه مخکښې ده۔ او ابو هریره رضی الله عنه په اووم کال اسلام قبول کړیدے۔

په دے وجه حدیث د ابو هریره رضی الله عنه په دے مقدم کول محال دی۔ بیا ددے جواب داسے لیکی :چه ابو هریره رضی الله عنه خپله کیدے شی نه وی اوریدلے۔ مخکښې د یو زوړ صحابی نه به ئی نقل کړے وی۔ د عباده رضی الله عنه د روایت نه مخکښې او دا روایت به ورله ناسخ شی۔ لیکن دا جواب ځکه درست نه دے۔ چه ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : سمعت رسول الله ﷺ۔ ما د بل صحابی نه ندی آوریدلے۔ ماخو د پیغمبرنه خپله اوریدلے دی۔ او پیغمبر نه به ئی هله خبره اوریدلے وه۔ چه ایمان ئی پرے راوړے وی۔ " لا ادری هل الحدود کفارة ام لا " ۔لیکن کیدے شی چه د صحابی د اوریدو نه پس ئی د نبی ﷺ نه هم اوریدلے وی۔

او د تعارض جواب دا کیدے شی۔ چه عباده بن الصامت رضی الله عنه روایت د ابو هریرة رضی الله عنه د : الحدود کفارة ام لا ۔ په نسبت زیات صحیح دے۔ او د : لاادری الحدود کفارات ام لا ۔ مستدرك ۱ : ۳٦ مطبوعه دارالباز مکه مکرمه کښې موجود دے۔ او سنن کبری د بیهقی ۲ : ۳۲۹ ملتان طبع باندے هم شته۔ او صحیح دے۔ او دا خبره واضحه ده : چه سیدنا عبادة د عقبه اولی په موقع چه کوم بیعت اغستلے وو۔ هغه وخت حدود نازل شوے نه وو۔ داد فتح مکه نه روستو د دویم بیعت واقعه ده۔ او: لا ادری الحدود کفارات ام لا ۔ مخکښې واقعه ده۔

نو دا روستو خبره ده۔ چه ځلویښت کسان خوړومبنی عقبه کښې په یوولسم کال کښې چه کوم کسان چه مِنیٰ ته راغلے وو۔ په هغے کښې عبادة رضی الله عنه شرکت خپل بیانوی۔ نوداسے اووایه " لا ادری " د یقینی علم نفی ده۔ او مطلقاً کفاره ثابته ده۔

شیخ الهندؒ فرمائی : چه زجر او ستر دواړه جوړیدے شی۔ احناف وائی : اصالةً زجر او ضمناً ستر دی۔ او امام شافعیؒ ، امام احمدؒ فرمائی : اصالةً ستر او ضمناً زجر دے۔

او شاه انورؒ فرمائی : که توبه اوباسی ۔ زجر او ستر دواړه دی۔ اوکه توبه نه اوباسی لیکن منع شو۔ نو زواجر دی لیکن سواتر نه دی۔ او که توبه نه اوباسی لیکن دا بے حیاء او ضدی منع کیږی نه۔ نو ده له زجر او د ستر دواړه صورتونه نشته۔

اوس احنافو سره دلیل څه دے ؟ نودلیل شته د قرآن کریم ایت : ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ روستو راځی ﴿فَمَن تَابَ مِن بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ (سورة المائدة : ۳۸ ، ۳۹) ۔توبه اوباسی۔ توبه ضروری شوه۔

(۲) : قرآن کریم کښې راځي : ﴿ إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ روستو راځي : ﴿ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (سورة المائدة : ۳۳ ، ۳٤) ۔

لیکن دا بعض علماء د محاربین سره خاص کوي ۔

(۳) : سورة النور۵ کښې راځي : ﴿ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾

امام ابو حنیفہؒ د ټولونه اول قرآن کریم طرف ته ځي ۔ دد ے نه معلومیږي چه توبه ضروري ده ۔ " الا الذين تابوا " ئې د حد قذف په صورت کښې ذکرکړید ے ۔

کتاب الحدود فی الرجم صفحه ۳۳۲ باند ے حدیث کښې راځي : لقد تابت توبة ...الخ ۔ (الحدیث) ۔

دا تیکسونه چه اخلي ۔ کہ دوي داسے توبه اوویستله ۔ نو هم الله به ئې ورته معاف کړي ۔ حد ورته لګیدلے د ے ۔ او بیا هم نبي ﷺ فرمائي : لقد تابت توبة ۔ د ے ښځے توبه اوباسلے ده ۔ روستو بیا روایت کښې د توبے ذکر د ے ۔ یو غلا ګر راغلے وو ۔ نبي ﷺ ورته اوفرمائیل : قل استغفر الله واتوب علیه ۔

او د بنو مخزوم د قبیلے د یو سرقه کونکي ښځه باره کښې راځي : فحسبت توبتها ۔

که اوګور ے نو دا جهګړه لفظي غوند ے ده ۔ څه داسے خاص جهګړه نه ده ۔ د هغے وجه داده ۔

شاه انورشاه کشمیريؒ فرمائي : یو هغه انسان د ے چه کله حد جاري کولو له راولي ۔ نو دغه زړه پښیمانه د ے ۔ چه غلا مے کړ ے ده ښه مے نه دي کړ ے ۔ لاس رانه پر ے کوي ۔ خلق ټول موجود د ے ۔ یا په ما اوس ګوري لګوي ۔ نو خلق زما ننداره کوي ۔ نو زما زړه پښیمانه د ے ۔ نو دغے ته توبه وئیلے کیږي ۔ په خوله توبه خو ضروري نه ده ۔ پښیمانه شي چه دا کار به بیا نه کووم ۔ اوس الله دغه راته معاف کړه ۔ یو متعنت انسان د ے عنادي د ے ۔ ګور ے پر ے لګي ۔ او بیا خپیمانه په ګناه نه د ے ۔ د هغے نظیر داد ے : چه موطا کښې یو روایت راځي د اسماء رضي الله عنها هار روك شو ے وو ۔ نو هغه خلقو کتلو نویوزنانه هغه هم د هغے په لټون کښې شامله وه ۔ اووئیل ئې چه ډیر ظالمان دي ۔ دداسے اهل بیتونه ئې هم غلا اوکړه ۔ دا خبر ے ئې کولے ۔ او بیا چه د زرګر په دوکان کښې هغه هار ښکاره شو نو هغے دوکاندار نه تپوس اوشه ۔ چه تا باند ے دا هارچا خرڅ کړید ے ۔ نو هغه ورته په جواب کښې

اووئیـل چه دے ښځے راباندے خرځ کړیدے۔ هم دغه ښځه دوی سره ګرځیده۔ او هارئی ورسره لټولو۔ کارئی هم کړے وو۔ او وئیل به ئی الله دے تباه کړی۔ د اهل بیت نه غلا کوی۔

نوداسے متعنت له ریشتونی باندے توبه ضروری ده۔ نورچه انسان وی۔ او پښیمانه شی دغه توبه ده .که غلائی کړے وی۔ او که زنائی کړے وی۔ روایتونو کښی هم راځی۔

"عوقب":- عوقب معنی بیا داده۔ چه ده باندے دنیا کښی مصائب راغلل۔ نودا معنی الحق الصریح کښی هم شته۔ قاضی شمس الدین" هم داتوجیه کړے ده لیکی : مراد عقاب تکوینی یعنی مصیبتونه دی۔ " عوقب به " نه مراد دنیوی مصیبتونه دی۔

الاصابة فی تمیز الصحابة مع الاستیعاب ۱ : ۲۰ باندے د سیدنا ابوسعید رضی الله عنه روایت دے: ان رجلاً من المسلمین قال یا رسول الله ﷺ ارایت هذه الامراض التی تصیبنا مالنا فیها قال کفارات۔ اسناده حسن .په دے حدیث کښی ئی هم ددے امراضو تعبیر په کفاراتو سره شویدے۔

حدیث ۱۷: وعن ابی سعید الخدری قال خرج رسول الله ﷺ فی اضحی اوفطر..الخ۔

دده نوم سعد دے الاکمال کښی صفحه ۶۲۰ باندے ترجمه ده۔ سعد بن مالك الخدری الانصاری لیکن مشهور دے په کنیت۔ علماء فضلاء کښی دے۔ خدری یو قبیله ده۔ هغے طرف ته منسوب دے۔ یا مشرانو کښی څوك تیرشوے دی۔ چه خپل نوم ئی سعد بن مالك الخدری الانصاری دے۔ ارشاد الساری کښی علامه قسطلانی" وائی: بعضو خلقو وئیلے دی: چه دده نوم سنان دے۔ دوی خطاء شوے دی۔ سعد بن مالك بن سنان ،سنان ئی نیکه دے۔

مولانا عبدالحی لکهنوی" لیکلے دی: عیدګاه ته وتل سنت مؤکده دی۔

او فتاوی علماء حدیث کښی دی فی التلویح ترك السنة المؤكدة قریب من الحرام یستحق حرمان الشفاعة۔

(تلویح : ۱۶۵ فتاوی علماء حدیث کتاب العیدین : ۱۶۵)

خلق په جماعت کښی مونځ کوی داغوره نه دے۔ چه باران وی مونځ کوی۔ داد پیغمبرنه ثابت دی۔ چه ابوداود کښی ضعیف روایت دے۔ لیکن تعامل دے که باران وی خوجماعت کښی به مونځ اوکړی۔ که شین آسمان وی۔ نوبهر به اووځی۔ زمونړه تول فقهاء کرام وائی: خروج الی المصلی سنت عمل دے۔ نبی ﷺ اووتلو اختر مانځه له وړوکے اختر وو۔ یا غټ اختر وو " قمر علی النساء " په ښځو باندے تیریدو ۔ښځے هم وتلے وے۔ نبی ﷺ په دور کښی به ښځے وتلے۔ حضرت عائشه رضی الله عنها اووئیل

چه اوس حالات بدل شوی دی۔ نواوس دے نه اووځی۔

اوحکمت القرآن تفسیرکښی د فرض مانځه باره کښی لیکلے دی د سورة نور د ۳۷ آیت: ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ ﴾ په وضاحت کښی: د زنانو دپاره په کورکښی مونځ بهتر دے۔ وبیوتهن خیرلهن۔ بعض غیرمقلدد عیدینو استثناء کوی۔

" فقال یا معشر النساء": ۔اے د ښځو ډلے۔ دا ئی روستو ښځو ته تقریر کړیدے۔

معشرهغه جماعت ته وائی: چه مقصد ئی یو وی۔ (کشف المناهج والتناقیح)۔

" تصدقن ": تاسو ډیرے صدقے ورکوے۔ حدیث کښی دی: اتقوا النار ولو بشق تمرة.(بخاری:۵۶۷۷)

د غیرمقلدتحقیق دادے: نمازعید سے پہلے خطبہ خلاف سنت ہے حدیث میں خطبہ نمازعید کے بعد آیا ہے پہلا خطبہ مروان نے جاری کیا تھا جس پر ابوسعید خدری رضی اللہ عنہ نے سخت انکار کیا نعت ہو یا تلاوت قرآن مجید یا پھر وعظ یہ سب خطبہ میں شامل ہے۔

(فتاوٰی علماء حدیث کتاب العیدین:۱۹۸)

فتاوی علمائے حدیث: ۵۳ کتاب الصلوة باندے عبارت دے: خطبہ جمعہ سے پہلے جوتقریر کارواج ہے اس رواج کا کوئی ثبوت نہیں مولانا حافظ محمد گوندھلوی

"فانی اریتکن اکثر اهل النار ":۔ یقیناً تاسو ډیرے ماته په اورکښی ښکاره شوے۔

"اریتکن " : دا رؤیت علمی دے ـ او رؤیت علمی درے مفعوله غواړی۔ " اریتُ " کښی دا " تُ " ضمیر قائم مقام د فاعل دے دایو مفعول دے۔او " کن " دویم مفعول دے۔او" اکثراهل النار " دا دریم مفعول دے۔ ای اعلمت بانکن اکثر دخولاً فی النار من الرجال۔

سوال: دادے چه جهنم کښی ښځے ډیرے دی۔نو جنت کښی به جنتی ته زیاتے ښځے څنګه ملاویږی؟۔

جواب: اول به ښځے جهنم ته ځی۔بیا به ترے راووځی۔او په جنت کښی به د مومنانو ښځے وی۔ (۲): یا جنت، دوزخ دواړو کښی به فی نفسه ډیرے وی۔لکه: ﴿ يُضِلُّ بِهِ كَثِيراً وَيَهْدِي بِهِ كَثِيراً ﴾ (سورة البقرة: ۲۶)۔ (۳): دوه ښځے به د بنی آدم سره تعلق ساتی۔او دوه اویا به حُورے وی۔لیکن جواب څکه غوره نه دے۔چه د نسائی روایت کښی ورسره د دنیا د ښځو قید لګولے دے۔

اوس بل سوال دادے : چه دا ئی ورته کوم وخت کښې خودلے دی ؟۔

بعض علماء وائی : چه وحی ورته شوے ده۔ لیکن دا غوره قول نه دے۔ بعض وائی چه د معراج په شپه بانـدے ورتـه خودلے دی۔ لیکن قول غوره نه دے۔ غوره قول دادے : صلوة الکسوف کښې نبی ﷺ ته اوخودلے شو۔ حدیث کښې راځی نبی ﷺ مونځ کوو صلوة الکسوف۔ نو تمثیل د جنت او تمثیل د جهنم هغه ته په دے مخامخ دیوال کښې ښکاره شو۔ جنت خوډیر لوئی جنت دے۔ او دوزخ هم ډیر لوئی دے۔ جنت او جهنم په دیوال کښې نه راځی۔ وجود مثالی ترینه مراد واخله۔ په هغے کښې ورته ښځے اوخودلے چه غوبې ئی په جهنم کښې وهلے.(صحیح بخاری ۱۰۵۲ نمبرکښې د صلوة کسوف ذکردے)

" فقلن " :۔ یوه دنګه ښځه په کښې اوئے۔

"وبم یارسول الله" :۔ دا په څه بانـدے اے د الله رسوله ﷺ۔ د مسلم روایت کښې دی۔ چه دا اوښیاره ښځه وه۔ اووئے فرمائیل چه دوه وجے دی۔ امام بخاریؒ په دے بانـدے باب تړلے دے۔ صحیح بخاری کښې " کفر دون کفر " دلتـه کـفـر اصـطـلاحی ترینه نه دے مراد۔ او دے ښځے دا تپوس د خپل شرح صدر د تحصیل دپاره کړیدے۔

" قال تکثرن اللعن" :۔ لـعـنت ډیر لیږی۔ د ښځو چه جنګ شی۔ نووائی اے لعنت مارے۔ "تکثرن" ئـے راوړو۔ ځکـه چـه د لـعـنت نه مو بغیر بل کارنشته دے۔ یعنی د حق العبد پرواه ئی نشته۔ ژبه بے احتیاطه استعمالوی۔

مسئله د لعنت

لعنت کښې مسئله داده : چه مړشوے کس بانـدے لعنت لیږل۔ چه مسلمان وی۔ دا ټیک نه دی۔

خه داده : چه یزید بانـدے لعنت هم نه لیږی۔ یزید پلیت لعنتی داسے مه وایه۔

ولم یلعن یزیدا بعد موت سوی المکثار فی الاغراء غال

(قصیده بدء الامالی)

امام غزالیؒ وائی : یو کس وائی چه فرعون لعنتی فرعون لعنتی که داسے زرځله اووائی۔ هیڅ ثواب ورله الله نه ورکوی۔

د کوم کافرمرګ چه په کفر راغلے دے۔ نو اتفاقًا لعنت لیږل په ده جائز دی۔ او په معین ژوندی کافر

لعنت لیږل حرام دی۔ او د سراج بلقینی مسلك داد ے :چه عاصی معین باند ے لعنت صحیح د ے۔
حدیث کښې راځي : اذا دعا الرجل امرء ته الی فراشه فابت ان تجیء فبات غضبان لعنتها الملائکة حتی تصبح۔
اونبی ﷺ د کافرو په معین قبائلو لعنت کړیدے۔ اللهم العن رعلاً وزکوان وعصیه ـ چاچه په چا لعنت اولیږلو۔ او اهل ئی نه وو۔ ده ته به بیرته راګرځي۔
فتح اله شرح کښې دی : اتفق العلماء علی تحریمه لمعین ولو کافرا۔
په یو صفت باند ے لعنت لیږلے شے۔ " لعن الله من غیر منار الارض " اوس لعنت ټیك د ے۔
" لعن الله من لعن والدیه "۔ " لعن الله من ذبح لغیر الله "۔" لعن الله من آوی محدثا "۔ لعنت په هغه چا چه بدعتی ئی کلك کړ ے وی۔ لعنتی انسان کامل مؤحد نشی جوړیدے۔

"مارأیت من ناقصات عقل ودین" :۔ نبی ﷺ د ټولو نه مخکښې عقل یادکړیدے۔ او وروسته ئی دین یاد کړو۔ عقل هغه قوت د ے چه ادراك د امورو پر ے کیدے شي۔ او یو خالص عقل چه خواهشاتو او لهولعب نه پاك وی۔ عقل عام د ے اولب خاص د ے۔ هر "لب" عقل د ے هرعقل له"لب" کیدل ضروری نه دی۔ عقل په اصل کښې ترلو ته وائی۔ عقال رسۍ ته وائی۔ عقال هغه څیز د ے۔چه عرب ئی د خپل سر نه چاپیره وی۔ عقل انسان د غلط کار نه بنده وی۔ دا ورله پر ے د ے۔ نونبی ﷺ عقل یاد کړو۔ ځکه چه په عقل باند ے د ټول دین دارومدار د ے۔ چه یو سړ ے عاقل نه وی۔ نو هغه ته دین متوجه نه د ے۔ من ناقصات عقل و دین۔

"اذهب للب الرجل الحازم" :۔ هغوی ډیر بوتلونکے دی د هوښیار عقل لره۔ لب هغه خالص عقل ته وائی۔ " رجل حازم " چه ډیر احتیاط کوونکے د ے۔ لکه د جرګوکس د ے په علاقه کښې مشهور د ے۔ چه دا ښځه ورته دام کیږدی۔ نو هغه سړ ے آخوا دیخوا کیږی نه۔
شعر : جریر شاعر وائی :

ان العیون اللتی فی ترکها حور قتلنا ثم لم یحیین قتلانا
یصرعن ذااللب حتی لا حراك له وهن اضعف خلق الله ارکانًا

د لب اود عقل تعریف

د لب تعریف داد ے : العقل الخالص من الشوائب ـ هرلب عقل د ے۔ او عکس نشته۔ او د عقل تعریف داد ے : غریضة فی الانسان یدرك به المعنی ویمنعه عن القبائح وهونور الله فی قلب المؤمن۔

"قلن وما نقصان دیننا وعقلنا یارسول الله": - ښځو بیا تپوس اوکړو. چه زمونږ د دین څه کمے دے۔ او د عقل څه کمے دے۔ ښځو دین مخکښې کړو۔ او نبی ﷺ عقل مخکښې کړو۔ دین ئې ځکه مخکښې کړو۔ چه دا دین ډیر اهم دے چه په دے کښې څه نقصان دے۔

"قال الیس شهادة المرأة": - ښځې ګواهي د سړے غوندے نه ده۔ او دا اوس بعض خلق نه منی هغوی وائی ښځه او سړی کښې فرق نشته۔ حال دا دے چه ښځه او په سړے کښې په ډیرو امورو فرق دے۔ دے باندے کتاب دے المرأة المسلمة۔ د هغے اردو ترجمه مولانا ابو الکلام آزاد کړے ده۔ "مسلمان عورت" ښکلے کتاب دے۔ د ښځے اندامونه، د ښځے دماغ و فهم، د ښځے حوصله، صبر، علم۔ د سړو په نسبت باندے هغے کښې ډیر کمے دے۔ نو د ښځے ګواهي ځکه نیمه ده۔ د سړی د ګواهي نه۔ لیکن دا عمومي سړی یادوی۔

قرآن کریم کښې راځی: ﴿فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَن تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَىٰ﴾ (سورة البقرة: ۲۸۲) - سیاسیان وائی دا ووټ شهادت دے۔ په دے مغربی طرز جمهوریت کښې سړے او ښځے ووټ یوشان دے۔ شیخ الحدیث او لیونی ووټ یو شانی دے۔ په اسلام کښې داسے شهادتونه نشته۔ ښځے چه دوه په یوسړی حساب کړی۔ نو بیا اسلامی شهادت دے۔ بلکه حقیقت دا دے: چه ووټ شهادت نه دے۔ ځکه چه په دے کښې د واقعے خبر په لفظ د شهادت سره ورکولے کیږی۔ او د ووټ دغسے معامله نه ده۔ او دا ووټ شفاعت هم نه دے۔ ځکه چه په شفاعت کښې دریم کس له د یو منصب سفارش کیږی۔ او د هغے دریم کس په اختیار کښې دغه معامله وی۔ که سفارش ورله قبلوی۔ یا رد کوی۔ لیکن دلته خو چه دا ووټونه زیات وی۔ د اسمبلۍ ممبر جوړیږی۔ د چا د قبلولو یا نه قبلولو معامله خو په کښې نشته۔ او دا ووټ وکالت ځکه نه دے۔ چه مؤکل، خپل وکیل د وکالت نه معزول کولے شی۔ (هدایه)۔

او ووټ ورکونکے د ووټ نه پس یو اُمیدوار د خپل ووټ کینسل کول نه شی کولے۔ او نه د منتخب کیدونه پس اُمیدوار هغه معزول کولے شی۔ او په اسلام کښې د یو عهدے خپله د عامو خلقو نه طلب کول هم منع دی۔

"قال الیس اذا حاضت": - کله چه ښځے له حیض راشی۔ نو روژه نه نیسی۔ او نه مونځ کوی۔ نو دائی د دین نقصان دے۔

اوس سوال راځي: چه یو تن ناجوړه دے۔ او هغه په صحت کښې نفلونه اوعبادتونه کړے دي۔ او اوس نشي کولے۔ نو الله هغه له ثواب ورکوي۔ نو دے ښځوله دے هم اجر ورکړي د حیض په حالت کښې په مونځ باندے۔ حالانکه حیض کښې مونځ بند او منع دے۔

جواب داد ے: بیمارسړے د نیت کولو اهل دے۔ او " انما الاعمال بالنیات " ده په بیماری کښې نیت اوکړو۔ او د حیض په حالت کښې ښځه نیت نشي کولے۔ بلکه نیت ئې په حیض کښې مونځ پریخودل دي۔

علامه طیبی ؒ لیکلے دي: والفرق ان المریض والمسافر کان یفعلهابنیة الدوام علیها مع اهلیة منها الحائض لیست کذلك بل نیتها ترك الصلوة فی زمن الحیض بل یحرم علیها نیته الصلوة فی زمن الحیض فنیظرها مسافر و مریض کان یصلی النافلة فی وقت ویترکها فی وقت فلذا لا یکتب له فی مرضه وسفره فی الزمان الذی لم یکن یتنفل فیه۔

نفس الامری نقصان ئې نه دے۔ لیکن هغه ئې ذکر کړه " فذالك من نقصان دینها "۔

دلته په حدیث کښې نشته دے چه ایمان ئې کم دے۔ او دا شته چه په دین کښې ئې کمے دے۔ نو استدلال کوي چه د دین نقصان راغے۔ لکه چه د ایمان نقصان راغے نو یو شيء دے۔ " الایمان یزید و ینقص " نقصان لازم دے۔ او نقص متعدی دے۔ او " مارایت من ناقصات " نه دا مسئله واضحه شوه۔

الحکم علی الکل بشيء لا یستلزم الحکم علی کل فرد من افراد ذالك الشيء مثل الرجل خیرمن المرأة فلا اعتراض علی عائشة وغیرها۔ د حدیث نه معلومه شوه۔ چه د انسان په جبلت کښې خه اوخراب خصلت اختیارول یا پریخودل موقوف دي۔ یا په عقل او یا په دین باندے کنی انسان ظلم خوښوی۔

د حدیث نه مسئله معلومه شوه۔ چه د ضرورت په وخت کښې به مراجعه عالم دین ته کیږي۔

فوائد: (۱): د کفرنه کفر نعمت چه قرینه وی اغستل جائز دي۔ (۲): امام یا عالم له وعظ ' رعیت ته کول پکار دي۔ چه د دنیا او د آخرت فوائد ورته بیان شي۔ (۳): ښځه که د خپل خاوند خلاف کوي۔ حرام دي۔ (۴): جهنم اوس هم موجود دے۔ او دا اهل السنت مسلك دے۔ (۵): په کومه مسئله چه نه پوهیږے ' عالم ته رجوع کوه۔ (٦): صدقه من وجه په حق الله کښې د معافی سبب جوړیدے شي۔

حدیث ۱۸: وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ قال الله تعالی کذبنی ابن ادم ..الخ -

دے ته حدیث قدسی وائي۔ حدیث او حدیث قدسی او قرآن په مابین کښې فرق دے۔ د قرآن نزول متواتر دے۔ جبرائیل راوړیدے۔ معجز کتاب دے۔ د قرآن د یو آیت منکر کافر دے۔ قرآن مطلوب دے په مونځ کښې۔ او حدیث قدسی عام دے۔ کله ئې مضمون د طرفه د ملك وی۔ او حدیث کله د خوب

ليدلو په ذريعه راځي. اوكله د ملك د واسطے نه بغير ئي په زړه كښې مضمون واچولے شي. د حديث قدسي معنې من جانب الله وى. ليكن كله په كښې د لفظ تعين د نبي ﷺ په ذريعه وى.

حديث اوحديث قدسي مونځ كښې نشي وئيلے كيدے. اوحديث تعريف مخكښې ذكرشويدے.

جبرائيل ورله په زړه كښې يو خبره واچوى " اوحي الى انكم تفتنون في قبوركم " ـ ماته ددے وحي شوے ده ـ چه تاسو به په قبرونو كښې په امتحان كښې اخته كيږئ. او دا وحي داسے هم ده چه " ان روح القدس نفخ في روعي ان نفسا لن تموت حتى تستكمل رزقها " ـ قرآن كريم كښې الفاظ اومعنى دواړه د الله د طرف نه وى. د نزول نسبت به هم الله ته كوے. حديث الفاظ د پيغمبر وى. او معنى ئي د الله د طرف نه ده ـ د يوعام حديث نه چه خبر واحد وى. كه څوك انكاركوى. نو هغه كافرنه جوړيږي. قرآن د يو آيت نه انكاركول كفردے.

علماء ليكى : چه تقريبًا دوه سوه احاديث متواتره موجود دى. علامه مناوى كتاب ليكلے دے : الاتحافات السنية في الاحاديث القدسية ـ او " الاحاديث القدسية " په نوم د ابن حبان كتاب هم شته.

"كذبني ابن آدم ولم يكن له ذلك وشتمني" : ـ دا شتم څه ته وائي ؟ـ "توصيف الشيء بما هوازراء ونقص فيه" ـ يوتن ته داسے نسبت كوے ـ چه په هغه كښې نقص اوعيب گويا موجود دے. شتم مطلب دلته داسے نه دے. چه مور داسے او پلار داسے يعني د پښتو كنځل ترينه نه دى مراد.

"لا تسبوا اصحابي "ـ عزت اغستل. دا معنى ابن حجرؒ كړے ده فتح الباري په كتاب التفسير: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ كښې ـ ددے صورت دادے : چه يو كس ته دداسے خبرے نسبت كول. چه دهغه د شان سره مناسب نه وى. انتهى.

امام ابوحنيفهؒ ته نسبت كوے. چه اوولس احاديث ورته زده وو. دا اوولس منسوب كول سره ددے نه چه مجتهد ئي منى دا شتم دے. كله كله وائي : اماماتوته چا كنځل كړے دى. تاله خواتلس احاديث راځي. او امام صاحب ته اوولس احاديث ياد دى. د امام صاحبؒ غوندے استنباط اوكړه.

دَ دوى د استنباط مثال : " اذا وقع الذباب في اناء احدكم ....الخ ليكلے ئي دى : دا حكم د مچي هم دے. د الله او د مخلوق مثلاً عيسى عليه السلام مينځ كښې تماثل نشته. تماثل خواشتراك الشيئين في الماهية النوعية ته وائي. د واجب اود ممكن نوع يوه نه ده.

"ولیس اول الخلق ":- داد قبیلے د اضافت د صفت دے موصوف ته. یعنی :لیس الخلق الاول للمخلوقات ، یا د قبیلے د حذف د مضاف نه ئی واخله. چه مضاف الیه قائم مقام شی. یعنی :لیس اول خلق الخلق ، اوخلق په معنی د مخلوق دے. اولام عوض د مضاف الیه نه دے : ای اول خلق الشیء.

"باهون علی ":- ډیر آسان ماته. " اهون " دا پخپله معنی نه دے. ځکه چه الله ته ګران او آسان نشته. بلکه " اهون "په معنی د " هیّنٌ "دے. یا " اهون " باعتبار مخلوق دے. ړومبی ځل کار ګران وی. عام انسانانو ته. بیا آسان وی. یو سړے اول ځل امامتی ته مخکښی شی. نو ګران وی بیا عادت شی نو آسان شی.

نو په ړومبی ځل مے چه پیدا کړے. په دویم ځل دے هم پیدا کولے شم :﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَداً﴾ (سورة البقرة : ١١٦). اتخاذالولد معنی ده د بچی غوندے نیولے دی.

لکه : ﴿ أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ﴾ (سورة یوسف : ٢١). ﴿ أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَداً ﴾. (سورة القصص : ٩). ﴿ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَداً ﴾. (سورة مریم : ٨٨). ﴿ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَداً ﴾. (سورة الکهف : ٤). ﴿ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدا﴾. (سورة الانبیاء : ٢٦). ﴿لَوْ أَرَادَ اللّٰهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَداً﴾. (سورة الزمر : ٤).

د توحید تعریف

علامه ابوبکر الجزائریؒ د عقیدة المؤمن : ٨٧ باندے لیکلے دی : والتوحید فی عرف الشرع نفی الکفو والمثل عن ذات الله تعالی وصفاته وافعاله ونفی الشریك فی ربوبیته مع عبادته عزوجل.

او په معارج الاصول کښی ١ : ٨٨ حافظ بن احمد حکمی د " احد او " فرد " په تشریح کښی لیکلے دی : الأحد الفرد الذی لا ضد له ولا ند له ولا شریك له فی الهیّة وربوبیته ولا متصرف معه فی ذره من ملکوته ولا شبیه له ولا نظیرله فی شیء من ذاته وصفاته.

توحید ربوبیت په اصل کښی توحیدخبری دے. او توحید الوهیت د توحید دا توحید طلبی دے.

نبی ﷺ فرمائیلے دی : لا تطرونی کما اطرت النصاری مسیح ابن مریم انما انا عبدالله ورسعله. (بخاری).

واحد او احد کښی فرق

ان الاحد بنی لنفی ما یذکرمعه من العدد تقول ما جاء نی احد ، والواحد اسم بنی لمفتح العدد تقول جاء نی واحد ولا تقول جاء نی احد. (الکاشف عن حقائق السنن).

(۲) : شاه عبدالعزیزؒ فرمائی : واحد نفی د تعدد او احد نفی د تعدد د اجزاء کښې استعمالیږی۔
حافظ ابن حجرؒ لیکلے دی : فالوحدة راجعة الی نفی التعدد والکثرة ، والواحد اصل العدد من غیر تعرض لنفی ما عداه لأحد یثبت مدلوله ۔ او بیا ئی لیکلے دی : ویستعملون الواحد فی الاثبات ۔ چه واحد په اثبات کښې استعمالیږی۔ (کتاب التوحید فتح الباری)۔
علامه ابن تیمیهؒ لیکی : " احد " لم یوصف به شیء من الاعیان الا الله وحده۔ وانما یستعمل فی غیر الله فی النفی قال اهل اللغة یقول :لا احد فی الدار ۔ ولا تقل فیها احد ۔ او " فیها احد " غلط دے۔ ولهذا لم یجئ فی القرآن الا فی غیر الموجب کقوله تعالی : ﴿فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ﴾ ۔ و کقوله : ﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ﴾ ۔ (سورة الحاقة : ٤٧)۔ (سورة الاحزاب : ۳۲)۔
(مجموع فتاوی ۹ : ۱۳۲)۔
او صمد : هو الذی یحتاج الیه کل احد وهو غنی عنهم ۔ یعنی څه د چا والد نه یم۔ ځکه قدیم ذات د حوادثو دپاره محل نه وی ۔

حدیث ۱۹ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ قال الله تعالی یؤذینی ابن ادم ..الخ ۔

داهم حدیث قدسی دے۔ دے نه مخکښې د ابو هریره رضی الله عنه روایت وو۔
نو سوال راتلو چه هغه د ابو هریره رضی الله عنه حدیث وو۔ نو داسے به ئی وئیلے وے "وعنه" ۔ ضمیر به ئی ورته راجع کړے وو۔
جواب : نو په هغه حدیث کښې " وفی روایة ابن عباس " راغلو۔ نو که داسے ئی وئیلے وے۔ چه " وعنه " ۔ نو چا به وئیل چه دا حدیث د ابن عباس رضی الله عنه دے۔ نو د "وهم " د ازالے دپاره ئی په دویم ځل باندے صراحةً راوړو۔
"یؤذینی ابن آدم ":۔ دا بنی آدم ماته تکلیف رارسوی۔ ابن آدم ئی اووئیلو۔ چه دے ما د نطفے نه پیدا کړیدے۔ ده ته اوګوره۔ او دده ماته تکلیف رارسولو ته اوګوره۔ داخو ډیره لویه عجیبه خبره ده۔
قرآن کریم کښې دی : ﴿وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ﴾ (سورة یسن : ۷۸)۔ قرآن کښې هم راځی ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ (سورة الاحزاب : ۵۷)۔ ﴿وَالَّذِينَ

يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ (سورة التوبة : ٦١) ځکه د الله او د الله رسول ﷺ ته ایذا رسوی.
لیکن بعض خلق په دے باندے اشکال کوی. چه د ایذا مطلب خو دادے: چه چاته یو مکروه څیز رسول ایذا هله چا ته حاصلیږی. چه هغه اثر قبول کړی. نو الله رب العزت خود انفعال صفت نه قبلوی. نو دلته د ایذا څه مطلب دے؟ ـ نو بیا د هغے نه بعد تاویلونه کوی. خو تاویلونه بهتر نه دی. په خپل ظاهر باندے پریږده. امام ابو حنیفة تاویل بنکلے نه ګنړی.

د ایذاء تعریف

د ایذا خپل تعریف دادے: ایصال المکروه الی الغیر قولاً و فعلاً آثر فیه اولم یؤثر.
الحق الصریح کښی دی: چه د امام ابو حنیفة نه په فقه اکبر کښی نقل دی چه د "ید" تاویل به په قدرت سره نه کوی ـ دے باندے ځائی په ځائی ډیر زور لګوی. دے لیکی: چه د امام صاحب نه فقه اکبر کښی نقل دی ـ نو نقل خو صحیح شو. او بیا ئی وریسے لیکلے دی: چه ستا او منو که د امام صاحب او منو ـ نو د امام صاحب به په دے ځائی کښی منے. هغه وائی تاویل مه کوه. بلکه اکثرو مواضعو کښی د امام منل څه بده خبره نه ده. چه کله ئی تحقیق په دلائلو مبرهن دے.
"یسب الدهر": ـ ردے بدے وئیل. چه په هغے کښی نقص دے. "یسب الدهر" څه مطلب دے؟.
یو خود دهر معنی ده زمانه. مرور د ایامو او د لیالی دے. او په دے معنی باندے قرآن کښی راځی: ﴿ وما یهلکنا الا الدهر ﴾ چه مونږ دهر هلاك کوی. او په دے معنی باندے دهریان وائی. یو مشرکان دی مشرکان هغه دی. چه هغوی د الله صفات بل چاله ورکړی نو دا مشرك دے. یو دهری دے چه هغه د الله د وجود نه انکار کوی. د دهر نه مدت د عالَم یا ډیره اوګده زمانه مراد ده.
" وانا الدهر ": ـ څه مقلب یعنی اړونکے د دهر یم. څه مدبر د دهر یم. (قاضی عیاض).
شئون د دهر زما په قبضه کښی دی. ځکه دا وریسے جملے دلیل دے " بیده الامر اقلب اللیل والنهار " داد ابو داود آخری حدیث دے.
علامه کاندهلوی خپل تعلیق کښی د راغب په حواله لیکی: الاظهر ان معناه انا السائل مایضاف الی الدهر من الخیر والشر والمسرات والمسات.
دهر د الله په نومونو کښی نه دے. او ابن حزم ئی د الله اسم ګنړی. دغه د علامه وحید الزمان مسلك هم دے ـ د بخاری د اردو په حاشیه کښی علامه وحیدالزمان لیکلے دی: چه ابن حزم ئی د الله نوم

منی۔ ابن العربی هم دا وائی او قاموس کښې هم وائی: چه دهر د الله په نومونو کښې شته دے۔
خو دا قول د جمهور محققینو په نزد باندے غلط دے۔ د الله نومونه توقیفی دی۔ په هغه نومونو کښې دهر نشته۔ "وانا الدهر" دلته په دے معنی چه "الامر بیده" شئون د دهر زما په لاس کښې دی۔ نو دهر ته کنځل مه کوه۔ ردے بدے مه وایه۔ دا شاعران ئې چه کوی۔ نو دوی په دغه معنیٰ باندے نه کوی۔ خو بیا هم اجتناب کول بهتر دی۔ داسے مه وایه چه زمانه خرابه ده۔ داسے وایه چه زمانه خرابه ده۔ که څه او بل سم شو۔ نو هر څه به سم شی۔

حدیث ۲۰: وعن ابی موسی الاشعری قال قال رسول الله ﷺ ما احد اصبر علی .... الخ۔

"اصبر":۔ صبر وئیلے کیږی "حبس النفس علی ما تکره" او داد الله دپاره ظاهرًا دا نه صحیح کیږی۔ دا صفت ورله ثابتولے نشے۔ نو مونږ وایو چه تاویل مه کوه۔ دا غوره خبره ده۔

یو تن هم داسے نشته چه ډیر صبر کوی "علی اذی" کلام مؤذ قبیح صادر من الکفار" په داسے کلام باندے چه هغه ایذا رسوونکے وی۔ "**یسمعه**" صفت دے د "اذی" نه۔

علامه طیبیؒ فرمائی: چه الله ته دا خلق کوم نسبتونه کوی که دائی خلقو ته اوکړه۔ یا یو بنده ته اوکړه نو پرے یخ به ئې کړی۔ او دا خلق د الله په باره کښې څومره غلطے خبرے کوی۔ "ولعمری ان اقل النطق وادناه اذا نسب الیه استکف وامتلا غضبًا وکاد یستاصل قائله۔ (طیبی)۔

"**یدعون له الولد**" دا یدعون هم دے او یدّعون هم دے۔ یعنی سکون الدال وتشدیده۔ دغه ولد ته رامدد شه وائی۔ د هغه دپاره ولد ثابتوی۔ دعوٰی ئې داده چه د الله ولد شته دے۔

لکه یهودو وئیل: ﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللّٰهِ﴾ (سورة التوبة: ۳۰)۔ او ددے ربط د کتاب الایمان سره داد ے۔ چه داسے غونډے عقیدے د ایمانیاتو سره منافات لری۔

"ثم یعافیهم":۔ بیا ورله عافیت ورکړی۔ دا دفع د مضرت ده۔

"یرزقهم":۔ الله ورله رزق ورکړی۔ دا جلب منفعت دے۔ د هغے یو مثال دے۔ عافیت چه مضرتونه دفع کوی سره ددے نه چه مشرك دے۔ او الله ته په نسبت د ولد کولو کښې فخر کوی۔ او الله ورله رزق نه بنده وی۔ گلستان کښې راځی:

اے کریمے کہ از خزانہ غیب — گبر وترسا وظیفہ خورداری
دوستان را کجا کنی محروم — تو کہ با دشمنان نظر داری

سره ددے نه ئې مشرك له اکثر د مؤحد نه خه ورکوی۔

ولیکن خداوند بالا وپست — بعصیان در رزق بر کس نہ بست

حدیث ۲۱: وعن معاذ قال كنت ردف النبی ﷺ علی حمار لیس بینی و بینه ....الخ -

د معاذ رضی اللہ عنہ تعلق د بنوسلمه قبیلے سره دے۔ فهم و فراست، فصاحت و بلاغت، قوت بیان او په جرأت کښی یو امتیازی مقام وو۔ ۱۸ هجری کښی د ۳۸ کالو په عمر کښی وفات شوید ے۔ اومعاذ رضی اللہ عنہ هغه شخصیت دے۔ چه نبی ﷺ یمن ته قاضی مقرر کړے وو۔ ده ته سید الفقهاء او کنز العلماء وئیلے کیږی۔ بدر او نورو غزاګانو کښی شرکت کړید ے۔

الحق الصریح کښی دی: چه عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنه فرمائی: چه مونږ به د معاذ رضی الله عنه تشبیه د ابراهیم علیه السلام سره ورکوله. څرنګه چه ابراهیم علیه السلام د حلال وحرام معرفت کښی ماهر وو۔ دغه رنګے بعض صفاتو کښی حضرت معاذ رضی الله عنه هم وو۔

معاذ رضی الله عنه اوچت شخصیت دے ـ خو معصوم نه دے ـ او ابراهیم علیه السلام معصوم پیغمبر دے ـ د غیر معصوم تشبیه ئی د معصوم سره ورکړے ده ۔ سیدنا معاذ رضی الله عنه نه دے معصوم۔ او سیدنا ابراهیم علیه السلام معصوم دے۔

نو که یو تن اووائی " الهدایة كالقرآن " نو په دے باندے دا اعتراض کوی۔ چه هدایه خو معصوم کتاب نه دے ـ او قرآن معصوم کتاب دے۔ دا تشبیه غلطه ده۔ تشبیه کښی من کل الوجوه مماثلت نه وی۔ لکه یو تن وائی چه ته خر ئی۔ نو مطلب دا دے چه ته کم عقل ئی۔

دویمه داده: چه " كالقرآن " د " الهداية " خبر نه دے۔ خبر ئی " قد نسخت " دے۔

معاذ رضی الله عنه په باره کښی شیخ عبدالسلام ؒ د پرویزیانو په رد کښی " انکار حدیث سے انکار قرآن تک" په کتاب کښی لیکلے دی: چه طبرانی کښی روایت دے۔ او د خطیب بغدادی په تاریخ کښی روایت دے چه معاذ رضی الله عنه په یمن کښی بطور عامل اوسیدلو۔ او په مدینه طیبه کښی ده هغه څوی وفات شوے وو۔ نو نبی ﷺ ورله یو تعزیتی خط لیږلے وو۔ دوی اصل کښی ثابتوی دا خبره چه کتابت د حدیث شوید ے ـ پرویزی ته وائی ته د حدیث کتابت نه منے۔ نبی ﷺ معاذ رضی الله عنه ته خط لیږلے وو۔ په طبرانی کښی دا خبره ذکر ده ـ او هغه خط ئی هم راغستے دے۔ چه الله مونږ له څه راکړی دی۔ نو دا امانت دے او ته صبر کوه۔ که څوی دے وفات شو۔ صبر سره به الله اجر درکړی۔

لیکن دا روایت څوک وائی موضوعی دے۔ او څوک وائی چه ضعیف دے۔ جمع الجوامع د هغے ۱۰ جلد ص ۱۱۸ صرف په موضوعاتو دے په هغے کښی دا روایت راغستے دے۔

دیته ابن جوزیؒ موضوعی روایت ونیلے دے. امام ذهبیؒ وائی دا روایت ضعیف دے. په دے کښی راوی دے مجاشع. دویمه داده: چه دده په سند کښی عبدالرحمن بن غنم دے. او عبدالرحمن باندے هم کلام دے. " وکل هذا الروایات ضعیفة بلا تثبت فان وفاة ابن معاذ بعد وفاة رسول الله ﷺ سنتین.

د هغے وجه داده: چه د معاذ رضی الله عنه ځوی چه دے. داده نبی ﷺ نه دوه کاله روستووفات شویدے. هغه مړ نه وو. نو نبی ﷺ ورته څنګه خط اولیږلو. کیدے شی بعض صحابوداخط لیکلے وی. ابونعیم په حلیة کښی پرے هم کلام کړیدے.

الاصابة ۲ : ۷۳ کښی دی: عبدالرحمن بن معاذ بن جبل الانصاری ذکره ابوعمر فقال توفی مع ابیه وکان فاضلاً وقال ابن ابی حاتم یقال انه ادرك النبی ﷺ . آخرکښی لیکی: قال ابن الاثیرذکرابوعمر عن بعضهم قال لم یکن لمعاذ ولد ، فلعل المراد من قال لم یکن له ولد ای لم یخلف ولدا لان عبدالرحمن مات قبل ابیه ولا شك ان له صحبة لانه کان کبیرا فی عهد النبی ﷺ وهو من اهل المدینة .

ددے روایت نه معلومیږی. چه عبدالرحمن د پلار په موجودګی کښی وفات شویدے. نو خط لیکل بیا څه بعید نه دی. البدایه والنهایه ۴ : ۱۰۲ طبع پشاور کښی حافظ ابن کثیرؒ اختلاف داسے ذکرکوی : لم یولد له وقال غیره بل ولدله ولد وهوعبدالرحمن شهد معه.

"ردف النبی ﷺ": - کوم خوش قسمته انسان چه هغوی ته دا سعادت حاصل شویدے. چه نبی ﷺ پسے ئی سورلی کړے ده.

مولانا بدرعالم صاحب په ترجمان السنة په حاشه کښی د هغوی نومونه ذکرکړے دی. نو یو په کښی معاذ رضی الله عنه دے. په عقبه ثانیه کښی چه ۷۰ کسانو بیعت کړے وو. نوپه هغے کښی معاذ رضی الله عنه هم وو. ده ته نبی ﷺ فرمائیلے وو " یا معاذ انی احبك ".

"علی حمار": - نبی ﷺ په خرباندے سورلی کړے ده. مولانا احسان صاحب مدظله فرمائی: چه اصل کښی سنت ته اقرب داده. چه انسان په خرباندے سورشی. جهازکښی تلل موټرکښی تلل ټیك دی - خواقرب الی السنة نه دی. مولانا موسیٰ خان روحانی بازیؒ هغه د بیضاوی د شرح مقدمه کښی لیکلے دی: په دے دورکښی تواضع به داوی. چه عالم په سائیکل باندے سورشی.

مولانا احسان صاحب مدظله لیکلے دی: چه د مدینی خره ډیر زیات اوښیاردی. هغوی په خپله خپل کورته ځان رارسوی.

نبی ﷺ په قچر هم سورلی کړے ده. دویم جلد کښې روایت شته. چه په جنګ حنین کښې نبی ﷺ اوفرمائیل: انا النبی لا کذب انا ابن عبدالمطلب. روایت کښې رائحی چه په قچر باندے سور وو.

نبی ﷺ په اس باندے هم سورلی کړے ده. کله چه پته اولګیده. او شور شو. چه دشمن حمله کوی. نو دابو طلحه صحابی نه ئی اس واغستلو. بالکل لغړ اس په هغے باندے نبی ﷺ سور شوید ے. رواپس شو فرمائیل ئی "لم تراعوا".

معلومه دا شوه: چه په خر باندے سورلی کول سنت عمل دے. یو سورول دی چالره دا تعزیر دے. فرق بین الرکوب والارکاب ـ مخ ئی ورله تور کړو. او په خرئی سور کړو. دا تعزیر شو. او چه په خپله پرے لتی واړوی. او په خپل شوق باندے پرے سور شی. نو دا سنت عمل دے.

خلق وائی: مونږ مړه سنت تازه کوو. چه دا دوه کارونه اوکړی. نو سنت به د پیغمبرانو تازه کړی. مثلاً (۱) ګډی بیزی څرول: مامن نبی الا رعاها. (۲) چه په خر باندے سورلی اوکړی.

الحق الصریح کښې ډیره عجیبه مسئله ذکر کړے ده: وائی ددے نه دا معلومه شوه. چه که خر طاقتور وی ـ او ځائی نزدے وی. نو که دوه کسان پرے سوریږی. نو ټیك ده. یو پرے نبی ﷺ سور وو. او بل معاذ رضی الله عنه. دا څه ضروری نه ده. چه نبی ﷺ نزدے مقام ته تلو. که لرے هم وی. او طاقت په کښې وی جواز لری. ددے حمار نوم دے یعفور.

"مؤخرۃ الرحل": د کجاوی آخری لرګے دا خپل نزدیکت ښکاره کوی. چه د نبی ﷺ خواته اووم. ددے نه دا معلومه شوه. امام بخاریؒ په دے باندے باب هم تړلے دے. چه د کوم کس سورلی ده. نو هغه د مخکښې ناستے حقدار دے. مثلاً د چا موټر دے. نو په اولنی سیټ کښې به هغه کینی. که یو تن ایثار کوی. او بل مخکښې کوی. نو هغه جدا خبره ده.

"فقال یامعاذ": ـ دا آواز ورته ځکه کوی. چه توجه دده برابر شی. پیغمبر داسے خبره نه کوله. چه بل ئی نه اوری. کله ئی ورله لاس نیولے دے. روستو خبره کوی. لکه ابو هریره فرمائی "فاخذ بیدی". کله ئی ورله په اوګه لاس ایخے دے. لکه ابن عمر رضی الله عنه له ئی اوګه اونیوله. نو کله ئی ورته آواز کړے دے یا معاذ.

تبلیغیان چه کله ګشت کوی. نو وائی تاسو دا خپل کار پریږدی. مونږ ته لږ رانزدے شے. نو چه کله رانزدی شی. نو بیا ورته خبره اوکړی.

حجة الوداع کښې اول نبی ﷺ جریر رضی الله عنه ته حکم ورکړو. خلق خاموش کړه.

"ما حق الله علی عباده ": ۔ دلته د حق مسئله ده ۔ اهل السنة والجماعة وائی : چه په الله باندے حق تفضلی شته ۔ او وجوبی نشته دے ۔ معتزله وائی : چه وجوبی هم شته ۔ د عبادت مسئله چه راغله ۔

" فان حق الله علی العباد ان یعبدوه " : ۔ علامه طیبی ؒ په دے باندے بحث کړیدے ۔ هغه وائی: یو عبادت دے ۔ او یو معبودیت دے ۔ او یو عبودیت دے ۔ په دے درے واړو کښی فرق دے ۔ (۱) : عبادت داد عوامو کار دے ۔ ددے تعلق د علم الیقین سره دے ۔ (۲) : معبودیت داد خواصو کار دے ۔ ددے تعلق عین الیقین سره دے ۔ (۳) : عبودیت ددے تعلق د اخص الخواص سره دے ۔ چه هغے ته وئیلے کیږی حق الیقین ۔ درے واړه قرآن ذکر کوی ۔ علم الیقین ، عین الیقین ، حق الیقین ۔

علامه آلوسی ؒ په تفسیر روح المعانی څلورمه سیپاره کښی ذکر کړے دی : ﴿ لَمَغۡفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٌ مِّمَّا يَجۡمَعُوۡنَ ﴾ (سورة ال عمران ۱۵۷) دلاندے لیکلے دی ۔ خو په توجیه خوشحاله نه دے : فی الایة تقسیم مقامات العبودیة الی ثلاث اقسام فمن عبد الله تعالی خوفا من ناره آمنه ۔

یو هغه کس دے ۔ چه دده د عبادت مقصد دادے ۔ چه څه د دوزخ نه بچ شم ۔ او جنت حاصل کړم ۔ دا خه خبره ده ۔ خو ډیره خه نه ده ۔ داخو دیرے عبادت دے ۔ د غلامانو کار دے ۔ د دوزخ نه بچاؤ او جنت ته تلل ۔ بعض عالمان قصه کوی : بی بی رابعه بصری چه وه ۔ نو د هغے سره په یو لاس کښی اوبه دی ۔ او بل لاس کښی ورسره اور وو ۔ نو وائی چا ورته وئیل چه چرته ځی ۔ نو وئیل ئی څه جنت او دوزخ له ځم ۔ دا جنت سوزوم ۔ او په دوزخ باندے اوبه اچوم ۔ دا اور مړ کوومه ۔ ځکه چه خلق عبادت کوی ۔ یا د جنت دپاره کوی ۔ یا ئی دے له کوی ۔ چه د دوزخ نه بچ شم ۔ چه دا غم ورله ختم کړم ۔

دا واقعه غلطه ده ۔ تفسیر مظهری په دے واقعه باندے رد کړیدے ۔ سورة الزخرف ۳۵ کښی راځی :﴿وَالۡاٰخِرَةُ عِنۡدَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴾ ۔ د هغے دلاندے د واقعے تردید شته ۔

تفسیر مظهری کښی دی : چه د سلوك په دنیا کښی د مومن فرض دی چه جنت دے له غواړی چه د الله د رحمت یو مظهر دے ۔

دا خبره بی بی رابعه بصری کړے ده ۔ په هغه وخت کښی چه مغلوب الحال وه ۔ په دے صوفیانو باندے کله کله داسے وخت راځی ۔ اودا مجدد الف ثانی ؒ فرمائیلے دی ۔

دویم قسم عبادت دے دپاره کوی ۔ چه زما عقیده داده ۔ چه څه مکلف یم ۔ او الله ته قرب حاصلوم په

عبادت سره ـ هم دغه ئې مقصد دے ـ

دریم نمبر چه زما الله دے ـ د هغه غټ صفات دی ـ په ماباندے احسانات دی ـ څه د هغه د احساناتو حق نه شم ادا کولے ـ خو چه ما ته ئې ونیلے دی ـ که ثواب راکوی او که نه ؟ ـ عبادت به کوم خو چه څه وائی نو څه به هغه کارونه کوم ـ حلال اوحرام ته به په کښې ګورم ـ نودا ښکلے عبادت دے ـ

اوآخرکښې علامه آلوسیؒ لیکی : ولا یخفی انه من باب التاویل لا من قبیل التفسیر ـ

"ان یعبدوه" :ـ ته د الله حق ادا کوه ـ نو الله به ستا کارونه سموی : ﴿ان تنصروالله ینصر کم﴾ ته د الله د دین مدد کوه ـ الله وائی : څه به ستا مدد کوم ـ

مونږ وایو ـ زمونږ مدد دے اوکړی ـ نو مونږ به د الله ددین مدد اوکړو ـ حالانکه الله فرمائی : ته زما ددین مدد اول اوکړه ـ څه به ستا مدد اوکړم ـ

عبادت ټولوشرعی تکالیفو ته شامل دے ـ او د شرك نه اصطلاحی شرك او ریاء دواړه مراد دی ـ

"لا تبشرهم" :ـ یو خبردے ـ او بل زیرے دے ـ دے حدیث کښې ئې بشارت ذکرکړیدے ـ وریسے حدیث کښې راځی : افلا اخبر به الناس ـ بشارت هغه د زیری خبرچه په رومبی ځل باندے اوشی ـ مخکښې هغه ته پته نه وی ـ لکه د یوتن څوی اوشو ـ او هغه ته پته نه وی ـ اوڅوك ورته اول اووائی ـ نو دے ته زیرے وائی ـ او بل چه هغه ته پته ده ـ چه ستا څوی اوشو ـ نودا خبر دے ـ یو خبر وی او بل فائدة الخبر ـ

مرقات کښې دی : " لا تبشرهم " نه بعض دلیل نیسی ـ لکه امام بخاریؒ چه یو عالم په علم سره یوقوم خاص کولے شی ـ

حدیث ۲۲: وعن انس ان النبی ﷺ ومعاذ ردیفه علی الرحل قال یا معاذ قال لبیك..الخ ـ

"قال یا معاذ" :ـ نبی ﷺ ورته دا آواز درے ځله ددے دپاره اوکړو ـ چه خبرے ته غوږ کیږدی ـ

"وان محمدارسول الله" :ـ ئې دے حدیث کښې ئې اووئیلو ـ په بعضو کښې نشته ـ چه په کوم کښې نه وی ـ نودا به ورسره لګوی ـ

"حرمه الله علی النار" :ـ الله به په ده باندے اورد جهنم بند کړے :﴿وَحَرَامٌ عَلَى قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ﴾ (سورة الانبیاء : ۹۵) ـ حرام معنی بند ـ ﴿وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ﴾ (سورة القصص : ۱۲)

او دغسے : ﴿وحرم ذالك علی المومنین﴾ ﴿قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً﴾ - (سورۃ المائدۃ:۲٦)

"تـأثمًا": - د مرګ پـه وخت کښـې خبر ورکـړو - دے دپاره چه د ګناه نه ځان بچ کړی - هسے نه چه دحدیث نه رسولو د وجے ګنهګار پاتے شی -

یـو خـو پـه حـدیـث بانـدے اشکال دے - چه یوائې به ته په کلمه باندے جنت ته ځی - ولے اعمال به نه کوے مونځ ، روژه ، زکوة او حج به نه وی - نوراخلاقیات به نه وی -

(۱) یـو جـواب د امـام بـخـاریؒ دے - هغه فرمائی : داد هغه چا خبره ده - کافر مسلمان شو پښیمانه شو - او توبه ئی اوویستله - او بیا د عمل صورت په کښی پیدا نه شو - او د اعمالو د صدور نه مخکښی دے مړ شو - نو هغه یادوی -

مجمع الزوائدباب اصول الدین وفرائضه : ۱۴ : وفی اسناده ابو جناب وهو مدلس وقد عنعنه - او ابن کثیر په تـفـسـیـر کښـې یو واقعه نقل کړے ده : ﴿الَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُواْ إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَـئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ﴾ (سورۃ الانعام : ۸۲) - د لانـدے : نبی ﷺ صحـرا ته تلے وو د ملګرو سره - یو سړے راروان وو په سورلے باندے - نبی ﷺ اوفرمائیل شاید چه دا سړے تاسو ګوری - نو چه راغے نو نبی ﷺ تـه ئـی اوونـیـل چه هغه پیغمبر په کښی کوم یو دے - نبی ﷺ ورته اوفرمائیل څه یم - نو هغه اوونیل څه اسلام قبلوم - اوږده واقعه ده - بس اسلام ئی قبول کړو - نو د هغـے نه پس روان شو - چه لږ مزل ئی اوکړو - نـو د اوبښ خـپـه ئـی د ځـنـګـلـی مـنـږك په سوړه کښی ورننوتله - او سړے راوغورځیدو - نو نبی ﷺ اوفـرمائیل دا خپل ملګرے راونیسی - نو چه نبی ﷺ ئی خواله لاړو نو نبی ﷺ مخ بل طرف ته واړولو - نو نبی اوفرمائیل : لعل الرجل مات جائعا - شاید چه دا سړے د لوګے د وجے مړ وی - نبی ﷺ اوفرمائیل ما مـلائك اولـیـدل - چـه ده لـه پـه خُله کښی میوے ورکوی - دا سړے وفات شو - نبی ﷺ ورته جنتی اووئی - د جنت میوے نبی ﷺ اولیدے - نه ئی مونځ کړیدے - نه روژه نه حج نه زکوة - او فورًا جنت ته تلے دے - امام بخاریؒ دا خبره ذکرکوی -

الـحـق الـصـریـح کـښـې دی : دا خبره ضعیفه ده - چه اسلام ئی قبول کړو - او د بل فرض د راتلونه مخکښی وفات شو - ځکه حدیث کښی عباد عباد راځی - لکه مثلًا : حق الله علی العباد ان یعبدوه - نو داد یو تن خبره نه ده - داسے یو بل صحابی هم دے - چه د اسلام د قبول نه بعد جهاد کښی مصروف شو - او شهید شو - د هغه

نوم اسود راعی دے۔اسلام ئی راوړو۔ یو مونځ ئی نه ووکړے ۔ (عیون الاثر لابن سید الناس ۳ : ۱۸٤) ۔
بناء بر یو تفسیر د موسیٰ علیه السلام مقابلے له چه کوم جادوګر راغلے وو۔ نو اسلام ئی چه قبول کړو
نو فرعون ورته وئیلے وو۔ چه مونږ به ستاسو لاس او خپے کټ کوو۔ دا شوے دی او که نه ؟۔
دوه قوله په کښی دی : (۱): یو قول دادے : چه مره کړے ئی دی۔ او هیڅ وخت ورته نه وو۔ چه عمل ئی
کړے وے۔ او الله جنت ته بوتلے دی۔ اګر چه دا واقعه د شرائع من قبلنا ده۔ او امام رازیؒ په کبیر کښی داد
ابن عباس رضی الله عنه قول نقل کړیدے۔ دا عباد بیا ډیر دی۔
(۲) : دویم جواب دادے : حسن بصریؒ وائی : اذا ثبت الشیء ثبت بجمیع لوازمه ۔ شیء چه ثابت شی
نو ټول لوازم به ئی ثابت وی۔
نو د " لا اله الا الله " لوازم به په کښی ټول راځی۔ د " لا اله الا الله " په لوازمو کښی روژه ، زکوة نور اعمال
شته دے۔ مثال ئی داسے دے : چه یو تن نکاح تړی د یوے ښځے سره۔ او دا وائی چه ما قبوله کړے
ده۔ نو یواځی قبوله کړے نه ده۔ په قبوله کړے کښی چائے ، روټی ، تماتر ، غوړی وغیره راغلل " اذا
ثبت الشیء ثبت بجمیع لوازمه " دا جواب دے د حسن بصریؒ ۔
(۳) : دریم جواب د سعید بن مسیبؒ دے۔ داد هغه وخت خبره ده۔ چه لا فرائض نازل شوے نه وو۔
دا جواب کمزورے دے۔ وجه داده : چه دا روایت خو د معاذ رضی الله عنه دے۔ یا د ابو هریره رضی الله
عنه روایت دے۔ خو په هغه وخت کښی خو احکامات راغلے وو۔ مونځ وو۔ روژه وه۔ حج وو۔ زکوة وو
فرائض چه کوم دی۔ هغه په کښی ټول موجود وو۔
(۴) : څلورم جواب دادے : هغه اوردے۔ چه د جهنمیانو دپاره تیار شویدے۔ یو هغه دے چه د ګناهګار
دپاره تیار شوے دے۔ د جهنمیانو دپاره " عذاب مهین " دے او ددوی نورو مسلمانانو مؤحدینو دپاره
عذاب د تطهیر دے۔

"حرمه الله ": ۔ نو هغه اور ئی پرے بند کړو۔ چه کوم د کافر مشرك دپاره وو۔ د تو هین هغه اورمراد
دے۔ نو د پاکے والا اور به ورله وی۔
(۵) : پنځم جواب د شیخ الهندؒ دے۔ هغه دا فرمائی : چه د کلمے خواص دادی چه کله ورسره موانع
رانه شی۔ او مقتضیات ئی وجود ته راشی۔ اوس کلمه هم وائی چه دا کوم " لا اله الا الله " وائی نو په
هغے کښی تا په موانعو کښی یو مانع اوکړو۔ یا د هغے خیال دے او نه کړو۔ یا په مقتضیاتو کښی دیو

مقتضی خیال اونه کړو۔ نو بیا نه کیږی۔ لکه د اوبو خاصه بالطبع هغه برودت دے۔ نو چه ته ورته اور بلوے۔ نو هغه به خود بخود ګرمیږی۔ لا اله الا الله د خپل طبیعت په اعتبار سره د نجات کلمه ده۔ خو چه ته په کښی زیاتی د هغے ضد امور شروع کړے۔ نو دا ځانله جدا خبره ده۔

لیکن د ټولو نه ښکلے جواب په دے مسئله کښی هغه د قاضی صاحبؒ دے۔

(٦) : شپږم جواب د قاضی شمس الدینؒ دے هغه فرمائی : دا روایت اجمالی دے۔ تفصیلی روایت اوګوره په الفصل الثانی کښی : عن معاذ قال قلت یا رسول الله اخبرنی بعمل ....الخ۔

نودے حدیث کښی ورته ډیر اعمال خودلے دی۔ نو حدیثونه به ټول ګورے۔ اول حدیث کښی اجمال دے۔ بیا روستو تفصیل دے۔ نو بیا به ذهن ته اشکال نه رائحی۔

اشکال: بل دے چه کله نبی ﷺ بند کړے وو د بیان نه۔ نو ولے ئی بیان کړو۔ بیا اول کښی ئی خو نه دے بیان کړے۔ نو روستو ئی ولے بیان کړو۔

جواب: پوهه وو چه نبی ﷺ ماته کومه خبره کړے ده۔ دا شفقةً منع ده۔ اوکه شفقةً منع که نه منے نو خیر دے۔ نو معاذ رضی الله عنه په آخر وخت کښی دا خبره بیان کړه۔ او بیا ئی په دے کښی دا آخر وخت ولے خوښ کړو۔ نو هغه په دے وجه چه زما د آخری حالات د دنیا د تللو ډیر خائسته جوړشی۔ ابوزرعهؒ د معاذ رضی الله عنه روایت بیانوی۔ ملګری ورسره ناست دی " فمن کان آخر کلامه لا اله الا الله"۔ او بس وفات شو " دخل الجنة " ته اونه رسیدو۔ نودے وجے نه معاذ رضی الله عنه آخری وخت خوښ کړو۔ او آخری خبره د وصیت غوندے ډیر اهمیت لری۔

حدیث ۲۳: وعن ابی ذر قال اتیت النبی ﷺ وعلیه ثوب ابیض وهو نائم ثم ا تیته ...الخ۔

حالات د ابو ذر رضی الله عنه : ابوذر رضی الله عنه خپل نوم جندب دے۔ د پلار نوم ئی جناده دے ۔ او دے مخکښو خلقو کښی مسلمان شوید ے۔ بعض علماء وائی : پنځم نمبر باندے اسلام ته راغلے دے۔ د نبی د بعثت نه مخکښی ئی هم عبادت کولو۔ او د جنازے امامت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کړید ے۔ اود عثمان رضی الله عنه په خلافت کښی وفات دے۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی : یرحم الله اباذر یمشی وحده ویموت وحده ویبعث وحده۔

دویٔ به ربذه کښی اوسیدل۔ کله چه وفات شو۔ سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د اهل کوفه په

جماعت کښې راروان وو۔ چه دغه ځائې کښې خبرشو۔ چه سیدنا ابوذر رضی اللہ عنه وفات شویدے ۔هغوی اوژړل۔ هغوی دفن هم کړو۔ حافظ ابن کثیرؒ لیکی : اسناده حسن۔ (البدایه والنهایه ۳ : ۱۲)۔

ده د اسلام واقعه امام بخاریؒ او امام مسلمؒ دواړو نقل کړے ده۔ اول نه ئې خپل رور انیس اولیږه۔ چه دے نبی ﷺ ځان ته وائی۔ د هغه معلومات اوکړه۔ نو هغه چه واپس راغے۔ نو ابوذر رضی اللہ عنه ته ئې اووئیل ما چه کوم سړے اولیده۔ نو هغه خلقو ته وئیل ښه کوے او بد مه کوے۔ ورته ئې اووئیل تا خو ماله څه شفا رانه کړه۔ دا خو هرڅوك وائی چه ښه کوے او بدمه کوے۔ نو وائی څه په خپله باندے ځم۔ نو چه لاړو نو وادی مکه باندے روان شو۔ نو تپوس ئې اوکړو "این هذا الذی تدعونه الصابی" هغه سړے چه تاسو ورته صابی وائی کوم ځائی دے۔ مشرکانو یو بل ته ئې اووئیل۔ او سترګے ئې یو بل ته اووهلے صابی دے۔ نو وے وهلو۔ " وضربت لاموت " نو مرګ له ئې اووهلم۔ داسے ظالمان دی۔ بیت اللہ ته چه اورسیدو۔ نو علی رضی اللہ عنه ترینه تپوس اوکړو۔ میلمه څه کوے۔ اوئے وئیل خاص دغه سړی سره ملاقات کووم۔ ډیر خطرناك وخت دے۔ ما سره راځه که چا اولیدو۔ نو څه به وړو بولو ته کینم۔ ته به ماته نه اودریږی ۔ چه څوك داسے او نه وائی۔ چه دادده ملګرے دے۔ په دے طریقه باندے رسول ﷺ ته اورسیدو۔ اسلام ئې چه قبول کړو۔ او کلمه ئې اووئیله۔ نبی ﷺ ورته اووئیل څه کور ته حالات خراب دی بیا به راشے۔ ابوذر رضی اللہ عنه اووئیل نه ځم " واللہ لاصرخن بها بین ظهرانیهم "۔ څه به د توحید چغه وهم۔ او په خانه کعبه کښې به ئې وهم۔ نو راغے اوئې وئیل " اشهدان لااله الا اللہ " نو بیا ئې اووهلو۔ عباس رضی اللہ عنه د نبی ﷺ تره راغے بچ کووئی۔ او ورته ئې اووئیل ستاسو لار په دے غفار قبیله باندے ده۔ ډیر د تکلیف په وخت کښې اسلام قبول کړیدے۔

د ابوذر رضی اللہ عنه په مسئله د ملکیت کښې تفرد دے۔ ملکیت څوك ځان سره نشی ساتلے۔ دا اوسنی کمیونستان د ابوذر غفاری رضی اللہ عنه ورځ مناوی۔ یوم ابوذر وائی دا زمونږ ملګرے وو۔ نو دادده یو مسلك وو۔ او روستو ده د عثمان رضی اللہ عنه په دور کښې ددے پرچار شروع کړو۔ نو عثمان رضی اللہ عنه دے ربذه نومے مقام ته بدل کړو۔ دا ځائی اوس هم ښار دے۔ نو چه هلته ئې بدل کړو۔ نو نبی ﷺ ده ته وئیلے وو " وحیدًا فریدًا " یعنی یکی یوائې به تالره مرګ راځی۔ کله چه دده ځنکدن نزدے شو۔ نو ښځے سره ئې غم شو۔ چه خخو به ئې ځنګه یوائې یمه۔ قبر به ځنګه کنم۔ کفن دفن به ځنګه وی۔ د لرے نه ئې اوکتل د حاجیانو یو قافله راروانه وه۔ او ورته ئې اووئیل " امرء من المسلمین "

مسلمانانو کښې يو سړے مړ کيږي۔ تاسو به د هغے کفن دفن اوکړے۔ هغوی تپوس اوکړو څوك دے دوی ورته اووئيل ابوذر دے۔ دا خو زمونږ دپاره ډير لوئی سعادت دے۔ راغلل او ملاقات ئی ورسره اوکړو۔ او ابوذر رضی الله عنه ورته اووئيل مابه په څه کښې خښوے۔ نو هغوی کښې يو سړی اووئيل په دے څادر کښې۔ ابوذر رضی الله عنه ورته اووئيل دا څادر د حلالو دے۔ او که د حرامو۔ ورته ئی اووئيل دا بالکل د حلالو دے۔ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د ابوذر غفاری رضی الله عنه جنازه اوکړه۔ د واقعے تفصيل شيخ محمد يوسف کاندهلوی" حياة الصحابة کښې ذکر کړيد ے۔

" اتيت النبی ﷺ وعليه ثوب ابيض ":۔ او هغه په ځان باندے سپينه کپړه اچولے وه۔ نبی ﷺ سره به څادر وو۔

" وهو نائم " :۔سپينه جامه ئی وه ۔ او اوده وو۔ د خپل تيقظ ذکر کوی۔ چه بيدار اوومه۔ اوښيار سړے د هغه ځائی نه آخوا کيږی۔ وائی پرکاله دے۔ کش کړپ نه کوی۔ هسے نه چه نبی ﷺ راپانه څی۔ نو دے ترينه لاړو۔

" ثم اتيته ":۔ بيا ورله راغلم نبی ﷺ راپاڅيدلے وو۔ او نبی ﷺ ته پته اونه لگيده۔ چه مخکښې څوك راغلے دی۔ او که نه دی راغلے۔

"فقال ما من عبد قال لا اله الا الله" :۔ سره محمد رسول الله شته۔ دا يو عنوان دے۔

الحق الصريح کښې دلته يوه خبره ليکلے ده : هغه وائی چه په احاديثو کښې يو ځائی کلمه نه ده راغلے۔ لا اله الا الله محمد رسول الله دواړه په يو ځل نه دی راغلے۔

بيا روستو وائی : مسند فردوس کښې يو روايت راځی د مستدرك د حاکم روايت دے۔ چه بره په عرش باندے اوکتل نو " لا اله الا الله محمد رسول الله " ليکلے وو۔ ليکن دا حديث شته دے۔ ليکن کمزورے دے۔ اصل ددے مسئلے تپوس د قاری طيب صاحب" نه شوے وو۔ دارالعلوم ديوبند چه کوم مهتمم وو۔ چه په احاديثو کښې " اشهدان لااله الا الله " نه يادوم۔ هغه په احاديثو کښې شته۔ ليکن " لا اله الا الله محمد رسول الله " نه دے راغلے۔ په دے باندے هغه مستقل کتاب د سفر په حالت کښې ليکلے دے اوپه دے ئی روايات راجمع کړے دی۔ روايات اگر چه ضعيف دی۔ ليکن کله چه په مختلفو سندونو راشی قوی کيږی۔ روستو ليکی : چه په احاديثو کښې ځانله ځانله شته دے۔

" لا الہ الا اللہ محمد رسول اللہ " قرآن کښې هم ځانله ځانله شته دے۔ ﴿ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ ﴾ سورة محمد ۱۹ کښې دے۔ ﴿ مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ﴾ سورة الفتح ۲۹ کښې دے۔

کتاب الاثار کښې باب الاضحية واخصاء الفحل کښې : ۱۹۲ باندے روایت نمبر : ۷۹۰ کښې دی : محمد قال أخبرنا ابو حنيفة قال حدثنا الهيثم عن عبدالرحمن بن سائط ان النبى ﷺ ضحى بكبشين املحين ذبح احدهما عن نفسه ' والآخر عمن قال لا اله الا الله محمد رسول الله ۔ دے روایت کښې پوره کلمه ذکر ده۔

" لا اله الا الله " سره "محمد رسول الله " لازم دے۔

"ثم مات على ذالك": ۔ بیا په دے عقیده مړ شو۔

"الا دخل الجنة قلت وان زنى وان سرق": ۔ ما ورته اووئیل اګر زنا اوکړی۔ اوغلا اوکړی۔ ددے باوجود به بیا هم جنت ته ځی۔ ګناهونه دوه قسمه دی۔ یو حق الله دے۔ او یو حق العبد دے۔ حق الله کښې زنا ده۔ اوحق العباد کښې سرقه بطورمثال ده۔ مطلب په ګناهونو کښې استیعاب راوستل دی۔ دا دوه ددے مثالونه دی۔

زنا حق الله دے یا نه دے۔ نو مفسرین په دے باندے بحث کوی۔ نو وائی زنا دوه قسمه جینکواو ښځوسره کیږی۔ یوه هغه آزاده ښځه ده۔ چه کوېژدن ئی شوی نه ده۔ او یو هغه ده چه کوېژدن او یا واده ئی شوے وی۔ چه کله آزاده ښځه ده او زنا دے ورسره اوکړه۔ نودا حق الله دے۔ او که خاوند ئی وو۔ او تا ورسره زنا اوکړه۔ نودا حق العبد دے۔ معافی به ترینه غواړی۔ نو هله به دے الله معاف کوی۔

داسے به وائی : زما که څه لین دین تاسره راغلے دے۔ او که زما نه هرقسم زیاتے یا کمے شوے وی ستا په حق کښې نوماته معافی اوکړه۔ چه هغه دے معاف کړی۔ نو بیا به معاف کیږی۔ اود الله نه هم معافی غواړه۔

"وان زنى وان سرق" : ۔ دا ئی درے ځله اووئیل چه د مومن د شان نه دغه کارونه بعیده خبره ده۔ بل طرف ته حدیث کښې راځی " لا يزنى الزانى حين يزنى وهومومن " ددے حدیث سره ظاهراً تعارض راځی۔ چه مومن ایمان په حالت کښې زنا نشی کولے۔ دلته کښې بیا هم مومن دے۔ دا ولے ؟۔

اول جواب : چه نور د ایمان ترینه اووتلو۔ دویم جواب دادے : چه کله زنا کوی۔ نو ایمان ترینه لاړ شی۔ چه کله ددے غلط عمل نه فارغ شی۔ نو بیا ایمان راځی۔

نبی ﷺ نظر د الله په رحمت وو۔ او ابوذر رضی الله عنه خپل ورع او تقوی باندے خبره کوله۔

"علی رغم انف ابی ذر" :۔ اگرکه د ابوذر زړه ئی نه غواړی۔

دا حدیث په دے باندے دلیل شو ۔ چه گناه کبیره سره ایمان نه ختمیږی۔ معتزله اوخوارج غلط وائی۔ هغوی وائی چه زنا دے اوکړه۔ یا دے غلا اوکړه۔ یا دے بل گناه کبیره اوکړه۔ نوکافر ئی د خوارجو په نزد۔ یا که کافر نه وی۔ نو معتزله وائی چه د ایمان نه وتلے ئی۔ دا حدیث په هغوی باندے رد شو۔

" علی رغم انف ابی ذر " : سیدنا ابوذر رضی الله عنه له یوقسم سرزنش شو۔ اگر چه ستا دا خبره خوښه نه ده۔ ستا پوزه دے په خاوروکښی ککړه شی۔ ابوذر رضی الله عنه له دے خبرے ډیرخوند ورکړو۔ چه کله به ئی دا حدیث بیانوو۔ نووئیل به ئی "وان زنی وان سرق علی رغم انف ابی ذر "۔ د نبی ﷺ یا د مشر د طرف نه یا شیخ ، استاذ د طرف نه زورنه هم د فخراو د اعزاز خبره ده۔ ددے وجے نه به ورسره " علی رغم انف ابی ذر " وئیلو۔

مولانا احسان صاحب مد ظله خپله شرح کښی لیکلے دی : ما درے ځله وهل خوړلے دی۔ یو ځل دپلاراو دوه ځله د استاذانو نه۔ دے د شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ خادم وو۔ هغوی سره په کمره کښی ملاست وو۔ او عادت ئی دا وو۔ چه کله به سملاسته۔ نو وئیل به ئی ۔ دروازه بنده کړه۔ چه څوك راځی نه۔ نو وئیل ئی ما کونډه نه وه ورکړے۔ او په دے کښی میلمانه راغلل۔ شیخ صاحب چه هغوی سره خبرے ترے اوکړے۔ نو چه هغوی لاړل۔ نو شیخ ماله یوداسے څپیړه راکړه۔ چه اوس مے هم یاده ده۔ هغه وخت کښی زما واده شوے وو۔ دا نه چه کشر هلك اوومه۔ مشرانو وهل ئی برداشت کړل۔ نو دے سره اوچتوالے راځی۔ انتهی۔

د بخاری او د مسلم په راویانوکښی غندر نومے راوی راځی۔ غندر ئی خپل نوم نه دے۔ استاذ سبق خودلو۔ او هغه کلاس کښی شورکوو۔ استاذ ورته اووئیل "اسکت یا غندر" چنچنړه غلے شه۔ (شرح مسلم امام نووی)۔ بس د هغے نه پس غندر شو۔ خپل نوم ئی محمد بن جعفر البصری دے۔

د سیدنا ابوذر رضی الله عنه هم د نبی ﷺ دغه جمله خوښه شوه۔ نو بیا بیا ئی ورسره د هغے جملے ذکرکولو۔

فوائد الحدیث : (۱) :متعلم د ضرورت په وخت که په جواب پو هه نه شی۔ مکرر سوال کولے شی۔ (۲) : سوال کښی اختصار مطلوب دے۔ (۳) : عمومی حالاتو کښی تبشیر مناسب دے۔ (۴) : د استاد په خصوصی خطاب او تعلق فخر درست دے۔

حدیث ۲۴: وعن عبادة بن الصامت قال قال رسول الله ﷺ من شهدان لااله الاالله... الخ۔

عباده رضی الله عنه د اصحاب صفه مشر وو۔ او د هغوی معلم وو۔ دنگ قدو قامت ئی وو۔

"وان عيسىٰ عبد الله ورسوله":۔ دائی عقیده وی۔ چه عیسی علیه السلام د الله بنده او رسول دے۔ او ابن مریم دے۔

سوال: پیغمبران خو ډیردی۔ دلته ئی ددوی تخصیص ولے اوکړو ؟۔

جواب: وجه داده: چه عیسی علیه السلام په باره کښې ډیر خلق گمراهان شوے دی۔ بلکه کافر شوے دی۔ یهودیانو ددوی په باره کښې تفریط کړے دے۔ بلکه تنقیص ئی کړے دے۔ په مور باندے ورله سکینډل جوړ کړے دے: ﴿وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيمًا﴾ (سورة النساء: ۱۵۶)۔ اوبل طرف ته عیسایانو خدائے توب درجے ته رسولے دے۔ نبی ﷺ ځکه وئیلے وو عیسی علیه السلام غوندے ما مه اوچتوے۔

"كلمته":۔ څه مطلب دے؟۔ دا عیسی علیه السلام په کلمه د "کن" بغیر د نطفے د توسط نه الله رب العزت پیدا کړیدے۔ په دے معنی باندے کلمه ده۔

دویمه توجیه: د سورة آل عمران د آیت ۳۹: ﴿فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ﴾ په تشریح کښې تفسیر خازن کښې مفسر لیکلے دی: لان عيسى عليه السلام كان يرشد الحق الى الحقائق والاسرار ويهتدى به كما يهتدى بكلام الله تعالى۔

سیدنا خالد بن ولید رضی الله عنه ته سیف الله وائی۔ دده تورے ډیر کار کړیدے۔ نو کلمة الله ئی عیسی علیه السلام ته اوفرمائیل۔ چه په کلماتو سره د خلقو اصلاح ئی ډیره ده۔

"القاها الى مريم وروح منه":۔ عیسایان ددے نه دلیل د هغوی په الوهیت نیسی۔ مفسرین ذکر کوی۔ د سورة الجاثیه ۱۳: ﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ آیت په تشریح کښې او علامه آلوسیؒ د سورة النساء ۱۷۱: ﴿يَا أَهْلَ

الْكِتَابِ لاَ تَغْلُواْ فِي دِينِكُمْ وَلاَ تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ إِلاَّ الْحَقِّ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرُسُلِهِ وَلاَ تَقُولُواْ ثَلاَثَةٌ انتَهُواْ خَيْراً لَّكُمْ إِنَّمَا اللّهُ إِلَـهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ أَن يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَات وَمَا فِي الأَرْضِ وَكَفَى بِاللّهِ وَكِيلاً﴾

باندے لیکلے دی: چه یواوښیار نصرانی طبیب د هارون الرشید د علی بن حسین الواقدی المروزی سره یوه ورځ دا آیت مناظره کښې پیش کړو۔ چه قرآن کښې دے۔ چه عیسی علیه السلام د الله جزء دے اود سورة النساء ۱۷۱ ئی اولوستلو: ﴿وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْه﴾ نو واقدی ورته فورًا د سورة الجاثیه آیت اولوستلو: ﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعاً مِّنْهُ﴾ مسلمان عالم ورته اووئیل دا ټول کائنات د الله جزء دے۔ " فانقطع النصرانی فاسلم و فرح الرشید فرحا شدیدا ووصل الواقدی بصلة فاخرة " انتهى . هارون الرشید ډیر زیات خوشحاله شو۔ دے عالم له ئی جوړه جامه ورکړه په انعام کښې۔ اوملاعلی قاریؒ هم اجمالًا دا واقعه دلته نقل کړے ده۔

"وروح منه": - ﴿فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا﴾ (سورة الانبياء : ۹۱ ، سورة التحريم : ۱۲) ۔ ته اشاره ده۔ " بروح منه " داسے روح دے۔ چه تراوسه پورے آسمانو نو کښې ژوندے دے۔ مړی به ئی ژوندی کول په حکم د الله ۔ لیکن دده په واسطه باندے قرآن کریم کښې راځی: ﴿وَأُحْيِـي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّه﴾ (سورة آل عمران : ۴۹) ۔ مړی خوالله ژوندی کوی : ﴿الله یحییکم﴾ ۔ دلته عیسی علیه السلام طرف ته ئی نسبت کړے دے۔ لکه د قیامت علاماتو کښې راځی۔ چه استدراجًا به دجال له دغه طاقت ورکړی۔

"والجنة والنارحق": - دے باندے نحوی اعتراض دے۔ چه "والجنة" معطوف الیه "والنار" معطوف مبتداده۔ مبتداګانی دوه دی۔ اوحق خبر ئی یو دے۔ نو عبارت کښې تقدیر دے " والجنة والنار كل واحد منهما حق " ۔ دویمه توجیه داده: چه حق دا مصدر دے۔ اومصدر کالمخنث وی۔ خواجه سرا صاحب دے۔ په دے کښې مذکر او مونث ، مفرد او جمع ټول راځی۔ جنت او نارحق دے۔

"ادخله الله الجنة علی ما کان من العمل": - ددے نه مخکښې ئی که عمل ډیرخراب وو۔ یا لږ خراب وو۔ هرڅه چه وی۔ خو چه عقیده ئی سمه کړه۔ نو جنت ته به ځی۔ یا به ځی ابتداءً یا به ځی انتهاءً۔ څه لږ غوندے که جهنم ته لاړ شی۔ پاك به شی۔ نو جنت ته به لاړ شی۔ او یا به په اوله مرحله

جنت ته لاړشي۔ ملا علی قاریؒ لیکی : من رضی بالجنة الحسية فهو ابله ۔ او لیکی : حق بمعنی ثابت راځی ۔ د سورة آل عمران ۱۴۲ دلاندے : ﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّهُ الَّذِينَ جَاهَدُواْ مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ﴾ علامه آلوسیؒ روح المعانی کښې د شهر بن حوشب قول دے : طلب الجنة من غير عمل ذنب من الذنوب ، وانتظار الشفاعة بلا سبب نوع من الغرور ، وارتجاء الرحمة ممن لا يطاع حمق و جهالة ۔

حديث ۲۵ : وعن عمرو بن العاص قال اتيت النبی ﷺ فقلت ابسط يمينك ....الخ ۔

عمرو بن عاص رضی الله عنه د زړه نه ایمان قبول کړے وو۔ " فلاابايعك " " فلان ابايعك " دا بیعت علی الاسلام دے۔

" ابسط يمينك ": - یو لاس باندے مصافحه ده اوکه په دوو۔ کامله مصافحه په دواړو لاسونو ده۔ او جواز په یو هم دے ؛ اعلم ان كمال السنة فيها ان تكون باليدين ، ويتأدّى اصل السنة من يد واحدة ايضًا ۔

(فيض الباری ٤ : ٤١١)

الحق الصريح کښې دی : مونږ نه منو۔ چه " يد " جنس دے۔ څکه بیا به " يدين " نه ذکر کیدل۔ لکه " كلم " جنس دے نو " كلمين " نشي وئیلے کیدے۔ اوکه دا جنس وے۔ ددے واحد راته اوخایه۔

وضاحت دادے : چه دے به هسے نه منی۔ فتاوی خالص ۴ : ۴۷۷ کښې دی : ان لفظ اليد للجنس فيراد بها اليدان ، ومن نظر فی الفاظ الرواة فی وضع اليد علی الصدر حال القيام فی الصلوة علم ذالك۔

دويمه خبره : د جنس تعريف دے : ما يطلق علی القليل والكثير علی سواء لکه " الماء " يعنی اوبه۔

صاحب صحاح لیکلے دی : اطلاق ئې قليل اوکثير دواړو باندے دے۔

(۲) : اسم جنس : موضوع لمفهوم كلی مطلقا من حيث انه معهود معلوم فی الذهن۔

(۳) : علم جنس : هوما وضع للماهية الكلية الصادق علی الافراد من حيث انها ماهية ۔

بهر حال اسم جنس " موضوع للطبيعة من غير اعتبار التعين " دے۔

د جنس او د اسم الجنس فرق دادے : چه د جنس اطلاق قليل اوکثير باندے کیږی۔ لکه " ماء "۔ چه په یو قطره او سمندر ئې اطلاق صحیح دے۔ او د اسم جنس اطلاق په کثير نه کیږی۔ بلکه په واحد ئې اطلاق علی سبيل البدل کیږی۔ لکه : " رجل "۔

دا اسم جنس په دوه قسمه دے : (۱) : افرادی (۲) : اسم جنس جمعی ۔(۱) : افرادی لفظ یو وی ۔ او اطلاق ئی په لږ او ډیر دواړو باندے دے ۔ لکه ماء ، زیت ۔ لیکن "ید" د "کلم" پشان اسم جنس جمعی نه دے چه په واحد کښې ئی "تا" راشی ۔ او د اسم جنس جمعی په واحد کښې هم "تا" ضروری نه ده ۔ او "رجل" جنس دے ۔ مختصر المعانی : ۱۰۱ باندے پرے صراحت دے ۔

او قرآن کښې راځی : ﴿وَجَاء رَجُل﴾ (سورة القصص : ۲۰) ﴿قَالَ رَجُلَانِ﴾ (سورة المائدة : ۲۳) ۔ : ﴿لَوْلَا رِجَالٌ﴾ (سورة الفتح : ۲۵) ۔

نحویان وائی : "ماء" او "زیت" جنس دے ۔ ددے واحد څه راځی ؟ ۔

سیر اعلام النبلاء کښې ۹ : ۸۹ باندے علامه ذهبی د امام بخاری په حالاتو کښې لیکلے دی خپله فرمائی : سمع ابی من مالك بن انس ورای حماد بن زيد وصافح ابن المبارك بكلتا يديه ۔

"المسلم من سلم المسلمون" ۔ "فليغيره بيده" ۔

امام بخاری باب تړلے دے : باب مسح الرأس ۔ د لاندے روایت راځی : فافرغ على يديه ۔

علامه قسطلانی ۳۷۴ باندے لیکی : وفی رواية الاربعة على يد ۔

علامه قسطلانی روستو صفا لیکی : واليد جنس ۔ (ارشاد الساری ۱ : ۴۵۹) ۔

او لیکی : (فاقبل يده) فالتوحيد على ارادة الجنس ۔ (ارشاد الساری ۱ : ۳۸۲) ۔

او بخاری ۷۲۶ باندے دی : چه عائشه رضی الله عنها فرمائی : والله ما مس رسول الله ﷺ يد امرءة قط ۔

دا قاعده ده چه د انسان کوم دوه اندامونو کښې دیو ذکر اوشی ۔ نو دواړه هم جنس اندام مراد وی ۔ لکه : ﴿قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَ﴾ (سورة القصص : ۹) ۔

د ترمذی د ابن مسعود روایت : من تمام التحية الأخذ باليد ' باره کښې علامه ابن حجر فرمائی : چه سندئی ضعیف دے ۔ (فتح الباری ۱۱ : ۶۸) ۔ یحی طائفی منکر الحدیث ' سیء الحفظ او لیس بالقوی دے ۔ تهذیب الکمال او د ترمذی روایت : فیاخذ بیده ويصاحبه کښې حنظلة السدوسی متروك ' ضعیف ' منکر الحدیث او لیس بالقوی دے ۔ (تهذيب التهذيب ۲ : ۲۲۳ مطبوعه قاهره) ۔

"قال تشترط ما ذا" : ۔ "ما" خو صدارت غواړی "ما" له صدارت نشته ۔

(۱) : جواب دادے : "ماذا" صدارت نه غواړی ۔ یو ائے "ما" غواړی ۔ (۲) : "ماذا تشترط ماذا" ۔ تاویل ئی اوکړه ۔

اسلام، حج او هجرة سره د ګناه معافي

مسئله کښې اختلاف دے : (۱) : بعض علماء فرمائي : چه اسلام سره کفر او نافرماني او حقوق الله کښې کوتاهي معاف کیږي. او هرچه حق العبد دے. نو په حج او هجرة سره بالاجماع نه ساقطیږي. اوکه چرته د ذمي اسلام وي ـ نو هم نه معاف کیږي. خواه که مالي حق وي. یا غیر مالي وي. لکه قصاص شو. اوکه حربي مسلمان شوے وي. نو حق العبد مالي له به هادم نه وي. او غیر مالي له به هادم وي.

(۲) : د علامه ابن حجرؒ قول مرقات کښې داسے نقل دے : چه اسلام سره مظالم او حق العبد نه معاف کیږي. اوکه صحیح حج وي. چه حدیث کښې دی : من حج فلم یرفث ولم یفسق خرج من ذنوبه کیوم ولدته امه " ـ نو امام نوويؒ او قاضي عیاضؒ فرمائي : چه دا حق العبد نه معاف کوي. بلکه ګناه کبیره کښې ئې کړے وي ـ توبه ورله ضروري ده ـ او د بعض شارحینو قول او تفسیر داسے دے. چه مالي حق، هجرة او حج دواړه نه شي ختمولے. او په اسلام کښې اختلاف دے.

(۳) : شیخ توربشتيؒ فرمائي : چه اسلام هرقسم ظلم وغیره، صغیره او کبیره ټول معاف کوي. او حج و هجرت دا مظالم نه شي ساقطولے. بلکه ګناه کبیره چه دده او د الله په مینځ کښې وي. هغه هم بے توبے نه معاف کیږي. نو حدیث حمل دے په ورو ګناهونو معافي باندے. د قاعدے موافق کبائرو له توبه شرط دے ـ یا پرے د الله فضل اوشي. لیکن اکثر په هجرت او حج سره مهاجر او حج کوونکے د زړه نه توبه اوباسي. نو وئیلے شي چه د ورو، غټو ګناهونو دپاره هادم دے. او د حقوقو دپاره نه دے هادم ـ لیکن دا ورله شرط دے. چه حج به ئې په حلالو پیسو کړے وي. او د حرامو نه به ئې ځان ساتلے وي. ځکه چه د ملاعلي قاريؒ په مجموعة الرسائل کښې دی : اذا حج الرجل بالمال الحرام وقال لبیك اللهم لبیك قال الله لا لبیك ولا سعدیك حتی ترد مافي یدیك ـ (ص : ۲۸) .

بیا لیکي : ما احسن من قال من ارباب الحال اذا حججت بمال اصله سحت ـ فما حججت ولکن حجت العیر ـ

(۴) : تعبیر د علامه طیبيؒ داسے دے : چه د جمهور مخالفت نه کوم. لیکن د حدیث د اسلوب او سیاق سباق نه دغه معلومیږي. چه اسلام، حج او هجرت دریواړه د ګناهونو دپاره هادم دی. او د حق العبد نه علاوه دریواړو له ئې یو شان حکم منم.

دلائل : (۱) : د دریواړو عطف په حرف "واو" سره شوید ے. چه تقاضا ئې اشتراك دے : ﴿ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ (سورة آل عمران : ۱۸۱) ـ قتل یو عمل دے چه عطف ئې په

مخکښې قول د شناعت دپاره شوید ے۔ چه دا غلط قول دے۔ په شناعت کښې به د قتل عمل سره اشتراك لري۔ دغسے دلته هم د دریوارو له هدم ثابت دے۔

(۲) : دلیل : دریوارو تشبیه ئی د هدم د آلاتوسره ورکړه۔ دا ستعاره مکنیه ده۔ او هدم ئی ورله په لوازمو کښې یو لازم ذکرکړو۔ دا استعاره تخییلیه ده۔ دے استعاراتوسره کلام کښې قوت راځي۔

(۳) : دلیل : دا هدم ئی هرځائی په تکرار سره راوړید ے۔ چه تقاضائی مساوات ده۔

تفسیرقرطبی کښې دآیت د لاندے دی: ﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ ٱلۡأَوَّلِينَ﴾ (سورة الانفال : ۳۸) . المرتد اذا اسلم وقد فاتته صلوات واصاب جنایات واتلف اموالاً فقال ابو حنیفه : ماکان منه یسقط وما کان للادمی لا یسقط.

حق العبد کښې مسئله ده : اما الاداء واما الابراء .

(۴) : دلیل : همزه کښې د نفی معنی ده۔ او" ما " نافیه ده۔ چه دواړه جمع شی۔ نوپه کلکوالی دلالت کوی۔ یعنی دا یقینی امردے۔ شك په کښې مه کوه .

سوال : راځی دابن ماجه په روایت کښې دی: چه د مزدلفه په صبا پیغمبر دعا اوکړه۔ نو عمومی مغفرت اوشو۔

اول جواب : لیکن سند ئی ضعیف دے۔ دویم جواب : بنده خپل کوشش ددغه مال واپس کولو کوی۔ خود وس نه ئی بهر دی۔ تدارك ئی نه شی کولے : ﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَا﴾. (سورة البقرة : ۲۸٦)۔

دریم جواب : دا حدیث د هغے حاجیانوسره متعلق دے۔ چه د نبی ﷺ سره په حجة الوداع کښې شریك وو۔ حکم ئی عام نه دے۔

الفصل الثانی

حدیث ۲٦: عن معاذ قال قلت یارسول الله ﷺ اخبرنی بعمل یدخلنی الجنة ....الخ۔

دا مختلف دینی امورئی د مختلفو احادیثونه دلته په یو ځائی راجمع کړل. معاذ رضی الله عنه په سفر کښې د نبی ﷺ سره روان دے۔ تپوس کوی۔

"بعمل": ۔ موصوف دے او نکره ده۔ "یدخلنی الجنة" جمله ئی صفت دے۔ اگرچه د جنت تللو اصلی سبب د الله خصوصی رحمت دے۔ لیکن ددغه رحمت راخکلو ذریعه نیك قبول شوے عمل دے۔

قرآن کښې ځکه: ﴿ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴾ (سورة الانعام: ۱۰۸)۔﴿ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُون ﴾ (سورة المائدة: ۱۰۵) راغلے دے۔ خو نبی ﷺ فرمائیلے دی: چه سره زما د عمل د وجے بے د الله د فضل نه څوك هم جنت نه شی تللے۔ سبب بعیده عمل او سبب قریب فضل دے۔

دلته ئی په اول ځل جنت ته داخلیدل مراد دی۔ "ویباعدنی" پرے قرینه ده۔

"امر عظیم": ۔ علامه فضل الله تور پشتی وائی: دا تنوین په "عظیم" کښې د نوع د بیان دپاره دے۔

(۲): چونکه غیبی خبر دے۔ ځکه عظیم چه چاته نه دے معلوم۔ چه ماته ئی الله اوښائی۔ درته به ئی اوښایم۔

(۳): "امر عظیم" عن فعل عظیم: په دے م سنی دے۔ چه ددے ادائیگی کما حقه ډیره گرانه ده۔ که الله ئی ورته آسانه کړی۔ بیا آسانه ده۔ قرینه پرے دا وروستے عبارت دے "وانه لیسیر"۔

"تقیم الصلوة": ۔ مراد فرض مونځ دے۔ لړ روستو بیا راځی۔ خو هغے نه مراد نفلی مونځونه دی۔

"وتوتی الزکاة": ۔ فرض زکوة "وتصوم رمضان و تحج البیت"۔

"علی ابواب الخیر": ۔ د خیرچه کوم ابواب دی۔ ددے راهنمائی درکوم۔ مراد ترینه دلته نوافل دی۔

"الصوم جنة": ۔ دا نفلی روژه ده۔ "والصدقة" دا نفلی صدقه شوه۔ "تقیم الصلوة" فرض مراد دے۔ او دا دلته چه بیا ذکر دے۔ "وصلوة الرجل فی جوف اللیل" نه مراد نفلی مونځ دے۔ چه د نورو نوافلو په نسبت مؤکد دے۔ چه تهجد ورته وائی۔ ددے نه دا معلومیږی چه ابواب الخیر ددے مصداق نوافل دی۔ روژی نفلی دی۔ صدقے نفلی دی۔ او تهجد کول دی۔

دلته شارحین لیکی: چه نوافل دا مکملات د فرائضو دی۔ په فرض مونځ کښې نقصان راغلے دے۔ نو دا نوافل د هغے تکمله کوی۔ فرضی روژه کښې څه نقصان راغلے دے۔ نو چه کومے نفلی روژے اونیسی۔ نو هغه ئی دا نقصان پوره کوی۔

" الصوم جنة ": روژه ډهال دے۔ ځکه چه د روژی په وجه سره د ملائکوسره مشابهت راشی۔ او د لوږے د وجے نه خواهشات کم شی۔ نود شهواتولارے بندے شی۔ اود انسان تعلق د الله رب العزت سره قائم شی۔ لکه چه څنګه په ډهال باندے یو تن د دشمن دتوری نه ځان بچ کوی۔ نو دارنګے دے په روژه باندے د خواهشاتو نه ځان بچ کوی۔

" جنة ": کښې جیم نون کښې ستر دے۔ جنین ماشوم دے۔ هغه په خیټه کښې پټ دے۔ جنان زړه دے هغه هم پټ دے۔ که جنت دے هغه پټ دے۔ چه جنّات ورته وائی۔ نو هغه هم پټ دی۔

ترڅو پورے چه تا دا ډهال شلولے نه وی۔ که ډهال دے اوشلولو۔ نو بیا د ګزار نه بچ کیږی نه۔ نو که روژه دے برائے نام نیولے وی۔ نو بیا د خواهشاتو نه انسان نه بچ کیږی۔

"والصدقة تطفئ الخطیئة":۔ صدقه ګناهونه مړه کوی۔ صدقه چه ورکړے۔ نو صدقه رد البلایا دی۔ د صدقے نه بلا دانګلے نشی۔ داسے بل روایت کښې راغې۔ خو ددے خطیئه تشبیه ئی د اور سره ورکړے ده۔ د اور د ختمولودپاره ضروری دی اوبه۔ نو که اور ډیر وی۔ نو اوبه به هم ډیرے وی۔

" ان الحسنت یذهبن السیئات " نو چه خیرے خومره وی۔ نو صابن به هغه اومره استعمالوی۔

" صلوة الرجل فی جوف اللیل " دا مبتداء ده۔ او ددے خبر مخذوف دے۔

التقریرالرفیع کښې شیخ الحدیث صاحبؒ فرمائی: ددے خبر دے۔ "وصلوة الرجل فی جوف اللیل من دأب الصالحین "۔ یا۔ "من شعار الصالحین "۔ روستو بابونو کښې به راشی۔ چه څوك د تهجدو مونځ کوی ۔ نو دا صالح انسان دے۔

د علماء تاریخ چه ګورے۔ نو په هغے کښې د تهجدو پابندی زیاته وه۔ طالب العلم چه په دور د طالبی کښې په تهجدو عادت شو۔ نو دے به ترمرګ پورے ددے عادی وی۔ که په سفرکښې وی۔ او که په حضرکښې وی نو پاسی به۔ جوعادت بچپن میں پڑ جاتی ہے وہ پچپن تک نہیں جاتی۔

او دا وخت ډیرمزیدار دے: ﴿إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْءًا وَأَقْوَمُ قِيلًا﴾ (سورة المزمل: ٦) ۔ په دے وخت کښې به په کتاب باندے هم پوهیږی: ﴿ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ

خَوْفاً وَطَمَعاً وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴾ ددے آیت د لاندے تفسیر ابن کثیر کښې دي:

وفينا رسول الله يتلوا كتابه — اذا نشق معروف من الفجر ساطع
ارانا الهدى بعد العمى فقلوبنا — به موقنات ان ما قال واقع
يبيت يجافى جنبه عن فراشه — اذا استثقلت بالمشركين المضاجع

(بخاری)

خود نہ تھے جو راہ پر عالم کے ہادی بن گئے — کیا نظر تھی جس نے مردوں کو مسیحا کر دیا

اصل او راجح هغه تهجد دی۔ چه د خوب نه پس وی۔

علامه ابن تیمیهؒ فرمائی: قال احمد وغيره الناشئة لا تكون الا بعد نوم۔ (مجموع فتاوٰی ۱۲ : ۵۳).

﴿تتجافى﴾: الحق الصريح کښې دی چه امام شافعیؒ وائی: چه د هرحدیث مصداق په قرآن کښې شته دے ۔لکه "صلوة الرجل في جوف الليل" له ئې آیت اووئیلو۔ ﴿تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ﴾ صحیح ده۔ خو دا معلومیږی هغه کس ته چه د امام شافعیؒ غوندے علم الله چاله ورکړے وی۔ نو هغه ئې ترے معلومولے شی۔

امام شافعیؒ فرمائی: ﴿وَالْعَصْرِ ، إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ، إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ په دے کښې د ټول قرآن خلاصه ده۔ هغه وائی که دا سورت نازل شوے وے نو دا پوره وو۔ خو د امام شافعیؒ دپاره کافی وو۔ د هغه پشان معلومات چه د چا وی۔ او استنباط کولے شی۔ واقعی قرآن او حدیث په مینځ کښې ټکراؤ نشته دے۔

"برأس الامر": ـ د اسلام د سر او د ستنے رهنمائی درله نه درکوم۔ یو څیز دے۔ چه د هغے نه سرکټ کړی نو هغه ختمیږی۔ اوکه نور اندامونه ترے کټ کړے۔ نو ختمیږی نه۔ خو بے رونقه کیږی۔ د دین اسلام سر هغه جهاد دے۔

" ذروة ": ـ د ذال کسره، ضمه او فتحه دریواړه صحیح دی۔ او مشهور کسره ده۔ نو د دین اسلام د عمارت اوچتوالے چه ستنے ئې ورته لګولے وی۔ او راتینګوی ئې۔ نو ددے سر څه شیء دے۔ نو د هغے تپوس ئې اوکړو۔

"رأس الامر الاسلام": دا تشبیه مقلوب ده۔ لکه: "وجه الخليفة حين يمتدح"۔ مختصر کښې راغلی ـ د صبا دا وخت داسے دے۔ لکه چه د خلیفه مخ چه څوك د هغه تعریف کوی۔ او تعریف قبول کړی۔ تشبیه مقلوب دا معنی چه دا الټه ذکر ده۔ که "الاسلام رأس الامر" ۔ او عمود ئې "الصلوة" دے۔

"وذروۃ سنامه الجهاد ": ـ د دین اسلام قب او اوچتوالے هغه په جهاد کښې دننه پروت دے. بیا جهاد کښې تعمیم دے. جهاد په ژبه هم دے. جهاد په قرآن سره هم وی: ﴿ وجاهدهم به جهادا کبیرا ﴾ ﴿ جاهدو بانفسکم واموالکم ﴾ مال سره هم جهاد وی.

یو اصلی جهاد دے ـ کوم ته چه دعوت قهری وائی. چه کله دا دعوت د جهاد په ذریعه فرض شی. نو دغه وخت کښې د بل نفلی عبادت دومره مقام نشته. چه څومره د جهاد مقام دے.

فضیل بن عیاضؒ په حرمینو کښې عبادت کولو. او عبد الله بن مبارکؒ جهاد کولو. نو خط ئی ورته اولیږلو. دا خط ابن کثیرؒ راغستے دے دے آیت دلاندے: ﴿ یا ایها الذین امنوا اصبروا وصابروا ورابطوا ﴾ د سورۃ آل عمران آخری آیت دے. او شعرونه ئی هم راغستے دی:

یا عابد الحرمین لو ابصرتنا لعلمت انك فی العبادۃ تلعب

من کان یخضب خده بدموعه فنحورنا بدماء نا تتخضب

ته به اوژاړې ـ او په اننګو به دے اوښکے راتوی شی. او زما سینې په وینه رنګینه ده. چه کله پرے دشمن د تورے ګزار کوی. زما دا عبادت ترینه اوچت دے.

او کان یتعب خیله فی باطل فخیولنا یوم الصبیحة تتعب

مونږ خپل طاقتونه د جهاد په ورځ باندے صرف کوو.

ریح العبیر لکم و نحن عبیرنا رهج السنابك والغبار الاطیب

عنبر دے تاسه مبارك شی ـ اس چه منډه وهی ـ او د هغه د خپے د سوی د نعل نه چه کوم اور او غورزیږی. چه کله د ګټے سره یو ځائی شی مونږ ته دے دا مبارك شی. نو جهاد اوچت عمل دے.

" ذروۃ سنامه الجهاد ": په دے باندے به اسلام مضبوطوی.

د جهاد قسمونه

ملا علی قاریؒ مرقات کښې د جهاد قسمونه ذکر کړے دی: (۱): یو دے "جهاد الاعداء " دشمن سره جهاد کول. (۲): دویم دے ''جهاد بالنفس " د نفس سره جهاد کول. دے وجے نه ملا علی قاریؒ لیکی: ولذا ورد رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر ـ مونږ د جهاد اصغر نه جهاد اکبر ته راغلے یو. داد دشمن سره چه جهاد دے. دا جهاد اصغر دے. او د نفس سره چه کوم جهاد دے. دا جهاد اکبر دے.

دا حدیث دے. او که نه دے. په دے باندے عالمان چه بحث کوی. فرمائی: حدیث کمزورے دے. خو معنی ئی ثابته ده. نو صحیح دے.

علامه آلوسیؒ پرے بحث کړیدے. د سورة الحج آخری آیت د لاندے :﴿وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ﴾ ـ اخرج البیهقی وغیره عن جابر قال قدم علی رسول الله ﷺ قوم غزاة فقال قدمتم خیرمقدم من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر ـ وفی اسناده ضعف مغتفر فی مثله ـ

اوفتاوٰی خالص ۱: ۴۲۳ کښې دی : وان کان معناه صحیحًا ـ

(۳) : جهاد القلب هغه دادے : قطع د تعلق د اغیارونه : ﴿ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ﴾ (سورة المزمل : ۸)ـ ﴿فَفِرُّوا إِلَى اللَّهِ إِنِّي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ﴾ (سورة الذاریات : ۵۰)ـ

(۴) : جهاد الروح ـ فناء الوجود فی وجود الواحد القهار ـ خپل وجود فانی کړه د الله وجود کښې ـ یعنی د خپل ځان دومره خیال مه ساته ـ یعنی فناء فی الله جوړ شه ـ

اوعلامه آلوسیؒ ئې اقسام لیکی : (۱) :مجاهدة العدوّ الظاهر (۲) : مجاهدة الشیطان (۳) : مجاهدة النفس ـ

شاه ولی اللهؒ تفهیمات الهیه ۲ : ۱۲۴ ، تفهیم : ۸۷ د لاندے لیکی : اعلم ان الجهاد له انواع من اعظمها هدایة الناس ظاهرا وباطنا وناهیك من مفاخره ومناقبه انه هو الذی بعث له الانبیاء قاطبة علیهم الصلوة والسلام وکل جهاد فیه صبر و معاناة وشدة ثم النصر یکون بعد ذالك انا لننصر رسلنا ـ

گویند رنگ لعل شود در مقام صبر آری شود ولیک بخون جگر شود

"الا اخبرك ": ـ دا ورله په دے زړه کښې داعیه ده ـ د اعمالو د پوره کیدو ـ نو کله ورته وائی " الا ادلك " ـ نو بیا ورته وائی : " الا اخبرك " ـ

" کف علیك هذا" : ـ دا ژبه دے بنده ساته ـ خپله ژبه هم قلعه ده هم بلاء ده ـ د ژبے استعمال سم کړه ـ ددے ژبے جرم وړوکے دے ـ او جُرم ئې غټ دے : " صغُرَ جِرمه و کَبُرَ جُرُمُه " ـ

اندامونه ورته تهول د صبا په وخت کښې منت کوی ـ چه ژبے احتیاط کوه ـ خبره ته د خُلے نه غلطه اوباسے ـ او وهل مونږه خورو ـ چه ژبه سمه وی ـ نو بدن به سم وی ـ

لسان الفتی نصف و نصف جنانه فلم یبق الا صورة اللحم والدم

او امام شافعیؒ فرمائی :

احفظ لسانك ایها الانسان لا یلدغنك انه ثعبان

کم فی المقابر من قتیل لسانه کانت تهاب لقاء ه الشجعان

امام غزالیؒ احیاء العلوم کښې ۳۰ افعال د ژبے ذکر کړے دی ـ دا دروغ ، غیبتونه او چغلی وغیره ـ داد ژبے سره تعلق ساتی ـ کتاب الصمت د علامه ابن ابی الدنیا کښې دی : که خبرے سپین زر دی خو خاموشی سره زر ده ـ نو بیا به دے ټول کار سم وی ـ

واقعه د ابن السکیت اود متوکل بادشاه

تفسیر روح البیان : ﴿ لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوٓءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴾
(سورة النساء : ۱۴۸) ـ آیت د لاندے واقعه نقل کړے ده : ان ابن السکیت جلس مع المتوکل یوما فجاء المعتز والمؤید ابنا المتوکل فقال ایما احب الیك ابن ای ام الحسن والحسین قال والله ان قنبر خادم علی رضی الله عنه خیر منك ومن ابنیك فقال سلوا لسانه من قفاه ففعلوا فمات ـ

وائی : چه ابن السکیت مشهور نحوی عالم وو ـ متوکل بادشاه سره ناست وو ـ په دغه وخت کښی دده دوه ځامن راغلل ـ دا دواړه د ابن السکیت شاګردان هم وو ـ ده ورته سبق خودلو ـ د یو نوم وو معتز ـ او د بل نوم وو مؤید ـ دا دواړه راغلل ـ نو ابن السکیت نه دے بادشاه متوکل تپوس اوکړو ـ تاته زما دا بچی خوښ دی ـ اوکه تاته حسن حسین خوښ دی ـ دے ورته وائی حسن اوحسین خو پریږده ـ د سیدنا علی رضی الله عنه هغه غلام چه د هغه نوم قنبر دے ـ هغه ستا د ځامنو نه دومره دومره ښه دی دا خو ډیر خکته خلق دے ـ

جواب ئی ډیر ښکلے ورکړیدے ـ خو لیکن دے وخت کښی څله داسے جواب ورکوو ـ د هغه خوئی ورته معلوم دے ـ نو هغه حکم اوکړو " سلو لسانه من قفاه " ـ دده نه ژبه کټ کړے ـ خو د څټ د طرف نه ـ د څټ د طرف نه ورته سورے اوکړے ـ په دے طریقه باندے د هغه نه ژبه کټ کړه ـ او هغه مړ شو ـ

" ومن العجب انه انشد قبل ذالك للمعتز والمؤید وکان یعلمهما " نو دوی ته داسے نصیحت کولو ـ

یصاب الفتی من عثرة لسانه　　　ولیس یصاب المرء من عثرة الرجل

د انسان عیب بیانیږی ـ چه دده ژبے لغزش اوکړو ـ اوکه خپه ئی اوخویدله ـ دومره خطرناکه خبره نه ده ـ په دے انسان نه تباه کیږی چه ټکره ئی اوخوړه ـ

فعثرته فی القول تذهب راسه　　　و عثرته فی الرجل تبرأ علی مهل

که په ژبه کښی دے آخوا دیخوا اوکړه ـ نو مړ به شے ـ اوکه ټکره دے اووهله ـ نو خه به شے ـ اګرچه په دمه ولے نه وی ـ

" من سکت " یا " من صمت نجا " ـ چه څومره فسادات اکثر په راغلے دی ـ داد ژبے د وجے نه ـ " کف هذا " ژبه دے بنده کړه ـ دا نه چه ښے خبرے پرے مه کوه ـ خو ورانی پرے مه کوه ـ

" وهل یکب الناس " : ـ دا " کبّ " فعل دده ثلاثی رباعی دے ـ او رباعی ئی ثلاثی دے ـ مجرد ئی

مزید دے۔او مزید ئی مجرد دے۔یودے "اکب" او یودے "کب"۔

"فاکب رسول الله ﷺ یکی" په کښی یو روایت کښی راځي۔دا لازمي دے نبي ﷺ سرتیټ کړو۔او کوم ځائی کښی چه راځي "کبه" هغه ئی او غورځولو "کبه" بل اولګیدو۔او وے غورځو۔

"وهل یکب الناس" نه غورځوی خلقو لره پړمخی اور ته۔(متعدی)۔

"الا حصائد":۔استثناء مفرغ ده۔ای لا یکبتهم فی الاکبر الاغلب شیء من الاشیاء فی النار ... الخ۔

"مناخرهم":۔د مناخر خپله معنی ده سپګمے۔دلته ترے مراد تندے دے۔چه په تندو زوړند چه پراته دی۔ دا پړمخی چه پراته دی۔د ژبے لوکړے شوی۔

ملاعلی قاریؒ لیکی: قال الصدیق لیتنی کنت اخرس۔ارمان چه څه چاره وے۔

نوټ: د "هل یکب الناس" په سند کښی انقطاع ده۔او ددے انقطاع ذکرکړیدے حافظ ابن رجب حنبلیؒ۔دے د ابن تیمیةؒ شاګرد دے۔د هغه شرحه ده شرح الاربعین۔نو په هغے کښی ئی د هغے ذکرکړیدے۔وائی په روایت باندے کلام دے۔دا علامه البانیؒ لیکی: فلیراجعه من شاء۔تخریج احادیث شرح الطحاویه ص ۱۹۹ ۔ دا خبره کړے ده علامه البانیؒ چه په سند کښی انقطاع ده۔لیکن علامه البانیؒ د ترغیب په اول جزء کښی ۳٦۳ باندے لیکی: رواه الترمذی وقال حدیث حسن صحیح۔

او په صحیح الجامع کښی ئی روایت راغستے دے چه صحیح دے۔په صحیح ابن ماجه کښی صحیح کړیدے۔او په ارواء کښی او صحیح سنن الترمذی کښی لیکی: چه صحیح دے۔ځکه الله د قرآن باره کښی فرمائی: ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا﴾ (سورة النساء:۸۲)

په دے حدیث کښی د انسان د ژبے تشبیه ئی ورکړے ده لور سره۔لور باندے خلق ګیا ریبی۔دے ته نه ګوری چه دا شنه ده او که دا اوچه ده۔اوکه دا لمده ده۔نو د ژبے به ډیر زیات خیال ساتل پکار وی۔هره خبره به پرے نه کوے۔هر چا پسے به خبرے نه کوے۔

امام نوویؒ ډیره قیمتی خبره کړے ده شرح المهذب ۱:٦۱ بیروت لبنان: لحوم العلماء مسمومة وعادة الله فی هتك استار منتقصهم معلومة وان من اطلق لسانه فی العلماء بالسب بلاه الله قبل موته بموت القلب۔

د علماء غوخو کښی زهرګډ دی۔لکه غیبت به نه کوے د علماؤ۔دا زهرکه دے اوخوړل۔نو ځائی له به نه راځی۔رد کولے شے۔په هرچا باندے۔چه الله درله علم درکړیدے۔لیکن بے ادبی به دچا نه کوے۔چه علمی خبره نه شے کولے۔نو بے فائدے خبره به نه کوے۔

حدیث ۲۷ :وعن ابی امامة قال قال رسول اللهﷺ من احب لله وابغض لله واعطی ...الخ۔

حالات د ابـو امامه رضی الله عنه : ابوامامه دده نوم صدی بن عجلان الباهلی دے۔ بصره کښی اوسیدو۔ بیا حمص کښی وو۔ او دلته وفات شوید ے۔ ډیر احادیث ترے نقل دی۔ او اکثر حدیث د شام د خلقو نه نقل کوی۔ او د شام صحابو کښی آخری صحابی دے۔ ۸۷ هجری کښی وفات دے۔

الحق الصریح کښی دی : قوم له تلے وو۔ دعوت ئی ورکولو۔ نو هغوی پرے خوراك څکاك بند کړو۔ په سخته گرمی کښی شرې وا چوله او اوده شو۔ انتهائی ترے شوے وو۔ خوب کښی ورله چا په پیاله کښی اوبه راوړے۔ داسے اوبه او داسے پیالے ده چرته مخکښی نه وه لیدلے۔ چه راویخ شو۔ والله چه تنده ئی ماته وه۔ او بیا د هغے نه پس نه دے ترے شوے۔

دا نه تنده د جنت خصوصیت دے : ﴿ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴾ (سورة طه : ۱۱۹)۔

د حوض کوثر اوبه چه دے اوڅکلے۔ نو بیا به ترے کیږے نه : من شرب منه لم یظمأ ابدًا۔

دا عاجز بنده وائی : واقعه السنة للخلال ج ۴ نمبر ۱۳۲۰ باندے هم تقریبًا دغسے نقل کړے ده۔ بیهقی،ابن عساکر په ډیرو سندونوراغستے ده۔ په هغے کښی د شودو ذکر ذے۔ دا ددوی کرامت دے۔

اباهلیون رأو فاسلموا　　　زال جوع الباهلی وانتهل

" من احب لله ": دے ته وائی جوړ " وابغض لله " : دے ته وائی توړ۔ د سورة الشعراء آخری آیتونه چه راځی۔ نو په هغے کښی مولانا تهانویؒ لیکی بیان القرآن کښی : چه جوړ په کښی هم دے۔ او توړ په کښی هم دے : ﴿ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ دا جوړ دے۔ او : ﴿ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ دا توړ دے ۔ اسلام کښی جوړ هم شته۔ او توړ هم شته۔ :﴿إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ﴾ جوړ دے۔ او :﴿ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ﴾ دا توړ دے۔ (سورة هود : ۸۸)۔ د بدر غزا مشوره کښی صحابه کرام نبی ﷺ ته وائی : صل حبال من شئت واقطع حبال من شئت۔ که جوړ کوے۔ او که توړ کوے۔

مو الات او حُب کښی فرق : دادے چه موالات د دوو تنو مینځ کښی وی۔ او " حب " اعم دے۔

" وابغض لله ": ۔ بغض به کوے لله فی الله۔ چه د چا کار غلط دے۔ او سمیږی نه۔ هغه انسان سره به بغض کوے۔ دا یو عبادت دے۔

علامه طیبیؒ شرح کښې لیکلي دي: ومن جملة البغض لله، بغض النفس الامارة واعداء الدين۔
ابوداود کښې چه دا روایت راځي نو ورسره "انكح لله" هم شته دے۔ چه چاله لوراوخور ورکوے۔ نو هم لله۔ "واعطى لله ومنع لله فقداستكمل الايمان"۔

"استكمل" کښې د "اكمل" نه مبالغه زياته ده: لتجريده من نفسه شخصا آخريطلب منه اكمال الايمان۔

لکه چه: ﴿وَكَانُوا مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا﴾۔ (سورة البقرة: ۸۹) ۔ اى يطلبون من انفسهم الفتح عليهم۔ (فتح اله)۔

دا څلور ئې حکه ذکرکړل۔ چه دا څلورګران دي۔ په دے څلورو کښې دا دوه د زړه يعنى عقيدى سره تعلق ساتي۔ او دا دوه د ظاهراعمالو سره تعلق ساتي۔ محبت او بغض داد زړه خبرے دي۔ کله به ستا د چا سره ډیرمحبت وي۔ نوته به ورته غصه شے سره د ډیرے مينے چه مينه دے ورسره هم ده۔ دا بغض هم د زړه سره تعلق ساتي۔ هسے به ورته خاندي راخاندي۔ او په زړه کښې به دے بغض موجود وي۔
دلوں میں چپ رہے کانٹے بظاہر دوستانہ ہے۔

چه اعمال ظاهره تول لله فى الله شي۔ که جومات جوړوے۔ نو "من بنى لله مسجدا"۔
: ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾۔(سورة الانعام: ۱۶۲)۔
نود ايمان کمال په دے سره راغے۔

"رواه ابوداود": ۔قاسم بن عبدالرحمن باندے کلام له بعض اعتبارنه ورکوي۔
اوځوک وائي: چه دے قاسم صرف د ابوامامه صحابى نه سماع کړے ده۔

حديث ۲۸: وعن ابى ذرقال قال رسول الله ﷺ افضل الاعمال الحب فى الله ...الخ۔

دا محبت "لا لغرض ولا لعرض ولا لعوض"۔ دي۔ چه د معرفت حقائق ته انسان رسيدلے وي مراد ترے اعمال باطنه وي۔ دے ته حب فى الله وائي۔ يو تن د چا سره مينه ساتي۔ غرضى نه دے۔ عوض هم نه اخلي۔ صرف لله فى الله د يو تن سره مينه ده۔

اووکسان چه د عرش د سورى د لاندے به وي۔ نو په هغے کښې يو قسم دے "ورجلان يتحابان فى الله اجتمعا عليه و تفرقا عليه"۔ دے ته ئې افضل الاعمال اووئي۔ "الحب فى الله والبغض فى الله" مطلب چه د کوم تعلق د زړه سره دے اعمال قلبيه۔ اوس په بعضو رواياتو کښې افضل راځي۔ او په بعضو

روایاتو کښې خیر راځي ـ نو خیر ځانله څیز دے۔ او افضل ځانله څیز دے۔ او کله کله دا افضلیت بدلیږي رابدلیږي۔ کله فرمائي "المسلم من سلم المسلمون " کله فرمائي دا غوره دے۔ کله فرمائي "بر الوالدین " کله فرمائي جهاد ـ کله فرمائي "افشاء السلام"۔ نو حدیث کښې نبی ﷺ د تپوس کوونکے حالاتو ته کتلے دي۔ د هغے په اعتبار سره جوابات مختلف دي لکه مخکښې تیرشوے دي او افضلیت یو نوعه ده۔ او د نوعے د لاندے افراد وي۔ کله یو فرد یادوي۔ او کله بل فرد۔

حدیث کښې تعلیم دے۔ چه د غلطو خلقو سره بغض ساته۔

علامه طیبیؒ لیکلے دي: لا یجوز الوقف علی المرتدین ،وقطاع الطریق ،والفرق الباغیة ،و یحرم بیع السلاح من هولاء ، و بیع العنب ممن یتخذالخمر ـ (الکاشف عن حقائق السنن) ۔

حدیث کښې د آخرت معارف او د عمل عوارفو او د رزائلو نه بچ کیدلو ته اشاره ده۔

حدیث ۲۹ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ المسلم من سلم المسلمون ..الخ۔

دے کښې د حق قطع ' قتل ' حد یا قصاص نه دے شامل۔

"امنه الناس علی دمائهم و اموالهم": ـ چه خلق هغه امین گڼري په خپله وینه۔ او په خپل مال کښې ـ چه دا سړے د چا وینه هم نه تویوي۔ دچا مال هم نه اخلي۔ په ده کښې دیانت او امانت هم پوره دے۔ ۳۰۲ هم نه کوي او ۳۰۷ هم نه کوي۔ د چا بے عزتي هم نه کوي۔

په روایت د فضاله رضی الله عنه کښې راځي : والمجاهد من جاهد نفسه فی طاعة الله۔

اصل کښې مجاهد هغه دے۔ چه هغه د الله په طاعاتو کښې خپل طاقت خرچ کوي۔

مجاهد او مهاجر په دوه قسمه دے۔ یو عام خلق ئې پیژني۔ او یوئې نه پیژني۔ لکه زمرے په دوه قسمه دے ـ یو ئې عام خلق پیژني۔ او یوئې نه پیژني۔ نو یو هغه مجاهد دے۔ چه خلق ئې پیژني۔ او یو هغه دے چه " من جاهد نفسه فی طاعة الله " دا جهاد اکبر دے ـ یو هغه دے چه هجرت ئې کړے وي۔ او یو هغه دے چه گناهونه ئې پریخودل (خطایا ذنوب) خطایا کله کله غیرقصدی طور باندے هم صدور ته راشي ـ ذنوب دا قصدًا صدور ته راځي۔ خطایا بعض وائي کله ترے کبیره مراد وي۔ اوکله د صغیره په معنی وي۔ او دلته ترے صغیره مراد ده۔ بعض وائي د خطایا مصداق واړه گناهونه دي۔

حدیث ۳۰: وعن انس قال قلما خطبنا رسول اللہ ﷺ الاقال لا ایمان لمن لاامانۃ لہ ..الخ۔

" قلما " کښې " ما کافۃ عن العمل " دہ۔ یا " ما " مصدریہ دہ۔ نبی ﷺ ډیرہ کمہ خطبہ ورکولہ۔ یا قلت پہ معنی د عدم دے۔ یا قلت پہ مقابلہ دہ کثرت کښې راځی : ﴿ قَلِيلًا مَا تُؤْمِنُونَ ﴾ (سورۃ الحاقۃ : ۴۱) یو معنی دادہ : د سر نہ ئی ایمان نہ دے راوړے۔ دویمہ معنی ډیر لږ دوی کښې ایمان راوړی۔ زیات هغه نہ راوړی۔ دلتہ اکثریہ خطبے مراد دی۔ خطبے نہ مراد د نکاح خطبہ نہ دہ۔ د وعظ و نصیحت خطبہ یادوی۔ نو پہ هغے کښې بہ ئی دا خبرہ کولہ " لا ایمان لمن لا امانۃ لہ "۔

شاہ انورؒ وائی : تنزیل الناقص بمنزلۃ المعدوم۔ ئی اخلہ نشتہ ایمان۔ نور وائی : چہ کامل پہ کښې وایہ ندے کامل مومن۔

علامہ ابن تیمیہؒ مجموع فتاوی ۱۱: ۳۱۳ باندے دا حدیث : لا ایمان لمن لا امانۃ لہ۔ ذکر کړیدے۔ پہ تعلیق کښې ئی پہ دے د ضعیف حکم لګولے دے۔

ایمان سرہ ئی امانت ذکر کړو۔ ځکہ ایمان پټ دے۔ او امانت هم خلق پټ ساتی۔ امانت بیا عام دے۔ کہ چا درسرہ یوہ خبرہ پہ امانت کښې کیخودہ " المجالس بالامانۃ " نو د هغے افشاء بہ نہ کوی۔ او امانت پیسے ، مال او کالے هم دے۔ پہ هغے کښې بہ خیانت نہ کوی۔ امانت عام واخلہ : ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴾ (سورۃ الاحزاب : ۷۲) ۔ دغسے :﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا ﴾ (سورۃ النساء : ۵۸)۔ ټول امانتونہ دی۔ پہ دے کښې بہ خیانت نہ کوی۔

" ولا دین لمن لاعهد لہ ": ۔ وعدہ ښکارہ کیږی۔ اودین هم ظاهر دے۔ او عهد د جانبینو نہ دے۔ او وعدہ د جانب واحد نہ وی۔ د عهد خلاف بہ نہ کوی : ﴿ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا ﴾ (بنی اسرائیل : ۳۴)۔ چہ لوظ دے اوکړو۔ نو د هغے نہ بہ آخوا دیخوا کیږے نہ۔

کہ دا احادیث وعظ او تقریر کښې وئیلے کیږی۔ تاویل مہ کوہ۔ او د احکامو مقام وی بیا تاویل کولے شے۔ دلتہ اشکال دے : چہ دین ، ایمان ، اسلام درے وارہ اسماء مترادفہ دی۔ فرق ئی ولے اوکړو۔ ؟ چہ هریوئی یو معنی سرہ خاص کړو ؟۔

ددے جواب التعلیق کښې علامہ کاندهلویؒ داسے کوی : چہ الفاظو کښې اختلاف او معنی کښې اتحاد دے۔ ځکہ چہ د امانت اود هغے رعایت یا بہ د اللہ سرہ وی۔ یا بہ دا معاملہ د مخلوق سرہ وی۔ کہ د مخلوق سرہ وی۔ نو امر ظاهر دے۔ او کہ د اللہ سرہ وی۔ ددینہ مراد پہ طاعاتو سرہ مکلف کول دی۔ او امانت ئی ورتہ ځکہ اووئی : چہ دا لازم الوجود دے۔ لکہ چہ امانت لازم الاداء دے۔

الفصل الثالث

حديث ۳۱ : وعن عبادة بن الصامت قال سمعت رسول الله ﷺ يقول .... الخ۔

"سمعت رسول الله" :۔ سمعت کلامه لان السمع لا يقع على الذوات۔ (مرقات)۔

" من شهد ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله " شهادت يوائحي نه دے۔ روژي په کښي دي۔ مونځونه پکښي دي۔

مرقات کښي ملاعلي قاريؒ ليکي : چه " من شهد " روايـاتـو کښي راغلـے دے۔ نو ژبے به زړه سره مطابقت وي۔ او ددے شهادت منافي به ستا نه صدور ته نه راځي۔ لکه :نداء لغير الله ما فوق الاسباب۔ او د الله کتاب العياذ بالله ډيران ته غورځول۔

حديث ۳۲ : وعن عثمان قال قال رسول الله ﷺ من مات وهويعلم انه لااله الاالله..الخ۔

په دے حديث کښي ورسره يوقيد اولګو۔ په احاديثو کښي دا قاعده ده۔ چه قيد په يو ځائي کښي نه وي نود بل ځائي نه ورله راواخله "يعلم " پکښي نه وو۔ " يعلم " تش معرفت نه دے۔ تش معرفت خو يهودو ته هم وو: ﴿ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ وَإِنَّ فَرِيقاً مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ (سورة البقرة : ۱۴۶) ۔د " يعلمون " مطلب يقين دے۔ اعتقاد جازمه ثابته مطابق للواقعه دے — چه د هغه دا يقين وي " انه لا اله الا الله '' وي — سره ئې بل قيد اولګو

" من مات " :۔ په دے عقيده سرے مړ هم شي۔ نو " دخل الجنة "۔ او ذکر د شرك دے۔ مراد ترينه عام کفر واخلـه۔ کـه شرك نه وي۔ خو رسالت نه مني۔ يا بل پيغمبر د آخري پيغمبر نه روستو مني۔ نو هم کافر دے۔ کافر که يوولي الله ئې نه دے شريك کړے۔ خوخپل خواهش ئې شريك کړيدے۔ او د الله حکم ئې غورځولے دے : ﴿ أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ ﴾ ۔ (سورة الجاثية : ۲۳)۔

حديث ۳۳ : وعن جابرقال قال رسول الله ﷺ ثنتان موجبتان قال رجل يارسول الله..الخ۔

حالات د جابر رضي الله عنه : جابربن عبدالله ابوعبدالله الانصاري دے۔ ډير روايات ترے نقل دي۔ ۱۸ غزوات کښي شرکت دے۔ آخري عمرکښي نابينا وو۔ ۷۴ هجري کښي مدينه کښي ۹۴ سال عمرکښي وفات دے۔ داد مدينے آخري صحابي دے۔ چه وفات شويدے۔

دوه خویونه دی " موجبتان " یوسړی تپوس اوکړو " ماالموجبتان " کوم دوه څیزونه واجبونکی دی۔ یعنی لای شیء موجبتان۔

" من مات یشرك بالله شیئا دخل النار ومن مات لا یشرك بالله شیئا دخل الجنة ": مشرك به جهنم ته ځی۔ او مؤحد به جنت ځی۔

دے حدیث کښی نیکۍ او بدۍ ته موجبتان اووئیله۔ او وجوب د اهل السنت په نزد په وعد، وعید سره دے۔ او د معتزلو په نزد عمل سره۔ دے حدیث کښی د انسان د آخری مستقر بیان دے جنت او دوزخ۔ د شیخنا المحترم عبدالغنی جاجرویؒ تحقیق اسعد المفاتیح کښی داسے نقل دے: چه انسان ازلی نه دے ــ خو ابدی ضرور دے ــ نو ابدی مستقر ئی ذکرکړو: ﴿أَصْحَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا﴾۔ او ﴿خَالِدِينَ فِيهَا حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا﴾ او بل طرف ته: ﴿إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا﴾۔ (سورة الفرقان : ٢٤، ٧٦، ٦٦)۔ راغلے دے۔ او (من یشرك) ای موت من یشرك بالله۔

حدیث ۳۴ : وعن ابی هریرة قال کنا قعودًا حول رسول الله ﷺ ومعنا ابوبکر.... الخ۔

مونږ د نبی ﷺ نه ګیر چاپیره ناست وو۔

دلته یو نحوی اشکال راځی: چه " قعودًا " حمل په مخکښی باندے نه صحیح کیږی۔ قعود صفت محض دے۔ او " کنا " ذات محض دے۔ د وصف محض حمل په ذات محض باندے څنګه صحیح کیږی ؟۔

جواب داد ے: " کنا قاعدین " ای کنا ذوی قعود۔ که قاعدین اووائی نو ذات مع الوصف دے۔ که دوی قعود اووائی نو دا هم ذات مع الوصف دے۔ نو په دے کښی حمل وصف په ذات محض باندے نه دے راغلے۔ بلکه حمل د ذات مع الوصف په ذات محض راغے۔ یا داسے اووایه: چه قعودًا دا حمل مبالغة دے۔ څنګه چه زید عدل دے۔ نو داسے " کنا قعودًا " دے۔ " کنا قعودًا " مونږه ناست وو۔

"حول رسول الله ﷺ ": ګیر چاپیره ناست وو۔ او مونږ سره ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم وو۔ هغه وخت کښی هم دا عقیده وه۔ چه اول ابوبکر رضی الله عنه۔ او دویم نمبر عمر رضی الله عنه دے۔ دا دواړه ځکه وائی۔ چه راتلونکے واقعه د عمر رضی الله عنه سره تعلق ساتی۔

"فی نفر" :۔ یو څو کسان وو: ﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ﴾۔ (سورة الاحقاف : ۲۹)۔

"فقام رسول الله ﷺ من بین اظهرنا ":- نبی ﷺ زمونږ د خوا نه پاڅیده۔ د " بین " او د " اظهر " یوه معنی ده۔ "بین "هم مینځ او "اظهر"هم مینځ ته وائی۔ نو دا یو په کښی مقحم کړه۔ زائد للتاکید راځی۔ او کافیه مبنی کښی دی : وقد یتوسط بین المبتدء والخبر ۔ "یتوسط " هم وسط دے۔ او " بین" هم وسط دے۔ دا یو په کښی تاکید دپاره سوا شوید ے۔

امیان تبلیغیان وائی : د پل صراط په پل باندے به ئی تیر کړی۔ او حوض کوثر د حوض نه به، ورله اوبه ورکړی۔

دے کښی هم تاکید دے۔ او دغه تاویل دے۔ چه یو لفظ په کښی مقحم دے۔

شیخ الحدیثؒ التقریر الرفیع کښی لیکی : قال الاستاذ الماجد ۔ خپله اصطلاح ئی ده۔ مولانا یحیؒ مراد دے۔ د علامه گنگوهی شاگرد دے۔ او د شیخ الحدیث والد ماجد دے۔ الکوکب الدری مولانا یحیٰ لیکلے دے۔ کله کله " قال الامجد " دا مولانا خلیل احمد سهانپوریؒ ته هم وائی۔

نبی ﷺ د محفل په وسط او درمیان کښی ناست وو۔ نو چاته ئی شاه هم وه۔ نبی ﷺ پاڅیده۔ امیر لره نه ده ضروری چه د مامورینو نه اجازت اوغواړی۔ که غواړی ښه ده۔ اوکه نه غواړی داسے تلے شی۔ مامورین به اجازت غواړی۔ که خبره شروع وی نو په کلام اوخُله به اجازت نه غواړی۔ بلکے په اشاره به اجازت غواړی۔

تفسیر روح المعانی سورة النور آخری رکوع ددے آیت لاندے لیکی :﴿ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذاً ﴾۔ اجازت به غواړی په اشاره۔ لکه سکول کښی ماشومان د وړو بولو دپاره اجازت غواړی۔ مسواکه گوته اوچته کړی۔

"فابطأ علینا":- روستو والے ئی اوکړو زمونږنه۔ مونږ اوویل نزدے غوندے ورځی بیا راځی۔ چه تاخیرئی اوکړو۔ اوویریدو مونږه۔

"ان یقتطع دوننا ":- هسے نه چه دوی ته تکلیف اورسولے شی۔ او مونږ به نه یو۔ دا یهودیان شیطانان دی۔ که مونږ ورسره یو۔ اوبه گورو ورسره۔ " دوننا " مونږ به نه یو خبر۔

"وفزعنا":- او مونږه اوویریدو۔ په مینه کښی بدگمانی او یره ترخه ډیره وی۔ مونږه یریدو۔ چه الله دے ورته خیر کړی چه څه چل اوشو۔ یو خشیت دے او بل فزع ده۔ خشیت د زړه یرے ته وئیلے کیږی۔ او

فزع چه په اندامونو باندے آثار ښکاره شی۔ چه سرے اویرېږی۔ نو رنګ ئی زیړ شی۔او خپے ئی رپیږی۔ " فقمنا ":۔ نو مونږه اودریدلو۔او صحابه کرام رضی الله عنهم اولیاء دی۔او په کوخوکښی ګرځیدل۔علم غیب ورته نشته۔

" فکنت اول من فزع ":۔ځه اول د هغه چا نه اووم۔ چه ډیر زیات اوویریدم۔

سوال : دادے چه دده یره اول ولے راغله۔ هلته مینه خو اول د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه وه۔او د سیدنا عمررضی الله عنه وه۔ډیره یره هغوی له پکار وه۔

جواب : دادے چه شیخینو کښی برداشت سیوا وو۔الله رب العزت استقامت ورکړے وو۔غټوخلقو باندے چه کله مصیبت راشی۔نو حوصله ئی برابر وی۔لیکن لاندے خلق وارخطا شی۔اوحوصله ئی خرابه شی۔دویمه دا چه خصوصی شاګرد دے ابو هریره رضی الله عنه۔نبی ﷺ سره د ورځے د شپی ناست۔د اصحاب صفه نه وو۔ هغه پخپله وائی چه خلق به لاړل دوکانداروله۔زمیدارو له۔اوځه به د نبی ﷺ سره اوومه۔ چه په مړه خیټه روټی راته ملاؤ شی داغنیمت دے۔نودے په نبی ﷺ ډیرخفه وو ۔ چه استاذ رانه روك شو۔"ابتغی رسول الله ﷺ" :۔نبی ﷺ مے لټوو۔چه کومے غاړے ته به تلے وی۔ "حتی اتیت حائطا للانصار" :۔تردے چه ځه راغلم دیوال د انصارو ته۔قضیه اتفاقیه وه۔ځه لاړم اورسیدم د انصارو یو باغیچی ته۔ "حدیقه "باغیچی ته وئیلے کیږی : ﴿ أَمَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ﴾ (سورة النمل : ٦٠) دلاندے البحرالمحیط تفسیرکښی دی : البستان سواء احاط به جدار ام لا ۔ او دے ته علامه آلوسیؒ ډیره ظاهره وئیلے ده۔دلته ددے باغ دیوال وو یا نه وو۔ دوه اقواله دی۔بنو نجار د نبی ﷺ ماما خیلی وه۔زړه کښی مے اووئیل چه دلته به وی۔

ابھی اس راہ سے گزرا ہے کوئی کہی دیتی ہے شوخی نقش پا کی

داد خپو دا نقش چه ښکاری دا ځه پیژنم۔چه داد چا دے۔په دے لار باندے ځوك تلے دی۔او دهغه خوشبوئی په فضاء کښی خوره وی۔نو لاړل دغے باغ ته اورسیدل۔

" فدرت به ":۔ نو ځه اوچورلیدم باغ د خوانه ګیر چاپیره۔

" هل اجد له بابا ": ـ آیا څه بیا مومم دے لره دروازه۔ " فلم اجد له باباً " نو دروازه راته ملاؤنه شوه۔ دوه مطلبه دی :(۱) دروازه وه نه نو څه به ملاؤشی۔(۲) دروازه وه خو وارخطائی کښې ملاؤنه شوه معاذ رضی الله عنه ته ئی وئیل : بم تقضي يا معاذ قال بكتاب الله وان لم تجد۔ که تا اونه منده۔
دوه مطلبه دی : (۱) یو مطلب دا نشته (۲) دویم داچه ته ئی نه وینې۔ او نه ئی شے معلومولے۔ اگرچه وی ۔:﴿ فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء ﴾ (سورة النساء : ۴۳) ـ دوه مطلبه دی (۱) اوبه شته دے نه د سره۔(۲) شته دے۔ لیکن ته پرے قادر نه ئی۔ غوره معنی داده چه دروازه وه۔ لیکن چه سړی وارخطا شی۔ نوبیا دے څه وینی نه۔ نظر ئی کیری بیری شی۔ " فاذا ربيع "، ناڅاپه ما یو لختے اولیده۔
"يدخل فى جوف حائط من بئر خارجة " : ـچه داخل وو۔ او مینځ کښې وو د هغے دیوال سوری کښې۔ داپه یو څو طریقو سره وئیلے کیږی۔
" من بئر خارجه "(۱)" من بئر خارجة " خارجه د سړی نوم وو۔ دا کوهی د خارجه نومی سړی وو۔
(۲) غوره قول دادے : " من بئر خارجة " "من بئر" موصوف "خارجة " ورله صفت دے۔ داسے کوهی وو ۔چه بهر وو ددے باغ نه۔ اوس هم کوهیان وی۔ باغ به په کوهی یادیدل۔ بئر جمل ' بئر اریس ' بئر اریحا او بئر ذروان ۔
او دبل چا باغ ته تلل صحيح دی۔ چه کله دوست او ملګرے په هغے خوشحاله وی۔ بلکه بعض قسم انتفاء اغستل صحیح هم دی۔ چه کله په ملګری بوج نه وی۔ دغسے جمهور سلف اوخلف وائی۔ لیکن علامه ابن عبدالبرؒ لیکلے دی : چه د دوست او د ملګری په روپو اشرفو او زیات طعام کښې تصرف صحیح نه دے۔ بغیر د اجازت نه ۔
"والربيع الجدول ": ـ لختی ته وئیلے کیږی۔ دروازه نشته۔ " فاحتفرت " ما ځان (راونغاړه) راټول مے کړو ځان ـ ما ځان راغونډ کړه۔ دے ته وائی مینه۔ اوهغه سوری کښې دننه شوم۔ په کوم سوری کښې چه اوبه راروانے وے۔
" فدخلت على رسول الله ﷺ ": ـ وردننه شوم په رسول ﷺ باندے۔ او نبی ﷺ به کله کله خلوت خوښولو۔ او دا ښه شیء دے۔ هر وخت جلوت ښه نه وی۔ کله کله صحراء ته وتل ښه وی یوائے۔ کله

کله به نبی ﷺ باغونو یا صحراء ته وتلو. او داد سوچ او فکر دپاره ډیر ښه معاون وی.
زمونږ نه ددے موبائلو غلط استعمال خلوت لرکړو. هر وخت کښی جلوت وی. موبائل پیکج کښی
دے. نو مشغولا ډیره شی پیسه باندے خفه یو په وخت نه یو. نو کله کله په کښی خلوت ښه وی.

" وکان حبب الیه الخلاء ". شعر:

چلئے اب ایسی جگہ چل کر جہاں کوئی نہ ہو ہم سخن کوئی نہ ہو ہم زباں کوئی نہ ہو

" **فقال ابو هريرة** ": . اانك ابوهريرة نبی ﷺ اوفرمائیل ته ابو هریره ئی. استفهام تقریری دے. یا د
تعجب دپاره دے. یا د شك دپاره دے. دا کله کله خلق د خوشحالئ نه داسے وائی. خلق وائی ښه ورته
پته وی دا فلانکے راغے. د نبی ﷺ توله توجه رب العزت طرف ته وه.

" **ما شانك** ": . دا رنګ دے ولے زیړ دے. دا وارخطا ولے ئی. او محبوب سره خلق خبرے اوګده وی
. ابو هریره رضی الله عنه خبره اوږده کړه. الله موسیٰ علیه السلام ته فرمائیلے وو: ﴿ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ
يَا مُوسَى ﴾﴿ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَى غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَى ﴾
(سورة طه: ۱۷، ۱۸). خوند ئی ورله ورکوو چه الله سره خبرے اوکړی.

عشق کہتا ہے جنوں کو چھوڑ دینا چاہیے پر ضبط کی تاکید ہے خاموش رہنا چاہیے
قصہ موسیٰ سبق ہے عشق والوں کے لئے کس طرح عشاق کو خاموش رہنا چاہیے

محبوب علیه السلام ئی اولیدلو. قصه ورته د سر نه کوی.

" **قلت كنت بين اظهرنا** ": . ته زمونږ په مینځ کښی ناست وے.

" **كما يحتفز الثعلب** ": . څه داسے راغونډ شوم. لکه څنګه چه لومبړه راغونډیږی.

" **وهولاء الناس ورائى** ": . اودا خلق ما پسے شاته راروان دی. ما تلوار اوکړله. د مینی د وجے نه
نور ورپسے رانغلل. " **فقال يا ابا هريرة واعطانى نعليه** ": . ماله ئی خپل پیزار راکړو. د پنړے
معنی به نه کوے. نبی ﷺ پنړے استعمال کړے نه دی. نعلین د نبی ﷺ شته. او صفات ئی هم
شته. او شکل ئی هم موجود دے. په الحق الصریح کښی پنړے لفظی ترجمه کړے ده. خکته بیا
لیکی: چه ددے نه مراد پنړے اغستل تیك نه دی.

بعض خلق وائی : چه نبی ﷺ طائف ته تلے وو۔ او هلته چه خلقو په کاڼړو اوویشتو۔ نو پنړے ئی د وینو نه ډکے شوے۔ ددوی دا خیال دے چه دا سنت طریقه ده۔ دا به پخوادے بوډئی گانو ښځو په خپو کولے۔ که پنړے استعمالوی نو ټیک ده۔ لیکن سنت طریقه نه ده۔ " واعطانی نعلیه "۔

سوال : دادے چه نعلین ئی ورله ولے ورکړه ؟۔

جواب : دادے۔ نور څه نه وو۔ نو ځکه ئی ورله چپل ورکړے۔ نبی ﷺ ورله نښه ورکړه۔ چه نورو د صحابه کرامو رضی الله عنهم ته پته اولگی۔ چه نبی ﷺ په خیریت سره دے۔

دویم دا چه نعلین کښی اشاره ده استقامت طرف ته۔ (مرقات)۔

" **اعطانی نعلیه** " که خوب کښی ئی وینی۔ نو په یو تعبیر ئی ښځه هم ده۔

دریم د نعلین مصداق سورلی هم ده۔ " قلت لااجد ما احملکم علیه " سورلی ئی مراد ده۔

اونواب صاحب خپل تفسیر فتح البیان کښی لیکلے دی : چه ددے معنی پیزار دے۔ هغوی سره چپلی نه دے۔ نبی ﷺ نعلین ویستل لکه څنگه چه ئی موسٰی علیه السلام ته وئیلے وو : ﴿إِنِّیٓ أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى﴾ (سورة طه : ۱۲) د الله سره ئی تعلق وو۔

"**اذهب بنعلی هاتین**" :۔ زما دا دواړه نعلین یوسه۔ د هغے نعلین تصویر بریلیانو شائع کړیدے۔ وسیله کښی پیش کوی۔ وائی دا نعلین مبارکین د نبی ﷺ دی۔

دمولانا اشرف علی تهانویؒ دا عقیده وه۔ چه داد برکت دپاره دی۔ مفتی کفایت اللہؒ ورسره خط و کتابت اوکړو۔ چه یو بل ته ئی خطونه اولیږل۔ کفایة المفتی کښی خطونه نقل دی ۔ غټ خلق وو۔ مولانا تهانویؒ د نعلین ددغے توسل نه رجوع کړے ده۔ چه د عوامو عقیده خرابه نه شی۔

نور نبی ﷺ سره څه نه وو۔ ځکه ئی نعلین ورکړو۔

"**فمن لقیك من وراء هذا الحائط**" :۔ ددے نه دیوال د باغ معلومیږی۔ ددے دیوال نه آخوا درسره چه څوك ملاقات کوی۔ نو زیرے ورله ورکړه۔

" **یشهد ان لا اله الا الله مستیقناً بها قلبه** " :۔ په داسے حال کښی چه کامل یقین کونکے په دے باندے د زړه نه دے۔ نورو ځایونو کښی ورسره دا قید نه دے لگولے۔ او دلته ئی ورسره لگولے

دے۔ د استیقان تعلق د زړه سره دے۔ تاکید له ئې ذکر کړیدے۔ لکه عرب وائي : رأيته بعيني۔ (الكاشف)

"فبشره بالجنة ":- ابو هریره رضی الله عنه ته اوویل زما دا پیزار واخله۔ هسے هم داسے خبر واحد حجت دے۔ او بیا چه محتف بالقرائن شي۔ "نور علی نور" شو۔ چه څوك دغه توحیدی عقیده د زړه نه ساتي۔ نو جنت ته به ځي۔ نو بهر ورسره اول د عمر رضی الله عنه ملاقات اوشو۔

" فكان اول من لقيت عمر فقال ما هاتان النعلان":- دا پیزار دے ولے په لاس کښې نیولے دے۔ یا ابا هريره ؟۔

" قلت هاتان نعلا رسول الله ﷺ":- داد نبي ﷺ پیزار دے۔ څه ئې رالیږلے یم اوما ته ئې اوویل

"من لقيت يشهد ان لا اله الا الله ":- چه څوك هم يقين ساتونكے وي۔ نوزيرے وركړه په جنت سره۔" فضرب عمر بين ثدي ":- نوعمر رضی الله عنه ماله د سینے په مینځ کښې ګزار راکړو۔ په سوك باندے ئې اووهلم ـ د پيغمبر پيغام مه رسوه ـ سره د نعلينو واپس شه ـ ديخوا مه راځه پيغمبر خواله څه۔

حدیث کښې چه راځي عمر رضی الله عنه قوي وو۔ اوخوب کښې لیدلے وو۔ چه بوقه راوباسي۔ نو زور ئې ډیر وو۔ او دیخوا ابو هریره رضی الله عنه کمزورے وو۔ " فخررت لاستي " څه به په کناتو باندے ولويدم ـ په شاه باندے اوغورځیدم۔ ګزار ئې ولے ورکړو۔ مشران کشرانو له وهل ورکوی۔ داد ادب ورکولو دپاره ګزار دے۔

مرقات کښې ملاعلي قاريؒ هم دا توجيه ذكر كړے ده۔ ليكن وئيلے دی " فيه ما فيه "۔

اکابر اصاغرو له ګزار ورکوی د تربیت دپاره۔ هغه هم دا نه خوخوله۔ چه ابو هریره رضی الله عنه دا پیغام خلقوته اورسوی۔ او دے ته غیرت وئیلے کیږی۔ لکه څنګه چه : ﴿قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي﴾ (سورة طه : ٩٤) ـ موسیٰ علیه السلام د هارون علیه السلام ګیری اوسرته لاس کړل۔ دا بے ادبي نه وه ـ داد غيرت تقاضه وه۔ دلته اسلامی غیرت په عمر رضی الله عنه کښې راغے۔ اوچاهم د عمر رضی الله عنه په دے کار اعتراض اونه کړو۔ په دے دور کښې که داسے واقعه شوے وه۔ نوشیعه یا نیم شیعه به پوستهر شائع کړے وو۔ بلکه کتاب به ئې لیکلے وو۔ او نن له به ئې ورکړے وو۔ چه

عمر رضی الله عنه د حدیث رسولو دشمن دے۔ پیغمبر ابو هریره رضی الله عنه اولیږه۔ او عمر رضی الله عنه واپس کړو۔ یو تن به په حدیث عمل کوی۔ دوی به ورله گزار ورکوی۔ عمر رضی الله عنه هغه صحابی دے۔ چه الحق الصریح کښی دی: چه ۲۱ کرته دده باره کښی وحی راغلے ده۔ اوپه بل کتاب کښی ئی زیات کړے دی ۲۴ مقامات داسے دی د سیدنا عمر رضی الله عنه د رائے مطابق الله آیت رالیږلے دے۔ (سیرة الرسول ۲ : ۱۱۳)۔

مثلاً: ﴿وَاتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ (سورة البقرة : ۱۲۵) ۔ داد دوی غوښتنه ده۔ دویم امهات دے پرده کوی: ﴿يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ﴾ (سورة الاحزاب : ۵۹) ۔ داد چاهت وو۔ عمر رضی الله عنه نه غوښته چه عبدالله بن ابی ابن سلول باندے جنازه اوشی۔ آیت راغے: ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَداً وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ﴾ (سورة توبة : ۸۴) ۔ دادده چاهت وو۔

طریق محمدی ص: ۴۱ باندے جوناگړهی لیکلے دی: راشه واوره صفا صفا غټو مسئلو کښی فاروق اعظم غلطئ کړے دی۔ آخر کښی لیکی: د روزمره غټو مسئلو د شرعی دلیلونو نه بے خبره وو۔

داسے خمینی هم لیکلے دی کشف الاسرار کښی: چه العیاذ بالله ابوبکر او عمر د نصوصو خلاف کړیدے۔ داد شیعه گانو طریقے دی۔ پوره شیعه یا نیم شیعه دوی په عمر رضی الله عنه اعتراضات کوی۔ " **فرجعت الی رسول الله ﷺ**": ۔ څه نبی ﷺ ته اورسیدم۔

"**فاجهشت بالبکاء**": ۔ ما ځان تیار کړو ژړا ته۔ "فاجهشت" چه غریب نیولے وی۔ او ژړا ته نزدے وی۔ فرمائی عمر رضی الله عنه ما پسے لگیدلے وو۔ سپریم کورټ ته به څو هلته به فیصله کوو۔ " واذا هو علی اثری " او دے زما په قدم پسے راروان وو۔ نبی ﷺ خودے لیږلے وو۔ چه خلقو ته حدیث بیان کړه۔ خلقو ته خوشخبری ورکړه۔ دوی واپس شو۔ اوبیا هم نبی ﷺ ته پته نشته۔

"**مالك یا ابا هریرة**": ۔ څه چل اوشو۔ حالات بدل دی۔ نو هغه اووئیل په ژړا کښی۔

"**لقیت عمر فاخبرته بالذی بعثتنی به فضرب بین ثدیی ضربة خررت لاستی فقال ارجع**" صرف ما عمر رضی الله عنه له خبرورکړو۔ نو هغه د سینی په مینځ کښی گزار راکړو۔ او ماته ئی اووئیل واپس شه نبی ﷺ ته۔ " **یا عمر ما حملك علی ما فعلت** " څه باعث دے په تاباندے چه داکار دے

اوکړو۔ قاصد زما وو۔ حدیث زما وو۔ او پیزار زما وو۔ نو وهل ولے خوری۔ او واپس دے کړو۔ عمر رضی الله عنه نبی ﷺ ته خپله رائے پیش کړه۔ چه دے وخت کښې داسے کارمه کوه۔ هسے نه چه ددے نه عام خلق غلطه نتیجه راوباسی۔ چه مونږ کلمه وئیلے ده کافی ده۔ مخکښې د معاذ رضی الله عنه روایت تیر شویدے۔ ورته ئی وئیلے وو۔ چه حدیث به نه وائی۔ او هغه بیا نه وو وئیلے۔

" فاخبربه معاذ عند موته " راغلے وو۔ نو په دے طریقه به خلق اعمال اوکړی۔ که داسے نه شی۔ نو خلق وائی : زمونږ عقیده تیك ده ـ او اعمال به تیك نه کوی ـ وائی به مونږه مؤحدین یو۔ نو پیغمبر اوفرمائیل صحیح ده پریږده۔ چه دا خلق عمل کوی۔ عملی جزبه او نور اعمال ئی اوچت شی۔ نو بیا زیری ورکوه۔ مشوره د عمر رضی الله عنه۔ " فانی اخشی ان یتکل الناس علیها ":۔ هسے نه چه خلق په دغه کلمه باندے توکل اوکړی۔ اعمالو ته اهمیت نه ورکوی۔

"فقال رسول الله ﷺ فخلهم ":۔ چه کومه خبره چه کړے وه ۔ نبی ﷺ ورته اووئیل تیك ده۔

حدیث ۳۵: وعن معاذ بن جبل قال قال لی رسول الله ﷺ مفاتیح الجنة شهادة....الخ۔

اشکال : دلته په ظاهره یو اشکال دے : چه مفاتیح مبتداء ده۔ شهادة ورله خبر دے۔ نو مبتداء او دخبر په مینځ کښې مطابقت نشته دے۔ مفاتیح جمع ده۔ او شهادة مفرد دے۔

جواب : (۱) : شهادة مصدر دے۔ او مصدر کښې جمع او واحد ' مذکر او مؤنث علی السّویه وی۔

(۲) : دویم جواب دادے : "شهادة ان لا اله الاالله" سره "شهادة ان محمدا رسول الله " هم شته دے۔ او د جمع اطلاق په دوو باندے هم کیدے شی۔ اګر چه دا اطلاق اکثریه او حقیقتًا نه دی۔ (۳) : چه د شهادة نه مراد جنس شهادت دے۔ او جنس کښې تعمیم وی۔ او دے وجے نه ئی دلته مفاتیح استعمال کړیدے۔ د هریو تن خپل خپل شهادت دے۔ مفاتیح الجنة مطلب دا نه دے۔ چه جنت بند دے۔ بیا به ئی په چابئی کهلاؤوے۔ بلکه :﴿وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا ﴾۔ (سورة الزمر: ۷۳) ـ یعنی چه دا عقیده دے نه وی برابر کړے ـ نو هغه تاله بنده ده۔ او چه د چا عقیده برابر وی۔ نو هغه له کهلاؤ وی۔ خوشهادت سره د شهادت نه پس عقائد او اعمال او شرائع شته دے۔

حدیث ۳۶ : وعن عثمان قال ان رجالا من اصحاب النبی ﷺ حین توفی حزنوا...الخ۔

حالات د عثمان رضی اللہ عنه : سیدناعثمان رضی اللہ عنه عشره مبشره کښې دے۔ د سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنه په دعوت باندے اسلام قبول کړیدے۔ د سیدنا عمر رضی اللہ عنه په دورکښې ۲۲ لاکه مربع میل زمکه فتحه شوے وه۔ نو تقریباً ۴۴ لاکه مربع میل زمکه د عثمان رضی اللہ عنه په دورکښې فتحه شوے ده۔ ابوعبداللہ الاحوی دے۔

حافظ ابن کثیر د سورۃ النور آیت ۵۵ په تشریح کښې لیکلے دی: چه دده په حکومت کښې قبرص او قیروان فتح شوے دی۔ او د بحرمحیط په غاړه تولے علاقے د چین ترآخری باډره فتح شوے دی۔ عراق او خراسان فتح شو۔ اوکسرٰی قتل شو۔ اوملك ئی برباد شو۔

عثمان رضی اللہ عنه ډیر خائسته او معتدل قد والا وو۔ ده ته ذوالنورین هم وائی۔ چه د پیغمبر دوه لونړه رقیه او ام کلثوم رضی اللہ عنهما په ده واده وے۔ او بیعة الرضوان چه کوم دیوانے دلاندے شوے وو د هغے نه ئی منقبت واضح دے۔ موجوده قرآن چه مونږ سره دے۔ د هغے جامع دے۔ او د جمعے په ورځ دده تجویز شده اذان باندے د جمهورو اتفاق دے۔ دے د بدر غزا له نه وو تلے۔ ځکه چه نبی ﷺ ورله اجازت نه وو ورکړے۔ او ورته ئی اوویل مه ځه۔ او بی بی دے ناجوړه ده۔ او د بدر په غنیمت کښې ورله حصه ورکړے وه۔ حکمًا اګرچه دے په بدرکښې حقیقةً موجود نه وو۔ د حیا صفت په عثمان رضی اللہ عنه باندے غالب وو۔ عمر ئی د اتیا کالونه لږ سوا وو۔ او بقیع الغرقد کښې دفن دے۔ دولس کاله کښې دولس ورځے کم خلافت کړیدے۔

"ان رجالا من اصحاب النبی ﷺ حین توفی":۔ ځه کسان وو۔چه کله نبی ﷺ وفات شو۔ هغوی د نبی ﷺ په جدائی خفه شو۔ لکه مونږه دا نه شو برداشت کولے۔چه د یاردوست د مرګ نه خبر شو۔ اوصحابه خوپتنګان دی۔ اوچه پته ورته اولګیده چه نبی ﷺ وفات شویدے۔ نوواقعی "حزنوا علیه" انتهائی خفه شول۔ خفګان د مشر په تلو هم وی۔ او په دے هم ده۔چه وحی ختمه شوه۔

صفیه رضی اللہ عنها وائی ځه ځکه خفه یم۔

شعر: فقدنا الوحی والتنزیل فینا یروح به ویغدوا جبرائیل

لقد عظمت مصیبتا وجلت عشیة قیل قد قبض الرسول

(اتقان)

حدیث دلیل دے۔ په دے باندے چه نبی ﷺ وفات شویدے۔ " حین توفی "۔
د نبی ﷺ دنیوی حیات او په هغے مرتب آثار ختم شوے دی۔
امعان النظر کښې علامه محمداکرم سندهی: ۲۰۸ باندے لیکلے دی: ان السخاوی قال فی شرح الالفیه: وهل یدخل من رآه میتا قبل ان یدفن کما وقع لابی ذویب الهزلی الشاعر قال عزین جماعة لا: علی المشهور وقال شیخنا انه محل النظر والراجع عدم الدخول والا یعد من اتفق ان یری جسده المکرم وهوفی قبره المعظم ولوفی هذه الأعصار وکذالك من کشف له عنه من الاولیاء فراه کذاك علی طریق الکرامة اذ حجة من اثبت الصحبة لمن رآه قبل دفنه انه مستمر الحیاة وهذه الحیاة لیست دنیویة وانما هی اخرویة اثبت لا یتعلق بها احکام الدنیا فان الشهداء احیاء ومع ذالك فان الاحکام المتعلقة بهم بعد القتل جاریة علی سنن غیرهم من الموتی .انتهی
(۲): فتح الباری ۷: ۳ کښې دی: اما من رآه بعد موته وقبل دفنه فالراجع انه لیس بصحابی والا لعد من اتفق ان یری جسده المکرم وهو فی قبری المعظم ولو فی هذه الاعصار ....وهذه الحیاة لیست دنیویة وانما هی اخرویة لا تتعلق بها احکام الدنیا۔

"حتی کاد بعضهم یوسوس": - نزدے وه چه بعضو له وسوسے راشی۔ دا وسوسے دڅه دی؟۔
(۱): څوك وائی: چه ددنیا د لذاتو هغه وسوسے دی۔ دا قول غلط دے۔ (۲): دویم دا: چه پیغمبر لاړو۔ نو دا دین به څنګه چلیږی۔ قبائلو کښې خلق مرتد کیږی۔ نو د ځان غم ورسره پیدا شو۔ لیکن ددے دواړو توجیهاتو نه غوره توجیه داده۔ (۳): چه وسوسے په دے باندے راتلے۔ چه څه طریقه خپله کړو۔ چه مونږ له د جهنم نه نجات الله راکړی۔ او وساوس هم ختم شی۔

" قال عثمان وکنت منهم ": - څه هم ددغے خلقو نه اووم۔ چه دغه وسوسو راګیر کړے اووم۔ دا هغه وخت وو۔ چه ابوبکر رضی الله عنه خلیفه مقرر شوے وو۔

" فبینا انا جالس مرعلی عمروسلم ": - څه یو ځائی کښې خفه ناست اووم۔ عمر رضی الله عنه په ما باندے تیرشو۔ او سلام ئی اوکړو۔ **" فلم اشعر به ":** - څه د هغه په سلام پوهه نه شوم۔ نه راته پته لګیدلے وه۔ چه چا سلام اوکړو۔ او یا څوك تیرشوے دی۔

"فاشتکی عمرالی ابی بکر": - اوئے فرمائیل یو سړے پیغمبری سلام اوکړی۔ او محترم امیر صاحب سیدنا عثمان ئی جواب نه راکوی۔ ابوبکر رضی الله عنه تپوس ترے اوکړو۔ چه دے ولے زما

نه خفه شوے دے۔ چه اول کښې د خفګان مقدمات ختم شي۔ نو بیا خره اوګډیږي نه۔ که داسے نه وي غلط فهمي پیدا شي۔ نو بیا روستو صلحه ګرانه شي۔

"ثـم اقبـلا حتـی سـلما علی جمیعا ": - دواړه راغـلـل او په مـا باندے ئې سلام اوکړو۔ درے واړه یو ځائې شو۔ ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه عثمان رضی الله عنه کیس ئې داخل کړو۔ عثمان رضی الله عنه ماله د سلام جواب رانه کړو۔

" فـقـال ابوبکر ما حملك ان لا ترد علی اخیك عمر سلامه ": - تا دے خپل رور د سلام جواب ولے ورنه کړو۔ " قلت ما فعلت " ما خوداسے نه دي کړے۔ نوسیدنا عمر رضی الله عنه جواب کوي۔ والله چه داسے دے کړے دي۔ نو هغه ورته اووئیل " قـال قـلت والله ما شعرت انك مررت ولا سلمت ": - ماته پته نشته۔ چه ته تیر شوے ئې۔ او تا سلام کړیدے۔

" قال ابو بکر صدق عثمان قدشغلك عن ذلك ": - آیا ته مشغوله کړے ئې۔ خفګان ګډوډ کړے ئې - یوه مسئـله ترینه معلومه شوه۔ یو سړے تیریږي سلام کوي۔ او هغه بل ته کله پته نه وي۔ چه مشغـول وي ـ سورة یس ۵۵ کښې راځي :﴿إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ ﴾ هلته مفسرین وائي : جنت کښې به د جنتیانو شغل د نورو اشغالو سره د حورو بکارت زائل کول وي۔ مشغـول به وي۔ دغسے که عالم برزخ کښې یوولي الله د الله په نعمتونوپه لذتونو کښې اخته وي۔ نو که څوك تیریږي۔ او سلام کوي هغه په برزخ کښې د دنیا ددغه کس د حالاتو نه بعض اوقاتو کښې خبر نه وي ـ او بعض په کښې وائي : پته ورته لګي چه دا چنچنړه ده۔ اوکه چنچنړ۔ داخبره غلطه ده۔

"فـقـلـت اجـل قـال مـا هو قلت توفی الله تعالی نبیه ﷺ قبل ان نساله عن نجاة هذاالامر ":

انسان به جنت ته څنګه ځي۔ جهنم نه به څنګه بچ کیږي۔ دا تپوس هم مونږه د نبي ﷺ په ژوند کښې د هغوی نه اونه کړو۔ دا وسوسه راتله۔ ﴿ وَيَا قَوْمِ مَا لِيَ أَدْعُوكُمْ إِلَى النَّجَاةِ وَتَدْعُونَنِي إِلَى النَّارِ﴾ (سورة مومن : ٤١) دلته نجاة کښې د نون زور دے۔ " هذا الامر " دین دے۔ " قال ابوبکر قد سالته عن ذالك " ما ترینه تپوس کړیدے۔ ابوبکر صدیق تسلي ورکوي۔ چه دغه تپوس ئې کړے وو۔ ماته ئې فرمائیلے وو۔ " من قبل مني الكلمة التي عرضت على عمي فردها فهي له نجاة "۔

چا چه زما نه دا کلمه قبوله کړه " لا اله الا الله محمد رسول الله "۔

" عن نجاة في هذا الامر " ـ او د امر نه د شیطان دهوکه کول مراد دي۔ او دنیوي محبت او ګناهونو ته میلان دے ـ نو د توحید او د تقوی د کلمے برکت داد ے۔ چه انسان راویخ کړي۔ نفس ورله قوي کړي۔ او زړه کښې ورله رنړا پیدا کړي۔

"عرضت علی عمی": - "التی" موصول "عرضت" صله ده. کافیه کښې دی: وبصلة وعائد - نو صله راوباسه. "عرضتها علی عمی" ما په خپل تره ابو طالب باندے کلمه پیش کړه. "فردها" نو کلمه ئی رد کړه - دا دومره اوږده لارئی ولے اختیار کړه. نبی ﷺ داسے مختصر اونه فرمائیل چه په کلمه کښې نجات دے - اشاره دیته چه که د چا عمر دومره ډیر وی - لکه څومره چه د ابو طالب وو. لیکن که آخر کښې کلمه اووائی نو جنت ته به ځی. مسلم روایت کښې راځی: چه ابو طالب جواب کښې اووئی څه نه خوښوم پیغور اوخوښومه څه بس اور. نبی ﷺ تشریف یوړو. او ورته ئی اووئیل چه ماته غوږ کښې کلمه اووایه. چه څه بیا سفارش کولے شم. نو وئیل ئی کلمه نه وایم. خلق به وائی چه د عبد المطلب ددین نه بیزاره شوید ے. او ابو طالب د کفر حالت کښې مړ شو. او شیعه ګان وائی: خواجه ابو طالب مومن وو. قاضی دحلان یو غلط قاضی وو. نو ده رقم اغستے دے د شیعه ګانو نه. او د پیسو په زورئی ابو طالب مسلمان کړید ے. صیانة الانسان کتاب کښې لیکلے دی.

شعر: د چا تره د چا کاکا د چا ماما شی پیسه خه وی د پردونه خپلوان جوړ کړی
هیڅ د اصل د نسب پته به ئی نه وی پټواری ترے شجره کښې افغان جوړ کړی

علامه الوسیؒ د سورة القصص آیت ۵۶ باندے لیکلے دی: و ذهب الشیعة غیر واحد من مفسریهم الی اسلامه - بیا ئی لیکلے دی: د عدم اسلام قول صحیح دے. خو سب و شتم ورته نه دے پکار.

دے حدیث کښې صفا د ابو طالب د کلمے د رد کولو ذکر دلیل دے د هغه په کفر.

حدیث ۳۷: وعن المقداد انه سمع رسول الله ﷺ یقول لا یبقی علی ظهر الارض...الخ.

حالات د مقداد رضی الله عنه: مقداد رضی الله عنه په هغه کسانو کښې دے. چه اول اول مسلمان شوید ے. دده نمبر د اسلام د دخول شپږم ذکر کوی. باب الکبائر کښې د فصل اول د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه حدیث راروان دے هغه هم شپږم نمبر ذکر کوی. د پلار نوم ئی عمرو دے. دده ته کندی ځکه وائی چه پلارئی ددے قبیلے حلیف وو.

د شیعه ګانو کتاب دے حیات القلوب ۲: ۸۷۷ په دے کښې دی: عیاش بسند معتبر از امام باقر روایت کرده است چوں حضرت رسول از دنیا رحلت نمود مردم همه مرتد شوند بجز چهار نفر علی مقداد سلمان ابوذر رائے عزیر آیا بعد ازیں حدیث که همه روایت کرده اند هیچ عاقل را مجال است که شک کند در کفر عمر و کفر کسیکه عمر را مسلمان داند (حیاة القلوب از امالی الشیخ جاجرویؒ در تفسیر سورة الفتح)

مقداد رضی الله عنه د مدینی نه لږ بهر وفات شوید ے. او بیائی په کټ کښې دده لاش مدینی ته راوړید ے. او جنت البقیع کښې ئی دفن کړید ے. عمر ئی تول ۹۰ کاله وو.

"بیت مدر": - مدر لوټو ته وئیلے کیږی- یعنی د ښار په آبادی کښی ګټے او خختے لګیدلے وے-

"وبر": ﴿ ومن اوصوافها واوبارها ﴾ د پشم نه جوړ کورونه دا بانده کښی چه کوم خلق وی- یعنی خانه بدوش خلق- مراد ترینه ټوله دنیا ده-

"بعزعزیز": - یا دیو عزیز د عزت سره- د دلیل په اعتبار سره مومنان هر وخت غالب وی-:﴿وَلَن يَجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴾- (سورة النساء: ١٤١)-

او اسلامی حکومت کله وی- او کله نه وی- لیکن د کافرانو جرړے او ویخ ختمول به د سیدنا عیسیٰ علیه السلام د نازلیدو نه بعد کیږی-

"وذل ذلیل": - یا دیو ذلیل د ذلت سره- یا په خوشحالی یا په خفګان- یا به وجه البصیرت انقیاد کوی- یا به په اوچ زور باندے اسلام طرف ته راځی جزیه به قبلوی- یا به ورله الله عزت ورکړی- دا روستو ئی تفصیل دے د "بعز عزیز"- او "ذل ذلیل" نو دے به د عزت مندو خلقو نه شی- یا به ئی الله ذلیله کړی دوی به منقاد شی- مطلب دا جزیه به ورکړی- ملاعلی قاریؒ لیکلے دی: جزیه کښی وهل او په مخ سپیره ورکول دی- لیکن دا قول غوره نه دے-

ټول دین به د الله دپاره شی- دا به کوم وخت کښی وی (۱): یو قول دادے: چه د نبی ﷺ په وخت کښی دا کار په عربو کښی شوے وو- خو دا قول کمزورے دے- ځکه چه په دے کښی جزیه ذکر ده- او جزیه په عربیانو باندے نه راځی- اوکه ددینه جزیرة العرب اخلے- نو بیا اعتراض راځی-

(۲): دویم قول دادے: چه دا به په آخر کښی وی- چه د مهدی دور راشی- لیکن په دے کښی اشکال دادے- چه په هغه وخت کښی به هم جزیه نه وی- عیسیٰ علیه السلام چه کله راکوز شی نو "یدع الجزیة" جزیه به ختمه شی-

(۳): دریم قول صحیح دے: چه دا کنایه ده د اسلام د غلبے نه- اسلام به غالب شی- او دنیا ګوټ ګوټ ته به اسلام اورسی- مراد ترینه هم دغه وخت دے: ﴿ هُوَ الَّذِيٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴾- (سورة التوبة: ٣٣، فتح: ٢٨، صف: ٩)-

حدیث ۳۸: وعن وهب بن منبه قیل له الیس لا اله الا الله مفتاح الجنة قال بلی ...الخ۔

حالات د وهب بن منبهؒ: وهب بن منبه دا شاګرد دے د ابو هریرة رضی الله عنه۔ کنیت ئی ابو عبدالله الصنعانی دے۔ او تابعی دے۔ ۱۱۴ هجری کښی وفات دے۔ بخاری کښی ترے تعلیقاً یو روایت دے۔ دده قول دادے: چه په تورات کښی لفظی تحریف نه دے شوے۔ داد شاه ولی اللهؒ قول هم دے۔ او دا قول د امام بخاریؒ هم دے۔ د وهب دا قول په دریمه سیپاره کښی علامه آلوسیؒ نقل کړے دے: ﴿وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقاً يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ اللّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ اللّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ (آل عمران: ۷۸ ددے آیت د لاندے د رد کولو دپاره ئی نقل کړے دے۔ علامه آلوسیؒ لیکی: فاذا وقع هذا التغییر والتحریف فی اصول القوم ومتقدمیهم فما ظنك فی فروعهم و متاخریهم ویا لیت شعری هل تنبه ابن منبه لهذا ام لم یتنبه فقال: ان التوراة والانجیل کما انزلهما الله تعالی سبحان الله هذا من العجب العجائب؟۔ ګویا وهب بن منبه په تورات انجیل کښی تحریف لفظی نه منی۔

او حافظ ابن کثیرؒ هم دلته لیکلے دی: وقال وهب بن منبه: ان التوراة والانجیل کما انزلهما الله تعالی لم یغیر منهما حرف ولکنهم یضلون بالتحریف والتاویل و کتب کانوا یکتبونها من عند انفسهم۔

"مفتاح الجنة": ۔ د مفتاح دپاره به غاښے وی. که تا ورسره هغه اسنان راوړے وی. مطلب یوائحی په کلیمه کار نه کیږی. ورسره به د اسلام اهم بناګانی مونځ، روژه، حج او زکوة به ئی. نو کهولاؤ به شی کنی نه به کهولاویږی۔

"فی ترجمة باب": ۔ په ترجمة الباب کښی نه دے ذکر کړے۔ دا ئی په تعلیق کښی ذکر کړیدے۔ کتاب الجنائز کښی دی. په روایت کښی د اسنان نه شروط مراد دی۔

الولاء والبراء فی الاسلام تالیف محمد بن سعید القطان کښی ۳۰ باندے لیکلے دی: چه شرطونه ئی دادی: (۱): ددے کلمے د مبنی علم به ورته نفیًا او اثباتًا حاصل وی۔: ﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ﴾۔ (سورة محمد: ۱۹) ۔ (۲): داسے یقین به ئی حاصل وی. چه شك ختموی. او د شك منافی وی: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ

اللّٰهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴾ - (سورة الحجرات : ١٥) - (٣) : د کلمے تقاضے به د زړه نه داسے قبلوی چه نه منونکو له انتقام دے : ﴿ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِيْنَ أَجْرَمُوا ﴾ - (سورة الروم : ٤٧) - (۴) : انابت الی الله به ئی ثمره وی : ﴿ وَأَنِيْبُوا إِلَى رَبِّكُمْ ﴾ (سورة الزمر : ٥٤) - (۵) : صدق چه د کذب منافی دے : ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُوْلُ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (سورة البقرة : ٨) - (٦) : اخلاص. ﴿فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصاً لَّهُ الدِّيْنَ ﴾(سورة الزمر : ٢) - (٧) : د دين دشمن سره تعلق به قلع وی.

اتحب اعداء الحبيب وتدعی　　حبا له ما ذاك في امكان

وكذا تعادی جاهدًا احبابه　　اين المحبة يا اخا الشيطان　(قصيدة النونية)

حديث ٣٩ : وعن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ اذا احسن احدكم اسلامه . . . .الخ -

"اذا احسن احدكم اسلامه": - اسلام په څه باندے خائسته کیږی ؟ - یو خو حدیث کښی راځی : من حسن اسلام المرء تركه ما لا يعنيه - بے هوده خبرے دے پریږدی - نو دده اسلام به خائسته شی .
(۲) : سلام کول دی چه تکبر ترینه اووځی - (۳) : دریم څیز هغه طعام ورکول دی - چه بخل ترے اووځی .
(۴) : څلورم څیز هغه احسان دے - دے سره اسلام خائسته کیږی - (۵) : او د خپل نظر حفاظت دے - چه خکته خکته گوری - چه په زنانو دے نظر نه لگی - چه حلاوت د عبادت محسوس کړی - نو اسلام ئی په دے خائسته کړو - دا آخری خبره هم په یو ضعیف حدیث کښی راغلے ده : " انما الاعمال بالنيات " کښی تیر شوے دی - چه دا حدیث په څلورو جامعو احادیثو کښی یو جامع حدیث دے - چه " من حسن اسلام المرء تركه مالا يعنيه " - هغه بے دلیله خبره چه نه ئی سر وی او نه خپے - په هغے عبث خپل وخت بربادول نه دی پکار.

" الى سبعمائة ضعف " :- مراد ترے کثرت دے.

حديث ٤٠ : وعن ابی امامة ان رجلا سأل رسول الله ﷺ ماالايمان قال اذاسرتك...الخ -

دا " ما " نه شارحه ده او نه حقیقیه ده - بلکه د ایمان د علامت تپوس کوی .
د ایمان د تعریف تپوس نه کوی - د ایمانیاتو تپوس هم نه کوی - حدیث جبرائیل کښی تیر شو : ان تومن بالله وملائكته - د ایمان د علاماتو تپوس کوی - چه څه به ځان گورم - چه ما کښی ایمان ترکوم حده پورے دے .

"اذا سرتك حسنتك": ـ کله چه خوشحاله کړی تا لره نیکی ستا۔ مونځ په خپل وخت باندے اوکړی. تهجدو مونځ کوی۔ سبق وائی۔ تکرار کوی۔ او ته خوشحاله شي۔ چه دا خوخه کارکوم۔

"وساء تك سیئتك": ـ تا خپله بدی خفه کړی۔ ورانے دے کړیدے۔ مونځ نه کوے۔ بداخلاقی کوے وغیره وغیره۔ چه ددے سره ته خفه شے۔ دا نښه ددے ده۔ چه ته مومن ئی۔

قاضی شوکانیؒ هم دا روایت د سورة المائدة اول کښی راوړیدے: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾۔ په دے کښی ئی د ایمان نښه خودلے ده۔ علامه شوکانیؒ تفسیر کښی لیکی: قال البخاری فی تاریخه عن وابصة ان النبی ﷺ قال له البر ما اطمأن الیه القلب واطمأنت الیه النفس والاثم ما حاك فی القلب۔ او بیا ئی دا روایت نقل کړیدے۔(فتح القدیر)

معلومه شوه: چه مومن به په نیکی خوشحالیږی۔ او په خطائی باندے به دے خفه وی۔

ملحوظه: قاضی شوکانی لیکی: تفقه علی مذهب الامام زید وبرع فیه والّف وافتی حتی صار قدوة منه وطلب الحدیث وفاق فیه اهل زمانه حتی خلع ربقة التقلید وتحلی بمنصب الاجتهاد۔ (فتح القدیر: ٥)۔

قاضی شوکانی د شیخ محمد بن عبدالوهاب آخری وخت کښی زمانه موندلے وه۔ او د دوی د دعوت نه ئی اثراغستلے دے۔ لیکن خپل تاریخ "البدر الطالع" کښی ئی د محمد بن عبدالوهاب ترجمه نه ده ذکر کړے۔ اگرچه د خپلو ډیرو معاصرینو تراجم ئی ذکر کړے دی۔

مشکوٰة کښی به راشی چه مومن گناه کوی۔ لکه چه د غر د لاندے دے۔ دا غر راباندے راغورځیږی۔

"فما الاثم": ـ د گناه څه نښه ده۔ "اذا حاك فی نفسك شیء": ـ چه ستا په زړه کښی تغرېږی پریشانی پیدا کوی په زړه ستا کښی۔ مرقات کښی دی: سید السند د حاك نه جاء ك جوړ کړیدے دا تصحیف دے۔

چه کله انسان د خپل دلیل نه خبرنه وی۔ یا دواړه طرفوته دلائل په یو انداز اومومی۔ یا د علماؤ په کښی اختلاف وی۔ نو بیا زړه کښی تردد راځی۔

"فدعه": ـ نو دا پریږده۔ یعنی "دع ما یریبك الی ما لا یریبك۔ داصحیح روایت دے: ﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ د آیت د لاندے علامه آلوسیؒ روایت نقل کړیدے۔

شکی خبره مه اخله یقینی خبره اخله۔ په داسے وخت کښی تاله پکار دی۔ چه په ورع باندے عمل اوکړے۔ ځکه مسئله داده فقهاء او شامی هم لیکی: چه کله امردائر شی د سنت او د بدعت په مینځ کښی نو هغه کارمه کوه۔ هسے نه چه بدعت وی۔ او د بدعت نه د اجتناب حکم راغلے دے۔
طراره دے په زړه کښی پیدا شوه۔ نو هغه کارمه کوه۔ دا ولے پیدا کیږی؟۔ یو خودده وجے نه پیدا کیږی۔ چه علماء په مسئله کښی اختلاف کوی۔ نودے حیران شو۔ چه کوم طرف ته لاړشم۔ دواړه طرف ته دلائل دی۔ یوه وجه د علماء اختلاف دے۔ نو په دے کښی په ورع باندے عمل اوکړه۔ او تش فتوی مه اخله تقوی واخله۔
کله یو مجتهد د نص په فهم کښی د بل مجتهد نه اختلاف کوی۔ ځکه چه اختلاف المدارك والافهام سره اختلاف راځی۔ لکه ابوداود ۱ : ۹۳ کښی روایت دے۔ باب المتیمم یجد الماء بعد ما یصلی فی الوقت۔ د لاندے واقعه ذکر کړے ده: دوه صحابه په سفر کښی وو۔ د مانځه وخت راغے۔ دواړو سره اوبه نه وے۔ نو تیمم ئی اوکړو۔ او مونځ ئی اوکړو۔ او بیا ئی په وخت کښی دننه دواړو اوبه اوموندلے۔ یو په کښی اودس اوکړو۔ مونځ ئی بیا اوکړو۔ او دویم اونه کړو۔ په اول مونځ ئی اکتفاء اوکړه۔ اوکله چه پیغمبر پاك ﷺ ته ئی واقعه بیان کړه۔ نو هغوی هغه کس ته اوفرمائیل چه اعاده ئی نه وه کړے۔ اصبت السنة واجزء تك صلاتك۔ اوچا چه اودس کړے وو۔ او مونځ ئی بیا اوکړو۔ هغه ته ئی اوفرمائیل: لك الاجر مرتین۔ چه تاله دوه ځله اجردے۔ او نفس تصویب ئی د دواړو اوکړو۔
دغسے واقعه نسائی ۱ : ۲۱۳ کښی هم ده۔ دغسے کله د حدیث په ثبوت کښی اختلاف راشی۔ نو مسئله کښی هم اختلاف راشی۔ مثلاً سیدنا عمر رضی الله عنه د فاطمه بنت قیس روایت وانغستلو۔ چه: لا نفقة لها ولا سکنی۔ ووئے فرمائیل: لا نترك كتاب الله وسنة نبيناﷺ لقول امرء ة لا ندرى لعلها حفظت اونسيت۔ (مسلم كتاب الطلاق)۔
مولانا محمد یعقوبؒ داد مولانا تهانویؒ استاذ دے۔ د دیوبند د مدرسے دپاره ئی چنده راوړه۔ نو هغه نرے روکه شوه۔ چرته ترے پیسے اوغورځیدے۔ ډیر خفه وو۔ او پیسے ئی کتلے۔ چه دا مدرسے له ورکړم۔ نو مولانا گنگوهیؒ ورته اووئیل چه دا خوامانت وو۔ او تا په کښی تعدی نه ده کړے۔ حفاظت دے ورله کولو چه روك شو۔ نو روك شو۔ نو دے ورته وائی چه دا ته وے نو ما به ته لیدلے وے۔ چه ستا به څه حال وو۔ چه تا به پیسے ورکولے اوکه نه؟۔ څه خو به دا پیسے ورکوم۔ داسے ښکلے ښکلے علماء وو۔ هغوی د ورع او د تقوی نه کارا غستے دے۔

څه وخت نی که په مدرسه کښی ضائع کړے دے۔ یوه گهنټه ئی سبق نه دے خودلے۔ او په هغه وخت کښی سبق پکار وو۔ څه ذاتی کار ئی کړیدے په کښی۔ د هغے پیسے ئی هم کټ کړی دی۔ چه څه خپله حلاله تنخواه نه حراموم۔ د سیدنا ابو امامه رضی الله عنه نه ۲۵۰ روایات نقل دی۔

حدیث ۴۱ : وعن عمروبن عبسة قال اتیت رسول الله ﷺ فقلت یارسول الله ...الخ۔

حالات د عمرو بن عبسه رضی الله عنه : عمرو بن عبسه رضی الله عنه په څلورم نمبرباندے مسلمان دے۔ ددوی نه ۴۸ روایات نقل دی۔ داد ابوذر رضی الله عنه ناسکه رور دے۔ په مورکښی شریك چه اخیافی ورته وائی۔ دوی په شامیانو کښی حسابیږی۔ د بنوسلیم قبیلے سره ئی تعلق دے۔ په الحق الصریح کښی دی : چه ده به کله کډی بیزی څرولے۔ نو دده د سر دپاسه به وریځ راتله۔ دے به ئی نمر ته نه پریخودلو۔ دا خوصحیح ده۔ چه کله په صحیح سند سره ثابت شی۔ انکار ترے نه دے پکار۔ دا اصل کښی د نبی ﷺ دپاره به کیدل۔ مشکوۃ ثانی فضائل سید المرسلین کښی به راشی۔ چه کله نبی ﷺ په سفر باندے تلے وو۔ بُحیرا راهب سره ئی ملاقات اوشو۔ نو وائی دے ما اوپیژندلو۔ چه دے به آئنده پیغمبر جوړیږی۔ په هغه وخت کښی وړوکے وو۔ څکه چه دے کوم طرف ته ځی۔ نو وریځ هم هغه طرف ته ځی۔ او په ده باندے سورے وی۔ دا ارهاص دے۔

ددے نه یو مسئله معلومه شوه۔ یوشیء د نبی ﷺ دپاره معجزه یا ارهاص وی۔ او د بل امتی دپاره کرامت کیدے شی ـ کرامت اصل کښی د امتی چه وی۔ داده نبی ﷺ معجزه وی۔ نو هم د نبی ﷺ معجزه شوه۔ اوهم کرامت شو د عمرو بن عبسه رضی الله عنه۔

"اتیت": ـ څه راغلم ـ نودے په اول وخت کښی څکه راغلے دے۔ چه څلورم نمبر ئی دے۔ دده نه مخکښی درے کسان مسلمانان شوے دی ـ ابوبکرصدیق رضی الله عنه مسلمان شوے وو ـ او خدیجه رضی الله عنها مسلمانه شوے وه۔ او زید بن حارثه رضی الله عنه مسلمان شوے وو۔

ارشاد الساری کښی علامه قسطلانیؒ لیکلے دی : چه خدیجه رضی الله عنها پسے په ښځو کښی دویم نمبر اسلام لبابه قبول کړیدے۔ ددے مصداق د مسلم د روایت مطابق سیدنا بلال رضی الله عنه دے۔ "حر" ابوبکر رضی الله عنه دے۔ " عبد " بلال رضی الله عنه دے۔ خدیجه رضی الله عنها ئی څکه ذکرنه کړه۔ چه هغه مستوراتو کښی راځی۔ علی رضی الله عنه هم وو۔ خو هغه ئی ذکر نه کړو۔

ځکه هغه په نابالغو کښې راتلو ـ هغه په ابتداء کښې اسلام قبول کړیدے ـ

علی رضی الله عنه وائی : سبقتکم الی الاسلام طرا غلاما ما بلغت اوان حلمی

د ټولونه مخکښې ما اسلام قبول کړیدے ـ هغه وخت کښې لا بلوغ ته نه اوم رسیدلے ـ

تپوس کوی عمرو بن عبسه رضی الله عنه "ما الاسلام" دلته یو اشکال دے : یو طرف ته دے حدیث کښې راځی : قلت ای الصلوٰة افضل ـ بیا راځی : ای الجهاد افضل ـ دا دے نه خو معلومیږی ـ چه په هغه وخت کښې د جهاد حکم راغلے وو ـ او معلومیږی چه د مونځ حکم هم راغلے وو ـ د مونځ حکم خو په مدینه کښې راغلے وو ـ د جهاد حکم : ﴿ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴾ ـ (سورة الحج : ۳۹) ـ په مدینه کښې راغلے وو ـ

اودے چه راغلے دے ـ نو دے وخت کښې مونځونه نه وو ـ جهادونه نه وو ـ نو حدیث څه مطلب دے ؟ دا دے اول اشکال ـ

دویم اشکال دا دے : چه دے ځائی کښې راځی "حر وعبد" ـ او چه کله مونځونه او جهادونه وو ـ نو دوه تنه نه وو ـ ډیر خلق مسلمانان شوی وو ـ

(۱) : ددے جواب دا دے : چه د "حر" او د "عبد" نه مراد جنس عبد دے ـ او جنس حر دے ـ مطلب دا شو ـ چه ډیر کسان وو ـ یو ائی حر او عبد نه وو ـ او دا ورته بیان اوشو ـ چه دین اسلام کښې حر او عبد علی السویه دی ـ

(۲) : غوره جواب دا دے : او دا جواب معلومیږی د صنیع د صاحب د اکمال نه مشکوٰة آخر کښې چه دده په حالاتو یو څو کرښے لیکلے دی ـ د هغے نه معلومیږی ـ چه دے دوه ځله راغلے دے ـ یو ځل راغلو په ابتداء کښې او صرف دا تپوس ئی اوکړو ـ چه تا سره په دے کار کښې ملګری څوك دی ؟ ـ وئیل دا دوه کسان دی حر او عبد ـ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته تشریف یوسه ـ دلته مه پاتے کیږه ـ زما خبره چه خوره شی ـ او څه درشم مدینی ته نو په هغه وخت کښې به راشی ـ روستو دے بیا خیبر ته نزدے راغلے دے ـ نو بیا ئی نور تپوسونه کړے دی ـ نو دا دواړه تپوسونه دا هغه یو ځل کړے وو ـ په دویم ځل کښې تپوسونه کړے دی ـ مونځ او جهاد شته دے ـ دا دوه ئی یو ځائی کړے دی ـ نو ددے وجے نه اشکال جوړ شوید ے ـ ده دا دوه سفرے د نبی ﷺ په خدمت کښې کړے دی ـ

"طیب الکلام" :ـ خبری خوږے خوږے کوه ـ دے ته وئیلے کیږی احسان روحانی ـ چا سره احسان

کول په خوږو خبرو د هغه زړه ځان ته کول۔ مولانا احسان صاحب مدظله فرمائی: زمونږ په تبلیغ کښې طیب الکلام پکارېږی ابتدائی وخت دے۔ نو: ﴿فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ﴾ (سورة طه: ٤٤)۔ باندے به عمل کوی هسے هم د ﴿وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا﴾ (سورة البقرة: ٨٣) حکم دے۔ الله خود ددوی دا ابتدائی وخت وسطانی او نهائی جوړ کړی۔ ﴿وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ﴾۔

"اطعام الطعام": ـ روټی ورکول دیته وئیلے کیږی احسان جسمانی۔ "اطعام الطعام "کښې تخلیه ده۔ د بخل نه او "طیب الکلام" کښې تحلیه شوه۔ بخل به نه وی۔ نو هله به اطعام الطعام ورکوے۔ چه د چا د کوره روټی نه راووځی۔ نو هغه به څه سخاوت اوکړی۔

"ماالایمان": ـ د ایمان شعبی څه دی؟ ۔ ما ته ئی اووئیل "الصبر" صبر دے۔

صبر درے واړه قسمونه: (١): صبرعلی الطاعة۔ (٢): صبرعن المعصیة۔ (٣): صبر فی المصیبة۔ الصبر علی المفقود والسماحة بالموجود۔

الصبر مثل اسمه مر مزاقته

لکن عواقبه احلی من العسل

چه څه درنه روك شی نو په هغے صبرکوه۔ او سماحت دیته وائی: چه فرائض ادا شی۔ (حسن بصریؒ)۔ څه درسره وی۔ نو هغه بل له ورکړه۔ علامه طیبیؒ لیکی: صبر "ترك" دے۔ او سماحت "فعل" دے۔ صبر احجام دے۔ او سماحت اقدام دے۔ د صبرتعلق د معدوم سره وی۔ او صبر زغم تیرولو ته وائی۔ او د سخاوت تعلق د موجوداتو سره وی۔

احجام معنی مضبوط پاتے کیدل۔ د شهوت نه ځان بندول "حبس النفس علی ما تکره" ته صبر وائی۔ سماحت کښې اقدام دے۔ ځان وړاندی کول پیسی ورکول۔ هدئے او تخفے ورکول۔

صبرکول لازمی فائده ده۔ او سماحت متعدی فائده ده۔

"خلق حسن": ـ خائسته اخلاق هغه دی۔ چه د ایمان په بنیاد راوتلے وی۔ د غرض په بنیاد چه کوم څیز راوځی ـ هغه خائسته اخلاق نه وی۔ د دوکاندارانو ژبے هم پستے وی۔ او دوی اطعام الطعام هم کله کله کوی ـ اخلاق ئی هم ظاهرًا خائسته وی۔ خو غرض ئی وی خپل۔ اخلاقیات هغه وی۔ چه د ایمان په بنیاد راوځی۔ او چه د ایمان په بنیاد نه وی۔ نو دا خود غرضه انسان دے۔ لکه بعض سیاسیان د

الیکشن نه مخکښې میخې حلالوی- جنازو او د مړو دعاګانو له ځي-
ملاعلي قاريؒ د شیخ جلال الدین سیوطیؒ قول نقل کړیدے : کان خلقه القرآن- او لیکی : انه حدیث حسن رواه الحسن عن الحسن عن ابی الحسن عن جد الحسن " ان احسن الحسن الخلق الحسن ".
خلق حسن دے ته وائی : چه نفس ته د رزائلو نه پاك کړے. چه د هغې لس اصول دی : (۱): اطعام. (۲):کلام (۳) : ترك غضب (۴) : ترك حسد (۵) : ترك بخل (٦) : ترك حب مال (۷) : ترك جاه (۸) : ترك کبر (۹) : ترك عجب (۱۰) : ترك ریاء.
اوتحلیه ئی هم په لسو امورو ده : (۱) : توبه (۲) : خوف (۳) : زهد (۴) : صبر (۵) : شکر (٦) : اخلاص (۷) : توکل (۸) : محبت (۹) : رضابالقضاء (۱۰) : او مرګ یادول. ګویا خائسته اخلاق ظاهرًا او باطنًا د الله د راضی کولو نوم دے.
امام ترمذیؒ د عبدالله بن مبارکؒ قول نقل کوی : حسن الخلق طلاقة الوجه وبذل المعروف و کف الاذی.
خلاصه ئی دوه خبرے شوے : (۱) : احسانات کول قولًا او فعلًا. (۲) : او د تکلیف ورکونکے خبرے اوکار نه ځان بچ ساتل- چه د هغې پنځه ارکان دی. (۱) : علم. (۲) : جود. (۳) : صبر. (۴) : خائسته جواب- (۵) : اوصحیح اسلام باندے برابریدل. هرچه علم دے. دومره کافی دے. چه اوچتو او ردی اخلاقو کښې فرق کولے شي.

"طول القنوت": - د قنوت ګنړے معنی دی : (۱) : قیام (۲) : قرأت (۳) :خشوع (۴) : او الله ته توجه (۵) : سکوت. اکثر محدثین ئی دلته په معنی د قیام اخلی.
اکثر علماء یوه مسئله بیانوی. شیخ الحدیث مولانا سلیم اللهؒ او مولانا احسان صاحب مدظله لیکی : چه یو د احنافو مسلك دے. او بل د شوافعو. د احنافو مسلك دادے : چه طول القیام غوره دے. او د شوافعو مسلك دادے : چه کثرت السجود غوره دے. یوتن نفل کوی. چه ډیر اودریږی. نو دا به غوره وی- او که نه لږ اودریږی- او ډیر رکعتونه کوی. یو څلور رکعته کوی په یو ګهنټه کښې. او بل په یو ګهنټه کښې دولس رکعته اوکړی- نو کوم یو غوره دے. دلته ئی اختلاف جوړ کړے دے. او دغه اختلاف علامه شامیؒ وغیره هم لیکلے دے.
د طول القیام دپاره هم دلیل دے : " تورمت قدماه "- " انفطرت قدماه "- " انشقت قدماه ".
او د کثرت السجود هم دلیل دے : " اعنّی علی بکثرة السجود "- او مولانا احسان صاحب مدظله وائی :

مونږ خو ځان سره تول عالم اخلو۔ لکه احناف او شوافع تول۔ هغه وائی تول مونځ اوږد پکار دے۔ سجده هم او قیام هم اوږد پکار دے۔ لیکن په دے مسئله باندے بنکلے بحث کړیدے۔ شیخ الحدیث صاحبؒ په التقریر الرفیع کښی۔ هغوی فرمائی: دا اختلاف د احنافو او د شوافعو شته دے نه د سره۔ شیخ صاحبؒ لیکی: حمل الشافعية هذا الحديث على الخشوع كئى لا يخالف المذهب ولفظ الطول يؤيد القيام اى مذهب الحنفية۔ ان الحنفية والشافعية لم نختلفوا فى هذه المسئلة بل انهم متفقون على ان طول القيام افضل۔ قال ابن الملك استدل ابو حنيفة والشافعى على ان طول القيام افضل من كثرة السجود ليلًا او كان نهارًا۔ وذهب بعضهم الى ان الافضل فى النهار كثرة السجود۔ وقال النووى تطويل القيام افضل وهومذهب الشافعى وجماعة ومنهم ابو حنيفة وصاحباه وتوقف فى هذه المسئلة احمد بن حنبلؒ۔

"ان تهجر ما كره ربك": ۔ هغه څیز پریږده۔ چه رب ئی بد ګنړی۔ د الله د منهیاتو نه ځان بچ کړه۔ " المهاجر من هجر ما نهى الله عنه۔

"فاى الجهاد افضل قال من عقر جواده": ۔ د جهاد قسمونه مخکښی ذکر شوی دی۔ هغه کس چه د هغه اس زخمی شو۔ او بیا مړ شو۔ او خپله وینه ئی هم توی شوه۔ مطلب دا چه خه قربانی ئی ورکړه۔ هم ئی څاروی قربان کړو۔ او هم ئی ځان قربان کړو۔ دوه قسمه جهاد ئی اوکړو۔ راجل او فارس دواړه جوړ شو۔ نو دا جهاد غوره دے۔ یا د غوره والی وجه داده: چه جهاد او انفاق فی سبیل الله ئی دواړه جمع کړلو۔

"اهريق دمه": ۔ نفحات التنقیح کښی دی: دے لفظ کښی لغات نقل دی۔ (۱): هراق يهريق بفتح الهاء اصل کښی " اراق يريق اراقةً" دے۔ (۲): أهرق يهرق۔ (۳): اهراق يهريق اهراقة۔ (مختار الصحاح)۔

"اى الساعات افضل قال جوف الليل الاخر": ۔ په دے اوقاتو کښی کوم یو وخت غوره دے۔ د دعا په اعتبار سره۔ چه څه د الله سره تعلق ساتم۔ نو نبی ﷺ ورته اووئیل " جوف الليل الاخر "۔ حدیث کښی راځی الله وائی: څه رانزدی کیږم سماء دنیا ته راځم اعلان کوم " هل من مستغفر ' هل من مسترزق ' دغه وخت کښی الله دعاګانی قبلوی۔

علامه اقبال وائی:

ہم تو مائل بہ کرم ہیں کوئی سائل ہی نہیں

راہ دکھلائیں کسے رہرو منزل ہی نہیں

زما خو د کرم اراده ده۔ الله وائی: خوخوك رانه نه غواړی۔ نو ته ترے اوغواړه۔ چه څنګه غوښتل وی۔ چه بیا درله درکوی او که نه۔ خو په دے شرط چه د شرائطو' د ادګانو د دعا دے خیال ساتلے وی۔

حدیث ۴۲ : وعن معاذ بن جبل قال سمعت رسول اللہ ﷺ یقول من لقی اللہ . . . الخ ۔

د معاذ رضی اللہ عنہ حدیث چہ مخکښی تیرشوے وو۔ نو پہ ھغے باندے اشکال وو۔ کلہ بہ ئی وئیل چہ مونځ پہ کښی نشتہ ۔ کلہ بہ ئی وئیل چہ روژہ پہ کښی نشتہ۔ ھغہ جوابونہ کیدل۔ نو مونږہ جواب کړے وو۔ چہ ښکلے جواب د قاضی شمس الدین ؒ دے۔ ھغہ دا لیکلے دی : چہ د معاذ رضی اللہ عنہ حدیث کښی اجمال دے۔ او روستو ئی تفصیل دے۔ نو دا ھم د معاذ رضی اللہ عنہ روایت دے۔ تفصیل پہ کښی دے۔ پہ دے کښی مونځونہ شتہ دے روژی شتہ دے۔ د زکوۃ او حج ذکرئی اونہ کړو۔ چہ داد مالدارو خلقو وظیفہ دہ۔ او یا ھغہ وخت کښی ئی حکم نہ وو راغلے۔

حدیث ۴۳ : وعنہ انہ سأل النبی ﷺ عن افضل الایمان قال ان تحب للہ . . . الخ ۔

"افضل الایمان" : ۔ تپوس تړے اوشو ۔ نو ورتہ ئی اووئیل ۔ چہ معاملات بہ دے پہ دے باندے سمیږی۔ چہ ستا د ځان دپارہ کوم څیز خوښ وی۔ چہ ھغہ د بل دپارہ ھم خوښ کړی۔

سوال : راځی یو تن بہ غلاکروی۔ د ځان دپارہ بہ غلا خوښہ وی۔ نو د بل دپارہ بہ ھم غلا خوښہ وی۔

جواب : دادے د نسائی پہ یو حدیث کښی ورسرہ قید د " من الخیر " لګیدلے دے۔ د خیر کوم کارونہ چہ دی۔ دا بہ د بل دپارہ خوښہ وے۔

"وتعمل لسانك" : ۔ داد ظاھر سرہ تعلق ساتی چہ ژبہ دہ۔

"فی ذکر اللہ" : ۔ د اللہ پہ ذکر کښی خپلہ ژبہ استعمالول۔ چہ رطب اللسان پہ ذکر وی۔ معلومیږی دا چہ اصل د ژبے او د زړہ ذکر دے۔ روستو مشکوۃ ثانی کښی بہ راشی " لسان ذاکر وقلب شاکر " اگرچہ دغہ روایت ضعیف غونډے دے ۔ یو ھغہ ذکر دے۔ چہ پہ ژبہ باندے۔ او بل ھغہ ذکر دے چہ پہ زړہ کښی د اللہ تہ دھیان او توجہ برابر کړے وی۔ د ذکر وخت کښی چہ حضورقلبی وی۔ دا نور علی نور دے۔

برزبان تسبیح دردل گاؤخر ایں چنیں تسبیح کے دارد اثر

ځنی علماء کرام وائی : ایں چنیں تسبیح ہم دارد اثر ۔

خیر دے کہ پہ زړہ کښی دھیان نہ برابریږی۔ خو چہ پہ ژبہ باندے ذکر کوی۔ نو دا ھم غنیمت دے۔

" وما ذا یا رسول اللہ " : ۔ ای ما اصنع بعد ذالك ۔ د " ماذا " نصب د " اصنع " د وجے دے۔

"وان تحب للناس ما تحب لنفسك" : ۔ (مِنْ خبر) ۔ ځان تہ ګورہ چہ د ځان دپارہ کوم څیز زړہ خوښوی۔ د خپل بچی دپارہ ئی نہ خوښوی۔ نو د بل دپارہ ئی ھم مہ خوښہ۔ او کہ ځان لہ او بچی لہ ئی خوښہ وے۔ نو بل ئی ھم خوښ کړہ۔

قرآن دے آیت کښی سوچ اوکړہ : ﴿وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا﴾ (سورۃ النساء : ۹) ۔ پہ خپل بچی د بل بچی قیاس کړہ۔

باب الکبائر و علامات النفاق

کبائر او علامات النفاق دواړه د ایمان ضد دے۔ د کامل ایمان تقاضه داده: چه گناه کبیره اونه کړے۔ منافقت اونه کړی۔ او ایمان به پیژنی په اضداد باندے۔ په دے باب کښی د ایمان اضداد چه کبائر دی۔ او نفاق دے د هغے ذکر کوی۔

په گناه کبیره او صغیره کښی تقسیم شته او که نه؟۔ په دے مسئله کښی اختلاف دے۔

(۱): یو مسلك د قاضی عیاضؒ او د ابو اسحاق اسفرائنیؒ دے۔ دوی وائی: چه فرق په کښی نشته۔ بس هره گناه گناه ده۔ که صغیره اوکړی او که کبیره۔ خو الله خفه کول دی۔ وائی چه عبد الله بن عباس رضی الله عنه ته منسوب ده۔ چه په دے کښی به دا تقسیم نه کوی، چه دا په کښی صغیره ده۔ او دا په کښی کبیره ده۔ خپل حده پورے هره یوه خطرناکه ده۔ که صغیره ده او که کبیره۔

(۲): دویم مسلك د جمهورو دے۔ وائی: په دے کښی تقسیم راغلے دے۔ صغیره او کبیره په کښی شته دے۔ د قرآن کریم آیتونه پرے هم دلالت کوی: ﴿وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِراً وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَداً﴾ (سورة الکهف: ۴۹) ﴿الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ﴾ (سورة النجم: ۳۲)۔ د دے نصوصو نه دا معلومیږی چه تقسیم په کښی شته۔ امام غزالیؒ دا لیکلے دی: چه کوم خلق وائی: چه په کبیره او صغیره کښی تقسیم نشته۔ دا خبره د فقاهت نه لرے ده۔ تقسیم په صغیره او کبیره کښی شته دے۔ دائی بسیط کښی لیکلے دی۔

دا تقسیم د احکاماتو په اعتبار سره دے۔ هسے خو الله رب العزت د عظمت تقاضه داده: چه مه صغیره کوه او مه کبیره۔

خل الذنوب صغیرها وکبیرها فهی التقی
لا تحقرن صغیرة ان الجبال من الحصی

جمهور وائی: دا امر اضافی او نسبی دے۔ صغیره او کبیره نسبتاً شته دے۔

نو چه کله تقسیم شته دے نو د دے تعریف څه دے؟۔ (۱) علامه آلوسیؒ د هغے په تعریف کښی دا

وائی : چه کبیره به هغه وی۔چه په هغے باندے حد راغلے وی۔لکه مثلًا غلا۔قذف یا زنا ده۔یا پرے د لعنت ټکے راغلے وی۔یا په کښی د غضب الفاظ راغلے وی :﴿ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِناً مُّتَعَمِّداً فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَاباً عَظِيماً ﴾ (سورة النساء : ۹۳) ۔ چه حد، غضب، قذف، لعنت نه وی۔نو دا صغیره گناه ده۔

(۲): شیخ الهندمولانا محمود حسنؒ او مولانا قاسم نانوتویؒ هم دا غوره کړے ده فرمائی : یو هغه گناه ده۔ چه هغه مقصود بالذات وی۔ او یو هغه گناه ده۔چه هغه د مقصد دپاره وسیله وی۔ چه کوم گناه ستا مقصود وی۔نو دا کبیره شوه۔ مثلًا د یو تن دا مقصد دے چه څه جینئی ته اوگورم۔نو دا گناه کبیره شوه۔او که دده مقصد او اراده د زنا ده۔او بیا د هغے نه مخکښی تش کتل اوشو یا قبله اوشوه۔نودغه کبیره په صغیره باندے بدل شوه۔ابن قیمؒ په دے په مدارج السالکین کښی بحث کړیدے۔

اوعلامه آلوسیؒ فرمائی : فکبائر الرجل الصغیر صغائره وصغائر الرجل الکبیر کبائر ۔ غټ سړی که صغیره هم اوکړی۔نودا کبیره ده۔او که لاابالی کس کبیره اوکړی۔نو دا صغیره ده۔

چنچڼړی خو ډیرے الوځی رالوځی څوك ورته څه نه وائی۔او که مرز والوځی۔نووائی هغه دے لاړو۔

علامه ابن قیمؒ په مدارج السالکین ۱۷۵:۱ کښی لیکلے دی :د کفر او د بدعت نه پس د کبائر مقام دے۔ شیطانتوب تهول کوی۔خوکه عالم شیطانتوب اوکړی۔نودے مشار الیه فی البنان شی۔نو د خلقو دده طرف ته توجه برابر شی۔

مشهورقول دے :لاصغیرة مع الاصرار ولا کبیرة مع الاستغفار۔ چه په صغیره گناه باندے اصرارکوی کبیره ترے جوړیږی۔او که کبیره دے اوکړه او توبه دے اوویسته۔نوالله ورته دغه کبیره معاف کوی۔

بعض وائی خبره ډیره ښکلے نه ده۔چه گناه صغیره په مداومت سره اگرکه گناه ئی گڼړی۔اومجتنب د کبائرو وی کبیره گرځی۔بیا خودا مطلب شو چه صغیره هله صغیره ده۔ چه یوکرت او دوه کرته اوشو۔ اوکه ډیر والے په کښی کولے شی۔نو بیا کبیره گرځی او بیا کبیره هم داسے گرځی۔چه یو کرت او دوه کرته اوشی خو کبیره ده۔او که ډیروالے اوشی نو بیا ؟۔پس په کبیره او صغیره کښی دا فرق نشته یوکرت هم کبیره ده۔او که صغیره سل ځله اوشی۔نو هم صغیره ده۔البته که صغیره ته دسرنه گناه نه وائی۔یا استهزاء وریسے کوی۔نو کبیره گرځی۔او بعض وخت کښی عین کفرگرځی۔

شیخ عز الدین بن عبد السلامؒ فرمائی : چه کوم گناهونه په قرآن اوحدیث کښی ذکرشوے دی۔ چه

وعیدونه په کښې راغلے وی ـ او نور ګناهونه داسے وی ـ چه هغه ددے غونډے وی ـ وعیدونه په کښې نه وی راغلے ـ دا به هم په کبائرو کښې حساب وی ـ
کبائر چه څومره دی ـ نو ددے پوره تعداد نشته ـ بعضو حدیثونو کښې کم ـ او بعضو کښې ئې زیات ذکر کړے دی ـ امام ذهبیؒ په دے باندے کتاب لیکلے دی الکبائر ئې نوم دے ـ بعض وائی داده هغه نه دے ـ
یو کتاب دے "کتب حذر منها العلماء" هغے کښې لیکلے دی : الکبائر المکذوب علی الامام الذهبی وهو مطبوع بخلاف الکتاب الحقیقی للامام الذهبی فانه یحوی بین جنباته الا الا حادیث المرفوعة الصحیحه او الحسنة او الضعیفة ضعفًا یسیرا ـ ښکلے کتاب دے په هریوه ګناه باندے دوه درے صفحے لیکلے دی ـ بعضے کبیره ګناه داسے وی چه د سترګو سره تعلق ساتی: ﴿یَعۡلَمُ خَآئِنَةَ الۡأَعۡیُنِ وَمَا تُخۡفِی الصُّدُورُ﴾ (سورة مومن:۱۹)
بعضے د غوږونو سره تعلق ساتی ـ یو هغه ګناه ده ـ چه د سرنه ترخپو پورے سړی ګناهګار ګرځی ـ لکه عقوق الوالدین هغه ګناه دے ـ چه انسان د سرنه ترخپو پورے ګناهګار ګرځی ـ
﴿إِن تَجۡتَنِبُوا۟ کَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُکَفِّرۡ عَنکُمۡ سَیِّـَٔاتِکُمۡ وَنُدۡخِلۡکُم مُّدۡخَلًا کَرِیمًا﴾ (سورة النساء: ۳۱)
د آیت د لاندے تفسیر ابن کثیر کښې مفسر لیکلے دی : شتم ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه کبیره ده ـ بیا ابن کثیرؒ خپله خبره نقل کوی : قلت وقد ذهب طائفة من العلماء الی تکفیر من سب الصحابة وهو روایة عن مالك بن انس رحمه الله وقال محمدبن سیرین ما اظن احدًا یبغض ابابکر و عمر وهو یحب رسول الله ﷺ ـ ونسیان القرآن بعد تعلمه ـ الوقیعة فی اهل العلم وحملة القرآن ـ
په دویم نمبر باندے نفاق دے ـ نافقه ویئلے کیږی څنګل کښې هغه سوری ته چه څنګلی منګك د ځان دپاره جوړ کړے وی ـ په هغے کښې دوه سوری وی ـ په یوه ورننو ځی ـ او په بله باندے اوځی ـ خادمئی ټګ ماره وی ـ تفسیر بیضاوی کښې دی چه عرب وائی : ضب خادع ـ دے ځانله دوه سوری برابر کړے وی ـ په یو کښې ئې د ځان سره لږم ملګرے کړے وی ـ او په هغے ئې خاورے اچولے وی ـ چه ښکاری وریسے لاس وراوږد کړی ـ او دا خادمئی رانیسی ـ نو هغه لږم ورله ټك ورکړی ـ نو چه بیا ئې رانیسی ـ نو په بله سوره ترے لاړه شی ـ

دوہرا مکان بنایا ہے رہنے کو یار نے　　　میں اِدھر سے گیا وہ اُدھر سے نکل گیا

نو نفق په عربی کښې سورنګ ته وائی :﴿فَإِنِ اسۡتَطَعۡتَ أَن تَبۡتَغِیَ نَفَقًا فِی الۡأَرۡضِ أَوۡ سُلَّمًا فِی السَّمَآءِ﴾ ـ (سورة الانعام : ۳۵) ـ په زمکه کښې یو سورنګ کول ـ

د نفاق قسمونه

نفاق په درے قسمه دے : (۱) : نفاق اعتقادي۔ (۲) : نفاق عملي۔ (۳) : نفاق حالي۔
(۱): نفاق اعتقادي د عقیدي منافق۔ (۲) : نفاق عملي۔ چه خبره کوي نو دروغ په کښې وائي۔ دده په قسمت کښې چرته رشتیاء نه وي۔ چه وعده اوکړي۔ نود هغے خلاف کوي۔ او چه امانت ورسره کیږدے۔ نوپه هغے کښې به خیانت کوي۔ د وعدے ځائي زړه دے۔ د دروغو وئیلو آله ژبه ده۔ او په امانت کښې خیانت کول د آندامونو په وساطت کیږي۔ (۳) : منافق حالي۔ د نفاق اعتقادي مرتکب کافر دے۔ دے مومن نه دے۔ منافق عملي دا فاسق دے۔ اومنافق حالي کافر او فاسق نه دے۔ بلکه مسلمان دے۔ حالي دے ته وائي : چه هسے په ځان باندے خیال کوي۔ چه ځه به منافق یم۔ دا خیال به صحابه کرامو، تابعینو ته هم راتلل۔ د ډیرے تقوی د وجے نه۔
امام بخاريؒ په بخاري کښې د ابن ابي مُلیکه قول نقل کړیدے :ادرکت ثلاثین من اصحاب النبي ﷺ کلهم یخاف النفاق علی نفسه۔ دیرش صحابه مے لیدلے دي۔هریو په دے یریدو۔هسے نه چه ځه منافق یم۔ یوروایت کښې راځي : نافق حنظله ۔ چه حنظله وائي چه ځه منافق شوم۔ وجه دا بیانوي چه ځه د پیغمبر سره یم۔ نوزما یو حال وي۔ اوچه لرے شم کور یم۔ بیا بل حال وي۔ دا اصل نفاق نه دے۔ دا ایمان دے نونبي ﷺ ورته اوفرمائیل چه په دے کښې د نفاق ځه دي۔ چه زما سره ځنګه وي بهرهم هغه شان وي۔ ملائکو به در سره مصافحه کوله۔ دا خو به وي دلته به یو شان وي کور به بل شان۔ د دوي نه علاوه بعض صحابه هم فکرمند وو۔ هغوي وائي : " عافسنا الازواج والاولاد "۔چه اولاد او د ازواجو ته اورسي نو هغه شان نه وي۔ چه په کومه اعلی معیارد نبي ﷺ مجلس کښې وو۔ دا نفاق حالي دي۔ دانه د کمال ایمان سره او نه د نفس ایمان سره منافي دے۔ نو دا درے قسمونه دي۔ اعتقادي ' عملي ' حالي۔
په کبیره کښې او په منافقت کښې عموم وخصوص من وجه دے۔ هم به کبیره وي اوهم به نفاق وي۔
(۱) : لکه دروغ شو : ﴿ وَلَهُم عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ﴾ (سورة البقرة : ١٠)۔
(۲) : ګناه کبیره به وي او منافقت به نه وي۔ لکه زنا ګناه کبیره ده خو منافقت نه دے۔
(۳) : منافقت به وي او کبیره به نه وي۔ لکه د وعدے خلاف د بعضے علماء په نزد۔ عهد د جانبینو نه وي۔ چه تا ستامپ لیکلے دي دستخط دے کړیدے۔ نود هغے خلاف به نه کوے : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ﴾(سورة المائدة : ١) ۔ او یودا چه یو تن وائي چه ځه به صبا درځم۔ اوځه ضرورت وو۔ د هغے د وجے نه لا نړو۔ نو خیر دے۔ چه اول کښې ئي اراده د تلو وي۔ دا په منافقت کښې نه راځي۔
علامه ابن قیمؒ د منافقانو نښے او بے کاره صفات ذکر کوي : احسن الناس اجسامًا واخلبهم لسانًا والطفهم بیانًا واخبثهم قلوبًا واضعفهم جنانًا فهو کالخشب المسندة التی لا ثمر لها۔ (مدارج السالکین ١ : ٣٥٤)۔

الفصل الاول

حدیث ۱ : عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال قال رجل یا رسول الله .... الخ۔

په دے باب کښې ۱۲ احادیث دی ۔ د کبیرې گناه سره متعلق او یا د نفاق د علاماتو سره متعلق۔ د څلورو د زړه، د څلورو د ژبے، او د دريود خیټے او د دوو د فرج سره تعلق دے۔ دوه د لاس او د یو تعلق د ټول بدن سره دے۔

حالات د ابن مسعود رضی الله عنه : عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فقیه صحابی دے۔ کوفه کښې پاتے کیدو۔ اونبی ﷺ دده په باره کښې فرمائیلے وو۔ چه دے درله څه خوښوی۔ نو هغه درله څه هم خوښوم۔ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د قدپه اعتبار سره چیت وو۔ صاحب د اکمال دا لیکلے دی۔ چه یوعام سړی به کیناستو۔ او دے به اودریدو۔ نو دواړه به برابر وو۔ خولیکن " کنیف " کندو وو د علم۔ الله ورله ډیر لوئی علم ورکړے وو۔

یوځل نبی ﷺاو صحابه کرام ناست وو۔ او دے د کجهورو اونے ته اوختلو یا د ممانړی اونے ته۔ کجهوری یا ممانړے ئی شوکولے۔ لنګ ئی اچولے وو۔ اوسیلئی راغله۔ او دده پنډئی ښکاره شوے۔ نو هغه خو ډیرے وړے وے۔ نو ملګرو ورپورے اوخاندل۔ مونږ به نه خاندو۔ خو هغوی خپلو کښی ملګری وو۔ کان یجنی لهم نخلة فهبت الریح فکشفت عن ساقیه قال فضحکوا من دقة ساقیه فقال النبی ﷺ اتضحکون من دقة ساقیه والذی نفسی بیده لهما اثقل فی المیزان من جبل احد۔ (تاریخ بغداد ۱ : ۱۴۸)۔

علامه ابن الاثیرؒ لیکلے دی : اول من جهر بالقرآن بمکة بعد رسول الله ﷺعبدالله بن مسعود اجتمع یوما اصحاب رسول الله ﷺ فقالوا والله ما سمعت قریش هذا القرآن یجهرلها به قط فمن رجل یسمعهم ؟۔ فقال عبدالله بن مسعود أنا ، فقالوا إنا نخشاهم علیك انما نرید رجلاً له عشیرة تمنعه من القوم ان ارادوه فقال دعونی فان الله سیمنعنی فغدا عبدالله فقال رافعا صوته بسم الله الرحمن الرحیم ، الرحمن علم القرآن فجعلوا یقولون ابن ام عبد ثم قالوا انه لیتلوا بعض ما جاء به محمد فقالوا فجعلوا یضربون فی وجهه وجعل یقرء حتی بلغ منها ماشاء الله ان یبلغ ثم انصرف الی اصحابه وقد اثروا بوجهه فقالوا هذا الذی خشینا علیك فقال ما کان اعداء الله قط اهون علی منهم الان.(اسد الغابة ۳:۲۵۹)

ابتدائی کسانو کښی ده اسلام قبول کړیدے۔ الحق الصریح کښی دلته لیکلے دی : چه دے شپږم نمبرمسلمان دے۔ داد مقداد رضی الله عنه په باره کښی رائحی۔ چه شپږم نمبرمسلمان دے۔ دده په باره

کښې دومره راځي - چه ابتدائي مسلمانانو کښې وو. یقیني پته نه لګي چه دے شپږم وو. صاحب الاکمال دا قول په قیل سره نقل کړیدے - مقداد رضی الله عنه په شپږم نمبر باندے اسلام قبول کړیدے. په مدینه منوره کښې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ۳۲ هجري. کښې تقریباً د ۶۰ کالو په عمر کښې وفات شویدے. جنازه ورله سیدنا عثمان رضی الله عنه کړے ده. او بقیع کښې دفن دے.

"ای الذنب اکبر عند الله": - کومه ګناه د الله په نزد باندے غټه ده. ددے نه دا معلومه شوه. کبیره شته اکبر الکبائر شته. صغیره شته. عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په کښې فرق کوی.

"وهو خلقك": - داده مزید قباحت دپاره دے. "خلقك" په دے باندے دلیل دے. چه د الله سره شریك نشته: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُون﴾ نو بیا روستو راځي: ﴿فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً﴾ چه ته ئی پیدا کړے ئی. نو دهغه سره شریك مه ګڼړه. "ند" په ذات او په صفاتو کښې برابر والی ته وئیلے کیږی: سواء کان من الاصنام او من الانعام. (شرح فقه اکبر). "لا ضد له ولا ند له" - د نبی ﷺ په مخکښې یو تن اووئیل: ما شاء الله وشئت - نبی ﷺ ورته اووئیل: جعلتنی لله ندا. د الله سره دے څه ند جوړ کړم. نو دا اکبر الکبائر دے.

او د "ضد" تعریف دے: احد المتقابلین لا یمکن اجتماعهما.

پاکستان کښې یو بحث دے. چه د آئین ۶۲، ۶۳ دفعه باندے څوك برابر نه وی. نو هغه به د پاکستان د اسمبلئی ممبر نه شی جوړیدے. خبره بنه ده پکار ده. چه قانون عملي شی. خو دوی په کښې صرف د اخلی چه خیانت ئی کړے وی. رقم ئی پټ کړے وی. دا څوك چه ګیری خروی. نو دا په ۶۲، ۶۳ باندے نه برابریږی. که غټې ګیری ئی سره د پټکو وی. لکه شیعه ګان، بریلیان شو. دا په ۶۲، ۶۳ باندے نه برابریږی. "ان تدعوا لله ندا وهو خلقك" خلاف دے. دوی د الله سره شریکان جوړوی. قبر ته سجده کولو سره سړے صادق او أمین نه پاتے کیږی.

شاه ولی اللهؒ په التفهیمات الالهیة ۲: ۴۹ باندے لیکلے دی: کل من ذهب الی بلدة اجمیر او الی قبر سالار مسعود وما ضاهاها لاجل حاجة یطلبها فانه آثم اثما اکبر من القتل والزنا الیس مثله الا مثل من کان یعبد المصنوعات او مثل من کان یدعوا الات والعزی الا انا لا نصرح بالتکفیر لعدم النص من الشارع فی هذا الامر المخصوص.

﴿ان تجعل لله ندا﴾. مشرك هغه کس دے. چه د هغه قوة اعتقادیه خراب شو.

"ان تقتل ولدك خشية ان يطعم معك": - خپل بچے په دے یره باندے وژل۔ چه دے به تاسره روټی خوری۔ هسے هم قتل خه نه دے۔ داده قوة غضبی سره تعلق ساتی۔ قوت غضبیه ئی خراب دے۔ ډیره لویه گناه ده۔ او بیا بچے چه معصوم دے۔ او بیا جینئی وژل دا بالکل گناه ده۔ ورسره زړه سختیدل هم دی۔ چه دے خپل بچے وژنی۔ نو دده دا زړه نه دے چرته گتھه ده۔ او ورسره دا خبره ده۔ بیا چه دے زما سره روټی خوری ـ د فقر د وجے نی وژل: ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْأً كَبِيرًا﴾ (سورة بنی اسرائیل : ۳۱)۔ د حکم خلاف دی۔

دا هم د بچی وژل دی۔ چه تربیت ئی نه کوی۔ دا هم بچی وژل دی۔ چه خاندانی منصوبه بندی کوی۔ دا هم د بچی وژل دی۔ چه پیدا شی او په مرے ورله زورکړی او مړ ئی کړی۔ نو دا ټول صورتونه د "ان تقتل ولدك" دی ـ نود هریو سره قید لگوی۔ دادد ے دپاره چه مزید قباحت په کښی دے۔ چه د خشیت د وجے نه نه وی نو هم ټیك نه دی۔ اوکه د خشیت د وجے نه وی۔ نو مزید قباحت دے۔

"ان تزنی حلیلة جارك": - او بعض روایاتو کښی "تزانیه" راځی۔ ځکه دا شرکت د جانبینو غواړی ـ چه ته زنا اوکړی د خپلے گاونډی جینئی سره۔ حلیله یا د حلول نه دے۔ یا د حَل نه دے۔ " حل " معنی ده چه دغه ښځه د سر نه واخله تر خپو پورے ده ته حلاله ده۔ او حلول داد ے :خاوند ښځه د یو بل په اومورو کښی دخل اندازی کولے شی۔ نو ښځے ته حلیلة وئیلے کیږی۔ خاوند کوم ځائی دیره وی ښځه به هلته وی۔ اوس هسے زنا خه نه ده۔ او خصوصًا حلیلة جارك ـ پکار داوو چه د گاونډی خیال ساتے ـ نبی ﷺ فرمائیلے دی :چه جبرائیل علیه السلام به راتلو : ما زال جبريل يوصيني بالجار ظننت انه سيورثه ـ (بخاری نمبر : ٥٦٦٩) ـ ما وئیل چه گاونډی به زما په مال کښی دخیل جوړ کړی۔ او چه زنا ورسره کوی۔ نو قوت شهوانیه غلط استعمالوی۔ دا درے گناهونه ئی ذکر کړل۔

"فانزل الله": - ددے مسئلے د مضمون تصدیق الله راولیږلو ـ سورة فرقان مکی سورة دے۔ دا آیت مکی دے ـ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه چه دا خبره کوی۔ نو دا په مدینه منوره کښی کیږی۔ آیت مخکښی نازل شوے دے۔خو دا آیت په دے باندے فټ دے۔ نو دا ئی مصداق جوړ کړے دے۔ ددے نه مونږ ته یو قاعده معلومه شوه۔ شیخ الاسلامؒ او شاه ولی اللهؒ هم لیکلے دی۔ دا چه وائی آیت په دے کښی نازل شو۔ " فانزل الله " ددے مطلب صرف دا نه دے۔چه دے کښی نازل شو۔

قرآن کریم کښې راځي: ﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾ - حافظ ابن کثیرؒ وائي: دد ے مصداق مؤذن دے. نو ځنګه مؤذن دے. اذان خو په مدینه منوره کښې شروع شویدے. او دا سورة مکي دے. نو دا اذان هم د "ومن احسن" مصداق جوړیدے شي.
د علامه صابونيؒ په التبيان کښې دا راځي په دے کښې نازل شو. مطلب دا دے: چه دا ئي مصداق جوړیدے شي. نو ته داسے وئیلے شي. چه آیت دد ے سره تعلق ساتي.
صاحب د جامع الاصول ته یو وهم راغلے دے. لیکلے ئي دي: د آیت اضافه د ترمذي د طرفه ده. حالانکه صحیحین کښې دا آیت موجود دے. او د وهم منشاء ئي داده. چه په بعض طرق الحدیث کښې آیت نه دے ذکر شوے.

حدیث ۲ : وعن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الكبائر الاشراك.....الخ.

"الكبائر": - اي من الكبائر - حصر نه دے نور هم ډیر شته دے. خوګټ د ټولو "الاشراك بالله" دے:
﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُواْ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُواْ اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾ (سورة المائدة: ۷۲) ﴿إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاءُ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيداً﴾ (سورة النساء: ۱۱٦). ﴿حُنَفَاء لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاء فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ﴾ (سورة حج: ۳۱).

د شرك تعریف: ان يعتقد ان لغير الله اثرًا فوق ما وهبه الله من الاسباب الظاهرة. او د شرك نه كفر هم اغستلے شے. لیکن عربو کښې شرك زیات وو. د شرك چه څومره اقسام دي. نو د هغے نه به ځان بچ کوے.
د شرك مختلف تعریفونه "الاصول الامدادیه لفهم العلوم القرآنیة" کښې شته.

"وعقوق الوالدین": - "عق" معنی کټ کول - د مور او د پلار نافرماني کول. د مور او د پلار په نافرماني کښې د استاذانو نافرماني هم راځي. عقوق دیته وائي: چه کوم کار معصیت نه وي. په هغے کښې مخالفت کول.

واضحه دے وی : چه شیخ عز الدین بن عبدالسلام خپل کتاب قواعدالاحکام فی مصالح الانام کښې لیکلے دی : چه د عقوق الوالدین د تحقق دپاره په خاص یو قاعده او ضابطه څه نه یم خبر. مثلاً بچی له بغیر د والدینو د اجازت نه جهاد له تلل حرام دی. ځکه چه هغه په دے خفه کیږی. چه جهاد کښې به قتل شی. یا اندام به ئی کټ شی. (کله جهاد فرض کفایه وی) او دغسے هرهغه سفرپه کښې داخل دے. چه د قتل یا د اندام د کټ کیدو خطره په کښې ده. لیکن ابن صلاح په خپله فتاوی کښې د عقوق تعریف کړیدے : العقوق المحرم کل فعل یتاذی به الوالد او نحوه تاذیًا . او چه معصیت نه وی. نوبیا د والدینو اطاعت واجب دے. او د هغوی د امرمخالفت عقوق دے.

علی رضی الله عنه فرمائی : که ماته چا یوټکی اوخودلو. نوځه به د هغه غلام یم . دده خوښه ده که ما آزادوی. او که ما بند پریږدی.

او ددے دور شاګرد وائی : زمانه ذهنی غلام جوړوی. چه شاګرد شوے. نو تابعداری به کوے. نو عقوق الوالدین کښې د استاذانو عقوق هم راځی. د والدینو په عقوقو کښې د نیکونو عقوق هم راځی. اصول چه خومره دی. قرآن کریم دا دواړه خبری یو ځائی ذکرکوی.

ړومبے سیپاره کښې دی : ﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِيٓ إِسْرَائِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً﴾ (سورة البقرة : ٨٣) (٢) پنځمه سیپاره کښې دی :﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ (سورة النساء : ٣٦) ـ (٣) سورة بنی اسرائیل ٢٣ کښې دے : ﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾. (٤) سورة الاحقاف ١٥ کښې راځی : ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَاناً﴾ .(سورة لقمان : ١٤) ـ د الله د حق نه پس د والدینو ډیرلوئی حق دے. او د هغوی عقوق په کبائرو کښې راځی. څوك چه دا کوی. نو دے په ٦٢، ٦٣ دفعه باندے برابر نه دے.

التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیث لیکی : که والدین ئی د نوافلو نه منع کوی نه به ئی کوی. او که د سنتو نه ئی منع کوی. صرف یو ځل دوه ئی پریخودے شی. او واجب به بالکل نه پریږدی.

" قتل النفس " مخکښې تیر شو.

"والیمین الغموس": ـ د قَسم قسمونه

قسم په درے قسمه دے. (١) : یمین لغو. (٢) : یمین منعقده. (٣) : یمین غموس.

(۱) : یمین لغو: امام شافعیؒ ئې دے تهٔ وائي : چه هسے واللّٰه با اللّٰه تا اللّٰه وائي مقصد دے څه وي نه هسے د خُلے نه دا لفظونه اوځي۔ نو دا یمین لغو دے۔

احناف وائي : لغو دے ته وائي۔ چه په تیره زمانه کښې یو کار شوے ئي۔ او قصدًا وائي چه دا کار داسے نه دے شوے۔ لیکن ستا ظن غالب وائي چه دا کار داسے شوید ے۔ مثلًا پرون دے لرے ځائي نه اوکتل نو خیال دے راغلو ۹۰، ۹۵ فیصد چه پشم خان راغے داسے اولاړو۔ حالانکه هغه نه دے راغلے۔ او ته وائي زما دے قسم وي چه پشم خان راغلے دے۔ ظن غالب درجه کښې وائي دا حنفي مسلك کښې لغو دے۔ په دے باندے گناه نشته۔

(۲) : او یمین غموس دے ته وائي : چه څه درته پته ده چه دا هغه پشم خان نه دے۔ دا عبداللّٰه راغلے وو څه قصدًا غلط بیاني کوي۔ نودا په یمین غموس کښې راځي۔ ددے کفاره شته او که نه ؟۔

حنفي مسلك کښې ددے کفاره نشته۔ وائي چه دا دومره سخته گناه ده۔ چه ددے سړي بغیر د جهنم د غوپې نه اصلاح نه کیږي۔ غموس د غمس نه دے۔ غوپې ته وئیلے کیږي۔

(۳) : یمین منعقده : ﴿بِمَا عَقَّدتُّمُ الْأَيْمَانَ﴾ (سورة المائدة : ۸۹) ۔ دا دے ته وائي چه د مستقبل سره تعلق دے۔ چه قسم دے چه څه به داسے کوم۔ حلفیه خبره اوکړي۔ نودا په یمین منعقده کښې راځي ۔نو دلته د یمین سره قید د غموس اولږو۔ او یمین منعقده کښې کفاره شته۔

"وشهادة الزور": ۔ ددے نه خو نن صبا توله دنیا ډکه ده۔ په دروغه باندے دچا دستخط کول۔ دا په شهادة الزور کښې راځي۔ ته به خبر هم نه ئي او دستخط به ئي درله کړے وي۔ کهچرو کښې په مقدمو کښې داسے قسم شهادتونه زیات وي۔

نبي ﷺ ملاست وو او راوچت شو۔ او وئیل ئي : وشهادة الزور وشهادة الزور وشهادة الزور ۔ په مخه باندے لگیا وو۔ صحابه کرامو اووئیل : لیته سکت ۔ ارمان چه اللّٰه ئي غلے کړي۔ خو پیغمبر خفه وو۔ چه شهادة الزور مو ولے شروع کړیدے۔ او دیته "زور" ځکه وائي چه دے کښې د حق نه اوړیدل وي۔

شهادة الزور کښې د دروغو سندونه راځي۔ چه غیر مستحق خلقو له ئي ورکوي۔ یو الشهادة العالمیه دے۔ او بل الشهادة الاختراعیه دے۔ په هغے باندے پیسے گټل دا ټول حرام دي۔ یا په هغے سیاست کول چه سند درسره د دروغوي۔ یا د ډاکټرئي وغیره۔ د دروغو سندونه په کښې ټول راځي۔

: ﴿وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾ (سورة الحج : ۳۰) مراد ترے شرکي خبره ده۔ لیکن په عموم کښې ئي د دروغو گواهي راځي۔

د شیخ جزري د کلام نه معلومیږي۔ چه دا صرف د صحیح بخاري روایت دے۔

حدیث ۳ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اجتنبوا السبع الموبقات ....الخ ۔
داوو څیزونو نه ځان بچ کړے : (۱) شرك تیرشو ۔ (۲) سحر ۔ د سحر تعریف څه دے ؟ ۔ د سحر اقسام څه دی ؟ ۔ سحر شته او که نشته ؟ ۔ کیدے شي اوکه نشي کیدے ؟ په سحراومعجزه کښي فرق څه دے؟

د سحر تعریف :

سحر دے ته وائي : یو انسان پټ اسباب استعمال کړي ۔ او د هغے په ذریعے سره داسے کارونه په قابو کښي راولي ۔ چه هغه د عادت نه خلاف وي ۔ دے ته سحر وئیلے کیږي ۔
نشر المرجان کښي شاه پور شیخ لیکي : چه سحر دے ته وائي : چه انسان په اسباب خفیو داسے امور چه خارق العادت وي ۔ او قابو کښي ئي راوستل غواړي ۔ نو دے ته سحر وائي ۔
په دے کښي قسمونه دي ـ په دے مسئله باندے خائسته بحث کړیدے فتح العزیز کښي شاه عبدالعزیزؒ او امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښي اقسام ذکر کړے دي ۔ ۱۲ دي تقریبًا ۔ څه یو حکم لري ۔ او څه بل حکم لري ۔ غلط قسم سحر هغه دے چه ته شیطان خوشحالوے ۔ د هغه نه مدد اخلے ۔ دا قسم بالکل ناجائز دے ۔ لکه څنګه چه ملائك په تقوی باندے خوشحالیږي ۔ طهارت باندے خوشحالیږي په اعمال صالحه او په ذکر باندے خوشحالیږي ـ نو شیطان په سحر کښي په شرکیاتو باندے خوشحالیږي ۔ غیر الله په مدد باندے شیطان خوشحالیږي ۔
امام رازیؒ په دے مسئله باندے کتاب لیکلے وو" السر المکتوم فی مخاطبة الشمس و القمر و النجوم ۔ یا هغه ته نسبت غلط دے ۔ یا ئي رجوع کړے ده ۔ اوګوره تفسیر ابن کثیر ' تفسیر قرطبي او کشف الظنون : السر المکتوم فی مخاطبة الشمس والقمر والنجوم للامام فخرالدین محمود بن عمر الرازی المتوفی : سنة ٦٠٦ ، قیل انه مختلق علیه فلم یصح انه له وقد رآیت فی کتاب انه للجوالي وابی الحسن علی بن احمد المغربی والله سبحانه اعلم ـ قال الذهبی فی المیزان ان له کتاب اسرار النجوم سحر صریح ، قال التاج السبکی ...فلم یصح انه له وقیل انه مختلق علیه ـ (کشف الظنون عن اسامی الکتب والفنون ۲ : ۲۹۰) ـ
دچهل کاف آخر کښي راځي : کوکب فلك ـ نو د کوکب او د فلك نه په کښي مدد اغستلے کیږي ۔ ورنه کم از کم خطاب ورته شویدے ۔
ویخته راوړه ۔ د پلیتو پلیتو څیزونو په ذریعے سره دا جادوګران جادوکوي ۔

د سحر نور اقسام

(۱) : کله کله دوی د شیطان ارواح ځان ته حاضروی. کله کله دوی د بهادر انسان روح ځان ته په عملونو سره حاضروی - او په هغے سره ئی مسخر کوی. نور څوك ئی نشي كولے. هغوی ئی کوی. په دے کښی د غیر الله د شیطانانو تعظیم وی. دا کار بالاتفاق کفر دے. داسے قسم جادو چه څوك كوی. نو دهغه مرګ پکار دے. خو صرف ریاست ئی مجاز دے.

واقعه د جندب رضی الله عنه او د جادوګر

سیدنا جندب رضی الله عنه په لاره باندے تیریدلو. نو چرته جادوګر خپل کرتب ښکاره کړو. ابن کثیر تفسیر کښی شته دے. نو جندب رضی الله عنه تماشه کوله. چه دوی څه کوی. هغه سړے چه وو. نو هغه به یو سړے په میدان کښی رادیخوا کړو. نو هغه به مړ ښکاره شو. نو بیا به ئی ژوندے ښکاره کړو. نو خلقو ورته چغے کړے. چه ډیر خه جادوګر دے. نو جندب رضی الله عنه توره ئی راواغستله. او جادوګر ئی دوه ټکړے کړو. څټ ئی ترے کټ کړو. او چغه ئی کړه : ان کان صادقًا فلیحی نفسه . که دے رښتیاء وائی نو ځان دے ژوندے کړی. او دے خلقو ته ئی وئیل : اتاتون السحروانتم تبصرون . جادوته ګوری او څه نه وائی - داد ولید بادشاه جادوګر وو. هغه بیا دے قید هم کړے وو. او بیا ئی خلاص کړو - او الاستیعاب د ابن عبدالبرؒ علی حاشیة الاصابة ۱ : ۲۱۹ باندے ددے واقعے په آخر کښی دی : چه ولید بادشاه جندب رضی الله عنه قید کړو. او عثمان رضی الله عنه له ئی اطلاع ورکړه. نو عثمان رضی الله عنه ورته اووئیل پریږده. او دا ئی لیکلے دی : انه یدخل فی فم الحمار ویخرج من ذنبه او من دبره ویدخل فی است الحمار ویخرج من فیه - چه دا جادوګر به د خره په خُله کښی ورننه شو. او د لکی یا د دبرنه به ئی اووتلو. او دبر کښی به ئی ورننه شو. او په خُله به ترے اووتلو.

(۲) : دویم قسم ستا قوت حاکمه یو طرف ته کیږی. همیشه ډیر وخت له دهیان یو غاړے ته برابر کړی. او په هغے کښی داسے ښکاره کیږی. چه دا خوزی، حرکت کوی. مثلًا دا مسمیریزم په دے کښی توجه برابرول دی - داد جادو یو قسم دے. پنجاب کښی یو وو. وئیل ئی څه درته خانه کعبه حاضروم مرید ناست وی او ورته وائی توجه برابر کړه. دا پیریان چه حاضروی. جینکئی چه نوی نوی بالغے شوے وی - خوارلس، پنځلس کالو سوچ ورله برابر کړی. نو وائی څپلی ئی په خپو کړے. کله وائی

څه ونم لوېته ئې په سر کړے ده. دے کښې دوی ډیره قربانی ورکوی. محنت برداشت کوی. خبرے به نه کوی - روټی به نه خوری. خوب به بند وی. د میاشتے په آخری شپو کښې په تیرو غرونو ' کندو او صحرا کښې لګیا وی. وظیفی به پخوی. دا سحر په څناورو باندے هم کیږی.

ابن عطیۃؒ په تفسیر کښې لیکلے دی: ﴿ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴾ دلاندے چه ماته ثقه کس وئیلے دی: چه د مغرب په صحرا ګانو کښې ما داسے اوبنی لیدلے دی. چه په بچو باندے جادو کړے شوے وو. څه تارونه ئې تړلے وو. هغوی به پیٔ نه څکل. چه کله ئې هغه تارونه کټ کړل. او غوټے ئې ختمے کړے. نو د هغې طبیعتونه برابر شول. او پیٔ څکل ئې شروع کړل.

حکم : چه د کوم جادو په وجه چه د کفر او د شرك تائید راځی. دا خو بالکل کفر دے. او که په دے سره توړ د جادو راځی او د شرك ' د بدعت الفاظ نه وی. یا ناجائز کار په کښې نه وی. نو جائز او ثواب دے او که د خپل حفاظت دپاره ئې سړے کوی. چه څه د نظر او د ضرر نه بچ شم. نو په دے وخت کښې دا عمل مباح دے. چه شرکی کلمات په کښې نه وی.

(۳) : دریم قسم چه په خیالاتو کښې داسے محسوس کړی چه دا کار کیږی: ﴿ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴾ (سورۃ طه : ٦٦) - (۴) : څلورم قسم په کښې دادے : چه حقیقت بالکل بدل شی. دا کیدے شی او که نه ؟ - اکثر دا تخیلات وی. جادوګر او مداری چه د هلکانو نه اګی راوباسی. نو دا به ورته نه وائی چه دا اګی راکړه. څه ورسره تماتر یو ځائی کوم. ځان له اندا کریبی جوړوم. هغه پخیږی نه . کنی هغه به دلته مداری توب نه کولے. دا هسے تش خیالات دی.

په دے کښې اختلاف دے. چه په جادو سره حقیقت د شیٔ بدلیږی او که نه ؟ . ګته او خر ترے جوړے دے شی او که نه ؟.

امام راغبؒ او جصاص مؤلف د احکام القرآن او معتزله او جماعة المسلمین او شیخ محمد عبده او د هغه غوندے کسان دوی دا جادو د سرنه نه منی. محمد عبده بیا ډیر زیاتے کوی وائی حدیث د بخاری کښې راځی : چه په نبی ﷺ باندے جادو شوے دے. د بخاری روایت نه منم. روایت صحیح نه دے. او که صحیح او منو. نو چغل خور ترے مراد دے.

تفسیر منار کښې د سورۃ الفلق په تفسیر کښې لیکی : المراد بهم النما مون المقطعون لروابط الالفة -

قاضی عیاضؒ الشفاء بتعریف حقوق المصطفی کښې لیکلی دي : فاعلم وفقنا الله وایاك ان هذا الحدیث صحیح ۔ او بیا لیکي : چه دا جادو په ظاهري اندامونو وو۔ زړه، عقل او اعتقاد باندې هیڅ اثر نه وو کړې۔ او علامه الوسیؒ لیکي : ان هذا الحدیث صحیح ۔ لان الکفار ارادوا بقولهم مسحورا انه مجنون وحاشاه ۔ او علامه ابن قیمؒ هم په نبي ﷺ د جادو حدیث ته صحیح وئیلې دې ۔ لیکي : هذا الحدیث ثابت عنداهل العلم بالحدیث متلقی بالقبول بینهم ولا یختلفون فی صحته وقد رواه غیر هشام عن عائشة وقد اتفق اصحاب الصحیحین علی تصحیح هذا الحدیث ولم یتکلم فیه احد من اهل الحدیث بکلمة واحدة والقصة مشهورة .

(بدائع الفوائد بتحقیق علی بن محمد العمران ۲ : ۳۹)

علامه ابن کثیرؒ تفسیر کښې د امام ابو حنیفهؒ انکار نقل کړیدې ۔ د هغوی نه په نبي ﷺ د سحر انکار بالکل نقل نه دې ۔ او ډاکټر محمد حسین ذهبيؒ لیکلي دي : وکذالك نجد الجصاص یمیل الی عقیدة المعتزلة ویتاثر بها فی تفسیره ۔ او تفسیر خازن کښې د سورة الفلق په تفسیر کښې دي : وقد انکر بعض المبتدعة حدیث عائشة المتفق علیه ۔

قرآن کریم کښې الله په دوه ځایونو کښې ذکر کوي سورة بني اسرائیل او سورة فرقان کښې :﴿إِذْ يَقُولُ الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا﴾ (سورة بنی اسرائیل : ۴۷) ۔ او دغسې ﴿ وَقَالَ الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا﴾ (سورة الفرقان : ۸) ۔

بخاري کښې شپږ ځایه د جادو حدیث موجود دې ۔ لیکن د جادو اثر د هغوی په جسم او ظاهري اندامونو باندې شویدې ۔ د نبي ﷺ په عقل سلیم، زړه او اعتقاد باندې نه دې شوې ۔ داسې هیڅ اثر په هغوی نه دې شوې ۔ چه د هغوی په رسالت کښې دې څه التباس راغلې وي۔

(اکمال المعلم لفوائد زوائد سلم جلد ۷ : ص ۸۶ تا ۸۸ مطبوعه دار الوفاء) ۔

چه مشرکان دا وائي : چه تاسو د هغه چا تابعداري کوې ۔ چه جادو پرې کړې شویدې ۔ او ته وائي زمونږ په نبي ﷺ باندې جادو شویدې ۔ تاخو د مشرکانو تائید اوکړو ۔ د قرآن اومنو او که د بخاري ۔ نو دا ډېر غلط فکر دې ۔ سورة فرقان او سورة بني اسرائیل دا دواړه سورتونه خو په مکه کښې نازل شوې دي ۔ چه په مکه کښې دې مشرکانو وئیل چه په دې نبي ﷺ باندې جادو شویدې ۔ نو جادو پرې کله شوې دې ۔ هغه خو پرې د خیبر په کال باندې شویدې ۔ دا اووم کال د هجرت وو ۔ نو په هغه وخت کښې پرې شوې وو ۔ نو ۱۹ کاله مخکښې هغوی څنګه اوئیل چه جادو پرې شویدې ۔ جادو خو ۱۹

- نو دده آيت څه مطلب شو ؟ - هغوی د جادو دا معنی کاله روستو کيږی - او هغوی مخکښی اووئيل نو دده آيت څه مطلب شو ؟ - هغوی د جادو دا معنی
نه اغستله - هغوی وئيل د سړی او د ښځے په مينځ کښی جدا والے په اسلام سره راولی - چه يو
مسلمان شی - او بل داسے پاتے شی - جادوګر غونده دے - او په مکه کښی چه سپوږمئی معجزةً
دوه ټوټے شوه - نو وئيل ئی : ﴿ وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ (سورة القمر : ٢) - او دا ئی مطلب وو - چه
دے ليونی شويدے - او يائی مراد ليونتوب وو : ﴿ كَذَلِكَ مَا أَتَى الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴾ - (سورة الذاريات : ٥٢) -

شرح المقاصد کښی دی : د عائشه رضی الله عنها نه هم دا ثابته ده - او دده په باره کښی په موطاء کښی يو روايت راځی - هغے کښی داسے دی : چه کعب رضی الله عنه فرمائی څه کلمات څه وايم - که ما دا کلمات نه وئيلے - نو دے يهودو به زمانه خرجوړ کړيوے -

خرجوړ کړيوے مجازی معنی هم شته کم عقل - او د خر جوړ کړے وو - حقيقی معنی هم شته دے - کعب رضی الله عنه به وئيل چه څه دا الفاظ وايم - اګر چه روايت باندے کلام هم شته - اعوذ بالله العظيم الذی ليس شیء اعظم منه وبکلمات الله التامات التی لا يجاوزهن بر ولا فاجر وباسماء الله الحسنی کلها ما علمت منها ومالم اعلم من شر ما خلق وذرء وبرء - دا کلمات ډير وايم - نو د الله په عافيت کښی يم -

صحيح داده : چه په وصف کښی تبديلی راتلے شی فقط -

په شوافعو کښی يو عالم ابوجعفر استر آبادی دے - هغه جادو نه منی - دا چه کوم نه منی - نو اکثر دا دريم قسم نه منی -

حکم : علامه شامی ٣ : ٢٩٦ دار احياء التراث العربی بيروت ليکلے دی : ساحر ترڅو چه د کفری امر اعتقاد نه لری - کافر نه دے - او په النهر الفائق کښی په دے اعتماد کړيدے - او علامه ابن همام ليکلے دی : چه زمونږ بعض صحابو چه د جادو حکم ، کفر نقل کړيدے - داپه دے شرط چه د سحر تحقق د کفری کلماتو په وئيلو باندے موقوف وی -

جصاص شيخ ابوبکر هم د معتزلو اثر په دے مسئله کښی اغستے دے : ﴿ وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيَاطِينُ ﴾ د لاندے ليکی : حتی اطلق فهو اسم لکل امر موهوم باطل لا حقيقة له ولا ثبات -

شيخ القرآن علامه محمد طاهرؒ نيل السائرين کښی ليکلے دی : چه يو کس د نبوت دعوی کړے وه - او جعفر بن زبير ورله سر کټ کول غوختل توره پرے آثر نه کوو - او جعفر حکم اوکړو - چه بربنډ ئی کړے - د ژبے د لاندے ئی باريك کاڼړے د جادو ايخے وو - چه کاڼړے ئی اوغورځولو : فجال فيه السيف حينئذ - توره په کښی بيا اوچليده -

د سحر او د معجزے په مینځ کښې فرق

د معجزے تعریف : امام الحرمین الجوینیؒ خپل کتاب لمع الادلة فی قواعد عنداهل السنة والجماعة : ۱۲۴ باندے نقل کوی : وهی افعال الله تعالی الخارقة للعادة المستمرة وظاهر علی حسب دعوی النبوة هو تحدیه ویعجزعن الاتیان بامثالها الذین یتحداهم النبی ۔

(۱): سحر کسبی دے ۔ او معجزه کسبی نه وی ۔(۲) : سحر د تعلیم او د تعلم سره تعلق ساتی ۔ سبق به وائی تجربے به کوے ۔ او معجزه د الله د طرف نه ده ۔ د نبی ﷺ په لاس باندے غیراختیاری صدور ته راځی ۔(۳) : دریم دا چه صاحب د معجزے خپله معجزه په اختیارکښې نه لری ۔ صاحب د سحر خپل سحراختیار کښې لری ۔ دا خو مشرکانو وئیل : لولا اجتبیتها ۔ ولے دے د ځان نه معجزه جوړه نه کړه ۔ پیغمبر د ځان نه معجزه نشي راوړے ۔ کوم خلق چه وائی چه معجزه د نبی ﷺ په اختیارکښې ده ۔ دا خبره غلطه ده ۔ لکه دا بعضے بریلیان ئی وائی ۔ ددوی د خبرو مطلب خودادے العیاذ بالله چه پیغمبردا قرآن هم د ځان نه جوړ کړیدے ۔ ځکه قرآن معجز کتاب دے ۔ موسیٰ علیه السلام ته چه الله اووئیل "عصا " اوغورځوه نو هغه یریږی ۔ نو ورته وائی مه یریږه ۔ دا یره ولے راغله ۔ داد هغه په اختیارکښې نه ده : ﴿وَأَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلَّى مُدْبِراً وَلَمْ يُعَقِّبْ يَا مُوسَى لَا تَخَفْ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُونَ﴾ (سورة النمل : ۱۰ ، قصص : ۳۱) ۔ چه شاته تلے دے نو د یرے نه تلے دے ۔ که د هغه په اختیار کښې معجزه وے ۔ چه واقعی ددے نه دا څیز جوړیږی ۔ نودده به ترینه یره نه راتلے ۔ داسے کرامت هم دے ۔ کرامت د متبع النبی په لاس باندے ښکاره کیږی ۔ خودا کرامت د ولی په اختیارکښې نه وی ۔ " وما یزعم العوام ان الکرامة فعل الاولیاء من انفسهم باطل بل هو فعل الله تعالی علی ید الولی تکریما له وتعظیمًا لشانه ۔ (فتاویٰ رشیدیه) ۔

عوام چه وائی : چه دا کرامت د ولی په اختیار کښې دے ۔ نودا خبره غلطه ده ۔ معجزه د نبی اوکرامت د ولی په اختیار کښې نه دے ۔ معجزه به د پیغمبر په لاس ښکاره کیږی او خلقو ته ئی ښکاره کوی ۔۔ او د کرامت به د پټ ساتلو کوشش کوے ۔ "یجب علی الولی اخفاء کرامته "۔ مرقات کښې ملا علی قاریؒ وائی ۔ او دغسے سیر اعلام النبلاء ۱۷ : ۲۵ کښې علامه ذهبیؒ لیکلے دی : کما اوجب الله علی الانبیاء اظهار المعجزات اوجب علی الاولیاء اخفاء الکرامات ۔

او استدراج دادے : لو رایت رجلا یطیر فی الھواء ویمشی علی الماء ویاکل النار ویترك السنة من سنن رسول الله ﷺ فهو لیس بولی بل هو کذاب ۔ دا ابن کثیرؒ د لیث یا د امام شافعیؒ قول ،بناء براختلاف راغستے دے۔

اوله سیپاره کښی : ﴿ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴾ آیت د لاندے۔

که یوسړے په هواء کښی په الوتلو وینی او د پیغمبر په طریقه نه دے روان۔ نو دے ولی نه دے۔ په هواء کښی خو کارغان هم الوځی ۔ او د اوبو دپاسه روان دے۔ چه اتباع السنة په کښی نه وی۔ نو دا کرامت نه دے ۔ دا استدراج دے ۔ د ابو د پاسه خوخسنړی هم روان وی ۔ او اور سروتکے خوری دا شترمرغ هم خوری ۔ څه خوشحالیږی پرے خُله اومری، وړله هم نه سوزی۔ بلکه داسے ولی مغرور دے۔ دا مخادع دے۔ نو په استدراج او کرامت او معجزه کښی فرق دے۔

(۴) : څلورم فرق دادے : د نتیجے په اعتبار سره۔ دا ساحر مقابله به ساحر کوی۔ خو لیکن که چرته جادوگر د نبی ﷺ په مقابله کښی راغے۔ نو چرته هم نه کامیابیږی : ﴿ ولا یفلح الساحر حیث اتی ﴾۔

او که غیر نبی له راشی۔ نو په هغے کښی ظاهرًا کله کله کامیاب شی۔ شور جوړ شی۔ او خلق اوخاندی راوخاندی۔ څه قسم نظر بندی اوکړی۔

"وقتل النفس التی حرم الله الا بالحق ": ۔ "الا بالحق " کښی استثنی ده۔ درے کارونه دی چه څوك ئی وژلی وی۔ نو وژلے کیږی به۔ مرتد شوے ئی۔ او یا ئی زنا کړے وی او واده ئی وی۔ نو دا "الا بالحق "مصداق دے۔

"واکل الربو ":۔ سود خوړل دا په گناه کبیرو کښی راځی۔ والله اعلم۔ دا بعض علماء دا لیکی : چه چپړاسیان ، نوکران ، که د بینك عمارت او خلق ساتی۔ دوی ئی مصداق د وعیدونو نه دی۔

مولانا گوهر رحمان صاحب هم لیکلے دی په تفهیم المسائل کښی۔ مولانا احسان صاحب مدظله هم د بینك د عمارت محافظ له جواز لیکی : غوره داده چه اجتناب ترے اوکړے شی۔ داخو یو قسم تعاون دے په اثم کښی : ﴿ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُواْ اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾ (سورة المائدة:۲)

کم او زیات گناه کښی فرق شته۔ خو لیکن گناهگار ټول دی۔

"واکل مال الیتیم ":۔ د یتیم مال خوړل په ظلم سره که هغه د حیله اسقاط په طریقه باندے وی۔ او که جمعے په ماښامونو کښی خوری۔ او که دار الایتام ئی جوړ کړیدے۔ او د یتیمانو په نوم چه کوم

ځیزونه راغلے وی۔ نو هغے کښی بعضے ځیزونه یا کورته اوړی او یا ئی خرڅوی۔ دا ټول په دے کښی راځی۔ اوکه ممبران د سرکاری زکوٰۃ غلط استعمال کوی۔ دا په کښی هم شامل دے۔ اکثرچه دا یتیم خانے ئی جوړے کړے وی۔ بعضے په کښی برستنے او شړئی پټوی۔ دے کنډو له چه کومے بسترے چه راځی په هغے باندے ئی لیکلے وی: للأرامل۔ یعنی د کنډو دپاره دی۔ او دا بسترے به ئی کورته اوړی وی۔ استعمالوی به ئی۔ ته به وائی چه دا کنډه ده۔

"**والتولی یوم الزحف**":۔ زحف اصل کښی وئیلے کیږی د ماشوم خړپوسوته۔ "زحف الصبی" ماشوم خړپوسے شروع کړے۔ چونکه جنګ کښی خلق زیات وی۔ نو په قلاره قلاره په کښی ځی۔ نودیته یوم الزحف وائی۔ قرآن کریم کښی سورة الانفال ۱۵ کښی دا اصطلاح استعمال ده: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ﴾ شاه به نه اړوی: ﴿إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ (سورة الانفال ٦٥) ۔که دوه لاکھ کافر وی۔ او یو لاکھ مسلمانان دی۔ نو شاه به نه اړوی۔ په غزوه موته باره کښی علامه واحدی په الوسیط کښی لیکلے دی: چه درے زره مسلمانان وو۔ او امراء نمبر په نمبر زید بن حارثه، جعفر بن ابی طالب او عبدالله بن رواحه رضی الله عنهم وو۔ دوه لاکھ مشرکانو سره ئی مقابله وه۔ چه یو لاکھ رومیان او یو لاکھ نور قبائل۔ د سورة انفال آیت ٦٥ د لاندے مفسرین لیکی۔

البدایه والنهایه کښی دی: خالد بن ولید رضی الله عنه ۹ تورے ماتے کړے دی۔ او طارق بن زیاد سره ۱۷۰۰ فوجیان وو۔ ۹۳ هجری کښی په اندلس کښی ۷۰ هزار کسانو سره مقابله کړے ده۔

علامه اقبال هم ددے ذکر کړیدے۔ هغوی ترے تپوس اوکړو۔ چه کشتی دے ولے سوزولے۔ داخو د واپسئ یو ذریعه ده:

طارق چوں بر کنارہ اندلس سفینہ سوخت — گفتند کار تو بنگاہ خرد خطا است
دوریم از سواد وطن باز چوں رسیم — ترک سبب ز روئے شریعت کجا روا است
خندید و دست خویش بشمشیر برد و گفت — ہر ملک ملک ماست کہ ملک خدائے ما است

د طارق بن زیاد نه ئی تپوس اوکړو۔ چه کشتی مه سوزوه داخو سبب دے۔ واپس به نه ځو۔ وئیل ئی چه مجاهد تر هغے پورے واپس نه ځی۔ چه ترڅو پورے ئی هغه ځائی قبضه کړے نه وی۔ اوکه ته وائی

څه کور ته ځم۔ نو دا تول زمونږ کورونه دی۔ چه د الله کور دے۔ نو دا ستا دپاره هم کور دے۔

تختیدل او په شاه باندے تلل په دوو صورتونو کښی جواز لری: ﴿ إِلَّا مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ ﴾ کښی شته۔ او ﴿ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ ﴾ (سورة الانفال : ۱۶)۔ کښی شته۔ دے نه علاوه "تولی یوم الزحف" نشته۔

په جهان د شاه ځلمو وی دا دوه کاره

یابه اوخوری ککرئی یابه کامران شی

"الا احدی الحسنین" یابه شهادت وی۔ او یا به غازی کیږی۔ په مینځ کښی بګوړه قسم په کښی نشته۔ د داود علیه السلام یوه کارنامه داوه: کان لا یفر اذا لاقی۔ جنګ کښی ئی تیختنه نه پیژندله۔

حدیث ۴ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ لا یزنی الزانی حین یزنی وهو مومن ...الخ۔

د ابوذر غفاری رضی الله عنه د هغوی نظر وو دے حدیث ته۔ لکه چه مخکښی تیرشو۔

د زنا تعریف

د زنا تعریف دے: وطء الرجل المرءة فی القبل فی غیر الملك۔

یا دویم تعریف داد ے: ادخال المکلف الطائع قدر حشفة فی قبل بلا ملك اوشبهة۔

چه زانی چه کله زنا کوی۔ نو هغه به ایماندار نه وی۔ چاچه زنا اوکړه۔ نو دے مومن نه دے۔ دا خو د خوارجو او دمعتزلو مسلك دے۔ دا د اهل السنة مسلك نه دے۔ اهل السنة وائی: زنا ګناه کبیره ده۔ خو بیا هم مومن دے۔ اګرچه ګناهګار دے۔ خوارج وائی: چه زنا ئی اوکړه نو کافر شو۔ معتزله وائی: چه کافرشوے نه دے۔ او مومن هم نه دے۔ په درجه د بین المنزلتین کښی دے۔ ددے حدیث نه به عذر پیش کوو۔ تاویل به خامخواه کوے۔ چه یو طرف ته دا راغلل "لا یزنی الزانی حین یزنی وهومومن"۔ او بل طرف ته راغلے دی "وان زنی وان سرق"۔ دواړو طرف ته احادیث راغلے دی۔ نو په دے کښی به تاویل کوے۔ دا تاویل د قبیلے د اتباع الهدیٰ نه به وی۔ نه د اتباع الهوٰی نه۔

(۱) یو تاویل داد ے: د "هو مومن" معنی لغوی بمعنی "وهو ذوامن" دے۔ به امن والا نه وی۔ کله چه زنا کوی۔ (۲): "وهو مومن" که دے باحیا وی۔ نو زنا به ئه کوی۔ ځکه "الحیاء شعبة من الایمان"۔ حیاء د ایمان غتمه شعبه ده۔ (۳): یائی مجازًا دا حکم کړیدے۔ حقیقتًا ئی نه دے کړے۔ (۴): یا صاحب د مشکوة په خپله تاویل کوی۔ چه ددے معنی داده: چه کله زنا کوی "حین یزنی"۔ نو دده نه ایمان لاړ

شي۔ نو چه کله دے غلط کار ختم کړي۔ نو بیا ورله ایمان رائحي۔
معتزله وائي: بالکل ترے ایمان لاړو۔ (۵): امام بخاريؒ تاویل کړید ے۔ چه د ایمان رنړا ئي ختمه شي۔ نو کامل مومن نه دے۔

" نهبة ": غصب ته وئیلے کیږي۔ یو نثار دے۔ نثار دے ته وائي: چه یو تن په خوشحالے کښې څه نولي۔ که هغه د هندوانو رسم وي۔ نو بیا ټهیك نه دے۔ اوکه د هندوانو رسم نه وي۔ او نه ئي دوی سره مشابهت وي۔ لکه پتاسے نولي په ښادوکښې د چا جولے ته چه راشي۔ د هغه ملکیت جوړیږي۔ لیکن که یو سړے په بازارکښې د چا نه په زوره هغه څیز واخلي۔ حرام دي۔
دا " یرفع '' د مذید قباحت دپاره رائحي۔ خلق ورته سترګے بره کوي۔ چه مه کوه ظالمه۔ او دهغه خلقو خیال نه ساتي۔ او بیا هم په دوکان ورځي۔ دهغه د دوکان نه مال اخلي اوغصب کوي ئي۔
"ولا یغل احدکم ":- غلول وئیلے کیږي په مال غنیمت۔ یا په بل اجتماعي مال کښې خیانت چه په کوم سړي کښې ایمان وي۔ نو هغه په مال غنیمت یا په اجتماعي مال کښې خیانت نه کوي۔

د عکرمه وضاحت : یو عکرمه د ابوجهل ځوی دے۔ هغه نه دے مراد۔ او یو عکرمه د عبدالله بن عباس رضي الله عنه شاګرد دے۔ چه دیرش کرته ئي دده نه قرآن کریم وئیلے دے۔ دے به ئي په زنځیرونو کښې تړلے وو۔ استاذ شاګرد له سزا ورکوي۔ نو اجازت شته۔ نو وائي ما د خپل استاذ نه تپوس اوکړو۔ چه څنګه ترے ایمان لرے کیږي۔ نو ماته ئي اووئیل " وهکذا وشبك " ګوتي ئي په ګوتو کښې ورکړے۔ او بیائي راویستلے۔ نو ایمان ترے لاړو۔ او بیا ئي چه وردننه کړي۔ نو وئیل ئي بیا په کښې ایمان دننه شو۔

نوټ : د تشبیك طریقه کښې شاګرد راویخوی چه تاله پکار دے۔ چه د درس دوران کښې د استاد په هره ادا نظر لره۔ یا راوی ذکرکوي " فشبك رسول الله ﷺ اصابعه ''۔ اللهم اشهد ئي فرمائیل ګوته ئي اوچته وه۔ ګویا مسئله ثابته شوه: عین التلمیذ تابع حرکات المعلم۔

تنبیه : د حدیث په وضاحت کښې اضوء المصابیح : ۹۲ باندے دي: جولوگ مدرسوں، مساجد، تنظیموں، جماعتوں اوررفاہی کاموں کے بہانے چندے کا مال کھا جاتے ہیں وہ بھی اس حکم میں ہیں انہیں سمجھ لینا چاہئے کہ ایک دن علیم بذات الصدور کے سامنے پیش ہوکر ذرے ذرے کا حساب دینا ہے۔

حدیث ۵ : وعن ابی هریرة قال قال رسول اللهﷺ اية المنافق ثلث زاد مسلم ....الخ۔

" اية المنافق ثلث " :۔ د منافق درے نښے دی۔

سوال راځی : چه وړیسے روایت کښی خو راغی " اربع من کن فیه " د منافق څلور نښے دی۔ سورة توبة کښی تقریبًا ٦١ نښے دی۔ دلته درے دی۔ او وړیسے روایت کښی څلوردی۔ یا ددے نه سوا نښے هم نورو روایاتو کښی راغی دا ولے ؟۔

(۱) : دهغے یو جواب دادے : چه د مسلم په روایت کښی راغی " من اية المنافق "۔ نو دا " من " تبعیضیه دے ۔ د من تبعیضیه مطلب تولے نښے نه یادوم بعض یادوم ۔ نو دلته په کښی " من " تبعیضیه دے۔ لکه په کافیه کښی راغی : " ومن خواصه دخول اللام والجر والتنوین " ۔ نو سوال راځی : چه نورئی خواص شته دے۔ نو هلته معنی کوی " ومن خواصه "۔ د خواص معظمه مکبرو د اسم نه غټے خاصے یادوم نور به وی۔

(۲) : دویم جواب دادے : چه عدد اقل د عدد اکثر سره منافات نه لری۔ چه درے ئی اووئیل نودا مطلب نه دے۔ چه څلور نشته۔اوچه څلور ئی اووئیل نودا نشته چه ګنی آته نشته۔ کله چه په نورو روایاتو کښی ثابت وی۔

(۳) : دریم جواب دادے : چه نبی ﷺ ته اول وحی د دریوو بیا روستو وحی د څلورو شوے ده۔

(۴) : " آية " نه مراد جنس دے۔

یو سوال دادے : چه " آية المنافق " مبتداء او " ثلاث " ئے خبر دے۔ او " آية " مفرد او " ثلاث " جمع ده۔ مبتداء اوخبر کښی مطابقت نشته۔ " آيات المنافق ثلاث " د عربی ګرائمر کښی استعمالیږی۔

جواب ۱ : " ثلاث " جمع نه ده۔ بلکه اسم جمع ده۔ او لفظ ئی مفرد دے۔ " آية المنافق معدودة بالثلاث "

۔جواب ۲ : " آية " نه جنس " آية " مراد دے۔ او " تا " ئی د " تمرة " غوندے ده۔ آية ۔ د " تمر او تمرة " غوندے استعمالیږی۔

بل یو سوال دادے : چه دا نښے چه درے ذکرکوی " اذا حدث کذب ...الخ " ــ دا خو په مسلمانانو کښی هم شته۔ دروغ وائی۔ وعده خلافی کوی۔ امانت کښی خیانتونه کوی۔ نو ددے څه مطلب شو ؟۔

جواب دادے: چه نبی ﷺ زجرًا د منافق عملي دپاره نښے بیان کړے۔ یعني دروغ مه وایه هسے نه چه د منافق سره دے مشابهت راشي۔ نفاق اعتقادي کفر پټول او اسلام ښکاره کول دی۔ او نفاق عرفي: هغه عمل چه په کښي د طاعت اظهار او د معصیت پټول دی۔

دویم جواب دادے: چه دلته "اذا اذا" راځي۔ یعني ده دروغو ته کار وئیلے دے۔ چه کومه خبره کوی نو دروغ وائي۔ یو انسان چرته کله کله دروغ اووائي۔ نو هغه هم ښه نه دی۔ دده خو عادت جوړ دے۔ داسے کله کله وعده خلافي اوکړی۔ نو هغه هم ښه نه دی۔ نو بیا هم څه ګزاره کوی۔ یو "اذا اذا" چه کار ئې ورته وئیلے وی۔ نو په هغه وخت کښي منافق ګرځي۔

دریم جواب: دا د شاه انورؒ دے۔ او دا جواب امام نوویؒ په شرح د مسلم کښي ددے نه مخکښي ذکر کړے دے۔ هغه وائي یو علامت دے او یو بل علت دے۔ د علت سره معلول ضروري دے۔ او د علامت سره ذوالعلامت نه دے ضروري۔ په چا کښي د څه څیز نښه ده ته ورته هغه ذوالعلامت هم ورکړے۔ نو لزوم ئې ټهیك نه دے۔ کله به وی او کله به نه وی۔ د خوارجو نښے مشکوٰۃ ثاني کښي راځي۔ هغه سړی چه راغلے وو ذوالخویصره کث اللحیة، غائر العین او ناتی الجبهة۔ وغیره۔ نو چه کوم ذوالخویصره وو۔ نو هغه کښي خودغه نښے دی۔ خو لیکن چه چا کښي دا نښے وی۔ نو ته ورته وائي چه ته خارجي ئې۔ نو دا ټهیك نه ده۔ بعضے وائي پنج پیریان دیوبندیان خوارج دی۔ کتاب ئې لیکلے دے "وهابی او دیوبندی کا پہچان" او د خوارجو نښے ئې دغه کتاب کښي په دیوبندیانو چسپان کړے دی۔
علامت سره ذوالعلامت نه دے ضروري۔ پښتو کښي متل دے: هر سور ګیری شاه ګل نه وی۔ د شاه ګل سره ګیره وه۔ لیکن چه د چا سره ګیره وی۔ هغه له خو شاه ګل نه دے ضروري۔

"زاد مسلم وان صام وصلی وزعم انه مسلم": ۔اګر چه دده دعوٰی داده "زعم" ددعوی په معنی هم راځي: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا﴾ (سورة النساء: ٦٠)۔ شیخ الهندؒ دلته معنی کوی چه دعوٰی ئې دا ایمانداری ده۔
"اذاحدّث کذب": ۔ کله چه دے خبره کوی۔ نو "کذب" دروغ وائي۔ رشتیاء نه وائي نو دا دروغ چه دی نو ژبه ټهیك نه ده۔ ژبه کښي نقصان دے۔

"و اذا وعد اخلف": - کله چه وعده چاسره کوی نو خلاف کوی - د وعدے مسئله داده: چه یو تن عهد اوکړی د هغے خلاف به نه کوی - یو سړے چاسره وعده اوکړی - دده نیت داد ے چه داسے به کوم خو په هغه وخت کښی څه مسئله راغله - چه دے ئی اوس نه شی پوره کولے - نو حدیث د ابو داود اګر چه کمزورے دے - په هغے کښی دا راځی چه د چا نیت د وعدے پوره کولو وی - او چه وخت ئی راغے نو دده ضرورت وو - وعده ئی پوره نه کړے شوه - نو داد نفاق علامت نه دے - لکه مثلاً یو کس داسے اووئیل چه تقریرله به راځی د زیارت په ورځ ورسره وعده اوشوه - چه آو درځم به - او د زړه آواز ئی دا وو - چه درځم به که حالات برابر وی - او څه مسئله راته نه وی - اوس د زیارت په ورځ هغه بنده په هسپتال کښی پروت دے - نو ضرور دا وعده پوره کیدے نه شی - اوس هغه وائی یره منافق دے - وعده ئی سرته اونه رسوله - نو دا په منافقت کښی نه راځی - او که په هغه وخت کښی هغه کس تیم پاسے کولو - او د ژبے په سر وائی چه درځم به - بیا نه ځی نو داد منافق په علاماتو کښی بیا راځی - د وعدے تعلق د زړه سره دے - نو چه د وعدے خلاف کوی - نو دده زړه ګډوډ دے - قرآن کریم ددوی نښے صراحةً خودلے دی: ﴿ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴾ - (سورة التوبة : ۷۷) -

دریمه نښه داده: " و اذااؤتمن خان ": - چه دده سره امانت کیخودے شی - نو دے په کښی خیانت کوی - د ژبے او د زړه نه علاوه د نورو اندامونو غلط استعمال په خیانت کښی راځی - سترګو باندے ورته نیغ نیغ ګوری - چه شیٔ پردے دے - خو آخوا دیخوا کوم ئی - ددے نه دا معلومه شوه: چه د منافق ژبه خرابه، زړه خراب او اندامونه خراب او همیشه یا اکثر دغه کارونه ئی عادت دے - نو دا منافق سخا پچیٔ شوه - دسرنه واخله ترخپو چینجنه ده - دروغ به نه وائی - حوالو کښی به هم دروغ نه وائی "اذا حدث کذب "- په دروغه به نه وائی بخاری کښی دی - او امانت کښی به خیانت نه کوے - " المجالس بالامانة " چا درسره خبره امانت ایخی وی - او وائی داد ے په تا امانت وی - نو دغه امانت کښی به هم خیانت نه کوے -

او د یعقوب علیه السلام ځامنو چه یوسف علیه السلام سره خیانت کړے وو - دروغ ئی وئیلے وو - وعده خلافی ئی کړے ده - امانت کښی ئی خیانت کړیدے - نو صحیح قول داد ے: چه دوی پیغمبران نه دی جوړ شوے - علامه ابن قیمؒ لیکلے دی: منافقت په دوو پنډو اولاړ دے - یو دروغ او بل ریاء - (مدارج السالکین ۱ : ۳۵۸) -

دا هم د منافق نښه ده. چه د جماعت مونځ کښې حاضري نه کوي. او مونځ د خپل وخت نه روستو کوي خاص کر د مازیګر مونځ.

علامه قسطلانیؒ د امام بخاري د کتاب د "باب اثم من كذب على النبي ﷺ " د لاندې ۱ : ۲۷۹ باندې د ربعي بن حراش باره کښې لیکلې دي : قيل انه لم يكذب قط وحلف ان لا اضحك حتى يعلم اين مصيره فما ضحك الا عند موته.

ربعي بن حراش صحابي دے. ۱۰۱ هجري کښې وفات دے. حجاج بادشاه دده نه د ځامنو تپوس اوکړو کوم ځائې دي : فقال هما في البيت والله المستعان. حجاج دده د رشتیاء وئیلو په وجه معاف کړو. (مختصر تاريخ دمشق ٥ : ٣٠١).

او مسند احمد کښې روایت دے : چه چا ماشوم ته اوئیل راشه مم درکوم ورئې نه کړو : فهي كذبة. اسناده صحيح. (مسند احمد ١٥ : ٥٢٠).

حديث ٦ : وعن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ اربع من كن فيه .... الخ.

"**اربع من كن فيه. اربع خصال**": څلور خویونه دي "من كن فيه" هغه څوک چه په هغه کښې دا څلور خویونه وي.

دغه مخکښې درے نښو سره څلورم چه یو ځائې شو. خالص منافق جوړ شو.

ددے نښو وجه حصر په څلورو کښې داده : چه دا خلاف به یا په مالیات کښې وي. یا غیر مالیات کښې. که اول وو. د هغې مثال امانت کښې خیانت دے. او که غیرمالیات کښې وي. یا به د جنګ په وخت کښې وي. یا به د دوستانې په زمانه کښې وي. که اول وو یعنې حالت جنګ وي. علمي یا دنیوي خبره باندې بحث وي. کنځل به کوي. او د دوستانې حالت کښې به ئې خبره کلکه کړې وي. نو بیا وعده خلافي کوي. او "اذا وعد" کښې د مستقبل او "اذا حدث" کښې ئې د حال بیان دے. او "اذا خاصم فجر" دا په "اذا حدث كذب" کښې داخلیدے شي.

یا داسې اووایه چه د منافق قول، فعل او نیت درېواړه خراب دي.

علامه ابن تیمیهؒ تحقیق دادے : کیدے شي. چه په مومن کښې خصلت د نفاق بلکه خصلت د کفرهم موندلے کیدے شي.

قرآن کریم کښې د "اوفوا بالعهد" حکم دے. د اسماعيل عليه السلام خصوصیت قرآن کریم کښې دا ذکر دے : ﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولاً نَّبِيّاً﴾.
(سورة مريم : ٥٤).

زمونږ پخوانی پښتانه مشران په دے یاد دی۔ چه لوظ به ئی یو ځل اوکړو۔ که دنیا به په بله واوړیده خو هغه به وئیل چه ما ژبه کړے ده۔ او دا اوس بعضے وائی چه ژبه خو د غویی هم وی۔ چه لس روپے ملاویږی۔ نو ژبه ئی خکته په ډیران غورځولے وی۔

زمونږ نبی ﷺ باره کښی هم راځی۔ چه درے ورځے یو تن ته انتظار کړیدے۔ ضروریات به ئی پوره کړل۔ او بیا به هلته په انتظار اولاړ وو۔ هغه سری وئیلے وو چه ځه به درځم۔ او تفسیر قرطبی کښی د ﴿إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ﴾ آیت ۵۴ د لاندے تفسیر کښی لیکلے دی۔ او داد بعثت نه مخکښی واقعه ده۔ عبد الله بن ابی الحمساء ئی خپله ذکر کوی۔ وائی چه لاړم دومره ئی راته اووئیل "یا فتیٰ لقد شققت علیّ انا ههنا منذ ثلاث انتظرك۔ (ابوداود)۔

عون بن سمعان شیبانی به فرمائیل : لان اموت قائمًا عطشًا احب الی من ان اکون خلافًا لموعد۔

(تاریخ بغداد ۳ : ۱٤۳)۔

که د چا وعده پوره کول هیر شی، یاددهانی ورکول پکار دی۔

میں یاد دلاتا ہوں شکایت نہیں کرتا　　　بھولے ہوئے وعدے پہ تنقید کا حق ہے

"واذا خاصم فجر": ۔ کوم انسان چه دنیوی او علمی بحث کښی، زبانی یا تحریری مناظره کښی چه کله خصم ته بدے ردے او کنځلے کوی۔ دوی کښی هم د منافقت بوئی راغلے دے۔

مولانا عبدالحی لکهنوی ؒ لیکلے دی : ومن عادتهم الخبیثة انهم کلما ناظروا واحدا من الافاضل فی مسئلة من المسائل توجهوا الی جرحه بافعاله الذاتیة وبحثوا عن اعماله العرضیة، وخلطوا الف کذبات بصدق واحد۔

(الرفع والتکمیل : ۹)۔

یعنی د بعض غیر مقلدینو یو پلیت خوئی دا هم دے۔ چه کله هم دوی په یوه مسئله کښی یو فضیلة الشیخ سره مناظره کوی۔ د هغه جرح ته د هغه په ذاتی کارونو متوجه شی۔ او د هغه عرضی اعمالو سره بحث شروع کړی۔ او زر دروغ د یو رشتیاء سره ګډ وډ کړی۔

فائده : دنیوی یا علمی بحث کښی کنځلے، بدے ردے د منافقت نښے نښانے دی۔ چه اوئے ګورے۔ نو دے حقیقت ته به اورسے۔ چه ده خو په الزاماتو لګولو، دروغو او کنځلو کښی ګویا پی ایچ ډی او ډکتوراة کړے ده۔

نبی ﷺ فرمائی : واذا تسابت امتی سقطت من عین الله۔

حدیث ۷ : وعن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ مثل المنافق کالشاة العائرة .... الخ۔

(ترجمه) د منافق مثال په شان د هغے گډے او بیزے دے۔ چه وارئی راوړے وی (غویمه وی). د دوو کندکو مینځ کښی گډه وډه ځی راځی۔

د حدیث مطلب دے : چه منافق کښی استقامت نه وی بلکه : ﴿ كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُم مَّشَوْا فِيهِ وَإِذَا أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا ﴾ (سورة البقرة : ۲۰).

" عار یعیر ": - د مذکر په تلاش کښی تلل راتلل۔

علامه ابن قیمؒ لیکلے دی: احدهم كالشاة العائرة بين الغنمين تيعر الى هذه مرة والى هذه مرة ولا تستقر مع احدى الفئتين فهم واقفون بين الجمعين ينظرون ايهم اقوى واعز قبيلا.... فان كان لهم فتح من الله قالوا الم نكن معكم، وان كان لاعداء الكتاب والسنة من النصرة نصيب فقالوا ان عقد الأخاء بيننا محكم وان النسب بيننا قريب.
(مدارج السالكين ۱ : ۳۵۲)

عائره اکثر هغه اوښه کښی استعمالیږی۔ چه دا غواړی۔ چه اوښ راسره جفتی اوکړی۔ دا ئی بیزه کښی استعمال هم کیدے شی۔ چه کله د فس تقاضه کوی۔

دغسے خلقو ته په قرآن کښی مذبذب وئیلے شویدے۔ داد حروف تذبذب د هغوی د عقیدے په تذبذب باندے دلالت کوی۔

د سیدنا مالك بن دینارؒ د قول مطابق داسے منافقان ډیر زیات دی۔ هغه به فرمائیل : اقسم لكم لو نبت للمنافقين أذناب ما وجد المومنون ارضًا يمشون عليها۔ (حلية الاولياء ۲ : ۲۷٦).

حافظ ابن کثیرؒ ددے منافق مثال ورکړیدے د درے کسانو سره۔ یو په کښی د نهر نه بغیر د شك نه پورے لاړ۔ او دویم خه په یقین سره د نهر دے غاړے ته کیناستلو. او وائی نه پورے اوځم۔ دریم اوبو کښی چه کله گډ شو۔ کله دیخوا او کله آخوا۔ اوبو کښی ځی راځی۔ دے کشمکش کښی په ډونگو اوبو کښی غرق شی۔

گوری چه کومه ډله مالداره ده۔ او خربه ده هلته ورځی۔ دا رکابی مذهب والا وائی چه چرته خه هلته شپه۔ دے ته موسمی بټیر او د وتر زیرکه وئیلے کیږی۔ داسے سړے ډیر بے اعتماده وی۔

قرآن کښی د نقض عهد وجوهاتو کښی یو وجه ذکر کوی : ﴿ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ﴾.
(سورة النحل : ۹۲)

چه کومه ډله خربه، دنیوی اعتبار سره زیاته فائده ناکه وی۔ او هلته خوراکونه مزیدار او ترسخون وی۔

د هغوی ملګرے شی ـ حدیث به راشی ان شاء الله ـ دداسے سړی مثال ئی ورکړیدے : کالشاذة، والقاصیة والناحیة ـ

کومه ګډه چه د کنډك نه جدا ځرېږی ـ یو وجه ئی داده : چه طبعی نفرت د وجے د نورو هم جنسو سره نه لګی ـ یا د غفلت او د بے پرواهی د وجے د ملګرو نه جدا شی ـ یا د خه ځرا و د خیتے ډکولو په بنیاد جدا شی ـ داسے ګډه اکثر شرمخ ماتوی ـ

دغسے منافقانو کښی بعضے د لا پرواهی د وجے جدا شی ـ څوك طبعی نفرت د خپل تنظیم او جماعت سره لری ـ او بعضے صرف معاشی طور کمزورے دے ـ د هغے دپاره آخوا دیخوا کیږی ـ د دریو وارو نتیجه یو داوی ـ چه د شیطان په دام کښی به اخته کیږی ـ

په دنیا کښی اصل یو نظریه باندے ثبات دے ـ دا ثابت قدم انسان د ذلت رزق نه غواړی بلکه وائی :

اے طائر لاہوتی اس رزق سے موت اچھی
جس رزق سے آتی ہو پرواز میں کوتاہی

داسے وئیل پکار دی :

لکه اونه مستقیم په خپل مقام یم
که خزان راباندے راشی که بهار

د نختر په شان په خپلو متوزور کړه
د انګور په شان په بل غوړیګه مه

د منافق مثال د لاوارث پانړو غوندے دے ـ چه چا دغه پانړے راوچتے کړے ـ د هغه شوے ـ لکه د پاتلئی په غاړه پانړے ـ

علامه طیبیؒ په الکاشف عن حقائق السنن کښی لیکلے دی : چه ددے حدیث نه معلومه شوه ـ چه منافق کښی ماده د رجولیت ختمه ده ـ

او فتح اله شرح کښی دی : تبعًا لهواه وایثارًا لشهواته المانعة له من الثبوت من احدی الفریقین ـ

دے حدیث کښی یو تشبیه مرکب غوندے حالت ذکر دے ـ دا کوته پیسے دی لګی نه ـ هسے په دے خپل جیب مه درنوه ـ

یومًا یمان اذا لاقیت ذایم　　　　واذا لقیت معدیًا فعدنان

الفصل الثانی

حدیث ۸ : عن صفوان بن عسال قال قال یهودی لصاحبه اذهب بنا .....الخ۔

حالات د صفوان بن عسال رضی الله عنه: دولس غزواتو کښې شرکت کړیدے۔ او شل روایات ترے نقل دی۔ او کوفه کښې رهائش وو۔ او ددوی نه ئې حدیث حسابیږی۔ اصل ئې تعلق د بنو مراد قبیلے سره دے۔ ځکه ورته صفوان مرادی هم وائی ظاهره داده : چه دا روایت ئې په طریقے د حکایت نقل کړیدے۔ نه په طریقے د رؤیت سره۔ اگر چه نفس احتمال د رؤیت په کښې هم کیدے شی ۔صفوان بن عسال المرادی فرمائی : اتیت النبی ﷺ وهو متکئی فی المسجد علی برد له احمر فقلت یا رسول الله انی جئت اطلب العلم قال مرحبًا بطالب العلم ان طالب العلم لتحفه الملائکة باجنحتها۔

(اسدالغابة فی معرفة الصحابة لابن الاثیر ۲ : ۲٤)

"اذهب بنا ":۔ قاضی شمس الدینؒ خپله شرح کښې معنی لیکی : چلیں ہم اس نبی کی طرف۔

"بنا " کښې دا " باء " د مصابحة یا : تعدئیے ' ده۔ یو یهودی خپل ملگری ته اووئیل ، څه چه ورشو مونږه دے پیغمبر له ۔ " اذهب بنا " " با " په معنی د " مع " ده۔ ای کن رفیقی لناتیه ۔

"الی هذا النبی ﷺ":۔ دلالت کوی چه د زړه نه ئې منی۔ او د حسد د وجے نه انکار کوی۔ قرآن کښې ددے نه په: ﴿ بغیًا بینهم ﴾ سره تعبیر کړیدے۔ دا بل ملگرے ورته وائی چه نبی ورته مه وایه۔ کنی۔ **" لکان له اربعُ اعین ":۔** داد ډیرے خوشحالئی نه کنایه ده۔ د ډیرے خوشحالئی نه د انسان سترگے اوپرقیږی۔ لکه د غم په حالت کښې سینه تنگه شی۔ او په خوشحالئی کښې په جامو کښې نه ځائیږی۔ او په غم کښې وائی : دنیا راته تیاره تیاره ښکاره کیږی۔ دلته مرآد دادے : چه د خوشحالی نه پس به پرے خوشحالی راشی۔ او تثنیه نه ده مراد۔ استمرار او دوام مراد دے۔

دویم مطلب : کنایه ده د انتظار نه۔ چه کله انسان انتظار د چا کوی۔ نو سترگے د هغه طرف ته تکئی کړی۔ مطلب دا شو که ورته نبی وائی۔ د هغه به طمع پیدا شی۔ او انتظار به کوی چه زما تابعداری به کوی۔ او زما په نبوت به ایمان راوړی۔

اصل کښې دے اهل کتابو به خلقوته وئیل : چه دے د امیانو پیغمبر دے۔ او زمونږ نه دے۔ لکه په

واقعه د ابن صیاد کښې راځی۔ چه ده زمونږ پیغمبر ته وئیلے وو: انك رسول الا میین۔
دوی د نبی نه تپوسونه کوی۔ او انتهرویو ترے اخلی۔ د امتحان په طور۔

" عن ایات بینت " : **د آیت تعریف** : د آیت اطلاق په هرمحسوس او معقول کیږی۔ چه د فکر او سوچ په اعتبار په کښې په معرفت کښې تفاوت راځی۔ او آیت هغے جملے ته هم وئیلے شی۔ چه په حکم شرعی دلالت کوی۔ او متصل کلام کښې چه لفظی فصل راشی۔ او په معجزه ئی هم اطلاق کیږی۔ **" بینات "** : چه په نبوت ئی دلالت واضح وی۔

د آیات بینات مصداق

دے کښې درے اقوال دی: (۱) اول قول: ددے نه وصایا مراد دی۔ چه قرآن کښې ئی ذکر دے:
﴿قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئاً وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلاَدَكُم مِّنْ إمْلاَقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلاَ تَقْرَبُواْ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ (سورة الانعام: ۱۵۱)۔
یا نور داسے غوندے وصیتونه۔ (۲) دویم قول: ددے نه معجزات د موسیٰ علیه السلام مراد دی۔ چه سورة بنی اسرائیل او سورة نمل کښې اجمالاً ذکر دی۔ او سورة الاعراف کښې ئی تفصیل بیان شوید ے۔ قرآن کریم کښې دی: ﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ﴾۔ (سورة بنی اسرائیل: ۱۰۱)۔ اوسورة نمل آیت ۱۲ کښې دی: ﴿فِي تِسْعِ آيَاتٍ إِلَى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ﴾۔
سورة الاعراف ۱۳۰ کښې دی: ﴿وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَونَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّن الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ﴾۔ او بیا ئی ذکرکوی: ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُّفَصَّلاَتٍ﴾۔ او ورسره ید بیضاء او عصائے موسیٰ حساب کړه۔
(۳) دریم قول: ددے نه احکامات مراد دی۔ چه دے حدیث کښې ئی ذکر دے۔
سوال: چه کله د آیات بینات نه معجزات مراد دی۔ نو دے حدیث کښې هغه ولے ذکر نه شو۔
جواب: دادے چه ستاسو فائده د معجزاتو په نسبت په احکاماتو کښې زیاته ده۔ لکه د:

﴿یَسْأَلُونَكَ مَاذَا یُنفِقُونَ﴾ ـ جواب کښې ورته مصارف اوخودل چه ﴿قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَیْرٍ فَلِلْوَالِدَیْنِ وَالْأَقْرَبِینَ وَالْیَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِینِ وَابْنِ السَّبِیلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَیْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِیمٌ﴾ ـ
(سورة البقرة : ۲۱۵) ـ چه د مصارفو پیژندل ډیراهم دی ـ داد اسلوب الحکیم ښکلے طرز دے ـ

دویم جواب : آیات بینات ئی ورته ذکرکړے دی ـ خو د شهرت او د اختصار په خاطر راوی د هغے تذکره پریخودے ده ـ

"ولا تمشوا ببریء": من الاثم ' او بأدلته د تعدئے دپاره دے .ای لا تسعوا ولا تتکلموا بسوء فیمن لیس له ذنب.
امام طبرانی ؒ د عائشے رضی الله عنها روایت نقل کړیدے : چه د حکومت نه مظلوم خلاصول د پل صراط نه په آسانۍ پورے وتلو له ډیر مددګار دے ـ
او دے التهٔ بے ګناه فوجیانو ته حواله کوی ـ دا لوئی ظلم دے ـ او چه مقصد ډ دادے : چه هغوی به ئی مړکړی ـ اوځه به ترے په آسانه خلاص شم ـ لکه دغسے ظلمونه په سپینه جامه کښې بعض بدبخت کوی ـ او ځان له آخرت بربادوی ـ الله دے ورته هدایت نصیب کړی ـ

"ولا تاکلوا الربوٰا": ـ سود به نه خورئی ـ داد یهودیانو عادت قرآن ذکرکړیدے : ﴿وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا﴾.
(سورة النساء : ۱۶۱)

نبی ﷺ په خپله تاریخی خطبه حجة الوداع کښې اعلان کړیدے : الا ان کل ربوٰا موضوع وان اول ربوٰا ضعه من ربانا ربوٰ عباس بن عبدالمطلب فانه موضوع کله ـ
حدیث کښې راځی : ربوٰ او شبه ربوٰ دواړه پریږده ـ
معمر وائی : چه ما د خپلو مشرانو نه اوریدلے دی ـ چه د سودخور مال به په څلویښت کاله کښې دننه دننه بے برکته کیږی ـ او ولے به نه وی قرآن کښې صفا راځی : ﴿یَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَیُرْبِی الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا یُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِیمٍ﴾ ـ (سورة البقرة : ۲۷۶) ـ
او د سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه فرمان دے چه نبی ﷺ فرمائی : ان الربا وان کثر فان عاقبته تصیرالی قُلٍ ـ سیر سید احمد خان خپل تفسیر کښې تاویلونه او تحریفونه کوی ـ سود ته لارے پرانځی ـ

"ولا تقذفوا محصنة": ـ په پاك لمنه ښځه به بدنامه نه لګوے ـ تفسیر قرطبی کښې مفسر لیکلے

اجمع العلماء علی ان حکم المحصنین فی القذف کحکم المحصنات قیاسًا واستدلالًا۔
دی: اجمع العلماء علی ان حکم المحصنین فی القذف کحکم المحصنات قیاسًا واستدلالًا۔
د کافرو ښځو قذف د کبائرو نه نه دے۔ او که ښځه ذمیه وی۔ نو قذف ئی د صغائرو نه دے۔ حد نه واجبوی۔ او د مسلمانے وینزے په قذف کښی تعذیر دے۔ او حد نشته۔

معلومه شوه: چه پاك او بے گناه انسان بدناموول که سړے وی۔ او که ښځه، شنیع جرم دے۔
امام نووی په المنهاج کښی لیکلے دی: چه شرع کښی احصان له پنځه قسمه شرائط دی۔ (۱): عفت (۲): اسلام (۳): نکاح (۴): تزویج (۵): او حریت۔

"یوم الزحف": ـ عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمائی: مونږه یو لښکر کښی وو۔ چه نبی ﷺ هغه لښکر لیږلے وو: فحاص الناس حیصة فانهزمنا فقلنا یا رسول الله نحن الفرارون قال بل انتم العکارون (ابوداود)۔ لیکن دا حکم په هرجنګ کښی دے۔ ځکه چه "العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب۔
قرآن کښی دوه استثنائی صورتونه موجود دی۔ ﴿وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاء بِغَضَبٍ مِّنَ اللهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴾۔ (سورة الانفال: ۱۶)۔
ددغے آیت د لاندے حافظ ابن کثیر لیکی: لوکان فی سریة ففر الی امیره او الی الامام الاعظم دخل فی هذه الرخصة۔

"وعلیکم خاصة الیهود ان لا تعدوا فی السبت": ـ دلته دوه ترکیبه دی: (۱) اول ترکیب: "ان لا تعدوا" کښی ان مصدریه روستو فعل په تاویل د مصدر سره ګرځی۔ "عدم اعتدائکم" مبتداء ده۔ او "علیکم" ظرف مستقر ورله خبر مقدم دے۔
(۲) دویم ترکیب: "علیکم" اسم فعل بمعنی "الزموا ان لا تعدوا" بتاویل مصدر مفعول به ده۔ او دواړو صورتونو کښی "خاصة الیهود" دا جمله معترضه ده۔

"خاصة الیهود": ـ "اخص" فعل ترے مخکښی مخذوف دے۔ او "خاصة" مفعول مطلق دے۔ او "یهود" مفعول به په ترکیب کښی واقع شوید ے۔
دویم: "الیهود" منصوب بناء بر اختصاص دے۔ د "اعنی" فعل مقدر دپاره مفعول به ده۔ او "خاصة الیهود" ترے حال واقع شوید ے۔

"اعتداء فی السبت": ـ ښکار د مهیانو کښی حیله بازی کول۔

د امتحان اغستلو نه پس دے حقیقت ته اورسیدل ۔ چه رښتوني پیغمبر دے۔

"فقبلا يديه ورجليه ": ۔ په دے دواړه مسلمانان نه دي جوړ شوي ۔ ځکه چه ددوي د اعتقاد صراحت دلته نشته۔

نوټ: حدیثو کښې د نهو په ځائي د لسو ذکراوشو ۔ یا خودا خصوصي د یهودیانو دپاره خبره ده ۔ ځکه چه " عليكم بخاصة اليهود " ورسره شته ۔ یا د سوال نه په جواب کښې زیادت صحیح دے ۔ لکه حدیث کښې راځي : الطهور ماء ه والحل ميتته ۔ حالانکه تپوس صرف د اوبو شوید ے۔

بعض محدثین وائي : چه ددوي دا گواهي او لاس ، خپے ښکلول په پټه کړے دي ۔ او که څوك اووائي : چه ددوي د قول اود عمل په مینځ کښې تعارض دے ۔ نو د ملحدینو او د بے دینه خلقو په کلام کښې که حقیقي تعارض هم راشي ۔ نو پرواه نه کوي ۔ ددوي دا عادت دے ۔ چه کله څه وائي او کله څه ؟ ۔ او کله څه کوي او کله څه ؟ ۔

نوټ : علامه وحید الزمان د ابن ماجه په شرح رفع العجاجه کښې ۳ : ۲۷۶ باندے یونامناسبه خبره لیکلے ده ۔ چه د خپود ښکلولو جواز چه څوك د پیغمبر سره خاص گڼړي ۔ په دے هیڅ دلیل نشته ۔ او د ډیروغټو خلقو نه دا نقل دي ۔ چه هغوي د بزرگانو لاس او خپے ښکل کړے دي ۔ نو دا مسئله ترینه معلومه شوه ۔ چه د صاحب فضیلت او د صاحب تقوی لاس او خپے ښکلول صحیح دي ۔ په دے کښې هیڅ قباحت نشته ۔ په دے شرط چه دا ښکلول د سجدے په طور نه وي ۔ که د سجدے سره مشابهت خوري ۔ نو بیا حرام دي ۔ انتهی ۔

دوي له د عامو بزرگانو د خپود ښکلولو قول نه دے پکار ۔ دغسے په کتاب المناسك ۲ : ۹۵ باندے ئې لیکلے دي : چه د یو حدیث نه دا ثابته ده ۔ چه صحابو د نبي ﷺ لاس او خپے ښکل کړے دي ۔ حالانکه د خپو ښکلول د صحابو نه ثابت نه دي ۔

والله اعلم خارجي او نفس الامري دنیا کښې به ددے صورت څه وي ؟ ۔ چه هم خپے ښکل شي ۔ او هم په کښې د سجدے سره مشابهت رانه شي ۔ دا نه شي کیدے ۔ او دلیل شرعي ئې نه دے ذکر کړے ۔ نو تحقیق ئې ډیر مزیدار نه دے ۔

مسئله : د لاس ، تندي او سر ښکلول ثابت دي ۔ حافظ ابن کثیرؒ د سورة النحل آیت ۱۰۶ : ﴿ إِلَّا مَنْ

أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ ﴾ - په تشریح کښې واقعه نقل کړې ده : چه کله عبدالله بن حذافه السهمي او دهغه ملګرې د روم بادشاه ګرفتار کړل. دے امير عبدالله له ئې اول ترغيب ورکړو. چه حکومت کښې دے شريك جوړوم. او لور درله په نکاح درکوم. خو عيسائې شه. انکار ئې اوکړو. بيا ئې د ترهيب لار استعمال کړه. په دے کښې هم د روم بادشاه ناکام شو. ورته ئې اووئيل سر راله ښکل کړه. بيا دے نر او بهادر امير انکار اوکړو. خو چه کله ئې ورته اووئيل. ملګرې درله هم پرېږدم. خو زما سر ښکل کړه. غاړه ئې د ملګرو دپاره کيخودله.

حافظ ابن کثيرؒ ددے اميرصاحب د بهادرئې جملے نقل کړے دي : لو اعطيتني جميع ما تملك و جميع ما تملكه العرب على ان ارجع عن دين محمد ﷺ طرفة عين ما فعلتُ.

الحاصل چه کله دوي واپس شو. نو سيدنا عمر رضي الله عنه اعلان اوکړو : حق على كل مسلم ان يقبل رأس عبدالله بن حذافه - وانا ابدأ فقام فقبل راسه.

معلومه شوه : چه بعض مخصوص حالاتوکښې د سر ښکلولو کښې څه حرج نشته.

زمونږ نبي ﷺ د يو مزدورکار لاس ښکل کړيدے : سعد بن معاذ الانصاري وباسناد مجهول عن الحسن عن انس ان النبي ﷺ لما رجع من تبوك استقبله سعدبن معاذ الانصاري فقال ماهذا الذي ارى بيدك ؟ قال من اثر المرّ والمسحاة اضرب وانفق على عيالي ' فقبل النبي ﷺ يده. (الاصابة مع الاستيعاب ٢ : ٣٨).

علامه آلوسيؒ د سورة النساء آيت : ٨٦ : ﴿ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّواْ بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴾ . د لاندے تفسيرروح المعاني کښې ليکلے دي : چه د صلاح، علم او د شرافت د وجے سيدنا ابوعبيدة رضي الله عنه د سيدنا عمر رضي الله عنه لاس ښکل کړيدے : بان ابا عبيدة قبل يد عمر.

د خپو ښکلول صحيح نه دي.

داخو ثابته ده : چه د امام بخاريؒ نه خپل شاګرد امام مسلمؒ اجازت غوښتلے دے : دعني اقبل رجليك يا استاذ الاستاذين ويا سندالمحدثين وياطبيب الحديث في علله.

ما پرېږده چه دواړه خپے درله ښکل کړم. ليکن دا نه ده ثابته چه امام بخاريؒ ورله ددے اجازت ورکړے وي. المختصر که څوك د خپل شيخ يا پير لاس ښکل کړي. نو داسے کس باندے به صرف په دے وجه د بدعتي فتویٰ نه لګوے. د احتياط مقام ځان له دے.

ماپه خپل طالبعلمئی کښې شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ او مولانا ابوالحسن علی ندویؒ لیدلے دی. چه هغوی به په دے ډیرد خفګان اظهار کوو. بلکه د مصافحے وخت کښې به شیخ الحدیثؒ سره یو کس اولاړ وو. چه څوك به لړ راټیټدلو. نو منع کولو به ئی.

شرکی عقیدے والا بعضے پیران خوپه سجده کولو هم څه نه وائی. بلکه نورهم خوشحاله شی.

صحابه کرامو د نبی ﷺ نه تپوس کړے وو. چه د مصافحے په وخت کښې یو بل ته انحناء کوی "اینحنی له قال لا". اوهم په دغه کښې د دواړو دپاره سلامتیا ده.

ددے روایت نه به جواب شیخ القرآن علامه محمد طاهرؒ داسے کوو: چه دے ځائی کښې فائده ډیره د نبی ﷺ په خاموشیء کښې ده. چه خلقو ته ښکاره کړی. چه ددوی دومره محبت، عقیدت او د زړه نه منلو ته اوګوره. او انکار کولو ته ئی اوګوره چه: ﴿ حَسَداً مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم ﴾ (سورة البقرة: ۱۰۹).

نه علاوه بل څه وجه نه لری. (د نبی دپاره دا مسئله ذوجهتین غوندے شوه).

ددے حدیث په تشریح کښې حافظ ابن کثیرؒ د سورة بنی اسرائیل د آیت ۱۰۱: ﴿ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ﴾ د لاندے لیکلے دی: وهو حدیث مشکل وعبدالله بن سلمة فی حفظه شیء وقد تکلموا فیه ولعله اشتبه علیه التسع الآیات بالعشر الکلمات فانها وصایا فی التوراة لا تعلق لها بقیام الحجة علی فرعون. والله اعلم.

کشف المناهج والتناقیح کښې دی: فاما عبدالله بن سلمة المرادی ویقال الهمدانی، وکنیته ابوالعالیة فانه من کبار اصحاب علی ـ چه عبدالله بن سلمه المرادی ته همدانی وئیلے کیږی. کنیت ئی ابوالعالی دے. د علی رضی الله عنه په خصوصی ملګروکښې حسابیږی.

علامه البانی دا روایت په ضعیف ترمذی او ضعیف ابن ماجه کښې ذکرکړیدے.

"نشهد انك نبی": - چه ګواهی ئی ورکړه. نو څه پاتے شو؟ لیکن دا حقیقی شهادت نه دے معرفت غیر اختیاری دے. قرآن کښې دی: ﴿ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ وَإِنَّ فَرِيقاً مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾. (سورة البقرة: ۱٤٦).

سوال: ددوی په کلام کښې تعارض دے. کله وائی "لا تقل نبی" کنی دوه سترګے به ئی د خوشحالیء نه څلورشی. او دلته وائی "نشهد انك نبی".

واضحه دوی: چه تناقض په اقوالو، او تضاد په افعالو کښې استعمالیږی: یقال الفعلان متضادان ولا یقال متناقضان.

(الفروق اللغویة: ٥٦)

جواب: خپله شرحه کښې قاضی شمس الدین داسے جواب ورکوی: چه د بے حیاء انسان هیڅ پرواه نه وی۔ چه زما په کلام کښې تعارض دے۔ او دا یو حقیقت دے۔ چه د داسے غوندے خلقو خبرے هم دغسے وی۔

"فما یمنعکم ان تتبعونی": ۔ څه څیز تاسو منع کوی چه زما تابعداری نه کوے۔ او د زړه آواز مو تابعداری ده۔ دوی د دروغو بهانه جوړه کړه۔ چه د داود علیه السلام دعا داده: چه زما په اولاد کښې دے همیشه نبی وی۔ او ته د هغوی د خاندان سره تعلق نه ساتے۔ دائی دروغ وئیلے دی د نبی تذکره او صفات خو په آسمانی کتابونو کښې شته۔ قرآن کښې دی: ﴿مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ﴾

(سورة الاعراف: ١٥٧)۔ ددے خلقو عادت دے په انبیاء افتراء کول۔

دویمه وجه ئی دا بیان کړه: چه مونږه یریږو۔ دا یهودیان به مونږه اووژنی که ستاسو تابعداری اوکړو۔ دائی هم دروغ وئیلے دی۔ د عبد الله بن سلام رضی الله عنه غوندے شخصیت چه اسلام قبول کړو۔ دوی هغه ته څه تکلیف رسولے دے۔ پاتے شو بیا وژل۔ خوئے بدرا بهانه بسیار۔

لکه دا ددوی دروغ وو۔ ﴿إِنَّ اللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَا أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ﴾۔

(سورة آل عمران: ١٨٣) ۔ حالانکه داسے څه خبره د عیسیٰ علیه السلام او زمونږ د نبی ﷺ په باره کښې هډو شوے نه ده۔ او داود علیه السلام دوی ته تورات کښې دا ذکر کړیدے چه نبی آخرالزمان به راځی۔ او د هغه دین د ټولو ادیانو او کتابونو دپاره ناسخ دے۔ دا د دوی دروغ دی۔

ترا دل نه چاہے تو بہانے ہزار ہیں

"رواه الترمذی وابوداود": ۔ خطاء شویدے۔ ابوداود کښې دا روایت نشته۔ کله کله د ابوداود په حواله صاحب مشکوۃ خطاء کیږی۔

حدیث ٩ : وعن انس قال قال رسول الله ﷺ ثلث من اصل الایمان الکف عمن ...الخ-

په دے روایت کښې یزید بن ابی یشبه مجهول دے۔

درے واړه خبرے د اصل ایمان سره تعلق ساتی۔ ځان بچ کړه د وژلو د هغه چانه چه لا اله الا الله وائی۔

او د اهل سنت دا عقیده ده. چه یو تن به په گناه نه کافر کوے. اګرچه گناه کبیره ولے نه وی. رد دے په خوارجو هغوی په گناه کافر کوی. او رد دے په معتزلو چه هغوی ئی د اسلام نه اوباسی. خو دا هم یو حقیقت دے. چه په کفر به ئی کافر کوے. او په شرك به ئی مشرك کوو. که دچا نه داسے امور صدور نه راغلل. چه د ایمان سره ئی منافات وی. بیا به ئی کافر کوے. چه په کښی د دین د ضروریاتو نه انکار راځی. د بعضے خلقو دا خیال دے. چه کلمه ئی وئیلے ده. اوس که دد ے منافی هره عقیده ساتی کافر به ورته نه وائی. او اعتراض کوی که مولوی لوگوں کو کافر بناتے ہیں. حالانکه مولوی لوگوں کو کافر بناتے ہیں. کافر دوی خپله جوړ شی. په دے کتابونو کښی کتاب الارتداد هم دغه مقصد باندے دے. چه بعضے کارونو او خبرو سره مسلمان مرتد گرځی. دوی ترے د مُلا بهادر اودس جوړ کړیدے. چه په هیڅ ځیز نه ماتیږی. دغسے د بعضے خلقو په ایمان په کفر په عقائدو اعمالو هم نه بربادیږی.

"والجهاد ماض": دا به عقیده ساتی چه جهاد به جاری وی. "ماض" خبر د مبتداء مخذوف دے. "ای هو ماض". ابوداود کښی روایت دے نمبر: ۲۵۳۲: الجهاد واجب علیکم مع کل امیر برًا کان او فاجرًا.

"ولا عدل عادل": اګرچه غنیمتونه ډیرزیات وی. ځکه د جهاد مقصد اعلاء کلمة الله دے.

"آخر هذه الامة": امة اجابت مراد دے. عیسیٰ علیه السلام او د امام مهدی تر وخته به جهاد جاری وی. او د دجال د قتل نه پس به د جهاد انتها راځی. بعض کم عقلو جهاد د مهدی راتلو سره مشروط کړځولے دے. شیخ عبید الله سندهی خپل تفسیر کښی دغه شکایت کړیدے.

علامه وحید الزمان د ۱۲۷۳ جنگ آزادی ته جهاد نه وائی لیکی: وکذا لا یجوز اثارة الفتنة للمسلمین القاطنین تحت امان الکفار المستامنین فی بلادهم فالفتنة التی وقعت ۱۲۷۳ فی بلاد الهند ما کانت جهادا شرعیًا.

آخر کښی بیا لیکی: ومثل هذه الفتن لا یسمیٰ جهادا بل فسادا یوجب الاثم والله لا یحب الفساد.

(نزل الابرار ۲: ۳۱۲). حالانکه ۱۸۵۷ کښی انګریز سره دغه مقابله جهاد ده.

د بخاری روایت کښی راځی: الخیل معقود فی نواصیها الخیر الی یوم القیامة.

آسونه د جهاد یو آله ده دد ے ډیر فضائل راغلے دی.

سوال: د الکبائر او د نفاق بحث کښی د جهاد روایت ولے راوړیدے؟

جواب: علامه طیبی الکاشف کښی لیکی: چه منافق ته دا شبه راځی چه اسلام ختم شو. او د

ختمیدو دے۔ دا روایت ئی راوړو۔ چه نه اسلام او جهاد به تر آخره وی۔ نه اسلام د ختمیدو دے۔ او نه د اسلام ساتونکے محافظ چه جهاد دے څوك ختمولے شی۔

اوملا علی قاریؒ هم لیکی: چه د باب سره ئی مناسبت داد ے: چه منافق او بعضے کافر زعم کوی چه یو څو ورځے پس به دولت اسلامی ختمیږی۔ او مخکښی حدیث د باب سره هم مربوط دے۔ چه دے یهودیانو په "تشهد انك نبی" کښی د منافقت نه کار واغستلو۔ اوجهاد فرض کفایه وی۔ او کله فرض عین وی۔ نود جهاد پریخودل کبیره ده۔ په کبائرو بحث کښی ئی راوړو۔ د ظالم بادشاه ظلم او عادل عدل، یا د غنیمت ډیروالے د جهاد نه چرته مانع نه شی جوړیدے۔

حدیث ۱۰: وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذا زنی العبد خرج منه الایمان..الخ۔

زنا یو قبیح عمل دے۔ ددے درے بد آثار په دنیا کښی ښکاره دی: (۱) د مخ مالګه ئی ختمه وی۔ مخ ئی چوپلے ګنډیری ښکاری۔ (۲) فقر و احتیاج ورته عارض شی۔ که نور څه نه وی۔ ددغے کنجرو د خاطره 'تواضع' منت او زاری به کوی۔ (۳) او د عمر برکت ئی ختمیږی۔ او په آخرت کښی ورته الله غصه دے د ناکاره حساب سره به مخامخ کیږی۔ زناګانے نسب ختموی۔ "لا یزنی الزانی حین یزنی" حدیث کښی به تاویل ضروری وی۔ یو دا چه د ایمان رنړا ترے اوځی۔ ایمان ترے مکمل نه ځی۔ چه کله زنا حرامه ګنړی۔ بیا ورله راځی۔

"فکان فوق راسه کالظلة":۔ قرآن کښی راځی: ﴿ وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ ﴾۔(سورة الاعراف: ۱۷۱)۔ دسر دپاره د چهتری پشان ئی حساب کړه۔ چهترئی بره ده۔ ایمان ترے بره او باهر لاړشی۔ چه د دغه پلیت کار نه فارغ شی۔ ایمان ورته بیا راشی۔ چه کله ترے وقتی طور ایمان وتلے دے۔ نو د خوارجو او د معتزلو دلیل نیول ترے صحیح نه دی۔ مثال ئی داسے دے: لکه روغ انسان چه سترګے ئی نظر لری۔ هر څه ورته په نظر راځی۔ او سترګے عارضی بندے کړی۔ لږ وخت له ورته څه په نظر نه راځی۔ چه سترګے کھولاؤ کړی۔ بیا ورته هر څه په نظر راځی۔

دویم جواب: دا په زجر، رټنه او زورنه باندے حمل کړه۔ المعاصی برید الکفر۔ یو حقیقت دے۔ او داد فضل الله توربشتی توجیه ده۔ چه داد زجر وتهدید سره تعلق ساتی۔ لکه یو کس بل ته وائی: ته خو د سر نه څه سړے نه ئی۔

الفصل الثالث

حديث ۱۱: عن معاذ قال اوصانی رسول الله ﷺ بعشر کلمات قال لا تشرك بالله ..الخ۔

اوله خبره ئی دا ذکرکړه۔ چه د الله سره به شرك نه کوے۔ اګر چه اوژلے یا اوسوزولے شے۔

سوال: که یقینی سوزول او یا وژل راځی د شرك کولو۔ رخصت قرآن ذکرکړیدے: ﴿ لَّا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ﴾۔(سورة النساء: ۱۴۸)۔: ﴿ أَ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ ﴾۔(سورة النحل: ۱۰۶)۔ د اکراه یقینی په وخت اجازت خوشریعت ورکوی۔

جواب: دادے نبی ﷺ: معاذ رضی الله عنه دپاره عزیمت خوښولو۔ دے ئی خاص محبوب دے۔ ورته ئی وئیلے دی: "یامعاذ انی احبك" ۔ دوی ته ئی د اکمل څیز حکم ورکړو۔ (۲) چه کله د چا په دغه قسم وفات کښې د وهن احتمال نه وی۔ اجازت شته۔ ورنه بیا په رخصت عمل پکار دے۔

مرقات کښې دی: فیجوز له ان یتلفظ وان یفعل ما یقتضی الکفر کسب الاسلام وسجودا لصنم اذا هدد ولو بنحو ضرب شدید' واخذمال له وقع ....الخ ۔

ددے نه د شرك قباحت او شناعت واضح شو۔ که څوك د شرك رد کوی۔ نو دا به ورته نه وائی چه مونږ درته مسلمانان نه ښکاره کیږو۔ دلته معاذ رضی الله عنه خه نیك مسلمان بلکه محبوب صحابی دے ۔او بیا ورته دا حکم ورکوی۔ لکه بناء بریوقول لقمان حکیم خپل مسلمان ځوئی ته نصیحت کړیدے: ﴿ وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾۔(سورة لقمان: ۱۳)

دویمه خبره: د مور او پلار نافرمانی به نه کوے۔ که والدین حکم درکوی۔ چه د خپل اهل او ښځے نه طلاق ورکړه ۔یا مال پریږده۔ مال پریخودل دادی: چه کسب بدل کړه۔ دا خبره ورله اومنه۔ والدین چه تجربه کاروی۔ او د تجارت د نوع د بدلولو حکم ورکوی۔ مشوره منل ورله به ان شاء الله فائده مند وی۔ د حدیث مطلب دے۔ د والدینو په حکم منلو کښې مبالغه پیدا کول۔ که د ښځے څه جرم او ګناه نه وی بیا د طلاق ورکولو حکم بچی باندے لازم نه دے۔ او که پلار د ابراهیم علیه السلام او ځوئی د اسماعیل علیه السلام غوندے وی۔ پلار به د بچی قطعی من کل الوجوه خیر لتهوی۔ بیا طلاق ورکول ورله ضروری دی۔

فتح اله شرح کښې علامه ابن حجر هیثمی لیکلے دی: بشرطة المبالغة باعتبار الاکمل واما باعتبار الاصل الجواز بلا یلزم علیه طلاق زوجته ... الخ۔

"واذا اصاب الناس موت": ـ که طاعون یا بله څه وبا لکه کرونا وغیره کلي او علاقه کښي خوره شي ـ نو دے وخت کښي د کلي نه تیختـه مه کوه. او که بله علاقه کښي وي. هلته هم مه ځه. لکه چه عمر رضی الله عنه نوو تلے. او وئیلے وو مونږه د الله د تقدیرنه' د الله تقدیرته تیختـه کول غواړو.

"ولا ترفع عنهم عصاك ادبا": ـ تادیبي کاروائي ده. حدودو کښي دننه وهل صحیح دي. هسے تنګول یاد حدودو نه تجاوز په وهلو او سزا کښي غلط دي.

احناف و شوافع دواړه په ترك د صلوة د ښځے وهل جائز ګنړي.

علامه ابن تیمیهؒ په مجموع فتاوی ۱٦ : ۱۷۴ باندے لیکلے دي : فان اصرت علی ترك الصلوة فعلیه ان یطلقها . هغه خود طلاقو حکم هم ورکړید ے .

حدیث ۱۲ : وعن حذیفة قال انما النفاق کان علی عهد رسول الله ﷺ فاما الیوم ... الخ.

حالات د حذیفه رضی الله عنه : د سیدنا حذیفه رضی الله عنه د پلار یمان نوم وو. تعلق ئې په مکه مکرمه کښي د قبیلہ عبس سره وو. حذیفه رضی الله عنه فرمائي :کان الناس یسالون رسول الله ﷺ عن الخیر وکنت اسأله عن الشرمخافة ان یدرکني ـ (بخاری کتاب الفتن باب کیف الامر اذا لم تکن جماعةؔ).

حذیفه بن یمان د نبي ﷺ رازدان وو ـ د یمان خپل نوم حسیل وو. او یمان ئې لقب دے. او د حذیفه رضی الله عنه کنیت ابو عبدالله العبسي دے. دده پلار یو ځل د اُحد د غزا په موقع مشرکانو غاړے ته روان وو ـ د مسلمانانو د غلط فهمیء د وجے شهید شو. اګرچه حذیفه چغے وهلے چه زما پلار دے. لیکن قتل خطاء اجتهادي طور صدور ته راغـے. او ده ورته معافي اوکړه. عمر رضی الله عنه به هغے جنازے له نه تلو ـ چه حذیفه رضی الله عنه به ورله نه تلو. مدائن کښي وفات دے. او دفن دے. د سیدنا عثمان رضی الله عنه د شهادت نه څلویښت ورځے روستو وفات شوید ے.

"انما النفاق": . یعني حکم د نفاق د پیغمبر زمانه کښي لګولے شو. اوس ښکاره کفرسره به کافر وي . او که کفرپټ ساتي. نو د مسلمان حکم به پرے لګوو.

د منافقانو نه وژلو وجه

نبي ﷺ به منافقان نه وژل : (۱) : هسے نه چه خلق وائي : ان محمدًا یقتل اصحابه. (بخاری : ۷۱۱٤). (۲) : حکمت دا وو. چه مسلمانان ډیر ښکاره شي. (۳) : د پیغمبر او د صحابو مجلس کښي چه ناست وي. آخر به صحیح آثر واخلي. (۴) : د نبي ﷺ دا خائسته اخلاق به نورو له د ایمان راوړلو باعث شي. (۵) : کافران به ترے نفرت کوي. چه دوي خود مسلمانانو سره اړ پړ کیږي .

باب فی الوسوسة

الفصل الاول

حدیث ۱: عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوزعن امتی ما وسوست..الخ۔

ددے باب د مخکښې کتاب الایمان سره مناسبت دادے: چه ایماندار ته وسوسے ډیرے زیاتے راځی۔ داد ایمان سره مطلقا منافات نه لری۔ وروستے حدیث کښې راځی: ذاك صریح الایمان۔ نو د ایمان نه ئی روستو د وسوسو ذکر اوکړو۔ او کبائر اکثر د وسوسو په وجه پیدا کیږی۔ چه کله وساوس استقرار و اهتمام اومومی۔

الملل والنحل کښې علامه شهرستانی وائی: وسوسے دا بذور د شیطان، شیطانی تخم دے۔ وسوسه بروزن دحرجه دے۔

اللباب کښې مفسر لیکی: یقال لهمس الصائد، والکلاب، واصوات الحلی۔ دائی لغوی معنی ده۔

او اشعة اللمعات کښې دی: دراصل لغت آواز نرم وآواز پیرایہ زنان مثل خلخال۔

(۲): د شیطانی مکرونو علاج وسوسے ته التفات نه کول۔ د شیطان د گمراه کولو د طریقے نه ځان خبرول۔ کم ازکم تلبیس ابلیس د ابن جوزیؒ مطالعه کول۔ (۳): د ډیر او د زړه په ذکرمداومت او زړه د شهوت، غضب او د خواهش نه پاك ساتل۔

په مدرسه کښې هم بعضے وسوسے بعضے خلقو ته راځی۔

بعضو مدرسو کښې تشے وسوسے د حق پرستو خلاف کښې اچولے کیږی۔ د انسان زړه ته د خیر خبره اول د ملك په وساطت چه راځی۔ هغے ته الهام وائی۔ او بل د شیطان د طرف نه که دغه خواطر یا رزائلو ته رابلل وی۔ دا وسوسه ده۔

د الهام باره کښې مرقات کښې ملا علی قاری لیکلے دی: چه د غیر معصوم الهام دلیل نه دے: والاصح انه لیس بحجة من غیر المعصوم۔ د معصوم الهام دلیل دے لکه پیغمبر دے۔ اوکه غیرمعصوم یا بل نیك سړے دا وائی ماته الهام شویدے۔ اود شریعت خلاف وی۔ نو بالکل مردود دے۔

عقائد متن او شرح کښې دی: والالهام لیس بحجة۔ نود نیکانو زړونو ته هم کله کله شیطان وسوسے اچوی۔ دابه چا ته څنگه پته لگی۔ چه دا وسوسه ده۔ اوکه دا الهام دے۔

الكاشف عن حقائق السنن كښې علامه طيبيؒ وائي : څلور څيزونه داسې دي۔ چه په ده كښې موجود وي۔ نو پته به درته لګي۔ د فرق د الهام او د وسوسې : (۱) : يقين كلك پكار دے۔ (۲) : علم مضبوط پكار دے۔ (۳) : د خواهش پرستۍ نه مكمل اجتناب پكار دے۔ (۴) : حب الدنيا نه اجتناب پكار دے۔ كه دا څلور دے اوكړل۔ نو تاته به د الهام او د وسوسې فرق ښكاره شي۔ ﴿ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ ﴾ يعني دنيا پرستي او : ﴿ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ﴾ يعني خواهش پرستي۔ (سورة الاعراف : ۱۷۶)۔

ددے مثال داسې دے : قرآن كريم كښې راځي : چه سخاوت اختيار كړه : ﴿ الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلاً وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾۔ شيطان تاسو د غريبۍ نه يروي او د بخل لمسې درته كوي۔ مخكښې بيا الله فرمائي : ﴿ يُؤتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْراً كَثِيراً وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الأَلْبَابِ ﴾۔ (سورة البقرة : ۲۶۸، ۲۶۹)۔

چاته ئې چه حكمت وركړو۔ نو ده له ئې ډير خير وركړو۔

نو سوال راځي : چه ددے آيت د مخكښې سره مناسبت څه دے ؟۔ هلته وائي شيطان تاسو د فقر نه يروي۔ او لمسې د بخل درته كوي۔ او دلته وائي : ﴿ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ ﴾۔ علماء وائي : چه ددے شيطان د وسوسې او الهام په مينځ كښې به دا فرق هغه څوك محسوسوي۔ چه قرآني علم او فهم ورته ډير حاصل وي۔

علامه طيبيؒ بله ډيره قيمتي خبره ليكي : واتفق المشائخ على ان من كان اكله من الحرام لم يفرق بين الالهام والوسوسة۔ څوك چه حرام خواره وي۔ نو هغه د الهام او د وسوسې په مينځ كښې فرق نه شي كولے۔

علامه ابن قيمؒ مدارج السالكين ۱ : ۴۵ باندے د الهام او د تحديث فرق كوي۔ چه الهام عام دے مومنانوله : فكل مومن فقد الهمه الله رشده الذى حصل له به الايمان۔ فاما التحديث فالنبى ﷺ قال فيه ان يكن فى هذه الامة احد فعمر يعنى من المحدثين۔ فالتحديث الهام خاص وهو الوحى الى غير الانبياء اما من المكلفين كقوله تعالى : ﴿ وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ ﴾۔ (سورة القصص : ۷)۔ ﴿ واوحينا اليه لتنبئهم بامرهم هذا ﴾۔ علامه ابن تيميةؒ مجموعة الفتاوىٰ په نهم جلد كښې ليكي : والوسواس اصل كل شر يضرهم، لانه مبداء للكفر والفسوق والعصيان۔

د شك او د وسوسې په مينځ كښې فرق

وسوسه غير اختياري وي۔ او په دے نيول نشته۔ او شك اختياري دے۔ په دے نيول شته۔

(امداد الاحكام ۱ : ۲۶۷)۔

وساوس يو انسان ته په مانځه كښې راځي۔ ملا علي قاريؒ ليكي : ان الصلوة التى لا وسوسة فيها انما هى

صلوة الیهود والنصاری - وائی چه دا لړه وسوسه ورته راته شي. نو داد یهود او د نصاری مونځ دے.
خیر دے که په مانځه کښې لړے لړے وسوسے راځي. خو ډیرے به نه راولے. او وسوسه زړه کښې کلکه وے نه.

شیخ الاسلامؒ په مجموعة الفتاوی کښې لیکي : زیاته وسوسه طالب علم ته راځي. د دین کارچه څوك کوي خصوصًا طالب علم او مجاهد نو ددوی کار اوچت دے. نو شیطان ئی دے اوچت کار ته نه پریږدي : ولهذا یعرض للناس من الوساوس فی الصلوة مالا یعرض لهم اذا لم یصلوا لان الشیطان یکثر تعرضه للعبد اذا اراد الأنابة الی ربه - لړ روستولیکي : ویعرض لخاصة اهل العلم والدین اکثر مما یعرض للعامة ولهذا یوجد عند طلاب العلم والعبادة من الوساوس والشبهات مالیس عند غیرهم. (٤ : ١٧٨) -

ابن دقیق العیدؒ ته د اوبود استعمال او د نجاست په مسئله کښې د وسوسے مرض لاحق شوے وو.
(التاج المکلل للنواب : ٤٥٥).

د شیطان د اغواء په طریقو کښې یو استفزاز دے : ﴿وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ﴾. (سورة بنی اسرائیل : ٦٤) - په دے طریقو کښې یوه طریقه تزین شیطانی دے. شیطان ئی ورته خائسته کوي. دے په سم نوم باندے راځي په وران نوم باندے نه راځي. درته دا نه وائي چه بخل اوکړه. درته وائي کفایت شعاري شروع کړه. دانه وائي چه ډم توب اوکړه. دے به درته وائي دا ډم توب نه دے ثقافت دے. دا درته نه وائي چه شرك اوکړه. درته وائي دا خوتعظیم د اولیاء دے - دا نه وائي چه دروغ وایه. وائي به درته چه دا سیاست دے. او په سیاست کښې چه څومره دروغ وائي نو دومره په کښې خوند دے. نو د شیطان قسما قسم وسوسے دي. چه انسان گمراه کوي.

د وسوسے په باره کښې شیخ الحدیثؒ په التقریر الرفیع کښې لیکي : قال الشیخ الامجد (مولانا خلیل احمد سهانپوریؒ یادوی) ان العزم ان کان علی التروك فهی فی حکم الفعل کالاقامة فی باب السفر والا فلا. لکه مثلًا یو کس په سفر کښې د اقامة عزم اوکړو. چه څه به دلته پنځلس یا سوا ورځے تیروم. داد اقامې حکم لري. اگر که ته په ژبه باندے نه وائي. خو عزم بالجزم د پاتے کیدو دے کړیدے.

اقسام د وسوسے : (١): هاجس : دے ته وائي چه خیال راغے. او فورًا لاړو. او قلارے ئی اونه نیولو. دماغو ته یوه خبره راغله او واپس لاړه. (٢) :خاطر : زړه ته راغله او لږ غوندے تیکاو شوه. خو لیکن داعیه د کولو او نه کولو دواړه پیدا نه شوه. اوکړم اوکه اونه کړم. دے حد ته خبره اونه رسیدله.

بیا د زړه نه لاړه۔ (۳) : حدیث النفس : زړه ته راغلہ او لږ غوندے تیکاؤ هم شوه۔ وئیل ئی کوم ئی یا ئی نه کوم خیال هم یو غاړے ته راغلو۔ خو ترجیح ئی یو غاړے ته ورنکړه او ختمه شوه۔ هره یوه د یو بل نه په ترقیء ده ۔ (۴) : هَمْ زړه ته راغلہ او تیکاؤ هم شوه۔ التفات دے ورته اوکړو۔ عمل کوم یا نه کوم ترجیح دے هم یو غاړے ته ورکړه۔ لیکن فیصلہ دے ضعیفه وه۔ عملی دے نه کړه۔ قدم دے وانغستلو۔ دے ته هَم وائی۔ (۵) : عزم زړه ته راغلہ۔ او دیره شوه۔ التفات دے ورته اوکړو۔ ترجیح دے ورکړه۔ عزم بالجزم دے اوکړو۔ قوی ترجیح دے ورلہ ورکړه۔ دے عمل ته عزم وئیلے کیږی۔

مرقات کښې دی : وقد تظاهرت نصوص الشرع بالمؤاخذة بعزم القلب المستقر من ذالك قوله تعالى : ﴿إِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ أَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ﴾۔ (سورة النور : ۱۹)۔

دا پنځه مراتب دی۔ پنځه واړه یو شاعر په شعر کښې جمع کړے دی :

مراتب القصد خمس هاجس ذكروا　　فخاطر فحديث النفس فاستمعا

يليه هم فعزم كلها رفعت　　سوى الأخير ففيه الأخذ قد وقعا

دلته لږ اختلاف شته دے۔ چه ګناه په تولو صورتونو کښې شته یا نشته۔ د جمهورو مسلك دادے : چه مخکښې درجے په هرامت کښې معاف دی۔ څوك نه رانیسی په هاجس یا په خاطر یا په حدیث النفس۔ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دا وائی : چه په مکه کښې اراده هم معاف نه ده۔ دا هم الحاد دے۔ قرآن کښې دی : ﴿وَمَنْ يُرِدُ فِيْهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيْمٍ﴾۔ (سورة الحج : ۲۵)۔

نورو ځایونو کښې تا په اراده نه رانیسی۔ خو هلته په مکه کښې دے رانیسی ۔

غرائب القرآن تفسیر کښې دی : چه عبدالله بن مسعود فرمائی : ان قصد الذنب يكتب هناك وان لم يخرج الى الفعل۔

دا اوسنی بریلیان ظالمان په کښې په الحاد کولو خوشحالیږی۔

څلورمه درجه "هم" دے۔ بعضے خلقو وئیلے دی : چه دا دے امت ته معاف ده۔ او بعضو وئیلے دی: چه نه ده معاف۔ پنځم عزم بالجزم دے۔ نو په دے به تا رانیسی۔

حکم ئی څه دے ؟ : ددغے شعر نه خو معلومیږی۔ چه په ړومبنو څلورو باندے تا نه رانیسی۔ صرف په دے آخری باندے به دے رانیسی۔ چه عزم دے۔ دلیل ئی دادے حدیث کښې راځی : القاتل

والمقتول کلاهما فی النار۔ قاتل او مقتول به دواړه جهنم ته ځي ۔تپوس اوشو۔ چه دا مقتول ولے ځي۔ نو نبی ﷺ جواب دا ورکړے دے : کان حریصًا علی قتله ۔دده عزم بالجزم وو۔ یو وئیل چه څه به ئی مړکوم او بل وئیل څه به ئی مړکوم۔ نو یو په هغے کښی مخکښی شو۔ نو ځکه به دواړه جهنم ته ځي۔

عزایم قلبیه دد ے څه حکم دے ؟

توحید ، رسالت ، عقائد دی۔ دا چه صحیح وی۔ او عزم درجه کښی وی۔ په دے درله ثواب درکوی۔ عزم چه څه به د توحید خدمت او اشاعت کوم۔ صحیح عقیدے به خلقوته بنایم۔ په دے ثواب ورکوی۔ او که عزم دے وی۔ چه غلطے عقیدے به خلقو ته بنایم۔ په دے درله سزا هم درکوی۔

(۲) : دویم ملکات او اخلاق دی۔ که دا خه وی په دے درله ثواب درکوی۔ شکر دے تواضع ده ایثار دے ۔دا صفات چه ځان کښی موجود کړے۔ بل طرف ته تکبر دے ناشکری ده دا جزبات د په زړه کښی وی نو په دے درله سزا درکوی۔ او بعضے هغه دی : چه د هغے تعلق د اندامونوسره دے۔ لکه مونځ شو او صدقه شوه ـ کله ئی زړه سره تعلق دے۔ د اخلاقوسره ئی تعلق دے ۔قرآن کښی چه راځی : ﴿إِن تُبۡدُوا شَيۡـًٔا أَوۡ تُخۡفُوهُ ﴾۔ (سورة الاحزاب : ٥٤) ـ نو په دے باندے هم محاسبه ده۔ دا دا عقائد غلط دی۔ په دے زړه کښی پراته دی۔ په دے باندے به درسره محاسبه کیږی۔

"ما وسوست به صدورها" :۔ " وسوست " لازمی هم راځی۔ او متعدی هم راځی۔ که دا لازمی وی نو "صدورها " فاعل دے د " وسوست " ـ " به " ضمیر مرجع هغه " ما " ده۔ نو معنی به دا شی۔ معاف کړے ئی دے زما امت ته هغه خیالات چه دے دغه خیال راولی په سینو کښی۔

دویم صورت : که دا متعدی شی نو بیا به دا " وسوست " په خپله معنی نه اخلے بلکه د " حدثت " په معنی باندے به ئی اخلے۔ او " صدورها " ورله مفعول کړه۔ بیا به معنی داسے شی۔ معاف کړے ئی دی زما امت ته هغه خیالات چه خبری کوی دغه امت سره دغه خیالات په زړه زړه کښی۔

"مالم تعمل به او تتکلم ": ـ دے عبارت کښی استدراك دے۔ او یا دے عبارت کښی تقیید دے۔ که چرته استدراك شی۔ نو په هغه وخت کښی به معنی دا شی : په وسوسه دے نه رانیسی په عمل به دے رانیسی۔ دویم که دا تقیید شی نو په عمل به دے هم رانیسی۔ او په وسوسه به دے هم رانیسی۔ حدیث کښی اشاره شوه اقوالو ته " تتکلم " او اعمالو ته " تعمل " ئی فرمائیلے دی۔ عمل په اندامونو باندے کیږی۔ خبره په ژبه باندے کیږی۔ که د زړه په دنیا کښی دے څه راغلے وی۔ نو په هغے دے نه رانیسی۔ علامه طیبی ؒ وائی : که یو سړے په زړه کښی د طلاق خیال راولی۔ امام بخاری ؒ هم عبارت راوړیدے نوپه دے طلاق نه راځی۔ علامه طیبی ؒ فرمائی : که په زړه کښی د ظهار عزم اوکړو۔ هیڅ نشته۔

حدیث ۲ : وعنه قال جاء ناس من اصحاب رسول الله ﷺ الی النبی ﷺ فسالوه...الخ۔

" اوقد وجدتموه": ۔ عبارت به داسے شی " احصل ذالك وقد وجدتموه". آیا دا حالات تاته حاصل شو وسوسے تاسو اومندلے ۔ نو هغوی اووئیل هو۔ نو نبی ﷺ ورته اووئیل " ذاك صرح الایمان ".

" ذاك ": ۔ اسم اشاره د مذکر ده ۔ وسوسه مؤنث ده ۔ نو " ذاك " ئی ولے اووئیلو ۔ نو بین السطور ئی لیکلے دی عظمت ته راجع دے ۔ چه دا په " یتعاظم " کښې موجود دے۔ " ذاك " دغه غټ ګنړل وسوسے له دا صراحةً ایمان دے۔ کوم انسان ته چه وسوسه راغله ۔ داد ایمان نښه ده ۔ خو دا هله چه دے دا وسوسه عظمیه ګنړی ۔ وائی چه لاړه شی ۔ یو خوداده چه دے میلمستیا ورکوی ۔ خوشحاله دے په دغه وسوسو۔ هغه نه یادوی ۔ یو غیراختیاری دده زړه ته وسوسه راغله خفه دے۔ چه دا ولے راغله خولیکن راغله ورته نو " ذاك صریح الایمان ".

د هغے وجه ملا علی قاریؒ دا ذکرکوی : چه غل هغے کور ته ځی ۔ چه په کوم کورکښې سره او سپین مال او دولت موجود وی ۔ د غریبانانو کور ته غل نه اوړی ۔ ددے کور نه به څه اوسی ۔

نو دا وسوسے هغه زړه ته متوجه کیږی ۔ چه په کوم کښې ایمان دے ۔ ایتمی پلانټ موجود دے۔ دا غټ دولت دے : ﴿الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ﴾ کښې نیکان مراد دی ۔ او چه کوم بے ایمانه دی ۔ نو شیطان په هغوی څه کوی ۔ چه وسوسے ورته اچوی ۔ هغه خپله د شیطان نه څه کم خونه دے۔

د شیطان طریقه واردات یو څو قسمه دے : (۱): الامر بالسوء۔ (۲) : اسباب د نسیان ۔ (۳) : نزغات۔ (۴): تخویف الفقر (۵) : الایحاء بالمجادلة : ﴿وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ﴾ ۔ (سورة الانعام : ۱۲۱)۔

حدیث ۳ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ یاتی الشیطان احدکم فیقول من خلق ...الخ۔

"یاتی الشیطان": ۔ یو خو دغه سم شیطان دے ۔ او یو دهری شیطان دے ۔ دا هم شیطان دے ۔ نودے راشی ۔ "من خلق کذا ": ۔ دا آسمان چا پیدا کړیدے ۔ زمکه چا پیدا کړے ده ۔ دا غرچا پیدا کړیدے۔ داسے خبرے ورته کوی ۔ بیا دے وائی نو خه دا الله چا پیدا کړے دے ۔ دهریان وائی "من خلق ربك" نوکه ددے ځائی پورے خبره راشی ۔ نو د هغے علاج ښائی ۔ " اعوذ بالله " اووایه ۔

" من خلق کذا ". هغوی خوورته اکثر دا ښائی چه ته چا پیدا کړے ئی ۔ نووائی مونړه پلار پیدا کړے یو۔

واقعه : یو تبلیغی واقعه بیانوله لندن ته ئی تشکیل شوے وو. نو وئیل ئی هلته زما د یو دهری سره خبرے وے. نوما ورته اووئیل ته چا پیدا کړے ئی. نو وئے وئیل چه څه پلار پیدا کړے یم. نوما ورته اووئیل چه الله نه ئی پیدا کړے. نو وئیل ئی نه. نوما ترے تپوس اوکړو چه پلار دربانده میئن دے او که نه ؟ ـ نو وئیل ئی آوخوښ ئی یم ـ نوما ورته وئیل چه ته ئی پیدا کولے ـ نو دا بلیډ ئی لړ غوندے دے پوزے ته نه برابرو. داخو هسے د پل سورنګ دے. چه داسے ښکلے ښکلے ئی جوړ کړیوے ـ دا ستا ځنګه پلار وو. چه وران وران ئی پیدا کړے ئی. نو هغه بیا رو رو پو هیدلو. آخرئی اومنله. چه دا خو الله کوی.

د وسوسے د ختمولو دپاره دوه علاجه شو. (۱) یو اعوذ بالله (۲) وسوسو ته التفات نه کول. دا عملی علاج دے ـ شیطان ته به حجت نه پیش کوے. که شیطان ته حجت پیش کوے. نو هغه به ستا په حجت کښی نورحجتونه پیش کوی. نو هغه ته به وائی چه څه الله بے دلیله منم.

امام رازیؒ وائی : داسے ئی وسوسے ماته کولے. نو آخره کښی ما اووئیل چه څه ئی بے دلیله منم.

علماء فرمائی : لا تتفکروا فی الله بل تتفکروا فی مخلوق الله.

شیخ الحدیثؒ التقریرالرفیع کښی لیکی : قلت لا ینبغی ان یذم علم الکلام فانه لیس من العلوم المخترعة. د وجود دلائل دا ټول مخلوقات دی. وانما اخترع ضرورة فهوضروری بقدرة الضرورة بل من فروض الکفایة.

حدیث ۴ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ لا یزال الناس یتساء لون حتی یقال هذا...الخ.

دا اوس بله وظیفه راته ښائی. دا ستا خوښه ده. که ټولے وظیفے راجمع کوے. اوپه هره یوه باندے عمل کوے. اذکارو او اورادو کښی دا قانون دے. چه فرض نه پس اذکار او اوراد دی. که وخت درسره وی ټول جمع کړه. اوکه وخت درسره نه نو کله یواوکله بل کوه. اوس دا اذکار دی اعوذ بالله اوایه. (۲) د هغے طرف ته فکر مه پریږده. (۳) دریمه طریقه " امنت بالله ورسوله " وایه. علاج ئی دے تجدید د ایمان.

"لا یزال الناس" : ـ همیشه به خلق د یو بل نه تپوس کوی. څنی حجرے او مجلسونه داسے دی. چه دا لوفران او غلط تعلیم یافته په کښی جمع شی. نو د یو بل نه تپوس کوی.

"هذا خلق الله الخلق" : ـ " هذا " مبتداء ده. او خبرئی حذف دے. او" خلق " معمول ورله بیان دے.

"فلیقل امنت بالله" : ـ ملا علی قاریؒ وائی : ددے هم احتمال دے چه دادے اوئی "علی وجه التحقیق "

او دا هم احتمال لری چه اوئے وی "علی وجه التقلید" دده خوښه ده ـ که دے محقق دے او تحقیقاً دا خبره اوکړی۔ چه په دے زما سره دلائل شته۔ اوکه دائی په طریقه د تقلید وائی۔ نو دا هم فائده کوی۔
مرقات کښې ملا علی قاریؒ لیکی : هذا القول یحتمل ان یکون علی وجه العلم والتحقیق ویحتمل ان یکون علی طریق التقلید۔ تقلید او تحقیق دا دواړه مانعة الجمع نه دی۔
مقصد دادے : چه شیطان دفع شی۔ شیطانان مخلصینوله نه ورځی ﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ الۡمُخۡلَصِينَ﴾ (سورة ص : ۸۳)
یو روایت کښې راځی : لا حول ولا قوة الا بالله۔ په کښې وایه۔
مرقات کښې ملا علی قاریؒ وائی : اصل کښې دا شیطان چه دے۔ دده مثال پشان د سپی دے۔ چه د چا په دروازه غټ سپے اولاړ دے۔ ډیر خطرناك دے۔ نو په دغه وخت کښې تالره پکار دادی۔ چه څه مه آواز اوکړه۔ چه کاکا دا سپے دے اوتړه۔ ورسره خواته اودریږه۔ چه ما اونه خوری بیا څه۔ نو الله ته به دا التجاء اوکړی۔ چه دا سپے دے اوتړه۔ راپریخودے دے۔ نو چه اوئی تړے۔ نو بیا به روستو د قرآن سبق وائی۔
یحی بن معاذ څه خه فرمائیلے دی : چه (۱) : شیطان فارغ دے۔ ځان ئی ورته وقف کړیدے۔ وئیلے وو : ﴿قَالَ فَبِمَا أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَاطَكَ الۡمُسۡتَقِيمَ﴾ ـ او انسان هر وخت مشغول وی۔ (۲) : اوهغه تاوینی :﴿إِنَّهُ يَرَاكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡ إِنَّا جَعَلۡنَا الشَّيَاطِينَ أَوۡلِيَاءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ﴾۔ او مونږه شیطان نه وینو۔ (سورة الاعراف : ۱۶، ۲۷)۔
(۳) : د انسان نه د شیطان اغواء او د هغے طریقه کارهیروی۔ او شیطان باندے دغه نسیان نه راځی۔
(۴) : ستا نفس دے شیطان سره ملگرتیا کوی۔ ځکه الله فرمائی : ﴿إِنَّ الشَّيۡطَانَ لَكُمۡ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا﴾۔ (سورة فاطر : ٦)۔ (مرقات)۔ گھر کا بھیدی لنکا ڈھائے۔ مشهور ضرب المثل دے۔

حدیث ۵ : وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ ما منکم من احد الاوقد . . . الخ۔

"قرینه من الجن وقرینه من الملائکة": ۔قرآن کریم کښې راځی : ﴿وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ الرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُ شَيۡطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ﴾۔ (سورة الزخرف : ۳٦)۔ چه استحواذ د شیطان راولے۔ نو د الله د کتاب او د الله د ذکر نه غافل اوسه۔ : ﴿اسۡتَحۡوَذَ عَلَيۡهِمُ الشَّيۡطَانُ فَأَنسَاهُمۡ ذِكۡرَ اللَّهِ أُولَٰئِكَ حِزۡبُ الشَّيۡطَانِ أَلَا إِنَّ حِزۡبَ الشَّيۡطَانِ هُمُ الۡخَاسِرُونَ﴾۔ (سورة المجادلة : ۱۹) ـ که د شیطان وسوسه روستو کوے۔ نو

ذکر لـه زور ورکړه. او د الله کتاب راواخله ﴿وَقَالَ قَرِينُهُ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ﴾(سورة ق:۲۳) ملګری ئی شته دے. د هریوتن دا دوه ملګری دی. یا من الجن دے یا من الملك دے. خه دے که بد دے.

یک چشم زدن غافل ازاں شاه نه باشی شاید که نگاہے کند آگاه نه باشی

"فاسلم": ـ داپه دوو طریقو بانده وئیلے شے. علامه خطابیؒ وائی: په ضم غوره دے. یعنی "فاسلمُ" وایه. څه ترے بچ شوم. بعضے نورعلماء وائی لکه قاضی عیاضؒ او امام نوویؒ: "فاسلمَ" اووایه. بیا ئی دوه معنی دی: (۱): اسلام ئی قبول کړو. (۲): غاړه ئی کیخودله ماته غړ نه کوی. اسلام ئی قبول کړو. په دے بانده اعتراض دے. ولے دے هم اسلام قبلوی. شیطان خواسلام نه قبلوی. د شیطان په بچو کښې بعضے داسے دی. د یو روایت نه معلومیږی چه اسلام قبلوی. لکه هامة بن ابلیس یادیږی.

"فلا یامرنی الا بخیر": ـ د نبی ﷺ حزب اختلاف نشته. د هر چا شته. او عجیبه شیطان دے چه څوك څنګه دے. نو هغه شان ورله راځی. د شیخ الحدیث شیطان شیخ الحدیث وی. د عالم شیطان عالم وی. د امیانو هغه امی وی. د صوفیانو هغه صوفی وی.

علامه ابن عبدالبرؒ لیکلے دی: وکل شیاطین العباد ضعیفة وشیطان اصحاب الحدیث مَرِیدُ

چه څوك اوچت کارکوی. نوشیطان هغه لره په اوچته پیمانه بانده د هغے نه بنده وی.

داسے حدیث د مشکوة دویمے حصه باب اللعان آخری روایت کښې د مسلم په حواله شته. عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما تپوس اوکړو: ومعك یا رسول الله ﷺ قال نعم ولکن اعاننی الله علیه حتی اسلم.

حدیث ٦: وعن انس قال قال رسول الله ﷺ ان الشیطان یجری من الانسان ...الخ.

"مجرٰی" کښې دوه قوله دی. (۱): یوقول دادے: چه دا مصدر دے یعنی مفعول مطلق دے تشبیه ده. (۲): دویم قول دادے: چه دا اسم ظرف واقع شویدے. مجرٰی معنی ده. د وینے د چلن ځائی لکه رګونو کښې وینه چلیږی.

د حدیث څه مطلب دے؟: (۱): یو مطلب دادے: چه شیطان له الله د تصرف طاقت ورکړیدے. او هغه د انسان په ګمراه کولو بانده قادر دے. (۲): دویم مطلب دادے: چه د شیطان دا تصرف داسے پټ دے. لکه انسان د خپلے وینے په چلن بانده نه دے خبر او وینه په کښې چلیږی. نو داسے شیطان ده

ته وسوسے اچوی۔ او دے ترے خبر نه دے۔ یعنی "مثل جریان الدم" ۔ یعنی انسان کښی شیطانی وساوس داسے چلیږی۔ لکه دده په رګونو کښی چه وینه چلیږی۔ وینه تر هغه وخت چلیږی۔ کله چه په ده کښی ساه وی۔

ددے نه دا معلومه شوه: چه انسان کښی ترڅو پورے وینه چلیږی۔ نو شیطان به ئی ګمراه کوی۔ او وینه هله چلیږی۔ چه دے ژوندے وی۔ او چه کله مړ شی دوران خون ختم شی۔ د شیطان ګمراه کول هم ختم شی۔

بریلیان قبر کښی اذان کوی۔ چه مړے شیطان په سوال او جواب کښی ګمراه نه کړی۔ حالانکه د ساه وتلو نه پس د شیطان ورکړے شوے تصرف ختم شی۔

واقعه د امام احمدؒ

حافظ ابن کثیرؒ خپل تاریخ کښی لیکلے دی: چه امام احمدؒ په آخری سختتو حالاتو کښی "لا بعد لا بعد" فرمائیل کله چه هوش کښی راغے۔ څوی ترے تپوس اوکړو۔ "ما هذه اللفظة" جواب ئی ورکړو۔ چه شیطان د کور په ګټ کښی ګته د غصے د وجے چیچله۔ چه احمده زمانه خلاص شوے۔ نو ما ورته وئیل "لا بعد" چه نه یم خلاص ـ ترڅو چه مے په توحیدی عقیده ساه نه وی وتلے۔ "مادامت ارواحهم فی اجسادهم" ۔ (البدایه والنهایه ۵ : ۷۹۲)۔

حدیث ۷ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ مامن بنی ادم مولود لایمسه ...الخ۔

د حدیث مطلب هم دادے: چه کله بچے پیدا کیږی۔ او دے کله آواز کوی۔ نو داد شیطان د مس د وجے نه چغه وهی۔ انسان چه دا خپل ژوند شروع کوی۔ نو دا په چغه شروع کوی۔ دا چغه ددے وجے نه وهی۔ چه مس الشیطان شوے وی۔

سوال: په دے باندے دادے: چه عیسیٰ علیه السلام اوهغه مورمریم بی بی ئی ترے مستثنی کړل۔ نو ولے نبی ﷺ ته مس د شیطان شویدے۔ د هغه استثناء په دے کښی نه ده شوے۔

(۱): یو جواب دادے: چه په داسے حالاتو کښی متکلم چه وی۔ نو هغه په کلام کښی خپله داخل نه وی هغه په قرینے سره خارج وی۔ مثلاً: ﴿لَیۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَیۡرٌ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٍ﴾ ۔ چه په هغه زرو میاشتو کښی لیلة القدر نه وی۔ نو هله په کښی عبادت د زرو میاشتو نه غوره دے۔ "یوسف احسن اخویه" اخویه کښی

چه یوسف نه وی۔ "الصرف ام العلوم" چه په علوموکښې صرف نه وی. "النحوابوالعلوم" چه په علوموکښې نحونه وی۔ مثلاً څه وایم چه په دے کمره کښې چه څومره کسان دی. هغه به څه وهم نو څه په کښې نه یم داخل. نو نبی ﷺ ته هم مس نه دے شوے. خو نبی ﷺ ذکرځکه اونکړو. چه هغه په دے کښې نه دے داخل. هغه متکلم دے. او متکلم په کښې نه وی داخل.

(۲): دویم جواب داد ے: دا جزیء فضیلت دے. جزی فضیلت کښې یو تن د بل نه سوا کیدے شی. حدیث د بخاری کښې راځی: چه ما خوب اولیدو. په هغے کښې څه کسان په ما باندے پیش کیدل. په تولوخلقوکښې د تولونه اوږد قمیص د عمر رضی الله عنه وو. راوی وائی ما تپوس اوکړو. چه تعبیر ئی څه دے یا رسول الله ﷺ. نو نبی ﷺ اوفرمائیل چه قمیص ئی اوږد دے. نو دین ئی برابر دے.

نو هلته سوال راځی: چه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه قمیص اوږد نه وو؟.

جواب داد ے: یا هغه پیش شوے نه وو. یا دا فضیلت جزی دے. او جزی فضیلت د چا سوا کیدے شی. نو دلته هم د عیسیٰ علیه السلام فضیلت جزی دے.

د مس نه مراد شوه وسوسه. د وسوسے معنی ده څه خبره زړه کښې اچول. دا بچے د وسوسے سره هم مانوس نه دے۔ نو ددے وجے نه چغه اوباسی. دا بچے وائی چه زما نه د مورد خیتے هغه تول منافع ختم شول۔ زما د خوراك به څه انتظام وی. هلته یوانتظام وو. چه د حیض وینه ورته جاری وی. او دلته دنیا کښې ورله الله دوه انتظامه اوکړل ۔ دمورسینه کښې دواړو غاړو ته پئی پیدا کړل. او بیا چه ترے بچے صبر کوی. نو الله ورله اوه انتظامه کړے وی. سورة عبس کښې راځی: ﴿أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ، ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ، فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ، وَعِنَبًا وَقَضْبًا ، وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ، وَحَدَائِقَ غُلْبًا ، وَفَاكِهَةً وَأَبًّا﴾.

دویمه توجیه: دا کنایه ده د تسلط د شیطان نه. نو تسلط د شیطان عام دے. ابتداء کښې هم دے. او انتهاء کښې هم دے. کنایه د حقیقی معنی سره جمع کیدے شی. د بلوغ نه پس شرك د شیطان په تسلط کوی۔ باب الوسوسة کښې ځکه ذکرکړو۔ چه په کښې د شیطان د تسلط ذکر دے۔ اکثر محدثین ئی په ظاهر حمل کوی.

او علامه طیبیؒ لیکلے دی: چه کنایه ده د تسلط د شیطان نه. اګر چه "صارخًا" سره ډیرخه نه لګی.

بعضے علماء وائی: چه د بی بی مریم ذکر وهم دے ۔ دلته یو سوال راځی. چه دا دعا د اولاد په حق کښې صحیح ده۔ لیکن د بی بی مریم په حق کښې به څنګه صحیح شی؟. ځکه دعا خود هغے د

پیدائش نه بعد قبوله شوے ده۔ حال دادے : چه آیت هغے ته هم شامل دے۔ ددینه خودا لازمه شوه۔ چه په دے دعا کښې تقدیم المسبب علی السبب راغلے دے۔ لیکن ددے جواب دادے : چه یو اسباب حقیقیه دی۔ او دویم اسباب شرعیه دی۔ تقدیم د مسبب په سبب په اسباب حقیقیو کښې ناجائز وی ۔ او دلته خوسبب سبب شرعي دے۔ او په اسباب شرعیو کښې تقدیم د مسبب په سبب جائز دے۔ نو کچرته دعا روستو هم شوے وی۔ نو اعتراض نشته۔

هدیة المهدی ۱ : ٦٢ کښې علامه وحید الزمان لیکی : کل مولود یولد فیطعنه الشیطان فی یوم الولادة اما بمجرد التولد او بعده الا مریم وابنها بدعاء امها کما ورد فی الحدیث وقرء النبی بعد ذالك انی اعیذها بك ..الخ۔ وبهذا یزول الاشکال الذی اورده بعض القاصرین من ان طلب الاعادة من ام مریم انما وقع بعد الوضع فلا یترتب علیه حفظ مریم من طعن الشیطان وقت نزولها من بطن امها یتوافق الحدیث مع الآیة۔

حدیث ۸: وعنه قال قال رسول اللهﷺ صیاح المولود حین یقع نزغة من الشیطان..الخ۔

دا حدیث دلیل دے ددے دپاره ۔ چه اول مصداق هغه دے۔ چه کله بچے راجدا کیږی۔ یعنی د مورنه پیدا کیږی۔ دنیا ته راځی۔

"حین یقع": ۔ یعنی " حین ینفصل عن امه "کله چه د مورنه بیلیږی۔ دابچے چه وی داد مورجزء وی۔ په یو قسم ورسره تړلے شوے ئی۔ دا بچے چه کله پیدا شی۔ نو هغه ترے کټ کوی۔ د "نزغ" معنی اوکړه وسوسه۔ دا قرآن کښې شته : ﴿وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ﴾ (سورة الاعراف : ۲۰۰) ۔ معنی ده وسوسه۔ روستو د شیطان گمراه کول شته۔

حدیث کښې صفا راځی : د شیطان د بد آثارو د ختمولو دپاره مسئله داده۔ چه ده له به په غوږ کښې بانگ وائي او اقامت دابه ورته وئیلے کیږی ۔

علامه ابن قیمؒ یو کتاب لیکلے دی۔ په یو جلد کښې د هغے کتاب نوم دے : تحفة المودود باحکام المولود ۔ د مولود احکام دے په کښې۔ هغه احادیث ئی ذکر کړے دی۔ چه په کوم کښې بچی ته به د والدینو په توسط په غوږ کښې د اذان کولو حکم متوجه دے۔

لیکی : د ابن سنی په حواله : من ولد له مولود فاذن فی اذنه الیمنی واقام فی اذنه الیسریٰ رفعت عنه ام الصبیان ۔ (ذکره الحافظ فی التلخیص ٤ : ١٤٩) ۔ نبیﷺ د حسن په غوږ کښې اذان کړیدے۔

(ابو داود سنده ضعیف) ۔

دا اذان ددے امت خصوصیت دے۔ پہ مخکښې امتونو کښې نه د مانځه دپاره او نه د ماشوم په غوږ کښې بانګ وو۔ دا امت دعوت دپاره پیدا شویدے۔ دا تعلیم ددے دپاره دے۔ چه اول ئې غوږ ته د توحید آواز اورسي ۔ او د اذان د کلماتو د اوریدو په وجه شیطان تیخته کوي۔ اذان دعوت دے۔ "اللهم رب هذه الدعوة التامة"۔ نو چه کله بچے پیدا شي او غوږ ته ئې دا آواز اورسي۔ چه ته داعي یا داعیه راغلے ئې۔

الحق الصریح کښې دي: دے د بانګ په باره کښې لیکي: چه اذان کښې حدیث کمزورے دے۔ او په اقامت کښې خو ډیر کمزورے دي۔ نو بیا روستو وائي: چه د اذان دا کوم روایت چه دے دا حسن دے۔ ځکه چه د امت تعامل ورته شامل دے۔ ددے وجے نه دا روایت حسن دے او صحیح دے۔ د امت عمل ئې تائید کوي۔

یوه مسئله ترے معلومه شوه۔ ضعیف حدیث له چه د امت تعامل تائید کوي۔ نو هغه معمول به جوړیدے شي۔ د اختر مونځ له به بهراوځي۔ او که باران وي۔ نو جماعت کښې به ئې کوي۔ ددے په باره کښې په ابوداود کښې یو روایت دے۔ د ابوداود روایت ضعیف دے۔ نو وائي د امت تعامل ددے تائید کوي۔ نو په روایت به کلام نه کوے دا ټیك دے۔ د شلو رکعتو تراویحو روایت مسلمانانو بلکه د صحابو او د سلفو تعامل هم دلیل جوړیدے شي۔ د امت تعامل خوشته دے۔ حرمینو کښې شته۔ رفع الیدین او آمین بالجهر باندے د هغوی عمل د خپل مسلك د ترجیح د وجے نه دے۔ مکه مکرمه کښې شل په مدینه منوره کښې شل رکعات تراویح دي۔ "التراويح من الف عام" کتاب دے۔ چه د سیدنا عمر رضی الله عنه د وخت نه تر دے وخته پورے په حرمینو کښې او د جمهورو مسلمانانو په علاقو کښې شل رکعته دي۔

اوس خو د سعودي محکمه اوقاف د شلو رکعتونو بالالتزام کولو حکم کړیدے۔

خیر الفتاوی کښې مولانا خیر محمد جالندهریؒ لیکلے دي: چه ضعیف حدیث د تعامل د وجے صحیح کیږي ۔ او تعامل د آخوا دیخوا خلقونه دے مراد۔ بلکه صحابه او تابعین او ښکلے ښکلے مؤحدین علماء ئې خلاف نه کوي۔

صاحب د مشکوٰۃ نه د بخاري په حواله ورکولو کښې تسامح شویدے۔

حدیث ۹ : وعن جابر قال قال رسول الله ﷺ ان ابلیس یضع عرشه علی الماء ...الخ۔

"ان ابلیس یضع عرشه": ۔ ابلیس خپل تخت به اوبو باندے کیږدي۔ بالکل حقیقي معنی ده۔ او

الله ورله قدرت او طاقت ورکړيدے۔
مشکوۃ ثانی کښې دی : د ابن الصیاد په واقعه کښې۔ نبی ﷺ ورته اووئیل ته څه وینې هغه ورته اووئیل : څه خپل عرش په اوبو باندے وینم ۔ هغه ورته اووئیل : ته د شیطان عرش وینے۔ نبی ﷺ فرمائیلے دی : ان ابلیس یضع عرشه علی الماء۔
دا خپل تخت ئې په اوبو باندے ایخودے وی۔ نقل او پیښے کوی۔ باطل پرست تول عمر پیښے کوی۔
قرآن کښې هم راغلی : ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ﴾۔ (سورۃ هود : ۷)۔
"یضع عرشه علی الماء ":۔ شته خو نقل کوی۔ او شیطانی تشکیلونه کوی۔
"یبعث سرایاہ": ۔ سرایا جمع سری اصل کښې هغه جماعت ته وئیلے کیږی۔ چه پیغمبر ﷺ په کښې نه وی۔ او جهاد له تلے وی۔
مولانا احسان صاحب مدظله فرمائی : سارے کام تبلیغ والوں کے طریقے پر کرتا ہے فرق صرف نیت میں ہوتا ہے اکی نیت ساروں کو دوزخ میں پہچانے کی ہوتی ہے اور ہماری نیت ساروں کو جنت میں پہچانے کی ہے
دا شیطانی د حق پرستو نقل دے۔
"یفتون الناس": ۔ چه په فتنه کښې واچوی خلق۔ د فتنے اصل معنی داده : اور ته سره زر ددے دپاره اچول۔ چه د هغے نه کوټ لرے شی۔
نو چه کله راشی دا شیطانان نو خپله کارگزاری اوروی۔ تاسو څه اوکړه۔ او چرته تلے وے۔ نو یو تولګے په کښې راشی۔ مونږ هغه فلانکے په بے نمازے کښې اخته کړو مونځ نه کوی ۔ بل وائی مونږ په غلا کښې اخته کړو۔ نو شیطان نه خوشحالیږی په دے باندے۔ نو په دے کښې یو شیطان راشی هغه ورته وائی ماد ښځے او د خاوند په مینځ کښې جدائی راوسته۔ او اوس په کور کښې هر وخت کښې به په جنګ وی۔ نو ابلیس ډیر زیات خوشحاله شی۔
" کذا و کذا ":۔ چه مونږ فلانکے فلانکے کار اوکړو۔ سورۃ ابراهیم : ۲۲ کښې راغی۔ چه دا شیطان به د قیامت په ورځ تقریر کوی او وائی به : ﴿وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي فَلَا

تَلُومُونِيْ وَلُومُوٓا أَنفُسَكُم مَّا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ إِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾. ما درله دعوت درکړو. نوتاسو ئی قبلول اوکړو. نو دعوت هم دے چلوی. دعوت د شرك او د بے اتفاقیء او د بدعاتو.

"ما صنعت شيئًا": ـ تا هيځ اونه کړل. چه فلانکی مونځ اونه کړو. تهجد ئی او نه کړو. اشراق ئی او نه کړه وغيره.

"حتى فرقت بينه": ـ چه جدائی مے راوسته. جادوګرهم دا کوی. قرآن کښی راځی : ﴿مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ﴾. (سورة البقرة : ۱۰۲) ـ په دے باندے شيطان ډير زيات خوشحاليږی. او دا جدائی خو يا کنايه ده د طلاق نه. چه د ښځے او د خاوند په مينځ کښی اختلاف پيدا شو. طلاق ئی کله نه وی ورکړے. او يو بل سره اختلاف دے. خاوند ښځے ته نه نزدی کيږی. او بل ځائی کښی چه ښځه خپل کنکشن برابرکړی د بل چا سره. نو تدبير المنزل ورانيږی. او د تدبير المنزل په ورانيدو شيطان ډير زيات خوشحاليږی. يا په دے خوشحاليږی چه طلاق ورله ورکړی. او بيا ئی هم ساتی. په بعضے کورونو کښی داسے هم شته. چه خاوندانو ښځوله طلاق ورکړے وی. او بيا ئی هم ساتی پرواه ئی هم نه وی. نو شيطان په دے ځکه خوشحاليږی چه حرامی بچی پيدا کيږی. نو چه شيطان ورته دا اووائی چه ښځه او خاوند مے په اختلاف کښی کړل.

"فيدينه": نو ابليس ئی ځان خواته په تخت باندے کينوی. اوورته وائی "نعم انت" يعنی "نعم الولد انت" ته زما خه بچے ئی. کار خو تا اوکړو. دا نور خو هسے آخوا ديخوا کوی.

علامه طيبیؒ ورله محذوف عون راوباسی. "نعم العون انت" تـه زما خه مددګار ئی. د شيطان مدد دغه دے. چه د ښځے او د خاوند په مينځ کښی اختلاف راشی.

"فيلتزمه": ـ راترغاړه اوزی. معانقه ورسره اوکړی.

"قال الاعمش": ـ الحق الصريح کښی ليکلے دی : سليمان بن مهران دے. بيا وائی چه انس رضی الله عنه ئی ليدلے دے. او وفات ده په ۴۷ کښی شويدے. دے يا خطاء شويدے يا کاتب. دا ۱۴۷ دے. د خبرے مطلب دادے : چه اعمش ۱۴۷ کښی وفات دے. او ده انس رضی الله عنه ليدلے دے. نوامام

ابو حنیفہؒ پہ ۱۵۰ کښې وفات شویدے۔ د هغه نه درے کاله روستو دوی ولے انس رضي الله عنه نه شی لیدلے۔ ددے وجے نه علامه ابن عبدالبرؒ وائي لیدلے ئې هم دے۔ او روایت ئې ترے هم کړیدے.
رؤیةً خو امام ابو حنیفهؒ تابعي دے بالاتفاق۔ روایةً کښې لږ اختلاف شته دے۔
لیکي: امام ابو حنیفهؒ خو هم تابعي دے۔ علي قول کتاب تحفة المناظر :ص ۱۱۔ موضوع ئې دلچسپ تحقیقونه دي په هغے کښې لیکلے دي: امام صاحب تابعي دے یا تبع تابعي۔ (ص : ۱۲)۔
البدایه والنهایه کښې دي: ذکر بعضهم انه روی عن سبعة من الصحابة۔
علامه قسطلانيؒ لیکي: ابن ابی اوفی عبدالله الصحابی بن الصحابی قیل وقد رآه ابو حنیفةؒ۔

(ارشاد الساری باب من لم یری الوضوء الا من المخرجین)۔

نوقاعده داده: من حفظه حجة علی من لم یحفظ والمثبت مقدم علی النافي۔ کما مرّ۔

سوال: امام بخاريؒ د امام ابو حنیفهؒ په سند هیڅ روایت ولے نه دے اغستے؟۔

جواب: امام بخاريؒ "کتاب النکاح باب ما یحل من النساء وما یحرم "کښې موقوف روایت راغستے دے۔ او" کتاب المغازی باب کم غزا النبی ﷺ "کښې روایت راغستے دے۔
ابن حجرؒ لیکلے دي: ولیس للمصنف في هذا الکتاب روایة عن احمد الا في هذا الموضع واخرج عنه في آخر المغازي حدیثا بواسطة۔ کتاب المغازی باب کم غزا النبی ﷺ۔
او ارشاد الساری ۱ : ۲۳ کښې علامه قسطلانيؒ لیکلے دي: چه د امام شافعيؒ په سند هم امام بخاريؒ یو روایت نه دے راغستے۔ امام نسائيؒ د امام بخاريؒ په سند صرف یو روایت " باب الفضل والجود في شهر رمضان " کښې ذکر کړیدے۔ حالانکه امام بخاريؒ ئې استاذ دے۔

حدیث ۱۰: وعنه قال قال رسول الله ﷺ ان الشیطن قد ائس من ان یعبده المصلون..الخ۔

"جزیرة العرب": ۔ جزیرة العرب څه ته وائي۔ په دے کښې درے قوله دي۔ (۱): یو قول د امام مالکؒ دے هغه وائي: دا مدینے، مکے او یمن ته وائي۔ (۲): دویم قول د ملاعلي قاريؒ دے۔ هغه وائي: بحیره هند او بحیره شام دا دواړه چه د کومے علاقے نه تاؤ شو۔ نو دغے ته وئیلے کیږي جزیرة العرب۔
(۳): دریم قول صاحب د قاموس دے وائي: د عدن نه واخله د شام پورے د طول په اعتبار باندے۔ او جدے نه تر عراق پورے د عرض په اعتبار سره۔ دے ته جزیرة العرب وائي۔

نبی ﷺ فرمائیلی وو: اخرجوا الیهود والنصاری من جزیرة العرب۔ اوباسیٔ د جزیرة العرب نه یهود او نصارٰی۔ چه د کوم ځائی نه حدود حرم شروع کیږی۔ هلته ئی لیکلے دی۔ چه د غیر مسلم داخله بنده ده۔ ''ان الشیطان قد ایس من ان یعبده المصلون فی جزیرة العرب ''۔

په دے باندے اعتراض دے۔ چه د شیطان عبادت خو بیا روستو شوید ے۔ گمراهی په کښی راغلے ده ۔ مثلاً مسیلمة الکذاب پیدا شوے دے۔ نو داد الخراج د بنو حنفیه علاقه ده۔ چه د کوم ځائی ثمامه رضی الله عنه دے۔ دے مسیلمه د نبوت دعوٰی کړے وه۔ یا په هغے کښی نورغلط خلق پیدا شوے دی۔ او غلط غلط کارونه ئی کړے دی۔ لیکن شرك او مشرکان په کښی نشته۔

دویم: دا چه په حدیث کښی راځی۔ په آخر وخت کښی به ښځے د دوس قبیلے راشی۔ اوهغوی به د ذی الخلیصه (بت دے) د هغے نه به گیر چاپیره خپل کوناتی وهی راوهی۔ یعنی بت پرستی به کوی۔ دلته خو حدیث کښی راځی۔ چه شیطان نا امیده دے۔ اوهلته حدیث کښی راځی۔ چه د هغه بت نه به گیر چاپیره طوافونه کوی۔

جواب: د هغے دادے: چه دے حدیث کښی اوس وخت یادوی ۔ اوهغه د قرب قیامت خبره وه۔ د قرب قیامت نه چه علاوه دی۔ اومسیلمة الکذاب نو هغه بت پرستی نه وه کړے نورالحاد ئی کړے وو۔

(۲): دویم جواب: د مونځ په حالت کښی شیطان ددے نه ناامیده شو۔ چه دغه مونځ گزار چه ترڅو پورے مونځ کوی۔ نو دے به د غیر الله عبادت نه کوی۔

(۳): دریم جواب: خه جواب دادے: چه دا خود شیطان د ناامیدے یو حال ذکرکوی۔ اخبار نه دے۔ یوانسان دے ۔ هغه کله کله نا امیده وی۔ او یائی امید وی دهغه چه کوم امید دے۔ د هغے خلاف کیږی ۔ نو شیطان نا امیده وو۔ خود هغے خلاف اوشی۔ نواودی شی۔ اوکه بعضے په کښی مرتد جوړ شی۔هغه دور ډیر لږ وو۔ هغه ختم شو۔

''ولکن فی التحریش بینهم '': ۔ د مونځ گزارو او د توحیدیانو په مینځ کښی به اختلاف پیدا کوی۔ داد هغه ضرورت مجبوری او شیطانی سکیم دے۔ چه توحید والا خپل مینځ کښی اختلاف اوکړی۔ ځکه چه مؤحدین په خپل مینځ کښی په ضد شی۔ نودوی بیا د بدعتیانو طرف داری کوی۔ اوهغوی سره خپل تعلق ساتی ۔ او دے سره د عقیدے د توحید په اشاعت کښی خلل راشی ۔ او شیطان د شیطانت په جامو کښی د خوشحالیٔ نه نه ځائیږی۔

الفصل الثانی

حدیث ۱۱: عن ابن عباس ان النبیﷺ جاء ہ رجل فقال انی احدث نفسی بالشیء..الخ۔

"**انی احدث**": دا معلوم او مجهول دواړه وئیلے شی۔ خوخه خبره داده۔چه دا معلوم اووئی .ماته دا زړه خبرے کوی.خلق وائی تاتا دا زړه عجیبه عجیبه خبرے کوی. کنایه ده د وسوسے نه۔ ماله وسوسے راځی.

"**بالشیء**": ۔ کښې الف لام عهد ذهنی دے۔ او داپه قوت د نکرے کښې وی۔ او ددے په صفت کښې جمله راځی۔ "بشیء" په یو څیز سره۔

"**لان اکون**": ۔ ورله صفت دے۔ نو دا څنګه صفت جوړے " الشیء " خو معرفه ده۔ او دا جمله نکره ده۔ نو جواب دادے : چه دا " الشیء " هم نکره ده۔ اګرچه الف لام پرے راغلے دے۔ دے کښې د "توغل فی الابهام" د ابهام د وجے نه تعریف نه پیدا کیږی۔

"**امره**": ۔ په معنی د شان۔ "ہ" ضمیر یا "رجل" او یا "شیطان" ته راجع دے۔ نو معنی "رد امره"۔ د شیطان دا وسوسه ئی واپس کړه۔ عدم عمل بالوسوسه مراد دے۔ شکر دے چه وسوسه تر وسوسے تر حده پورے پاتے شوه۔ او د وسوسے نه آخوا عملی دنیا ته اونه رسیده۔

وسوسے خو آدم علیه السلام ته هم شیطان کړے دی : ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾۔ (سورۃ ق : ۱۶)۔﴿فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ﴾۔(طه : ۱۲۰)

نو زړه ته کله کله وسوسے راځی نو دا وسوسے چه غیراختیاری راشی۔ نوپه دے باندے نیول نشته۔

حدیث ۱۲ : وعن ابن مسعود قال قال رسول اللهﷺ ان للشیطان لمة بابن ادم ...الخ۔

دے زړه ته یو ملك متوجه کیږی ،او دویم شیطان متوجه کیږی۔ د ملك د توجه نه بعد ترے الهام جوړیږی.او د شیطان د متوجه کیدو نه پس ترے وسوسه جوړیږی.څنګه چه اول کښې ذکر شو.نو د هغے وضاحت کوی۔

"**لمة**": ۔ د شیطان دپاره یو نزول دے " المام "۔ راکوزیدو ته وائی۔ دیره کیدل دی د شیطان۔ او " لمة " د ملك دپاره هم دیره کیدل دی ۔ یو کار د شیطان دے۔ او یو کار د ملك دے۔

التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیثؒ لمّه په څلورو قسمونه کښې تقسیم کړے ده :

(۱) : لمّه نفسانی۔ (۲) : لمّه شیطانی۔ (۳) : لمّه ملکی۔ (۴) : لمّه رحمانی۔

(۱): لمّه نفسانی : داد شهواتو نه عبارت دے۔ (۲) : لمّه شیطانی : دے سره انسان محرماتو کښې اخته کیږی۔ (۳) : لمّه ملکی : چه ددے سره انسان طاعاتو طرف ته متوجه کیږی۔ (۴) : لمّه رحمانی : په دے سره انقطاع د ما سوی الله راځی۔ نوپه دے څلوروکښې دوه دلته ذکر کړی۔ لمّه شیطانی او لمّه ملکی۔ لمّه نفسانی کښې د یو ګناه په باره کښې چه شیطان ئی کله د چانه صدور ته راوستل غواړی۔ نو بار بار به درته وسوسه اچوی ۔ دغه کار دے اونه کړو۔ دغه کار دے اونه کړو۔ او لمّه شیطانی به درله

مخه بدلوی ۔ په دے غلط کار ورشه ۔ ته پرے لا هیله کوے ۔
"فایعاد": ۔ ایعاد ئی دواړو کښې استعمال کړو ۔ وعده د شر او وعده د خیر ۔ هسے ایعاد چه مطلقًا راشی ۔ نو دا په شرکښې استعمالیږی ۔ او وعد په خیرکښې استعمالیږی ۔
"وجد ذالك": ۔ د " ذالك " اسم اشاره الٰمٓ ته راجع دے ۔ وسوسے ته نه ده ۔ ځکه وسوسه مؤنث ده ۔ بیا " تلك " وئیل پکار وو ۔ نو الٰمٓ په لمّه کښې موجود دے ۔
"من وجد الاخرٰی": ۔ اخرٰی ځکه وائی چه نوم ئی مه اخله ۔ دابے کاره څیز دے ۔ سورة جن ۱۱کښې هم راځی : ﴿وَاَنَّا مِنَّا الصَّالِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ﴾ ۔ او نهمه پاره کښې دی : ﴿مِنْهُمُ الصَّالِحُوْنَ وَمِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ﴾ ۔ (سورة الاعراف : ۱۶۸) ۔
"ویامر کم بالفحشاء": ۔ لمسه درکوی تاسو ته د بخل ۔ د فحشاء معنی ده بخل په دے ځائی کښې ده ۔ او د فحشاء اطلاق راځی په بخل باندے ۔
سبعه معلقه کښې شعر دے :

اری الموت یعتام الکرام ویصطفی　　　عقیلة مال الفاحش المتشدد

څه دامرګ وینم ۔ چه د سرسړی اود کار دانے رانه اخلی ۔ څه دا مرګ وینم ۔ چه کوم انسان انتهائی بخیل دے ۔ نو د هغه هغه مال پاتے شی ۔ او دے د دنیا نه لاړ شی ۔

حدیث ۱۳ : وعن ابی هریرة عن رسول الله ﷺ قال لا یزال الناس یتساء لون ....الخ ۔

"یتساء لون": ۔ خلق به د یو بل نه سوالونه او تپوسونه کوی ۔ کنایه ده د وسوسو د آثارود ظهور نه ۔ دا حدیث مخکښې هم تیر شوے دے ۔ اوس په دے حدیث کښې وظیفه بدلوی ۔ یوعلاج دے : " فالیستعذ بالله ولینته " ۔ او بل علاج دے : " امنت بالله ..الخ ۔ وئیل ۔ نو دلته بل علاج بنائی ۔ چه سورة اخلاص دے ۔ داد وسوسو د دفع دپاره ضروری دے ۔
د عثمان رضی الله عنه ته وسوسے د نبی ﷺ د وفات حسرت آیات نه پس راغلے وے ۔ مخکښې " من قبل منی الکلمة التی عرضتها علی عمی ۔ کښې ذکرشوید ے ۔
نو دوه قسمه شیطانان دی : (۱): شیطان جنی ۔ (۲) : شیطان انسی ۔ یوپه یوباندے او بل په بل باندے حمل کړه ۔ نو دا وسوسے د دفع دپاره علاج شوپه علاجونوکښې ۔
"تفل": ۔ لاړی توکل یو دے ۔ " نفث " لږ توکل ۔ " ومنهم من تفل علی وجهه " چابه د نبی ﷺ په مخ لاړے توکلے ۔ ګس طرف ته به درے ځله توکاڼړے توکړے ۔ ځکه شیطان ګس طرف نه ډیر راځی ۔ چه کله په مونځ کښې نه ئی ۔ او په خوب کښې هم دا مسئله ده ۔ چه خراب خوب دے اولیدو ۔ نو " اعوذ بالله " اووایه ۔ او درے ځله توکاڼړے ګس طرف ته توکړه ۔

الفصل الثالث

حدیث ۱۴ : عن انس قال قال رسول الله ﷺ لن یبرح الناس یتساء لون حتی ....الخ۔

دا حدیث د مخکښي پشان دے۔

حدیث ۱۵ : وعن عثمان بن ابی العاص قال قلت یارسول الله ﷺان الشیطن ...الخ۔

الحق الصریح کښي دده په حالاتو کښي لیکي : چه د بصري نه د لسو کسانو سره راغلے وو۔ او د نبي ﷺ سره ملاؤ شوے وو۔ بیا ئي لیکلے دي : چه دے د مسجد امام وو۔ طائف باندے عامل وو۔ د معاویه رضي الله عنه په خلافت کښي وفات شوید ے۔ آخري خبره ئي لیکلے ده۔ دوه کرته چه په ده کښي جني یعني پیرے دننه شوے وو۔ او پیرے ئي ترینه اوباسلے وو۔ مطلب پیرے وردننه کیدے شي۔ او پیرے اوباسلے شي۔

علامه ابن تیمیهؒ مجموع فتاوی ۱۰ : ۱۰ باندے لیکلے دي : ولهذا انکر طائفة من المعتزلة کالجبائی وابی بکر الرازی وغیرهما دخول الجن فی بدن المصروع ولم ینکر وجود الجن اذ لم یکن ظهور هذا فی المنقول عن الرسول کالظهور هذا وان کانوا مخطئین فی ذالك ۔

او دغسے په ۱۲ : ۵۴ باندے لیکي : وجود الجن ثابت بکتاب الله وسنة رسوله واتفاق سلف الامة وائمتها وکذالك دخول الجنی فی بدن الانسان ثابت باتفاق اهل السنة والجماعة ۔

علامه آلوسیؒ د سورة البقرة آیت ۲۷۵ : ﴿ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ﴾ د آیت د لاندے لیکلے دي: معتزله او په شوافعو کښي قفال ئي نه مني د جناتو راتلل۔ ددوي دا نه منل هم د شیطان د تخبط اثر دے ۔ په دے حدیث دلالت کوي چه : کفوا صبیانکم اول العشاء فانه وقت انتشار الشیاطین ۔ جماعة المسلمین ترے انکار کوي۔ د حزب الله ډلے تفسیر د دعوت القرآن په نوم دغه انکار د : ﴿ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ﴾۔ د آیت په وضاحت کښي درج دے۔ او دغسے معتزله وائي۔ دا تیك هم ده۔ چه پیریان وردننه کیږي هم۔ او اوځي هم۔ دغه د اهل السنت مسلك دے۔ علامه ابن الاثیرؒ د دوي په حالاتو کښي لیکلے دي : انه کان احرصهم علی الفقه فی الاسلام وتعلم القرآن۔ (اسد الغابة ۳ : ۳۷)۔

"حال بیني": ۔ یعني :حال بین شروعی فی صلوتی "۔ دویم مطلب : حال بین خشوعی وصلوتی۔ دا شیطان

مے په مانځه کښې خشوع ته نه پریږدی۔ او دا شیطان مے د مانځه شروع کیدوته نه پریږدی۔

"وبین قراء تی": ۔لکه بعضے خلق وائی: الحمد ال ال ال الحمد۔

"یقال له خنزب": ۔ خِنزب هم تیك دے۔ او خَنزب هم تیك دے۔ خِنزب بروزن درهم هم تیك دے۔ ددے خپله معنی ده زړه ور او جری په معاصیو باندے۔ د شیطانانو خپل نومونه وی۔ یوته ولهان وائی هغه وسوسه اچوی په اودس کښې۔ او یوته خنزب وائی چه هغه وسوسه اچوی په مانځه کښې۔

" فاذهبه الله عنی": ۔ وسوسو ته به توجه نه کوے۔ ځوك چه وسوسو ته توجه کوی نو دے خرابیږی ۔ وسوسه چه راځی نو څه کارځانله شروع کړه۔ څه بل څه عمل کښې ځان اخته کړه۔ وسوسه چه راځی نوذکر شروع کړه۔: ﴿وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَاناً فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ﴾۔ (سورة الذخرف: ٣٦)۔ ﴿اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ أُوْلَئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾ (سورة المجادلة: ١٩)۔

د شیطان طریقه واردات زده کړه۔ چه دے په کومه طریقه رانئوځی۔ چه ته د هغے سره بیا مقابله اوکړے شے۔ او د شیطانانو انسانانو د ملګرتیا نه ځان بچ کړه۔

عن المرء لا تسئل وسل قرینه　　فان القرین بالمقارن یقتدی

حدیث ١٦: وعن القاسم بن محمد ان رجلا ساله فقال انی اهم فی صلوتی ....الخ۔

قاسم بن محمد په فقهاء سبعو کښې دے۔ ١٠١ هجرے کښې وفات شویدے۔ داد ابوبکر صدیق رضی الله عنه نوسے دے۔ د امام جعفر د مورنیکه وو۔

مشهور فقهاء اوو(٧) دی۔ شاعر په شعر کښې جمع کړے دی:

الا کل من لا یقتدی بائمه　　فقسمته ضیزیٰ عن الحق خارجه

فخذهم عبید الله عروة قاسم　　سعید ابوبکر سلیمان خارجه

اودے تابعی دے۔ دغسے غوندے اشعار علامه ابن قیمؒ د اعلام المؤقعین اول جلد کښې ذکر کړیدی۔ او د علامه دمیریؒ په حواله د شاه انورؒ نقل کړیدے۔ چه دا نومونه د غنمو وغیره دانو کښې کیږدے سپګے ورته نه راځی۔ (العرف الشذی: ١٢)۔ لیکن ددے ښکلو نومونو نه داسے کار اغستل مناسب نه دی۔

الحق الصریح کښې لیکی: د تابعینو اقوال حجت نه دی۔ دوی تابعین څه کوی۔ چه د صحابه کرام هغه هم بعضے حجت نه منی۔ که د صحابو اقوال چا حجت منلے۔ نو شیخ عبدالسلامؒ به کتاب لیکلو۔ چه غیث السحابه ئی نوم دے۔ هغه د بخاری نه لسټ جوړ کړیدے۔ داد صحابو اقوال دلیل کښې

پیش کړے دی ۔ موقوفات دلیل نه منی ۔ لیکن کله چه ئی موډ او جُرت بدل شی ۔ نو بیا ئی منی ۔ بلکه بیا خو د تابعینو اقوال په دلیل کښی پیش کوی ۔

غیث السحابة کښی د ۱۳۵ ته تر ۱۷۷ ئے د صحابو اقوال جمع کړیدی ۔ او ۱۷۷ باندے آخر کښی لیکلے دی : مع اثبات انها حجة فی الدین احتج بها الامام البخاری رحمه الله ۔

"اهم فی الصلوة": ۔ څه په مانځه کښی ګډوډ کیږم ۔ وهم راته رائحی ۔

"ما اتممت صلوتی": ۔ تیك ده چه ما خپل مونځ نه دے پوره کړے ۔ ته شیطانه ماته داسے وائی چه ستا مونځ پوره نه شو ۔ بیا هم ما دا مونځ اوکړو ۔ او څه برابر مونځ دے ۔ ته وائی چه نه دے شوے خو څه وایم چه اوشو ۔ که ته وائی چه نه دے شوے ۔ نو هغه به درته بیا وائی چه نه دے شوے نو سلسله به جاری وی ۔ چه یو ځل دوه دے دغسے عمل اوکړه ۔ او زړه کښی وایه ۔ چه بس شوے دے ۔ نودے سره به د شیطان زړه اوچوی ۔ دا علاج بالضد دے ۔

خو دا به په هغه وخت کښی نه وائی ۔ چه واقعی ستا نه څه غلطی راغلے وی ۔ ظن غالب دے دادے ۔ چه زما مونځ سم دے ۔ او بیا مجرد وهم رائحی ۔ چه قرار نه نیسی ۔ نو بیا په هغه وخت کښی وائی ۔ چه زما مونځ سم دے ۔

که یوتن نفل مونځ کوی ۔ او مسجد نه وی نو خیر دے که لاړی توکړی ۔ دا عمل قلیل دے ۔ درے ځل توکل دی ۔ هسے نه چه دے وائی څه په روایت عمل کوم ۔ او پوخ مسجد کښی لاړے توکړی ۔ نو دا به نه کوی ۔ دا به پخوا په کچه جوماتونو کښی وو ۔ لیکن دا روایت منقطع دے ۔

نو علاجونه ذکر شو ۔ (۱) : توجه ورته مه کوه ۔ (۲) : شیطان ته وایه دا ته چه څه وائی ۔ چه داسے نه دے شوے ۔ بس نه دے شوے ۔ ما اوکړل او که ته وائی نیمګړے دے ۔ نو وایه خه پوره مونځ مے شوے دے ۔ ته څه مفتی نه ئی ۔ (۳) : اعوذ بالله له زور ورکړه " لا حول ولا قوة الا بالله " وایه ۔ (۴) : سورة اخلاص وایه (۵): امنت بالله ورسوله وایه ۔ (۶) : د قرآن سره د تعلق او د ذکر د اهتمام په زور' او په توحیدی دعوت دا شیطان رانزدے کیدے نه شی ۔ (۷) : خپله مخه بدله کړه ۔ یو کار کښی ځان فکرمند مشغول کړه ۔ (۸) : کوشش کول چه هروخت په اودس کښی ئی ۔ (۹) : د بدنظری نه پرهیز اختیار کړه ۔ (۱۰) : د سورة البقرة تلاوت په کور کښی کوه ۔ (۱۱) : آیة الکرسی د اوده کیدو په وخت کښی لوستل ۔ (۱۲) : معوذتین باندے ځان دمول ۔ (۱۳) : د سورة البقرة آخری دوو آیتونو اهتمام کول ۔ (۱۴) : اودس کښی ګرځیدل اود مونځ اهتمام کول ۔ (۱۵) : د فضول نظر ، کلام ، طعام او مخالطت نه ځان بچ کول ۔

التنویر علی مسئلة التقدیر

(مسئله تقدیر)

الله تعالی په تقدیری حکمونو کښې خپل لطف او احسان پټ کړیدے. په دے جزبه انسان په خوشحالۍ په هغے مصیبتونو صبرکوی چه: ﴿وَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئاً وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ (سورة البقرة:۲۱۶)
درے قسمه احوال دی: (۱): د تحکیم نه مخکښې. (۲): د تحکیم نه روستو. (۳): په عین حالت تحکیم کښې. د تحکیم نه مخکښې ئې عقیده ساتل عبودیت دے. او په عین تحکیم او بعد تحکیم کښې عبودیت داد ے: چه په خپلو زړونو کښې په هغے تنګی نه محسوسوی.
او ضروری نه ده. چه تقدیرستا د تدبیرسره موافق جاری شی. ډیر کرته هغه کار کیږی. چه تدبیر ئې انسان نه کوی. او ډیر کم هغه کیږی چه تدبیر ورله په خپل کار کښې برابر کړی. انسان ته د خپل کارد انجام پته نه وی. کله نفع بخش خیز کښې نقصان وی. او کله ورته د مصیبت په لار فوائد حاصل شی. کله د دشمن نه څه فائده او د دوست د لاس نه تکلیف اورسی.
عهد الست هغه وخت شوید ے. چه نفس هم نه وو. دا نفس د اضطراب محل دے. او سیدنا آدم علیه السلام وحواء د اونے نه که خوراك کړیدے. په دے کښې صفت د حلم، علم او مغفرت و ستاریت ښکاره دے. حلم ئې داد ے: چه سزا ئې زر نه ده ورکړے. مهلت ئې ورکړو. او ستاریت ئې ښکاره شو ﴿فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءَاتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ وَنَادَاهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَا إِنَّ الشَّيْطَآنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾ (سورة الاعراف:۲۲) ﴿فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى﴾ (سورة طه:۱۲۱) دے عمل سره. او دا ئې ورته او خودل. چه توبه او رجوع اوس پکار ده. چه د الله تواب، رؤف او رحیم کیدل ښکاره شی. د اونے نه خوراك خوړل تقدیری وو. دا ئې د اعراض سبب ورله نه دے جوړ کړے. نه ئې ورسره خپل مدد یا په هغوی مهربانی پریښودلے ده. او د هغے نتیجه: ﴿ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَى﴾ (سورة طه: ۱۲۲). کښې واضحه شوه.

او دا اجتباء حادثه نه ده ـ بلکه د آدم علیه السلام د وجود نه مخکښې وه ـ او د اجتبائیت د ظهور آثر حادث دے۔ آیت کښې درے خبرے شوے: (۱): اجتبائیت۔ (۲): توبه چه دد ے نتیجه وه۔ (۳): او دریم هدایت چه د توبے نتیجه ده۔

مکی دور کښې د جهاد نه کیدل: که چرته د اسلام په ابتداء کښې د جهاد اجازت ئې ورکړے وو۔ کیدے شي ۔ بعضے نوے مسلمانانو ذاتي بدله دکافرونه اغستله۔ اودوی ته به د نیت د خرابیء خبر هم نه وو۔ تقدیر کښې دغه دی۔ چه دا حکم مدینه کښې راشي۔ چه د نفس هیڅ ګډون د وژلو په وخت کښې نه وی۔ په مقدمه د رزق کښې سبب اختیارول د تقدیر یا د توکل خلاف نه دی: ﴿هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِّزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُوْرُ﴾ (سورة الملك: ۱۵)

﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (سورة الجمعة: ۱۰)

اوحدیث کښې دی: فاتقوا الله واجملوا فی الطلب وتوکلوا علیه. (شرح السنة)

طلب د رزق په اسبابو کښې یو سبب دے ـ په نصوصو کښې اسبابو ته ترغیب ورکولے کیږی۔ چه انسان په سبب کښې لګیدلے دے۔ ګناه ته دده نه اوزګارتیا د وجے توجه نه وی۔ او د آختر په شپه او ورځ چه اوزګار دے ـ خو مره نافرمانیء اکثر انسان کوی۔ د تقدیر د مسئلے نه د سبب نه اختیارول اغستل غلط دی۔ د بی بی مریم واقعه کښې راځی: ﴿وَهُزِّيْ إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا﴾۔ (سورة المریم: ۲۵)۔

سبب به بی بی مریم استعمالوی۔ چه خوزول دی۔ پښتو کښې متل دے: د کنډے څویه څه خوبویه۔

دیکھو مریم کو ہوا حکم خدا — نخل بن کو تو ہلا دو کھا رطب
چاہتا گر شاخ کر دیتا قریب — ہے مگر عالم میں ہر شے کا سبب
(الاکسیر فی اثبات التقدیر)

سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی: الایمان بالقدر نظام التوحید ممن آمن و کذب بالقدر فهو نقض للتوحید۔ (کتاب السنة للامام احمدؒ)

د ترمذی روایت دے: عن انس قال کان اخوان علی عهد رسول الله ﷺ فکان احدهما یاتی النبی ﷺ والآخر یحترف فشکی المتحرف اخاه النبی ﷺ فقال لعلك ترزق به۔

(الرحمة المهداة الی من یرید زیادة العلم علی احادیث المشکوة: ۱۰)

کله کله کارکسب کوونکی ته د بے کسبه انسان د وجے رزق ملاویږی. داخو صحیح ده. چه د رزق دپاره د کسب ضرورت دے. خود کسب د دولت سره هیڅ تعلق نشته. اودغه وجه ده. چه حدیث کښی راځی: لایحملنکم استبطاء الرزق ان تطلبوه بمعاص الله. (رواه فی شرح السنة ' ترجمان السنة).

دمولانا اشرف علی تهانوی اشرف التفاسیر ۴: ۱۲۹ باندے دی: جولوگ تقدیر کے معتقد ہیں، وہ مصائب وحوادث میں منکرین تقدیر سے زیادہ مستقل اور ثابت قدم رہتے ہیں. چه کوم خلق د تقدیرعقیده ساتی هغوی د نه منونکو په نسبت زیات مستقل او ثابت قدم وی.

معلومه شوه: چه مسئله تقدیرله د عمل په اصلاح کښی غټ دخل موجود دے. په دے حزن اوغم کمیږی. داسے عقیده لرونکی لوئی نه کوی. دا اصل دے د تعطل باطن ' که چرته یو تن په دے خفه وی. چه ما ماهر ډاکټر له بچے نه دے رسولے ځکه مړ شو. هغه چه په دے پوهه شی. چه دابه ئی هم په تقدیر کښی لیکلے وی. نو حوصله به ئی برابروی. معلومه شوه. چه د تقدیر د مسئلے د تعلیم نه صرف دا عقیده اختیارول صرف مقصد نه دے — بلکه دا عمل هم مقصود دے — چه په مصیبتونو کښی مستقل پاتے شی. هرمصیبت چه مقدرمنی. ډیره پریشانی به ورته نه راځی.

یعقوب علیه السلام ځامنو ته یو تدبیر خودلے وو. چه په یوه دروازه ټول مه دننه کیږے. او ورسره ئی فرمائیلے وو: ﴿وَقَالَ يَا بَنِيَّ لَا تَدْخُلُواْ مِن بَابٍ وَاحِدٍ وَادْخُلُواْ مِنْ أَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ وَمَا أُغْنِي عَنكُم مِّنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ﴾ (سورة یوسف: ٦٧).

کیږی به هغه چه په تقدیر کښی وی. تدبیر کند بنده ' تقدیر کند خنده:

عبدالله بن عمر رضی الله عنه د تقدیرمنکرله د سلام جواب نه دے ورکړے.

د کتاب الایمان اول روایت د مسلم نه معلومیږی. چه معبد جهنی: کان اول من قال فی القدر بالبصرة.

ده به وئیل: ان القدر وان الامر انف.

تقدیرخوعلم د الله دے ' علم الهی ستا د یو کارکولو نه مانع نه گرځی.

باب الایمان بالقدر

حدیث جبرئیل کښې چه کوم ایمانیات ذکرشوے دی۔ په هغه ایمانیاتو کښې یو ایمان بالقدر دے۔ نود هغے اجمال د وضاحت دپاره ئې باب اوتړلو۔ چه د صحابه کرامو دزمانے د آخری دورنه بعضو خلقود تقدیرنه انکار شروع کړے وو۔ ځکه ئې دا مسئله مستقله ذکرکړه۔

حدیث جبرئیل کښې تیرشوے دی۔ چه ملاعلی قاریؒ هغه خط نقل کړے دے۔ په هغے کښې ئې تپوس د قضاء اود قدر باره کښې کړیدے۔ جواب ئې ورکړے دے : من لم یومن بقضاء الله وقدره وخیره وشره فقد کفر ومن حمل ذنبه علی ربه فقد فجر۔ څوك چه د تقدیر قائل نه دی۔ قضاء او قدر نه منی۔ خیر او شر نه منی۔ نو دا سړے کافر دے۔ او چه خپل گناه په الله اړوی۔ نو ده فسق او فجوراوکړو۔

ځکه مونږ چه کومه " امنت بالله " یادو۔ نوپه هغے کښې دادی : والقدر خیره وشره من الله تعالی۔ داپه عقائدو کښې اهمه عقیده ده۔ چه د تقدیر مسئله نه منی نو کافر دے۔ په تقدیر کښې به ډیر دننه ورننوځی هم نه۔ تحقیق به په کښې ډیر زیات نه کوے۔

دلته ملاعلی قاریؒ لیکی او تفسیرخازن ددے آیت : ﴿وَلَـٰكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ﴾ (سورۃ البقرۃ : ۲۵۳)۔ د لاندے د علی رضی الله عنه قول نقل کړیدے : چاترینه تپوس اوکړو د تقدیر د مسئلے نو هغه ورته اووئیل : طریق مظلم لا تسلکه۔ تیاره لاره ده مه ورځه پرے۔ هغه بیا تپوس اوکړو۔ نووے وئیل : بحر عمیق فلا تلجه ۔ دا یو ژور سمندر دے۔ دے ته مه ورننوځه۔ نوبیا ئې تپوس اوکړو نووے وئیل : سر الله تعالی قد خفی علیك فلا تفتشه ۔ داد الله یو راز دے تفتیش ئې مه کوه۔ نو عقیده به د تقدیر ګڼړی۔ او ډیرو ژورو ته به په کښې نه کوزیږی۔

جبریه وائی : مونږ مجبور محض یو۔ اهل السنة وائی : انسان خلق نه شی کولے۔ اوکسب کولے شی۔ لا بدی شوه ددے نه چه د خلق اود کسب په مینځ کښې څه فرق دے۔

فرق په مینځ د خلق او کسب کښې

خلق او کسب کښې فرق داد ے : (۱) : چه خلق بلا توسط الاسباب وی۔ او کسب سره د اسبابو نه وی۔ (۲): کسب په آلاتو سره وی۔ خلق بغیر د آلاتو نه وی۔ (۳) : کسب چه بنده کوی ددے تعلق قائم دے د محل د عبد سره۔ اوخلق چه دے ددے تعلق نه دے قائم د محل د عبد سره۔ (۴) : خلق چه الله کوی

نو کسب ته نه دے محتاج. او کسب چه بنده کوی. نو بغیرد خلق د رب العزت نه کسب کښې آثر نه شی اچولے. چه يو تن کسب کوی. خو چه الله په کښې د خلق اثر نه پیدا کوی. نو هغه کسب به مؤثر نه وی. لکه يو سړے ډيره دوائی اوخوری. خو چه الله په کښې شفاء نه وی اچولے. نو په دے هيڅ نه کيږی.

خلق او کسب جدا جدا دی. معتزله په دے ځائی کښې خطاء شوے دی. هغوی وائی: چه انسان د خپلو اعمالو خالق دے. اهل السنة والجماعة وائی: انسان د خپلو اعمالو کاسب دے. جبریه وائی: انسان هيڅ څيز نه دے. نه خالق دے او نه کاسب دے. وائی مونږ مجبور محض يو. دا خبره عقلًا هم غلطه ده. سپے چه په کاڼړی باندے اولے. نو سپے په کاڼړی پسے نه ځی. ګزار کوونکی پسے ځی. هغه په دے باندے پوهه دے. چه دا کاڼړے په ماپسے چا راليږلے دے. دا کاڼړے په خپله نه دے راغلے.

د اهل السنة والجماعة دلائل شته: ﴿ والله خلقكم وما تعلمون ﴾. او عقلی دلائل هم شته. چه داسے خو د عبادو کارونه چه دی. هغه د الله نه سوا کيږی. شبهه ئی داده: چه قرآن کښې راځی: ﴿ أَنِّىٓ أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ ﴾. (سورة آل عمران: ٤٩ ' سورة المائدة: ١١٠). بل ځائی راځی: ﴿ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴾. (سورة المؤمنون: ١٤ ' سورة الصافات: ١٢٥). نو دد ے نه معلوميږی. چه نورهم خالقان شته دے. نو هغوی غلطه ځکه وائی. چه د " اذ تخلق " معنی ده. چه کله به تا جوړلود ختے نه. پيدا کولو والا معنی غلطه ده. دلته ئی ماده ذکر کړے ده " طين " خلق جوړولو ته وئيلے کيږی. او يو خالق چه يو څيز پيدا کوی. چه ساه په کښې وردننه کوی. هغه يو ځے الله دے. نو دا درے مسلکونه شول. معتزله دا هم وائی: چه الله شرور نه دی پيدا کړے. اهل السنة وائی: چه الله کفر پيدا کړے دے. الله ضلالت پيدا کړے دے. معتزله وائی: چه شر ئی نه دے پيدا کړے. که داسے شی نو لازم به شی دا خبره. چه د قبح نسبت به الله ته کوی. او الله د قباحت د صفت نه منزه دے. خو د هغے جواب داد ے: چه کسب د قبيح قبيح دے. خلق د قبيح قبيح نه دے. قبيح شیء که پيدا کيږی. په دے کښې قباحت نشته. د هغے په کسب کولو کښې قباحت دے. جهنم ئی پيدا کړيد ے. قرآن ترينه ډک دے. نو دا خو قبيح دے الله پيدا کړيدے. دے کښې قباحت نشته. دوزخ پيدا کولو کښې قباحت نشته. قباحت داد ے: چه د جهنم د تللو کارونه کوے.

درکارخانهٔ عشق از کفر ناگزیر است　　دوزخ کرا بسوزد گر بولهب نباشد

معتزلو كښې عمروبن عبيد د قرآن تحريف كولو. چه قرآن كښې دى: ﴿مِن شَرِّ مَا خَلَقَ﴾ په "شر" به ئې تنوين داخلو. او حرف "ما" به دے محرف نافيه اغستله. چه "شر" ئې نه دے پيدا كړے.
(اللباب) ـ قرآن كښې دى: ﴿وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُواْ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّهُ وَكَانَ اللّهُ بِهِم عَلِيمًا﴾. (سورة النساء : ٣٩). دے آيت كښې په جبريو رد دے. دوى ايمان راوړے شى څكه ورته وائى ايمان راوړے. داسے خو څوك روند ته نه وائى. چه څه به اوشى كه ته اووينے. دا وئيل غلط دى. شيطان ئې پيدا كړيدے. نو شيطان خو څه خيز نه دے. خو پيدا كړے ئې دے. نو په دے كښې به ئې څه راز وى.

چه شيطان ئې په دنيا كښې خود مختار كړو
د توپىء جمشيده دے كښې به ئې څه راز وى

دا حكومتونو والا جيل خانې جوړوى. چه دے ته هم ضرورت دے. جيل د ذات په اعتبار سره خه نه دے. خو چه كوم خلق خه نه دى. غلط كارونه كوى. نو هغه به دغے جيل خانے ته ځى. نو داسے د جهنم جيل خانے ته به مشرك ځى. نو خلق قبيح او كسب قبيح كښې فرق دے. انسان چه قبيح كسب كوى. نو دے پرے بدرنګ بنكارى.
خلق څه ته وائى؟ ـ احداث الاستطاعة فى العبد ـ بنده كښې طاقت پيدا كول ـ او كسب: استعمال الاستطاعة المحدثة ـ چه نوے استطاعت ئې وركړے وى ـ د هغے استعمال.
يو تن ته ددے پته نشته. چه زما په تقدير كښې ئې څه ليكلے دى. بلكه يوتن غلط كاركوى. سزا وركوى نو دے انسان له په كسب باندے سزا وركوى. چه تا ولے ددے قبيح كسب اوكړو. دا تقدير چه دے. ددے: (١) يو تعلق د علم ازلى سره دے. (٢) دويم: تعلق ئې د لوح محفوظ سره دے.
(٣) دريم: تعلق ئې د عهد الست يعنى: ﴿أَلَسْتَ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَى﴾ (سورة الاعراف: ١٧٢) سره دے.
(٤) څلورم: تعلق ئې ددے مور په خيټه كښې د بچى سره دے. بعض احاديث د هغے سره متعلق دى
(٥) پنځم: تعلق ئې د كال تقدير سره دے: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾. (سورة القدر: ١).
(٦) شپږم: ددے تعلق د هرے ورځے اود هر وخت سره دے: ﴿كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ﴾ (سورة الرحمن: ٢٩) ددے ټولو په اندازه باندے الله رب العزت فيصله كوى.

حجة الله کښې شاه ولي الله" وائي : د تقدیر غتې غتې مرتبې پنځه دي (۱) : مرتبه في الازل.
(۲) : مرتبه قبل ان یخلق السموات والارض بخمسین الف سنة ـ (۳) : چه آدم علیه السلام ئې پیدا کړو.
(۴) : حین نفخ الروح في الجنین ـ (۵) : قبیل حدوث الحادثة ـ
دے اولنې روایت کښې راځي : کتب الله مقادیر الخلائق قبل ان یخلق السموات والارض بخمسین الف سنة.
تقدیر چه څه دي ـ نو د ددے ټولو صورو په آسمانونو کښې مصور کیدل هغه په کښې راغلے دی.
یو هغه تقدیر دے ـ کله چه دے ماشوم کښې روح وردننه کړی ـ او اووائي چه دده دپاره عمل ' اجل ' رزق '
شقي او سعید اولیکی ـ حدیث د عبدالله بن مسعود کښې دی ـ دا ورله د مور په خیټه کښې لیکلے
کیږي ـ په دے تندی ئې ورله لیکی ـ او یو هغه تقدیر دے ـ چه دنیا لا وجود ته نه وه راغلے ـ هغه شيء
موجود نه وو ـ بیا روستو موجود کیږي ـ د شاه ولي الله" الفاظ دادي : دحظیرة القدس نه زمکے طرف ته
راځي ـ دے ځائي کښې حجة الله کښې یوه خبره کړے ده ـ وائي زما ځوے ډیرناجوړه وو ـ د ماښام
وخت کښې ما اولیدلو ـ چه د بره نه فیصله نازل شه ه د هغه د مرګ ـ د حظیرة القدس نه ـ نو اوس د
عوامو ذهن ورته نه رسي ـ
مولانا خلیل احمد سهارنپوری" فرمائي شیخ الحدیث صاحب" ترے نقل کړے دي : قال الشیخ الماجد
چه دا تقدیر د باب د علم سره تعلق ساتي ـ تقدیر د باب د قدرت او ارادے سره تعلق نه ساتي ـ
انسان مختیار د خپلو افعالو دے ـ لیکن چه دے څه کوي ـ نو الله رب العزت ته د مخکښې نه پته وي
ـ دانه چه الله دده نه طاقت سلب کړی ـ لکه یو سړے هغه د شپے ۳ بجے پاسیدے شي ـ غلا دپاره هم
او د تهجد دپاره هم پاسیدے شي ـ اوس دے د تهجد دپاره نه پاسي ـ اوغلاله پاسي ـ چه ګران کار دے
اوچه ده ته اووائي چه دا ولے کوے ـ نووائي بس دا به ئې په تقدیر کښې لیکلے وو ـ نودا سړے دروغ
وائي ـ که چرته دے مسجد ته راتلو خپے ئې شلیدلے ـ سترګوئي کار نه کوو ـ قدم ئې نه شو اغستے
او که ورانې پسے تلو ـ نو دے سم وو ـ نو بیا اوایه څه اوکړم مجبوره یم ـ دا هسے بهانې دي ـ بره کوتې
ته اوخیژه او راټوپ کړه ـ که ستا په تقدیر کښې لیکلے وي ـ چه ستا خپے او لاس به مات شي مات به
شي ـ او که نه وي خونه به ماتیږي ـ نو وائي هر سړی له ئې سر او سترګے ورکړے دي ـ ورته وایه پتې ته
مه ځه ـ چه په تقدیر کښې ئې درله څه لیکلے وي ـ غنم هغه به تاله کور ته راځي ـ نو بیا وائي خپل
کوشش کول پکار دي ـ نو چه هلته کوشش کوے نودلته په نیکو اعمالو کښې کوشش ولے نه کوے ـ

دتقدير د تسليم فوائد: خوك ئى چه نه منى نو هغوى وائى دا تقدير انسان بے كاره كوى. خوداسے نه ده - انسان باندے په ژوند كښى مصيبتونه راځى - نو عقلى طور باندے مصيبت كښى مؤحد انسان هغه مطمئن وى. ځكه هغه وائى: ﴿ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ - (سورة التغابن : ۱۱) - ﴿ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴾ (سورة الحديد : ۲۲) . تقدير به هم منے او كتابت د تقدير به هم منے -

(۲) : بله فائده ئى داده : چه انسان د يو كار دپاره اسباب مهيا كوى - كه اسباب كم ياب شو - او يا ناياب شو - چه نه ملاويږى - او دادے كامياب شو - نو دده پرواه نه وى - نو الله ورله كله كله بے اسبابو هم كاراوكړى - په كم اسبابو باندے ورله كار پوره كړى - نو دده زړه په دے باندے مطمئن وى -

(۳) : فائده په كښى داده : چه دے په مصائبو كښى انګا بنګا نه جنګوى - بلكه په مصائبو كښى هم دے خوشحاله وى - دوى ته پته ده - چه داد الله د طرف نه يوه فيصله ده -

مصائب میں الجھ کر مسکرانا میری فطرت ہے

مجھے ناکامیوں پر اشک برسانا نہیں آتا

د تقدير منونكے انسان حوصله ډيره اوچته وى - دے د عجب نه هم پاك وى - دے دانه وائى چه دا هر څه ما اوكړل - او دے اظهار د قدرت د رب العزت يو زريعه دا تقدير منى - او تدبير به هم اختياره وى - هم به تدبير وى - او هم به تقدير وى - (اشرف التوضيح) -

سوال دے : چه قضاء اوقدر په دے كښى څه فرق دے ؟ -

امام كرمانى دا وائى : قضاء " هو الحكم الكلى الاجماعى فى الازل " - او قدر " هو جزئيات ذالك العلم وتفاصيله التى تقع " - (۲): بعضے علماء دا وائى : چه قضاء هغے ته وائى : ماكان فى الازل - او قدر هغے ته وائى : ماكان عند الحادثة - (التقرير الرفيع) - (۳) : او بعضے علماء وائى : چه د لغت په اعتبار سره په قضاء او قدر كښى فرق نشته دے - قضاء او قدر يو شئ دے - بس په دے كښى دومره فرق دے - چه انجنيير نقشه جوړوى په كاغذ - چه دے ځائى كښى به كمره - دے ځائى كښى باورچى خانه - دے ځائى كښى برنده وى - بيا هغه معمارئى خارج ته راوباسى - نو يو قضاء شو او يو قدر -

علامه آلوسى د : ﴿ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ - (سورة البقرة : ۱۱۷) - د آيت د

لاندے لیکی: تقدیر "قبل ان تقع" تـه وائی۔ او "قضاء" انفاذ ذالك القدر " تـه وائی۔ چه د عدم نه ئی د فـعـل حـدتـه راوبـاسـی ـ حـدیـث کـنـبـی دی: چه نبی ﷺ د یو کوږ راغور ځیدونکی دیوال سره تیـرشـو۔ ورتـه اوویـلـے شو: اتفـرمـن قضاء الله ؟ قال افرمن قضاء ه الی قدره ـ نبی ﷺ د قضاء او قدر مینځ کښې فرق اوکړو۔

مرقات کښې ملا علی قاریؒ داخبره دلته لیکلے ده: چه والقدر سر من اسرار الله تعالی لم یطلع علیه ملکا مقربا ولا نبیا مرسلا ـ دا قـدر یو راز دے د الله رب العزت د رازونونه۔ په دے باندے ځوك پو هیږی نه۔ تقدیر به منـے او پو هیږے به پرے نه۔

په دے کښې دوه قسمه تقدیر راځی: (۱): تقدیر مبرم۔ (۲): تقدیر معلق۔

(۱) مبرم: غـوټـه خبره ـ (۲): مـعـلق دے ته وائی: که چرته دا سړے د صله رحمی خیال ساتی۔ نودده دپاره عمر سیوا کوم۔ دده دپاره په رزق کښې برکت اچوم۔ او چه نه ئی ساتی نونه کوم۔

حدیث کښې راځی: چه ځوك دا غواړی۔ چه عمر مے سوا شی۔ نو دده دپاره صله رحمی پکار ده۔

نوالله تـه خو پتـه ده۔ چه دے به څه کوی۔ د الله دپاره معلق نشته دے۔ اود الله دپاره مبرم دے۔ لیکن د انسانانو په اعتبار سره د قضاء معلق قایم کیدے شی۔

قرآن کښې: ﴿ يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ﴾ (سورة الرعد: ۳۹)۔ دے آیت کښې دواړو ته اشاره ده۔

بناء بریو تفسیر: ﴿ يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ﴾۔ دا "يثبت" قضاء مبرم دے۔ او "يمحوا الله ما يشاء" دا قضاء معلق ده۔ قضاء معلق ختموی۔ او قضاء مبرم پاتے کوی۔

ددے عـلـم چاته نشتـه۔ دا لوح محفوظ څنګه شو۔ چه خلق ورته ګوری۔ تفسیر مظهری والا خو درے څلور ځایـه لیکی: چه فلانکی لوح محفوظ ته اوکتل .: ﴿ يمحوا الله ﴾ د لاندے ئی هم ګډے وډے خبرے لیـکلے دی۔ چه د مجدد دوه ځامن وو۔ یوکس وو دهغه په باره کښې لیکلے شوے وو بره لوح محـفـوظ کښـی اولیـدو۔ چه دے شقی دے۔ او شیخ عبدالقادر جیلانیؒ ته ئی غوث الثقلین لیکلے دے۔ د تقدیر پته هیچا ته نشته سوا د الله نه۔

الحق الصریح کښې ددے یو مثال ورکوی۔ هغه وائی یو سړے ړوند دے۔ او په لاره باندے روان دے۔ او یوکس ورتـه وائی چـه بینـا دے ـ چـه حافظ صاحب ته خو داسے روان ئی خومخے ته کوهی دے۔ هسے نه چه ته په کښې اوغورځیږے۔ نودے سینه زوری کوی۔ دغه ړوند وائی څه به ځم۔ نودے به

اوغور څیړی دغه کوهی ته. او بل یو کس دے. او هغه هم روند دے. او هغه ته وائی چه هغے طرف ته کوهے دے. او دے ورته وائی چه ته زمانه خه پو هیږے. راشه ما د لاسه اونیسه. چه په کوم ځائی کښی کوهے دے. ماتړے بچ کړه. اوچه کله ما د کوهی نه واړوے. نو بیا واپس راځه. داسړے اوښیار دے. بعینه د تقدیر دپاره مثال دے. انتهی.

دمثال نه ئی پته لګی. ګویا چه مونږه عوام غیر مجتهدین ړانده یو. یا مو د مجتهدینو غوندے نظرنه لګی. چه رب العزت زمونږ دپاره څه لیکلے دی. نو هغه به کیږی. معلومه شوه: چه غیرمجتهد به هم د مجتهد د مشعل رڼړا اغستل نه پریږدی.

سیدنا عمرفاروق رضی الله عنه به په طواف کښی دا دعا غوختله: اللهم ان کنت کتبتنی فی اهل السعادة فاثبتنی فیها وان کنت کتبتنی فی اهل الشقاء فامحنی منها بفضلك واثبتنی فی اهل السعادة والمغفرة فانك تمحوا ماتشاء وتثبت وعندك ام الکتاب. (طبری).

الفصل الاول

حدیث ۱: عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ کتب الله مقادیر الخلائق ..الخ.

" **مقدار** ":. چه د کوم د وجے د څیز کمیت پیژندلے شی. او کله دا نفس کمیت ته هم وائی.

"**کتب الله مقادیر الخلائق**": ـ داپه هغه قسمونو د تقدیرکښی یو قسم شو. الله رب العزت د خلقو تقدیرونه لیکلے دی. پخپله ئی نه دے لیکلے. ملائکوته ئی حکم ورکړیدے. یاد "کتب" معنی لازمول لکه: ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ﴾. ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ﴾. (سورة البقرة: ۱۸۳ '۲۱٦).

مطلب د" کتب " دادے: چه قلم چلیدلے په تقدیر دے. الله قلم ته حکم اوکړو. چه د مخلوق ذوات او صفات، خیرو شر، زما د ارادے مطابق لوح محفوظ کښی اولیکه.

"**وکان عرشه علی الماء**": ـ یودا صورت دے " قبل ان یخلق " د کتب سره ئی متعلق کړی. عرش او اوبه به ترے خارج وی. د خلائق نه یعنی دائی نه دی لیکلے.

دویم صورت دادے: قبل ان یخلق ـ کتب فعل سره متعلق کړه. لیکن ظرف لغو ئی کړه. لیکن دے صورت کښی هر څه اولیکل." وکان عرشه علی الماء " ـ یا دا معنی واخله چه بعضے صفات ئی هم د

اوبو لیکلے دی۔ او اوبه ئی ددے وجے خاص ذکر کړے۔ چه د ټولو موجوداتو اصل دے۔ قرآن کښې دی : ﴿وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ﴾۔ (سورة الانبیاء : ۳۰)۔

په دے حدیث باندے یو سوال دے : دا تعداد دِ چه اوخودلو "خمسین الف سنة" نو تعداد د کلونو خو جوړیږی د نمرنه۔ او په هغه وخت کښې خو نمرنه وو ؟۔

جواب ئی دادے : که فرض کړه که د نمر حرکت وو۔ ستاسو په حساب سره نو "خمسین الف سنة" به جوړیدلو ۔ یا د الله سره بل څه مقدار وو۔ یا فلك اعظم په اعتبار سره۔ یاتحدید نه دے تکثیر طرف ته اشاره ده۔ او کنایه ده د یو مخصوص مقدار نه ۔ چه ډیر والے په کښې دے۔

" وکان عرشه علی الماء " دا معنی وه چه اوس د عرش او اوبو په مینځ کښې ډیر څیزونه حائل دی۔ نو په هغه وخت کښې د اوبو او د عرش په مینځ کښې څه حائل نه وو۔ بره عرش وو او خکته اوبه وے۔

علامه ابن حجرؒ وائی : دا اوبه هم عامی اوبه نه وے۔ دا اوبه د الله د قدرت نه کنایه ده۔

او د بهیقی په روایت کښې راځی : چه اوبه د ریح په متن باندے دے : والریح علی القدرة۔ (مرقات)۔

قاضی شمس الدینؒ لیکلے دی : ددے کتابة نه په دیوان خاص کښې کتابت مراد دے۔ هسے خو تقدیر مطلق ازلی له هدو ابتداء نشته۔ ځکه چه داد الله د علم ازلی نه کنایه ده۔ بما کان وبما یکون ۔

حدیث ۲ : وعن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ كل شیء بقدر حتی العجز . . .الخ۔

هر یو څیز په تقدیر باندے روان دے : ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾۔ (سورة القمر: ۴۹) "حتی العجزُ" هم وئیلے شی۔ او "حتی العجزِ" هم وئیلے شی۔ یابه وی عطف په "کل" باندے۔ یابه وی عطف په "شیء" باندے ۔ که عطف ئی په "کل" باندے کوے۔ نو "کل" مرفوع دے۔ نو "حتی العجزُ" به وائی۔ اوکه په "شیء" باندے عطف کوے نو "شیء" مجرور دے مضاف الیه دے۔ نو "حتی العجزِ" به وائی۔ او یا "حتی" بمعنی "الی" دے۔

حاصل داشو "حتی" که جاره وی۔ نو مجرور شو۔ او "حتی" که چرته ابتدائیه وی۔ نو مضموم شو۔

" کل شیء بقدر ": ۔ حدیث ځکه راوړی چه دا تقدیر په اعراضو کښې هم چلیږی۔ یو جواهر دی۔ په هغے کښې چلیږی۔ او یو اعراض دی۔ اعراض مطلب زیرك او ښیار دے 'کم عقل دے' عاجز دے د کار نه' یا قدرت لری د کار' دے کښې هم تقدیر چلیږی۔

"حتی العجز والکیس": ۔باندے اعتراض دے۔ د عجز ضد قدرت دے۔ د کیس ضد بلادت دے۔ کیس " الکیس من دان نفسه " دا اوښیارتیا ته وائی۔ او بلادت کم عقل توب ته وائی۔ نو دلته د عجز ضد کیس ولے ذکر کړو۔ د عجز عطف ئی په کیس باندے ولے اوکړو ؟۔ "حتی البلادة والیکس " او یا " حتی العجز والقدرة " به ئی ذکرکړیوے۔ نو اوس به د یو بل سره برابر وے۔ نو ددے څه وجه ده ؟۔

جواب : دادے چه " حتی العجز " سره بل تکے یو ځائی کړه " حتی العجز والقدرة "۔ او " کیس " سره بل تکے یو ځائی کړه " والکیس والبلادة "۔ یو په دے کښې ذکرکړه۔ او بل په قرینې سره حذف کړه۔ داسے طریقه به په بحث د اذان کښې هم راشي چه یو ناقوس یعنې بیګل دے۔ بل اور دے۔ نو آخوا درے ځیزونه دي۔ نو یو به په کښې ذکر کوي۔ نو داسے دلته هم راوباسه۔

دا جواب هم کیدے شي۔ چه د عجز نه مراد قوت عملیه دے۔ چه انسان عملي طور باندے کمزورے دے۔ او د " کیس " نه قوت علمیه واخله۔ او دواړو کښې تقابل دے۔

د تولو نه خه جواب دادے : " حتی العجز " دا مستلزم دے حماقت او بلادت له۔ ذکرد لازم او مراد ترے ملزوم دے۔ ځکه غبی د فهم او د خبرے ویخ ته د رسیدو نه عاجز وی ۔

د حدیث مطلب د تقدیر اهمیت په زړه کښې منقوش کول دي۔

عجزنه د بدن ، د رآی او د تمیز ضعف مراد دے ـ او کیس د عقل کمال او د طبیعت تیزی او د امورو معرفت دے۔

حدیث ۳ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ احتج اٰدم وموسیٰ عند ربهما ...الخ۔

آدم علیه السلام اود موسیٰ علیه السلام مناظره وه۔ بحث مباحثه وه د بابا او د نوسی ۔

دلته یو سوال راځي : چه دا چرته ملاؤ شوے وو۔ چرته آدم علیه السلام اوچرته موسیٰ علیه السلام۔ هر رنګه بحث خلقوکړے دی ۔ څوك وائي : آدم علیه السلام ئی ورته راژوندے کړے وو۔ لیکن دا قول ضعیف دے ـ اوځوك وائي : چه د معراج په شپه باندے ملاؤ شوے وو۔ په هغے کښې خبرے اترے شوے دی۔ لیکن " ربهما " راځي۔ جسماني ملاقات نه دے شوے۔ روحاني ملاقات شویدے په عالم الغیب کښې۔ نو دے ته حاجت نشته۔ چه آدم علیه السلام ئی ژوندے کړو۔

ددے نه دا معلومه شوه : که یو تن د خپل نیکه سره بحث کوی د آدابو د لاندے په خه طریقه باندے نو صحیح ده۔ خپل مشراستاذ سره په ادب او په طریقے سره بحث کوی۔ نو ټیك ده۔

" قبل ان یخلقنی باربعین سنة ": ۔ دلته یو سوال دے : چه دده نه خو دا معلومیږی۔ چه یو تن مسئله کښې چه خطاء شی۔ نو دهغے حواله په تقدیر ورکولے شی۔ لکه مثلًا غلا دے ولے اوکړه۔ بس دابه ماته الله په تقدیر کښې لیکلے وو۔

اول جواب : دادے چه نه معلومیږی۔ آدم علیه السلام که په تقدیر باندے حواله ورکړے ده۔ نو دهغے نه ئی روستو ورکړے ده۔ چه الله ورله توبه قبوله کړے ده۔ هغه ژړلے دی الله ته ۲۰۰ یا ۳۰۰ کاله۔

﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ (سورة الاعراف : ۲۳) . ئی وئیلے دے۔ ځکه ئی اووئیل شو " عندهما " ۔ نو ځنګه دے وخت کښې انسان وائی چه زمانه غلط کار اوشو ۔ نو څه به په تقدیر باندے حواله ورکوم۔ نو اوس دا تیك خبره نه ده۔

دویم جواب : شاه انورؒ په عرف الشذی کښې د علامه ابن تیمیهؒ قول نقل کړیدے۔ اعتراض ئی په دے باندے نه وو۔ چه تا اونه خوړلے ده۔ اعتراض ئی په دے باندے وو۔ چه ستا د اونے دا خوراك سبب شو ۔ د امت د مصیبتونو دپاره ۔ باباجی چه تا دغه اونه اوخوړه۔ نو ته د جنت نه راکوز شوے۔ نو اولاد آدم تول په تا کښې موجود وو۔

قاضی شمس الدینؒ لیکی : چه په عادیانو وغیرو باندے عذابونه راغی۔ او قرآن کښې دی :

﴿فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾ که چرته دوی معذور وے ۔ او تقدیر عذر وی۔ نو دوی له ئی عذاب ولے ورکوو۔ په دنیا کښې په نیکانو که مصائب راځی۔ د هغوی درجات اوچتیږی۔ یاد مصائبو د وجے الله ئی ګناهونه معاف کوی۔

"فحج ادم موسیٰ ": ۔ آدم علیه السلام په دلیل کښې غالب راغے په موسیٰ علیه السلام باندے۔ یعنی دده هغه موقف اوچت شو۔ الحق الصریح والا پښان تعبیر به نه کوے۔ چه هغه کړیدے۔ داد بے ادبے شان غوندے تعبیردے۔ هغه دلته لیکلے دی : آدم اوړ او موسیٰ پړ۔ داخو پیغمبران دی۔ په دوی کښې اوړ او پړ نشته۔ دواړه اوړ دی۔ خو هسے مسئله ئی راته خودلے ده۔ د سوال او جواب په وضاحت سره۔

بله داده : چه موسیٰ علیه السلام د شارع د اذن نه بغیر آدم علیه السلام ملامته کړو۔ او دا ملامته کول

هم د الله په تقدیر وو. نو په دے وجه آدم علیه السلام د تقدیر په زور موسیٰ علیه السلام خاموش کړو. نو غالب پرے راغے۔

علامه هیثمی لیکلے دی: چه د پیغمبرانو دپاره به د عصمت عقیده ساتے۔ د نبوت نه مخکښی د گناهونو نه الله ساتلے دی۔

حدیث ۴: وعن ابن مسعود قال حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق والمصدوق ...الخ۔

"وهو الصادق": ۔نبی ﷺ کامل الصدق دے۔ "المصدوق" چه کوم د وحی خبرے دی۔ په هغے تولو کښی د هغه تصدیق کړے شویدے۔ ده هغه تصدیق کړے شویدے په افعالو کښی۔ په اقوالو کښی۔ په احوالو کښی۔ ده هغه تصدیق کړے شویدے جبرئیل علیه السلام د طرف نه۔ ده هغه تصدیق کړے شویدے د خلقو د طرف نه۔ اود ابوبکر صدیق رضی الله عنه د طرف نه: ﴿ وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾۔ (سورة الزمر: ۳۳)۔

دے مینځ کښی جمله معترضه ولے راوړه۔ "وهو الصادق المصدوق" داخو هر چاته پته ده۔ چه نبی ﷺ صادق او مصدوق دے۔ روستو چه کومه مسئله راروانه ده۔ نو په هغے کښی د طبیبانو اختلاف دے۔ د بچی په پیدائش کښی د هغوی لړ اختلاف دے۔ نو وائی دے دپاره راوړو۔ چه دغه ترتیب نبی ﷺ خودلے دے۔ دغه ترتیب رشتونی ترتیب دے۔

"ان خلق احدکم": ۔ددے روایت نه دا معلومیږی۔ چه ماده د خلق چه د بچی پیدائش ترے کیږی۔ نو هغه د منیٔ نه کیږی۔ بیاد علقے نه کیږی۔ نو په تاسو کښی د هر یو تن ماده د خلق هغه جمع کړے شی۔ دمور په خیټه کښی څلویښت ورځے نطفه وی۔ بیا علقه شی څلویښت ورځے۔ بیا مضغة وی څلویښت ورځے۔

امام بیهقی اسماء وصفات کښی: ۷۹۱ نمبر او علامه ابن منده په خپل کتاب توحید نمبر: ۸۶ باندے روایت راوړیدے: ان الله اذا اراد خلق عبد فجامع الرجل المرءة طار ماءه فی کل عرق وعضومنها۔

او د بخاری روایت کښی د یو تن د سوال په باره کښی فرمائیلے وو: لعله نزعة عرق۔

(بخاری نمبر: ۵۳۰۵)

دے څلویښت ورځو کښی ډیرلوئی دخل دے۔ د انسان د خلقت په ترتیب کښی هم او د انسان په خه او

بد آثراتو قبلولو کښې هم - ځلوېښت ورځې که د نیکانو سره تیرې کړي - نو نیکي به زده کړي - او که د بدانو سره تیرې کړي - نو بدي به زده کړي - صوفیاء کرام او تبلیغیان دواړه چیلوله ډېر اعتبار ور کوي - خو دا چلے تنظیمي ګنړل پکار دي ، نه شرعي - چه " لا و کس ولا شطط " -

"ثم یبعث الله ": دا " ثم " دپاره د تعقیب ذکري دے - او یو " ثم " د ترتیب دپاره راځي - داد ترتیب دپاره نه دے - قرآن کریم کښې هم نهمه سیپاره کښې راځي : ﴿ ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ تَمَاماً عَلَى الَّذِيَ أَحْسَنَ وَتَفْصِيلاً لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَاء رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴾ (سورة الانعام : ١٥٤) - دیته تعقیب ذکري وائي - یا : ﴿ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلآئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ فَسَجَدُواْ إِلاَّ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴾ - (سورة الاعراف : ١١) -

"باربع کلمٰت": - په لیکلو د څلورو خبرو - یو اشکال دلته په روایت کښې داد ے چه کله درے اربعینات تیر شي ١٢٠ ورځې تیرے شي - نطفه ، علقه ، او مضغه په هریو باندے یوه یوه چله لګي - نو چه د نطفے ، علقے او مضغے حالت ته اورسي - نو دغے نه پس ملك راځي - داددے روایت نه معلومیږي - لیکن د مسلم په روایت د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه چه روایت ئې حذیفه بن اُسید کوي داسے راځي : چه دوه څلویښت ورځے پس ملك راځي - په دویمه اربعینیه چه شروع کیږي - یا داد دریو اربعینیاتو نه پس راځي - د یو اربعین د تیریدو ۴۲ ورځے پس راځي : اذا مر بالنطفة ثنتان واربعون لیلة "...الخ -

اول جواب : دغه د مسلم روایت دے - او زمونږ دا روایت متفق علیه دے -

دویم جواب : داد ے چه دا ړومبنے روایت چه د مسلم دے - داد نطفے د حفاظت دپاره ملك راځي - چه د نطفے ګډوډ والے رانه شي - دغے حفاظت اوشي - او ددے دپاره چه راځي "یبعث الله الیه ملکا " دلته د راتلونکي کارکردګۍ دپاره راځي -

دریم جواب : مولانا خلیل احمد سهانپوري ؒ جواب کړید ے - هغه وائي داد ماشوم په خیټه کښې د مودے د پاتے کیدو په اعتبار سره - دافرق دے - څوك شپږ میاشتے پاتے شي - څوك اته میاشتے پاتے شي - او څوك نهه میاشتے پاتے شي - نو دغے په اعتبار سره په دے کښې کمے او زیاتے راځي

داهم ده چه په دے روایت کښې ئې اووئیل "باربع کلمت" عدد اقل د اکثر نفی نه کوی۔ په بل روایت کښې زیاتے خبرے راځی۔

ددے روایت نه دا معلومیږی۔ چه کله مضغة شی۔ نود هغے نه پس ملك دا څلور کلمات لیکی د بچی ۔ دالیکل کوم ځائی کښې وی۔ نو غوره قول په دے کښې دادے: چه په تندی باندے لیکی۔ زمونږ خلق وائی: چه د چاپه تندی ئې نه دی لیکلی۔ چه کله نفخ د روح په کښې راشی۔ او بعضے روایتونو کښې راځی۔ د هغے نه مخکښې۔ نو دواړه قولونه په کښې شته دے ځکه روایات دواړه قسمه راځی۔

التقریر الرفیع کښې دی: ظاهرالروایة نفخ الروح بعد الکتابة وفی روایة البیهقی عکسه ــ ورجح روایة الشیخین ویمکن الجمع بانه یحتمل اختلاف الاحوال باختلاف الرجال۔

سوال: په تندی لیکل خو مونږ نه وینو ؟۔

جواب: داخو د خودلو څیزونه نه دی۔ د تندی سکرین ته به گورے۔ دومره اجل او رزق دے۔

مثال ئې دادے: یوتن چه د قرآن کریم حافظ دے۔ اوخه قرآن ورته یاد دے۔ او یو تن ورته وائی چه ته ماته په دے کوپړئی کښې دا قرآن اوخایه۔ چه سورة فاتحه کوم ځائی کښې ده۔ او سورة البقرة کوم ځائی کښې ده۔ د حافظ دماغ او د غیر حافظ دماغ په دے حیثیت سره یودی۔ چه په هغے کښې خانے نه دی جوړ ے۔ چه سورة بقرة یو ځائی پرته وی۔ او آل عمران بل ځائی پروت وی۔

کله چه الله رب العزت د انسان د پیدائش اراده اوفرمائیله۔ نو ملك ته ئې اووئیل چه خاوره راوړه۔ نو گډه وډه خاوره په هر رنگ باندے مشتمله ئې راوړه۔

مرقات کښې ملا علی قاریؒ لیکی: چه په دے خاوره کښې د هر ځناور صفات دی۔ نو هغه ددے حدیث په تشریح کښې شروع کړے ده۔

جواهر القرآن د علامه طنطاویؒ ۱: ۵۵ کښې هم دغه تفصیل کړیدے۔ په انسان کښې د ټولو ځناورو یوه نمونه موجود ده۔ هغه لیکی: (۱): بزدلی د څویه غوندے۔ (۲): عفت د مهی غوندے۔

(۳): اُنس او محبت د کمترے غوندے۔ (۴): قوت د هاتی غوندے۔ (۵): غلاد تپس غوندے۔

(٦): حیله او چل ول د عنکبوت او لومبړے غوندے۔ (۷): غلبه د ازمری غوندے۔ (۸): د هلاکت د ځائی نه تیخته دهوسیء غوندے۔ (۹): په زمکه کښې تهخانه جوړل د منږك غوندے۔

(۱۰): هیره د شترمرغ غوندے۔ (۱۱): سرکشی د قچر غوندے۔ (۱۲): زینت د طاوس غوندے۔

اومرقات کښې دي: (۱): په انسان کښې حرص د میږي دے. په میږي کښې حرص زیات وي. نو په انسان کښې هم حرص زیات دے. (۲): انسان کښې شهوت د چنچڼ غوندے دے. په چنچڼ کښې ډیر غټ شهوت وي. د ابوالکلام آزادؒ کتاب دے "غبار خاطر" خطونه ئې په جیل کښې لیکلے وو. هغه چهاپ شوید ے. نو هغه یو ځل ناست وو. نو چنچڼ او چنچڼه لګیا وو. خپل عمل ئې کولو. نو وائي ما اوکتل چه په یو منټ کښې بلا شے ځله چنچڼ په چنچڼه ختلے وو. (۳): په انسان کښې د پړانګ چه (فهد) ورته وئیلے کیږي. دهغے پشان غضب موجود دے. (۴): د سپي پشان بخل په کښې موجود دے. سپے چه وي که مرداره ورسره وي. او درے میاشتے ئې هم کیږي. نو که بل سپے راځي - نو غپ غپ ورته کوي - وائي هسے نه چه کمه ئې کړي راله. (۵): د زمري پشان بهادري په کښې موجوده ده - (٦): په انسان کښې د بانګې غوندے سماحت، سخاوت موجود دے. چه دانے واچوي چرګے ته او د هغے بچو ته. نو بانګې نه خوري. دے ځان روستو شان کړي او بچي مخے ته کړي. نو دے ته وائي: سماحة الديك - (۷): په انسان کښې د اوښ غوندے منقاد کیدل موجود دي. سل اوښان به وي چه د یو بل سره ئې اوتړے. نو وړوکي ماشوم به روان کړے وي. (۸): په انسان کښې د پیشو پشان عاجزي موجود ده. پیشو د یوے نوړے دپاره میاو میاو کوي. نو تاته به هم ګوري. چه دده په دے زړه باندے څه آثر کیږي او که نه. نو په پیشو کښې عاجزي او تواضع ډیره زیاته وي. دغے رنګے د انسان څه حاجت وي. نو وائي یره جي نو که تاسو دا کار اوکړو. نو ډیر به خه وي. شے به د څه شي پشان نه وي - او عاجزي به ورته شروع کړي - (۹): په انسان کښې د ګونګې غوندے قناعت موجود دے - (۱۰): په انسان کښې د سپي غوندے وفاداري موجود ده. سپي کښې یو حرص ډیروي هغه څه نه دے - دویمه په کښې وفاداري ده د مالك ډیر زیات وفادار دے. نو په انسان کښې هم دغه رنګے وفاداري موجود ده - (۱۱): په انسان کښې د باز غوندے همت موجود دے. د باز همت ته اوګوره. څومره په بره باندے ځي. عقاب چه ورته وئیلے کیږي.

تندیِ بادِ مخالف سے نہ گھبرا اے عقاب ۔۔۔ یہ تو چلتی ہے تجھے اونچا اڑانے کے لئے

نو همة البازي مشهور دے. په ټولو انسانانو کښې نه. خو په بعضو انسانانو کښې د همت ماده زیاته وي.
(۱۲): د کارغه غوندے وختي پاسیدل بعضے انسانانو کښې وي.
نور هم دغه شان محاسن اخلاق یا بد اخلاق د ځناورو هغه په دے انسان کښې موجود دي. نو داد هغے

خاورے آثر دے۔ خاورہ بعضے نرمہ وی۔ بعضے سختہ وی۔ بعضے ختمے غوندے دی۔ کہ ترے ډیوہ جوړه وے نو ډیوه اوکه لالٹین ترے جوړه وے نو هم جوړیږی۔ بعضے انسانان هم داسے دی که بدعتی د ځان نه جوړه وی بدعتی۔ اوکه غیر مقلدد ځانه جوړه وی۔ نو غیر مقلد ترے جوړیږی۔ دے هیولیٰ غوندے وی۔

پکار داده : چه انسان صلصال کالفخار شی۔ چه کړنگ کوی۔ خپله عقیده ښکاره کوی۔

"ثم ینفح فیه الروح" : ـ دلته سوال راځی چه دومره اوګده موده کښی د پیدائش څه فائده ده۔ نطفه ده ، علقه ده ، مضغه ده۔ بیا روستو په کښی ئی روح واچولو۔ نو که په یو ځل په کښی بچے پیدا شوے وے۔ اتو میتك نو په دے کښی به څه نقصان وے۔

(۱) : اوله فائده : خوداده چه مور ئی برداشت کولے شی۔ اوکه اوس جینیء ده شپاړس کالو ده۔ او د شپے ورسره خاوند کوروالے اوکړو۔ اوسحر هغه حامله شوه۔ اومازیګر ئی بچے پیدا کیږی۔ نو داخو هغے ته ډیره ګرانه شوه۔ داپه ځان نه پو هیږی۔ چه نطفه وی۔ علقه وی۔ مضغه وی۔ داسے په دمه دمه ترقی کیږی :﴿ حَمَلَتُ حَمُلاً خَفِيفاً فَمَرَّتُ بِهِ ﴾ (سورة الاعراف : ۱۸۹) ـ دا ورسره خپل کارونه کوی هم حامله وی۔ او هم کارونه کوی۔ بیا چه کله درنه شی۔ نو کار کم کړی۔

(۲): دویمه فائده : په دے کښی ده ـ د الله د قدرت طرف ته اشاره ده۔ داکوم مدارج چه د زنانه په خیټه کښی تیریږی۔ د هغے په وساطت د الله قدرت کښی سوچ او فکر اوکړی۔

(۳) : دریمه فائده : په دے کښی بعث بعد الموت طرف ته اشاره ده۔ چه کوم ذات په دے نطفه باندے قادر دے۔ چه دد دے نطفے نه داسے انسان پیدا کړی۔ هغه ذات په دے باندے هم قادر دے۔ چه انسان په قیامت کښی بیا راپورته کړی۔ : ﴿ أَلَيۡسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَى أَن يُحۡيِيَ ٱلۡمَوۡتَى ﴾۔

(سورة القيامة : ۴۰)۔

(۴): څلورمه فائده : چه خلـ ... د خپل پیدائش ماده اوخوی۔ چه آئنده په خپل بدنی قوت اود اندامونو په زور غرور او تکبر کښی اخته نه شی۔ او په : ﴿ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحاً إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولاً ﴾۔ (سورة الاسراء : ۳۷)۔ ورته عمل آسان شی۔

"**فيعمل بعمل اهل الجنة**":۔ معلومه شوه۔ چه اعمال أمارات وعلامات دي.موجبات نه دي
خو انسان له په نيك عمل چرته غرور نه دے پكار۔
مرقات كښې دي: چه جزمي فيصله به دچا د دوزخ او د جنت نه كوے۔ (چه منصوص نه وي).
فلا يحكم لأحد بانه من اهل الجنة والدرجات وان عمل ما عمل من الطاعات او ظهر عليه من خوارق العادات ولا يجزم في حق احد بانه من اهل النار والعقوبات۔
د حديث نه معلومه شوه: چه حسنات و سيآت موجبات نه دي۔ امارات و علامات دي۔

حديث ۵: وعن سهل بن سعد قال قال رسول الله ﷺ ان العبد ليعمل عمل ...الخ۔

حالات د سهل بن سعد رضي الله عنه: سهل بن سعد دده مخكښې نوم وو حزن۔ داد سعيد بن مسيبؒ د خاندان سرے دے۔ ۹۱ هجرے كښې په مدينه كښې وفات دے۔ د نبي ﷺ د وفات په وخت كښې ئې عمر ۱۵ كاله وو۔ اود مدينے آخري صحابي وو۔ چه وفات كيدو۔ خپل ځوي عباس او زهري، ابو حازم ترے روايت كړيدے۔

"**انما الاعمال بالخواتيم**": ۔ د اعمالو دارومدار په خاتمه باندے دے۔ " ختامه مسك "۔ چه په كوم وخت كښې درنه ساه اوځي۔ چه په دغه وخت ستا كوم عمل دے۔ نو هغے له اعتبار دے۔ ډير كرته كافر آخر كښې مسلمان شي۔ اوكله عكس وي۔
دے حديث كښې دا هم خودل دي۔ چه د عجب نه ځان بچ كړه۔ اودا مسئله ترے ثابته شوه۔ چه الله په خپل ملك او مُلك كښې چه ځنګه تصرف كوي۔ كولے شي۔
اومرقات كښې دي: فيه انه لا يجوز الشهادة لاحد بالجنة ولا بالنار۔

حديث ٦: وعن عائشة رضي الله عنها قال دعارسول الله ﷺ الى جنازة صبي ...الخ۔

حالات د عائشے رضي الله عنها: عائشه رضي الله عنها په ۵۸ يا ۵۷ كال د هجرت باندے د منګل په شپه وفات شوے ده۔ د شپے په بقيع الغرقد كښې دفن شوے ده۔ ددے جنازه ابو هريرة رضي الله عنه كړے ده۔ دا فقيه، عالمه، فصيحه اوفاضله وه۔ علم طب اوهم شعر كښې ماهره وه۔ نبي ﷺ چه وفات كيده۔ نو عمر ئې اتلس كاله وو۔ روايات ترے ۱۲۱۰ نقل دي۔

"الی جنازة صبی من الانصار": - په انصارو کښې يو ماشوم وفات شوے وو. چه جنازه ئې اوکړه نوزماد خُلے نه دا خبره اوختله.

"طوبی": - معنی مفسرين هم کوی اوملا علی قاریؒ هم کړے ده: فرح وقرة عين (مرقات ، فوزالكبير). خوشحالی ده د سترګو يخوالے دے. اود جنت نوم هم دے. خير او برکت ته وائی.

"طوبی". څوك وائی: اسم مفرد دے. اود بشری غوندے دے. او څوك وائی: چه طيبة جمع ده. زجاج معنی کوی: النفيس الطيب لهم.

"عصفور": - وړوکے چنچنړ دے. څنګه چه چنچنړ وړوکے وی. نودے هم وړوکے دے. چنچنړ سره ئې تشبيه بليغ په عصمت کښې ورکړه. يو عصفورمتعارف دے. او بل غيرمتعارف دے. متعارف چنچنړ دے. اوغيرمتعارف دا ماشوم دے.

داد باب استعاره سره تعلق نه ساتی. ځکه چه مشبه او مشبه به دواړه مذکور دی. او روايت کښې راځی: نسمة المؤمن ای روحه طائرتعلق فی شجر الجنة. (موطا مالك نمبر : ٨٦٥ ، ابن ماجه : ٤٢٧١).

"فقال اوغيرذالك": - نبی ﷺ پرے رد اوکړو. داتکے "اَوَ" يا "اَوْ" دے. او يا "اَوْ" په معنی د "بل" واخله. داسے نه ده چه دا ته وائی. "غير ذالك" دے نه سوا بله خبره ده. دغه نه ده. او "اَوْ" په معنی د "بل" سره راځی. سورة الصفت ۱۴۷ کښې دی: ﴿وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَى مِئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ﴾. معنی ده "بل يزيدون". ليکن دا توجيه دلته غوره نه ده. بيا خو د صبی د غير مسلم کيدوجزم راغے.

دويم قول دادے: چه دا "اَوَ" دے. "هذا او غير ذالك" اوغوره قول دادے: چه دا "اَوَ" غير ذالك دے. همزه استفهام او واو د عطف دے "اَوَغير ذالك" څه معنی. خبر ئې محذوف کړه "اتقولين كما قلت والامر غير ذالك". "اتقولين ما قلت والحق غيرذالك".

"ياعائشة ان الله خلق للجنة": - د فهم د نزدی کولو دپاره ورته نبی ﷺ اوفرمائيل. اوتکرار ئې اوکړه چه جمله حاليه سره ئې تعلق وی. چه "وهم فی اصلاب ابائهم" دے.

"اصلاب ابائهم": - بچے داد پلار په صلب کښې وی. دابچے چه اول راوځی. نود پلار د صلب نه ئې ماده د منیٔ شروع کیږی: ﴿يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ﴾. (سورة الطارق : ۷). د ښځے

سینه او د پلار صلب د هغے نه دا منی راجدا کیږی. نوره د منی د ټول بدن ته تیریږی.

دلته یو مسئله ده چه ماشوم وی. نو هغه به جنت ته ځی. نو چه عائشه رضی الله عنها دغه خبره اوکړه نونبی ﷺ ورته ولے غصه شو. "طوبی لهذا عصفور من عصافیر الجنة" بانـدے ئی رد اوکړو. اوبیا ئی اوویـل یا عـائشـه ددے وجـه څه ده؟. بعضے علماء وائی: چه ددے وجه داده. چه دے بچی ته جنتی وئیـل دا مستلـزم ددے دپاره بـه وی. چه مور او پلار ئی جنتیان دی. ځکه د ماشوم مسئله راروانه ده یـوقـول دادے: چـه داد ابـویـنـو تـابـع دی ـ نو چه دے جنتی دے. نو موراو پلار ئی هم جنتیان دی. اوحالانکه د موراو پلار د جنتی کیدو تعین هغه مونږ ته نه دے معلوم. دچا په باره کښی معینه فیصله به نه کوے. چه دے خامخواه جنت یا دوزخ ته تلے دے.

(۲): دویم جواب دادے: چه نبی ﷺ داخبره ځکه اوکړه. چه هغه وخت کښی ورته وحی نه ده شوے. چه ماشوم به جنتی وی. لیکن دا قول غوره نه دے.

(۳): دریمه توجیه داده: قاضی شمس الدین" فرمائی: د حدیث مطلب دادے: چه عائشے ستا داخبره چه ماشوم جنت ته ځکه ځی چه ده گناه نه دے کړے. دے د بلوغ هغه مودے ته نه دے رسیدلے.

"لم یعمل السوء ولم یدر که": . عائشے رضی الله عنها ته دا وائی. چه مدار د جنت د تلودادے چه گناه ئی نشته. او بلوغ ته نه دے رسیدلے. داخبره تیک نه ده. ځکه چه جنت ته تلل په عمل باندے نه دی. جنت تـه تـلـل پـه مـخـکـینی تقدیرکښی لیکلے شوے فیصلے باندے دی. نوورسره ئی ځکه اوویل " ان الله خلق للجنة اهلا ". نو د قاضی صاحب" خبره بالکل برابر ده. دا دریمه توجیه ده.

(۴): تـوجیـه داده: چه نبی ﷺ په عائشه رضی الله عنها باندے رد نه کوی. خو د هغے د تکلم دا انداز چه دے په هغے باندے رد کوی. ته خامخواه په تکلم کښی احتیاط کوه. معین کس ته اگرچه ماشوم وی. قطعا جنتی وئیل دا تیک نه دی.

ددے داسے مثال دے. چه حدیث د بخاری کښی ۱: ۹ باندے راځی: نبی ﷺ خلقو له څه پیسے ورکولے. نو سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه اوویل دے بل له ورکړه: انی لاراه مومنا اومسلما.

بل روایت کښی راځی نبی ﷺ اوویل: اومسلما. نو بیا ئی اوویل: او مسلما.

نوسوال راځی: چه صحابی د پیغمبر سره خبرے ولے درے ځله ردکوی. او نبی ﷺ ورته بیا بیا دا خبره کوی دے صحابی ته. نو هلته یوجواب کوی نبی ﷺ سعد رضی الله عنه ته د خبرو د احتیاط

چل ښائی په تکلم کښې احتیاط کول پکار دی. نو دے عائشے رضی الله عنها ته ئی چل اوخودلو. چه په تکلم کښې احتیاط کول پکاردی.

الحق الصریح کښې دی: ماشومان لکه د مورنه چه پیدا شي. نو په هغے جنازه کول مستحب دی. واجب نه دی. په دے وجه باندے نبی ﷺ د خپل ځوی ابراهیم جنازه نه ده کړے. اوجنازه په هرماشوم باندے کیږی. اګرچه د مور په خیټه کښې مړ وی. داد ددوی مسلك دے. اوحنبلی مسلك دے. غیرمقلد وائی چه جنازه به پرے کوے. او وائی فقه حنفی له اعتبار نشته. ځکه هغوی وائی چه ژوندے پیدا شي نو جنازه به پرے کیږی. حدیث دے: السقط یصلی علیه. چه د مورنه مړبچے پیدا شي. بسند صحیح دا مذهب د ابن عمررضی الله عنه دے. تحفه کښې هم دا لیکی. او علامه البانیؒ په الجنائز کښې هم لیکلے دی. داخو د هغوی خبره ده.

امام دارمی دا روایت په فرائضو کښې ذکرکړیدے. ابوداود کښې هم دا روایت راغلے. مسند احمد اومشکوٰة کښې هم راغلے: اذا استهل السقط. کله چه د مورنه پیدا بچے آواز اوکړی. "اذا استهل" قید دے. نو هغے نه پس به پرے جنازه کوے. کتاب الجنائز کښې دا روایت راغلے. "باب المشی بالجنازة والصلوٰة علیها" صفحه ۱۶۰ فصل ثانی: والسقط یصلی علیه ..الخ. بیا روستو وائی: والطفل یصلی علیه. "والطفل" په دے سند باندے مسند د امام احمد په تعلیق کښې جلد نمبر ۴۳ صفحه ۳۳۱ باندے بحث کوی. په هغے کښې ددے روایت د لاندے لیکی: هوبعمومه من استهل. حدیث عام دے. شامل دے هغه چاته که آواز ئی کړے وی اوکه نه. د امام احمدؒ دغه مسلك دے. جمهور دا نه اخلی. هغوی وائی چه پیدا شي اوآواز اوکړی. نو هله به پرے جنازه کیږی. د حدیث د جابر: الطفل لا یصلی علیه حتی یستهل. څو پورے چه آواز ئی نه دے کړے. او وائی چه دے ځائی کښې دوه قسمه روایتونه راغلل محل ئی یو دے. نو ته به لګے او دا مطلق روایت به په مقید باندے حمل کوے. کوم ځائی کښې چه د استهلال اوآواز قید نشته. نو چه کوم ځائی کښې شته. نو دغه روایت مقید دے. دغه به اخلے. دائی په تعلیق د امام احمدؒ کښې ذکرکړے ده.

دویم مصنف د عبدالرزاق د عبدالله بن عمر نه تپوس اوشو. چه د سقط په باره کښې تاسو څه وائی: سئل عن السقط. دے وائی بسند صحیح دا روایت د ابن عمر دے. احکام الجنائز د البانیؒ کښې دا خبره لیکلے ده. چه داد عبدالله بن عمر مسلك دے. مصنف د عبدالرزاق جلد ۴: سئل عن السقط قال لا حتی

یصیح فاذا صاح ـ چه کله ئی چغه اوهله. نو بیا به پرے جنازه کوے. د عبدالله بن عمر نه خو خلاف راغے ـ چه دا مذهب د ابن عمر دے. نو د ابن عمر مسلك داد ے. چه آواز یعني چغه په کښې پکار ده او په دے ځائی کښې اولیکل چه : السقط یصلی علیه ـ چه دا مطلق کوم راغے. نو دے نه عبدالله بن عمر هم مقید اخلی.

زیلعیؒ د هغه تبیین الحقائق د کنز شرح ده تعلیق ئی بریلی کړیدے. نو هغه یو روایت راوړیدے په ۵۸۱ صفحه باندے : اذا استهل السقط. دا ورله شرط دے. چه آواز به ئی کړے وی.

نو بعضو روایاتو کښې راځی : اذا استهل ـ بعضو کښې دی : حتی یصیح.

اوابن شهاب زهریؒ قول بخاری کښې راځی : اذااستهل صارخا صلی علیه ولا یصلی علی من لا یستهل من اجل انه سقط. (بخاری ۱ : ۱۸۱ کتاب الجنائز).

فتاوی ثنائیه ۱ : ۵۴۵ کښې دی : جو بچہ ماں کی پیٹ سے نکل کر آواز دے کر مرے اس کا جنازہ پڑھا جائے جو اتنا بھی نہ ہوا اسکو یوں ہی دفن کرنا چاہیے.

لیکن مولانا زبیرعلی زیء اضوء المصابیح کښې لیکی : جو علماء مردہ بچے کی نماز جنازہ کے قائل نہیں ہیں ان کا قول نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم کی حدیث کے خلاف ہونے کی وجہ سے متروک اور نا قابل حجت ہے انتہی.

اونیل الاوطار کښې دی : ویدل علی اعتبار الاستهلال حدیث جابر ـ او لیکلے دی اگرچه په دے کښې راوی اسمعیل بن مسلم ضعیف دے. لیکن نور ملگری ئی هم شته.

یو روایت دے : حدثنا اسحاق بن ابراهیم الطلقی حدثنا محمد بن خالد الرازی حدثنا ابویوسف القاضی عن عطاء بن عجلان عن ابی نضرة عن ابی سعید ان رسول الله ﷺ کبّر علی ابنه اربعًا. (طبرانی فی الاوسط ٤ : ٣٦٠ نمبر: ٤٤٣٦)

سیر اعلام النبلاء ۱۰ : ۳۱۵ باندے دی : د ابونعیم بن عدی د ترجمے دلاندے : قال وتواترت الاخبار علی شدة حزنه علیه یعنی ابنه ' وانه مشی خلف جنازته حافیًا ...الخ. (سیر اعلام النبلاء مطبوعه دار احیاء التراث بیروت لبنان)

دویمه خبره الحق الصریح کښې ده : جنازه د ابراهیم نه ده شوے. دا مسئله اختلافی ده. طحاوی کښې هم شته چه نه ده شوے. البدایه والنهایه ۳ جلد صفحه ۳۲۴ : فصلی رسول الله ﷺ علی ابنه.

اوراوی وائی : وصلیت خلفه وکبر علیه اربعًا. څلور تکبیرات ئی پیغمبر په جنازه باندے وئیلے دی.

بل طرف ته یو روایت دے. سند ئی داد ے : یونس بن بکیر عن محمد بن اسحق حدثنی بن محمد طلحه بن یزید: قال مات ابراهیم ابن رسول الله ﷺ وهی ثمانیة عشر فلم یصل علیه ـ نبی ﷺ ورله جنازه نه ده کړے. غسل ئی ورکړو او کفن ئی ورته واغستو. او رابهر ئی کړو. خلق ورسره وو. اوپه هغه کو څه کښې چه د

چه جنازه ئې نه ده کړے. دے کښې راوي محمد بن زيد خواکښې وه. هلته ئې ابراهيم خخ کړيدے. چه جنازه ئې نه ده کړے. دے کښې راوي محمد بن زيد خواکښې وه. دا سند راغستے دے البدايه والنهايه کښې محمد بن اسحاق دے. يونس بن بكير عن محمد بن اسحاق. دا سند راغستے دے البدايه والنهايه کښې ابن کثيرؒ. حال دادے: چه يونس بن بكير باندے کلام دے. ابوداودؒ فرمائي: چه زما په نزد حجت نه دے: ياخذ كلام ابن اسحاق فيوصله بالحديث. او ابن معينؒ ورته ثقه وائي. ليکن فرمائي: چه مرجئ او د سلطان تابع دے. امام نسائيؒ فرمائي: قوي نه دے. او جوزجاني وائي: كه ثقه شي نو بده نه ده. عجلي او نسائي ورته ضعيف وائي. او ابن المدينيؒ فرمائي: قد كتبت عنه ولست احدث عنه قاله الذهبي في ميزان الاعتدال ٤ : ٣٧٧. او عجلي ورته کله "لاباس به" هم وائي. او ابن حبان ئې ثقات کښې شماري. (تهذيب التهذيب ١١ : ٤٣٦، الصواعق المرسلة).

محمد بن اسحاق څنګه سړے دے؟. شيخ عبدالسلامؒ د سماع موتي په بحث کښې د محمد بن اسحاق باره کښې ليکي: د ﴿فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ﴾. چه هغه ته امام مالكؒ او هشامؒ او سليمان تيميؒ وغيره كذاب وئيلے دے. (تفسير احسن الكلام سورة الروم: ٥٢)

محمد بن اسحاق په مسئله خلف الامام کښې هم راځي.

نو جنازه د ابراهيم شوے ده. مسند احمد په ۴۳ جزو کښې په دے باندے بحث کوي: عن عائشة انها قالت لقد توفي ابراهيم ابن رسول الله ﷺ وهو ابن ثمانية عشر شهرًا فلم يصل عليه. اسناده حسن من اجل محمد بن اسحاق.

او امام بيهقي په سنن کښې دے له ترجيح ورکړے ده. او امام سندهيؒ هم ليکي: چه جنازه پرے نه ده شوے. محمد بن اسحاق اګرچه تاريخي خبرو کښې اکثر قابل استدلال دے. ليکن دلته ورسره مسئله شرعيه متعلقه ده.

کوم علماء چه وائي نه ده شوے. ولے نه ده شوے نبي ﷺ په صلوة الكسوف کښې مشغول وو. دانه چه جنازه نه ده شوے. چه کوم ځائې راځي تعليق د مسند احمد کښې چه جنازه ئې نه ده شوے. ليکي بلکه جنازه ئې شوے ده. خو نبي ﷺ په کښې شرکت نه وو کړے. او دا جنازه بل چا کړے ده. يا ئې ورله ځکه جنازه نه ده کړے. چه دے په منزله د شهيد وو. اګرچه دا کمزورے جواب دے.

فتاوی محموديه کښې بله خبره ده. داد واقدي قول دے. چه په دغه ورځو کښې لکه چه مثلًا خديجه رضي الله عنها وفات شوه. نو جنازه وه نه. د هغے نه روستو جنازے شروع شوے دي.

بعض ضعيف روايات کښې د سيدنا آدم د جنازے چه ملائکو کړے ده تذکره شته.

فتاوی علماء حديث كتاب الجنائز ۵ کښې ليکي: چه الرحمة المهداة کښې د عبدالله بن عباس نه روايت دے: آپ ﷺ کا فرزند ابراہیم جب فوت ہوئے تو آپ ﷺ نے ان پر نماز جنازہ پڑھی اور فرمایا ان کے لئے جنت ہے

حديث ۷ :وعن علی رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ مامنکم من احد الاوقد..الخ۔

" مقعده " :۔ موضع قعود د جنت یاد دوزخ مراد دے۔یا " واو " بمعنی " او " دے۔

د سیدنا علی رضی الله عنه په باره کښې الحق الصریح کښې لیکلے دی : چه کوفه کښې د جمعے په شپه په ۱۳ رمضان ۴۰ هجرے کښې شهید شویدے۔ څلور کاله نهه میاشتے خلافت ئې کړیدے۔

بیا وړیسے وائی : علی رضی الله عنه خوب اولیدو۔ چه نبی ﷺ ته وائی څه دے فتنوته پریخودم۔ ته رانه لاړے۔ نو نبی ﷺ ورته اووئیل ماپسے راځه۔ نو صباله قتل شو۔

مطلب دا چه خوب په بعضے وخت کښې مبشرات جوړیدے شی۔ او هغه شان کار اوشی۔ چه څنګه ئې خوب لیدلے وی۔

د ابو طالب څلور ځامن وو۔ او دوه ئې لونړه وے۔ ځامن ئې عقیل ، طالب ، سیدنا جعفر رضی الله عنه او سیدنا علی رضی الله عنه دی۔ او لونړه ئې جمانه او ام هانی یادیږی۔ د ام هانی نوم فاخته وو۔

(اسمی المطالب فی سیرة علی بن ابی طالب)

مرقات کښې دی : چه سیدنا علی رضی الله عنه غنم رنګے وو۔ او پلنه ګیره ئې وه۔ د ۶۳ کالو په عمر کښې وفات شویدے۔ اوخپل څوی حسن ئې جنازه کړے ده۔ دده قاتل عبدالرحمن بن ملجم المرادی وو۔

"فکل میسر لما خلق له ": ۔ شیطانان ئې شیطانتوب له پیدا کړیدی۔ هغوی ته شیطانی آسانه ده۔ نیکان ئې نیکیء له پیدا کړیدی۔ هغوی ته نیکی آسان ده۔ مؤحدین ئې توحید له پیدا کړیدی۔ هغوی ته دا توحید آسان دی۔ مشرکان ئې شرك له پیدا کړیدی۔ هغوی ته شرك آسان وی۔

قسمت کیا ہر ایک کو قسام ازل نے ہر شخص جو جس چیز کے قابل نظر آیا
بلبل کو دیا نالہ تو پروانہ کو جلنا غم ہم کو دیا سب سے جو مشکل نظر آیا

رضینا قسمة الجبار فینا لنا علم وللجهال مال
فان المال یفنی عن قریب وان العلم باق لا یزال

حدیث واضح دلیل دے۔ او د عقلاء اجماع ده۔ چه رزق او أجل دواړه په ازل کښې حتمی فیصله شوے دی۔ او سره ددے مونږ ته ئې د کسب کولو حکم راکړیدے۔:﴿ فَامْشُوا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِّزْقِه ﴾ ۔ (سورة الملك : ۱۵) ۔ او د دارو حکم دے : تداووا یا عبادالله۔ دا مجرد سبب دے۔ او علت موجبه ئې د ازل تقسیم دے۔

حدیث ۸ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله کتب علی ابن آدم حظه..الخ۔

"حظه من الزنا": ۔ د زنا نه مراد زنا کامل ده یعنی ادخال الذکر فی فرج غیر المنکوحة الاجنبیة ۔

"کتب علی ابن ادم نصیبه من الزنا" دا قضیه مهمله ده په قوت د جزئے کښی ده۔ د زنا سبب د شهوت غلط استعمال دے۔

پیغمبران په کښی نه دی داخل۔ دلته الحق الصریح کښی دی : زنا کښی فرق وی۔ بعض خلقوزنا اعلی او حقیقی وی۔ د بعضو وسط درجه کښی او د بعضو ادنی وی۔ او د انبیاء کراموا گرچه زنا حقیقی نشته لیکن " هم " شته۔ : ﴿وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا أَن رَّأَىٰ بُرْهَانَ رَبِّهِ﴾۔ (سورة یوسف : ۲۴)۔ او روستو لیکی : " هم " یو نوع د زنا ده۔ اگرچه گناه په کښی نشته۔

وضاحت : چه د زنا نه ئی کلی مشکك جوړ کړو۔ او د ټولو پیغمبرانو دپاره ئی بے د یحی علیه السلام نه یوه نوعه زنا ثابته کړه۔ داد پیغمبرانو گستاخی ته نزدے ده۔ ځکه چه آیت کښی " هم " مشاکلةً ذکر دے۔ او دا " هم " غیر اختیاری دے۔ لکه بشری طبع سره مطابق گرمی کښی روژه دار له د اوبو خیال راشی۔

تفسیر خازن کښی د : ﴿إِذْ هَمَّت طَّائِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا﴾۔ (سورة آل عمران : ۱۲۲) ۔ د آیت په وضاحت کښی داسے دی : الهم یراد به العزم وقد یراد به حدیث النفس ۔ لیکن د انبیاء په مسئله کښی دد ے نه حدیث النفس مراد دے۔

روح المعانی تفسیرکښی دی : ای همًا غیر اختیاری بمقتضی الطبعیة البشریة کمیل الصائم فی یوم الحار الی الماء البارد عبر عنه بالهم للمشاکلة ۔ قرآن کښی " ولقد هما ' ولقدهم کل واحد بالآخر نه د ذکرشوے۔ دواړه هَمْ فرق لري۔ او امام رازیؒ په دے معنی جزم کوی : ﴿وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا أَن رَّأَىٰ بُرْهَانَ رَبِّهِ﴾ ۔ او دا فتح البیان تفسیر کښی نواب صاحب لیکلے دی۔ ابو حیان البحرالمحیط کښی لیکی : والذی اختاره ان یوسف علیه السلام لم یقع منه هم بها البتة ' بل هومنفی لوجود رؤیة البرهان ۔ داد وسوسے پنځه اقسامو کښی " هم " هرگزالعیاذ بالله نه دے۔ تفسیرمدارك کښی دی : لا صنع للعبد فی ما یحظربالقلب۔

دے ته د الله د امر ونهی حکم نه دے متوجه ۔ او بیا دے زړه ور د سیدنا یوسف علیه السلام نه ټولو پیغمبرانو ته نسبت اوکړو۔ الله دے مونږ ټول د بے ادبی نه بچ اوساتی ۔ که په تاویل ئی څوك په

زور کوی۔ او دا عبارت الهامی او تحقیقی ګڼړی۔ لیکن دداسې قسم تحقیق نه اجتناب اولی دے۔

"ابن ادم": ۔ کښې خو پیغمبران هم راځی۔ نود پیغمبرانو دپاره "حظه من الزنا" نشته دے۔

او ملا علی قاریؒ هم لیکی: فان الخواص معصومون عن الزنا و مقدماته۔

امام رازیؒ د سورة نور د آیت په تفسیر کښې لیکی: العین برید الزنا۔ سترګه د زنا ډاك دے۔

علامه آلوسیؒ لیکی: كل الحوادث مبدء ها من النظر ومعظم النار من مستصغرا الشرر

د وړو کڼړکونه غټ اور او لګی۔

نبی ﷺ سیدنا علی رضی الله عنه ته اوفرمائیل: ان لك الاولی ولیست لك الآخرة۔

بے اختیاره اول نظر معاف دے۔ (حسنه الالبانی فی صحیح الجامع)۔

قرآن کښې دی: ﴿ يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ﴾۔ (سورة المومن: ۱۹)۔

یا ښکلو بے ګیرو هلکانو ته شهوتی نظر کول۔ داد قوم لوط عمل وو: ﴿ وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴾۔ (سورة القمر: ۳۷)۔

یوشاعر په کښې لا داسې وائی:

ازل سے حسن پرستی لکھی تھی قسمت میں — مرا مزاج لڑکپن سے عاشقانہ ہے

مری طفلی میں شان عشق بازی آشکارہ تھی — اگر بچپن میں کھیلا کھیل تو آنکھیں لڑانے کا

انبیاء ته د هیڅ قسم د زنا نسبت به نه کوے۔

"وزنا اللسان المنطق": ۔ چه موبائل راواخلی۔ او پردو ښځو سره خبرے کوی۔ داهم د زنا قسم دے۔

نن صبا خلق په دے کښې اخته دے۔ په دے کښې غلط شعرونه او چاربیتے هم راځی۔

"وفی روایة لمسلم": ۔ په دے کښې د څه اندامونو تذکره سوا شوے ده۔

"والاذنان": ۔ د ښځو خبروته غوږ ایخودل داهم د زنا یو قسم دے۔ دا پستے پستے خبرے د ښځو خلق په مینه مینه اوری۔ داد غوږونو زنا ده۔ د ښځے آواز اوریدل چه کله د فتنے زریعه جوړیږی ناجائز دی۔

"والید زناها البطش": ۔ نیول ۔ ملاعلی قاریؒ وائی: په دے کښې کتابت هم داخل دے۔ په قلم

باندے داسے د زنا خبرے لیکل۔ دا په کښې راځی۔

"والقلب یهوی ویتمنی": ۔ مرقات کښې ملا علی قاریؒ لیکلے دی: ددے حدیث نه معلومه شوه : ان التمنی اذا استقر فی الباطن واصر صاحبه علیه ولم یدفعه یسمی زنا فیکون معصیة ویترتب علیه عقوبة ولولم یعمل فتامل۔ او دا معلومه شوه۔ چه اختیاری تمنا قابل د نیولو ده۔

دے حدیث کښې "لامحالة" راغلے دے۔ ددے دوه مطلبه دی: (۱) چه رکاوټ ختم شی (۲): لاحیلة له فی دفعه۔ فلا بد منه اذلا حذر من القدر ولا قضاء مع القضاء۔ (مرقات)۔

حدیث ۹ : وعن عمران بن حصین ان رجلین من مزینة قالا یا رسول الله اریت... الخ۔

حالات د عمران بن حصین رضی الله عنه: عمران بن حصین رضی الله عنه فقیه صحابی تیرشویدے۔ دے د بواسیرو په مرض کښې اخته وو۔ تقریباً دیرش کاله په دے مرض په کټ کښې پروت وو۔ او ده له ئی کټ سورے کړے وو۔ دوی له به ملائك راتلل او سلام به ئی ورسره کوو۔ د بیماری سره متعلق اکثر مسائل دده نه نقل دی۔ "صل قائما فان لم تستطع فقاعدا فان لم تستطع فعلی جنبك"۔ او دے وفات شوے ۵۲ کال د هجرت باندے دے۔ ابونجید ئی کنیت دے۔ د خیبر په کال ئی اسلام قبول کړے وو۔

"ان رجلین من مزینة": ۔ دوه سړی د مزینی قبیلے راغلل۔ دواړو نبی ﷺ ته اوویل: اریت ما یعمل الناس الیوم" نن ورځ چه خلق کوم کارکوی "ویکدحون" او کړاؤ برداشت کوی: ﴿ يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَاقِيهِ ﴾۔ (سورة الانشقاق : ٦) ۔ کوششونه کوی په هغے کښې۔ "اشیء" آیا دا داسے خیز دے۔ "قضی علیهم" چه فیصله ئی د مخکښې نه شوے ده۔ "ومضی فیهم" او دا خبره تیره شوے ده۔ "من قدر سبق" د هغے تقدیر نه چه په ازل کښې تیرشه۔ اویا ددے تعلق۔ "فیما یستقبلون به" یا د هغه عملونو سره ددے تعلق دے۔ چه دوی مخامخ روان دی هغوی ته۔ "مما اتاهم به نبیهم" د هغه څه نه چه راوړے ده دوی ته خپل پیغمبر۔ او د هغوی دوی مکلف دی۔

"او فیما یستقبلون" او یا دوی عملونه کوی په هغه زمانه کښی چه مخامخ راروان دی هغے ته.
"مما" بیان دے "ما یعمل الناس" "مما" د هغے اعمالونه. "اتاهم نبیهم" د هغے احکاماتونه
چه دوی ته پیغمبرانو راوړیدی. او حجت په دوی باندے ثابت شوے دے.

"فقال لا بل شیء قضی علیهم": - اوئی وئیل چه نه دا یو شیء دے. چه فیصله پرے شوے ده.
"ومضی فیهم": - تیره شوے ده. اودد ے تصدیق په دے آیت کښی دے: ﴿وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ۝ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا﴾ - (سورة الشمس: ۸،۷). آیت کښی صراحةً په معتزلو رد دے. چه بنده خپله خپل افعال پیدا کوی.

ددے حدیث مطلب دادے: چه دا دوه کسان راغلے وو د نبی ﷺ نه ئی تپوس اوکړو. چه اوس مونږه کوم کارونه کوو- دائی مخکښی نه لیکلے دی. او یا کله ئی اوکړو. نو بیا لیکی. او که دا مخکښی لیکلے شویدی. او د هغے مطابق ئی مونږه کوو. دا یو صورت دے. په دے دوو خبرو کښی کومه خبره ده. نو نبی ﷺ ورته او وئیل دائی د مخکښی نه لیکلے دی.

"اریت اخبرنی": - ذکر د سبب او مراد ترینه مسبب. تفسیر بیضاوی کښی دی: چه د مشاهدے د وجے نه انسان ته خبر معلومیږی. رؤیت مشاهده ده. نو مطلب ترینه "اخبرنی" څکه شو.

"من قدر سبق": - دوه قوله دی: (۱): یو قول دادے: چه دا بیان شی د شے دپاره. نو شے څه شے دے
. "أشیء": - آیا د هغه تیر شوے زوړ تقدیر دے. په دے تقدیر قضی او قدر یو شو. اول کښی ترینه
تعبیر په قضی سره او په دویم کښی تعبیر قدر سره اوکړو. نو فرق په کښی نشته.
(۲): دویم قول دادے: چه "من" بیانیه نه دے دا "من" ابتدائیه دے. ددے تعلق قضاء سره قائم کړه. "قضی من قضی علیهم" او یا "من" من اجلیه دے.- "قضی علیهم لاجل قدر سبق قضاءه". ددے فیصله پرے شوے ده. "من قدر لاجل قدر" د وجے د هغے تقدیرنه چه مخکښی تیر شویدے. د هغے قضاء مخکښی کړے شوے ده. نو په دے وخت کښی دا قدر په قضی باندے مخکښی وی. دا جدا شو قدر مخکښی او قضی روستو ده. قدرنه مراد من قدر کښی تقدیر دے. قضی نه مراد خلق دے. قضی نه مراد خلق اغستے شی: ﴿فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ﴾ (سورة فصلت: ۱۲). بمعنی "خلقهن"

پیدا ئی کړه. قضاء او قدر دا امرین متلازمین دی. دیو بل سره لازم بین بالمعنی الاخص غیر منفك . چه د یو بل نه جدا کیږی نه. قضی او قدر د یو بل سره لازم او ملزوم دی. دد ے د یو بل نه جدا کیدل نه راځی. په دے کښی دا یو په منزله د بنیاد دے. مکان جوړه وے. نو اول بنیاد بیا روستو بلډنګ دے. نو دا یو په کښی په منزله د اساس دے. دے ته قدر وائی. او دا قضا په کښی په منزله د بناء دے.

قضی پرے دپاسه عمارت دے. او قدر ویخ او بنیاد دے. قضا او قدر کښی من وجه فرق شو. په قضی او په قدر کښی نسبت د عموم خصوص شه. قضا اخص ده د قدر نه. هره قضا قدر دے قدر له قضا نه ده ضروری. او بعضے علماء لیکی: قضی او قدر کښی فرق مثال سره زړه کښی راوله. چه په قدر کښی. یوتن قدراو تول کوی. نو په هغے کښی کلوګان ' دړی وی چتاکیء وی. نو دغه اوزان دی. او قضی په منزله د کیل ده. دا خبره چه قضا او قدر د مخکښی نه لیکلے شوے ده. د مسلم ړومبے روایت کښی مقدمے نه بعد د تقدیر تذکره ده.

بعض وائی: قضاء اخص ده د تقدیر نه ځکه قضاء تفصیل او قطع ته وائی.

اللباب کښی مفسرلیکلے دی. او نورو مفسرینو هم لیکلے دی: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَـكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَشْكُرُونَ﴾. (سورة البقرة: ۲۴۳).

عمر رضی الله عنه په سرکاری دوره باندے تللو. او ابوعبیده رضی الله عنه په شام کښی مشر وو. نو پته اولګیده چه په شام کښی طاعون راغلے دے. نو عمر رضی الله عنه اووئیل چه شام ته نه ځم. نو ابوعبیده رضی الله عنه ورته اووئیل: اتفرمن قدر الله ـ ته د الله د تقدیر نه تختے. نو هغه ورته اووئیل: افرمن قدر الله الی قدر الله ـ ځه د الله د تقدیرنه تقدیرته تختم. دا هم د الله تقدیر دے. چه مه ځه هلته وباء خوره شوے ده. نو یو جمله په هغے کښی داسے راځی: افر من قضاء الله الی قدر الله. دویمه دا چه دا هرڅه ئی لیکلے دی. د هغے لیکلو مطابق هره ورځ هرساعت کاروائی کیږی: ﴿كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ﴾. (سورة الرحمن: ۲۹). جف القلم بما انت لاق ـ قلم اوچ شویدے. چه د څه سره ملاقات کوی. نو هغه ئی لیکلے دی. مخکښی د قضی او د قدر مثال دانجنیر سره تیرشو. چه په یو کاغذ ده نقشه جوړه کړے ده. او یولکه په خارج کښی غسل خانه اوکمره جوړه کړے ده.

حدیث ۱۰ : وعن ابی هریرة قال قلت یارسول الله انی رجل شاب وانا اخاف علی ..الخ۔
دغه وخت کښې ابو هریرة رضی الله عنه لا واده نه ووکړے۔ صحیح نه ده۔ چه ابو هریرة رضی الله عنه واده د سر نه کړے نه وو۔ ابو هریرة رضی الله عنه روستو بیا واده کړیدے۔ دده لور سعید بن مسیبؒ تابعی باندے واده وه۔ داد سعید بن مسیبؒ سخر دے۔ (اعلام الموقعین) ۔ لکه مخکښې تیرشوے دی۔
" قال قلت یا رسول الله انی رجل شاب ": ۔ ځه یو سړے ځوان یم۔ " وانا اخاف علی نفسی العنت "۔ او ځه په ځان باندے یریږم دزنا نه۔ هسے نه چه زنا کښې اخته شم۔" ولا اجد ما اتزوج به النساء " ۔ او نه مومم هغه طاقت چه ښځو سره نکاح اوکړم۔ مطلب دا چه د پیسو په لحاظ خراب یم۔ " کانه یستاذنه فی الاختصاء"۔ صراحة ئې څه وئیلے نه دی۔ ګویا د ابو هریرة رضی الله عنه د خبرے مطلب دا وو۔ چه د ځان نه دا خصیتین اوباسم۔ شهوت ماده د ځان نه اوباسم۔ " قال فسکت " ۔ نبی ﷺ چپ شو۔ نبی ﷺ به چه کله خفه شو۔ بعض اوقات به ئې دغه وخت کښې خاموشی اختیار کړه۔ اوکله نبی ﷺ د سوال اهمیت خلقوته خودل غواړی ۔ یا به نبی ﷺ د وحی په انتظارکښې وو۔ نو چپ کیدو به۔ نو نبی ﷺ چپ شو جواب ئې ورنه کړو۔ بیا په دویم ځل ئې اووئیل چه سوال کوه۔ بیا په دریم ځل ئې اووئیل چه سوال کوه۔ بیا ئې ماته اووئیل : یا اباهریرة ۔ قلم په هغے اوچ شو۔ هغه چه ورسره ته ملاقات کوونکے ئې۔ که ستا په قسمت کښې بالفرض والتقدیر لیکلے دغه زنا وی۔ نو صدور ته به راځی۔ " ان الله کتب علی ابن ادم حظه من الزنی ۔ هغے ته به رارسی اوکه نه وو۔ نو ته به بچ کیږے۔ که ته ځان خصی کوے اوکه نه خصی کوے ۔ څه کیږی نه۔ مخکښې تقدیرکښې لیکلے شویدی۔ د یو تن په باره کښې دا لیکلے شوی ۔ چه دے به چینی کمه استعمالوی۔ نودے به ئې کمه استعمالوی۔ نو په ده به شوګر راشی۔ نودے به بیا چینی نه استعمالوی۔

شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ خپله آپ بیتی کښې لیکلے دی : که چرګان ' دا موټرکښې تلل راتلل د په قسمت کښې پراته وی ګرځی راګرځی به په کښې۔ اګرچه د خان نوکر ولے جوړ نه شی۔ خوراك به کوے۔ او ډرائیور به ئې۔ نو چه هغوی له پخوے نو ځان له به ترے نه هم خوری۔ بعضے خلق وائی دا شیء ګران شو۔ مثلاً تماټر دی۔ خولیکل ئې چه څنګه شویدی۔ چه ته به یو من تماټر برابروے۔ نودا به برابره وی۔ نوددے ګران او ارزان سره تعلق نشته۔ ته به یو من سو چه غوړی خورے۔ نودا یو من غوړی به خورے۔ داد مخکښې نه په تقدیرکښې لیکلے شویدی۔ بعضے علماء وائی دا " فاختصر " دے۔

اختصار اوکړه په دے خبره کښې۔ خوښه خبره داده۔ چه دا " فاختص " دے یعنی اختصاء ده۔ او خصی کیدل دی۔ او " فاختصر " :۔ تصحیف نه دے۔ ځکه اختصار دے ته وائی : چه الفاظ کم وی۔ او معنی ډیره۔ " او" د تهدید دپاره دے۔ وارض بقضاء الله او ذرما ذکرته۔
ددے حدیث نه دا نه معلومیږی۔ چه پیغمبر ورله د خصی کیدلو اجازت ورکوی۔ بلکه دا یوتوبیخ دے چه ددے د اجازت خیال چه د ذهن کښې نه راتلو خه به وے۔
ملاعلی قاریؒ لیکلے دی : چه عبدالله بن طاهر د حسین بن الفضل مخکښې اشکال پیش کړو۔ چه د: ﴿ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَأْنٍ ﴾ او د جف القلم بما انت لاق۔ په مینځ کښې ظاهری تعارض دے۔ نو جواب ئې ورکړو : بانها شئون یبدیها لا شئون یبتدئ بها فقام عبدالله وقبل راسه۔

حدیث ۱۱ : وعن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ ان قلوب بنی ادم ... الخ۔

د ټولو بنی آدم زړونه د رحمان ذات د ګوتو نه په دوو ګوتو کښې دی۔ څنګه چه د هغه شان سره مناسب دی۔ " کقلب واحد" :۔ په شان د یو تن د زړه۔ " یصرفه کیف یشاء " اړوی راړوی۔ څنګه چه د الله خوښه شی۔ نبی ﷺ فرمائلی وو : دا دعا ډیره وایه : اللهم یا مصرف القلوب صرف قلوبنا علی طاعتك۔
سوال دادے : چه ددے حدیث څه ربط دے د تقدیر سره۔ " یصرفه " راغلے دے۔ هدایت ته اړول۔ اسلام ته اړول۔ دا تصریف ازلی سره موافقت خوری۔ هغه شان ته به ئې اړوی۔ لکه څنګه چه په ازل کښې لیکلے شوے وی۔ مسئله د صفاتو ده منی به دا چه د الله سره مناسب اصابع د هغوی د شان سره شته دابه هم منے چه " بین اصبعین " ۔ خو یو مسئله ده ۔ او ډیره اهمه ده ۔ لیکلے ده مفسر قرطبی : ﴿وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى﴾۔ (سورة طه : ۱۲۱) ۔ آیت د لاندے ۔ که یو تن خلقو ته وائی۔ او مسئله شروع کړی ۔ چه آدم علیه السلام ګناهګار وو۔ قرآن کښې راځی : ﴿ وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى﴾۔ دا غلطه خبره ده ۔ یو ئې دا لیکلے دی۔ دویم ئې دا لیکلے دی : چه یو تن دے۔ او هغه د صفاتو مسئله بیانوی۔ او آیت وائی مثلاً : ﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ ﴾۔ (سورة المائدة : ٦٤)۔ نو نقل کفر کفر نه باشد ۔ او په لاس اشارة کوی او جخت کړی د څټ سره۔ او دا حدیث وائی۔ هغه وائی لاس به ترے کټ کیدے شی۔ د خپل مجتهد قول تفسیر قرطبی کښې نقل کوی : فاشار بیده الی عنقه قطعت یده و کذالك فی السمع والبصر یقطع ذالك منه لانه شبه الله تعالی بنفسه۔

اوکه توجیه کوی د متاخرینونو هم کولے شے. مونږه وایو فلانکے خوزما په موتی کښی دے.
نو فلانکے خودومره غټ دے. چه دهغه په موټی کښی چرته راځی. یعنی زما په قبضه کښی دے.
یعنی چه څه ورته څه وایم. نوزمانه بله نه کوی. اګر چه راجح قول نه دے.

د ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ﴾ (سورة الشوری: ۱۱) ــ په وضاحت کښی علامه ابن العاشور خپل تفسیر کښی لیکلے دی: كانت هذه الآية اصلا فی تنزیه الله عن الجوارح والحواس والاعضاء عند اهل التاویل الا ان تاویل سلفنا کان تاویلا جملیا وتاویل خلفهم کان تاویلا تفصیلیا کتاویلهم الید بالقدرة.

بهرحال دا اجمالی تاویل غوره دے. چه "ید" تفویض دے. او "یلیق بشانه" ورسره وایه.

ملاعلی قاری لیکی: والحاصل ان السلف والخلف مؤولون لاجماعهم علی صرف اللفظ عن ظاهره ولکن تاویل السلف اجمالی لتفویضهم الی الله تعالیٰ، وتاویل الخلف تفصیلی لاضطرارهم الیه لکثرة المبتدعین.

علامه هیثمی فتح الٰه شرح کښی د امام الحرمین قول نقل کړیدے: چه دے دور کښی علم کلام ته ضرورت دے.

حدیث ۱۲: وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ مامن مولود الا یولد علی ..الخ.

"علی الفطرة": ــ د فطرت نه څه مراد دے؟ ــ علامه ابن عبد البر، امام احمد، ابن قیم ددے دریو واړو توجیه داده: چه ددے نه اسلام مراد دے. دویم شاه ولی الله، علامه فضل الله تورپشتی فرمائی: استعداد د اسلام ترینه مراد دے. دا حدیث مشهور دے په حدیث الفطرة سره. که چرته عوارض موجود نه شی. او انسان په خپل فطرت باندے باقی واخلے. نو انسان د اسلام استعداد لری. دے په خپل فطرت باندے باقی دے. اوکه عوارض راشی. مثلاً والدین یا استاذان تیک نه وی. نو بیا په دغه رنګ کښی رنګ شی.

"فابواه یهودانه": ــ نو هغے دوجے یهودی، نصرانی جوړیږی. د والدینو او داستاذانو ډیر لوئی اثر دے.

تفسیر مواهب الرحمن کښی د سورة روم د آیة الفطرة په تشریح کښی علامه ملیح آبادی لیکلے دی:
ہر انسان اپنی پیدائش میں ملت اسلام پر مخلوق ہوتا ہے لیکن یہ پیدائش غیر اختیاری ہے تو اس میں اس شخص کی کوئی خوبی نہیں پھر جب وہ اپنے اختیاری فعل کے لائق ہوا تو اس وقت البتہ دیکھا جائے گا کہ فطرت کو باقی رکھتا ہے یا ماں باپ وغیرہ کے بہکانے اس کو بدلتا ہے۔

آثرد استاذ په شاګرد پريوځي۔ دا شاګرد ئي که غواړي اوکه نه غواړي۔
امام غزالیؒ ليکلي دي: چه د غير مستقل استاذ نه سبق مه وايه۔ په تا کښي به عدم استقلال راشي۔
: ان لم يكن استاذه مستقلا باختيار رأی واحد وانما عادته نقل المذاهب وما قيل فيها فليحذر منه فان اضلاله اكثر من ارشاده۔ (احياء علوم الدين للغزالي ۱ : ۵۱)۔
د والدينو آثرپه بچو باندے پريوځي۔ اګرکه دا بچے غواړي اوکه نه غواړي۔
"فابواه": ۔ خارجي آثار ذکرکوي۔ بچے په فطرت اسلام باندے دے۔ يا مراد اسلام دے يا استعداد دے بنا براختلاف ۔ د عوارضو د وجے ګمراه کيږي۔ نو حديث کښي د هغے مثال داسے ذکرکړيدے۔
"كما تنتج البهيمة": ۔ دابه وئيلے کيږي مجهول۔ او معنی به ئي کوے د معلوم۔ لکه څنګه چه څناور بچے راوړي۔ نو هغه بالکل سالم، او برابر وي۔
"جمعاء": ۔ څه کمے په کښي نه وي۔ روغ موټ وي۔ روستو انسان اولګي ۔غوږونه يا غوږ ورله کټ کړے۔: ﴿مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِن بَحِيرَةٍ﴾ (سورة المائدة : ۱۰۳)۔ دا غوږ کټ کول د عوارض د وجے نه وي۔
نو دا استعداد د اسلام اول دده په فطرت کښي دے ۔ خو ليکن عوارض د وجے يهودي، نصراني، مجوسي وغيره ترينه جوړ شي۔ بيا ئي دا آيت اولوستو : ﴿فِطْرَةَ اللّٰهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا﴾۔
(سورة الروم : ۳۰)
فطرة په معنی د قبوليت د حق د استعداد دے۔ چه صلاحيت په کښي شته۔ دا راجح معنی ده۔
اکثر علماء دے له ترجيح ورکوي۔ په نسبت د اسلام د معنی سره۔
د علامه اقبال يو شعر دے :

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی یہ خاکی اپنی فطرۃ میں نہ نوری ہے نہ ناری ۔

دا شعر غلط دے : که په زوره ورته تاويل کوے۔ هغه جدا خبره ده۔

یہ خاکی اپنی فطرۃ میں نوری ہے نہ ناری

"مامن مولود الا يولد على الفطرة"۔ ناري ترينه روستو جوړيږي۔ " فابواه يهودانه او ينصرانه او يمجسانه"۔
د خارج په اعتبار سره ترينه جوړيږي۔
سوال : په دے باندے يو بل سوال دے : چه دے ځائی دا راځي چه دے په فطرت باندے پيدا دے۔

فطرت اسلامی کښې رڼا ده۔ روستویو روایت راځی د عبدالله بن عمر رضی الله عنه۔ یو صفحه روستو په ۲۲ صفحه آخرکښې راځی : ان الله خلق خلقه فی ظلمة۔ هلته بیا علماء تعارض ذکرکوی ظاهرًا ۔ الله تعالی دا مخلوق په تیاره کښې پیدا کړیدے۔ روستوئی پرے نورا چولے دے۔ نوسوال دا راځی چه په دے حدیث اوهغه بل حدیث کښې خو تعارض راغے۔ دلته حدیث کښې دی۔ چه بچے پیدا کیږی نوفطرت اسلامی باندے پیدا کیږی۔ اسلام نور دے رڼا ده۔ او روستو حدیث کښې راځی۔ چه په ظلمت کښې پیدا کیږی۔

جواب : یو دیو څیز ذاتی مقتضی ده۔ او یوئی خارجی ده۔ نوپه یو ځائی کښې امرذاتی ذکر دے۔ اوبل ځائی امرخارجی عارضی ذکردے۔ امرذاتی کښې رڼا ده۔ امرخارجی کښې ظلمت او تیاره راغله۔ لکه " فابواه یهودانه او ینصرانه " ۔ د بچی پیدائش په فطرت باندے دی۔ قطع نظر د عوارضونه۔ او نظر چه عوارضو ته اوکړے۔ نوپه هغے کښې ظلمت دے۔ نودلته کښې ذاتی بیان دے۔ او روستو حدیث کښې د عوارضو بیان دے۔

دویم جواب : هر انسان کښې دوه طاقتونه دی ۔ یوپه کښې قوت بهیمه دے۔ یو په کښې قوت ملکیه دے۔ (۱) : قوت بهیمه داد ځناورو صفت دے۔ دے کښې ظلمت دے۔ (۲) : قوت ملکیه کښې نورانیت دے۔ دا دواړه په انسان کښې موجود دی۔ نو دے ځائی کښې د ملکی قوت آثار ذکرکوی۔ اوهلته د ظلمت والا روایت کښې د بهیمی قوت آثارذکرکوی۔

سوال : دادے : د " مامن مولود الا یولد علی الفطرة " دلته حصر دے۔ کوم بچے چه پیدا کیږی نوپه فطرت د اسلام باندے پیدا کیږی۔ دا ایجاب کلی دے۔ ددے خبرے تعارض ظاهرًا دهغه حدیث سره دے۔ " فیکتب عمله واجله ورزقه و شقی " دا ټول د مخکښې نه لیکلے شویدی۔ یو په کښې دادے : چه دا بچے به شقی وی۔ دلته خوته ایجاب کلی ذکرکوے۔ کوم بچے چه پیدا کیږی نوپه فطرت باندے پیدا کیږی۔ هلته د مور په خیټه کښې شقاوت لیکلے کیږی۔ سعادت خو په کښې رانغے۔ نوداد ایجاب کلی مخالف شو۔ رفع د ایجاب کلی راغله۔ او رفع د ایجاب کلی مستلزم ده سلب جزی لره۔ اوسلبی جزی کښې یو غاړے ته ایجاب جزی راغے۔ او بلے غاړے سلب جزی راغے۔ ایجاب کلی کښې چه د د یو هم ارتفاع راشی۔ رفع د ایجاب کلی راځی ۔ استغراق او حصردے۔ ایجاب کلی دے۔ هغه حدیث کښې بعض بچوله شقاوت دے۔ او دلته د هریوبچے سعادت والا دے۔

جواب : شقاوت راتلل د انجام په اعتبار سره دی۔ او فطرت د هر بچی ددے تعلق د پیدائش سره دے۔ یوئی ابتداء ده او بل ئی مآل دے۔ هله به تعارض وی چه دواړه یا ابتداء وه او یا دواړه انتها وه۔ نورانیت اوپه فطرت اسلامی باندے راتلل۔ داد ابتداء په اعتبار سره دی۔ داپه وخت د ولادت سره قبول د استعداد دے۔ بیا روستو د انجام په اعتبار سره شقاوت هم راځی۔ یو ابتداء او بله انتهاء شوه۔

سوال : بیا سوال راځی : چه تا مخکښی حدیث اووئی چه "عصفور من عصافیر الجنة" ۔ داخو چنچنړ دے ۔ د جنت د چنچنړونه ' بچے ازلی جنتی دے ۔ او بل حدیث کښی راځی : چه بعضے خلق د پلارانو په اصلابو کښی جهنمیان دی۔ "وهم فی اصلاب ابائهم" ۔ په دے او په هغے کښی بیا تعارض ظاهرًا راغے۔

جواب : داهم د انجام په اعتبار سره واخله آخری انجام ځانله دے۔ ابتدائی حالت ځانله دے۔

سوال : بیا یو بل سوال راځی : باب الامر بالمعروف دویم جلد کښی قسم قسم انسانان ذکر کوی۔ صفحه نمبر ۴۵۹ حدیث د ابو سعید الخدری دے : ان بنی آدم خلقوا علی طبقات شتی ومن یولد کافرًا ویحی کافرًا ویموت کافرًا ۔ دے حدیث کښی دا راځی۔ "یولد کافرًا'' دلته دی "مامن مولود الا یولد علی الفطرة" دے فطرت اسلامی باندے پیدا کیږی۔

جواب : ددے به هم دغه جواب کوے ۔ چه دا په اعتبار د انجام سره۔ مونږه په دریو سوالونو کښی جواب په اعتبار د انجام سره اوکړو۔ آخری انجام او عاقبت ئی دا جوړیږی۔

دویم جواب : دغه حدیث د امر بالمعروف باب والا په دے حدیث باندے کلام هم شته۔ او دا زیر بحث حدیث د هغے په اعتبار سره قوی دی۔ درے سواله شو۔

څلورم سوال : دا راځی چه د خضر علیه السلام په واقعه کښی ماشوم راځی۔ داد عامو مفسرینو په توجیه سره ' زمونږ استاذانو په تحقیق سره دغه هلك ماشوم نه وو۔ بلکه دا ځوان وو۔ خضر علیه السلام په واقعه کښی چه کوم ماشوم راځی۔ چه څټ ئی ورله مات کړو۔ او مړ ئی کړو۔ نوپه هغے کښی داسے راځی : طبع یوم طبع کافرًا ۔ دے د وخت د سره کافر پیدا وو۔ دده جبلت او فطرت په کفر باندے وو۔ اودے حدیث کښی دا راځی : چه استعداد ئی په اسلام باندے دے۔ نو هلته بچے ازلی بدبخته وو۔ او دلته

وائی تول ازلی نیک بخته دی۔ نو دے دواړو په مینځ کښی تعارض دفع کول پکار دی۔

جواب : دلته په عبارت کښی تقدیر داوباسی "طبع یوم طبع کافرًا لو عاش " که چرته دے ژوندے پاتے شوے وو۔ نو دے به روستو کافر کیدو۔ چه کله بلوغ ته رسیدلے وو۔

او هیثمیؒ لیکی : چه د خضر علیه السلام کار وائی د ازل په اعتبار سره وه۔ او حدیث د عالم شهادت او د ظاهری تسرع سره تعلق ساتی۔

خلاصه دا شوه : ددینه مراد استعداد د اسلام مراد دے۔ یا ددینه دین اسلام مراد دے۔ د دین اسلام مطلب عقائد ' اعمال او اقرار دابه ترینه مراد شی۔

په دے باندے اشکال دے : چه ته دین اسلام اخلے۔ نو دا ولے وائی چه بچے د والدینو تابع دے۔ دا تابع کیدل په دین اسلام باندے بناء دی۔ که پلار ئی هر رنگے وی۔ مور ئی هر رنګه وی۔ ته ئی د خیر ابوین تابع کوے ولے ؟۔ یو سوال دا دے۔

دویم سوال دا دے : چه دین اسلام خواختیاری دے۔ دا استعداد غیر اختیاری دے۔

او دریم سوال دا دے : بیا داده چه د کافرانو د بچو جنازه ولے نه کوے۔ او په دغه مخکښی توجیه د استعداد د اسلام اعتراضونه نشته۔ نو غوره قول په دے کښی استعداد د اسلام شو۔

شاه ولی اللهؒ یو خبره کړے ده ـ هغه وائی : هر جاندار له الله یو طبیعت نوعیه ورکړید ے۔ د نوعی طبیعت د وجے نه " ما ینبغی مالا ینبغی " انسان پیژنی۔ " ما ینبغی " باندے اتیان پکار دے " مالا ینبغی" نه اجتناب پیژنی۔ چرته به چا دا نه وی لیدلے۔ چه کونتره د مچو دچهتے ته دننه تلل غواړی۔

هغه به خپلے جالے له ځی۔ د انسان طبیعت نوعیه شته دے۔ خپله هغے ته ګوری۔ او " ماینبغی او مالا ینبغی " په مینځ کښی فرق اوپیژنی۔

شیخ الحدیث صاحبؒ په التقریر الرفیع کښی لیکلے دی : چه آیت کښی : ﴿ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِ ﴾ (سورة الروم : ۳۰)۔ په معنی د نهی واخله۔ یعنی مه کوے تبدیلی۔ او معنی ئی ده " لا یناسب التبدیل " لیکن اوله توجیه خه ده۔

" او ثم یقول فطرة الله ..الخ ـ مدرج من کلام ابی هریرة ـ خیر المفاتیح شرح کښی ددے حدیث ښکلے وضاحت دے۔ او بخاری : ۱۸۱ کتاب الجنائز کښی د امام زهریؒ قول نقل کړید ے : من اجل انه ولد علی فطرة الاسلام یدعی ابواه الاسلام او ابوه خاصة وان کانت امه علی غیر الاسلام۔

یعنی بچے به د وفات نه پس د خیرالابوین تابع وی۔
حاصل د حدیث دا شو۔ چه که بچے روستو غلط تقلید ' د محسوساتو سره الفت خراب نه کړو۔ او په شهوتونو کښې اخته نه شو ۔ او توحیدی دلائل ئی مخے ته دی۔ او نظر ئی صحیح وی۔ نو په دغه توحیدی فطرت به باقی پاتے وی۔

حدیث ۱۳ : وعن ابی موسیٰ قال قام فینا رسول اللہ ﷺ بخمس کلمات فقال ...الخ۔

دا حدیث مشهور دے په سید الاحادیث سره۔

"قال قام فینا رسول اللہ ﷺ": یو مطلب دا دے : کله چه د یو خبرے اهمیت ذکر کوی۔ نو " قام" په کښې راوړی۔ خیال ساتل ' حفاظت کول ﴿أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ عَلَى كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ﴾ (سورۃ الرعد:۳۳)
دویم : د " قام " معنی سم اودریدل ۔ چه تقریر به ئی کوو۔ نو نبی ﷺ به اودریدو کله کله۔ چه خلق ئی وینی او په مخ مبارك باندے ئی نظر وی۔ نوح علیه السلام فرمائی : ﴿إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُم مَّقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ﴾۔ (سورۃ یونس : ۷۱)
شیخ الحدیثؒ لیکلے دی : التقریر الرفیع کښې چه وعظ دپاره اودریدل ترینه هم مراد دی۔ چه د تقریر په وخت کښې اودریږی۔
ددینه یو مسئله معلومه شوه۔ ستا خپله خوښه ده که تقریر په اولاړه کوے۔ اوکه په ناسته باندے ئی کوے۔ اوکه ته په ممبر کینې۔ اوکه په کرسی باندے کینې۔ نبی ﷺ په کرسیء باندے ناسته کړے ده۔ مسلم کښې باب الجمعه کښې روایت شته ۔ چه نبی ﷺ تقریر کړیدے په کرسیء باندے۔ په دے کښې به یوه طریقه خاص شرعی نه ګنړے۔ لکه تبلیغیان بعضے انتظامی خبره کوی۔ لیکن بعضے ورله د دین رنګ ورکوی۔ د ناستے خبره به څوك اوکړی۔ اوکه د اولاړے که داد نظم په طریقے سره وی نو بیا ټیك ده ۔ ناستے خبره مانځه نه مخکښې ته وائی۔ او د مانځه نه روستو خبره په اولاړه کوی نو مانځه نه مخکښې کسان نه وی۔ یو تن اولاړ وی او بل تن ورته خبره کوی نو خوند نه کوی۔ چه کله ډیر کسان وی۔ نو بیا خبره کوی په اولاړه۔
اهمیت ددے پنځو خبرو ذکر کوی۔ " کلمات " فائده مندے جملے مراد دی۔ کلمه د نحوی هغه نه ده مراد۔ " الکلمة ماوضع لمعنی مفرد "۔

"ان الله لا ینام ": - الله لـه خوب نه ورځی ۔"ولا ینبغی له ان ینام" نـه ورلـه مـناسب دی چه خوب ورله ورشی۔ "ان الله لاینام ولا ینبغی له ان ینام ": ۔دا صفات سلبیه دی۔ صفات سلبیه کښی یوقانون دے۔ حادی الارواح الی بلاد الافراح کښی علامه ابن قیم ؒ لیکی : کوم صفات سلبی چه مشعر وی مدحے تـه۔ نو هغے اثبات د رب العزت دپاره ثابت دے۔ څکه قرآن ترینه ډك دے۔ : ﴿ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ﴾۔(سورة البقرة : ۲۵۵) ۔ : ﴿ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴾۔ (سورة طه : ۵۲) ۔دا صفات سلبیه دی ۔داد الله رب العزت دپاره ثابت دی۔ چه ددے رجع د الله رب العزت قدرت ته اوکمال ته ورځی۔ الله له خوب نه راځی۔ دغسے مجموع فتاوی کښی علامه ابن تیمیة ؒ هم ذکرکوی۔

بعضے واقعه ذکرکوی : چه د موسیٰ علیه السلام زړه کښی راغلل چه الله له به خوب راځی اوکه نه راځی ؟۔ ملك ئی راولیږلو۔ چه موسیٰ علیه السلام ته وایه۔چه په هرلاس کښی شیشه اونیسه۔ خیال کوه چه اونـه جنګیږی۔ آخر کښی موسیٰ علیه السلام اوده شو۔ اودواړه شیشے اوجنګیدے او ماتے شوے ۔اودا اوغـورځیدے۔ ورته ئی اوفرمائیل که الله له خوب راشی۔ نود زمکے او د آسمان نظام به تباه شی ۔دا واقعه غلطه ده۔

د آیة الکرسی په تشریح کښی ابن عادل حنبلی ؒ په اللباب کښی په دے رد کړیدے : ان مثل هذا لا یمکن نسبته الی موسیٰ علیه السلام ۔

اوحافظ ابن کثیر ؒ د سورة الفاطردآخری رکوع دیو آیت په تشریح کښی لیکی : ﴿ إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ أَن تَزُولَا وَلَئِن زَالَتَا إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّن بَعْدِهِ إِنَّهُ كَانَ حَلِيماً غَفُوراً ﴾۔

من الاسرائیلیات المنکرة فان موسیٰ علیه السلام اجل من ان یجوز علی الله سبحانه تعالی النوم وقد اخبر الله تعالی فی کتابه العزیز : لا تاخذه سنة ولا نوم۔

"یخفض القسط ویرفعه ": خکته کوی میزان او پورته کوی میزان د " قسط " نه مراد میزان دے. میزان نه مراد میزان د عدل دے .او یا ترے نه مراد رزق دے﴿اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ﴾ (سورة الرعد:۲٦) خفض او رفع کښی او په ما بعد کښی تضاد او د مطابقت صفت دے۔

" یرفع الیه عمل اللیل قبل عمل النهار": ۔پورته کیږی الله ته عمل د شپے مخکښی د ورځی نه۔

" الیه " :۔ الی خزائنه ' د عمل نه مراد معمول دے۔ ابوعوانه روایت نقل کړیدے۔۱ : ۱ ۰ ۲ باندے : ان اعمال النهار ترفع بعد صلاۃ العصر واعمال اللیل ترفع بعد صلاۃ الصبح۔

"**حجابه النور**" :۔ د الله نه حجاب رڼرا ده۔ حجاب مطلب دا چه یوتن چه چاته ګوری او هغه یو کار' عمل کوی۔ او هغه د هغے د وجے په هغه کارعمل نه شی کولے۔ یا ورته کتل نه شی کولے۔ مانع موجود دے۔ د حجاب نه معنوی حجاب مراد دے۔

نبراس شرح العقائد کښې دی : چه د رؤیت اته شرائط دی۔ چه یو شیء نه وینی۔ نو څنګه به ئی وینی۔ ولے په نظر نه راځی موانع څه دی۔ که لرے دی نو دوربین به ورله پکار وی۔ یا به نرے وی نو خورد بین به ورله پکار وی ۔ یا به ئی په مینځ کښې دیوال وی۔ لکه قرآن کښې راځی : ﴿ وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ حِجَاباً مَّسْتُورًا ﴾۔ (سورۃ بنی اسرائیل : ۴۵)۔

حجابیت د الله دپاره نورانیت دے۔

"**لو کشفه**" :۔ که الله دا بیرته کړی۔ "**لاحرقت سبحات وجهه**" :۔ نو خامخواه اوبه سوزی دهغه د مخ هغه پلوشے۔ "**ماانتهی الیه بصره**" :۔ هغه ځیزلره کوم ځائی ته چه د هغه نظر رسی۔

" سبحات " جمع ده۔ "سبحة " بالضم دے۔ ای انوار وجهه۔ او بعضے محققین وائی : چه دغه انوارات چه ملائك وینی۔ نو تسبیح او تهلیل د الله د جلال او عظمت د وجے نور هم سوا کړی۔ (مرقات)۔

حدیث ۱۴ : وعن ابی هریرۃ قال قال رسول الله ﷺ ید الله ملأے لاتغیضها ...الخ۔

"**ید الله ملأی**" :۔ د الله لاس ډك دے۔ تاویل مه کوه۔ روستو حدیث کښې راځی : ملأن ۔

"**لا تغیضها نفقة**" :۔ نفقه نه شی کمولے۔ "**سحاء اللیل والنهار**" :۔ شپه او ورځ خپل فیضان راتویه ونکے دے۔ " سحاء " د باب نصر ینصر نه دے۔ د برے نه په آسانتیا سره راتلل او ډیر راتلل۔ د برے نه الله ډیر څیزونه رالیږی۔ اوپه آسانتیا سره ئی رالیږی۔ " ارأیتم " :۔ ماله خبر راکړے۔

"**ما انفق**" :۔ هغه چه الله کومے خرچے کوی۔ " مذ خلق السماء والارض " د هغے وخت نه چه الله آسمانونه او زمکے پیدا کړیدی۔ ددینه دا معلومه شوه۔ چه دا زمکه او آسمانونه مخکښې نه وو۔ او

خلق روستو الله پیدا کړیدے۔ قرآن کریم کښې ډیر راځي: ﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾.

"فانه لم یغض مافي یده": ۔ نه اوچیږي 'هغه چه د الله په لاس کښې دي۔ کمے په کښې نه راځي۔

"وبیده المیزان": ۔ د الله په لاس کښې میزان د رزق دے۔ مخکښې ترینه تعبیر کړے وو۔ په قسط سره۔ اوس ترینه تعبیر اوکړو په میزان سره۔ هلته هم خفض او رفع راغلے وه۔ او دلته هم خفض او رفع راغلے ده۔ "ان یخفض یرفع" خکته کوي او پورته کوي۔

اوپه روایت د مسلم کښې دي: یمین الله ملأے ۔ دے بل روایت کښې: ید الله ملأن دے۔ او دلته: یمین الله ملأے۔ نوابن نمیر وائي: چه دا ملأن دے۔ نو دایو په کښې: ید الله ملائ دے۔

دریم ملأ په ځائے ملأن دے۔ داصفت د سخا دے۔ د وسعت رزق نه کنایه ده۔ امام نووي په "ملآن" باندے رد کوي۔

"سحاء" واسع الماء نه دے۔ کله چه د زمکے په سطح عام او تام شي۔ یعني ډیرسخي دے۔ شپه او ورځ خلق خرچے کوي۔ اود الله په نعمتونو کښې کمے نه راځي۔

دلته یو مسئله الحق الصریح شرح د مشکوۃ کښې ذکر ده۔ اهمه مسئله او ضروري مسئله ده۔ اوما امداد المزید کښې حواله ذکر کړے ده۔ مسئله داده: زمونږ د ټولو مسلمانانو دا عقیده ده۔ چه دا مخلوق که آسمان دے اوکه زمکه ده۔ که انسان دے دا مخکښې نه وو۔ اوبیا الله پیدا کړو:

﴿هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا﴾۔ (سورۃ الدهر: ۱)۔ "خلق الانسان، خلق السموت والارض" ۔ دے حدیث کښې: "مذخلق السماء" دا هغه وخت نه چه الله زمکه او آسمان پیدا کړه۔ نو عام مسلمانان وائي چه کائنات معدوم وو۔ روستو الله رب العزت پیدا کړل۔ امام بخاري په دے مستقل بحث کړیدے: ابتداء د مخلوق بیانوي ۔ مثلاً ملائك نه وو ۔ بیا الله پیدا کړه ۔ یو یو ذکر کوي ۔ نو خلاف ثابت دے علامه ابن تیمیۃ او علامه ابن قیم لره۔ هغوی دا نه مني۔ هغوی داسے وائي کائنات حادث دے د الله نه اختیاراً۔ او ابتداء ئي نه ده معلومه۔ الله دا کائنات روستو پیدا کړیدے۔ داخبره مدارج السالکین کښې لیکلے ده۔ چه کوم حوادث دي: الحوادث لا اول لها۔ داخبره د ابن تیمیۃ او د ابن قیم غلطه ده۔ چه د حوادثو دپاره اول کیدل نشته۔ څنګه د الله وجود وو۔ ورسره د کائناتو وجود وو۔ دا د چا هم مسلك نه دے۔ بغیر د علامه ابن تیمیۃ او علامه ابن قیم نه۔ انتهی۔

حیاة ابن القیمؒ عربی کښې کتاب دے۔ او دهغې اردو کښې ترجمه کړے ده پروفیسر غلام احمد حریری صاحب هغه د ابن قیمؒ د کتاب ترجمه کړے ده۔ او د ابن قیمؒ په دے عقیده باندے رد کړیدے۔
الحق الصریح کښې مولوی صاحب هم کړیدے۔ لیکن الفاظ ئې داسے دی: عام مسلمان وائی چه مخلوق مخکښې معدوم وو۔ بیا پیدا شو۔ او دلیل ئې دا حدیث دے۔ "مذ خلق السماء والارض"۔ ددے آسمان بلکه د عرش نه مخکښې مخلوق نه وو۔ امام بخاری باب بدء الخلق کښې وئیلے دی: کان الله ولم یکن شیء غیره ـ بعض سلف لکه ابن تیمیهؒ او ابن قیمؒ فرمائی: چه کائنات حادث دے د الله نه اختیاراً او ابتداء ئې نه ده معلومه۔ یعنی داسے نه وه۔ چه حوادث نه وو او بیا پیدا شو۔ ابتداء ئې نه ده معلومه۔ دلیل ئې دا دے: که مونږه وایو الله موجود وو۔ او مخلوق نه وو۔ نو تعطیل به راشی۔ او خالقیت به څنګه ثابت شی۔ په کوم وخت چه خالق وو۔ نو په هغه ورځ خالق وو۔ او په مخلوق باندے عدم نه دے راغلے۔ لیکن بعضے علماء رد کړیدے۔ (بلکه تولو په دے رد کړیدے)۔ چه علامه ابن تیمیهؒ او ابن قیمؒ لره دا قول نه وو پکار۔ لیکن هغوی دا قول څکه کړیدے۔ چه انسانانو ته د الله لوئے والے اوښائی۔ انتهی۔ نو د الله لوئی ددے خبرے نه بغیر هم ثابته ده۔ دا خو مودودی صاحب هغه خبره شوه۔ یو ځائی لیکی: چه څه پیغمبرانو ته ګناهګار څکه وایم۔ چه خلقو ته پته اولګی چه پیغمبران اله نه دی۔
د ابن تیمیهؒ په دے خبره باندے مراتب الاجماع لابن حزمؒ، ونقد مراتب الاجماع لابن تیمیهؒ چه تعلیق ئې شیخ زاهد کوثری کړیدے۔ په ص: ۱۶۹ باندے رد کړیدے۔
علامه ابن تیمیهؒ بعضے ځائی د جمهورو علماء نه خلاف کړیدے۔ او کومه خبره چه ئې غلطه وی۔ یا راجحه نه وی۔ نو د جمهورو قول به معتبر وی۔ هغه لیکلے دی: چه مور او پلار باندے زکوٰة کیږی داد جمهورو نه خلاف قول دے ـ او مجموعة الفتاوٰی کښې ذکر کړیدے ـ جمهور علماء وائی: چه اصول یعنی مور او پلار باندے زکوٰة نه کیږی۔ یو څو نورے مسئلے هم شته دے۔
مجموعة الفتاوٰی ۱۳ : ۵۵ کښې لیکی: ځوئی د پلار زکوٰة اغستلے شی۔
علامه ابن تیمیهؒ ۱۲ : ۱٦۸ کښې لیکی۔ والمیت قد یعرف من یزوره۔ لیکن دا بالکل صحیح نه ده۔
او دویم جلد کښې لیکی: واما سماع الغناء علی وجه اللعب فهذا من خصوصیة الافراح للنساء والصبیان کما جاء ت به الآثار فان دین الاسلام واسع لا حرج فیه ـ (۲ : ۲٦۲)۔
دے باندے فتوٰی په دے دور کښې ورکول د فتنے نه من وجه خالی نه ده۔

حدیث ۱۵ : وعنه قال سئل رسول الله ﷺ عن ذراری المشرکین قال الله اعلم ... الخ۔

نبی ﷺ نه د مشرکانو د بچو په باره کښې تپوس اوشو۔ چه دوی به جنت کښې وی۔ او که دوی به دوزخ

کښې وي۔ دوی له به عذاب ورکولے کيږي او که نه ؟۔ نو نبي ﷺ ورته په جواب کښې اوویل : الله اعلم بما كانوا عاملين ـ دوی چه کوم عمل کوونکے وو۔ نو هغوی له به د هغے سزا او جزا ورکولے کيږي۔ په دے باب کښې حديث کښې وړاندے راځي۔ په هغے حديث کښې ئې ورله حکم بيان کړے دے :
" ان المومنين واولادهم في الجنة وان المشركين واولادهم في النار " ـ بيا نبي ﷺ اوفرمائيل : ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ ﴾ ۔ (سورة الطور : ۲۱) ـ دا يو داسے مسئله ده۔ چه په دے کښې د نبي ﷺ نه صريح نص نشته۔ چه دوی به کوم ځائې کښې وي۔
اشعة اللمعات کښې شيخ عبدالحق" دا وئيلے دي : چه مونږ په دے کښې په يوه توجيه باندے جزم نه شو کولے۔ په دے کښې يا اخبار واهيه دي يا مطلقا اخبار دي۔ چه د هغے نه قطعًا جزمًا مسئله نه ثابتيږي ـ اوله خبره داده : چه د مشرکانو د بچو څه حکم دے۔ په دے کښې يو قول دادے : چه ددوی يو دنيوی او بل اخروی حکم دے۔ دنيوی حکم ئې دادے : چه دابه د خير الابوين تابع وي۔ لکه مخکښې داسے آثر ذکر شويدے۔ مور او پلار ئې که مسلمانان وي۔ نو دے به مسلمان وي۔ دا ددوی دنيوی حکم دے ـ او حکم اخروی جنتي کيدل دي۔ اګر چه په دنيا کښې د مشرك بچي به جنازه نه کوي۔ قبر شرعي به ورله نه وي۔ خو عذاب ورله په آخرت کښې نشته۔ د هغے وجه داده : چه په قرآن کښې راځي : ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴾ (سورة بني اسرائيل : ۱۵) ـ چه مونږ رسول راوليږو۔ مسئله بيان کړي چه څوك نه مني نو عذاب ورله الله ورکوي۔ چه هغوی عاقلان دي او بالغان دي۔ نو دوی له به عذاب هم نه ورکوي۔ ځکه چه دوی غير عاقل او غير بالغ دي۔ يو قول دادے۔
بل حديث راځي : د معراج په واقعه کښې د آدم عليه السلام ښي او ګس طرف ته ماشومان وو۔ ګس طرف ته د کافرانو او ښي طرف ته د مسلمانانو بچي وو۔ نو د هغے نه دا معلوميږي۔ چه په دواړو کښې فرق کړيدے۔ (بخاري ۱ : ۵۰ کتاب الصلاة)
سوال راځي : چه دلته خو حديث کښې داسے راځي : والله اعلم۔ " بما كانوا عاملين "۔
نو هغوی دا وائي : چه دا د هغه وخت خبره ده۔ چه وحي نه ده راغلے۔ بيا ورته روستو وحي راغله۔ بيا په دے کښې حديث د خديجے رضي الله عنها راځي۔ د هغے نه دا معلوميږي چه هغوی په اور کښې دي ـ نو دلته هم دا جواب اوکړه۔ چه دا د هغه وخت خبره ده۔ نبي ﷺ ته دا علم نه وو۔ چه دوی به جنت ته

ځي. د هغې نه مخکښې نبي ﷺ دا خبره کړې وه. نو ګویا یو قول دا دے چه دوی به جنت ته ځي.
دلیل دا دے: فطرة الله التي فطر الناس علیها ـ بانـدے دوی وفات شویدي. بلوغ ته نه دي رسیدلے. او په
کتاب الرویا کښې دا روایت راځي: چه " من اهل الجنة ". دوی به جنت کښې وي.

یو قول دا دے: چه د مومنانو دا بچي به په اعراف کښې وي. او د مشرکانو د هغې په باره کښې الله ته علم دے ـ چه د بالغ کیدو نه بعد دوی کوم یو عمل کولو. د هغې مطابق به ورله سزا او جزا ورکول کیږي. نو په دے ځائې کښې به په عبارت کښې تقدیر راوباسے: الله اعلم بما كانوا عاملین لو بلغوا. فرض کړه که دوی بالغ شوے وی ـ او روستو د بلوغ نه الله ته پته وه. چه د دوی عمل څنګه دے. یعنی د بچو ترحده پورے جنتي او دوزخي کیدل خو په کښې نشته. خو عمل ئې الله ته معلوم دے. جبلت او فطرت ئې په فطرت اسلامي باندے شویدے. یو روایت کښې داسے راځي: چه جنتي به وي او جهنمي به نه وي. او بل روایت نه دا معلومه شوه. چه جهنمي به وي او جنتي به نه وي. نو په یو کښې حکم مونږه نه شو لګولے. په هغې اقوالو کښې یو قول دا دے: چه دوی به د جنتیانو خادمان وي. دا روایت چه د جنتیانو خادمان به وي. دا د سند په اعتبار سره کمزورے دے.
یو قول په کښې دا دے: چه په آخرت کښې به ترے الله امتحان اخلي.

سوال: چه په آخرت کښې خو سوال او جواب نشته؟.

جواب: په جنت کښې نشته په میدان محشر کښې شته: ﴿يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ﴾. (سورة القلم: ٤٢) ـ نو امتحان به ترے اخلي. دا امتحان به د هغې کسانو نه هم اخلي. چه په زمانه د فترت کښې وفات شویدي. عیسیٰ علیه السلام بره ختلے دے. او نبي ﷺ لا نو و راغلے ـ د دے په مینځ کښې چه کوم خلق مړه شویدي. نو یو قول په دے کښې هم شته. چه په آخرت کښې به د دوی نه امتحان اخلي. دا قول د لیونو په باره کښې هم شته. چه په هغه جهان کښې ورله الله عقل به ورکړي ـ نو چه کله دا لیوني مړه شي. نو د دوی نه به امتحان اخلي. غوره قول د امام ابو حنیفهؒ نه چه کوم منقول دي. هغه دا دے: چه په دے مسئله کښې د توقف نه کار واخله. مسئله کښې نص یو طرف ته نشته ـ د توقف څوك دا معنی کوي چه حکم مه لګوه. خاموشه پاتے شه. خو دا معنی دلته صحیح نه ده. نبي ﷺ هم توقف کړیدے. " الله اعلم بما كانوا عاملین " امام ابو حنیفهؒ په دغه بنیاد باندے وئیلے دي. دا معنی دلته نه ده. چه حکم مه لګوه. او خاموشه پاتے شوه.

د توقف دویمه معنی داد عدم ده. "کلی حکم" مه لګوه. ځتل حکم مه لګوه. داسے وایه بعضے په بچو کښی نجات والا دی. بعضے په بچو کښی هلاکت والا دی. څه ئی تعین نه شم کولے. ماته پته نشته. چه کوم نجات والا دی "الله اعلم بما کانوا عاملین" ماته پته نشته چه کوم هلاکت والا دی: "الله اعلم بما کانوا عاملین". یعنی علم ئی الله ته دے.

اواعمال که دوی نه دی کړی. نو دا عمل جنت ته د دخول دپاره علت تامه نه دے. مخکښی حدیث کښی وئیلے شوے وو. "طوبی لهذا عصفور من عصافیر الجنة" بی بی عائشه رضی الله عنه وئیلے وو: لم یعمل السوء ولم یدرکه. بدی ئی نه ده کړے. او چرته ئی بدی نه ده موندلے یعنی نابالغ وو.

نو نبی ﷺ ورته لږ غصه شوا و خفه شو. او ورته ئی اووئیل: اوغیر ذالك یاعائشه. او ورته ئی اووئیل چه الله جنت له خلق پیدا کړیدے. دوزخ له ئی خلق پیدا کړیدے. جنت او دوزخ له خلق پیدا کړیدے. دائی په ازل کښی لیکلے دی. جنت یوائی په عمل نه دے موقوف. داد الله په فضل او په ازلی فیصله باندے موقوف دے. نو بعضے هلاکت والا دی او بعضے نجات والا دی. خو مونږ ئی تعین نه شو کولے. په داسے مسئلو کښی امام احمدؒ غلے پاتے شویدے. د امام احمدؒ نه یو ځل د امام شافعیؒ په خاندان کښی دهغه نوسی تپوس اوکړو. نو امام صاحب ورته اووئیل: هذه مسائل اهل الزیغ. امام احمدؒ اووئیل په دے کښی هغه څوك بحث کوی. چه هغه اهل الزیغ وی.

یو د سفیان ثوریؒ نه چا تپوس اوکړو ددے مسئلو: صاح علیه انت تسئل عنها یا صبی. چغه ئی پرے اوهله او هغه ته ئی اوئیل ته لا وړوکے ئی. ته په دے مسئلو باندے نه پوهیږی. ستا په دے مسئله باندے پوره ذهن نه رسیږی.

ددے نه دا معلومه شوه: چه امام ابو حنیفهؒ او امام احمدؒ خلق په دے مسئله کښی د تعمق نه منع کړے ده. بلکه سرسری خبره ئی اوکړه. الله اعلم بما کانوا عاملین.

کتاب الادب: ۴۱۹ باب السلام شروع کیږی: واما الولدان الذین حوله فکل مولود مات علی فطرة فقال بعض المسلمین یا رسول الله ﷺ اولاد المشرکین فقال رسول الله ﷺ واولاد المشرکین.

ددے حدیث په تشریح کښی ملا علی قاریؒ دا خبره ذکر کړے ده: وللناس فی اطفال المشرکین اختلاف وعامة اهل السنة الا ان حکمهم حکم ابائهم فی الکفر.

اوآثار د صحابو شته. چه دوی به جنت ته ځی. قرآن کښی دی: ﴿ یَطُوفُ عَلَیۡهِمۡ وِلۡدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴾. (سورة الواقعة: ۱۷). دا بچی به خدمت کوی. او بیا ئی صفا لیکلے دی: انهم کانوا خدمًا للمسلمین فی الجنة. دلته هم لیکی: قیل انهم خدام اهل الجنة.

الفصل الثانی

حدیث ١٦ : عن عبادۃ بن الصامت قال قال رسول اللهﷺ ان اول ما خلق الله القلم..الخ۔

دټولونه اول الله قلم پیدا کړو۔ دابه " القلمُ " وائی۔ که " القلمَ " ستا خوښه ده۔ " القلمُ " مرفوع دے۔ ځکه د " ان " دپاره خبر دے۔ او د " ان " خبر مرفوع وی۔ دویم " قلمَ " منصوب هم وئیلے شی۔ " ان " سره د اسم نه په دے عبارت کښی حذف دے۔ " قلم " د " ان " اسم دے۔ یا د " ان " خبر دے۔ دواړه جوړیدے شی۔

اعتراض : په دے باندے یو اعتراض دادے : چه په قلم کښی خو عقل نشته۔ نو څنګه ورته وائی۔ " فقال له اکتب "۔ چه لیکل اوکړه۔

جواب : ستاپه اعتبار سره په کښی عقل نشته۔ د الله په نزد ورته شعور حاصل دے۔ چه ورته ئی اووئیل چه اولیکه نو قلم پوهه شوید ے۔ اولیکل ئی شروع کړیدی۔ " اکتب القدر " چه تقدیر اولیکه۔ " فکتب ما کان " ئی اوئیل لیکل هغه چه د نبی ﷺ نه مخکښی وو۔

"وماهو کائن الی الابد": ۔ترقیامته چه کوم کارونه کیږی۔

دایو سوال دے ماکان خونه وو۔ ځکه اوس اووئیل شو۔ " اول ماخلق الله القلم " الله اول قلم پیدا کړیدے۔ نو چه اول قلم شو۔ اود قلم نه مخکښی څه وو نه۔ نو هغه به مخکښی لیکلے څه وو۔

په ماکان باندے اعتراض دے۔ جواب په ترجمه کښی اوشو۔ ماکان په اعتبار د قلم نه دے مراد۔ بلکه ماکان په اعتبار د زمانے د نبی ﷺ دے۔ ملاعلی قاریؒ لیکی :المضی بالنسبة الیه علیه الصلوۃ والسلام ۔ او علامه طیبیؒ لیکی : قبل تکلم النبی ﷺ بذالك۔

دویم جواب : د الله ذات او صفات اولیکه۔ چه څنګه الله وو۔ نو هغه شان ئی صفات هم وو۔ نو قلم ته ئی اووئیل چه د الله ذات او صفات اولیکه۔ یا ''فکتب ماکان" چه زما د تلفظ نه چه مخکښی څه وو۔ " وماهو کائن الی الابد " ۔ترقیامته چه څه وی لیکل به کیږی۔ نو قلم کښی شعور شته۔ نو خبره ئی اومنله۔ اولیکل ئی اوکړه :﴿ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ﴾(سورۃ بنی اسرائیل:٤٤)

اعتراض : دلته یو بل اعتراض دے۔ راځی " ان اول ما خلق الله القلم " ۔بل ځائی کښی راځی : " اول ما خلق الله العقل "۔ نو اول ئی عقل پیدا کړیدے ۔ او که قلم ئی پیدا کړیدے۔

اول جواب: " ان اول ما خلق الله العقل " داخو موضوعی روایت دے۔ زیات نه زیات شیخ الحدیثؒ التقریر الرفیع کښې کوشش کړیدے مرسل ئې صحیح کړیدے۔ د امام سیوطیؒ په حوالے سره۔

دویم جواب: دا حمل کړه په اولیت حقیقیه باندے۔ او دا بل څائې کښې په اولیت اضافی حمل کړه۔ نو ابتداء، ابتداء حقیقی او ابتداء اضافی ده۔

یعنی ابتدائیه په دوه قسمه ده: ﴿ وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ﴾ ۔ (سورة البقرة : ٤١) دلته د یو نه اضافت حقیقیه او د دویم نه اضافیه واخله۔

حدیث کښې راځي: نبی ﷺ به چه د اخترمونځ له وتلو۔ نو فرمائیل ئې: ان اول ما نبدأ به الصلوة۔ اول چه مونږ به شروع کوو۔ نو هغه مونځ دے۔ نو بعض غیرمقلدین وائی: چه ورځې نو په مانځه باندے به شروع کوی۔ ځکه حدیث د بخاری کښې اول راغلے دی۔ نو دوی په کښې تقریرونه کوی۔ نو بس عمل دے پرے اوکړی۔ تقریر دے هم نه کوی۔ دوی تقریرونه هم کوی۔ کله ترے مخکښې تسبیحات وائی۔

یو طرف ته په فتاوی اهل حدیث ۲ : ۳۵۵ باندے دی: نماز عید سے پہلے نعت یا تلاوت قرآن یا پھر وعظ سب خطبہ میں شامل ہے۔ او آخترونو کښې د مونځ نه بعد خطبه ده۔ او په فتاوی علماء اهل حدیث کښې ۴ : ۱۹۸ کښې هم دی۔ او بعض غیرمقلد وائی: چه په ناسته تقریر د اختر نه مخکښې بدعت دے۔

شیخ عبدالسلام صاحبؒ د منهج رساله کښې د اخترمونځ نه مخکښې تقریرته بدعت وئیلے دے۔

مولانا نورستانی صاحب لیکلے دی: چه خلاف سنت دے۔ نیل المرام : ۳۷۸ " کوم خلق چه د مانځه نه مخکښې تقریرونه کوی دا خلاف سنت دی " ۔

مونږه تقریرونو ته بدعت نه وایو۔ او دا وایو: ان اول ما نبدأ ۔ کښې ابتداء اضافی ده۔ چه اول شروع کوو نو په خطبه به شروع نه کوو۔ خطبه به د مونځ نه روستووی۔ هغوی د اولیت دغه معنی کوی۔ او عمل پرے نه کوی۔

بیا الله رب العزت عرش پیدا کړو۔ بیائی اوبه پیدا کړے۔ مخکښې تیر شو۔ " وکان عرشه علی الماء " لوح محفوظ ئې پیدا کړو۔ دهغے تولو نه ئې مخکښې قلم پیدا کړو۔ ورته ئې اووئیل اولیکه۔

قلم گفتہ کہ من شاہ جہانم　　قلم کش رابدولت میرسانم

قلم اووئیل څه د دنیا بادشاه یم۔ اهل قلم له به مال او دولت ورکوم۔

قلم قلم دے: ﴿نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ﴾۔ (سورۃ القلم: ۱)۔
داحدیث چه دلته کوم ذکردے غریب دے د سند په اعتبار سره۔ خودا حدیث صحیح دے۔ او حسن لغیره دے۔ د کثرت شواهد په بناء باندے۔ هغے د وجے نه روایت غلط نه دے۔ حدیث صحیح دے۔ یا که صحیح نه وی۔ نو حسن لغیره دے۔ الحق الصریح کښې هم دی چه روایت صحیح دے۔ نو شواهد ورله نور شته۔ چه دا حدیث صحیح معلومیږی۔

سوال: دے۔ غیرمتناهی فی المآل څنګه دا ټول دقلم لاندے راتلے شی۔

جواب: دادے۔ ددے نه مراد مراد اجمالی او کلی کتابت دے۔ نه جزی جزی او تفصیلی۔

"هذا حدیث غریب اسنادا": یعنی د متن په اعتبار سره غریب نه دے۔ متن ئی د ګنړو صحابو نه منقول دے۔

حدیث ۱۷: وعن مسلم بن یسار قال سئل عمر بن الخطاب عن هذه الایة .....الخ۔

د عمر رضی الله عنه ددے آیت د وضاحت تپوس اوشو: ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾۔ (سورۃ الاعراف: ۱۷۲)۔ مسلم بن یسار جهنی دے۔ امام ترمذیؒ ئی حدیث ته حسن وائی۔ خو د سیدنا عمر رضی الله عنه نه ئی آوریدل نه دی ثابت۔ (مرقات)۔ لیکن ابن حبان ئی د خپل عادت مطابق توثیق کوی۔

بل حدیث دے: وعن ابن عباس رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال اخذالله المیثاق من ظهر ادم ـ الله د آدم علیه السلام د ملا نه دا بچی راویستل۔ دے روایت کښې دا راغی ''من ظهر ادم'' او آیت کښې دا راغی: ﴿مِنْ بَنِي آدَمَ﴾ ـ د بنی ادم نه ئی راواویستلے دی۔ اوپه دے روایت کښې دا راغی۔ چه د آدم علیه السلام نه ئی راویستلے دی۔ اشکال راغی جواب به ئی کوو۔

"بنعمان": ـ په نعمان مقام کښې معلومه داشوه۔ چه خارجی عمل دے۔ ذهنی او عقلی خبره نه ده۔ " فاخرج من صلبه " دا ورله بیا دلیل دے ـ دا ټول اولاد ئی د هغه د صلب نه راویستو۔ دے بل حدیث کښې ئی اووئیل " فاستخرج " پته ئی نه لګیده۔ چه د کوم ځائی نه ئی راویاسلے دی۔ نودلته ئی پته اولګیده ـ چه د ملا نه ـ ځائی ئی اوخودلو۔ چه دا کاروائی کوم ځائی کښې شوے ده۔ داکانفرس چه

شوید ے۔ نودا په نعمان نومی ځائی کښې شوید ے۔

وړیسے دا بل روایت: وعن ابی کعب فی قول الله عز وجل واذ اخذ ربك من بنی ادم من ظهورهم ذریتهم قال جمعهم فجعلهم ازواجًا. په اصنافو کښې تقسیم کړل داخلق۔

دادرے حدیث ذکرشو۔ اول اختلاف په دے مسئله کښې دادے: دا یونفس الامری حقیقت دے۔ اوکه دا چرته یوتخیل دے۔ علامه بیضاویؒ وائی دا عقلی دے۔ اوپه دے معنی باندے دا کانفرس دے۔ چه الله عقل ورکړیدے۔ اوس چه دے کوم عقل استعمالوی۔ نودهغے نه دا معلومیږی۔ چه الله زمونږ رب دے۔ لیکن عقلی وئیل کمزورے خبره ده۔ او عقلی سره ئی خارجی هم اومنه۔ لکه ابن کثیرؒ وائی دواړه دی۔ داسے شوے ده چه بچے پیدا شوید ے خبرے ئی کړیدی۔ سوال او جواب هغه شویدی۔

اشکال: دلته یواشکال دادے: چه د نبی ﷺ د حدیث او د آیت مبارکه ظاهرًا تعارض دے۔ آیت کښې راځی: ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ ـ د بنی ادم د شاګانونه ئی اولاد راویستلے دے۔ اوپه حدیث کښې دا راځی: چه ما دا راویستلے دی د آدم علیه السلام نه۔ نوحدیث کښې خونوم د آدم علیه السلام دے۔ اوپه آیت کښې ذکر د بنی آدم دے۔: اخذالله المیثاق من ظهر آدم۔ او قرآن کښې راځی او وړیسے دے بل حدیث کښې چه ذکر دے: من ظهورهم ' نو اشکال دادے۔

جواب: دادے۔ د اخراج دا کیفیت داسے وو۔ د ټولونه مخکښې د آدم علیه السلام د ملا نه څه بچی راویستل۔ مثلًا قابیل اوهابیل ئی ترے راویستل۔ بیا د ترتیب خارجی په اعتبار سره ترقیامته چه څومره بچی وو۔ راویستل دهابیل د شاه نه بیا دهغه د بچی د شاه نه بیا د بل بچی د شاه نه۔ اول دآدم علیه السلام دملا نه راوتل۔ ترقیامته دا سلسله اوچلیده۔ چه څومره مخلوق راځی۔ نوداپه سکرین کښې ښکاره شو۔ نوقرآن کریم دغه اول ترتیب ذکرکوی۔ دیته ترتیب خارجی وائی: من بنی آدم من ظهورهم ـ ځکه چه د بنی آدمونه هم راوتلے دی۔ اوحدیث کښې چه آدم علیه السلام یادوی۔ نوپه هغے کښې اصلی اعتبار مراد دے۔ یعنی دوی بالواسطه دی۔ ددے اصل ټول آدم علیه السلام دے۔ خوبالذات دآدم علیه السلام نه خپل بچی راوتل۔ نو هغه ئی ذکرکړه یوائی په آدم نوم سره۔

دویم جواب: دادے۔ امام رازیؒ تفسیرکبیرکښې لیکلے دی: چه د ظهور د بنی آدم نه ئی راویستو۔ په آیت کښې دی: ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ دائی راویستو۔ اوس دغه

ذریت ئی د آدم علیه السلام د صلب نه راویستلے دی۔ اوکه نه آیت ددے نه ساکت دے۔ نه ئی اقرار کوی اونه ئی انکارکوی۔ آیت کښی ددے ذکردے۔ چه: ﴿مِن بَنِیٓ آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ﴾

مونږ دامنو چه اخراج د ذریت د ظهور د بنی آدم نه په قرآن سره ثابت دے۔ اواخراج د ذریت من ظهر آدم داپه حدیث سره ثابت دی ۔ نو هم د قرآن هغه منو اوهم دحدیث۔ هلُمّ جرّا۔ ترقیامته چه کوم ذریت وو نودغه بچی الله رب العزت پیدا کړل۔

دریم جواب: دادے۔ مراد د بنی آدم نه آدم علیه السلام دے۔ لیکن اولاد په کښی داخل دی۔ مطلب دا یوه نوعه ده لکه انسان یو نوعه ده۔ نومراد د بنی آدم نه په آیت کښی آدم علیه السلام واخله۔ داجواب هم بعضو خلقو کړیدے۔

دویمه مسئله: داده۔ چه د اخراج صورت څه دے؟۔ څنګه ئی راویستل؟۔

شیخ عبدالوهاب صاحبؒ فرمائی: د آدم علیه السلام د شاه نه ئی راویستل۔ ځکه قرآن کریم کښی: ﴿من ظهورهم﴾ تکے راغلے دے۔ مطلب سورے ئی په کښی کړیدے په دے ملا کښی۔

بل روایت کښی راځی: فاخرج من صلبه ۔ بعضے علماء وائی: چه د سرد ویختود جرړونه ئی دا بچی راویستلے دی ۔ او راجحه داده۔ علامه قزوینیؒ وائی: چه دا سینه ده په دے کښی مسامات لګیدلے دی ۔ ددغے مساماتو نه ئی بچی راویستلے دی۔ کوم ځائی کښی راویستلے دی؟ نووادی نعمان کښی. نعمان د کندے نوم دے۔ عرفات سره خوا کښی۔

اوس دوه خبرے دی: (۱): یو د بیضاوی ده۔ (۲): یو دجمهورو ده۔ علامه بیضاویؒ وائی: راویستل نه دی شوی۔ بس د دلائلو مشاهده ده۔

جواب: دادے۔ داخبره صحیح نه ده۔ ځکه چه دلته "فاخرج من صلبه" راځی۔ ځکه چه مونږ ته ځائی ښائی۔ چه دا کار په نعمان نومی کنده کښی شویدے۔

نوسوال راځی: چه داخو مونږ ته یاد نه دی۔ جواب: نو مونږ ته څه یاد دی۔ مونږ ته دا یاد دی۔ چه مونږ د مور په خیټه کښی وو۔ مونږ ته خونه دی یاد۔ نو چه نه دی یاد۔ نوته به نه منے۔ مونږ ته دا یاد دی چه مونږ واړه وو۔ نو مور به خپه لړه رامخکښی کړه۔ اوپه هغے به ئی بچے کینولو۔ اوپه ملا به ئی بچے له لړ لړ لاس وهلو۔ چه تقاضه ترے صدور ته راشی۔

قرآن کښې دي: ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ﴾۔ (سورة البقرة: ۱۴۶) لکه څنګه چه ځامن پیژني۔ داسې نه وائي چه ځان پیژني۔ ځکه ځان دے کله کله نه پیژني۔ په ده باندے داسې حالت تیرشوے وي۔ چه دے د ځان نه نه دے خبر۔ بچي نه خو خبر دے۔ اوموږ، ته د پیدائش نه بعد غوږ کښې خپل اذان یاد نه دے۔ اویقیني اذان شوید ے۔ بعضې کسانوته پته وه۔ لکه سهل بن عبدالله تستری" او ذوالنون مصری" وائي ماته پته ده۔ علي رضی الله عنه وائي ماته پته ده۔ نو هغوی ته به پته وي۔ څوك په کښې داهم وائي چه ښي طرف ته څوك ناست وو۔ او ګس طرف ته څوك ناست وو۔

فتاویٰ خالص کښې لا دا لیکلي دي: اویس قرني او هرم بن حبان مکالمه ده: من این عرفت اسمی واسم ابی' او مخکښې ملاقات نه دے شوے۔ قال عرفت روحي روحك۔ (۸: ۳۶۸)۔

نو تحقیقي اوصحیح قول هم داد ے: چه په دے ځائي کښې واقعي ددے بچودا راویستل حقیقت کښې شویدي۔ دلائل هم بیا روستو ذکرشویدي۔ انبیاء هم روستو راغلي دي۔ هغه د تاکید دپاره راغلي دي۔ چه ددے عهدالست تجدید وخت په وخت کیږي۔

علامه طیبی" وائي: ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ﴾ دا آدم علیه السلام ته هم شامل دے۔

"خلقت هؤلاء للجنة": ۔ اول ئې د جنتیانو ذکر اوکړو۔ چه خلق پوهه شي۔ چه د الله رحمت د غضب نه مخکښې دے۔ اوحدیث کښې ئې خلق او عمل دواړه ذکر کړل۔ دے کښې د اهل السنت والجماعت معتدل مسلك ته اشاره ده۔ چه داد جبریه او قدریه په مینځ کښې مسلك دے۔ نه په کښې افراط شته او نه تفریط۔

حدیث ۱۸: وعن عبدالله بن عمرو قال خرج رسول الله ﷺ وفي يديه كتابان فقال ..الخ۔

"وفي يديه كتابان": ۔ دوه لاسونه ئې وو۔ یو کتاب او رجسټر په ښي لاس کښې۔ اوبل کتاب په ګس لاس کښې وو۔

"ماهذان الكتابان": ۔ په دے کښې دوه قولونه دي: (۱) یو قول داد ے: چه دا وقعي اصلي رجسټر وو۔ کتاب وو۔ په نظر باندے راتلل۔ (۲) دویم قول داد ے: چه دا هسې یو مثال ورکوي۔ تخیّل دے۔

حافظ ابن حجر" لیکلي دي: الشرع اذا دارت بين الحقيقة اللغوية والشرعية حملت على الشرعية الا اذا قام دليل۔ (فتح الباری مع البخاری ۱: ۲۲۱) .کتاب اغستل دغه حقیقت شرعیه دے۔

خه داده تمثیل ئې مه جوړه وه۔ واقعي کتابونه وو۔ او رجسټرے وو۔

"فقال للذي": ۔ کښې دوه توجیهات دي: (۱) یوه توجیه چه لام په معنی د حق دے: فقال في حق الذي۔ اوئي وئیل۔ دهغه رجسټر په باره کښې چه په ښي لاس کښې ئې وو۔ لکه څنګه چه په قرآن

کښی راغلی: ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا ﴾ . (سورة العنكبوت : ۱۲) ـ وائی کافران په حقله د مومنانو کښی ـ " للذین " نو لام په معنی د " فی حق الذین آمنوا " ـ

دویم دا " قال " چه راغلے دے ـ نودا دلته په معنی د اشارے واخله ـ خبره ئی نه ده کړے اشاره ئی کړے ده " فقال " اشاره ئی اوکړه ـ هغه رجسټرته چه کوم رجسټر په نبی لاس کښی وو ـ " قال " په اشارے سره راغی ـ سترګی ئی وائی چه دا چل شوید ے ـ

عربیٔ کښی یوشاعر وائی :

وقالت له العينان سمعًا و طاعة　　　وحدرتا كالدر لما يثقب

سترګو اشاره ورته اوکړه ـ دے کښی به خبرے نه کوے ـ اشارو سره به خبره کوی ـ چه کله حالت خراب وی ـ خلق درته ګوری محبوب چه د محب سره خبره کوی ـ عالم ورته ګوری نو په سترګو سترګو کښی اشاره کوی ـ

آنکھوں آنکھوں میں اشارے ہو گئے　　　ہم تمھارے تم ہمارے ہو گئے

دلته ئی اشاره معنی ده ـ د شعر مطلب دادے : چه د ملغلرو غوندے اوښکے ئی توئی کړے ـ لکه داسے ملغلرے وے ـ چه تر اوسه په کښی سورے نه وی شوے ـ

کله چه محبوبه سترګه توره وی ـ او د هغے نه په دغه وخت کښی اوښکه راوځاځی ـ دغه اوښکه ډیره رنګ داره وی ـ دے ته در ابلق وائی ـ تور او سپین ګډه وډه ـ

مشهوره شاعره وه زیب النساء یوشاعر چیلنج ورکړے وو ـ چه دا شعر برابر کړه ـ

در ابلق کسے کمد یدہ بودی

داسے برګه ملغلره به ډیره چا کمه لیدلے وی ـ هرچا سوچ کولو خو نه ئی شو برابرولے ـ

نو یو ځل زیب النساء شیشی ته اولاړه وه ـ سترګے ئی تورولے او چه سترګے ئی تورے کړے ـ او په سترګه کښی اوښکه راغله ـ او هغه راوغورځیده شعر ئی برابر کړو ـ

در ابلق کسے کمد یدہ بودی　　　وے اشک بتاں با سرمہ آلود

د محبوب چه کومه ککړه اوښکه په رانجو چه وی ـ هغه در ابلق وی ـ

د سترګو اشارے او حال وئیل ـ زمونږ د پښتو په عرف کښی هم شته ـ

په سترګو سترګو کښی حال وایه　　　لارے کوځے د غمازانو ډکے دینه

" اجمل " : توټل فهرست اجمالی فهرست اوباسلے شو ـ لکه خلق کوی داسے آلو د ۵۰ روپو سموسے ۱۰۰ روپو او بیٔ د ۵۰ روپو نو بیا وائی توټل دومره روپیٔ شوے ـ نو په دے کښی نه زیاتے کیږی او نه کمے ـ

"سددو": ۔علامه طیبی معنی کوی : اجعلوا اعمالکم مستقیمة علی طریق الحق ۔ خپل عمل برابر کړه۔ د حق په طریقه۔ څه مطلب نبی ﷺ چه دا جواب ورکړو۔ دا علی اسلوب الحکیم دے۔ لکه یو طالب نالائقه دے اوکارنه کوی۔ امتحان له بالکل تیاری نه کوی۔ هغه وائی امتحان به کله وی۔ ورته وایه چه په کومه ورځ چه ته فیل کیږی۔ نودا جواب دے۔ نوستا ددے سره څه کار دے۔ ته د خپل کار سره کار کوه۔ د الله د کار سره ستا څه کار دے۔ د الله په کار ته نه پوهیږی۔ په خپل کار پوهیږی۔ دا جواب ئی ورله ورکړو۔ " سددو "۔

غورغشتوبابا جی صاحب یو معنی کړے ده : افراط او تفریط مه کوه۔

"وقاربوا ": ۔الله ته نزدیکت حاصل کړے۔ " اطلبوا قربة الله ما تطیقونه "۔

قاری طیب صاحبؒ خطبات حکیم الاسلام کښی لیکلے دی : موسیٰ علیه السلام له یوځل افلاطون راغے۔ ورته ئی وئیل چه اے موسیٰ علیه السلام د ټولے دنیا دا خلق په یو ځائی کښی اودریږی۔ او یوه لینده جوړه شی۔ چه ددے دنیا برابر وی۔ او غشی جوړ شی۔ چه د دنیا برابر وی۔ او د هغے ویشتونکے الله رب العزت وی ۔ نوڅوك به بچ شی۔ نو موسیٰ علیه السلام ورته اووئیل چه څوك د الله خواله راغے ۔ نو هغه به بچ شی۔ ځکه چه کله لینده راکاږی۔ نولرے خلق به لگی۔ چه کوم ډیر نزدے وی هغه نه لگی۔ نو چاچه قربت حاصل کړو۔ نو هغه به خلاص شی۔

"فنبذهما ": ۔ دواړه لاسونه ئی څنډ وهل۔ یوه معنی داده۔ اوچه نبذ کله معنوی شی نو کیخودل ئی دواړه رجسټر ے۔

حدیث ۱۹ : وعن ابی خزامة عن ابیه قال قلت یا رسول الله ﷺ ارایت رقی ...الخ.

د ابوخزامه د پلار نوم دے یعمر ' تعلق ئی بنوالحارث قبیلے سره دے۔ او دے تابعی دے۔ او روایت کمزورے دے۔ د سند په اعتبار سره۔ او حاکم ورته صحیح وئیلے دی۔

"هل ترد من قدر الله شیئًا": ۔ څه د الله تقدیر ردکول دی ۔ داد تقدیرسره منافات لری۔ اسباب اختیارول د تقدیرسره منافات لری او که نه ؟ دا سوال ئی کړیدے۔ اسبابو کښی ' دارو سبب دے۔ ډال استعمالول په جهاد کښی سبب دے ۔ آیا ددے استعمال ټیك دے اوکه نه ؟ ۔ نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : هی من قدر الله۔ دا هم د الله په تقدیر کښی یو خبره ده۔ لکه څنگه چه ابوعبیده بن جراح ' سیدنا عمرفاروق ته اوئیل : افر من قدر الله ۔ د الله د تقدیرنه تختے۔ وئیل ئی : افر من قدر الله الی قدر الله۔ د الله د تقدیرنه تقدیر ته تیخته کوم۔

مسئله د دم او د تعویذ

دمونو او تعویذونو کښې دا مسئله ده : چه دا په شرائطو سره تیك دی ـ : (۱): د الله اسماء او صفات به په کښې ذکر وی ـ آخوا دیخوا خبرے به په کښې نه ذکر کوی ـ د اولیاء نومونه به په کښې نه اخلے ـ
(۲) : د هغے په معنی باندے به پو هیږی ـ الفاظ به کم از کم مباح وی ـ که په معنی ئی نه پو هیږی نو هغه لفظ به په دمونو اوتعویذونو کښې نه استعمالوی ـ مثلًا یا بدوح دے ـ ددے استعمال تیك دے اوکه نه ؟ ـ مولانا تهانوی صاحبؒ امداد الفتاوٰی کښې لیکلے دی : ماته ددے څه تحقیق نشته ـ ناجائز دی ـ (٤ : ٨٨) ـ او مفتی محمد شفیع صاحبؒ وائی : چه داد الله په نومونو کښې دے ـ لیکن کمزورے قول دے ـ نورعلماء وائی : دا نشته د الله په نومونو کښې ـ نو څه دپاره یا بدوح استعمالوے ـ د الله اسماء او صفات دی ـ نوتعویذونو کښې هندسی ولے لیکی ـ اکثر تعویذونو والا ۲۲۰ ، ۲۸۸ داسے هندسی لیکی ـ (۳) : مؤثربالذات به ئی نه گنړے ـ دابه نه وائی : چه خامخوا دا کوم تعویذ یا دم دے دا آثرکوی ـ ابن حجرؒ د څلوروواړو امامانو اتفاق نقل کړیدے : چه بے د عربیء نه بله ژبه باندے دم حرام دے ـ تعویذکښې خوخه داده : چه د ماشوم دپاره د یو حده پورے په یو حسن روایت کښې ثابت دی ـ بالغ کسانوله پکار نه دی ـ چه تعویذونه ورله اولیکلے شی ـ دمونه ، ساختونه هم تیك دی ـ
شیخ الاسلامؒ فتاوٰی کښې د ساختونو ذکر کړیدے ـ (مجموعة الفتاوٰی ٦ : ٢٣٣ ، ١٠ : ٣٧) ـ
علامه ابن قیمؒ زاد المعاد ۴ : ١٦٧ مطبوعه دارالفکر بیروت کښې ، نواب صدیق صاحب فتح البیان ۹ : ۱۴۸ مکتبه عصریه بیروت کښې ذکر کړیدے ـ دغسے مرقات ٥ : ٢٣٦ مکتبه امدادیه ملتان کښې ملاعلی قاری لیکلے دی ـ او تحفة الاحوذی ۴ : ۴۷۵ کښې علامه مبارکپوری ئی د شیخ عبدالحق د لمعات په حواله ذکر کوی ـ (تخفه مطبوعه داراحیاء التراث بیروت) ـ
خوددینه به کاروبار نه جوړوی ـ چه خلق درته رامات شی ـ خپل خپلوان یا کورکښې څه مسئله وی ـ دم اچوے نوتیك دی ـ یا څانبت لیکی نوتیك ده ـ لکه چه څنګه دارو تیك دی ـ " تداوو یا عباد الله " اے د الله بندیګانو دارو استعمالوے ـ ملاعلی قاریؒ لیکی : چه په دے دریو شرطونو باندے د دمونو استعمال هغه تیك دے ـ نبی ﷺ دانه دی وئیلے ـ چه دمونه مه اچوے ـ داسے وائی دمونه ماته پیش کړے ـ " لا باس بالرقی مالم یکن شرکا " ـ که د شرك الفاظ په کښې نه وی ـ نوپه دے کښې هیڅ باك نشته ـ بعضے دمونه خود نبی ﷺ نه ثابت دی ـ مثلًا په شری کښې دمونه ثابت دی او " لا رقیة الا من

عین او حمة "۔ معنی داده : لا رقیة اولی وانفع منهما۔ په جوازکښې حصرنه دے اولویت کښې دے۔

"تقاة ":۔ چه بیمارئی۔ او تاته ئې وئیلے دی غوړی مه خوره۔ یا مرچ مه خوره۔ نوفال کوه۔ اوکه نه وائی چه توکلًا علی الله ئې استعمالوم۔ نوته خودکشي کوے۔ چه یو شيء دربانده ډاکټر بند کړیدے۔ نو ولے ئې استعمالوے۔ د الله د تقدیر ددے سره منافات نشته۔ الله چه بیماری لیکی۔ او ورسره ئې دا لیکلے وی چه دے د فلانکی حکیم نه ډاکټر نه دوائی استعمال کړی۔ نوالله رب العزت به ده له صحت ورکړی۔ تقدیرکښې ئې څکه راوړل۔ چه داد تقدیر اسباب دی۔ اسباب استعمالول د تقدیرسره منافات نه لری۔ کتاب الطب د حدیثو په کتابونوکښې مستقل ذکردے۔

حدیث ۲۰ : وعن ابی هریرة قال خرج علینا رسول الله ﷺ نحن نتنازع فی القدر ..الخ۔

" فی القدر " :۔ فی شان القدر ۔ په دلائلوسره بحث شروع وو۔ جګړے نه کولے۔خو یویودلیل پیش کول۔ او بل بل دلیل پیش کولو۔

"انما هلك من كان قبلكم":۔ بعضے هلاك شویدی ، ټول نه۔ " جمیع من کان قبلکم "نه دی۔ داد هلاکت یوه وجه ده۔ څکه نورے وجے هم دی۔

(۱) : یوه وجه داده : چه څکه تباه شوے وو۔ چه دهغوی د فرض اود نفل په مانځه کښې فصل نه وو۔ نبی ﷺ مقتدی وو۔ ابوبکرو عمر رضی الله عنهما هم وو۔ روستو مشکوة کښې روایت راځی۔ یو سړے وو چه څنګه ئې سلام اوګرځولو۔ نوفورًا سنتو ته پاسیدو۔ دا اوس هم دا بعضے بدعتیان کوی۔ فصل نه راولی د سنتواود فرضو په مینځ کښې۔ عمر رضی الله عنه ورله په اوګو باندے زورکړو۔ وئیل کینه دومره زر نیغیږے۔ نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل : اصابك الله یا عمر بن الخطاب انما هلك من كان قبلكم۔ مخکښې چه هلاك شوے وو۔ نو هغه په دے وجه چه د سنتواو د فرضوپه مینځ کښې فصل نه راوستلو۔ داسے قرآن کښې جهګړه کول دا باعث د هلاکت دے۔ یوپه اسبابود هلاکت کښې دا سبب دے۔

" ان " ان تفسیریه دے۔ یا ان مخفف عن المثقل دے۔ " انه لا تنازعوا " ۔ د مادے د نداء نه چه روستوان راځی نو هغه ان تفسیریه وی۔ ﴿ ونادینه ان یا ابراهیم ﴾۔

"ان لا تنازعوا فیه":۔ ای ان لا تنازعوا من جهة العقل۔ عقلی جهت سره به په کښې خبرے نه کوے۔ دا به دے عقیده وی چه " اسلمت وجهی لله " د دلائلو بحث په کښې کولے شے۔ د حدود د لاندے۔

" رواه الترمذی " ای هذا للفظ عن ابی هریرة وقال لا نعرف الحدیث الا من روایة صالح المری وله غرائب ینفردبها وقال فی میزان الاعتدال صالح بن بشیر الزاهد العمری الواعظ ضعفه ابن معین وغیره ۔

"عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ":۔ دا روایت روایت الابناء عن الاباء دے۔ دغسے هغوی وئیلے شی ۔ صحابه کرام وو یا تابعین۔ او مونږ ئی نه شو وئیلے په دلیل کښی۔ چه ماته پلار وئیل اوزما پلار ته زما نیکه وئیل۔ داحق صرف صحابه کراموته او تابعینو ته حاصل دے۔ اودا سند قابل احتجاج دے۔

الحق الصریح کښی په دے ځائی باندے بحث کړیدے۔ هغه وائی پاتے شو۔ دا اشکال چه شعیب ته د عبدالله نه سماع حاصل ده او که نه ؟ ۔ نو جمهور وائی : چه نه ده حاصل ۔ نو روایت مرسل دے۔ نو دهغے جواب دادے : چه او شعیب ته د خپل نیکه عبدالله نه سماع حاصل ده۔

شعیب بچے وو دده پلار وو محمد هغه وفات شوے وو۔ نو بابا دے ساتلے وو۔ تربیت ورله باباجی کړے وو عبدالله۔ او شعیب ترے سبق هم وئیلے وو۔ دا وائی عام علماء کرام۔

الحق الصریح کښی دی : چه دا سند د بعضو په نزد باندے اصح الاسانید دے۔ شرح نخبة کښی هم شته ۔ الباعث الحثیث کښی ابن کثیرؒ هم ذکر کړیدے۔ بیا وائی ابن حزم او ابن حبان وائی : چه منقطع دے۔ بیا وائی ابن الحجر نخبة کښی لیکی : چه حسن روایت دے۔

دلیل دا ذکر کوی : شعیب د عبدالله سره ملاقات شویدے۔ د هغے دے دوه دلیلونه ذکر کوی۔

عبدالله یو ورځ شعیب ته اووئیل چه اس راله اونیسه او دا هلك وو۔ نو چه دائی ورته اووئیل نو معلومه شوه چه ملاقات ئی شویدے۔ دویم دلیل دا ذکر کوی : دارقطنی او بیهقی کښی راځی ۔ چه یو سړے په حج کښی د عبدالله بن عمرونه تپوس اوکړو۔ چه په احرام کښی یو سړے د ښځے سره جماع اوکړی نودده څه حکم دے ؟ ۔ نو هغه ورته اشاره اوکړه عبدالله بن عمرو ته۔ چه دغه مُلا له ورشه۔ د هغه نه ددے مسئلے تپوس اوکړه۔ دا ډیره د بے ادبی جمله ده۔ دا صحابی دے عمروبن العاص دده نه ددے دور د مُلا سره تعبیر کول نامناسب دی ۔ اوکه څوك وائی : چه نه ده نامناسبه۔ نو چه دده کوم شاګردان دی۔ نو دوی دے اووائی : چه امین الله مُلا ۔ نو هغوی غصه کیږی۔ وائی نه شیخ صاحب به ورته وائی۔ نو چه ستا هغے ته شیخ وائی۔ نو صحابی ته پخپله ولے شیخ نه وائی۔ چه مُلا ورته وائی۔ ددے بے ادبے نحوست دوجے نه په عبارت کښی خطاء شویدے۔ داسے نی وئیلے دے۔ یو سړے په حج

کښې د عبدالله بن عمرو نه تپوس اوکړو۔ د عبدالله بن عمرو نه ئې چرته هم تپوس نه دے کړے۔ یو سړی په حج کښې د شعیب نه تپوس اوکړو۔ د بابا او نوسی فرق ئې نه دے کړے۔ د نوسی نه ئې بابا جوړ کړیدے۔ او د هغې دلیل دادے: چه دے وړیسے پخپله دا وائی۔ هغه اشاره عبدالله بن عمرو ته اوکړه۔ نو چه تپوس د عبدالله بن عمرو نه شوید ے۔ نو عمرو ځان ته اشاره کوی۔ چه څه یمه ؟۔ دد ے نه دا معلومه شوه۔ چه صاحب خطاء شوید ے۔ فسبحان من لا ینسیٰ۔

بے ادبی بده بلا ده۔ دا دوه دلیلونه دے دپاره ذکرکوی چه ملاقات شوید ے۔ مطلب دا چه دے دا منی چه دا حسن روایت دے۔ نود تعویذ هغه روایت هم دده دے۔ عمرو بن شعیب عن ابیه۔ ماشومانو له تعویذ۔ نو هغه په دے روایت سره ثابت دے۔

علامه جمال الدین ابی الحجاج یوسف لیکلے دی: چه امام بخاریؒ په قراء ت خلف الامام کښې ددوی نه روایات اغستلے دی۔ ابوداود، ترمذی، نسائی او ابن ماجه خپلو سنن کښې ددوی احادیث روایت کړیدی۔ او امام بخاریؒ به فرمائیل چه امام احمدؒ، علی بن مدینیؒ، اسحق بن راهویه، ابوعبید دا تول اصحاب ما ددوی نه په روایت کولو لیدلے دی۔

اسحق بن منصورؒ ئې هم احادیث لیکلے دی۔ امام اوزاعیؒ فرمائی: ددوی نه بهتر شخص ما لیدلے نه دے۔ (تهذیب الکمال)۔

او تهذیب التهذیب ۸: ۴۵ مطبوعه دارالکتب العلمیه بیروت کښې دی: چه ابن شاهین ورته ثقه وائی۔ احمد بن صالح فرمائی: دا سند ثابت دے۔ او د ثقه راویانو نه ئې چه کوم احادیث بیان کړیدی هغه صحیح دی۔ او علی بن مدینیؒ فرمائی: چه د شعیب پلار ددوی د نیکه عبدالله بن عمرو نه سماع کړے ده۔ او وئیل به ئې چه ثقه دے۔ او روایات ئې صحیح دی۔

اومیزان الاعتدال پنځم جلدکښې د ۳۲۰ نه ۳۲۳ دارالکتب العلمیه بیروت کښې د توثیق اقوال نقل کړیدی۔ او علامه ذهبیؒ خپل قول دا نقل کړید ے: چه روایات ئې مرسل او منقطع نه دی۔ او چه بعض احادیث د کتاب نه یا د اوریدو بیانوی هغه محل نظر دی۔ او مونږه دا نه وایو چه احادیث ئې د صحت په اعلی مقام کښې دی۔ بلکه د قبیلے د حسن نه اغستلے شویدی۔

وضاحت: سند داسے دے: عمروبن شعیب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص۔ آخری سندکښې عبدالله او عمرو بن العاص دواړه صحابه دی۔ دا ضمیر په ابیه کښې عمرو ته راجع دے۔ نوپلار ئې

شعیب دے ـ یعنی عمرو پخپله د خپل پلار نه روایت کوی ـ او په "عن جده" مصداق کښې دوه قوله دی ـ (۱) : یو قول دعمرو دے گویا عمرو د خپل نیکه محمد نه روایت کوی محمد صحابی نه دے. مرسل شو ـ او (۲) : دویم احتمال "عن جده" مرجع عبدالله بن عمرو بن العاص دے ـ یعنی شعیب د خپل نیکه نه چه عبدالله صحابی دے روایت کوی نو مرفوع شو ـ او ترجیح مرفوع له څکه ده ـ چه نسائی او ابوداود کښې دی : عن جده عبدالله ـ او مجموعة الفتاوی ۹ : ۹ کښې شیخ الاسلام لیکی : واما ائمة الاسلام و جمهور العلماء یحتجون بحدیث عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده اذا صح انتقل الیه مثل مالك بن انس و سفیان ونحوهما ومثل الشافعی واحمد.

امام بخاریؒ هم منی ـ لیکن خپل صحیح کښې نه ذکر کوی ـ چه ددوی شرائط سخت دی په هغې دومره برابر نه دے ـ چه صحیح بخاری کښې ئې راوړی ـ

علامه ابن قیمؒ هم اعلام المؤقعین اول جلد : ۱۰۷ کښې د روایت نه استدلال د جمهورو او ائمه اربعو مسلك گرځوی ـ او ولے به ئې نه ذکر کوی ـ چه د استاذ علامه ابن تیمیةؒ تحقیق هم دغه مخکښې ذکر شو ـ

دغسے امام ترمذیؒ "باب ما جاء فی زکوة مال الیتیم" د لاندے لیکلے دی : واما اکثر اهل المدینة فیحتجون بحدیث عمرو بن شعیب ویثبتونه ـ

حدیث ۲۱ : وعن ابی موسی قال سمعت رسول الله ﷺ یقول ان الله خلق ادم ...الخ.

دے حدیث کښې د کیفیت د خلقت د آدم علیه السلام بیان دے ـ چه په کومه طریقه ئې آدم علیه السلام پیدا کړیدے ـ "**من قبضة**" ـ یا قُبضة ده یو موټی خاورے نه الله پیدا کړیدے ـ

"**منهم الاحمر والابیض والاسود**" : ـ اصل په رنگونو کښې دادرے دی ـ کنی نور هم شته ـ زیر رنگی لکه رومیان ـ بخاری حدیث کښې راځی زیر بوړق دی ـ انه یخافه ملك بنی الاصفر ـ

او زمکے نه بعضے زمکه مراد ده ـ بعضے زمکے ته لا تر اوسه د بنی ادم قدم نه دے رسیدلے ـ دا راجمع کوونکے عزرائیل علیه السلام وو ـ چه ملك الموت دے ـ او د ټولو نه مخکښې خانه کعبه جوړه ده ـ د طیب نه هغه زمکه مراد ده چه مومن ترے جوړ دے : ﴿ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ ﴾ ـ (سورة الاعراف : ۵۸) ـ او د خبیث نه کافر او مشرك مراد دے ـ حدیث کښې امور باطنه ته اشاره ده ـ چه تقدیر سره ئې تعلق دے ـ

ملا علی قاریؒ لیکی : چه دا اوصاف او آثار په منزله د رنگونو واخله ـ

قبض ، قبضة بالفتح او قبضة بالضم کښې فرق

نهایه کښې ابن الاثیرؒ لیکلے دی: چه د قبض معنی ټول موټے ډکول دی. او قبضة بالفتح په مرة باندے دلالت کوی. او قُبضة بالضم ترے اسم دے.

حدیث ۲۲ : وعن عبدالله بن عمرو قال سمعت رسول الله ﷺ یقول ان الله خلق ..الخ.

د پیدائش ابتدائی کیفیت څنګه وو. د هغے ذکر دے په دے حدیث کښې. او مخکښې حدیث کښې کیفیت د خلق آدم وو. او په دے حدیث کښې ابتدائی کیفیت ښائی. چه هغه څنګه وو.

"فی ظلمة": . شیخ الحدیثؒ په التقریر الرفیع کښې ورسره قید لګوی "فی ظلمة فی وقت الازل" دده تعلق د ازل سره دے. یا هغه وخت دے چه توفیق ئی ورکړو. یو په عالم ازل او دویم په عالم دنیا حمل کړه. ځکه مخکښې تیر شو. کل مولود یولد علی الفطرة . په فطرت اسلامی باندے استعداد الله رب العزت ورکوی په هغے باندے پیدا کیږی. په هغه وخت کښې موږ دا حدیث ذکر کړے وو. چه د دواړو حدیثونو ظاهرًا تعارض دے. نو یو ذاتی آثر وی او بل خارجی آثر وی.

انسان ظلمت هم او نور دواړه لری رڼا. ظلمت نه مراد نفسانی خواهشات ، شهوات او د نفس اماره لمسے او راپارول دی . دده تعلق د عالم ارواح سره دے. نو ده ته القاء د نور کیږی. او دے په بل جهت ظلمانی هم دے. د هغے په وجه دده تعلق د ظلمت سره دے. نو دا حدیث د عالم شهود سره متعلق دے

خلاصه : په څه طریقه باندے به د دواړو په مینځ کښې تطبیق کوے. یو ځائی کښې وائی په اسلام بچے پیدا کړیدے. او دلته وائی په ظلمت ئی پیدا کړیدے.

جواب : یو ذاتی او بل خارجی باندے حمل کړه. دا یو د ازل واقعه ده. او بل روستو د انسان د پیدا کیدو هغه خبره ده.

"فالقی علیهم من نوره": . نور ئی پرے د توحید ورواچو. قاضی شمس الدین صاحبؒ فرمائی: چه د توحید نور ئی پرے واچوو. د نور نه چه چا آثر واغستونو دے مؤحد پاتے شو. او چه د نور نه ئی ځان محروم کړو. نو هغه مشرک پاتے شو: ﴿وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُوراً فَمَا لَهُ مِن نُّورٍ﴾ (سورة النور : ۴۰)

بعضے وائی : د نور نه دلائل ، معرفت مراد دے. او د ظلمت نه حرص ، حسد او تکبر مراد دے.

اشعة اللمعات کښې شیخ عبدالحق لیکي : چه په انسان کښې دوه حیثیته دي. نفساني کښې ئې ظلمت، او روحاني کښې ئې نور موجود دے. د "نور" نه معنوي نورمراد دے. چه د آیات، حجت او د شواهدو د وجے دوي ته اورسیدو۔

حدیث ۲۳ : وعن انس قال کان رسول الله ﷺ یکثران یقول یا مقلب القلوب ..الخ۔

انس رضی الله عنه خادم وو. نو څکه وائي : چه نبي ﷺ به زیات دا کلمات وئیل۔ : یا مقلب القلوب ثبت قلوبنا علی طاعتك. چه په کوم ځائي قرآن کښې د متشابهاتو ذکرکوي. نود هغے نه پس دعا ذکرکوي : ﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴾۔ "بعد اذهدیتنا" په محکماتو۔ "لا تزغ قلوبنا" په متشابهاتو۔ (سورة آل عمران : ۸)۔

"فهل تخاف علینا" : ۔ ته په مونږ باندے یریږې. څو مره اوښیار دے. انس رضی الله عنه پوهه شو چه تثبت قلبي دا ځان له یادوي. د هغه زړه خوبالکل تثبت لري : ﴿ يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُواْ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ ﴾۔ (سورة ابراهیم : ۲۷) ۔ هغه اکمل ترین مومن دے. نو انس رضی الله عنه پوهه شو. چه نبي ﷺ مونږ ته طریقه ښائي. چه دا دعا وائي. نودا امت له یو تعلیم ورکوي۔

حدیث ۲۴ : وعن ابی موسیٰ قال قال رسول الله ﷺ مثل القلب کریشة بارض . . .الخ۔

" بارض فلاة " : ۔ او ظاهره داده : چه اضافت بیاني دے۔

" ظهرًا لبطن " : ۔ و بطنًا لظهر. یعني "ظهرًا الی بطن وبطنًا الی ظهر" ۔ د لاندے طرف ئې بره طرف ته کړي ۔ او د بره طرف نه ئې خکته طرف ته کړي ۔ لکه په قرآن کښې : ﴿ وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً ﴾. ﴿ وجعلوا اذلة اهلها اعزا ﴾ ۔ او : ﴿ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ﴾ (سورة آل عمران : ۲۶) ۔ او شر ئې پرے قیاس ۔ : لکه : ﴿ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ والبرد ﴾۔ (سورة النحل : ۸۱) ۔ قیاس ئې کړیدے۔

حدیث کښې " فلاة " ذکردے ۔ د هغے وجه داده یو خوبنړے الوځي. خوپه برنډه کښې نود چهت یا دیوال سره اولګي. نو واپس راغورځیږي. اوچه آبادے نه وي صحراء وي او هغه بنړه ئې په مخه باندے کړه. نوکله ظهرًا وي اوکله بطنًا وي. اوکله بطنًا وي اوکله ظهرًا وي. څه ځیز نشته. چه هغه دے بنړے

ته رکاوټ راشي - او "ریاح" جمع ئی مبالغے له ذکرکړو - ځکه "ریح" مفرد کښې دغه زورنه وی - داپه مختلفو ریاحو کښې وی -

"ظهرًا" د "یقلبها" ضمیر نه بدل بعض دے - داسے دا انسان چه دے د نفسانی خواهشاتو سیلیء په انسان باندے راغله - د محرماتو په ځنګل کښې چه نشته ورله رکاوټ او عدل او تقوٰی دا سیلیء خواهش بندولے شی - نو په ده داسے لوټتهونه واړوی - نو ځکه دا دعا وائی : یا مقلب القلوب ثبت قلبی علی دینك - کله کله د انسان قدم خوېږی - قرآن کښی راځی : ﴿فَتَزِلَّ قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوتِهَا﴾ - (سورة النحل : ۹۴) - دا دعا ډیره وئیل پکار دی - مطلب دا شو سمے لوبے ورسره اوکړی - هسے نه چه د زړه سره درله لوبے اوکړے - کله درنه څه جوړکړی او کله څه -

حدیث ۲۵ : وعن علی قال قال رسول الله ﷺ لا یؤمن عبد حتی یؤمن باربع ... الخ -

"بعثنی بالحق" : - حال مؤکده دے یا دا تعلیل دے د مخکښی عبارت دپاره -

"ویؤمن بالموت والبعث بعد الموت" : - د موت سره ئی یؤمن ذکرکړو - او د بعث بعد الموت سره ئی یؤمن ذکر نه کړو -

امام غزالیؒ فرمائی : هغه خبره چه یقینی ده - اوخلقو شکی کړے ده - نو هغه مرګ دے -

دوېمه داده : موت العالم نه فناء العالم مراد دے - فناء العالم باندے عقیده اوساته - چه دا عالم به فناء کیږی - دابه نه وائی چه دے عالم له فناه نشته - "العالم قدیم" چه څنګه خلق یادوی - او فلاسفه ګویا وائی : مالکم من زوال -

"ویؤمن بالموت" : - ایمان به لرے په مرګ باندے دا عقیده به ساتے - چه د مرګ راوستونکے الله رب العزت دے - نه فساد د مزاج - داخوکافران هم منی - چه مرګ حق دے - خو هغوی وائی دے ایکسپائرشو - لکه دوائی وی - او په هغے باندے ئی ایکسپائر ډیټ لیکلے وی - نو بیا ئی خلق غورځوی - وائی داسے انسان دے - دده یو ایکسپائر ډیټ دے - نو په هغے سره دے ختم شو - دغه ژوندون دے چه یو څو سلګیء اووهی - او د دنیا نه لاړشی -

زندگی جس کا بڑا نام سنا جاتا ہے　　　ایک کمزوری ہچکی کے سوا کچھ بھی نہیں

په دغه عقیده باندے به مرګ نه منے - په دے عقیده به ئی منے چه د مرګ راوستونکے الله رب

العزت دے۔ د حکماء قول غلط دے چه فساد المزاج ئی سبب دے۔ اشعة اللمعات کښی پرے شیخ رد کړیدے۔

حدیث ۲۶: وعن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ صنفان من امتی لیس لهما فی ..الخ۔

بعضے خلق دا روایت موضوعی گرځوی۔ او بعضے ضعیف۔ خودلته امام ترمذیؒ ورله تحسین کړیدے۔ "هذا حدیث غریب" ئی ورته وئیلے دے۔ (الکامل لابن عدی ٤ : ۳۲۲ ضعیف۔ بخاری تاریخ کبیر ٤ : ۱۳۳، او ترمذی: ۲۱٤۹ کښی ذکر کړیدے)۔

فیروز آبادیؒ لیکی: چه د مرجئه او قدریه په مذمت کښی یو حدیث هم صحیح نه دے۔

علامه ابن جوزیؒ ورته موضوع وائی، العلل المتناهیه فی الاحادیث الواهیه کښی دی: چه سلام بن ابی عمرة او علی بن نزار ئی نقل کوی۔ او سلام بن ابی عمره ته یحی بن معین لیس بشیء وائی۔ او علی بن نزار واهی دے۔ او نضربن سلمه ئی روایت کوی چه د محمد بن بکرنه متروك دے۔ او د علی بن نزار روایت ترمذی کښی شته۔ او متابع ئی قاسم بن حبیب او عبدالله بن محمد ایلشی ئی دواړه د نزار نه نقل کوی۔ او ابن حبان قاسم بن حبیب ته ثقه وائی۔ لیکن بعض په دے کلام کوی۔ او ترمذی کښی دی: وفی الباب عن عمر وابن عمر ورافع بن خدیج۔ نو د ترمذی د تحسین او د ترمذی د متابعاتو د وجے د موضوع یا د واهی کیدونه روایت بچ دے۔

کشف المناهج والتناقیح کښی دی: وفی سندهما علی بن نزار عن ابیه قال ابن عدی هذا الحدیث انکروه علی علی، وعلی والده۔ او د علائی خبره راجحه ده۔ چه روایت ضعیف دے۔ او موضوعی نه دے۔

"لیس لهما فی الاسلام نصیب" کامله برخه ورله نشته۔

(۱): مرجئه هغه دی چه اعمال روستو کوی۔ هغے له اهمیت نه ورکوی۔ دائی عقیده ده۔ چه د ایمان سره معصیت ضرر نه ورکوی۔ یو مرجئه په دے معنی باندے چه د عمل مرتبه د ایمان نه روستو ده داخومونږه تول یو۔ یو اخی امام ابو حنیفهؒ مرجئه نه دے۔ لکه مخکښی تیر شویدی۔ چه ایمان نه وی نو عمل له څه اعتبار نشته۔ یو داعقیده ده چه ته مومن شوے۔ یو قسم مرجئه غلط دی هغوی وائی چه: لا یضرون الایمان المعصیة۔ د ایمان سره معصیت ضرر نه ورکوی۔

او قدریه وائی: چه انسان مجبور دے دا جبریه په مرجئو کښی داخل دی۔

اوس دلته یو اعتراض دے۔ دوی ته کافر اووایو او که نه؟۔ یو ددے دور مرجئه او قدریه دی۔ دوی ته به

خو كافر وائی۔ دا دهريان غوندے دی۔ او چه په هغه وخت کښی مرجئه او قدريه وو۔ دوی ته به کافرنه وائی۔ ليکن دوی ته به فاسقان وائی۔ دوی خپله برخه کمه کړے ده۔ نو چه څوك وائی کافردی نو " ليس لهما فی الاسلام نصيب " بالکل برخه ئی نشته۔ او چه څوك وائی چه مسلمانان دی۔ نو پوره برخه ئی نشته۔ حصه ئی شته خو کمه ده۔

قدريه د تقدير نه انکارکوی۔ څکه ئی دا نوم دے۔ تسمية الشيء باسم ضده۔ او مونږ اهل السنت د ځان نه قدرت نفی کوو۔ او الله له ئی ثابتوو۔ او دوی قدرت د الله نه نفی کوی۔ او ځان له ئی ثابتوی۔ دوی قدريه شو۔ او اهل السنت قدريه نه دی۔

حديث ۲۷ : وعن ابن عمر قال سمعت رسول الله ﷺ يقول يكون فی امتی ....الخ۔

خسف په زمکه کښی وردننه کيدل۔ قرآن کښی راځی : ﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِباً وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ (سورة العنکبوت : ۴۰) ۔ او ﴿ فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُ مِن دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنتَصِرِينَ ﴾۔ (سورة القصص : ۸۱) ﴿ أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُواْ السَّيِّئَاتِ أَن يَخْسِفَ اللَّهُ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴾۔ (سورة النحل : ۴۵ ' الاسراء : ۶۸ ' ملك : ۱۶)۔

او مسخ به په کښی هم راځی شکل بدليدل۔ مشکوة ثانی کښی به په علاماتو د قيامت کښی به راشی : فارتقبوا عند ذالك ريحًا حمراء وزلزلةً وخسفًا و مسخًا وقذفًا ۔ دا روايت هم جلد ثانی کښی شته۔ چه يو ډله به العياذ بالله خانه کعبه نوړول غواړی۔ نو په لاره کښی به ئی خسف اوشی۔

سوال: چه حديثونو کښی راځی چه په دے امت به خسف او مسخ نه راځی۔

جواب: دا دے۔ عمومی خسف او مسخ به نه راځی۔ لکه څنګه چه پخوا په قومونو باندے خسف او مسخ راغلے وو۔ لکه مثلًا : ﴿ لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ﴾۔ (سورة المائدة : ۷۸)۔

کښې د عیسیٰ علیه السلام هغې کسانو چه د مائدې د واقعې سره ئې تعلق دے. دی مسخ شوے وو۔ نو نفی علی سبیل العموم ده۔ او اثبات جزی طور باندې دے۔ نو هغوی نه شادوګان او خنزیران جوړ شوے وو.: ﴿ فَإِنِّیٓ أُعَذِّبُهُ عَذَاباً لَّآ أُعَذِّبُهُ أَحداً مِّنَ الْعَالَمِينَ ﴾. (سورة المائدة : ۱۱۵) - دوی مسخ شوے وو. یا قردة ترے جوړ شوے وو. قرآن کښې راځی : ﴿ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ ﴾. (سورة المائدة : ۶۰) - جزی مسخ او خسف که راځی. نو اعتراض نشته. ابن حجر هیثمی" فتح اله : ۴۲۳ باندې د " باب ما علی الماموم من المتابعة " د لاندې لیکلې دی : الممتنع المسخ العام اما المسخ الخاص کما صرحت به الاحادیث الصحیحة. یا به ورسره په آخرت کښې داسې کار کیږی.

(۲) : یا دا قضیه شرطیه ده. که بالفرض خسف او مسخ وی. دے خلقو له به وی. (الکاشف عن حقائق السنن) - (۳) : یا د خسف مطلب خسوف قمر دے. او د مسخ مطلب د مخ مالګه او خائست به ئې نه وی - چه ورته ګورے نو دا شکل به ئې وران شان ښکاری. (۴) : یا داسې اووایه خسف زجر دے چه اوبریږه . چه چرته خسف او مسخ رانه شی.

خیر المفاتیح والا د فضل امام خیر آبادی نه نقل کوی. چه هغه د هدیه سعدیه په یو مقام کښې لیکلې دی : چه شمالی علاقو کښې څه غرونه دی. چه انسان ورته ګوری نو غیر اختیاری دا منل ورله مجبوری جوړه شی. چه په اصل کښې انسانان وو. خوشکلونه ئې بدل شویدی. لیکن " لا نصدق ولا نکذب ".
أساف او نائله ئې د هغوی نه ئې ګټې جوړې کړیدی.

حدیث ۲۸ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ القدرية مجوس هذه الامة ان مرضوا...الخ.

(ابوداود : ۴۱۹۶ فی کتاب السنة) . لکه ابو جهل چه "فرعون هذه الامة ". مجوسیان دوه خدایان منی. یو د خیر او بل د شر. یو یزدان او بل اهرمن. لکه قرآن کښې راځی : ﴿ وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَـٰهَيْنِ ٱثْنَيْنِ إِنَّمَا هُوَ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ فَإِيَّايَ فَٱرْهَبُونِ ﴾. (سورة النحل : ۵۱) - نو داسې قدریه دی. هغوی وائی : چه انسانان د خپلو افعالو خالقان دی. نو دوی خو بیا ډیر شې خالقان منی. یعنی په زرګونو څکه د انسان نه ډیر شې افعال صدور ته راځی.

د یهودی عیادت " لا باس بها " دے - کتاب الجنائز کښې دی : نبی ﷺ د یهودی تپوس له تلې دے. خو د بدعتی تپوس له به نه ځی. دے کښې څه وجه ده ؟ . هسې نه چه دده دا احترام خلق په دهوکه

کښې اوغورځوي۔ چه دده مسلك تيك دے۔

شيخ علامه محمد طاهر صاحب" په ضياء النور کښې ليکلے دي : چه د بدعتي تپوس به هم نه کوے سلام به ورسره هم نه کوے۔ ناسته به هم نه کوے۔ دا درے واړه چه دے اوکړه۔ نو د شيخ صاحب" د ليکلے شوے وو د دريو دفعاتو خلاف دے اوکړو۔ او دا اسلامي دفعات هم دي ۔ د يهودي، عيسائي په تپوس کښې دهوکه نه راځي ۔ که بدعتي کښې انابت وي۔ دے وائي : چه زما د تپوس د وجے نه دے خپل موقف لږ نرم کوي۔ او اصلاح خپله کول غواړي۔ نو بيا خير دے که ځے۔ نيت به سم ساتے۔ که ضدي او عنادي دے۔ نو دهغه تپوس له به نه ځے۔

علامه قزويني" وائي : چه دا روايت موضوع دے۔ ابن حجر" د ترمذي" نه قول نقل کړيدے : چه دا روايت حسن دے۔ او حاکم وائي : هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ان صح سماع ابى حازم عن ابن عمر وقال ابن حجر فى اجوبة على احاديث المصابيح ، قلت ورجاله رجال الصحيح لكن فى سماع ابن حازم واسمه سلمه بن دينار من ابن عمر نظر وجزم المنذرى فانه لم يسمع فيه وقال ابو الحسن بن قطان قد ادركه وكان معه بالمدينة فهو متصل على راى مسلم۔

(واخرجه الالكائى فى شرح اصول اعتقاد اهل السنة ٣ : ٦٣٩ ـ وابن عدى فى الكامل فى الضعفاء ٣ : ٢١٢ ـ والحديث حسنه بمجموع طرقه الالبانى فى تخريج الطحاوية : ٣٠٤) ۔

ابو داود کښې سند : عن موسى بن اسماعيل عن عبدالعزيز بن ابى حازم عن ابيه عن عمر' دے ۔ او رجال ئې على شرط الشيخين برابر دي۔ ليکن ابو حازم د عمرنه سماع نه ده ثابته۔ نو روايت منقطع دے۔ ليکن علامه ابن حجر" ليکي : چه ابوالحسن بن القطان فرمائي : چه زمانه ئې يوه ده۔ او په مدينه کښې ورسره وو۔ نو د امام مسلم" په رائې روايت متصل دے۔ نو د روايت اصل شته۔ او منکر نه دے۔ او موضوعي روايت خو قطعًا نه دے۔ علامه ابن حجر" ورته حسن وائي۔ : وانهم كالمجوس فى اثبات فاعلين لا فى جميع معتقد المجوس ۔ (النقد الصحيح الما اعترض من احاديث المصابيح للعلائى) ۔

او دا علامه خطابي" هم ليکلے دي : چه من وجه دده خلقو مذهب د مجوسو سره مشابهت لري۔ ليکن دا مشابهت في الاحداث دے ۔ نه په اعيانو کښې۔ ځکه دوي د خير نسبت الله ته او د شر هغه نفس ته کوي۔ ملا علي قاري" ليکلے دي : چه کيدے شي دا به د څه خاص کسانو په دوي کښې نظريه وي۔

"فلا تشهدوهم" : ۔ دا په زجر وتوبيخ باندے حمل دے۔

حدیث ۲۹: وعن عمر قال قال رسول اللہ ﷺ لا تجالسوا اهل القدر ولاتفاتحوهم ..الخ۔

"ولا تفاتحوهم": ۔یو معنی داده: چه د دوی سره به مناظره نه کوے۔ په مناظرو باندے ددوی د دین ترویج کیږی ۔په یو علاقه کښې چه یوه ډله نشته' پرویز ے' غیرمقلد' قادیانے یا مشرك' مبتدع ډیر نه دی۔ په دغه علاقه کښې مناظرے ددوی سره مه کوه۔ که ته مناظرے کوے۔نو بیا به دوه نقصانه راشی۔ (۱): یو نقصان دهغوی خپلوان دی۔ هغوی به ورسره خه کلك شی۔وائی به: چه زمونږ خپل دے۔ نو هغه ئی ملګرے شی۔(۲): دویم امیان وائی: سبق ئی خو په کښې اووئی۔نو دا به نه کوے۔ پریږده ئی۔ اوکه نه کیږی ۔نو دابه ورته وائی: څه تاسو سره ستاسو په مدرسه کښې مناظره کول غواړم۔نو بیا ټیك ده ۔دے علاقه کښې ته د باطل پرستو سره مناظرے کوے۔ چه هغوی کم وی۔نو مناظرے ورسره مه کوے ۔ هغه بیا نور هم ډیریږی ۔ په هغوی باندے رد هم مه کوه۔ مناظره به ورسره نه کوے۔ څکه حکم د مقاطعے د باطل پرستو نه راغلے دے۔ بائیکاټ ترے اوکړه۔ هرڅه ترے جدا کړه۔

امام غزالیؒ د امام احمدؒ د یو عبارت په وضاحت کښې لیکی: وما ذکره احمد بن حنبل حق' ولکن فی شبهة لم تنتشر ولم تشتهر اما اذا انتشرت' فالجواب عنها واجب۔ (المنقذ من الضلال : ۱۸)۔

علامه ابن تیمیهؒ "درء تعارض العقل والنقل" کښې لیکلے دی: النهی عن مجالسة اهل البدع ومناظرتهم ومخاصبتهم والامر بهجرانهم۔

"لاتفاتحوهم" من الفتاحة بضم الفاء و کسرها ۔دوی له فیصلے مه اوړے: ﴿ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴾ ۔(سورة الاعراف : ۸۹)۔په معنی د خیرالحاکمین دے۔

دریمه معنی: اول سلام کلام دوی ته مه کوے۔که دوی درته سلام کولو۔نو جواب ورکړه۔ که اول درسره خبرے کوی نو اوکړه۔

"ولا تجالسوهم":۔د مینے او د عزت ناسته ورسره مه کوے۔ددوی شبهات به په تا کښې اثر اوکړی ۔ مرقات کښې ملا علی قاریؒ لیکی: مجالسة الاغیار تجرالی غاية البوار ونهاية الخسار ۔ اومجالسو کښې ګپ شپ اوخوراك څکاك هم وی۔دے سره هغوی خپل وائرس خورول غواړی۔

حدیث ۳۰: وعن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ ستة لعنتهم ولعنهم الله و کل ...الخ۔

"ستة": ـ "ای اشخاص "شپږ کسان دی. " لعنتهم " څه پرے لعنت کوم.

"و كل نبي يجاب": ـ دهرنبی دعا قبلیږی. (۱): " الزائد في كتاب الله ":. د الله په کتاب کښې لفظی زیادت کوی ـ یا زیادت کوی د معنی په اعتبار سره. لکه بعضے شیعه ګان هغوی وائی د الله کتاب دا نه دے. داخو دوی کم کړیدے. فصل الخطاب فی تحریف کتاب رب الارباب ئی لیکلے دے. د هغوی دا عقیده ده. چه د الله په کتاب کښې تحریف شوید ے. مقدمه د روح المعانی کښې دی: چه دوی وائی د الله د کتاب ئی تحریف کړیدے. قاضی عیاض فرمائی: که څوك وائی چه په دے کښې یو تکے آخوا دیخوا شوید ے نو داسړے کافر دے. (الشفاء بتعريف حقوق المصطفى).

وكذلك من انكر القرآن او حرّفا منه او غير شيئا منه او زاد فيه كفعل الباطنية والاسماعيلية. (الشفاء: ٢٥٠).

او په: ٢٦٣ لیکی: او جحده او حرفًا منه او آية او كذب به او بشيء منه ..الخ.

یوخو کله کله د الله د کتاب د یو آیت معنی په یو بل عبارت سره د تشریح په طور راځی. دا زیادت فی کتاب الله نه دے ـ مثلًا امام بخاریؒ داسے عبارت راوړی: وانذر عشيرتك الاقربين ورهطك منهم المخلصين ـ دا شیعه ګان پیش کوی. دے ته قرآن نه وائی هغه د " عشيرتك الاقربين " معنی کوی. ددے معنی د رهط او د اقربين معنی کوی چه مخلصين. داپه بخاری کښې شته دے. نو چه کله مناظره وی د شیعه ګانو سره نو هغه د بخاری دا عبارت پیش کوی. وائی دے بخاری دا ویلے دی. وائی داسے مونږ ته قرآن کښې اوښایه. لیکن دا آیت نه دے. تفسیر ئی کړیدے.

صاحب د نیل الاوطار قاضی شوکانی ددے آیت د لاندے لیکی: ﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾. (سورة المائدة: ٦٧). نو په دے کښې ئی د علی رضی الله عنه نوم اغستے دے. او رد ئی پرے هم نه دے کړے. ځکه چه په ده کښې د شیعه توب هغه بوئی تر آخره پورے وو. فتح القدير کښې ۲ : ۵۷ باندے ددے آیت د لاندے لیکی: ما انزل اليك من ربك ان عليا مولى المومنين وان لم تفعل ...الخ ـ او رد پرے نه کوی.

قراءۃ شاذه د خبر حکم لری.

"والمتسلط بالجبروت": ـ په زورمشرشوید ے. په ډنډا حکومت کوی. مارشل لاء ئی راوستے ده

۔دے په چور دروازه حکومت ته راغلے دے۔ په خلقو باندے مشری کول غواړي۔
"لیعزمن اذله الله ویذل من اعزه الله ": ۔سورۃ النمل ۳۴ کښې چه راځي: ﴿ قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ ﴾ ۔او داسے وی چه حکومتونه بدلیږی ۔ نوداشاخے تاخے خلق به اوچت کړی ۔ اوچت خلق به جیلونه ته بوځی ۔ او مقدمے به پرے جوړے کړی۔
فتح الاله شرح المشکوۃ کښې دی چه په: ان یذل من اعزه الله ۔ کښې "دا داخل دی ۔ چه د عالمانو نیکانو مرتبه خکته کوی۔
"والمستحل لحرم الله": ۔ حرم محترم دے ۔ پیغمبر فرمائی: واخه به نه کټ کوی۔ نونه به کټ کوی ۔ په دے کښې ئی درته وئیلے دی چه ښکار به نه کوے۔ نوښکار به نه کوے۔ د الله د حرم عزت به کوے۔ "والمستحل من عترتی ماحرم الله ": ۔دوه مطلبه دی (۱) : یو مطلب دادے : دے زما په خاندان کښې دے ۔ اولاد د پیغمبر دے ۔ او دے دیته نه گوری ۔ چه زما تعلق د سید خاندان سره دے ۔ میاں یم ' شاه صاحب یم۔ او بیا محرمات کوے۔ ده باندے لعنت دے۔ ځکه چه نورئی هم کوی نوګناه دے ۔ اهل بیتوسره تعلق والا انسان له خواجتناب تاکیدی پکار دے۔ اوقرآن کښې راځی که چا دا کار په اهل بیتو کښې اوکړو۔ دوچند عذاب به وی: ﴿ يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَنْ يَأْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ﴾ ۔ (سورۃ الاحزاب : ۳۰) ۔او بل طرف ته د وینځے د سزا مسئله کښې تخفیف دے ۔ ﴿ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ ﴾ ۔ (سورۃ النساء : ۲۵) ۔داخبره امام زین العابدین ؒ هم کړے ده : چه د اهل بیتو آجراو بل طرف ته سزا دواړه دوچند وی۔
زما په خاندان کښې خلق ماحرم الله حلال گنړی۔ گیره خروی ' شرکیات کوی ' جواری ' سود کوی۔ نذر د غیر الله اخلی ۔ او وائی ځه میاں صاحب یم ' ده باندے لعنت دے ۔
دویم " المستحل " عزت خرابوی ۔ د یو کس د اهل بیتو د یو کس د عزت خیال نه ساتی ۔ زما د خاندان نه به بے عزتی بالکل نه کوی ۔ ددوی به عزت کوے ۔
الیاس قادری د بریلیانو مشر دے ۔ د هغه کتاب دے فیضان السنة ۔ او ددے کتاب نه بریلیان تعلیم هم

کوی۔ په هغے کښې ئې لیکلے دی: چه زما کله جلسه وی۔ نو اول صف د سیدانو وی۔ دا ظاهری احترام په افراط سره بریلیانو کښې زیات وی۔ لیکن د اهل بیتو او دساداتو په طریقه نه روانیږی۔

واقعه: زمونږ د دیوبند مشرانو علماء نه یوه واقعه مشهوره رارسیدلے ده۔ یو پهلوان وو۔ او هغه به هرڅوك راغورځول۔ نو یو ځل یو کس سره ئې مقابله شوه۔ نو هغه ئې راونه غورځولو او عکس اوشو۔ نو چا هغه نه تپوس اوکړو۔ وئیل ئې چه دا ولے نو وئیل ئې چه ماته ئې په غوږ کښې پټ اووئیل چه زما د سید خاندان سره تعلق دے۔ نو ما وئیل چه اوس ئې بے عزتی نه شم کولے۔ اوخان مے ورته پرېښکاره کړو۔

"**والتارك لسنتي**": ۔ د سپکاوی، د اعراض او د تهاون او د ناراستی د وجے، استخفاف او اعراض کفر دے۔ او تهاون و تکاسل معصیت دے۔ داسے سنت پریږدی۔ چه آخوا بدعت راشی۔ یو دا چه یو طرف ته هم او بل طرف ته هم سنت دی۔ داخو به یو پریږدے۔ که څه رفع الید پریږدم۔ نو بل ترك د رفع الید پریږدی۔ که څه آمین بالجهر پریږدم۔ نو بل آمین بالسر پریږدی۔ دے کښې حدیث نه چلیږی۔ "التارك لسنتي" چه د هغے سنت ځائې بدعت اونیسی۔ یا سنت له استخفاف اوکړی۔ سنت ته د نفرت په نظر گوری۔ شوافع او حنابله که مانځه کښې رفع الیدین کوی۔ نفرت به نه کوے۔ بلکه مینه به ورسره ساتے۔ "التارك لسنتي" اوس نکاح ده "النكاح من سنتي" ابن تیمیةؒ واده نه وو کړے۔ اوکه ته وائی: "فمن رغب عن سنتي فليس مني" راغلے دے۔ او دے تارك سنت دے۔ خوده یو خه مقصد دپاره د بعضے نورو علماء غونډے واده نه دے کړے۔ هغه خو استخفاف وغیره د واده د سنت نه کوی۔

الحق الصریح کښې ئې دلته شروع کړے ده۔ وائی رفع الیدین ته اشارے وائی ده باندے لعنت دے۔ آمین ته رمبارے برارے وائی۔ په ده باندے لعنت دے۔ وائی کله کله خلاف اولی کارکول اولی سنت پریخودل په کښې هم داخل دی۔ لیکن مجموعة الفتاوی ۱۱ : ۱۰۴ باندے دی: استحب الائمة احمد وغیره ان یدع الامام ما هو عنده افضل اذا کان فیه تالیف المامومین ـ او ددے جلد ۱۰۷ کښې لیکی: ترك الراجح ارجح احیانًا لمصلحة راجحة ـ او دمجموعة الفتاوی ۱۱ : ۱۶۲ باندے لیکی: ولو کان الامام یری استحباب بشيء والماموم لا يستحبونه فتركه لاجل الاتفاق والا ئتلاف كان قد احسن۔

ددوی دا یو ذهن جوړ دے ـ که دا نه کوی۔ نو وائی: ده سنت پریخودلے دی۔ بل طرف ته دوی سنت نه وائی ـ لیکن دوی کښې بعضے غالیان وائی: چه احناف په ستر او شرمگاه لاس ایږدی۔ دوی داسے

اولاړ وی لکه بطه یا کیجیء خره. داد سنت استخفاف دے. څوك هم د اصحب الترجیح یا د مجتهد یا د حنبلی او شافعی فقے تقلید کوونکوته بد نه ګوری.

ارواح ثلاثة کښې راځی: شاه اسماعیل شهید رفع الیدین شروع کړے وو. شاه اسحق ترے تپوس اوکړو. چه دا ولے؟ نو هغه ورته وئیل چه څه مړسنت تازه کوم. څکه دے کښې " اجرمائة شهید" دے نو هغه ورته وئیل چه زما داخیال وو. چه شاه صاحب پوهه دے. خو هغه لا تراوسه نه دے پوهه شوے یو هغه سنت دی. چه بلے غاړے ته مقابل کښې بدعت دے. او چه کله د جانبینونه حدیث وی. نو حدیث هلته مه چسپان کوه. چه په کوم ځائی کښې پرېږدی. سنت او بل طرف ته بدعت ځائی نیسی. نودغه ترے مراد دے.

"رزین": دے کله کله موضوعی روایت پیش کوی. اګرچه ده په کتاب کښې وئیلے دی: زما دلائل به ډیرمزیدار وی. ولے ئی لیلة الرغائب کښې د مونځ حدیث نقل کړیدے. دا موضوعی روایتونه دی. تش په خُله اوپه لیکلو باندے نه کیږی. چه په شروع کښې اولیکی چه څه به سم دلائل ذکرکوم. داخوباباجی د ډاکيء البصائرکښې اول لیکلے دی چه: فجمعت دلائل قاطعة. بیا دلائل نشته، صرف خوبونه، واقعات، د سالك اشعار او د روح البیان وغیره حوالوته دلائل قاطعه وائی. یا د علامه سیوطی او سبکی اقوالو ته.

د رزین محدث باره کښې مرقات کښې دی: رواه رزین فی کتابه الذی جمع فیه بین الصحاح ولکنه لم یوف بذلك فقد ذکر فیه حتی الموضوع کخبر الصلوة لیلة النصف من شعبان والرغائب کذا قاله ابن حجر.

حدیث ۳۱: وعن مطر ابن عکامس قال قال رسول الله ﷺ اذا قضی الله لعبد ان ..الخ.

"مطر": بضم العین وکسر المیم دے. دده صرف دا یو حدیث دے. او ابو اسحق ئی صرف ذکرکوی.

الله چه د یوبنده فیصله د مرګ اوکړی. نو هلته ورله کار پیدا کړی.

روایت کښې راځی: الموت تحفة المومن. (حاکم نمبر: ۱۲۵).

د سلیمان علیه السلام په یو واقعه کښې راځی: چه یو تن ورسره ناست وو. اوبل یو تن ورته ګور ګور کتل نو وئیل چه دا سړے خو ماته ګورګورګوری. نو سلیمان علیه السلام ورته اووئیل داخوملك الموت دے. نو وئیل چه هواء ته حکم ورکړه. چه ما لرے ځائی ته اورسوی. هندوستان ته مے راورسوی. نوبس هواء به آخوا کړے وی. لږ روستو چه ملك الموت راغے. نوسلیمان علیه السلام

ترے تپوس اوکړو۔ چه دا څه واقعه وه۔ وئیل الله راته وئیل اوس دده نه روح واخله۔ اوپه هندوستان کښې ترینه واخله۔ نووائی ماوئیل چه ناست دلته دے۔ اوهندوستان کښې ترے روح اخلم۔ نودا به څنګه کیږی۔ نو هغه له ئی چل ورتلو۔ نوبس په زړه کښې ئی ورته واچوله۔ نو هغه ځائی ته اورسیدو۔ چه په کوم ځائی کښې دے مړکوی ۔ نو هلته درله څه کار پیدا کړی۔ اوپه هغے پسے به لاړ شے۔ نومړبه شے۔ د الله په تقدیراتوکښې څه فرق نه راځی۔ چه په کومه زمکه ستا مرګ مقرر وی۔ نو هغه ځائی ته به ځان رسوے۔ اوهلته به وفات کیږے :﴿ وَمَا تَدْرِیْ نَفْسٌ بِاَیِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ﴾ (سورة لقمان : ٣٤) ۔ آخری آیت تشریح کښې تفسیر مدارك کښې پورته ذکر شوے واقعه شته۔ او ابونعیم هم حلیة الاولیاء ۴: ۱۱۸ باندے نقل کوی : رحل ملك الموت علی سلیمان فجعل ینظر الی رجل من جلسائه یدیم النظر تلقینی بالهند۔

او دا واقعه مصنف د ابن ابی شیبة کښې هم شته : عن خشیمة ان ملك الموت مر علی سلیمان فجعل ینظر الی رجل من جلسائه یدیم النظر الیه فقال الرجل من هذا ؟ قال ملك الموت کانه یریدنی فمر الریح ان تحملنی وتلقینی بالهند ففعل فقال الملك کان دوام نظری تعجبًا منه اذا امرت ان اقبض روحه بالهند۔

حدیث ۳۲ : وعن عائشة رضی الله عنها قالت قلت یا رسول الله ﷺ ذراری ...الخ۔

"من ابائهم": یعنی من حکم ابائهم فی الدنیا ۔ " فذراری المشرکین": ۔ نوحکم ئی دادے : چه د خیرالابوین تابع به وی ۔ جنازه به نه کیږی۔ اود مسلمانانو پشان دفن به ئی هم نه کیږی۔ ځکه چه والدین ئی دواړه کافر دی ۔ او د آخرت معامله ئی الله ته سپارلے شوے ده۔ اود مسئلے تفصیلی وضاحت مخکښې تیرشویدے۔

شرح د مسلم کښې د محققینوقول د جنت ذکرکړیدے۔ لیکن حق توقف دے۔

حدیث ۳۳: وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ الوائدة والموء ودة فی النار...الخ۔

(ابوداود : ٤٧١٧) ۔ "الوائدة": ۔ هغه خځونکے "والموء دة": ۔ اوچه کومه ماشومه خخه کړے شوے وی۔ وړه وی۔ هغه به په اورکښې وی۔

سوال: چه دا " الوائدة " خوبه " فی النار " وی ۔ ځکه دوی خو غلطی کړے ده۔ ژوندے جینیء ئی مړه کړے ده۔ نودا موء دة ولے په اور کښې ده۔ دادے اشکال۔

جواب : دادے ۔ چه په دے ځائی کښې تقدیر راوباسه : الوائدة والموء دة لها فی النار ۔ مراد ترینه مورده چه چا خخه کړه ۔ او ددے دا مور به په دوزخ کښې وی ۔ ځکه چه په هغه وخت کښې د بعض قبیلو دا رواج مفسرینو هم ذکرکړیدے ۔ سورة النحل د آیت په تفسیرکښې یو ځائی کښې ذکرکړیدی ۔ چه ډوغل به ئی اوکنستو ښځه به د هغے دپاسه کیناسته ۔ او خپے به زوړندے کړے ۔ چه بچے به کله پیدا کیدو ۔ نو چه جینیٔ به وه ۔ نو وئیل به ئی ځه په خکته ډوغل ته ۔ اوچه هلك به وو ۔ نو په احترام به ئی راواغستو ۔ نودغه مور او دغه دائینړه به هم دواړه به په دوزخ کښې وی ۔ اودے ځائی کښې مؤده په مؤده باندے ظاهرًا نه ده ۔

التحریروالتنویرکښې علامه ابن العاشور لیکلے دی : چه دا رواج د ربیعه او کنده او د بنو تمیم قبیلووو ۔ قریشوبه دا کارنه کولو ۔ او د فرزدق نیکه صعصعه بن ناجیه اګرچه د بنوتمیم نه وو ۔ دوی به دغه جینکی په یواوښ او دوه (۲) بلاربواوښو په بدل کښې اغستلے ۔ وئیلے شی چه ده درے سوه او شپیته ورے جینکی دغسے اغستلے وے ۔ او په " اغانی " کښې څلورسوه لیکلے دی ۔ او امام دارمی د باب ما کان علیه الناس قبل مبعث النبی ﷺ کښې ددے ذکرکړیدے ۔

فرزدق د نیکه تعریف کوی :

وجدی الذی منع الوائدات فاحیا الوئیدفلم توأ د

عجیبه خلق وو ۔ سپی به ئی ساتلو ۔ اولور به ئی مړه کوله ۔

دویم جواب : قاضی صاحب کړیدے ۔ او قول ئی د ابن حزم راوړیدے ۔ دا سپیشل کیس دے ۔ عامه خبره نه ده ۔ بالغه جینیٔ وه ۔ د هغے سره سپیشل داحکم متعلق دے ۔ عام حکم نه دے ۔ خوخه جواب اولنے دے ۔ مرقات کښې ملا علی قاریؒ لیکی : ویحتمل انها کانت بالغة ۔ اوچادا توجیه هم کړے ده ۔ چه په ظاهره حدیث واخله ۔ دابچیٔ به هم د مور تابعه حساب شی ۔ دابه دلیل د هغه چاشی ۔ چه څوك وائی چه د مشرکانو بچی به په جهنم کښې وی ۔ خودا کمزورے قول دے ۔

" رواه ابو داود " : ۔ ابوداود پرے سکوت کړیدے ۔ او علامه ابن عبدالبرؒ ئی قابل د احتجاج نه ګنړی ۔ او بعضے وائی : چه ابو معاذ راوی په حدیث کښې ډیرسهوکیدلو ۔

الفصل الثالث

حديث ۳۴ : عن ابی الدرداء قال قال رسول الله ﷺ ان الله عزوجل فرغ الی کل ..الخ۔

ابی درداء رضی الله عنه د بنی خزرج د قبیلے نه ډیر اوښیار صحابی دے. ده یو خبره کړے ده۔ داخبره چه مفسرپه اللباب د سورة الملك په تشریح کښی نقل کړیده۔ که په دنیا کښی په انسان درے څیزونه نه راتلے ۔ دا انسان دومره متکبره وو۔ چه ده به چاته سرنه وو ټیټ کړے۔ د ډیر تکبر نه ۔(۱) : مرض (۲) : مرگ (۳) : فقر۔ داحدیث ئی د نبی ﷺ نه اوریدلے وو۔ په مرض او فقر سره انسان ټیټیګی۔ یعنی عاجزی کوی او مصیبت سره۔ اوچه مرگ ورته یاد وی۔ چه مرگ به راځی۔ انسان ورسره ټیټیګی تکبر نه کوی۔ دده خپل نوم عمیر وو۔ درداء ئی د لور نوم دے۔ نو کنیت یوسړے څانله د لور په نوم کیخودے شی۔ فقیه اوعالم وو۔ او ده ته حکیم الامت وئیلے کیدو۔

الحق الصریح کښی ئی لیکلے دی : مولانا اشرف علی تهانویؒ ته به حکیم الامة نه وائی۔ حکیم الامة ابودرداء رضی الله عنه دے۔ لیکن ترجمان القرآن ابن عباس رضی الله عنه دے۔ که بل چاته څوك ترجمان القرآن او شیخ القرآن وائی صحیح ده۔ الله رب العزت قرآن کښی : ﴿ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً ﴾۔ (سورة النحل : ۱۲۰)۔ ابراهیم علیه السلام ته ئی امت فرمائیلے دی۔ لیکن سلف ئی یو مصداق معاذ رضی الله عنه هم ذکرکوی ۔ مفسر قرطبی د سورة النحل آیت ۱۲۰ دلاندے لیکلے دی : چه عبدالله بن مسعود ته "کان امة" وئیلے شویدے۔ اوامام مالك دغه نقل کړیدے۔ حالانکه الله رب العزت صرف ابراهیم علیه السلام ته " کان امة " فرمائیلے دی۔

الابانة من شریعة الفرق الناجية د علامه محمد بن عطیه العکبری حنبلی کتاب دے نمبر : ۱۰۹۶ : ۲۶۰ باندے لیکی : وابوالدرداء وسماه رسول الله ﷺ حکیم هذه الامة۔

"فرغ " : ۔ فرغ په صله کښی چه " الی " راشی۔ نو په معنی د اتمام انتهاء سره راځی۔ فرغ نه مراد ظاهری فراغت نه دے۔ لکه انسان وائی څه اوزګار شوم : ﴿ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَا الثَّقَلَانِ ﴾۔ (سورة الرحمن : ۳۱) ۔ لکه په ظاهر کښی به الله رب العزت له دغه خبره نه ثابتوے۔ فرغ په صله کښی "الی" راغلے دے۔

"کل عبدمن خلقه ": ۔ الله رب العزت د مخلوقاتو د هرکس د پنځو څیزونو ته اوزګار شوید ے۔ یعنی دد ے اتمام ئی کړید ے۔

سوال : دے۔ چه مخکښې څلور ذکر کړیدی ۔ اودلته ئی پنځه ذکر کړیدی۔

جواب : عدد اقل د اکثر نفی نه کوی۔ روایت مخکښې تیرشوید ے۔ عمل ' اجل ' رزق ورله لیکلے کیږی ۔ سعید اوشقی لیکلے کیږی۔ اجل ورله لیکلے کیږی ۔ "من خمس " مبدل منه یو اجل بل عمل ' که خیر دے اوکه شر۔ بل مضجع ددہ به لګوی۔ قبربه ئی چرته وی۔ قبربه ئی وی۔ او که نه۔ د تبلیغیانو خبره ده قبر' کفن چه دے نو هغه شکی دے۔ مرګ یقینی دے۔ قبربه وی او که نه۔ یقینًا او قطعًا پته نه لګی ۔ "واثره ": ۔ اوده هغه انجام اوده هغه حرکتونه۔

"ورزقه ":۔ او رزق د هغه دے ۔ څومره دے څومره به خوری ۔ او انجام به ئی څه وی ۔ دائی د مخکښې نه لیکلے دی۔ اودائی ځکه خاص ذکر کړل چه هر قسم مخلوق سره ئی تعلق دے۔

حدیث ۳۵ : وعن عائشة قالت سمعت رسول الله ﷺ یقول من تکلم فی شیء ...الخ۔

علامه طیبیؒ لیکی : " فی القدر " کښې دومره مبالغه نشته۔ لکه " فی شیء من القدر "کښې ده۔ یعنی عقلی طور په کښې بحثونو کښې تعمق اختیار کړے۔ که څوك د نصوصود منلو د وجے تقدیر منی داتپوس به ترے نه کوے۔ چه ولے دے بحثونه په کښې نه دی کړے۔ په داسے مسئلو کښې اصول دی. : ﴿ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا ﴾۔ (سورة الکهف : ۲۲) ۔ دغسے که څوك د نصوصو د وجے عذاب قبرمنی۔ اومنل ئی ضروری دی۔ دا تپوس ترے نشته چه تا دد ے کنهه او حقیقت ته ولے رسائی نه ده کړے ۔ نوترك تکلم اوترك تعمق غوره دے۔ او د حق پرستو تکلم په مسئله د تقدیرکښې د نصوصو په رنړا کښې د اثبات دپاره صحیح دے۔ په دے روایت کښې یحی بن ابی عثمان باندے کلام دے۔

حدیث ۳٦ : وعن ابن الدیلمی قال اتیت ابی بن کعب فقلت له قد وقع فی نفسی..الخ۔

حالات د ابن دیلمیؒ : ابن دیلمی ثقه تابعی دے۔ خپل نوم ئی دے عبدالملك۔ دپلار نوم ئی دے فیروز۔ فیروز هغه صحابی دے۔ چه چا اسود عنسی مردار کړے وو۔ اسود عنسی هغه سړے وو۔ چه په یمن کښې ئی د نبوت دعوٰی کړے وه۔ دا فیروز ورپسے لاړو اومردار ئی کړو۔ او نبی ﷺ لا ژوندے

وو۔ نبی ﷺ ته چه پته اولګیده۔ نو نبی ﷺ اووئیل : فاز فیروز۔ فیروز خو کامیاب شو۔ چه دغه بدبخت انسان ئی د دنیا نه لرے کړو۔ دے ابو عبدالله دے۔ دیلم د غر نوم دے۔ بیت المقدس سره خواه کښې یو غر وو۔ هلته اوسیدونکے وو۔

مرقات کښې دی : لیس المراد من ابن الدیلمی فی هذا المحل هو فیروز الدیلمی بل المراد ابن الضحاك بن فیروز هو تابعی مقبول من اوسط التابعین۔

"اتیت ابی بن کعب": ۔ لاړم ابی بن کعب رضی الله عنه خوا ته۔ ابی بن کعب رضی الله عنه هغه صحابی دے۔ چه نبی ﷺ ورته سید الانصار وئیلے دے۔

الحق الصریح اتم جلد کښې دی : چه دے زمونږ په سند کښې راځی الحمد لله۔ او عمر رضی الله عنه ورته سید المسلمین وئیلے دے۔ دا هغه صحابی دے چه الله نبی ﷺ ته وئیلے وو۔ چه ابی بن کعب ته اووایه چه : ﴿لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ سورت درته واورئی۔ نو هغه ورته اووئیل : آلله سمانی۔ الله زما نوم اغستے دے۔ نبی ﷺ ورته اووئیل چه آو۔ نو سیدنا ابی رضی الله عنه په ژړا شو۔ دا د خوشحالۍ ژړا ده۔ چه الله زما نوم واغسته۔ څومره د اعزاز خبره ده۔ دا ابی بن کعب رضی الله عنه هغه صحابی دے۔ چه کله به دے عمر رضی الله عنه تراویحو ته مخکښې کړے وو نو شل رکعته تراویح به ئی کولے۔

مجموعة الفتاوی د شیخ الاسلامؒ کښې دی : فانه قد ثبت ان ابی بن کعب کان یقوم بالناس عشرین رکعة فی قیام رمضان ویؤتر بثلاث ۔ (۱۲ : ٦٨)۔

" فقلت له قد وقع فی نفسی شیء": ۔ دے تابعی ابی بن کعب رضی الله عنه ته اووئیل زما په دے زړه کښې یوه مسئله د تقدیر راځی۔ په دے زړه کښې مے طراره او شك غوندے راځی۔ عقلی طور باندے۔ " فحدثنی ": ۔ ماته د پیغمبر حدیث بیان کړه۔ د پیغمبر حدیث د انسان شك لرے کوی۔ نو د تقدیر باره کښې ورته حدیث نه وو معلوم ۔

"لعل الله ان یذهبه من قلبی": ۔ شاید چه الله زما د زړه نه دغه پریشانی لرے کړی۔ دے ورته حدیث نه بیانوی۔ دے ورته وائی حدیث راته بیان کړه۔ ابی بن کعب رضی الله عنه له حدیث ورتلو۔ خو حدیث ورته نه بیانوی۔ نو ابی بن کعب رضی الله عنه ورته اول د الله معرفت او شان ښائی۔ بیا ورته مسئلے د تقدیر اهمیت ښائی۔ نو بیا به روستو ستا شك شبه ختمیږی۔

"**فقال لو ان الله عزوجل اهل سماواته واهل ارضه عذبهم وهو غیر ظالم لهم**": ورته ئی اووئیل که چرته الله عزوجل اهل السماء او اهل الارض له عذاب ورکوی۔ نو الله به ظلم نه کوی په مخلوق۔ "**ولو رحمهم کانت رحمته خیرا لهم من اعمالهم**": ۔ او که دا الله پرے رحم کوی نو دا ورله غوره دے د اعمالو نه۔

"**ولو انفقت مثل احد ذهبًا فی سبیل الله ماقبله الله منك حتی تؤمن بالقدر**": ۔ که چرته ته د احد د غر او مره سره (سونا) خرچ کړے۔ نو الله ئی نه قبلوی۔ ترڅو پورے چه ایمان نه راوړے۔ په تقدیر باندے۔ "**وتعلم ان ما اصابك**": ۔ او ته یقین اونه کړے۔ هغه چه تاته کوم د مصیبت غشے رسیده "**لم یکن لیخطئك**": ۔ چه نه وو ستا نه خطاء شوے: ﴿مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ (سورة التغابن: ۱۱) دلاندے مفسرین دا روایت ذکرکوی۔

"**وان ما اخطأك لم یکن لیصیبك**": ۔ او کوم چه خطاء شو۔ تاته نه شی دررسیدلے۔

"**لومت علی غیر هذا**": ۔ مات یموت، مات یمیت "۔ "**لدخلت النار**": ۔ نو اور ته به ځی۔ نو ده ورته حدیث بیان نه کړو۔ ابن دیلمیؒ ورته اووئیل ماته حدیث بیان کړه ۔ سید الانصار او سید المسلمین ته خو هغه د حدیث په ځائی باندے ورته ئی د مسئلے اهمیت بیان کړو۔

"**ثم اتیت عبدالله بن مسعود فقال مثل ذالك**": ۔ ځه بیا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه خواله راغلم۔ نو هغه راته هم داسے مسئله بیان کړه۔ ماورته وئیل حدیث راته بیان کړه۔ هغه راته حدیث بیان نه کړو۔ ځه بیا حذیفة خواله راغلم۔ هغه ته مے اووئیل۔ ماته حدیث اووایه۔ نو هغه راته هم داسے اووئیل۔ دریو صحابه کرامو خواله راغلم۔ دریو صحابه کرامو ورته حدیث ذکرنه کړو۔

"**ثم اتیت زیدبن ثابت**": ۔ زید رضی الله عنه له راغلم۔ داکاتب وحی دے۔ نبی ﷺ د هجرت په وخت کښې دده عمر ۱۱ کاله وو۔ دا ځوان وو۔ نو هغه ته مے اووئیل۔

"**فحدثنی عن النبی ﷺ مثل ذالك**": ۔ ماته ئی د حدیث بیان دغه شان اوکړو۔ ورته ئی اووئیل چه ما د نبی ﷺ نه دده په اهمیت کښې خبرے اوریدلے دی۔

دده نه یو مسئله مرقات کښې ملاعلی قاریؒ راویستلے ده۔ یوه مسئله ترینه الحق الصریح والا

راویستلے ده. ملاعلی قاریؒ ترینه دا مسئله راویستلے ده: دلیل علی الاجماع المستند الی النص الجلی فمن خالف ذالك فقد کابر الحق الصریح - چه اجماع دلیل ته محتاج ده. په تقدیر باندے اجماع ده. د اجماع مأخذ دغه ده. چه د مخکښی حدیثونه او د صحابو فتاوی ذکرشو.

(۲):دویمه مسئله دصاحب الحق الصریح: اطمینان په حدیث سره راځی نه په تا وئیلو ما وئیلو باندے. دا درے صحابه کرام چه خبره کوی. چه یو سیّد الانصار اوبل خیر الامة دے. دا ماوے تاوے دی. دوی چه کومے خبرے کړیدی. نو هغه خومطابق د زید بن ثابت رضی الله عنه د حدیث سره دی. نو د صحابه کرامو اقوالو ته ماوے تاوے اووئیل. د بے ادبیء غټه نښه ده.

دغه وجه ده. چه غیث السحابة کښی شیخ عبدالسلامؒ لیکلے دی: چه د مقلدینو خبره د بعضے غیرمقلدینو په باره کښی داده. چه دا نیم شیعه ګان دی. فلذا یقول المقلدون فی شان اهل الحدیث ان فیهم نصف الرفض والتشیع ولا ینبغی ذالك. (۲۲۲).

التاج المکلل کښی نواب: ۲۹۲ باندے لیکلے دی: فعل الصحابی لا یصح حجة. او علامه وحید الزمان لیکی په حاشیه د نزل الابرارکښی لیکلے دی: لیعلم ان من الصحابة من هوفاسق کالولیدومثله فی حق معاویة و عمرو ومغیرة وسمرة وفی کون الصحابة عدولا انهم صار قرب فی الروایة لا انهم معصومون.(۳: ۹۴)

ددے حدیث په وضاحت کښی ملاعلی قاریؒ لیکلے دی: ان اهل البدعة لیسوا من المتقین.

حدیث ۳۷ : وعن نافع ان رجلًا اتیٰ ابن عمر فقال ان فلانًا یقرأعلیك السلام ... الخ.

الجوهرة النیرة شرح القدوری کښی لیکلے دی: یو سړے د عبدالله بن عمرخواله راغے. چه ته زما ډیرخوښ ئی. نو عبدالله بن عمر رضی الله عنه ورته اووئیل ته زما ډیر بدے شے. نو هغه تپوس اوکړو. نو ابن عمر رضی الله عنه ورته اووئیل داته څنګه اذان وائی یعنی غلط وائی. دا ډیراوګدول مه کوه.

"ان فلانًا یقرء السلام": . فلانکی دریاندے سلام کوو. وئیلے شے چه فلانکی ته زما سلام وایه. الحق الصریح کښی په سلامونوباندے بحث کوی نو وائی: اجنبی ښځے ته هم سلام کولے شے. خو چه فتنه نه وی. (لیکن دا دور ټول فتنه فتنه ده. امدآد).

"انه قد احدث": . اووئیل د عبدالله بن عمر رضی الله عنه چه یقینًا ماته دا خبره رارسیدلے ده. چه داخو بدعتی دے. **"فان کان قد احدث فلا تقرئه منی السلام"**: . که دا بدعتی وی. نوزما د

طرفه ورته سلام مه وایه۔ داسے ورته مه وایه " وعلیکم السلام " ۔ بلکه ورته اووایه " وعلیك " ۔ په تا باندے سلام نه کووم ۔ د بدعتی د سلام جواب ضروری نه دے۔ مرقات کښی دی : لا یجب رد سلام الفاسق والمبتدع ۔ داځکه بدعت ده کړیدے۔ دده بدعت د تقدیر نه انکار دے۔ تقدیر ئی نه منلو۔
علامه هیثمی د حدیث په تشریح کښی لیکلے دی : ومن ثم قال العلماء لا یجب رد سلام الفاسق والمبتدع بل لا یسن زجرالهما و تنکیلا واعلاما بانهما خرجا عن سنن المسلمین وحرمتهم ' ومن ثم جاز هجرهم کذالك۔

" فانی سمعت رسول الله ﷺ یقول یکون فی امتی اوفی هذه الامة خسف و مسخ ":۔
دے امت کښی خسف او مسخ راځی۔ مخکښی مونږه جواب کړے وو۔ خسف اومسخ امت کښی نه راځی ۔ جزی خسف اومسخ راځی۔ کلی طور باندے نه راځی۔ یا آخرت خسف او مسخ مراد ده۔ یا که راتله۔ نودے مسئله کښی به راغلے وو۔ لکه چه مخکښی هم تیرشو۔

" هذا حدیث حسن صحیح غریب ": ۔(۱) : د حسن نه لغوی یعنی زړه پورے واخله۔ او صحیح اصطلاحی معنی واخله۔ دا توجیه غوره نه ده۔ په دے معنی حسن خو موضوعی روایت هم کیدے شی ۔(۲) : حسن او صحیح ۔ بعضے محققین ورته صحیح وائی د یو سند په اعتبار سره۔ اود بل په اعتبار به حسن وی۔ (۳) : په دے کښی د حسن او صحیح دواړه شرائط وی۔

حدیث ۳۸ :وعن علی قال سالت خدیجة النبیﷺعن ولدین ماتالهافی الجاهلیة۔۔الخ۔
د اطفال المشرکین مسئله ده۔ خدیجه رضی الله عنها د نبی ﷺنه تپوس اوکړو۔ دے خدیجه رضی الله عنها د نبی ﷺ ډیر خدمت کړیدے۔ کله چه وفات شوه ۔ نونبی ﷺ اووئیل : انها کانت و کانت ۔ ډیر ښه ښه صفتونه په کښی موجود وو۔ مقبره معلی کښی دفن ده۔ د حرم شریف سره نزدے مقبره وه۔
ابن کثیر یوه خبره ذکرکړے ده په تاریخ کښی۔ چه پیغمبر له اول وحی راغله۔ اوئے وئیل ماته جبرئیل علیه السلام اوښایه که بیا راغے ۔ یو ځل ئی لوپټه په سر کړے وه۔ ورته ئی اووئیل چه وینے وے وئیل آو۔ بل ځل ئی لوپټه اوغورځوله وے وئیل وینے ۔ نو وے وئیل چه نه۔ نو هلته ابن کثیر خبره ذکر کړے ده۔ چه لوپټه مه غورځوه ښځے ۔ چه لوپټه کومه ښځه غورځوی۔ نوشیطان سره ئی رابطه وی۔ اوچه لوپټه په سرباندے ساتی۔ نود هغے رابطه د رحمان او د جبرائیل سره وی۔ (البدایه والنهایه ۲ : ۲۰)
۔ ددے دورحال دادے۔ شعر :

سنبھلتا نہیں جن سے اپنا دوپٹہ
سنبھالیں گے کیا وہ کلیجہ کسی کا

"فلما رای الکراهة فی وجهها": ۔ کله چه اولیده ۔هغه خفګان ددے په مخ باندے چه خفه شوه۔

"قال لورایت مکانهما لابغضتها": ۔که چرته ته اوینی هغه مکان۔نوته به ورسره هم بغض اوساتے ۔په آخرت کښې به پریشانه ئې۔لکه مثلاً ابراهیم علیه السلام باره کښې راځی : چه هغه دعا غوختلے ده۔نوسورة الشعراء کښې راځی : ﴿وَلَا تُخْزِنِیْ یَوْمَ یُبْعَثُوْنَ﴾۔ (سورة الشعراء : ۸۷)۔یاالله مابه نه شرموے د قیامت په ورځ۔دے چه خپل پلار آذر د قیامت په ورځ اووینی دے دوزخ ته ځی۔ ځه پرے شرمیګم ۔ورته به وائی اوګوره ورته۔نودهغه شکل به د کفن کخ غوند وی۔نوزړه به ترینه ئې تور شی۔نو وائی به چه دوزخ ته ئې اوغورځوے ۔

" قالت یا رسول الله ﷺ فولدی منك قال فی الجنة ": ۔اوئی وئیل یارسول الله ﷺ ستانه چه زما کوم اولاد دے۔نو اوئی وئیل هغه به په جنت کښې وی۔دا اطفال المؤمنین دی۔

"ثم قال رسول الله ﷺ ان المومنین واولادهم فی الجنة " چه زما دی۔

"وان المشرکین واولادهم فی النار": ۔چه هغه ستا دی مخکښې۔داد دوو خاوندانو نه کونډه راغلے وه۔ بیا نبی ﷺ اوفرمائیل : ﴿وَالَّذِیْنَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّیَّتُهُم بِإِیْمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّیَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَیْءٍ کُلُّ امْرِءٍ بِمَا کَسَبَ رَهِیْنٌ﴾۔(سورة طور : ۲۰) قید د ایمان سره دے۔

ملا علی قاریؒ دلته لیکلے دی : ولعل اولاد خدیجة فی النار لانها حال موتهم لم تکن مومنة فلا ینافی قول العلماء الولد الصغیر یحکم باسلامه تبعًا لاحد الابوین ۔

اوداحدیث د مکے د دور دے ۔ خدیجه رضی الله عنها مکه کښې وه ۔ یا دا روایت منسوخ دے ۔ یا تعارض کښې روایات دی۔نوتوقف په کښې خه دے۔او یا دا حدیث د کتاب الرؤیا د حدیث په مقابله کښې مرجوح دے۔او یا داسے اووایه۔چه د دور د اسلام نه مخکښې په جاهلیت کښې بچی مړه شوے وو۔د حدیث تعلق د هغے سره دے۔

فائده : بعضے خلق د مسلم روایت نه آثر اخلی۔او د نبی ﷺ د والدینو باره کښې داسے خبره کوی چه مناسب نه دی ۔توقف په کښې پکار دے۔ هغوی خوجاهلیت کښې وفات شوے دی۔او قرآن کښې دی. ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ (سورة الانعام: ۱٦٤) ﴿وَمَا کُنَّا مُعَذِّبِیْنَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُوْلاً﴾ (سورة بنی اسرائیل: ۱۵)

حدیث ۳۹ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ لما خلق الله ادم مسح ظهره ..الخ.

کله چه الله آدم علیه السلام پیدا کړو. " مسخ ظهره ": - نو په شاه باندے ئی ورله لاس اووهلو.

"فسقط عن ظهره کل نسمة ": - الله دے ملانه هرڅذی روح اوغورځول. نسمه داسے ذات چه ورسره روح دے. "هو خالقها من ذریته الی یوم القیمة": - چه الله د هغے پیدا کوونکے وو. ترقیامته پورے. "وجعل بین عینی کل انسان منهم": - اوئی ګرځوو په ما بین د سترګو دهرانسان ددوی نه. " وبیصامن نور" د نور پړقا. " ثم عرضهم علی ادم": - سیدنا آدم علیه السلام باندے بیا خپل بچی پیش کړه. "فقال ای رب من هولاء": - اوئی وئیل داڅوك دی. الله اووئیل چه دا ستا بچی دی. " فرأی رجلا منهم فاعجبه": - یوسړے ئی په کښی اولیده. ډیرئی خوښ شو.

"وبیص مابین عینیه": - دده د سترګو په مینځ داپړقا خوښه شوه. نورانی ښکلے شخصیت وو. نو په دے ئی مینه راغله. نو وئی وئیل داپه کښی څوك دے. ورته اوئیلے شو. داپه کښی داود علیه السلام دے. سوال راځی : چه په داود علیه السلام ئی مینه ولے راغله. په نبی ﷺ ئی مینه نه راتله په بل چا ئی مینه نه راتله. نود هغے جواب داد ے : بلے غاړے ته ئی کتلے نه دی. بس یو غاړے ته ئی اوکتل نو په هغه غاړه کښی داود علیه السلام وو. نو خوښ ئی شو. داخه قوی جواب نه دے.

دویم : شیخ الحدیثؒ په التقریر الرفیع کښی : لایجب ان یکون احسن من کل الناس. دانه ده چه داود علیه السلام د هرچانه خائسته وو ـ دے کښی یوسف علیه السلام هم وو. دے کښی نبی ﷺ هم وو.

"فاعجبه" : - کله اعجاب د حسن نه علاوه په بل اعتبار سره هم راځی. شعر ئی نقل کړیدے :

ګرے میری نظروں سے خوبان عالم　　پسند آگئیں ایسی کچھ ادائیں تمہاری

د چاچه په چا مینه راځی. د هغے مطلب دانه دے. چه نفس الامری د ټولونه خائسته دے. بس څه اداګانی داسے وی. چه د هغے د وجے نه ئی د آدم علیه السلام داود علیه السلام خوښ شو.

اصل کښی خبره داوه. سیدنا آدم علیه السلام وو خلیفه : ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾ - (سورة البقرة : ۳۰) ـ او سیدنا داود علیه السلام هم خلیفه وو : ﴿ يَا دَاوُودُ إِنَّا

جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ ﴾ -(سورة ص : ٢٦) - خلیفه چه خلیفه ته اوکتل نو خوبښ ئی شه. ما به الاشتراك باندے ئی مینه راغله. وئیل ئی داخوك دے جواب اوشو دا ستا نوسے دے.

"**فقال ای رب کم جعلت عمره**": - اے ربه څومره عمر دے ورله گرځولے دے. وئیل ئی شپیته کاله. "**قال رب زده من عمری اربعین سنة**" :- زما د عمرنه ورله څلویښت کاله ورکړه. مینه چه راشی خلق ورباندے هرڅه قربانوی. رقم، جامے ورکوی. عمر ډیر قیمتی دے. نو بابا ورله عمر ورکړو آدم علیه السلام زرکاله عمر وو. اوئی وئیل څلویښت کاله ترینه داود علیه السلام له ورکړه.

"**قال رسول الله ﷺ فلما انقضی عمر ادم الا اربعین جاء ه ملك الموت**": - ملك الموت ورته راغے ورته ئی اووئیل ولے ما زر مړ کوے. زما څلویښت کاله نه دی پاتے.

"**قال اولم تعطها ابنك داود**": - تاخپل ځوی داود علیه السلام له نه وو ورکړے.

"**فجحد ادم**": - اول ئی انکارکوو - بیائی ورته اوخودل ملائکو لیکل کړے وو. ستاسپ ئی ورته اوخودلو. حافظ ابن کثیرؒ: ﴿إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ ﴾ . د لاندے لیکی : ای رب من هذا ؟ قال هو ابنك داود قال ای رب کم عمره قال ستون عاماً قال رب زد فی عمره قال لا الا ان ازیده من عمرك و کان عمر آدم علیه السلام الف سنة فزاده اربعین عامًا فکتب علیه بذالك کتابًا و اشهد علیه الملائکة.

(تفسیر ابن کثیر ١ : ٣٣٤).

"**فجحدت ذریته**": - اولاد ئی هم انکار کوی. "**ونسی ادم**": - مفید الطالبین چه شروع کیږی نو: اول ناس اول ناسی ' آفة العلم النسیان - ئی په کښی اول ذکرکړیدے. هیرئی شو په اولاد ئی هم هیر راغی. سیدنا آدم علیه السلام ته خطاء اجتهادی اوشوله. ذریت نه هم خطاء کیږی هررنگے خطاء.

دے نه معلومه شوه : چه داود علیه السلام له ئی څلویښت کاله ورکړے وو. او باب السلام مشکوة دویم جلد ۴۲۲ فصل ثالث کښی دی : چه شپیته کاله ئی ورکړے دی.

الحق الصریح کښی دی : په دے حدیث کښی راغی : چه آدم علیه السلام څلویښت کاله د خپل عمرنه ورکړل. او باب السلام کښی دی شپیته کاله ئی ورکړل.

جواب : دلته په دے حدیث کښی په راوی باندے په الفاظو عدد کښی خلط راغلے دے. اصل کښی

ئی خلوېښت کاله ورکړے دی. نو راوی ترینه شپیته کاله جوړ کړل سهوًا.
لیکن عبارت کښې خپله ددوی نه سهو صدور ته راغلے ده. دلته حدیث کښې په باب التقدیر کښې د خلوېښتو ذکر دے. او دا راجح دے. د باب السلام روایت کښې په راوی هلته سهو راغلے ده. چه شپیته کاله ذکر کوی. امام ترمذیؒ کتاب التفسیر کښې په سورة الاعراف کښې: رب زده من عمری اربعین سنة ـ ذکر کړیدے ـ بیا ئی د ترمذی د کتاب التفسیر آخر کښې په دویم ځل باندے روایت راوړیدے: قد جعلت له من عمری ستین سنة.
نفع قوت المغتذی لسیدعلی المالکی کښې دی: فالحدیث السابق ارجح کما فی الدرالمنثور.
نودلته په باب التقدیر کښې د عدد الفاظ راجح دی.

حدیث ۴۰: وعن ابی الدرداء عن النبی ﷺ قال خلق الله ادم حین خلقه فضرب ..الخ.

کله چه الله آدم علیه السلام پیدا کړو. نو بنی اوګه ئی ورله ګزار ورکړو. "**فاخرج**": نو راویستل اولاد سپین رنګ والا ته به وائی کنی دا میږی دی. "**الذر**" میږی واړه واړه.
"**وضرب کتفه الیسرٰی**": په دے ګسه اوګه ئی ورله ګزار ورکړو. نو تور تور بچی ترینه راوباسل.
"**کانهم الحمم**": ته به وائی کنی سکاره دی. تور په کښې هم شته او سپین په کښې هم شته. ښکلے او تور دعقیدے او عمل په اعتبار سره شته دے. "**فقال للذی**": دا ښی غاړے والا به جنت ته ځی. "**ولا ابالی**": پرواه ئی نه کوم. دے ګسے اوګے غاړے ته چه وو. نو دا به دوزخ ته ځی.
ځکه په الله څه واجب نه دی. چه خواه مخواه به ئی جنت ته بوځم. یا دوزخ ته بوځم.
"**حین خلقه**": اراد خلقه. د ایمان سپین والے. او د شرك و کفر تور والے دے.
"**قال**": دلته په معنی د اشاره هم راځی. په بچو کښې بعضے داسے وو چه د ګسے اوګے نه پیدا دی. دا تور دی. او چه کوم چه فطرت سلیمه باندے برابر دی. هغوی منور دی.
"**لاابالی**" څه: ﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ﴾ (سورة البروج: ۱۶). یم. : ﴿ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا﴾. (سورة بنی اسرائیل: ۶۹). زما شان دے: ﴿لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُوْنَ﴾ (سورة الانبیاء: ۲۳).
زما جلال او دبدبه ده. معلومه شوه: لا یجب علی الله بشیء.

حديث ۴۱ : وعن ابی نضرة ان رجلًا من اصحاب النبی ﷺ يقال له ابو عبدالله ...الخ۔

د ابو نضره خپل نوم دے منذر۔ د پلار نوم ئی دے مالك۔ دے د بصرے اوسیدونکو کښی شمارد ے۔ او تابعی دے۔ المتوفی ۱۰۸ هجری۔ صحابو کښی یو صحابی وو۔ د هغه اسم گرامی ابو عبدالله وو۔ ده له اصحاب لاړل تپوس لـه۔ او د صحابی جهالت نقصان نه ورکوی تول صحابه عدول دی۔ بیمار وو۔ آخری حالت ئی وو۔ عیادت سنت طریقه ده :

عیادت رسم دنیا تھی چلے آتے تو کیا ہوتا　　　　تمھارے پوچھ لینے سے نہ ہم مرتے نہ ہم جیتے

مرقات کښی دی : العيادة افضل من العبادة لفظًا و معنىً۔

"فقالوا له ما یبکیك":۔ څه شیء تا ژړوی۔ تاته رسول الله ﷺ وئیل **" خذمن شاربك "** ته بعضے خپل بریت واخله ــ **" ثم اقره ای دم عليه حتی تلقانی":** ۔ بیا په سنت عمل باندے دوام کوه۔ د سنت اهتمام کوه۔

مسئله : بـه بـه څنګه طریقه جوړوے۔ امام طحاویؒ حلق داد احنافو مسلك گنړی۔ امام مالكؒ حلق ته بدعت وائی۔ څوك وائی امام طحاویؒ قول غوره نه دے۔ علامه عینیؒ وائی : شاید دائی مطلب وی ۔ چه ډیر ئی واړه کړه۔ مطلب دا نه دے چه حلق ئی اوکړه۔ سنت طریقه دا هم ده په قینچے یاپه مشین به ئی داسے اخلے۔ چه د شونډے لاندے ویخ ښکاره شی۔ او څرمن ئی ښکاره شی۔

مرقات کښی دی : وفی الحديث اشارة الى ان قص الشارب من السنن المتأ كدة والمداومة عليه موصلة الى قرب دارالنعيم ۔ دا غوره عمل دے۔

التمهيد کښی علامه ابن عبدالبرؒ د امام مالكؒ روایت نقل کړیدے : عن مالك حلق الشارب هذه بدعة وارى ان يوجع ضربا من فعله ۔ (۸ : ۱۳۴)۔

په کتاب هداية الابرار الى طريقة الاخيار لسید عبدالوهاب صاحب مانکی : ۱۸ باندے د روح البیان په حواله لیکلے دی : واما قص الشارب فهوقطعه بالمقص ای المقراض الى قوله ولا بأس بترك سباليه وهما طرفا الشارب فعل ذالك عمر رضی الله عنه لان ذالك لا يستر الفم ولا يبقى فيه غمر الطعام ۔ او د صلوة المسعودی حواله ئی ورکړے ده : موئی لب راپست داشتن سنت است

مسند احمدنمبر ۷۱۳۲ کښی د ابو هريرة روایت دے : قصوا الشارب قال الشيخ شعيب الارنوط وهذا

اسناد حسن۔ او امام بخاریؒ ۲ : ۸۷۳ کښې "وقص الشارب" ذکر کړیدے۔ او الادب المفرد کښې ۱۲۵۷ نمبرباندے "قص" راغلے دے۔ او په حلق باندے د قص اطلاق بقول امام عراقی خلاف ظاهر دے ځکه چه د تقصیر معنی کمول او د حلق معنی د ویخ نه صفا کول دی۔

او علامه شامی ۳ : ۵۵ مطبع سعید ليکلے دی: والمذهب عندبعض المتاخرین من مشائخنا انه القص وقال فی البدائع هو الصحیح وقال الطحاوی القص حسن والحلق احسن وهوقول علمائنا الثلاثة۔

او دا حقیقت دے چه حلق د نبی ﷺ نه نه دے ثابت۔ بهرحال غوره کمول او قص دے۔

سوال : د رسول د بشارت نه باوجود۔ دے صحابی دومره یره ولے کوله ؟۔

جواب : د جنت وعده د استقامت د سنت سره مقیده ده۔ اودایو باریك امر دے۔ هسے نه چه پوره پرے چرته عمل نه وی شوے۔

حدیث ۴۲ : وعن ابن عباس رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال اخذالله المیثاق ....الخ۔

حدیث دلالت کوی چه دا میثاق په عالم ارواح کښې شوے وو۔ د "بلی" سره ئی چه جواب ورکړیدے ۔ په دے ئی د عقل و شعور په موجودګۍ کښې تکلم کړیدے۔ او بعضے وائی "بلی" ئی په لسان الحال سره وئیلے دے۔ او کافرانو د هیبت د وجے "بلی" اوئے۔ او مومنانو باندے د رحمت پلوشے پریوتلے۔ په دے روایت کښې "اخرج عن صلبه" دلیل دے۔ چه خارجی امر وو۔

"رواه احمد": ۔ میرك شاه محدث وائی : چه صحیح داده چه موقوف روایت دے۔

د روایت نه دا معلومه شوه : چه د قیامت په ورځ دا عذر نه شی کولے۔ چه زمونږ دغه علم ختم شوے وو۔ ځکه چه انبیاء او عالمانو وخت په وخت دوی ته دغه یادګیرنه ورکړے ده۔ او قرآن کښې هم دی :

﴿أَن تَقُولُواْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ﴾۔ (سورۃ الاعراف : ۱۷۲)۔

حدیث ۴۳ : وعن ابی بن کعب فی قول الله عزوجل واذ اخذربك من بنی ادم ..الخ۔

"فجعلهم ازواجا": ۔ بیا ئی جوړئی جوړئی کړل۔ یعنی په اصنافو کښې تقسیم اوکړو۔

"فاستنطقهم": ۔ بیا ئی ځان سره ګویا کړل۔ مطلب دا څه خیالی یا عقلی خیز نه وو۔ بلکه دا خارجی امر وو۔ **"لا اله غیری"**: ۔ توحید د الوهیت۔ **"ولا رب غیری"**: ۔ توحید فی الربوبیت دے۔

ربوبیت ئی مخکښی ذکر کړو۔ چه که دے کښی پوره سوچ اوکړی۔ توحیدالوهیت ته به اورسی۔او د الوهیت د تقدیم وجه ددے اهمیت دے۔

"ولا تشرك به شيئًا":۔ که هغه صنم وی پیراو فقیر هر شیء وی۔ **"ورفع عليه ادم"** تنداره کوی بابا خپلو بچوته۔ څه په کښی مالداران دی۔ څه فقیران لېنګان غریبانان دی۔ څوك ښکلے ښکلے دی او څوك تك تور تور۔

"لولا سويت بين عبادك":۔ ولے دے برابروالے نه راوسته بندګانو کښی۔ دهریان نن هم تپوس کوی۔ که دا ټول خلق مالداره وے۔ نو خه به نه وے۔ ټول به ئی په یوناپ پیدا کړے وے۔ بابا علیه السلام مخکښی دا تپوس کړیدے۔ جواب ئی ورکړو۔ څه غواړم چه زما شکریه دے ادا کړے شی۔ مالدار په مالداری او غریب په غریبیء کښی صبر وظیفه کړی۔ خه صورت والا هم شکریه ادا کړی بدرنګ هم شکریه ادا کړی۔

کتاب الحیدة یو کتاب د ریاض نه چهاپ شویدے۔ مخکښی یو مناظره شوے ده د بشرالمریسی چه غلط سړے وو۔ او د شیخ عبدالعزیزؒ د هغے زمانے یو مناظره شوے ده۔ د هغے په ابتداء کښی په تور او سپین باندے بحث کړیدے۔

"ورای الانبیاء":۔ انبیاء کرام ئی اولیدل چه د چراغ غوندے پړقیدل۔ رسالت کانفرنس خاص شوے وو۔ مرقات کښی دی: چه عدم جمال په دے اعتبار سره خه دے۔ چه د فتنونه په امن دے۔ او ظاهری حسن اکثر په دے دلالت کوی۔ چه باطن به ئی هم صفا وی۔

نوټ: دے بحث کښی ضروری ده ۔ چه د علم، اراده اود رضا فرق واضح شی ۔ د علم الهی تعلق ډیراوسع دے۔ ټول موجودات ومعدومات بلکه ممتنعات چه دی۔ د هغے احاطه علمی الله کړے ده۔ او د رضا تعلق صرف خه کارونو سره دے۔ چه د بنده په اختیار کښی وی۔لکه مونځ، روژه او نور طاعات۔ او اراده ترجیح احد المقدورین ته وائی۔ که په کښی حسن وی اوکه قبح۔

حدیث ۴۴: وعن ابی الدرداء قال بینما نحن عند رسول الله ﷺ نتذاکر ما یکون ..الخ۔

حدیث ضعیف دے۔او ضعف وجه ئی داده: چه په دے کښی انقطاع ده۔ دا په تعلیق د مسند احمد کښی ۴۵: ۴۹۱ باندے دے۔ د نورو آثارو په وجه ئی تائید راځی۔ نبی ﷺ سره ناست دے۔ د آئنده

زمانے تذکرہ مونږہ کولہ۔ دابہ کیږی دابہ کیږی۔ نبی ﷺ پہ دغہ ضمن کښی اوفرمائیل غرباره کښی واورے۔چہ د خپل ځائی نہ بدل شوے دی۔ مرقات کښی پہ " قیل " سره د مغرب ځنی غرونه دخپل ځائی نه بدل شوے دی۔(وھکذا فی فتح الہ ' ایضًا)۔ : ﴿ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴾۔(سورة ابراهیم : ٤٦)۔یو مطلب داد ے : چہ امکان ئی شتہ۔فطرت نہ بدلیږی۔

کہ گیدړ ترخوارلسمہ تعلیم اوکړی خودچرګانو ځو کیدار جوړیګی نہ

پہ دے باندے سوال دے : چہ بیا څہ وجہ دہ چہ دغہ غلط تلونکی خلق مسلمانان شوی دی۔

دوه خبرے دی : (١) : یو امالہ دہ (٢) : یو ازالہ دہ۔ ازالہ نہ کیږی۔ امالہ شتہ۔عمر رضی اللہ عنہ د کفر پہ وخت بهادر وو۔ مسمانان بہ ئی تنګول۔اسلام تہ چہ راغے نوبیا بهادردے کافران وژنی۔رخ ئی بدل شو۔ یوسړے دے د هغہ فطرت کښی سخاوت دے۔خو وران دے بدمعاشانو لہ روتيء کوی ۔چہ کلہ نیک شی نو بیا نیکانو او طالبانو لہ روتيء کوی ۔ سخاوت کوی۔ محل د سخاوت بدلیږی۔ فطرت نہ بدلیږی۔

حاصل داد ے : چہ تبدیل ذاتی او اصلی ممتنع دے۔او تبدیل وصفی ممکن دے۔بلکہ بندہ تہ حکم دے : حسنوا اخلاقکم ۔او دعا غواړہ چہ : اللھم کما حسنت خلقی فحسن خُلقی ۔اوتبدیل وصفی دے تہ وائی : چہ یوسړے کښی غضب زیات دے۔ددے متعلقات بدلیدے شی۔لکہ عمر رضی اللہ عنہ د " اشدھم فی امر اللہ " مصداق شو۔

او د باب سره ئی ربط داد ے : چہ څنګہ د قضاء او د قدر پہ نورو شعبو کښی تبدیلی نہ کیږی۔نو پہ اخلاقو او عاداتو کښی تبدیلی هم ګرانہ دہ۔د بزدل نہ شیردل نہ شی جوړیدے۔

حدیث ۴۵ : وعن ام سلمة قالت یا رسول اللہ ﷺ لایزال یصیبك فی كل عام ..الخ۔

داحدیث بہ تاسو لہ مشکوۃ جلد ثانی پہ باب د معجزاتو کښی بہ راشی۔د نبی ﷺ معجزه دہ۔

" **لایزال**" :۔ همیشه تاتہ تکلیف رارسوی۔ " **من الشاة المسمومة** " :۔ د هغے بیزے د غوښی نہ چہ پہ هغے کښی زهر اچولے وو۔ دایو جینیء وه۔ زینب ئی نوم وو۔ وه یهودنړه۔ نبی ﷺ تہ ئی وئیل تہ بہ زما میلمہ ئی۔ نوز هرئی ورلہ پہ کښی ګډوډ کړے وو۔ د پیغمبر لیچہ ډیره خوښه وه۔ چہ ذراع

نی اوچته کړه ـ نو هغه ذراع ورته ګویا شوه. چه ما کښې ئی زهر ګډ کړیدی. مه خوره. سیدنا بِشر رضی الله عنه یوه نوړے خوړلے وه. هغه ترے وفات شو. نبی ﷺ دا ښځه معاف کړه. دے ښځے بهانه اوکړه. مونږ وئیل که پیغمبر ئی نو آثر به دربانده اونه کړی. اوکه پیغمبر نه ئی نو خلاص به شو زهر په پیغمبر هم آثر کوی. دعوت قبلول ورله تیك وو. ځکه ذمیه وه ذمیانو دعوت قبلولے شے. نو چه کله بِشر رضی الله عنه شهیدشو د زهرو د وجے نه. نوبیا ئی دا ښځه قصاص کړے ده. زمونږ نبی ﷺ من وجه شهید شو. عبدالله بن عمر رضی الله عنه له هم زهر ورکړے دی. زمونږ کوم ملګرو اوشیو خوله چه د زهروستنے لګولے شویدی. دا ټول شهیدان دی. د معنی او دحکم په اعتبارسره. نبی ﷺ په آخرکښې وئیل: الآن انقطع ابهری ـ اوس مے رګ کټ کیږی ـ هغه زهرو آثرد مرګ نه مخکښې ښکاره شو. دا تقدیرسره لګوه. دا زهرئی ماله په تقدیرکښې لیکلے وو. حسن رضی الله عنه هم په زهرو من وجه شهید دے. لیکن دا دروغ دی العیاذ بالله چه سیدنا معاویه رضی الله عنه ورله زهر ورکړے وو. منهاج السنة کښې علامه ابن تیمیهؒ لیکی: ان معاوية سم الحسن فهذا مما ذكره بعض الناس ولم يثبت ذالك ببينة شرعية او اقرار معتبر ولا نقل يجزم به وهذا مما لا يمكن العلم به فالقول به قول بلا علم....الخ. (۲ : ۲۲۵) ـ او داده شیعه ګانو غلطه پروپیګنډه ده. ابن خلدون خپل تاریخ کښې او امام ذهبیؒ تاریخ اسلام کښې لیکلے دی.

" وآدم فی طينته " :ـ داد اول تقدیر بیان دے. دا لکه قرآن کښې د شیطان باره کښې راځی: ﴿وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ﴾. (سورة ص : ۷۸).

باب اثبات عذاب القبر

علامه ابن قیمؒ اعلام الموقعین ۴ : ۳۶۳ باندے لیکی : نعم عذاب القبر حق ـ عذاب القبر هم شته او تنعیم هم شته۔ چونکه عذاب قبروالا ډیردی۔ نو دهغے عنوان ئی ځکه کیخودلو۔ اودوے منکرین هم زیات دی ـ اثبات له ئی باب راوړو۔ دویمه واجه داده : چه هرمومن چه کله په قبرکښی کیخودلے شی۔ اګرچه مرتبه ئی اوچته ده۔ څه نه څه وحشت ورته وی۔ دغه وحشت نه هم من وجه څه لږ غوندے د عذاب قبرنه تعبیرکیدے شی۔

اثبات عذاب القبرکښی تقریبًا څوارلس روایات ذکرکوی۔ شیخ القرآن علامه محمدطاهرؒ دسورة فاتحے کوم جلد چهاپ شویدے ـ په هغے کښی هغه فرمائیلے دی : چه عذاب قبرد قرآن د اتلسو آیتونونه ثابت دے۔ د بعضے ضدیانو، عنادیانو عالمانو افتراء ده۔ چه وائی پنج پیریان عذاب قبرنه منی۔ چه یو مسئله د دومره آیتونه نه ثابته ده۔ نو څنګه به مسلمان ددے نه انکار اوکړی۔

قرآن کښی دا آیت د هغے دپاره زبردست دلیل دے : ﴿ النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴾۔ (سورة المومن : ٤٦) . دے آیت کښی د قیامت عذاب ئی روستوذکرکړیدے۔ په ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴾ سره۔ اود برزخ عذاب ئی مخکښی ذکر کړیدے په : ﴿النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ﴾۔ سره۔

حافظ ابن کثیرؒ د آیت د لاندے لیکی : چه دا اهل السنت والجماعت دپاره دا آیت زبردست دلیل دے : وهذه الآية اصل كبير في استدلال اهل السنة على عذاب البرزخ في القبور ـ دویم آیت : ﴿ ولنذيقنهم من العذاب الادنى دون العذاب الاكبر لعلهم يرجعون ﴾۔

دویم آیت : ﴿ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾۔(سورة السجدة : ۲۱)۔

دریم آیت : ﴿ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِنْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾۔ (سورة البقرة : ١٥٤) ـ قاضی شوکانی فتح القدیرکښی ددے آیت د لاندے لیکلے دی : وفي الآية دليل على ثبوت عذاب القبر، ولا اعتداد بخلاف من خالف في ذالك، فقد تواترت به الاحاديث الصحيحة، ودلت عليه الآيات القرآنية ـ

څلورم آیت: ﴿ وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُوا أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ ﴾ . پنځم آیت: ﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى ﴾ . (سورة طه : ۱۲۴) . شپږم آیت: ﴿ مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا ﴾ . (سورة نوح : ۲۵) . دد ے ټولو نه عذاب قبر ثابتیږی.

دا قبر د ے ته هم وائی چه په کوم کښې مړے ښخوی.

روایت کښې دی: القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفر النيران طبرانی په اوسط کښې راغستے د ے. وفی المجمع محمد بن ایوب ضعیف. او عذاب القبر حق وصله النسائی والبیهقی فی البعث والنشور: (۳۱۰)

مرقات کښې ملاعلی قاریؒ لیکلے دی: ولامانع فی العقل من ان یعیدالله الحیاة فی جزء من الجسد ' اوفی الجمیع علی خلاف بین الاصحاب فیثیبه و یعذبه ' ولا یمنع من ذالك کون المیت قد تفرقت اجزاء ه کما یشاهد فی العادة ' او اکلته السباع والطیور وحیتان البحر لشمول علم الله تعالی وقدرته.

علامه ابوسعود خپل تفسیر کښې: ﴿ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴾ د لاند ے د خوب واقعه په ویخه ذکرکړ ے ده: رایت فی المنام سنة تسع و ثلاثین و تسعمائة انی ازور قبر شهداء احد رضی الله عنهم وانا اتلوا هذه الآیة وما فی سورة آل عمران واردد هما متفکرًا فی امرهم وفی نفسی ان حیاتهم روحانیة لا جسمانیة ' فبینما علی ذالك اذ رایت شابا منهم قاعدًا فی قبره تام الجسد کامل الخلقة فی احسن ما یکون من الهیئة والمنظر ' لیس علیه شیء من اللباس قد بدا منه مافی فوق السرة والباقی فی القبر خلا انی اعلم یقینا ان ذالك ایضا کما ظهر وانما لا یظهر لکونه عورةً فنظرت الی وجهه فرایته ینظر الی متبسمًا کان ینبهنی علی ان الامر بخلاف رأیی فسبحان من علت کلمته وجلت حکمته.

دقبر اصل اطلاق چه د مړی له مونږ کوم قبرکنو. نوپه د ے باند ے هم کیږی. او قرآن کریم کښې چه راغی: ﴿ وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ﴾ (سورة التوبة : ۸۴) . د قبر خواء کښې به نه اودریږ ے. دا قبر یادوی. د ے سره خوا کښې مه اودریږه. (۲) ﴿ ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ ﴾ (سورة عبس: ۲۱) دغه قبر یادوی. یا حدیث کښې راغی: من یعرف اصحاب هذه الاقبر. دا قبرونه والا څوك پیژنے. دادغه خلق یادوی. چه دا ځلے پر ے جوړ دی.

د قرآن او د احادیثونه دا معلومیږي. چه د قبراطلاق په دے عرفي قبر باندے هم کیږي.
د عثمانیانو کتابچه ده"یہ قبریں یہ آستانیں" نودا قبرونه یادوي. خوبله خبره داده چه دا قبرخلي پورے خاص نه دے. ددے نه مراد عالم برزخ دے. کله کله یو انسان وي. غټ مهی ئی تیرکړي. شرمخ ئی اوخري. هندو دے اوئي سوزوي. دا نه ده چه ددوی دپاره به عذاب قبرنه وي. او عرفي چه کوم قبر دے. په دے کښې د هغوی خخیدل نه دي راغلے. ددے وجے نه شیخ عبدالحق" اشعة اللمعات کښې دا خبره لیکلے ده: چه د قبر نه مراد صرف گورے نیست. دا"گور" نه دے. چه په کوم کښې مړے خخیږي. نفي د حصر ده. اوداخبره مولانا تهانوي صاحب" اومولانا ادریس کاندهلوی" هم لیکلے ده. او ډیروعلماء په دے باندے بحث کړیدے. چه ددے نه مراد عالم برزخ دے. لکه کتاب اشرف الجواب او عقائد الاسلام کښې تفصیل شته.

د سیدنا یونس علیه السلام باره کښې راځي ﴿فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ.لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾. (سورة الصافات: ۱۴۳، ۱۴۴) یعني ما د هغوی قبر د دغے غټ مهی خیټه جوړه کړے ده.
عالمونه ټول درے دي: (۱) عالم دنیا (۲): عالم برزخ (۳): عالم آخرت.
(۱): عالم دنیا دا اوس چه مونږ په کښې یو. په دے عالم دنیا کښې عذاب او سزا اصل په بدن وي. او ارواح د بدن تابع دي. که دے دنیا کښې چاله گزار ورکوے. نوخوګیږي. نو د دغے عذاب ددے تعلق بالذات د بدن سره دے. او روح ددے بدن تابع دے. دا عالم دنیا ده.
(۲): عالم برزخ دے د عالم برزخ بلا واسطه تعلق د روح سره دے. او بدن د هغے تابع دے. د مخکښې عکس. هلته دنیا کښې سزا بلا واسطه بدن له عذاب دے. او روح ئی تابع دے. او دلته عالم برزخ کښې بلا واسطه سزا روح له ده. اوبدن ئی تابع دے. عالم برزخ له ابتداء هم شته. او انتهاء هم شته. ابتداء ئی شروع شوه چه ساه اوتله. او انتهاء ئی اوشوله چه قیامت راغے. ددے په مینځ کښې چه څومره موده ده. دا عالم برزخ دے. قرآن کریم کښې راځي ﴿وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾ (سورة المؤمنون: ۱۰۰)
په دے مینځ کښې ئی برزخ دے. چه څوپورے بعث بعدالموت نه وي شوے.
(۳): د بعث بعد الموت نه چه روستو کوم حالات شروع کیږي. هغے ته عالم آخرت وائي. د عالم آخرت ابتداء شته خو د هغے دپاره انتهاء نشته. ځکه هغه ختمیدو والا نه ده. په عالم آخرت کښې جزاء او سزا به مستقل دواړو ته ملاویږي. بدن ته هم او روح ته هم. بالذات به دواړو ته ملاویږي.

دهغے دپاره داسے مثال دے۔ مثال ورکړیدے ددے شاه انورؒ فیض الباری کښې اومثال ورکړیدے علامه آلوسیؒ د سورة النحل ۱۱۱ ددے آیت په تفسیر کښې: ﴿ يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَن نَّفْسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ ۔ اګرچه روستو ئې وئیلے دی۔ چه داددے آیت سره نه لګی۔ خولیکن مثال ئې ورکړیدے۔ هغه دادے: د ړوند او د شل دواړو دوستانه وه۔ دواړو صلاح اوکړه۔ چه میوی خوړل غواړی باغ ته به ځو۔ د غلا میوی دی۔ ړوند وئیل ځه نه وینم۔ اوشل وئیل ځه تلے نه شم۔ ړوند ورته وئیل ځه به دے په اوګوباندے کینوم۔ او ته به راته وائی چه داسے ښی طرف ته ځه۔ او داسے ګس طرف ته ځه۔ نوپه دے طریقه به باغ ته اورسو۔ ړوند وئیل ځه خو وینم نه۔ نوشل ته ئې اوئیل مالتے راشوکوه۔ دوی دا عمل اوکړو۔ اوخکته کیناستل میوو ته او په دے کښې د باغ مالك راغے۔ نو هغه ورته وائی دا ولے۔ نوشل ورته وائی ځه خودسرنه تلے نه شم۔ ځه خوشل یم۔ ړوند ورته وئیل ځه خو وینم نه۔ نودا مالك به اوس کوم یو غربوی۔ نو دواړو له به وهل ورکوی۔ ځکه دا دواړو په ملګرتیا دا عمل صدور ته راغلے دے۔

اوپه تفسیر درالمنثور کښې ددے آیت د لاندے دی: چه عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی: فسقت اليه ملكا فيقتضي بينهما فيقول لهما ان مثلكما كمثل رجل بصير آخر ضرير دخلا بستانا۔

بیا لیکی: ان الجسد للروح كالمطية وهو راكبه۔

نو هغه جهان کښې روح او بدن دواړو دپاره به سزا ځکه وی۔ چه د دواړو په اشتراك باندے جرم صدور ته راغلے وو۔ دا درے عالمه شو۔

بیا د روح تعلق د بدن سره دے۔ ملا علی قاریؒ پنځه قسمه 'شرح الفقه الاکبر کښې ذکر کړیدی:

(۱) چه بچے د مور په خیټه کښې دے۔ (۲) د دنیا په خیټه کښې دے۔ یوسړے ویخ دے۔ ګرځی راګرځی کوم چه د روح او د بدن تعلق دے۔(۳) کله اوده دے د روح او د بدن کوم تعلق دے۔ من وجه تعلق ئې شته او من وجه نشته۔ (۴) د روح د بدن سره برزخ کښې تعلق شته۔ او دا خاص تعلق د بدن حیات د قیامت نه مخکښې نه واجبوی۔ (۵) تعلقها به یوم بعث الاجساد۔ او دا کامل ترین تعلق دے۔ (شرح فقه اکبر: ۱۲٦)

په دے پنځو واړو تعلقاتو او حیات حیات کښې هم فرق دے۔ لکه مثلاً دنیا کښې یو زمونږ په سترګو کښې حیات دے۔ او یو زمونږ په پونده کښې حیات دے۔ په دے کښې فرق دے۔ پونده کښې که ازغے مات شی۔ نو دومره درد نه کوی۔ او که په سترګه کښې دننه لاړو۔ نو دا ډیر درد کوی۔ نوټول بدن کښې حیات خور دے۔ لیکن کیفیاتو کښې فرق شته دے۔

د عذاب قبر یا د عذاب برزخ په باره کښې: (۱): یو مسلك: د عبدالله بن کرام دے۔ دے ته وئیلے

کیږی کرامیه۔(۲) : دویم مسلك : هغه د ابو الحسن صالحی دے دے ډلے ته وئیلے کیږی صالحیه۔
دا دواړه ډلے وائی : چه عذاب صرف جسم ته دے روح ته نه دے۔ دا ګپ شپ دے۔ جسم وی او روح نه وی۔ نو جسم خوګیګی نه۔ نو فائده څه شوه۔ چه ساه په کښې نه وی۔ نو جسم به هله درد کوی چه ساه په کښې وی۔ ددے داسے مثال دے چه پولیس یو تن نه تپوسونه کوی ریمانډ ورته وائی۔ نو هغه پیسے ورکړی چه غرړ به ورته نه کوے۔ او آخوا د پولیسو مشر وائی چه اوئے وهه۔ هغه وائی څه به برستن له ګزار ورکوم نو چغه به ته اوباسے۔ نو چه هغه برستن له ګزار ورکړی۔ نو دے وائی (وای) مشر ئی واوری۔ دے خو نه خوګیګی برستن نه دوړے لرکیږی۔ او چه داکوم مجرم دے۔ نو دے بیا خوګیګی نه۔ نو چه داسے دیوسړی جسم له سزا ورکوی او روح له نه وی۔ داخو هسے بیکاره قول دے ۔د صالحیو او د کرامیو دواړو قول باطل دے۔(۳) : دریم مسلك : چه دا صرف روح ته دے۔ دا مسلك د ابن قیمؒ دے۔ دا هم ښکلے نه دے۔ د اهل السنة نه خارجیږی نه۔ د اهل السنة یو قول غیرمشهور دے۔
شاه انور کشمیریؒ لیکلے دی عرف الشذی کښې : ثم لاهل السنة قولان : قیل ان العذاب للروح فقط ، وقیل للروح والجسد ، والمشهور الثانی اختاره اکثر شارحی الهدایة وهو المختار ، وان صار البدن ذرة ذرة فی الدنیا فان الشعور لکل شیء عند جمهور الامة۔ (العرف الشذی ۲ : ۲۰۶)۔
د اهل السنت دوه قوله دی (۱) : چه عذاب صرف روح له دے۔(۲) : دویم دادے چه روح او بدن دواړو له دے۔ خو د اهل السنت نه به ئی نه خارجوی۔
(۴) : څلورم مسلك : د صوفیاء کرامو دے۔ هغوی وائی روح سره د جسد نه مراد دے۔ خو جسد جسد مثالی دے۔ دا مولانا اشرف علی تهانویؒ او مجدد الف ثانیؒ وائی۔ دا علامه آلوسیؒ تفسیر کښې لیکلے دی۔

د احادیثو او د علماء د تصریحاتو نه د نفس جسد مثالی ثبوت شته دے۔ نبی ﷺ چه کله په بیت المقدس کښې امامتی انبیاء علیهم السلام له ورکوله۔ نو د انبیاء ارواحو له ئی امامتی ورکړے ده : مثلت له ارواح الانبیاء ۔ داد پیغمبرانو علیهم السلام دلته وجود مثالی دے۔ (ابن حجر)۔
د سورة بنی اسرائیل د رومبی آیت په تفسیر کښې التفسیر المنیر کښې دی : مثل لی النبیون فصلیت بهم۔
او علامه طنطاوی الجواهر کښې لیکی : وتمثل الانبیاء علیهم الصلوة والسلام۔
صلوٰة الکسوف کښې روایت دے۔ نبی ﷺ ته ئی په دیوال کښې دوزخ او جنت اوخودل۔ جنت په

دیوال کښې نه راځي۔ هغه خو ډیر لوئې جنت دے۔او دوزخ هم نه راځي۔ هغه خو هم ډیرلوئې دوزخ دے۔ خو داد هغے وجود وجود مثالی دے۔

نبی ﷺ چه د معراج په شپه تلو۔ نو وئیل ئې بلال رضی الله عنه مے اولیدو۔ د عمر رضی الله عنه محل مے اولیدو۔ دا ټول وجود مثالی دی۔ دا څلورم قول دے۔ صرف د بعضے اعتراضاتو دفع کولو دپاره بعض صوفیه، علماء ئې ذکرکوی۔

(۵) پنځم قول داد ے: چه د روح او د بدن د یو بل سره تعلق شته۔ او د هغے تعلق د وجے نه یا تنعیم دے او یا عذاب دے۔ او دغه حق او راجح ګڼړی شی۔ خو داد تصرف د مونږ، حج ادا کولو تعلق نه دے۔

شرح العقائد کښې ۷۷ باندے دا عبارت دے: یجوز ان یخلق الله تعالی فی جمیع الأجزاء او فی بعضها نوعا من الحیوة قدر ما یدرك الم العذاب اولذة التنعیم وهذا لا یستلزم اعادة الروح الی بدنه۔

دے د هغے نه لذت اخلی۔ او د هغے د وجے نه درد محسوسوی۔ دومره الله حیات په دے بدن کښې راولی۔ په دغه هئیت بلا کیفیت شته۔

د وفاق مشر مولانا سلیم الله خان صاحبؒ نفحات التنقیح کښې دا خبره لیکلے ده: *قبر حسی گڑھے کے ساتھ خاص نہیں* ۔ قبر د ډوغل پورے خاص نه دے۔ چه تاته په نظر راځي دے ته قبرعرفی وائی۔ دے ته قبرحسی وائی۔ دے نه به هم انکارنه کوے۔ لکه مخکښې تیرشو۔

یو چه ستا د بدن دپاره قبر دے۔ نو دغسے ستا د روح دپاره هم من وجه مستقر دے۔ د هر دلته پروت دے خودغه روح جسد سره تعلق لری۔

قرآن کښې چه راځي: ﴿قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ، بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ﴾۔ (سورة یس: ۲۶) ۔ شهید دے صاحب یسن او ورته وائی جنت ته ځه۔ یا قرآن کښې راځي: ﴿يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ، ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً، فَادْخُلِي فِي عِبَادِي، وَادْخُلِي جَنَّتِي﴾۔ (سورة الفجر) ۔ نو جنت ته خو تلل بعث بعد الموت نه پس دی۔ او اوس ورته وائی جنت ته ځه۔ نو روح به دے هلته په جنت کښې وی۔

قبر به هسے ډوغل یعنی عرفی قبر پورے نه خاص کوے۔

شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان صاحبؒ دویمه خبره دا کړے ده: چه علیین او سجین داد ځایونو

نو مونہ دی۔ پہ دے کبنی د نیکانو او د بدانو د روحونو استقرار دے۔ علیین اوسجین اس مقام کا نام ہے جونیکیوں اور بدیوں کےارواح کامستقرہے: ﴿ كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴾ او دغسے: ﴿كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ﴾۔(سورة المطففين : ۱۸ '۷)۔

دریمه خبره ئی دا کړے دے: لیکن روح کا بدن کے ساتھ اتصال اور تعلق قائم کردیا جاتا ہے۔

د بدن او د روح اتصال یعنی تعلق شته دے۔ د اکابرینو په عباراتو کبنی۔ دا داسے تعلق دے لکه مثلاً

کاالشمس في كبد السمآء وضوئها

يغشى البلاد مشارقًا و مغاربا (متنبی)

نمر ته اوګوره د آسمان په مینځ کبنی دے۔ او د هغے نمر تعلق دلته خکته اونے سره هم دے، بوټی سره هم دے۔ هر ځائی کبنی رڼړا راغلے ده۔ روح په هر ځائی کبنی دے۔ خود بدن سره ئی یو کنکشن لري۔ یو قسم تعلق د بدن او روح په مینځ کبنی شته۔

بیا ئی روستو وئیلے دی: چه صوفیاء کرام دغه اتصال او تعلق ته اشراف ورته وائی۔ او نوع من الحیاة ورته حاصل دے۔ او عذاب او ثواب محسوسوی۔ یہ مذہب جمہور اہل السنۃ کا ہے یہی حق ہے یہی منصور ہے چنانچہ علامہ شمس الدین الحنفی فرماتے ہیں۔ والمعذب في القبر بقدر ما يتالم به هو اقرب للحق ۔ چه کوم کس له عذاب ورکولے کیږی۔ نو ده له دومره ژوند ورکوی۔ چه په دغه اندازه چه ده ته درد محسوسیږی۔ یا بل طرف ته ورته نعمتونه محسوسیږی داد هغوی خبره ده۔ خو ټیک ده۔

ملا علی قاری لیکی، شیخ عبدالحق هم وائی: د قبرنه یوائے هغه نه دے۔ چه په هغے کبنی مرده دفن کیږی۔ حصر سره مراد نه دے۔ چه هم دغه به قبر وی۔ ددے نه علاوه به قبر نه وی۔

اوس دا عذاب چه ورله ورکولے کیږی۔ الله په دے قادر دے۔ چه دغه اجزاء له هم سزا ورکوی۔ خلق وائی چه شرمخ ئی اوخوری۔ نو شرمخ څه ګناه کړیدے۔ چه هغه له عذاب ورکوی۔ شرمخ ته پته نشته۔

مثال: ددے داسے مثال دے۔ چه په یو تن کبنی چینجی شوے وی۔ نو ډاکټر ورله ګولے ورکړی وائی دا اوخوره۔ هغه چه دا اوخوری۔ نو تاته پته نشته۔ ته خو خپل کارکوے چینجوته دننه پته ده۔ چه په هغوی کوم مصیبت نازل شویدے۔ اوته د هغے نه خبر نه ئی۔ داکوم خلق چه عذاب قبر نه منی۔ نو هغوی وائی مونږه اولیدل او اومولتولو اور قبر کبنی نشته۔ خامار په کبنی هم نشته۔ دا تاته نه بنائی مثلاً دے ځائی کبنی یو انسان دے۔ بل تن ورسره خوا کبنی اوده دے۔ هغه اوس خوب کبنی لګیا

دے۔ چه څه بادشاه یم کله ورپسے مار شي۔ خو ده ته پته نشته۔ او هغه ته پته ده۔ جبریل علیه السلام به چه کله راتلو نبي ﷺ ته به پته وه نورو به نه لیدو۔ پیشو د شپے تیاره کښي منګك وینی او مونږ ئې نه وینو۔ پیریان چه په چا راشي په هغه څه تیریږي۔ د هغے تاته علم نشته۔ ملائك چه کله د روح قبض کولو دپاره راشي۔ سورة واقعه ۸۴، ۸۵ کښي دی: ﴿ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ، وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴾۔ نو ته ئې خو نه وینے۔ هغوی راغلے دی۔ اودغه ځائی کښي موجود دی۔ دا کوم چه مړکیږي۔ نو صرف ده ته پته ده۔ دے هغه ملائك وینی او ته ئې نه وینے۔

مولانا ادریس کاندهلوی" عقائد الاسلام کښي لیکلے دی: چه یو کس دے او هغه رابند کړے شي په یو کمره کښي۔ او ورته وائي څه به تا سحر مړکوم۔ نو دے توله شپه سوچ کوی۔ چه مابه څنګه مړکوی په خیته به راله زور کوی۔ په مرے به راله غلے کیږي۔ دا ډیر کم عقل انسان دے۔ په کیفیت کښي ولے سوچ کوی۔ ده له دا پکار دی۔ چه دے دا سوچ اوکړي۔ چه کومه کهړکۍ کمزورے ده۔ چه هغه ماته کړم او اوتختم۔ په روشندان باندے اوځم۔ دیوال کښي سورے اوکړم۔ خو چه د تیختے ځائي ځان له اوګورم۔ بس دنیا کښي دومره نیك کار اوکړه۔ چه د عذاب قبر نه بچ شے۔ او باقي دا چه څنګه به وی نو پوره به درته هلته پته اولګي۔ ددے کنهه او حقیقت نه څوك خبر نه دی۔

علم الکلام کښي استاذ المحدثین مولانا محمد ادریس کاندهلوی" لیکلے دی: فقط یہ شخص عالم آخرت کی چیزوں کا مشاہدہ کرتا ہے باقی حاضرین میں سے کوئی نہیں دیکھتا اسطرح قبر کے لباس اور فرش وغیرہ وغیرہ کو سمجھو کہ وہ عالم غیب اور عالم برزخ کا فرش اور لباس ہے عالم شھادت والے اس کو کیسے دیکھ سکتے ہیں اگر دنیا کا فرش اور لباس ہوتا تو دنیا والے دیکھ سکتے۔

د بحث آخر کښي لیکي: عذاب قبر او نعیم قبر کتاب اللہ اور سنت رسول اور اجماع امت محمدیہ سے ثابت ہے اس پر ایمان لانا فرض ہے باقی اصل حقیقت اور کیفیت اللہ تعالی کو معلوم ہے۔

نوټ: (۱) مشهوره داده: چه معتزلو کښي ضرار بن عمرو او بشر المریسی د عذاب قبر نه انکار کوی۔ شاه انور" لیکلے دی: ما چه څو پورے خپله د هغوی عبارت نه وی لیدلے په تردد کښي یم۔

امام رازی" د سورة البقرة د آیت: ﴿ وَلَا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴾ د لاندے لیکلے دی: اما عندنا فالبنية ليست شرطا فی الحيوة ولا امتناع فی ان يعيدالله الحياة الی کل واحد من تلك الذرات والاجزاء الصغيرة من غير حاجة الی الترکيب والتاليف۔

(ب) : محاسن التاویل تفسیر کښې هم علامه قاسمیؒ ددے آیت د لاندے لیکی : وفی البیضاوی وحواشیه ان اثبات الحیوۃ للشهداء فی زمان بطلان الجسد وفساد البنیة ونفی الشعور بها دلیل علی ان حیاتهم لیست الجسد ولا من جنس حیاۃ الحیوان۔

یعنی د عذاب دپاره د ډهانچے سالمیت شرط نه دے۔ او د جسد مطلقًا نفی صحیح نه ده۔ که جسدنه وی۔ اجزاء ئې شته۔

(ج) : علامه آلوسیؒ د آیت د لاندے لیکی : واما القول بحیاۃ هذا الجسد الرمیم مع هدم بنیته وتفرق اجزائه وان لم یکن ذلك بعیدا عن قدرۃ من یبدء الخلق ثم یعیده لکن لیس الیه کثیر حاجة۔

(د) : شیخ زاده علی تفسیر البیضاوی ددے آیت دلاندے ٤٦٧ پاندے لیکی : لاشك ان حیاۃ الشهداء لیست بهذه الجسد بالضرورۃ لانهدامه وتلاشه واضمحلاله فلا بد ان تکون حیاتهم بوجه آخر روحانی وهذا قال ولکن لا تشعرون " لان شعورهم الا بالحیوۃ بهذا الجسد والحیوۃ لیست بهذا بل هی حیاۃ معنویة روحانیة فان الانسان ان کان محسنا کان روحه متنعما الی یوم القیامة۔ وان کان مسیئا کان معذبا الی یوم القیامة۔ والی هذا ذهب جماعة من الصحابة والتابعین واصحب الحدیث۔

آخر کښې دے هم لیکی : اما عندنا فلان البنیة لیست بشرط فی الحیاۃ ۔ او دا هم آخر کښې لیکی : ومما یؤید کون المراد بحیوۃ الشهداء الحیوۃ البدنیة ما روی ان رسول اللهﷺ قال ان ارواح الشهداء فی اجواف طیر خضر تسرح فی الجنة۔

حاصل داشو: چه عام اهل السنت وائی : چه د روح د بدن د اجزائے اصلیه سره من وجه تعلق شته۔ او د عذاب، ثواب دپاره ضروری او لازمه د بدن سالم کیدل شرط نه دی۔ داسے خبرے ته د عذاب قبر نه انکار د غرض سنډه په کمزوری سپر خیژول وائی۔

نودغه راجحه شوه۔ چه عذاب قبر روح او بدن دواړو له دے۔

د تعلق صراحت : المسلك المنصور کښې ددے مسئلے پوهه او سپیشلسٹ علامه خضر حیات هم خپل مایه ناز کتاب کښې لیکلے دی : ہم نے تعلق تصرف کی نفی کی ہے نہ کہ مطلق تعلق کی : ص ٥٦ ۔ او واقعی تصرف ثابتول، گرځیدل، حج کول، نفع او نقصان ورکول، او لیدل کتل وغیره دا تصرف مړی له نه دے ثابت۔

بعض متعصبین د شیخ القرآن محمد طیب طاهری مرکزی امیر جماعت اشاعت التوحید والسنة د مسلك الاکابر ص : ٢٥ پاندے اعتراض کوی : ہمارے مخالفین اسی مدفن ارضی میں عذاب وثواب قبر ثابت کرنے پر تلے بیٹھے

ہیں ۔ ددے نه دا غلط خیال ځان له مازغوکنبی کینوی۔ چه مدفن ارضی کنبی د عذاب او د ثواب قائل نه دے۔ حالانکه هغوی د مخالفینوپه حصر باندے رد کوی۔ اصل میں اردو محاورات کے اعتبار سے اس ہی ہے" اور تلے بیٹھے ہیں" ۔ کنبی دننه دا مضمون څکه پروت دے چه: ۲۷ باندے لیکی: البتہ اس دنیاوی یا عرفی قبر اور اس جسد عنصری کے ساتھ بھی عذاب وثواب کا ایک تعلق ہے لیکن ہم اس تعلق کی حقیقت اور کیفیت کونہیں جانتے ۔

او مسلك المأثور: ۵۱ باندے دی: ولکل روح بجسدها اتصال معنوی لا یشبه الاتصال فی الحیوة الدنیا ۔

مفتی محمودحسنؒ دیوسوال جواب کنبی لیکی: اس مولوی صاحب کی ان مجمل باتوں کی وجہ سے ان کومعتزلی کہہ کران کے پیچھے نماز نہ ہونے کا فتوی نہیں دیا جائے گا جب تک صراحۃ گمراہی کی تحقیق نہ ہوجائے ۔ (فتاوی محمودیه ۳ : ۳۲٤) .

په دغه وجه مفتی محمودؒ خپل تفسیرکنبی ددغے آیت ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لَّا تَشْعُرُون﴾ دلاندے لیکلے دی: یہ حیات کیسی ہے اور کیسی نہیں تحقیقات علمیہ ہے ۔

اومفتی محمدفرید صاحب فتاوی فریدیه ۱ : ۴۳۰ باندے لیکی: چه کله خپله نظریه بنکاره کړی۔ البتہ جو مشائخ حیوۃ برزخیہ کے قائل ہیں وہ اہل السنّت والجماعت میں داخل ہیں یہ مسئلہ نظریات سے ہے نہ ضروریات سے ۔ محمد فرید ۔ او ۴۳٦ باندے لیکی: چه راجحه دنیوی حیات اوسماع ده لیکن ۔ سماع اور حیات دنیوی نظری مسائل ہیں ضروریات دین سے نہیں پس یہ دونوں اشخاص لائق اقتداء ہیں ۔

اوصاحب الحق الصریح ۸ : ۲۹۹ باستغفار ولدك : چه د مومن بنده روح پس د مرگ نه جنت ته ځی۔ او د بدن سره ئی هم تعلق وی۔

تقریر الجنجوهی علی صحیح مسلم ٦۳ باندے دا عبارت دے: ویبقی لأرواحهم بابدانهم تعلق ما ولیس التعلق مثل التعلق الدنیوی ولا یقول بسماع الموتی امامنا ابوحنیفة لقوله تعالی وما انت بمسمع من فی القبور ولا یلزم من تعلق الروح بابدانهم سماعهم مع ان الحی اذا مدفن فی القبور لا یسمع ایضا وأجاب من حدیث یسمع قرع نعالهم ان المعنی فی مقداران یذهبوا حتی لوکان حی هناك یسمع قرع نعالهم ۔ او ۲۱ باندے دی: وعدم سماع الموتی وهومذهب ابوحنیفة۔ (دین محمدی پریس لاهور) ۔ او: ٦۴ باندے دی: لیس الارواح مثل التعلق الدنیوی۔

نوټ: بعض عباراتوکنبی لفظ د اعاده په تعلق حمل کیدے شی۔ لکه: هذا الرد اعادة خاصة لا یوجب حیوة البدن قبل یوم القیامة۔ (شرح فقه اکبر) ۔

الفصل الاول

حديث ۱: عن البراء بن عازب عن النبی ﷺ قال المسلم اذا سئل فی القبر یشهد ...الخ۔

"المسلم اذا سئل": ۔ د مسلمان سړی او ښځے نه۔ د مومن سړی او ښځے دواړونه به تپوس کیږی۔

الحق الصریح کښی دی: چه تپوسونه کیږی نود امام تپوس په کښی نشته۔ چه ته دچاپه مذهب باندے وے۔ ځکه دا الله نه دی مقرر کړے۔ یعنی په قبر کښی چه د کوم څیز تپوس کیږی۔ نودغه به دین وی۔ اونور به دین نه وی۔ پخوا یو غیر مقلد تیرشوید ے سلطان معصومی دهغه هم دغه اعتراض دے۔ او دین و مذهب کښی " من وجه" مغائرت هم دے۔

جواب: کتاب "اللامذهبیة اخطر بدعة تهدد الشریعة الاسلامیة" کښی دکتور محمدسعید رمضان ورله جواب داسے ورکوی۔ چه صرف دغه واجبات دی۔ چه قبر کښی ئی تپوس کیږی۔ د مړی نه قبر کښی د فرضو، د بیوع غیر منعقده۔ او د غیر شرعی معاملاتو تپوس به هم نه کیږی۔ د اهل وعیال او د هغوی د تربیت تپوس به هم نه کیږی۔ د کلیاتو تپوس کیږی۔

الدلیل الثالث: انه لم یثبت ای دلیل علی ان الانسان یسال فی قبره اذا مات، عن المذهب والطریق: ۱۰۔

وهذا الاستدلال یوضح۔ کما تری۔ ان صاحب الکراس یعتقدبان میزان معرفة الواجبات التی کلف الله الانسان بها انما هواسئلة الملکین فی قبر فکل ما یتعرض له الملکان بالسؤال عنه فهو الواجب المکلف به وکل ما لم یتعرض له فهو غیر واجب ولا مشروع۔ ولیست ادری، هل ثبت فی ای مصدر من مصادر العقیدة الاسلامیة ان الملکین یسئلان المیت عن الدیون والزمم التی علیه الناس او عن بیوعه التی لم تعقد صحیحة ومعاملاته التی لم تکن مشروعة وعن اهماله تربیة اهله واولاده او عن اوقاته التی کان یقضیها فی اللهو والعبث۔

(اللا مذهبیة اخطربدعة تهدد الشریعة الاسلامیة الدکتور محمدسعید رمضان البوطی: ٤٨ المکتبة الفارابی)۔

بیالیکی: کما قال الامام الشاه ولی الله الدهلوی فی حجة الله البالغة۔ وائی هغه وئیلے دی په ۱۵۲ باندے: چه دا تقلید خو په څلورمه پیړے کښی خلقو جوړ کړیدے۔

لیکن داسے نه ده ــ هغه داسے وئیلے دی: اعلم ان الناس کانوا قبل المائة الرابعة غیر مجمعین علی التقلیدالخالص لمذهب واحد ۔ د څلورمے صدیٔ نه مخکښی په تقلید خلق جمع نه وو۔ تقلید وو خوشخصی تقلید چه په یو امام تول جمع شی۔ نوداسے تقلید نه وو۔

ددے عبارت نه هرقسم تقليد منع كول غواړي - او" توجيه القول بمالا يرضى به قائله " كوي -
شاه ولی اللهؒ خوليكي : ان هذه المذاهب الاربعة المدونة المحررة قد اجتمعت الامة اومن يتعد به منها على جواز تقليدها الى يومنا هذا -
دے مولوی صاحب خود تقليد بحث كښې شاه ولی اللهؒ د حمدالله الداجوی سره يو ځائی كړيدے -
كما زعم بعض المعاصرين والمقلدين ان الاسلام كله منحصر فى المذهب الاربعة والخارج عنها ضال كما تفوه بذالك الشيخ اعزاز على فى خاشية نفحة العرب والصاوى فى تفسيره والداجوی فى بصائره وولی الله الدهلوی فى حجة الله البالغة وغيرهم - (فتاوىٰ خالص ٤ : ٢) -
علماء ليكي : وكيع بن جراح م ١٩٧ه دے - كان يفتى برأى ابى حنيفة - جامع بيان العلم ' تاريخ بغداد ' تاريخ دمشق د دريمے صدیء نه مخكښې وو - (٢) : كان اسد بن عمرو صدوقا وكان يذهب بمذهب ابى حنيفة - دے په ١٨٨ هجری كښې وفات شويدے - (تاريخ بغداد ٧ : ١٨١) -
(٣) : حماد بن اسحاق الازدى ١٧٠ هجری د امام مالك په مذهب وو - (تاريخ بغداد ٨ : ١٥٩) -
امام شاه ولی اللهؒ تقليد منى اوتقليدجائز منى -
حكمت القرآن كښې هم د تقليدبحث كښې ليكي : ولم يوجب الله على احد ان يتمذهب بمذهب معين وان يكون حنفيا او شافعيا - (شرح عين العلم ١ : ٤١٥) - ليكن وړاندے عبارت ئې حذف كړيدے - : بل يجب على آحاد الناس اذا لم يكن مجتهدا ان يقلد واحدا من هؤلاء الاعلام لقوله تعالى فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لاتعلمون -
نود پيغمبر باره كښې به تپوس كيږي - د امام په باره كښې به نه كيږي - د امام خبره د "هذا الرجل " وضاحت دے - او د "هذا الرجل " نه خلاف نه ده - هريو امام چه دے كه امام شافعیؒ دے - او كه امام مالكؒ دے - د "هذا الرجل " د احاديثو وضاحت او تطبيق ئے كړيدے - دوی د نبی ﷺ د خبرے د مخالفت دپاره نه دی راغلے - مقابل نه دی - ائمه د پيغمبرد خبرو وضاحت كوی -
"فى القبر" : - او قبر يعنی عالم برزخ دے - كه يوتن خخ نه كړے شو - هم به ترے تپوس كيږي -
دے مقام سره مناسب مفصل روايتونه تفسير ابن كثير ذكركړيدی ددے آيت د لاندے : ﴿ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ﴾ - (سورة الاعراف : ٤٠) -
"من ربك" : - دے نه مراد توحيد د الوهيت دے - چه كله الوهيت او ربوبيت دواړه ذكرشی

نو هریو به ځانله ځانله اخلے۔: ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ، مَلِكِ النَّاسِ ، إِلَهِ النَّاسِ ﴾۔ رب اواله ئی دواړه ذکر کړیدی ۔ یو ربوبیت دے او بل الوهیت دے ۔ "من ربك" ، یعنی "من الهك" ۔ لکه عالم ازل کښی ئی تولوته وئیلے دی : شهدنا انك ربنا والهنا۔ هلته ربوبیت او الوهیت دواړه دی۔ لیکن دا شعور، سوال و جواب عالم برزخ کښی دے۔ او عالم برزخ کښی من وجه د عذاب و تنعیم نه انکار نشته۔ خو د دنیا سره ئی هیڅ تعلق نشته۔ او کیفیت ئی مجهول دے۔

د مرګ نه پس به هر مړے تعلیم یافته وی۔ قیامت کښی به ورته وائی : اقرء کتابك ۔ دے به عملنامه لوستے شی۔ اوکله به وائی دے عملنامے خوزما هرګناه دلته محفوظ کړیدے۔

ملا علی قاریؒ دلته په مرقات کښی ۲۰۵ باندے لیکی : لوکان المیت اعجمیا صار عربیا ۔ او آخرکښی ۱۱ : ۲۷۲ باندے لیکی : ان سؤال القبر بلسانهم ۔ او علامه ابن حجرؒ فرمائی : چه احتمال شته چه خپله ژبه کښی به دا تپوسونه وی۔ ځکه چه قرآن کښی دی : ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ ﴾۔ امام بلقینی وائی : چه دا تپوس به سریانی ژبه کښی کیږی۔ او علامه ابن قیمؒ قصیده نونیه کښی لیکی : چه په عربیء کښی تپوس دے۔ او لسان اهل الجنة فی الجنة عربی ۔ باندے کلام کړیدے۔ چه روایت ضعیف دے۔

ولقد أتی آثر بان لسانهم بالمنطق العربی خیر لسان

لکن فی اسناده نظر ففیه راویان و ما هما ثبتان

اعنی العلاء وهوابن عمر ثم یحی الاشعری وذان مغموران

(قصیدة النونیة : ۲۲۲)

حدیث ۲: وعن انس قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذاوضع فی قبره وتولی عنه ...الخ۔

"اذا وضع فی قبره": ۔ چه کله په قبرکښی کیخودے شه۔ چه دا عالم برزخ دے۔ هغه خاص قبرضروری نه دے۔ که وی خه ده اوکه نه وی۔ نو هرځائی چه پروت وی۔ یا أجزاء ئی موجود وی۔

"وتولی عنه اصحابه" دده نه ملګری واپس شو۔ **"لیسمع قرع نعالهم اتاه ملکان"**: ۔ یقیناً آوری دا مړے د ژوندود پیزار چغار۔ چه راشی دوی ته دوه ملائك۔ (بخاری نمبر : ۱۳۷٤ ، مسلم نمبر: ۷۳۹۵)۔

مسئله د سماع الموتی

دامسئله ده د سماع موتی۔ مړی آوری او که نه آوری ؟ ۔ نودلته خو دا راغلے دی چه آوری۔ " انه لیسمع قرع نعالهم " دا کنایه ده د سرعت اتیان د ملائکو نه۔ تلخیص کښې دی : الکنایة لفظ ارید به لازم معناه مع جواز ارادة معه ۔ علامه تفتازانی تشریح کښې لیکی : ای ارادة ذالك المعنی مع لازمه کلفظ طویل النجاد المراد به طول القامة مع جواز ان یراد حقیقة طول النجاد ایضًا۔ (مختصر المعانی : ۴۳۲)۔

مولانا رشید احمد گنگوهیؒ فرمائی : لوکان حیًا۔ فرض کړه که دا سړے ژوندے وی۔

سوالات او جوابات ورسره دومره زر شروع کیږی۔ که چرته دا ژوندے وے۔ نوده به دا چغار آوریدے۔

" لوکان حیًا " قضیه شرطیه ده۔ دا وقوع خارج کښې نه غواړی۔

:﴿ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ﴾۔ آیت د لاندے تفسیر احسن الکلام کښې دی : دا قضیه شرطیه ده۔ وجود د جزئین نه غواړی۔ صرف صدق د ملازمے غواړی۔ (۳ : ۲۹)۔

او اعلام المؤقعین ۳ : ۳۴۳ باندے دی : والقضیة الشرطیة هی التی یصح الارتباط بین جزئیها سواء کانا ممکنین او ممتنعین ۔

دویم : " انه لیسمع قرع نعالهم " دا په اول وضعے باندے خاص دے۔ دا ابن الهمام په فتح القدیر کښې وئیلے دی : اللهم الا ان یخصّ ذالك باول الوضع۔ اول وضع کښې دا آوریدل کیدے شی۔

د جماعت اشاعت التوحید والسنة امیر شیخ التفسیر مولانا محمد طیب مدظله د تنویر الجنان : ۸۹ باندے لیکلے دی : فانه ورد ردّها الیه وقت سلام المسلم وورد انه یسمع خفق نعالهم حین یؤلون عنه وهذا الرد اعادة خاصة لا یوجب حیوة البدن قبل یوم القیامة ۔

اګرچه د " رد السلام " روایت ډیر مضبوط نه دے۔ کلام پرے شته دے۔ د کلام دپاره د بنده کتاب " الترجمان لمدائح التبیان " : ۳۹ تا ۴۰ ته رجوع اوکړه ۔

مسئله کښې اختلاف دے۔ تول درے اقوال په دے کښې دی۔

التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیث مولانا محمد زکریاؒ وائی : وقیل لایسمع حتی یاتیه الملکان فالمعنی سمعه لوکان حیًا ۔ دا مرقات کښې ملا علی قاریؒ هم ذکر کړیدے۔ خولیکن روستو التقریر الرفیع کښې دی په دے مسئله کښې اختلاف دے۔ درے مذهبونه دی۔ (۱) : اول انکار د سماع کوی مړی نه آوری : کما هو رای عائشة وقتاده ونووی وابن الهمام من الحنفیة ۔ عائشه رضی الله عنها فرمائی هغه روایت د

قلیب بدر کښې : انهم الان لیسمعون " معنی ده "لیعلمون " ـ سمع نه مراد علم دے ـ او سمع نه علم مراد اغستے شے ـ : ﴿فَمَنۡ بَدَّلَهٗ بَعۡدَ مَا سَمِعَهٗ﴾ (سورة البقرة : ۱۸۱) ـ

تفسیر جلالین معنی کوی : بعد ما علمه ـ انهم آلان لیعلمون ـ قتاده قول ئې ذکرکړیدے ـ

بخاری کښې راځی : قال قتاده احیاء هم الله تعالی حتی اسمعهم قوله توبیخًا وتصغیرًا ونقمةً وحسرةً وندمةً ـ

داقول ئې ورته واورو ددے دپاره چه ددوی دا خپیمانتیا نوره هم ډیره شی ـ

بل حدیث باب المعجزات کښې به راشی : انهم آلان لیعلمون ما اقول لهم ـ دوی اوس خامخه هغه آوری چه څه ئې ورته وایم ـ نو دا قضیه حینیه اوقضیه شخصیه ده ـ دوی ترے قاعده کلیه جوړه کړه ـ او دا معجزه ده ـ یو قتادهؒ دویم عائشه رضی الله عنها دریم نوویؒ څلورم قول ابن الهمامؒ د اکثراحنافو علماء وائی نه آوری ـ یوبل کتاب دے الکوکب الدری د مولانا رشید احمد گنگوهیؒ تقریر دے ـ دمولانا زکریاؒ والد ماجد جمع کړیدے ـ مولانا یحیؒ او شیخ صاحب پرے حاشیه خیژولے ده ـ هلته مولانا زکریاؒ د عائشه رضی الله عنها نوم اغستے دے ـ اوپه هغے کښې ئې ورسره ذکرکړیدی : ومنهم الامام ـ یعنی امام ابوحنیفهؒ هم دے ـ چه وائی مړی نه آوری ـ

تفهیم المسائل د بشیرالدین قنوجی کښې د امام ابوحنیفهؒ فتوٰی د الغرائب والعجائب نه نقل کړے ده درغرائب فی تحقیق المذاہب مےنویسد رآی الامام ابوحنیفة من یاتی القبورلاهل الصلاح فیسلم ویخاطب ویتکلم ویقول یا اهل القبورهل لکم من خیر وهل عندکم من آثرانی اتیتکم وناديتكم من شهور ولیس سوالی منکم الا الدعاء فهل دریتم ام غفلتم فسمع ابوحنیفة یقول یخاطبه بهم فقال هل أجابوا لك قال لا فقال له سحقالك وتربت یداك کیف تکلم اجسادًا لا یستطیعون جوابا ولا یملکون شیئًا ولا یسمعون صوتًا وقرء " ما انت بمسمع من فی القبور " انتهی.

(۶۷ ط محمدی واقع لاهور) ـ

معلومه شوه : امام صاحبؒ په خپله وئیلے دی ـ چه مړی نه آوری ـ فتاوٰی دارالعلوم دیوبند د مفتی عزیزالرحمن د امام ابوحنیفهؒ نوم ئې اغستے دے ـ چه مړی نه آوری ـ څکه علماء وائی : چه مسئله د اکثراحنافو او د شوافع په مینځ کښې یا د قلیب بدر سره متعلق جزوی نوعیت کښې اختلاف دے ـ دغه خاص وخت کښې د خاص مړو خبره ده ـ

د سورة الشعراء آیت ۷۲ : ﴿قَالَ هَلۡ یَسۡمَعُوۡنَكُمۡ اِذۡ تَدۡعُوۡنَ﴾ د لاندے مواهب الرحمن تفسیرکښې دی : امام ابوحنیفہؒ کا قول ہے کہ مردے نہیں سنتے علمائے حنفیہ سب متفق ہیں کہ مردے نہیں سنتے ـ او تفسیر کشف الرحمن کښې :

﴿فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ﴾ (سورة الروم ۵۲) ـ په تشریح کښې دی: حضرت عائشہ صدیقہ نے اس آیت سے مردے کے نہ سننے پر استدلال کیا یہی اکثر مشائخ حنفیہ کا مسلک ہے

او علامه آلوسیؒ لیکلے دی: والحق ان الموتٰی یسمعون فی الجملة او هذا الوجه الذی یترجح عندی.
دا مسئله فرعی ده ـ په فرعی مسئله کښی قاعده داده. چه ته به د مخاطب نه چه کله هغه ځان ته حنفی وائی. مطالبه کوی چه د امام ابو حنیفهؒ قول پیش کړه. د فقه حنفی تصریح پیش کړه. چه مړی آوری ـ اصولی مسئلو کښی چه دوی بحث کوی. نو دوی فقه، حاشیه او شعر پیش کوی. فرعی مسئله کښی بحث وی. نو بیا به حدیث پیش کوی. مړی آوری وائی قلیب بدر کښی آوریدلے دی. تحقیق ئی څه التبه دے.

د سیدنا عائشه رضی الله عنها مذکوره توجیه باره کښی بصائر ۵۷ کښی دی: هذا القول جدیر بان یضحك به. لائقه ده چه وریورے خندا اوکړے شی. نو مور پورے خوځوك خاندی نه. عائشه رضی الله عنها خو زمونږ مورده. او شیخ د پنج پیرؒ توجیه د ځانه نه ده کړے. چه هغوی مراد شی. بلکه د عائشه رضی الله عنها توجیه ئی ذکر کړے ده.

د بریلیانو مشرهم توهین کوی:

تنگ و چست ان کا لباس وہ جوبن کا ابھار   مسکی رہتی ہے قباء سر سے کمر تک لے کر

بریلیان وائی: دا حصه د حدائق بخشش د اعلی حضرت نه ده. دروغ وائی.
کشف مغالطات مولانا محمد ابراهیم بلیاویؒ لیکلے دے. په هغے باندے د علماء دیوبند دستخطونه دی. دومره دستخطے په المهند نشته. په هغے باندے د مولانا الیاسؒ هم دستخط شته.
هغه وائی مړی نه آوری.

دویم قول: د عمر رضی الله عنه، د ابو طلحه رضی الله عنه، ابن عمر رضی الله عنه، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، جمهور امت اکثر مشایخ ددوی قول مطابق حاشی والا د التقریر الرفیع لیکلے دی. چه هغوی وائی: چه مړی آوری. لیکن دے کښی کلام هم شته.

دریم قول: سماع جزی دے. او دا زمونږه بعضے مشرانو ونیلے دی. دے اوس وخت کښی چه کله قبر کښی کیخودلے شی. ملګری ترینه آخوالا ړ شی. عام آوریدل نشته. مواضع مخصوصو کښی آوریدل شته ـ داخبره فتح الملهم کښی مولانا شبیر احمد عثمانیؒ کړے ده ـ چه اصول او ضابطه داده

چه مړی نه اوري۔ او مستثنیات شته۔ چه علامه الوسیؒ ترے تعبیر په قدر فی الجملة سره اوکړو۔ مواضع مخصوصو کښي د اوریدلو مسئله فرعي ده۔ هرسړے د هر وخت د هر چا خبره اوري۔ دا قطعي باطله او غلطه ده۔

مرقات کښي "لو کان حیًا" عبارت دلاندے لیکي : اذ ثبت بالاحادیث ان المیت یعلم من یکفنه ومن یصلي علیه ومن یحمله ومن یدفنه۔

حیاة القلوب فی بیان سماع الاموات د مولوي احمد رضا خان بریلوي ط حامداینډ کمپني لاهور: ۳۹ باندے لیکي : امام احمد وابن ابی الدنیا وطبراني ومروزي وابن منده د ابوسعید خدري روایت نقل کوي۔ چه سید عالم ﷺ فرمائیلے دي : ان المیت یعرف من یغسله ویحمله ومن یکفنه ومن یدلیه في حفرته۔

او البصائر: ۴ کښي باندے مولانا حمد الله الداجوي لیکلے دي : ډاکټر سراج الاسلام ورله داسے علاج کوي۔ چه د مسند احمد سند داسے دے : حدثني عبدالله حدثني ابي قال حدثني عبدالملك بن عمر ابو عامر .... فلان بن معاویه یا معاویه بن فلان ' مجهول ہے ۔ (مجمع الزوائد ۳ : ۲۱) ۔

دا روایت ضعیف دے۔ یو خو دا روایت ابونعیم اصفهاني راغستے دے۔ په طریقے د عطیه سره۔ او عطیه راوي ضعیف دے۔ دویم دا روایت هیثمي راغستے دے په مجمع الزوائد کښي۔ او په دے کښي یو سړے دے۔ چه د هغه ترجمه هم نه ده معلومه۔ چه دا څوك دے۔ په دے روایت رد کړیدے: مسند احمد تعلیق والا ۱۷ : ۲۹ ۔

په دے مسئله کښي اختلاف ثابت دے امام ابن تیمیةؒ لره۔ هغه وائي مړي آوري۔ هغه وائي مړے کس پیژني۔ مونږه ابن تیمیةؒ پسے هرځائي کښي کډه نه کړځو۔ او دغه راجح ده چه عادي سماع بیا د هرفرد او هر وخت کښي قطعًا نشته۔

"**فیقعدانه**" :۔ دواړه ئي کینوي۔ او روستو حدیث کښي راځي : **فیجلسانه** "۔ یو قعود دے او یو جلوس دے۔ قعود په مقابله د قیام کښي راځي۔ او جلوس په مقابله د ملاستے کښي راځي۔ کله د یو بل په ځائي هم استعمالیږي۔ دے په قبر کښي وارخطاء شي اول او دریږي۔ نو بیا سملی نو بیا کیني۔

"**ماکنت تقول في هذا الرجل**" :۔ دے سړي باره کښي ته څه وائي۔

بریلیان وائي چه ثابته شوه۔ چه پیغمبر حاضر او ناظر دے۔ " هذا الرجل " ئي وئیلے دے۔ په هذا اسم اشارے سره۔ بریلیه اول ئي " رجل " او منه۔ نور ذاتي ورته مه وایه۔ جبریل علیه السلام باندے د " رجل " اطلاق نه کیږي۔

احمدرضا خان په ملفوظات حصه چهارم : ۶۹ بانده لیکلے دی : نہ معلوم سرکار خود تشریف لاتے ہے یا روضہ مقدسہ کا پردہ اُٹھایا جاتا ہے شریعت نے کچھ تفصیل نہیں بتائی ۔

بعضو علماء دا وائی : چه کشف اوشی د نبی ﷺ . خوپه دے بانده هم څه دلیل نشته دے ـ بعضے وائی وجود مثالی ورته ښکاره شی ـ مثلاً یو کس په تی وی بانده تقریر کوی ـ نو هر ځائی کښې ښکاری ـ دے له هم دلیل نشته ـ

څه جواب داده : چه داسے اووائی "هذا" اسم اشاره نه محسوس بالبصر کښې ئې استعمال نه دے مراد ـ بلکه وجود ذهنی ورله کافی دے ـ وفد د عبدالقیس هغه روایت تیر شو ـ چه دوی راغلے وو ـ نبی ﷺ ته ئې وئیل : وبیننا وبینك هذا الحی من کفار مضر ـ دا " هذالحی " خوپه نظر نه راتله ـ او "هذا" سره ئې اشاره اوکړه ـ دے له وجود ذهنی کافی دے ـ

او د شاه انورؒ فیض الباری ۲ : ۳۱۴ بانده دی : واعلم ان النداء والخطاب لاستحضار المنادی فی ذهنه سواء کان حاضرًا فی الخارج او لا ـ

دویم هرقل د ابوسفیان نه تپوس کړے وو ـ دبخاری روایت کښې راځی : قل لهم انی سائل هذا عن هذا الرجل ـ او نبی ﷺ په مکه کښې وو ـ او ابوسفیان دیخوا په روم کښې ناست وو ـ دا څه جواب دے ـ او دا جواب مولانا عبدالحی لکنهویؒ د شرح الوقایه ابتدائی خطبه کښې ذکر کړیدے : اما بعد فهذه ـ بره حاشه بانده داحدیث ئې ذکر کړیدے ـ او وجود ذهنی ئې ترے مراد اغستے دے ـ

" فاما المومن فیقول اشهدانه عبدالله ورسوله فیقال له انظر الی مقعدك من النار " : ـ

انسان دپاره دوه سیټونه دی ـ یو په جنت او بل په جهنم کښې ـ د جنت سیټ چه اوګټی ـ نو د جهنم سیټ ورته اول ښکاره کړی ـ هغه ستا سیټ وو ـ خو الله جنت ته راوستے ـ او که د جنت سیټ اوبیلی ـ نو اول ورته د جنت سیټ اوښائی ـ چه ستا ځائی دغه وو ـ لیکن خپل عمل دلته راوستے ـ د چا خوشحالی زیاتیږی ـ او د چا خفګان هم ورسره زیاتیږی ـ

که چرته جنت ته نه وے راغلے ـ نو دغه ستا ځائی وو ـ الله درله د جنت سیټ درکړو : ﴿ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴾ ـ (سورة القمر : ۵۵) ـ

"فیراهما جمیعا " : ـ دواړه سیټه ورته اوخودلے شی ـ

"واما المنافق والکافر": ـ هرچه منافق اوکافر دی. دا "واو" د مغائرت دپاره دے. منافق ځانله شه اوکافر ځانله شه ـ دلته یواختلافی مسئله ده. کافرنه به په قبرکښې تپوس کیږی اوکه نه کیږی ـ التذکرة فی احوال الموتی کښې علامه قرطبی د علامه ابن عبدالبرؒ دکتاب التمهید په حواله لیکلے دی : فلیس ممن یسال عن ربه ودینه ونبیه وانما سئل عن هذا اهل الاسلام ـ والله اعلم ـ بیا خپل قول ذکرکوی : قال المؤلف قول ابی محمد عبدالحق اصوب ' والله اعلم ـ فان الاحادیث التی ذکرناها من قبل تدل علی ان الکافر یسئله الملکان ویختبرانه بالسؤال ....الخ. (١٦٧).

ملاعلی قاریؒ لیکلے دی : واستثنی من عموم سوال القبر الانبیاء علیهم السلام والاطفال والشهداء.

کوم ماشوم له چه تمیز نه وی ورکوتے مړشوے وی. د هغه نه به او د شهیدانو ' پیغمبرانونه به تپوس نه کیږی.

ارشاد الساری کښې علامه قسطلانیؒ په شرح د بخاری کښې ٣ : ١٣٦ د ابن قیمؒ په کتاب الروح په حواله لیکلے دی : وفی الکتاب والسنة دلیل علی ان السوال للکافر والمسلم.

داسوال د کافر دپاره هم دے. اومسلمان دپاره هم دے. که ته وائی کافرته څه حاجت دے. نوشرمول به ئی مطلب وی. "وهل یسئل الطفل" ـ دماشومانونه به تپوس کیږی. چه کوم ماشوم ممیز دے. جزم القرطبی فی التذکرة ' چه تپوس به ترینه کیږی. اواحناف وائی تپوس به ترینه کیږی.

دویم حافظ ابن رجبؒ داد ابن تیمیهؒ شاګرد دے. خپل کتاب احوال القبور کښې لیکلے دی : چه دا مومن به اوو ورځے په امتحان کښې وی ـ اوکافر به څلویښت ورځے په امتحان کښې وی. نوبیا وریسے یو خبره ذکرکوی. چه مستحبه خبره داده : د کومے ورځے نه چه مړدے. نو دهغے ورځے نه وریسے خیرات اوکړے. بعضے عالمان دا روایت ذکرکوی. چه دریوورځو کښې هم خیرات شته دے. ارشاد الساری کښې علامه قسطلانیؒ لیکی : لا اعلم احدًا قاله غیره ـ وائی داد خبره ده ځانله. ماته بل څوك نه وو معلوم چه دا خبره ئی کړے ده. نوګویا دا رد دے د حافظ ابن رجبؒ په خبره باندے.

"کنت اقول ما یقول الناس": ـ هغه خبره به ما کوله کومه خبره به چه خلقوکوله.

الحق الصریح کښې دی : هغه وائی د منافق داخبره بعینه تقلید دے. کومه خبره نو دا "اقول ما یقول الناس" ـ نوبیا ئی په تقلید باندے رد شروع کړیدے. وائی دلیل دا غټه غوښه ده. او مقلد د ختے بیمار دے. د چرګ د مالګے څټلوسره څه کار دے. د مقلد د دلیل سره څه کار دے. دوی وئیلے دی:

واما المقلد فمستنده قول مجتهد ـ بيا وريسے دا هم وئيلے دی مسلم الثبوت كښې دی " لاظنه ولا ظنه " ـ
د مقلد ظن دليل نه دے ـ او مجتهد ظن هم دليل نه دے ـ ترڅوپورے چه مفتي به كړے نه وی ـ اوكله چه مجتهد منے نو مجتهد سره خودليل وی ـ دهغه په قول باندے اعتماد اوكړی ـ نودغے ته تقليد وائی ـ يعنی كه مجتهد ته ديو څيز ظن اوشو ـ ليكن قول او فتوٰی ئے پرے نه ده كړے ـ نوپه مقلد ئی عمل واجب نه دے ـ

خلاصه داده : چه مقلدله نه خپل ظن اونه د مجتهد ظن دليل دے ـ د مقلد علم، د وجوب عمل سره متعلق د فقه د تعريف نه خارج دے ـ ځكه چه د مقلد علم د ظن په وساطت دا نه خپله په امارت سره دے ـ اونه د مجتهد د ظن په وساطت ـ بلكه په وساطت د قول د مجتهد دے ـ په دے وجه مقلد ته فقيه نه شي وئيلے كيدے ـ وريسے د مسلم الثبوت عبارت دے ـ

فافرق الفرق : مقلد او مجتهد كښې فرق

مجتهد ته د خپل ظن په موجب باندے د عمل د وجوب جزم په اجماع سره وی ـ اومقلد ته نه د خپل ظن په موجب باندے د عمل د وجوب جزم دے ـ اونه د خپل مجتهد د ظن په موجب باندے بلكه د مقلد ظن صرف ظن وی ـ د علم درجے ته نه رسی ـ ځكه چه ده له په ظن باندے د عمل وجوب بالاجماع نشته ـ بلكه ده له د خپل مجتهد په قول عمل واجب دے ـ
اوفاضل اله آبادی ئی دا توجيه ذكركوی : چه د مجتهد قول په هغه بناء مقلد له دليل جوړيدے شي ـ ځكه چه دے ددغے ظن د اظهار يو ذريعه ده ـ نوپه حقيقت كښې قول ته مستدل وئيل، ظن ته مستدل وئيل دی ـ ددے كلام مطابق د مقلدعلم په فقه كښې داخل شو ـ مسئله وه چه د مقلد علم په فقه كښې داخل دے اوكه نه دے ؟ ـ او دوی ترے څه جوړكړل ـ
احنافوله چانړكړے شوے صفا دچيلي اودګډ روحاني غوبنه راكړے شوے ده ـ مونږ په غټه غوبنه څه كوو ـ چه هغے كښې د علامه البانی"، شوكانی اودخپلو عالمانونه بغير څوك بله نه شي كولے ـ
لغات الحديث ١ : ٦٥ باندے علامه وحيد الزمان ليكلے دی : تعجب اہل الحدیث سے ہے کہ دعوی کے باوجود مولوی
اسماعیل، شاہ ولی اللہ اور شوکانی کے تحت مقلد ہیں ـ او ابراز الغی كښې : ٦ باندے مولانا عبدالحی لكهنوی" ليكی :
انه يقلد تقليدًا جامدا لابن تيمية وللشوكاني ـ آخركښې ئی " الی الله المشتكی " هم فرمائيلے دی ـ
"لادريت لا تليت" : ـ معلومه شوه تقليد شته دے ـ دوی چه وائی دلته په تقليد باندے رد دے ـ نو

" لا دریت ولا تلیت " کښې د تقلید اثبات دے۔ " ولا دریت " نه دے پخپله څه وئیلے وو۔ دلته د حدیث په حاشیه باندے دی۔ چه دوه د نجات لارے دی۔ یو تحقیق او تسدید او بل متابعت یعنی تقلید۔

او علامه طیبیؒ الکاشف عن حقائق السنن کښې ددے حدیث لاندے لیکی : لا دریت ولا تلیت ما علمت بنفسی بالنظر والاستدلال ، ولا اتبعت العلماء بالتقلید ۔ نه پخپله مجتهد وے د نظر او استدلال نه دے کار اغستے وے۔ او نه دے د علماء تابعداری کړے وه۔ چه تقلید دے کړے وو۔ تحقیق او تقلید مانعة الجمع نه دی۔ او ارشاد الساری کښې علامه قسطلانیؒ هم ددے حدیث لاندے لیکی ۳ : ۹۳،
لا علمت بالاستدلال ولا اتبعت العلماء بالتقلید فیما یقولون ۔

او د نسائی ۲ : ۳۰۵ باندے د بحث نه روستو حاشیه کښې دی : فالمحقق المعتمدعندنا ان یقتدی بمجتهدواحد لئلا یختلط علیه الامر فی المسائل الفرعیة ۔

علامه ابن العاشورالتحریر والتنویرکښې د سورة الملك ددے آیت د لاندے : ﴿ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴾ لیکی : ومن العجیب ما ذکره صاحب الکشاف ان من المفسرین من قال ان المراد من الآیة لو کنا علی مذهب اصحاب الحدیث او علی مذهب اصحاب الرأی ولم اقف علی تعیین من فسر الآیة بهذا ولا احسبه الا من قبیل الاستدراج ۔ دوارو توجیهوته ئی کپ شپ وئیلے دے۔ حالانکه د تقلید خبره علامه کرمانیؒ، شیخ عبدالحقؒ او مولانا اشرف علی تهانویؒ کړے ده۔
بعض علماء دا مطلب ذکرکوی : ما اتبعت اهل الجنة وما قرء ت القرآن۔

"ویضرب بمطارق من حدید": ۔ اووهلے شی دے د اوسپنو په گرزونو باندے۔ " مطارق " څټکوته دی۔ جمع د مطرق ده۔

بریلیان وائی : چه کله یو سړے د شیخ عبدالقادر مرید وی۔ نو په هغه گرز آثر نه کوی۔ اونه ملك ورته څه وئیلے شی۔ رشید البیان په آخرکښې یو پانړه گنډلے ده۔ وائی د شیخ عبدالقادرؒ یوژرنده گړے مرید د شیخ وو۔ هغه به هغه غنم اوړول۔ چه مړشو۔ نو دهغه نه قبرکښې تپوس اوکړو۔ ده ورته وئیل :

څه غلام د دستگیر یم	ژرنده گړے د لوئے پیر یم
مخ تورن یم تر سبحانه	د بغداد شاه میرانه
گرز ئی واغستوتش لاس شو	لاړو رب ته په وسواس شو

چه دا کفر او شرك نه وی۔ څه ته به شرك وائی۔

د بعضے غلطو پیرانو او باطلے عقیدے لرونکو شیخانو دا عقیده ده۔ چه څه کوم تعویذ اولیکم۔ او د مړی په تندی ئی اوتړی۔ ملائك ورته په قبر کښې هیڅ نه وائی۔ " انا لله وانا الیه راجعون "۔
ځوك گپ شپ لگوی چه ورته اووائی " من ربك " ملائك ترینه تپوس اوکړی۔ نو دے به ورته وائی چه علم نحو دے نه ده وئیلے۔ ستا " من " استفهامیه دے۔ او زما " من " موصوله دے۔ ددے په جواب کښې " الذی ربك فهوربی "۔ دغه گپ شپ ته بیا به نه ئی سم۔

"فیصیح صیحة یسمعها": ۔ داسے گزار به ورله ورکړی۔ خوا کښې به آوری " غیر الثقلین " غیر ثقلینونه۔ د جن او انس نه علاوه۔ قاضی شمس الدینؒ لیکی: خواکښې برزخ کښې کوم ملائك دی هغه به ئی آوری۔ او " غیر الثقلین " یا منصوب دے بناء براستثناء۔ او یا مرفوع دے بناء بر بدلیت۔
او دوی ته ئی ځکه نه آوروی۔ چه ایمان بالغیب فوت نه شی۔ داخو بیا په دے باندے دده ایمان ضروری شو۔ چه په هغے ثواب نه ملاویږی۔ او ددوی د آوریدلو سره به د دنیا نظام معطل شی۔ ځکه مرقات کښې ضرب المثل ذکر کړیدے: لولا الحمقی لخربت الدنیا ' او لولا الامل لاختل العمل ۔ دنیا په امیدونه خوړے شی۔ " لولا الحُمقٰی " ضرب المثل شیخ الهندؒ هم په تقریر ترمذی کښې ذکر کړیدے۔
معلومه شوه: چه بعضے باطل پرست چه کومه دعوٰی کوی۔ چه د فلان د قبرنه د سپو آواز راځی۔ دا سو چه دروغ دی۔ ځکه دے به د ثقلینونه نه وی۔ څه بل جنس به وی۔﴿وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ﴾(سورة طه: ٦١)

حدیث ۳: وعن عبدالله بن عمر قال قال رسول الله ﷺ ان احدکم اذامات عرض ..الخ۔

کله چه یو تن مړشی۔ نو هغه باندے پیش کولے شی خپل سیټ صبا او بیگاه۔
"ان کان من اهل الجنة فمن اهل الجنة": ۔ چه کله شرط او جزا کښې اتحاد وی۔ دا دلالت په فخامت کوی۔ **" هذا مقعدك حتی یبعثك الله الیه یوم القیامة "**: ۔ دا ستا ځائی دے۔ دے ته به دے الله لیگی ۔ او پورته کوی به دے د قیامت په ورځ۔ اوس به نه ځی صرف علامات ئی درته ښائی۔ د جنت هغه کهړکیء ورته کهولاء کړی۔ خوشبو راځی۔ یا د دوزخ هغه گرمه هواء راځی۔
"حتی یبعثك الله الیه": ۔ ضمیر یا راجع دے مقعد ته۔ په دے مقعد کښې به مستقر موجود ئی۔ چه څو پورے ددے مثل جنت یا دوزخ ته دے تشکیل اونه شی۔ یا ضمیر راجع دے الله ته ' الیه ای الی لقائه ' مراد دے۔
علامه طیبیؒ فرمائی ضمیر یوم الحشر ته راجع دے۔ دا اوسنے مقام دے ترمحشره۔

حدیث ۴ : وعن عائشة رضی الله عنها ان یهودیة دخلت علیها فذکرت عذاب ...الخ۔

یوه یهودنړه ښځه عائشے رضی الله عنها کره راغلے وه۔ یهودنړه ولے راتله۔ او په قرآن کریم کښې خو سورة النور کښې راځی : ﴿ولا نسائهن﴾ مسلمانه ښځه به مسلمانانو کره ځی۔ او دغسے په استحباب حمل دے۔

جواب : دادے یهودیانے ښځے راتلے شی خو په هغه وخت کښې چه کله د مسلمانے ښځے ایمان دومره کلك وی ۔ چه دامسلمانه پرے آثرا چوی۔ دا ترینه آثر نه اخلی۔ یو خوداده چه یوانگریزه راشی او ښځے گمراه کوی۔ ددے نه معلومه شوه د کافرے ښځے نه پرده یوے مسلمانے ښځے له مستحب ده۔ چه پرده اوکړی۔ یو دا یهودنړی راشی۔ او دا مسلمانه د کلك ایمان په لحاظ پرے زوروره ده۔ نو بیا خیر دے۔

"اعاذك الله من عذاب القبر": ۔ دا یهودیه سیدنا عائشے رضی الله عنها ته وائی۔ الله دے د عذاب قبر نه اوساته۔ عائشه رضی الله عنها د نبی ﷺ نه تپوس کوی۔ چه دادے په دعا کښې څه قسم الفاظ اووئیل ۔ عائشے رضی الله عنها دانه وو آوریدلے۔ نبی ﷺ ورته اووئیل **" نعم عذاب القبر حق "** عذاب قبر حق دے۔

امام طحاوی ؒ لیکلے دی : چه اول نبی ﷺ ته هم په ابتداء کښې د عذاب قبر علم نه وو۔ یا ورته معلومه وه ۔ خو داوحی ورته نه وه راغلے ۔ چه د مومن گناهگار دپاره هم عذاب شته۔ بیا ورته وحی راغله۔ اول ئی سرًا پناه اوغوختله۔ نو د وحی راتلو نه ئی روستو اووئیل چه عذاب قبر حق دے۔ عذاب قبر مومن له من وجه هم دے ۔ په خپله مرتبه۔ او کافر له هم دے پخپله مرتبه۔ په دے توجیه د طحاوی باندے علامه ابن حجر ؒ رد کړیدے۔ او وئیلے ئی دی د امام طحاوی ؒ دا توجیه بے دلیله ده۔

ملا علی قاری ؒ فرمائی : د امام طحاوی ؒ داخبره ځانله په خپله دلیل دے هغه لوئی محدث دے۔ مقدمه د مشکوة کښې دی : وان کان نقله وانه من الثقات کالاسناد ۔ د ثقه نه چه قول نقل کړے۔ نو دا سنددے ۔ مرقات کښې ملا علی قاری ؒ فرمائی : چه یو خود امام طحاوی ؒ دا خبره پخپله سند دے۔ او دلیل دے۔ بیا وړپسے وائی : واما قول ابن حجر وما نقل عن الطحاوی یحتاج الی نقل فهو غریب لان نقله نقل فانه من المحدثین المشهورین المعروفین بالثقة والعدالة والضبط فی الغایة لا سیما وهذا لیس مما یقال بالرای فیجب حسن الظن به ومن العجیب انه لو نقل مثل هذا عمن هو دونه فی الرتبة من اصحاب مذهبه کان سندا معتمدا عنده۔ دا توجیه امام نووی ؒ ذکر کړے ده۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما رسول الله ﷺ نه دے لیدلے مگر دابه ئی وئیل چه اے الله ځه د عذاب قبر نه پناه غوارم۔

د طاوس ؒ ځوئی دے هغه مونځ اوکړو۔ اود عذاب قبرنه ئی پناه اونه غوختله۔ نو پلار ورته وئیل مونځ دوباره اوکړه۔ لکه د هغه په مسلك کښی دا ضروری خبره ده۔ چه د عذاب قبرنه به پناه غواړے۔ حالانکه ضروری نه ده خو مستحب ده۔ چه مونځ کښی یا د مونځ نه پس دعا غواړی۔ نو هغے کښی عذاب قبر نه پناه غواړه۔ نو نبی ﷺ په زوره دا دعا غوښتلے وه۔ ددے دپاره چه خلقو ته د عذاب قبر پته اولگی۔

تبلیغی محترم مولانا احسان صاحب مدظله لیکلے دی : چه دا دعاء هغه په زوره غوښتے ده۔ ددے دپاره چه خلق د دعا چل زده کړی۔ بیا فرمائی : اصل په دعا کښی اخفاء ده۔ غوره اخفاء ده۔

سوال پرے راځی : چه په اجتماع کښی دعاگانی په لاوډ سپیکر باندے په زوره کیږی۔

جواب ورکوی : مونږ چه کومے دعاگانے کوو۔ نو داد تعلیم دپاره کوو۔

دویم : د دعا کولو انداز به څنگه وی ؟۔ کومے کومے دعاگانے به غواړے۔ دا دوه خبرے خلقو ته خودل غواړی۔ په زوره دعا جائز ده اوغوره نه ده۔ لا باس برفع الصوت فی الدعاء۔ (نووی شرح مسلم ۲ : ۹۳)۔

حدیث ۵ : وعن زید بن ثابت قال بینا رسول الله ﷺ فی حائط لبنی النجار علی ..الخ۔

سیدنا محمد ﷺ د بنونجار په باغ کښی ناست وو۔ پیغمبر به کله کله باغونو ته تلو۔

"حائط لبنی النجار": ۔ دائی د ماماگانو وو۔ بنونجار د نبی ﷺ ماماخیلی وه۔ دے به کله کله هلته تلو۔ هلته تلے وو۔ **" علی بغلة له "**:۔ په قچره سورلی تیك ده۔ **"اذ حادت به "** :۔ دا قچره اوتریده ' گډه وډه شوه ۔ **" فکادت تلقیه "**: ۔ نزدے وه چه نبی ﷺ ئی غورځولے وے۔

قاضی شمس الدین ؒ لیکلے دی : داد نبی ﷺ معجزه وه۔ که ته وائی عام قانون دے۔ نو ته په قچره باندے سور شه۔ او قبرستان کښی ځه نو نه تریږی۔

"واذا اقبرستة اوخمسة ": ۔ شپږ یا پنځه قبرونه وو۔ **" فقال من یعرف اصحاب هذه الاقبر"**: ۔

دا قبرونه والا څوك پیژنی۔ دے ته هم قبر وائی۔ دے قبر کښی چه خخ شی۔ دے ته اشاره کولے شے۔

الحق الصریح کښی دی : داد نبی ﷺ معجزه وه ۔ او کله کله کشف کیږی نیکانو ته ۔ نو واقعه ئی ذکر کړے ده عمر فاروق رضی الله عنه ته هغه جهادی قافله ښکاره شوے وه۔ هغه ورته د ممبر نه آواز

ورکړے وو۔ یا ساریة الجبل ۔ هغه آوریدلے وو۔ د هغے آواز مطابق ساریه ځان برابر کړو۔ بیائی جنګ ګټلے وو۔ هغوی دده آواز واوریدو۔ دادده کرامت وو۔ کرامت حق دے۔ خبره ئی ټیک ده۔

دا واقعه جماعت المسلمین نه مني۔ ددے واقعے اثبات او د هغے حوالوله "الاصول الامدادیه" ته رجوع اوکړه۔ ملاعلی قاریؒ لیکی : الکشف بحسب الطاقة ومن کوشف بما لا یسعه یطیح ویهلك۔

نبی ﷺ ته علم غیب نه وو تپوس ئی اوکړو " فمتی ماتوا قال فی الشرك ": ـ کله مړه شوے دی ورته اووئیلے شو۔ په شرك کښی مړه شوے دی۔ اوئے فرمائیل "ان هذه الامة ": ـ دا امت چه دے جنس انسان په قبر کښی ترینه امتحان اغستے شی۔ " فلولا ان لا تدافنوا ": ـ که دا یره نه وے چه تاسو به مړی خخول پریږدے۔ مابه دعا غوختے وه۔ چه تاسو ته د عذاب قبر هغه چغے واوروی۔ لیکن بیا به مړی نه دفن کوے۔ دویمه دا چه شرمیږے به هم ستا پلار او ستا رور دے غټ آوازونه به اوباسی خلق به وائی۔ چه څه چل ئی کړیدے ۔ "من عذاب النار": ـ عذاب نار نه پناه غواړے۔ عذاب النار غټ دے ۔ اګرچه دغه د عذاب قبر نه روستو دے۔ عذاب قبر ئی روستو ذکر کړو۔ چه هغه کم دے او عذاب النار ډیر دے۔ " تعوذ بالله من الفتن": ـ فتن جمع د فتنة ده۔ امتحان ته وائی۔ اوپه مکر او مصیبت کښی ئی هم استعمال کیدے شی۔ "ماظهر منهاو مابطن ": ـ په دے کښی د فتنو عموم او شیوع ته اشاره ده۔ لکه قرآن کریم کښی چه راځی : ﴿وَذَرُواْ ظَاهِرَ الإِثْمِ وَبَاطِنَهُ﴾۔ (سورة الانعام : ۱۲۰) ـ په دے کښی تعمیم دے۔ او یا ددے نه مراد هغه فتنے دی۔ چه د باطن سره ئی تعلق دے۔ لکه شرك ، ریاء او حسد شو۔ اودغه شان غلط وساوس عملی کول په کښی هم راغلے دی۔ اوظاهری فتنے چه نن صبائے جال خور دے۔ لکه فحاشی ، عریانی ، ددین نه لرے والے ، غلط فیشن ، د حق پرستو عالمانو استهزاء ، د کافرانو یارانه ، الحاد اوکجروی ، ډمتوب ، او ګناه بے وقعته او سپك ګنړل ، ډش انتینا ، بلیو پرنټ فیلمونه ، د دین د شعائرو استخفاف وغیره وغیره۔

د بخاری حدیث کښی راځی : چه د شپے په وخت کښی نبی ﷺ اوفرمائیل : ماذا انزل من الفتن ۔ د هغے علاج ئی اوخودلو۔ من یوقظ صواحب الحجرات ــ د تهجدو اهتمام کول ــ او د هغے نه پس د دعاګانو اهتمام او غلطو مجلسونو نه اجتناب او د نیکانو مجالسو کښی التزام داسے جواهر دی۔ چه ان شاء الله مسلمان اوکړی۔ ددغه زهرونه به ئی الله بچ اوساتی۔

" اللهم انی اعوذبك من الفتن ماظهر منها وما بطن "

الفصل الثانی

حدیث ٦: عن ابی هریرة قال قال رسول اللهﷺ اذا اقبر المیت اتاه ملکان اسودان ..الخ۔

"اذا اقبر المیت":۔ کله چه مړے دفن کړے شی۔ ضروری نه ده۔ چه هر مړے دے دفن شی۔ اول بحث کښې تیر شو۔ که مهے ئی، شرمخ یا ازمرے ئی اوخوری۔ که هندوان ئی ایرے کړی۔ نوبیا هم الله په دے باندے قادر دے۔ چه دده دا اجزاء به راجمع کوی۔ او دے به بیا ژوندے کوی۔

اجزاء په دوه قسمه دی: (۱): یو اجزاء اصلیه دی۔ (۲): اجزاء زائده دی۔ د مړی اجزاء اصلیه الله رب العزت ساتی۔ لکه اعصاب او عجب الذنب ورته وائی۔ د نرے ملا نه شاته چه کوم هډوکے دے۔ "لکه لمے" دغه نه خاوری کیږی۔ په دے باندے بحث کړیدے علامه آلوسی" تفسیر کښې ددے آیت د لاندے: ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُوداً غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ الْعَذَابَ﴾۔ (سورة النساء: ٥٦)۔ څرمنے به ورله بدل کړو۔ نورے څرمنے به ورله ورکړم۔

سوال راځی: نورو څرمنو خو گناه نه دے کړے۔ نوولے ورله سزا ورکوی۔ هغه ځائی کښې ئی دا بحث کړیدے۔ چه اجزاء دوه قسمه دی۔ (۱): اجزاء اصلیه (۲): اجزاء زائده۔ اجزاء اصلیه چه بچے کله پیدا شی۔ نو دهغه هم چه کوم اجزاء دی روستو چه دا بیا غټیږی لاس او خپے وغیره۔ اندامونو کښې غټ والے راځی۔ کوم اندامونه چه اول نه تر آخره پورے د طاقتونو په اعتبار سره وی۔ دیته اجزاء اصلیه وائی۔ او د بدن اجزاء د یو کس په دنیا کښې په ځوانئ او بوډاتوب کښې په یو کمیت نه وی۔

مرقات کښې دی: ان البنية عندنا ليست شرطًا للحياة بل لا يستبعد تعلق ذالك الروح الشخصي الواحد بكل واحد من تلك الاجزاء المتفرقة في المشارق والمغارب۔

د ډهانچے او د لاش حفاظت من کل الوجوه د عذاب دپاره شرط نه دے۔ ضروری نه ده۔ چه ته هله دا منے چه عذاب به ورکوی نو لاش دے سالم وی۔ که نه وی بیا به ورله هم الله عذاب ورکوی۔ مراد ددے نه عالم برزخ دے۔ ددے وجے نه مرقات کښې دی: هو قيد غالبي ۔ اکثریه خلق په قبر کښې خخوی۔ نو که په قبر کښې نه خخوی۔ نو هم چه کله عالم برزخ ته اورسیدو۔

"ازرقان":۔ شین سترگے به وی۔ ځکه دا شین سترگے د هیبت منظر پیش کوی۔ قرآن کریم کښې

راځی: ﴿يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقاً﴾ ـ (سورة طه: ۱۰۲) ـ سزا ده د جهنمیانو ـ دغه ده چه هغوی به شین سترگے وی ـ دغه ځائی کښی مفسرین بحث کوی ـ چه دیو تن په سترگو کښی لږ شین رنگ معمولی غوندے وی ـ نودا ښکلے والے دے ـ چه ډیر شین سترگے وی نو داد نحوست علامت دے ـ

مفسرین لیکی: چه دا رنگ د عربو ډیر بدی شی ـ ځکه ددوی رومیان دشمنان وو ـ هغوی شین سترگے وو ـ دوی د دشمن نه تعبیر کوی په "اسود البلد" او "ارزق العین" سره ـ

که نیکانو له راځی ـ اوکه بدانو له راځی ـ نو د دواړو قسمونو ته منکر او نکیر وائی ـ

ځکه چه بعضے علماء داسے وائی: چه داکوم نیکان دی ـ دوی له چه راځی ـ نو هغه ته بشیر او مبشر وائی ـ اوچه بدانوله راځی ـ نو هغے ته منکر او نکیر وئیلے کیږی ـ لیکن دا اصطلاح ډیره غوره نه ده ـ

التقریر الرفیع کښی شیخ الحدیثؒ لیکی: د اشعة اللمعات په حوالے سره او هغه د علامه ابن حجرؒ په حوالے سره او علامه ابن حجرؒ د بعضے فقهاء په حوالے سره لیکی: ان هذین الملکین کانا لملکی المذنب واما ملکا المطیع فمبشر وبشیر ورد بعد عدم الثبوت بان الملکین للابتلاء والبشارة بعد الثبوت فلا یکونان قبله مبشرین ـ

معلومه شوه: چه د بشیر او مبشر پته نه لگی ـ آیا دا مړے بشارت والا دے ـ اوکه عذاب واله دے ـ داخو به انتړویو ترے واخلی ـ او پاس شی ـ د هغے نه پس بیا بشارت وی ـ یا د هغے نه پس به عذاب وی ـ لا نتیجه نه ده وتلے ـ "هذاالرجل" ـ مخکښی تیرشو ـ چه د نبی ﷺ مثال هرځائی ته ښکاره کیږی ـ تفصیلات ئی نه دی معلوم ـ خو غوره توجیه "هذا الرجل" کښی هغه شوے وه ـ د مولانا عبدالحیؒ په حوالے سره ـ او د حدیثو په رنړا کښی وه ـ چه وجود ذهنی ترے مراد دے ـ چه د "هذاالرجل" په باره کښی تپوس کیږی ـ نو اوبه وائی چه هغه د الله بنده او رسول دے ـ

الحق الصریح والا خفه شوید ے ـ هغه دلته وائی: چه دے خلقوته د نبی ﷺ نوم معلوم نه دے ـ او د امام ابو حنیفةؒ نوم ئی، اوریدلے دے ـ اودا ورله ورځی ـ

داخبره خو تیك ده اکثرو خلقوته د نبی ﷺ نوم نه وی معلوم ـ چه تپوس ترے اوکړے ـ چه ستا پیغمبر څوك دے ـ نو وائی دوست د خدائے ـ لکه دا نوم دوی له نه ورځی چه محمد ﷺ ـ نو امیانوله خود امام ابو حنیفةؒ نوم هم نه ورځی ـ داخو کنیت دے ـ امیان څه کوی ـ چه ډیرو طالبانو له ئی نوم نه ورځی ـ

نعمان ئی نوم وو۔ بعضے شذل جاهل امیانوله د نبی ﷺ نوم نه ورځی۔ اود جعلی مجتهدینو نوم ورځی۔ بیا وریسے وائی: په ابو حنیفه هسے په خلاف د قرآن او د سنت باندے مئین دی۔
ابو حنیفهؒ د قرآن اود سنت نه خلاف نه دے کړے۔ اجتهاد کښې خطاء کیدل جدا څیز دے۔ دا امیان ابو حنیفهؒ څکه مئین دی۔ چه ابو حنیفهؒ د "هذاالرجل" د احادیثو وضاحت کړیدے۔ داسے خوبه بل هم وائی: چه هسے په بخاری باندے مئین دے۔ هغه هم غلط شویدے۔ په سندونو کښې په متنونو کښې غلط شویدے۔ اجتهادی مسائلو کښې ئی بعض خطاء دی۔ دوی په هغوی هسے مئین دی۔ چه عملاً ئی دا بعضے معصوم گڼړی۔ که امام بخاریؒ دے نو هم پیغمبر نه دے۔ اوکه امام ابو حنیفهؒ دے نو هم پیغمبر نه دے۔ په دواړو کښې یو هم معصوم نه دے۔ د نبی ﷺ نوم هم او د امام صاحب نوم هم یاد کړه۔ که د عوامو عرفی اهل حدیثو والا نه تپوس اوکړے۔ چه د امام بخاریؒ څه نوم وو۔ نو هغه له هم نه ورځی ـ ته د جاهل غیر مقلد رکښه چلولو والا غیر مقلد نه تپوس اوکړه۔ وایه د بخاریؒ څه نوم دے۔ نو د بخاریؒ نوم هم نه ورځی چه محمد دے۔ هسے پرے داسے مئین دی۔ چه هره خبره ئی اخلی۔ داسے د بعضے حنفی امی نه تپوس اوکړه۔ نو هغه ته هم پته نشته۔ چه نوم ئی نعمان دے۔

"**سبعون ذراعا**":۔ بیا به ورله په قبر کښې وسعت راوستے شی اویا گزه۔ په اویا کښې ۷۰ مربع گز هر طرف ته دا وسعت کله ۷۰ یادوی۔ اوکله زیات یادوی۔ روستو روایت راروان دے۔ په هغے کښې زیات دے۔ خو دا کثرت دپاره دے۔ پوره اویا عدد خاص نه دے مراد: ﴿اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ﴾۔ (سورة التوبة: ۸۰)۔ کښې کثرت دے۔ دا وسعت په دے قبر کښې نه راځی۔ دلته چه ته وسعت راولے ـ نو خوا کښې بل قبر دے۔ نو هغے سره به څه کوی۔ هر طرف ته قبرونه وی۔ دا عالم برزخ کښې وسعت مراد دے ـ دا فساحت او تنگسیا داسے حساب کړه۔ لکه پښتانه وائی زړه مے تنگ دے۔ دا مطلب نه دے چه زړه تنگ دے۔ چه مخکښې یو موټے وو۔ او اوس ترینه نیم موټے جوړ شویدے۔ په جامو کښې نه ځائیږم ولے نه ځائیږی۔ دا کنایه د خوشحالیء نه ده۔ اودا بله کنایه ئی د خفگان نه ـ قرآن کښې هم راځی د لوط علیه السلام چه میلمانه راغلل: ﴿وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ﴾ (سورة هود: ۷۷، عنکبوت: ۳۳)۔ سینه

ئی تنګه شوه۔ خفګان پرے راغے۔ شاہ انورؒ فرمائي: ان کان فساحة النظر فلا بعد فيه فانا شاهدناه في هذا العالم بالآلات، وان كان فساحة في المكان فيفوض الحقيقة في الباري عز اسمه۔ (العرف الشذی ۲: ۲۰۶)

"نم کنومة العروس": ۔ یو بریلے غوندے تیرشوید ے۔ هغه په التبیان کښې لیکلے وو: چه عرس ثابت دے۔ "نم کنومة العروس" حدیث دے۔ په دے کښې د عرس ذکر دے۔ نو هغه کتاب په رد کښې ورته ما په الترجمان کښې لیکلے وو۔ یو عرس او بل عروس دے۔ دواړو کښې فرق دے۔ "نم کنومة العروس" دا تشبیه ده۔ او په تشبیه کښې من کل الوجوه مماثلت نه وی ضروری۔ دوی د عروس د لفظ نه "واو" اوخری۔ او عرس ترے جوړ کړی۔ ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ﴾۔

الحق الصریح کښې یو تشبیه ورکړے ده داسے ئی وئیلے دی: ستا مثال لکه د ناوے دے۔ د الله مثال داسے دے لکه خاوند۔ نو د الله تشبیه ئی د خاوند سره ورکړه۔ نو پوهه شوید ے چه خبره قابل اعتراض جوړیدے شی۔ نو وریسے وائی داد پوهے دپاره خبره ده۔ ورنه الله دپاره مثال نشته دے۔

مطلب دادے: که یو سړے د پوهه کولو دپاره د الله مثال د خاوند سره ورکوی۔ نو هم خیر دے۔ ځکه تشبیه کښې من کل الوجوه مماثلت نه وی۔ که چا دا وئیلے وی: چه الهدایة کالقرآن۔ نو بیا د تعصب په زور بدنامه اولګیده۔ خه هدایے ته قرآن وائی۔ تشبیه ده هدایه د قرآن سره ولے ورکړے شوے ده۔ نو تا چه تشبیه د الله د خاوند سره ورکړے ده۔ هغه تحقیق شو۔ زمونږ علماء د هدایه تشبیه د قرآن سره په بعضے اعتباراتو ورکوی په دے اعتراض تهیك نه دے۔ لکه مخکښې ذکرشوید ے۔

تفسیر حکمت القرآن کښې لیکلے دی ۱۴ پاره سورة النحل کښې: د الله تشبیه د "رجل" سره ورکول هم تیک دی: ﴿ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلاً عَبْداً مَّمْلُوكاً لَّا يَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ﴾ آیت په تشریح کښې اوګوره۔

بیائی په وضاحت کښې دا وئیلے دی: دابنځه چه ده دے ته خاوند ډیر زیات خوږ دے۔ دا ښځه مخکښې لاړه شی۔ روستو وریسے دا خاوند اورسی۔ او د لاس نه ئی اونیسی۔ او چه پاڅوی ئی نو خفه کیږی نه۔ بلکه خوشحاله ئی پرے۔

"التئمی علیه": ۔ جختته شه زمککے په ده۔ که چرته خخ شوے وی په قبر کښې۔

دلته خلق یو مسئله بیانوی یو سړے ځان له په خپل ژوند باندے قبر تیارولے شی او که نه شی؟۔ او یو سړے ځانله د مرګ نه مخکښې کفن برابرولے شی او که نه شی؟۔

قبر تیارولے شی خو غوره نه دی۔ خو نفس جواز شته۔ خلافًا لصاحب تحفة السجن۔ لیکن کتاب الزهد لابی داود کښې: ۲۳۰ نمبرروایت دے چه سیدنا ابو الدرداء رضی الله عنه به فرمائیل: علیك بکتاب الله واعبدالله کانك تراه واعدد لنفسك قبرًا۔

چه د مخکښې نه قبر تیار کړي۔ دے کښې عبرت دے۔ اوهر چه کفن دے نو خه خبره داده: چه دادے د مخکښې نه نه تیاروی۔ دا مسئله ارشادالساری کښې علامه قسطلانیؒ لیکلے ده۔ او وائی زرکشیؒ په حوالے سره۔ که د ځان دپاره ئی قبر تیار کړو۔ چه ځه به په دے کښې خخیږمه: فینبغي لا یکره۔ خلاف اولی ده خو مکروه هم نه ده۔ په کراهت تحریمی سره: ولواعد له قبرًا یدفن فیه فینبغي انه لا یکره لانه للاعتبار بخلاف الکفن قاله الزرکشي۔ (ارشاد الساری ۳ : ۳۸)۔

او علامه فریابی جعفربن محمد وابوایوب په مقبره کښې ځان له قبر کنستلے وو۔ د مرګ نه پنځه ورځے مخکښې۔ (سیراعلام النبلاء ۱۰ : ۸۸)۔

مسئله: کفن د زمزم په اوبو لوندول مناسب نه دی۔ (فتاویٰ محمودیه ۱۳ : ۸۳)۔

مسند ابی یعلی: ۸٦۲ باندے د عائشے رضی الله عنها روایت دے: کانت تحمل من ماء زمزم في القواریر وتذکر ان رسول الله کان یحمل۔

حدیث ۷: وعن البراء بن عازب عن رسول الله ﷺ قال یاتیه ملکان فیجلسانه ...الخ۔

"فیجلسانه":۔ مخکښې روایت کښې راغلے وو "فیقعدانه"۔ قعود اکثر فصحاء د قیام په مقابله کښې استعمالوی۔ او جلوس د اضطجاع په مقابله کښې استعمالوی۔ کله کله د یو بل په ځائی هم استعمالیږی۔ او تطبیق داسے اوکړه۔ چه ډیروارخطائی د وجے نه به اول اودریږی۔ نو بیا به کیني۔ نو هم قعود شوید ے۔ اوهم جلوس شوید ے۔ کما مرّ۔ نو کله یو تکے او کله بل ذکر کوی۔

"ربی الله":۔ دا توحید د الوهیت دے۔ یعنی "من الهك" او ددے تعلق د زړه سره دے۔ دانه چه تسبیح راواخلے او ازده کوے ئی۔ چه "ربی الله ربی الله"۔ **"فامنت به وصدقت":**۔ دیته وائی: ﴿يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ﴾۔ (سورة الابراهیم: ۲۷)۔ جوابونه ئی خه مزیدار ورکړل۔

"ویعاد روحه فی جسده":۔ د کافر په باره کښې راځی۔ چه "ویعاد روحه فی جسده" دا روح ئی دے

بدن ته راځي. حديث كښې راغلل د براء بن عازب. بدن يا ترابى دے يا بدن مثالى دے. علماء په كښې ترجيحًا بحث كوى. علمى تحقيقات دى.

"يعاد روحه" هغه روايت دے۔ چه ددے په وجه سره دے حزب الله والوامام احمدؒ ته العياذ بالله كافر وئيلے دى. چه هغه د "يعاد روحه فى جسده" قائل دے. ځكه امام احمد كافر دے. او دا روايت هغوى مسند احمد كښې ذكر كړيدے.

صاحب د الحق الصريح ليكى : ويعاد روحه ۔ هغه وائى : دا روح ترے واپس اوځى. دده مطلب دادے : چه دده ته دا روح په اول وضع سره راغلے دے. "وانه ليسمع قرع نعالهم" او د هغے نه پس ترے روح اوځى ـ په قبر كښې روح په بدن كښې نه وى پروت. نو ددے نه سماع موتى اوحياة المقبور نه ثابتيږى. ځكه دابه هله وى. چه دا روح په بدن كښې پروت وى. اوددے واپس راتلو له مستقل دليل پكار دے. چه دا روح بيا راغے ـــ دے دپاره دليل پكار دے ـ افسوس ډاكټر عثمانى د عذاب قبر : ۲۴ باندے ليكلے دى : امام احمد دا روايت خپل مسند كښې راوړيدے كافر شو ـ انتهى.

دا عثمانيان امام احمدؒ ته ، ابن تيميةؒ ، شيخ عبدالقادر جيلانىؒ ته كافر وائى. توحيد خالص د هغه يو كتاب دے. په هغے كښې ئى دے تولو ته كافر وئيلے دى. دا روايت "ويعاد روحه فى جسده" مسند احمد ۳۰ : ۵۰۳ او په مجمع الزوائد ۳ : ۴۹ باندے هم شته.

غير مقلدينو كښې گيلانى هم د شاه ولى اللهؒ گستاخى كړے ده .

د مولانا احسان الهى ظهير تبصره د فتاوىٰ علماء حديث د كتاب الصلوة : ۱۴ باندے موجود ده. ليكى : شاہ ولی اللہ کے زیر آثر پروان چڑھنے والی اہل حدیث کی تحریک نے اس بات کو لوگوں کے سامنے اجاگر اور واضح کیا کہ اسلام میں حجیت اور استناد اگر کسی کو حاصل ہے تو صرف کتاب اللہ اور سنت رسول اللہ کو ہے دوسری کسی چیز کو نہیں ۔

واضحه دے وى : چه د هرچا كلام چه غير ثابت وى. رد كول پكار دى. شاه ولى اللهؒ التفهيمات الهيه ۲ : ۲۱۱ په تفهيم نمبر : ۲۱۲ كښې ليكى : حدثنى ابى رضى الله عنه عن حالتى قبل ان اظهر فى هذا العالم قال كنت فى بطن امك فسالتنى مسكينة فامرت لها بنصف الرغيف فقلت وانت جنين لا ينبغى ان تعطى نصف الرغيف لمن سال باسم الله تعالى فاستدركت واتممت لها الرغيف.

(۲) ۲ : ۱۸۵ ، تفهيم : ۱۸۰ دلاندے ليكلے دى : چه شيخ قطب الدين بختيار كاكى مزار سره زما پلار مراقبه اوكړه. د ځوى قطب الدين بشارت ئى ورله وركړو.

بیا عثمانی لیکی : چه بعضے خلق دا فروعی مسئله گنړی ۔ لیکن داد شرك او د توحید مسئله ده ۔ نو دے ورلـه جواب ورکوی په الحق الصریح کښی ۔ آیا د رسول الله ﷺ د خبرے نه شرك پیدا کیږی ۔ دے دا منی ـ چه داد نبی ﷺ خبره ده ـ " ویعاد روحه فی جسده " ـ خو دهغـه مـخکښی عبارت نه ئی دا معلومیږی ـ چه بیا اووتلو روح ـ دا نه چه په کښی روح پروت دے ـ د هغے دپاره مستقل دلیل پکار دے ـ الزامی جواب ورکوی عثمانی ته چه ولے روح ژوندی کښی نشته ـ لکه دنیا کښی انسانان ژوندی وی ـ او روح په کښی شته ـ او که څوك ورته سجده کوی د روح د وجے نه ـ نو بیا به شرك راځی ـ نو د روح د وجود وجے نه شرك نه راځی ـ دده د خبرے مطلب دادے : چه دوی ژوندی دی ـ

بنیادی خبره اوس داده " ویعاد روحه فی جسده " په دے روایت کښی ددے اضافے حال څه دے ؟ ـ

بعضے وائی : چه روایت ټیك دے ـ خودا اضافے نوررروایتونو کښی نشته ـ خودے یو روایت د براء بن عازب رضی الله عنه کښی شته ـ څوك ئی چه منی په دے باندے ډیر زور لګوی " یعاد روحه فی جسده " باره کښی وائی : حدیث صحیح علی شرط الشیخین ـ ابن قیمؒ په کتاب الروح کښی لیکلے دی : هذا حدیث ثابت مشهور مستفیض صححه حفاظ من الجماعة ـ دا اضافه ډیرو خلقو صحیح کړے ده ـ لکه تعلیق والا د مسند احمد ـ او بعضے عالمان دا اضافه نه منی " یعاد روحه فی جسده " ـ

وائی : چه د براء رضی الله عنه په دے روایت کښی راوی زاذان دے ـ او زاذان په دے روایت کښی متفرد دے ـ د زاذان په روایت کښی " ویعاد روحه فی جسده " راځی ـ د زاذان د روایتونو نه علاوه د بل چا په روایت کښی نه راځی ـ د هغے په جواب کښی بیا دوی وائی : چه یحی بن معین دده توثیق کړیدے شیخ عبدالغنی جاجرویؒ د مشکوۃ شرحه ده اسعد المفاتیح هغه هم او علامه البانیؒ اوعلامه ابن قیمؒ دا اضافه صحیح گنړی ـ نویحی بن معین وائی : څه ئی توثیق کووم د زاذان ـ نو څه مطلب ' داد ثقه تفرد دے ـ ثقه چه زیادت اوکړی هغے له اعتبار وی ـ

دویمه خبره داده : چه علامه ابن قیمؒ د زاذان متابع نقل کړیدی ـ نور ملګری موجود دی ـ نویو په کښی ثابت ' او بل مجاهد دے ـ دادده متابع دی ـ ددے زاذان په باره کښی علامه البانیؒ وائی سلسلة الاحادیث الضعیفه کښی : وحسبك منهم توثیق یحی بن معین ـ (۲: ۳۳۳ روایت ۹۳۰) ـ تالره دا ډیره ده چه دا سړے ټیك دے ـ یحی بن معین ورته ثقه وئیلے دی ـ یحی بن معین خوامام ابوحنیفهؒ ته ثقه وئیلے دی ـ بلکه د هغوی په رأی به چلیدو ـ لیکن امام صاحبؒ ته البانیؒ ضعیف وائی ـ اودلته یحی

بن معین یو ځل ثقه اووئی ۔ نو " حسبك " تاله دا کافي ده ۔ دا نه کافي کیږي ۔
کشف المناهج والتناقیح کښې دي : چه " ثم یعاد فیه روح " کښې زاذان چه راغلے دے ۔ نو امام مسلم په صحیح کښې ددنه دلیل نیولے دے ۔ او دوه حدیثه ئې روایت کړے دي ۔
السنة للخلال صدوق مرسل وفیه شیعیة : نمبر ۱۳۵۸ ۔ او ابن حبان ورته ثقه وئیلے دی ۔ د ابن حبان په هغے باندے توثیق نه کیږي ۔ صاحب د الحق الصریح ' او بشیر الدین سهسوانی هم صیانة الانسان کښې لیکلے دي ۔ دا علامه البانیؒ په خپله هم لیکي : چه یواځے د ابن حبان توثیق له اعتبار نشته ۔
د الحق الصریح ۲ : ۳۵۰ باندے دي : ابن حبان مجهول راویان هم ثقه ګڼړي ۔ نو په مجهول راویانو کښې د هغه توثیق مقبول نه دے ۔ اذا لم یوافقه غیره ۔ دلته ئې من وجه موافقه شته ۔ او ثقات د ابن حبان کښې دي چه زاذان یخطیٔ کثیرًا ۔ (ثقات ابن حبان ٤ : ٢٦٥) ۔ او تهذیب کښې ۳ : ۳۰۳ کښې دغه حواله ده ۔
او په تقریب کښې دي : په ده کښې شیعه توب وو ۔ او حافظ ذهبیؒ ورته هم شیعه وئیلے دی ۔ او ابن عدي وائی : لا باس به ۔ د خبرے حاصل دا شو ۔ چه زاذان ثقه دے او که نه ؟ ۔ که زاذان ثقه شی ۔ نو د ثقه تفرد او زیادت ټیک دے ۔ نو دا روایت ټیک دے ۔ او که په زاذان باندے کلام ثابت شی ۔ نو بیا به دا روایت نه اخلی ۔ ځکه ثقه نه شو ۔ او د غیر ثقه زیادت له اعتبار نشته ۔
دے روایت ته مولانا زبیرعلی زی د خپل غیرمقلدینو په تقلید کښې حسن وئیلے دے ۔ او اضوء المصابیح کښې ئې لیکلے دي : د جمهورو محدثینو په نزد ثقه او صدوق دے ۔
زاذان ته امام ذهبیؒ ثقه وائی ۔ او حافظ ابن حجر لیکی لیکن : صدوق یرسل وفیه شیعیة ۔ (دد ے دور شیعه او د سلفو د دور په هغے کښې فرق واضح دے) ۔ امام مزیؒ لیکی : وقال سلمة ابو البختری احب الی منه ۔ او حکم وائی : ځه ځکه ترے روایت نه اخلم چه کثیر الکلام دے ۔ او حمید بن هلال ورته ثقه وائی ۔ او حافظ تهذیب التهذیب ۳ : ۳۰۳ باندے لیکی : کان یخطی کثیرا ۔ حاکم ابو احمد فرمائی : لیس بالمتین عندهم ۔ علامه عجلی او خطیب ورته ثقه وائی ۔ او علامه مزی تهذیب الکمال کښې لیکی : چه د براء بن عازب نه ئے روایت ثابت دے ۔ او الرفع والتکمیل : ۱۲ المرصد الاول کښې دي : ومنها انه سئل عن الحکم بن عتیبة لم لم ترو عن زاذان ؟ قال کان کثیر الکلام ۔ لیکن کثرت کلام معتدبه جرح نه ده ۔
دا روح ورته کله واپس راځی نو امام غزالیؒ وئیلے دي : انما یعاد بعد ثلث ۔ دا خو بالکل موضوعی او مردوده خبره ده ۔ چه داسے راوی چه هغه مختلف فیه وی ۔ او دواړو طرف ته په کښې خبرے وی ۔ بلکه ډیره پرے

جرحه ده۔ د هغه په باره کښې علماء څه وائي۔ د اصولو حدیث په اعتبار د هغې راوی څه حال وی۔ نو مقدمه د ابن الصلاح کښې دی: اذاجتمع فی الشخص جرح و تعدیل فالجرح مقدم ۔ چه د یو سړی په باره کښې جرح هم راشي ۔ او تعدیل هم راشي۔ نو جرح به مقدم وی په تعدیل باندے۔ ځکه چه څوك ورله تعدیل کوی نودے ئی ظاهر ته ګوری۔ چه خه سړے وو۔ او څوك چه ورباندے جرح کوی دوی د هغه باطنی حالات هم معلوم کړیدے۔ بعضے علماء وائی: که جرح کوونکی زیات وی یا کم جرحه خو پرے شوے ده۔

دویم راوی په کښې منهال بن عمرو دے۔ حافظ ابن کثیرؒ ۲ : ۲۱۴ د: ﴿ لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ ﴾ په تشریح کښې سند ئی ذکرکوی: عن المنهال بن عمرو' عن ذاذان عن البراء بن عازب ....الخ ۔ قاضی شمس الدینؒ لیکلے دی: چه د ابن حزم قول ئی نقل کړیدے: عن رسول الله ﷺ فی ....وان ارواح الموتی ترد الی اجسادهم ..الخ ۔ چرته نه دے ثابت چه دے مړوته خپل روحونه راځي۔ داجمله د نبی ﷺ نه نه ده ثابت۔ بیا وائی دے زیادت کښې صرف د منهال بن عمرو دے یوائے۔ او منهال بن عمرو قوی نه دے۔ هغه له اعتبار نشته۔ شعبه وغیره ورته متروك وائي۔ او یحی بن معین ئی مذمت کړیدے۔

الکامل لابن عدی ۴ : ۲۱۰ باندے دی: واحادیثه لا باس بها اذا روی عنه ثقة ۔لیکن دلته منهال د زاذان نه روایت کوی۔ چه د هغه بنه کیدلو کښې اختلاف دے۔

بهرحال دومره ثابته شوه۔ چه دے هم مختلف فیه راوی دے۔ البدایه والنهایه ۲ : ۳۱ کښې ورته ثقه وئیلے دے۔ حافظ ابن حجرؒ لیکی: صدوق ربما وهم ۔ علامه مزّی لیکی: ترك شعبة المنهال بن عمرو علی عمد ۔ قال وسمعت ابی یقول ابوالبشر احب الی من المنهال بن عمر ۔ او وجه دا ذکرکوی چه د طنبور آوازئی د کور نه راتللو۔ بعض وائی: چه شاید علم ورته نه وو۔ عجلی او ابن معین ئی توثیق کوی۔

دارقطنی وائی: صدوق۔ او د یحی بن معین نه دا هم ثابت دی چه: یضع من شان منهال بن عمرو۔

اومذمت کول ئی هم ثابت دی. بعضو امام اعمش د منهال د روایت نه منع کړے وو۔ لیکن هغه منع نه شو. ابراهیم بن یعقوب الجوزجالی ورته سیئی المذهب وائی.او علامه ابن حزم لیکی: لیس بالقوی ۔ قلت حدیثه فی شان القبر بطوله فیه نکارة وغرابة یرویه عن زاذان عن البراء ۔ او اعمش وائی: صدوق ربما وهم. (لسان المیزان ۹: ۴۳۰)

لیکن اضوء المصابیح کښې دی: منہال بن عمرو جمہور محدثین کے نزدیک ثقہ وصدوق ہیں۔

او افسوس دادے چه جرح کونکی ته منکر حدیث وائی۔

راوی کښې جرحه او تعدیل دواړه وی ۔ نو محققین علماء وائی: مطلقًا د جرحے د خبرے اعتبار به زیات وی۔ نو چه دا وی نو بیا زاذان او منهال ثقه نه شو۔ او چه ثقه نه شو۔ نو د غیرثقه زیادت له اعتبار

نشته. نو "يعاد روحه في جسده" له بيا اعتبار نشته.

دويمه داده : په دے باب کښې احاديثو کښې اشارات بلکه تصريحات شته. مشکوٰة کښې يو روايت راځي دويم جلد کښې كتاب الجهاد : ۳۵۲، كتاب الجهاد شروع کيږي. يوه صفحه روستو : قالوا يا رب ان ترد ارواحنا في اجسادنا ـ شهيدان دا غواړي چه زمونږ روحونه په جسد کښې راواپس شي. چه راواپس شوے دي. اوبيا ئې غواړي نو راواپس روحونه چه دوام لري. او بيا ئې غواړي داخوبيا تحصيل د حاصل راځي. دوي چه وائي روح راله بدن ته راواپس کړه. نو واپس نه وو. ځکه سوال کوي.

ددے روايت نه دا معلوميږي چه ارواح په اجسادو کښې نشته. اجساد جمع د جسد ده. ارواح جمع د روح ده. او دغه روايت د مسلم دے. ثقه د اوثق خلاف اوکړي. دے ته شاذ وائي.

او د قليب بدر روايت کښې : اتكلم اجسادا لا ارواح لها. باندے پيغمبر ﷺ رد نه دے کړے.

روح به په بدن کښې هله راځي. چه کله ددے قبرنه پاځي من كل الوجوه ورنه روح راغے. قرآن کښې دي: ﴿وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴾. (سورة التكوير : ۷). د لاندے مفسرين ليکي : قرنت الارواح بالاجساد. د قيامت په ورځ به ارواح د اجسادو سره يوځائي شي. حديث کښې دي : انما نسمة المومن طائر يعلق في شجر الجنة حتى يرجعه الله في جسده حين يبعثه. حافظ ابن كثيرؒ ليکي : ددے روايت په سند کښې درے ائمه راجمع دي.

دريمه خبره : عود روح باندے د بحث نه معلومه شوه. چه که روايت بالكل صحيح هم وي. د داسے قسم روايت په وجه سره څوك د اهل السنت نه خارجول صحيح نه دي. اودانه په عقيده کښې نفع ورکوي. دوي ئې عقيده قطعيه ګڼړي. او دا فتوٰى غلطه ده. چه مونږ وريسے نه کيږي.

څلورمه : علامه آلوسيؒ د سورة بني اسرائيل د آية الروح ۸۵ نمبر ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا﴾ د لاندے ليکلے دي : ورجح ابن عبدالبر ان مستقر ارواح ما عدا الشهداء بافنية القبور وفيه انه اريد ان الارواح لاتفارق الافنية فهوخطاء يرده نصوص الكتاب والسنة وقول بعض المحققين على ان الارواح حيث كانت لها اتصال لايعلم حقيقته الا الله ـ وقال الحافظ ابن رجب حديث البراء وحده لا يعارض الاحاديث الكثيرة المصرحة بان الارواح في الجنة.

حديث ۸ : وعن عثمان انه كان اذا وقفه على قبربكى حتى يبل لحيته فقيل له .... الخ.

سیدنا عثمان رضی اللہ عنہ به چه په قبر باندے اودریدو۔ نو ژړل به ئی حالانکه نبی ﷺ ده له د جنت زیرے ورکړے وو۔ خو بیا به ئی هم ژړل۔ " یبل لحیته " تردے پورے چه گیره به ئی لمده شوه۔

معلومیږی دا چه د قبر سره ژړا ثابته ده۔ د سیدنا عثمان رضی اللہ عنہ نه هم نقل دی دلته۔ او دویم د نبی ﷺ نه هم نقل دی نبی چه د خپلے مور زیارت له تلو۔ نو هلته ئی ژړلے دی۔ که یو سړے د اللہ د یرے په قبرستان کښی ژاړی نو خیر دے۔ ځکه عثمان رضی اللہ عنہ به ژړل۔

خطیب بغدادی خپل تاریخ کښی روایت راوړی سیدنا براء بن عازب رضی اللہ عنہ فرمائی : چه مونږه د نبی ﷺ سره وو : حتی انتهی الی القبر فجثا علیه، واستقبلناه لنبصر ما یصنع، فبکی حتی بل الثری من دموعه.

(تاریخ بغداد ۱ : ۳۷۱).

حدیث ۹ : وعنه قال کان النبی ﷺ اذا فرغ من دفن المیت وقف علیه فقال .... الخ.

قاضی صاحبؒ لیکی ددے روایت نه بعض دلیل نیسی "علی الدعاء بعد صلوة الجنازة " ۔ خو غلطه ده۔ داد جنازے وخت خونه دے۔ د قبر د تدفین نه بعد دعاگانے غوختل دی۔ اودا ثابت دی۔

د جنازے نه پس دعا په هیئت اجتماعیه بدعت او مکروه ده۔

صاحب د مظاهر حق وائی : چه ورسره به د سورة البقرة ابتداء او آخری آیات به وائی۔ وائی به، که نه به وائی۔ نود هغے بحث کتاب الجنائز کښی به راځی ان شاء اللہ۔

دویم : مرقات کښی ملا علی قاریؒ یوه خبره کړے ده ددے حدیث د لاندے خوښکلے نه ده۔ هغه وائی تلقین هم ټیك دے۔ اگرچه ثابت نه دے۔ بیا هم " لا باس به " دے۔ نو چه ثابت نه دے نو څنگه " لاباس به " دے۔ ددے حدیث نه معلومه شوه۔ چه یو تن دفن شی۔ او روستو ورله دعا غواړی نو ټیك ده۔ په دغه دعا کښی رفع الید یعنی اوچتولی د لاسونو هم ثابت دی۔ بلکه هسے هم مسئله ده۔ د زیارت په وخت کښی د دعاکولو په وخت لاس پورته کول جائز دی او قبلے ته به مخ کوے۔(تحفة السجن : ۱۸۲)۔

صاحب د الحق الصریح هم دلته لیکلے دی : دعا ټیك ده رفع الید ټیك دے۔ مسند ابوعوانه کښی او ابن حجرؒ فتح الباری کښی لیکلے دی د عبداللہ بن مسعود رضی اللہ عنہ روایت دے۔ په هغے کښی د

مسلم په روایت کښې راځي : ثم رفع یدیه ثلث مرات ۔ دریے ځل څکه دعا هم ثابت ده ۔ په مقبره کښې د مړي د دفن نه روستو۔ او د جنازے نه روستو په جمع دعا تولو احنافو او مفتي محمودؒ هم په خپله فتاوي کښې ناجائز کړے ده ۔ اګرچه د کسر الصفوف نه پس ولے دغه دعا نه وی۔

مفتي محمود صاحبؒ لیکي : پیارے نبی صحابہؓ تابعین اور تبع تابعین نے نماز جنازہ کے بعد متصل دعا جو آج کل معروف ہے نہیں مانگی (۲) خیر القرون میں معمول نہیں تھا صفوف توڑنے سے قبل اور نہ بعد ۔ دائي په دویم جلد کښې لیکلے دي ۔ او اتم جلد باندے ورته مکروه وئیلے دي ۔ او جلد ۷ : ۲۵۷ باندے ددوی دستخط سره داسے لیکلے شویدي نماز جنازہ کے بعد دفن سے پہلے دعا مانگنا بدعت ہے جسکا کوئی ثبوت قرآن وحدیث وکتب فقہ سے نہیں ۔

حدیث ۱۰ : وعن ابی سعید قال قال رسول الله ﷺ لیسلط علی الکافر فی قبره ...الخ ۔

"تسعة وتسعون" : ۔ یو کم سل ماران دا ولے ، الله ته پته ده ۔ خود الله نو مونه مشهور یو کم سل دی۔ او د هر نوم نه د انکار کړیدے ۔ نو یو کم سل به پرے ماران مسلط کیږي۔

نهس او لدغ کښې فرق دادے ۔ التقریر الرفیع کښې شیخؒ لیکي : نهس دیته وائي چه : اخذ اللحم باطراف الاسنان ۔ غوښه د غاښونو په څوکو لرے کول دیته نهس وائي ۔ او لدغ دیته وائي چه : الاخذ بجمیعها ۔ دے عمل ته لدغ وائي ۔ **"تنینا"** : ۔ خامار ۔ که درته په زمکه کښې پو کے او هلو نو شینکے به راونه تو کیږي ۔ په دے زهرو کښې اوچ والے دے ۔ دے سره رطوبت باکل ختم شي ۔ او د قبر خامار کښې خو صرف اوچ والے دے ۔ او دا کاروائي تول د عالم برزخ ده ۔ دا روایت ضعیف هم دے ۔ لکه علامه عینيؒ فرمائي ۔ یا به د چادپاره اویا ۔ او بعضے دپاره یو کم سل خاماران وي ۔ او یا " سبعون " نه مراد تحدید نه دے بلکه کثرت دے ۔ نفي د ماعدا نه کوي ۔ او علامه ابن حجرؒ لیکي : چه یو کم سل د مشرانو دپاره ئي دي ۔ او دا اویا (۷۰) د کشرانو دپاره دي۔

الفصل الثالث

حدیث ۱۱: عن جابر قال خرجنا مع رسول الله ﷺ الی سعدبن معاذ حین توفی ...الخ۔

جابر رضی الله عنه فرمائی: نبی ﷺ سره اووتلم سعد بن معاذ رضی الله عنه ۔ چه کله دے وفات شوے وو۔ سعد وو سید الانصار۔ ده چه کله اسلام راوړو۔ نو دده د وجے نه ټول بنو عبد الاشهل هغوی اسلام راوړه۔ غزوه خندق کښې دے لګیدلے وو په لاس باندے۔ (یعنی مړوند) او رګ ئی مات شوے وو۔ وینه ئی اودریده نه۔ یوه میاشت روستو بیا وفات شوید ے۔ اوبنوقریظه دے ثالث جوړ کړے وو۔ چه دے ئی حلیف وو۔ چه ده څه فیصله اوکړه۔ مونږ ته منظور ده۔ په بیماری کښې ئی دے راوغوختلو۔ دے چه کله رانزدے شو۔ نو نبی ﷺ اوفرمائیل :قوموالی سیدکم فانزلوه من الحمار۔(مسند احمد) پاخیدل خدمت دپاره وو۔ اوبیا ئی ورته اوفرمائیل داخلق ستا فیصله منی۔ ستا څه فیصله ده۔ اوئیل زما فیصله خوداده: چه کوم ځوانان دی دا اووژلے شی۔ ښځے او ماشومان دے قید کړے شی۔ په دے واقعه کښې صرف زیرناف ویخته په دغه ورځ کتلے شوے وو۔ څکه هریوتن به وئیل څه نابالغه یم۔ ده فیصله ډیره بهترینه کړے ده۔ سعد رضی الله عنه ډیره ګرانه نیغه فیصله خپلوانو کښې کړے ده۔ نبی ﷺ وئیلے دی مشکوة دویم جلد کښې روستودده په مناقبو کښې به راشی: لمناديل سعد فی الجنة احسن من هذا ۔ نبی ﷺ له دریښمو کومه جبه ورکړے ده۔ د هغے نه په جنت کښې د سعد رضی الله عنه رومال ښکلے دے۔ چه پوزه پرے پاکوی۔ دده جنازے له اویا زره ملائك راغلے وو۔ دومره درنه جنازه وه۔ او منافقانوبه وئیل داخه سپکه جنازه ده۔ هغوی خپله غصه ښکاره کوله۔ څکه ئی جنازے ته د سپکے نسبت کولو۔ " **فلما صلی رسول الله ﷺ** ":- پیغمبر پرے جنازه اوکړه۔

"**ووضع فی قبره**":- اوپه قبر کښې کیخودے شو۔ "**وسوی علیه**":- اوخاوره پرے برابر شوه۔

"**سبح رسول الله ﷺ**": د دفن نه روستو خبره ده " **فسبحنا طویلاً** ": مونږ ډیره اوږده زمانه تسبیحات اووئیل ." **ثم کبرفکبرنا** ": نبی ﷺ بیا تکبیر اووئیلو مونږ ورسره تکبیر اووئیلو " **فقیل یا رسول الله ﷺ** ":......تپوس ترینه اوکړے شو۔"**لم سبحت ثم کبرت** " :ولے دے تسبیح اووئیل۔ او یا دے تکبیر اووئیلو.

"**قال لقد تضایق علی هذا العبد الصالح قبره**": تحقیق سره تنګ شوے وو۔ په دے بنده صالح باندے قبر دده۔"**حتی فرجه الله عنه**": تردے پورے الله ترینه تنګسیا لرے کړه۔ چه کله مے تسبیحات اووئیل .نو د تسبیحاتو په برکت باندے الله دده په قبر کښې توسیع راوستله۔ او وو بنده نیك. دائی مونږ ته اوخودله چه عامو انسانانو له پکار ده۔ چه ډیره یره کوی۔ چه داسے عظیم انسان او شخصیت هغه له هم تضایق راغلے دے۔ چه د نورو انسانانو به څه حال وی۔ بعضے علماء لیکی چه ده به د بولونه ځان نه بچ کوو۔ یعنی د څناورو بولونه به ئی ځان نه بچ کوو۔ د حلالو څناورو د بول نه د عدم اجتناب په وجه دغه

تنگسیا راغلے وہ۔ ابن حزمؒ لیکلے دی : قال ابومحمد فافترض رسول الله ﷺ علی الناس اجتناب البول جملة وتوعد علی ذالك بالعذاب وهذا عموم لا یجوز ان یختص منه بول دون بول.(المحلی ۱ : ۱۵۳)

او امام زهریؒ په نزد " بول ما یوکل لحمه " پاك دی : قال معمر رایت الزهری یلبس من ثیاب الیمن ماصنع بالبول ما یؤکل لحمه۔ (بخاری مع القسطلانی ۱ : ۵۶۳)۔

بریلیان ترے د قبر بانگ ثابتوی۔ دلته تسبیح د تعجب دپاره وئیلے شوید ے۔ په دے د اذان قیاس ، قیاس مع الفارق دے۔ بانگ کښې سبحان الله اوډشته نه۔ او الله اکبر مؤذن وائی تول خلق په جهر نه وائی۔ او دلته تولو صحابو الله اکبر وئیلے دے۔ ددے نه عمومی تلاوت د قبر په خواکښې کول نه معلومیږی۔ او داد نبی ﷺ معجزه ده۔ مونږ ته تضییق یا ضم نه محسوس کیږی۔

بعضے علماء لیکی : چه دا ضم د مینے او محبت دے۔ لکه یو خاص دوست چه د ملاقات په وخت کښې بل دوست له خه زور ورکړی۔

بعض علماء سعد بن معاذ رضی الله عنه ضغطة القبر باندے کلام هم کوی۔

حدیث ۱۲ : وعن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ هذا الذی تحرك له العرش ..الخ۔

"هذاالذی":۔ دا هغه شخصیت دے۔ **"تحرك له العرش"**:۔ چه عرش دده دپاره په خوزیدوشو۔ یادا عرش چه په حرکت شو۔ دا ډیر د خفگان د وجے نه۔ لکه قرآن کښې دی : ﴿ فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ السَّمَآءُ وَالۡاَرۡضُ وَمَا كَانُوۡا مُنۡظَرِيۡنَ ﴾۔(سورة الدخان : ۲۹) ۔ په فرعونیانو نه آسمان اوژړل۔ او نه زمکے۔ دا عرش خفه دے یو قسم له ژړا ئی پرے اوکړه۔

دابره عرش ترینه مراد دے۔ اوحرکت په خپله معنی باندے واخله۔ او مراد خفگان دے۔

دویم : دخوشحالیء نه دا حرکت ئی شروع کړو۔ روح باندے بره راغے : ﴿ كَلَّاۤ اِنَّ كِتٰبَ الۡاَبۡرَارِ لَفِىۡ عِلِّيِّيۡنَ ﴾۔(سورة المطففین : ۱۸) ۔ بخاری کښې دا روایت راغی۔ دلته داد نسائی روایت دے۔ اود بخاری په یو روایت کښې داسے راغی چه عرش نه دے خوزیدلے۔ داده هغه تحت یعنی کټ یادوی۔ کوم کټ کښې چه په زمکه پروت وو۔ هغه په خوزیدوشو۔ امام بخاری صحیح کښې د براء بن عازب رضی الله عنه نه نقل کوی : اهتز السریر فقال انه کان بین هذین الحیین ضغائن سمعت النبی ﷺ یقول اهتز عرش الرحمن لموت سعد بن معاذ۔ (بخاری ۱ : ۵۳۶) ۔ صحیح داده : چه عرش په حرکت باندے راغلے دے۔

: ﴿ وفتحت له ابواب السماء ﴾ ۔ دده دپاره د آسمان دروازے دده د روح دپاره کهولاؤ شوے ۔ کافر له نه کهولاویږی۔ اتمه سیپاره کښې راغی : ﴿لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ اَبۡوَابُ السَّمَآءِ ﴾۔(سورة الاعراف : ۴۰)۔

"وشهدوه سبعون الفًا من الملائكة":۔ او دده جنازے ته اویا زره ملائك حاضرشوے وو۔

"لقد ضم ضمة": ۔ "تحرك له العرش"۔

مسئله د کرامت

داددوی کرامت دے۔ او دا کرامت بعد الموت په معنی د اکرام خودلوسره ټیك دے ۔ او د آثارو د کرامت کښې اختلاف نشته۔ کرامت اصطلاحی دا نشته۔ کرامت بعدالموت په معنی د عزت سره شته۔ او سورة یس کښې راځی : ﴿ وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ ﴾۔ (سورة یس : ۲۷) ۔ بلکه دادهربنی آدم شته۔ : ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾۔ (سورة بنی اسرائیل : ۷۰) ۔

او کرامت بعدالموت په معنی د ابقاء د آثار دا هم ښکاره شوے دی۔ امام بخاریؒ د قبرنه خوشبوئی ختله۔ دا آثار د کرامت دی۔ شیخ د پنج پیرؒ په نیل السائرین کښې د علامه ابومحمد جوینیؒ په باره کښې لیکلے دی: چه ده له ئی کله غسل ورکوو د مرګ نه بعد۔ نو چه کفن کښې اونغاړلے شو۔ ابوالصالح المؤذن وائی : رأیت یده الیمنی الی الابط زهراء منیرة من غیرسوداء هو یتلؤلؤ القمر فتحیرت وقلت نفسی هذه برکات فتواه۔ (نیل السائرین : ۹۳) ۔ ښے لاس ئی ځلیدواو پړقیدو او رڼړا ئی کړله۔ په دے لاس باندے ئی لیکل کړے وو۔ اوډیرے مزیدارے فتوے ئی ورکړیوے۔ د هغے هغه آثار الله د هغه په لاس کښې ښکاره کړل۔ نودا شته دے۔ چه عامربن فهیره رضی الله عنه لاس په بره ختلے وو۔

ابوداود کښې باب مایریٰ من النورعند قبر الشریف د نجاشی د قبرسره رڼړا ښکاره شوے ده۔

دیته وائی آثار د کرامت بعد الموت۔ شیخؒ په خپله لیکی نیل السائرین کښې چه یوولی الله وو : محمد بن عبدالکریم یقال ان بعض ملاعین الیهود اوغیرهم مشیٰ لقبره فبال علیه فعمی مکانه وذالك من غیرة الله علی اولیاء ه۔ (نیل السائرین : ۲۵۷) ۔ چا د بے ادبی د وجے په قبر باندے واړه بول اوکړل ۔ کله چه پاځیده نوپه ځائی باندے ړوند شویدے ۔ وریسے شیخؒ لیکی : چه داد الله غیرت دے ۔ په خپلو نیکانو بندګانو باندے کړیدے۔ چه د نیك د قبر بے ادبی مه کوه۔

عاصم رضی الله عنه چه کله شهیدشو۔ نو ډنډارے پرے مسلط شوے۔ چه مشرك ئی سرحاصل نه کړی۔ (الاصابة مع الاستیعاب ۲ : ۲٤٥) ۔ کرامت اصطلاحی بعدالممات سلب دے دغه نشته دے۔

بعضے خلق کرامت تصرف ته وائی۔ عرش د هرچاډپاره نه خوزی۔ دا دومره لوئی مقام سعد رضی الله عنه ته ځکه ملاؤ شو۔ چه بنو قریظه فیصله ئی۔ کله چه ثالث وو۔ او بلا رو رعایت ئی کړے ده۔

حادی الارواح کښې علامه ابن قیمؒ لیکی : فانه کان فی الانصار بمنزلة الصدیق فی المهاجرین واهتزلموته العرش وکان لا یاخذ فی الله لومة لائم وآثر رضاالله ورسوله علی رضا قومه وعشیرته۔ (۱۵۱) ۔

حدیث ۱۳: وعن اسماء بنت ابی بکر قال قام رسول اللہ ﷺ خطیبًا فذکر فتنۃ القبر ..الخ۔

اسماء رضی اللہ عنہا د عائشے رضی اللہ عنہا ناسکہ علاتی خور دہ۔ بعض وائی: داترینہ لس کالہ مشرہ دہ۔ ددے پہ نوم باندے مکہ مکرمہ کبنی شارع اسماء بنت ابی بکر شتہ۔ دے یو ڈیرہ لویہ کارنامہ کڑے دہ۔ د نبی ﷺ او د پلار دپارہ د ھجرت پہ شپہ باندے روټی او سالن ئی ورلہ ڈیر پہ مینہ مینہ تیار کڑل۔ لوبنی تڑل څہ وو نہ۔ نو خپلہ لوپټہ ئی دوہ ځایہ کڑے دہ۔ یو نہ ئی دسترخوان جوڑ کڑے وو۔ او بل کبنی ئی ورتہ سالن تڑلے وو۔ داد ھغے یو خدمت وو۔ د ھغے د وجے نہ ملا علی قاریؒ مرقات کبنی دے ځائی کبنی لیکلے دی: لم یقع لھا سن ولم ینکر من عقلھا شیء ۔ چہ اسماء د سلو کالو وہ نہ ئی غاښ پریوتے وو۔ او نہ ئی پہ عقل کبنی فطور راغلے وو۔ ځوک چہ د دین کار کوی۔ نو اللہ بہ ستا بادی، حواس او عقل سم ساتی۔ "**قام رسول اللہ ﷺ خطیبًا**": ۔ نبی ﷺ خطابت لہ اودریدہ۔ خطابت نبی ﷺ پہ اولاړہ باندے ھم کڑیدے۔ مولانا احسان صاحب او شیخ الحدیثؒ لیکلے دی: چہ نبی ﷺ خطابت پہ اولاړہ باندے کڑیدے۔ ستا خوښہ دہ کہ کینے او کہ اودریږے۔ اودریدہ بہ ځکہ چہ خلق ئی وینی۔ دا خطباء د نبی ﷺ وارثان دی۔ "**فذکر فتنۃ القبر**": ۔ تذکرہ د فتنے د قبرئی اوکڑہ۔ ھغہ فتنہ چہ انسان نہ پہ ھغے امتحان اغستلے شی۔ "**ضج المسلمون ضجۃ**": ۔ ھر کلہ چہ نبی ﷺ دا فتنہ ذکر کڑہ۔ نو شور جوړ کڑو مسلمانانو شور۔ اووئی ژړل سمے کرغی ئی اووھلے۔ بخاری کبنی دے ځائی پورے دی۔ او نسائی کبنی سیوا والے دے۔

"**حالت بینی وبین ان افھم کلام رسول اللہ ﷺ**": ۔ مخکبنی سرہ ئی اولکوہ "ضجۃ" داسے شور وو۔ چہ د شور د وجے زما او د نبی ﷺ د کلام پہ فھم کبنی حائل جوړ شو۔ ماد پیغمبر خبرہ وانہ ریدہ۔ چہ نبی ﷺ کومہ خبرہ کڑے وہ۔ ھغہ ماتہ راوو نہ رسیدہ۔ کلہ چہ ددوی شور غلے شو۔ ما نزدے سڑی تہ اووئیل۔ نزدے سڑی دوہ مطلبہ دی (۱): یا چہ زما سرہ ناست وو۔ پہ دے اعتبار سرہ نزدے۔ (۲): دویم رشتہ دار وو۔ زما نزدی۔ غورہ رشتہ داری دا معنی دہ۔ او ما ددے رشتہ دار نہ د مسئلے تپوس اوکڑو۔ چہ نبی ﷺ څہ اووئیل۔ ھسے مسئلہ دادہ: چہ د ضرورت د وجے د ښځے نہ تپوس کول جائز دی۔ اوئی وئیل "**ای بارك اللہ فیك**": ۔ اللہ دے تالہ برکت درکڑی۔ چانہ چہ د

مسئلے تپوس کوے۔ نولړه دعا ورته کوه۔ دائی اووئیل " قد اوحی الی ":۔ تحقیق سره ماته وحی کړے شوے ده۔ چه جبریل علیه السلام ئی ورله زړه کښې واچوی۔ نو هم وحی ده۔ اګرچه دا په قرآن کښې نشته۔ "انکم تفتنون فی القبور":۔ دا وحی خفی هم ده۔

"قريبًا من فتنة الدجال":۔ د هغے فتنے ددجال سره به نزدے وی۔ دا دجال ئی ورسره ولے یاد کړو۔ نو محدثین وائی: قبرفتنه داسے خطرناکه ده۔ لکه څنګه چه د دجال فتنه خطرناکه ده۔ د قبرفتنے اودجال په مینځ کښې یوشان والے هم دے۔ او ددے وجے نه ئی دا ذکرکړو۔

شاه انور شاهؒ لیکلے دی: بعضے خبرے داسے دی چه د هغے نحوست به انسان په قبرکښې محسوسه وی۔ په هغے کښې یوه خبره د سیدنا عثمان رضی الله عنه سره بغض دے۔ چه عثمان رضی الله عنه سره بغض ساتی۔ لکه بعضے خلق وائی دمال غنیمت پالیسی ئی خرابه وه۔ یا نور اعتراضونه پرے کوی۔ نود هغے آثر به په قبرکښې ښکاره کیږی۔

د شاه انورؒ عبارت دے: رایت فی "البدورالسافرة" روایة: ان من کان فی قلبه بغض من عثمان رضی الله عنه 'فانه لا یأمن فی قبره من فتنة الدجال ' فتبین ان آثرتلك الفتنة تسری الی القبورایضًا۔ (فیض الباری ۲ : ۳۰۳)۔

حدیث ۱۴ : وعن جابر رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال اذا ادخل المیت القبر ...الخ۔

سیدنا جابر رضی الله عنه فرمائی: کله چه مړی په قبر کښې وردننه کړے شی۔ نو ورته صورت مثالی د نمرد ډوبیدو په وخت ښکاره شی۔ بدعتیان وائی: چه دا مړے ددنیا نمروینی په قبرکښې لیکن داسے نه ده۔ "مثلت له الشمس":۔ تمثیل دے د هغے نمرصورت مثالی ورته پیش شی۔ لکه جسد مثالی چه وی۔ نودا صورت مثالی دے۔ "فیجلس":۔ نو دے کینوی۔ سترګے مګی وائی: ما پریږدے مونځ کول غواړم۔ داد ابن ماجه روایت دے۔ نوعلامه البانیؒ دلته په تخریج المشکوة کښې وائی: اسناد کښې ئی احتمال د تحسین شته دے۔ علامه بوصیری زوائد کښې لیکی: هذا اسناد حسن۔ دا بالکل حسن روایت دے۔ په هغه وخت دا حسن روایت دے۔ کوم وخت کښې چه ابوسفیان نه مراد طلحه بن نافع راوی وی۔ نو دا سند بیا حسن دے۔ ځکه دده د جابر رضی الله عنه سماع حاصل کړے ده۔ او اسماعیل راوی چه دے په ده کښې لږ اختلاف دے۔

دویمه خبره داده: چه د علامه البانیؒ یو بل کتاب دے دهغے نوم دے تخریج کتاب السنة۔ نو په هغے

کښې ئې ویلي دي. سند صحیح دے. او ابن ماجه صحیح کښې ذکر کړيدے.

سوال: دے چه داسې مازیګرے ورته ولے بنائی؟ چه کله نمر ډوبیدو باندے وی.

جواب: یو دے کښې حکمت دادے: چه د مازیګر د وخت قیمت او عظمت بنائی.' والصلوة الوسطی" ورته وئیلے کیږی. دے طرف ته په کښې اشاره ده. دویم: داچه یو تن دے او هغه سفر کوی. مرقات کښې ملا علی قاریؒ دا وائی: چه سحرنه تر ماښامه پورے سفر اوکړی. ماښام مازیګر ترمینځه چه نمر ډوبیدوته نزدے شی. بیادے شپه تیروی په یو ځائی کښې. نوسحر بیا منزل مقصود طرف ته روانیږی. دے انسان خپل سفر شروع کړیدے. ګویا دے راورسیدو خپل برزخ ته. چه د شپے پشان دے. او آئنده به دے آخرت ته روان وی. بعث بعدالموت به وی. نودغه منظربه ورته مخکښې کوی. بله دا چه مسافردغه وخت کښې ګډوډ پریشانه وی. دے توله ورځ سفر هم اوکړی اوماښام راشی. آخوانور منزل نه شی کولے. یو ځائی کښې شپه راشی. خوخوك نه پیژنی. یو ځائی یار دوست وی نو کار آسان وی. دیته شام غریبان وائی.

توزلف را شکستی وتاریک شد جهان اکنون فتاد شام غریبان کجا روند

د غریبانانو ماښام دا لړ وحشت والا وی. اشاره دیته وه. چه انسان ته لړه دمه راشی. وائی ما پریږدے چه مونځ اوکړم. دده خیال دے چه دا دنیا ده مونځ پاتے کیږی. نود مونځ اهمیت دده په زړه کښې پروت دے. نوزړه کښې چه څه وی نو هغه په خُله راوباسی.

الحق الصریح کښې دی: یو صحابی په قبرکښې "تبارك الذی" لوستلے ده. فضائل القرآن کښې به راشي چه روایت کمزورے دے. هلته خپله لیکی: ضعیف دے که ثابت شی. نوداڅه بعیده نه ده.

علامه ابن قیمؒ ۴: ۳۸۴ روایت ذکر کړیدے: لیکلے دی: قال ابن عبدالبر هو صحیح.

یحی بن عمرو بن مالك عن ابیه عن ابی الجوزاء عن ابن عباس قال ضرب بعض اصحاب النبی ﷺ خباء ه علی قبر ...الخ ـ یحی بن عمرو ضعیف دے. حماد بن زید ئی تکذیب کوی. (تقریب) ـ امام ابوزرعه، یحی بن معین، ابوداود، نسائی او دولابی ورته ضعیف وائی. امام عقیلی فرمائی: لا یتابع علی حدیثه وقال احمد لیس هذا بشیء وقال الساجی منکر الحدیث. (تهذیب التهذیب) ـ او میزان کښې دی: ضعفه ابوداود.

چه د انسان په دنیا کښې سورة الملك سره مینه وی. او هغه لولی نو پس د مرګ نه ئی خلقوته کرامت ښکاره شی. (الحق الصریح ۸: ۵۷) ـ اوثابت بنانی چه کله قبرکښې خخ کړو. نو هغه سجده اوکړه.

پس د مرگ نه. داد برزخ په لحاظ ژوندی دی. ځکه دا تلذذی عبادت دے. انتهی.
لیکن عمومی قاعده قطع نظر د خرق عادت داده: اذا مات الانسان انقطع عمله. ځکه خوسیدنا عیسٰی علیه السلام فرمائی: ﴿وَأَوْصَانِيْ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا﴾. (سورة مریم: ۳۱). د جنازے دعاکښې اسلام په حیات سره خاص کولو کښې لفظ راوړلو کښې دغه نکته ده.
که څوك عادةً د چا باره کښې دغه عقیده د مانځه په قبرکښې لری. دا غیرشرعی او باطله نظریه ده.
داخبره علامه ابن قیمؒ هم په خپله قصیده نونیه کښې ذکرکوی.

فتمثل الشمس الذی قد کان یر — عاها لاجل صلاة ذی القربان
عندالغروب یخاف فوت صلاته — فیقول للملکین هل تدعان
حتی اصلی العصر قبل فواتها — قالا ستفعل ذاك بعد الآن
هذا مع الموت المحقق لا الذی — حکییت لنا بثوبته القولان
هذا وثابت البنانی قد دعا — الرحمن دعوة صادق الایقان
ان لا یزول مصلیا فی قبره — ان کان اعطی ذاك من انسان

داسے واقعه په خرق عادت حمل ده. او عبادت تلذذی دے، قانون نه دے. او نه مړے مکلف دے.

حدیث ۱۵: وعن ابی هریرة عن النبی ﷺ قال ان المیت یصیر الی القبر فیجلس ...الخ.

"**ان المیت یصیر الی القبر**": مرقات کښې دی: کل ما استقر فیه بعدالموت فهو قبره.

"**فیم کنت**": په کوم دین دے ژوند تیر کړیدے. لکه قرآن کښې دے: ﴿فیم کنتم﴾. یعنی دین دے کوم دے. کومے ډلے سره وے. نود هغے نه تعبیر اوکړو "فیم کنت".

فیقال هل رأیت الله": داخاص سوال دے. داپه نورو ځایونو کښې نه وو. لکه مخکښې یوسوال اوشوستانه. چه تا دا مسئلے کوم ځائی ایزده کړے دی. نو نورو روایتونو کښې راځی وائی به: قرات کتاب الله فامنت به. دلته دا په کښې بل سوال دے. نو مشهوره داده: چه په قبرکښې به درے سوالونه کیږی. ولے څلورم سوال د قرآن هم اوشو. او پنځم سوال "هل رایت الله" اوشه.

"**فیقول ما ینبغی لاحد ان یری الله**": چه الله وینی داد دنیا خبره کوی. آخرت کښې خو به بیا

وینی ۔ خوک تاب لری چه فانی دنیاکښې فانی سترګے په ویخه الله اوینی ۔ دہ ته به روشن دان پرانستلے شی ۔ اوبه وینی چه د اور لمبے بعضے بعضے لره خوری ۔ یوبل کښې دننه کیږی ۔ لکه روستو کتاب کښې به حدیث راشی ۔ اور به درخواست اوکړی ۔ چه ځان اوخورم شغلو اوخورم ۔ ماته اجازت راکړه ۔ نو د دوو ساه اغستلو اجازت به ورله ورکړی ۔ یو په ګرمی اوبل په یخنی کښې ۔ ګرمی کښې ساه واغستو ۔ نو ګرمی ترینه جوړه شوه ۔ او سردے کښې نوږمے ترینه جوړ شو ۔

"یحطم بعضها بعضًا": ۔ لکه یو تن ته وائی ژاړی ډیر اوخبرے کړے وړے کوی ۔ او ورته وائی څه ځان خورے ۔ او دومره زیات وو ۔ ته وائی اور بعضو اجزاء بعضوله خوړل ډیر هولناکی د وجے نه ۔

"انظر الی ما وقاك الله": ۔ اوګوره الله ته بچ کړے ۔ که دغه لمبو ته تلے وے ۔ نو بیا به دے څه حال وو.

رشید البیان کښې مسئله ده: امان غواړه د دوزخه هم د ګرم هم د یخه

خو بیا جنت غاړے ته ورته روشندان کهولاؤ کړے شی ۔ نو اوس خوشحاله شی ۔ اول ورته دوزخ اوښائی چه ښه ده چه ددینه بچ شوے ۔ نو دهغے نه بعد جنت والا نعمت چه اووینی ۔ نو خه به خوشحاله شی ۔ د تکلیف نه روستو راحت نور هم خوند پیدا کوی ۔

"فینظر الیه": ۔ ضمیر د مذکرئی "نارًا" ته په تاویل د عذاب ذکرکړو ۔ او "یحطم بعضها" کښې د لفظ د لحاظ د وجے ورته ئی د مؤنث ضمیر راجع کړیدے ۔

"ان شاء الله": ۔ د تبرك یا د تحقیق دپاره دے ۔ اود مخکښې د تقدیر د باب سره ئی تعلق هم شته ۔ چه دا څه اوشو ۔ په تقدیر کښې دغه لیکلے وو ۔

الحق الصریح کښې دی: چه د سورة یس وئیلو روایت موضوعی دے ۔ سلسلة الاحادیث الضعیفة او تعلیق الآیات د مولوی عتیق الله صاحب اوګوره ۔ (۴۲۰) ۔ د مولوی عتیق الله صاحب تعلیق کتلونه مخکښې مولوی صاحب الحق الصریح ۸ : ۷۵ کښې لیکی: هغه اوګوره ۔ البته د بعضے تابعینو اعمال په کښې شته ۔ اود یو صحابی غفیف بن الحارث السمانی رضی الله عنه عمل په مسند احمد کښې راغلے دے ۔ چه دے کله وفات کیدو: هل قرء منکم احد یقرء یس ۔ نو صالح بن شریح سورة یس شروع کړو ۔ کله چه څلویښتو آیتونو ته اورسیدو ۔ نو هغه وفات شو ۔

مشائخو به وئیل: اذا قرء ت عند المیت خفف عنه بها ۔ (احمد) ۔ روستو لیکی: دا حدیث مقطوع شو ۔

اوموقوف دے په دغه مشائخو باندے۔ نو که ددوی دا روایت سند کړید ے نو دا به حسن سند وے۔ او دا آثر شعیب الارنووط حسن ګرځولے دے۔ او وئیلے دی: چه ابهام د مشائخو ضرر نه رسوی۔

اوحافظ ابن حجرؒ په الاصابة فی تمیز الصحابة کښی دے روایت ته حسن الاسناد وئیلے دے۔

بیا لیکی: درجة الحدیث اسناده ضعیف ومعناه صحیح۔ اخرجه البیهقی فی الشعب وضعفه الالبانی۔

بهرحال موضوعی خو نه دے۔ ضعیف دے۔ لکه چه د جمعے په شپه یا ورځ څوك مړشی اوعذاب قبر ورته نه وی۔ (۲): د جمعے په ورځ باندے د مومن سړی مرګ سبب دے د نجات د عذاب قبر نه۔ یا د جمعے په شپه۔ (۴۲۵)۔ انتهی۔

وضاحت: ملاعلی قاریؒ لیکی: لکن ینقطع عنه عذاب القبر یوم الجمعة ولیلة الجمعة ولا یعود العذاب الی یوم القیامة وان مات یوم الجمعة اولیلة الجمعة یکون له العذاب ساعة واحدة۔ بیا لیکی: نعم ثبت فی الجملة ان من مات یوم الجمعة اولیلة الجمعة یرفع العذاب عنه الا انه لا یعود الی یوم القیامة فلا اعرف له اصلًا۔

(شرح فقه اکبر: ۱۰۲)۔ مسند احمد کښی روایت راغلی: من مات یوم الجمعة اولیلة الجمعة وقی فتنة القبر ـ اسناده ضعیف ـ مسند احمد ۱۱: ۶۲۷، او ۱۱: ۱۵۰ باندے تعلیق او تحقیق کښی شعیب ارنووط لیکی: فهذه الشواهد لا تصلح لتقویة الحدیث وقد اخطأ الالبانی فی الجنائز۔ ص: ۳۵ فحسنه او صححه بها تقلیدا للمبارکفوری فی تحفة الاحوذی۔ لیکن تحقیق د علامه البانیؒ صحیح دے۔

(۳) قرأت لوستل بعد الدفن: ـ درے اقوال دی۔ امام ابو حنیفهؒ، مالكؒ او یو روایت د امام احمدؒ دادے: چه دا مکروه بدعت دے۔

وضاحت: شیخ عبدالسلام په تحفة السجن السلفی ایډیشن کښی لیکی مسئله: د قبر سر طرف ته د سورة بقرے د اول نه تر "اولئك هم المفلحون" او د غسے خپو طرف ته "آمن الرسول" تر آخره تلاوت کول جائز دی۔ (۱۷۲)۔

(۲): کتاب التعویزات، الداء والدواء لنواب صدیق حسن، پھر بعد دفن کے قبر پر اول وآخر سورة بقره پڑھے ـ رواه البیهقی فی السنن عن ابن عمر ـ نووی نے کہا اسکی اسناد صحیح ہے گو ابن عمر ہی کا قول ہے ایسی بات رائے سے نہیں کہی جاتی : (ص ۴۲)۔

(۳): وقد نقل عن بعض الانصار انه اوصٰی عند قبره بالبقرة (اوائل بقره امدآد) وهذا انما کان عندالدفن۔ (مجموعة الفتاوی لشیخ الاسلام ۱۲: ۱۷۶)۔ (۲) انه بلغه ان ابن عمر اوصی ان یقرء عند قبره بفواتح البقرة

وخواتیمها وروی عن بعض الصحابة قراء ة سورة البقرة ' فالقراء ة عند الدفن ماثورة فی الجملة واما بعد ذالك فلم ینقل فیه اثر ۔ (١٢ : ١٦٦) ۔

علامه ابن قیمؒ لیکلے دی : لم یکن من هدیه ان یجتمع للعزاء ویقرأ له القرآن لا عند قبره ولا غیره وکل هذا بدعة حادثة مکروهة ۔ (زاد المعاد ١ : ١٤٦) ۔

دصحابووصیت د شریعت نه خلاف نه وی۔

علامه البانیؒ ابن العلاء بن لجلاج باندے جرحه کړے ده۔ تحفة الاخوذی کښې علامه عبدالرحمن مبارکپوری د علامه ابن حجرؒ قول دده په باره کښې په " مقبول " سره نقل کړیدے۔ (تقریب)۔

او علامه مزیؒ لیکی : ذکره ابن حبان فی کتاب الثقات فقد قال الحافظ مقبول ثم انه موقوف ۔

او ددوی نه مبشر العامری الشامی روایت کړیدے۔ کتاب الثقات لابن حبان ، دغسے تهذیب الکمال د مزی ، او تهذیب التهذیب لابن حجرؒ کښې دی : چه امام ترمذیؒ دده نه یو حدیث روایت کړیدے۔

او عباس دوری یو ځل د امام احمد نه ددے مسئلے تپوس اوکړو : تحفظ فی القراء ة علی القبر شیئًا قال لا ۔ (لیکن امام احمد روستو رجوع کړے ده) وسالت یحی بن معین فحدثنی بهذا الحدیث ۔

(الدر الثمین عبدالله الغماری ١ : ٦٠)

علامه البانیؒ په سلسله ضعیفه کښې ذکر کوی ۔ اودغه شان ذکرئی په حاشیه د احکام الجنائز کښې هم کړے ده ۔

الامر بالمعروف للخلال ١ : ٢٨٩ ' تاریخ یحی بن معین ٤ : ٥٠٢ : القراء ة عند القبور لابی بکر بن خلال ۔ (١ : ٢) ۔ او په دے حواله کتاب الروح د ابن قیم کښې بغیر د کلامه روایت درج دے۔

او مرعاة شرح مشکوة کښې علامه مبارکپوری لیکی : وقد سکت عنه الزیلعی وقال الهیثمی رجاله موثقون ' او الاستعداد للموت ١ : ٢٥٨ کښې په المبحث السابع والعشرون کښې روایت مدرج دے۔

نوټ : د بیهقی شعب الایمان نه دلته استدلال نشته۔

اوعلامه ابن قدامه حنبلیؒ المقنع فی فقه امام السنة ' احمدبن حنبل ۔ ١ : ٢٨٢ باندے لیکی : ولا تکره القراء ة علی القبر فی اصح الروایتین ــ او دغسے المغنی لابن القدامه ٣ : ٥١٨ مطبع قاهره کښې هم دی. واضحه دِ وی چه د عبدالرحمن بن علاء نه روایت کوونکے بشر بن اسماعیل دے. او لسان المیزان کښې دغسے حافظ صفی الدین الخزرجی په خلاصة التهذیب کښې او تهذیب الکمال کښې د عبدالرحمن بن علاء په تذکره کښې دده نه روایت کوونکے یو راوی دے. چه نوم ئې لیث بن ابی سلیم دے. (لسان المیزان)

اذا مات احدکم فلا تحبسوه واسرعوا به الی قبره ولیقرء عند راسه بفاتحة الکتاب وعند رجلیه بخاتمة البقرة.
(طبرانی روایت نمبر: ۱۳۴۳۸ ' شعب الایمان روایت نمبر: ۸۸۵۴ ' کنز العمال روایت نمبر: ۴۲۳۹۰).
او دا حدیث ابن حجرؒ فتح الباری کښې د طبرانی په حواله ذکر کړیدے. او سند ته ئې حسن وئیلے دے لیکن دلته په دوو راویانو کلام دے. یو یحی بن عبدالله البابلتی او دویم دده شیخ ایوب بن نُهیك. دیحی تضعیف ابو حاتم ' ابوزرعه او ابن عدی کړیدے.
فیض الباری کښې شاه انورؒ لیکلے دی: چه حسن راوی دے. خود امام اوزاعی نه ئې څه نه دی اوریدلے. اګرچه هدیه ئې ډیره مزیداره وه. او یو رائې په کښې توثیق هم شته.
امام خلیلی په الارشاد فی معرفة علماء الحدیث کښې لیکلے دی: شیخ مشهور اکثرعن الاوزاعی وطعنوا فی سماعة منه منهم من یحسن القول فیه ومنهم من یضعفه. (الارشاد ۲ : ۴۶۸).
سیر اعلام النبلاء ۱۰ : ۳۲۰ باندے دی: الشیخ العالم المحدث ' ابوسعید ' یحی بن عبدالله بن الضحاك البابلتی وهوممن تجوز روایة حدیثه. او لسان المیزان کښې علامه ابن حجرؒ لیکلے دی: فیه لین. او دا معمولی جرحه ده. او دارقطنی فرمائی: چه داسے راوی متروك یا ساقط نه وی. او په داسے غوندے جرحه باندے دده عدالت نه شی ساقط کیدے. (فیه لین ' خو ددے روایت په راوی کښې هم دے چه "ستکون فتن قالوا فما المخرج منها یا رسول الله" امام ترمذیؒ وائی: فیه لین). دوی د ابراهیم بن جریج الرهاوی، ابراهیم بن یزید المکی او د ایوب بن نهیك الحلبی نه روایت کړیدے.
دویم راوی ایوب بن نهیك دے. ابو حاتم او ابوزرعه ورته منکر الحدیث وائی. لیکن امام بخاریؒ ئې تذکره په التاریخ الکبیر کښې کوی. لیکن جرحه پرے نه کوی. خو مختلف فیه راوی دے. ډیرو د حدیثو ائمه ضعیف کړیدے. لیکن د بخاری اشاره ثقه کیدو طرف ته ده. ځکه چه زاد المعاد کښې علامه ابن قیمؒ لیکلے دی: وعادته ذکرالجرح والمجروحین. یعنی د امام بخاریؒ عادت بیا دادے چه په راوی جرحه کوی. (زاد المعاد ۱ : ۴۷۱).
او شیخ عبدالحقؒ اشعة اللمعات: ۱۳۰ باندے لیکی: خواندن قرآن بر سر قبر مکروه نیست خلافاً لبعضهم کذا قال الشیخ ابن الهمام. او فتاوی دیوبند کښې په دمه وئیلو له ترجیح ورکړے ده. لیکن روایت عموماً د جهر راځی.
(۴): فتاوی علماء حدیث ۵ : ۲۰۵ جب حدیث ابن عمر بعد دفن سرہانے میت کے اوائل سورۃ البقرۃ اور... کے خاتم سورۃ بقرۃ پڑھتا بھی. د مسئلے د تفصیلی ځائی کتاب الجنائز دے.
اور سالہ اہل حدیث امرتسر ۱۶ رجب ۱۳۵۸ء مطابق یکم ستمبر ۱۹۳۹ء سوال: ۲۳۵ کا جواب: قبر کے سرہانے یا پاؤں کی طرف سورۃ بقرہ کا اول و آخر بالترتیب پڑھنا بعض صحابہ کا فعل ہے (ملاحظہ ہو مشکوۃ). او ددے ذکر فتح اله کښې د بیهقی په حواله علامه هیثمیؒ د ابن عمر رضی الله عنه نه کړیدے.

حاصل : دادے چه قراءة د قبر سره خواکښی صحیح نه دی۔ او د دفن نه روستو دغے قرات له علامه ابن تیمیهؒ هم بدعت نه وائی۔ مجموعة الفتاویٰ کښی د بحث نه بعد لیکی : وهذا فرق فی القول الثالث بین القراءة حین الدفن والقراءة الراتبة بعد الدفن فان هذا بدعة لا یعرف لها اصل ۔ اومخکښی ئی لیکلے دی: اما القراءة الدائمة علی القبور فلم تکن معروفة عندالسلف۔ (مجموعة الفتاویٰ ۱۲ : ۱۷۶)۔

او اقتضاء الصراط المستقیم کښی هم دی : ان القراءة عنده وقت الدفن لا بأس بها کما نقل ابن عمر وهذه الروایة لعلها اقویٰ من غیرها لما فیها من التوفیق بین الدلائل۔ (۳۸)۔

سیرة الرسول د پښتو ۳ : ۳۵۶ باندے دی : د دفن نه روستو د سورة بقرے اول او آخری آیتونو لوستل دا په احادیثو کښی نشته۔ بلکه دا په بدعاتو کښی داخل دی۔ ډیرو ملیانو ته د هغے روایت سند نه دے معلوم۔ نو دا خبره کوی چه په کتاب کښی ئی لیکلے دی۔

واضحه دے وی چه مسلم کښی په باب المسافرین : لا تجعلوا بیوتکم مقابر روایت دے۔ او په بخاری کښی دی : صلوا فی بیوتکم ولا تتخذوها قبورا۔ علامه البانیؒ ددے نه په عدم جواز استدلال کوی۔ لیکن د جانب مخالف نه د استدلال احتمال شته۔

علامه ابن تین په حواله د ابن حجر نقل کوی : واما جواز الصلوة فی المقابر او المنع منه فلیس فی الحدیث ما یوخذ ذالك منه۔ دے حدیث کښی نه جواز او نه منع یوه خبره هم نشته۔ او بیا لیکی : که مطلب دا وی : چه په منطوق طریق کښی نشته مسلمه ده۔ او مطلقًا نفی صحیح نه ده۔ لیکن احتمالی خبره بدعت او عدم جواز له دلیل نه وی۔

حکمت القرآن تفسیر کښی د : ﴿إِن تَجْتَنِبُوا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ﴾۔ (سورة النساء : ۳۱)۔ آیت په ذیل کښی دی : هرچه دا آیت دے په دے کښی الله یو طرف ذکر کړیدے۔ چه د لویو گناهونو نه ځان ساتلو سره واړه گناهونه معاف کیږی۔ او بل طرف نه الله سکوت کړیدے۔ (نورو دلائلو نه به معلومیږی)۔ دغه صورت حال دے روایت کښی هم دے۔

په امین الفتاویٰ کښی د مجموعة الفتاویٰ حواله بغیر د دغه پورته تفصیل نه صحیح نه ده۔ اود ابن عمر دغه روایت ته ئی ضعیف وئیلے دے۔ اولیکلے ئی دی : اذا دار الشیء بین کونه مستحبًا او بدعة فترکه واجب کما فی رد المختار۔ دغسے خو خوك وئیلے شی اګرچه مناسب نه دی۔ چه الکامل لضعفاء الرجال ۲ : ۱۶۰ باندے روایت دے۔ سند ئی ذکر کړیدے : قال ابن عمر رأیتکم رفعتم ایدیکم فی الصلوة والله انها لبدعة ما رایت رسول الله ﷺ فعل هذا قط۔

فتاویٰ خالص کښی مولوی صاحب رفع الیدین ته مستحب وائی۔

باب الاعتصام بالکتاب والسنة

امام بخاریؒ هم صحیح البخاری کښې "باب الاعتصام بالکتاب والسنة" باب تړلے دے۔

اعتصام بالکتاب والسنة د ماقبل سره ربط داد ے: که د عذاب قبر مسئلے وے۔ اوکه تقدیر مسئله ده په دے کښې بنیادی څیز هغه "الکتاب والسنة" دے۔ "الکتاب والسنة" باندے اعتصام اوکړه۔ نو د عذاب قبرنه به بچ شے۔ د ایمان تفاصیل هغه هم په "الکتاب والسنة" کښې موجود دی۔ عصمت وئیلے کیږی بچاو ته۔ بچاو سره منع لازمه ده۔ لکه مثلاً د نوح علیه السلام ځوی وئیلے وو: ﴿قَالَ سَآوِيْ إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَاءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللّٰهِ إِلَّا مَنْ رَّحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ﴾۔ (سورة هود: ۴۳) ۔ مابه بچ کړی د اوبونه۔ اعتصام منګولے لګولو ته هم وائی: ﴿ وَمَنْ يَعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ ﴿وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا ﴾۔ (سورة آل عمران: ۱۰۱، ۱۰۳) ۔﴿ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰه ﴾۔ (سورة النساء: ۱۴۶، ۱۷۵، حج: ۷۸) ۔ کتاب او سنت کتاب خو قرآن کریم دے۔ او سنت دلته په عامه باندے واخله۔ که هغه فرائض وی۔ که هغه واجبات وی۔ اوکه هغه مستحبات وی۔ دے ټولوته سنت وائی۔ لکه مثلاً اشاعت التوحید والسنة۔ یوتن وائی ته د سنت اشاعت کوے۔ نو د واجباتونه کوے۔ ته د مستحباتونه کوے۔ نودا سنت په عامه معنی باندے اغستے شے۔ نو په دے کښې واجبات، مستحبات راځی۔ او سنت عام دے د نبی ﷺ اود صحابوقول، فعل او تقریر ته شامل دے۔

د سنت قسمونه

علامه نیشاپوریؒ فرمائی: اوو قسم سنت دے: (۱): سنة البیان، چه د شریعت د کیفیت په کښې بیان وی۔ (۲): سنة التحصین لکه د مونځ نه مخکښې سنت۔ (۳): سنة التزیین لکه رکوع، سجود تسبیحات ۔(۴): سنة التنظیف: ۵ په سر اوپنځه بدن کښې (۵): سنة التادیب، کلوا بثلاثة ۔ (۶): سنة الترغیب لکه تهجد (۷): سنة فعلها احیانًا وترکها احیانًا لکه تراویح د نبی ﷺ ۔ (الفلك المشحون: ۱۱۴)۔

سنت لغت کښې طریقے ته وائی۔ لسان العرب کښې شعر دے۔

ے کأنی سننت الحب اول عاشق   من الناس اذا احببت من بينهم وحدی

او د سنت اطلاق په هغے هم کیږی. چه دلیل شرعی په هغے دلالت کوی. برابره خبره ده. چه د الله په کتاب کښی وی یا نبی ﷺ ئی بیان کړے وی. یا صحابه کرامو په کښی اجتهاد کړے وی. لکه ټول خلق په یو قراءت جمع کول. او د مصحف جمع. او د دین د اوامرو تدوین کول. او د دے مقابل بدعت دے. (الموافقات ٤ : ٦).

د سنت اهمیت : عمربن عبدالعزیزؒ فرمائی : لولا سنة احیها او بدعة امیتها لم ابال ان لا ابقی فی الدنیا فواقا. (حلیة الاولیاء ٥ : ٣٦١)

المواعظ لابی عبید، القاسم بن سلام المتوفی ٢٢٤ هجری : ١٨٦ ، نمبر: ٨٧ ، ابوبکر خطبه کښی اوفرمائیل : یاایهاالناس انما انا متبع ولست بمبتدع فان انا احسنت فاعینونی وان انا زغت فقومونی.

الامربالاتباع والنهی عن الابتداع کښی امام سیوطیؒ د ایوبؒ قول نقل کړیدے : انی لأخبربموت الرجل من اهل السنة فکانی افقد بعض اعضائی.

علامه شرنبلالیؒ د در په حاشیه د مصنف (وکره امامة مبتدع) دلاندے داسے تعریف کوی : وهی ما احدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسول الله ﷺ من علم او عمل او حال بنوع شبهة و استحسان وجعل دینًا قویمًا وصراطًا مستقیمًا ، قاله الشمنی ـ او د علامه شمنیؒ نه دغسے معنی علامه ابن نجیمؒ په دغه باب کښی بحرالرائق کښی نقل کړے ده.

د بدعت مذمت : ابوادریس الخولانیؒ فرمائی : لان اری فی جانب المسجد نارًا لا استطیع اطفائها احب الی من ان اری فیه بدعة لا استطیع تغیرها. (حلیة الاولیاء : ٥ : ١٢٤).

الفصل الاول

حدیث ١ : عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا ..الخ.

دا یو جامع حدیث دے د بدعاتو د رد دپاره. امام مسلمؒ په دے پسے یو بل روایت راوړی : من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد. چا چه په داسے کار باندے عمل اوکړو. چه هغه په دین کښی نه وو. نو هغه هم رد دے. اویو روایت کښی راځی : من صنع امرًا علی غیر امرنا فهو رد. (مسند احمد ٤ : ٥٠١).

څکه یو سړے خو دا وائی چه ماخونوے کار پیدا کړے نه دے. جوړ کړے خو مخکښی علماؤ دے. څه خو په هغے پسے روان یم. نو دواړه خبرے ئی ذکر کړیدے. "من احدث فی امرنا" "من عمل عملاً

لیس علیه امرنا " ۔ دا چه کوم مشر موجد دے۔ من احدث دے۔ او دا روستو مقتدی کوم چه وریسے روان دے۔ مقلد ئی دے غلط دے۔ نودا په دے دویم روایت کښې راغې چه : من عمل عملًا لیس علیه امرنا فهو رد۔ بدعت په لعنت نوے څیزته وئیلے کیږی: ﴿قُلْ مَا كُنتُ بِدْعاً مِّنَ الرُّسُلِ﴾(سورة الاحقاف:۹)

بگو من نیستم نو آمدان پیغمبران (فتح الرحمن)

﴿بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾۔ په "با، دال، عین " کښې نوے والے راغې۔

بدعت څه ته وائی ؟

په اصطلاح کښې بدعت دیته وائی ۔ چه کوم کار د نبی ﷺ د صحابه او د تابعینو په دور کښې نه وو۔ د هغے باعث موجود وو۔ د هغے نه مانع نه وو۔ او اوس یوتن هغے ته دین وائی ۔ نودا بدعت دے۔

شاه انورؒ فرمائی : والبدعة عندی : کل شیء حدث بعد القرون الثلاثة المشهود لها بالخیر لشبهة لا لعناد ، و کانت ملتبسة بالشریعة ، فاذا احدثها الخلفاء ، او خیر القرون ، فلیست بدعة ایضًا ، و کذا اذا حدثت لعناد اولم تلتبس بالشریعة ، فلیست ببدعة ایضًا ، وان کانت مردودة عند الشرع۔ (فیض الباری کتاب البیوع ۳ : ۲۲۸) اضوء المصابیح کښې تعریف کوی : دین میں ہر وہ نئی بات جو قرآن، حدیث اجماع اور آثار سلف صالحین سے ثابت نہیں بدعت کہلاتی ہے.

بدعت په دوه قسمه دے (۱) : بدعت لغوی نوم ئی صرف د بدعت دے۔ نور هغه بدعت شرعی نه دے۔ (۲) : اویو بدعت شرعی دے۔ کوم چه بدعت شرعی اصطلاحی دے۔ په هغے کښې تقسیم نشته۔ "کل بدعة ضلالة " ۔ هر بدعت گمراهی ده۔ " کل انسان حیوان " دا موجبه کلیه ده ۔ نودا هم زمونږ د پیغمبر موجبه کلیه ده۔ چه : کل بدعة ضلالة۔

مجدد صاحب مکتوبات کښې عبدالرحمن کابلی ته خط لیږلے دے : مکتوبات ۱ : ۱۸۶ مکتوب صد وہشتاد" ایں فقیر در ہیچ بدعتی ازیں بدعتہا حسن ونورانیت مشاہدہ نمیکند وجز ظلمت وکدورت احساس نمی نماید۔

چه څه په هر بدعت کښې تیاره گنړم۔ په دے کښې حسنه او سیئه نه منم۔ تیك ده علماء تقسیم کړیدے۔ خودائی په بدعت لغوی کښې تقسیم کړیدے۔ دا فتاوی رشیدیه ، مجالس الابرار او الطریقة المحمدیة کښې دی۔ علامه ابن کثیرؒ لیکی : نعمة البدعة هذه قول عمر فی التراویح بدعة لغویة۔

شاه اسحاقؒ وائی : چه بدعت لغوی دا ملحق بالسنة دے۔

الامام محمد بن ادریس الشافعی یقول : البدعة بدعتان ، بدعة محمودة و بدعة مذمومة ، فما وافق السنة فهو محمود وما خلاف السنة فهومذموم واحتج بقول عمربن الخطاب فی قیام رمضان نعمت البدعة هی.(حلیة الاولیاء ۹:۱۱۳)

اوبو کتاب د شیخ عزالدین بن عبدالسلام دے "کتاب القواعد" په هغے کښی بدعت تقسیم کړیدے۔ دا لغوی تقسیم دے۔(۱) : هغه بدعت چه واجب دے۔لکه نحوازده کول د عالمانو دپاره۔ چه نحوبه ازده کوے۔ حدیث چه راځی : من کذب علی متعمدًا فلیتبوا مقعده من النار ۔ ددے په تشریح کښی محدثینودابو حقیقت ذکرکړیدے۔لکه مثلًا امام نوویؒ۔ اوس په دے دورکښی دیو عالم اومحدث دپاره د نحوے زده کول داد وجوب په درجه کښی ددے دپاره دی۔چه د الله په کلام باندے پو هه شی۔ که درله نحو نه درځی۔دے د الله په کلام اوحدیث باندے نشی پو هیدے۔(مقدمه د تفسیر قرطبی ته رجوع اوکړه)۔(۲) : دویم نمبرباندے بدعت مکروه دے۔لکه جوماتونه خائسته کول۔دے کښی حنفی مسلك کښی مسئله داده :که یوتن جومات خائسته کوی۔نوخیر دے۔خود چندوبه پیسوباندے نه۔یعنی مشترك مال نه نه۔بلکه ذاتی مال به لګوے۔که په ذاتی مال انسان جومات هرڅومره خائسته کوی۔نوخائسته کولے شی۔د مصاحفو خائسته کول ، مزیدار لیکل په کښی هم داخل دی۔بدعت حسنه دے۔ (۳) : بدعت مباحه۔لکه مصافحه د سحراو د مازیګر د مانځه نه پس ده ۔شوافعوبه نزد باندے شته۔ حنفی مسلك کښی د مصافحے دپاره تخصیص یا د سحریا د مازیګر مونځ نه پس کول یا د آختر په ورځ باندے مصافحه۔ که ثواب ئی ګنړی نوبدعت۔اوکه نه ئی ګنړی نورواج دے۔ شوافع داجائز ګنړی۔اواحناف وائی دا مکروه دے۔اودغه شان وسعت په خوراکونواوبه څکاکونوکښی ۔یوتن خوراك کوی که کباب خوری نوخوری دے : ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ﴾۔(سورة الاعراف : ۳۲)۔که جامه اچوی۔اود خائسته نه خائسته جامه وی۔نوشریعت په تاباندے په دے کښی څه تنګسیا نه ده راوستے۔

علامه ابن عادل حنبلیؒ لیکی : فیدخل فیه جمیع انواع الملبوس ویدخل تحته تنظیف البدن من جمیع الوجوه ، ویدخل تحته الرکوب وانواع الحلی ، لان کل ذالك زینة ، ویدخل تحت الطیبات من الرزق کل ما یستلذ ویشتهی من انواع الماکولات والمشروبات ، ویدخل تحته التمتع بالنساء والطیب۔(اللباب)۔

ښکلے سورلی ، ښکلے کوراو ښکلے څکاك دا منع نه دی۔

په بدعت شرعی کښی تقسیم نشته۔ددے وجے نه کتاب الاعتصام کښی شاطبیؒ د امام مالكؒ قول نقل کړیدے : من ابتدع فی الاسلام بدعة یراها حسنة فقد زعم ان محمدا خان الرسالة ۔ چاچه په اسلام کښی بدعت جوړ کړو۔اودے ورته حسنه وائی۔دده مطلب دادے : چه دے پیغمبرپه رسالت کښی خیانت

کړیدے۔ بدعتی څکه ګناهګار دے۔ چه هغه العیاذ بالله پیغمبر ته خائن وائی۔ شریعت په لاس کښی اخلی۔ هغه وائی : څه هم شریعت جوړولے شم : ﴿أَفَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ حَسَنًا﴾ . (سورة الفاطر : ۸) ۔ د فسق نه به توبه اوباسی۔ د بدعت نه خلق څکه توبه نه اوباسی۔ چه دائی ورته خائسته کړیدے۔ او دے ورته ثواب وائی۔ او خلق خود مستحباتو نه توبه نه اوباسی۔ فسق کم ګناه دے۔ او دا بدعت د فسق په اعتبار سره زیات ګناه دے۔

او چرته هم اهل بدعت، اهل السنة نه شی جوړیدے۔ مقدمه د مسلم کښی علامه ابن سیرینؒ فرمائی : فینظر الی اهل السنة فیؤخذ حدیثهم ' وینظر الی اهل البدع فلا یؤخذ حدیثهم۔

تفسیر مدارك کښی د : ﴿بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ (سورة البقرة : ۱۱۷) ۔ دلاندے دا عبارت دے : کل من فعل مالم یسبق الیه یقال له ابدعت ولهذا قیل لمن خالف السنة والجماعة مبتدع لانه یاتی فی دین الاسلام مالم یسبقه الیه الصحابة والتابعون۔

حافظ ابن کثیر سورة الاحقاف : ۱۱ کښی ددے آیت د لاندے : ﴿لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَا إِلَيْهِ﴾ یو قسم له تعریف ئی د بدعت کړیدے : کل فعل وقول لم یثبت عن الصحابة فهو بدعة لانه لو کان خیرًا لسبقونا الیه لانهم لم یترکوا خصلة من خصال الخیر ۔ کوم عبادت چه نبی ﷺ او صحابه نه وی کړے نو دا بدعت دے۔ چه ته ئی کوے۔ او ثواب ورته وائی۔

دابدعت ډیره لویه ګناه ده۔ امام بخاریؒ په صحیح البخاری کښی یو باب تړلے دے : باب اذا انزل الله بقوم عذابًا ۔ ددے لاندے حدیث راوړی : اذا انزل الله بقوم عذابا اصاب العذاب من کان فیهم ثم بعثوا علی اعمالهم.

ددے حدیث په تشریح کښی علامه قسطلانیؒ یوولسم جزء ص : ۴۵۱ کښی د بدعاتو مذمت بیان کړیدے۔ په هغے کښی دا وائی : وفی الحدیث تحذیر عظیم لمن سکت عن النهی فکیف بمن داهن فکیف بمن رضی فکیف بمن اعان۔ بیا وائی څه خود الله نه عافیت او سلامتیا غواړم چه داکار اونه کړم۔

په خپل کتاب ارشاد الساری کښی د ابن ابی الدنیا نه د هغه کتاب دے " الامر بالمعروف " په هغے کښی وائی : چه یو ځل الله رب العزت وحی کړے وه یوشع علیه السلام ته وئیل څه خودا قوم هلاك کوومه ۔ په دوی کښی څلویښت زره کسان نیکان، او شپیته زره عام خلق شریران تباه کوم۔ ټول یولاکه مړه کوم۔ نو هغه تړے تپوس اوکړو چه : یارب هولاء الاشرار -دا چه کوم وران کاری دی۔ چه دا تباه کوے نو تیك ده : فما بال الاخیار ۔ دا نیکان زبرګان متقیان ولے تباه کوے۔ نو وائی جواب کښی ورته۔ الله رب

العزت اووئیل چه دوی: انهم لم یغضبوا لغضبی و کانوا یواکلوهم ویشاربوهم ۔ زما د غضب د وجے ئې د غضب نه کار نه دے اغستے ۔ دوی ورسره تې پارتې کوی ۔ ددغه غلطو خلقو گناهگارو سره ئې تعلق دے ۔ ددے وجے نه به دوی څه هلاك کوم ۔

معلومه شوه: چه دا دین دے چه ته په د منکراتو کولو په وخت کښې د بدعتیانود بدعت کولو په وخت غصه په زړه کښې راولے ۔ مومن له به غصه ورځی قرآن کښې دی: ﴿ کَبُرَ مَقْتاً عِندَ اللّٰهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾ (سورۃ الصف : ۳) ۔ سورۃ حم مومن کښې راځی ۔ الله هم غصه دے ۔ او مومنان هم غصه دی ۔ په داسے وخت کښې چه کله د الله د اوامرو هتك ' سپکوالے کیږی ۔

مالك بن دینار قول ئې نقل کړیدے: چه یو ملك ته الله وحی اوکړه ۔ چه فلانکے کلے وران کړه ۔ فضائل الاعمال کښې هم دا روایت شیخ زکریا ذکر کړیدے ۔ نو وائی دے ملك ورته اووئیل چه دے کښې خوزبرگ بابا ناست دے ۔ جونګره کښې الله یادوی ۔ او نافرمانی نه کوی ۔ وئے وئیل ورته په ده باندے مخکښې واړوه: لان وجهه لم يَتَمَعَّرْ فِيَّ ساعة قط ۔

واقعه د یو عالم: د ابو طالب مکی کتاب دے ۔ د هغے نوم دے "قوۃ الاخیار" په هغے کښې هغه یوه واقعه نقل کړے ده: چه یو عالم په بازار کښې روان وو ۔ بدعتی ئې اولیدو ۔ چه بدعت کوی ۔ او هغه دومره غصه شو ۔ تاؤ ئې واغستو ۔ چه واړه بول ئې کول نووینه ترے د وړو بولو په ځائې باندے اوبهیدله ۔ او مزاج ئې بدل شو ۔ چه دا خلق ولے بدعت کوی ۔ په دویمه ورځ چه روان وو ۔ بیا هغه بدعت کیدو ۔ نو بیا ئې چه واړه بول اوکړه نو واړه بول ئې لږ سم وو ۔ بیا په دریمه ورځ بیا خه سم وو ۔ نو هغه وائی چه دا مُلا صاحب ورسره عادت شو ۔

نن صبا بدعات کیږی اورد پرے نه کوی ۔ د خپلو مفاداتو د وجے نه ۔ په منکر باندے رد ولے نه کوو خپل مفادات دی ۔ په بدعاتو رد ولے نه کوو خپل مفادات دی ۔ څه ته دے خلقو ته اووایه ۔ چه د امام ابو حنیفهؒ په تقلید باندے رد کوے ۔ په عربو کښې یو تقریر اوکړه د امام احمدؒ په تقلید ۔ داسے رد اوکړه ستا هغه حق پرستی به معلومه شی ۔

واقعه: امام غزالیؒ احیاء العلوم کښې یوه واقعه نقل کړیده په باب د امربالمعروف او نهی عن المنکر کښې وائی: چه یو عالم پیشو ساتلے وه ۔ نو د قصاب سره ئې تیکه اوکړه ۔ چه تا سره که خرابه

غوښه وی ـ نو دا غور ځوه مه ـ ماله ئی جمع کوه ـ او څه به ئی پیشوله اوړم ـ نو هغه قصاب ورته وئیل ډیره خه ده ـ نو وخت داسے تیریدو هغه قصاب منکر شروع کړو ـ نو دده زړه له دا راغلل چه ورته وایم ـ چه دا غلط کار مه کوه خودائی هم زړه له راغلل ـ که دے راته اووائی چه خرابه غوښه به درته بیا نه ملاویږی ـ نو بیا به څه کوم نو د هغه د رد نه مخکښی ئی پیشو په بوجیء کښی بنده کړه ـ او لرے غرونو ته ئی اوړه ـ او هلته ئی پریخودله او واپس راغے ـ نو هغه قصاب له لاړو چه دا غلط کار دے دا مه کوه ـ هغه قصاب ورته اووئیل چه د نن نه پس به تاته دا خرابه غوښه نه ملاویږی ـ نو هغه ورته وئیل چه پیشو ما مخکښی نه پریخودے ده ـ

چا پیشو ساتلے ده مدرسه ئی پیشو ده نو دے یریږی ـ که هغه سړی باندے رد کووم ـ نو چنده نه راکوی ـ که دا څیزونه د لرے کړل ـ نو هر څه ختم دی ـ د چا پیشو خطابت ' امامت او نوکری او سیاست ' د کتابونو د حصول او تنخواګانے دی ـ

فقد روی عن بعض المشایخ انه کان له سنور و کان یاخذ من قصاب فی جواره کل یوم شیئا من الغدد لسنوره فرأی علی القصاب منکرا فدخل الدار اوّلا واخرج السنور ثم جاء واحتسب علی القصاب فقال له القصاب لا اعطینك بعد هذا شیئا لسنورك فقال ما احتبست علیك الا بعد اخراج السنور وقطع الطمع منك ـ (احیاء العلوم : ۳۳٤) ـ

شیخ صاحبؒ به وئیل : ما هیچ نه داریم غم هیچ نه داریم
دستار نه داریم غم هیچ نه داریم

مرقات کښی ملاعلی قاریؒ دلته شعرونه نقل کړیدی :

اذا ما دجا اللیل البهیم واظلما — بامر فظیع شق اسود ادهما
فاعلی البرایا من الی السنن اعتزی — واعمی البرایا من الی البدع انتمی
ومن ترك القرآن قد ضل سعیه — وهل یترك القرآن من كان مسلما

چه د شپے خطرناك سخت تك توره تیاره خوره شی ـ نو په دغه وخت کښی اوچت خلق دغه دے ـ چه د سنتو تابعدار دی ـ او ړانده خلق هغه دی ـ چه بدعاتو پسے روان دی ـ او بیا د قرآن عظمت بیانوی او چا چه قرآن پریخودلو ـ نو دده ټول محنت تباه شو ـ او چه ځان ته مسلمان وائی ـ هغه به چرته قرآن نه پریږدی ـ او چه قرآن وائی نو د بدعاتو په رد باندے ـ او د هغے په اهمیت باندے به پو هه شی ـ

د بدعت بل تقسیم

بدعت کښې یو تقسیم بل کوو۔(۱): بدعت حقیقي۔(۲): بدعت اضافي دے۔

بدعت حقیقي هغې ته وائي: چه هغه څیز په خپله بدعت دے۔(۲): اوبدعت اضافي دیته وائي: چه هغه څیز فی نفسه بدعت نه دے۔ خو دهغې کیفیت ' هیئت تاد ځان نه جوړ کړیدے۔ نو دهغې نه بدعت جوړ شویدے۔ لکه قرآن کښې راځي: ﴿ وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ ﴾۔ (سورة الحديد : ۲۷)۔

دوی د ځان نه رهبانیت جوړ کړو۔ رهبانیت په دین کښې نه وو۔ اوجوړ ئې کړو۔ دا بدعت اعتقادي دے۔ رهبانیت په دین کښې رضوان الله له وو ــ اودوی پیسوله کوو ــ دا بدعت اضافي دے ــ بدعت په یو څو څیزونو باندے جوړیږی مثلًا: رومبے خبره یو محل دے بدل کړو۔ نو بدعت کیږی به۔ شریعت ورته ځائي خودلے دے۔ اوتا ځائي بدل کړو۔ کله چه پرنجے اوکړی۔ نو وائي به " الحمدلله " نو بل ورته وائي " یرحمك الله "۔ مشکوٰۃ ثاني کښې روایت راځي یو تن وئیل: السلام علی رسول الله۔ عبدالله بن عمر رضی الله عنه ورته غصه شویدے وئے وئیل: السلام علی امك ــ ستا په مور دے سلام وی۔ دغه وخت کښې به داسے نه وائي۔ چه کوم دے د ځان نه جوړ کړو۔ هغه د شریعت تکے به وائي۔(ترمذی ۲:۹۸)

ــ دابعضے امیان چه سلام اوګرځوی۔ نو په هغه وخت کښې وائي: لااله الا الله۔ په دغه وخت کښې به الله اکبر ' استغفرالله ' استغفرالله ' استغفرالله ' به وائي۔ بیا که روستو " لا اله الا الله " اوکه هر قسم مسنون ذکر کوے ــ نو اول چه په محل کښې دے تبدیلي راوسته ' او ثواب ئې ګنړے۔ نو په دے سره شيء بدعت کیږی ــ بانګ دے پنځو مونځونه له شته دے ــ لیکن دغه بانګ اخترونو له نشته۔ اوته وائي دے پنځو مونځونه له هم شته۔ او اخترونو له هم شته۔ دغے ته بدعت وئیلے کیږی۔ بانګ دے چه کله ماشوم پیدا شي۔ غوږ کښې به اذان وائي دا شته۔ خو کله چه مړشي اوخخوی۔ او ته وائي چه څه قیاس کوم اذان ورته کوم ددے انتها په ابتداء باندے۔ نو دیته بدعت وئیلے کیږی۔

مفتی محمودؒ فتاوی کښې لیکي: قبر پر اذان کہنا خلاف سنت بدعت سیئہ اور احداث فی الدین ہے۔ (شامی ۲ : ۲۲۵)

ــ ځائي به نه بدلوی اودس کښې چه خلق کومے دعاګانے کوی۔ نو دے کښې یو دعا نیمه ثابت ده۔ دانورے نه دی ثابت ــ بعضے احناف ئې هم کوی ــ اونور ئې هم کوی اوثواب ورته وائي۔ مثلًا چه ښنګلے وینځے نو وائي اعمال نامه په ښي لاس راکړه۔ د ګس لاس اعمال نامے نه مے بچ کړه۔ اوچه

پوزے ته اوبه اچوی۔ نووائی داسے اووایه : اللهم ارحنی رائحة الجنة۔ ماته د جنت خوشبوئی نصیب کړه د اودس په هر اندام کښی د دعا په روایت کښی احمد بن معصب مروزی وضاع دے۔ او دده نه چه کوم راوی نقل کوی ابو مقاتل سلیمان بن محمد الطفیل ضعیف دے۔ او موضوعات و ضعائف لسم جلد د جمع الجوامع کښی : ۵۲ دده ذکر دے۔ او بل سند کښی اصرم بن حوشب وضاع دے۔
مولانا روم یو خبره ذکر کړے ده۔ وائی یوتن استنجا کوله اووئیل ئی : اللهم ارحنی رائحة الجنة۔ نوبل ورله آواز ورکړو۔ چه سوره دے غلطه کړے ده۔ :

گفت وردخوب تو آوردۓ پس لیک تو سوراخ راگم کردۓ

نو محل به نه بدلوے۔ په دے سره شیء بدعت جوړیږی۔ (۲) : دویم کم اوکیف کښی به تبدیلی نه کوے۔ کم څومره چه یو څیز دے درے ځله ئی ثابت دے۔ نودرے ځله به ئی کوے۔
اودس باره کښی به حدیث کښی راځی یو ځل نبی ﷺ اودس کړے وو درے ځله دا ثابت دے خو که سوا دے اوکړو۔ : فمن زاد علی هذا فقد اساء وتعدی وظلم ۔ یا روایت کښی راځی : فان نقص من واحد او زاد علی هذا فقد اخطأ۔ وهو مرسل ورجاله ثقات۔ اوابن حزیمه کښی صرف " فقد ذاد " دے۔ کمیت چه څومره درته بنائی۔ نو هغه اومره به کوے۔ ددے عقلی داسے مثال دے۔ چه پلار ځوی ته اووائی : چه څه مړ شمه نوزما دا کور چه دے۔ ددے کمرے نه آخوابه دوه گزه ځائی اوکنے۔ هلته ما لوټکے خخ کړیدے په هغے کښی سره دی۔ او دے اولگی او اته گزه آخوا ځائی کښی اوکنی۔ نو ده ته دغه لوټکے نه ملاویږی۔ چه کوم ځائی ئی درته خودلے دے هغه ځائی به کنی۔ په مقدار کښی به تبدیلی نه کوی۔ اوبل دے کیف ، کیف دادے : چه عبادت په پټه دے۔ نو په پټه به ئی وائی۔ چه په زوره دے۔ نو په زوره به ئی وائی ۔حنفی مسلك کښی په زوره باندے ذکر بدعت دے۔ کبیری کښی دا مسئله ده۔ د امام ابو حنیفہؒ نوم ئی اغستے دے۔ چه هغه فرمائی : لیس کلامنا فی مطلق الذکر فانه امر مرغوب فیه بل فی الجهر به وهو بدعة لقوله تعالی : ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعاً وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾۔ (سورۃ الاعراف : ۵۵)۔ څه مطلق ذکر کښی خبره نه کوم۔ څه په ذکر بالجهر کښی خبره کوم۔ او ذکر بالجهر هغه بدعت دے۔ کیفیت به نه بدلوے۔ لاوډ سپیکر ته دے خُله نزدے کړے ده۔ او وائی : حسبی ربی جل الله مافی قلبی غیر الله نور محمد صلی الله ۔ نو چه دا بدعت نشی۔ نو څه به بدعت وی۔ وائی چه فقهاء کوم وئیلے دی هغوی جهر مفرط یادوی۔ نو چه لاوډ سپیکر له دے خُله وروړه نو آخوا ترے بل مفرط شته۔

داخو ته آخری خبرے ته اورسیدے۔

گلستان کښې دی : اے مرغ سحر عشق ز پروانه بیاموز

کاں سوخته را جاں شد آواز نیامد

اے د سحر بانګی عشق ته د پتنګ نه ازده کړه۔ دے پتنګ ځان په اور ستی کړو۔ خو آواز ئې بیرته رانغے۔ وریسے وائی :

ایں مدعیاں عشق در طلبش بے خبر انند

کاں را که خبر شد خبرش باز نیامد

داد عشق دعوئ ګیر دهغه په طلب کښې بے خبره پراته دی۔ څوك چه خبرشوے دی۔ آواز ئے نه دے راوتلے بیا جلیء نه وهی۔

علامه آلوسیؒ لیکی د : ﴿ادْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعاً وَخُفْيَةً﴾ (سورۃ الاعراف : ۵۵) آیت دلاندے لیکی : جمعوا بین بدعتین رفع الصوت فی الدعاء وکون ذالك فی المسجد ۔ چه په مسجد کښې په زوره ذکردوه بدعاتوله شامل دے۔ (۱) : یوداچه ذکربالجهر کوی۔ (۲) : دویم په مسجد کښې کوی۔

ملاعلی قاریؒ په اشراط الساعة کښې لیکلے دی :رفع الصوت فی المسجد ولوبالذکر حرام ۔

اود صحابو عمل ئې ذکرکړیدے : ولا یتحلقون للاذکار والصلوات برفع الصوت فی المساجد ولا فی بیوتهم۔ (مرقات ۱ : ۳۳۰) ۔ علامه شامی لیکی ۵ : ۲۸۲ : وقد صح عن ابن مسعود انه آخرج جماعة من المسجد یهللون ویصلون علی النبی ﷺ جهرًا فقال ما اراکم الا مبتدعین۔

دارمی کښې دا روایت صحیح سند سره دے۔ او تفسیر قرطبی اتمه پاره کښې ذکرکړیدے۔

قال الشامی معزیًا الی البحر بان تخصیص الذکر بوقت لم یرد به الشرع غیر مشروع ۔

(شامی ۱ : ٦١٢ باب العیدین)

بخاری ۱ : ۲۳۸ کښې د مجاهد روایت دے چه څه او عروه دواړه مسجد نبوی ته لاړو : فاذا عبدالله بن عمر جالس الی حجرة عائشة واذا اناس یصلون فی المسجد صلاة الضحی قال فسألناه عن صلاتهم فقال بدعة۔

اذان چه اوشی دے نه پس دعا شته : اللهم رب هذه الدعوة التامة ..الخ ۔

ملاعلی قاریؒ ددغه حدیث په تشریح کښې لیکی : اصله سنة والکیفیة بدعة ۔ اصل ئې سنت دے اوکیفیت ئې بدعت دے ۔ په زوره او په جمع باندے به ئې نه کوی۔ دعا شته خو په پټه باندے شته۔

اوکه تا دا دعا د بانګ نه روستو په زوره باندے شروع کړے ده. نو هغه ورته بدعت وئیلے دے. ولے بدعت دے. جهر کول بدعت دے.

چه خیرات راغلے دے نوته د جمعے شپه ولے خاص کوے. نو په دے کښې تخصیص د ځان نه راولے.: لا تختصوا لیلة الجمعة بقیام من بین اللیالی و لا تختصوا یوم الجمعة بصیام من بین الایام. (مسلم ۱ : ۳۶۱). عن علقمه قلت لعائشة هل کان رسول الله ﷺ یختص من الایام شیئا قالت لا. (بخاری ۱ : ۲۶۷).

علامه ابن دقیق العید لیکلے دی : ان هذه الخصوصیات بالوقت او بالحال والهیئة والفعل المخصوص یحتاج الی دلیل خاص یقتضی استحبابه بخصوصه وهذا اقرب.

(احکام الاحکام شرح عمدة الاحکام ۱ : ۱۲۱)

لیکن که د چا میاشت کښې درے ورځے روژے عام معمول وی. او یا د میاشت آخری ورځ روژه ئې عادت وی او ثواب په کښې زیات نه ګڼړی. نو جائز کار دے.

یو ضروری بحث : د بدعت او د منهی عنه په مینځ کښې فرق

د بدعت او منهی عنه په مینځ کښې عموم وخصوص من وجه دے.

دامسئله لیکلے ده. مولانا عبدالحی صاحب لکهنویؒ په مجموعة الفتاوی کښې. او دا مسئله لیکلے ده اقتضاء الصراط المستقیم کښې شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ. دے کښې دوه مادے دی.

(۱) : یو ماده اجتماعی. (۲) : او دوه مادے افتراقی دی. (اول) هم به بدعت وی اوهم به منهی عنه وی.

مثال : مسلم کښې روایت دے : لاتختصوا لیلة الجمعة بقیام من بین اللیالی ولا تختصوا یوم الجمعة بصیام من بین الایام. د جمعے په شپه به عبادت نه خاص کوی. د جمعے په شپه به خیرات کوم په بله نه. نو دا منهی عنه هم شو. او بدعت هم شو. لیکن امام مالکؒ خاص د جمعے په ورځ روژه نه منع کوی. (موطا امام مالك). او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به هم کله کله روژه د جمعے په ورځ نیوله.

(۲) : دویم منهی عنه به وی او بدعت به نه وی لکه : ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا﴾ (سورة الاسراء : ۳۲). ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ ﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ﴾.

(سورة الانعام : ۱۵۱، ۱۵۲). ددے نه ئې مونږ منع کړے یو. یوزانی زناته خوګناه وائی. نودیته

بدعت نه وائی ۔ ځکه ځوك په دے نیت زنا نه کوی ۔ چه الله ماله ثواب راکړی ۔ ځان گناهګار ګڼړی.
(۳) : دریم بدعت به وی او منهی عنه به نه وی ۔ لکه زمونږ عام بدعات ۔ چه په دے علاقو کښی کیږی د سنتونه ۔ د جنازے نه پس دعا په جمع باندے ۔ نودا بدعات دی او منهی عنه نه دی ۔ په یو نهی خاص سره ۔ لکه قضاء عمری شوه ۔ عبدالله بن عمر رضی الله عنه صلوة الضحی ته بدعت وئیلے دے.
بخاری ۱ : ۲۳۸ ، علامه عینیؒ تشریح کښی لیکی : ان اظهارها فی المسجد والاجتماع لها هو البدعة لا ان نفس تلك الصلوة بدعة ۔ (تحت ابواب العمرة) ۔
کله چه بدعت باندے رد کوے ۔ نودوی به تپوس کوی منع ترے راغلے ده ۔ ورته وایه ته خود منهی عنه او د بدعت په مینځ کښی مساوات راولے ۔ ددے په مینځ کښی خو مساوات نشته ۔
مسئله : ترك د نبی ﷺ هم دین دے ۔ چه هغه یو څیز پریخودے وی ۔ نوته به ئی هم پریږدے : فمن واظب علی فعل لم یفعله الشارع فهو بدعة ۔ چا چه داسے کار اوکړو ۔ چه شارع نه دے کړے ۔ نودے سړی ته به بدعتی وائی ۔ ځکه چه : واتباع النبی ﷺ کما یکون فی الفعل یکون فی الترك ایضًا ۔ او ترك وجودی دے : الاکثرون علی ان الترك وجودی ۔ (مجموعة الفتاویٰ ۱٤ : ۲۸) ۔
اتباع د نبی ﷺ چه څنګه په کار کولو کښی ده ۔ نودغه شان ئی په پریخودو کښی هم ده ۔
امام نوویؒ د صلوة الرغائب په باره کښی لیکی : واحتج العلماء بکراهة هذه الصلوة المبتدعة التی تسمی الرغائب قاتلها الله واضعها ومخترعها فانه بدعة مکروه من البدع التی هی ضلالة وجهالة (شرح مسلم ۱ : ۳٦۱)
کتاب العلم کښی روایت دے : چه د سجع نه ځان بچ کړے دعا کښی ۔ ځکه نبی ﷺ او صحابه کرامو سجع نه ده کړے ۔ دائی نه دی کړے دا ترك دے او ترك وجودی دے او دا دلیل دے ۔ چه وجود ئی نه وی ۔ ددے دوه مطلبه دی : (۱) : یودا چه حسی وجود ئی نشته ۔ (۲) : او دویم دا وجود شرعی نشته.
که وجود شرعی نه وی نو " کل بدعة ضلالة " دے ۔ اوکه وجود حسی نه وی ۔ چه هغه وخت نه دے ځکه چه ضرورت نه وو ۔ چه علم پخوا صحابو کړے وو ۔ هغوی له عربی ژبه ورتله ۔ او اوس ته دے له علم نحو ، صرف ایزده کوے ۔ نودا به په بدعت لغوی کښی راځی ۔ اوکه سلفو کښی ضرورت وو ۔ او مانع نه وو بیائی کولو ته ثواب وئیل اصطلاحی بدعت دے ۔ یو " احداث فی الدین " دے او دویم " احداث للدین " دے ۔ " احداث فی الدین " بدعت دے : ﴿يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ﴾ ۔ (سورة النساء : ۱۷۱ ، سورة المائدة : ۷۷) ۔ یو " احداث للدین " دے دا بدعت نه دے ۔

الحق الصریح والا مثال ورکړیدے. دلته لکه: تقریرله په جهاز کښې ځی دا بدعت نه دے. ځکه چه جهاز د نبی ﷺ په وخت کښې نه وو. ددینه یو خه تعبیر دے د شیخ علامه محمد طاهرؒ اصول السنة کښې کړیدے مصالح مرسله بدعت نه دے. په مصالح مرسله کښې د سیدنا ابوبکر او د سیدناعثمان رضی الله عنهما د قرآن جمع کول راځی. ځکه خلق دا اعتراض هم کوی. چه قرآن په دے هیئت کذائیه سره عثمان رضی الله عنه جمع کړے وو. ولے دا پیغمبرنه دے جمع کړے. نودیته هم بدعت اووایه ـ دیته مصالح مرسله وئیلے کیږی. او مصالح مرسله بدعت نه دے. دا مدارس بدعت نه دی ځکه ددے اصل شته دے. تبلیغ کښې چله بدعت نه دے. خو چه کله دیته انتظامی امر اووئی.

مصالح د باب الوسائل سره او بدعت د باب المقاصد سره تعلق ساتی. وسیله او مقصد کښې واضح فرق دے. او بدعات ' تعبداتو کښې راځی. چه غیر معقولة المعنی وی. اومصالح معقولة المعنی وی.

تسبیح بدعت نه دے ـ الحق الصریح کښې هم دیٰ ـ اوددے آیت دلاندے: ﴿ بَدِيْعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾شیخ عبدالسلامؒ تفسیر احسن الکلام کښې لیکلے دی: چه تسبیح بدعت نه دے. ځکه تسبیح ته څوك دین نه وائی. د ذکرالله ذریعه او وسیله ئی گنړی. لیکن ښکاره کول ئی مناسب نه دی. اوالحق الصریح ۸ : ۲۳۷ باندے لیکی: تحقیقی قول دادے: چه که څوك تسپوته دین نه وائی اوهسے د شمار دپاره په تسپو ذکر کوی. نو جائزبه وی. اوعادت مستمره به ئی نه جوړوی. انتهی.

څه وایم که دا بدعت وے ـ نو د سعودی عالمانو به ترے ترکونه ډك کړے وو ـ اودریاب ته به ئی غورځولے وو ـ بعضے امیان تسبیح په مخ راکاږی. او خکلوی ئی داثواب گنړی. دا بیا بدعت دے. که صرف د ذکر دپاره وی. نوبیا بدعت نه دے.

محراب بدعت نه دے. الحق الصریح کښې دی. او شیخ صاحبؒ هم لیکلے دی دغه آیت د لاندے. ځکه داخود جومات د مینځ د حال معلومولویوزریعه ده. دے محراب او مناروته بعضے غیرمقلدین بدعت وائی غلطه ده. لکه علامه وحید الزمان په رفع العجاجة کښې دغه تحقیق کړیدے.

اذکارمطلقه چه څومره کرته کوی خوښه ئی ده. مولوی صاحب په الحق الصریح ۸ : ۲۱۸ باندے لیکی: بعضے ناپوهه هرڅه ته بدعت وائی. لکه یوتن د ورځے زرکرته سبحان الله اوالحمدلله وائی نودانااروا نه دی. البته که ددینه زیات او کموالے ورته ناروا ښکاری. نوبیا بدعت جوړیږی. انتهی.

مفتی رشیداحمدصاحبؒ احسن الفتاوی کښې دغے صورت ته بدعت نه وائی.

"من احدث": ۔ امام احمدؒ درے حدیثونه د اسلام اصول گنړی۔ یو په کښی دا حدیث دے: من احدث فی امرنا هذا مالیس منه رد۔

علامه ابن حجرؒ فتح الباری کښی لیکی: قاضی شوکانی ترے هم نقل کړیدے۔ چه معلومه شوه۔ ټول هغه عقود چه منع دی۔ داد دین نه نه دی۔ رد ئی واجب دے۔ او دغسے صلح فاسد قابل د رد دے۔ او قاضی شوکانی فرمائی: چه ددے حدیث د دین د قواعدو سره تعلق دے۔ ابن حجرؒ فرمائی: دا حدیث د اصول په یوه غټه قاعده مشتمل دے۔ او امام نوویؒ فرمائی: ددے حدیث حفظ او منکراتو په باره کښی استعمالول پکار دی۔ او علامه طوفی ئی د شرع په نصف الادلة کښی حسابوی۔ منارمتن د نورالانوار کښی دی: ومن وما یحتملان العموم والخصوص واصلهما العموم۔ که پیر احداث کوی یا عالم، امی یا سکالر، او دین ئی گنړی بدعت دے۔ کمیت او کیفیت یا محل ئی بدل کړو۔ دا احداث هم بدعت دے۔ او دغه کس هم مردود علیه دے۔ په ده به رد کیدے شی۔

"هذا": ۔ دا دین د شیوع وظهور دلیل په اعتبار سره محسوس معلومیږی۔" لیلها کنهارها"۔ التقریر الرفیع کښی لیکی: الضمیر الی الامر ای الذی احدثه مردود علیه او الی الرجل ای ذالك الرجل مردود۔ معلومه شوه: په بدعاتو یا منکراتو به رد کوے۔

"مالیس منه": ۔ ای رأیًا او قولًا او فعلًا۔ (فتح اله)۔

حدیث کښی راځی: رد علی عثمان بن مظعون التبتل ۔ دا به نه وائی چه زما په کار کښی رد کول نشته۔ دا بیله خبره ده۔ چه رد به اصولو کښی دننه په خائسته طریقه کوے۔

علامه شامی شعرونه نقل کړے دی:

من الدین کشف الستر عن کل کاذب	وعن کل بدعی اتٰی بالعجائب
و لولا رجال مومنون لهدمت	صوامع دین الله من کل جانب

(شامی ۵ : ۲۲)۔ او بله نسخه ۳ : ۶۵ کتاب الایمان۔

د سنت مطابق لږ عبادت هم ډیر د ثواب باعث دے: قلیل فی السنة خیرمن عمل کثیر فی بدعة ومن استن لی فهو منی ومن رغب عن سنتی فلیس منی۔ (مصنف عبدالرزاق)۔

دا بدعت د معصیت نه هم زیات سنگین گناه دے۔ خواجه نظام الدین اولیاء فرمائی: بدعت از معصیت بالاتر است (فوائد الفواد: ۱۰۹)

(۱) تفسیرخازن کښی دی د: ﴿ فَلَا تَقْعُدُواْ مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ﴾ په تشریح کښی مفسر لیکی: دخل فی هذه الآية كل محدث فی الدین و کل مبتدع الی یوم القیامة۔

(۲): ﴿ وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ ﴾ سورة النحل ۱۱٦ د لاندے حافظ ابن کثیرؒ لیکی: ويدخل فی هذا كل من ابتدع بدعة ليس له فيهامستند شرعی۔

(۳): ﴿ إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُواْ الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ﴾ (سورة الاعراف: ۱۵۲) د آیت د لاندے مفسرین د ابوقلابه قول نقل کوی: هو والله جزاء كل مفترالی یوم القیامة۔ اوامام مالکؒ فرمائی: مامن مبتدع الاوجدوا فوق راسه ذلة۔

او سفیان بن عیینه فرمائی: هذا فی کل مبتدع الی یوم القیامة۔

اوحافظ ابن کثیرؒ لیکی: ذل البدع علی اکتافهم، وان هملجت بهم البغلات، وطقطقت بهم البرازین ۔تحت آية: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُواْ الْعِجْلَ ﴾۔

که په دے دورکښی قیمتی ګاډی کښی بدعتی ناست دے. بیائی هم ذلت په اوګوسور دے. دغه نصیحت تولو مسلمانانوته دے۔

فخذالهدی من عبده و کتابه فهما الی سبیل الهدی بیبیان

او د سنت لمن داسے تینګه نیول پکار دی. چه خلاصه نه شی۔

اے ناتوان عشق تجھے حسن کی قسم دامن کو یوں پکڑ کہ چھڑایا نہ جا سکے
یہ بدعت میں لذت یہ سنت سے غفلت نہ یہ تھی نبی کے پیاروں کی خصلت
اگر حق پسند ہے اے جنت کے طالب تو دنیا میں حق کو نہ ہرگز بھلانا

(شورش کاشمیری)

علامه ابن حجر هیثمیؒ لیکلے دی: چه ابوعبیدهؒ فرمائی: جمیع امرالآخرة فی هذه الکلمة۔

حدیث ۲: وعن جابر رضی الله عنه قال قال رسول اللهﷺ امابعد فان خیر الحدیث..الخ۔

"اما بعد": - ددینه مخکښی نبیﷺ خطبه وئیلے ده. اوپه هغے کښی ئی د الله حمد بیان کړیدے. "اما بعد" ئی فرمائیلے دے. نودا "امابعد" په تقریرکښی وئیل داشرعی عمل دے. اوپه دے پنځه یا شپږ احادیث راغلے دی۔

حدیث او هدی کښې فرق

حدیث کله کله وقتي وي. یو وخت دوه په دے نبي ﷺ عمل کړے وي. ضروري نه ده. چه ډیر وخت او یا ټول عمر ئې پرے عمل کړے وي. طریقه دائمه ورله نه ده ضروري. او "هدی" هغه طریقه لازمه ده چه دوام ئې پرے کړے وي. د علامه ابن قیمؒ د کتاب نوم دے "زادالمعاد فی هدی خیرالعباد". په دے کښې لیکلے دي: هدی د نبي ﷺ د جنازه په جومات کښې نه ده. دا نه چه په جومات کښې جنازه نشته. نفس جواز درجه کښې شته. چه ضرورت وي خو هدی د نبي ﷺ نه ده: ولم یکن من هدیه الراتب الصلاة علیه في المسجدوانما کان یصلي علی الجنازة خارج المسجد. (زاد المعاد ۱ : ۱۷۱).

هدی د نبي ﷺ په جنازه کښې آواز پورته کول نه دے. نفس جواز شته. خو هدی د نبي ﷺ نه ده. نو هدی ځانله څیز دے. هدی معنی هغه طریقه چه په هغه طریقه باندے یعنی خلق روان وي. چه نبي ﷺ چلولے وي. او هغه طریقه دائمه وي.

زادالمعاد ۱ : ۸۲ کښې علامه ابن قیمؒ لیکلے دي: وفی حدیث ابن عجلان ما یدل علی انه کان ینهض علی صدور قدمیه ' وقد روی عن عدة من اصحاب النبي ' وسائر من وصف صلاته ' لم یذکر هذه الجلسة ' وانما ذکرت فی حدیث ابی حمید ' ومالك بن الحویرث ' ولو کان هدیه فعلها دائمًا ' لذکرها کل من وصف صلاته ' ومجرد فعله لها لا یدل علی انها من سنن الصلاة ' الا اذا علم انه علی انها سنة یقتدی به فیها.

علامه ابن تیمیهؒ لیکلے دي: ان المتابعة فی السنة ابلغ من المتابعة فی صورة العمل ولهذا لما اشتبه علی کثیر من العلماء جلسة الأستراحة هل فعلها استحبابًا او لحاجة عارضة تنازعوا فیها. (مجموعة الفتاویٰ ۱ : ۱۹۹).

"وخیرالهدی هدی محمد ﷺ" : امام مالكؒ به فرمائیل:

وخیرامورالدین ماکان سنة وشرالامورالمحدثات البدائع

(کتاب الاعتصام)

ددین هغه کارغوره دے. چه د پیغمبرپه طریقه باندے وي. او بدعتونه هغه شر وي. شردیته وائي: چه د شرعي نه سترګے پټے کړي. یو تن غلط کارکوي. او ته ورته څه نه وائي. دا شر دے.

: وان شرالامورمحدثاتها' ولایعلمون ان الشرفی اغضاء العین عن الشرع ' وان احیاء السنة عندفساد الامة من افضل الجهاد واجزل القرب. (شامي ۵ : ۲۸۲)

" وخیرالهدی " عطف ئې د " ان " په اسم. او په محل د اسم د " إنّ " چه کله ئې عطف کوے. هم جائز

دے۔چہ ھغہ بناء برابتدائیت مرفوع کیدل دی۔رفع او نصب دواړه په "خیرالهدی" کښې ورکول صحیح دی۔

حدیث۳: وعن ابن عباس قال قال رسول اللهﷺ ابغض الناس الی الله ثلثة ملحد...الخ۔

(۱):**"ملحد فی الحرم"**: ﴿وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾۔(حج: ۲۵)۔که اراده دے په حرم کښې د الحاد وی۔نو هم ظلم دے۔کله چه عین الحاد کوی۔نو څه به دے حال وی۔

(۲):**"ومبتغ فی الاسلام"**:۔لټونکے په اسلام کښې دجاهلییت طریقه مثلاً په مړی باندے ویرکول۔داهم د جاهلیت طریقه ده۔دغسے د نیروز ورځ مناوول۔(مرقات)۔

(۳):**"ومطلب دم امریء"**:۔طلب کوونکے د یو مسلمان وینی لره۔دے ناحق قتل کوی۔

حدیث کښې ئی دا درے څیزونه ولے خاص کړل۔په دے باندے بحث کړیدے شیخ الاسلام علامه ابن تیمیہؒ په خپل کتاب اقتضاء الصراط المستقیم کښې ۷۹ باندے لیکی: چه یو ددین فساد دے۔ اودویم د دنیا نور فسادات دی۔د دنیا په فساداتو کښې دټولونه لوئی فسادپه قتل کښې دے۔بیا د دین فساد ددے تعلق به یا د عمل سره وی۔یائی تعلق د محل سره وی۔نوکه د محل سره ئی تعلق وی۔نو "ملحد فی الحرم" محل ډیر اوچت دے۔اوکه د عمل سره ئی تعلق وی نو "مبتغ فی الاسلام سنة الجاهلیة" ځان ته مسلمان وائی: ﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ﴾۔(سورة المائدة: ۵۰)۔اود جاهلیت د طریقے اشاعت کوی۔په اسلام کښې د جاهلیت طریقے وردننه کړے وی۔

مرقات کښې ملا علی قاریؒ فرمائی: درے څیزونه دی (۱) محل دے (۲) عامل دے (۳) عمل دے۔ محل ئی ذکرکړو "ملحد فی الحرم"۔عامل ئی ذکرکړو "مبتغ فی الاسلام سنة الجاهلیة"۔او عمل ئی ذکرکړو۔وینه تویول دیو مسلمان په ناحقه باندے۔

څه خلقو د غم په وخت کښې د جنازے کټ پسے د تلو وخت کښې څادرونه غورځولے وو۔او دا ئی دین ګنړلو۔نبیﷺ ورته غصه شو۔اونے فرمائیل: افبصنیع الجاهلیة تشبهون۔اویو موقع کښې لږه معمولی نامناسب خبره سیدنا ابوذر رضی الله عنه اوکړه چه: یا ابن امة السوداء۔نبیﷺ ورته اوفرمائیل: انك امرء فیك جاهلیة۔

حدیث۴: وعن ابی هریرة قال قال کل امتی یدخلون الجنة الامن ابی قیل ومن...الخ۔

امت دوه قسمه دی - (۱) : یو ته امت دعوت (۲) : او بل ته امت اجابت وائی - (۱) : امت دعوت کافران او مشرکان دی - (۲) امت اجابت چه د پیغمبر خبره ئی او منله - دلته په حدیث کښی ده امت نه مراد امت دعوت وی - نو بیا استثنی متصله ده - "الا من ابی" : - او که په دے کښی د امت نه مراد امت اجابت وی - نو بیا استثنی منقطع ده -

چا چه دعوت د پیغمبر منلے دے امت اجابت دے - که گناهگار وی - نو دوی به جهنم ته د لږ وخت دپاره ځی - بیا به ترے راوځی - او څوك چه نه منی امت دعوت دے - او خبره ئی نه ده منلے ' ایمان ئی نه دے راوړے - دوی به د همیشه دپاره په جهنم کښی وی - زما هر امتی به جنت ته ځی - مگر چا چه انکار اوکړو که انکار د عقیدے وی - نو کافر دے -

"قیل و من ابی" : - څوك دے چه انکار کوی - صحابه ورته وائی مونږ خود جنت نعمتونه پیژندلے دی - داسے به څوك وی - چه هغه د جنت د تلو نه انکار اوکړی - مطلب یوتن ته وائی دغه ځائی کښی حوری او غلمان دی - او دغه ځائی کښی گبین دے - او هغه وائی څه نه ځم چه دا به څوك وی - داخولیونے کیدے شی - چه لږ عقل په کښی وی - او ورته وائی چه دغه ځائی کښی شراب دی - او جائز دی او حوری وی - نو هغه به منډے وهی هغه طرف ته - نو تپوس ئی اوکړو چه دا به څوك وی " من ابی " وئیل داسے د جنت خبرے خو آسانی دی - خو لیکن عمل د جنت گران دے - د هغے دپاره صفات دی دوزخ ته چه ځی - نو هم غلط صفات د جهنمی قرآن کښی شته : ﴿أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ' مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ﴾ - (ق : ٢٤) - او چه جنت ته ځی نو هم خه صفات به په کښی وی : ﴿مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ' ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ذَلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ' لَهُم مَّا يَشَاؤُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ﴾ (سورة ق) - دا د جنت تللو صفات دی - دوزخ ته د تلو شپږ غلط صفات دی - او جنت له تلو کښی څلور صفات ئی ذکر کړیدی -

"من اطاعنی دخل الجنة" : - څوك چه زما تابعداری کوی - نو جنت ته به ځی -

مپندار سعدی کہ راہ صفا تواں رفت جز دربئے مصطفٰی

قرآن کښی د رسول ﷺ د طاعت د دیرشو نه زیات آیاتونو کښی ذکرشویدے -

وقد ذکر الله طاعة الرسول واتباعه فی نحو من اربعین موضعًا من القرآن ۔ (مجموع فتاوی لشیخ الاسلام ۱ : ۷ ' ۱۰ : ۱٤۱) ۔او ۱۰ : ۵۳ کښې دی : وذکر طاعة الرسول فی اکثر من ثلثین موضعًا من القرآن ۔

په قرآن عمل کونکے د الله په الفاظو او حدیث باندے عمل کونکی د الله په مراد عمل کوی۔ داظاهر کښې دوه او په حقیقت کښې یو اطاعت دے۔ (موافقات ٤ : ۱۹) ۔قرآن کښې صفا راځی :﴿ مَّنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ ﴾ (سورة النساء : ۸۰) ۔او سورة نور ٦۳ کښې ارشاد دے :﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ ۔اوس د بعضے منکر حدیث داقول چه ددے نه د امام اطاعت اوحکم مراد دے۔ ددے غوندے آیاتونو نه صراحةً خلاف خبره ده۔

دیو شبهے جواب : د قرآن جامعیت صرف د اصولو په اعتبار سره دے۔ حدیث د قرآن شرح ده۔ او قرآن کښې نبی ﷺ ته حکم دے :﴿ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللّٰهُ ﴾ (سورة النساء : ۱۰۵) ۔دائی نه دی وئیلے "بما رایت" ۔د رسول رائی ذاتی نه ده۔ د الله د رائی تابع ده۔ د قرآن د حدیث دواړو حیثیت تشریعی دے۔ حدیث ته تاریخی حیثیت ورکول د انکار حدیث اوله ابتداء ده۔

حدیث ۵:وعن جابر قال جاء ت ملائکة الی النبی ﷺ وهو نائم فقالوا ان لصاحبکم..الخ۔

"مثلًا" :۔داسے د کمال صفت چه عقل ورته حق حیران پاتے شی۔ جابر رضی الله عنه فرمائی۔ دا اصل کښې نبی ﷺ خوب لیدلے دے۔ اویا دا حکایت ئی د نبی نه آوریدلے دے۔ دغسے کشف المناهج والتناقیح کښې علامه مناوی هم وئیلے دی۔

اویو روایت کښې راځی چه نبی ﷺ ناست وو۔ او د سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه پتون باندے سر ایخودلے وو۔ په دغه وخت کښې خوب لیدلے دے۔ اویا د هغے نه پس بهر راغلے دے۔ اویا ئی صحابه کرامو ته بیان کړیدے۔ نو هغه خوب جابر رضی الله عنه بیانوی۔

"والقلب یقظان":۔ مسئله داده : چه د نبی ﷺ عام خوب ' عام جمهور اهل السنة والجماعت په نزد ناقض د وضوء نه دے۔ د پیغمبر په خوب باندے اودس نه ماتیږی۔ ځکه د نبی ﷺ زړه ویخ دے۔ او زړه دا مهبط د وحی دے :﴿ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (سورة البقرة : ۹۷) ﴿ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِيْنُ، عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِيْنَ ﴾ ۔ (سورة

الشعراء : ۱۹۳) ۔ پته نه لگی چه دا وحی په خوب کښې چرته رانشی ۔ نو د نبی ﷺ زړه ویښ دے ۔ مثال بیان کړه ورته ۔ اگر چه اوده دے صرف سترگے ئی پټے دی ۔

اشکال : چه روستولیلة التعریس کښې داسے راځی : چه نبی ﷺ ته پته اونه لگیده ۔ چه صبا راختلے دے ۔

جواب : د صبا د راختلو تعلق د سترگو کتلو سره دے ۔ د زړه سره نه دے ۔ او سترگے خواوده وی : " ان العين نائمة " ۔ ځکه ورته د صبا احساس نه دے شوے ۔ " **مثلاً** " : ۔ یو نا آشنا کمالی صفت ترے مراد دے ۔ اودلته کښې "**کمثل رجل بنی دارًا**" : ۔ کښې تشبیه د مرکب ئی مرکب سره ورکړے ده ۔ او د هیئت تشبیه ئی د یو هیئت سره ورکړے ده ۔ نو دا سوال نه راځی ۔ چه د الله تشبیه ئی د " رجل " سره ولے ورکړه ۔ یا " کمثل داعی رجل " تقدیر دے ۔ " **مأدبة** " : ۔ چه عمومی دعوت وی ۔ د څه خلقو سره خاص نه وی ۔ ددے حدیث وضاحت بل حدیث د " الفصل الثانی " کښې راځی ۔

حدیث ٦ : وعن انس قال جاء ثلثة رهط الی ازواج النبی ﷺ یسالون عن عبادة .. الخ ۔

"**رهط**" : ۔ رهط د دریو نه تر لسو ته وائی ۔ او نفر د دریو نه تر نهو ته وائی ۔ مطلب دے سړی :

﴿ وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴾ (سورة النمل : ٤٨) ۔

په بناریه کښې نهه ډلے یا نهه کسان وو ۔ دلته کسان مراد دی ۔ داڅوك دی یو عثمان بن مظعون رضی الله عنه دے ۔ اودویم په کښې عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه دے ۔ اودریم په کښې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه دے ۔ اگر چه په دے کسانو کښې بعضے محدثین تبدیلی کوی ۔ څوك مقداد رضی الله عنه په کښې یادوی ۔ خوزیات چه یادوی نو عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه یادوی ۔ او عثمان بن مظعون او عبدالله بن رواحه رضوان الله علیهم یادوی ۔

"**یسالون عن عبادة النبی ﷺ**" : ۔ ځکه دا هغه عبادت وو ۔ چه نبی ﷺ په کور کښې کولو ۔ او د کور د عبادت علم ازواجو ته دے ۔ نو د ازواجو نه ئی تپوس کوو ۔

مسئله : ترے معلومه شوه : که د ضرورت په وجه د ښځے نه تپوس کوی ۔ او ښځه جواب ورکوی نو خیر دے ۔ ښځه داسے لکه مثلاً عائشه رضی الله عنها غوندے محدثه ۔

"**کانهم تقالوها**": ګویا د نبی ﷺ عبادت ئی کم اوګنړلو. یا "تقالوها لنفسها" د خپل ځان دپاره ئی کم اوګنړو. نو بیا ټیك ده. ځکه د نبی ﷺ یو منټ عبادت او زمونږ ټول عمر عبادت چرته برابرکیدے شی. اوکه د نبی ﷺ دپاره ئی کم ګنړلے وی. نو دا بیا دهغوی خطا ده اجتهادی. اوعذر ئی پیش کړو.

فتح الـه کښی ددے په وضاحت کښی واقعه نقل کوی. امام احمدؒ به د امام شافعیؒ فضائل ذکرکول. او د امام احمدؒ یوه لور ډیره عابده وه. یو ځل امام شافعیؒ د امام احمدؒ کورته تشریف راوړو. شپه ئی اوکړه. صرف وتر ئی اوکړو. او ترصبا اوده غونده وو. لور ئی د امام احمدؒ نه او امام احمدؒ د امام شافعیؒ نه تپوس اوکړو. جواب کښی ورته امام شافعیؒ اوفرمائیل: استظهرت القرآن فی تلك الضجعة اربعین مرة واستنبطت منه فی کل مرة مسائل کثیرة، بیا امام احمدؒ خپلے لورته دغه جواب ذکرکړو. اوئی فرمائیل څومره د فخرخبره ده.

یعنی که ظاهرکښی عبادت کم یا نیشت معلومیږی. لیکن دغه ډېره لګولوکښی څومره زیات خیر پروت وو.

"**این نحن من النبی ﷺ**": چرته مونږه اوچرته نبی ﷺ دهغه که عبادت کم کوی. نوکوی به هغه په رخصت باندے عمل کوی. خو چه مونږه په عزیمت باندے عمل اوکړو. نو ډیره به ښه وی.

یو امتی او صحابی عمل ظاهرکښی په مجاهده او عباداتوکښی د کمیت په اعتبار سره ډیرښکاری. لیکن مرتبه او مقام کښی د نبی د لسو منتهونوعبادت د امتی د سل کالوعبادت نه درونډ او ډیر قیمتی وی. د عمل تفاوت په باطنی اخلاص راځی. نبی ﷺ فرمائی: لا تسبوا اصحابی فلوان احدکم انفق مثل احد ذهبا ما بلغ مد احدهم ولا نصیفه. چه کله یو صحابی ۱۴ چهټانك غله ورکړی. او غیرصحابی د اُحدد غرد سرو زرو په مقدار صدقه اوکړی. لیکن د صحبت او اخلاص د وجے د صحابی دغه ثواب ته نه رسی. نو چه د امتی او خصوصی امتی په عمل کښی دومره فرق دے. نو د عمل والو مینځ کښی فرق واضح دے. نو د امام الانبیاء د عبادت به څومره درونډ او مایه ناز مقام وی. نبی ﷺ باندے د معراج شپه کښی مونځ فرض شو. نو د هغوی ټول دیارلس کاله مونځونه او د لکهونو امتیانو عملونونه او مونځونه د نبی په خپل باطنی اوعملی کیفیت، مشاهده او اخلاص سره دومره درانه، ډیراو قیمتی دی. چه تصور ئی نه شی کیدے.

دے کښی ئی یو درس مونږ له راکړو. که ستا د شیخ یا استاذ نه یوه خبره تاته معلومه شوه. چه په

ظاهرکښې په هغې کښې څه درجه کښې قلت دے۔ هغه نفل نه کوی۔ تلاوت نه کوی۔ د هغې به تاویل کوے محمل صحیحه به ورله گورے۔ په هغې به نورے خبرے نه مرتب کوے۔ لکه دے صحابه اوونیل " این نحن من النبی ﷺ " نو په دے باندے یو مسئله مرتبه شوه۔ مسئله راویستلے ده علامه طیبیؒ الکاشف عن حقائق السنن او ملا علی قاریؒ مرقات کښې لیکی : من اعترض علی شیخه لا یفلح ابدا ۔ چاچه په خپل استاذ اعتراض اوکړو۔ دے به چرته نه کامیابیږی۔ په خپل استاذ به اعتراض نه کوی۔ استاذ ته به اشکال پیش کوی۔ اعتراض کښې مشروتی وی۔ او اشکال کښې عاجزی وی۔

او علامه هیثمیؒ شرح کښې لیکی : وقد اتفقوا علی ان من قال شیخه " لم " علی جهة التعنت لا یفلح ابدا۔

مولانا محمدقاسم نانوتویؒ بانی دارالعلوم دیوبند اجوبه اربعین کښې لیکلے دی : چه شیعه گانو کښې د قرآن حافظان ځکه نشته۔ چه ددین استاذان صحابه کرامؓ باندے اعتراضات کوی۔

"قد غفر الله ماتقدم من ذنبه وما تاخر": ۔الله د هغه مخکښې او روستوتول گناهونه معاف کړیدی ۔ د نبی ﷺ گناه شته اوکه نه ؟ ۔ او دویم دا "ما تاخر" څه مطلب " ماتقدم " خو معاف دی "ماتاخر" چه شوے نه دی ۔ نو څنگه ئی د مخکښې نه معاف کړیدی۔ (۲) : ددے جواب داده : چه مغفرت د هرچا جداجدا دے۔ ددے مثال پشان د محبت دے۔ د محبت مضاف الیه بدلوه۔ نو د هغے په معنی کښې فرق راځی (۱) : محبت د شاگرد سره (۲) : محبت د ښځې سره (۳) : محبت د والدینو سره (۴) : محبت د استاذ سره۔ په دے اعتبار سره گناه د پیغمبر اوگناه د عام انسانانو په دے کښې لوئی فرق دے۔ " حسنات الابرار سیئات المقربین " ذنب النبی او ذنب د امتی جدا جدا دے۔

(۳) : دریمه دا چه نبی ﷺ نه چه کوم ځائی خطا اجتهادی شوے ده۔ لکه مثلاً په جنگ بدر کښې د فدئی په مسئله کښې ۔یا قرآن کښې راځی : ﴿عَفَا اللّٰهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ﴾ (سورة التوبة : ۴۳) ۔وغیره وغیره نو په دے باندے اطلاق د گناه کړیدے۔ مراد خطااجتهادی دے۔ نوورته الله فرمائی : ما درته دا گناه یعنی خطا اجتهادی معاف کړے ده۔

واضحه دے وی : چه دلته کښې څلور درجے دی۔(۱) : معصیت ، مقابل ئی طاعت دے۔

(۲) : سیئة ، ددے مقابل " حسنة " دے۔(۳) : خطیئة ، مقابل ئی صواب دے۔(۴) : ذنوب یعنی مقابل ئی هیڅ نشته۔ دے کښې معصیت غټ گناه دے۔ باقی درے واړه صغائر دی۔ او د اهل السنت

اتفاق دے. چه کبائرو له قولي او یا فعلي توبه کول ضروري وي. دغسے ئې نه معاف کوي.

دریم جواب : د نبي ﷺ هره ورځ د مخکښې نه اوچته ده: ﴿وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ﴾(سورة الضحى:٤) هغه چه نن کومے مرتبے ته رسیدلے دے. چه پرونۍ مرتبے ته ئې کتل هغه ورته کمه ښکاره کیدله .نو په دے اعتبار سره نبي ﷺ مغفرت طلب کړیدے.

ځکه خود شریعت قاعده امام بخاريؒ ذکر کړے ده. چه د هغوی آخري معمولات به اغستلے شي: وانما یؤخذ بالآخر فالآخرمن فعل النبی ﷺ. (بخاري مع فتح الباري ٢ : ١٤٤).

"وما تاخر" :. څه مطلب. جواب: څه به حاجب پیدا کوم د گناه په مینځ کښې. د پیغمبر نه گناه صدور تـه نه راځي. د اهل السنت والجماعت مسلك داد ے : چه د نبي ﷺ نه او د ټولو پیغمبرانو نه بعد النبوت بالکل گناه صدور ته نه راځي. اومحققین علماء وائي : چه د نبي نه د نبوت نه مخکښې غټ گناه صدور ته نه راځي. نود مولانا مودودي صاحب خبره ټیك نه ده په رسائل مسائل کښې دی: نبی ہونے سے پہلے تو موسیٰ علیہ السلام نے ایک بہت بڑا گناہ کیا تھا. یو "گناه" شو. او بل "بہت" شو. او بل "بڑا" شو. په دے کښې ئې څه پریخودل. دیته خس اکبرالکبائر وئیلے کیږي. د نبي ﷺ د نبوت نه مخکښې صغائرصدور ته راتلے شي.

(١) د نبي عصمت لساني دے: ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ﴾ (سورة القیامة ١٦). (٢) د نفساني خواهشات نه ئې عصمت دے: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ﴾. (٣) عصمت قلبي ئې دے: ﴿وَلَوْلَا أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ﴾ (سورة الاسراء : ٧٤). (۴) عصمت ذهني: ﴿سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰ﴾. (٥) عصمت د رائې: ﴿لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ﴾. (٦) عصمت فعلي: ﴿مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ﴾. (٧) عصمت فی التبلیغ (٨) عصمت فی الاجتهاد.

مسئله د ټولے شپے د عبادت څه حکم لري ؟

" فاصلی اللیل ابدا": . ټول عمر روژې نیول څه حکم لري. چادے یو حدیث ته کتلے دي. تفریعات پرے کوي. او وائي چه دا بالکل ناجائز دے.

الحق الصریح والا دلته لیکي : ټوله شپه عبادت کول په راجح قول مکروه دي. ځکه چه نبي ﷺ په

دے دریو کسانو باندے رد اوکړو۔ او فتاوی خالص کښې هم لیکلے دي او دلته ئې هم لیکلے دي۔ استثنی ئې کړے ده چه په رمضان کښې ټیک ده۔ د رمضان د آخري شپو شوګیره ټیک ده۔ ددے نه علاوه ټوله شپه عبادت کول ټیک نه دي۔ خو حکمت القرآن کښې بیا ددے آیت: ﴿ سَوَاءً مَّحْيَاهُم وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾۔ (سورة الجاثیه: ۲۱) ۔ ددے په تشریح کښې لیکلے دي: چه تمیم داري ټوله شپه په یو آیت باندے ترصبا پورے رونړ کړے ده۔ او عبادت ئې کړیدے۔

لیکن الحق الصریح ۸: ۳۲۴ باندے دي: د رسول الله ﷺ نه ټوله شپه عمل سوی د رمضان نه نه دے نقل۔ عن ابی سعید الخدری ان رسول الله ﷺ ردد آیة حتی اصبح۔ (حدیث حسن وهذا اسناد جید مسند احمد ۱۸: ۱۳۷) ۔ او د عبد الله بن عمرو رضی الله عنه په باره کښې ئې لیکلے دي د مشکوة په شرح کښې۔ چه ده د واده په شپه ټوله شپه عبادت کړیدے۔

نودے وائي: چه ټوله شپه عبادت کول مکروه دي۔ او مکروه چه مطلقًا ذکرشي۔ نو هغه مکروه تحریمي دے۔

عثمان رضی الله عنه په ټوله شپه کښې قرآن خلاص کړیدے په یو رکعت کښې۔ نودے جواب کوي یو طرف ته قول د نبي ﷺ دے۔ او بل طرف ته قول دعثمان رضی الله عنه دے ته به دچا قول منے۔ اعتبار به قول د نبي ﷺ له وي۔ یا به تاویل کوے۔ چه مراد اکثره شپه عبادت دے۔ نو دیخوا تاویل اوکړه ټوله شپه عبادت د هغه چادپاره ښه نه دے۔ چه دهغه نه د سحر مونځ قضاء وي: ﴿ أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِداً وَقَائِماً ﴾ (سورة الزمر: ۹) ۔ او ټوله شپه عبادت کوي۔ نو د عباد الرحمن په صفاتو کښې دا راځي: ﴿ وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّداً وَقِيَاماً ﴾ (سورة فرقان: ٦٤) ۔

شیخ عبدالسلامؒ لفظي معنی تفسیر احسن الکلام کښې کوي: شپے رونړوي۔

نیل السائرین کښې شیخ صاحبؒ لیکلے دي: چه قاضي ثناء الله پاني پتیؒ به سل رکعته نفل په شپه اوورځ کښې کول۔ (۳۳٤) ۔ نیل السائرین: ۴۵ باندے دي: یزید بن هارون صلی الصبح بوضوء العتمة نیفًا واربعین سنة۔ سعیدبن جبیر کان یختم فی کل لیلتین۔ (۱۱) ۔ وکیع بن جراح د امام شافعي او امام احمد او د صحاح سته د مؤلفینو استاد دے۔: کان یصوم النهار ویقوم اللیل۔ (نیل السائرین: ۲۵) ۔

او الاصابة مع الاستیعاب ۲: ۴٦۴ باندے دي: کان عثمان یصوم الدهر۔

عمرو بن عبید صلی الفجر بوضوء العشاء اربعین سنة ۔ (۳۷) ۔

حافظ ابن حجرؒ د امام بخاری باره کښې د فتح الباری مقدمه کښې لیکلې دی : وکان یختم بالنهار فی کل یوم ختمه ویکون عندالافطار کل لیلة ویقول عند کل ختمة دعوة مستجابة ۔

لیکن داد رمضان ختمونه بعض غیرمقلدین منی ۔ نود ے تهولو کښې به دا نه وائی ۔ چه نبی ﷺ سل رکعته کړیدی چه تاکول ۔

په دے باندے مولانا عبدالحی لکهنویؒ رساله لیکلے ده : اقامة الحجة بان الاکثار فی التعبدلیس ببدعة ۔

که څوك ډیرعبادتونه کوی نوداخوبدعت نه دے ۔ امام نوویؒ د مسلم په شرحه کښې لیکلے دی : النوافل المطلقة لاحدٌلها ۔ عبادات مطلقوله حدنشته ۔

اوپه اتم جلد د الحق الصریح کښې دا عبادات په کرامت حمل کړے دی ۔ او هم دغه اولی ده ۔

شاه انورؒ لیکلے دی : چه داسے خلق هم شته ۔ چه د مازیګر نه ترمابنامه پورے قرآن ختم کړیدے ۔ دائی کرامت دے ۔ : فالحکایة فی مثله قد تواترت ' بحیث لا یسوغ منها الانکار ' ولکن من یحرم عن الخیر یجعل رزقه انه یکذب بالکرامات ' والبرکات ' ویزعمه مستحیلاً ۔ (فیض الباری ٤ : ١٩٩) ۔

او په فضائل القرآن : ۲۷۲ کښې ابن کثیرؒ ئی ډیرنظائر بیان کړیدی ۔

اخبار اهل حدیث ۲۵ محرم ۱۳۵۸ هجری ' ۷ مارچ ۱۹۳۹ ء : امام اعظم نے عشاء کی نماز میں ''اذازلزلت الارض'' پڑھی ' باطنی آنکھیں کھل گئی نمازی چلے اپنی جگہ صبح پر داڑھی ہاتھ میں رکھ کر زور سے پکڑ کر کہنے لگا نعمان کو دوزخ کی آگ سے بچانا۔

د امام بخاریؒ په باره کښې امام شعرانیؒ لیکی : چه دے صائم الدهر وو ۔ حالانکه امام بخاریؒ ۱: ۲۶۵ باندے روایت راوړیدے : لا صام من صام الابد ۔ وکیع بن جراح صائم الدهر وو ۔ (میزان الکبری ۱ : ۵۰ ، تاریخ بغداد ١٤ : ٤٧٠) روژے به ئی نیولے ۔

او نتائج التقلید : ۳۰ باندے دی : چه حافظ عبیدالله روپړی صائم الدهر وو ۔

الحطه : ۲۲ باندے دی : چه روزانه به امام بخاریؒ یو قرآن ختمولو ۔

او د امام شافعیؒ په باره کښې مفتاح الجنة للسیوطی : ۲۹ باندے دی : قال الشافعی قرات القرآن کل یوم ولیلة ثلاث مرات ۔

د ایام تشریق نه علاوه اوس دا هم نه شے وئیلے ۔ چه هغه ته حدیث نه وو رسیدلے ۔ هغه خو حدیث په بخاری کښې نقل کړیدے ۔ چه ټول عمر روژی نشته ۔ اوعمل ئی پرے په خپله نشته ۔ خلق وائی د بخاری په حدیث عمل اوکړه ۔ نوامام بخاریؒ په خپله عمل په دغه حدیث نه دے کړے ۔

دویم : چه کله به امام بخاریؒ حدیث لیکلو۔ نو دهغے نه مخکښې به ئې دوه رکعته نفل کول اولامبل به ئې ۔ داد هغه معمول وو۔ داد نبی ﷺ نه خو نه دی ثابت۔ د صحابه کرامو نه نه دی ثابت۔ چه حدیث وایه او مخکښې تر ے لامبه۔ اودوه رکعته کوه۔

سیراعلام النبلاء کښې ۹ : ۸۹ دی :ماوضعت فی کتابی الصحیح حدیثا الا غسلت قبل ذالك وصلیت رکعتین ۔او دا چه: کان یصلی لکل ترجمة رکعتین ۔ امام ابو حنیفهؒ تقریبًا ۴۰ کاله د ماسخوتن په اودس د سحر مونځ کړیدے۔ (دول الاسلام ۱ : ۷۹ ' تاریخ بغداد ۲ : ۹ ' التاج المکلل : ۹٤)۔

بعضے وائی : نه منو اود هغے ښځے حق ئی کوم وخت ادا کړیدے۔ بیا د ښځے داحق خو څه په نص کښې نه دی راغلے۔ چه د ماسخوتن نه تر سحرپورے به ئې پوره کوی۔ بل وخت د هغے دپاره نشته. او ټول عمرئې صرف دغه نه وو۔ ښځے ته داحق حاصل دے۔ چه اووائی زما حق ئی نه دے ادا کړے۔

بخاری کښې راځی : چه طلحه رضی الله عنه ۴۰ کاله ټول عمر روژې نیولے دی۔ چه کله نبی ﷺ وفات شو ۔ د جهاد نه ورته څه فرصت حاصل شو : وکان ابو طلحة لایصوم علی عهد النبی ﷺ من اجل الغزو فلما قبض النبی ﷺ لم اره یفطر الا یوم فطر او اضحی۔ (بخاری ۱ : ۳۹۷)۔

الاصابة ۱ : ٥٦٧ : عن انس فصام بعده اربعین سنة الایوم اضحی اوفطر۔ وقال ابوزرعه عاش بعد النبی ﷺ اربعین سنة ' وبهامشه الاستیعاب ٤ : ۱۱٤ عن انس ان اباطلحة سرد الصوم بعد رسول الله ﷺ اربعین سنة۔

محترم عبدالعزیز نورستانی صاحب لیکلے دی : ابن بحینه نوم ئی عبدالله بن مالك دے۔ ډیرفاضل عبادت گزار صائم الدهر وو۔ (نیل المرام : ۲۳۳ طبع علی نفقة مؤسسة الخیریه بالریاض)

(وهکذا فی تعلیق مسند احمد جلد ۳۸)۔

د حدیث تشریح کښې علامه ابن حجر هیثمیؒ لیکلے دی : که یو تن ته د اووئیل چه نو کونه کټ کړه. او د سنت د اعراض د وجے ئی اووئیل نه کټ کوم۔ دده دین او عقل ناقص دے۔

مظاهرحق کښې دی : چه شیخ محمد اسحاقؒ د حدیث په شرح کښې فرمائی : چه بعضے علماء فرمائی : چه په دے کښې په هغه چارد دے۔چه د بدعت حسنه قائل دی۔ ځکه په حدیث کښې درے واړه خیزونه د عبادت سره تعلق ساتی۔

حدیث ۷: وعن عائشة قالت صنع رسول الله ﷺ شیئًا فرخص فیه فتنزه عنه قوم ...الخ۔

داکوم کار وو۔ بعضو خلقو وئیلے دی چه داپه روژه کښې د ښځے قبله ده۔ ښځه ښکلول بیا مانځه له تلل داپه بخاری کښې روایت راځی۔ چه اودس به ئې اوکړو نود اودس نه پس ئی کله کله بی بی خکل کړه۔ اومسجد ته به تلو داجائز دی ۔ معلومه شوه :حدیث ځانله دے او هدی ځانله ده۔ ددے دامطلب نه

دے۔چه د نبی ﷺ نه په بخاری کښی داخبره ثابته ده۔ چه اودس ئی اوکړو او ښځه ئی خکل کړه۔ اومانځه له لاړو۔ چه د نبی ﷺ طریقه ده۔ نواودسونه کوے۔نو مسجد طرف ته به روستو ځی۔اول به ښځه ښکلوے۔جائز دی صرف۔ مطلب دا که کوے ئی نوددے سره اودس ' مونځ او روژه نه خرابیږی۔ ددے دپاره نبی ﷺ کړے وو۔

دویم قول : یاد جنابت غسل ئی د صبا په وخت کښی کړیدے۔کله کله به نبی ﷺ په هغه وخت کښی سمدستی لامبل۔اوکله به پروت وو په جنابت کښی۔نوسحر به ئی اولامبل۔

دریم قول : یا نبی ﷺ په سفرکښی د ماښامی نه لړ مخکښی روژه ماته کړے ده۔لاماښام نه وو راغلے۔روستوکتاب الصوم کښی دا روایت شته۔نبی ﷺاوفرمائیل : اولئك العصاة اولئك العصاة ۔ولے تاسوپه سفرکښی داسے روژه نیسے۔تاسونافرمان ئی۔ چه د هغے انتهاء داسے مشقت او تکلیف ته رسی۔نو بیا روژه غوره نه ده۔

"فرخص": ۔د مجهول صیغه ده مطلب ئی دادے۔ چه کله په رخصت هم عمل کوے۔

صاحب د الحق الصریح دلته کښی شروع کړے ده۔ چه نبی ﷺپه څپلوکښی مونځ کړیدے۔په جرابوئی مسح کړے ده۔انتهی۔

فتاوٰی علماء حدیث کښی دی : میری تحقیق جهاں تک ہے یہ ہے کہ بغیر جوتا کے نماز افضل ہے اور اسی کو ترجیح ہے جسکی وجہ یہ ہے کہ جوتے کے ساتھ نماز کے سنن وآداب پوری طرح ادا نہیں ہوسکتے ۔ (ص : ۲۶۷)۔

شیخ الکل لیکی : المسح علی الجوربة لیس بجائز لانه لم یقم علی جوازه دلیل صحیح و کل من تمسك به المجوزون ففیه خدشة ظاهرة۔ کتبه محمدعبدالرحمن فتاوٰی نذیریه : ۴۴۳ سید محمدنذیرحسین -

د جرابود مسح مسئله خپل ځائی کښی به راشی۔(ان شاء الله)۔

حدیث ۸ : وعن رافع بن خدیج قال قدم نبی الله ﷺ المدینة وهم یابرون النخل ...الخ۔

"اذا امرتکم بشیء من امردینکم فخذوا به ": ۔معلومه دا شوه چه اتباع سنت په دین کښی به وی ۔که چرته دین نه وے دنیائی خالصه معامله وی۔په هغے کښی دانه ده ضروری۔ چه د پیغمبر هغه فرمان دے ضروری شی۔په دے کښی امام سیوطیؒ غلط شویدے۔دهغه کتاب دے " الاتّباع " نوپه هغے کښی لیکلے دی : چه پوخ کور جوړول هم بدعت دے۔دابدعت نه دے۔بدعت په امردین کښی

استعمالیږی۔ دغسے غلطی صاحب د مدخل هم کوی۔ چه چانړ استعمالول بدعت دے۔
رائی د نبی ﷺ ضروری نه ده۔ چه په هغے باندے روان شی مستحب ده۔ نو دابه څوك څه اووائی۔ چه د امام په رائی روان شه۔ تولے دنیا له ضروری نه دی۔ داخو ډیره غلطه خبره ده۔ چه حدیث وی نورائی پسے به نه روانیږے۔ د حدیث اود نص په وجود کښی قیاس که چا اوکړو نودارمی کښی روایت رائځی امام شعبی ؒ فرمائی : وماقالوه برأیهم فالقه فی الحش۔ دغه قیاس تښځے ته اوله۔ فقهاء کرام چه قیاس کوی۔ نوپه هغه ځائی کښی کوی چه نص نه وی۔
غیر مقلد وائی چه امام جعفر صادق وائی : اول من قاس ابلیس ۔ اول قیاس ابلیس کړیدے۔ وایه تحریف دے اوکړو۔ اول عبارت مکمل ذکر کول پکاردی : اول من قاس فی مقابلة النص ابلیس ۔ ابلیس د نص په مقابله کښی قیاس کړے وو۔ الله ورته اووئیل آدم علیه السلام ته سجده اوکړه نودے څه وائی :
﴿قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ﴾۔
(سورة الاعراف : ۱۲ ' ص : ۷۶)۔ د نصوصو مقابله کښی قیاس کول د شیطان ایجنډا ده۔
امام دارمی روایت راوړیدے : کان ابن عباس اذا سئل عن الامر فکان فی القرآن اخبر به وان لم یکن فی القرآن وکان عن رسول الله ﷺ اخبربه فان لم یکن فعن ابی بکر وعمر فان لم یکن قال فیه برایه ۔ (مسند دارمی : ۵۵)
مسئله : د پیغمبر رائی منل مستحب دی ضروری نه دی۔ واقعه د بریرة رضی الله عنها اومغیث رضی الله عنه په دے دلالت کوی۔ د دنیوی تجربو ځانله مقام دے۔ او اتباع النبی ﷺ ځان له مستقل سعادت دے۔ چه د دنیا تجربے کوی۔ چه کجهوره سوا کیږی په قلمی کیدو۔
الحق الصریح کښی دی : لیکن نبی ﷺ ددے خبرے نه په غفلت کښی شو۔ دا تعبیر مناسب نه دے ؟
۔ ﴿ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ ﴾ ۔ لیس لی اطلاع علی المغیبات وانما ذالك قلته بحسب الظن ۔ (مرقات)۔
د نبی ﷺ زیات التفات اخروی امورو ته وو۔ نه دنیوی امورو ته۔

حدیث ۹: وعن ابی موسی قال قال رسول الله ﷺ انما مثلی ومثل مابعثنی الله به ...الخ.

"کمثل رجل اتیٰ قومًا" :- یوتن دے ګډے بیزے خروی۔ په ګډوبیزو خرولو کښی دے ډیر لرے چرته لاړو۔ او ده لرے په شاړه کښی اولیدل۔ چه دشمن راروان دے۔ اوزما په قوم باندے حمله کوی۔ نودے غره ته اوختلو۔ جاهلیت کښی دا طریقه وه۔ چه قمیص او پرتوګ به ئی دواړه اوویستل۔ او څغه

به ئی کړه۔ "انا النذیر العریان ": ۔ څه بربنډ یره ورکونکے یم۔ قمیص او پرتوګ به ئی دواړه په لخته کښی اوتړل۔ اولخته به ئی اوچته کړه۔ اوچغه به ئی کړه۔ "یا صباحا" نو خلق به تول متوجه شو۔ چه دشمن راروان دے۔ نو چه چابه خبره اومنله نو تیاری به ئی شروع کړو۔ او د دشمن د نقصان به بچ شو۔ څوك وائی: چه د یوقوم جاسوس نه ئی جامے ایستلے وے۔ هغه موقع اوموندله۔ اوقوم نه ئی یره د حملے بیان کړه۔ نو هغوی د هغه ځائی نه لاړو۔ "النجاء" اطلبوا النجاء ۔

"فادلجو": ۔ علامه طیبیؒ وائی: په تیاره کښی د شپے روان شو۔ حدیث کښی د نبی ﷺ د ذات تشبیه "رجل" سره ئی ورکړے ده۔ " فذالك مثل من اطاعنی " : ۔لف نشر مرتب دے۔ لکه

كان قلوب الطير رطبا و يابسا

لدی وکرها العناب والحشف البالی (مختصر)

حدیث ۱۰: وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ مثلی کمثل رجل استوقد نارا ..الخ۔

" **فیتقحمن**":۔ ورننوځی په دے اورکښی۔ تقحم: ﴿هَذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُم﴾۔ (سورة ص : ۵۹)۔ چه ځائی نه وی اوپه زوره سره ځان وردننه کوی۔ اوځان له ځائے په کښی جوړه وی۔ اوسوچ نه کوی۔

" **وهذه الدواب** " :۔ د فراش دپاره ئی عطف تفسیری دے۔ او د خبر د خاطره ئی مؤنث "هذه" ذکرکړو۔ او یا فراش اسم جنس دے ۔

"**بحجزکم عن النار**": ۔ ماتاسود بډونه نیولے وے۔ اود اورنه مے بچ کولے۔ د بډے نه چه ئی اونیسی۔ نو مضبوط به دے نیولے وی۔ اوکه د سر نه ئی اونیسی۔ نو خپے به ئی آخوا تلے۔ اوکه د خپونه ئی اونیسی۔ نو سرئی آخوا تلے وی۔ اوچه د بډے نه ئی اونیسی۔ نو نه سر آخوا کولے شی۔ اونه خپے۔ یعنی تول مے بچ کولے د اورنه۔

اوفراش ته عرفًا دابه نه وئیلے کیږی۔ دلته ئی تعبیر د پتنګانونه په جهالت سره دغسے طریقے سره اوکړه۔ کوم انسان چه د محرماتونه اجتناب کوی۔ لکه چه د اورنه خلاص شو۔ د اور بلوونکی مقصد خلقوله رڼا ورکول۔ اودهغوی هدایت ته رابلل دی۔

د خلقومثال ئی په حقارت اوجهل دنیا پرستی اوخواهش پرستی کښی د پتنګانوسره ورکړو۔ چه بے

سو چه اور ته دانګی۔ او د خپلو منع کولو مثال ئی ورکړو۔ د بڼونه مضبوط راټینګولو سره۔
او مطلب د حدیث دا دے: چه د امت د مهلکاتونه د بچ کولو ما پوره کوشش کړید ے۔ انسان د دنیا ظاهری فوائد خوښوی۔ او حدیث کښی د نبی ﷺ د امت سره د مینے ذکر دے۔
حاصل دا شو: چه پیغمبر تباه کونکے امور په وضاحت سره انسان ته بیان کړو۔ دا محرمات مهلکات په منزله د اور واخله۔ او د پیغمبر د وضاحت تشبیه ئی د اور بلونکی سره ورکړه۔ او د جاهلانو بے سوچه هغے ته تلل د دوی تشبیه ئی د پتنګانو سره ورکړه۔ او پوره په زور او اخلاص سره کارکول تشبیه ئی د بڼونه د نیولو سره ورکړه۔ قرآن کښی هم دغسے تشبیه ذکر ده: ﴿مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَاراً فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِى ظُلُمَاتٍ لَّا يُبْصِرُونَ﴾ (سورة البقرة: ۱۷)
د دینه مراد نبی ﷺ دے۔ حدیث کښی اشاره ده۔ چه اتباع د پیغمبر د جهنم نه د بچ کیدو مخصوصه ذریعه ده۔

حدیث ۱۱: وعن ابی موسیٰ قال قال رسول الله ﷺ مثل ما بعثنی الله به من الهدی...الخ۔
دا دریم مثال دے۔ د دے نه مخکښی حدیث کښی مثال ذکر کړے وو۔ "کمثل رجل استوقد نارا"۔ په دے حدیث کښی یو بل مثال د خپل ځان ذکر کوی۔ "مثل مابعثنی الله به": ۔ مثال د هغے چه الله پرے ځه لیږلے یم۔ د نبی ﷺ بعثت دځه دپاره شوید ے۔ "من الهدی و العلم": ۔ فیه عطف المدلول علی الدلیل لان هدی۔ هدایت دال دے او علم مدلول دے۔ چه هغه هدایت او علم دے۔ هدایت ئی ځکه مخکښی ذکر کړو۔ چه هدایت د علم وسیله ده۔ که د علم نه هدایت نصیب نه شی۔ نو په دے علم څه کوی۔ چه هدایت په کښی نشته۔ داخو مستشرقینو ته هم حاصل دے۔ د هغے هدایت اشاعت کوی۔
العلم صفة توجب تمییزًا لا یحتمل النقیض۔ او د لته ترے شرعی دلائل مراد دی۔
د هدایت والا علم مثال د ډیر باران دے۔ "غیث": ۔ هغے باران ته وئیلے کیږی چه خلق ورته حاجتمند وی: ﴿وَهُوَ الَّذِى يُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾۔ (سورة الشوری: ۲۸ لقمان: ۳۴)۔ د زمکے د سیراب کیدو دپاره بارانونه غواړی۔ او ماشومان سوال کوی۔ الله کے کړے بارانونه چه و دان شی پرے ملکونه۔ او بیا د هغے نه بعد باران اوشی۔ هسے پونکه غوندے څاڅکی نه یادوی۔ زبردست باران یادوی۔

اشاره دے طرف ته ده. چه عالم له پکار دی چه علم حاصل کړی. خو چه ډیر علم حاصل کړی. هسے نه چه پونکه علم حاصل کړی. او پشم غوندے وی. د صحابو علم ډونګے او ژور وو. " الغیث الکثیر" داد علماؤ مثال دے. د علماؤ مثال پشانتے د وریځے او د باران ئی ورکړیدے.

(۱) : باران د آسمان او د وریځ نه خکته راځی. علوم قرآنیه هم د بره آسمان نه د وحی جلی او خفی په ذریعه زمکے ته رارسیدلے دی. (۲) : د خلقو د معاش ظاهری سبب او د ملك ظاهری آبادی په خپل وخت فائده مند، پوره بارانونو کښې ده. د مخلوق اصلاح په پوره مکمل علم سره کیږی. (۳) : د پټی نه بوټی، میوے، سبزی، ګلونه او غلے د باران او د اوبو نه بغیر نه راوځی. دغسے عقیده، عمل، طاعات او اخلاقیات د علوم نبویه نه بغیر نه شی کامل کیدے. (۴) : باران فائده مند او کله نقصانی وی. تباهی راولی. دغسے علم دے. القرآن حجة لك او علیك. د صحیح مسلم روایت دے.

(۵) : باران کښې رعدوبرق دواړه کله کله وی. دغسے علمی میدان کښې به تبشیراو انذار دواړه وی.

دا بعضے خلق وائی : د علماؤ مثال په شان دکوهی دی. او زمونږ مثال په شان د باران، اود وریځے دے علماء که د کوهی غوندے په ځائی موجود وی. خو طالبان د مختلفو مقاماتونه راغلے وی. بیا دوی د دنیا طرفونو کښې خوریږی. اوخپل علم خلقوته ښائی. او دا هم الغیث الکثیر دے. داخو کوهیان نه دی.

"اصاب ارضا" :- دا اورسیدو یو زمکے ته. اول کله چه باران کیږی. نو درے قسمه زمکه وی.

علامه ابن عبدالبرؒ التمهید کښې لیکلے دی : چه د حق پرست عالم مثال " کعین عذبة " یعنی د خوږے چینے دے.

اول قسم د زمکونه هغه زمکه ده. چه پرے باران اوشی. او زمکه دغه اوبه جذب کړی : ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ﴾ (سورة الزمر : ۲۱) دے زمکه کښې ئی وتونه جذب کړی. راخکی ئی. او د هغے نه روستو دا زمکه مسته شی : ﴿ فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ ﴾. (سورة الحج : ۵، فصلت : ۳۹).

نو ښکلے مزیدار ګلونه، میوے، غلے او ترکاری راوځی. او اوبه ښکاری نه. اوبه دننه پټے. او دے زمکے جذب کړے. اوله زمکه داده. دادی مجتهدین هغوی د قرآن او احادیثو اوبه اوڅکولے. سیراب شو. اود هغے نه بعد ئی په زرګونو مسائل ترینه راوباسل.

قرآن کریم کښې اتمه سیپاره کښې آیت راځي : ﴿ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ ﴾ ـ ښکلے زمکه مستنه زمکه ښکلے بوټي راوباسي ـ اوکه بیکاره زمکے دي : ﴿ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ﴾ (سورۃ الاعراف : ۵۸) ـ په هغے کښې کاریزے او درب پیداکیږي ـ په دغه آیت باندے چه مفسرین بحث کوي ـ نودا حدیث راوړي ـ یوزمکه داده ـ

(۲) : دویمه زمکه هغه ده ـ چه باران کله اوشي ـ نودغه زمکه د باران دا اوبه جذب نه کړي ـ چولستان اود بلوچستان بعضے علاقوکښې چه کومے زمکے دي ـ اود هغے گزاره په دغه اوبوباندے کیږي ـ نو هلته کښې غټ غټ تالاؤنه وي ـ اوچه باران اوشي ـ نواوبه محفوظے کړي ـ بیا ئي خلق اوړي کورونه ته ـ جامے پرے هم وینځي اوڅکي ئي هم ـ څناورولہ ئي هم ورکوي ـ ددے قسم زمکے نه هم ډیرخلق فائده اخلي ـ داد محدثینو زړه د دنیا زمکه ده ـ حدیثوکښې ئي ډیر زیات مهارت حاصل کړیدے ـ مسائل ترینه دومره زیات نه شي راویستے ـ چه څومره چه فقهاء راوباسي ـ

واقعه : خطیب بغدادیؒ واقعه ذکرکوي : یوه ښځه د زهیر او یحی بن معین ، ابو خیثمه اود خلف بن سالم رحمهم الله مجلس له ددے مسئلے تپوس له لاړه ـ چه څه حائضه یم ـ او حیض په وخت کښې څه مړي له غسل ورکولے شم ـ ښځه مړه ده ـ خلق مطالبه د غسل کوي ـ څه ورته وایم زما حیض دے ـ حیض په حالت کښې غسل ورکولے شم اوکه نشم ورکولے ـ نو هغه محدثینو ورته اووئیل مونږ ته پته نشته دے ـ ابوثورفقیه راروان دے ـ د هغه نه تپوس اوکړه ـ نوابوثورفقیه له چه لاړه ـ ورته ئي اووئیل ته غسل ورکولے شے ـ ځکه چه په حدیث کښې راځي : عائشه رضی الله عنها نبی ﷺ له اعتکاف کښې سر وینځه ـ یوه ورځ ئي اووئیل زما حیض دے نن ـ نو نبی ﷺ ورته اووئیل : ان حیضتك لیست في یدك ـ (الحدیث) ـ دا حیض دے لاس ته نه دے راغلے ـ نوته سر وینځلے شے ـ نو هغے محدثینودے ښځے ته اشاره اوکړه ـ دلته راشه څه ئي اووئیل درته ـ نوجواب ئي ورته اوخودلو ـ او ورته دغه حدیث اووئي ـ نو هغوی شروع شو ـ حدیث سند دادے ـ او رجال داسے دي او زبردست حدیث دے ـ اودا ښځه ورته وائي " این کنتم الی الآن " اوس مرني شوے ـ تراوسه خو تاسو ماله جواب رانه کړو ـ هغه جواب یوفقیه ورکړو ـ (الفقیه والمتفقه ۲ : ۸۸ ، وهکذا في تاریخ بغداد) ـ اودغه وخت کښې هغه محدثینوجواب ورنه کړو ـ نوفقهاء د دغے احادیثونه مسائل مستنبط کوي ـ لکه څنګه چه ګلونه او

ترکارۍ راوتلے دی۔ نو محدثینو ډیر لوئی خدمت کریدے۔ احادیث ئی راجمع کریدی۔ دے پسے په وطنونو کنبی گرځیدلے دی۔

بعبارة اخری : دا ړومبے زمکه د درایت ده۔ اګرچه روایت ورله هم ورځی۔ لیکن درایت پرے غالب دے۔ دا دویمه زمکه د روایت ده۔ اګرچه درایت کنبی هم ډیر مخکنبی دی۔ لکه بخاریؒ سید الفقهاء دے۔ خو لیکن روایت پرے غالب دے۔ دا دواړه زمونږ مشران دی۔ زمونږه مشرامام ابو حنیفهؒ هم دے۔ چه هغه دمجتهدینو مشر دے۔ چه مذاهب ئی مدون دی۔ دغسے زمونږه مشرامام بخاریؒ دے۔ چه د محدثینو پیشوا دے۔ داسے به چرته هم نه کوی۔ چه یا د امام ابو حنیفهؒ توهین اوکړی۔ یا د امام بخاریؒ توهین اوکړی۔ یو د فقهاو او بل د محدثینو امام دے۔

(۳) : دریم قسم زمکه چه ده۔ نو هغه د هیڅ نه ده۔ داسے بره غونډے زمکه ده۔ چه باران پرے اوشی نو هغه تولے اوبه خکته لاړے شی۔ نه د جمع کولو کار کوی ۔ اونه د جذب کولو کار کوی۔ بے فائدے زمکه دا دریم قسم زمکه ده۔ دا هغه کسان دی چه نه ئی د یو سره تعلق شته۔ اونه ئی د بل سره تعلق شته دے۔ دا دریمه زمکه بے کاره ده۔

(۱) : الحق الصریح کنبی حدیث داسے لګولے دے۔ چه یو هغه کسان دی۔ چه روایت او درایت کنبی ماهران دی ۔ دویم هغه کسان دی۔ چه په روایت کنبی پو هه دی۔ او درایت کنبی نه دی پو هه۔ او دریم هغه دی۔ چه نه روایت لری اونه درایت لری۔ هیڅ په کنبی نشته دے۔ انتهی۔

واضحه دے وی چه د اهل الرّای دا مطلب نه دے۔ چه په حدیثو کنبی مهارت کم دے۔ امام ذهبیؒ لیکلے دی : کان اهل الرّای بصراء بالحدیث فقد رحلوا فی طلبه ' وتقدموا فی معرفته۔

(سیر اعلام النبلاء ۱۴ : ۲۳۶ مطبوعه مؤسسة الرسالة بیروت)۔

زر کو جس وقت کسوٹی پر رکھا جائے گا حال کھل جائے گا سب اسکے کوٹے کھرے کا

(۲) : قاضی شمس الدینؒ حدیث داسے لګوی۔ یو هغه کس دے چه علم ئی حاصل کړو۔ اوپه علم باندے عمل هم اوکړی ۔ او بل ته ئی مسئله هم بیان کړه۔ علم هم دے او عمل هم دے۔ او بل ته خودل هم دی ۔ دا درے واړه کارونه ئی اوکړل۔ اوبل هغه کس دے چه عمل پرے نه کوی۔ لیکن بل ته دغه مسئله رسوی ۔ اوخبره ورته بیانوی۔ دریم هغه دے۔ چه دے دواړو کنبی د یو سره ئی تعلق نشته۔

اشکال : په حدیث باندے یو اشکال دے۔ هغه دادے : چه په دے حدیث کنبی ئی زمکے درے

خودلے دی - یو زمکه هغه ده چه اوبه ئی جذب کړے - اوبه ئی اوچو پلے - دویمه زمکه سخته، بنجر کلکه زمکه ده - اوبه ئی راجمع کړے فقط - دریمه زمکه " انما هی قیعان " دا شاره ده - برابره زمکه ده - لیول ئی برابر دے - نود رومبئی زمکے فائده هم نه ورکوی - او د دویمے زمکے فائده هم نه ورکوی - نوزمکے خودرے دی - مشبه به کښی درے څیزونه دی - آخوا ورپسے حدیث ته فکر اوکړه -

"مثل من فقه فی دین الله " یو " من لم یرفع بذالك راسا " :- دویمه خبره ده - نو مشبه او مشبه به یوشان نه شوه مشبه به هغه درے زمکے دی - اوبیائی دلته کسان دوه قسمه ذکر کړل - یو هغه چه د الله په دین کښی فقاهت حاصل کړه - او دویم هغه چه دیته ئی سر هم پورته نه کړو - د تکبر د وجے نه هیڅ ورته حاصل نه شو - نود ے کښی خو مطابقت رانغلو - مشبه به درے دی - مشبه دوه دی - زمکے درے دی - او کسان دوه قسمه یادوی - یو هغه چه نفع بخش ده - دویم هغه بالکل بے فائدے ده - چه دا ولے ؟ -

جواب : دا مخکښی دواړه زمکے یو دی - دیوبل نه ئی مه جدا کوه - محدثین او فقهاء دا دواړه په نفع کښی یوشان دی - دا اول قسم او دویم قسم په نفع کښی مشترك دی - اودا بل دریم قسم ځانله جدا شو - اودهغے دلیل دادے : چه په دے حدیث کښی یو ځل داسے راغلل " واصاب منها طائفة اخری " " فکانت منها طائفة طیبة " نو طائفے ئی دوه ذکر کړیدی - نو گویا زمکے هم دوه قسمه دی - اوکسان هم دوه قسمه دی - حدیث نه دا معلومه شوه - چه " الغیث الکثیر " ډیر فائده مند څیز دے -

الحق الصریح والا د عادت مطابق شروع کړے ده - خوك چه دا احادیث ناقص گڼړی - او کتابونو کښی لیکلے دی - چه تاسو (متبعین د کتاب او سنت) وائی چه قرآن او سنت کامل دے - نو مینبه په قرآن او حدیث کښی کوم ځائی ذکر شوے ده ؟ نو وائی امامانو ته ضرورت دے - مونږ وایو امامانو ته حاجت شته - خوداسے نشته لکه تاسو چه څنګه شارعان گرځولے دی - چه په کتاب او سنت کښی یو مسئله نه وی - نو امامان هغه د کوم ځائی نه راوباسی - اوهر کله چه کتاب او سنت کښی شته - نو کمال کتاب او سنت ته حاصل دے - او دوی کمال ټول قیاس ته منسوب کوی .... الخ -

وضاحت : چه مطالبه درنه کوی - نو ورته اوښایه - تفسیر مواهب الرحمن کښی لیکلے دی - اود قرآن نه ئی ثابته کړیده - چه : ﴿ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ ﴾ (سورة المائدة : ١) - دغه ځائی کښی لیکلے دی : چه دا بهیمة الانعام کښی راځی - حدیث ورته اوښایه مرفوع متصل - نو مسائل قرآن و حدیث

كښې وي ـ د مجتهدينو كمال دادے : چه هغوی ددينه ډير مسائل راوباسلے دی. مجتهدترينه داسے مسائل راوباسی ـ چه غير مجتهدداسے مسائل نه شي راوباسلے ـ اګرچه ځان ته مجتهد وائی ـ
نوبيا وائی په مونږه او دوی كښې فرق دادے : چه مونږه قرآن او سنت كامل منو ـ او قياس ته ناقص وايو ـ اودوی قياس ته كامل وائی ـ العياذبالله : ﴿ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ ﴾ (سورة طه : ٦١) ـ قرآن او سنت ته كامل نه وائی داخوك دی چه قرآن او سنت ته كامل نه وائی ـ چه قرآن كښې راځی : ﴿ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا ﴾ ـ (سورة المائدة : ٣) ـ
شرح فقه اكبر كښې ملاعلی قاری ليكلے دی : فلانحتاج في تكميل ديننا الى امرخارج عن الكتاب والسنة ـ قرآن او سنت مونږه دتكميل دپاره منو ـ اجماع او قياس تكميل لره نه منو ـ هغه تشريح لره منو ـ تشريح ځانله شيء دے ـ دے هم بيا روستواجماع منی ـ اوبعضے ځائی كښې قياس منی ـ
دا قياس په هغه وخت كښې ناقص نه وی ـ په مسندفردوس په حواله باندے د علی رضی الله عنه قول نه ئی چه ثابتوی ـ معلومه شوه : چه حديث مرفوع متصل چه څنګه ئی دعوی ده نه شي خودلے ـ
شيخ عبدالسلامؒ تحفة السجن سلفی كښې : ۲۴۸ باندے ليكی : ميخه او سنډا هم د غوا د جنس نه دی ـ په هغے قربانی جائز ده غوره نه ده ـ په دے كښې حديث د موطاامام مالك اونور آثار د صحابه كراموشته ـ او پنجاب كښې بعض غيرمقلدين مناظره كښې دعوی پيش كوی چه د ميخے قربانی نشته ـ دوی ته دوی د عالم تحقيق وائی ـ
نوداد فقهاؤ كمال دے ـ دا دوی چه وائی : الجاموس كالبقر ـ اودلته ئی قياس كړيدے ـ چه دے ورته هم مجبوره دے ـ جاموس د بقر قسم دے ـ بقرباندے قربانی تيك ده نوجاموس باندے هم قربانی تيك ده ـ تفصيلی بحث به ئی په خپل ځائی كښې ان شاء الله راشی ـ
قرآن او سنت مونږه منو ـ الحمدلله قرآن اوحديث ته كامل وايو ـ قياس د سرنه نه منو ـ چه كوم ځائی كښې نص راغلے دے ـ اوقياس د تكميل د دين دپاره هم نه منو ـ قياس او اجماع د تشريح د دين دپاره دی ـ اوتوضيح دين دپاره منو ـ تكميل دين ځانله دے ـ تشريح دين ځانله دے ـ تمكين دين ځانله دے : ﴿ الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ ﴾ ـ (سورة الحج : ٤١) ـ كښې تمكين دين دے ـ
" اصاب ارضا فكانت منها طائفة طيبة " يوه قطعه ډيره پاكه وه ـ " فانبتت الكلاء والعشب " ډيرے ګياګانے

اوډیروابنه راوتوکیدل۔ یو "حشیش" دے۔ دا اوچووښوته وائی۔ "عشب" لمدو وښوته وائی۔ یو "کلاء" دے داعام دے۔ اوچ وی که لوانده وی۔ "کانت منها اجادب" دویم قسم هغه زمکے دی چه کلکے وی۔ "واصاب منها طائفة اخری" دریم قسم زمکے ته هم دا باران اوشو۔ "انما هی قیعان" د زمکے دغه ټکره ګراوند برابره زمکه۔ الارض المستویه۔: ﴿فَيَذَرُهَا قَاعاً صَفْصَفاً ' لَا تَرَى فِيهَا عِوَجاً وَلَا أَمْتاً﴾۔ (سورة طه: ۱۰۶٬۱۰۷)۔ بره ښکته په کښی نه وی۔ دیته برابر زمکه وائی۔ "لاتمسك ماء" اوبه نه جمع کوی۔

"ولم يقبل هدى الله الذى ارسلت": ۔ تکبر ئی اوکړو۔ او د الله احکام ئی اونه منل۔ هغه چه څه پرے رالیږلے شوے یم۔ نو حدیث کښی ئی مونږ ته اووئیل چه قرآن او حدیث سره مینه پیدا کړے۔ د الله په دین کښی فقاهت حاصل کړه۔ روستو به بیا ارمان کوے۔

مرقات کښی ملا علی قاری دوه درے ځایه داخبره نقل کړے ده۔ یو دلته او یو بل ځائی۔ چه امام غزالی به روستو ارمان کوو۔ هغه به وئیل: ضیعت قطعة من العمر العزیز فی تصنیف البسیط والوسیط والوجیز۔ کله کتاب لیکم اوږدوم ئی۔ اوکله ئی درمیانه کوم۔ اوکله کتاب لنډوم۔ په دے کښی زما عمر تیرشو۔ دابه پخوانو علماؤ کول مطول ئی اولیکه غټ وو۔ نواته کاله پس ئی مختصر کړو۔ نو مختصر ئی ترینه جوړ کړو۔ په دے ما ټول عمر ضائع کړو۔

امام رازی هم افسوس کړیدے۔ او بیا وائی: ﴿قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ﴾ (سورة البقرة: ٦٠)۔ ﴿كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ﴾ (سورة المؤمنون: ٥٣) ۔ ۔ د امام غزالی په آخر کښی د حدیثو سره مینه وه شرح فقه اکبر کښی ملاعلی قاری لیکلے دی: مات الغزالی والبخاری علی صدره۔ امام غزالی چه مړکیده نو صحیح بخاری ئی په سینه باندے پرته وه۔ نو د قرآن او سنت سره مینه پکار ده۔ اوددے علم حاصلول پکار دی۔ داسے خلق شته چه هغوی منطق له شل دیرش کاله ورکړے دی۔ اوقرآن کریم نه خبرنه دی۔ اودا شرح فقه اکبر کښی ملا علی قاری هم لیکلے دی: چه ډیرکلونه به په نورو علمونو کښی اولګی۔ لیکن د قرآن او د سنت نه به خبرنه وی۔

حدیث ۱۲ : وعن عائشة قالت تلارسول الله ﷺ هو الذی انزل علیك الکتب منه...الخ۔

قرآن کښی دوه قسمه آیات دی۔ (۱): محکمات (۲): متشابهات۔ ﴿هُوَ الَّذِيَ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ

مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ ﴾ ـ دی. د متشابهاتو نه اهل بدع دلیل نیسی : ﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ ﴾ ـ قرآن کښی مصداق د اهل زیغ بیانوی. هغه دادے چه : ﴿ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاء الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاء تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُوْلُواْ الألْبَابِ ﴾ . (آل عمران : ۷) ـ هغوی استدلال په څائی کښی محکمات نه اخلی. او د متشابهات نه به دلیل نیسی. قرآن کښی صفا راځی : ﴿ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا ﴾ (سورة ص : ۷۱) ـ دے له به نه راځی. : ﴿ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ ﴾ (سورة المائدة : ۱۵) ـ دلته به نور نور کښی لګیا وی ـ حالانکه هغے کښی ډیر اقوال دی. د هغے یو قول نه به دلیل نیسی. عیسایان هم دغسے شانتے کوی. : ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ ﴾ (سورة الزخرف : ۵۹) ـ له به نه راځی. "عیسی کلمة الله". او "روح الله" کښی به لګیا وی ـ نو بدعتیان د متشابهاتو نه دلیل نیسی ـ حق پرست علماء د محکماتو نه دلیل نیسی. محکمات چه مراد او معنی ئی واضحه وی. متشابهات چه په مراد کښی ئی خفاء وی. په دے اعتبار سره ټول قرآن کریم محکمات دی.

﴿ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴾ (سورة هود : ۱). چه د هغے نقض نشته دے ـ فصاحت بلاغت په کښی دے. هغے کښی سقم څوك نه شی ثابتولے. لیکن په دے اعتبار سره ټول قرآن متشابه دے : ﴿ اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَاباً مُّتَشَابِهاً ﴾. (سورة الزمر : ۲۳). هر یو آیت د بل توثیق کوی. او مراد ئی مضبوطوی. خولیکن په دے اعتبار سره چه معنی او مراد په کښی واضح نه وی ـ هغے ته متشابهات وائی. په دے متشابهاتو کښی به ډیر وردننه کیږے نه. بعضے خلقوژوند ټول په متشابهاتو کښی تیر کړو.

عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی : چه د قرآنی تفسیر څلور طریقے دی : (۱) : هغه تفسیر چه هرچاله ئی ازده کول پکار دی. (۲) : هغه تفسیر چه عرب ئی د خپل لغت په اعتبار سره پیژندلے شی. (۳) : هغه تفسیر چه علماء ئی علم حاصلوی. (۴) : او هغه تفسیر چه په هغے یو الله رب العزت پوهیږی. (نظم الدرر للبقاعی ، قرطبی ، طبری ، مجموع الفتاوی ۳ : ۲۸) .

علامه آلوسیؒ لیکلے دی : د غه سورة آل عمران د آیت دلاندے : چه ضبیع نومے یو کس وو. کوم

ځائی ته به چه تلو متشابهاتو کښې به ئې خبره کوله. ابو موسی الاشعری رضی الله عنه عمر رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه ددے سړی علاج څه دے. عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائیل ماله ئې راوله زما ورسره کار دے. نو چه راغے تپوس ئې اوکړو. په هر ځائی کښې په متشابهاتو کښې لګیا ئې. او شنې لختے ئې ورته اونیولے. زبردست طریقے سره ئې اووهلو. نو هغه چغه اووهله. که ته ما ددے دپاره تکوے. چه زما د ماغزو نه خناس اوځی. نو هغه ترینه اووتلو. اوبیا به داچل نه کوم. اوکه مړکوے مے نو مړ مے کړه. نو دومره دے اووهلم.

بازار کښې به متشابهاتو کښې لګیا وی: ﴿اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ﴾ (سورة الاعراف: ٥٤) ۔ آیت دے.

متشابهات دی: ﴿فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ﴾ اوحدیث کښې د اهل زیغو حکم بیانوی: اولئك سماهم الله ـ دیته به اهل زیغ وائی. عمر رضی الله عنه پرے پابندی اولګوله. ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه ته ئې خط راولیږلو چه ده سره به څلور کسان نه یو ځائی کیږی. کرفیو ئې اولګوله ـ ځکه چه دے کسان وینی نو متشابهاتو کښې لګیا وی نبی ﷺ آیت اولوستو: ﴿هوالذی نه تر اولوالالباب﴾ پورے. بیا نبی ﷺ اوفرمائیل دلته "فاذا رایت" او مسلم کښې راځی: فاذا رایتم الذین یتبعون ما تشابه منه فاولئك الذین سماهم الله ـ الله ورله نوم ایخودے دے. دیته به اهل تحقیق نه وائی. دیته به اهل زیغ وائی. اوحکم ئې دادے: فاحذروهم. دوی نه یره اوکړے. نزدے ورله مه ورځه. قرآن کښې راځی: ﴿فَالْمُقَسِّمَاتِ أَمْرًا﴾ (سورة الذاريات: ٤).

ددے آیت دلاندے هم د صبیغ الیتمی او د سیدنا عمر رضی الله عنه واقعه مفسرین ذکر کوی.

علامه ابن تیمیهؒ لیکی: وکتب الی موسی الاشعری امنع الناس من مجالسته فلم یزالوا کذالك حتی اتی ابا موسی فحلف له بالایمان المغلظة مایجدفی نفسه مما کان یجد شیئا فکتب الی عمر ماخاله الا قد صدق فخلی بینه و بین مجالسة الناس ویدل هذا ان الرجل لم یکن سلیم القلب وان سواله لم یکن طلبا للعلم والا لم یصنع عمر ما صنع. انتهی. (هکذا فی مجموعة الفتاوی ٢ : ٨).

ملاعلی قاریؒ د امام مالكؒ مشهور قول نقل کړیدے: الاستواء معلوم والکیف مجهول اوالکیف غیر معقول.

اودباب سره ئې ربط دادے: چه اعتصام بالکتاب به د قرآن د آیتونو نه وی چه محکمات دی.

ملاعلی قاریؒ لیکی: اتفق السلف والخلف علی تنزیه الله تعالی عن ظواهر المتشابهات المستحیلة علی الله.

حدیث ۱۳: وعن عبدالله بن عمرو قال هجرت الی رسول الله ﷺ یومًا قال فسمع ..الخ۔

ډیروختی د غرمے په وخت کښی نبی ﷺ له لاړم۔ "هجرت" هاجره، غرمے وخت ته په دے وجه وئیلے کیږی۔ چه خلق په دے وخت خپل کار پریږدی۔ د اږغرمه وه۔ نبی ﷺ له لاړم۔ چه د هغوی اقوال او افعال په نظرکښی اوساتم۔ د طالب علمیٔ شوق ئی ډیر وو۔

"فسمع اصوات رجلین": ۔ داسے د دوو سړو آوازونه مے واوریدل۔ چه په یو آیت کښی په جګهړه شوے وو۔ یوتن اووئیل چه د آیت مطلب داد ے۔ بل تن اووئیل دا مطلب دے۔" فخرج علینارسول الله ﷺ" رسول الله ﷺ په مونږ باندے راووتلو۔ "یعرف فی وجهه الغضب" چه دده په مخ کښی د غضب آثار پیژندے شو۔ ځکه نبی ﷺ به په جګهړو ډیرقاریدلو۔ "فقال انما هلك من کان قبلکم باختلافهم فی الکتاب" پخوانی چه هلاك شوے دی۔ هغه دد ے وجے نه هلاك شول۔چه هغوی په کتاب کښی اختلاف کړیدے۔ مخکښی تیر شوے وو۔ ځکه هلاك شول چه هغوی په تقدیر کښر، حګهړه کړے وه۔ او رابه شی چه مخکښی په دے هلاك شوے دی چه فرض اود نفل په مینځ کښی ئی فصل نه وو۔ امام نووی" چه دد ے اختلاف نه هغه اختلاف مراد دے چه بدعت ته انسان رسی۔ کفر او شرك ته رسوی۔ دد ے نه مراد د یهودیانو اود باطل پرستو اختلاف دے۔ اجتهادی اختلاف ترینه نه دے مراد۔ یوه مسئله د قرآن او حدیث نه استنباط کړی یو مجتهد۔ او بیا بل مجتهد هم استنباط اوکړی۔ لیکن مسئله کښی اختلاف وی نو دغه ترینه نه دے مراد: ﴿وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَـٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ (آل عمران: ۱۰۵) نه مراد اصولی اختلاف دے۔ دغسے قرآن کښی دی: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾۔ (آل عمران: ۱۰۳)۔ د آیت دلاندے جصاص احکام القرآن کښی لیکلے دی: وفی فحوی الایة ما یدل علی ان المراد هو الاختلاف والتفرق فی اصول الدین لا فی فروعه ۔(۲) :تفسیر قرطبی کښی دی: ولیس فیه دلیل علی تحریم الاختلاف فی الفروع فان ذالك لیس اختلافًا، اذا الاختلاف ما یتعذرمعه الائتلاف والجمع ۔(۳) : علامه آلوسی" لیکی:

ثم ان هذا الاختلاف المذموم محمول کما قیل علی الاختلاف فی الاصول دون الفروع۔

بعضے خلق وائی: چه د پیغمبر دین مو خلورو ډلوکښی تقسیم کړو۔ دانه دی مراد۔ لکه دا خبره د پشاور یوسف قادیانی خپل د پښتو کتاب کښی لیکلے ده ـ امام سیوطی" د جزیل المواهب فی

اختلاف المذاهب کښې په اول کښې فصل منعقد کړیدے۔ هغه لیکی : سمعت بعض الجهال یقول النبی جاء بشرع واحد فمن این مذاهب اربعة ۔ هغوی خوبعضے جاهلان یادوی۔ مونږ خو۔ چه څان ته اهل التحقیق وائی۔ او د عدم تعصب دعوی ئی ده۔ دهغوی نه اوریدلے دی۔ او دوی کتابونوکښې هم دغه لیکلے دی۔ دا اختلاف نه دے مراد۔ دلته مراد "جدال فی القرآن" دے۔

حدیث کښې دی : ان الجدال فی القرآن کفر۔ (مسند احمد ۲ : ۲۵۸)۔

حدیث ۱۴ : وعن سعد بن ابی وقاص قال قال رسول الله ﷺ ان اعظم المسلمین ...الخ۔

ګناهګارئی ورته نه دے وئیلے۔لیکن "ان اعظم المسلمین" ئی ورته اووئیل۔ په مسلمانانوکښې دغه دجرم په اعتبار سره لوئی دے۔ "من سأل عن شیء" : ۔ چه هغه د نبی ﷺ نه تپوسونه کوی۔

"**فحرم من اجل مسئلته**" : ۔ دغه د سوال د وجے حرام شی۔ بال کی کھال اتارنائی عادت دے۔ غوبښت برمه کوی۔ تعمق په سوالاتوکښې کوی۔ د بنی اسرائیلو غواترینه جوړه کړی۔ کتاب المناسك کښې دی نبی ﷺ وئیلے وو۔ چه څنګه خبره اوکړم نو پرے ئی ده۔ اوئے فرمائیل حج دربانده فرض دے۔ یو صحابی پاڅیدو۔ چه نوم ئی اقرع رضی الله عنه وو۔ اکل عام یا رسول الله ۔ په دے کال که همیشه۔ نونبی ﷺ ورته اوقاریدو۔ چه بس څه خبره پریږدم نو پریږده۔ خبره ویخ ته څه له رسوے۔

سوال : ملا جیون تفسیرکښې لیکلے دی : چه اصل په اشیاء کښې اباحت دے۔

جواب : ورسره دا قید اولګوه اباحت دے۔ خو چه منع نه وی راغلے۔ د بدعت کولو نه اصولی منع راغلے ده۔ "کل بدعة ضلالة" ۔ او علامه شاطبیؒ لیکی : داد عاداتو (خوراك څکاك) په اختلاف کښې مسئله ده ۔ په عباداتوکښې نه ده ۔ او صاحب د مسلم الثبوت لیکی : دا اختلاف د شرع د راتلو نه مخکښې دے۔ مرقات کښې دی : الاصل فی الاشیاء الاباحة قبل ورودالشرع حتی یقوم الدلیل الحظر۔

ددے پوره بحث حدیث : ۵۵ کښې راتلونکے دے۔ ان شاء الله۔

حدیث ۱۵ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ یکون فی آخرالزمان دجالون...الخ۔

آخری زمانه کښې به دجال راشی۔ انتهائی جګهړے کوونکے۔ یو خو هغه اصطلاحی دجال دے۔ ددینه علاوه "**کذابون**" غټ دروغجن به وی۔ "**یاتونکم من الاحادیث**" احادیث به درته وائی نه به تاسو آوریدلے وی۔ اونه به ستاسو پلارانو صحابو به آوریدلے وو۔ د څان نه کوره اجادیث به درته

بیانوی۔ " فایاکم و ایاهم ": - تاسوددینه بچ شے۔ او دوی دے ستاسونه بچ شی۔ د حدیثو تعلق به د احکاماتو، عقائدو وغیرهم سره وی۔
"لا یضلونکم": - دوی دے تاسو په عمل کښی گمراه نه کړی۔ "ولا یفتنونکم": - د عقیدے په فتنو کښی دے تاسولره داخل نه کړی۔ من گهړت روایات، تاویلے ماویلے، موضوعی احادیث به نه بیانوی۔ دے سره انسان گمراه کیږی۔
مظاهر حق کښی دی: چه په آخری زمانه کښی به دهوکه باز او مکار پیدا شی۔ جامه به ئی د زهد او د تقوی وی۔ او خلق به گمراه کوی۔ او خلقو کښی به د غلطو عقیدو تخم کری۔ نو د بدعتیانو د محبت نه بچ کیدل پکار دی۔
علامه شبیر احمد عثمانی په فتح الملهم شرح مسلم کښی ددے آثر په شرح کښی یو تاریخی واقعے طرف ته اشاره کړے ده۔ چه د نن نه تقریباً دیرش کاله مخکښی یو ډاکټر " من جانا " یو ملحد د پورے سمندر نه یو صحیفه راوړے وه۔ او دعوی ئی اوکړله۔ چه دا اصلی قرآن دے۔ چه په کښی د قرآن خلاف ډیرے خبرے وے۔ ددے انگریز شیطان مقصد دا وو۔ چه په دے طریقه څه د مسلمانانو په زړونو کښی د قرآن باره کښی شکوك پیدا کړم۔ او " نعوذ بالله " قرآن کښی به تحریف ثابت کړم۔ لیکن: ﴿فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً﴾ - ددین عالمانو په ده باندے ردونه اوکړل۔ او د هغے د دروغو هیڅ آثر پاتے نه شو۔ او دغه سړے په خپل مقصد کښی ناکام شو۔
بعض علماء دلته د علم کلام رد کوی۔ څکه چه صحابه او تابعینو په دے کښی بحث نه دے کړے۔ او امام شافعی او سفیان ثوری وغیره سلف ئی تردید کوی۔ لیکن د (تنبیه) په عنوان فتح الله کښی دی: چه کله دا علم زیغ ته خلق رسوی۔ دا حکم ئی دے: وما بعد تلك الازمنة فقد تمیز اهل السنة من اهل البدعة وحرروا کتبهم فیه - نو د محاسنو د زیادت او د بدعاتو د تجرید نه بعد چه کله ئی کتاب و سنة او اجماع سره مؤکد کړو۔ د شبهاتو د تردید دپاره دا علم کفایه کښی راځی۔ دغسے امام الحرمین هم فرمائیلے دی۔
حدیث ١٦: وعنه قال کان اهل الکتب یقرء ون التوراة بالعبرانیة ویفسرونها ...الخ۔
تورات اصل په عبرانی ژبه کښی وو۔ عبرانی ژبه اول ابراهیم علیه السلام ته خودلے وه۔
سورة الانعام کښی د ابراهیم علیه السلام واقعه کښی طبری وائی: ان ابراهیم علیه الصلوة والسلام انما نطق بالعبرانیة حین عبر النهر فارامن النمرود ۔ (اللباب) - ترجمه به ئی مسلمانانو ته په عربیء کښی کوله۔ نبی ﷺ نه تپوس اوشو۔ چه په دے باره کښی څه فرمائی۔ څکه تورات آسمانی کتاب دے۔ نو نبی ﷺ

اوفرمائیل : د اهل کتابو تصدیق هم مه کوے۔ د هغوی تکذیب هم مه کوے۔ روستوکتاب العلم کښې روایت دے۔ نبی ﷺ فرمائیلے دی : حدثوا عن بنی اسرائیل ولاحرج ۔ مطلب کومے واقعے اواخبارات چه د بنی اسرائیلو عبرت دپاره وی نو هغه اخلے۔ " ولانصدق ولانکذب " لکه دا تبلیغیان دا بعضے خبرے کوی چه د نصوصو نه خلاف نه وی اونص کښې نشته۔ نه به ورته رشتیاء وائی اونه به ورته دروغ وائی۔ بس مباح ئی اومنه۔ چه ددین نقصان په کښې نه وی۔ اوهسے فائده منده خبرے وی ۔ نوخیر دے۔ اودلته حدیث کښې چه راغې نبی ﷺ فرمائیل " لاتصدقوا ولاتکذبوا " هسے نه چه دوی په کښې تحریف کړے وی ۔ اوته ئی تصدیق اوکړے۔ هسے نه چه ریشتونی خبره وی۔ اوته ئی تکذیب اوکړے۔ نوپه دے کښې یوطرف ته مه کیږه۔ غلے به ئی۔

مرقات کښې دی : فیه اشارة الی التوقف فیما اشکل من الامور والعلوم فلا یقضی بجواز ولا بطلان۔

مسئله : مرقات کښې ملا علی قاری" د امام شافعی" وغیره اقوال د علم کلام مذمت کښې راوړیدی۔ چه امام شافعی" به فرمائیل : لان یبتلی الرجل بما نهی الله عنه خلا الشرك بالله خیر من ان یبتلی بالکلام ۔ او فرمائیل به ئی : رآیی وحکمی فی اهله ان یضربوا بالجرید ویطاف بهم فی الاسواق او فی العشائر والقبائل۔ او تفسیر سراج المنیر کښې دی : ولا ینافی هذا قول الشافعی رضی الله عنه لان یلقی العبد ربه بکل ذنب ما عدا الشرك خیر له من ان یلقاه بعلم الکلام لانه محمول علی التوغل فیه ۔ او علامه آلوسی" ددے آیت د لاندے روح المعانی کښې لیکلے دی : تنبیه علی شرف علم الکلام وفضل اهله ۔

مرقات کښې دی : صنعت و عادت جوړول ئی خه نه دی۔ هسے خو دا علم ' فرض کفایه کښې حسابیږی۔ دغه شان البدایه والنهایه ۱ : ۲۰ ابتداء کښې دی : کعب الاحبار لما اسلم فی زمن عمر کان یتحدث بین یدی عمر بن الخطاب رضی الله عنه باشیاء من علوم اهل الکتاب فیستمع له عمر تالیفا له 'وتعجبا مما عنده مما یوافق کثیر منه الحق الذی ورد به الشرع المطهر۔

حدیث ۱۷ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ کفی بالمرء کذبًا ان یحدث بکل ماسمع.. الخ۔

"کفی" : ۔ فعل دے دا "بالمرء" مفعول دے۔ حرف "با" "کفی" سره زائد راغې : ﴿ وَکَفَی بِاللَّهِ حَسِیبًا ﴾۔ (سورة النساء : ٦)۔ " ان یحدث " دا فاعل دے د "کفی" دپاره۔ " کذبا " دا تمیز واقع دے۔ (مرقات) ۔ ان مابعد فعل په تاویل مصدر سره گرځوی۔ دا دروغ ده لره کافی دی۔ چه داسے خلق وائی داسے مشرانو وئیلے دی۔

مولانا احسان صاحب مدظله په خپله شرح کښې لیکلے دی : " قال فلان " مه وائی۔ حدیث خلقو ته

بیانوے۔ دویم : داچه تاسو په خپله کتابونه کورے۔ ماخذ هغے باندے نظر ساتے۔ او تحقیقی خبره کوے۔ د ځان نه موضوعی روایتونه مه بیانوے۔ لکه مثلاً چاچه چله اولګول ، نود جنت نه د تلونه مخکښی دده پاره څلور ملائك د استقبال دپاره راځی۔ او ورته به وائی راځه جنت ته۔ او څوك چه څلورمیاشتے اولګوی د عرش اته ملائك به دده استقبال له راځی۔ ورته به وائی راځه د الله دوسته۔ اوچه چا هیڅ نه وی لګولے نو هغه به دوزخ ته غورځوی۔ او کما قال رسول الله ﷺ ۔ داسے څه له بیانوے۔ نوپه دے باندے ئی رد کړیدے۔ چه کوم علماء دی هغوی ته وائی علمی خبرے کوے۔ کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة کښی ئی روایت راوړو۔ چه کلك اومظبوط احادیث او یقینی خبرے بیانوه۔ او دعا غواړه : اللهم اکفنا بحلالك عن حرامك واغننا بفضلك عمن سواك ۔ دلته داسے دعا غواړه۔ چه زمونږ اکتفاء په قرآن اوحدیث اود هغے سره موافق خبروباندے اوکړه۔ دخلاف کتاب وسنت نه زمونږ حفاظت اوکړه۔ قرآن کښی دغه مضمون ذکردے : ﴿إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ﴾ ۔ (سورة النور : ۱۵) ۔

حدیث ۱۸ : وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ مامن نبی بعثه الله فی امته ... الخ ۔

نبی ﷺ فرمائی **"مامن نبی بعثه الله"** : ۔ زمانه مخکښی چه څومره انبیاء الله رالیږلے دی۔ نوپه امت کښی وره حواریون وو۔ دچایو ود چا دوه وو۔ حدیث کښی راځی : چه دچایو ملګرے هم نه وو۔ لیکن په اعتبار اکثرسره امت کښی حواریون وو۔ حواریون مخلص ملګری دی۔ لکه د هوبیان تشبیهًامراد دی ۔ هغه چه څنګه جامے صفاکوی۔ نودوی هم د خلقو عقیدے صفا کوی۔ نبی ﷺ اوفرمائیل هر یونبی لره حواری شته دے۔ زما حواری زبیر رضی الله عنه دے۔

"واصحاب یاخذون بسنته" : ۔ د نبی ﷺ سنت اخلی دهغه د عمل اقتداء کوی۔ نبی ﷺ امام او دوی مقتدیان دی۔ د نبی ﷺ او د اسلام نه به امام جوړه وی۔ مقتدی به تربنه نه جوړه وی۔ رواج پرے مه مخکښی کوے۔ **"ثم انها تخلف من بعدهم"** : ۔ بیاد هغے نه روستو ناکاره خلیفه ګان پیدا شو۔ خلوف جمع د خلف ده۔ ناکاره جانشین۔ علامه اقبال وائی :

میراث میں آئی ہے انہیں مسند ارشاد — زاغوں کے تصرف میں عقابوں کے نشیمن

دا مشران ددوی د شاهین اود باز غونډے وو۔ او روستنی دا کارغان دی۔ دهغوی په مسندونوباندے

ناست دی۔ " خلف " : ﴿فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَـٰذَا الْأَدْنَىٰ ﴾۔ (سورۃ الاعراف ۱۶۹ ' سورۃ مریم : ۵۹) ۔ خلوف ئی جمع راځی ۔ یو خَلَفْ دے نیک خلیفه۔ حدیث به کتاب العلم کښی راشی۔ چه: من کل خَلَف عدوله ینفون عنه تحریف الغالین ۔ نو دهغے جمع راځی اخلاف ۔لکه سلف او اسلاف ۔خلف خلوف ناکاره ۔ناکاره څه ته وائی : ﴿ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴾ ۔(سورۃ الشعراء : ۲۲۶) ۔ هغه خبرے به وائی چه کوی به ئی نه۔ هسے خبرے به کوی اوکوی به ئی نه : ﴿ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ (سورۃ النحل : ۵۰ ' سورۃ التحریم : ۶) ۔ اوکوی به هغه چه حکم ورته نه دے شوے۔ مثال ئی دغلطوشاعرانودے چه : ﴿ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴾ . ﴿ فمن جاهدهم بیده فهومومن ﴾ ۔ چا چه ورسره په لاس جهاد اوکړو۔ نودے مومن دے۔ بادشاهان لاس او زور چلولے شی۔ ﴿ ومن جاهدهم بلسانه فهومومن ﴾ ۔ لاس باندے جهاد چه نه شی کولے۔ په ژبه جهاد اوکړه ۔ اوچا چه ورته بد اونه کتل په دوی کښی د رتئی هومره ایمان نشته دے۔ او که زړه کښی ورته بد نه ګورے۔ اوری د دانے هومره ایمان په کښی نشته۔ یوروایت کښی : ذالك اضعف الایمان ۔ داد ټولو کمزورے ایمان دے۔

امربالمعروف او نهی عن المنکر کښی اقسام دی۔(۱) : یو هغه صورت دے۔ چه دغه داعی ورته خبره اوکړی ۔ اودهغه په ګناه کښی کمے راځی ۔(۲): یادا منکر بالکل ختموی۔ په دے وخت کښی په عالم امربالمعروف فرض اولازم دے۔ (۳) : هغه صورت دے۔ چه منکر پریږدی خولیکن ددے غوندے بل منکر شروع کړی ۔ نودا اجتهادی خبره ده۔ هرطرف ته اختیار لری۔ (۴) : هغه صورت دے۔ چه دے منکر پریږدی۔ خودهغے نه بعدغټ منکرشروع کوی۔ نودغه وخت کښی انکار مه کوه۔

شیخ الاسلام علامه ابن تیمیۃؒ د هغے دپاره مثال پیش کوی۔ او اعلام الموقعین کښی علامه ابن قیمؒ وائی : ځه د خپل استاذ سره روان اووم ۔ څه کسانو شراب څکل اوتاتاریانو سره ئی جګړه کوله۔ ما اووئیل استاذ ته چه ځونه چه منکر کوی۔ چه ددے نه ئی منع کړو۔ ماته ئی اووئیل چه نه۔ نوماته ئی دا خلوراقسام ذکرکړه وئیل چه دوی شراب څکی ۔ نو آخوا کافران وژنی نو پریږده۔

اعلام الموقعین کښی ۳ : ۷ (مسئله) امربالمعروف نهی عن المنکرپه امور واجبو کښی واجب دے۔ او امورمستحبو کښی مستحب دے۔

یوتن د چاربیتو کتابونه ګوری غزل ' ټپے او شعرونه ګوری۔ یا اوری ته ترینه دا منکرمنع کړے۔ دے

خوترے منع شو۔ خو وروستہ د بدعتیانو کتابونہ کتل شروع کړل۔ نو نسبتاً ښه داوه چه تپے دے وائی۔ د عقیدے د نقصان نه به ئی بچ ساتی۔ منکر' فوتوگرافی ' مجسمه سازی' وی سی آر' ډش ایتینا وغیره فحاشی او عریانی شوه۔

ملاعلی قاریؒ خپل تفسیرانوار القرآن کښې لیکی : (معروف) ماوافق الکتاب والسنة او (المنکر) ما استقبحه الشرع اوظهرمن اهل البدعة۔ مدخل لابن الحاج ۱ : ۵۴ باندے ورله شرائط ذکر کړیدی۔

(۱) : چه د معروف او د منکر معرفت ورته حاصل وی۔ (۲) : چه د یو منکرمنع کیدلو سره غټ منکر کښې مبتلاء نه شی۔ مثلاً که د شرابونه ئی منع کوے نو خود کشی ته تیار یږی۔

(۳) : یقینی یا ظن غالب علم ئی وی۔ چه د منکرنه منع شی۔ که مخکښې دوه شرطونه په کښې نه وی امربالمعروف او نهی عن المنکر به نه کوی۔ که دریم نه وی او باقی دوه وی نو بیا جائز دی۔

بیان القرآن کښې مولانا اشرف علی تهانویؒ لیکلے دی : آج کل جو اکثر جاہل یا کالجاہل وعظ کہتے پھرتے ہیں اور بے دھڑک روایات واحکام بلاتحقیق بیان کرتے ہیں سخت گنہگار ہوتے ہیں اور سامعین کو بھی ان کا وعظ سننا جائز نہیں انتہی ۔

حدیث ۱۹ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ من دعا الی هدی کان له من ...الخ۔

چاچه هدایت ته دعوت ورکړو۔ دده دپاره د هغے اجر دے۔ چه پرے عمل کوی۔ د داعی اعمالنامه نه بندیږی: ﴿ وَإِنَّ لَكَ لَأَجْراً غَيْرَ مَمْنُونٍ ﴾۔ (سورة القلم : ۳) ۔ پیغمبره ستااجرد ختمیدونه دے۔ یوعالم دے هغه خلقوته مسئلے ښائی۔ خلقوته د قرآن درس کوی۔ تبلیغ کوی۔ نو چه څوك سمیږی برابریږی۔ نود هغے اجر ورته ملاویږے۔ د هغه په وساطت باندے نورو ته هدایت کیږی۔ نو ددے عالم اجرنه ختمیږی۔ کوم خلق چه د قرآنی انقلاب د وجے عقیده صحیح شوه۔ ددے اجربه الله زمونږ مشائخوله ورکوی۔ هغوی الی هدًی ته دعوت ورکوو۔ چه قرآن دے۔ عقیدے سمے شوے دی۔ قرآن ئی راغستے دے۔ کومو مشرانو چه نیکئی ته دعوت ورکړیدے۔ او څوك پرے عمل کوی نو هغوی ته به اجرملاویږی۔ من سن سنة حسنة فله اجرها واجرمن عمل بها ۔ اود هغوی په اجرونو کښې به کمے نه راځی۔ ومن دعا الی ضلالة کان علیه من الاثم ۔ اوکه گناه ته ئی رابلی او گمراهے ته۔: ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ وَمَا هُم بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُم مِّن شَيْءٍ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾۔ غلط عالمان وائی : اتبعوا سبیلنا والنحمل خطایاکم ۔دوی دروغ وائی ځکه چه :

﴿وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ﴾. چه څوك قتلونه کوی د قابیل به په کښی حصه وی د گناه. قوم لوط د فحاشے بنیاد ایخے دے.: ﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَالَمِينَ﴾. (سورة الاعراف : ۸۰) ـ دغه غلط کار چه څوك کوی. د هغوی سزا کښی ورسره دوی هم شریك دی.

حدیث ۲۰ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ بدأ الاسلام غریبًا و سیعود کما بدأ...الخ۔

د اسلام دور چه کله شروع شوے وو. ډیرنا آشنا په خلقو لگیدو. بعضے چندو والا دا حدیث بیانوی. اود حدیث په مطلب نه پوهیږی ـ وائی مونږه چه دا مدرسه جوړه کړے ده ـ دے سره دغه شان غریبانانو مدد کړیدے. دیوبند مدرسه چه جوړه شوه. نو یویو موتی اوړه دے بنځو راليږلے وو. او یوه عالیشانه مدرسه پرے جوړه شوه. ددے حدیث دا معنی غلطه ده. مطلب ئی تیك دے. څکه هغه د بخاری په حدیث کښی راځی : چه ضعفاء دیته اول راغلے دی . خودلته د غریب معنی پردیس دے. مسافر دے. کوم انسان چه په مسافرئی کښی وخت تیروی. (۱) : یوده ته راحت نهٔ وی حاصل. پته نه لگی چرته به شپه تیروی. (۲) : دویم دده عزت نه وی. (۳) : دریم دده ملاتړ نه وی. (۴) : څلورم دے اجنبیت محسوسوی ـ دغه خبرے په اسلام کښی وے. ابتداءً. زمونږ نبی ﷺ یتیم پیدا وو. نو چه بنځے به راتلے. او پیوله به ئی ماشومان بوتلل. د عادت موافق چه پته به ورته اولگیده. چه پلار ئی نیشته نوتولے به تختیدلے. بی بی حلیمه سعدیه خود مجبورئی نه راوچت کړے وو. چه بل بچے ورته ملاؤ نه شو. نو اوس هم د پیغمبرد سنت نه بعضے خلق تختی. که حجره وی اوکه جومات، غم وی که ښادی وی. نو چه چا راواغسته نو ډیره لویهٔ کامیابی ده. دحلیمے سعدیے دخرنه داس غوندے تیزرفتار جوړ شو. چه نورملگری ورته بیا هم نه شو رسیدے. نو د اسلام ابتداء ناآشنا وه. وسیعود کما بدأ " او روستو به هم داسے شی لکه " کما بدأ ".

حق الصریح والا شروع دے ـ حالانکه د حدیث دے مسائلوسره تعلق نشته. چه کله علاقه کښی د مخکښی نه معمول د ترك رفع آمین بالسر وغیره وو. دے خلقو کښی په یو جائز کار کښی اختلاف ولے راولے. الحق الصریح ۸ : ۱۱ چه کله دواړو طرف ته سنت دی. هلته اختلاف نه دے پکار. دلته لیکی : رفع الیدین څوك کوی " سیعود کما بدأ " ـ آمین په زوره وائی "سیعود کما بدأ".

جرابو باندے مسح کوی نو "سیعود کما بدأ" ۔ دوه رکعتــه د مغرب د مونځ نه مخکښی کوی "سیعود کما بدأ" ۔ د هریو بحث به په خپل ځائی به راشي ۔ ان شاء الله ۔

نورے مجتهدین په ژمی کښی څوك جرابے اوباسی او خپے وینځی ترغیب د مسح ورکوی ۔ چه مه اوباسه ساړه دی ۔ تحفة الاحوذی کښی دی : والحاصل عندی انه لیس فی باب المسح علی الجوربین حدیث مرفوع صحیح خال عن الکلام ۔

او فتاوی نذیریه کښی ۱ : ۳۳۳ کښی دی : والحاصل انه لم یقل علی جواز المسح علی الجوربیه المسئولة عنه دلیل لا من الکتاب ولامن السنة ولامن الاجماع ولا من القیاس کما عرفت ۔

د صید الخاطر اردو ترجمه دل کی دنیا ۲۹۹ باندے دی : امام احمد بن حنبلؒ نے نماز مغرب سے پہلے دو نفل کے متعلق فرمایا میں نے لوگوں کو دیکھا کہ وہ اس کو مکروہ سمجھتے ہیں تو میں نے بھی ان کو چھوڑا ۔

" فطوبی للغرباء": ۔ طوبی خوشحالی ' سرور به د هغوی دپاره په جنت کښی وی ۔ قرآن کښی راځی : ﴿ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴾ (سورة الرعد : ۲۹) ۔ دے سره یوبل روایت راځی ۔ دے ځائی پورے ټیك دے ۔ روستوراروان دے : فطوبی للغرباء الذین یصلحون ما افسد الناس من بعدی من سنتی ۔

دا ټکړه ضعیفه ده ۔ علامه البانیؒ وائی دا نه ده ثابت ۔

یوه ډله ده په کښی هغوی ځان ته غرباء اهل الحدیث وائی ۔ وائی زمونږ نوم په حدیث کښی دے ۔ "فطوبی للغرباء" عجیبه خلق دے ۔ یوکس وو هغه اووئیل چه زما په باره کښی به ستاسو نه قیامت کښی تپوس کیږی ۔ نو هغه خلقو ورته وئیل ستا باره کښی به زمونږ نه ولے تپوس کیږی ۔ هغه وئیل زما نوم نعیم دے ۔ قرآن کښی دی : ﴿ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴾ (سورة التکاثر : ۸) ۔

قادیانے وائی ربوه چه په قرآن کښی دی : ﴿ وَآوَيْنَاهُمَا إِلَىٰ رَبْوَةٍ ﴾ (سورة المؤمنون : ۵۰) ۔ دا هغه ربوه چه چینوټ ضلع جنگ کښی ده ۔ داد قادیانانو ځائی دے ۔ العیاذ بالله ۔

څوك وائی : چه صخره چه په قرآن کښی راغلے ده ۔ هغه د سوات هغه صخره یادوی ۔ مجمع البحرین چه راغلے دے نو بحرین یادوی ۔ ګپ شپ ئې د قرآن نه جوړ کړیدے ۔ اوچا د آحادیثو نه ۔

دے حدیث کښی دا احتمال هم شته ۔ چه د مخکښی او روستنی حالت مماثلت په دے کښی وی ۔ چه اول دین اسلام ته راتلونکے کم وو ۔ اوپه آخر کښی په دے عمل کوونکے به کم وی ۔ او چه څنګه دین '

ایمان د حجاز او د خصوصًا د مدینے نه شروع شویدے۔ روستو آخری دور کښې به هم دے ته واپس کیږی۔ لکه وړیسے حدیث کښې راغے۔ او مسند احمد ۷ : ۳۲۵ کښې دی : من الغرباء قال النزاع من القبائل۔ صحیح علی شرط مسلم۔ دمختلفوقبیلونه د دین دپاره چه خلق جمع وی۔ هغوی ته غرباء وائی۔

حدیث ۲۱ : وعنه قال قال رسول اللهﷺان الایمان لیارزالی المدینة کما تارز۔۔۔۔الخ۔

دا حدیث لږ روستو راروان دے۔ "وعن ابن عوف" هلته وائی "ان الدین" ۔ دین چه دے حجاز ته راغونډیږی۔ او ایمان به مدینی ته راغونډیږی۔ مدینی والو عقیده کلکه ده۔ لکه څنګه چه مار خپلے سوړے ته راغونډیږی۔ مارغت دے۔ او سوړه وړه ده۔ مارغونډ شی او دننه شی۔ حدیث کښې سوچ اوکړه۔ د ایمان تشبیه ئی ورکړے ده مار سره۔ د مدینی تشبیه ئی د مار سوړے سره ورکړے ده۔ تشبیه کښې من کل الوجوه مماثلت نه وی۔ بس په یو وجه کښې مشابهت دے۔ هغه په منده راتلل او پټیدل په دے کښې تشبیه ده۔ که چا تشبیه ورکړے ده : الهدایة کالقرآن۔ نو اعتراض پرے نه دے پکار۔ ایمان تشبیه ئی مار سره ورکړے ده۔ نوالعیاذ بالله ایمان مار دے۔ مار نه دے۔ راغونډیدو کښې ئی تشبیه ده۔

دلته سوال راځی : چه مصابیح کښې دوه حدیثونه وو۔ او تا خوراوانه غستل نو مونږ په مقدمه کښې خبره کړے وه۔ ذرونی ما ترکتکم۔ (کتاب المناسك) وحدیثی معاویة وجابر۔ یو حدیث دادے : لا یزال من امتی ۔ بل دادے : ولا یزال طائفة من امتی فی باب ثواب هذه الامة ان شاء الله۔

دے ځائی کښې مشکوۃ والا خطأ شویدے۔ لږ روستو ئی خبره سمه کړیده۔ هلته وائی : دکتاب العلم، فصل ثانی چه شروع کیږی : وسنذکر حدیث معاویة لا یزال امتی ۔

الحق الصریح والا وائی : د وعدے ایفاء ئی اونه کړه۔ داسے مناسب نه دی۔ دا په هغه ځائی کښې وائی چه وعده ورته ښه یاده وی۔ ددینه ښه تعبیر دادے : چه نور محدثین ئی کوی۔ انسان مرکب د نسیان نه دے هیر شویدے۔

اعلام الموقعین کښې علامه ابن قیمؒ وائی : څه درته تقلید جائز به ذکرکوم۔ څه درته تقلید ممنوع، او تقلید واجب ذکرکوم۔ نو بیا په ټول کتاب کښې د تقلید واجب داسے تفصیلی بحث لکه چه ددے یو قسم تفصیل ئی کړیدے نشته۔ صرف یو څو کرښے ئی اشارةً ذکر کړے دی :

الانسان مرکب من الخطأ والنسیان۔

الفصل الثانی

حدیث ۲۲: عن ربیعة الجرشی قال اوتی النبیﷺ فقیل له لتنم عینیك ولتسمع ....الخ۔

دا ربیعه بن عمرو دے۔ اختلاف دے چه صحابی دے اوکه نه دے؟۔ اودا روایت ترینه نقل دے۔
صاحب دا کمال یعنی صاحب د مشکوٰۃ آخرکښې په رساله کښې په صحابو کښې شمارکړیدے۔
جرشی دیمن غاړے ته یو علاقه وه۔ ځکه ورته ربیعة الجرشی وائی۔" اتی نبی الله " روایت حکایة نقل کوی۔ "**لتنم عینیك ولتسمع اذنك ولیعقل قلبك**": ۔علامه طیبی وائی ددے مطلب دادے : لاتنظر بعینك الی شیء ۔دے وخت کښې چه کومه خبرے کیږی۔ نو هغه اهمه ده۔ سترګه بلے غاړے ته مه اړوه : ولا تصغ باذنك الی شیء ۔ اوغوږ بلے خبرے ته مه ایږده۔ ولا تجر شیئا فی قلبك ۔ اونه په زړه کښې بلے خبرے ته توجه کوه۔ یعنی د دریوواړو معنی داده : کن حاضرًا حضورًا تامًا لتفهم هذالمثل۔
پوره حاضراوسه چه په دے مثال باندے او په تطبیق باندے پوهه شے۔ سترګے ' غوږ او زړه ته چه ئی خبره کړے ده ۔ نودا په زبان حال سره شوے ده۔ لکه خلق په پښتو کښې وائی : دے غشی ته چا اووئیل چه ډیرتیز لاړے نوغشی ورته په جواب کښې اووئیل چه روستو راپسے د لیندے زوردے۔ غشی خبره نه ده کړے۔ داپه زبان حال سره خبره ده۔

مثال : ددے دپاره علامه طیبیؒ مثال ورکړیدے : قال الجدار للوتد لم تشقنی ۔ دیوال یو ځل میخ ته اووئیل چه دا ولے په ماکښې راننو ځے۔ اوماخوګوے۔ نومیخ ورته اووئیل چه زمانه ولے تپوس کوے : سل عمن یدقنی ۔ دهغه چانه تپوس اوکړه چه دهغه په لاس کښې څټك دے اومالہ ئی رابغوی۔
نودا هم په زبان حال سره وائی۔

من کل الوجوه چه دے خبرے ته ځان قلبًا او قالبًا برابرکړه۔ ترهغے دیو څیز معرفت انسان ته پوره نه شی حاصلیدے، څوپورے چه مکمل ئی توجه نه وی برابر :﴿مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ﴾ (سورة النجم:۱۷)
د نبیﷺ نظرکوږ اوږ نه دے چلولے۔ اونه ئی د حد نه تجاوز کړیدے۔ مکمل ئی خبرے طرف ته توجه وه۔ "**ومن لم یجب الداعی**" :۔ د تکبر ' عناد یا د جهل د وجے۔
اوس تطبیق۔ "**فالله السید**": ۔ الله سید دے دامثال مخکښې تیر شوے وو۔ هلته ئی داسے وئیلے

وو۔ " کمثل رجل بنی دارا وجعل فیها مادبة وبعث داعیا ": ۔ نو هلته ئی د " رجل " ذکر کړے وو۔ د " رجل " اطلاق په الله باندے اقل القلیل بغیر د مشابهت نه کیدے شی۔ اجتناب ترے اولی دے۔ دفعًا للشبهة ۔

سید په معنی د مدبر۔ الله سید دے خوبل څوك هم سید کیدے شی: ابوبکر سیدنا واعتق سیدنا ۔ سید چه د الله دپاره مستعمل دے نوپه یو معنی ۔ اوچه د مخلوق دپاره وی نوپه بله معنی دے۔

"والدار الاسلام": ۔ هلته ئی دارجنت یاد کړیدے۔ اودلته ئی داراسلام یاد کړیدے۔ نواسلام سبب دے او جنت ورله مسبب دے۔ نو هلته ئی مسبب ذکرکړو او دلته ئی سبب ذکرکړو۔ د اسلام وسعت د جنت نه هم سوا دے۔

مرقات کښې ملا علی قاریؒ وائی۔ او شیخ عبدالقادر جیلانیؒ الفتح الربانی کښې وئیلے دی: ماوسعنی ارضی ولا سمائی ولکن یسعنی قلب عبدی المؤمن ۔ لیکن دا ضعیف روایت دے۔ بحث ئی مخکښې ذکرشویدے۔ عجیبه ده ابن جوزیؒ روایت موضوعاتوکښې ذکرکړیدے۔ او بیا ئی خپله ذکرکوی۔ او خپله رساله " الرد علی القائلین بوحدة الوجود " کښې: ۱۱۶ باندے نقل کړیدے۔ بعض وائی: د وهب بن منبه قول دے۔

حدیث ۲۳ : وعن ابی رافع قال قال رسول الله ﷺ لاالفین احدکم متکئا علی ... الخ۔

ابورافع د نبی ﷺ غلام وو۔ کله چه دوی ورله زیرے د سیدنا عباس رضی الله عنه د اسلام ورکړو۔ نو آزاد ئی کړو۔ او د بدر نه ئی مخکښې ئی اسلام قبول کړے وو۔

" لاالفین "۔ په دے کښې ډیره مبالغه ده۔ چه یو طالب ته وائی ته مه راځه۔ او دویم ورته وائی چه دلته دے اونه وینم بیا۔ اونه وینم په دے کښې ډیره مبالغه ده۔ چه روکیږه څه۔

"اریکته ": ۔ پالنګ باندے تکیا لګولے وی۔ دا رومبنے علت ئی ذکرکړو۔ علامه طیبیؒ وائی: دا کنایه ده دآرام طلبی نه۔ چه تکیا ئی لګولے وی۔ او وائی څه علم حاصلوم۔ دا ځان آسانه انسان دے۔

"لا ادری ما وجدنا فی کتاب الله اتبعناه ": ۔ ماته پته نشته مونږ چه د الله په کتاب کښې څه موندلے دی۔ د هغے اتباع کوو۔ دیته وائی: کلمة حق ارید بها الباطل ۔ د پرویزی سره چه خبرے کوے۔ چه کوم احادیث نه منے۔ نو هغه وائی څه په نور څه نه پوهیږم۔ خود الله د کتاب به منو۔

الحق الصریح کښي وائي : داسې دا مقلدین هم دي.هغوی به د حدیث نه شپاړس جوابونه کوي. او په خپله چه کله کله د حدیث جواب کوي. نواولس ته ئي هم رسوي. جواب خو خلق ددې دپاره کوي ــ چه د بل حدیث سره ئي برابر کړي ــ دا جواب نه دے عذر یا تطبیق یا ترجیح یا نسخ وي ـ د پرویزیانو طریقه کارخه دے ـ دوی په احادیثو کښي موضوعي روایت پیش کوي. چه دا ستاسو حدیث دے ـ یا په تفسیر کښي اسرائیلي غلط روایت پیش کوي. چه دا هغه ستاسو حدیثونه دي. که حدیثونه داسې وي نو مونږ ئي نه منو. داد پرویزیانو طریقه کار دے. او کوي هم داسې.

ابن ماجه کښي به دا روایت پیش کوي چه د عائشې رضي الله عنها قرآن بیزې خوړلې دے ـ دا طریقه د غیر مقلد هم ده. غیر مقلد به درته په عالمگیری ' قاضي خان کښي پنځه مسائل اوښائي. او انسانان دي غلطي ترې شوې ده. یا ئي دغه مطلب نه وي. یا علمائے احناف وائي : چه دا تیك نه دي. فتوی پرې نشته. نو دوی به وائي دا ستاسو فقه ده. چه تاسو ئي وائي.

دوسم طریقه کار د پرویزیانو دادے شیخ عبدالسلام ؒ په کتاب کښي هم لیکلي دي انکار حدیث سے انکار قرآن تک ـ مونږ هغه حدیث منو. چه د قرآن خلاف نه وي. نو هغه وائي خبره تیك ده. خو خلاف معلومول او نه معلومول د هرچا کار نه دے. دالوئي علم غواړي. لیکي : جہاں تک اس بات کا تعلق ہے کہ صرف اس حدیث کو صحیح سمجھتے ہیں جو قرآن کریم کے مطابق ہوں جس سے حضور نبی اکرم یا صحابہ کرام کی سیرت داغدار نہ ہوتی ہو ص : ۱۹۴ ـ

جواب ورکوي : مطابقت کا اگر یہ مطلب ہو کہ قرآن اور حدیث کے مضمون میں کوئی مخالفت نہ ہو تو پھر حدیث کی کیا ضرورت ہے وہ تو قرآن ماننے سے حدیث کا ماننا ضرور لازم ہوتا ہے اور اگر موافقت کا مطلب یہ ہو کہ حدیث کا مضمون قرآن سے مخالف نہ ہو تو حدیث صحیح اگر ایک حدیث بظاہر قرآن کے مخالف ہو تو اس سے یہ لازم نہیں آتا کہ اس سے انکار کیا جائے ــ اوص : ۲۷۱ باندې لیکي : اسکی مخالفت معلوم کرنا ہر شخص کا کام نہیں.

مشهور منکر حدیث غلام احمد پرویز هم اجمالاً د حدیث نه انکار نه کوي. لیکي : واضح رہے کہ میں احادیث رسول اللہ ﷺ کا منکر نہیں صرف یہ کہتا ہوں کہ جو روایات قرآن کے خلاف ہے رسول اللہ ﷺ کی طرف ان کی نسبت غلط ہے وہ حضور کے ارشادات نہیں ہوسکتے. (طلوع اسلام جون ۱۹۷۵ء ص : ۶۰) ـ

تمنا عمادی د پرویزیت په سخاکتهر کښي غورځیدلې دے. هغه هم برائے نام وائي : میں صحیح حدیثوں کو دین میں حجت سمجھتا ہوں او صحیح حدیثوں کی مخالفت کو بدترین گمراہی جانتا ہوں اللہ تعالی نے اپنے فضل و کرم سے اتنی صلاحیت دی ہے کہ صحیح وغلط حدیث کو درایت قرآنیہ سے پرکھلو (نماز پنجگانہ کا قرآنی ثبوت :۳۵) ـ او ۳۱ باندې لیکي : روایات سب کی سب جھوٹی نہیں

اول درجے کا کذاب بھی کبھی سچ ضرور بولتا ہے۔

دا فقه د قرآن و حدیث خلاف ده او که نه ده ؟ ۔ دے له موږ علم پکار دے ۔ اوس چه کوم کسان جادو نه منی په نبی ﷺ باندے ۔ نو هغوی لیکلے دی لکه تفسیر مراغی او المنار کښی یا جماعة المسلمین وائی داسے نور وائی : مونږه د بخاری شریف حدیث نه منو ۔ په هغے کښی په پیغمبر باندے جادو ذکر شوید ے ۔ ځکه هغه د قرآن د آیت خلاف دے ۔ او د قرآن آیت دا دے : ﴿وَقَالَ الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلاً مَّسْحُوراً ﴾ ۔ (سورة الفرقان : ۸) ۔ وائی دا خو به مشرکانو وئیل چه په نبی ﷺ باندے جادو شوید ے ۔ دوی هم وائی چه په نبی ﷺ باندے جادو شوید ے ۔ نو قرآن منو او بخاری نه منو ۔ قرآن کښی چه دوه ځایه آیتونه راغلے دی ۔ ﴿ وَقَالَ الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلاً مَّسْحُوراً ﴾ دا په سورة فرقان کښی آیت دے ، او سورة بنی اسرائیل کښی آیت دے ۔ سورة فرقان مکی سورت دے ۔ سورة بنی اسرائیل مکی سورت دے ۔ جادو په نبی ﷺ په مدینه کښی د خیبر نه پس په اووم کال باندے شوید ے ۔ نو دیارلس کاله نبی ﷺ په مکه کښی تیر کړیدی ۔ اوه کاله ئی په مدینه منوره کښی تیر کړیدی ۔ نو ددے خبرے څه مطلب دے ۔ ۱۹ کاله پس به جادو کیږی او مخکښی ئی اووئیل چه په ده باندے جادو شوید ے ۔ ذهن برابر کړه مطلب ، مشرکانو به وے ددوی دعوی نبوت د جنون نتیجه ده ۔ : ﴿ أَفْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِباً أَم بِهِ جِنَّةٌ ﴾ ۔ (سورة السباء : ۸) ۔

صحیح به ته اورے نو بیا به قرآن او په احادیثو کښی درته تعارض نه ښکاری ۔ چه د پیغمبر په عقل شریف او او چتو دماغو کښی هیڅ نقصان نه وو راغلے ۔ او نه ئی په علوم او اعتقادات څه آثر پریوتلے وو ۔

په صحیح فقه او په احادیثو کښی هم تعارض نشته ۔ او نه "مفتی به" قول چرته د ټولو احادیثو خلاف کیدے شی ۔ (۳) : طریقه د پرویزیانو داده ۔ وائی دا احادیث خو امام بخاریؒ ډیر روستو جمع کړیدی نو مونږ ئی ځکه نه منو ۔ چه پیغمبر کله تیر شوید ے ۔ او حدیث کله لیکلے شوے دی ۔ غیر مقلدین هم وائی : چه امام ابو حنیفهؒ کله تیر شوید ے ۔ د هغه فقه نشته ۔ دا خو روستو خلقو فقه جوړه کړیده ۔ او امام صاحب ته ئی نسبت کړیدے ۔ د یو بل پرویزی کتاب دے "قرآن سے جدائی" چه احادیثو العیاذ بالله خلق د قرآن نه اړولے دی ۔ چه موضوعی روایت پیش کول ۔ او په هغے باندے ټول احادیث بدنامول دا ټیک خبره نه ده ۔ نو دا هم ده چه موضوعی غریب وعجیب روایت او شاذ او هوامش مجهوله د فقه پیش کول

- اوپه هغے باندے تول فقه بناء کول. چه دا تول خرافات دی. غلطه ده. داسے اووایه چه په فقه کښی یو څو غلطے مسئلے شته دے. ددے دورمنکرحدیث مشرپرویز تول عمردفترکښی تیرشویدے. کوشش کوی چه نوم د اسلام اود طلوع اسلام وی. او تن آسانی سره بعض ناعاقبت اندیش تعلیم یافته په دام کښی گرفتارکړی.

علامه اقبال وائی:

ترے صوفے ہیں افرنگی تیرے قالین ہیں ایرانی لہو مجھ کو رلاتی ہے جوانوں کی تن آسانی

ددے وجے نه علامه ابوالحسن ماوردیؒ نصیحت کړیدے:

لا تصحب الکسلان فی حالاته کم صالح بفساد آخر یفسد

(ادب الدنیا والدین).

حدیث ۲۴: وعن المقدام بن معدیکرب قال قال رسول اللهﷺ الاانی اوتیت .....الخ.

"ومثله معه": - یووحی جلی اوبل وحی خفی ده. ماته راکړے شوے ده. وحی جلی قرآن او وحی خفی احادیث. پرویزی خپل کتاب کښی لیکلے دی: چه دوی دوه اګیٔ پیدا کړیدی. یووحی جلی ده اوبله وحی خفی ده. دواړه جنګوی او بچی ترے پیدا کوی.

انتظار مہدی و مسیح تمنا عمادی طرآ تک سنٹر: ۴۰: مثلہ والی حدیث گھڑ کر دین کو ۲ حصوں میں تقسیم کیا ایک ماثبت بالقرآن دوسرا ماثبت بالحدیث پھر دونوں کے امتزاج سے دین کے ۲ بچے اور پیدا ہوئے ماثبت بالقیاس اور ماثبت بالا جماع.

داخو پیغمبر وئیلے دی. اود قرآن وضاحت دے.

سوال: په دے باندے سوال دے چه قرآن قطعی دے اوحدیث خوظنی دی. نودا مثلیت په کوم اعتبار دے. په قطعیت کښی خودواړوکښی مثلیت نشته دے.

(۱) :جواب: دادے چه احادیث په دوه قسمه دی - یو احادیث متواتره دی اوبل غیرمتواتره دی. اتفاقی متواترحدیثونو نه منکرکافر دے. ځکه احادیث متواتره قطعی دی. او قرآن هم قطعی دے. نومن وجه بعضے احادیث چه متواتره دی. چه د قرآن په شان دی. څنګه چه قرآن نه منی نوکافر او دغه شان چه حدیث چه متواتره نه منی. چه اتفاقی متواتر وی نو هم کافر.

(۲): جواب: دادے شرح العقائد کښی دا مسئله شته. چه دا احادیث چه ظنی دی لکه خبرواحد.

چه ظني کوي نو ددے وجه داده : چه کثرت وسائط د پیغمبر او زمونږ په مینځ کښې راغلے دي. هغه خبرواحد چه صحابي اوریدلے وي : من في رسول الله ﷺ. هغه قطعي دي اګرچه خبرواحد دے.. خو قطعي دے.

الحق الصریح والا وائي : چه دوي دا وائي چه خبرواحد باندے هیڅ نه ثابتیږي. خبرواحد ظني دے. اوپه خبرظني باندے هیڅ نه ثابتیږي. نو څو مره احادیث دوي اوغورځول.

وضاحت : دادے : شاه انورکشمیري فیض الباري کښې لیکي اول جلد ۳۵۰ : من زعم ان الفرض لا یثبت من الخبر الواحد فقد سهي - څوك چه دا وائي چه فرض په خبرواحد نه ثابتیږي. نو دے سهو شو. دوي احنافو ته دا نسبت کوي - چه فرض په خبرواحد نه ثابتیږي : فانه یثبت بالخبر ایضا - فرض په خبرواحد هم ثابتیږي. خو لیکن ثبوت ځانله دے. اوقطعیت ځانله دے. اودا خو ضروري نه ده. چه کوم فرض وي هغه دے قطعي وي - په قرآن کښې چه کوم فرض ثابتیږي هغه قطعًا قطعي وي. اوپه احادیثو کښې چه کوم ثابتیږي هغه کله قطعي وي اوکله ظني.

بیا دا چه په خبرواحد د الله کتاب نه شي مقید کولے. اودوي به لګیا وي. چه دا قاعده غلطه ده. اوپه دے ئې احادیث پریخودل. داسے وائي په خبرواحد دالله کتاب په درجه د فرضیت کښې نه شے مقید کولے - په درجه د وجوب کښې مقید کولے شے. قرآن کښې راځي : ﴿وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾. (سورة الحج : ۲۹) - اوحدیث کښې دا راځي : چه طواف له اودس پکار دے. نو بے اودسه که دے طواف اوکړو - نو څه حکم دے. نو وجوب د اودس دے په طواف کښې. اودس کول ورله واجب دي. مقید دے کړو خو په درجه د وجوب کښې. دا احناف مني. او په درجه د فرضیت کښې ترے انکار کوي.

وضاحت : علامه ابن حجرؒ فرمائي : چه قطعیت او ظنیت کښې اصل د علماؤ اختلاف نزاع لفظي ده.. قطعیت دا نظري خبره ده. او نفي د قطعیت د ضروریه راغلے دے. د نفي او د اثبات محل جدا جدا دي. د اثبات محل قطعیت نظریه دے. او د نفي محل قطعیت ضروریه دے. او شاه انورؒ هم د ابن حجرؒ تائید په مقدمه د فیض الباري کښې کړیدے. او بیائي لیکلے دي : فانه تحقیق حقیق بالقبول. لیکن بعض علماء وائي : چه دا حقیقي او معنوي نزاع ده.

امعان النظر : ۲۱۵ ط شاه ولي الله اکیدمي : فکلما کثرت الوسائط وطال السند کثرت مظان التجویز ای تجویز الخطا وکلما قلت ای الوسائط منه قلت ای المظان ..الخ.

اوعلامه ابن الهمامؒ ليکي : ان ظنية خبر الواحد انماهوبالنسبة الى غير راويه ' فاما بالنسبة الى راويه الذى سمعه من فى النبى ﷺ فقطعى حتى ينسخ به الكتاب ' اذا كان قطعي الدلالة فى معناه فلزم انه لا يتركه الا لقطعه بالناسخ اذا القطعي لا يترك الا لقطعي - (فتح القدير لابن همام و سؤر الخنزير نجس : ٧٦) -

او عنايه ١٩٣ باب صفة الصلوة كښې دي : ان خبر الواحد ان كان متلقي بالقبول جاز اثبات الركنية به -

(٣) : جواب : دادے مثليت دحکم په اعتبارسره دے - احکام د الله دکتاب نه هم ثابتيږي - اواحکام د حديثونه هم ثابتيږي - علامه طيبيؒ وائي : دا مثليت متوغل فى الابهام دے - مثليت کښې په غيريت کښې دواړوکښې دا قانون دے - چه په دے کښې په اضافت سره تعريف نه پيداکيږي - چه کله ئې ضد يونه وي -

"ومثله معه" : - چه دے پيغمبرله ئې ورکړے وي هغه څه دي ؟ - نو(١) : يواحاديث قدسيه دي - (٢) : دويم د نبي ﷺ په زړه کښې چه کومے خبرے راغلے دي الهام چه ورته وائي - (٣) : چه پيغمبر په خوب کښې ليدلے وي - (٤) : چه جبريل عليه السلام راغلے دے - اوپه زړه کښې ورته خبره اچولے وي : ان روح القدس نفث فى روعى - او د هغے نه پس ئې بيا خبره کړے ده - دا ټول په دے کښې راځي چه " ومثله معه " - داد قرآن په شان دي -

الكفاية فى علم الرواية کښې باب دے : باب من جاء فى التسوية بين حكم كتاب الله تعالى وحكم سنة رسول الله ﷺ فى وجوب العمل ولزوم التكليف - مثليت فى الكم نه دے مراد - د قرآن آيات او احاديث په تعداد کښې دواړه برابر نه دي -

مثليت د بعض امورو په اعتبار سره کيدے شي - قرآن کښې دي : ﴿ وَحُورٌ عِينٌ ' كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴾ - (سورة الواقعة : ٢١ ' ٢٢) - په حورو او ملغلرو کښې مابه الاشتراك صرف خائست دے - دا مطلب ئې نه دے - چه نفس الامرکښې به حورے وړے ګول او مختلف رنګونه لکه د ملغلرولري - (٢) : ﴿ إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ﴾ (سورة آل عمران : ٥٩) - دلته دواړو کښې مثليت صرف په دے کښې دے - چه د دواړو پلار نه وو - ليکن د عيسیٰ عليه السلام مور وه - او د آدم عليه السلام نه وه - آدم عليه السلام له ئې صحيفے ورکړے وے - او عيسیٰ عليه السلام له انجيل ورکړے شوے وو -

معالم السنن کښې خطابيؒ ليکلے دي : اوتى من الوحى الباطن غير المتلو مثل ما اعطى من الظاهر المتلو -

ابوداود فى المراسيل کښې دي : كان جبريل عليه السلام ينزل على رسول الله ﷺ بالسنة كما ينزل عليه بالقرآن ويعلمه اياها كما يعلمه القرآن -

وائی علامہ طیبیؒ چہ د هغه چابه څه حال وی۔ چه رائی په حدیث باندے مقدم کوی۔ او دوی وائی: ان لی مذهبًا اتبعه۔ زما مذهب دے څه به د هغے تابعداری کوم۔ که رائی ده نو په هغے پسے به هم روان وی۔ داخو امام ابو حنیفهؒ نه وائی۔ دے امام صاحب یادوی۔ حالانکه امام صاحبؒ وائی: چه ضعیف احادیث داپه رائی باندے مقدم دے۔ ابن قیمؒ ورله د تعریف په انداز سره ددے ذکر کړیدے۔

"رجل شبعان": ۔ یو علت ذکرشو۔ آرام طلبی کوم انسان چه آرام طلبه ئی تکیا ئی لګولے ده۔ علم نه شی حاصلولے۔ (۲): علت شبعان په مړه خیټه باندے خوراك سیرشکمی دا مانع د علم نه دے۔

یا طالب العلم باشر الورعا	وجانب النوم واحذر الشبعا
و داوم الدرس لا تفارقه	فان العلم بالدرس قام وارتفعا

"الا لا یحل لکم الحمار الاهلی": ۔ د خرحرمت خو په قرآن کریم کښی نشته۔ هغه په حدیث کښی شته۔ نو بیا خر، قچر، سپے هم خوره۔ ددے تولو حرمت په احادیثو کښی راغلے دے۔ خو په قرآن کښی نشته۔ عمران بن حصین رضی الله عنه ته یو څل یو سړی اووئیل چه ماته به خبره د قرآن کوے بله خبره به راته نه کوے۔ نو هغه ورته غصه شو۔ وئیل په قرآن کښی شته درے رکعته او څلور رکعته۔ ته ئی ماته ثابت کړه۔ ددے خو په حدیثو کښی بیان دے۔ (التمهیدلابن عبدالبر ۱ : ۹۰)۔

شکونړ حلال دے که حرام

الحق الصریح کښی دی: چه شکونړ حلال دے او که نه؟۔ نو وائی حلال دے۔ پښتانه وائی شکونړ حلال دے خورنګ ئی د مرداردے۔ حنفی مسلك کښی شکونړ حرام دے۔ عالمګیری کتاب الذبائح کښی دا مسئله ذکرکړیده: والقنافذ والضب والیربوع وابن عرس لاخلاف فی حرمة هذه الاشیاء۔ حنفی مسلك کښی که شکونړدے او که خادمی ده که منګك دے که نولے دے۔ دا حرام دی۔ خادمی شافعی او حنبلی مسلك کښی خوړل ټیك دی۔ بخاری کښی د چیندخ اود شمشتی هم د خوړلو جواز شته۔ دعوت دے ددے د خوراك نه ورکوی۔ د ترغیب ورکولو نه بغیر که ئی اجتهاد د خوړلووی۔ او مجتهد یا صاحب الترجیح یا مثلًا د شافعی او حنبلی مسلك وی۔ خوړل دوی له صحیح دی۔

"ولا لقطة معاهد": ۔ غورځیدلے څیز هغه چا چه ستا د هغه سره عهد دے یعنی ذمی دے۔

سوال: ولا لقطة معاهد کښی د معاهد تخصیص فائده راته اوښایه؟۔

جواب : دا تخصیص د حربی په اعتبار سره شوید ے ۔ مسئله داده : چه حربی کافرستا د جنگ دپاره راغلے دے ۔ نود ے چه دلته وی ۔ نو چه تا ددوی څه اوموندل ۔ نو هغه ستا دی ۔ نودا تخصیص په کښی ځکه اوشو ۔ چه د معاهد هغه لقطه صحیح نه ده ۔ اود حربی هغه صحیح ده ۔

دویم " ولا لقطة معاهد " ـ کښی دا اووئیل چه د معاهد لقطه نه شی اغستے ۔ ځکه چه ذمی دے ۔ نود مسلمان هغه بطریق اولی نه شی اغستے ۔ هغه حرام دے ۔ بله دا چه دا تخصیص د معاهد د مخاطب په اعتبار سره واخله ۔ چه مخاطب د ذمی دے ۔ لقطے ته به غنیمت وائی ۔ نو فرمائی چه مسلمان به د ذمی لقطة نه راخلی ۔ نو چه د ذمی هغه نه راخلی ۔ نود مسلمانانو هغه بغیرد نیت د حفاظت اومالك ته د رسولونه به څنګه صحیح شی ۔

"الا ان یستغنی عنها صاحبها ":۔ د لقطے مسئله روستو په بحث د لقطه کښی راروانه ده ۔ حنفی مسلك کښی بعضے څیزونو کښی یو کال شهرت دے ۔ خواوس کال ته ضرورت نشته ۔ زرائع ډیر زیات دی ۔ دومره پته تاته اولګی ۔ چه دد ے مالك که وے نو هغه به راغلے وے ۔ دا وخت ورله کافی دے ۔ نود هغے نه پس ئی استعمالولے شے ۔ " الا ان یستغنی عنها صاحبها " مګردا چه هغه مالك ځان بے حاجته اوګنړی ۔ " الا ان یستغنی " څه مطلب ـ (۱) : یو مطلب داد ے : چه اعلانونه ئی بنه اوکړه ۔ خو څوك پیدا نه شو ۔ نو که غریب وی نو استعمالولے ئی شی ۔ حنفی مسلك کښی ۔ اوکه مالدار وی نونه ئی شی استعمالولے ـ شوافع وائی : که غریب وی اوکه مالدار وی ۔ په دواړو صورتونو کښی استعمالولے شی ۔ (۲) : دویم دا چه مالك ئی ورله پخپله ورکړی د " الا ان یستغنی " مصداق دے ۔

(۳) : دریم هغه څیزدومره معمولے دئے لړ دے ۔ چه تاته پته ده ۔ چه دا څوك طلب کوی نه ۔ لکه په لاره باند ے ځی ۔ اویو بادام بیا مومی نو دا په " الا ان یستغنی " کښی راځی ۔

"ومن نزل بقوم فعلیهم ": ـ دا حدیث په دویمه حصه د مشکوة کښی هم شته ۔ دا حکم عام نه دے چه ته میلمه شے ۔ هغه کور به دے خامخواه ستا میلمستیا اوکړی ۔ که کوی نو استحبابی خبره ده ۔ دا حدیث حمل دے په مضطرباند ے ۔ انسان دے مجبوره دے ۔ خوراك ته مجبوره دے مرکیږی ۔ دے د بل تن څه شیء خوړے شی ۔ خو بیا به هغه له هغه ورکوے ۔

انجیل کښی د استثناء په صحیفه کښی د ۲۰ نه ۲۳ پورے دا عبارت دے : پردیسی کو سود پر قرض دے تو دے بھائی باپ کو سود پر قرض نہ دینا ـ حالانکه د سود پردیسی سره معامله کول هم صحیح نه دی ۔ د صحیح الجامع

الصغیر د البانی صاحبؒ: ۱۳۵ روایت په ظاهر جمل کول صحیح نه دی۔ چه: اذا اتیت علی حائط فناد یا صاحب الحائط ثلاثًا فان اجابك والا فكل من غير ان تفسد ۔ دا هم په مضطر حمل دے۔

حکمت القرآن تفسیر کښې: ﴿ لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيِّينَ سَبِيلٌ ﴾ ۔ (سورة آل عمران : ۷۵) ۔ د لاندے یو حقیقت ذکر دے۔ بعض خلك د عربو د مؤسسونه مالونه پتوی۔ او وائی چه د عربو مال دے۔ خوړل ترے پکار دی۔ داد بعینه د یهودو صفت دے۔ انتهی۔

تفسیر خازن او تفسیر د قرطبی کښې دی: قال رجل لابن عباس انا نصيب فى العمد من اموال اهل الذمة الدجاجة والشاة ونقول: ليس علينا فى الاميين سبيل ۔ فقال هذا كما اهل الكتاب ليس علينا اثم ولا حرج فى اخذمال العرب حلال لنا سوا على ديننا ۔

دویم چه ابتداء د اسلام کښې معاهده شوے وه۔ چه مسلمانان په کومو علاقو باندے ورځی نو کافرانو تاسو به هغوی له میلمستیا ورکوے۔

"الی قوله کما حرم الله": ۔ علامه طیبیؒ دلته مسئله ذکر کړیده۔ اصل په اشیاء کښې اباحت دے۔ په مسئله د حلال وحرام کښې چه حرمت په حدیث او په قرآن ثابت شی نو حرام دے۔ او چه نه وی نو هغه به بیا حلال وی۔ او اصل په اشیاء کښې څه دی۔ د هغے ذکر مخکښې شویدے۔

حدیث ۲۵: وعن العرباض بن سارية قال قام رسول الله ﷺ فقال ايحسب .... الخ۔

عرباض رضی الله عنه دوی به دا دعا غوختله: كبرت سنى ووهن عظمى فاقبضنى اليك ۔ یو دیرش روایات ترے نقل دی۔

"الا وانی والله قدامرت ووعظت": ۔ داڅه چه نبی ﷺ وئیلے دی دا ټول د قرآن کریم تشریح ده۔ قرآن کښې راځی: ﴿بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ ۔ (سورة النحل : ٤٤) ۔ " لتبين للناس " ته احادیث وئیلے کیږی۔

گفت و گفتهٔ الله بود گرچه از حلقوم عبدالله بود

منکرین حدیث وائی: چه بعض احادیثو کښې خلاف عقل خبرے دی۔ مونږ ئې نه منو۔
لیکن جواب دادے: چه عقلمندو پخوا بعض خبرے ناممکن ګڼړے۔ لیکن هغه خلق نن صبا په خپلو سترګو وینی۔ او د عقلمندو د عقل د معیار څه مطلب دے۔ که خاص عقلمند وائی پیمانه به ئې

څه وی۔ او ددے د تخصیص دلیل به څه وی۔ اوکه د خاص نوعیت د عقل معیار د انتخاب کښې چه اختلاف وی۔ فیصله به ئې په عقل وی۔ یا په نقل۔ که په عقل وی بیا به هم دغه سوالات وی۔ اوکه په نقل وی۔ نو هغه نقل څه دے۔

قوم د سیدناشعیب علیه السلام دغه وئیلے وو: ﴿ قَالُواْ يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيراً مِّمَّا تَقُولُ ﴾۔ (سورة هود: ۹۱)۔ چه دا خبرے زمونږ عقل ته نه راځی۔ او تر اوسه دوی یو صحیح حدیث پیش نه کړو۔ چه دا خلاف عقل دے۔

"بیوت اهل الکتاب": ۔ ځکه دا ذمیان دی د ذمی عزت د مسلمان په شان دے۔ د ذمی د ښځے حفاظت به د مسلمان د ښځے غوندے کوے۔

ددے روایت سند ضعیف دے۔ په اشعث بن شعبه بغیر د ابن حبان نه پرے محدثین کلام کوی۔
کتاب اضوء المصابیح کښې دی: شیخ البانی کی تحقیق صحیح نہیں بلکہ صحیح یہ ہے کہ یہ روایت ضعیف ہے۔
د امام شافعیؒ قول دلته ملاعلی قاریؒ ذکر کوی: جمیع ماتقوله الائمة شرح للسنة وجمیع السنة شرح للقرآن.

د خبرواحد حقیقت او وضاحت

کوم علماء چه وائی: چه د خبرواحدنه عقیده نه ثابتیږی۔ چرته ئې دامطلب نه دے۔ چه په عقیدوکښې د خبرواحد هیڅ حیثیت نشته۔ بلکه دا مطلب ئې دے۔ چه کوم معاملات په خبرواحدثابتیږی۔ په هغے د عقیدے وضاحت کیږی۔ او د تفصیلاتو اندازه لګی۔ لیکن ددے امورودرجه د دین د ضروریاتو نه ده۔ داسے غوندے روایت که څوك نه منی۔ د اسلام د دائرے نه خارج نه دے۔ یعنی خبرواحد سره د ثابتیدونکی تعلیم نوعیت د دین د ضروریاتو نه دے۔ که څوك څه عالم د خپل تحقیق په بنیاد خبرواحدکښې څه تامل کوی۔ اود حدیث بیان شوے واقعے یا حقیقت باره کښې تامل کوی او یا په کښې تاویل کوی ده ته به د دین د ضروریاتو منکرنه وئیلے کیږی۔

(عقیده و ایمانیات لمحمود احمد غازی)

واضحه دے وی: چه خبرواحدمحتف بالقرائن نه چاهم انکارنه دے کړے۔
اوپه الحق الصریح ۸: ۴۱۹ کښې دی۔ لیکن دے بعضے ناپوهه ملیانوداخبره جوړه کړیده۔ چه د یوتن خبرے له اعتبار نه دے۔ ځکه په دے کښې شك وی حدیثونه ته ئې چل جوړ کړیدے۔ چه مونږ ئې نه شو منلے۔ انتهی۔

علامہ شبلیؒ د الفاروق : ۳۳۰ طبع لاھور کښې لیکي : اخبار آحاد کے قبول کرنے یا نہ کرنے میں حضرت عمرؓ کا جو اصول تھا اسکی بناء صرف تحقیق تھی اس زمانہ کے آزاد خیالوں کی طرح نفس کی پیروی مقصود نہ تھی کہ جس حدیث کو چاہا صحیح مان لیا اور جس کو چاہا غلط کر دیا' انتہی ۔ علامہ ابن تیمیہؒ لیکي : ولهذا كان جمهور اهل العلم من جميع الطوائف على ان (خبر الواحد) اذا تلقته الامة بالقبول كان تصديقا له اوعملاً به انه يوجب العلم وهذاهو الذى ذكره المصنفون فى اصول الفقه من اصحاب ابى حنيفة ومالك والشافعى واحمد الا فرقة قليلة من متاخرين اتبعوا فى ذالك طائفة من اهل الكلام انكروا ذالك ولكن كثيرًا من اهل الكلام او اكثرهم يوافقون الفقهاء واهل الحديث والسلف على ذالك وهذا قول اكثر الاشعرية كابى اسحاق وابن فورك واما ابن الباقلانى فهوالذى انكر ذالك ۔ (مجموعة الفتاوىٰ ۷ : ۱۸۸ طبع دار الوفاء) ۔

معارف السنن کښې "باب ما جاء ان مفتاح الصلوة الطهور" ۱ : ۵۸ باندے دی : چه احناف د خبرواحد نه وجوب ثابتوی ۔ او خلاصه داده : ماثبت من القرآن من امر قطعا فى درجة الفرض لا يزيد عليه فى درجة الفرض بل فى درجة الوجوب والسنة ۔ عنايه کښې دی : ان خبرالواحد كان متلقى بالقبول جاز اثبات الركنية به فى باب صفة الصلوة ۔ او تلويح : ۵۳۵ کښې دی : ان خبرالواحد انما صار ظنيا بواسطة شبهة فى الناقل والا فهوغيرى فى الاصل كالاجماع بل اولى ۔

وكل خبر واحد دل العقل او نص الكتاب او الثابت من الاخبار او الاجماع اوالا دلة الثابتة المعلومة على صحته، وجد خبر آخر يعارضه، فانه يجب اطراح ذالك المعارض والعمل بالثابت الصحيح الازم، لان العمل بالعلوم واجب على كل حال ۔ (كتاب الكفاية للخطيب : ٤٣٤ ط حيدر آباد من باب القول فى ترجيح الاخبار) ۔

حدیث ۲۶ : وعنه قال صلى بنا رسول الله ﷺ ذات يوم ثم اقبل علينا بوجهه ..الخ ۔

"صلى بنا رسول الله ﷺ" : ۔ مونږ ته مونځ راکړو رسول الله ﷺ ۔ داد مازیگر مونځ وو ۔

"ثم اقبل علينا بوجهه" :۔ بیائی مونږ ته مخ راواړو ۔ نبی ﷺ به د سحر او د مازیگرد مونځ نه پس مخ راواړو مقتدیانو طرف ته لکه علامه ابن حجر لیکلے دی ۔ سحر به ئی مخ راواړو ۔ چه چاخوب لیدلے دے او که نه دے ؟ ۔ سنت طریقه داده : چه مقتدیانو ته به مخ راړے او په دے امام بخاریؒ باب تړلے دے : باب يستقبل الامام للناس اذا سلم ۔ (۲ : ۳۱۶) ۔

"فوعظناموعظة" : ۔ (۱) : مطلب دا چه الفاظ په کښې کم وو ۔ خو مطلبونه او مفاهيم په کښې ډیرزیات وو ۔ (۲) : دویم مطلب داد ے : چه په انداز کښې دغه وعظ ډیرسخت وو زړه ته ورکوزیدو دغه

تخويف ـ په هغې قرينه داده ـ "زرفت منها العيون": ـ د هغې د وجې نه د سترګونه اوښکې راوڅڅیدلې ـ اوزړونه ترې اوریدل ـ یعنې ظاهر هم آثرواغستو. اوباطن هم آثرواغستو. باطن آثرمخکښې اخلي. سترګې نه اوښکې هله راځي. چه مخکښې زړه آثراغستې وي. خوذکرئې د زړه روستو اوکړو. ځکه چه مونږ ته د چاد زړونو پته نشته. اود سترګود اوښکوراته پته ده.

"فاوصنا فقال اوصیکم": ـ نیکانو خلقوبه وصیتونه کول: اوهغه به اکثرد توحید وو. قرآن وصیت دیعقوب علیه السلام ذکرکړیدے: ﴿أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُواْ نَعْبُدُ إِلَـهَكَ وَإِلَـهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَـهاً وَاحِداً وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾. (سورة البقرة: ۱۳۳) ـ وصیت وو ـ اوشیخ عبدالقادر جیلانیؒ ځوی عبدالوهاب ته نصیحت کوی الفتح الربانی آخرکښې دی ورته وائی: وکل الامور کله الی الله ولا تثق باحد سوی الله سبحانه التوحید التوحید. نووصیت ئی د توحید کړیدے.

د احمدرضاخان کتاب دے وصایا شریف ورته وائی په هغې کښې ئی وئیلې دی. چه د وفات نه دوه ګهنټې ۱۷ منټه مخکښې هغه وصیت کړیدے. اعزہ سے اگر بطیب خاطر ممکن ہوں تو ہفتے میں دو تین بار ان اشیاء سے بھی بھیج دیا کریں بھینس کا دودھ شامی کباب. وائی داخیزونه په هفته کښې ماله یو ځل دوه رالیږے. نود هرچا خپل خپل وصیت وی. اودومره خیزونه د خوراك ئی دغه وخت کښې ذکرکړے دی. چه اوګې میخه په هغې مړیږی.

امام رازیؒ مقدمه د تفسیر کښې د ابوبکرځوی باره کښې لیکی: اوصیته ثم اوصیته ثم اوصیته ان یبالغ فی تربیة ولدی ابی بکر. اولیکلې دی: چه د ذکاوت آثارپه ده ښکاری.

"بتقوی الله": ـ د الله نه یره اوکړے. دائې یوه جامعه کلمه اوونیله. ماموراتِ په خپل ځائې راوړی. اود منهیاتونه ځان بچ کوی. تقوی عن الشرك، تقوی عن المعاصی او تقوی عن ما سوی الله ترے هم مراد دے. "عبدًا حبشیًا": ـ سوال: چه د عبد حبشی امارت خوتیك نه دے. ځکه چه حدیث کښې راځی: الائمة من قریش.

(۱): جواب: دادے یواوچت خلافت دے. خلافت کبری هغې کښې ترجیح د قریش ائمه له شته. یوخلافت صغری دے. په هغې کښې دا شرط نشته. وقوله علیه السلام قدموا قریشًا انما هوفی الامامة

الکبریٰ لیس الا وفی غیرها یقدم الباهلی العالم علی القریشی الجاهل ۔ (عمدة القاری ۱ : ٤٩) ۔

(۲) : جواب : داد ے "عبدًاحبشیًا" دا مبالغه ده ۔ دانه چه واقعی به ستا امیر عبد حبشی وی ۔ لکه ځنګه چه نبی ﷺ فرمائیلے وو ۔ چه چاجومات جوړ کړو : ولو کمفحص قطاة ۔ اګر چه د تیتاړ ے مرغی د جالے برابر ولے نه وی ۔ نو د جالے هومره جومات خووی نه ۔ نو د ے کښی مبالغه ده ۔ نو د ے حدیث کښی هم سبالغه ده ۔ اګر که عبد حبشی وی ۔ اګر که نالائقه کم فهمه ' بدشکله چه ستاسو هغه امیروی ۔ نو د هغه به هم منے ۔

"وعضوا علیها بالنواجذ" : ۔ په مضبوطے باند ے زما په سنتو باند ے عمل کوی ۔ په مشقت سره په عمل اوکړ ے ۔ د حدیث مطلب دا شو ۔ د جامے غاښ اوغور ځوه ۔ خو سنت مه پریږده ۔

حدیث دلیل شو په د ے باند ے ۔ چه خلفاء الراشدین چه تاسو ته څه وائی ۔ نو دا به هم سنت وی ۔

د سنت تعریف په زاد المعاد کښی علامه ابن قیمؒ کړید ے : ما کان ثابتًا عن النبی ﷺ من قول او فعل ۔ که هغه د نبی قول وی اوکه فعل وی ۔ ددینه روستووائی : چه سنت د خلفائے راشدینو په کښی هم راغلے دی ۔ ځنګه چه د نبی ﷺ قول او فعل د ے ۔ داسے د خلفائے راشدینو قول او فعل د ے ۔

الحق الصریح ۸ : ۵۳ باند ے لیکی : دا معلومیږی چه خلفاء الراشدین د نبی ﷺ قصدًا خلاف هیڅ کله نه کوی ۔ اوپه دین کښی د ځان نه مسئلے نه جوړه وی ۔ بعنیه په هغه مسائلو عمل کوی ۔ کوم چه نبی ﷺ خودلے دی ۔ اود خلفائے راشدینو په زمانه کښی چه کومے قضاء وه ۔ هغه لاړ اختیار کړه ۔ انتهی ۔

(۲) : دلیل : داد ے ۔ جلد النبی ﷺ اربعین 'وابوبکر اربعین ' وعمر ثمانین 'وکل سنة وهذا احب الی ۔

داده مسند ابویعلی ۱ : ۱۳۳ روایت د ے ۔ د ے دواړو عمل ته ئی سنت اوئے ۔ مسلم ۲ : ۷۲ کښی دی : وکل سنة وهذا احب الی ۔

"فعلیکم بسنتی" : ۔ مسند ابویعلی کښی داسے هم راغی : چه اے صحابه کرامو چه تاسود یو ښار محاصره اوکړ ے ۔ او ستاسو نه کافرانو کښی یو تن امان غواړی ۔ او درته وائی چه مونږ در کوزیږو : علی حکم الله تعالی ۔ د الله په حکم ۔ نو دوی مه راپریږد ے د الله په حکم : فانکم لا تدرون ما حکم الله ولکن انزلوهم علی حکمکم ثم احکموا فیهم ما رایتم ۔ (مسند ابو یعلی : ۱ : ۳۱۱) ۔

تاسو ته دا پته نشته ۔ چه د الله حکم څه د ے ؟ ۔ دوی به راکوزو ے په خپل حکم باند ے ۔ اوچه

ستاسو کو مه رائی وی. او په هغے ئی تاسو راکوز کړے.
شرح الاربعین کتاب دے د ابن دقیق العید". شرح الاربعین حدیثًا د امام نووی" دے. د هغے شرحه کړیده ابن دقیق العید". علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین ـ د هغے دلاندے لیکی: وامرﷺ باثبات علی سنة الخلفاء الراشدین ـ نبی ﷺ دا حکم اوکړو چه د خلفائے راشدینو په سنتو به ثابت قدم وی.
لأمرین احدهما التقلید لمن عجزعن النظر. تقلید به داسے کس کوی چه کوم کس نظراو فکر نه شی چلولے. مجتهدنه وی. د غیر مجتهد دپاره تقلید دے. د مجتهددپاره تقلید نشته.
والثانی: الترجیح لما ذهبوا الیه عند اختلاف الصحابة. ترجیح به د هغے خبرے دپاره وی. چه دا خلفاء راشدین هغے طرف ته تلے وی. په هغه وخت کښی چه د صحابه کرامو په مینځ کښی اختلاف راغے. یوتفرد او شاذ قول دے. مثلًا یو صحابی دے او هغه په چنچنړه قربانی کړیده. دانه یادوی.
یا مثلًا: کان ابوطلحة یاکل البرد وهوصائم. (المحلی ۷: ۲۰).
داسے طریقه چه دصحابه کرامو په مینځ کښی لږ اختلاف راغے. دیو خلیفه راشدپه خبره ئی سکوت کړیدے. نودابه منے. ګویا چه اجماع سکوتی وی. داهم دلیل دے.
الخطب والمواعظ لابن ابی عبید (القاسم بن سلام بن عبدالله الهروی البغدادی) متوفی ۲۲۴ هجری چه محقق ئی دکتور رمضان عبدالتواب دے. په: ۸۹ روایت داسے راوړی: لقد ترکتکم علی البیضاء لیلها کنهارها فلا یزیغ عنها بعدی الا هالك ومن یعش منکم فسیری اختلافًا کثیرًا فعلیکم بما عرفتم من سنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین وعضوا علیها بالنواجذ.
ددے حدیث نه دا معلومه شوه: چه دخلفائے راشدینوقول په دین کښی دلیل دے.
الحق الصریح کښی دی: د خلفاء راشدینو هغه خبره به منی چه کومه ئی زمانه ازده کړیده. د هغے مستقل سنت نه دے مراد. انتهی. داهسے ګپ شپ دے د هغے مستقل سنت مراد دے.
(۲): دویمه خبره ئی دا کړے ده: چه په دار الحرب کښی به د خلفاء الراشدینوپه سنتو عمل کوی "فتدبر" او سیرة الرسول ۴: ۵۲ کښی داسے عبارت دے: د نبی په زمانه کښی دا یو مذهب هم نه وو. نو دا تول پریږده. او د سنت په طریقه عمل اوکړه. (ګویا دا مذاهب والاعمومًا العیاذ بالله د سنت نه خلاف طریقه بانده عمل کوی امداد). او ۵۳ بانده لیکی: ددے نه دا معلومیږی. چه خلفائے راشدین د نبی ﷺ قصدًا خلاف هیچرته هم نه کوی. او په دین کښی د ځان نه مسئلے نه جوړوی. بعینه په هغے

مسئلو عمل کوی کوم چه نبی ﷺ خودلے دی۔ او د خلفائے راشدینو په زمانه کښی چه کوم قضاوه هغه اختیار کړه۔ تمسکوا بها ۔ انتهی۔ دوی هم کله څه وائی او کله څه (امدآد)۔ بس "کلام اللیل یمحوه النهار" دے۔

(۳) :دریمه خبره ئی داکړے ده : چه هغه سنت چه په امورواجتهادیو کښی دی : کما قال النبی ﷺ لمعاذ بم تقضی یا معاذ۔ مشهور روایت دے۔ وئیل ئی په څه به فیصله کوے۔ او څنګه فیصله به کوے نو هغه اووئیل څه به فیصله کوم د الله په کتاب۔ وئیل که چرته په کښی نه وی۔ آخرکښی راځی : اجتهد برائی ۔ دا روایت الحق الصریح والا په دے ځائی ۴۹۶ باندے لیکلے دے۔

د شرح العقائد سره متعلق کتاب ئی دے۔ تصحیح العقائد حاشیه شرح العقائد په هغے کښی ئی دا روایت راوړیدے۔ د معاذ رضی الله عنه چه دا تیك دے : کما فی قوله ﷺ لمعاذ لما بعثه قاضیا بم تقضی ..الخ وهو حدیث صالح للاحتجاج به کما اوضحنا ذالك فی بحث مفرد۔ (تصحیح العقائد حاشیه شرح العقائد)

۔قاضی شوکانی صاحب : ﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ﴾ (سورة بنی اسرائیل : ۳٦)۔ د دغے آیت د لاندے ۱۵ باندے دا راوړیدے۔ چه دا روایت تیك دے۔ الحق الصریح والا دوه ځایه دا وئیلے دی : چه دا تیك دے۔ دده بل کتاب دے تناقضات المقلدین نو په هغے کښی ئی په دے روایت باندے رد کړیدے ۔(ص : ۱۷۱)۔ او د اعلام الموقعین د عبارت نه ئی جواب کړیدے۔ چه د هغه خبره تیك نه ده۔ ځکه امام ابن قیمؒ اعلام الموقعین کښی دا روایت منی۔ نو دا تناقض د غیرمقلدینو شو۔ که د مقلدینو شو۔ یو ځائی کښی یو څه وائی۔ اوبل ځائی کښی بل څه وائی۔

امام الحرمین اصول الفقه کښی لیکی : والعمدة فی هذا الباب حدیث معاذ والحدیث مدون فی الصحاح متفق علی صحته لا یتطرق الیه التاویل ۔ مرقاة الصعود او عون المعبود کښی ورله شواهد نقل کړیدی۔ تقویة الایمان مع تذکیرالاخوان کښی ترے شاه اسماعیلؒ استدلال کړیدے۔ الضعفاء الکبیر ۱ : ۲۱۵ کښی امام بخاری مرسل ذکرکړیدے۔ جامع الترمذی مع تحفة الاحوذی ۲ : ٦٧٦ باندے وائی چه سند ئی متصل نه دے ۔ عون المعبود کښی عظیم آبادی ' ذهبیؒ عقیلیؒ ' ابن حجرؒ پرے مختصرکلام تقریب او تهذیب کښی کوی۔

الفوائد التفسیریة السلفیة د شیخ ابوسعود کښی : ٦ باندے دی : هذا الحدیث فی المسند والسنن باسناد جید کما هو مقرر فی موضعه رواه الترمذی وابوداود والدارمی وابن ماجة واحمد وصححه ابن القیم فی اعلام

المؤقعین وابن تیمیة فی الفتاوی ۱۳ : ٤٦٤ وخطیب البغدادی وذکره المبارك فوری فی تحفة الاحوذی٦ : ٦٣٩
د شیخ عبدالسلامؒ کتاب دے "غیث السحابة علی امة الاجابة "او"ذکر شان جماعة الصحابة " ۔ ده دا تاویل د ده راغستے دے ۔ دے داسے وائی الحق الصریح والا ۔ د سنة الخلفاء عطف دے په سنتی باندے.
او معنی داده : چه د خلفاء هغه خبره اومنے ۔کومه ئی چه زمانه ازده کړے ده. څکه هغوی د نبی اکرم ﷺ په سنت باندے عمل کړیدے ۔ اودا سنت ئی په خپل عمل سره رابنکاره کړیدے خلقوته اودهغوی مستقل سنت نه دے مراد ۔ او تخصیص د خلفائے راشدینوپه دے وجه دے په حدیثوکښی دائی څکه راوړل چه زما په زمانه کښی به یو سنت طریقه مشهوره نه وی ۔ اودخلفائے راشدینوپه زمانه کښی مشهوره شی ۔ نوتاسوبه ورسره خلاف نه کوے.
شیخ صاحبؒ تفسیر احسن الکلام کښی هم لیکلے دی د : ﴿لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ﴾ (سورة النساء : ۸۳) ۔ دلاندے چه دے استنباط نه امورحرب مراد دی ۔ لیکن امام رازیؒ په دے تاویل باندے رد کړیدے په تفسیرکبیرکښی ۔چه ځوك وائی امورحرب ترے مراد دی ۔ نودا غلطه ده.
﴿وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ﴾ (سورة النساء : ۸۳) آیت دلاندے لیکی : عام فی کل ما یتعلق بالحرب وفیما یتعلق بسائر الوقائع الشریعة ۔ (کبیر) .
د حدیث په تشریح کښی اضوء المصابیح کښی دی : یادرہے کہ قرآن وحدیث کے صریح خلاف ہرشخص کی بات مردود ہے چاہے کہنے والا کوئی بھی ہولیکن ہرایرے غیرے کوخلاف قرار دینے کا حق نہیں بلکہ اس کے لئے سلف صالحین کی طرف ہی رجوع کرنا پڑے گا ۔(۲۲۳)
الحق الصریح کښی مثالونه ذکرکوی ۔ وائی : عثمان رضی الله عنه دے په سفرکښی څلور رکعته کوی ۔ اوټول امت نه خلاف کوی ۔ جواب : که اومنلے شی خبره هم دغه ده چه ټول امت ترے خلاف کوی ۔ دا تفرد یا اجتهاد دے ۔ بیا به ئی نه منے ۔ خو چه ټول امت یا جمهورئی موافقه کوی ۔ لکه عثمان رضی الله عنه دے چه قرآن کریم ئی جمع کړیدے ۔ ټول ئی موافقه کوی ۔ اوپه سفرکښی څلور رکعته کول د ټول امت نه خلاف نه دی ۔ څلور رکعته خوددوی په نزد هم جائز دی ۔ حنفی مسلك کښی دوه رکعته ضروری دی دابه کوی ۔ او بعضے مجتهدینود څلوررکعتونوجواز هم نقل کوی.
غیث السحابة کښی دی : هذا اجتهاد منه اما بانه سمعه ان الناس افتتوا بالقصر وفعلوا ذالك فی منازلهم فرأی ان السنة ربما ادت الی اسقاط الفرضیة فترکها مصلحة ...الخ - (۲۱۳) .
بیا وائی : ابوبکر او عمر رضی الله عنهما اضحیه نه وه کړے ۔ کذا فی المحلی ۔ لیکن تفسیر مظهری

کښې د: ﴿فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ﴾ ـ (سورة البقرة : ۷۱) ـ د لاندے د ابوداود روایت ذکر کړېدے
چه سیدنا عمر رضی الله عنه به د ډیرے ښکلے اوښے قربانی اوکړه ـ دغه اوښه ئې په درے سوه دیناره
اغستلے وه : انه ضحى بنجيبة اشتراها بثلاثمائة دينار ـ

خلیفه راشد عثمان بن عفان رضی الله عنه د جمعے اذان ثانی شروع کړو ـ لیکن ابن عمر رضی
الله عنه وائی چه دا بدعت دے : الاذان الاول یوم الجمعة بدعة ـ او فتاویٰ خالص ۳ : ۲۹۸ کښې لیکی :
ولما يدل على ان هذا الاذان من جنس البدع المذمومة ـ

حافظ ابن حجرؒ لیکی : دا احتمال په کښې هم شته ـ چه څکه ئې ورته بدعت وئیلے دے چه دا طریقه
د پیغمبر زمانه کښې نه وه ـ لیکن "انہوں نے بدعت قرار دینے کے بعد اسکی تحسین فرمائی تھی ـ

(تفهيم الاحاديث ۲ : ۲۸۳ اور ۳ : ۳۲٤) ـ

وما وقع في كلام السلف من استحسان البدع فانما ذالك في البدع اللغوية لا الشرعية ـ (جامع العلوم : ۲۳۲) ـ
د مولانا عبدالحی لکھنویؒ رساله ده تذکرة الراشد ـ ومن احسن ما اطلعت عليه في ذالك ـ مایوه خبره بله
مزیداره مطالعه کړېده هغه کلام د علامه یمنی دے په سبل السلام کښې ـ غیرمقلد دے ـ هغه دا
وئیلے دی : چه د خلفاء راشدینو هغه سنت چه د نبی ﷺ نه خلاف دی ـ هغه به مراد نه وی ـ
مولانا عبدالحی لکھنویؒ دغه خبره راخلی په رسائل لکھنوی : ۲۹۲ باندے ـ وائی : قال ناصرك
المختفي وهوماخوذ من كلام صاحب السبل وهو من اكابر اهل السنة ـ مولانا عبدالحیؒ وائی : اقول هذا
الكلام منه وان كان في نفسه من الطائفة الفاضلة ' يشبه كلام الفرقة الرافضة ' شبه النبل بالنبل وبالنعل بالنعل ـ

(تذكرة الراشد) ـ

دده داخبره د شیعه ګانو سره موافقت خوری ـ په دے ځائی کښې لکه غشے چه د غشی سره برابر وی ـ
او پیزار چه د پیزار سره برابر وی ـ څوك چه دا توجیه کوی ـ لکه داده چه اوکړه ـ نوداسے د شیعه ګانو
په شان خبرے کوی ـ شیخ عبدالسلامؒ لیکی : د " عليكم بسنتي " په تشریح کښې ـ
او دا نواب صاحب د شاه ولی اللهؒ د متن د علم کلام په تشریح کښې هم کړے ده شرح الاعتقاد
الصحيح بالانتقاد الرجيح ط باهتمام مولوی غلام الله ابوعبدالقیوم رحمتی : ٦٣ : وليس المراد من
سنة الخلفاء الراشدين الا طريقهم الموافقة بطريقته من جهاد الاعداء وتقوية شعائر الدين ونحوها ـ
شیخ عبدالسلام لیکی : وما قال بعض الناس ان الواو في قوله وسنة الخلفاء الراشدين ليست للمغائرة بل سنة

الخليفة الراشدة ليست مستقلة ـ چه مستقل د خلفاء راشدينو سنت نه دے مراد : بل هي عين سنة النبي ﷺ ـ
اودلته د حديث مطلب دے : اجراء سنة النبي ﷺ فاقول هذا ليس الا ممن يزعم ان الصحابة بل الخلفاء الراشدون ليس لهم اى فضيلة علينا ـ داد هغه چا خبرے دى ـ چه وائى مونږه اوخلفائے راشدين يوشان يو ـ خلفائے راشدينو نه له الله څه فضيلت په مونږ باندے نه دے راکړے : بل قولنا وقول شيخنا واحد وراتكب هذا القائل لاثبات هذا الوهم مخالفته عن القوانين العربية وهى ان واو العطف اصلا للمغائرة واذاكرر مع المضاف فيدل صراحة الا ان المعطوف غير المعطوف عليه ـ چه كله دے ځائى كښى دوه ځله سنت راغے ـ نودلته كښى مغائرت موجود دے ـ مستقل سنت د خلفائے راشدينو يادوى : ولا ينبغى لمن يسمى نفسه باهل الحديث ان يقلد هذا القائل ـ چه څوك ځان ته اهل حديث وائى ـ دوى لره پكار دى چه ددے سړى تقليد پريږدى ـ : مخالفًا عن صريح عبارة النص لان أهل الحديث مبرء ون عن كل تقليد ـ ځكه اهل حديث دهيچا تقليد نه كوى ـ بيا شيخ صاحبؒ په ۲۲۲ باندے وائى : والعجب اليوم من بعض اهل الهند و باكستان ـ چه دوى ورته بدعت وائى ـ فلذا يقول المقلدون فى شان اهل الحديث ان فيهم نصف الرفض والتشيع ولا ينبغى ذالك ـ بيا لږ روستو وائى : وما فعله عثمان من النداء الاول اتفق عليه الناس بعده ـ په دے باندے اهل المذاهب الاربعة اتفاق كوى ـ كما قال امام البخارى و ابوداود : الامر على ذالك ـ
مولوى صاحب خلفاء راشدين واحناف كتاب كښى ليكى : دغه شان اذان عثمانى د ضرورت په وجه جارى شوے وو ـ كه اوس هم ضرورت پيدا شى ـ نو اوس به هم مشروع وى ـ (ص : ۹۵) ـ
عرض دادے : دغه ضرورت دے چه" ويثبت الامر على ذالك "ـ هسے نه چه بله ورځ اووائى چه په طواف كښى رمل د ضرورت د وجے وو ـ اوس ورته ترهغے اجازت نشته ـ چه دغه ضرورت بيا پيدا شى ـ هله به رمل وى ـ
اود سيدنا عمر رضى الله عنه ته منسوب داخبره چه دوى د تمتع قائل نه وو ـ شيخ عبدالسلام غيث السحابة كښى جواب وركړيدے ـ خوددے وضاحت علامه ابن عبدالبرؒ كړيدے ـ ليكى : وقال جماعة من العلماء انما كرهه عمر لان اهل الحرم كانوا قد اصابتهم يومئذ وجاعة فاراد عمر ان ينتدب الناس اليهم ...... وقال آخرون احب ان يزار ليست فى العام قريش مرة للحج ومرة للعمرة وراى ان الافراد افضل فكان يميل اليه ويامر به وينهى عن غيره استحبابا ولذالك قال ....وعمرتكم فانه اتم لحج احدكم ولعمرته ان يعتمر فى غيراشهر الحج ـ (التمهيد ٤ : ٣٢٤) ـ

او منهاج السنة ۲ : ۵۳ ، اوتحفه اثنا عشریه : ۲۵۶ باندے دی : چه داسے اعتراضات شیعه گان کوی۔
اودا روایت چه : فقال ابن عباس اراهم سیهلکون اقول قال النبی ﷺ ویقول نهی ابوبکر وعمر ۔ ددے سند ضعیف دے۔ شریك بن عبدالله النخعی سیء الحفظ دے۔ (تعلیق مسند احمد ۵ : ۲۲۸)۔
او په دے مسئله کښې امام طحاویؒ د عروه جواب نقل کوی : ان ابابکر وعمر کانا اعلم برسول الله منك۔
د سیر اعلام النبلاء لسم جلد: ۴۳۵ باندے دی : عن ابن عباس قال تمتع رسول الله ﷺ فقال عروة نهی ابوبکر وعمر عن المتعة ' فقال ابن عباس فما یقول عرية ؟ قال نهی ابوبکر وعمر عن المتعة قال اراهم سیهلکون ' اقول قال رسول الله ﷺ ویقولون قال ابوبکر وعمر ' قلت ما قصد عروة معارضة النبی بهما بل رأی انهما ما نهیا عن المتعة الا وقد اطلعا علی ناسخ۔ دا خو یو اجتهاد شو۔
واضحه دوی : چه تنقیح مع التوضیح حاشیه التلویح ۲ : ۱۱۸ باندے دی : فالمجتهدعندنا یخطیء ویصیب وعندالمعتزلة کل مجتهد مصیب۔
مذهب هغے ته وائی : چه مجتهد ته منسوب وی۔ (کتاب التعریفات : ۴۷)۔

حدیث ۲۷ : وعن عبدالله بن مسعود قال خط لنارسول الله ﷺ خطا ثم قال هذا ... الخ۔

"لنا" :- " لاجلنا " ۔ زمونږ د پوهه کولو دپاره نبی ﷺ لکیره راخکله۔ نبی ﷺ له خط نه ورتلو : ﴿وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ﴾ (سورة العنكبوت : ۴۸) ۔ نقشه نی جوړوله لکه مثلاً استاذ دے۔ او هغه شاګردان پوهه کوی۔ او په بوډ باندے لکیرے راکاږی۔ نبی ﷺ هم دغه شان نقشه په خطونو باندے جوړوله۔
"هذا سبیل الله" :- ﴿وَأَنَّ هَـٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيماً﴾ (سورة الانعام : ۱۵۳) ۔ " فتفرق " دا تفرق فرقه واریت دے۔ یو مذهب دے او بل فرقه واریت دے۔ دواړو کښې فرق دے۔ مذهب ته به فرقه واریت نه وائی۔ فرقه هغے ته وائی چه تاته د پیغمبرنه کټ کوی۔ مذهب هغے ته وائی چه تا د پیغمبرخبرے سره یو ځائی کوی۔ مذهب کښې انقطاع د قول او د عمل د پیغمبرنه نه راځی۔ او فرقه واریت مثلاً پرویزیت ' قادیانیت فرقے دی۔ حنفیت او شافعیت وغیره فرقے نه دی۔
نواب صدیق حسن خان الحطه فی ذکرصحاح السته کښې لیکی : لقد نبت فی هذالزمان فرقة ذات سمعة ورياء ۔ پنډی شیخ القرآنؒ په جواهرالقرآن کښې لیکلے دی : چه په امامانو خوك دا آیت چسپان کوی۔ نوداد آیت تحریف کول دی۔

یو متعصب غالی غیرمقلد عالم دے۔ چه نوم ئی محمد جوناګړهی دے۔ دده په اکثر کتابونو کښی محمدی محمدی راځی۔ پته نه لګی چه دا غیرمقلدین ځان ته محمدی وائی۔ یا مدرسه محمدیه یادوی۔ چه دوی ته نسبت دے که محمد ﷺ ته؟۔

دده یو کتاب دے طریق محمدی او د هغے پښتو ترجمه ورله هم بعضے خلقو کړے ده۔ هر کتاب کښی ئی دا حدیث نقل کړیدے۔ نیغه کرخه ئی راخکلے ده۔ او ګیر چاپیره ئی ترے څلور کږے وږے کرخے راخکلے دی۔ او لیکلے ئی دی: چه دا حنفیت، شافعیت، مالکیت او حنبلیت دے۔ حالانکه دلته حدیث کښی: علی کل سبیل منها الشیطن۔ او دا ائمه خو شیطانان نه وو۔ دا خو د الله دوستان وو۔
دغسے دوی بدعتیان هم نه وو۔ علامه طیبی د حدیث په شرح کښی لیکی: سبیل اهل البدع۔ د بدعتیانو لارے ترے مراد دی۔ یا هغه خلق ترینه مراد دے۔ چه کله یو طرف ته او کله بل طرف ته ځی۔ او بیا علامه طیبی لیکلے دی: چه هغه خلق د صراط مستقیم مصداق دے۔ چه د هغوی رأی کلکه وی۔ او لار ئی نیغه وی۔ صحیح عقیده او نیك عمل لری۔
نو حدیث چه څوك په دے امامانو او د هغوی په مقلدینو چسپان کوی۔ نو دوی خپله شیطانان دی۔ داسے سړے د شیطان نه کم نه دے۔
مقدمه د میزان الکبری کښی ئی امام شعرانی مثال د انسان د تلی سره ورکړیدے۔ لکه څنګه چه څلوروارو ګوتے تلی ته رارسی۔ دغسے څلور واړه مذاهب قرآن وحدیث ته رارسیدلے دی۔
ان مثال عین الشریعة اوحضرة معرفة الله عزوجل مثال الکف ومثال مذاهب المجتهدین وطرق الاشیاخ مثال الاصابع ومثال ازمنته الأشغال بمذهب ما او طریق شیخ مّا فقال عقد الاصابع لمن اراد الوصول الی مسّ الکف لکن من طریق الابتداء بمسّ عقد الأصابع۔ (مقدمه میزان الکبریٰ: ۲۵)۔
او رسالة التنقید علی من افرط فی التقلید: ۴۲ باندے شیخ عبدالسلام لیکلے دی: په انصاف ئی کتاب لیکلے دی د هغه کتاب دے میزان کبریٰ د شعرانی۔
"هذا سبیل الله": دا تشبیه بلیغ ده۔ هذامثال سبیل الله۔ حدیث کښی اشاره ده۔ چه د الله لاره وسط ده۔ تفریط او افراط دواړه په کښی نشته۔ دے لار کښی توحید و استقامت علی التوحید وی۔
ملاعلی قاری لیکی: وسبیل اهل البدع مائلة الی الجوانب وفیها تقصیر وغلو ومیل وانحراف وتعدد واختلاف کالقدریة والجبریة والخوارج والروافض والمعطلة والمشبهة۔

حدیث ۲۸ : وعن عبداللہ بن عمرو قال قال رسول اللہ ﷺ لایومن احدکم حتی ...الخ۔

"لایومن احدکم": ۔ د کمال ایمان نفی دہ۔ ایمان پہ کښی شتہ۔ خو کمال د ایمان پہ کښی نشتہ۔ یا شاہ انورؒ وائی: داپہ منزلہ د عدم دے۔ دابہ څہ ایمان وی چہ تا د خواهش پرستے نہ نہ بچ کوی۔ انسان پہ دوو طریقو سرہ سمے لارے تہ راتلے شی۔ اوعلم حاصلولے شی۔ قاضی شمس الدینؒ لیکی یو خو چہ اللہ څوک خوښ کړی: ﴿اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ﴾ (سورۃ شوری : ۱۳) ۔ مثالونہ ئی ورکړیدی۔ دویمہ لارہ د هغہ کسبی کوشش کول محنت کول۔ د حدیث مطلب دادے: من مانی بہ نہ کوی۔ من مانی اود نفس تابعداری دواړہ غلط دی۔ د پیغمبر خبرہ بہ منی۔ نن صبا څوک وائی عمران خانی دہ، یا باچاخانی پکار دہ۔ مونږ داوایو دا تولے من مانی دہ۔ دین مانی پکار دہ۔ ایمان مانی پکار دہ۔ اسلام مانی پکار دہ۔

"هوٰی": ۔ مصدر دے تعریف ئی دادے: میل النفس الی خلاف ما یقتضیہ الشرع ۔ کہ د انسان خواهش د دین، قرآن او سنت تابعداری څہ خبرہ دہ لیکی ملاعلی قاریؒ: داخو کالزبدۃ علی العسل شو۔ لکہ علی التمرۃ مثلها زبدا ۔ ئی واخلہ هم خرما هم ثواب۔ قرآن کښی راځی: ﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ﴾ ۔(سورۃ القصص ۵۰)۔ چہ "هدی من اللہ" ئے د زړہ آواز جوړ شی دغہ کامیابی دہ۔

نون الهوان من الهوٰی مسروقۃ   فصریع کل هوی صریع هوان

" کتاب الحجۃ " :۔ داد ابوالقاسم اسماعیل بن محمدالأصفهانی کتاب دے۔

حدیث ۲۹ : وعن بلال بن الحارث المزنی قال قال رسول اللہ ﷺ من احی سنۃ ..الخ۔

ابوعبدالرحمن مدنی دے۔ د مدینے نہ آخوا " استعرٰی " نومے ځائی کښی اوسیدو۔ د اتیا کالو عمر کښی وفات شویدے۔

"قد امیتت بعدی": ۔ چہ هغہ سنت څہ زمانہ پس مړشوے وو۔ کہ دواړو طرف تہ سنت وی۔ هغہ نہ یادوی۔ هغہ سنت چہ ختم شو۔ بدعت ئی ځائی اونیوو۔ دا یادوی۔

"لایرضاها اللہ ورسولہ ": ۔ چہ اللہ اوهغہ رسول پرے خفہ دے۔

"لا ینقص ذالك من اوزارهم شیئا": ددوی د ګناهونو نه به څه څیز کموی نه. خو که چرته نور ددوی په وجه ګمراه کیږی. نو دے غلط عالم ته به د هغے سزا څکه ملاویږی چه قرآن کښی راځی:
﴿وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ﴾. (سورة العنکبوت : ۱۳). روایت کښی "کثیربن عبدالله ابن عمرو عن ابیه عن جده". د حدیث مرکزی راوی دے.
امام شافعیؒ او امام ابوداودؒ فرمائی: چه داد دروغو ستن ده. (میزان الاعتدال) - ابوزرعه وائی: چه دا واهی راوی دے. نو خبره به ئی واهیات وی. قاضی عیاض وائی: چه دا منکر راوی دے. اودده نه روایت اغستل صحیح نه دی. مرقات کښی دی: واتفقوا علی ضعفه - بعضے علماء وائی: چه دا روایت د اعمش نه نقل کوی: لاتصح عنه - دا روایت صحیح نه دے: ولیست معروفة - دا معلوم هم نه دے. چه کوم کسان دا حدیث نقل کوی لیکلے دی: کثیربن عبدالله باندے کثیر کلام دے - معجم کبیرد طبرانی ۷ : ۱۱٬۱۰ باندے په کثیربن عبدالله ډیر کلام کړیدے.
مولانا زبیرعلی زئ لیکی: فیه کثیربن عبدالله ضیف جدًا. (تخریج مشکوٰۃ المصابیح).
کشف المناهج والتناقیح کښی دی: قلت بل سنده ضعیف و کثیربن عبدالله هذا واه وقال ابوداود کذاب وضرب الامام احمد علی حدیثه فی المسندولم یحدث به.
اوتهذیب الکمال کښی علامه مزیؒ وائی چه ابن حبان وائی: روی عن ابیه عن جده نسخة موضوعة لا یحل ذکرها فی الکتب ولاالروایة عنه الا علی وجه التعجب. (تهذیب الکمال ۲۴ : ۱۳۷ تا ۱۴۰).
او ډاکټر سراج الاسلام مدظله "البصائر کا تحقیقی جائزہ" کښی لیکلے دی: لا یرضاها الله ورسوله" مرکزی راوی کثیر بن عبداللہ ہے امام شافعیؒ او ابوداودؒ فرماتے ہیں جھوٹ کے اساطین میں سے ہے۔
قال الحافظ : ضعیف افرط من نسبه الی الکذب. قال ابوداود کذاب. وقال المزی قال ابوطالب سالت احمدبن حنبل عنه فقال منکرالحدیث، لیس بشیء. وقال ابوخیثمة قال لی احمدبن حنبل لا تحدث عنه شیئا. وقال عباس الدوری عن یحی بن معین و کثیرضعیف الحدیث، لیس بشیء. وقال ابوزرعه واهی الحدیث، لیس بقوی. قال ابوحاتم لیس بالمتین. قال النسائی والدارقطنی متروك الحدیث. وعن مطرف کان کثیر الخصومة لم یکن احد من اصحابنا یاخذ عنه. وروی له البخاری فی کتاب القراءة خلف الامام وفی افعال العباد وابوداد والترمذی وابن ماجة. وقال ابن السکن یروی عن ابیه عن جده احادیث فیها نظر. قال الحاکم فیها مناکیر. وقال ابن عبدالبر مجمع علی ضعفه.

شیخ الحدیثؒ په التقریر الرفیع کښې په دے روایت باندے کلام کړیدے۔ نود هغے حاشیے والا پرے کلام کړیدے : نص ابن حبان فی کتاب المجروحین هذا منکر الحدیث جدًا۔ حالانکه ابن حبان هغه راوی دے۔چه هغه د کمزورو راویانو هم توثیق نقل کوی۔ او علماء وائی : یو ائحے د هغه توثیق له اعتبار نشته۔ خودلته هغه هم وائی : چه دا روایت ټیک نه دے۔ اوبیا ئی یو بل قول نقل کړیدے۔ میزان په حوالے سره اوداسے نورو کتابونو سره چه دا راوی ټیک نه دے۔ او وائی چه دہ ته ځوك ټیك وائی۔ نو دهغه سره بیّنه او دلیل نشته۔ دا راوی په صلوۃ الرسول کتاب کښې : ۴۶۸ چه هغه د مولانا صادق سیالکوټی دے۔ د تکبیرات العیدین په مسئله کښې د خپل مسلك اثبات له نقل کړیدے۔

دلته هغه قسم سنت مراد دے۔چه بدعت ئی ځائی اونیسی۔

حدیث ۳۰: وعن عمرو بن عوف قال قال رسول اللهﷺ ان الدین لیارزالی ......الخ۔

په دے روایت کښې هم کثیر بن عبدالله ضعیف جدًا دے۔

مخکښې حدیث کښې دا وو۔ چه ایمان به مدینې ته راغونډ شي۔ اودلته وائی : چه دین به حجاز ته راټولیږی۔ نو تعارض ظاهرًا راغے۔

جواب : یو ایمان دے۔ او بل دین دے۔ دین به حجاز ته او ایمان به مدینې ته جمع کیږی۔

دویم جواب : دادے۔ چه دین او ایمان دواړه به اول راځی حجاز ته۔ د حجاز نه به بیا راټول شي مدینې منورے ته به لاړشی۔ حجاز ته حجاز ولے وائی : سمیت بذالك لانها حجزت بین نجد والغور۔ حجاز ته حجاز ځکه وائی چه دا رکاوټ او مانع دے د نجد اود غور په مینځ کښې نجد اوچته علاقه ریاض او د ریاض سره ګیرچاپیره علاقه ده۔ غور ښکته علاقه ده۔ " ان الدین بدأ غریبا " دا دین ناآشنا شروع شویدے۔ " وسیعود کما بدأ " الحق الصریح کښې وائی : اهل الحدیث چاته وائی۔ دا چه په قرآن او سنت باندے عمل کوی۔ هغے ته وائی۔

وضاحت : دادے چه علامه ابن تیمیهؒ لیکی : ونحن لا نعنی باهل الحدیث المقتصرین علی سماعه او کتابته او روایته بل نعنی بهم کل من کان احق بحفظه ومعرفته وفهمه ظاهرًا وباطنًا واتباعه وباطنًا وظاهرًا۔ (مجموعة الفتاوی ۲ : ۶۰) ۔ اوزبیر علی زی صاحب په القول المتین فی الجهر بالتامین کښې د ابن تیمیهؒ دغه قول نقل کړیدے۔ اوبل کتاب ئی دے "اهل حدیث صفاتی نام" هغے کښې د اهل حدیث دغه

تعریف کړیدے - او ابن تیمیہؒ په نقض المنطق کښې دغه قول نقل کوی - او د " هکذا اهل القرآن " اضافه کوی -

اهل الحدیث نوم له دلیل پیش کړه - نودوی طبقه د محدثینو راواخلی - چه چرته په کتابونو کښې راغلے وی اهل الحدیث - نووائی دا مونږ یو - د اهل السنة طبقه ده - اوپه هغے کښې متکلمین دی مفسرین اهل القرآن ورته وائی - اوپه هغے کښې محدثین دی - چه هغوی ته اهل الحدیث وائی - د مولانا صاحب داخبره په دے کښې تیك ده - چه اوس خلقو دا یونوم گرځولے دے -

نواب صدیق حسن خان لیکی : لاهل الحدیث خمس مراتب ، طالب ، محدث ، حافظ ، حجت او حاکم - که دا نوم شی په دے طبقه کښې څومره "حجت" مرتبه باندے فائز کسان دی ؟ -

او علامه ابن قیمؒ قصیده نونیه : ۳۷ کښې لیکلے دی : فصل فی ذکر مذهب اهل الحدیث -

ے والاخرون اولو الحدیث کاحمد ومحمد وائمة الادیان

د امام احمد او امام محمد نومونه اغستل په دے دلالت کوی - چه دا نوم گرځول صحیح نه دی - د اهل الحدیث نه محدثین او د حدیث مهارت لرونکی مراد دی -

"للغرباء" : - د نبی ﷺ نه تپوس اوشو : ومن الغرباء - دا غرباء څوك دی - مسلم کښې روایت راځی -

"وهم الذین یصلحون" : - باندے علامه البانیؒ رد کړیدے - " فطوبی للغرباء " پورے صحیح دے - خوروستو چه - "هم الذین یصلحون " اضافه ده دا کمزورے ده - دوی وائی زمونږ نوم په حدیث کښې راغلے دے چه " فطوبی للغرباء " غرباء اهل الحدیث په دوی کښې مستقل ځان له یوه داسے ډله ده - چه د هغوی صحیفه اهل الحدیث رساله راووځی : ﴿ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ امْرِءٍ مِّنْهُمْ أَنْ يُؤْتَى صُحُفاً مُّنَشَّرَةً ﴾ - (سورة المدثر : ۵۲) - جماعة المسلمین چه وو - دوی په غرباء اهل حدیث کښې وو - ددوی تلاش حق کتاب په هغه وخت لیکلے شویدے - چه دوی غرباء اهل حدیث کښې وو - نو ددوی په مینځ کښې اختلاف راغے - (۱۳۹۵ هجری) - خواه او شاه کښې - د هغے نه پس دوی خپله فرقه جدا کړه - نودوی په کښې مسلمین شو - نو دوه مسعوده دی یو مسعود الدین دے او یو بے دینه مسعود دے - یعنی یو تش مسعود دے - بے د دین لفظ نه - نو مسعود الدین کیپټن دے حزب الله ډلے سره تعلق ساتی مشرئی دے - او د مسعود والا ډله مسلمین دی - مسلمین وائی : زمونږ نوم په قرآن کښې شته - :

﴿هُوَ سَمّٰكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ﴾ (سورة الحج : ٧٨) ـ قرآن کښې خود جماعت تکے نشته. وائی حدیث کښې شته ـ نو حدیث کښې خو "سمکم" تکے نشته. حدیث کښې دادی : والزم جماعة المسلمین ـ مسلمین شته خو نوم نشته ـ

په ٦٣ هجرے کښې د خوارجو یو تنظیم نوم جماعة المسلمین وو. چه بانی ئی عبدالله بن اباض وو. د جماعت خلقوورته امام المسلمین وئیلو. (فتاوی اهل الحدیث ٢ : ٤٧٩) . بیا لیکی : کراچی میں ایک ہی جماعۃ المسلمین رد عمل کے طور پر معرض وجود میں آئی اسکے بانی ہمارے محترم جناب عبداللہ دامانوی ہے اور وہ اسے حقیقی جماعت المسلمین قرار دیتے ہیں ـ ص : ٤٨١ ـ مسعود احمد بی ایس ایس سی کی جماعت المسلمین ١٣٩٥ھ میں حکومت پاکستان کے ہاں رجسٹرڈ ہوئی ـ او ٤٨٠ بانـدے لیـکـی : وائی چه کوم سړے د مسعود احمد په لاس بیعت نه کوی هغه غیر مسلم دے. دوی هم وائی مونږ صرف اسلام منو. او اهل حدیثو ته فرقه وائی ـ

حدیث ٣١ : وعن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ لیاتین علی امتی کما... الخ ـ

روایت ضعیف دے. "اتی علی بنی اسرائیل": ـ د "اتی" فعل نه روستو چه "علی" راشی. او زمانه دهغے فاعل وی. نو ددینه دهلاکت زمانه مراد ده. دا راتلونکے وخت د هلاکت دے.

"من اتی امه علانیة": ـ الحق الصریح کښې دی : قاضی خان فتوی ورکړے ده. که چا د مور سره زنا اوکړه. نو دهغه دپاره حد نشته. لیکن د "لاحد علیه" معنی دانه ده. چه سزا ورله نشته. مشکوٰۃ ثانی کښې حدیث دے ـ براء بن عازب رضی الله عنه له نبی ﷺ جهنڈا ورکړے وه. چه دغه ځائی کښې یو سړے دے ـ دغه شان کارئی کړیدے. د خلپے میرنۍ مور سره ئی نکاح او دا کار کړیدے. دده څټ کټ کړه ـ نو احناف وائی : څټ ترے کټ کړه. د مولانا عبدالحیؒ رساله ده" القول الجازم فی سقوط الحدفی نکاح المحارم" هغه لیکی : دده حکم بلا تخصیص که واده ئی وی اوکه نه وی. د قتل حکم دے : قلت الحد لیس عبارة عن مطلق العقوبة، بل عن العقوبة المقدرة الشرعیة کحد الزنا، وشرب الخمر، وحدالقذف وغیره ـ روستو لیکی : ثم عندالحنفیة، وان سقط الحدفی هذه المسئلة، ای حد الزنا، وهوالرجم اوالجلد لکن یجب فیه علی الامام التعزیر حتی القتل سیاسةً فهم وان اسقطوا الحد اخذًا بقاعدة : الحدود تندرئ بالشبهات لکنهم اوجبوا ماهو اشد من ذالك فای طعن علیهم ـ (القول الجازم فی سقوط الحدبنکاح المحارم عن الامام مولانا عبدالحی م ١٣٠٣ هجری تعلیق وتحقیق محمدبن عبدالعظیم المکی الرومی) ـ

منهاج السنة ۲ : ۹۲ کښې دا اعتراض ئې د شیعه نقل کړیدے : قال الرافضي وسقوط الحد عمن نکح امه واخته ...الخ - بیا ئې جواب ورکړیدے. علامه ابن القيم" اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : ۱۴۴ باندے ددے مجسم شیطان شیطان ښکار کړي شوي نه جواب ورکوي - چه د ډیرو فاسقانو او د ترك د جاهلانو جواب دادے : هذا من اعظم الكذب والبهت على الائمة فقد اعاذ الله ابو حنيفة واصحابه من ذالك - دا افتراء ده - چه دوي ورته صغیره گناه هم نه وائي : فان جرمه عنده وعند جميع اهل الاسلام اعظم من جُرم الزنا - او النکت الطريفه ۱۶ باندے دي : فيكون قتله على الردة لا على الزنا ولو كان المراد العقوبة على الزنا لكانت عقوبته اما الرجم اوالجلد فيكون قتله بسبب ردته المرجئة للقتل وقيامه بالسلاح لا بسبب الزنى لانه لم يصرح به في طريق من طرق الحديث فيكون ادعاء ان يكون ذالك القتل للزنى دعوى بلا دليل -

کوم حدیث کښې دا راځي : چه چامتيازي اوځکلے - یاده پاخانه اوخوره - په هغه باندے به حد وي ؟ - حدیث کښې حد نشته - خو کار تیك نه دے - داسے نه چه حد پرے نشته - نو خوره ئې - نو چه احناف وائي : چه حد پرے نشته وژلے ئې شے - ژوند ورله ختمولے شے - دائي تعزیرًا هغه سزا ده - چه امام المسلمين ددے مجاز دے - او حد په زنا کښې سل کوړے دے - او که واده ئې کړے وي - نو د قربان نه بعد رجم دے - د محارمو د زنا او د نکاح یو حکم دے -

"مااناعليه واصحابي" : - اهل السنة والجماعة یادوي - "ما انا عليه" سنت دے - نو اهل السنت شو - "واصحابي" د صحابو جماعت دے -

اهل السنت والجماعت څوك دي ؟

مولانا مفتي کفایت الله صاحب" کفایت المفتي فتاوی کښې په کتاب العقائد کښې ۱ : ۲۰۸ باندے لیکلے دي : چه کوم کس د قبر اذان نه مني - گوتے نه ښکلوي او نه ئې سترگو سره لگوي - مروج اسقاط ته غلط وائي - اود آخترد مونځ د ادا کولو دپاره بهروتلو باندے کلك وي - ظهراحتیاطي نه مني - هغه اهل السنت والجماعت کښې دے - بلکه صحیح عقیدے والا صرف دغه دے - ده ته بد ويوونکے غلط کار او غلط گودے - انتهى -

او سهل بن عبدالله د اهل السنت والجماعت نښے داسے ذکر کوي : (۱) : د مسلمانانو جماعت به نه پریږدي - (۲) : صحابه کرامو ته به بدے ردے نه وائي - (۳) : د مسلمان حاکم په خلاف کښې به د توره په ذریعه بغاوت له نه راووځي - (۴) : د تقدیر تکذیب به نه کوي - (۵) : ایمان کښې به شك نه

کوی۔(٦) : دین کښی به جګړے نه پیدا کوی۔(٧) : په اهل القبله کښی که ګناهګار وفات شی۔ جنازه به پرے کوی۔(٨) : د مسح علی الخفین عقیده به ساتی۔(٩) : د هر حاکم اګرچه ظالم ولے نه وی د اقتداء نه به انکار نه کوی۔ (شرح اصول اعتقاد اهل السنة والجماعة للالکائی : ١٨٣)۔

مظاهر حق کښی دی : چه خلق هم تپوس نه کوی ـ چه یو تن مسلمان شی ـ نو دے به څنګه مسلمانیږی۔ حنفی کیږی به 'که شافعی کیږی به' که مالکی کیږی به 'که حنبلی کیږی به۔ دے به کومه طریقه اختیاروی۔ او بعضے وائی شیعه دے شی۔

نو صاحب د مظاهر حق د هغے په باره کښی بحث کوی۔ چه څلور خبرو ته به ګورے۔ چه دا په چا کښی وی ـ نو د هغے ډلے سره دے یو ځائی شی۔(١) : یو دیته اوګوره : چه د قرآن خدمت چا کړیدے۔ شیعه خو بالکل نه دے کړے۔ هغه ته خو یاد هم نه دے۔ او نه په کښی بعض قرآن مکمل منی۔(٢) : دویم دیته اوګوره : چه حرمین د چا سره وی مکه او مدینه کښی امامان د چا سره دی۔(٣) : دریم چه غټ غټ بادشاهان کوم تیر شویدے۔ داده کومے ډلے سره تعلق ساتی۔ نو دا د اهل السنت والجماعت سره تعلق ساتی۔(۴) : شعائر چه د اخترونو قیام دے۔ دا د کومو علماء نه صدور ته راغلے دے۔ نو دا د اهل السنت والجماعت د علماء نه صدور ته راغلے دے۔ بیا اهل السنت کښی چه علاقه کښی کوم مذهب مروج دے۔ هغه دے اختیار کړی۔ که څلورو مذهبونو کښی هر یو مذهب وی۔ ملا علی قاریؒ لیکی : ولاریب انهم هم اهل السنة والجماعة۔ او شیعه د صحابو مقام نه منی۔ او داسے بعضے نور هم۔

مجموعه مقالات د مولانا سید اسعد مدنی کښی یو عنوان دے۔ صحابہ کرام کا مقام اور غیر مقلدین کا موقف۔

د فتاوی نذیریه نه قول نقل کوی : قول صحابی حجت نیست۔ (فتاوی نذیریه : ٣٤٠)۔

(٢) : افعال الصحابة رضی الله عنهم لا تنهض للاحتجاج بها۔ (فتاوی نذیریه ١ : ١٩٦)۔

(٣) : نواب صاحب لیکی : موقوفات صحابہ حجت نیست۔ (دلیل الطالب : ٦١٧)۔

اصول سرخسی ١ : ١٢۴ کښی دی : چه چا د صحابو عیب لټولو د اسلام مخالف دے۔ که توبه نه اوباسی۔ توره ئی علاج دے۔ تولو صحابو سره رضی الله عنهم وئیل پکاردی۔

لیکن علامه وحید الزمان لیکی کنز الحقائق ٢٣۴ باندے لیکلے دی : ویستحب الترضی للصحابة غیر ابی سفیان ومعاویة وعمرو بن العاص ومغیرة بن شعبة وسمرة بن جندب ۔ ویستحب السکوت عن هؤلاء الخمسة وتفویض امرهم الی الله ولا یحسن سبهم ولا مدحهم۔

اونزل الابرار ۳ : ۹۴ په حاشیه وحیدالزمان صاحب لیکی : ان من الصحابة من هو فاسق کالولید ومثله ویقال فی حق معاویة وعمرو ومغیرة وسمرة ومعنی کون الصحابة عدولا انهم صادقون فی الروایة لا انهم معصومون ۔

او فتاوٰی دین خالص نهم جلد کښې د حاطب بن ابی بلتعة په حق کښې د احتیاط نه کارنه دے اغستلے شوے۔ بعض وائی مونږ قرآن وسنت ته دعوت ورکوو۔ چرته ئې په دوی داسے ردونه شروع نه کړل لکه چه په احنافو ئې کوی۔

نبی ﷺ فرمائی : زما امت به درے اویا ډلو کښې تقسیمیږی۔ کتاب الاعتصام د علامه شاطبیؒ لیکلے دی : سیاسی پارټی نه یادوی۔ دا دینی ډلے دی۔ رائج الوقت۔ سیاست کښې خو ډیرے پارټی۔ دے۔ فضل الله تورپشتی داخبره کړے ده۔ اود اصولو په اعتبار سره دا شپږ فرقے دی۔ (۱): خوارج۔ (۲): معتزله (۳) : شیعه ګان (۴): جبریه (۵) : مرجئه (٦) : مشبهه۔ نو دا ٦ ډلے دی۔ په دے کښې بیا دا شیعه ګان په دوه دیرش ډلو کښې تقسیم دی۔ اومعتزله په دولس فرقو باندے مشتمل دی۔ دا جبریه په درے ډلو کښې تقسیم دی۔ اومرجئه اومشبه په پنځه پنځه ډلو باندے تقسیم دی۔ اوخوارج په پنځلس ډلو کښې تقسیم دی۔ دے ټولو ډلو باندے کتاب الاعتصام کښې ډیرښه بحث کړیدے۔ اودائې راغونډ کړیدی۔

غنیة الطالبین کښې شیخ عبدالقادر جیلانیؒ خه بحث کړیدے۔ اودائې راجمع کړیدی۔ عقائد الاسلام کتاب کښې مولانا ادریس کاندهلویؒ بحث کړیدے۔ هغه دا لیکلے دی : چه دد دے ډلونه د اصولو او عقائدو اختلاف مراد دے۔ فروعی مسائل ددینه نه دی مراد۔ هغه په دوه اویا او درے اویا کښې نه دی حساب۔ هغه خو ډیرشیء دی ۔ بدعملے ډیرے زیاتے دی۔ کله چه مراد ددے افتراق نه د عقائدو اختلاف شی۔ دوی به اورته ځی۔ نو د اصولو اختلاف مراد دے۔ ځکه چه غلطے عقیدے ئې دی۔

نبی ﷺ اوفرمائیل : کلهم فی النار۔ عقیده ئې فاسده ده۔ ددینه امت اجابت مراد دے۔ چه کوم اهل قبله دی ۔ بیا په حدیث کښې استثناء ده۔ د فرقے ناجئی نه۔ دا معلومیږی چه دا اختلاف د عقیدے دے۔ نو اصولی اختلاف ترینه مراد دے۔ صحابه کرامو مینځ کښې، د عقیدے نه علاوه نورخه امرمشترك نه وو۔ فروعی اختلاف هغوی کښې هم وو۔ مسئله کښې : یو صحابی یوشان تحقیق به وو۔ د بل صحابی بل شان۔ رائې بدل بدل وے۔ هغه ترینه نه دی مراد۔ مثلًا دا چه مونځ کښې اختلاف نه وو۔ مونځ ټولو منلو چه داشته دے۔ فروعی دا چه لاس به خکته کوے۔ او که بره کوے به ئې۔ کوم ځائې باندے به ئې ایږدے۔ تقریبًا دوه سوه مسائل دوه رکعته مونځ کښې، دی۔ چه هغه اختلافی دی۔ دا

کوی۔(٦) : دین کښی به جګړے نه پیدا کوی۔(٧) : په اهل القبله کښی که ګناهګار وفات شی۔ جنازه به پرے کوی۔(٨) : د مسح علی الخفین عقیده به ساتی۔(٩) : د هرحاکم اګرچه ظالم ولے نه وی د اقتداء نه به انکار نه کوی۔ (شرح اصول اعتقاد اهل السنة والجماعة للالکائی : ١٨٣)۔

مظاهرحق کښی دی : چه خلق هم تپوسونه کوی ــ چه یو تن مسلمان شی ـ نو دے به څنګه مسلمانیږی۔ حنفی کیږی به 'که شافعی کیږی به 'که مالکی کیږی به 'که حنبلی کیږی به۔ دے به کومه طریقه اختیاروی۔ او بعضے وائی شیعه دے شی۔

نوصاحب د مظاهرحق د هغے په باره کښی بحث کوی۔ چه خلورخبروته به ګورے۔ چه داپه چا کښی وی ـ نو د هغے ډلے سره دے یوځائی شی۔(١) : یو دیته اوګوره : چه د قرآن خدمت چاکړیدے۔ شیعه خوبالکل نه دے کړے۔ هغه ته خویاد هم نه دے۔ او نه په کښی بعض قرآن مکمل منی۔(٢) : دویم دیته اوګوره : چه حرمین د چا سره وی مکه اومدینه کښی امامان دچا سره دی۔(٣) : دریم چه غټ غټ بادشاهان کوم تیرشویدے۔ داده کومے ډلے سره تعلق ساتی۔ نوداد اهل السنت والجماعت سره تعلق ساتی۔(٤) : شعائرچه د اخترونوقیام دے۔ داد کومو علماء نه صدور ته راغلے دے۔ نوداد اهل السنت والجماعت د علماء نه صدور ته راغلے دے۔ بیا اهل السنت کښی چه علاقه کښی کوم مذهب مروج دے۔ هغه دے اختیار کړی۔ که څلورومذهبونوکښی هریومذهب وی۔ ملاعلی قاریؒ لیکی : ولاریب انهم هم اهل السنة والجماعة۔ اوشیعه د صحابومقام نه منی۔ او داسے بعضے نور هم۔

مجموعه مقالات دمولانا سید اسعد مدنی کښی یوعنوان دے۔ صحابہ کرام کا مقام اور غیر مقلدین کا موقف۔

د فتاوی نذیریه نه قول نقل کوی : قول صحابی حجت نیست۔ (فتاوی نذیریه : ٣٤٠)۔

(٢) : افعال الصحابة رضی الله عنهم لا تنهض للاحتجاج بها۔ (فتاوی نذیریه ١ : ١٩٦)۔

(٣) : نواب صاحب لیکی : موقوفات صحابہ حجت نیست۔ (دلیل الطالب : ٦١٧)۔

اصول سرخسی ١ : ١٢٤ کښی دی : چه چا د صحابوعیب لټولود اسلام مخالف دے۔ که توبه نه اوباسی۔ توره ئی علاج دے۔ تولو صحابو سره رضی الله عنهم وئیل پکاردی۔

لیکن علامه وحید الزمان لیکی کنز الحقائق ٢٣٤ باندے لیکلے دی : ویستحب الترضی للصحابة غیر ابی سفیان ومعاویة وعمروبن العاص ومغیرة بن شعبة وسمرة بن جندب ۔ ویستحب السکوت عن هؤلاء الخمسة وتفویض امرهم الی الله ولا یحسن سبهم ولا مدحهم۔

اونزل الابرار ۳ : ۹۴ په حاشیه وحیدالزمان صاحب لیکی : ان من الصحابة من هو فاسق كالوليد ومثله ويقال في حق معاوية وعمرو ومغيرة وسمرة ومعنى كون الصحابة عدولا انهم صادقون في الرواية لا انهم معصومون ـ او فتاوٰی دین خالص نهم جلد کښی د حاطب بن ابی بلتعة په حق کښی د احتیاط نه کارنه دے اغستلے شوے۔ بعض وائی مونږ قرآن وسنت ته دعوت ورکوو۔ چرته ئی په دوی داسے ردونه شروع نه کړل لکه چه په احنافو ئی کوی۔

نبی ﷺ فرمائی : زما امت به درے اویا ډلو کښی تقسیمیږی۔ کتاب الاعتصام د علامه شاطبیؒ لیکلے دی : سیاسی پارټۍ نه یادوی۔ دا دینی ډلے دی۔ رائج الوقت۔ سیاست کښی خو ډیرے پارټۍ دے۔ فضل الله توریشتی داخبره کړے ده ـ اود اصولو په اعتبار سره دا شپږ فرقے دی۔(۱): خوارج۔ (۲): معتزله (۳) : شیعه گان (۴): جبریه (۵) : مرجئه (٦) : مشبهه۔ نو دا ٦ ډلے دی۔ په دے کښی بیا دا شیعه گان په دوه دیرش ډلو کښی تقسیم دی۔ اومعتزله په دولس فرقو باندے مشتمل دی۔ دا جبریه په درے ډلو کښی تقسیم دی۔ اومرجئه اومشبه په پنځه پنځه ډلو باندے تقسیم دی۔ اوخوارج په پنځلس ډلو کښی تقسیم دی۔ دے ټولو ډلو باندے کتاب الاعتصام کښی ډیر ښه بحث کړیدے۔ اودائی راغونډ کړیدی۔

غنیة الطالبین کښی شیخ عبدالقادر جیلانیؒ خه بحث کړیدے۔ اودائی راجمع کړیدی۔ عقائد الاسلام کتاب کښی مولانا ادریس کاندهلویؒ بحث کړیدے۔ هغه دا لیکلے دی : چه ددے ډلونه د اصولو او عقائدو اختلاف مراد دے۔ فروعی مسائل ددینه نه دی مراد۔ هغه په دوه اویا او درے اویا کښی نه دی حساب ـ هغه خو ډیرشیء دی ـ بدعملے ډیرے زیاتے دی۔ کله چه مراد ددے افتراق نه د عقائدو اختلاف شی۔ دوی به اورته ځی۔ نو د اصولو اختلاف مراد دے۔ ځکه چه غلطے عقیدے ئی دی۔

نبی ﷺ اوفرمائیل : کلهم في النار ـ عقیده ئی فاسده ده۔ ددینه امت اجابت مراد دے۔ چه کوم اهل قبله دی ـ بیا په حدیث کښی استثناء ده۔ د فرقے ناجئی نه۔ دا معلومیږی چه دا اختلاف د عقیدے دے۔ نو اصولی اختلاف ترینه مراد دے۔ صحابه کرامو مینځ کښی د عقیدے نه علاوه نورخه امر مشترك نه وو ـ فروعی اختلاف هغوی کښی هم وو۔ مسئله کښی د یو صحابی یو شان تحقیق به وو۔ د بل صحابی بل شان۔ رائی بدل بدل وے۔ هغه ترینه نه دی مراد۔ مثلًا دا چه مونځ کښی اختلاف نه وو۔ مونځ ټولو منلو چه داشته دے۔ فروعی دا چه لاس به خکته کوے۔ او که بره کوے به ئی۔ کوم ځائی باندے به ئی ایږدے ـ تقریبًا دوه سوه مسائل دوه رکعته مونځ کښی دی۔ چه هغه اختلافی دی۔ دا

فروعی اختلاف دے۔ وجه داده: چه د مجتهدینو مینځ کښې اختلاف فروعی د صحابه د اختلاف د وجے راغلے دے۔ کیفیت فی الصلوۃ کښې اختلاف دے۔ لکه څنګه انبیاء علیهم السلام اصولو په اعتبارسره تول یو وو۔ اوپه هغوی کښې فروعی اختلاف موجود وو۔

"کلهم فی النار" - سوال: دا کوم دخول اخلی۔ دوزخ کښې به ابدی وی اوکه راوځی به۔ یعنی لږ وخت دپاره به وی۔ هر صورت کښې اعتراض دے۔ که ددینه مراد دخول ابدی وی۔ نو مستثنی منه په اعتبار داخبره صحیح نه معلومیږی۔ مستثنی منه ده۔ "کلهم فی النار" او مستثنی "الا ملة واحدة" ده۔ نو که ترینه ابدی اخلے۔ نو مستثنی منه په اعتبار نه صحیح کیږی۔ تمام علماء اجماع ده۔ چه داکوم فرق مونږه ذکرکړو۔ دا کافر نه دی۔ خوارج او معتزله کافر نه دی۔ د شیعه ګانو اکثریه عقیدے د کفردی ۔لکه د قرآن نه انکارکول ۔ قرآن کښې تحریف۔ کمے، زیاتے منل۔ صحابوته مرتد وئیل۔ او عقیده ئی داده: چه وحی په علی رضی الله عنه باندے راتله۔ لیکن جبریل علیه السلام غلط شویدے۔ او په عائشه رضی الله عنها باندے د تهمت لګولو اقرارکوی۔ دغسے شیعه ګان یقیناً کافر دے۔ لیکن په سلفوکښې داسے قسم شیعه ګان قطعًا نه وو۔ هغوی کښې به بعضو علی رضی الله عنه د عثمان رضی الله عنه افضل ګنړه۔ لکه مثلاً محمد بن فضیل چه د بخاری آخری روایت کښې راځی۔ د اسماء الرجال کتابونو کښې دی: علی تشیع کان فیه الا انه کان من علماء الحدیث۔

امام دارقطنی لیکی : کان منحرفا عن عثمان ۔ یعنی دے تفضلی شیعه وو۔ که ابدی جهنمیان ترینه واخلے نو دا صحیح نه ده ۔ ځکه خوارج او معتزله به ابدی جهنم کښې نه وی۔ جبریه، مرجئه دوی ابدی جهنمی نه دی۔ داد علماء اجماع ده۔ (۲) دویم صورت: ددینه مراد دخول غیرابدی اخلی۔ نو بیا د مستثنی په اعتبار سره نه صحیح کیږی۔

سوال: داشو۔ دخول چه راغلے دے۔ دا ابدی یادوی۔ اوکه غیر ابدی یادوی؟۔

جواب: شیخ عبدالحق محدث دهلویؒ جواب کوی۔ د دخول نار اسباب دوه دی۔ (۱): یو د عقیدے (۲) او دویم د عمل خرابی ده ۔ دلته که ابدی دخول اخلے۔ نو اعتقادی خرابی ده۔ اوکه لږ ساعت دپاره دخول اخلی۔ نودا بیا عملی خرابی ده۔ نو په دے سره یو طرف ته هم اعتراض نه راځی۔

سوال: سیرة النعمان کښې شبلیؒ لیکلے دی: چه دا روایت موضوع دے۔

جواب : شبلیؒ خو محدث نه دے۔ یو مؤرخ دے۔ د حدیث په میدان کښې د هغه خبره معتبره نه ده۔
اوعلامه مجدد الدین فیروز آبادیؒ سفر السعادت په آخرکښې لیکلے دی چه : لم يثبت فيه شيء۔
لیکن ملاعلی قاریؒ په تذکرة الموضوعات کښې لیکلے دی : لا يلزم من عدم الثبوت وجود الوضع۔
اوعلامه ابن حجرؒ نتائج الافکارکښې لیکلے دی : لا يلزم من نفي الثبوت ثبوت الضعف لاحتمال ان يراد بالثبوت الصحة ' فلا ينتفي الحسن۔
اوعلامه ذهبیؒ او علامه سخاویؒ ددے د بعضو طرق صحت منلے دے۔

دحدیث وضاحت : بعض علماء وائی : چه په دے حدیث کښې د " كلهم في النار " نه مراد "خلود في النار" دے۔ لیکن دا خبره کمزورے ده۔ علامه جلال دوانی په شرح " عقائد عضدیه " کښې لیکلے دی : وستفترق امتي اي امة الاجابة لا الدعوة وهم الذين آمنوا به عليه الصلوة والسلام وهو الظاهر فان اكثر ما ورد في الحديث على هذه الاسلوب اي لفظ امتي اريد اهل القبلة وكذا ههنا۔
او په مرقات کښې ئې دواړه قوله ذکر کړے دی۔ لیکن د امت اجابت والا توجیه سره ئې " الاظهر " لیکلے دے۔ او ابهری لیکلے دی : چه اکثر ترے امت اجابت اخلی۔ دویم توجیه داده : چه هغه افتراق ترے مراد دے۔ چه اصل دین ته ئې نسبت کیږی۔ لکه د بعض اصولو او کلیاتو په تشریح کښې اختلاف۔ نو د امت اجابت افتراق ترے صرف مراد دے۔ او خوارج ' روافض ' معتزله ' مرجئه او کرامیه وغیره فرقے همیشه د اسلام په نوم باندے د دعوے ترحده بند دی۔ په هر دور کښې د خیرالقرون نه پس اکثریت د فاجرانو فاسقانو وی۔ لیکن بیا هم ددے امت جنتیان به د نورو امتونو په نسبت زیات وی۔
د " فرقه ناجئه " نه مراد هغه فرقه ده۔ چه بغیرد څه عذابه جنت ته به ځی۔ او د بشریت په تقاضه که چرته ترے تبعًا گناه شوے وی۔ هغه به ورته د نبی په سفارش معاف کړے شی۔ یا د محشرسختے چه اووینی دا به د گناه د معاف کولو سبب جوړ شی۔
دلته ئې په حدیث کښې " انا واصحابي " اونه فرمائیل څکه د سوال کوونکی مقصد په هغه زمانه کښې د حق د جماعت تعیین نه وو۔ د فتنو په دور کښې د حق د جماعت د تعیین تپوس ئې کړیدے۔ نو عمومی طور باندے اوفرمائیل چه دا خلق به د صحابو عملی تصویر ته گوری۔ او قدم به اوچتوی۔ ددے حدیث اصل مقصد صرف د فتنو تعین دے۔ تعداد متعین کول نه دی۔ بلکه د مقصد افتراق خبرورکول دی۔ چه داسے به کیږی۔ خیال کوه دهوکه نه شے۔

" ما انا علیه و اصحابی ": ـ اهل السنت والجماعت تعریف : فالسنة ما سنه النبی ﷺ والجماعة ما اتفق علیه الصحابة (غنیة الطالبین) ـ زمونږ اصل نوم چه دے ـ هغه اهل السنت والجماعت دے ـ دا اهل السنت والجماعت امام مسلمؒ مقدمه کښی ذکرکړیدے : سموالنا رجالکم ـ مونږ ته د خپل حدیث راویان اوښائی ـ ابن سیرین وائی : فینظر الی اهل السنة فیؤخذحدیثهم وینظر الی اهل البدع فلا یوخذحدیثهم ـ

معلومه شوه : چه اهل البدعت چرته هم د اهل السنت د لقب حقدار نه شی جوړیدے ـ

ابن سیرین المتوفی ۱۱۰ه ـ نو ۱۱۰ هجرے نه مخکښی خیرالقرون په وخت کښی اهل السنت والجماعت موجود وو ـ شیخ عبدالحقؒ اشعة اللمعات کښی لیکلے دی : چه د اهل السنت والجماعت حادث دے : امامذهب واعتقاد ایشان قدیم است ـ او طریقه ئی د حدیث او آثارو د سلف تابعداری ده ـ او د ضرورت نه علاوه د نصوصو په ظاهر عمل کوی ـ

د اهل سنت طبقات دی ـ (۱) : اهل حدیث یعنی محدثین ـ (۲) : اهل تفسیر یعنی مفسرین ـ داسے نور پرے قیاس کړه ـ " ما انا علیه واصحابی " دیته فرقه ناجئه هم وئیلے کیږی ـ

مرقات کښی ملا علی قاریؒ لیکلے دی : چه سفیان محدث وائی : که دغر د پاسه یو کس حق پرست وی ـ نو دا یو مستقل جماعت دے : ﴿ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتاً لِلَّهِ حَنِيفاً وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾ ـ
(سورة النحل : ۱۲۰) ـ

" وانه سیخرج فی امتی اقوام ": ـ زما په امت کښی به داسے قوم راشی ـ چه دغه بدعات به په کښی دننه سرایت اوکړی ـ لکه څنګه چه لیونی سپے سړے اوچیچی ـ د هغے اثرئی په بدن کښی باقی وی ـ دغسے ګمراه فرقے او بدعتیان لیونی سپی دی ـ ددوی مروند او هیڅ پیوند نه پریږدی ـ مګردغه زهر په کښی دننه سرایت کوی ـ

تنبیه : "هذا مفاهیمنا " دا کتاب د محمدبن علوی المکی په ردکښی شیخ صالح بن عبدالعزیز محمدآل الشیخ لیکلے دی : ۲۲٦ باندے لیکی : (السلفی) انه ینهج بنهج الصحابة وتابعیهم فان اتباع الکتاب والسنة کل یدعیه و کل یطمع الی شرف الانتساب الیه وماکل ما ظنه المراد مطمعا یصل الیه فرب طامح تشبعت السبل به ـ فالفرق الضالة کلها تنسب الی الکتاب والسنة کالمعتزلة من المتقدمین ' والقادیانیة من المتاخرین والروافضة المتقدمین والمتاخرین ـ وغیرهولاء ـ فحقیقة الانتساب الصحیح الی الکتاب والسنة الذی

يفرق بين اهل السنة والجماعة وغيرهم اتباع الصحابة وانتهاج منهجهم وارتضاء طريقتهم فهذا تتقطع الاسباب المدعاة ويظهر المحق والمبطل۔

" وهى الجماعة " :۔ اى اهل العلم والفقه الذين اجتمعوا على اتباع آثاره عليه الصلوة والسلام فى النقير والقطمير، ولم يبتدعوا بالتحريف والتغيير۔ (مرقات)۔

حديث ٣٢: وعن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ ان الله لا يجمع امتى اوقال امة ..الخ۔

"ويد الله على الجماعة ": ۔لاس د الله يعنى امداد د الله په جماعت باندے دے۔

"ومن شذشذ فى النار": ۔ څوك چه د جماعت نه بيل اوجدا شو۔ هغه به په اور كښى وى۔ د حديث نه يوه مسئله دا راووتله۔ علامه طيبیؒ ليكى : وفى الحديث دليل على اجماع علماء المسلمين حق۔
او مرقات كښى دى : ولا عبرة باجماع العوام ۔

(٢): دويم په دے حديث كښى دا راغلل۔ اجماع به په ضلالت باندے نه وى۔

حق الصريح كښى يوه خبره په اجماع كښى ذكر كړے ده : من ادعى الاجماع فهو كذاب ۔ دا امام احمدؒ وئيلے دى۔ ليكن كتاب الاعتصام كښى علامه شاطبى نقل كوى چه د امام احمدؒ دخبرے مطلب دادے : هسے اجماع اجماع مه كوه۔ اجماع او فتوى نه مخكښى ئى توثيق اوكړه۔ دا كنايه ده د توثيق نه۔ او قرينه ئى داده : چه امام احمدؒ په خپله د اجماع لفظ ذكر كړيدے۔

علامه ابن تيميهؒ ليكى : وذكر احمدبن حنبل الاجماع على انها نزلت فى ذالك وذكر الاجماع على انه لا تجب القراءة على الماموم حال الجهر۔ (مجموعة الفتاوى ١٢ : ١٥٨)۔

دويم : الاصابة ١ : ٧ باندے ابن حجرؒ ليكى : قال ابن حزم فى كتاب الاقضية من المحلى من ادعى الاجماع فقد كذب على الامة هذا الذى ذكره فى مسئلة الاجماع لانوافقة عليه۔

اوبيا وائى الحق الصريح كښى : د علماء امت اجماع دعوى څوك هم نه شى كولے۔ ځكه چه څوك هم داسے نشته۔ چه په ټولو علماء باندے ګرځيدلے وى۔ نو داسے وئيل پكار دى چه ګويا دا مسئله اتفاقى ده۔ ولا اعلم فيه مخالفًا۔ او داسے به قطعًا نه وائى۔ وعليه الاجماع۔ اودا نصيحت په خپله نه منى۔ روستو كتاب العلم كښى ليكى : چه عزالدين اجماع نقل كړے ده۔ لا يسمى المقلد عالما ۔ او داهم ليكى : اجمع اهل العلم ان المقلد ليس معدودا من اهل العلم ۔ اوس په ټولو علماء اوګرځيده۔ چه دا اجماع ده۔

د سیرۃ الرسول ۴ : ۲۱۰ باندے دی : پہ اجماع د امت سرہ د هغه (ابوبکر) خلافت ثابت دے۔ پہ تولو علماؤ گرځیدلے نہ دے۔ او نہ هغه وخت کښی گرځیدو شو۔ او پہ صحیح بخاری کښی د سیدنا سعد رضی اللہ عنہ خلاف د خلافت نہ ترمرگہ ذکر دے۔ خو یو نیم وتلو سرہ اجماع کښی نقصان نہ راځی۔ معتدبها ډیرہ دنیا موجود دہ۔ او د سعد بن عبادہ د عدم اعتراف خلافت ابوبکر رضی اللہ عنہ و عمر رضی اللہ عنہ د دوارہ تذکرہ طبقات ابن سعد کښی کړے دہ۔ (ابن سعد ۳ : ق : ۱٤٤)۔

"وید اللہ علی الجماعة ": ۔ حدیثو کښی تکے د جمعیت نہ دے راغلے۔ جماعة راغلے دے۔ شیخ عبدالسلام سهام الصیاد ۹۰ باندے لیکی : ہم نے جمعیت کا نام رکھا جماعت نام نہیں رکھا۔ کیونکہ عرف کے لحاظ سے جماعت کا اطلاق اس وقت ہوتا ہے جبکہ اس سے الگ ہونے والے سب گمراہ ہوں۔ لیکن کہ دا مشورہ ئی جماعة الدعوة لہ ورکړے وہ۔ ډیرہ خہ بہ وہ۔ اتباع الرسول نومے کتاب جماعة الدعوة شائع کړیدے۔

مسند دارمی او جامع بیان العلم کښی د سیدنا عمر رضی اللہ عنہ قول نقل دے : لا اسلام الا بجماعة ولا جماعة الا بامارة ۔ او الابانة ۲ : ۲۸۵ باندے دی : من اراد بحبوحة الجنة فعلیه بالجماعة فان الشیطان مع الواحد وهو من الاثنین ابعد۔

باقی یو کس پہ یو حق جماعت کښی تنظیماً نہ وی۔ نو نہ دے وی پہ کښی۔ خو لیکن هغوی چہ کومے عقیدے بیانوی۔ او د بدعاتو تردید کوی۔ او د سنت اشاعت کوی۔ د هغے نہ دے انکار نہ کوی۔ یو کس تنظیم کښی نہ دے۔ صحیح دہ۔ تنظیم او جماعت سرہ انسان د ځان ځانی نہ بچ شی۔ او ډیر فوائد ورتہ پہ لاس راشی۔

لا یصلح الناس فوضی لا سراة لهم ولا سراة اذا جهالهم قادو

(السنة للخلال ۱ : ۳)

د شیخ البانی کتاب دے الحدیث حجة بنفسه فی العقائد والاحکام : ۸۱ باندے لیکی : وجهة العلم الخبر فی الکتاب او السنة او الاجماع او القیاس ۔ او ۸۴ د الفلانی کتاب ایقاظ پہ حوالہ لیکی : اسم العلم انما یطلق علی ما فی کتاب اللہ وسنة رسول اللہ ﷺ والاجماع وما قیس علی هذه الاصول عند فقد نص علی ذالك۔ قرآن کښی دی : ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا ﴾ (سورة البقرة : ۱٤۳)۔ د دے آیت پہ تشریح کښی تفسیر قرطبی کښی دی : وفیه دلیل علی صحة الاجماع۔

او د آیت د لاندے تفسیر احسن الکلام کښی دی : معلوم شو : چہ اجماع د امت حجت دے پہ شرع کښی۔ علامہ ابن تیمیة لیکی : الاجماع الیوم قد انعقد علی خلاف هذا القول۔ (۱۱ : ۲۲۵)۔

حدیث ۳۳: وعنه قال قال رسول اللهﷺ اتبعوا السواد الاعظم فانه من شذ شذ...الخ۔

بریلیان وائی سواد اعظم مونږ یو۔ ځکه مونږ ډیر یو۔ زمونږ تابعداری اوکړے۔ (۱): یو سواد اکثر دے (۲): او بل سواد اعظم دے۔ په دواړو کښی فرق دے۔ "اعظم" مقوله د کیف ده۔ "اکثر" مقوله د کم ده۔ دانه دی چه په ووتهو نوباندے زیات وی۔ چه په دلیل باندے کلك دے۔ نو هغے ته سواد اعظم وائی۔ عظیم اعظم مقوله د کیف ده۔ بریلیان په مقولے دکیف سره کم دی۔ ځکه چه په خبره ورسره دلیل نشته۔ مرقات کښی دی: وان قل عددهم ولم یقل الاکثر لان العوام والجهال اکثر عددا۔

مولانا احسان صاحب مدظله ۲۰۰ باندے لیکی: بریلویت تو جہالت کا دوسرا نام ہے اسلئے جاہلوں میں چلتی ہیں ہم جتنا قرآن او حدیث ان میں چلائیں گے اتنا ہی وہ ختم ہو جائیں گے۔

ددے حدیث سند بعض وائی: ځکه ضعیف دے۔ چه "معان" لین الحدیث دے۔ خوشواهد شته۔ د علامه ابن عبدالبرؒ د الانتقاء تعلیق ۳۴۸ باندے دی: چه علامه البانیؒ لوئی کونکے لیکی: چه دا حدیث مانه دے موندلے کتب سته، امالی او اجزاء کښی۔ حالانکه ددوی د مشکوة د تعلیق خبره صحیح نه ده۔ امام سخاوی په المقاصد الحسنة کښی ۴۰۶ باندے او محدث عجلانی په کشف الخفاء کښی، ابونعیم حلیه کښی، او علامه لالکائی په السنة کښی نقل کړیدے۔ او صاحب د عون المعبود لیکی: سکت عنه المنذری۔

فائده: د حدیث نه معلومه شوه: چه اسلام کښی د جماعتی ژوند ډیر اهمیت دے۔ د جماعت حیثیت د یو دیوال غوندے دے۔ چه د خښتونه جوړ وی۔ که هره خښته مضبوطه وی۔ نو دیوال به مجموعی حیثیت سره مضبوط وی۔

حدیث ۳۴: وعن انس قال قال لی رسول اللهﷺ یابنی ان قدرت ان تصبح ...الخ۔

انس رضی الله عنه چونکه خادم وو د نبیﷺ۔ نو نبیﷺ به ورته کله کله هدایات ورکول۔

"**فافعل**": ۔ دا کار اوکړه۔ بیائی ئی اووئیل اے بچیه دا زما سنت دے۔ چه څوك زما حدیثو سره مینه کوی۔ او هغه زما سره مینه اوڅوك چه زما سره مینه ساتی۔ هغه به ماسره په جنت کښی وی۔ نبیﷺ اتباع یوائځے جنت ته د تلو سبب نه دے۔ نبیﷺ سره جنت کښی په خوا کښی د مجلس سبب هم دے۔ "**لیس فی قلبك غش لاحد**": ۔ ددینه دا معلومه شوه: چه دا بنیادی خبره ده۔ چه د چاسره به

دے کینہ نہ وی۔ شیخ الاسلام علامہ ابن تیمیہؒ یو واقعہ ذکر کړیدہ پہ مجموعۃ الفتاوی ۵ ب : ۷۴
کښې نبی ﷺ پہ جومات کښې صحابہ کرامو سرہ ناست وو۔ اوئے فرمائیل اوس بہ یو سړے جومات
تہ راځی دهغہ د ګیرې نہ بہ د اوبو څاڅکی غورځیږی۔ اوپہ لاس کښې بہ ئی څپلے نیولے وی۔ اوهغہ
بہ جنت تہ ځی۔ هغہ سړے هغہ شان راغے۔ دے چہ کلہ تلو نو سیدنا عبداللہ بن عمرو بن العاص
رضی اللہ عنہ ورسرہ ملګرے شو۔ هسے بهانہ ئی ورتہ اوکړہ۔ چہ ماد پلار سرہ جنګ کړیدے۔ څہ بہ
تاسرہ لاړشم۔ درے شپے ئی ددہ سرہ تیرے کړے۔ مطلب ئی داوو۔ چہ کوم یو څیز د تلو د جنت دے۔
نبی ﷺ اووئیل چہ جنتی دے۔ خو جنتی دے۔ د شپے ئی چہ دہ تہ کتل نو تهجد ولہ هم نہ دے
پاڅیدلے۔ خو دومرہ دہ چہ کلہ بہ دے پہ ړدہ باندے اوړیدونو بے اختیارہ بہ ئی د اللہ نوم یادو۔ دے چہ
تړینہ درے ورځے پس راتلو۔ ورتہ ئی اووئیل څہ پہ دے مقصد راغلے اوومہ۔ ماتا کښې څہ شیء اونہ
موندو۔ هغہ ورتہ اووئیل چہ تا تپوس کړیدے۔ او نبی ﷺ وئیلے دی۔ نو څہ درتہ خبرہ کوم : لا اجد
عنی احد من المسلمین فی نفسی غشًا ولا حسدًا علی خیر اعطاہ اللہ ایاہ۔ (مجموع فتاوی ۵ : ۷۴)۔
حدیث کښې دی : المرء مع من احبہ۔ الحسد یاکل الحسنات کما تاکل النار الحطب ۔ یو ضعیف روایت
دے۔ ''کان معی'': ۔ معیت متحدہ نہ دے۔ بلکہ معیت مقاربہ مراد دے۔
او ما نحن منہ روایت ۔ د بعضو پہ نزد څکہ ضعیف دے۔ چہ پہ دے کښې علی بن زید بن جدعان
ضعیف دے۔

حدیث ۳۵ : وعن ابی هریرۃ قال قال رسول اللہ ﷺ من تمسك بسنتی عند ...الخ۔

''من تمسك بسنتی عند فساد امتی'': ۔ چاچہ زما سنت راټینګ کړو۔ پہ هغہ وخت کښې چہ زما
پہ امت کښې فساد راغلے وی۔ علامہ طیبیؒ لیکی : چہ ذوات کښې فساد راغلے وی۔ ذات چہ کلہ
فاسد شی۔ نو دهغہ ذات نہ د صلاح صدور بیانہ کیږی۔ او د هغہ نہ د خیر کار نہ کیږی۔
'' عندفساد امتی '' د لاندے مرقات کښې دی : عند غلبۃ البدعۃ والجهل والفسق ـــ ددہ دپارہ بہ دد
سلو شهیدانو ثواب بہ وی۔ '' رواہ '' ځائی خالی دے۔ او بیا روستو میرك شاہ هغہ وائی : داد بیهقی
روایت دے۔ غیر مقلدین دا حدیث ډیر بیانوی۔ پہ رسالو کښې ئی هم وائی۔
''من تمسك بسنتی'': علامہ البانیؒ سلسلۃ الاحادیث الضعیفۃ کښې دا روایت ذکر کړیدے۔ پہ دے

کښې راوی دے۔ حسن بن قتیبه الخزاعی متروك الحدیث دے۔ دا متروك کیدل دا طعن په راوی کښې راولی۔ داخبره دارقطني ذکر کړے ده۔ ابو حاتم وائی: دا روایت ضعیف دے۔
او الحق الصریح کښې دی: "فله اجر مائة شهید" خونشته۔ خو "فله اجر شهید" شته۔ داروایت هم ضعیف دے۔ نو وړپسے لیکی: چه ددے معنی ثابته ده۔ اګرچه په دے لفظ کښې کلام دے۔ لیکن د الله د رحمت نه بعیده نه ده۔ چه دا ثواب ورله ورکړی۔ انتهی۔
احناف علماء وائی: نورالانوار کښې عبارت دے۔ د مرګ نه پس د مونځ کفاره مسئله کښې مونږه امید ساتو۔ دے ورپورے توقف کوی۔ بیا روستو په خپله وائی: د اصول الحدیث په لحاظ ضعیف دے۔ خو مطلب دا دے: چه ډیر ضعیف ورته مه وائی۔ "مائة شهید" هم ضعیف دے۔ "فله اجر شهید" هم ضعیف دے۔
مولانا زبیر علی زی په تخریج د مشکوة کښې لیکی: چه حسن بن قتیبه راوی جمهور ضعیف ګڼړی اضوء المصابیح کښې دی: بعض لوگ شیخ البانی رحمہ اللہ کی تحقیقات پر اندھا دھند اعتماد کرتے ہیں ان کی خدمت میں عرض ہے کہ البانی صاحب نے بھی ان دونوں روایتوں کو ضعیف ہی قرار دیا ہے دیکھئے الضعیفة: (۳۲۶ ‘ ۳۲۷) اور ضعیف الترغیب والترہیب ۱:۳۶‘ ح ۳۰ ‘ ۳۱ یعنی جمع تفریق کر کے اس روایت کو حسن لغیرہ بنانا غلط ہے والحمد للہ۔
او شهادت اجر څکه ورکوی۔ چه دوی پسے هر ځائی کښې خبرے کیږی۔ لکه څنګه چه پیغمبرانو پسے کیدے۔ موسی علیه السلام اوفرمائیل: یارب احبس عنی السنة الناس۔ فقال یا موسی هذا شیء لم أصطفه لنفسی فکیف افعله بك۔ (احیاء العلوم ۲ : ۲٤۱) ۔ اوعزیر علیه السلام ته وحی اوشوه۔ نو ورته ئی خبر ورکړے وو۔ ان لم تطب نفسا بانی اجعلك علکا فی افواه الماضغین لم اکتبك عندی من المتواضعین۔ (احیاء العلوم ۲ : ۲٤۱)۔
تاریخ بغداد ٦ : ۴۲۹ کښې د یحی علیه السلام نوم دے: سال یحی بن زکریا ربه تعالی قال رب اجعلنی اسلم علی السنة الناس قال فاوحی الله الیه یا یحی لم اجعل هذا لی فکیف اجعله لك۔

حدیث ۳٦ : وعن جابر عن النبی ﷺ حین اتاه عمر فقال انا نسمع احادیث من ....الخ۔

تخریج د مشکوة کښې مولانا زبیرعلی زی ورته ضعیف وائی۔ مجالد راوی د جمهورو په نزد ضعیف دے۔ او شواهد ضعیفه ئی شته۔
سیدنا عمر رضی الله عنه کور د مدینی نه دوه کلو میټره لرے وو۔ هغه به چه مدینی ته راتلو۔ نو په

مینځ کښې یوه محله وه د یهودو۔ هغه به د هغوی بیتهکونو ته ورتلو۔ علمی مجلس کښې د شوق د وجې نه کیناستو۔ او هغوی سره به ئې خبرې کولې۔ هغه خبره ئې نبی ﷺ ته اوکړه۔

"فقال انا نسمع احادیث من یهود": ۔ مونږ د یهودونه څه خبرے اورو۔ مونږه تعجب کوو۔ چه کومه خبره مونږه خوښه کړو۔ "افتری": ۔ آیا ته رائی راکوی چه مونږ څه احادیث د هغوی نه لیکو۔

پیغمبر خفه شو۔ اوئے فرمائیل "امتهوکون انتم": ۔ آیا تاسو حیران او سرګردان ئی۔ ګډوډ ئی۔

"کما تهوکت الیهود": ۔ لکه چه هغوی حیران او سرګردان دی۔

"لقد جئتکم بها بیضاء": ۔ ما تاسو ته داسے دین راوړیدے۔ چه په هغے کښې دوه صفات دی۔ یو صفت په هغے کښې دادے: چه هغه "بیضاء" اوبل صفت ئې دادے "نقیة" دے۔

فضل الله توریشتیؒ وائی: دوه صفتونه ئې بیان کړیدی۔ اشاره افضلیت ته ده۔ د عربیانو په نزد د ټولو نه غوره اوښان هغه سپین اوښان وو۔ دویم ئې اووئیل "نقیة" یعنی دا دین د هر قسم تحریف نه پاك دے۔ صفا دے۔ ګډون په کښې نه دے شوے۔

"ولو کان موسی حیا": ۔ که چرته موسی علیه السلام ژوندے وے۔ په دنیوی حیات نو ګنجائش او فراخی به بغیر زما د اتباع نه هغه له هم نه وے۔ زما تابعداری به ئې کولے۔

د سیدنا موسی علیه السلام هغه امت چه هغوی تحریف کړیدے۔ په هغے دومره تعجب کښې ولے پریوتے۔ په دے کښې بیا په یو روایت کښې راځی چه کله ده تورات شروع کړو۔ نو د نبی ﷺ رنګ بدلیدو۔ نو بیا ورته ابوبکر صدیق رضی الله عنه اووئیل اوګوره۔ داته څه خبرے کوے۔ اشاره ئې ورله ورکړه۔ چه د نبی ﷺ مخ مبارك ته اوګوره۔ نو چه ئې وے کتل نو وئیل ئې: رضیت بالله ربا وبالاسلام دینا وبمحمد ﷺ رسولا۔ دا حدیث د سند په اعتبار سره کمزورے دے۔ شیخ الاسلامؒ فتاوی کښې هم راغستے دے۔ خو دے په سند کښې کلام شته دے۔ مجالد بن سعید باندے کلام کړیدے۔

مرقات کښې دلته دی: مجالد بن سعید وهو ضعیف قال ابن حبان کان ردیء الحفظ یقلب الاسانید ویرفع المراسیل لا یجوز الاحتجاج به ۔ آخر کښې لیکی: چه داد مجالد نه علاوه په نورو طریقو سره هم راغلے دے۔ په هغے ئې تائید کیدے شی۔

غیر مقلدین دا حدیث ددے دپاره پیش کوی چه تقلید نشته۔ چه د موسی علیه السلام تابعداری نشته

۔نو د ابو حنیفہؒ تابعداری په کښې د کوم ځائې نه راغله۔
الحق الصریح کښې یوه مجمجه کړې ده۔ خبره ئې ګډه وډه کړې ده۔ مقلدینو ته وائې د شامی نه به تاویړې راتاویږې۔ او د قرآن په ترجمه به نه پوهیږې۔ تیک ده۔ اوکوم چه په قرآن پوهیږی اود شامی نه تاویړی راتاویږی۔ نو هغې کښې خوڅه نقصان نشته۔ هغوی منی په یو څو مسئلو کښې علامه شامی خطاء شویدې۔

فائده: ﴿قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَٰلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ﴾ (سورة آل عمران: ۸۱)۔ آیت دلاندې ابن کثیرؒ: لوکان موسی و عیسی حیین لما وسعهماالا اتباعی ۔بې سنده ذکرکړیدې۔ لیکن اعتبار ورله نشته۔ قال العبدالضعیف لم اجد من ذکرعیسی فی الحدیث۔ ځکه حافظ ابن کثیرؒ په دغه تفسیرکښې د حیات عیسٰی باره کښې ډیر روایات راوړې دی۔
اضوء المصابیح کښې دی: خلاصہ یہ کہ یہ روایت اپنے تمام شواہد کے ساتھ ضعیف ہی ہے۔ او د علامه البانیؒ په بیان کرده شواهدو ئې کلام کړیدې۔

حدیث ۳۷: وعن ابی سعیدالخدری قال قال رسول الله من اکل طیباوعمل فی ...الخ۔

دې کښې ابوالبشر مجهول الحال دې۔ او د علامه ذهبیؒ نه دواړه خبرې ثابتې دی۔
"من اکل طیبا": ۔نبی ﷺ فرمائی: څوك چه حلاله خوری۔ چه د بل چا حق په کښې نه وی۔ اوفی نفسه حلاله وی۔ دا بنیادی خبره ئې اول ذکرکړې ده۔ وریسې دوه کارونه ورته آسان شی۔
"عمل فی سنة": ۔به هله راځی۔ چه حلال خوراك کوی۔ ددې وجې نه قرآن کریم کښې خلقوته، مومنانو ته پیغمبرانو درې واړو ته داحکم دې چه تاسو حلاله خورې: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا﴾۔ (سورة البقرة: ۱۶۸، مائدة: ۸۸، نحل: ۱۱۴، انفال: ۶۹)۔ ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾۔ (سورة البقرة: ۱۷۲)۔
﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ﴾۔ (سورة المومنون: ۵۱)
علامه آلوسیؒ د ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ﴾ لاندې لیکلې دی: نبی ﷺ ته یوې ښځې پې اولیږل۔ نوبیا ئې ورته واپس کړل۔ ورته وایه دا پې د کومې غاړې دی۔ نو هغې ورته اووئیل چه دا

زما د بیزی پی دی۔ نو بیا ئی ورته واپس کړل۔ ورته ئی اوویل چه تا دا بیزه د کوم ځائی نه راوستلے ده۔ نو بیا نبی ﷺ واپسی جواب تسلی والا راولیږلو۔ نبی ﷺ هغه پی ځکلے دی۔ بل ورځ ئی هغه ښځه ئی اولیده۔ اوئے فرمائیل خفه نه شے۔ مونږ ته حکم دے: ﴿یَا أَیُّهَا الرُّسُلُ کُلُوا مِنَ الطَّیِّبَاتِ﴾۔

بیا په کښی دوه خبرے اوکړے۔ "وعمل فی سنة وامن الناس بوائقه"۔ دے زما په سنت کښی دننه اعمال کوی سنت نه، نه اوځی۔ اوخلق د هغے د شرارتونو نه په امن باندے وی۔

"فقال رجل یارسول اللهﷺ"۔ داخونن ورځے په دے خلقو کښی ډیر زیات دی۔ کثرت او قلت کښی به فرق وی۔ "قال وسیکون فی قرون بعدی"۔ اوزما د تلو نه بعد ډیر زیات به وی۔

امام بخاریؒ له چه الله خائسته علم ورکړے وو۔ په وجو هاتو کښی یوه وجه داوه۔ چه دده تربیت په حلالو شوے وو۔ نن صبا د حرام خوری د وجے علوم تباه شویدی۔ التقریر الرفیع کښی دی: چه په دے حدیث کښی ئی حق الله، حق النفس او حقوق العباد دریواړه جمع کړیدی۔

حدیث ۳۸ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ انکم فی زمان من ترك منکم..الخ۔

په دے کښی مبارك بن عباد باندے کلام دے۔

"انکم فی زمان"۔ رسول الله ﷺ فرمائی .تاسوا ے صحابو په هغه زمانه کښی ئی چاچه تاسو کښی پریخودل لسمه حصه د هغے نه چه ما درته حکم کړیدے۔ نو هغوی به تباه کیږی۔

"ثم یاتی زمان"۔ بیا به داسے زمانه راشی۔چاچه عمل اوکړو په لسمه د هغے چه ما درته حکم کړیدے خلاصیږی به۔ دحدیث مطلب دادے: صحابو که تاسو په لسو اوامرو کښی که یو امر پریخودو۔ نو تباه به شی۔ روستو خلق بیا لکه زمونږ زمانه په دے کښی چا په لسو اوامرو کښی یو امراومنلو۔ او نور ترینه ګډوډ شو۔ نو د هغه دپاره نجات دے۔

الکامل ۸ : ۲۵۴ په تعلیق کښی ئی وئیلے دی: چه دا حدیث ضعیف دے۔

په دے ظاهر باندے یو سوال دے: چه دا لس لس یادوی۔ نو ددے مطلب خو دا شو۔ چه چا په دوو ورځو کښی یو مونځ اوکړو۔ نو ډیره ده۔ ځکه دوو ورځو کښی لس مونځونه دی۔ لسو کښی یو اوکړه۔ امر دے: ﴿وَأَنْ أَقِیمُوا الصَّلَاةَ وَاتَّقُوهُ وَهُوَ الَّذِی إِلَیْهِ تُحْشَرُونَ﴾ (سورة الانعام : ۷۲)۔ حالانکے په دے کښی دے یو مونځ اونه کړو۔ نو خبره خطرناکه ده۔ نو دحدیث څه معنی اومطلب۔

(۱) : اول جواب : دادے۔ چه دا دے تعلق امر بالمعروف او نهی عن المنکرسره دے۔

(۲) : دویم جواب : شیخ الحدیث مولانا زکریا" التقریرالرفیع کښې لیکلے دی : چه د خپلو استاذانو نه اوریدلے دی۔ چه د حدیث مطلب د کیفیت بیان دے۔ یعنی اخلاص کوم کیفیت چه په صحابو کرامو کښې وو۔که په تاسو کښې د هغے لسمه اندازه باندے اخلاص پیدا شو۔دا ستاسو دپاره نجات دے۔ ځکه چه د صحابو کرامو اخلاص ډیر زیات وو۔ دغسے الکوکب الدری کښې هم دی ۔علامه طیبی" وائی : دا دے تعلق امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره دے۔ او دغه خبره مجدد الف ثانی" مکتوبات کښې هم کړے ده: مکتوبات ا:۱۹۳ مطبع نامی منشی نول کشور کانپور اصحاب را مخاطب ساخته فرمودند که شما در زمانی موجود شده آید که از اوامر و نواهی دهم حصه را ترک کنید هلاک شوید . . الخ۔

فضائل صدقات او صاحب د الحق الصریح

لیکی : فضائل صدقات وغیره کتابونو کښې اکثر خرافات دی۔ اوبے ځایه قصے دی۔ په [illegible] ے د امت اصلاح نه شی کیدے۔ په دے کتاب کښې د غیرالله نه مدد غوختلے شویدے۔ لکه یو کس بل سړی له اوښه ورکړے وه۔ اوبیائی ورله ذبح کړیده۔ اوبله ئی ورکړے ده۔ (ص : ٥٢٧)۔

وضاحت : داسے کتاب چه په هغے کښې د دوه سوه آیاتونه سره د ترجمے موجود وی۔ اوسلو ته نژدے احادیث په کښې وی۔ د هغے باره کښې عمومی حکم د اکثر خرافات لګول انصاف نه دے۔
علامه ابن عبدالبر" لیکی : مافی زماننا شیء اقل من الانصاف۔ (جامع بیان العلم)۔
(۲): فضائل صدقات ۷۱۲ باندے په شپاړسم نمبرد اوښ واقعه د خوب ده۔ خواب میں دیکھا' خواب دیکھنے والے نے خواب ہی میں' جب یہ اونٹ والا نیند سے اٹھا' اس خواب والے شخص نے کہا' خواب دیکھنے والے' اپنا خواب کا مجھے خواب میں کہا ـــ په دے واقعه کښې اته کرته د خوب لفظ دے۔ او د هغے نه شرعی حکم نه ثابتیږی۔ صرف ترغیب له دا واقعه ده ــ د فضائل نماز پینتو ۱۱۸ آخری عبارت دے ــ د حضرات محدثینو رحمهم الله په نزد د فضائلو په روایتونو کښې فراخی ده۔ اومعمولی ضعف قابل د معافی دے۔ باقی د صوفیانو رحمهم الله واقعات تاریخی حیثیت لری۔ اوښکاره خبره ده۔ چه د تاریخ درجه د حدیث درجے نه ډیره کمه ده۔ انتهی۔
(۳) : ده خوب کښې د اوښ ذبح کول لیدلے دی۔ (اس نے اٹھ کر اسکو ذبح کر دیا) ذبحه کړے ده ژوندی سړی چه کله هغه د خوبه پاسیدو۔ ځکه چه هغه ډیره زخمی وه۔ د ے کښې هیڅ مدد غوختل نه دی

راغلے۔ داجمله صحیح نه ده۔ چه بیائی ورله ذبح کړے ده۔ ذبح کړے مړی نه ده۔ ژوندی ده۔ په خوب کښی ذبح او زخمی لیدل ځان له دی۔ په ویخه د ژوندی ذبح کول ځان له مستقل بل صورت دے۔

(۴) : دا واقعه شیخ الحدیث صاحبؒ صرف د صدقاتو فضیلت له ذکر کړے ده۔ نور مقاصد ترے بعضے خلق په زوره راخکی۔ شیخ اعزاز علیؒ نفحة العرب کښی جود الخاتم الطائی په عنوان سره ۹۵ باندے د طالب علمانو د عربیت د ایزده کولو او د عربئ د الفاظو ځان سره ذخیره ساتلو دپاره ذکر کړیده فقط۔ "وجعل یر کض بقبره رجله" د نفحة العرب په عبارت کښی شته۔ لیکن فضائل صدقات کښی نشته۔ بلکه د هغے په آخر کښی شیخ الحدیث صاحب لیکی : اس میں کوئی محال (ممتنع امداد) چیز نہیں عالم ارواح میں اس قسم کے واقعات ممکن ہیں۔

(۵) : دا واقعه یوائے شیخ الحدیثؒ نه ده لیکلے بطور مثال درے حوالے ورکوم۔

(الف) : ذکر الزبیر فی الموفقیات ان الخیبری بن النعمان هذا نزل علی حاتم الطائی بعد ان مات وطلب منه القری فراه فی المنام ..الخ۔ (الاصابة فی تمیز الصحابة لابن حجرؒ ۱ : ۴۵۹)۔

(ب) : قال ابوبکر الخرائطی حدثنا علی بن حرب حدثنا عبدالرحمن بن یحی العدوی حدثنا هشام بن محمد بن السائب الکلبی عن ابی مسکین یعنی جعفر بن المحجر بن الولید عن المحرر مولی ابی هریرة قال مر نفر من عبدالقیس بقبر حاتم طائی فنزلوا قریبا منه فقام الیه بعضهم یقال له ابوالخیبری۔ (البدایه والنهایه ۲ : ۲۱۷)۔

(ج) : السیرة النبویة لابن کثیرؒ ۱ : ۱۱۵ باندے دی احیاء التراث۔

راقم الاثیم چرته ددغے واقعے په صحت قطعًا اصرار نه کوی۔ سند کښی کړبړ موجود دے۔ صرف دا وئیل غوارم چه دیو څو واقعاتو په وجه چرته د یو قیمتی کتاب اهمیت نه ختمیږی۔ څوك به دا جرأت اوکړے شی۔ الاصابة لابن حجرؒ د حافظ ابن کثیرؒ البدایه والنهایه او السیرة النبویه ته دے داسے نسبت اوکړی۔ چه اکثر په کښی خرافات دی۔

عدل کا جس کے بہت چرچا سنا تھا ہم نے
اس کے انصاف کے بھی کتنے ترازو نکلے

داسے وئیل صحیح دے۔ چه په کتاب کښی یوه خبره نیمه ضعیفه ده۔

(د) : علامه وحید الزمان غیرمقلد لیکی : مترجم کہتا ہے بلکہ نواب صاحب مرحوم نے تو اپنے دیوان میں یوں کہا ہے "قاضی شوکانی مددے"۔ (رفع العجاجة عن سنن ابن ماجة : ۶۸۵)

صرف داسے وئیل کافی نه دی۔ چه اهل حدیث د چا دغسے خبرے نه منی۔ یو پوستر به شائع کول حق پرستی وی۔ چه د قاضی شوکانی ' علامه وحید الزمان او نواب صاحب او خصوصًا حیاۃ المهدی او نزول الابرار کښی اکثر خرافات دی۔ اودابه بالکل د حقیقت سره برابر وی۔ چه فی نفسه په کثرت سره په کښی څه خبرے آوټ آف کورس دی۔

الحاصل : شیخ الحدیث د خوب واقعه د صدقاتو فضیلت دپاره د قرآن اوحدیث د ذکرشده د فضائلو نه بعد بیان کړے ده۔ د شرعی تنقید کوم حق دے۔هغه دے ورله ورکړے شی۔ افراط او تفریط غلط دے۔

ملحوظه : عبدالله بن عمر فرمائی : غلبتنی النوم فنمت ولم اکتبها فینا انا نائم فدخل ابیض الثیاب حسن الوجه طیب الرائحة فقلت ماهذا من ادخلك داری۔ دعوت بالسراج فنظرت فاذا القرطاس الذی نمت وهوعند راسی مکتوب ظهره وبطنه استغفرالله۔ (مرقات ٦ : ١٨١) ۔ د خوب مصداق باهر خارج کښی موجود وو۔ بخاری ۱ : ۲۰۴ باندے د عبدالله بن سلام خوب دے : فاستیقظت وانها لفی یدی ۔ د راویخیدلونه پس روستو: عبدالله بن سلام په لاس کښی هغه کړی وه۔

د خوب داسے غونډ واقعات علامه ابن قیمؒ ډیر ذکر کړیدی۔

د حکمت القرآن تفسیر وجه تسمیه د خوب نه شروع کیږی۔

یو کس خوب دے له ذکر کوی چه بشارت دے۔ او مسئله ترینه نه ثابتوی۔ نوداخو تول بیانوی۔

مولانا خان بادشاه صاحب مدظله کتاب لیکلے دے د شیخ صاحبؒ حالات په هغے کښی دی۔

د ابراهیم علیه السلام خوب کښی لیدل ذکر کړیدی۔ شیخ عبدالسلامؒ په خپله الدرالمفتون کښی خوبونه لیکلے دی۔ د گوانتاناموبی ماتے زولنے کښی غیرمقلد د مجاهدینو خوبونه ذکر کړیدی۔

تهذیب التهذیب کښی د یحی بن یحی چه ثقة ' امام تیر شویدے۔ حالاتو کښی دی : قال الحاکم سمعت ابا علی النیسابوری یقول کنت فی غم شدید فرایت النبی ﷺ فی النوم کانه یقول صر الی قبر یحی بن یحی واستغفر وسل تقض حاجتك فاصبحت ففعلت ذالك فقضیت حاجتی۔

دا غلطه او د قرآن وسنت نه خلاف واقعه ابن حجرؒ ذکر کړے ده۔ لیکن په دے د تهذیب التهذیب جامعیت کښی هیڅ فرق نه راځی۔

الردالوافر چه پښتو کښی نوم دے " د یا رسول آواز " مولانا امین الله : ۷ باندے لیکی : ماپه خوب کښی ددے کسانو رغړول او ذلیل کول لیدلے دی پس د استخارے کولو نه۔

داحدیث په دے دلیل دے۔ چه روستو به کمزورتیا راځی۔ او ''ایک نسبت دس'' دا کمزورتیا وی۔ قرآن کښې راځی کله تاسو جهاد کوے: ﴿یَا أَیُّهَا النَّبِیُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِینَ عَلَى الْقِتَالِ إِن یَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ یَغْلِبُوا مِائَتَیْنِ وَإِن یَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ یَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِینَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا یَفْقَهُونَ﴾

''ایک نسبت دو'' مقابله کوی۔ نور مفسرین وائی دا منسوخ دے لیکن زمونږ شیوخ وائی اوس هم استحباب شته۔: ﴿الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِیكُمْ ضَعْفًا فَإِن یَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ یَغْلِبُوا مِائَتَیْنِ وَإِن یَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ یَغْلِبُوا أَلْفَیْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِینَ﴾ (سورة الانفال: ۶۵، ۶۶)

ددے وجے نه ابن شبرمه چه د امام ابو حنیفهؒ هم عصر دے۔ د هغه قول ددے آیت د لاندے امام بخاریؒ نقل کړیدے۔ وقال ابن شبرمه وروای الامربالمعروف والنهی عن المنکر مثل هذا۔ (بخاری ۲: ۱۴۰)

شاه ولی اللهؒ پنځلسو کالو کښې فارغ شویدے۔ او حیران به شے د هغه کتابونو ته۔ اوس کمزورتیا ډیره راغلے ده۔ اود هغے وجوهات ډیر دی۔ غټه وجه د موبائیل ده۔ او خلق ئې خراب کړل۔ طواف به کوی۔ او ښځے سره به خبرے کوی۔ ناست به فضائل اعمال ته وی۔ اوفون به ورته اوشی۔ طالب ئې هم خراب کړو۔ مولانا تهانوی صاحبؒ لیکلے دی: زمونږ سره یو طالب وو۔ هغه سره یو منګے وو۔ چه خط به ورته راغے نو منګی ته به ئې واچو۔ اودغه شان به چه بل راغے۔ هغه به ئې هم واچولو۔ هلم جرّا۔ کال به تیر شو نو هغه خطونه به ئې راواغستل۔ او هغه به ئې اوکتل۔ نو دے سره په ذهن کښې تشویش راځی۔ هره ورځ ته د کورنه خبرئې۔

حدی را تیز تر می خواں چوں محل را گراں بینی
نوا را تلخ تر می زن چوں ذوق نغمه کم یابی

حدیث ۳۹: وعن ابی امامة قال قال رسول الله ﷺ ماضل قوم بعدهدی کانوا...الخ۔

جدل په دوه قسمه دے۔ جدل جګهړے ته وئیلے کیږی۔ الجدل اصل کښې قوت ته وائی۔

کافیه کښې دی: واجدل للصقر۔ اجدل تپس ته وائی۔ (۱): حق دپاره جدال کول۔ (۲): باطل دپاره کوی۔: ﴿قَالُوا یَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِینَ﴾۔ (سورة هود: ۳۲)۔ او حکم دے ﴿وجادلهم بالتی هی احسن﴾ (سوره النحل: ۱۲۵) ﴿وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا

بِالَّتِیْ هِیَ أَحْسَنُ ﴾ (سوره العنکبوت : ۴۶) ۔ درمختار کښې دی : المناظرة لنصرة الحق عبادة ۔
ملاعلی قاریؒ لیکی : د حدیث مطلب دادے : والمعنی ما کان ضلالتهم ووقوعهم فی الکفر الا بسبب الجدال وهو الخصومة بالباطل مع نبیهم وطلب المعجزة منه عنادًا او جحودًا وقیل مقابلة الحجة بالحجة ' وقیل المراد ههنا العناد' والمراء فی القرآن ضرب بعضه ببعض لترویج مذاهبهم وآراء مشایخهم من غیر ان یکون لهم نصرة علی ما هو الحق ' وذالك محرم لا المناظرة لغرض صحیح کاظهار الحق فانه فرض کفایة ۔ (مرقات) ۔
نبی ﷺ له الله تسلی ورکوی : ﴿وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴾ ۔ (سورة الزخرف : ۵۸) ۔ جدال برائے جدال فسادات پیدا کوی ۔

حدیث ۴۰ : وعن انس ان رسول الله ﷺ کان یقول لا تشددو علی انفسکم ..الخ ۔

تشدد مه کوے ۔ امام بخاریؒ یوه واقعه د سړو او بله واقعه د ښځو ذکر کړے ده ۔ ښځو به د شپے ډیوه راغوختله ۔ او کتل به ئی چه زما وینه صفا شوے ده او که نه ؟ ۔ لا حیض دے ۔ هغوی وائی دا تشدد دے ۔ دویمه د سړو واقعه ده : کان ابوموسی الاشعری یشدد فی البول ۔

تشدد او اشدیت کښې فرق

دا بعضے خلق وائی : پنج پیریان تشدد کوی ۔ تشدد او اشدیت کښې فرق دے ۔ اشدیت کوو خو تشدد نه کوو ۔ تعصب نه کوو ۔ او تصلب کوو ۔ تعصب ناحق کی پچ رکھنا (مولانا تھانویؒ تحفة العلماء) ۔ په غلطه خبره ټنګیدل دیته تعصب وائی ۔ تصلب دیته وائی : په حق باندے اودریدل ۔
تصلب پیغمبرانو کړیدے ۔ اشدیت دیته وائی : چه صحابه کرامو به خپلے جامی د مشرك نه دیخوا کولے ۔ دا اشدیت دے ۔ لانتم اشد رهبة فی صدورهم ۔ حدیث کښې دی : واشدهم فی امر الله عمر ۔
بعض خلق وائی : تشدد ئی شروع کړیدے ۔ غیر مقلدین وائی : تعصب کوی ۔ وائی فلانی ښه عالم دے خو چه تعصب ئی نه کولے ۔ دویمه داده : چه امام ترمذیؒ د فاتحے خلف الامام بحث کښې لیکی : وتشدد قوم من اهل العلم فی ترك قراء ة فاتحة الکتاب وان کان خلف الامام فقالوا لا تجزئ صلوة الا بقراء ة فاتحة الکتاب وحده کان یصلی خلف الامام ۔ (ترمذی مع العرف الشذی : ۷۱) ۔
شاه ولی اللهؒ د تشدد حقیقت داسے بیانوی : وحقیقته اختیار عبادات شاقة لم یامر بها الشارع کدوام الصیام والقیام والتبتل وترك التزوج وان یلتزم السنن والآداب کالتزام (اګرچه بخاریؒ اوبعض سلفو به کول)

الواجبات۔ (حجۃ اللہ البالغۃ ۱ : ۱۲۰) ۔ دغہ تشدد بدعتیان کوی۔ د سنتو اود جنازو نہ پس اجتماعی هیئت دعا باندے اصرار ئی کریدے۔

حدیث ۴۱ : وعن ابی ہریرۃ قال قال رسول اللہ ﷺ نزل القرآن علی خمسۃ اوجہ..الخ۔

خلاصہ د قرآن کریم ذکر کیری۔ قرآن کښی پنځہ اهمے خبرے دی۔ (۱) :حلال (۲) :حرام۔ (۳) : محکمات۔ (۴) : متشابهات۔ (۵): مثالونہ دی۔

د متشابهاتو نہ دلیل نیول د اهل زیغو کار دے۔ او مثالونو نہ بہ عبرت اخلے۔

(۱):حلال لکہ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ﴾۔(۲): حرام: ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ﴾۔ (سورۃ المائدۃ : ۱، ۳)۔ (۳) :محکم: ﴿قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ (سورۃ الانعام : ۱۵۱) ۔ (۴): متشابہ: ﴿وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾ (سورۃ الفجر : ۲۲)۔ (۵): امثال: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ﴾۔ (سورۃ الحج : ۷۳) ۔ دغسے : ﴿مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنكَبُوتِ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾۔ (سورۃ العنکبوت : ۴۱)۔

حدیث ۴۲ : وعن ابن عباس قال قال رسول اللہ ﷺ الامر ثلاثۃ امر بین رشدہ ...الخ۔

"الامر ثلثۃ": ۔ نبی ﷺ فرمائی : درے قسمہ خیزونہ دی درے قسمہ احکامات دی : ﴿قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ﴾۔ (سورۃ البقرۃ : ۲۵۶) ۔(۱) : هدایت کیدل واضح دی۔ (۲) : گمراهی واضحہ دہ ځان ساتل پکار دی۔ (۳) : وامر مختلف۔

داحدیث د هغے حدیث پہ شان دے چہ پہ کښی دی : الحلال بین والحرام بین وبینهما مشتبهات لا یعلمهن کثیر من الناس ۔ شیخنا المحترم علامہ جاجروی لیکی : د اختلاف یو څو وجوهات دادی۔ (۱) :آیات

متشابه (۲) : هغه مسائل چه دلائل په کښې مختلف دي. لکه اطفال المشرکین. (۳) : شریعت ئې تعین نه دے کړے. او اختلاف په کښې کوی. مثلاً قیامت به کله راځی. (۴) : معنی کښې د اشتباه د وجے حکم پټ وی. (۵) : د علماؤ د اختلاف او دلائلو په وجه ئې حکم پټ ښکاری.

الفصل الثالث

حدیث ۴۳ : عن معاذ بن جبل قال قال رسول الله ﷺ ان الشیطان ذئب الانسان ..الخ.

د ګډو او بیزو ماتونکے شرمخ دے. د انسان ماتونکے شیطان دے. د دنیا ځنګل کښې چرته شرمخ دربانده حمله اونه کړی. چه هغے ته شیطان وائی. لکه ګډان او بیزے چه ځنګل کښې یو ځائی اوسی اوګرځی راګرځی. نوزیات امکان دے. چه د شرمخ نه بچ وی.

حدیث کښې د ذئب تشبیه د شیطان سره ورکړے ده. دا" ذئب الانسان " د " ان " دپاره خبر دے. نو ذئب د انسان حقیقی صفت نه دے : د انسان په صفاتو کښې شرمخ نشته. داصفت مستعاره دے. چه کنایه ده د هلاکت نه. لکه حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی : د جاه اود مال د وجے نه چه کوم فساد راځی هغه زیات دے. ددینه چه دوه شرمخان اوګے کړے. اوپه ګډو اوبیزو ئې ورخلاص کړے. دوه اوګی شرمخان په ګډو او بیزو ورپریږدے. نو هغوی به دومره ورانے نه کوی. چه د جاه اود مال شرمخ چه خومره ورانے کوی. تشبیه په دوو څیزونو کښې ده (۱) : یو په هلاکت کښې (۲) : دویم په عداوت کښې. قرآن کښې هم دی : ﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾ (سورة الفاطر : ٦). څنګه چه په حسی ځنګل کښې ګډے د کنډك سره یو ځائی وی. اود هغے نه جدا نه شی نوبچ وی. دغسے دلته کښې انسان له پکار دادی چه دوی د امت مسلمه عام جماعت یو ځائی وی بچ به وی. تفرد به لکه د سامری نه اختیاره وی. چاچه تفرد یعنی جداپاتے کیدل اختیار کړل. داد هلاکت د اسبابو نه یو غټ سبب دے. ډیر ے ګډے یعنی د خیتے اود مفاداتود وجے جداکیږی ددے مصداق دا آیت دے : ﴿أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ﴾ (سورة النحل : ۹۲). اوپه دے وجه نبی ﷺ دا دعا خودلے وه. چه د کسل نه پناه غواړه.

مجموعة الفتاوی ۲ : ۱۷۹ کښې دا روایت شته. څکه نبی ﷺ وائی : علیکم بالجماعة. فان ید الله علی الجماعة وقال الشیطن مع الواحد وهومن الاثنین ابعد. ذکره البیهقی فی المجمع.

درے قسمه ګڼے او بیزے ئی اوخودلے .چه هغه شرمخ ته آسانیږی. (۱) : یوته شاذه وائی.
(۲) : دویمے ته قاصیه وائی (۳) : دریمے ته ناحیه وائی . په دے دربواړوکښی څه فرق دے.
(۱) : شاذه هغه ګڼے ته وائی : چه هغه د کنډك سره څر نه کوی. اوځانله جدا څریږی. لکه د لړی جدا پخیږی. د جماعت نه ئی نفرت ته خه کار ونیلے دے. (۲) : قاصیه ددے ګڼے نفرت نشته. کنډك ئی ډیرخوښ دے. خو څرئی ډیرخوښ دے. په خیټه ډیره مئینه ده. نودا وائی که چرته دے نورو ګڼو او بیزو سره په یوځائی څرکوم نوشیء به لږ خورم. نو راشه لږه جدا شه ددے نورونه. چه څه مزیدار څر اوکړم. په ډکه خیټه باندے مړه شم. (۳) : ناحیه داګډه خیټه وره هم نه ده. او مانوسیت ئی هم د کنډك سره شته. خو په دے کښی غفلت دے. هسے بے پرواه ده. ناراسته ناراسته کیږی. کنډك ته ځان نه شی رسولے. روستو روستو پاتی کیږی. نوشرمخ به راځی. او اوبه ئی خوری. دائی تشبیه ورکړه.
دکوم انسان چه دا رائی وی. چه زما د مسلمانانود جماعت سره نه لګی. ولے دے نه لګی. بس نه مے لګی. په دنیا کښی به دده تعلق یوښکلے جماعت سره وی. بغیرد جماعت نه ځانله وخت تیرول خه نه وی. اګرچه ستا عقیده ډیره مزیداره او بهتره وی. که ته داسے جماعت ګورے. چه په هغے کښی هیڅ قسم نقصان نه وی نودا نشته. خو چه په کوم کښی نسبةً کم نقصان دے. نو هغے طرف ته ځان نزدے کړه. او یوځائی شه ورسره. نو دا بعضے خلق ددے وجے نه تباه شویدی. تفرد ئی اختیار کړیدے. او شیطان ورته معمولی معمولی څه خرابی. هرجماعت کښی مخے ته کوی. او " خلا " نشته. یووخت به دا" خلا " ډکوے. هسے نه چه په یو بے کاره یا بدکاره یا نسبةً کم فائده مند جماعت کښی داخل شے.
اضوء المصابیح کښی دی : روایت مذکورہ سے موجودہ کاغذی جماعتوں اور تنظیموں کا جواز ثابت کرنا 'راوی حدیث کے فہم کے خلاف ہونے کی وجہ سے مردود ہے۔ (۲۴۷) . معلومه شوه : چه د مروجه فرقے تنظیم اهل حدیث دا کاغذی دے. او ۔ کہ خوشبو آنہیں سکتی کبھی کاغذ کے پھولوں سے ۔

حدیث ۴۴ : وعن ابی ذر قال قال رسول الله ﷺ من فارق الجماعة شبرًا فقد خلع ..الخ.

"شبرًا" : . کښی تنوین د قلت دپاره راغلے دے. دا کنایه ده د قلت نه. لکه حدیث قدسی کښی راځی : من تقرب الی شبرا . څوك چه ماته لیشت رانزدے شو . " من فارق الجماعة ساعة قلیلة " که د لږ ساعت دپاره د جماعت نه جدا شوے. "**فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه**" : . نو ده د اسلام کړی د خپل

څټ نه اوویستله۔ نو دے شتر بے مهارشو۔ چه په کومه غاړه لاړو۔

"ربقة الاسلام": ـ دامطلب نه دے چه د عاموانسانانو جماعت دے۔ اوداترے مراد واخلی۔ فرض کړه یو سړے ستا د جماعت نه هم لاړو۔ خو اسلام ئی نه دے پریخودے۔ خود ډیرو فوائدو نه محروم شی۔ حدیث کښې هغه صورت دے۔ چه بالکل ارتداد اختیار کړی۔ د مسلمانانولار پرېږدی۔ نو: ﴿وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾ (سورة النساء : ۱۱۵)۔ مصداق به اوګرځی۔

او د علامه ابهری قول مرقات کښې دے : مفارقة الجماعة ترك السنة واتباع البدعة۔

اوس ئی هم په کامل اسلام کښې خلل پیداکړو۔ ځکه چه۔

کند ہم جنس با ہم جنس پرواز　　کبوتر با کبوتر باز با باز

حدیث ۴۵ : وعن مالك بن انس مرسلاً قال قال رسول الله ﷺ ترکت فیکم ....الخ۔

مالك بن انس مشهور امام دے۔ "مرسلاً": ـ د فقهاء مرسل دیته وائی : چه تبع تابعی اووائی چه نبی ﷺ فرمائی ـ داد فقهاء مرسل دے ـ د محدثینو مرسل چه تابعی اووائی : قال قال رسول الله ﷺ ـ دا مشهوره معنی ده ـ د محدثینو په نزد باندے۔ مالك بن انس تبع تابعی دے۔ نو دلته حدیث کښې دوه راویان پریخودلے شویدی۔ نخبة الفکر کښې دی : چه کوم حدیث کښې مسلسل دوه راویان پرېږدی نو دغه روایت معضل وی۔ نو دا روایت معضل دے۔ ضعیف دی۔ مسند احمددا روایت راغستے دے جز ۲۸ ص ۱۷۴ باندے ـ التمهید د ابن عبدالبرؒ روایت راغستے دے جز ۱۰ ص ۱۸۴ : عن کثیر بن عبدالله بن عمرو بن عوف عن ابیه قال قال رسول الله ﷺ ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما۔ په بل سند کښې ددے کثیر راوی دے چه کثیربن عبدالله په نوم باندے یادیږی۔ مخکښې حدیث تیر شویدے چه امام شافعیؒ ورته د دروغوستن وئیلے وه۔

ثم ساق من طریق کثیر بن عبدالله بن عمرو بن عوف عن ابیه عن جده قال سمعت رسول الله ﷺ....وبهذا الاسناد عن النبی ﷺ انه قال ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنة رسول الله ﷺ۔
(اعلام الموقعین ۲ : ۱۷۳)

کنزالعمال کښې دا روایت شته دے۔ اول جز ص ۱۷۳ حدیث نمبر دے ۸۷۶ : ترکت فیکم شیئن لن

تضلوا ما تمسکتم بهما ـ دغه شان امام حاکم په مستدرك کښې د عرباض بن ساریه نه دا روایت نقل کړیدے ـ او ابن ماجه په مقدمه کښې دا روایت نقل کړیدے ـ په هغے کښې دا راځي : ترکت فیکم ما ان تمسکتم بهما لن تضلوا کتاب الله وسنة ـ د حدیث په مضمون باندے رد نه کوی ـ معنی او مطلب ئې صحیح دے ـ "ما تمسکتم بهما ": ﴿وَمَن يَعْتَصِم بِاللَّهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ .
(سورة آل عمران : ۱۰۱) ـ ﴿فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِي أُوحِيَ إِلَيْكَ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ (سورة الزخرف : ۴۳) .. ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾ ـ (سورة آل عمران : ۱۰۳) ـ
مقاما محمودا د عربي کتاب تعلیق او پښتو ترجمه محترم عبدالعزیز نورستاني کړے ده ـ تعلیق کښې ئې لیکلے دی : چه دا معضل روایت دے ـ مرقات کښې دی داسے به ئې وئیلے : کذا فی الموطا ـ د حدیث دا مطلب نه دے ـ چه اجماع یا قیاس په خپلو شرائطو حجت نه دے ـ دا هم حجت دے ـ

حدیث ۴٦ : وعن غضیف بن الحارث الثمالی قال قال رسول الله ﷺ ما احدث ..الخ ـ

د غضیف په صحابی کیدو کښې اختلاف دے ـ " بسنة " کښې تنوین د تقلیل دپاره دے ـ
مرقات کښې دی : بیت الخلاء په طریقه د نبی ﷺ باندے استعمالول دا فتمسك بالسنة کښې داخل دے :کاحیاء آداب الخلاء مثلاً علی ما ورد فی السنة ـ او دا مجدد مکتوبات کښې هم لیکلے دی ـ طهارت کښې به راشي ـ مجدد صاحبؒ لیکی : چه کوم کسان مدارس جوړه وی ـ اویه هغے کښې احیاء د سنت ئې مقصد نه وی ـ او بل کس بیت الخلاء ته ځی د سنت طریقے مطابق ـ دده اجر او ثواب ترے زیات دے ـ
علامه طیبیؒ وائی : ددے حدیث په رڼا کښې په الکاشف عن حقائق السنن کښې په دے مسئله کښې راز دادے : ان من راعی هذا الادب فانه یوفقه ـ څوك چه ددے آدابو خیال ساتی ـ الله ورله د اوچت کارونو توفیق ورکوی ـ آدابو ته سپك کتل نه دی پکار ـ په دے چه عمل کوی نو الله به ورله د اوچتو کارونو توفیق ورکړی ـ
دا روایت ضعیف دے ـ په دے کښې ابوبکر بن عبدالله دے ـ او جمع الجوامع کښې ئې دا روایت راغستے دے ـ نو په هغے کښې وائی ـ روایت نمبر۱۰۸۸ : ما احدث قوم بدعة ـ فیه ابوبکر بن عبدالله بن ابی مریم منکر الحدیث ـ (جمع الجوامع ۱۰ : ۲۱۲) ـ لیکن معنی ئې ثابته ده ـ
او په ۳۵۷ باندے دی : عمل قلیل فی سنة خیر من عمل کثیر فی بدعة ـ (الابانة ۲ : ۳۵۷) ـ
د سندرو شوقین ته نبی ﷺ قرآن په خوږ آواز وئیل خودلے دی : ویلك یاشاب هلا بالقرآن تغنی ـ
او شاه انورؒ فیض الباری ۴ : ۲٦۹ کښې په دے بحث کړیدے ـ په دے به د قرآن د غلبے د وجے ددغے غلط کار نه صبرشے ـ

حدیث ۴۷ : وعن حسان قال ما ابتدع قوم بدعة فی دینهم الا نزع الله من سنتهم ..الخ۔

" فی دینهم ": - ځکه وائی چه په دنیا کښې که ته نه وے شے پیدا کوے۔ نو دیته ایجادات وائی۔ دا بدعت نه دے۔ لکه چشمې دی جهاز دے۔ وغیره۔ دا دین نه دے دا دین دپاره زرائع دی۔ دا "احداث فی الدین" نه دے۔ دا " للدین " دے۔ **" لا یعیدها"**: - بیا به دوی ته دا د سنت مزه د قیامته پورے نصیب نشی۔ مثال ئی دا دے : چه اونه ده د جرړے نه کټ کړے۔ نو بیا به په کښې نه څانګه وی۔ اونه به په کښې میوی وی۔ نو چه کوم انسان چه د سنت خائسته میوه داره او د سوری اونه د بدعت په تبرسره کټ کړه۔ نو دا انسان به بیا د قیامته پورے د سنت نه محروم وی۔ او داسے زمانه به هم راځی چه خلقوته به سنت بدعت ښکاری۔ او بدعت به ورته سنت ښکاری۔

مظاهرحق کښې دی : سنت باندے عمل کول اګرچه په معمولی درجه وی۔ د بدعت پیداکولو او د عمل کولو نه غوره دی۔ اګرچه بدعت حسنه وی۔ ځکه چه د بدعت د وجے روح ګنده کیږی۔ سنت روح صفا کوی۔ او دماغ او زړه منور کوی۔ کچرته بیت الخلاء د سنت مطابق استعمال کړه۔ نوداسے مدرسو او مسافرخانونه به غوره وی۔ چه د سنت اهتمام په کښې نه کیږی ۔

الحق الصریح کښې دی : دا زمانه راغلے ده دا هغه زمانه ده بعینه اصل دین خلقوته نه دے معلوم شرح الوقایه او هدائی ته دین وائی۔ اودا مسائل په خلقو کښې رائج دی۔ چه په دے کښې بے شماره مسائل بے دلیله دی۔ اود قرآن او سنت سره ئی تکراؤ دے۔

وضاحت : د پیغمبرنوم باندے جوړه فقه کښې علامه وحید الزمان خومره دهوکه خلقوله ورکړے ده۔ چه د هغے ذکرقابل شرم دے۔ په دے نه کیږی۔ چه مونږ اهل حدیث د وحیدالزمان تقلید نه کوو یا داسے اوائی هغه څه شے دے۔ ددے نه زیات رد کول غواړی۔ چه کومه فقه حنفی سره د بغض کوم اظهار دوی خپل عادت منحوسه ګرځولے دے۔ مثلاً (۱): لوادخل ذکره فی دبرنفسه لا یلزمه الغسل الابانزال ۔ (نزل الابرار ۱ : ۲۴)۔ (۲):لوادخل اصبعه فی دبره فینتقض الوضوء ولوادخل آلة الاختنان اوختنه اوجدیرا او نحوه ثم اخرجها فان کان رطبه انتقض والا لا ۔ اما لوغیبها ینتقض مطلقا۔ (نزل الابرار ۱ : ۲۰)(۳) : اذا ولج فی فرج امرءة میتة المرجح فیه عدم الوجوب۔ (نزل الابرار : ۲۳) ۔ (۴) : بعض صحابه لکه ولید ، معاویه ، عمروبن العاص ، مغیرة او سمرة (رضوان الله علیهم اجمعین) ته ئی فاسقان وئیلے دی۔ (نزل الابرار ۳ : ۹۴) ۔ دا فقه چرته هم د نبی مختار نه شے کیدے۔

او کنز الحقائق کښې : ۲۳۴ باندے دی : ویستحب الترضی للصحابة غیر ابی سفیان ومعاویة وعمروبن العاص ومغیره بن شعبه وسمرة بن جندب ، ویستحب السکوت عن هؤلاء الخمسة وتفویض امرهم الی الله ولا یحسن سبّهم ولا مذمّهم۔

او کتاب المهدی ۱ : ۲۴ کښې مولانا وحید الزمان د ابن قیم مددی او د قاضی شوکانی مددی غلط

تاویل کریدے۔ چه ددے نه لغوی دعا مراد ده۔ فیجوز لغیر الله مطلقًا سواء کان حیًا او میتًا۔
معلو میږی د ترك تقلید باوجود داسے بعض خرافات د بعض نه صادر کیږی۔

حدیث ۴۸: وعن ابراهیم بن میسرة قال قال رسول الله ﷺ من وقر صاحب بدعة ..الخ۔

"من وقر صاحب بدعة": ۔ ابن حجرؒ وائی: د هر بدعتی دا حکم دے۔ که بدعت ته داعی وی او که نه وی۔ عزت د بدعتی څنګه دے؟۔ مرقات کښې ملا علی قاریؒ وائی: کان قام وصدره فی مجلس اوخدمه من غیر عذر یلجئه الی ذالك ۔ مثلا ادریدو ورته، د جلسې صدارت ئې ورله ورکړو، بے عذره ئې خدمت کوی۔ علامه طیبیؒ لیکی په الکاشف عن حقائق السنن کښې: من وقر المبتدع فقد استخف بالسنة ۔ چا چه د بدعتی عزت اوکړو۔ نو سنت ئې سپك اوګڼړل۔ چه بدعتی ته په خه نظر ګورے۔ نو د پیغمبر سنت ته سپك ګورے۔

مظاهر حق کښې دی: چه څوك د بدعتی تحقیر او تذلیل کوی۔ دا خبره ښکاره شوه۔ چه د سنت سره ئې محبت دے۔ ځکه چه داد اسلام د بنیاد د مضبوطولو سبب دے۔ په دے به ورله الله رب العزت بے شماره نیکۍ ورکړی۔

مختصر تاریخ دمشق دا روایت راغستے دے (٤ : ٢٨٣ طبع احیاء التراث) ۔ دا روایت کمزورے دے ۔ځکه چه حافظ محمد بن طاهر المقدسی په تذکره کښې دا روایت راغستے دے ۔ وهو متروك ۔ علامه البانیؒ وائی په تخریج د مشکوة کښې چه: ضعیف ۔ دائی سلسلة الاحادیث الضعیفة کښې دے۔ چه ضعیف ۔ الجامع کښې موجود دے۔

مولانا زبیر علی زی اضوء المصابیح: ۱۹۶ باندے لیکی: اس روایت کی سند بالکل صحیح ہے اور شیخ البانی وغیرہ کا اسے ضعیف قرار دینا غلط ہے ۔ او دلته: ۲۵۱ باندے پرے کلام کوی لیکی: سند ضعیف دے او حدیث صحیح دے ۔ او لیکی: حافظ ذهبی او علامه صفدی د واضح توثیق نه پس علامه البانی ئې چه د عباس بن یوسف د وجے سلسله ضعیفه کښې ۱۸۶۲ نمبر باندے راوړل عجیب و غریب دی۔ نیك او دیندار مقبول الروایت عباس بن یوسف ته ضعیف وئیل دا څه انصاف دے۔ سند حسن لذاته دے۔

ابو نعیم په حلیة الاولیاء کښې وائی: چه دا روایت د عیسی بن یونس دے۔ دارقطنی، ابن حجر، یحی بن معین، ابو حاتم، نسائی پرے هم کلام کوی۔ او بعضے علماء دیته حسن وئیلے دی۔ ځکه چه ددے شاهد شته۔ د حدیث تولے طریقے چه ګورے۔ نو حسن ته رسی۔

اهل البدع کلاب اهل النار تفرد به اسماعیل بن ابان رمی بالکذب ورواه الطبرانی فی الصغیر من طریق عبدالملك بن الاصمعی عن ابیه وهو منکر الحدیث ۔ (العلل : ٥٦)

ضیاء النور کښې شیخ صاحبؒ دا روایت صحیح کړیدے۔ امام طبرانی معجم کښې روایت داسے

راوړی : ومن مشى الى صاحب بدعة ليوقره فقد اعان على هدم الاسلام۔ (المعجم الكبير ۸ : ٦٧) ۔ تعلیق کښی دی : فيه ...وهو ضعيف قلت مدلس وقد صرح بالتحديث ' والعلة ليست عنه بل ان خالدًا لم يسمع عن معاذ والحديث رواه (ابونعيم فى الحلية ٦ : ٩٣) ۔ او من احيا سنة من سنتي قد اميتت كان له اجر من عمل بها۔ فيه كثير بن عبدالله تردد عن ابيه عن جده۔ (العلل المتناهية : ٤٥)

دالکامل فی ضعفاء الرجال ۳ : ۱٦٩ باندے په تعليق په دے روايت داسے کلام کوی۔ چه په روايت باندے کلام دے۔ نوپه آخرکښی ليکی : قال ابوحاتم صدوق سیء الحفظ۔ وقال ابن عدى تحتمل رواياته وقد تابعه على هذا الحديث عن هشام بن عروة ، الليث بن سعد اخرجه ابن عساكر فى تاريخه قلت وليس فى اسناده من تكلم فيه كما قال بعض اشياخي۔

حديث ۴۹ : وعن ابن عباس قال من تعلم كتاب الله ثم اتبع مافيه هداه الله من...الخ۔

"هداه الله " : ۔ معنی کوی علامه طيبیؒ په الكاشف کښی : امنه الله من ارتكاب المعاصى ۔ الله به ئی د ګناهونو نه بچ اوساتی۔ چه کوم کس د قرآن اتباع کوی۔ اود الله کتاب ايزده کړه۔ ناظره ' حفظ ' ترجمه او تفسير اوبيا په هغے عمل اوکړی ۔ د کتاب او د نبی په اتباع کښی د دواړو جهانو سعادتونه پراته دی۔ سهل بن عبدالله د اتباع الهدی نه د کتاب وسنت سره ملازمه اغستے ده۔

حديث ۵۰ : وعن ابن مسعود ان رسول الله ﷺ قال ضرب الله مثلا صراطا ...الخ۔

"صراطا مستقيمًا" : ۔ کښی اعتقاديات هم راځی۔ عبادات هم راځی : ﴿قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ (سورة الانعام : ۱۵۱) ۔ دغه دين دے غتے غتے خبرے ئی په کښی راجمع کړيدی۔ حديث کښی ئی دايو تشبيه ورکړے ده۔ دا اسلام د روډ پشان دے په منزله د يو ے لاری ئی واخله۔ اوپه دے کښی احکامات او حدود دی ددے مثال د پردو غوندے وی قرآن کښی راځی : ﴿تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾۔ ﴿تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا﴾۔ (سورة البقرة : ۲۲۹ ' ۱۸۷)۔ دا محرمات الهيه دا په منزله د ابواب مفتوحه باندے حساب کړه۔ درے تشبيهات شو۔ (۱) : اسلام د لارے غوندے واخله۔ (۲) : احکامات او حدود دا پردی دی۔ (۳) : او محرمات الهيه په منزله د ابواب مفتوحه شو۔

"**هوواعظ الله فى قلب كل مومن**" : ۔ د شيخ الهندؒ شعر دے :

انقلابات جہاں واعظ رب ہے دیکھو
ہرتغیر سے صدا آتی ہے فافہم فافہم

په دے دنيا کښی هر قسم تغير او مختلف احوال داد رب واعظان دی۔ لکه مالدار سړے ئی بيا د پولی

تړك ته کينی ـ غريب انسان وی اوس ورلـه الله ډيرمال ورکړو ـ ددے مثال په نزدے دورکښی نواب صديق حسن خان دے ـ خپله آپ بيتی نواب صاحب ذکرکوی : وحالی صارت کحاله فی هذا الحال ' فانی کنت امرء فقيرا فی اوّل امری ' واحدا من الخدام الرّياسة (الدولة) منسلکا فی زمرة الانشاء ' ثم فی نظارة المدارس الی ان اقتنت الرئيسة ايّاه من بينهم لهذا الشان الذی تراه ' وعملت فی هذه الحالة تفسيرا فی اربع مجلدات ' وانفقت عليه من المعلوم ما بلغ خمسًا وعشرين الفًا (ربية) ولله الحمد ـ (التاج المکلل : ۱۹۰) ـ

څوك د ډيران نه تخت ته اوڅوك د تخت نه تختے ته او پهانسی اوقيد ته اورسوی ـ علامه طيبیؒ ددے روايت په تشريح کښی داخبره ذکرکړيده چه کله کله د دلائلو تعارض په موقع کښی څه ابهام انسان ته رائحی ـ د هغے وجے نه شبهے پيدا کيږی ـ دده په زړه کښی ـ نوپه دغه وخت کښی ډيرزيات احتياط پکار دے ـ ددغے پردوخواله مه ورځه ـ مثال ئی داسے دے : کراع حول الحمی يوشك ان يقع فيه ـ

حديث ۵۱ : وعن ابن مسعود قال من کان مستنا فليستن بمن قد مات فان الحی ... الخ ـ

د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مرتبه د فقاهت او علمی مقام د خلفائے راشدينو نه روستو ده ـ نبی ﷺ به کله کله ددوی تذکره په ابن ام عبد سره کوله ـ او پيغمبر ددوی باره کښی فرمائيلے وو ـ چه دده دا نرے نرے پنډۍ به د وزن په وخت کښی د اُحد دغرنه هم درنے وی ـ (تاريخ بغداد ۱ : ۱۴۸) ـ صحابه کرامو به د ترمذی د روايت مطابق دوی داسے گنړلو لکه چه د کورسړے وی ـ د نبی عصا ' نعلين او بالخت به دوی د هغوی سره گرځولو ـ ددوی دورکښی چونکه اکثرصحابه وفات شوے وو ـ نو ځکه فرمائی : فليستن بمن قد مات ـ يعنی د صحابو کرامو په طريقه روان شی ـ

علامه قاضی عياض په الشفاء کښی ليکلے دی : ومن توقيره ﷺ وبره توقير اصحابه وبرهم ومعرفة حقهم والاقتداء بهم وحسن الثناء عليهم والاستغفار لهم ـ (۲۵۰) ـ

د پيغمبرانو نه ئی پس مقام د صحابو دے ـ صحابه د پيغمبر د درسگاه نه فارغ شويدی : ﴿ أُوْلَئِكَ كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُوْلَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ (سورة المجادلة : ۲۲) ﴿ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴾ (سورة التوبة : ۲۰) ، ﴿ أُوْلَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ ﴾ (سورة الحجرات : ۷) ، ﴿ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ﴾ (سورة الانفال : ۴) ، ﴿ أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴾ (سورة الحجرات : ۱۵ ، سورة الحشر : ۸)

الـموسوعة الـقرآنية الفرائد الربانية د ابو زكريا شيخ عبدالسلام" ناشرمنهج السلف الصالحين ١ : ٩٨
باندے دی : لان الحق ان قول الصحابی وعمله حجة شرعية بشروطه ۔
واضحه دے وی د عبدالله بن مسعود زیربحث روایت کښی داسے الفاظ دی : فـان كـان مقلدا لامحالة فليقلد الميت ويترك الحی فان الحی لا تؤمن عليه الفتنة ۔
اعلام الموقعين ١ : ١٧ قال زيد بن وهب كنت جالسا عند عمر فاقبل عبدالله فدنا منه فاكب عليه و كلمه بشیء ثم انصرف فقال عمر كنيف ملیء علما ۔ وقال الاعمش عن ابراهيم انه كان لا يعدل بقول عمر و عبدالله اذا اجتمعا فاذا اختلفا كان قول عبدالله اعجب اليه لانه كان الطف ۔
مجمع الزوائد : ٧٢ نسخه قدیمه او جدیده : ١٨٧ باب الاقتداء بالسلف د لاندے روایت دے : عن مصعب بن سعد قال كان ابی اذا صلی فی المسجد يجوزواتم الركوع والسجود واذا صلی فی البيت اطال الركوع والسجود والصلوة قلت يا ابتاه اذا صليت فی المسجدجوزت واذا صليت فی البيت اطلت قال يا بنی انا ائمة يقتدی بنا ۔ (رواه الطبرانی فی الكبير ورجاله رجال الصحيح ۔ او دا وقعه المعجم الكبيرللطبرانی کښی ١ : ١٠٥ باندے شته ۔ بتخريج حمدی عبدالمجيدسلفی ۔
لا تـقـلـدوا دينكم الرجال ۔ (السنن الكبرى للبيهقی ٢ : ١٠ اسناده حسن از عبدالله بن مسعود) ۔ اوهم په دے صفحه د مشکوة غوندے روایت د عبدالله بن مسعود نه داسے دے : لا يقلدن احدكم دينه رجلا فان آمن آمن وان كفر كفر وان كنتم لابد مقتدين فاقتدو بالميت فان الحی لا يؤمن عليه الفتنة ۔ رواه الطبرانی فی الكبير ورجاله رجال الصحيح ۔ او لالكائی په شرح اصول اعتقاد اهل السنة کښی لیکلے دی : عن عبدالله بن مسعود لا تقلدوا دينكم الرجال فان ابيتم فبالاموات لا بالاحياء ۔ (اسناده صحيح) ۔
او داده عبدالله بن مسعود رضی الله عنه تواضع ده ۔ چه صحابه یادوی اوخپل ذکرنه کوی ۔ لکه سیدنا یعقوب علیه السلام خپل ځوی یوسف علیه السلام ته اوفرمائیل : ﴿ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلَىٰ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ (سورة يوسف : ٦)
۔ ۔ اوخپله تذکره ئی د ډیر تواضع د وجے اونه کړه ۔
الاصابة فی تميز الصحابة : ١٠ باندے علامه ابن حجر" لیکی : ابوزرعة الرازی قال اذا رايت الرجل ينتقص احدا من اصحب رسول الله ﷺ فاعلم انه زنديق ۔ وذالك ان الرسول حق والقرآن حق وماجاء به حق وانما ادی ذالك كله الينا الصحابة ۔

حافظ ابن کثیرؒ د سورۃ التوبۃ آیت ۱۰۰: ﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ﴾ دلاندے لیکی : فیا ویل من ابغضهم او سبّهم او ابغض او سب بعضهم۔ روستوبیا لیکی : وهذا يدل على ان عقولهم معكوسة وقلوبهم منكوسة۔ فاين هولاء من الايمان بالقرآن اذ يسبون من رضى الله عنهم ؟ واما اهل السنة فانهم يترضون عمن رضى الله عنه ويسبون من سبه الله ورسوله ويوالون من يوالى الله ويعادون من يعاد الله وهم متبعون لامبتدعون ويقتدون ولا يبتدون وهولاء هم حزب الله المفلحون وعباده المومنون۔

"مستناً" :۔ مقتديا بطريقة جارية على غاية السنن والاعتدال۔ (فتح اله)۔

حدیث کښې مناقب صحابه

(۱) : ابرها قلوبا ای احسنها قلوبا ۔ د زړه په اعتبارسره نیکان ځکه دی چه مخلصین دی۔ اود ایمان اود حق معیار دی۔ (۲) : اعمقها علما ۔ سطحی او کم اوپره علم فتنے پیدا کوی۔ ژوراو ډونګے علم قابل تعریف وی۔ علامه شاطبیؒ لیکی : چه د رسومو اوعاداتوتابعداری د خواهش تابعداری کچه او ناقص علم فتنے پیدا کوی۔ (کتاب الاعتصام)۔ (۳) : اقلها تکلفا ۔ د تکلفاتونه بالکل نا آشنا وو۔ یا په کښی کم وو۔ صحابو کښی د ظاهر باطن په اعتبار سره تکلف بالکل نه وو۔ اونه د علم وعمل او اعتقاد په اعتبار سره ۔ اونه د اخلاقو په اعتبار سره تکلف وو۔ قرآن کښی راځی : ﴿وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ﴾ (سورة ص : ۸۶)۔

علامه نیشاپوریؒ په غرائب القرآن کښی د تکلف درے علامات خودلے دی۔ (۱): ینازع مَن فوقه۔ (۲) : ویتعاطی مالاینال۔ (۳) : ویقول مالم یعلم ۔ خپله به نبی ﷺ تکلف نه کوو۔ ابوداود کښی روایت دے چه هغه بوډۍ ښځه چه ځوی ئی مړ شوے وو۔ اونبی ﷺ ورته تسلی ورکوله۔ او د هغے د نه پیژندګلوپه وجه ئی نبی له نامناسب یو جواب ورکړو۔ چه کله معذرت پیش کولوله د نبی ﷺ کورته لاړه : فما وجدت عنده بوابین۔ څه باډی ګاډ ئی نه وو۔ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : الصبر عند الصدمة الاولی۔

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به ځان پسے روستو دوه کسان نه پریخودل۔ چه دا هسے تکلف دے۔ ثرثارون، متشدقون او متفیهقون د نبی نه وو خوښ۔ او د الله رب العزت نه دی خوښ۔

علامه ابن الحاجؒ لیکی : ان عبدالله بن عمر لماان دخل الخلاء ورآى ذباباقد وقع على فضلة كانت هناك ثم طار ووقع على ثوبه فعزم انه يغسل موضع الذباب اذا خرج فلماان اراد غسله اشفق من ذالك قال والله ما اكون

باول من احدث بدعة فی الاسلام۔ (مدخل ۱ : ۶۰)۔
عبدالله بن عمر رضی الله عنه دغسے ورع یو تکلف اونکړلو۔ او مسروق فرمائی : چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه : ﴿وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ﴾ اولوستلو او بیا ئی اوفرمائیل : من علم بشیء فلیقل به ومن لم یعلم فلیقل الله اعلم۔
(۴) :مرقات کښې ملاعلی قاری لیکلے دی : انهم کانوا یمشون حفاة ۔ کله کله به خپے ابله تلو۔ څه د پاسه لس صحابه د سیدنا سعد بن عباده رضی الله عنه تپوس له تلل۔ خپل حالت ذکرکوی : ما علینا نعال ولا خفاف ولا قلانس ولا قمیص۔ (مسلم باب الجنائز)۔
(۵) : ویصلون علی الارض۔ په قیمتی قالین او جائے نماز باندے ئی د مونځونو کولو عادت نه وو۔
(٦) : ویاکلون من کل آنیة۔ د هریو لوښی نه به ئی خوراك کولو۔ خوښ او نا خوښ به ئی په کښې نه کول۔(۷) : ویشربون من سور الناس۔ د خلقو او د ملګرو صحابه جوته اوپاتے شوے څیز نه به ئی نفرت نه کوو۔ د بل پاتے شوے اوبه به ئی څکلے۔(۸): ولا یجتمعون للغناء والمزامیر ۔ تنګ ټکور، دوړی، باجے، شپیلی او موسیقی باندے به نه راجمع کیدل۔(۹) : ولا یتحلقون للاذکار ۔ د نن صبا د غلطو پیرانو په شان د ذکر حلقے به هغوی نه جوړولے۔ دا اوسنی غلط پیران ذکربالجهرباندے حلقے جوړولو ته د اهل السنت والجماعت شعار وائی۔ صحابو نه په کور او مسجد کښې په ذکر آواز نه دے پورته کړے۔
دابعضے پیران په حلقه کښې په مرید آثرغورځوی۔
نزهة المجالس د شیخ عبدالرحمن الصفوری الشافعی کتاب دے طبع قاهره ۱ ۔ ۵۳ باندے لیکی :
السلحفاة لا تحضن بیضها بل تنظر الیه فیوثر نظرها فیه فیصیر فرخا فکیف اذا نظر الخالق الی عبده المومن۔
دوی داسے وائی : چه شمشتی په اګو خپل آثرغورځوی۔ نو بچی ئی پیدا کیږی۔ نو مونږ مشائخ هم نظرغورځو۔ دلته د الله نظر یادوی۔ نه د پیر۔ او داده چه د مجلس اود عام نظر د فیضان نه انکار نشته۔

یہ مکتب کی کرامت تھی یا کہ فیضان نظر تھا   سکھائے کس نے اسماعیل کو آداب فرزندی

د صحیح پیر د مجلس د آثر، آثر ښکاره کیږی۔ خودا جعلی هیئت سره کتل جعلی معلومیږی۔
د نبی ﷺ د مجلس خائسته آثار دے حدیث کښې بیان شو۔
"اختارهم الله": ۔ صحابه الله غوره کړیدی۔ لکه څنګه چه نبی ﷺ خپله الله غوره کړیدے۔
غیث السحابة کښې شیخ عبدالسلام الرستمی السلفی ۹۹ باندے روایت راوړیدے : وروی عویم بن

ساعد وقال قال رسول اللہ ﷺ (ان اللہ تعالی اختارنی واختارلی اصحابی فجعل لی منھم وزراء ' واختنانا واصھارا -(قرطبی ۱۶ : ۲۹۷) - علامہ ابن تیمیہؒ لیکلے دی : چہ یہود موسٰی علیہ السلام اود ھغہ ملگروتہ ' عیسایان عیسٰی علیہ السلام اود ھغہ ملگروتہ غورہ وائی - لیکن ددے امت بعضے بدبخت شیعہ گان د نبی ﷺ صحابوتہ د تولونہ خراب کسان العیاذ باللہ وائی - اوداھم علامہ ابن تیمیہؒ منھاج السنۃ ۱ : ۱۴۱ کښې لیکلے دی : اولئك يتبعون عليا وابن مسعود -

دزیربحث حدیث تشریح کښې علامہ طیبیؒ لیکلے دی : کہ څوك خپلہ اجتھادی مادہ لری - اود قرآن وسنت نہ د استنباط اھل وی - داخہ خبرہ دہ - اوکہ نہ وی د صحابو اقتدابہ کوی - داد ھدایت ستوری دی الحق الصریح شرح کښې دی : پہ دے حدیث کښې پہ مقلدینوباندے رد دے - چہ امام ابو حنیفہ یا شافعی پسے روان دی - اوصحابہ کرام ئی پریخودے دی - څوك چہ تقلید تہ دعوت ورکوی - ھغہ ددے جلیل القدر صحابی پہ ضدباندے روان دے - اووائی دا اتباع د صحابو پہ ھغہ څہ کښې دہ - چہ د قرآن او سنت نہ خلاف نہ دی -

وضاحت : شیخ عبدالسلامؒ لیکلے دی اگرچہ خہ ئی نہ دے کړی چہ : كان ابن عمر جيد الحديث ولم يكن جيد الفقه - (غیث السحابۃ : ۱۸۰) - لیکن دومرہ معلومہ شوہ چہ د حدیثو مھارت مستلزم د فقھے مھارت لہ نہ دے -

اضوء المصابیح : ۲۶۴ باندے دی : یہ کہنا کہ محدثین کرام فقہاء نہیں تھے بہت بڑا جھوٹ ہے -

احناف و شوافع دے ائموپسے څکہ روان دی - چہ دوی مجتھدین دی -

اوغیث السحابۃ : ۲۱ باندے دی : لان العالم المجتهد لايجوز له التقليد -

اصل کښې د صحابو آراء خوارہ وارہ وو - مدون ومبوب اصولًا او فروعًا نہ وو - مھذب و منقح شوے - صاحب الحق الصریح خپلہ لیکلے دی : ولا يقدر العوام عليه بل يجب عليهم اتباع الذين سبروا وبوبوا فهذبوا ونقحوا وجمعوا وفرقوا وعللوا وفصلوا - (تحفۃ المناظر یا تناقضات المقلدین : ۲۶ باندے دا دلچسپ تحقیق لیکلے دے) -

د عبداللہ بن مسعود رضی اللہ عنہ یاد نورو صحابہ کرامو دغہ شان یو مذھب ' مھذب ' منقح ' مبوب ' معلل او مفصل نشتہ - کہ فقہ عمر وغیرہ شائع ھم وے - د شاہ ولی اللہ اقوال راجمع کړیدی - او ابویحی الامام خان نوشھروی ئی ترجمہ کړے دہ - لیکن د تحفۃ المناظر پہ ھیئت کذائیہ ھغہ نہ دی راجمع -

غیاث الام فی السیئات الظلم د امام الحرمین ابو المعالی الجوائنی المتوفی ۴۷۸ هجری کتاب دے : ۲۹۶ باندے لیکی : وبیان ذالك انه اذا ثبت مذهب ابی بکر الصدیق فی واقعة ....فلیس للعامی المقلد ان یؤثر تقدیم مذهب ابی بکر۔ او۔ ۲۹۷ باندے لیکی : فمن ظهرله وجوب اتباع مذهب الشافعی لم یکن له ان یؤثر مذهب ابی بکر علی مذهبه وهذا متفق علیه اذ لو لا ذالك لتعین تقدیم مذهب ابی بکر فی کل مسئلة نقل مذهبه فیها ثم مذهب عمر ثم هکذا علی حسب ترتیبهم فی المناقب والمراتب۔

دویم وضاحت : غیث السحابة : ۷۵ باندے شیخ عبدالسلام سلفیؒ لیکلے دی : قال نعیم بن حماد ' حدثنا ابن المبارك قال سمعت اباحنیفةؒ یقول : اذا جاء عن النبی ﷺ فعلی الرآس والعین۔ واذا جاء عن الصحابة نختارمن اقوالهم واذا جاء عن التابعین زاحمناهم ۔ نود امام ابو حنیفةؒ مختار او مفتی به مسلك کنبی د صحابو اقوال هم په دلالت تضمنی سره داخل دی۔ او الانصاف : ۳ باندے دی : ثم انهم تفرقوا فی البلاد فصار کل واحد منهم تقتدی ناحیة من النواحی۔ داد شاه ولی اللهؒ کتاب دے۔

دریم وضاحت : شاه ولی اللهؒ هم د مدون او محرر کیدلو شرط لګولے دے لیکی : ان هذه المذاهب الاربعة المدونة المحررة ۔ (حجة الله) ۔ اود څلورمے صدی نه مخکبنی د مذهب معین په تقلید څو مثالونه د وضاحت دپاره کافی دی۔ (۱): وکیع بن جراح المتوفی ۱۹۷ هجری کان یفتی برأی ابی حنیفة۔ (جامع بیان العلم ' تهذیب او تاریخ بغداد بذل المجهود : ۳) ۔ (۲) : اسماعیل بن اسحاق الازدی المتوفی ۲۸۰ هجری فقیها علی مذهب مالك۔ (تاریخ بغداد ۶ : ۲۸۴) ۔ (۳): کان اسد بن عمرو صدوقا و کان یذهب بمذهب ابی حنیفة المتوفی ۱۸۸ هجری (تاریخ بغداد ۷ : ۱۸)۔ (۴) :حماد بن اسحاق الازدی المتوفی ۱۷۰ هجری ' مالکی مذهب ئی وو ۔ (تاریخ بغداد ۸ : ۳۷۱) ۔ (۵) :حارث بن مسکین م ۲۵۰ هجری کان فقیهًا علی مذهب مالك۔ (۸ : ۳۷۱)۔ (۶) : بشر بن نصر الفقیه ' تاریخ بغداد ۲ : ۲۰۲ دے د امام شافعی په مذهب وو۔ (۷) :محمدبن عبدالله المتوفی ۳۳۸ هجری فقیها عارفا بمذهب ابی حنیفة ۔ (تاریخ بغداد ۵ : ۴۵۱) ۔ دا مثالونه کافی دی۔ چه د څلورمی صدی نه مخکبنی نفس دمذهب متعین تقلید وو۔ اودا څومره غټ علماء دی۔ المقلد لا یسمی عالما خبره مطلقا غلطه ده۔ اودا په السلسلة الضعیفة ۲ : ۱۸ کنبی ضعیفه خبره هم ده۔

الأحتجاج بالأثر د علامه تویجری طبع دار الافتاء ' والدعوة والارشاد کنبی لیکی : قال ابن محمود فی : ۸ : المقلد لا یعدمن اهل العلم۔ والجواب : اذا کان علماء السلف ومن بعدهم من سائر العلماء فی کل عص...

عندابن محمود وھو لا یعد المقلد من اھل العلم فمن ھم العلماء ومن ھم المحققون اذًا ۔ (۷۹) ۔

علامہ ابن حزم بارہ کښی امام ذھبیؒ لیکی : چہ دہ بہ وئیل : انا اتبع الحق واجتھد ' ولا اتقید بمذھب قلت نعم من بلغ رتبۃ الاجتھاد وشھد لہ بذاک عدۃ من الائمۃ لم یسغ لہ ان یقلد ۔ آخرکښی لیکی : کیف یطیر ولما یریش.

(سیر اعلام النبلاء ۱۲ : ۳۹۰) ۔

سوال : اصحاب مذاھب خووفات دی ؟ جواب : التقریر الرفیع کښی د علامہ آلوسیؒ د جلاء العینین پہ حوالہ یوقول داذکرکړیدے ۔ چہ د میت پہ تقلید کښی اول قول د جمھورو دادے ۔ چہ دا جائز دے ۔ ځکہ چہ : المذاھب لا تموت بموت اربابھا ۔ (۲) : امام نوویؒ لیکلے دی : الصحیح جوازہ لان المذاھب لاتموت بموت اصحابھا ۔ (مجموع شرح مھذب ۱ : ۱۱۹) ۔

علامہ ابن قیمؒ لیکلے دی : والاقوال لا تموت قائلھا بموت قائلھا کما لا تموت الاخبار بموت رواتھا وناقلیھا. (اعلام الموقعین ٤ : ۲۷۵ وھکذا فی ھدیۃ المھدی : ۱۱۲) ۔

امام الحرمین الجوینی ابوالمعالی غیاث الامم کښی لیکی : یجوزان یقول قائل مذاھب الائمۃ لا تنقطع بموتھم ... الخ ۔

سوال : چاوئیلے دی چہ عامی یعنی غیرمجتھد ظاھرحدیث نہ شی اغستے ۔

جواب : کفایہ شرح ھدایہ کتاب الصوم کښی دی : العامی اذا سمع حدیثا لیس لہ ان یاخذہ بظاھرہ لجوازان یکون مصروفا عن ظاھرہ ۔

سوال : فقھے او فقہ حنفی مثلًا قدوری داپہ کوم سندتاتہ رسیدلے دہ ۔ چہ یقین پرے کوے ؟ ۔

جواب : علامہ ابن تیمیہؒ لیکی : وھذا مثل غالب المسائل التی توجدفی الکتب المصنفۃ فی مذاھب الائمۃ مثل القدوری والتنبیہ والخرقی والجلاب غالب مافیھا اذا قیل ذکرہ فلان علم انہ مذھب ذالک الامام وقد نقل ذالک سائر اصحابہ وھم خلق کثیر ینقلون مذھبہ بالتواتر وھذہ الکتب فیھا مسائل أنفردبھا بعض اھل المذھب وفیما نزاع بینھم لکن غالبا ھو قول اھل المذھب ۔ (منھاج السنۃ ٤ : ٥۹) ۔

علامہ ابن القیمؒ لیکی : اذا کان عندالرجل الکتب المصنفۃ فیھا قول رسول اللہ ﷺ واختلاف الصحابۃ والتابعین فلا یجوز ان یعمل بما شاء ویتخیر فیقضی بہ ویعمل بہ حتی یسأل اھل العلم ما یؤخذ بہ فیکون یعمل علی امرصحیح ۔ (اعلام الموقعین ۱ : ٤٦) ۔

اعلام الموقعین ۴ : ۲۹۸ باندے لیکی : الفائدة الثامنة والاربعون اذا کان عندالرجل الصحیحان او احدهما او کتاب من سنن رسول الله ﷺ موثوق بما فیه فهل له ان یفتی بما یجده فیه ؟ ۔ فقالت طائفة من المتاخرین لیس له ذالك لانه قد یکون منسوخًا او له معارض او یفهم من دلالته خلاف ما یدل علیه او یکون امر ندب فیفهم منه الایجاب او یکون له عامًا له مخصص او مطلقًا له مقید فلا یجوز له العمل ولا الفتیا به حتی یسأل اهل الفقه والفتیا وقالت طائفة بل له ان یعمل به ویفتی به ... الخ۔ آخرکښې لیکي : والصواب فی هذه المسئلة التفصیل فان کانت دلالة الحدیث ظاهرة بینة ۔ نه بعد لیکي : وان کانت دلالة خفیة لا یتبین المراد منها لم یجز له ان یعمل ولا یفتی۔ تفصیل اعلام الموقعین کښې ذے۔

حدیث ۵۲ : وعن جابران عمربن الخطاب رضی الله عنه اتی رسول الله ﷺ بنسخة. الخ۔

"فسکت" :۔ رسول الله ﷺ غلے شوے وو۔ داد غصے د وجے نه۔ **"فجعل یقرء"** :۔ لوستل ئې شروع کړه۔ هغه وئیل که دا څه بیان کړم۔ نو رسول الله ﷺ به خوشحاله شي۔

"ووجه رسول الله ﷺ یتغیر" :۔ او د نبی ﷺ به مخ مبارك بدلیدو۔ د غصے آثار په کښې راتلل۔

"فقال ابوبکر" :۔ ابوبکر رضی الله عنه د نبی ﷺ مزاج پیژنده۔ هغه ورته اووئیل

" ثکلتك الثواکل" :۔ دا عرب وائي۔ اومطلب دا نه اخلي چه مور دے په تا باندے بوره شي۔ لوردے مړه شه۔ خور دے مړه شه۔ داد عربو محاوره ده۔

"فقال رسول الله ﷺ والذی نفس محمد ﷺ بیده لوبدالکم موسیٰ" :۔ فرض کړه که تاسو ته چرته موسیٰ علیه السلام ښکاره شي۔ هغه اوس د ښکاره کیدو نه دے۔ هغه تلے دے د دنیا نه۔ خو فرض کړه دا خو تورات دے۔ که صاحب تورات را ښکاره شو۔ **"فاتبعتموه وترکتمونی"** :۔ که تاسو د هغه تابعداري اوکړه۔ اوځه خو پریخودم۔ **"لضللتم عن سواء السبیل"** :۔ د صحیح لارے نه به ګمراه شے۔ د ګمراه کیدو یوه وجه نبی ﷺ دا اوخودله۔ چه تاسو ما پریږدے۔ او سیدنا موسیٰ علیه السلام تابعداري اوکړے۔ **"ولو کان حیا"** :۔ بالفرض والمحال که چرته هغه ژوندے وے۔ که موسیٰ علیه السلام زما د نبوت هغه مدت حاصل کړے وو۔ نو زما تابعداري به ئې کولے۔ هغه وعده ترینه اغستے ده۔ نبی ﷺ باره کښې تولو انبیاء کرامو نه وعده اغستے ده : ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ

لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَٰلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ ﴾.

(سورة آل عمران : ۸۱).

په دے کښې راوی مجالد ضعیف راوی دے. العلل المتناهیه لابن الجوزی. (تالیف علامه ذهبیؒ).
او شواهد ضعیفه ئی شته. که صحیح هم شی نو د حدیث مقصد مونږ ته ښکاره شو. پیغمبر پریږدی او سیدنا موسیٰ علیه السلام پسے ځی. پیغمبر پریږدی او امام پسے ځی. مجتهد پسے ځی. دا تفسیر مظهری کښې مفسرددے آیت دلاندے لیکلے دی : ﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴾. یو طرف ته د پیغمبر خبره وی. اوبل طرف ته د امام خبره وی. نو د امام خبره به نه منے. ددے وجے نه دا روایت زمونږ احنافو په تقلید چه څوک فټ کوی. داځکه صحیح نه دے. مونږه وایو داد امام صاحب قول دے. او په دے هیڅ حدیث او آثرنشته دے. او ټول احادیث ددے خلاف دی. دا تقلید غلط دے. حق الصریح والا لګیا دے. دلته وائی : د حدیث په مقابله کښې په دے امامانو کښې د یو امام تابعداری کول. سبب د ګمراهی ګرځی. انتهی.
خو لیکن امامان د حدیث مقابلے له نه دی راغلے. د حدیث توضیح کوی امامان دوی شارعان نه دی شارحان دی. هغوی شرح د قرآن اود حدیثو کړے ده.
مولانا عبدالحی لکهنویؒ لیکی : واما انه لا یترك قول الحنفیة مطلقا وان خالف الحدیث صریحًا، فهو قول خال عن التحصیل، لا یرتضی به رب التكمیل، فلیس قول من اقوال الحنفیة مخالفًا بالكلیة لجمیع الاحادیث الصحیحة، لا اقول انه لیس قول من اقوال المشائخ المدرجة فی كتب الحنفیة لا سیما الفتاوی التی هی كالصحاری مخالفًا بالكلیة، بل اقول لیس قول من اقوال ابی حنیفة وتلامذته و مستفیدیه ارباب المناقب العلیة مخالفًا لها بالكلیة ـ آخر کښې لیکی : ومن ادعی ان قولاً من اقوالهم یخالف جمیع الاحادیث الصحیحة الصریحة ولا یوافقها بوجه من الوجوه المرضیة ولیست منهم روایة اخری ـ نو خبره په دے ختموی چه د وعدے د تصدیق مثال غوارم. (تذکرة الراشد ۲۹۵ تا ۲۹۶).
مرقات کښې دی :وفی الحدیث نهی بلیغ عن العدول من الكتاب والسنة الی غیرهما من كتب الحكماء والفلاسفة.

حدیث ۵۳ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ کلامی لا ینسخ کلام الله و کلام الله ...الخ۔

حدیث ۵۴ : وعن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ ان احادیثنا ینسخ بعضها بعضًا ...الخ۔

الناسخ والمنسوخ چه د عبدالقاهر البغدادی کتاب دے۔ په تحقیق علمی د کامل عبدالهادی شائع دے. د امام احمد بن حنبلؒ او د اسحاق بن ابراهیم الحنظلی قول نقل کوی : من لم یعرف الصحیح والسقیم من الحدیث والناسخ والمنسوخ من القرآن والسنة لا یکون عالمًا۔

او سیدنا علی رضی الله عنهے به فرمائیل : لا یفتی الناس الا من عرف الناسخ والمنسوخ۔

الله تعالی د یو آیت صرف تلاوت یائی حکم یا دواړه ځکه موقوف کړی۔ چه د هغے د نفاذ مدت ختم شوید ے.

دواړو حدیثونو کښی مسئله د نسخ ده۔ دواړو حدیثونو کښی څلور خبرے راغلے۔ دا دوه خبرے خو اتفاقی دی۔ (۱) : د قرآن کریم بعضے آیتونه بعضوله منسوخه وی۔ (۲) دویمه خبره : بعضے احادیث بعضوله منسوخ کوی ــ دے دو یو شان صورتونو کښی اتفاق دے ــ اختلاف په اختلافی صورتونو کښی دی۔ (۳) : احادیث قرآن لره منسوخ کوی۔ (۴) : قرآن احادیثوله منسوخ کوی او که نه کوی۔ دے آخری دوو صورتونو کښی د شوافعو مسلك دادے : چه احادیث د قرآن دپاره ناسخ نه شی جوړیدے۔ خلق به وائی : چه دالله اودرسول خبرے د یوبل نه خلاف دی۔

احناف وائی : حدیث متواتر ، او مشهور د قرآن دپاره ناسخ جوړیدے شی۔ مثال : " لا وصیة لوارث " دا مشهور روایت دے۔ چه وارث له ئی د وصیت حکم منسوخ کړو۔ ځکه د مواریث حصص مطلقًا وو۔ تفهیم المسائل کښی شیخ گوهر رحمن صاحب په دے روایت بحث کوی : لاوصیة لوارث ۔ ته تلقی بالقبول او د تواتر عملی درجه حاصله ده۔

البدائع والصنائع ۷ : ۳۳۰ کښی دی : هو عندنا خبر التواتر لاستفاضته وشهرته فی الامة وتلقی الفقهاء ایاه بالقبول واستعمالهم له وجائز عندنا نسخ القرآن بمثله اذا کان فی خبر مایوجب العلم والعمل من الآیات۔

نو د ورثو دپاره د وصیت فرضیت منسوخ شوید ے۔

علامه ابن قیمؒ لیکلے دی : کما وقفنا علی صحة قول رسول الله ﷺ لا وصیة لوارث ....ولکن ما تلقتها الکافة عن الکافة غنوا بصحتها عندهم عن طلب الاسناد ۔ (اعلام الموقعین ۱ : ۲۲۲)۔

د وصیت اثبات قرآن کښی مطلق دے ۔ او په سنت کښی والدین او د نورو ورثو په حق کښی وصیت

منسوخ دے۔ گویا د حدیث "لاوصیة لوارث" د وجے د قرآن دغه حکم منسوخ شو دے ته (۱): نسخ القرآن بالحدیث ۔ وائی۔ (۲): نسخ السنة بالقرآن ۔ په سنت سره د قرآن نسخ باره کښې د امام احمد دوه روایات دی۔ او امام شافعیؒ "کتاب الرسالة کښې په سنت سره د نسخ القرآن مطلقًا عدم جواز طرف ته قول نقل کړیدے۔

نبی ﷺ شپاړس یا اوولس میاشتے بیت المقدس طرف ته مونځ کړیدے۔ بخاری کښې دی: انه ﷺ صلی بیت المقدس ستة عشر شهرًا او سبعة عشر شهرًا ۔ اود مسلم یو روایت اود نسائی روایت کښې ستة عشر شهرًا په جزم سره دے۔ او دغه حکم: ﴿فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ (سورة البقرة: ۱٤٤) ۔ سره منسوخ شو۔ (۳): یا نسخ الحدیث بالحدیث لکه حافظ ابن حجرؒ شرح نخبة الفکر کښې مثال ورکړیدے: کنت نهیتکم عن زیارة القبور الا فزوروها۔

(۴): نسخ القرآن بالقرآن ۔ کله کله د قرآن یو آیت بل منسوخ کوی۔ لیکن اصل کښې دا تخفیف دے۔ لکه قرآن کښې راځی: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ﴾۔ (سورة الانفال: ٦٥) ۔ دا نسبت ۱۰ مقابله یووخت کښې فرض وه۔ بیا روستو راځی: ﴿الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾. آخر کښې تخفیف راغے۔ او ۱ نسبت ۲ مقابله ده۔ بعض ورله د نسخ حکم ورکوی ۔ مشایخ وائی چه اوس هم ۱ نسبت ۱۰ مقابله که اوکړے شی مستحسنه او مستحبه ده ۔ عام مفسرین دامثال ورکړیدے۔ چه سورة بقره: ۲٤۰ کښې دی: ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ﴾ ۔ دا آیت منسوخ دے۔ په بل آیت چه: ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾۔ (۲۳٤) ۔ ناسخ او منسوخ دواړه آیتونه په سورة البقرة کښې دی۔ او احناف وائی: چه نسخ په اصل کښې د حکم بیان دے۔ نه د حکم تبدیلی۔ د نسخ تفصیلی بحث له دد ے عاجز" کتاب الاصول الامدادیه فی فهم العلوم القرآنیة" ته رجوع کښې به زیات فوائد ان شاء الله حاصل شی۔

دنسخ تعریف: النسخ عبارة عن خطاب الشارع المانع من استمرار ما ثبت من حکم خطاب شرعي سابق۔
(الاحکام للآمدی ۳ : ۱۵۵)

"کنسخ القرآن": ۔ دلته دوه توجیه دی (۱) : د نسخ مصدر اضافت مفعول ته شویدے۔ "قرآن" په ترکیب کښې مفعول دے۔ (۲) : د نسخ اضافت فاعل ته دے۔ او قرآن مفعول دے۔
التقریر الرفیع کښې د لمعات نه نقل دی : ان جعل النسخ مضافا الی المفعول فیکون دلیل الحنفیة یعني ان الاحادیث کما ینسخ الاحادیث کذالك نسخ القرآن۔

وضاحت : ئی دادے چه زمونږه احادیث خپلو کښې یوبل داسے منسوخ کوی۔ لکه چه دا حدیثونه قرآن منسوخ کوی۔ اوس دا حدیث د مخکښې حدیث ناسخ شو۔ اودغه د احنافو او د مالکیو دلیل جوړیږی۔

دویمه توجیه : داده چه د مصدر اضافت فاعل ته دے یعنی د قرآن بعضے حصه بعضے منسوخ کوی۔ او دا اتفاقی صورت دے۔ ځکه چه دا "نسخ القرآن بالقرآن" شو۔

"لاینسخ کلامي": ۔ دے حدیث نه شوافع استدلال کوی۔ چه مطلقًا زما کلام چه حدیث دے۔ د الله کلام نه شی منسوخ کولے ؟ لیکن

اول جواب : داحدیث "کلامی لا ینسخ" ضعیف دے۔ په دے کښې جبرون بن واقد افریقی راوی دے بلکه بعضوو رته موضوع هم وئیلے دے۔
(اسعدالمفاتیح لشیخنا الجاجروی بحواله میزان ۱ : ۳۸۷ ' او تخریج المشکوة لزبیر علی زي : ۱۰۰)۔

دویم جواب : دا حدیث عام کوه مه۔ صرف "منسوخ التلاوت" ترې واخله ۔ او احناف هم وائی :حدیث د قرآن آیت منسوخ التلاوت نه شی جوړولے۔
دریم جواب : ددے نه د نبی ﷺ اجتهاد مراد دے۔ نبی ﷺ صرف په خپل اجتهاد د قرآن یو آیت نه شی بدلولے۔ قرآن کښې هم دی : ﴿قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآءِ نَفْسِيٓ﴾۔ (سورة یونس : ۱۵)
او "ان احادیثنا ینسخ" روایت منکر او ضعیف جدًا دے۔
اکثر متقدمین د نسخ د لفظ اطلاق تخصیص باندے کوی۔ علامه ابن حجر او حافظ ابن قیم ددے اصطلاح ذکرکړیدے۔ لیکن متاخرین د ثبوت نه بعد د حکم رفع نسخ ګنړی۔ او د عام لفظ مخصوص معنی یا د مقصد بیان ته تخصیص وائی۔

تفسیر قرطبی ۱ : ۱۹۳ کښې : ﴿ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَه ﴾ ـ آیت په وضاحت کښې دی : ان یکون النسخ هناك بمعنى التخصيص فكثيرا ما يطلق المتقدمون النسخ بمعناه ـ

دیو څیز نسخ په دے امرباندے دلالت کوی. چه د نسخ نه مخکښې دغه منسوخ څیز مراد هم وو. او تخصیص عقلًا و نقلًا دواړه قسمه جائز دے. او نسخ صرف نقلًا جائز دے. او نسخ بعض یا کُل دپاره د اخراج باعث کیدے شی. او تخصیص خو صرف د بعض دپاره کیدے شی.

حدیث ۵۵ : وعن ابی ثعلبة الخشنی قال قال رسول الله ﷺ ان الله فرض فرائض ..الخ.

"وسکت عن اشیاء" : - بعضے عالمان او خصوصًا بریلیان مطلقًا ددے نه دا ثابتول غواړی. چه اصل په اشیاء کښې اباحت دے. شرح الاشباه والنظائر د علامه حموی کښې داسے بحث کوی : وفی شرح المنار للمصنف الاشياء فی الاصل على الاباحة عند بعض الحنفية ' منهم الكرخى وقال بعض اصحاب الحديث الاصل فيها الخطر ـ وقال اصحابنا الاصل فيه التوقف ـ بمعنى انه لابد لها من حكم لكنا لم نقف عليه بالعقل ـ انتهى ـ وفى الهداية من فصل الحداد ان الاباحة اصل ـ انتهى ـ (۱ : ۲۲۴) ـ

لیکن د عموم اباحت تعلق د عباداتو سره نه دے. بلکه هغه منافع او څیزونه یادوی. چه د افعالو او تصرفاتو سره ئی تعلق دے. ځکه اباحت یو شرعی حکم دے. شرعی دلیل به درله لکه د استحباب پکار وی. او درمختار کښې په باب استیلاء الکفار کښې دی : الصحيح من مذهب اهل السنة ان الاصل فى الاشياء التوقف والاباحة رأى المعتزلة ـ او شاه ولی اللهؒ هم لیکی : ان الشريعة ان لا تعرف الا بالنقل والاستناد ـ (عقد الجید) ـ او شرح عقیدة الطحاویة کښې دی : العبادات مبناها على الاتباع دون الهوى والابتداع ـ او ابن الهمام الاسکندری ورسره التحریر : ۲۳۵ طبع مصر ۱۳۵۱ھ کښې قید لګوی : الاباحة بمعنى عدم العقاب على الاتيان بما لم يوجدله محرم ـ او ابن ماجه کښې چه معاذ رضی الله عنه ته نبی ﷺ کوم وصیت کړیدے. په هغے کښې دی : ان اشكل عليك امر فقف حتى تبينه او تكتب الى فيه ـ (ص : ٦ باب اجتناب الراى والقياس) ـ علامه جیون لیکی : ان الاصل فى الاشياء الاباحة كما هو مذهب طائفة بخلاف الجمهور فان عندهم الاصل هو الحرمة ـ (تفسیر احمدی : ٦) ـ

تفهیم المسائل کښې علامه محمد بشیر الدین قنوجی په دے مسئله تفصیلًا بحث کړیدے. ۱۲۷ باندے لیکلے دی : بحر العلوم ملا عبد العلی در شرح تحریر ابن ہمام بعد بیان مقصودش می نویسد فليس زمان يكون قبل البعثة حتى يصح النزاع بل النزاع انما هو فى زمان الفترة وهو زمان اندرس فيه شرع رسول سابق وما اتى رسول آخر ـ انتهى ـ دریں مسئلہ اقوال اصولیین وفقہاء بسیار متزلزل وباہم تخالف آنچہ بعد تحقیق وتنقیح معلوم می شود آنست کہ مذہب منصور وقول جمہور توقف است ومذہب معظم حنفیہ حرمت ...الخ

دویم بحث : الحق الصریح کښې دی : په دے بحث منهی عنها کښې د مجتهدینو بحث کول په معرفت د احکام شرعیو کښې او صحیح قیاس کول۔ او دلالات النصوص معلومول نه دی داخل۔ بلکه دا کار د مجتهدینو دپاره ضروری دے۔ ددے نه منع نشته۔

او دغه محترم د الحق الصریح ۸ : ۵۴۲ باندے لیکی : چه دین الله هو احق بالقضاء ۔ دا حدیث د شرعی قیاس په حجت دلیل دے۔ احناف هم دغه صحیح او شرعی قیاس ته حجت وائی۔

شاه انورؒ لیکلے دی : وابعد ابن حزم حیث شدد الکلام فی القائسین ومن دان دینهم۔ قلت : کیف والقرآن قد اتی علیهم ایضا۔ (فیض الباری ٤ : ٥٠١) ۔ د قیاس نه یو علامه ابن حزم انکار کوی۔ دغسے داؤد ظاهری هم قیاس نه منی۔ اصول الجصاص کښې "باب ذکر الادلة علی اثبات الاجتهاد والقیاس" ۲ : ۲۰٦ طبع دار الکتب العلمیة بیروت کښې دی : ثم تبعهم (نظام) رجل من الحشو وتجاهل لم یدرما قال هو ولا قال هولاء وآخذ طرفا من کلام النظام وطرفا من کلام بعض متکلمی بغداد من نفاة القیاس فاحتج به فی معنی القیاس والاجتهاد مع جهله بما تکلم به الفریقان من مثبتی القیاس ومبطله وقد کان ینفی مع ذالك حجج العقول ویزعم ان العقل لاحظ له فی ادراك شیء من علوم الدین فانزل نفسه بمنزلة البهیمة بل هو اضل منها کما قال الله تعالی : ﴿ ان هم الا کالانعام ﴾۔ تعلیق کښې الدکتور محمد تامر تآمر لیکی : چه داسے الفاظ دے شیخ داود ظاهریؒ له مناسب نه دی۔ رجلًا صالحًا عالمًا دینًا ورعًا مثل داود ظاهری ۔ اوځه هم قیاس منم خوده ته بهیمه مه وائی۔ لیکن وضاحت دادے : چه غیرمقلدین د اعلام المؤقعین ۲ : ۱۷۷ باندے دا قول نقل کوی چه : لا فرق بین بهیمة تنقاد وانسان یقلد ۔ د تآمر صاحب د اصحب التمور په دے نقل به هم پکاروی۔ چه خفه شی ۔ واضحه دے وی۔ چه دا قول دابن قیمؒ اصل کښې د علامه ابن عبدالبرؒ دے۔ لیکن د قیاس په اثبات کښې علامه ابن عبدالبرؒ منکرینو ته خره وئیلے دی۔

لاتکن کالحماریحمل اسفا رآ کما قد قرء ت فی القرآن

ان هذا القیاس فی کل امر عند اهل العقول کالمیزان

صحیح بخاری مع فتح الباری ۱۳ : ۳۵۴ د علامه ابن عبدالبرؒ قول علامه ابن حجرؒ ذکر کوی۔ او فتح

الباری مع البخاری ۵ : ۲۵۳ باندے لیکی : اول من انکر القیاس ابراهیم النظام وتبعه بعض المعتزلة وممن ینسب الی الفقه داود بن علی وما اتفق علیه الجماعة هو الحجة فقد قاس الصحابة ومن بعدهم۔

شاه انورؒ فرمائی : قلت ان اکثر الصحابة رضی الله عنهم کانوا یعلمون بالقیاس الجلی ولا اراهم یتاخرون عنه حتی قال ابن جریر الطبری ان انکاره بدعة۔ (فیض الباری ٤ : ٥٠٨)۔

نواب صدیق حسن خان صاحب لیکی : (قیاس شرعی) جمهور صحابه وتابعین وفقهاء ومتکلمین بآں رفته اصل از اصول شریعت و استدلال۔ (افادة الشیوخ : ۱۲۲) ۔صحیح البخاری مع فتح الباری ۱۳ : ۳۵۴ باندے علامه ابن حجرؒ لیکلے دی : القیاس انما ینکر اذا استعمل مع وجود النص والاجماع لا عند فقد النص والاجماع۔

داهم حقیقت دے۔چه اصلی دلیلونه قرآن و سنت دی۔او اجماع و قیاس د تشریح دین دپاره دی۔او په قرآن وسنت باندے د دین تکمیل شویدے۔اهل الحدیث چه ځان ته وائی هرځائی لیکی : اهل الحدیث کے دو اصول "اطیعوا الله واطیعوا الرسول"۔په دے اجمالی دعوی دهوکه کیدل نه دی پکار۔دوی هم اکثریه اجماع اوقیاس منی۔

لطیفه : اضوء المصابیح کښی یو لطیفه ئی لیکلے ده : ہمارے ایک دوست معصم خان غورغشتوی سے ایک شخص نے کہا : اگر تم بھینس کا حلال ہونا ثابت کردو تو میں ایک لاکھ روپے انعام دوں گا معصم خان نے کہا : اگر تم حرام ہونا ثابت کرو تو میں دو لاکھ روپے انعام دوں گا وہ شخص مبہوت ولا جواب ہوکر چپ ہوگیا۔لیکن راقم الأثیم وائی : چه معصم خان به ورته د الحق الصریح او فتاوی خالص دلائل بیان کړے وو۔او یو لاکھ روپے به ئی گټلے وے۔لطیفه کښی لطیفه جوړه شوه۔د مسند فردوس په حواله به ئی لاکھ روپے گټلے وے۔

كتاب العلم

امام رازیؒ خپل کتاب الانوار فی حقائق الاسرار کښې ليکلے دی: چه د امت محمديه مدوّن علوم شپيته دی ـ او شيخ احمد بن مصطفى طاش کبری پنځه سوه ذکر کړے دی ـ طاش کبری مفتاح السعادة کتاب ليکلے دے ـ

امام بخاریؒ باب تړلے دے: باب العلم قبل القول والعمل .د قول اود عمل نه مخکښې علم پکار دے. چه کومه خبره کوے چه علم درسره وی ـ چه کوم کارکوے چه علم درسره وی.نود علم اهميت دے.دَ دين په ټولو انفرادی او اجتماعی اعمالوکښې په عقائدو او عباداتوکښې په معاملاتو، معاشرت او اخلاقوکښې د علم اهميت مسلم دے، ځکه علماء وائی: چه بغير د علم نه عمل کول دا مستقل جهالت دے.

(ربط): اول بحث ايمانيات وو ـ د هغے ذکرئی اوکړو ـ نوروستو د طهارة اود مونځ بحث راروان دے ـ نود هغے نه مخکښې علم ضروری دے ـ نو ځکه ئی د علم بحث شروع کړو ـ

د امام ابو حنيفةؒ او د امام مالكؒ په نزد باندے د دے علم نه لوئی شغل بل نشته ـ تردے چه د جهاد نه هم د علم مشغوليت اوچت دے ـ د فرض عين جهاد نه نه دے ـ اود فرض کفائی جهاد نه علم مخکښې دے ـ (منهاج السنة ٣ : ٤١٩ وهكذا فی فيض الباری) ـ

د امام احمدؒ مسلك داد ے: چه جهاد د ټولو نه اوچت دے ـ بيا د هغے نه بعد علم دے ـ

وعن سلمان قال النبی ﷺ لا يزال الناس بخير ما بقی الاول حتی يتعلم الآخر فاذا هلك الاول قبل ان يعلم او يتعلم الآخر هلك الناس ـ (الرحمة المهداة: ١١) ـ

محمد بن فضلؒ د امام ترمذیؒ استاد دے ـ شمائل ترمذی کښې ددوی يو روايت دے ـ چه امام ترمذی سند سره يو حديث نقل کړو ـ اوئے فرمائيل: قال محمد بن فضل قد سالنی هذا الحديث يحی بن معين اول ماجاء نی ، محمد بن فضل د حديث سند شروع کړو ـ حدثنی حماد بن سلمة ـ ورته ئی اووئيل لو كان من كتابك ـ ماته به اطمينان حاصل شوے وو ـ ما وے صحيح ده ـ فقمت لأخرج فلما قمت اخذ علی ثوبی ـ اوماته ئی اووئيل: امليه علی ـ زبانی فی الحال راته واوره ـ انی اخاف ان لا القاك ـ محمد بن فضل فرمائی اول ما ورته زبانی واورو ـ بيا ما ورته د کتاب نه واورو ـ دومره سلف په علم حريص وو ـ

ابن المدينیؒ فرمائی: قيل للشعبی من اين لك هذا العلم كله ؟ قال بنفی الاعتماد والسير فی البلاد وصبر كصبر

الجمال وبکور کبکور الغراب ۔ (تذکرۃ الحفاظ ۱ : ٦٤)۔

سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنه فرمائی : سمعت النبی ﷺ یقول اعز عالمًا او متعلّمًا او محبًّا ولا تکن الخامسة فتهلك ' والخامسة ان تبغض اهل العلم واهله ۔ د مجمع الزوائد روایت رجال ثقه دی ۔ او الآداب الشرعیة لأبن مفلح" او العلم لأبی خثیمة کښې دی : وقال ابن مسعود ان احدکم لم یولد عالمًا ' وانما العلم بالتعلم وقال اعز عالمًا او متعلمًا او مستمعًا ولا تکن الرابع فتهلك ۔

علامه ابوحاتم محمد بن حبان روضة العقلاء ونزهة الفضلاء کښې د امام شعبی" قول نقل کړیدے : انما کان یطلب هذا العلم من اجتمعت فیه خصلتان العقل والنسك ۔ او د سیدنا ابوالدرداء رضی اللہ عنه قول ئی نقل کړیدے : لا تکون عالمًا حتی تکون متعلما ولا تکون بالعلم عالمًا حتی تکون به عاملًا۔

جمع الجوامع کښې ۳ : ۷۴ حدیث : ٧٤٠٦ دا روایت دے : ان اهل الجنة یحتاجون الی العلماء فی الجنة وذالك انهم یزورون اللہ فی کل جمعة فیقول لهم تمنوا علی ما شئتم فیلتفتون الی العلماء فیقولون ما ذا تمنی علی ربنا فیقولون تمنوا علیه کذا و کذا فهم یحتاجون الیهم فی الجنة کما یحتاجون الیهم فی الدنیا ۔

لیکن تنزیه الشریعة : ۱۷۴ باندے ورته موضوع وئیلے دے ۔

اول علم ازده کړه بیا په هغے باندے عمل اوکړه ۔ بیا هغه بل ته اوښایه ۔

ابوهریرة رضی اللہ عنه فرمائی : لان اعلم بابا من العلم فی امر ونهی احب الی من سبعین غزوة فی سبیل اللہ تعالی ۔ که څه د علم یو باب زده کړم ۔ چه د هغے تعلق د اوامرو اود نواهی سره وی ۔ دازما ډیر خوښ دے ۔ د اویا غزاګانو نه د اللہ په لار کښې ۔

سفیان ثوری" فرمائی : چه د فرائضو نه روستو د علم د مشغولیت نه اوچت شغل بل نشته ۔

کتاب المجموع شرح المهذب للنووی" ۱:٦٥ کښې د علم په باره کښې داخبرے کړیدی ۔ او امام نووی" وائی : چه په دے اتفاق دے چه علمی شغل نفلی مونځ ' نفلی روژے نه غوره دے ۔(شرح مهذب ۱ : ٦٢)

علامه عینی" کتاب العلم ۲:٥٦ باندے لیکی : چه زماشیخ شرف الدین عیسی سرماری د درس دوران کښې فرمائیلے دی : ان المراد من العلماء المؤحدون ' وان الجنة لیست الا للموحدین الذین یخشون اللہ تعالی.

(عمدة القاری)

علامه عینی" کتاب العلم کښې د امام شعبی" قول نقل کړیدے : لوان رجلاً سافر من اقصی الشام الی اقصی الیمن لحفظ کلمة تنفعه فیما بقی من عمره لم ار سفره یضیع ۔

د علماؤ قسمونه

حافظ ابن کثیرؒ وائی : علماء په درے قسمه باندے دی (۱) :یو هغه عالم دے عالم بالله و بامر الله.
(۲) : چه عالم بالله وی و بامر الله نه دے. (۳) عالم بامرالله دے او عالم بالله نه دے.
(۱) : عالم بالله و بامرالله دیته وائی : چه الله ورله خائسته علم ورکړے وی. عقیده ئی سمه ده. ذات او صفات ئی پیژنی. دا عالم بالله دے. وبامر الله احکامات او عظائم د هغے نه خبر دے. فقیه هم دے. دا عالم بالله وبامرالله دے. (۲) : عالم بالله دے خو بامرالله نه دے. عقیده ئی سمه ده ذات او صفات پیژنی په ایمانیاتو باندے پوهه دے. نور ورله څه نه ورځی. د هغے نه نه دے خبر. دا دویم قسم دے. دمخکښی هغے نه ئی مرتبه کمه ده. (۳) : عالم بامر الله دے خو عالم بالله نه دے. او عقیده ئی سمه نه ده. دا بیکاره دے. د عالم نه مراد په دے ځائی کښی هغه نه دے چه په نحو میراو په صرف باندے پو هیږی. د علم نه مراد دلته علم شرعی دے. او ددغے علم شرعی ضرورت دے. انسان به ئی ترمرګه حاصلوی. ابن خلکان ۷۶۵ نمبرباندے د امام ابو حنیفةؒ قول خپل تاریخ کښی لیکلے دے فرمائیل ئی : من ظن انه یستغنی عن التعلم فلیبك علی نفسه. (۴۰۸).
علم د انکشاف المعلوم لدی العالم نوم دے. او دا امر اضافی دے. عقل ئی انتزاع کوی. د مدرِك او د مدرَك داسے تقابل چه د دواړو مینځ کښی پرده ختمه شی. علم ددغے حجاب د پورته کیدلو نوم دے. علم د الله په صفتونو کښی اهم صفت دے. الله العلیم ، العالم ، او العلام دے ﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ﴾ (سورة الحجر: ۸۶، سورة یس: ۸۱)، ﴿إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ﴾ (سورة المائدة: ۱۰۹، ۱۱۶، توبة : ۷۸، سباء: ۴۸)
بعض علماء وائی : العلم ادراك الشیء بحقیقته. دے (مفردات) . دے کښی د شیء د ذات ادراك هم راځی. او دے ته هم شامل دے. الحکم علی الشیء بوجود شیء هو موجود له او نفی شیء هو منفی عنه.
علامه ابن قیمؒ په اعلام الوقعین ۲ : ۲۵۰ کښی د امام احمدؒ یو قول نقل کړیدے. که چرته علم نه وے : کان الناس کالبهائم - دا انسان به د څناورو په شان وے. انسانان چه د څناورو نه ممتاز دی. نو هغه په علم سره دی. بیا فرمائی : چه انسان طعام ته او شراب ته دوه ځله محتاج کیږی او علم ته په هرآن کښی انسان محتاج دے. حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښی لیکلے دی : چه د علم نه مراد علم شرعی دے. علم شرعی : معرفة مایجب علی المکلف - د هغے علم معرفت چه په انسان باندے واجب دے. د دین په امر کښی که د هغے تعلق د عباداتو سره وی. اوکه د معاملاتو سره وي. که د سنت سره وی. اوکه د صفاتو سره وی. اوکه د احادیثو سره وی. که د تفسیر سره اوکه د فقه سره.

علوم په دوه قسمه دي (۱) : علم شرعي دا علم شرعي (۲) : علوم عاليه دي او مقصوده دي. علوم عاليه قرآن دے حديث دے. تفسير دے قرآت دے. دا علوم عاليه دي.

شاه ولي الله شعر نقل كړيدے : علم دين تفسير قرآن وحديث . كه چرته البلاغ المبين د شاه ولي الله كتاب اومنلے شي. فقه په كښي هم داخله ده. اصل كښي علم هغه د تفسير او د قرآن او د حديثونو دے. په دے كښي چه كوم علوم ورله ممد دي. د هغے زده كول هم ضروري دي. صرف ' نحو او منطق به زده كوي. دا دويم نمبر علوم عاليه حسابيږي. نن صبا به صرف او نحو ضروري زده كوي.

د امام نووي د مسلم په شرحه كښي د : من كذب علي متعمدا. د حديث لاندے ليكلے دي : چه چاله صرف اونحو نه ورځي ـ هغه دے حديث نه وائي. تفسير قرطبي مقدمه كښي هم هغه ليكلے دي :كوم اصحاب الحديث چه د صرف اود نحو نه خبرنه دي. د هغوي داسے مثال دے لكه ځناور. د هغے تشبيه ئي من وجه د ځناورو سره وركړے ده. منطق به زده كوي د قاضي ثناء الله صاحب چه كومه وصيت نامه ده په هغے كښي ئي ليكلے دي : چه منطق به وائي. منطق خادم دے د تولو علومو. علامه آلوسي ليكلے دي : ﴿يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ﴾ (سورة الانبياء : ١٠٤). آيت دلاندے څه خو وجه نه شم ښكاره كولے. خو څه خبرے داسے دي. چه ما مجبوره كوي په منطق باندے كله كله. ځكه ما منطق او فلسفه كښي د ځواني ډيره حصه لګولے ده. يو خبره د قرآن د اشاراتو نه معلوميږي. كوم علم چه تالره په آخرت كښي فائده دركوي. دا علم شرعي دے. كوم چه درله دنيا كښي فائده دركوي نو دا فن دے. په سكولونوئي ليكلے وي : طلب العلم فريضة على كل مسلم . (وهذا الحديث وان لم يكن ثابتا فمعناه صحيح ـ شرح مهذب ۱ : ٦٢) ـ دينه مراد علم شرعي دے علم شرعي كښي مقصود قرآن او حديث او فقه ده.

علم شرعي اتحاد واشتراك حفظ وامن او سعي وعمل پيداكوي. دے له څلور څيزونه ضروري دي.

(۱) : اخلاص : ورنه نه قبليږي ـ (۲) : صلاح وتقوى : ورنه په عوامو آثرنه غورځوي. (۳) : علمي استعداد : ورنه بيا به د روحاني مرض علاج اونه كړے شي ـ نيم حكيم خطره جان' نيم ملا خطره ايمان ـ (۴) : صبرواستقلال : ورنه كاميابي ګرانه ده.

د محمدبن هارون الدمشقی اشعار دی:

لمحبرۃ تجالسنی نهاری — احب الی من انس الصدیق
ورزمة کاغذ فی البیت عندی — احب الی من عدل الدقیق
ولطمة عالم فی الخد منی — الذ لدی من شرب الرحیق

(الجامع لاخلاق الراوی وآداب السامع).

چه چا به وے چه علم گران دے — مابه خندا کړه آخرځه په ژړا شومه
- فاظفر بعلم ولا تبغی به بدلا — فالناس موتیٰ واهل العلم احیاء

خوددے دپاره ممدصرف او نحوداسے نورعلوم عالیه دی۔ روایت دے: طالب العلم بین الجهال کالحی بین الاموات۔ (اسد الغابة ۲ : ۸).

د علم تعریف څه دے؟۔ اول دا چه علم دا بدیهی دے۔ اوکه نظری۔ په دے کښی اختلاف دے۔ سلم العلوم کښی راځی۔ تنقیح د علم ډیر گران کار دے: والحق انه من اجلی البدیهات او نعم تنقیح حقیقته عیسرجدًا۔ (۱): تعریف د فلسفیانو: الصورة الحاصلة فی العقل۔ مقوله د کیف ده۔
(۲): ماتریدی تعریف کړیدے: العلم صفة مودعة فی القلب ـ علم په زړه کښی یو صفت کیخودلے شویدے د رب العزت د طرف نه۔ "فینکشف الامور کما هی۔ په نفس الامورکښی امورڅنگه موجود وی د هغے انکشاف به ورته معلوم شی۔ دا تعریف د علم چه ماتریدی کوی۔ نو موجود او معلوم دواړوته شامل دے۔ دا تعریف شاه ولی اللهؒ هم خوښ کړیدے۔
(۳): الف: شرح العقائد کښی تعریف کړیدے: صفة یتجلی بها المذکورلمن قامت هی به۔
(ب): دویم تعریف: صفة توجب تمیزا لا یحتمل النقیض فی الامور المعنویة۔ "صفة" جنس د ټولو صفاتو ته شامل دے۔ "توجب تمیزًا" که "لم یوجب تمیزًا" وی۔ لکه حیاة هغه ترے خارج دے۔ "لا یحتمل النقیض" سره ظن او "فی الامور المعنویة" سره حواس او عقل خارج دی۔
دلته به ترے علم شرعی اخلے۔ نو هغه څه ته وائی مرقات کښی دی: والعلم نور فی قلب المومن مقتبس من مصابیح مشکوة النبوة من الاقوال المحمدیة والافعال الاحمدیة والاحوال المحمودیة یهتدی بها الی الله وصفاته وافعاله واحکامه۔
علامه قسطلانیؒ لیکی: العلم عبارة عن الادراك الجلی والفهم جودة الذهن والذهن قوة تقتنص بها الصوروالمعانی وتشمل الادراکات العقلیة والحسیة۔ (ارشاد الساری ۱ : ۲۳۷).

(فقه او حديث) : شاه انورؒ یو خبره لیکلے ده : فالفقه لا یتم بدون الحدیث ۔ فقه بغیر د حدیث نه نه تام کیږی : لأنّ المرء اذا مر بالحدیث وجال نظره فیه وفهم مدارکه ومعانیه ، استقر علی الفقه وسکن قلبه ، حیث لم یجده رایاً محضًا غیر مستندالی دلیل سماوی ، وکذالك الحدیث لا یستقر مراده ولا ینقطع محتملاتُه ، بدون المراجعة الی اقوال الفقهاء ومذاهب الائمة ، فاذا اذراها وامعن النظر فیها تبین له الوجوه ، ولم یبق له فیماسواها مساغ ، فالفقه محتاج الی الحدیث فی نفسه ، والحدیث محتاج الیه للعمل ، وهکذا القرآن یبقی معلقًا بدون الرجوع الی الفاظ الحدیث ۔ (فیض الباری ۱ : ۳۹۹ کتاب الحیض) ۔

او شاه صاحب دا هم لیکلے دی : فمن زعم ان الدین کله فی الفقه بحیث لا یبقی وراء ه شیء فقد حاد عن الصواب ۔

د علمی شوق او لذت متعلق علامه محمد طاهر پنج پیریؒ لیکلے دی : چه ثعلب په لاره تلو او کتاب ئی کتلو ۔ او اس ورله تیله ورکړه ۔ او مړشو ۔ (نیل السائرین : ۵۹) ۔

اود ثعلب او مبرد یوبل سره د عدم مصروفیت په وجه ملاقات هم ګران وو ۔

نروح ونغدو لا تزاور بیننا　　ولیس بمضروب لنا عند موعد

وابداننا فی بلدة والتقاء نا　　عسیر کانا ثعلب والمبرد

(نیل السائرین)

واقعه د ابن ابی حاتمؒ

ابن ابی حاتم خپله واقعه ذکرکوی : کنا بمصر سبعة اشهر لم ناکل فیها مرقة ، نهارنا ندور علی الشیوخ وباللیل ننسخ ونقابل ، فاتینا یومًا ورفیق لی شیخًا فقالوا هو علیل ، فریت سمکا اعجبنا فشتریناه فلما صرنا الی البیت حضر وقت مجلس بعض الشیوخ فمضینا فلم یزل السمك ثلاثة ایام وکاد ان ینضی فاکلناه نیبا لم نتفرغ نشویه ثم قال : لا یستطاع العلم براحة الجسد ۔ (تذکرة الحفاظ ۲ : ۳۵) ۔

التعلیق الصبیح کښی علامه کاندهلویؒ لیکی : چه فتح الموصلی به فرمائیل : چه د کوم مریض نه طعام ، شراب او دواء بنده شی ۔ نو هغه به مړ کیږی ۔ دغه شان د زړه نه حکمت او علم درے ورځے بند شی ۔ هغه زړه به مړ کیږی ۔

د علم اهمیت د بنده په کتاب " المحاضرات الامدادیه فی عظمة تعلیم العلوم الاسلامیه " کښی تفصیلًا ذکر دے ۔ اللّٰهم انفعنی بما علمتنی وعلمنی ما ینفعنی وزدنی علمًا ۔ (ابن ماجة صحیح) ۔

الفصل الاول

حدیث ۱ : عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ بلغوا عنی ولو آیة وحدثوا...الخ۔

دا حدیث په دریو جملو باندے مشتمل دے۔ اوله خبره داده "بلغوا عنی ولو آیة" زمانه خبره اورسوی۔ "ولو آیة" ولو کان المبلغ آیة۔ دا آیة خبر دے مخکښی عبارت کښی حذف دے۔ اگرچه کومه خبره رسولے شوے وی۔ هغه یو آیت ولے نه وی۔

سوال: "بلغوا عنی ولو آیة" باندے اشکال دے۔ چه د آیت نه مراد که حدیث اخلے چه زمانه حدیث اورسوه۔ نو قرآن کریم ئی ولے یاد نه کړو۔ چه دغه ترے مراد اخلی۔

(۱): جواب: داد ے۔ علامه طیبیؒ په الکاشف عن حقائق السنن کښی لیکی: په دے حکم کښی قرآن هم داخل دے۔ "ولو آیة" که آیت دے اوکه حدیث دے۔ دا دواړه په دے کښی شامل دی۔ قرآن اوحدیث اورسوه۔ ځکه نبی ﷺ مبلغ د قرآن اود احادیثو دواړو دے۔ نو مراد دواړه دی۔

(۲) جواب: داد ے: ان طباع المسلمین مائلة الی قراءة القرآن۔ د مسلمان طبیعت قرآن ته د قرآن تعلیم اونشر ته مائل دے۔ نو ددے ذکرکولو ته حاجت ډیرنه وو۔ نو ځکه آیة په معنی د حدیث باندے شو۔

(۳) جواب: بله وجه دا هم ده۔ چه د قرآن د حفاظت ذمه داری الله رب العزت په خپله اغستے ده۔ اود احادیثوئی نه ده اغستے۔ ځکه په احادیثو کښی موضوعی روایات راغلی دے۔ اوپه قرآن کریم کښی نشته۔ ځکه په قرآن کریم کښی العیاذ بالله د موضوعی آیت امکان هم نشته۔ او وجه ورله داده: ﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا الذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ (سورة الحجر: ۹)۔ په تورات کښی تحریف شوید ے۔ نو دهغے وجه داده چه: ﴿بِمَا اسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَابِ اللّٰهِ﴾ (سورة المائدة: ٤٤)۔

وهب بن منبهؒ، امام بخاریؒ او شاه ولی اللهؒ وائی: چه قرآن کښی لفظی تحریف نه دے شوے۔ معنوی تحریف شوید ے۔ جمهور علما کرام وائی: چه تحریف په کښی لفظی معنوی دواړه شوید ے۔ لفظی کم او معنوی زیات تحریف په کښی شوید ے۔

په ابلاغ د علم کښی به د خپل عزت نفس خیال ساتے۔ امام بخاری ته د بخارا حاکم اوئے چه زما مکان ته راځه او ماته د حدیث درس راکوه۔ که ددے دور ابن الوقت وو څو مره به خوشحاله وو۔ لیکن جواب ئی ورکړو: انا لا اذل العلم ولا احمله الی ابواب الناس۔ (تاریخ بغداد ۲ : ۳۳)۔

" بلغوا عنی ولو آیة ": ۔دوه قسمه رسول دی (۱) : ایصال السند سند اورسوه : بنقل العدل ثقة عن ثقة۔ د راويانو عادلانو ثقونه۔ د نبی ﷺ روایت هغه آخرسرته اورسوه۔ تبلیغ ماخوذ دے د بلوغ نه او د بلوغ معنی ده : انتهاء الشيء الی غايته۔ نو د ځان نه شروع اوکړه او نبی ﷺ ته سند اورسوه۔
(۲) : دویم د حدیث الفاظ اورسوه ۔ من غیر تغیرئی اورسوه ۔ او د دواړو په مقاصدو کښی راځی : ﴿ يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ او ﴿مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾ دا اورسوه او دا ستا په ژبه باندے ډیر خوند کوی﴿وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ﴾ دے کښی قرآن او حدیث دواړه داخل کړه (سورة المائدة:٦٧)
(۳) : دریمه معنی " بلغوا عنی ولو آية " اگرچه کلام مفید مختصر ولے نه وی۔ دے ته آیت دلته وئیلے کیږی ـ د حدیث مطلب داشوزمانه احادیث بل ته اورسوے۔ " ولو كانت قليلة " که حدیث کم وی۔ یاد حدیث الفاظ کم وی۔ " من صمت نجا " مختصر حدیث دے۔ دا اورسوه۔ حدیث کښی تحریض دے نشر العلوم ته د علم خودلو ته۔

" وحدثوا عن بنی اسرائیل ولا حرج ": ۔سوال : مخکښی خوپابندی لگولے وه " باب الاعتصام بالكتاب والسنة " کښی ذکرشو ۔ چه ددوی نه به څه نه آورے۔ اونبی ﷺ غصه شوید ے۔ اودلته ئی اووئیل " ولا حرج "۔ جواب : نو دوه خبرے دی (۱) : یواحکامات دی هغه به نه رسوی د تورات۔ چه د قرآن سره ئی تکراؤ راځی ـ (۲) : قصص او واقعات عجیبه دی۔ نو که هغه رسوی نو خیر دے۔ چه دروغ نه وی اوکه علم ورته نه وی وایه :لاتصدق ولا تكذب ۔ نه به ورته دروغ وائی۔ اونه به ورته رشتیاء وائی۔ چه څوپورے د شریعت کلکودلائلوسره د هغے تکراونه وی راغلے ۔بیان کښی حرج نشته۔ لکه بعضے اسرائیلی روایات شو۔ واقعات د بنی اسرائیلوذکرکولے شی ۔ دپاره د عبرت ۔ بیابه احتیاط کوی چه د دروغو واقعات اونه وائی۔علامه ابن تیمیة ؒ لیکی : الترغيب والترهيب بالأسرائيليا ت والمنامات.صحیح دی لیکن استحباب وغیره ترے نه ثابتیږی : ولكن يجوز ان يذكر في الترغيب والترهيب.(مجموع فتاوی ۹ب: ٤٠)
اوچه کله عقیده او عمل ترے نه اغستلے کیږی۔ نو عجیبه قصے چه د شریعت خلاف نه وی۔ حرج په کښی نشته دے۔
صحیح بخاری کتاب الشهادت کښی روایت دے : عن ابن عباس قال يامعشر المسلمين كيف تسألون اهل

الکتاب و کتابکم الذی انزل الله علی نبیه ﷺ أحدث الاخبار بالله تقرء ونه لم یشب وقد حدثکم الله ان اهل الکتاب بدلوا ما کتب الله وغیروا بایدیهم الکتاب فقالوا هو من عندالله لیشتروا به ثمناً قلیلاً افلا ینهاکم ما جاء کم من العلم عن مسالتهم ؟ ولا والله ما رأینا منهم رجلاً قط یسالکم عن الذی انزل علیکم ۔

او د مصنف عبدالرزاق روایت دے ابن حجرؒ فرمائی : سنده حسن ۔ قال عبدالله بن مسعود لا تسئلوا اهل الکتاب عن شیء فانهم لن یهدوکم وقد اضلوا انفسهم فتکذبون بحق او تصدقون بباطل ۔

ملا علی قاریؒ دلته دوه مثالونه ورکړے دي.

(۱) : د عوج بن عنق مشهوره قصه ده ۔ دے دومره دنگ وو چه دے به د آسمان د لاندے تیټ تیټ ګرځیدو ۔ ملاعلی قاریؒ فرمائی : چه دومره دنګ وو چه د وریځے نه به ئی اوبه څکلے ۔ بیا ئی دا لیکلے دي : چه غرئی راوچت کړو ۔ سورے ئی په کښې اوکړو ۔ او غاړے ته ئی واچوو ۔ لکه د تسبیح دانه وي : فنقره هدهد بمنقاره وثقبه ووقع فی عنقه فکذب لا اصل له ۔

داسے واقعات په فتح القدیر کښې علامه شوکانی ډیرزیات ذکرکوی حالانکه هغه غیرمقلد دے ۔ قصے د دروغو واقعات د شیعه ګانو تائید ئی هم کړیدے : ﴿وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيباً﴾ (سورة المائده : ۱۲) ۔ دلاندے فتح القدیر کښې شوکانی لیکی : فوجدوهم یدخل فی کم احدهم اثنان منهم ‘ولا یحمل عنقود عنبهم الا خمسة انفس منهم فی خشبة ۔

او د آنار پوستکی کښې به ئی پنځه یا څلور کسان کیناستل ۔

(۲) : دویمه قصه ئی دا ذکرکړے ده : یو کتاب دے د هغے اردوترجمه هم شوے ده تنبیه الغافلین داد سمرقندی کتاب دے ۔ په هغے کښې هم ډیرے زیاتے ګډے وډے خبرے دي ۔ یوه واقعه مرقات کښې ملا علی قاریؒ ذکرکړے ده ۔ طائفة من بنی اسرائیل ۔ د قبر خوا کښې تیریدل وئیل ئی دلته کښې مونځ کوو ۔ اود الله رب العزت نه غواړو ۔ چه دا مړی راته ژوندی کړی ۔ چه حالات راته اووائی ۔ چه څنګه چل وو ۔ زنکدن څنګه وو ؟ ۔ او د قبر واقعات څنګه دی ؟ ۔ چه هغه راته بیان کړی ۔ نو وائی یو تن رابښکاره شو ۔ رنګ ئی زیړ وو ۔ ګیره ئی سپینه وه ۔ ډیر خراب وو ۔ اووئیل ئی څلورنیمے شلے کاله اوشو یعنی (۹۰ سال) چه څه مړشوے یم ۔ د هغے نه پس څه راژوندے شوم ۔ تاسو داسے مهربانی وکړے ۔ چه د الله نه سوال اوکړے ۔ چه بیا رانه سوالونه او جوابونه شروع نه شي ۔ کنی کارخراب دے ۔ او د ځنکدن د سختے نه مے محفوظ اوساتی ۔ دا دروغ دي ۔

ابن کثیراکثریه داسے قسم اسرائیلي روایات اکثر رد کوی۔او تفسیرخازن کښې دغه مواد ډیر دی۔
تطبیق د نصوصو مینځ کښې دادے: چه درے قسمه اسرائیلي روایات دی۔او د هر یو حکم جدا جدا دے۔(۱): چه د قرآن سره موافق وی۔بیان ئی جائز دے۔(۲): نه موافق وی او نه مخالف وی۔حکم ئی دادے: چه دے حدیث کښې دی: حدثوا عن بنی اسرائیل ولا حرج۔(۳): بعض اسرائلیات چه د قرآن وحدیث خلاف وی۔دهغے روایت کول، او په هغے عمل کول۔او د هغے بیان ناجائز دے۔
حافظ ابن کثیرؒ د تفسیر په مقدمه کښې په ص: ۴ باندے لیکلے دی: ولکن هذه الاحادیث الاسرائیلیة تذکر للاستشهاد لا للاعتضاد فانها علی ثلاثة اقسام (احدها) ما علمنا صحته مما بایدینا مما یشهد له بالصدق فذاك صحیح (والثانی) ما علمنا کذبه مما عندنا مما یخالفه (والثالث) ما هو مسکوت عنه لا من هذا القبیل ولا من هذا القبیل فلا نؤمن به ولا نکذبه ویجوز حکایته لما تقدم، وغالب ذالك مما لا فائدة فیه تعود الی امردینی۔

"من کذب علي متعمدا": ۔دا روایت د ثلاثیاتونه بخاری کښې اول روایت دے۔بعضے صوفیه وائی: خیردے که دروغ وائی ځکه "یضل" راغلے دے۔دروغ به ددے دپاره نه وائی چه خلق ګمراه کړی مونږ خلق نه ګمراه کوو۔مونږ خلق په دین باندے راړو۔لیکن د هغے وضاحت دادے: چه دا "لام" لام عاقبت دے۔
قرآن کښې دی: ﴿لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا﴾ (سورة القصص: ۸)۔"لیضل" کښې لام د عاقبت دے لکه مثلًا: لدوا للموت وابنوا للخراب۔ انجام به ئی داشی۔ چه خلق به ګمراه کوی۔چه قصدًا او عمدًا دروغ وائی۔
ددینه دا معلومه شوه: چه دیو تن نه هیڅشو څه ئی اووئیل۔یا چرته د مشرانونه په اوریدلے خبرو باندے اعتماد کړے وی۔او بیائی په ساده‌ګی او ناپوهی نقل کړو۔نو بیا ګناهګارنه دے۔او چه خه ورته پته ده۔او وائی آقاء نامدار فرمائی۔نو ددے وعید مصداق دے چه: من کذب علی متعمدا فلیتبوأ مقعده من النار۔دا متواتر روایت تقریبا دوه اویا راویان ددے روایت کونکے دی۔"فلیتبوأ" انشاء ده۔او مراد ترینه خبردے۔یعنی جوړه کړے ئی ده۔په جهنم کښې ئی تکټ اوکے دے۔جهنم ته به ورځی۔
عام علماء وائی: چه موضوعی روایات جوړه وی نو فاسق دے۔لیکن الشیخ ابو محمدالجوینیؒ ورته کافر وائی۔لیکن علامه عینیؒ لیکی: چه امام الحرمین ورته کافر نه وائی جعله من هفوات والده۔
(عمدة القاری ۲: ۲۰۹)۔
امام نوویؒ، ملاعلی قاریؒ او نورمحدثین لیکی: چه علم نحوازده کړه چه اعراب غلط نه وائی۔
مرقات کښې دی: ویوخذمن الحدیث ان من قرء حدیثه وهو یعلم انه یلحن فیه، سواء کان فی ادائه او اعرابه

يدخل فی هذا الوعید الشدید ۔ اومرقات کښې دا هم دی : ومن المقرر ان الحدیث الضعیف یعمل به فی فضائل الاعمال ۔ (وهکذا فی تحفة الطلبة) ۔

او علامه ابن حجر هیثمی ؒ لیکلے دی : ویؤخذ من الحدیث ان من قرء حدیثه وهو یعلم انه یلحن فیه یدخل فی هذا الوعد الشدید لانه یلحنه کاذب علیه ۔

او الحق الصریح کښې دی : دا حدیث جواب دے د هغه چاچه نحو ' صرف 'حدیث کښې کوم ځائی راغلے دی ۔ نو جواب ئی دے حدیث کښې دی صرف ' نحو ' لغت ایزده کول واجب دی ۔ او د هغے شرائط په خپل ځائی علماء ذکر کړیدی ۔

تحفة الطلبة : ۷ ' او تدریب الراوی : ۲۴ کښې دی : قال بعضهم یحکم للحدیث بالصحة اذا تلقاه الناس بالقبول وان لم یکن له اسناد صحیح ۔ شاه انور ؒ لیکی : وذهب بعضهم الی ان الحدیث اذا تأید بالعمل ارتقی من حال الضعف الی مرتبة القبول وهوالاوجه عندی ۔ (فیض الباری ۳ : ۴۰۹) ۔ او فتاوی نذیریه کښې دی : حدیث ضعیف جو موضوع نہ ہو استحباب وجواز ثابت ہوتا ہے ۔ (۲٦۵) ۔ نخبة الفکر او د هغے په شروحو کښې دی : او حافظ ابن حجر ؒ مقدمه د فتح الباری کښې لیکلے دی : چه صحیح بخاری کښې تقریبًا اتیا (۸۰) راویان جهمی ' قدری ' شیعی ' خارجي او مرجئه وغیره دی ۔

د موضوعی روایت تذکره کښې به صراحت پکاروی ۔ چه دا موضوعی روایت دے ۔

حدیث ۲ :وعن سمرة بن جندب والمغیرة بن شعبة قالا قال رسول الله ﷺ من .... الخ ۔

"یری" :۔ "یُرٰی " هم تیك دے او "یَرٰی " هم تیك دے ۔ او " احدالکاذبَین " (تشنیه) هم تیك دے ۔ او "احد الکاذبین "(جمع) هم تیك دے ۔ په دواړو کښې دوه احتماله دی ۔ که "یرٰی " شی نو په معنی د "یعلم " به شی ۔

علامه طیبی ؒ وائی : دا خه خبره ده چه دا معنی اوکړے ۔ او چه "یُرٰی " شی نو په معنی د گمان چه علم ئی دے ۔ چه روایت موضوعی دے ۔ یا ئی گمان دے ۔ معلومه شوه : یا نسیانًا یا اعتمادًا ئی اوئی ۔ نو بیا دد ے حدیث مصداق نه دے ۔ او " احد الکاذبین " داسے شو ۔ لکه خلق وائی : القلم احداللسانین ۔ دا قلم په دوو ژبو کښې یوه ژبه ده ۔ قلم خوژبه نه ده خو د ژبے غوندے حساب ده ۔ نو دے هم "احد الکاذبین " شو ۔ ده په ظلم کښې " کمن اعان ظلما علی ظلمه " د بل سره مدد اوکړو ۔ یو ته موضوعی روایت پیش کوی ۔ نو ده د هغے اشتهار اوکړو ۔ اوهغه خبره ئی ښکاره کړه ۔

قاضی عیاضؒ وائی : دابه "کاذِبین" وائی (جمع) دروغژن ډیر زیات دی. لکه مسیلمة الکذّاب وغیره نو یو په کښې دے واخله. مسیلمة الکذاب. چه د نبوت دعوی ئی کړے وه. او غټ کذاب تیرشویدے. یوائے مسیلمه بن الحبیب کذاب نه دے. طلحه، اسود عنسی، او ذوالتاج لقیط د نبوت دعوے کړے دی. او سجاح بنت حارث ښځے له ئی خوند ورکړو. د نبوت دعوی ئی کړے وه.

د مسیلمه د سرکوبی دپاره سیدنا ابوبکر، خالد، عکرمه، عمروبن العاص، علاء بن حضرمی، براء او عکاشه رضوان الله علیهم اولیږل. او د مدعیان نبوت خانه ئی تهٔ خانه کړه. او مسیلمه مردار شو. سیدنا حبشی رضی الله عنه دا کارنامه دنیا اولیده.

او ابونعیم اصفهانیؒ وائی : دابه "کاذبَین" وائی یو هغه چه روایت ئی کړیدے. او بل دا کس دے چه شهرت ورله ورکوی.

(فائده) : دا روایت د مغیره بن شعبه رضی اللّٰعنه دے. مرقات کښې دی : قیل انه احصن ثلثماة امرءة فی الاسلام کذا فی التهذیب. ثقفی، اسلم عام الخندق وقدم مهاجرًا، نزل الکوفة ومات بها سنة خمسین وهو ابن سبعین سنة، وهو امیرها لمعاویة بن ابی سفیان روی عنه نفر.

حدیث ۳ : وعن معاویة قال قال رسول الله ﷺ من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین .الخ.

د مخکښې روایت نه دا معلومه شوه. چه یوتن به ظالم هم نه وی. اود بل سره به په ظلم کښې اعانت هم نه کوی : ﴿ قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيراً لِّلْمُجْرِمِينَ ﴾. (سورة القصص : ۱۷)

وریسے حدیث ددے دپاره راوړی. چه دے به په دین باندے په خپله هم چلیږی. او نورخلق به هم دین ته رابلی. "خیرًا" : ـ الله رب العزت چه دچا سره د ډیرخیر اراده اوکړی. او د عظیم خیر اراده اوکړی کیفیت او کمیت دواړه ترے مراد دی. "یو فقه فی الدین" : ـ په دین کښې ورله پو هه ورکړی. فقاهت اصل څیز دے : ﴿ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴾. (سورة التوبة : ۱۲۲) ـ چه په دین کښې پو هه حاصل کړی. دلته د فقه نه اصطلاحی فقه یوائے نه ده مراد. قدوری وغیره. او عموم کښې دغسے غوندے اکثریه مسئلے شاملولے شے. یا لکه کنز، بدائع صنائع شوا او قدوری شوه

ددے اکثری مسائل د حدیث عموم سره منافات نه لری۔ ددے فقه نه کو مه فقه مراد ده۔
مرقات کښی ئی د حسن بصریؒ قول نقل کړیدے : انما الفقیه الزاهد فی الدنیا الراغب فی الآخرة البصیر بامر دینه المداوم علی عبادة ربه۔ ددے عملی مصداق خپله سیدنا حسن بصریؒ وو۔
البدایه والنهایه کښی ابن کثیرؒ لیکلے دی : د ابن سیرینؒ او دده زمانه یوه ده۔ نو ده خوب اولیدو۔ چه څه په ډیران باندے اولاړ یم۔ قمیص او پرتوګ مے دواړه ویستلے دی۔ او څه شپیلے وهم۔ نو شرمیدو چه د ابن سیرین نه تپوس اوکړی۔ نو یو کس ئی اولیږلو۔ چه ددے خوب تعبیر څه دے۔ او ما ورته ما خایه۔ نو چه هغه کس لاړو۔ نو ابن سیرینؒ ورته اووئیل چه دا ستا خوب نه دے۔ نو بیا ئی ورته خبره ښکاره کړه۔ وئیل ئی دا د داعی الی الله خوب دے۔ صراحةً بغیر د چل ول نه صفا خبره کوی۔ او داده شپیلی تعبیرشو۔ او دا بربنډوالے دو رنګی ' آخوا دیخوا خبرے په کښی نشته۔ او دا په ډیران چه اولاړ ئی دائی دنیا د خپو دلاندے کړیده۔ (البدایه والنهایه ٥ : ٣٢٢)۔
دنیا سره ئی مینه او تعلق نشته۔ دا څومره محدثین چه دوی له الله مقام ورکړیدے۔ نو دوی د دنیا نه ځان بے رغبته کړیدے۔ امام زهریؒ باره کښی امام ترمذیؒ لیکلے دی : چه فرمائیل به ئی دا دنیا ماته د اوښ د پچے نه هم لاندے ښکاری۔ اوخلقو ته اوس د اوښ پچه دنیا ښکاری۔
ارشاد الساری کښی علامه قسطلانیؒ هم نقل کړیدی۔ علامه طیبیؒ په دے ځائی کښی نقل کړیدے : چه یو ځل یو عالم په عراق کښی د یوے ښځے نه تپوس اوکړو۔ چه دا غته فقیه وه۔ : هل ههُنا مکان نظیف اصلّی فیه ۔ دلته صفا ځائی شته مونځ کول غواړم۔ نو هغے ښځے ورته اووئیل : طهّر قلبك وصلّ حیثُ شئت ۔ زړه صفا کړه او مونځ کوه چه چرته ئی کوے۔ نو دے عالم ورته اووئیل چه تاله الله ډیر لوئی فقاهت درکړیدے۔ چه اصل د زړه صفائی ده۔

"انما انا قاسم ": ۔ بریلیان وائی نبی ﷺ د هر څه ورکونکے دے۔ دا روایت کتاب الزکوة کښی راځی یا په کتاب العلم کښی پیغمبرد اسبابو د لاندے تقسیم یا د علم یا د مال کړیدے : ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ﴾ (سورة التوبة : ٥٩)۔ (مَا آتَاهُمُ اللَّهُ) فوق الاسباب دی (وَرَسُولُهُ) ما تحت الاسباب دی۔ قرآن کښی دی : ﴿أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَةَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ (سورة الزخرف : ٣٢)۔ الله فرمائی تقسیم ما کړیدے۔

ددے حدیث نه بریلیان د پیغمبر مختار کل کیدل ثابتوی۔ د شیخ عبدالقادرؒ په باره کښې هم دا عقیده ده۔ احمد رضا لیکلے دی:

ذی تصرف بھی ہے ماذون بھی ہے مختار بھی ہے

کار عالم کا مدبر بھی ہے عبدالقادر (حدائق بخشش)

اودائی لیکلے دی: چه نبی ﷺ ابو القاسم وو۔ ته د هغه نوسے ئی۔ ته هم هر څه تقسیموی۔ العیاذ بالله۔ قتاده وائی: چه څوك هم قرآن ته کینی۔ نو څوك ډیره فائده واخلی۔ او څوك لږه۔ یعنی په تقسیم کښې یو شان والے کوم۔ فهم، د هرچا جدا جدا وی۔ ددے وجے نه بعضے صحابه داسے وو۔ چه هغوی به حدیث واوریدو مسائل به ترے ډیر نه شو راویستلے۔ نو چه بل ته به ئی اورسول نو هغوی به ترینه ډیر مستنبط کړل۔ څکه حدیث کښې راځی: چه چا زمانه خبره واوریده۔ نو بل ته ئی اورسوے۔ رب مبلغ اوعی من السامع۔

(فائده): دا روایت د سیدنا معاویه رضی الله عنه دے۔ ملاعلی قاریؒ دلته لیکلے دی: قیل لم یکتب له من الوحی شیء۔ لیکن داخبره صحیح نه ده۔ د معاویه رضی الله عنه په باره کښې حافظ ابن کثیرؒ لیکلے دی: کاتب وحی رسول رب العلمین۔ (البدایه والنهایه ٤ : ٥١٢)۔

افسوس صد افسوس: وحید صاحب لیکلے دی کتاب الفضائل مسلم مع نووی ٦ : ١٧٢ :
معاویہ بن ابی سفیان نے جناب امیر المومنین خلیفہ برحق علی مرتضی شیر خدا کا مقابلہ کیا اور جنگ صفین میں ہزاروں مسلمانوں کا خون کیا۔
او د بخاری په ترجمه ص : ٩٠ پنځم جلد کښې لیکلے دی: صحابیت کا ادب ہم کو اس سے مانع ہے کہ ہم معاویہ کے حق میں کچھ کہیں لیکن سچی بات یہ ہے کہ ان کے دل میں آنحضرت کے اہل بیت کی الفت اور محبت نہ تھی ان کا باپ ابو سفیان ساری عمر آنحضرت سے لڑتا رہا یہ خود حضرت علی سے لڑے۔
او وحید الزمان لیکی: په لغات الحدیث ماده عز کښې لیکلے دی: مثلاً حضرت رضی اللہ عنہ کہنا سخت دلیری اور بے باکی ہے اللہ محفوظ رکھے۔

او احکام القرآن کښې جصاص د سورة النور ددے آیت: ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ د لاندے لیکلے دی: ولا یدخل فیهم معاویة لانه لم یکن مؤمنا فی ذالك الوقت۔

خطیب بغدادیؒ لیکلے دی: معاویة بن سفیان ستر لاصحاب محمد ﷺ فاذا کشف الرجل الستر اجترء علی

ما وراء ه ـ (تاریخ بغداد ۱ : ۲۰۹) ـ ملا علی قاریؒ خپله شرح فقه اکبر کښې ۱۸۴ باندے لیکی : فالاثنا عشرهم الخلفاء الراشدون الاربعة ومعاوية ـ خلفاء راشدینو ته پیغمبر مهديين وئیلے دی۔ او سیدنا معاوية رضی الله عنه ته ئی هم دعا کړیده : اللهم اجعله هاديا مهديا واهد به۔ (ترمذی ۲۴۷۲)۔

حدیث ۴ : وعن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ الناس معادن كمعادن الذهب ...الخ۔

د انسان تشبیه ئی د کان سره ورکړیده۔ څنگه چه په ټولو کانونو کښې د سپینو او د سرو کان اوچت او قیمتی دے۔ نو داسے په کائنات کښې انسان ډیر اوچت دے۔ اشرف المخلوقات دے۔

" معادن " : ـ عدن بالمكان۔ یو ځائی وطن جوړول داد جو هر دپاره د پاتے کیدو یو محل وی۔ یو حدیث کښې راځی : فمن معادن العرب تسالونی۔ (بخاری نمبر : ۳۳۷٤ ' مسلم نمبر ٦٣١١)۔

دویمه داده : چه سره او سپین څکه اوچت دی۔ چه دا ښه صفا شوے دی۔ دائی ټکولے دی اور پرے بل شویدے : ﴿وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَاءَ حِلْيَةٍ﴾ (سورة الرعد : ۱۷)۔ انسان چه څومره مجاهده برداشت کړی۔ دومره ورله الله مرتبه اوچته ورکوی : ﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ﴾ (سورة العنکبوت : ٦٩) ـ منگز ' سرمه ' پیاله ' تیل اونکریزے د ډیرو مجاهدو د برداشت نه روستو د محبوب د استعمال قابل شول۔

بقدر الكد تكتسب المعالی ومن طلب العلی فقد سهر اللیالی

فوفقنی الی تحصیل علم وبلغنی الی اقصی المعالی

یو شاعر وائی :

من رام العلم بغير كدّ سيدر كها حين شاب الغراب

تصوف او تقوی کتاب کښې حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانویؒ لیکی : یو طالب علم د شپے اوو ئیل : چه ماله اوبه نو پلار ورله قصدًا تیل اولیږل او وئے څکل او پته ورته اونه لگیده۔ داسے په علم کښې مصروف وو۔

د علم زیات تعلق د مجاهدے سره دے۔ د هغے وجه محنت کول سفرے کول ' شپے رونړول دی ' وختی پاڅیدل دی۔ د استاذ خدمت ' او د الله سره محکمه رابطه ساتل دی۔

(۲) : مطلب د حدیث دادے : چه په سرو او سپینو باندے د بادشاه تاپه لگیدلے ده۔ انسان کامل آدم

علیه السلام باندے د خلافت تاپه لګیدلے ده : ﴿إِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيْفَةً﴾ (سورة البقرة : ۳۰).
څه په زمکه کښې یو خلیفه پیداکوم ـ نو ځکه ئې تشبیه ددے سره ورکړه ـ "معادن کمعادن الذهب".
(۳) : الحق الصریح کښې دی : ذهب او فضه پورے د الله حق متعلق کیږی ـ څه مطلب زکوة په کښې شته په سرو کښې ـ دوی وائی ـ علامه البانیؒ هم وائی : چه په دے کښې د احنافو مسلك کلك دے ـ
اومولانا نورستانی صاحب هم نیل المرام کښې لیکلے دی ـ

"اذا فقهوا" :ـ چه د انسان سره فقاهت نه وی ـ نو دا بے کاره شيء دے ـ اوکه پلار ئې هم اوچت وی ـ او نسبت ئې هم اوچت وی ـ پختون او سید دے ـ او ورسره الله فقاهت هم ورکړے وی ـ نو دا نور علی نور دے ـ علامه طیبیؒ شعر نقل کړیدے :

ان السری اذا سری فبنفسه　　وابن السری اذا سری اسراهما

چه ترجمه ئې داده : کله چه شریف په خپله شریف وی ـ نو دے په خپله شریف شو ـ یعنی شریف ابن شریف داپه تولو کښې بهتر دے ـ

ان الفتی من یقول ها انا ذا　　لیس الفتی من قال کان ابی

په جاهلیت کښې چه کوم په نسب کښې اوچت دے ـ هغه په اسلام کښې هم اوچت دے ـ په دے شرط چه فقاهت په کښې وی ـ

واقعه : علامه طیبیؒ واقعه نقل کړے ده ـ نفخة العرب کښې هم شته ـ جبله چه طواف کوو ـ او دده په لنګ باندے یو کس خپه کیخودله ـ نو ده ورله څپیړه ورکړه ـ نو هغه عمر رضی الله عنه ته اووئیل نوعمر رضی الله عنه جبله راوغښتلو ـ وئیل ئې دا ولے ؟ نو هغه ورته وئیل چه څه اوچت سړے یم ـ زما خاندان اوچت دے ـ عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائیل یابه معافی غواړی ـ اویابه څپیړه خورے ـ
نو هغه ورته وئیل چه څه سوچ کوم ـ نود شپے اوتختیدو ـ
علامه طیبیؒ دا واقعه دلته ددے دپاره ذکرکوی ـ چه دا بعضے خلق وائی څه شهزاده ، څه پیرزاده ، څه خان زاده ، څه اخونزاده یم ، څه فلانے زاده یم ، انسان زاده جوړ شه ـ
نو دلته ئې د "اذا فقهوا" دا قید ځکه اولګو ورسره ـ ځنے کسان د پلار نه روستو بچی فقاهت ته نه ګوری صرف نسبی امتیاز د وجے په مسندد تدریس یا د حکومت په مسند کینوی غلطه کوی ـ
که یوسړے دکفر اود شرك په تیرو کښې پروت وی ـ ظاهری اخلاقو سره ده ته اوچتوالے نه شی حاصلیدے ـ

فقه : فقه الرجل اذا علم وفقه بالضم اذا صار فقيهًا عالمًا وجعله العرب خاصًا بعلم الشريعة وتخصيصًا بعلم الفروع ۔ (مرقات) ۔

حدیث ۵ : وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ لا حسد الا فی اثنین رجل ...الخ۔

اقتضاء الصراط : ٦ باندے علامه ابن تیمیہؒ لیکلی دی : وقدیبتلی بعض المنتبسین الی العلم وغیرهم بنوع من الحسد لمن هداه الله لعلم نافع او عمل صالح وهو خلق مذموم مطلقًا۔

د حسد مراتب

﴿حَسَداً مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم﴾ ۔ آیت د لاندے غرائب القرآن کښې دی : وللحسد مراتب اربع ۔

(۱) : ان یحب زوال النعمة عنه وان لم تحصل له وهذه اخبث ۔ (۲) : ان یحب زوالها عنه فی داره الحسنة او امرأته او ولایته فالمطلوب بالذات حصولها له فاما زوالها عن غیره فمطلوب بالعرض ۔ که وائی چه ماته حاصل شی د بل نه زوال مطلوب بالعرض دے۔ او دویم قسم خبیث دے۔ (۳) : ان لا یشتهی زوالها بل یشتهی لنفسه مثلها فان عجز عن مثلها احب زوالها کیلا یظهر التفاوت بینهما۔ داسے نعمت دے راله الله راکړی کنی دده نه دے واخلی۔ چه دواړه یوشان برابر شو۔ دا من وجه مذموم او من وجه غیر مذموم دے۔

(۴) : ان یشتهی لنفسه مثلها فان لم یحصل فلا یحب زوالها عنه ۔ ماله دے دا نعمت الله راکړی۔ او د هغه نه لر کول خه نه گنړی۔ داخو که د دنیا نعمت وی۔ دے معاف دے۔ اوپه دین کښې مندوب دے۔

"فسلطه" : ۔ ده له ئی توفیق ورکوو ددے په لگولو۔ اشاره ده دے خبرے ته چه ډیر ډیر ئی خرچ کړه۔

"ویعلمها" : ۔ او بل ته ئی ښائی علامه طیبیؒ وائی : د ابوتمام د شعر ټکړه ئی نقل کړے ده : وما حاسد فی المکرمات بحاسد ۔ په نیك کارکښې دبل سره حسد ته حسد نه شی وئیلے کیدے، که د دین څه کارکولے شے نو اوکړه۔ اوکه وخت درنه تیرشو۔ او نه کوے ته۔ نو ارمان به کوے۔ که بوډا ارمان اوکړی نو هم غنیمت دے۔ ورقه بن نوفل نبی ﷺ ته وئیلے وو : یالیتنی کنت جزعا اذ یخرجك قومك۔ ارمان چه څه ځوان وے۔ چه کله تا قوم اوباسی چه ما دے پوره پوره مدد کړے وے۔

امام بخاریؒ په دے حدیث باب منعقد کړیدے : باب الاغتباط فی العلم والحکمة ۔

او داسے غبطه چه حسد ته انسان رسوی ناجائز ده۔ که غلط ارمان دے اوکړو۔ نوبیا کارغلط دے۔

﴿قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ﴾ (سورة

القصص : ۷۹) - ارمان چه د قارون غوندے مالدار وے . " من اخذه اخذبحظ وافر " علمی برخه د دنیوی برخے نه خه ده - اوچه دواړه وی نو نور علی نور وی - د عبدالله بن عباس رضی الله عنه رور وو - نو عبدالله بن عباس رضی الله عنه به علم تقسیمو و د أحادیثو - او رور به ئی طالبانوله روتی ورکوله - د هغوی خدمت به ئی کولو - نو خلقو وئیل د حدیث خودا دوه مصداقه وو - هغه دواړه دے کورنی واغستل - (دویم) : د حدیث مطلب غبطه او سیالی ده - مِنْ اطلاق اسم المسبب علی السبب - چه ددے بل نه دا نعمت مه لرے کوه - ماله ئی راکړه - (دریم) : دا حدیث د قضیه شرطیه په شکل کښی واخله لو کان الحسد جائزا لکان فی هذین - لیکن تالی باطل دے - نو مقدم ئی مثله دے -

سوال راځی : چه حسد خو حاسد کښی موجود وو - په " اثنین " کښی خو نه وو ؟ -

لیکن جواب داد دے : لا حسد للرجل الافی شان اثنین -

حدیث ٦ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذا مات انسان انقطع عنه ..الخ -

"انقطع عنه عمله" : - دده نه عمل او دے د عمل نه کټ شی - دواړه کاره اوشی - یعنی دده د عمل ثواب کټ شی - ملا علی قاریؒ وائی : لأنقطاع عمله - بیا عمل هم نه شی کولے - او دده د عملونو ثوابونه هم ختم شی -

سوال : دا درے چه یادوی - نو حدیثونو کښی ددے نه علاوه نور هم راځی - لکه مرابطه شوه - یعنی د جهاد باډر هغه مضبوط ساتل : ﴿ یاایها الذین امنوا اصبروا وصابروا ورابطوا ﴾ - (سورة آل عمران : ۲۰۰) - او د مرابطے ثواب هم جاری وی -

جواب : (۱) : دا حصر حقیقی نه دے - دیته حصر اضافی وائی - (۲) : هغه نور ددینه علاوه چه ذکر کوی - لکه : من سن سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها - دا مرابطه هم د صدقے جارئے مصداق جوړیدے شی - (۳) : دا درے چه کوم ذکردی - دا کلیات دی ددینه علاوه جزئیات په دے کلیاتو کښی داخلیدے شی - لکه مثلاً د سرحداتو حفاظت چه څوك کوی - دهغه د ژوند کښی اضافه راځی - دبل د عمل سره په یو ځائی کیدوئی ثواب کښی اضافه نه راځی - او دلته د نورو د عمل ثواب ورته ملاویږی -

"صدقة جارية" : - صدقه جاریه داده : چه جومات جوړ کړه ، طالب له کتاب واخله - چه هغه جاری

وي ـ لکه خنګه چه نهر جاري وي. "او علم ينتفع به": ـ مرقات کښې دي: د عقائدو ازده کول په کښې راځي ـ تفسير مدارك کښې دي: د ﴿وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ﴾ (سورة البقرة: ١٠٢) ـ آيت د لاندې چه فلسفه واجب الاجتناب ده. او تفسير مظهري کښې دي: چه علم طبيعات او رياضي کښې ډير وخت بربادول خه نه دي. "ولد صالح يدعوا له": ـ "يدعوا له" دا قيد اتفاقي دے. که دعا غواړي او که نه غواړي. خوده ته به ثواب رسي. مولانا منظورنعماني صاحب هندوستاني خپل والد صاحب ددے وجے نه علم ته راوستے وو. چه زما په قبر کښې کوم څوک پکارېږي. نو هغه به دا وي. مثال ئې ملاعلي قاري ورکړيدے: د باردارے اونے سره که چنچنړي څه اوخوري. او يا بل خوراك کونکے د هغے نه خوراك اوکړي. که خوراك کونکے ورله دعا غواړي. يانه غواړي ثواب ورته ملاوېږي. د يو عالم شاګردان چه هرڅومره ديني شغل کښې په اخلاص سره مصروف وي. ده ته ئې ثواب رسي. "الا من صدقة جارية": ـ نه دا معلومه شوه. چه په مور او پلار پسے صدقه کوي نو هغوي ته ثواب رسي. اود والدينو نه علاوه نورچاته هم ثواب رسي.

الحق الصريح کښې دي: هرچه صدقه ده دا صرف مور او پلار ته بخل راغلے دي. او ليکي: مړوته مونځونه او تلاوت القرآن وغيره بدني عبادات بخل جائز نه دي.

مسلك شافعي: امام شافعي وائي: چه د بدني عبادت ثواب ورته نه رسي. اود مالي عبادت ثواب ورته رسي. ددے آيت د لاندے پر بحث کړيدے: ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ (سورة النجم: ٣٩) ـ (ابن كثير).

ابن کثير خپله البدايه والنهايه ٧: ٥٥٣ باندے ليکلے دي: چه شيخ الاسلام چه کله وفات شو. نو څه او علامه مزي د هغوي ليدوله لاړو. نو کفن کښې ئې ليدلے دے. بيا وائي: د هغه د غسل چه دهغه اوبه خلقود تبرك دپاره راغستے. (خودا تبرك ټيك نه دے. امداد). بيائې ليکلے دي: چه ددوي دپاره ډير شے ختمونه اوشو. او آخري ختم چه کيدونو دا آيت ئې وئيلو: ﴿فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ﴾ (سورة القمر: ٥٥) ـ نو د ابن تيميه کتب ئې اوچت کړو: وختمت له ختمات كثيرة بالصالحية وبا لبلد.

دلته علامه ابن کثیرؒ په ختمونو کولو او مړوته د هغے په بخشش رد نه دے کړے۔

انما یلحق المؤمن من عمله وحسناته بعد موته علما علمه ونشره وولدا صالحا ترکه ومصحفا ورثه او مسجدا بناه.

(ابن ماجة فی المقدمة باب ثواب معلم الناس الخیر ' حسنه المناوی فی فیض القدیر ۲ : ٥٤ ووافقه الألبانی فی صحیح ابن ماجة)۔

اخبار اهل حدیث امرتسر ۹ صفر ۱۳۵۹ هجری ۳۱ مارچ ۱۹۳۹ یوم جمعه : قرآن خوانی کا ثواب بھی میت کو پہنچتا ہے بشرطیکہ خلاف شرع طریق پر نہ ہو (ایک آنہ برائے غریب فنڈ اصول:۱۳) ۔

کنز الحقائق من خیر الخلائق چه د نزل الابرار نه ئی روستو لیکلے دے د هغے په : ۹ باندے دی :

ویصل الیهم ثواب کل عبادة عملت لهم سواء کانت مالیة او بدنیة۔

فتح اله شرح کنبی دی : ان الدعاء والصدقة ولوبقضاء الدین یصل ثوابهما الی المیت من وارث واجنبی وذالك مما اجمع علیه المسلمون فیهما۔

ولا ینافی فی ما تقرر فی هذا الحدیث مافی حدیثه آخر۔ ان کل میت یختم علی عمله الا المرابط فی سبیل الله فانه ینموا له عمله یوم القیامة۔ (طبرانی : ٨٤٨)۔ اما لان المختوم علیه هو عمل بنفسه بدلیل استثناء المرابط وما هنا فیما هو سبب فیه فلا ینافی ۔ واما لانه عام مخصوص بغیرما فی ذالك الحدیث وغیره کالرابط المذکور فیه کقوله تعالی : ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ ۔ (سورة النجم : ۳۹)۔ فان الاصح فیه انه کذالك لما علمت من الاجماع علی فصول نحو الصدقة والدعاء وکذا القراءة علی الاصح۔ ان کانت علی القبر او بعیدة عنه ودعیٰ لها عقبها۔ انتهی۔ لیکن قراءة دائمه یا د دفن موقع نه علاوه اجتناب اولی دے۔

علامه ابن تیمیہؒ فرمائی : یجوز اهداء ثواب العبادات المالیة والبدنیة الی موتی المسلمین کماهومذهب احمد وابی حنیفة وطائفة من اصحاب مالك والشافعی۔ (مجموع فتاوی ۱۲ ب ۱۷۹)۔

او ۱۸۰ باندے لیکی : یصل الی المیت قراءة اهله وتسبیحهم وتکبیرهم وسائر ذکرهم لله تعالی اذا اهدوه الی المیت وصل الیه ـ او ۲۰۵ باندے دی : وتنازعوا فی وصول الاعمال البدنیة کالصوم والصلوة والقراءة والصواب ان الجمیع یصل الیه ۔

المغنی د ابن قدامه ۲ : ۴۲۹ یا المغنی ۳ : ۵۲۲ کنبی جزیه ده : اجماع المسلمین فانهم فی کل عصر و مصر یجتمعون ویقرء ون القرآن ویهدون ثوابهم الی موتاهم من غیر نکیر۔ چه د مسلمانانو په هره زمانه او هر ښار کښی دا اجماع ده۔ چه ختمونه کوی۔ او قرآن مړوته بخی۔ په دے مسئله شیخ نذیر حسین

دهلوی ذاسے بحث کوی: مبارکفوری لکھتا ہے کہ متاخرین علمائے اہل حدیث نے علامہ محمد بن اسماعیل امیر رحمۃ اللہ علیہ نے سبل السلام میں مسلک حنفیہ کوراجح دلیلا بتلایا ہے یعنی یہ کہا ہے کہ قراءت قرآن اور تمام عبادات بدنیہ کا ثواب میت کو پہنچنا ازروئے دلیل کے زیادہ قوی ہے اور علامہ شوکانی نے بھی نیل الاوطار میں اسکو حق کہا ہے مگر اولاد کے ساتھ خاص کیا (جیسے الحق الصریح میں ہے امداد)

نیل الاوطار ۵ : ۱۸۵ بالتحقیق ابومعاذ طارق ' وبقراء ة یس من الولد وغیره لحدیث اقرؤوا علی موتاکم یس.

دے عبارت کښی ورسره غیر ولد هم ذکردے. دغسے فتاوی ثنائیه ۲ : ۳۴ باندے دی: قرآن مجید پڑھ کریا صدقہ خیرات کر کے میت کیلئے استغفار کرنا جائز بلکہ احسن طریقہ ہے رسمی طور پر دن مقرر نہ کرے۔

کتاب الروح بتحقیق بسام علی سلامة الحموش : ۴۵ باندے دی: چه عبادات مالیه او بدنیه ایصال ثواب دواړه صحیح دی: وقد نبه الشارع بوصول ثواب الصدقة علی وصول سائر العبادات المالية.

علامه ابن قیمؒ اعلام الموقعین ۴ : ۲۳۴ باندے لیکی: بخلاف ما اذا قرء لله فی المسجد او غیره فی مکان یکون اسهل علیه واعظم لاخلاصه ثم ثواب ذالك المیت وصل الیه.

او مجموع فتاوی ۷ : ۴۹۹ او دویمه طبع ۴ : ۳۰۷ کښی علامه ابن تیمیهؒ لیکی: د ﴿وأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ کښی دوه وجهے دی (۱) : ثبت بالنصوص المتواترة واجماع سلف الامة ان المومن ينتفع بما ليس من سعيه كدعاء الملائكة واستغفارهم له . (۲) : ان الاية ليست فی ظاهرها الا انه ليس الا سعيه وهذا حق فانه لايملك ولايستحق الا سعی نفسه واما سعی غيره فلا يملكه ولا يستحقه لكن هذا لا يمنع ان ينفعه الله ويرحمه به كما انه دائمًا يرحم عباده باسباب خارجة عن مقدورهم. وهوسبحانه بحكمته ورحمته يرحم العباد باسباب يفعلها العباد. ليثبت اولئك على تلك الاسباب. فيرحم الجميع كما فی الحديث الصحيح عنه ﷺ انه قال مامن رجل يدعو لاخيه بدعوة الا وكل الله ملكا كلما دعا لاخيه قال الملك الموكل به آمين.

سبل السلام شرح بلوغ المرام ۱:۲۰۶ میں ہے: ان هذه الادعية ونحوها نافلة للميت بلاخلاف واما غيرها من قراء ة القرآن له فالشافعی يقول لا يصل ذالك اليه وذهب احمد وجماعة من العلماء الی وصول ذالك واليه ذهب جماعة من اهل السنة والحنفية الی ان للانسان انه يجعل ثوابه عمله لغيره صلوة كان اوصوما اوحجا اوصدقة اوقراء ة القرآن اوذكرااوای نوع من انواع القرب وهذا هو القول ارجح دليلا. (فتاوی نذیریه ۱: ۳۴۴ مطبوعہ دہلی پرنٹنگ ورکس)۔

حدیث ۷ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ من نفس عن مومن كربة من كرب الدنيا ...الخ.

"کرب من کرب الدنیا": - تکلیف لرے کړو تکلیف د دنیا. یعنی دا انسان ورله سبب جوړ شو. په

دے دنیا کښې سفارش ورله اوکړي. دیته وائي جزاء من جنس العمل. قرآن کښې راځي: ﴿تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ﴾ (سورة المجادلة: ۱۱).

حدیث کښې راځي: من بنى لله مسجدا بنى الله له بيتا في الجنة. نو تا چه څه کړي دي نو هغه شان بدله به ملاویږي.

شیخ له پکار دي. چه د شاګرد او مرید د وسوسو او اشکالاتو ازاله کوي. چه شاګرد نه ئي غم لرشي.

د کرامت متعلق دلته ملاعلي قاري مرقات کښې لیکلے دي: وكرامات ذوى الايقان ان يحفظ سره ويكتم عن غيره امره فان كشف الاسرار على الاغيار يسد باب العناية و يوجب الحرمان والغواية.

"من سلك طريقا": - هغه څوك چه په یوه لاره باندے روان شو. نکره ئي راوړه. طریقا دپاره د شیوع دے: النكرة للشيوع باى سبب كان من مفارقة الاوطان والضرب في البلدان والانفاق منه والعلم والتعليم والتصنيف والكدح فيه. (طيبي) - كه په هره لاره باندے روان شو. ځکه په دے کښې قربانۍ زیاته ده. طالبان یادوی. وطن 'کور' او سهولت ئي پریخودلے دي. په کلو کښې ګرځي راګرځي. کله یو علاقے ته کله بلے علاقے ته. پیسه په علم باندے لګوي. بل علمي تصنیف کول ئي مشغله ده. ټول عمر یا زده کول کوي یا بل ته خودل کوي. او په دے علمي او تصنیفي اشغالو کښې مشقت برداشت کوي. او فکر ورته برابروي. دا ټول د علم لاري دي.

علم ژرنده ده د فولادو کنجي د فکر ورته ایږدم که بیرته شینه

"من بيوت الله": - کښې جوماتونه هم راځي. تفسیر معارف القرآن د مفتي شفیع کښې دي: مسجدنه باهر ځائي یا حجره ئي او هغه دے د درس دپاره وقف کړي د هغے عزت و احترام ضروري دے. دائي لیکلے دي: ﴿فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَن تُرْفَعَ﴾ (سورة النور: ۳۶). د لاندے.

"السكينة". څه ته وائي: كيفية جالبة "للأطمينان دافعة للاضطراب. (سندهي حاشيه ابن ماجه) هغه کیفیت چه اطمینان راځکي. داسے کیفیت چه اضطراب ختموي.

دویمه معنی: د سکینه علامه طیبي کوي: صفاء القلب بنور القرآن وذهاب الظلمة النفسانية.

او که چرته چاته سکینه حاصله نه وي. که جامه ئي هم قیمتي وي. نو دے به هروخت کښې په اضطراب کښې وي. که تپوس ترے اوکړے. نو وائي ماته ټینشن دے. دے به چرته اټینشن نه شي.

(۱) فائده: سکینه چه په چا نازلیږی. د قرآن په رنړائی زړه صفا شی.

(۲) فائده: " وغشیتهم الرحمة ". (۳): وحفتهم الملائکة. (٤): وذکرهم الله فیمن عنده.

عام ملائك بغیرد جبریل علیه السلام نه د قرآن د قراءت نه محروم دی: قراءة القرآن کرامة اکرم الله بها البشر. (اتقان ' درمنثور). څوك چه د قرآن درس تدریس کوی او دلیل د قرآن نه ذکر کوی کامیاب دے.

امام ترمذیؒ په تفسیر د سورة بنی اسرائیل کښی د حذیفه رضی الله عنه قول نقل کړیدے. من احتج بالقرآن فقد افلح.

"وذکرهم الله فیمن عنده": که چاته اووائی چه فلانکے ګورنر یادولے. نو هغه څومره خوشحاله شی. نو چه الله اووائی چه څه تاد ملائکو په مجلس کښی یادوم. نو دا څومره لوئی اعزاز دے.

عبدالملك بن عمیر فرمائی: ان ابقی الناس عقولا قراء القرآن. (مصنف ابن ابی شیبه ۱۰: ٤٦٨).

"لم یسرع به نسبه". غټ غټ علماء اکثر غلامان وو. عطاء بن ابی رباحؒ د امام ابو حنیفةؒ استاذ وو بدرنګ وو تك تور وو. لیکن الله رب العزت ورله خائسته علم ورکړے وو. او وو غلام. صهیب رومی ته دا اعزاز حاصل وو. چه د سیدنا عمر رضی الله عنه جنازے له ئی انتخاب شوے وو. حسن بصریؒ دا غلام وو. نسب انسان نه شی مخکښی کولے. علم داسے څیز دے چه دا نسب پټوی. که په اندامونو شل ګوډ وی خو چه علم درسره وی نو مقام به دے ډیر زیات اوچت وی. عبدالرحمن بن هرمز الاعرج ' حمید الطویل ' زید الفقیر ' او امام اعمش رحمهم الله ته فکر اوکړه.

شیخ عبدالحقؒ شعر نقل کړیدے. ددے آیت د لاندے: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾. (سورة الحجرات: ۱۳). تفسیر حقانی: ۳۲۷ کښی:

بندہ عشق شدی ترک نسب کن جامی — کہ دریں راہ فلاں ابن فلاں چیزے نیست

په دے لاره کښی دا نه چلیږی. چه څه د فلانکی ځوی یم زما نسب دادے.

ابوا الاسلام لا اب لی سواه — اذا افتخروا بقیس او تمیم

که عالم د مال په لحاظ سره فقیر وی بیا هم مالدار دے. شاعر وائی:

قد یدرك المجد الفتی وردائه — خلق و جیب قمیصه مرقوع

نن صبا که مالدار د پیسے خبره اوکړی. نو تعریف ئی کیږی. او که غریب د ملغلرو غوندے قیمتی خبره که کوی. څوك ورته التفات نه کوی:

ان الغنی اذ ا تکلم کاذبًا قالوا صدقت ما نطقت محالا

اما الفقیر اذا تکلم صادقًا قالوا کذبت وابطلوہ مقالا

ان الدراهم فی المواطن کلها تکسو الرجال مهابةً وجمالاً

فهی اللسان لمن اراد فصاحةً وهی السلاح لمن اراد قتالاً

حدیث ۸ : وعنه قال قال رسول الله ﷺ ان اول الناس یقضی علیه یوم القیمة ..الخ.

د ابو هریرة رضی الله عنه روایت دے۔ او ډیر قابل عبرت روایت دے۔ علماء کرامو، شهیدانو او مالدارو دپاره په کښې ډیر غټ پیغام موجود دے۔ او دا روایت چه امام ترمذیؒ ذکر کوی نو هغه لیکی : چه سیدنا ابو هریرة ددے وجے نه بے هوشه شوید ے۔

په عباداتو کښې اول تپوس د مانځه سره متعلق ده۔ او په حقوق العباد کښې اول تپوس د وینے د تویولو سره متعلق دے۔ او یا یو حدیث کښې د قضاء او بل حدیث کښې د حساب ذکر دے۔

"ان اول الناس یقضی علیه":۔ اول د هغے خلقونه چه اول به د هغوی خلاف فیصله کیږی۔ د قیامت په ورځ دا درے قسمه کسان دی۔ دا درے فنکاران دی اگرچه په ظاهره د دین غټ غټ کارونه کوی۔ د شهادت ډیر لوئی مقام دے۔ د قرآن عالم، مدرس، مهتمم ډیر لوئی مقام دے۔ مالدار چه الله ورله وسعت د مال ورکړے وی۔ او خرچ کښې مخکښې دے۔ ددے دریو وارو کله چه په کښې ریاکاری موجود ده۔ نو فیصله به ئی د جهنم کیږی۔ **" رجل استشهد "**: ۔ یو هغه سړے دے چه د الله په لاره کښې شهید کړے شو۔ هغه خپل ځان قربان کړو۔ او وینه ئی تویے کړه۔

" فاتی به ": ۔ دے به حساب و کتاب له راوستے شی۔ **" فعرفه نعمته "**: ۔ الله به ورته خپل نعمتونه اوښائی۔ نعمت نه جنس نعمت مراد دے۔ دا مے کړیدی دا مے کړیدی۔ نو دا سړے به دا نعمتونه اوپیژنی۔ چه آو دادے راله راکړیدی۔ **"فقال فما عملت"**:۔ تا څه اوکړل په دے نعمتونو کښې۔ **" قال قاتلت فیك "**: ۔ ما ستا دپاره جنګ کړیدے۔ **"فیك "**کښې خبره ده یعنی لله فی الله۔

"حتی استشهدت": ۔ تردی چه شهید کړے شومه۔ ما جهاد کوو جنګ مے کوو۔ کافران مے وژل۔ څه هم شهید شوم۔ **" قال کذبت"**: ۔ تا خودروغ اووئیل۔ دروغ ئی په قتال کښې نه دی وئیلے۔ دروغ

ئی په "فيك" کښې وئيلے دی. "ولكنك قاتلت لان يقال جرئ": - ليکن تاخو قتال ددے دپاره کوو - چه داخو ډیر بهادر تیر شویدے - ده ته ئی تمغۀ بسالت ورکړیده. "فقد قيل": - هغه درته اووئيلے شو. "ثم امربه فسحب": - بيا دده په باره کښې حکم اوکړی - پرمخ راتاؤ کړے شی - پرمخ به راخکلے شی. "حتى القى فى النار": - تردے پورے چه په جهنم کښې به اوغورځولے شی - شهيدرياکار لاړو جهنم ته - د مخلص شهيد ډير لوئی مقام دے - او هغه به د اويا کسانو سفارش کوی - لیکن دے ریاکار دے. "ورجل": - دويم قسم دا "رجل" د مخکښې "رجل" نه جدا دے - ځکه نکره چه دوباره معاد شی - نو اکثر د اول نه غير وی. "تعلم العلم وعلمه": - علم ئی زده کړے وو - او نوروته ئی خودلو - يعنی د قرآن کريم شاګرد او استاذ. "وقرء القرآن" قرآن کريم کښې شيخ القرآن - اوعلوموکښې ماهر عالم دے. "فعرفه نعمه": - دته به هم نعمتونه اوښائی - صحت مے درکړے وو - استعداد، ذهن، فراغت، مال، کتابونه مے درکړے وو - دے به هم دا نعمتونه اوپيژنی - چه آو راکړيدے وو - تپوس به ترينه اوکړی. "فما عملت فيها": - تا په دے څه عمل کړے وو - وائی به "تعلمت العلم": - مادا علم زده کړے وو - او نوروته مے خودلے وو -

"وقرء ت فيك القرآن": - ماستا د رضا دپاره خلقوته قرآن خودلے وو. "فيك" خبره دلته هم ګرانه ده. "كذبت" دروغ دے اووئيل. "ولكنك تعلمت العلم": - ليکن تا علمونه ددے دپاره حاصل کړے وو. "ليقال انك عالم وقرء ت القرآن": - ددے دپاره چه اووئيلے شی چه عالم دے شيخ دے دده ډيره لويه مرتبه ده - او قرآن ئی ددے دپاره وئيلے وو - چه تاته قاری اووئيلے شی - هغه خودرته وئيلے شويدی - قاری القراء ئی درته اووئيلو. "ثم امربه": - بيا دده په باره کښې هم حکم اوکړے شی - "فسحب": - دے به پرمخی راخکلے شی. "حتى القى فى النار": - تردے چه جهنم ته اوغورځولے شی. "ورجل": - دريم هغه سړے دے د مخکښې ددے دوو نه غيردے -

"وسع الله عليه": - الله مالی وسعت ورکړے وو - انتهائی اوچت سرمايه دار وو -

"واعطاه من اصناف المال": - او الله ورله قسم قسم مالونه ورکړے وو۔ جائداد ' ګاډی ' هم ډیر اوښان ' اسونه ' بینك بیلنس ' ورسره ډیر وو۔ " فاتي به ": - دے به هم راوستلے شی۔ ده ته به هم نعمتونه اوخودلے شی۔ " فعرفه نعمه": - دے به ئی اوپیژنی۔ او اقرار به اوکړی تاپه کښی څه کړے وو۔ "ماترکت من سبیل": - ما خو هیڅ لار د خیرنه وه پریخودے۔ چه تا خودله چه مال په کښی اولګوه۔ حج مے کړیدے او عمره مے کړیده۔ مدرسے ' جوماتونه ما جوړ کړے وو۔ غریبانانوسره مے مددونه کړیدی۔ غلامان مے آزاد کړیدی۔ دا ستا دپاره۔ " قال کذبت": - دروغ دے اووئیل " فیك " او" لك" ګران دے۔ "ولکنك فعلت": - لیکن تا دے دپاره اوکړل چه خلق راته سخی ارسلاخان اووائی۔ " فسحب " :۔ پرمخ به راخکلے شی۔ او اور ته به اوغورځولے شی۔

علامه ابن قیم ؒ لیکلے دی: ذکرابن سعد فی الطبقات عن عمربن عبدالعزیز انه کان اذا خطب علی المنبر فخاف علی نفسه العجب قطعه واذا کتب کتابا فخاف فیه العجب مزقه ویقول اللهم انی اعوذ بك من شر نفسی۔ (الفوائد : ۱٤۸)۔ خطبه مسنونه کښی راځی: ونعوذ بالله من شرور انفسنا۔

او د دین کارونه چه کوی۔ نو د قیامت په ورځ به شیخ القرآن او قاری به هم ښکاره کوی۔ اودا مالدار به هم ښکاره کوی ۔ په اصل حقیقت کښی دغه وخت ډیر خطرناك دے۔ ځکه انسان ټول عمرتعلیم او تعلم کښی تیرکړیدے۔ مشکوۃ ثانی کښی یوروایت دے۔ نبی ﷺ فرمائیلے دی: ان الله لیؤید هذا الدین بالرجل الفاجر ۔ ددے لاندے ملاعلی قاری ؒ لیکلے دی: مدرسه ئی جوړه کړے وی وی به فاجر۔ او مقصد به ئی دنیا پرستی وی۔ د دین تائید به ترینه کیږی۔ دے په کښی په خپله تباه شو۔

علامه طیبی ؒ الفاظ دادی: داکسان الله پورے توقے کوی۔ خلقوته دا وائی خالص مخلص د الله د رضا په بنیاد عمل کوو۔ اوکار کوو۔ انتهی۔ په دے مدرسوباندے د بعض مهتممانو ځامن مزے کوی۔ ګاډی ئی پرے واغستل۔ الا من شاء الله۔

فائده : صحیح مؤحد عالم باعمله غیرریاکار دهغه ډیر لوئی مقام دے۔ حافظ ابن کثیر تفسیرکښی د سورة طه اول کښی روایت راوړیدے: یقول الله تعالی للعلماء یوم القیامة اذا قعد علی کرسیه لقضاء عباده انی لم اجعل علمی وحکمتی فیکم الا وانا ارید ان اغفرلکم علی ماکان منکم ولا ابالی۔ اسناده جید۔

ددے نه معلومیږی چه د صحیح عالم فیصله به اول په امتیازی شان ډیره د خوشحالی وی۔

حدیث ۹ : وعن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ ان الله لا یقبض العلم ...الخ۔

"ان الله لا یقبض العلم انتزاعا ":۔رسول الله ﷺ فرمائي : الله دا علم نه قبض کوی چه رائی کاږی۔ ابتداء د رفع العلم صورت دے۔ "قبض العلماء" دا ابتداء ده ۔ علماء ځی د دنیا نه۔ اود هغے خلاء څوك ډکولے نه شی۔ قرآن کریم کښې دا یو آیت راځی : ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا﴾ ۔ (سورۃ الرعد : ٤١) ۔ اکثرمفسرین سره د شاه ولی الله ؒ یو معنی داکوی۔ چه ته نه گورے علاقے ته ښکلے ښکلے علماء لری کوو۔ اودا وریسے چه کوم راځی۔ نو هغوی هغه شان نه وی۔ او انتهاءً به علم اوچتیږی اوختمیږی به۔ حدیث د ابن ماجه کښې راځی علامه آلوسی ؒ روایت نقل کړیدے۔ آخروخت کښې به علم لرے شی۔ دقرآن نه به دا لیکل ختم شی۔ اوچه کوم کسان دی د هغوی د سینونه به علم ختم شی۔

"حتی اذا لم یبق " :۔لازمی او متعدی۔ چه الله به پرے نږدی پاتے نه شی یو عالم۔ عالم به نه وی۔

" اتخذالناس رء وسا جهالا ":۔ خلق به مشران جوړ کړی۔ برائے نام قاضی دے۔ داخلیفه دے۔ مرقات کښې دی : ای خلیفة وقاضیا و مفتیا واماما وشیخا ۔ تش مفتی به ورته وائی۔ وائی داد فلانی کلی قاضی دے ۔ وائی دا شیخ دے۔ شیخ له به قرآن هم نه ورځی۔ او وائی دا امام دے۔ او برائے نام مدرس دے ۔ د هغوی نه به تپوس کیدے شی ۔ او دوی له پکار ده چه وائی چه مونږ سبق نه دے وئیلے۔ د علماء نه تپوس کوی نودوی به ورله فتوے ورکوی۔ جاهل عالم به د خلقو قربانی به هم خرابوی۔ د خلقو مونځونه هم گډوډ وی۔ فتوی ورکول ډیرگران کار دے۔ نن صباخودومره مفتیان دی۔ چه گټه غورځوے نووائی مفتی صاحب دے۔ اود شامی په عبارت هم نه پو هیږی۔ دننه یو کرخه عبارت هم نه شی وئیلے۔ " فضلوا واضلوا "۔ په خپله هم گمراه وی۔ او نور هم گمراه کړی۔

ہم تو ڈوبے ہیں صنم تم کو بھی لے ڈوبیں گے

قرآن کښې راځی ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ﴾ (سورة النحل:۱۱۵) ددے لاندے مفسرین د ابونضره قول نقل کوی:ومن هنا قال ابو نضرة لم ازل اخاف الفتیا منذ سمعت آیة النحل الی یومی هذا.

حدیث ۱۰ : وعن شقیق قال کان عبدالله بن مسعود یذکر الناس فی کل خمیس ...الخ۔

شقیق اسدی ؒ وائی دا ولی الله تیرشویدے۔ ثقه او حجت دے۔ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به

خلقوتہ د زیارت (جمعرات) پہ ورځ وعظ او نصیحت کوو۔ دیتہ تخصیص نہ وائی۔ دیتہ تعین وائی تعین شتہ او تخصیص نشتہ دے۔ تعین دادے: چہ سبق لہ گھنتے مقرر کړی۔ انتظامًا۔ او تخصیص دادے: چہ یوہ ورځ یا شپہ دے لہ خاص کړی۔ چہ پہ دے کښی ثواب دے۔ اوپہ بلہ شپہ عبادت کوم خوثواب پہ کښی نشتہ یاکم دے۔ دیتہ بدعت وائی۔ کہ یوتن دا وائی: چہ د بدھ یا د زیارت پہ ورځ بانـدے بہ بیان کـوم دا خیر دے۔ ځکہ هسے خلقوتہ څہ پتہ دہ۔ چہ د فلانکی بیان دے۔ یو قضیہ وقتیہ دہ۔ یوہ قضیہ منتشرہ دہ۔ نو تنظیم دپارہ قضیہ منتشرہ نہ قضیہ وقتیہ جوړول بدعت نہ دے۔ لکہ یو کس تہ وائی تہ بہ زما میلمہ ئی خوورځ بہ ورتہ نہ بنائی۔

نومولانا احسان صاحب مدظلہ وائی: شب جمعہ ثابتہ شوہ۔ هم یکم تاریخ باندے د پنج پیر درس وی. داسے تعین پہ اسلام کښی تهیك دے۔ یا شعبان، رمضان کښی دورہ تفسیر دہ۔

"فقال لہ رجل یا ابا عبدالرحمن": ۔زما دا خوښہ دہ چہ هرہ ورځ راتہ وعظ او نصیحت کوے۔ هفتہ واری درس مہ کوہ۔ هرہ ورځ درس کوہ۔ جواب ورکوی څہ دا بدہ گنړم چہ تاسو بور کړم۔

"وانی اتخولکم": ۔او څہ ستاسو خیال ساتم۔ **"کما کان رسول اللہ ﷺ یتخولنا"**: ۔لکہ څنگہ چہ رسول اللہ ﷺ زمونږ خیال ساتہ۔ هغہ هرہ ورځ نصیحت نہ کوو۔ کلہ کلہ بہ ئی کولو۔

"مخافۃ السامۃ علینا": ۔د یرے دستړے کیدونہ پہ مونږ باندے۔ سآمۃ ستړے کیدو تہ وائی۔ یو تعلیم او تعلم دے لکہ مونږ هرہ ورځ مشکوۃ وایو۔ دانہ چہ هفتہ واری بہ مشکوۃ وایو۔ یو عام د وعظ او نصیحت خبرے دی۔ دابہ ډیرہ وی نہ۔ د خلقو شوق تہ بہ گورے۔

الحق الصریح کښی دی: هفتہ کښی ددریو تقریرونو نہ علاوہ نور تهیك نہ دی۔ انتهی۔ بیا خلق بور کیږی۔ کہ خلق درنہ مطالبہ کوی۔ او خوشحالہ وی۔ نو بیا کولے شے۔ لیکن درے څہ نص کښی نشتہ۔ کہ بور کیدل نہ وی بیا هرہ ورځ وعظ کوہ۔ ځکہ علت گورہ۔ او د تعین دلیل د قرآن آیت دے:

﴿قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى﴾ (سورۃ طہ: ۵۹) ۔د ورځ او د وخت تعین موسیٰ علیہ السلام کړیدے۔ او امام بخاریؒ باب تړلے دے: **باب هل یجعل للنساء یوما علی حدۃ فی العلم** ۔د هغے دلاندے روایت دے چہ نبی ﷺ اوفرمائیل: چہ فلانکی ورځ او هغہ ځائی کښی راجمع شے ۔د خلقو تنگیدل او تنگول نہ وی۔ تو لہ ورځ تقریر کولے شے۔ لکہ چہ اجتماعاتو کښی دوہ، درے

ورځے بیانات او مواعظ وی۔ د مشکوة په باب المعجزات کښې روایت راځی : چه نبی ﷺ د سحرنه ترمابنامه تقریر کړیدے۔ او صحابه ورته په شوق غوږ ایخے وو۔ داد کرکټ شوقیان آته گهنټے ددے په تماشونه مړیږی۔ اصل علمی لوږه او تنده چه راپیدا شی۔ هرڅه آسان وی۔

مسئله : مستحب چه التزام ته رسی ناجائز کیږی۔ او چه استحباب ئی شرعًا ثابت شی۔ نو دوام پرے بیا مستحب دے۔

حدیث ۱۱ : وعن انس قال کان النبی ﷺ اذا تکلم بکلمة اعادها ثلثا حتی تفهم ...الخ۔

" اعادها ":- په معنی د " قالها " سره ده۔ کله به چه نبی ﷺ ضروری خبره کوله۔ درے ځله به ئی بیا بیا وئیله۔ **" حتی تفهم عنه ":-** تردے پورے د هغه نه داخبره فهم ته د صحابو راشی۔ هره خبره نه ده مراد۔ قرینه "حتی تفهم عنه" روایت کښې شته۔ مقصدد نبی ﷺ پوهه ورکول وو۔ نو چه فهم به راغلے وو۔ نو بیا به ئی تکرارنه کولو۔ **" واذا اتی علی قوم ":-** کله به چه تیریدلو په یو قوم باندے گنړه گونړه به وه۔ او سلام به ئی پرے کوو۔ "سلم علیهم ثلثا" نو درے ځله به سلام کولو۔ د هغے وجه داده : یو ځل به ئی اجمالی خبره اوکړه۔ بیا به ئی تفصیلی خبره اوکړه۔ بیا به ئی خلاصه راوبستله۔ داد درس او تدریس ښکلے انداز دے۔ استاذ له هم اهتمام پکار دے۔ اول اجمالی وائی څه به دومره خبره کوم۔ بیا تفصیل بیا خلاصه۔ طالبان په درس کښې په درے قسمه دی۔ استاذ به د دریو واړو خیال ساتی۔ یو هغه طالب دے چه کند ذهن دے۔ دویم انتهائی اوچت ذهن والا دے۔ دریم هغه طالب چه درمیانه ذهن واله دے۔ (۱) : تیله بود (۲) : چمړه بود (۳) : لبده بود۔

(۱) : شیخ الاسلام علامه ابن تیمیهؒ له الله شاگردان ښکلے ورکړے وو۔ چه ابن قیمؒ غوندے زیرک شاگرد دے۔ او علامه مزیؒ، ابن رجبؒ، ابن کثیرؒ، غوندے شاگردان وی۔ د استاذ د علمونو اشاعت کیږی۔ (۲) چمړه بود : چمیار چه کله په څرمن کښې سورے کوی۔ نو ستن ورسره وی۔ چه څومره ستن وی۔ نو د هغے هومره سورے کیږی۔ (۳) لبده بود : لمسی ته وئیلے کیږی۔ لمسی کښې چه ستن دننه کړی۔ نو ته به وائی چه سورے په کښې اوشو۔ چه کله ترینه ستن رابهر کړے۔ نو بیا برابر شی۔ دا هغه طالب دے۔ چه سر به ړکوی۔ ته به وائی۔ چه پوهه شو : ﴿وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّىٰ إِذَا خَرَجُوا مِنْ

عِنْدِكَ قَالُوا لِلَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ آنِفاً أُولَئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَ هُمْ ﴾ (سورة محمد : ١٦) ۔ پاتے شو سلام بعضے وائی : ددینه سلام د استیذان مراد دے ۔ اجازت ۔ السلام علیکم ادخل ۔ یو ځل بیا دویم ځل بیا دریم ځل ۔ که اجازت بیا هم ملاؤ نه شی ۔ بیا واپس شه ۔

سیدنا سعد رضی الله عنه کور ناست وو ۔ نبی ﷺ اووئیل : السلام علیکم ' هغه آواز نه کوو ۔ غلے به ئی وئیل : وعلیکم السلام ۔ خو راوتلو نه ۔ بیائی اووئیل : السلام علیکم ' چه کله دریے ځله ئی اووئیل نو نبی ﷺ واپس شو ۔ ځکه آیت کښی راځی : ﴿ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَداً فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ ۔ (سورة النور : ٢٨) روایت کښی راځی : دریے ځلو نه پس واپس شه ۔ نو سعد رضی الله عنه وریسے منډے کړے ۔ نبی ﷺ ئی اونیولو وئیل ئی راځے ۔ ماد قصده د سلام جواب نه درکوو ۔ ما وئیل چه ستاسو دریے ځله سلام په ما باندے اوشی ۔ چه الله ماته سلامتیا راکړی ۔ لیکن علامه طیبی ؒ وائی : دا توجیه دلته مزه نه کوی ۔ په حدیث کښی " اذا " راځی ۔ " اذا " معنی داده : چه عادت ئی وو ۔ دا یو شاذ او نادر یو ځل چرته شویدی ۔ علامه آلوسی ؒ وائی : یو صحابی وائی چه کله به خوك راته داسے اووائی چه واپس شه چه عمل پرے اوکړم ۔ (بل جواب) ابن قیم ؒ کړیدے هغه وائی : چه نبی ﷺ به چه کله بیان له تلو ۔ نو چه ګنړه به ډیره زیاته وه ۔ نو چه دننه کیدو ۔ نو وئیل به ئی : السلام علیکم ۔ چه د مجلس مینځ ته به اورسیدو ۔ نو وئیل به ئی : السلام علیکم ۔ چه آخر ته به اورسیدو نو وئیل به ئی : السلام علیکم ۔ دا توجیه ښه ده ۔ داپه هغه وخت کښی چه مجلس کښی ډیر خلق ناست دی ۔

"کان النبی" : ۔ الحق الصریح کښی دی : چه دلته کان د دوام دپاره نه دے ۔ انتهی ۔ معلومه شوه هر ځائی کان دوام له نه راځی ۔ دا قاعده امام نووی ؒ په شرح د مسلم کښی ذکر کړے ده : ان المختار الذی علیه الاکثرون ان "کان " لا یدل علی الدوام ۔ (ص : ٢٥٤) ۔

حدیث ١٢ : وعن ابی مسعود الانصاری قال جاء رجل الی النبی ﷺ فقال انه .... الخ ۔

"انه ابدع بی" : ۔ یو سړے نبی ﷺ له راغے ۔ یقیناً ماته ځاروے لټ شو ۔ ستړے شو اوس نه شی تلے ۔ **" فاحملنی"** : ۔ ما له سورلے راکړه ۔ **" فقال ما عندی"** : ۔ ما سره خوسورلی نشته ۔ قرآن

کښې هم راځي : اشعریین راغلے وو۔ د تبوك غزا له ئې تلل غوختل۔ ابو موسیٰ اشعري رضی الله عنه او دهغه ملګرې۔ او نبي ﷺ ته ئې وئیل مونږ له سورلي پکار ده۔ نو نبي ﷺ ورته اووئیل :﴿ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ﴾ (سورة التوبة : ٩٢) ۔ ماسره خوسورلي نشته۔ چه څه ئې تاسو له درکړم۔ نو ژوندی پیغمبر سره سورلي نشته۔ یا دویمه معنی څپلی هم دی۔ دوی د بابا خواکښې موکے خخوی۔ چه مونږ له سورلي راکړي۔ "فقال رجل یا رسول الله ﷺ": ۔ یا رسول الله ﷺ څه راهنمائي کولے شم۔ په هغه چا چه ده لره سورکړي۔ په خپله نه شي کولے۔ نو :﴿وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ﴾ والاخومه جوړیږه۔ نو بل تن مالدار ئې ورته اوخودلو۔" من دل علی خیر": ۔ چاچه په نیکۍ باندے راهنمائي اوکړه۔ الله به ورله د فاعل غوندے اجر ورکړي۔ نبي ﷺ اذان نه دے وئیلے خو دا ئې وئیلے دی فلانکې اذان وایه۔ نو ده له "مثل اجر فاعله" ۔ استاذان شاګردانو ته سبق ښائی۔ شاګردان استاذان شی۔ ددوی تولو ثوابونه استاذ ته رسي۔

شیخنا الجاجروی لیکی : چه دلالت عام دے۔ قولی وی او که فعلی وی۔ او کتاب العلم کښې دا روایت څکه راوړو۔ چه علم خودلو کښې څوك چاته خه مشوره ورکړي۔ او دیو قابل استاذ رهنمائي ورته اوکړي۔ دا په کښې هم داخل دی۔ (اسعد المفاتیح)۔

حدیث ١٣ : وعن جریر قال کنا فی صدر النهار عند رسول الله ﷺ فجاء ه قوم ....الخ۔

جریر رضی الله عنه په صحابو کښې ډیر زیات خائسته وو۔ جریر رضی الله عنه نبي ﷺ یو دربار ختمولو دپاره لیږلے وو۔ ١٥٠ شهسوارئې ورکړے وو۔ او نبي ﷺ ورته دعا اوکړه۔ او دا کارنامه ئې په ډیر ښکلے انداز سره سرته رسولے ده۔ د نبي ﷺ زړه تری‌ننه ښه شو۔ دے به نبي ﷺ خواله چرته هم راتلو۔ نو نبي ﷺ به ملاقات لۀ وخت ورکوو۔ نبي ﷺ به ورته خاندل۔ د خنده وجه داوه چه ده دربار وران کړے وو۔ حدیث د بخاری کښې راځي۔ حق الصریح کښې دلته لیکلے دے : چه جریر رضی الله عنه ډیر خائسته وو۔ کله چه ورغلے یم ماته ئې خاندلے دی۔ جبریل علیه السلام به اکثرده په شکل راتلو۔ لیکن خائست د وجے نه ئې ورته نه خاندل۔ د شرك د رد یوا هم مشن ئې سرته کړیدے۔ د شرك اډه ئې ورانه کړیده۔ بیا وائي اکثریه جبریل علیه السلام وحی د دحیة الکلبی رضی الله عنه په شکل راوړه۔

علامہ قسطلانی لیکلے دی : چہ داد ابوزرعہ راوی نیکہ دے۔ وکان بدیع الجمال طویل القامة بحیث یصل الی سنام البعیر۔ (ارشاد الساری ۱ : ۲۹۵)۔

"کنا فی صدر النهار": ۔ مونږه د ورځے په سرکښې نبی ﷺ سره ناست وو. " فجاء ه قوم" یوقوم راغے۔ "عراة": ۔ بربنډ وو۔ یعنی جامه ئې مختصره وه. " مجتابی النمار او العباء": ۔ شړې ئې اچولے وے۔ اچوونکی د شړواو یا د کمبلو. " النمار " هغه د پړانګ د څرمنے جوړے کپړے ئې دی۔ څکه دوی غریبانان وو۔

سوال : دے په دے باندے داخو نقیضین راجمع کوے۔ هم " عراة " او هم " مجتابی النمار" وو. چه کله چه کمبل او شړې ئې اچولے وه۔ نو " عراة " څنګه شو۔

(۱) جواب : کپړې ئې وے خو دا کپړې ورله کافی نه وے۔ څه جانګی به ئې اچولے وو. خو سمے مکمل جامے ورسره نه وے۔ (۲) جواب : جامے ئې وے خو خپلے ئې نه وے۔ د چا نه ئې عارية راغستے وے۔ "متقلدی السیوف": ۔ ځان ته ئې تورے زوړندے کړیوے ۔ " السیوف " جمع د " سیف " ده۔ نران وو۔ معلومه شوه داسے تقلید خه لګی چه مجاهد توره زوړنده کړے وی۔ او ښځے له هار خائست دے ۔ او د سړی خائست توره ده۔ اکثر خلق په کښې د مضر قبیلے وو۔ بلکه ټول په ټوله د مضر قبیلے وو۔ " فتمعر وجه رسول الله ﷺ": ۔ د رسول الله ﷺ مخ بدل شو۔ خفه شو۔

"لما رای بهم من الفاقة": ۔ چه وئے لیدل په دوی باندے آثار د فاقی دی۔ چه عاجزان او غریبانان دی۔ شیخ الحدیث صاحب التقریر الرفیع کښې شعر نقل کړیدے :

تلوار چلے کسی پہ تڑپتے ہیں ہم میر سارے جہاں کا درد میرے جگر میں ہے

(وهکذا فی اسعد المفاتیح)

" فدخل ثم خرج ": ۔ بعضے خلق وائی : اودس کولو له لاړو۔ مسجد کښې ځائی نه وو جوړ۔ اوس مسجد نبوی ﷺ کښې آخوالرے جدا ځایونه دی۔ غوره داده : چه دا توجیه اوکړے چه لاړ کوری کور کښې څه شته۔ چه دوی له ورکړم۔ نو په کور کښې څه نه وو۔ نو راوتلو۔ " فامر بلالا ": ۔ بلال رضی

الله عنه ته ئی حکم ورکړو. "فاذن": ۔بانگ ئی اوویلو ۔ډیروخت ئی تیر کړیدے ۔راغلے وو د ورځے اول کښی او داد ماسپخین مونځ دے۔ "واقام فصلی": ۔ اقامت ئی اوکړو۔نو مونځ ورکړو نبی ﷺ بیانئ تقریراوکړو: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ﴾ د چندے اپیل ئی اوکړو۔ د چندے اپیل مطلقا په جومات کښی منع نه دے۔ حق الصریح کښی ئی لیکلے دی: چه امام عواموته وائی: چه سوالگرے غریب دے ۔ مدد ورسره اوکړے سنت عمل دے۔ اوپه فتاوی خالص ۳ : ۴۵۵ باندے لیکلے دی: جمع التبرعات لبناء المساجد وهذا مما يصان منه مساجدالله التي هي بيوته۔ اوپه دے کښی یو روایت راځی: چه په جومات کښی علی رضی الله عنه چنده ورکړے وه۔ د رکوع په حالت کښی۔ قاضی شوکانی لیکلے دی شپږمه سیپاره کښی آیت راځی: ﴿وَهُمْ رَاكِعُونَ ، وَمَن يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ﴾۔ (سورة المائدة : ۵۵ ، ۵۶)۔دغه ځائی چه علی رضی الله عنه رکوع له تلے وو۔سائل راغے په جومات کښی سوال کوو۔نو هغه ته ئی گوتمه اوباسله۔نو هغه له ئی په مانځه کښی ورکړه۔ قاضی شوکانی فتح القدیر۲ : ۵۰ باندے دا روایت ذکرکوی۔اوپه دے موضوعی روایت رد نه کوی۔ شیخ الاسلامؒ وائی: دا روایت موضوعی دے۔ (مجموعة الفتاوی ۷ : ۱۹۰) ۔او الحق الصریح کښی دی: دا روایت موضوعی دے۔تفسیر احسن الکلام کښی دی: چه ابن کثیر وئیلے دی په دے آثاروکښی هیڅ یوصحیح نشته راویان ئی مجهول دی۔ د تفسیرماوردی محقق لیکلے دی: چه روایت ټیك نه دے۔ شاه انورؒ عرف الشذی کښی لیکلے دی: چه په جومات کښی به چنده نه ورکوی۔ دغه غلطے کمزورے واقعه باندے حافظ ابن کثیرؒ د تفسیر نه علاوه البدایه والنهایه ۴ : ۳۸۲ باندے رد کړیدے۔

دغه کارونه به په جومات کښی نه کوی۔ جومات ددے دپاره نه دے۔ محترم مولانانورستانی صاحب لیکلے دی په نیل المرام کښی چه د بلوغ المرام شرحه ده۔ بعضے عالمان به ممبرته ډډه اولگوی۔ او جومات کښی کتابونه خرڅوی۔ جومات کښی به بیع و شراء شروع وی۔ انتهی۔ بغیرد ضرورت نه به په جومات کښی چنده نه کوی۔ مدرسے له چنده کیږی او د حق پرستو مدرسه وی۔ دروغ نه وائی صحیح ده۔ د مدرسے سفیران اکثر۔ الامن شاء الله۔ عجیبه وی۔

"تصدق رجل من دیناره": ۔یعنی امر دے۔تصدق ماضی دے لکه چه ورئی کړه۔ درهم چا ورکړه

کپړې، چاور کړے ـ غنم چاورکړه. کجهورے چاورکړے. "ولو بشق تمرة ": ـ د کجهوری نیمه حصه خو راوړی. "فجاء رجل من الانصار ": ـ انصار یو سړی راوړے.

"بصره کادت کفه ": ـ همیانی راوړه نزدے وه چه دده ورغوئی ترینه عاجزشی ـ نه ئی شو اوچتولے د پیسونه ډکه وه. بل کښې عاجزشوے وو دغه کس. نو هغه شروع اوکړه. ړومبے افتتاح هغه اوکړه. بیا وریسے نورخلق اولګیدل. حتی چه ما دوه ډیری اولیدل د طعام او د کپړو.

"حتی رایت وجه رسول الله ﷺ یتهلل ": ـ نبی ﷺ مخ ته مے کتل داسے ځلیده.

"کانه مذهبة ": ـ تابه وئیل کنے د سرو زرو تهوته ده. د سرو زرو اوبه ئی ورکړے دی. خائسته او ښکلے سړے چه خوشحاله شی نو ډیرخوندکوی . سوال : ولے خوشحاله شو ؟ جواب : داچه د غریبانانو کار اوشو ـ او په دے خوشحاله شی. چه الله زما په امت کښې د همدردی جزبه ایخے ده. شکردے چه یو بل سره مددکوی. " فقال رسول الله ﷺ من سن فی الاسلام سنة حسنة ": ـ

" من سن " په معنی د عمل دے او یا ترے مراد من دعی الی هدی دے. د بدعتیانو دلیل نه جوړیږی. ددوی بدعات په خیرالقرون کښې نه وو. د حدیث مطلب داد ے : چه د خیرالقرون د وخت یو جاری سنت په هغے عمل ختم شو. او د هغے په ځائی بدعت راغے. بیا یوتن جرأت اوکړو. اودهغے سنت اجراء ئی اوکړه. ده له اجرونه دی.

حدیث ۱۴ : وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ لا تقتل نفس ظلما الا کان ..الخ.

" قال رسول الله ﷺ ": ـ دا نظیر دے ددے دپاره چه" من سن فی الاسلام سنة حسنة " د هغے مثال ذکرکوی ـ یوتن تر قیامته چه په ظلم وژلے کیږی. مګر د ابن آدم چه هغه ته قابیل وائی. ددے وینے ګناه به په هغه هم وی. دا حدیث په دے دلیل دے چه : ﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴾ .

(سورة المائدة : ۲۷) ـ داد آدم علیه السلام ځامن حقیقتًا وو. ابن آدم الاول دا دلالت کوی. چه حقیقی ځوی ئی دے.

"وسنذ کر حدیث": ـ مخکښې حدیث تیرشوید ے. هلته ئې دوه خبرے کړیو ے. مونږه اوو ئیل دا خطاء شوید ے نسیان د ے. دلته خبره تیك کړیده.

"لا یزال من امتی فی باب ثواب هذه الامة ان شآء الله": ـ نو مخکښې کښې د جابر رضی الله عنه نوم هم اغستلے وو. او ورسره د معاویه رضی الله عنه نوم هم وو. مخکښې تیر شو. د جابر رضی الله عنه نوم کښې خطاء شوید ے. دد ے حدیث نه حافظ ابن کثیرؒ د هابیل قابیل واقعه کښې استدلال کړید ے. چه مراد تر ے ابن آدم اول یعنی قابیل د ے: وهذا ظاهر جلی و کلهم متفقون علی ان هذین ابنی آدم لصلبه کما هو ظاهر القرآن و کما نطق به الحدیث. او ابن جریرد حسن بصریؒ قول نقل کړید ے: لم یکونا ابنی آدم لصلبه. حافظ ابن کثیرؒ لیکلے دی: فی اسناده نظر.

الفصل الثانی

حدیث ۱۵: عن کثیر بن قیس قال کنت جالسا مع ابی الدرداء فی مسجد دمشق .. الخ.

دد ے حدیث شواهد ضعیفه موجود دی.

"من مدینة الرسول ﷺ": ـ څه تاله راغلے یم د مدینې نه. دا ځکه وائی چه مدینه خو ښار ته وائی او یوه مدینه د منصور بادشاه هم وه. یعنی د لر ے ځائی نه راغلے یم. تقریبًا د میاشتے سفر ئې کړید ے. د رسول الله ﷺ د مدینے نه راغلے یم.

"تحدثه عن رسول الله ﷺ": ـ بعضے علماء وائی: چه ده ته دا حدیث معلوم وو. خو لیکن واسطه ئې کمو له. وئیل ئې چه څه بلافصل دده نه دا حدیث واورم. او داد دین په کارونو کښې اهم کار د ے. الاسناد من الدین لولا الاسناد لقال من شآء ما شآء ـ د سند دپاره گرځیدل دا هم مستقل عبادت د ے. محدثینو ډیر مشقتونه برداشت کړیدی.

دویمه توجیه داده: چه ده ته دا حدیث اجمالی معلوم وو. وئیل ئې د ے به ئې راته تفصیل اوکړی.

بیا په د ے کښې اختلاف د ے چه دا " من سلك طریقا " دا حدیث وو. او که دا بل حدیث وو. چه هغه ته ئې بیان کړید ے. یو قول داد ے: چه حدیث بل وو. چه الله به بنده په خپل کنف کښې داخل کړی. او دا ئې بیان کړید ے چه د ے خوشحاله شی. چه دا دومره اوږد سفر ے کړید ے. چه دد ے خو مره لوئی

فضیلت دے۔ د میلمه شان ئی ورته بیان کرو۔ او بعضے علماء وائی : چه حدیث هم دغه وو۔ چه دلته ئی بیان کرو۔ "ما جئت لحاجة": ۔ د دنیا څه بل څه څیزاو ضرورت لـه نه یم راغلے۔ صرف د نبی ﷺ د حدیث د زده کړے دپاره راغلے یم ـ د سند د اوچتولو دپاره او د حدیث د تفصیل معلومولو دپاره راغلے یم۔ سید السند" لوئی عالم وو۔ د علامه تفتازانی" هم عصر دے۔ د هغه دا شوق پیدا شو۔ چه څه شرح مطالع د مصنف نه وایم۔ چه سند مے عالی شی۔ چه کله مصنف له اورسیدو نو هغه انتهائی بوډا شوے وو۔ نو هغه ورته اووئیل ته ځوان ئی او څه بوډا یم۔ او د هر دور خپلے تقاضے وی۔ څه ستا تسلی نه شم کولے۔ خو یو خبره درته کوم مبارك شاه له لاړ شه زما شاګرد دے۔ د هغه نه سبق اووایه۔ هغه به تا پو هه کړی۔ دے لاړو سید مبارك شاه صاحب له۔ مبارك شاه ورته اووئیل داخله درکوم خو په دے شرط د تولو په آخر کښی به ناست ئی سوال به نه کوے۔ وئیل ئی صرف خبرے ته غوږ کیده۔ نو هغه ورته اووئیل ډیره خه ده۔ چه څنګه وی۔ سبق ئی چه کله اووئے د شپے چه تکرار کیدو۔ نو استاذ ګرځیدو په طالبانو باندے چه سبق وائی او که نه۔ نو سید السند وائی : استاذ دا عبارت داسے اولګو۔ او څه داسے وایم۔ او زما د استاذ په خبره اشکالات دی۔ او هغه ته ئی نه شم کولے ـ یو اشکال دا دے۔ او دویم دا دے۔ نو دے پو هه شو چه سړے خو ډیر قابل دے۔ نو په بله ورځ ئی رانزدے کړو۔ نو وئیل ئی ورته چه ته به په اول صف کښی ناست ئی۔ نو ګویا داده سند د اوچتوالی دپاره د خپل مصنف نه کتاب وئیل دا په سلفو کښی یوه طریقه وه۔ پخوا به طالبان ګرځیدل۔ او د یو آیت دپاره ئی ډیرے سفرے کولے۔

ترجمان القرآن د ابو الکلام" تفسیر دے۔ د هغے په ابتداء کښی ئی لیکلے دی : دا کتاب څه هدیه کوم په نوم د یو قندهاری طالب۔ چه هغه د قندهار نه دهلی ته راغلے وو۔ د آیتونو د تپوس دپاره۔ او پیدل راغلے وو۔ ځکه چه د هغه سره پیسے نه وے۔ چه کله هغه واپس تللونو زمانه پټ لاړو۔ او پټ ځکه لاړو۔ چه هغه ته پته وه۔ چه دے به راله اوس کرایه راکوی۔ او هغه زمانه نه غوختله۔ نو که دغه طالب هرځائی کښی وی۔ نو ماخپل کتاب هغه ته منسوب کړیدے۔

"يطلب فيه علما": ۔ علم که مختصروی او که زیات وی۔ معمولی خیردپاره که اوتلے۔

البدائع والصنائع دا چه شروع کیږی۔ رومبے جمله ده عمر رضی الله عنه په جومات کښی ملاست وو۔ ګنبه ئی بالخت کړے وه۔ یو سړے ورله د شام نه راغلو۔ وئیل ئی څه ددے دپاره راغلے یم۔ چه ماته

التحيات برابر کړه. نو عمر رضی الله عنه اوژړل او وئے وئیل چه د الله نه امید دے چه تابه دوزخ ته نه بوځی. چه ستا په زړه کښی د علم دومره شوق دے. نو که وره خبره وی او که غټه وی که لار لنډه وی. او که اوګده وی. چه هررنګه وی. ځکه دلته حدیث کښی طریقا او علما دواړه نکرے راوړیدی.

"سلك الله به طریقا ":- جار مجرور څه ته راجع دے. یو قول دادے: چه دا مَنُ ته راجع دے. دغه من چه دے "سلك الله به " - الله به دا من اوچلوی. دغه طالب به اوچلوی. او دا حرف "با "کښی تعدیه دپاره ده. داسے اووایه "جعله سالکا " الله به ئی چلوونکے د جنت جوړ کړی. سلك د سلوك نه مشتق دے. (۲) دویم قول دادے: " به " ضمیرعلم ته راجع دے. "سلك الله به " . نو "به " علم ته راجع شو. نو بیا "به " دا " با " د سببیت وی. خودے کښی دا سلك د سهل دپاره متضمن کړه معنی ئی ده "سهل له " . آسانول. سهل الله له بسبب العلم. الله به ده ته د علم د وجے د جنت لارے آسانی کړی. سبب د آسانتیا به هم دغه علم وی. نوپه دے وخت کښی دا سلك ده سلك نه مشتق دے. (مرقات).

چه د جنت لارے ځان ته آسانوے. نو صفات د طالب علمی په ځان کښی پیدا کړه. صفات د طالب علمی څه دی ؟ د سیدنا علی رضی الله عنه نه نقل دی الجامع لاخلاق الراوی وآداب السامع د خطیب بغدادی ۱ : ۱۱۲ باندے د طالب العلم دپاره صفات ذکرکړیدی. (۱) : فرأسه التواضع . د علم سر تواضع دے تکبر به نه کوی. که تکبر راغے نوعلم تکبرخرابوی. عاجزی ئی سوا کوی. من تواضع لله رفعه الله . قرآن کښی دی: ﴿ سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِ﴾. (سورة الاعراف : ١٤٦). تفسیر قرطبی کښی دی: ساصرف عن فهم آیاتی.

(۲) : وعینه البراء ة من الحسد . د علم سترګه داده: چه حسد به په ځان کښی نه پیدا کوی. که حسد درکښی وی. نو ستا علم ړوندد ے. هغه بیا کتل نه کوی. (۳) : واذنه الفهم . خوندبه درله علم هله درکوی چه پرے پو هیږے. اوچه نه پو هیږے نو تنګیږی به. (۴) : ولسانه الصدق . د علم ژبه هغه رشتیاء ده طالب به رشتیاء وائی که دروغ وائی. نو دده د علم ژبه ورانه ده. (۵): وحفظه الفحص.

(٦) : وقلبه حسن النية . زړه د علم هغه خائست نیت دے. که نیت دے خراب وی. سکول کښی ماسټری دے دپاره کوی. چه ماته د دنیا نوکری ملاؤ شی. نودغسے نیت به نوی. صرف د دین خدمت وی د تعلیم او د تعلم نه. (۷) : وعقله معرفة الاشياء والامور الواجبة . د علم عقل چه دے هغه د اشیاء معرفت دے. (۸) : ویده الرحمة . (۹) : ورجله زیارة العلماء. چه د کومو استاذانو نه سبق وائی.

نود هغوی ملاقات له ځی۔ (۱۰) : وهمته السلامة ـ (۱۱) : وحکمته الورع ۔ (۱۲) : ومستقره النجاة۔ (۱۳) : وقائده العافیة ۔ (۱۴) : ومرکبه الوفاء ۔ (۱۵) : وسلاحه لین الکلمة ۔ (۱۶) : وسیفه الرضی ۔ (۱۷) : وقوسه المداراة ـ (۱۸) : وجیشه مجاورة العلماء ۔ (۱۹) : وماله الادب ۔ (۲۰) : وذخیرته اجتناب الذنوب ۔ (۲۱) : وزاده المعروف ۔ (۲۲) : وماء ه الموادعة ۔ (۲۳) : ودلیله الهدی ۔ (۲۴) : ورفیقه صحبة الاخیار ۔

علماء لیکی : قال معاذ علیکم بطلب العلم فان تعلمه لله خشیة ومدارسته عبادة ومذاکرته تسبیح والبحث عنه جهاد ۔ (مفتاح دار السعادة : ۲۷۲ دا روایت موقوف صحیح دے) ۔

د علم غټ ادب دادے : چه د ګناهونو نه ځان بچ کړه ۔ او د نیکانو ملګرو ملګرتیا ده ۔ او د بدانو مجلس نه ځان ساتل دی ۔ او علم آسان کار ځکه نه دے ۔ چه خطیب بغدادیؒ وئیلے دی : لا ینال هذا العلم الا من عطل دکانه وخرب بستانه وهجر اخوانه ومات اقرب اهله الیه فلم یشهدجنازته ۔ دا علم د هغه چا کار دے ۔ چه دوکانونه ئی شاړ کړل ـ دوکان او سبق دواړه نه کیږي ۔ هم ارټ کوم او هم سبق وایم ۔ بوس راوړم نو دا دواړه نه کیږي ۔ هم ګپ شپ ملاقاتونه او غم ښادی او هم سبق دا نه کیږي ۔ اوپه خاندان کښې چرته یو تن مړ دے ۔ دے دومره نه دے سم چه جنازې له ئې لاړ شي ۔ ځکه دده نه سبق ځی ۔ دابه د طالب العلم کار وی ۔

د شیخ عبدالقادر جیلانیؒ تقریرونه په الفتح الربانی کښې جمع دی ۔ چه چا تپوس اوکړو د یو عالم نه ۔ الله درلـه ښکلے علم څنګه درکړیدے ؟ ۔ ماته وجه اوخایه ۔ نو هغه ورته اوئیل ددے ډیر وجوهات دی ۔ اوهغه تولو کښې ئې تشبیه د مارغانو او د ځناوروسره ورکړے ده ۔ د هغے نه مے عبرت اغستے دے ۔

(۱) : یوپه کښې "باکورة الغراب "دے ـ څه د کارغه غوندے وختی پاڅیدلے یم ۔ کارغه وختی پاځی ، ګیدړ وختی پاځی ، باز وختی پاځی ، پیشوګان وختی پاځی ، نایان په ژمی کښې وختی پاځی ، نانبایان په هرموسم کښې وختی پاځی ـ نو طالب العلم به هم وختی پاځی ۔ (۲) : و بصبر الجمل ـ د اوښ غوندے صبر کوم ۔ اوښ ناست وی آته یا لس منه بوج اوچتوی ۔

اے اوښه مه برړیګه که دے زما غمونه اولیدل

درانه درانه غمونه څه په سر د یار اوړم

نو علم کښې بوجونه برداشت کوی سوزیدلے روتی ، کله به وی او کله به نه وی ۔ خوب نشته ، دابه په علم کښې برداشت کوی ۔ دا سړے روتی د سړی نه سړے جوړوی ۔ (۳) : وبحرص الخنزیر ۔ د علم سره به دے داسے مینه وی لکه څنګه چه د خنزیر حرص سوا دے ۔ خنزیر په حرص کښې مشهور دے ۔

(۴): و بتملق الکلب ـ د سپی په شان چاپلوسی به کوی۔ تملاق په عربی۔ کښی چمچے ته وائی۔ چمچه گیری به کوی۔ ﴿وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ﴾ (سورة الکهف : ۱۸) ـ نوته به هم د علم دپاره ناست ئی چه کله به علمی نوړی راکوی۔ دا صفات چه په ځان کښی پیدا کړی۔ نوبیا به درله الله علم درکړی۔ چه نیت دے سم شو۔ اوبیا علم حاصلوی نو داد جنت لاری دی۔

فضیلت : اوس ئی فضیلت اوګوره : فان الملائکة لتضع اجنحتها ـ وزرے غوړوی (۱) : یا بالکل په حقیقت باندے حمل کړه ـ واقعی وزرے ئی شته : ﴿جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ﴾۔ (سورة الفاطر : ۱)۔

(۲) : دویم دا کنایه ده ددے خبرے نه ـ چه دوی خپل پرواز بند کړی الوتل ختم کړی۔ وائی مونږ نه الوځو۔ د طالب العلم سره خوا کښی ناست یو۔ (۳) : دا کنایه د نرمی۔ نه ده سره ملائك د نرمی معامله کوی۔ (۴) : د ملائکو د طرف نه طالب العلم ته سلام راځی۔ اګرچه دے پرے نه پو هیږی۔

(۵) : امام مالكؒ وائی : یعنی تبسطها بالدعاء لطالب العلم بدلا من الایدی ـ (مفتاح دارالسعادة : ۲۵۶)۔ مرقات کښی ملاعلی قاریؒ دوه واقعے هم نقل کړیدی خلاصه داچه د طالب العلم د احترام د وجے نه ده ته وزرے غوړوی۔

(۱) واقعه : علامه ابن قیمؒ په حواله د احمدبن شعیب نه یوه واقعه نقل ده۔ بصره کښی یو محدث اوسیدو ـ طالبان به ورله تلل نوپه هغه طالبانو کښی یو معتزلی وو۔ طالبان به چه کله روان وو۔ نو بوټان به ئی په خپو کړے وو۔ اود طالب نه به روستو راروان وو۔ او خپوله به ئی درز ورکوو۔ او وئیل به ئی د ملائکو وزرے ماتوم۔ نوپه دے حدیث پورے ئی توقے کولے۔ الله د هغه په خپو کښی کینسر پیدا کړو نو مړشو۔ اول ئی خپے اوچے شوے۔ بیا په کښی چینجی اوشو۔

(۲) دویمه واقعه : ئی د طبرانی په حوالے سره نقل کړیده۔ یحی ساجی وائی چه مونږ د بصرے په کلو کښی محدث له تلو۔ نو زمونږ سره یو بے هوده مزاقی کس وو۔ نو هغه به بل طالب ته آواز اوکړو چه اے طالبه خپه اوچته کړه د ملائك وزر لاندے راغله۔ او دا توقے ئی کولے وائی مونږه د خپل ځائی نه خوزیدلے هم نه وو۔ چه دواړه خپے ئی اوچے شوے۔ او په خپل ځائی باندے راوغورځیدو۔

(مفتاح دار السعادة لابن قیمؒ : ۲۵۷)

" فضل العالم علی العابد ": ۔ قاضی شمس الدینؒ خپله شرح کښې اشعار نقل کړې دی:

صاحبدلے بمدرسہ آمد زخانقاہ — بشکست عہد صحبت اہل طریق را
گفتم میاں عابد و عالم چہ فرق بود — کرتو کردی اختیار ازاں ایں طریق را
گفت آں گلیم خویش بروں مے برد زموج — وایں جہد میکند کہ بگیرد طریق را

میمون بن مهران فرمائی: ان مثل العالم فی البلد کمثل عین عذبة فی البلد۔

(جامع بیان العلم وفضله ۱ : ۲۳۷)

وقال الحسن موت العالم ثُلمة فی الاسلام لا یسدها شیء۔ (جامع بیان العلم وفضله ۱ : ٦١٦)۔

شیخ الهندؒ فرمائی: چه عالم عابد دے۔ او عابد عالم دے۔ دانه چه تش عابد دے علم ورسره نشته۔ دانه چه علم ورسره دے او عابد نه دے دواړه دی۔ د ضرورت مطابق دواړه خبرے په دواړو کښې شته خو یو علمی مشغله ساتی۔ اویل د تصوف په میدان کښې لګیا دے۔ په دے باندے عالم اوچت دے۔ د سپوږمۍ سره ئی تشبیه ورکړے ده۔ د نمر سره ئی نه ده ورکړے۔ په دے کښې وجه داده: چه دا درته ښائی چه عابدین د ستورو غوندے دی۔ او عالمان د سپوږمۍ غوندے دی۔ ځکه عالم متعدی مصروف دے۔ او عابد لازمی لګیا دے۔ څوك چه متعدی لګیا وی۔ او قرآن ښائی، جهاد کوی، تبلیغ کوی، علم خوروی، دا ټول شعبے د علم دی۔ نو ددے دپاره آجر وثواب زیات دے۔ حدیث کښې مهے او میږے چه ذکر کوی تعمیم د اوچے او لوندے ته اشاره ده۔

یا دا توجیه اوکړه: چه غوښنه ئی خوړے شی یا نه شی خوړے۔ اودا دواړه څیزونه چه استغفار غواړی غټ به ضرور غواړی۔ بل د ستورو رنړا لږه ده۔ او د سپوږمۍ رنړا هغه ډیره ده۔ نو د عالم رنړا ډیره ده۔ نور القمر مستفاد من نور الشمس ۔ د سپوږمۍ رنړا د نمر نه اغستے شوے ده۔ د عالم د علم رنړا د نبی ﷺ د نبوت د شمس نه اغستے شوے ده۔ بله دا چه داسے ئی اونه وئیل چه عالم د نمر غوندے دے۔ ځکه نمر کښې غټ والے او کمِوالے او زیاتوالے نه راځی۔ په سپوږمۍ کښې غټ والے او کموالے راځی۔ داسے علم به لږ وی ډیریږی به۔ ځوانی ته به اورسی۔ بیا به په آخر کښې: ﴿لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا﴾ (سورة النحل : ۷۰) ۔ په تنزل باندے راځی۔ نو ځکه ئی د نمر سره ئی تشبیه نه ده ورکړے۔ او د سپوږمۍ سره ئی ورکړه۔

"ان العلماء ورثة الانبیاء ": - یقیناً عالمان خو هغه دی چه د انبیاء وارثان دی. " العلماء " دا مبتداء ده په الف لام سره معرفه ده. "ورثة الانبیاء " دا خبردے. معرفه په اضافت سره ده. د ورثه اضافت انبیاء ته شویدے. مبتداء اوخبرچه دواړه معرفے نو حصرپیدا کوی. علماء خو هغه دی د انبیاء وارثان دی. انبیاء کرام علیهم السلام څه پریخودلے دی: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ﴾. (سورة الانبیاء: ۲۵).

زمونږ نبی ﷺ څه پریخودلے دی قرآن وسنت. نود پیغمبر وارث هغه عالم دے. چه په توحید برابر وی اود قرآن درس تدریس جاری ساتی. دابه نه وائی چه بس عالم شو. نو وارث د نبی ﷺ به وی. څنے بدعات کوی. نوداخود پیغمبروارث نه شی کیدے.

"لم یورثوا دینارا ولا درهما ": - حدیث کښی راځی: ماترکناها صدقة. دے کښی حکمت دادے چه خلق به وائی: چه مال ته چل وو. داپیغمبری نه وه. خودولت ئی راجمع کولو. داپه هغوی باندے الزام راتلو. ددوجے نه پیغمبر زکوة هم نه اخلی. بلکه اهل بیت له هم زکوة اغستل منع دی.
مرقات کښی ملاعلی قاری وائی: الصوفی لایملك ولا یملك. صوفی د څه مالك نه وی. صوفیان وائی طمع مه کوه. جمع مه کوه. منع مه کوه. بیا ملا علی قاری وائی: اقل العلم بل اقل الایمان ان یعرف ان الدنیا فانیة وان العقبی باقیة. دنیا فانی ده او آخرت باقی دے. دالوئی علم دے. چه درسره ډیرمال نه وی نوبیے غمه به ئی.
"ورثوا العلم ": - نه مراد میراث د علم دے. کوم وراثتونه چه د زکریا علیه السلام دی: ﴿يَرِثُنِى وَيَرِثُ مِنْ ءَالِ يَعْقُوبَ ۖ وَٱجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا﴾ (سورة مریم: ٦). یا ﴿وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ دَاوُۥدَ﴾ (سورة النمل: ١٦). دا علمی وراثت دے. "اخذه اخذبحظ وافر ": - الله چه چاله علم ورکړی نودا ډیر لوئی دولت دے. دانه چه وائی: ﴿يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ﴾. (سورة القصص ۷۹). قارون ډیر د لوئی بخت خاوند وو. خوبخت د عالم ډیراوچت دے. چه چاله الله علم ورکړیدے. شاعر وائی:

تعلم ماالرزیة فقد مال — ولا شاة تموت ولا بعیر
ولکن الرزیة فقد حر — یموت بموته بشر کثیر

فتح اله کښې دي : چه سفیان ثوریؒ به فرمائیل : لا اعلم الیوم شیئًا افضل من طلب العلم قیل له : لیس لهم نیة ' قال طلبهم له نیة ' وقال الحسن من طلب العلم یرید به ما عندالله کان خیر اله مما طلعت علیه الشمس ' وقال الشافعي معنی طلب العلم افضل من صلوة النافلة ۔

حدیث ۱٦ : وعن ابی امامة الباهلی قال ذکر لرسول الله ﷺ رجلان احدهما عابد..الخ۔

" باهلی ": ۔ بنوباهله یو قوم وو ۔ دے د هغے نه وو ۔ باهلی هغه وو ۔ چه په جاهلیت کښې هغه خپله واقعه بیانوی ۔ علامه آلوسیؒ نقل کړے ده : ﴿ وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ لَّا إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَـٰنُ الرَّحِيمُ ﴾ ۔ (سورة البقرة : ۱٦۳) ۔ آیت د لاندے ۔ د اوړو نه ئی ځان له بت جوړ کړے وو ۔ عبادت به ئی کولو ۔ چه کله به اوږے شو ۔ نو خپل اله به ئی واغړلو او روټی به ئی ترے پخے کړے ۔ او وئے خوړلو نو بیا به ئی په ځان پورے خاندل ۔ چه اسلام ئی قبول کړو ۔ چه دا مونږه څنګه کارکوو ۔ او دا واقعه مرقات کښې هم دویم جلدد مشکوة د یو حدیث تشریح کښې شته ۔

"کفضلی علی ادنکم ": ۔ ستاسو نه په ټولو کښې اوچت باندے زما فضیلت وو ۔ نو هم تیك وه ۔ خو په تاسو کښې د ټولو نه په کم باندے زما فضیلت دے ۔ داسے د عالم او د عابد په مینځ کښې نسبت دے ۔ ددے وجه داده : چه عالم عبادت کوی ۔ نو هغه وجه بصیرت کوی ۔ عابد چه عبادت کوی نو هغه تقلیدًا کوی ۔ هغه عبادت علی وجه البصیرت نه کوی ۔ نو ځکه عالم اوچت دے ۔ ددے وجے نه شیطان صوفیان ګمراه کوی ۔ خوکلك عالم په هغے باندے د شیطان وس نه رسی : ﴿إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ ۔ (سورة النحل : ۹۹) ۔

واقعه : تفسیرمواهب الرحمن د : ﴿ سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴾ (سورة الاسراء : ۷۷) ۔ د لاندے واقعه نقل کړے ده ۔ شیخ عبدالقادر جیلانیؒ ته په تیاره کښې آواز اوشو ۔ عبادتونه مه کوه ۔ مادرته معاف کړل ۔ نو هغه اووئیل : اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ۔ داخه وائی پیغمبر ته خو الله وائی ﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴾ (سورة الحجر : ۹۹) نو شیطان ورله آواز ورکړو ۔ چه په علم رانه خلاص شوے ۔ شیطان اووئیل چه ما ۳۰ صوفیان خطاء کړیدی ۔ خوته رانه بچ شوے ۔ دغه واقعه شیخ الاسلامؒ مجموع فتاوی کښې هم نقل کړے ده ۔ او هغوی اویا کسان یادوی ۔ (۱ : ۱۲۹)

"معلم الناس الخیر": ـ دعاګانے غواړی د هغه چا دپاره چه قرآن ښائی ـ خیر اصل کښی قرآن دے: خیر کم من تعلم القرآن وعلمه ـ: ﴿ وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوا خَيْرًا ﴾ (سورة النحل: ۳۰)ـ اوکافران قرآن ته خیر نه وائی ـ بلکه وائی: ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَا إِلَيْهِ ﴾ ـ (سورة الاحقاف: ۱۱) ـ بیا ددینه عامه خبره ده هر د خیرکار ـ حدیث ښائی دین مسئله ښائی ـ هرڅه چه ښائی ـ نو ددوی دپاره دعاګانے غواړی ـ

"عن مکحول مرسلا": ـ مکحول شامی غټ تابعی او ثقه دے ـ شامیانو کښی افقه دے ـ علماء څلور دی ـ مدینه کښی ابن المسیبؒ، او کوفه کښی امام شعبیؒ، او حسن بصریؒ بصره کښی، او شام کښی مکحول ـ (اشعة اللمعات)ـ

دا مرسل روایت دے ـ تخریج المشکوة کښی علامه البانیؒ وائی: دا حدیث غریب دے ـ او بعضے علماء وائی: چه دا روایت حسن دے ـ خو چه څوک ورته حسن وائی ـ نو په دے کښی لږ بعد دے ـ علامه البانیؒ وائی: په دے کښی راوی دے "ولید بن جمیل فیه ضعف من قبل حفظه" ـ دده په حافظه کښی نقصان دے ـ داسے دده نه بل راوی روایت کوی ـ نو د هغه نوم دے سلمه بن رجاء او د سلمه بن رجاء نه یزید بن هارون ثقه ثبت خلاف کړیدے ـ

محترم عبدالعزیز نورستانی صاحب په حقیقة الالحاد کښی لیکلے دی: چه یزید بن هارون د اهل حدیثو میزان دے ـ نو دیته به مرسل حسن وایو ـ نو علامه البانیؒ دلته مرفوع متصل حدیث ضعیف کړیدے ـ او مرسل ئی صحیح کړیدے ـ لیکن بل کتاب دے ترغیب الترهیب کښی د هغے په تعلیق کښی ئی دا روایت راغستے دے ـ چه مرفوع روایت هم صحیح دے ـ دا روایت راغستے دے علامه البانیؒ صحیح سنن الترمذی کښی ـ او: لیصلون علی معلم الناس الخیر ـ صحیح الجامع کښی نمبر ۱۸۳۴ کښی نقل کړیدے: ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ﴾ (سورة الفاطر: ۲۸) ـ عالم کښی به خشیت وی ـ د انسان په زړه کښی چه یره د الله د عظمت د وجے نه راشی ـ نو دیته خشیت وئیلے کیږی ـ کوم علم سره چه خشیت او تقوی نه وی ـ دا فائده مند علم نه دے: قال بعض السلف الایمان عریان ولباسه التقوی وزینته الحیاء وثمرته العلم ـ (مفتاح دار السعادة: ۳۹۹)ـ

مرقات کښی دی: خشیت خوف ته وائی چه تعظیم ورسره وی ـ اولیکی: چه علم خشیت پیدا کوی او

داد تقوی نتیجه ده. اودا باعث د اکرمیت دے: ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾ (سورة الحجرات : ١٣): ﴿ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ﴾. (سورة النساء : ١٣١)

حدیث ۱۷: وعن ابی سعیدالخدری قال قال رسول الله ﷺ ان الناس لکم تبع .. ..الخ.

"ان الناس لکم تبع": - خلق به ستاسو تابع وی شاګردان به مو راځی. تاسو به استاذان ئی عالم به ستاسو تابع وی تاسو به متبوع ئی. "یتفقهون فی الدین": - د هغوی مقصد به دا وی. چه مونږ په دین کښی فقاهت حاصل کړو: ﴿ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ ﴾ (سورة التوبة : ۱۲۲). علامه طیبی" الکاشف عن حقائق السنن کښی لیکی: المراد من العلم مالا مندوحة للعبد من تعلمه 'لمعرفة الصانع 'والعلم بوحدانیته' ونبوة رسوله. چه انسان له د هغے زده کړه ضروری او لازمی او لابدی ده. د هغے د معرفت نه تختیدے نه شی لکه معرفة الصانع لکه علم د وحدانیت لکه مثلا نبوت او رسالت مثلا: کیفیة الصلاة فان تعلمه فرض عین. دادی علمونه حاصلول فرض دی.

بیا وریسے وائی: چه مقصد به د طالب علم داوی چه احیاء د دین اوکړی. اذلال د شیطان اوکړی. اتعاب د نفس اوکړی. خواهش او لذت ختم کړی. دا مجاهد هم دے. مجاهد هم دا کار کوی.

: لم یکن السلف یطلقون اسم الفقه الا علی العلم الذی یصحبه العمل. (مفتاح دار السعادة ۱ : ۳۲۰).

العلم الذی هو فرض عین لا یسع مسلم جهله انواع (۱) علم اصول الایمان. (۲) : علم شرائع الاسلام. (۳) : علم المحرمات. (٤) : علم احکام المعاشرة و المعاملة. (مفتاح دار السعادة).

"فاستوصوا بهم خیرا": - طالبانو ته مرحبا اووائی. نبی ﷺ به ورته مرحبا وئیل: اهلا وسهلا ومرحبا - صفوان رضی الله عنه ته نبی ﷺ وئیلے وو: مرحبا بطالب العلم. (اسد الغابة) - علامه ابن عبدالبر" فرمائی: اهلا وسهلا بالذین اُحبهم واودهم فی الله ذی الالآء.

د حدیث څه مطلب دے: "فاستوصوا بهم خیرا" ددوی په حق کښی زما وصیت قبول کړه. خیرورته رسوه فائدے ورته رسوه. (۲) دویم مطلب دادے: کله کله په درس کښی طالب علمانو ته پرسوز خبرے کوه چه آثرواخلی. په اخلاص سره د هغوی د اصلاح کوشش کوه. (۳) دریم مطلب دادے: لږ سوچ اوکړه - چه څومره د لرے نه تاله طالبان راغلے دی. اوته سبق نه وائی. خلق وائی مونږ راغلو ناوے له.

او ناوے تلے ده پلارکره ۔ طالب راغے تاله او ته سبق نه وائی ۔ نو اووایه چه نبی ﷺ کوم وصیت کړے وو ۔ هغه تا ځائی ته اورسواو که نه ۔ د خپل ضمیرنه تپوس اوکړه ۔ دغه علامه طیبیؒ وائی ته د خپل ضمیرنه تپوس اوکړه ۔ چه دا خلق د کوم ځائی نه راغلے دی ۔ او تا ددوی دپاره څه کړیدی ۔ آیا طالب علمانوسره دغه نوع معامله مناسبه ده ۔

مفتاح دار السعادة کښی دی راوی وائی : چه سیدنا ابوسعید خدری مونږه طالبان به ئی لیدو ۔ فرمائیل به ئی : مرحبا بوصیة رسول الله ﷺ ۔ دا کلام د باب التجرید سره تعلق ساتی ۔ هریو کس دے د خپل نفس نه یو شخص راوباسی او تپوس دے ترے اوکړی ۔ چه دا څه د پیغمبر میلمنو سره څه کوم ۔ آیا دیو مسلمان عالم شعارکیدے شی ۔

اپنے نفس میں ڈوب کر پاجا سراغ زندگی تو اگر میرا نہیں بنتا نہ بن اپنا تو بن

الله فرمائی : ﴿ بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ۝ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُ ﴾ ۔ (سورة القیامة : ۱۴ ' ۱۵) ۔

ابودرداء رضی الله عنه باره کښی راځی : اذا رأی طلبة العلم قال مرحبًا بطلبة العلم ان رسول الله ﷺ اوصی بکم ۔ (الرحمة المهداة : ۱۰) ۔

حدیث ۱۸ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ الکلمة الحکمة ضالة الحکیم .الخ ۔

"ضالة المومن" : ۔ داد مومن یو روك شوے څیز دے ۔ خوډیر قیمتی دے ۔ لکه دیو تن یو قیمتی شیء روك شو ۔ او بیا ئی اومومی نو خوشحالیږی ۔ نوګویا د طالب علم نه هر وخت کښی حکمت روك شویدے ۔ اودا یو حکیم دے چه چرته ئی بیا اومندلو ۔ نو په دے باندے دے خوشحالیږی ۔

" فهو احق بها " : ۔ هغه ډیر لائق دے په دے سره چه واخلی ئی ۔ ابن عساکرؒ وائی د علی رضی الله عنه نه نقل کوی ۔ مرقات کښی هم دی : انظر الی ما قال ولا تنظر الی من قال ۔ داخبره چه څه ده ۔ دا واخله سړی ته مه ګوره ۔ چه سړے څوك دے ۔ سړے که هرڅوك دے ؟ ۔ خو چه خبره ئی ښکلے ده ۔ نو هغه واخله ۔ لکه لقطه موندونکے به مالك له د علاماتو دبیان نه بعد خپل امانت ورکوی ۔ داسے دیو عالم دین نه دداسے مسئلے تپوس اوشو ۔ چه خودل ورته ضروری دی ۔ اومخاطب کښی د هغے د فهم استعداد شته ۔ نودا دینی امانت به ورته حواله کوی ۔ لیکن که په ده کښی د هغے د فهم استعداد نه وی نوبیا ئی دا حکم نه دے ۔ لکه روك شوے څیز به مالك له ورکوے ۔ دغسے علم به د علم قدردان

صاحب استعداد ته ایزده کوے۔

؎ ومن منع المستوجبین فقد ظلم فمن منع الجهال علمًا اضاعه

مظاهرحق کښې دی: بایزیدبسطامیؒ فرمائی: که چرته تاته حقه خبره وینځے اوکړه۔ اوته دے له اهمیت په دے وجه نه ورکوی۔ چه دا خووینځه ده۔ نوتا کښې غروراو تکبر دے۔ که حقه خبره درته هرچا اوکړه۔ نو منه ئی او هرچاځه کوے۔ که په دیوال دے سمه خبره اولیده۔ یا ئی څه لیکلے وی۔ نود هغے نه عبرت واخله۔ په دے لیکلو کښې عبرت دے۔

شیخ سعدیؒ فرمائی:

مرد باید که گیرد اندر گوش گر نوشت است پند بر دیوار

سړے هغه دے چه په دیوال ئی د نصیحت خبره اولیده۔ او هغه هم راواخلی۔ او دماغو کښې ئی کینوی او عمل پرے کوی۔ سړی له پکار دی۔ چه خپل غوږ تکی کړی۔

غلطاست آنچه مدعی گویند خفته را خفته کے کند بیدار (گلستان)

دا خبره یو دعوه گیر غلطه کوی۔ چه یو اوده به بل اوده خنګه راویخ کړی۔ د دیوال لیکلے پند تا راویخولے شی۔ " الکلمة الحکمة ":۔ دا لفظ دحکمت د کلمے نه بدل دے۔ یا ورله صفت دے: ای کلمة ذات حکمة۔ علم اهلیت لرونکی ته خودل پکار دی۔

؎ بے ادب را علم و فن آموختن دادن تیغے بدست راہزن

دحدیث مقام: وله شواهد وقال ابن الجوزی هذا حدیث لا یصح وابراهیم متروك۔

(مفتاح دار السعادة: ۲۸٤)

حدیث ۱۹: وعن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ فقیه واحد اشدعلی الشیطن ..الخ۔

دے کښې روح بن جناح راوی دے۔ اواکثر علماء ئی ضعیف ګڼړی۔

" فقیه واحد ": ۔ ګویا دومره لویه مرتبه ده د فقیه۔ ده له الله حکمت، علم هم ورکړیدے۔ ده له الله عمل هم ورکړیدے۔ ده له الله اجتهادی قوت هم ورکړیدے۔ بل دا چه شیطان راغورځوی۔ او د فقیه نه فقط هغه عالم نه دے مراد۔ چه هغه ته د شامی او قاضی خان جزئیات یاد وی۔ اګرچه عموم کښې دے هم رائحی۔ او د فقیه یا د مفتی اطلاق سلف په مجتهد کوی۔ او مخکښې ئی ذکر اوشو۔ چه دابه

هم شرط وی چه عمل پرے کوی۔ علی رضی الله عنه به فرمائیل: چه علم عمل ته آواز اوکړی که عمل کوی نو علم ورسره پاتے شی کنی رخصت ترے واخلی۔

حالی کا ایک نکتہ ہو تمہیں یاد برابر ہے علم وعمل دونوں کے اعداد برابر

حدیث ۲۰: وعن انس قال قال رسول الله ﷺ طلب العلم فريضة على كل مسلم ..الخ.

د علم نه اعتقادیات، الهیات، نبوات، د عباداتو او د معاملاتو علم دے۔

"فريضة على كل مسلم": په هر مسلمان فرض دی بیا دوه قسمه فرض دی (۱): فرض عین. (۲): فرض کفایه۔ اللباب تفسیر کښی هم مفسر دد ے آیت د لاندے لیکی: ﴿فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾ (سورة التوبة: ۱۲۲)۔ بعضے خبرے به خامخواه ازده کوی. اخلاص به زده کوی۔ د ریاء نه به ځان بچ کوی. بعضے خبرے دی هغه ډیرے ضروری نه دی. چه ته غټ مفتی جوړ شے۔ تدریس کوے۔ قضاوت مقام ته اورسے۔ نو دا فرض کفایه ده۔ "فريضة" فرض عین یا فرض کفایه۔ مرقات کښی دی: چه د فرض نه مخکښی ئی علم فرض دے۔ او په فرض کښی فرض اخلاص دے۔ اود فرض نه پس فرض چه یره قبول به شی یا نه۔

"مسلمة" داپه یو روایت کښی هم نشته دے۔ دا هسے خلقو جوړ کړیدے۔ او "مسلم" شته دے. او بعضے وائی: د کثرت طرق د وجے دا روایت حسن جوړیدے شی۔

د روایت پنځوس ضعیف طرق شته۔ دد ے وجے روایت صحیح دے۔ علامه البانیؒ ورته صحیح وائی لیکن اضوء المصابیح کښی ئی دے ته هم غیر ثابت وئیلے دے۔ او علامه ابن عبدالبرؒ کتاب المجموع شرح مهذب ۱: ۶۲ باندے لیکلے دی: وهذا الحديث وان لم يكن ثابتا فمعناه صحيح.

"كمقلد الخنازير الجوهر": البدایه والنهایه ۵: ۳۲۲ کښی ابن کثیرؒ د یو عالم خوب ذکر کړیدے. خوب ئی لیدو وائی: چه ما سره بنکلے ملغلره ده. یعنی ګندګی ته دغه جوهر غورځوم. نود خوب تعبیر ئی ورله اوویستو۔ چه ستا شاګردان نا اهله دی. علم او قرآن ناقدروته ازده کوی.

انس رضی الله عنه فرمائی: لاتطرحوا الدر في افواه الكلاب۔ (المحدث الفاصل ۱: ۵۷۴).

او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به فرمائیل: لا تضعوه في غير اهله كقاذف اللؤلؤ الى الخنازير.

(المحدث الفاصل ۱: ۵۷۴)۔ او دا ئی هم لیکلے دی چه: انظروا الى هذه الدنانير لا تلقوها على الكنائس.

یعنی ملغلرے د سپو او د خنزیرانو په خُلو کښې مه ایږده۔ او دنانیرپه ډیران مه غورځوه۔

مخکښې حدیث کښې د فقیه او د فقهے بیان ئې اوکړو۔ اوس د فقاهت دا یوه خبره ده۔ چه سړی ته به ګورے چه ده ته سبق اوښایم اوکه اونه ښایم۔ ده کښې کوم اخلاق دی اوکوم نه دی۔ د خپل استاذ ادب کول تعلیم المتعلم ۲۲ کښې هم دی: ومن توقیر المعلم ان لا یمشی امامه ولا یجلس مکانه ولا یبتدی بالکلام عنده الا باذنه ولا یکثر الکلام عنده الا باذنه ' ولا یسال شیئا عند ملالته ' ویراعی الوقت ' ومن توقیره توقیر اولاده۔

دویم داده: چه د استاذ ازار به نه اخلے کنی بیا به دے په علم کښې برکت نه وی۔

ډیر عالم مے دے په دے سترګو لیدلے　　د ازارا چا بازار موندلے نه دے

مباش درپي ازاري وهرچه خواهي کن　　که درشریعت ماغیرازیں گناہے نیست

علامه محمد طاهر صاحبؒ به اشعار وئیل:

واخوان حسبتهم دروعًا　　فکانوها ولکن للاعادی

وخلتهم سهاما صائبات　　فکانوها ولکن فی فؤادی

(تاریخ اسلام ۱۰: ۳۴۰)

ما وئیل چه دا زما رونړه دی او زغری دی زغری به راله جوړیدے۔ خو د دشمنانو زغرے شوے۔ زمانه شوے۔ ماخو وئیل داخو به غشي وی څه به په دے دشمن او هلم نو هغوی غشي زما سینے ته برابر کړه۔

فیا عجبا لمن ا ربیه طفلا　　القمه بأ اطراف البنان

عجیبه خبره ده څه یو تن وړوکے لوئی کړم د ځان سره۔ نوری ورله څه برابروم۔ خوله کښې ورله څه اچوم چه دا خوره۔ خو چه دے غټ شی۔ او د هغے نه پس ماته خپے اړمے کړی۔ ددے مصداق شی

اعلمه الرمایة کل یوم　　فلما اشتد ساعده رمانی

وکم علمته نظم القوافی　　فلما قال قافیةً هجانی

(التبیان لمعمر بن اویس ' الدرالمصون ۲: ۱۲۴)

سعدیا شیراز یا پندے ندہ کم ذات را

کم ذات چوں عاقل شود دشنام دہ استاد را

وائی هرڅه به کوے خو کم ذات والو ته به سبق نه ښائی۔ ځکه دے چه لږ پوهه شی۔ او په خپلو خپو ئی اودروے۔ نو د هغے نه پس دے استاذ ته کنځلے شروع کړی۔

یوه ښځه وه د شرمخ بچے ئی ساتلے وو۔ چه دابه غټ شی۔ نو هغے له ئی بیزه ساتلے وه۔ د بیزے په پیو۔ چه هغه شرمخ غټ شو۔ نو اول ئی بیزه ماته کړه۔

عاقبت گرگ زادہ گرگ شود گرچہ باآدمی بزرگ شود (گلستان)

که سړے ئی ډیر سموی خو چه د شرمخ صفات په کښی وی۔ نو د شرمخ د بچی نه به شرمخ جوړیږی۔

قتلت شویهتی وفجعت قلبی وانت لشاتنا ابن الربیب

غذیت بدرها فغدرت فیها فمن انباك ان اباك ذئب

اذا کانت الطباع طباع سوء فلا ادب یفید ولا ادیب

زړه دے راله خفه کړو۔ زما ګډه دے ماته کړه۔ تاته چا وئیل چه ستا پلار شرمخ وو۔ نو بیا وائی چه کله د انسان فطرت وران شی۔ نه ادب فائده ورکوی اونه ادیب فائده ورکوی۔

الحق الصریح کښی دی: چه عزالدین اجماع نقل کړے ده چه: لا یسمی المقلدعالما۔ اول ئی وئیلے وو چه داسے به نه وائی چه اجماع ده۔ او اوس د: کلام اللیل یمحوه النهار۔ هغه خبره ده۔

الیواقیت والجواهر فی بیان عقائد الاکابر: ۴۷۸ باندے امام شعرانی" لیکلے دی: چه امام ابو حنیفة" فرمائی: لا ینبغی لمن لم یعرف دلیلی ان یفتی بکلامی۔ او من جاء باحسن منه فهواولی بالصواب.

اوامام مالك" وائی: مامن احد الا وماخوذ من کلامه و مردود علیه الا رسول الله ﷺ۔

اوامام شافعی" وائی: اذا صح الحدیث فهومذهبی۔ او اذا رأیتم کلامی یخالف الحدیث فاعملوابالحدیث واضربوا کلامی الحائط۔ آخر کښی لیکی: هذا محمول علی من اعطی قوة الاجتهاد واما الضعیف فیجب علیه التقلید لاحد من الائمة والا هلك وضل۔

اومقدمه د میزان الکبری کښی کښی امام شعرانی" لیکی: لا تقلدنی ولا تقلدمالکا ولاالاوزاعی ولاالنخعی ولا غیرهم وخذالاحکام من حیث اخذوا قلت ومحمول علی من له قدرة علی استنباط الاحکام من الکتاب والسنة والا فقد صرح العلماء بان التقلید واجب علی العامی۔ (ص: ٦٠)۔

اګرچه دا حوالے د شوافعو د اکابرینو دی۔ لیکن د البحرالرائق کتاب الطلاق دارالکتب العلمیة ۴: ۲۳۵ باندے دی: لکنی رأیته فی کتب الشافعیة وقواعدنا لا تاباه کما لا یخفی۔

او منحة الخالق ۵: ۴۸ باندے دی: اما القذف فی الخلوة فصغیرة عندالشافعیة کما فی شرح جمع الجوامع وقواعدنا لا تاباه۔ او د عشر بحث کښی درمختار کښی دی: ویجب نصفه فی مسقی غرب وقواعدنا لا تاباه۔

او علامه شامی ۵ : ۳۷۳ طبع المصطفی الحلبی مصر کښی لیکلے دی : واما اذا اخذ المفتی الهدیة لیرخص فی الفتوی فان کان بوجه باطل فهو رجل فاجر یبدّل احکام الله ولیشتری بها ثمناً قلیلاً وان کان الوجه صحیح فهو مکروه کراهة شدیدة ۔ انتهی هذا کلامه وقواعدنا لا تاباه۔

اوپه رسالة التنقید علی من افرط فی التقلید : ۳۲ باندے شیخ عبدالسلامؒ فرمائیلے دی : بل یو مشهور مقلد دے ۔ امام شعرانی خوپه انصاف ئی کتاب لیکلے دے ۔ دهغه کتاب دے میزان کبری د شعرانی ۔ او : ۳۵ ئی لیکلے دی چه : اذا صح الحدیث فهومذهبی ۔ علامه بیدی د انصاف خبره کړے ده ۔ لیکن د انصاف خبره نیمه نه وی ۔ وریسے داده : لایخفی ان ذالك لمن كان اهلاً للنظر فی النصوص ومعرفة حکمها من منسوخها ..الخ ۔

او دا : لا یقلد الا عصبی اوغبی ۔ جواب ایضاح الادلة : ۴۳ باندے موجود دے ۔

(۳) : سلاسل الذهب د زرکشی چه مکتبه ابن تیمیه شائع کړیدے په : ۴۵۰ ئی د ابن صلاح قول نقل کړیدے : التقلید یتعین هذه الائمة الاربعة دون غیرهم من الصحابة لان مذاهبهم انتشرت وانبسطت حتی ظهر فیها تقیید مطلقها ' وتخصیص عامها ۔

نواب صدیق حسن خان د التاج المکلل : ۳۳۷ باندے لیکلے دی : ولیس هذا من التقلید لانه عمل بروایة ثقة ' والتقلید عمل برایه ـ او : ۳۳۹ باندے لیکی : والعامی المعتمد علی السوال لیس بمقلد ولا مجتهد بل عامل بالدلیل بواسطة مجتهد یفهمه معانیه 'وقد کان غالب السلف بل الصحابة والتابعین وتابعیهم الذین هم خیر القرون من هذه الطبقة ۔ فمن قال لا واسطة بین المقلد والمجتهد ۔ قلنا قد کان غالب السلف الصالح لیسوا بمقلدین ولا مجتهدین ' او د بحث آخر کښی لیکی : من قال ان جمیع الصحابة مجتهدون وجمیع التابعین وتابعیهم کذالك فقد اعظم الفریة وجاء بما لا یقبله عارف ۔

" کمقلد الخنازیر " : ۔ اوپه صحیح بخاری ۱ : ۶۱ باندے دی : فجاء وا متقلدین السیوف ۔

معلومیږی چه د سړو دپاره د تورو دغه تقلید او زوړندول کمال او خائست دے ۔

حدیث ۲۱ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ خصلتان لایجتمعان فی منافق ..الخ ۔

" **لا یجتمعان** " : ۔ دا مانعة الجمع دے ۔ په منافق کښی دا دواړه نه جمع کیږی ۔

" **حسن سمت** " : ۔ خائسته چال چلن ۔ " **ولا فقه فی الدین** " : ۔ منافق کښی د دین فقاهت نشته :

﴿فَمَا لِهَـٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا﴾ - (سورة النساء : ۷۸) - حدیث کښې دواړه صفتونه دے له جمع کړل چه مومن ئے په حاصلولو کښې دلچسپی اولری. د منافق نه اعتقادی او عملی هریو منافق اغستلے کیدے شی. او ریاکار په کښې هم داخل دے. او علامه توریشتی فرمائی اومرقات کښې د هغوی نه نقل کړیدے : حقیقة الفقه فی الدین ما وقع فی القلب ثم ظهر علی اللسان 'فافاد العمل 'واورث الخشیة والتقوی 'واما الذی یتدارس ابوابا منه لیتعزز به ویتأکل به فانه بمعزل عن الرتبة العظمی.

حدیث ۲۲ : وعن انس قال قال رسول الله ﷺ من خرج فی طلب العلم فهو فی ..الخ.

" حتی یرجع ": - (۱) : کورته واپس شوے نه ئی - (۲) : یا مسجدته واپس شوے نه وی - (۳) : یا مکمل فارغ شوے نه ئی. نو طالب چه غرمه واپس ځی. نو سوچ دے اوکړی. چه زما په علم کښې نن څه اضافه اوشوه او که نه. که شوے وی نو د الله حمد دے ادا کړی. او که نه وی نو : ﴿ قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴾ (سورة النازعات : ۱۲) . ماخو واپسی اوکړه. خوډیر په تاوان کښې پریوتلم.

طالب علم شیطان ذلیله کوی. او احیاء الدین کوی. او د مجاهد غوندے ځان سترے کوی.

لکه چه جهاد کښې د دین قوام دے. چه اسلحه په کافر باندے استعمال کړی. په علم هم د دین قوام دے. ددے جهاد دوه قسمه دے - (۱) : یو په لاس اوپه توره دے. (۲) : او بل په حجت اوپه بیان دے.

وهذا الجهاد الخاصة من اتباع الرسل. (مفتاح دار السعادة : ۲۸۰).

حدیث ۲۳ : وعن سخبرة الازدی قال قال رسول الله ﷺ من طلب العلم کان ....الخ.

طالب علم چه اولنے قدم واخلی نو ګناهونه ئی معاف دی. ظاهری او واړه ګناهونه. نه غټ اونه حق العبد. ملاعلی قاری لیکلے دی : حدیث کښې ضعف دے. او د کتاب او د سنت مشهوره نه څکه خلاف دے - چه کفارے واجبے دی - دغسے حدود نه معاف کیږی - نو معافی د الله حق او د وړو ګناهونو سره متعلق ده. او یا د حدیث مطلب دا دے : چه د طالب علم دا توبه د رد المظالم زریعه ده. چه علم اوکړی. د اهمیت نه به ئی خبر شی. نو مظالم به واپس کړی.

حدیث ۲۴ : وعن ابی سعید الخدری قال قال رسول الله ﷺ لن یشبع المومن من ..الخ.

" من خیر " : چه د ظاهر او د باطن تکمیل په هغے راځی.

طالب علم به هر وخت کښې اوږے اوږے وی۔ داسے به نه وائی چه زما علم سرته اورسیدو۔ دے به د علم د خبرے نه چرته هم نه مړیږی۔ امام احمدؒ ته به چا وئیل چه ترکوم وخت پورے به دا محبره درسره وی۔ هغه سره به په هر وخت کښې دوات وو۔ وئیل ئی: المحبرة الی المقبرة ۔ ترمرګه پورے به د علم شغل ساتم۔ موسیٰ علیه السلام د الله پیغمبر وو۔ بیا هم د الله په حکم سیدنا خضرعلیه السلام له لاړو۔ انسان په حیواناتو په علم اوچت دے۔ څکه خوراك خودده نه زیات میخه او منزرے هم کوی۔ د جماع طاقت هم په هغوی کښې زیات وی۔ او د بعض عمرونه هم ډیر وی۔ اوعالم له پکار دی۔ چه د "رب زدنی علما" سوال کوی۔ اوخپل علم نیمګرتیا ته نه پریږدی۔

ولم اری فی عیوب الناس عیبا   کنقص القادر ین علی التمام (متنبی)۔

شیخنا الجاجرویؒ لیکی: "لن یشبع" د مضارع صیغه په استمرار دلالت کوی۔ په دے حدیث کښې د علم سره شغل ساتونکوله خوشخبری ده۔ چه دا خلق به ان شاء الله د دنیا نه په ایمان سره داسے رخصت کیږی۔ چه الله به ترے راضی وی۔ په دے وجه د دین د تحصیل په شغل کښې ترمرګه بغیر د سستی نه مصروفیت یوغټ سعادت دے۔

علامه ابن تیمیةؒ لیکلے دی: وفی الاثرنوم العالم تسبیح ۔ (مجموعة الفتاوی ٤ : ٣٢)۔

اودا هرڅه آسانیږی چه د علم لذت ورته الله نصیب کړی۔

علامه شامیؒ مقدمه کښې د تاج سبکی اشعار نقل کړیدی:

سهری لتنقیح العلوم الذلی   من وصل غانیة و طیب عناق
وتمایلی طربا لحل عویصة   فی الذهن ابلغ من مدامة ساق
وصریراقلامی علی صفحاتها   اشهی من الدّوکاة والعشاق
والذ من نقر الفتاة لدفها   نقری لألقی الرمل عن اوراق

حدیث ٢٥ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ من سئل عن علم علمه ثم ...الخ۔

"بلجام من نار": ۔جزا من جنس العمل وی۔ ددے دپاره شرطونه دی۔ (١): سائل ته ضرورت فی الحال دے۔ او ده له مسئله ورتله او ورته ئی نه ښائی۔ مثلاً هغه طواف کوی۔ اوڅه مسئله ورته راغله۔ او ستانه تپوس کوی۔ اوته ورته مسئله نه بیانوی او درزی درله هم۔ (٢): شرط دادے چه بل څوك خودونکے ددے نه علاوه نه وی۔ (٣): شرط دے چه کوم سوال کوی۔ نوپه خالص نیت سره ئی کوی

ـ د قابلیت د معلومولود پاره ئی نه کوی۔ بے فائدے تپوسونه به نه کوی۔ (۴) : عالم ته پته اولگی چه چا تپوس کړیدے په ده کښی صلاحیت دے۔ چه په جواب پوهه شی۔ او واقعی دده خبرے جواب ورله ورکول غواړی۔ (۵) : دے عالم ته څه عذرنه وی۔ او دے خبره پته کړی نو " الـجم بلجام من نار " دا شرطونه تفسیر قرطبی هم ذکرکړے دی : ﴿ إِنَّ الَّـذِيـنَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَـئِكَ يَلعَنُهُمُ اللّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ﴾۔ (سورة البقرة : ۱۵۹)۔

دده آیت دلاندے او دا شرطونه محدثینودلته هم ذکر کړیدی۔ مثلًا علامه طیبیؒ وائی : هذا فی العلم الذی یلزمه تعلیمه ایاه ـ دا هغه علم دے چه په ده باندے خودل لازم دی۔ چه تعلیم به بل ته ورکوی۔ ویتعین فرضه علیه ـ په ده باندے داخبره متعین ده فرض ده۔ مثلًا یو سړے راغے او وائی چه ما مسلمان کړه نو پکار دی چه مسلمان ئی کړے۔ یا یو تن د مانځه په وخت کښی راغے۔چه ماله خو مونځ نه راځی ماته د مانځه طریقه اوښایه۔ نو په دغه وخت کښی به ئی ښائی۔ داخبره په نوافلو کښی نه ده : ولیس کذالك الامرفی النوافل ای الامورالتی لا ضرورة بالناس الی معرفتها۔ (الکاشف)۔

یو خالص امی راشی۔ او وائی ماته د رفع الیدین دا مسئله بیان کړه۔ وایه په آرام کینه۔ داچه نه کوی دا هم دین دے ـ که یو طالب یا عالم درله راغے۔ او څه بحث کول غواړی نو وایه ټیك ده۔ ځکه چه په دی کښی صلاحیت شته ـ که پریږدی ئی نو هم ئی تقلیدًا پریږدی اوکه کوی ئی نو بیائی تقلیدًا کوی۔ هغه په دلائلو نه پوهیږی۔ امیان غیرمقلدین کښی صلاحیت نشته۔ دغسے احناف عوام غیرمقلدین کښی صلاحیت نشته۔ داورله شرطونه دی۔

تفسیر قرطبی کښی مثال ورکړیدے : د عذاب قبرد کیفیت اود استویٰ علی العرش تپوسونه د امیانو کول۔

اوس دا علم پته وی ولے ؟ د کتمان العلم اسباب څه څه دی ؟ ۔(۱) : یره۔ که انسان یریږی چه دا مسئله بیان کړم نو یا مے مړکوی۔ اویارانه اندامونه کټ کوی۔ ده ته اجازت شته۔ خیر دے که مسئله نه بیانوی۔ (۲) : تکبردے د هغے د وجے نه مسئله نه بیانوی۔ (۳) : دده هغے سره دنیاوی غرض متعلق دے۔ د هغے د وجے مسئله نه بیانوی۔ (۴) : ناراست دے سست دے دده وجے نه مسئله نه بیانوی ۔ په دے کښی به د عالم مفتی د وخت لحاظ کوی۔

حکمت القرآن کښی دده آیت د لاندے لیکی : ﴿وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴾ (سورة الضحی : ۱۰)۔ چه

بعضے خلق پہ موبائلو باندے تپوسونہ کوی دا بے آدبی دہ۔ نوپہ موبائل بہ ھم تپوس نہ کوی۔ د عالمانو مجلس تہ راتلل لوئی گنڑی اونہ راځی۔
یوہ خبرہ دہ: کہ یو عالم پہ خپلہ اووائی چہ زمانہ تپوس کوے۔ اوخپل وخت ئی متعین کڑے وی۔ د مابنام نہ ترماسخوتن پورے۔ مثلاً نو پکار دہ چہ پہ موبائل ترے تپوس اوشی۔ شیعہ گان وائی: انکم علی دین من کتمه اعزه الله ومن اشاعه اذله الله ۔ او اھل السنت وائی: چہ دین پټول دا گناہ دے۔ مسلمان لہ پکار دی چہ د ضرورت اود اھم مسائلو تپوس پہ ھرڅہ مقدم کڑی۔
احکام القرآن د جصاصؒ ۹۴ باندے دی: مطلب في الحث على نظافة البدن والثياب۔
سلیمان بن فروخ ابوواصل وائی: چہ د ابوایوب انصاری سرہ مصافحہ اوکڑہ: فرأى في اظفاري طولا فقال جاء رجل الى النبي ﷺ يسئله عن خبر السماء فقال يجيء احدكم يسال عن خبر السماء واظفاره كانها اظفار الطير يجتمع فيها الخبائة والتفث۔
اوعلامہ ابن عبدالبرؒ جامع بیان العلم کښی لیکی: چہ عوام مسلمانان دے پہ شرعی حکم عمل ضروری گنڑی۔ اوپہ باریکو خبروکښی دے ځان نہ انخلوی۔
حدیث کښی دی: یوسڑی د نبی ﷺ پہ خدمت کښی حاضرشواو اوئے وئیل چہ ماتہ علمی دقائق اوخایہ۔ نبی ﷺ ترے تپوس اوکڑو۔ (۱) چہ د اللہ معرفت دے حاصل کڑیدے۔ (۲): څومرہ حقوق دے داللہ ادا کڑل۔ (۳): تاتہ د مرگ استحضار شتہ د مرگ تیارے دکڑیدے۔ آخرکښی ورتہ اوفرمائیل: څہ لاړ شہ اول بنیاد مضبوط کڑہ۔ بیا بہ دے د علمی دقائقو نہ خبردارکڑم۔
بعض خلق شرعی میراث نہ تقسیموی۔ نہ فرض شرعی پردہ کوی۔ سود' گانڑے اوکبائرکوی۔ او دغہ امیان مستحباتو کښی تعمق کوی۔ اومعاشرہ کښی انتشارپیدا کول ئی عادت دے۔

حدیث ۲۶: وعن كعب بن مالك قال قال رسول الله ﷺ من طلب العلم ليجاري ...الخ۔

"ادخله الله النار": ـ د نبی ﷺ نہ یو ځل تپوس اوشو: سئل رسول الله ﷺ عن الشهوة الخفية ـ پټ شہوت څہ تہ وائی نو وئیل یو سڑے دا خوښوی چہ زما مجلس کښی دے ھر وخت خلق ناست دی۔ اوزما دے یوشان جوڑ وی۔ نودا ھغہ پټ شہوت دے۔ چہ اللہ ئی نہ خوښوی: فقال هو الرجل يعلم العلم يحب ان يجلس اليه۔ (جامع بيان العلم: ۱۹۰)۔
نن صبا فیس بک باندے د تصویرونو شوق اخلاص ختم کڑیدے۔

فائده : د حدیث راوی هغه شاعرد ایمان نه ډك صحابی دے۔چه عسفان بادشاه ورته خط راولیږو :
اما بعد فانه قد بلغني ان صاحبك قدجفاك ولم يجعلك الله بدارهوان ولا مضيعة فالحق بنا نواسك۔ (بخاری)۔
اومصنف ابن ابی شیبه کښې دی : مالونه به درکړم۔ هغه د بادشاه خط ئی تنورته اچولے دے۔
حافظ ابن حجرؒ د بخاری ددے روایت په تشریح کښې لیکی : دل صنيع كعب هذا على قوة ايمانه و محبته لله ولرسوله والا فمن صار فى مثل حاله من الهجروالاعراض قديضعف عن احتمال ذالك و تحمله الرغبة فى الجاه والمال على هجران من هجره ولا سيما مع امنه من الملك الذى استدعاه اليه انه لا يكرهه على فراق دينه۔
(بخاری وشرحه فتح الباری)۔
طالب علم له پکار دی۔ چه په حدیث کښې ذکرشوو آفاتو نه ځان بچ کړے۔

د علم آفتونه

د علم غټ آفات دادی : (۱) : گناهونه۔ (۲) : حرام نظر۔ (۳) : حرامه لقمه۔ (۴) : غرور تکبر۔ (۵) : جنگ جهګړے کول۔ (٦) : دنیاکښې مشغولیت۔ (۷) : علم پټول۔ (۸) : نسیان۔

حدیث ۲۷ : وعن ابی هریرة قال قال رسول اللهﷺ من تعلم علما مما يبتغى به .... الخ۔

" يبتغى به وجه الله " : ۔ دا صفت کاشفه دے۔واجب ده چه په هغے باندے د الله رضا طلب کړی شی ۔یوخو چه سرے فزکس یا کمستری ازده کوی۔نورخه د دنیا کتابونه ازده کوی هغه نه یادوی۔" يبتغى به وجه الله " د قرآن علم زده کوی د حدیثواو د فقه علم ازده کوی۔ چه د الله د رضا ذریعے دی۔ اوزده کوی نی خه له ؟۔ " الا ليصيب به عرضا من الدنيا " : ۔ د دنیا مال ملاؤ شی۔ څه د وفاق المدارس سند ددے دپاره اخلم ۔ چه سکول کښې ماستر شم۔اویا دنیوی عهده پرے واخلم۔
مستدرك حاکم کښې : ۱۳۴۱ نمبر باندے او مسند احمد کښې : ۱۸۸۰۴ نمبر باندے روایت دے : چه خپل دین د یو ځناور په قیمت به خرخوی۔
علامه طیبیؒ لیکی ددے حدیث په تشریح کښې : چه کوم انسان اغراض فانیه دپاره علم زده کوی نوکه دے جنت ته لاړهم شی۔ نودے به د جنت د خوشبوئی نه محرومه وی۔ لکه د یوتن قوة شامه بنده ده اوکار نه کوی۔ یا یو تن داسے ناجوړه دے چه په دماغوکښې ئی خلل دے۔ نو د دماغو د وجے نه دے دخوشبوئی ادراك پوره نه شی کولے۔ دده به په جنت کښې داسے حالت وی۔

بهاولپور مخکښې رياست وو. ددے چه کوم مشر والي وو. د هغه نه الله رب العزت خوند د ذائقے د خُلے نه لرے کړے وو. نو چه څه به ئې خوړل. نو یو شئ به ورته ښکاره کیدو. ډیر علاج ئې اوکړو. خو څه کیدونه. نو که ته ډیر خوراك اوکړے خو چه خوند په کښې نه وی نو څه فائده. نودده نه الله رب العزت قوت ذائقه واغسته. حدیث کښې ډیر لوئی ترغیب دے ددے خبرے دپاره چه علم به د الله د رضا په بنیاد باندے حاصلوی.

علامه طیبی ؒ لیکی : چه نیکان خلق هغوی به د جنت خوشبوئی ښه محسوسوی. او دنیا پرست به ئې نه محسوسوی. مرقاۃ کښې ملاعلی قاریؒ د حسن بصریؒ قول نقل کړیدے : انه رأی شخصا یلعب فوق الحبال فقال ان هذا خیر من اصحابنا لانه یاکل الدنیا بالدنیا واصحابنا یاکلون الدنیا بالدین. هغه مداری چه په رسو باندے په میلو کښې لوبے کوی. چه د کومو عالمانو مقصد دنیا وی او د دین کار نه کوی. نو دده نه دا مداری خه دے. او دا داسے هم په مرقات کښې دی : کمن جر جیفة بآلة من آلات اللهو وذالك کمن جرها باوراق تلك العلوم ـ بیا وائی : یو تن دنیا دے دپاره اخلی. څه د دین کار رته اوزګارشم. اوکارخه په اخلاص سره کوی. او یو دے له علم حاصلوی. چه دنیا اوګټم نو دواړو خبرو کښې فرق دے.

علامه هیثمی ؒ لیکلے دی : یکون فیه ایماء الی ان العلماء العاملین من جملة الآمنین من فزع ذالك الیوم لان الله یمدهم برائحة الجنة تقویةً لقلوبهم وراحة لعمومهم علی مقدار مراتبهم.

علامه طیبی ؒ لیکی : که یو تن دنیا ګټی. ګنده دنیا ده په دوپړو باجو باندے واخلی دا سړے خه دے. د هغے عالم نه چه مقصد ئې صرف د دنیا وی.

که تپوس ترے اوکړے چه تا په دنیا کښې څه اوکړه.

کیا بتاؤں کیا کارہائے نمایاں کر گئے　　　بی اے کیا نوکر ہوئے پنشن ملا اور مر گئے

(التوضیحات).

علم به د پاؤ اوړو ګټلو دپاره نه کوی. هغه به په اخلاص کوی.

وہ علم نہیں جہل ہے احرار کے حق میں　　　جس علم کا حاصل ہو جہاں میں دو کف جو

داخو علم نه دے جهل دے. که تا کښې حریت او شریف والے موجود وی. چه ستا د علم حاصل صرف روټۍ ده. یو ندوة العلماء مدرسه ده. یو د دیوبند مدرسه ده. اوبله د علی ګڑھ. د درے مدرسو په مینځ کښې فرق کړیدے اکبر آله آبادی هغه وائی : ہے دل روشن مثال دیوبند ـ د دیوبند مثال د زړه دے چه روښانه شی.

اور ندوہ ہے زباں ہوش مند ۔ اودار العلوم د ندوۃ العلماء د لکنهو هغه تاته ژبه ښائی ۔ تحریر درته ښائی تقریر درته ښائی ادب درته ښائی صحافت درته ښائی هغوی په لیکلو کښې ډیر زیات ماهران دی ۔ گر علی گڑھ کی تم تشبیہ دو بس ایک معزز پیٹ اس کو کہو ۔ او د علی گڑھ د مدرسے مطلب دادے : چه صرف خیټه اوخروی صرف دنیا ګټل ئے مقصد وی ۔ ځنے خلق دوی او دنیا له د دین سودا کوی ۔ علامه اقبال فرمائی :

ے عصر حاضر ملک الموت ہے ترا جس نے قبض کی روح تری دے کے تجھے فکر معاش

محترم حفیظ جالندهری صاحب چا چه ترانه جوړه کړے ده ۔ دے د خپل تیر وخت نقشه راخکی ۔

ے میں نے حق چھوڑا تھا اندیشہ غربت سے حفیظ سوچتا ہوں تو دل احساس سے ہل جاتا ہے
ہائے اس امر سے نہ تھی مجھے کچھ آگاہی رزق تو اس دار میں کتوں کو بھی مل جاتا ہے

نو نبی ﷺ په داسے عالم باندے فتوی اولګوله ۔ چه جنت ته به خو ځی خود جنت خوشبوئی به نه ملاویږی ۔ حدیث زجروتوبیخ باندے حمل کولے شے ۔ چه دده سزا مستحق دے ۔ هغه ځان له خبره ده چه الله پرے فضل اوکړی ۔ دویمه معنی داده : چه جنت ته تلے نه شی مبالغه ده ۔ ځی به ۔ خو اول اول کښې به نه ځی ۔ روستو به ځی ۔

حدیث ۲۸ : وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ نضر الله عبدًا سمع مقالتی ..الخ ۔

" **نضر الله** " : ۔ تروتازه دے ساتی الله ۔ دا اصل کښې دعا ده ۔ خو جمله خبریه ئی ذکر کړه ۔ لکه قبوله شوے ده ۔ ځکه چه د نبی ﷺ دعا ده دا مخ ئی ځکه یاد کړو ۔ چه دے د پیغمبر حدیث تروتازه ساتل غواړی ۔ نو الله دے دده دا مخ هم تروتازه اوساتی ۔ لانه سعی فی نضارة العلم وتجدید السنة ۔ (طیبی) ۔ جزاء من جنس العمل ۔ " **الی من هو افقه منه** " : ۔ د حدیث مطلب دادے : چه د نبی ﷺ نه بالذات یو تن حدیث واوریدو ۔ هغه له الله ډیر فقاهت نه دے ورکړے ۔ او ده دا حدیث بل چاته اورسولو ۔ هغه ډیر خه فقیه او افقه دے ۔ نو دے به ترے ډیر مسائل راوباسی دده په نسبت ۔

مسئله : د روایة بالمعنی باره کښې اختلاف دے

دے حدیث کښې یوه مسئله ده : چه روایت بالمعنی به صحیح وی اوکه نه ؟ ځکه چه "کما سمعها" راغلے دے ۔ لکه دے حدیث کښې خو راغلل چه څنګه دا وریدلے دے ۔ نو هغه شان به ئی رسوی ۔ چه په الفاظو کښې مخکښې والے او روستو والے یا بدلوالے راغے ۔ نو د هغے څه حکم دے ؟ د

جمهورو مسلك دادے : چه روایت بالمعنی په شرائطو جائز دے۔
لیکن اذکاراو اورادو کښې به تبدیلي نه کوي۔ (۲) : دویم قول روایت بالمعنی مفرداتو کښې جائز ده۔ اومرکباتو کښې ناجائز دے۔ مفرد لکه "عبدًا" " امرءً " داسے تکي بدلوے نو ټیك ده۔ بالکل مرکبات او جملے بدلول ټیك نه دي۔ (شرح نخبة الفکر) ـ (۳) : هغه سړي له جائز ده چه هغه ته د حدیث استحضار وي۔ د حدیث د سندونو نه خبردي۔ اوپه هغے حدیث کښې په صحیح تصرف باندے قادر وي۔ هغه له جائز ده۔ اونور چاله جائز نه ده۔ (۴) : ده ته حدیث لفظًا او معنًا دواړه باد وو۔ خو بیا ترے چرته الفاظ هیر شو۔ اومعنی ئې په ذهن کښې موجود ده۔ نو دغه معنی بیانوي چه خلقو ته فائده اورسوي۔ او هغے کښې تکي بدلوي۔ نودا روایت بالمعنی ټیك ده۔ نزهة النظر کښې ئې دا شرطونه ذکر کړے دي ۔داهم شرط دے د جوامع الکلم سره به ئې تعلق نه وي۔

(۱) : دحسن بصري، د امام شعبي او د ابراهیم نخعي قول دادے چه جائز دے۔ (۲) : او د واثله بن اسقع رضی الله عنه چه د نبی ﷺ درے کاله خادم پاتے شویدے۔ د هغوی قول دادے : چه روایت بالمعنی صحیح ده ـ (۳) : سفیانؒ فرمائی : چه څه روایت بالمعنی کوم۔ (۴) : وکیعؒ فرمائی : چه وسعت په روایت بالمعنی کښې شته۔ او ابن سیرینؒ هم د جواز قول کړیدے۔ او هم د عدم جواز۔
(۵) : سیدنا ابن عمر، قاسم بن محمد او امام مالك، امام ابن عیینه وائی : چه د لفظ اتباع به کوے۔
(٦) : ملاعلی قاریؒ د محی السنة قول نقل کړیدے : الروایة بالمعنی حرام عندجماعات من العلماء وجائزة عندالأکثرین والاولی اجتنابها قلت : الا عندنسیان اللفظ ـ چه روایت بالمعنی حرام دے۔ د بعض علماء په نزد ـ او د ډیرو نه جواز نقل دے ـ غوره ترے اجتناب دے۔ او روستو لیکي : چه ددے حدیث دا مختلف الفاظ دلالت په جواز کوي۔ لیکن ددے جواز دپاره شرائط دي (۱) : راوي به د عربي لغت پوره داسے پوهه لري۔ چه په مدلولاتو کښې به ورته بصیرت حاصل وي۔ هسے نه چه داسے کلمے سره تعبیر اوکړي۔ چه دے ئې علی التسویة ګڼړي اود دواړو مینځ کښې به فرق وي۔
(۲) : راوي به په معنی مکمل فقاهت لري۔ آثارالحدیث الشریف لمحمدعوامه ۱ : ۴۲۔ اومثال ئې ورکړیدے : من صلی علی جنازة في المسجد فلا شيء علیه۔ یا لا شيء له ۔
ابن ماجه ۱ : ۲۷٦ کښې دي : فلیس له شيء ـ امام شافعيؒ " لا شيء علیه" ـ او احناف " لا شيء له " له ترجیح ورکوي۔ لیکن مستحب داده : چه خپل لفظ سره حدیث راوړلے شي۔

په دے باندے خه بحث کړیدے تفسیر قرطبی کښی مفسر: ﴿ وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُواْ هَـٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُواْ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَداً وَادْخُلُواْ الْبَابَ سُجَّداً وَقُولُواْ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴾ (سورة البقرة : ٥٨) ۔ دلاندے چه روایت بالمعنی صحیح ده اوکه نه ؟۔ په وضاحت کښی لیکلے دی : ثم ان هذا الحدیث بعینه قد نقل بالفاظ مختلفة والمعنی واحد ۔ وان امکن ان یکون جمیع الالفاظ قول النبی ﷺ فی اوقات مختلفة ۔ لکن الاغلب انه حدیث واحدنقل بالفاظ مختلفة ۔ وذالك ادل دلیل علی الجواز ۔ او د بحث آخر کښی د ابن العربی قول ئی نقل کړیدے : الخلاف فی هذه المسئلة انما یتصور بالنظرالی عصر الصحابة والتابعین لتساویهم فی معرفة اللغة الجبلیة الذوقیة ۔ واما من بعدهم فلا نشك فی ان ذالك لا یجوز ۔ اذالطباع قد تغیرت ' والفهوم قد تباینت ۔

لیکن چه کله ورسره د مطابقت او د مساوات شرط اولګیدو ۔ نو بیا د ابن عربی خبره ډیره وزنی نه ده ۔ (تفسیر قرطبی ۱ : ٤٥٣) ۔

علامه ابن سیرینؒ دا فرمائیلے دی : چه څه کله حدیثونه اورم ۔ اوماد لسو محدثینونه اوریدلے وی نو هریو کښی تبدیلی په الفاظو کښی راځی ۔ نو خیر دے ۔ دا نقصانی خبره نه ده ۔ لیکن روایت بالمعنی کښی به ډیره مبالغه هم نه کوے ۔ امام ابو حنیفهؒ فرمائی : چه روایت بالمعنی به نه کوی ۔ دے کښی به ډیرزیات احتیاط کوی ۔

د روایت بالمعنی په شرائطوسره جواز د تدوین حدیث نه د بعض په نزد مخکښی خبره ده ۔ امام ماوردیؒ دا وجه بیانوی : چه بے د هیرے ، قصدًا ئی څکه استعمال جائز نه دے ۔ چه د نبی ﷺ د لفظ فصاحت ته بل لفظ نه شی رسیدلے ۔ او د سامع عقیده به دا نه وی ۔ چه دا هغه د پیغمبر ﷺ ذکرشوے لفظ دے ۔ بهرحال د تدوین حدیث نه پس تر ے احتراز اولی دے ۔

الحق الصریح کښی دی : امام ابو حنیفهؒ په فارسی ۔ کښی مونځ ته جائز وائی ۔ نورالانوار کښی دی : لیکن روایت بالمعنی نه منی ۔ دا افراط او تفریط دے ۔ وائی دا جمع بین الضدین ده ۔ یو طرف ته امام صاحب وائی : چه روایت بالمعنی به نه کوی اوبل طرف ته روایت بالمعنی په مانځه کښی منی ۔

جواب : دادے ۔ دا افتراء ده : ﴿وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ﴾ ۔ څکه چه د امام ابو حنیفهؒ قول مفتی به دادے : چه په فارسی ۔ کښی مونځ تیک نه دے ۔ نور الانوار کښی چه کوم ځائی کښی مسئله ده ۔ نو بره

ئی حاشیه باندے لیکلے دی: چه رجوع ئی کړے ده. او امام زیلعیؒ د کنز په شرحه کښی لیکلے دی: چه رجوع ئی کړے ده. دریم چه علامه آلوسیؒ د ﴿وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ﴾ (سورة الشعراء: ۱۹۶) د لاندے لیکلے دی: چه رجوع ئی کړے ده.

مطلب دا چه دیوے خبرے نه رجوع اوشوه. اوته په هغے باندے اعتراض کوے. معلومه داده: چه ستا په نیت کښی نقصان دے. پخپله صاحب د الحق الصریح لیکی: صرف امام ابوحنیفهؒ ته منسوب ده. چه هغه په فارسی کښی قراءت جائز ګنړو. لیکن روستو زمانه کښی ئی ترے رجوع کړیده. (اصول تفسیر القرآن وعلومه: ۶۰).

داد ترمذی روایت د سند په اعتبار سره صحیح دے.

"ثلث لا یغل علیهن": دے دریو خبروکښی تولے خبرے راغلے. (۱): اخلاص: چه په عمل کښی ئی صرف د الله رضا مقصود وی. ریاء او خودنه به په کښی نه وی. فضیل بن عیاضؒ فرمائی: العمل لغیرالله شرك، وترك العمل لغیرالله ریاء، والاخلاص ان یخلصك الله منهما.

(۲): نصیحت د مسلمانانو. (۳): او د مسلمانانو جماعت سره لازم پاتے کیدل. د جماعت نه مراد دے څائی کښی اهل السنت والجماعة دی. چه د شیطان د کید نه بچ شی. حدیث کښی عظمة لامر الله او شفقت علی الخلق ذکر دے.

"لایغل" بفتح الیاء بکسر الغین. دد معنی داده: حسد زړه ته نه ننه کوی. (۲): لا یُغل بضم الیاء بکسر الغین د اغلال نه دے. یعنی خیانت کول. علامه توریشتیؒ لیکی: د "نضرالله امرءً" او "ثلاث لا یغل" مینځ کښی مناسبت دادے: چه اول روایت کښی نبی ﷺ د خپل فرمان رسولو ترغیب ورکوی. وریسے ئی دا درے امور څکه ذکر کړل. چه د چاړزه ددے آفتونو نه بچ وی. او حسد، تباغض په کښی نه وی. او اخلاص په کښی وی. نو په دے اهمه فریضه کښی به د هغه نه کوتاهی نه کیږی.

(۲): د سنت د ادائیګی د پیغمبرانو وظیفه ده. او د دین په رسولو کښی دے د پیغمبر نائب دے. پیغمبرانو د خلقو خیرخواهی لتوله. دوی به څان کښی دغه صفت موجود کوی.

(۳): حسد او حقد به په کښی نه وی. او د احادیثو ناشر په نورو خلقو الله غالب راولی. دعاګانے ورته کیږی. او شیطانی کیدونو نه ئی الله بچ ساتی.

"ولزوم جماعتهم": په حدیث کښی دلیل دے چه خلقو سره اختلاط د عزلت نه غوره دے. او د لزوم د جماعت نه مراد په عقیده او عمل کښی د عامو جمهورو مسلمانانو سره موافقه اختیارول دی.

حدیث ۲۹: وعن ابن مسعود قال سمعت رسول الله ﷺ یقول نضر الله امرأسمع ..الخ۔

مرقات کښې دي: هذالحديث يدل على شرف الحديث وفضله ودرجة طلابه۔

دين النبي محمد آثار — نعم المطية للفتى آثار
لاتعد عن علم الحديث واهله — فالرای ليل والحديث نهار
ولربما حصل الفتى طرق الهدى — والشمس طالعة لها انوار

(ابن عبدالبر بسنده معارف السنن ۲ : ۳۵۸)۔

اهل الحديث عصابة الحق — فازوا بدعوة سيد الخلق
فوجوههم زُهر منضرة — لألا ؤها كتألّق البرق
يا ليتني معهم فيدركني — مادركوه بها من السبق

(نفح الطيب من غصن الاندلس الرطيب ۲ : ۳۶)

حدیث ۳۰: وعن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ اتقو الحديث عني الاماعلمتم...الخ۔

"اتقوالحديث عني":۔ حدیث بیانول زمانه ډیرے خطره مه کوے۔ اویرېږے۔ بخاری کښې هم راغلي۔ یوتن وائي څه د صحابوسره روان وومم۔ نوماته ئې د مکے نه مدینې پورے په سفرکښې یو حدیث بیان کړیدے۔ څوك وائي: دوه نیم کاله مے فلانکي سره تیرکړه۔ اوماته ئې یو حدیث بیان کړیدے۔ مطلب دانه دے چه مه ئې بیانوے۔ بیانوے ئې خوپه احتیاط سره صحیح طریقے سره۔

امام بخاریؒ ۲ : ۶۲۷ باندے د کتاب الاعتصام نه مخکښې روایت ذکرکړیدے۔ چه یوکس د ابن عمررضی الله عنه په مجلس کښې وو: قاعدت ابن عمر قريبًا من سنتين او سنة ونصف فلم اسمعه روى عن النبي ﷺ غيرهذا ...الخ۔

حدیث ۳۱: وعنه قال قال رسول الله ﷺ من قال في القرآن برايه فليتبوامقعده ...الخ۔

"برایه" مطلب دادے: چه دده رائې د قرآن او د سنت نه خلاف وه۔ چه "با" سببیه وی لکه چه "کتبت بالقلم" د قلم د وجے نه ما لیکل اوکړه۔ نودا ټول خلق اهل الرائی دی۔ دوی کښې لیونے یونشته۔ ځکه د رائې د وجے عاقل یوکارکولے شي۔

علامه طیبيؒ شرط لګوی داسے رائې چه د نص د اجماع نه خلاف ده۔ نوداسے رائې به پرېږدے۔ که

یو تن تفسیر کوی او سیاق سباق سره برابر وی. د قرآن او د حدیث د نورو دلائلو نه خلاف نه وی. اودے د هغے نه استنباط کوی. نو هغه په دے وعید کښې نه راځي.

ددے حدیث په تشریح کښې مرقاة کښې ملا علی قاریؒ لیکلے دی: ویقرب من هولاء تفسیر ابن عطیه بل کان الامام ابن عرفة المالکی یبالغ فی الحط علیه ویقول انه اقبح من صاحب الکشاف. وائی چه د ابن عطیه اعتزال پټ دے. لیکن علامه صابونیؒ التبیان کښې لیکلے دی: وابن تیمیة فی فتاواه مقارنة بین تفسیر ابن عطیة وتفسیر الزمخشری فیقول وتفسیر ابن عطیة خیر من تفسیر الزمخشری واصح نقلًا ..الخ.

فتح الملهم شرح کښې دی: ومن هولاء من یدس البدع والتفاسیر الباطلة فی کلامه الجزل. فیروج علی اکثر اهل السنة کصاحب الکشاف ویقرب من هولاء مفسر ابن عطیة بل کان الامام ابن عرفة المکی مبالغًا فی الخطاء علیه ویقول انه اقبح من صاحب الکشاف..... الخ.

شیخ عبدالسلامؒ لیکی تفسیر احسن الکلام کښې د قبلے په بحث کښې چه دلته زمونږه د بعضے مشائخو رائی ده. اوبیائی روستوئیلے دی چه دا تفسیر بالرائی دے. اولیکی چه دا قول باطل دے. د راجح، مرجوح قول سره تعبیر ډیر مناسب وو. د هغے تعبیرنه چه مولانا عبدالشکور ترمذی صاحب غونډے هغه قول اوکړے شی. چه د تفسیر جواهر القرآن په رد کښې په هدایة الحیران نومے کتاب کښې ذکر کړیدے.

اصول تفسیر القرآن ۵۵ کښې امین الله مولوی صاحب لیکلے دی: چه قرآن کریم کښې داسے رائی او عقل چلول چه د قرآن و حدیث د اصولو د شریعت مطابق وی جائز بلکه بهترعمل دے.

لیکن افسوس چه دوی هم د خپل استاذ په تقلید کښې د قبلے مسئله کښې دغسے رد کړیدے.

حافظ ابن حجرؒ لیکی: والحاصل ان الرائی ان کان مستندا للنقل من الکتاب او السنة فهو محمود وان تجرد عن علم فهو مذموم. (بخاری مع فتح الباری ۱۳ : ۲۴۸). والظاهر ان العلم هنا یشتمل الظن فانهم اذا جوزوا الشهادة به مع انها اضیق من الروایة اتفاقا فلان تجوزبه الروایة اولی. (مرقات).

سورة یوسف آیت ۸۱ کښې دی: ﴿وَمَا شَهِدْنَا إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا﴾. حکمت القرآن تفسیر کښې محترم امین الله صاحب لیکی: چه دا آیت دلیل دے چه په شرع کښې علم ظن غالب ته هم وئیلے کیږی. انتهی. فرعی مسئلو کښې ظن غالب سره تقلید کیږی هغه هم علم دے. نو مطلقا مقلد جاهل نه شو. او نه تقلید جهل شو.

علامه ابن القیمؒ اعلام الموقعین ۱ : ۸۸ باندے لیکی : الرای نوعان : احدهما رأی مجرد لا دلیل علیه بل هو خرص وتخمین فهذا الذی اعاذالله الصدیق والصحابة منه ۔ والثانی رأی مستند الی استدلال واستنباط من النص وحده اومن نص آخر معه فهذا من الطف فهم النصوص وادقه ۔

ملاعلی قاریؒ دلته لیکی : قال البیهقی : المراد رأی غلب من غیر دلیل قام علیه ' اما ما یشده برهان فلا محذور فیه ' فعلم ان علم التفسیر انما یتلقی من النقل ' اومن اقوال الائمة ' اومن المقاییس العربیة ' او القواعد الاصولیة المبحوث عنها فی علم اصول الفقه او اصول الدین ۔

حدیث ۳۲ : وعن جندب قال قال رسول الله ﷺ من قال فی القرآن برایه فاصاب..الخ۔

"فاصاب" : ۔ اتفاقیه وه چه ددے حق ته اورسیدو ۔ نوکه رسیدلے هم وی نو "فقد اخطاء" دے خطاء شویدے ۔ ده له په دے کښی وردننه کیدل تیك نه دی ۔ ددے وجے نه مولانا محمود الحسن صاحبؒ په فتاوٰی محمودیه کښی فرمائی : چه د قرآن ترجمه به هغه څوك کوی ۔ چه کم ازکم شرح جامی او کنز الدقائق ئی وئیلے وی ۔ هسے نه چه دے په تفسیر بالرائی کښی اخته شی ۔(فتاوٰی محمودیه۷ : ۲۵)

مرقات کښی دی : بخلاف من کملت فیه آلات التفسیر وهی خمسة عشر علمًا اللغة والنحو.....الخ۔

داد تفسیرلیکلوشرطونه دی ۔ اوکه غیرعالم د استاذ نه ترجمه ایزده کړے وی ۔ د هغے نقل بے ددے علومونه کولے شی ۔ د باطینیواود پرویزیانوتفسیرونه اکثرخطاء دی ۔ اوکه د مجتهدنه خطاء اوشی ۔ په دے به ورله اجر ورکوی لیکن تابعداری به ئے په دغه مسئله کښی نه کوے : ان المجتهداذا اجتهد فاصاب فله اجران ۔ اوکه خطاء شو ۔ نوورله یو اجر دے ۔

علامه صابونیؒ فرمائی : فکیف یکون ماجورا اذا لم یکن ممسوحًا له بالاجتهاد ؟۔

حافظ ابن کثیرؒ په مقدمه د خپل تفسیرکښی ددے حدیث په وضاحت کښی لیکلے دی : لانه قد تکلف مالا علم له به وسلك غیرما امربه فلوانه اصاب المعنی فی نفس الامرلکان قد اخطأ لانه لم یات الامرمن بابه کمن حکم بین الناس علی جهلٍ فهوفی النار وان وافق حکمه الصواب فی نفس الامرلکن یکون اخف جرمًا ممن اخطأ ۔

یعنی داسے کس چه بے علمه وی ۔ او د تکلف په لار روان وی ۔ او ورته د هغے حکم نه دے شوے ۔ نوکه په نفس الامرکښی معنی ته اورسی ۔ بیا به خطاء وی ۔ څکه چه څنګه پکار وو ۔ هغه شان کار ئی اونه کړو ۔ لکه په جهالت ئی د چا مینځ کښی فیصله اوکړه ۔ بیا به هم دوزخ کښی وی ۔ اګرچه نفس الامرکښی فیصله اوحکم صحیح وی ۔ لیکن د هغے کس نه ئی جرم کم دے ۔ چه کوم بالکل په خطاء دے ۔

ملاعلی قاریؒ لیکی : بعض صوفیه فرعون نفس ته وائی - اوموسیٰ زړه ته وائی - که داد آیات مرادات گنړی - اشارات او د آیات د مناسبتونو په طور ئی نه وائی - نو صحیح نه دی - او چه څوك وائی : که په اجتهاد چه صحیح دی - نو هم د قرآن نه استنباط ممتنع دے - داقول هم صحیح نه دے -

پرویز لیکی : جنت دوزخ مقامات نہیں بلکہ انسانی ذات کی کیفیات ہیں - (لغات القرآن ۱۲ : ۴۴۹) - اور آخرت ہمیشہ مستقبل پر نگاہ رکھنے کا نام ایمان بالآخرت ہے - (سلیم کے نام :۱۲۴ خط :۲۲۲۱) - لیکی : مقام حج کے علاوہ کسی دوسری جگہ قربانی کے لئے کوئی حکم نہیں (قرآنی فیصلے :۶۹) - اور زکوۃ ٹیکس کے علاوہ کچھ نہیں جو اسلامی حکومت مسلمانوں پر عائد کرے (قرآنی فیصلے :۳۵) - داسے تحریفات عین کفر دے -

فائده : اصول تفسیر القرآن کښی مولوی امین الله صاحب لیکلے دی : دا تجربه ده چه کوم خلق د استاذانو خیروو هلے دی او د استاذانو او د علماء احترام په کښی نه وی بے ادبه دی - نو هغوی الله تعالی د خپل هدایت نه محروموی پاتے لا علم - (ص : ۴۳) - (د مشائخو بے ادبی نه ده پکار) -

حدیث ۳۳ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ المراء فی القرآن کفر ....الخ -

د مراء خپله معنی داده : چه د اوښے غلانزے له چه زور ورکوے - ددے دپاره چه پی ترے راوځی - دلته د مراء معنی ده جهګړه - په قرآن کښی جهګړه کفر دے - الله رب العزت فرمائی : ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ أَنَّى يُصْرَفُونَ﴾ - (سورة المومن : ۶۹) - دغسے الله رب العزت فرمائی : ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُّنِيرٍ﴾ - (سورة الحج : ۸) -

دیته ئی کفریه دے اعتبار سره وئیلے دے - چه خطره ده - ددے انجام کفر طرف ته لاړ نه شی - لکه دوه کسان آیتونه یو بل ته په دے وجه په ضد کښی ذکر کوی - چه ستا دا استدلال ماتوم - لیکن قاضی بیضاویؒ وائی : چه د حدیث مطلب دادے : چه دے په آیت کښی قدح او طعن کوی - حالانکه پکار دادی چه څومره کیدے شی - په ظاهر کښی چه کوم آیتونه مختلف وی - مینځ کښی دے تطبیق اوکړی - او که تطبیق نشی کیدے - نو دائی د خپل فهم نقصان اوګنړی - او الله رب العزت ته دے دا اوسپاری -

بعض علماء فرمائی : چه ددے مطلب دادے : چه بعض قرأت چه کوم په صحیح روایتونه سره ثابت دی - د هغے نه انکار اوکړی - حالانکه حدیث کښی راځی : انزل القرآن علی سبعة احرف - د حدیث مطلب دا شو چه د قرآن په آیتونو کښی د جهګړے نه مسلمان بچ شی - هسے نه چه دا تکذیب ته اورسی - په ټول منزل قرآن ایمان راوړل واجب دی - بعض حالاتو کښی په کفر کښی واقع شی - او بعض حالاتو کښی کفر ته نزدے کیږی -

حدیث ۳۴ : وعن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال سمع النبی ﷺ قوما ..الخ۔

د قوم نه د قوم کلام دے۔ دوو جھگړ مارو په قرآن کښی جھګړه کوله۔ هریو د بل دلیل رد کوو۔ ددے داسے مثال دے۔ چه قرآن کریم کښی راځی : ﴿ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ ﴾۔ (سورة النساء : ۷۸)۔ یعنی خیراو شر دواړه د الله د طرف نه دی۔ داد الله خلق دے۔ او د تقدیر منکر وائی چه داسے نه ده۔ ځکه چه قرآن کښی راځی : ﴿ مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ وَمَا أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ﴾۔

په داسے موقع کښی به هغه طریقه اختیاروی۔ چه په هغے د مسلمانانو اجماع ده۔ او د بل د آیت به تاویل کوے۔ لکه دلته به داسے اووائی چه اجماع ده په دے خبره چه خیراو شر د الله د طرف نه دے۔ والقدر خیره وشره من الله تعالی۔ لیکن منافقان نه پو هیږی۔ او وائی : ﴿ مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ﴾ ۔او د آیت مطلب داد ے : چه انسان ته که فتح ' غنیمت او راحت اورسی.نو داده الله د طرف نه دی،او که چرته شکست ورته ملاؤشی،مال ئی برباد شی یا ناجوړه شی نو دا د ګناه د وجے نه به وی.لکه چه الله رب العزت فرمائی﴿وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ﴾(سورة الشوری: ۳۰) ددینه معلومه شوه : ﴿ مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ ﴾ ۔آیت د قضاء او د قدر د مسئلے نه خارج دے۔

" من کان قبلکم " :۔ د " من کان قبلکم " مصداق ئی یهودیان او عیسایان دی۔ تورات او انجیل والو خپلو کتابونو سره دغه کار کړے وو۔ چه کله ئی د خپل غرض سره آیت موافق نه وو۔ او بعض علماء وائی : چه د " ضربوا کتاب الله " مصداق قرآن دے۔ چه محکم متشابه ' ناسخ منسوخ ' او مطلق مقید کښی ئی امتیاز نه راوستلو۔ تولوله ئی یو حکم ورکړو۔ د قرآن کریم کتونکے له پکار دی۔ چه په آیتونو کښی توفیق او تطبیق راولی۔ هر آیت د بل تصدیق کوی۔ او د اشکال په وخت کښی توقف پکار دے۔ او د هغے علم الله ته سپارل پکار دی۔

" فلا تکذبوا بعضه ببعض " :۔ مسلمان له پکار دی۔ چه اووائی الله په رسول چه څه نازل کړے دی۔ دا حق دی۔ چه کوم د قواعدو سره موافق دی۔ او دے تر ے خبر شو۔ نو دغه وینا دے کوی۔ او که متشابهات وغیره دی د ځان نه دے معنی نه کوی۔ الله ته دے حواله کړی۔ لکه مثلًا یو ایت کښی راځی : ﴿وَإِنَّ يَوْماً عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ﴾۔ (سورة الحج : ۴۷)۔ او سورة المعارج ۴

کښې راځي: ﴿فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ﴾ ـ مثلاً تطبيق دا هم کيدے شي ـ چه دواړه د قيامت ورځے دي ـ په عاصي مومن به لنډه وي ـ اوپه کافر به ډيره اوګده وي ـ اوپه تابعدار مومن به دومره اوګده وي ـ لکه مسلمان چه دوه رکعته مونځ کوي ـ

حديث ۳۵: وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ انزل القرآن على سبعة .... الخ.

"احرف":- جمع د حرف ده ـ حرف طرف، حرف الهجاء، کلمه، معنی او جهت کښې استعماليږي ـ

"ظهروبطن".- يو د قرآن ظاهر دے اويل د قرآن باطن دے ـ

حرف قرآن را بدان که ظاهر است　　زير ظاهر باطنے بس قاهر ست

د قرآن په حرف باندے ځان پوهه کړه چه ظاهر دے ـ د ظاهر د لاندے باطن يعنی معنی دننه پرته ده داحديث دلته هم ذکر دے ـ او روستو فضائل اقرآن کښې چه کله فضائل د قرآن ختم شي ـ نود هغے روستو صاحب د مشکوۃ دوه درے کرته دا روايت ذکرکوي ـ په هغے کښې هم دغه راځي چه: انزل القرآن على سبعة احرف ـ علامه ابن تيمية ليکي: القراءة على الاحرف السبعة لم يكن واجبًا على الامة وانما كان جائزا لهم ـ مرخصًالهم فيه وقد جعل اليهم الاختيار في اى حرف اختاروه كما ان ترتيب السورلم يكن واجبًا عليهم منصوصًا بل مفوضًا الى اجتهادهم ـ (مجموعة الفتاوىٰ ٦ : ٢١٤) ـ

علامه ابن قيم اعلام الموقعين ٣ : ٢٠٥ کښې ليکلے دي: الوجه التاسع والتسعون: جمع عثمان المصحف على حرف واحد من الاحرف السبعة لئلا يكون ذريعة الى اختلافهم في القرآن ووافقه على ذالك الصحابة رضى الله عنهم ـ

بل حديث کښې راځي: حتى بلغ سبعة احرف فكل حرف شاف كاف ـ هر حرف په دے کښې کافي او شافي دے ـ دلته تفصيل طلب خبره داده چه د "سبعة احرف" مصداقات څه دي؟ ـ دويمه داده: چه "ظهر" څه ته وائي؟ او "بطن" څه ته وائي؟ ـ او دريمه خبره داده: چه "لكل حدمطلع" څه مطلب دے؟ ـ امام سيوطي په دے حديث کښې اتقان کښې څلويښت توجيهات ذکرکړے دي ـ علامه آلوسي په تفسيرروح المعاني کښې اوو (۷) توجيهات ذکرکړے دي ـ غرائب القرآن تفسير د نيشاپوري نوپه هغے کښې هم ددے توجيهات ئې مختلف ذکرکړے دي ـ

(۱) : اوله توجيه : ددے نه مراد اوو قبائل دي ـ او ددے اوو قبائلو چه کوم لغات دي ـ لغات د

کلماتونه جوړیږي۔ او کلمات نو داده حروفونه جوړیږي۔ نوذکر د حروفو دے او مراد ترینه لغات دی۔ دا اوو قبیلے په کښې ډیرزیات مشهوردی ۔ نورهم شته۔ بیا دا اوو قبائل کوم دی۔(۱): قریش (۲) : هوازن (۳) : بنوثقیف (۴) : یمن (۵) : طیء (٦) :بنوتمیم (۷) : بنو هزیل قبیله۔ دا اوو لغات دی۔ صاحب قاموس او علامه بیهقیؒ او علامه عبدالحقؒ دا قول غوره کړیدے۔ بعضوروایاتو کښې داسے راغلي دی داد نزول په اعتبار سره حصردے۔ او ددے مقصد آسانتیا ده۔ اودا اختلاف چه راغلے دے په الفاظو کښې راغلے دے۔ معنوي اختلاف نه دے۔ روستودور کښې بیا سیدنا عثمان رضی الله عنه دا ټول لغات ختم کړے دی۔ ځکه چه په لغت د قریشو بیا عثمان رضی الله عنه دا قرآن جمع کړیدے۔
د عثمان رضی الله عنه په دورکښې یو اختلاف شروع وو۔ هریوبه وئیل زما په لهجه اولغت به قرآن وائي ۔ نو اوېریدل خلق وئیل هسے نه چه په مسلمانانو کښې اختلاف راشي۔ نوسدًا للباب عثمان رضی الله عنه بغیر د قریشو د لغات نه نورلغات ختم کړل دا یو توجیه ده۔

(۲): دویمه توجیه : بل قول دادے : چه ددے نه مراد سبعه متواتره قرأتونه دی۔ مشهور قرأتونه دی۔ دے کښې دانه ده ضروري چه د قرآن په هره کلمه کښې دے۔ دا اوو قرأتونه جاري شي۔ په بعضے کلماتو کښې دا اوو قرأتونه جاري کیدل راغلے دی۔ هم دغه د "سبعة احرف" د مصداق د صحت دپاره کافي دے ۔ پاتے شو دا اوو نه سوا لکه عشره قرأت په کښې هم خلق کوی۔ اصل کښې دا دے اوو ته راجع کیږي ۔ نو مراد ددینه متواتر قرأتونه شو۔(۱) : قرأت د ابن عامر (۲) : د ابن کثیرؒ (۳) : د عاصم کوفي (۴) : ابوعمرو (۵) : حمزه کوفي (٦) : نافع (۷) : کسائي رحمهم الله۔
علامه شاطبیؒ ئې تذکره کړے ده۔

سوال : په دے باندے سوال دے د قرأت تدوین خوروستو شویدے قاریان خو روستو پیدا شویدی۔ د نبی ﷺ په زمانه کښې خوقاریان نه وو۔ نو ولے " انزل القرآن علی سبعة احرف " وو۔ دا اوو قرأتونه ولے ددے مصداق ګرځوی۔ **جواب :** یودے تدوین اوبل وجود دے۔ وجود د قرأتونو د نبی ﷺ په زمانه کښې هم وو ۔ هرچه تدوین دے نو دا روستوشویدے۔ لکه مثلًا د علم نحوتدوین خو روستو شویدے ۔ خو د نبی ﷺ په زمانه کښې چه ابوجهل وغیره خبرے کولے۔ نو هغه به هم وئیل : جاء زید ۔ هغه داسے نه وئیل : جاء زیدٍ (بالجر) ۔ نود نحو تدوین روستو شویدے۔ داسے د نورو شبهاتو جوابات التبیان فی علوم القرآن د علامه صابونیؒ کښې دی ۔

(۳): دریمه توجیه: چه په دے کښې اوو قسمه اختلافاتو ته اشاره ده. دا اختلاف د تلفظ په اعتبار سره دے ـ علم تجوید کښې هغه ذکر کیږي ـ مثلاً په هغے کښې (۱): اظهار (۲): ادغام دے ـ (۳): تفخیم (۴): ترقیق دے. چه دا به نرم ادا کوی. (۵): اماله (٦): غیر اماله ده (۷): مد یا غیر مد چه دلته به مد وی او که نه؟ ـ دا اوو قسمه اختلاف د تلفظ په اعتبار سره دے ـ دغسے دا اوو قسمه اختلاف د تقدیم او د تاخیر په اعتبار سره دے. هغه داسے: ﴿ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ﴾ (سورة ق: ۱۹) . بل دے: ﴿ جاءت سكرة الحق بالموت ﴾ ـ یو ځائی کښې حق مخکښې موت روستو او بل ځائی کښې موت مخکښې حق روستو. (۲): دویم دا اختلاف د لفظ د وجود او عدم وجود په اختلاف سره دے. یو ځائی دی: ﴿ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ ﴾ (سورة لقمان: ۲٦) . او بل ځائی دی: ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ ﴾ (سورة العنكبوت: ٦) . ﴿ هُوَ ﴾ شته او که نشته؟. نو یو ځائی کښې شته. او بل ځائی کښې نشته. (۳): دریم د یو لفظ تبدیلی په بل لفظ سره کله کیږي لکه مثلاً: ﴿ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴾ (سورة الواقعة: ۲۹) ﴿ وطلع منضود ﴾ ح په ع سره بدل شوید ے. (۴): یو لفظ په بل لفظ سره بدل شوید ے او معنی یوه ده: ﴿ كَالْعِهْنِ الْمَنفُوشِ ﴾ (سورة القارعة: ٥) او: ﴿ كالصوف المنفوش ﴾ عهن هم وړی ته وائی ـ او صوف هم وړی ته وائی. (۵): د مجرد او د مزید په اعتبار سره په کښې په بابونو کښې فرق راغلے دے. مثلاً: ﴿بَاعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا وَظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ ﴾ (سورة سباء: ۱۹) . ﴿ بعّد بين اسفارنا وظلموا انفسهم ﴾ . (٦): د مادے اختلاف راغلے دے: ﴿وَانظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ﴾ (سورة البقرة: ۲۵۹) . ﴿ ننشرها ﴾ ـ که نشر دے که نشز دے. (۷): د اعرابو اختلاف راغلے دے: ﴿ هن اطهر لكم ﴾ ﴿ هن اطهرَ لكم ﴾ .

اقوالو کښې راجح دا معلومیږي: چه د اوو حرفونو نه مراد د اختلاف قراءت او نوعیتونه مراد دی. دد ے قول مطابق به حروف او قراءت جدا جدا څیزونه نه وی. او د علامه ابن جریرؒ او امام طحاویؒ په نزد جدا دی. او دد ے قول مطابق د اوو حرفونو معنی به بے تکلفه صحیح جوړه شی. او په نورو اقوالو کښې به یا د حروفو په معنی کښې یا د اوو په عدد کښې تاویل کیږي. او د علامه نیشاپوریؒ د قول مطابق امام مالکؒ دد ے قول قائل دے. او علامه ابن قتیبةؒ او محقق ابن جوزیؒ دواړه دد ے قائل دی.

(۴) : څلورمه توجیه : دحرف نه مراد اوو معانی اومضامین دی۔چه هغه خلاصه د قرآن چه ده۔ (۱): عقائد ۔ (۲) : احکام۔ (۳) : اخلاق۔ (۴) : قصص او واقعات۔ (۵) : امثال۔ (٦) : وعد۔ (۷) : وعید۔ مضامین سبعه د قرآن مراد دی۔

(۵) : پنځمه توجیه : قرآن اوحدیث کښی کله کله سبعه د تکثیر دپاره راځی۔ زمونږ پښتو کښی شل یادوی وائی شل ځله مے درته اووئیل یعنی ډیر ځله مے درته اووئیل۔ "سبع وسبعون" چه قرآن ذکرکوی۔ نود تکثیردپاره ئی ذکرکوی۔ انزل القرآن علی سبعة احرف۔ انزل القرآن علی المعانی الکثیرة قرآن نازل شوے په ډیرو معانیوباندے دے۔ لکه قرآن کښی سبع د کثرت دپاره راځی :﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾۔ (سورة لقمان : ۲۷) ۔ اوو نه چه څومره دریابونه دی۔ د زیادت نه کنایه ده۔ سبعین او سبع ماة ، له مآ تو او عشراتو کښی کثرت له کله کله راځی۔

(٦): شپږمه توجیه : ددے نه مراد اقالیم سبعه دی اوو براعظمه دی۔ لیکن دا توجیه بعیده ده۔ یعنی قرآن عالمی کتاب دے۔ اوس مونږه د لغت په اعتبارسره د قریشوپه لغت باندے قرآن وایو۔ خوخلقو ته به دا نه وائی ۔ چه تا یوه حصه قرآن واغستو او شپږ حصے د لغاتودے پریخودلے۔ نومونږته دے هم څوك نه وائی : چه په څلورو مذهبونو کښی مونږه د یو مسلك حنفی مفتی بها اقوال ولے واغستل۔ څکه خلق وائی : چه تاسو خودرے مذهبونه پریخودل یو منی او درے نه منی۔ وایه تاسو هم شپږلغتونه پریخودل۔ که هغوی وائی : چه داده انضباط دپاره دی۔ داهم د انضباط دپاره دی په تولو باندے علی السویه څوك هم په یووخت کښی عمل نه شی کولے۔ روستوبه راشی عمر رضی الله عنه د یو تن نه سبق واوریدو۔ نو هغه ئی د نبی ﷺ نه نوواوریدلے۔ هشام بن حکیم په بل لغت باندے دغه سبق وئیلو۔ نو عمر رضی الله عنه ورته مری ته څادروا چولو وئیل راځه پیغمبر له۔ وئیل یارسول الله ده ته اوګوره۔ څه چه کوم قرآن وایم ۔ نودے ئی بل شان وائی چه دا ولے۔ نبی ﷺ ورته جواب کښی اووئیل چه د اول نه ئی دا مری پریږده۔ دا ورله خالی کړه۔ نو بیا به خبره کوو نو اوئی وئیل : هکذا انزلت۔ او دا بل هم : هکذا انزلت۔ دا شپږ توجیهات دی خو هر یو کښی اوو اوو خبری دی۔

(۷) : اوومه توجیه : بعض ددے نه اوو لغات په یو معنی کښی بعض مواضع کښی اخلی۔ لکه

اَقبِلُ ، هلم ، تعال ، عجل ، اسرع ، سفیان بن عیینه ، ابن جریر ، ابن رجب او علامه ابن عبدالبرؒ وغیره دا غوره کوی۔

(۸) : اتمه توجیه : صوفیائے کرام یوه توجیه کړے ده الابریز کتاب دے د شیخ عبد العزیز دباغؒ۔ دا سړی روایتی عالم نه وو۔خو الله په ده علم کھولاؤ کړے وو۔ دده خپل نوم دے احمد بن مبارك۔ عبد العزیز دباغ باندے مشهور دے۔ هغه د تصوف په اصطلاح کښی دا اوو حروف داسے ذکر کړیدی۔
(۱) :حرف النبوة۔ (۲) :حرف الرسالت۔ (۳) :حرف آدمیت۔ (۴) :حرف الروح۔ (۵) :حرف العلم۔
(٦) :حرف قبض۔ (۷) :حرف بسط۔

(۱) : حرف النبوة : څه ته وائی ؟ ۔او ددے نښه څه ده ؟۔د نبوت تکے الله تاله درکړو۔ یعنی د هغے هغه خوند دے محسوس کړو۔ ددے نښه ده دنیا نه بے رغبتی ده۔ حق طرف ته توجه ده۔ دے ته وائی حرف النبوت۔(۲) : حرف الرسالت: په دے کښی د دار آخرت درجاتو ته اشاره ده۔ او د مقاماتو شوق الله انسان له ورکوی۔(۳) : حرف آدمیت : هغه رڼا چه الله د انسان په ذات کښی ایخودے ده۔ چه د هغے په وجه سره دے په کلام باندے قادر دے۔ او خلق دده اود جناتو او د ملائکو په کلام کښی فرق کولے شی۔ چه د ملائکو خبره ده اوکه د پیریانو خبره ده اوکه د انسانانو خبره ده۔

(۴) : حرف الروح : انسان همیشه د حق په مشاهده کښی پروت وی۔ (۵) : حرف العلم : کوم کسان چه مخکښی تیر شویدی د هغے حالات معلومول عادیان ، ثمودیان دی وغیره وغیره۔ او د هغے آراء معلومول۔ (٦) : حرف قبض : د صوفیانو چه طبیعت خفه شی۔ نو ظالم ته خیره اوکړی۔ وائی نن سړی په قبض کښی دے۔ غصه ډیر زیات وی۔ (۷) : حرف بسط : د الله نعمتونو طرف ته چه توجه ئی برابر شی۔ ده کښی انبساط پیدا شی۔

دا اجزاء د آدمیت په اوو څیزونو باندے مشتمل دے ۔ (۱) : کمال الصدق الظاهر (۲) :کمال الحواس الظاهره (۳) : کمال الصورة الباطنه (٤) : کمال الحواس الباطنه (٥) : کمال الحواس الذکوریه (٦) :حفظ الشیطان (۷) : کمال العقل۔ الابریز ص :۱۳۷ هلته ئی دا بحث کړیدے۔ داد حدیث اوله حصه شوه۔
الحق الصریح کښی دی : چه دوی دا قرأتونه اصل کښی د نبی اکرم ﷺ نه نقل کړے دی۔ خو ددوی

قرأت مشهور شویدی۔ بیا سیوطیؒ اتقان کښی وائی چه دا اوو قرأتونه اوس یو قرأت دے د قریشو
لغت کښی داخل دی۔ شپږ قرأتونه هغه جدا دی۔ هغه اوس روك شویدی۔
خوکه هغه ټول موجود وے نو بیا خو ډیر عجیب کار وو۔ انتهی۔
(دغسے د بعضے مجتهدینولکه لیث وغیره مذاهب مدون نه دی او روك دی)۔
د سیرة الرسول ۴ : ۵۲ باندے دی : د نبی په زمانه کښی دا یو مذهب هم نه وو۔ نو دا ټول پریده۔ او په
سنت طریقه عمل کوه۔ بس ته کامیاب ئی۔ انتهی۔
د نبی ﷺ په زمانه کښی خومشهور ائمه چه مذاهب ئی مدون دی۔ هغوی پیدا شوے نه وو۔
علامه عبدالحیؒ د النافع الکبیر په فصل اول کښی د طبقات الفقهاء په تذکره کښی لیکلے دی : وممن
اشتهر مذهبهم ودونت الکتب علی مسلککم الائمة الاربعة ابوحنیفة والشافعی ومالك واحمد ومذاهب باقی
المجتهدین قد اندرست لا یوجد لها آثر۔
او ابن خلدون : ۲۱٦ طبع بولاق باندے لیکی : ان الصحابة کلهم لم یکونوا اهل الفتیا ولا کان الدین یؤخذ
عن جمیعهم ـ وانما کان ذالك مختصا بالحاملین للقرآن العارفین بناسخه ومنسوخه ومتشابهه ومحکمه وسائر
دلالته بما تلقوه من النبی ﷺ۔
علامه ابن قیمؒ اعلام الموقعین ۱ : ٤٦ باندے لیکلے دی : چه امام احمدؒ فرمائی : که یو سړی سره د
احادیثو کتابونه وی۔ او د صحابو او د تابعینو اختلاف په کښی نقل شوے وی : فلا یجوز ان یعمل بما شاء
ویتخیر فیقضی به ویعمل به حتی یسأل اهل العلم ما یؤخذبه فیکون یعمل علی امر صحیح ۔ (طبع بیروت لبنان)۔
مذهب څه ته وائی ؟ ـ شاه عبدالعزیزؒ تحفه اثنا عشریه : ۱۰۱ باندے لیکلے دی : جواب ایں کہ آنکہ نبی
صاحب شریعت است نہ صاحب مذہب زیرا کہ مذہب نام راہے است کہ بعض امتیاں را در فہم شریعت کشادہ شود و بعقل خود چند قواعد مقرر
دہند کہ موافق آں قواعد استنباط ومسائل شرعیہ از مآخذ آنہا نمایند ولہذا محتمل ثواب وخطاء مے باشد ولہذا مذہب را بسوئے خدا وجبریل ودیگر
ملائکہ نسبت کردن کمال بے خودی است۔

نوټ : شیخ الحدیثؒ په التقریر الرفیع کښی لیکلے دی ۔ دویم علامه آلوسیؒ په تفسیر روح المعانی
کښی مقدمه کښی لیکلے ده۔ او مرقات کښی هم دی : لکل آیة ستون الف فهم ۔ د قرآن هر یو آیت چه
دے ۔ نو په هغے کښی ٦۰۰۰۰ فهمه موجود دی۔ دومره زیات او وسیع و عریض فهمونه په هر یو آیت
کښی موجود دی۔ لیکن پوهه ئی من کل الوجوه د هرچا کار نه دے۔ (فتح اله د علامه هیثمیؒ)

د ظهر او د بطن مصداق

(۱): اوله توجیه: معالم التنزیل د امام بغویؒ ظهر د قرآن لفظ دے۔ او بطن تاویلونه کول دی۔ او د "لکل حد مطلع" معنی داده: چه الله هغه چاله چه قرآن کښې سوچ کوی۔ ده له ذهن کهولاؤ کړی۔ دے د هغے نه اګاه شی۔ وجوه کثیره معانی کثیره د هغے نه خبر شی۔

(۲): دویمه توجیه: د ظهر نه هغه معانی مراد دی۔ چه هغے باندے علماء د تفسیر پوهه دی۔ او هغوی ئی د عربی د قواعدو مطابق بیانوی۔ بطن د صوفیاء اسرار او رموزو ته وائی لکه مثلًا: ﴿أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً﴾ نو وائی: نفس حلال کړه۔ داد صوفیو توجیه ده۔ دابه منی چه بقره شته۔ او حلاول ئی شته۔ دے سره سره به منی۔ چه خپل نفس د خصوصًا په ځوانئ کښې بنکلے کړی۔ دائی بطن دے۔ دے باندے علماء مستقل بحث کړیدے۔ غرائب القرآن چه ګورے نو دے هم بطن ذکرکوی مثلًا: ﴿وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ ' بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ﴾ (سورة التکویر: ۸،۹) ۔یو خو عامه معنی ده دائی ظاهر دے۔ او بله معنی داده: کوم طالب له چه لیکل ورځی۔ او هغه لیکل نه کوی۔ او ذهن ئی کمزورے دے۔ دده نه به هم تپوس کیږی۔ چه تا ولے دا نکته دفن کړه۔ دائی بطن دے۔ پکار داوه: چه تا محفوظ کړے وے۔ نو تا ولے اووژله۔

اود ویشتم پورته دے نه کړم خلق ویشتلے مرغئ زر پورته کوینه

تفسیر مواهب الرحمان تفسیرکښې چه مفسر بحث کوی نو د رکوع آخرکښې یا نیمه کښې بیا عنوان ایږدی: مناهل العرفان۔ دے کښې بطن دے۔ دغسے مولانا تهانویؒ چه لږه تشریح اوکړی نو وائی: مسائل السلوك۔ او علامه آلوسیؒ چه تفسیر کښې مزل اوکړی نو وائی: ومن باب الاشارات فی الآیات۔ د هرچا خپل خپل صنیع او انداز وی۔ چه دے کښې دے عالمانو د آیات د بطن ذکر کړیدے۔

(۳): دریمه توجیه: د ظهر نه تلاوت مراد دے بطن نه مراد معانی دی۔ بیا بیا قرآن اوګوره غور کوه چه الله درله د رموز قرآن علم درکړی۔ ځکه

اعد ذکر "قرآن" لنا فان ذکره هو المسك ما کررته یتضوع

ترے ضمیر پہ جب تک نہ ہو نزول کتاب گرہ کشا ہے نہ رازی نہ صاحب کشاف (اقبال)

چه څومره دا وائی نو دومره به خوشبوئی نوره راپریږدی۔ د قرآن په ظهر به هله پو هیږی۔ چه تاله علوم عربیه درځی۔ هم صرف به درته وئیلے وی۔ نحو به درته وئیلے وی۔

(۴) : څلورمه توجیه : شیخ عبدالحقؒ اشعة اللمعات کښې لیکي : چه بعض وائي : د ظاهرنه مراد په هغې ایمان راوړل دي. او د باطن نه مراد په هغې عمل کول دي.

کشف المناهج والتناقیح کښې دي : ظاهره التنزیل الذی یجب الایمان به وباطنه وجوب العمل به وقیل معنی الظهر والبطن التلاوة والتفهم. ونقل الزمخشري عن بعضهم ان ظهره ما استوی المکلفون فیه من الایمان والعمل بمقتضاه، وبطنه ما وقع التفاوت في فهمه علی حسب مراتبهم في الفهم.

چه د ظاهرنه مراد هغه تنزیل دے. چه ایمان پرے واجب دے. او د باطن نه مراد هغه وی چه عمل پرے واجب وی. او چا وئیلے دي : چه ظهر تلاوت دے. او بطن ئې فهم دے. او زمخشري وائي : چه ظهر هغے ته وائي چه په ایمان راوړلو کښې ټول مکلف برابر وی. او د هغے په مقتضی باندے عمل کول ټولو له پکار وی. او بطن هغے ته وائي : چه د فهم د مراتبو په اعتبار سره په فهم کښې تفاوت واقع کیږی.

الحق الصریح کښې دي : بعضے خلق ډیر زړه وروی. صرف او نحو او عربیت به ئې نه وی وئیلے. او ترجمے به کوی. دا خه خبره نه ده. انتهی.

لیکن نن صبا شیخ القرآن او عالم کښې بعضے خلقو عموم خصوص من وجه جوړ کړیدے. علم باطن به درله الله هله درکوی. چه ریاضت اوکړې. ژړاګانې اوکړې. الله ته توجه او زاری اوکړې. په دے کښې صفا قلب او اخلاص وللهیتؒ سود مندوی.

حافظ ابن کثیرؒ د سورة الروم ۲۷ : ﴿ وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَى ﴾. دلاندے اشعار نقل کړے دي :

اذا سکن الغدیر علی صفاء   وجنب ان یحرکه النسیم

یری فیه السماء بلا امتراء   کذاك الشمس تبدو والنجوم

کذالك قلوب ارباب التجلي   یری في صفوها الله العظیم

چه ډنډ ګنده وی بیا لیدل په کښې نه کیږی. زړه چه صفا وی بیا به علوم درکوی. دے سره علم زیاتیږی. لکه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ به سل سل تفسیرونه په یو آیت کتل. او هم به ئې دعاګانې غوختے د الله رب العزت نه. صفات د قابلیت او د مقبولیت دواړه د مونږ ټولو کښې پیدا کړې.

توجیه "لکل حد مطلع" کښې : (۵) : کښې مونږه حد په معنی د غایه اوکړه. نو د ظهر هغه انتهاء د علوم العربیه او د بطن نه مراد هغه تذکیه د نفس ده. (٦) : حد په معنی د حکم د هریو دپاره یو مآخذ شته. د حکم مطلب مآخذ هغه مآخذ قرآن دے. په دے دوو توجیهاتو کښې غوره توجیه داده : چه د حد

معنی اوکړه غایه. ځکه چه د ماقبل سره به ئی ربط ښه برابرشی. (۷) : بعضے علماء وائی : د ظهر نه ظاهری معنی واخله. احکامات ترے مراد دی. بطن نه باطنی معنی واخله. چه اسرار اود دقائق دی. دا معنی غوره ده. چه قاری به د ثواب آخرت کښی اطلاع اوموومی. او وعد ' وعید به ئی کونکی ته ننداره اوکړی.

"رواه فی شرح السنة" : ـ علامه البانی صاحبؒ وائی : انزل القرآن علی سبعة احرف ـ په باره کښی چه رواه فی شرح السنة ـ دے فرمائی تاسوئی اوګورے. چه کوم ځائی کښی ئی شرح السنة کښی راغستے دے. فی ای مکان رواه فی شرح السنة فانی راجعته فی العلم وفی فضائل القرآن منه فلم اره.
ماخود شرح السنة کتاب العلم اوکتلوماپه کښی اونه موندل. فضائل القرآن کښی اوکتل هلته هم ما اونه منده. دا "باب خصومة فی القرآن" کښی حدیث صحیح دے. د هغے وجه داده : چه یواځی د شرح السنة خبره نه ده ـ ده پخپله جامع الصغیر کښی دا روایت ذکر کړیدے. دویم ده پخپله سنن الترمذی کښی دا روایت ' سلسلة الاحادیث الصحیحة کښی ذکر کړیدے. سنن الترمذی ۲۱۶۱ ددے روایت صحت علامه پخپله باندے ذکر کړے ده.

حدیث ۳۶ : وعن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ العلم ثلاثة آیة محکمة ..الخ.

" العلم " :ـ العلم کښی الف لام عهدذهنی دے. علم د شریعت او د کمال علم ترے مراد دے.

د دین علم درے قسمه دے (۱) : آیة محکمة ":ـ هغه ایت چه محکم دے. د محکم معنی چه په هغے کښی نسخ نه راځی. سورة محمد ﷺ ۲۰ کښی راځی : ﴿فَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ﴾. چه د نسخ قابل نه وی. او محکمة د دین ضروریاتو باندے مشتملی خبرے په کښی وی دوه قسمه آیتونه دی یو محکمات چه هن ام الکتاب دی ـ او دویم اخر متشبهت دی ـ نو علم د محکماتو نه عبارت دے.

او علامه ابن حجر هیثمیؒ لیکلے دی : چه پنځلس علوم " هی شروط للاجتهاد المتوقف علیه الاستنباط.

(۲) : "سنة قائمة" : ـ هغه سنت چه قائم دے. د سنت قائم څه مطلب چه کوم شرائع او سنن دی. او په صحیح دلیل ثابت دی. دا سنت قائمه دی. دا سنت قائم دی. ځکه چه سند او متون محفوظ دی.

(۳) : "فريضة عادلة ": ـ مجمع البحار كښې دی : د " عادلة " مطلب " مستقيمة " او يا " مساوية " دے ـ
دوی ور پسے ليکلے دی : لمّا ثبت بالکتاب والسنة فی الوجوب يسبط من الکتاب والسنة والاجماع والقياس
وهو شامل لجميع انواع الفرائض وما سواه فضل لا خير فيه ـ
هغه احکام چه ثابت دی په اجماع اوپه قياس سره ـ د عادله معنی ده برابر ـ دا قياس او اجماع د قرآن اود
سنت نه بعد دلائل دی ـ دابرابروالے په ټولو امورو کښې نه دے ـ بلکه دا برابروالے د بعضے وجوه په
اعتبار سره دے ـ لکه عمل په هغے واجب ـ نو په دے واجب ـ حديث کښې د دين څلورواړه دلائل راغلل
"آية محکمة " قرآن دے ـ "سنة قائمة " احاديث دی ـ او " فريضة عادلة " اجماع او قياس ـ لکه چه څنګه
قرآن کښې راځی : ﴿ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ ﴾ (سورة النحل : ٤٤) ـ
د اجماع او د قياس نه مستنبط مسائل ـ دويم قول : دادے چه د " فريضة عادلة " نه مراد د ميراث حصص
چه په انصاف باندے تقسيم شويدی ـ حديث دليل دے د قياس په حجيت باندے سره د ټولو شرائطو ـ
ملاعلی قاری ؒ ليکی : والحاصل ان ادلة الشرع اربعة الکتاب والسنة والاجماع والقياس ويسمی الاجماع
والقياس فريضة عادلة ـ (فهو فضل) لکه عروض ' علم طب ' هندسه او علم هيئت شو ـ اګرچه حاصلول
ئی جائز دی ډيرا هم نه دی ـ ان کل ما ثبت بالسنة الافتقار اليه لا يلزم ان يکون علماً کالحجامة والزراعة
والنساجة فانها من فروض الکفاية ـ (مرقات) ـ
اللباب کښې ابن عادل حنبلی د سورة آل عمران د : ۷۸ آيت : ﴿ وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ ﴾ ـ په وضاحت کښې ليکلے دی : فان الحکم الشرعی قد ثبت تارةً بالکتاب وتارةً بالسنة وتارةً بالاجماع وتارةً بالقياس والکل من عندالله ـ
علامه البانی ؒ ليکی : فيه عبدالرحمن بن زياد بن النعيم عن عبدالرحمن بن رافع وهما ضعيفان ولذالك ضعف الحديث الذهبی فی التلخيص ٤ : ٣٣٤ ' التمهيد فی تخريج الفروع علی الاصول ـ
او کتاب " فضل علم السلف علی الخلف لابن رجب الحنبلی " کښې دی : فی اسناده عبدالرحمن بن زياد الافريقی ـ په دے راوی باندے کلام دے ـ

حدیث ۳۷: وعن عوف ابن مالك الاشجعی قال قال رسول اللهﷺ لایقص الاامیر..الخ۔

د حدیث ظاهر کښی مطلب دادے: چه هریوتن به قانون په لاس کښی نه اخلی۔ چه "ان الحمدلله" شروع کړی۔ اوبیا تقریرکوی۔ دابه یا امیر کوی یابه ئی مامورکوی۔ چه اسلامی حکومت وی۔ نودابه د اوقافو خطیبان کوی ـ یاچه امیر ورته حکم اوکړی۔ هسے بے خبرے هرڅوك کولے شی۔ لکه نمبرے چه تبلیغیان بیانوی۔ بل احکامات بیانول دی حلال او حرام مسائل بیانول دی۔ نوداد هرچا کار نه دے۔ سوال راځی چه زمونږ په دور کښی اسلامی حکومت نشته۔ اود اوقافو خطیبان هم په څه نه پوهیږی۔ اوخلق ورله اهمیت هم نه ورکوی۔ نو څوك به تقریرونه کوی۔ غورغشتوباباجی جواب کوی وائی: اقول فی بلادنا لیس للمسلمین امیر۔ زمونږ په علاقو کښی خود مسلمانانو امیران نشته۔ لیکن اهل علم و دیانت چه یوتن ته د وعظ حکم ورکړی۔ نوبیا وعظ کولے شی۔ داپه تکبر کښی نه دی داخل د جمعے مونځ دابه یا امیرکوی یا مامور۔ که ددے نه علاوه څوك ئی کوی نودا مختال دے۔ خوچه دغه انتظام او ترتیب اوس نشته۔ نوچه کوم تصدیق شده، مستند عالمان دی۔ چه د هغوی په خبره خلق اعتماد کوی۔ نو د تقریر کولو مجاز دے۔ مطلب دا هغه فارغ وی۔ یوے منلے شوے ادارے ورله سند ورکړے وی۔ نو هغه تقریر کولے شی۔

د خطیب اوصاف

(۱): جید عالم به وی۔ (۲): عمل صالح باندے به مداومت کوی۔ (۳): معامله او اخلاق به ئی برابر وی۔ (۴): عمل کښی به ئی اخلاص وی۔ (۵): دنیوی طمع به ئی نه وی۔ (٦): چاپلوس اوچمچه به نه وی۔ (۷): فصیح او بلیغ به وی۔ (۸): دابه ئی حرص وی۔ چه مخلوق دینی فائدے واخلی۔
(۹): خپله عقیده او عمل به ئی صحیح وی۔ او د باطل پرستو د شبهاتونه به بچ وی۔ (۱۰): د زمانے د تقاضونه به خبر وی۔ (۱۱): د خلقو د ذهن مطابق به خبره کوی۔ (۱۲): تنقید او د حق تنقید د آدابونه

به خبر وی ـ (۱۳) : مؤقف به ئی د اعتدال وی ـ (۱۴) : عجب به په کښی نه وی ـ (۱۵) : کلام به ئی مربوط وی ـ (۱٦) : په قرآن او سنت به برابر بیان کوی ـ (۱۷) : اهمه او ضروری خبره به مقدم کنړی ـ (۱۸) : موضوعات ، مجهولات اوضعائفونه به احتراز کوی ـ (۱۹) : مقصد به ئی د الله رب العزت رضا وی ـ (۲۰) : د چانه به یره او ترخه نه کوی ـ

سیدنا علی رضی الله عنه هغه قصه گود مسجد نه اوباسلے وو ـ چه ناسخ او منسوخ باندے نه پو هیدو ـ او احکامات ئی خلقوته بیانول ـ

ددے حدیث باره کښی علامه البانیؒ لیکی : الحدیث صحیح ـ وهکذا فی التمهیدفی تخریج الفروع علی الاصول للاسنوی م ۵۷۷ هجری ـ

فائده : چه په یو کلی کښی ښه محدث وی ـ پکار دی چه هغه حدیث بیانوی ' خطیب بغدادیؒ په الجامع کښی او علامه ذهبیؒ په سیر اعلام النبلاء ۱۰ : ۲۳۱ کښی د یحی بن معین قول نقل کړیدے : قال یحی بن معین اذا حدثت فی بلدة فیها مثل ابی مسعر ـ چه څه د اعلی د موجود کیدو په وخت کښی حدیث بیانوم ـ نوزما گیره اوخروے ـ مطلب د تعزیرقابل یم ـ

فتح اله کښی دی : المراد بالقص الخطبة بالامیر والمامور حقیقتهما ای لا تخطب الناس نحو الجُمع والاعیاد الا أمیر محلهم اومن امره ذالك الأمیر او من فوقه فمن له ولایة ذالك ـ

او لیکی : چه وعظ کښی به موضوعی او ډیر ضعیف احادیث نه بیانوے ـ لکه بیضاوی او کشاف کښی د هر سورت په ذیل کښی بیانوی ـ څکه امام احمدؒ فرمائی : چه غالب درے مباحثو کښی سندصحیح متصل نه وی ـ ډیر کم وی ـ مغازی ' ملاحم او تفسیر ـ

حدیث ۳۸ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ من افتی بغیر علم کان اثمه ... الخ۔

"من افتی": ۔علم ئی نه دے کړے۔ او مفتی دے مفتیانو کښې یو مفتی بلاعلمه دے۔

الاختیار لتعلیل المختار کښې دی : یو هغه مفتی دے۔ چه هغه ته مفتی ماجن وائی۔ ماجن معنی هے هے مازغو کښې صلاحیت او رشد نه ئی۔ یوه خبره ده چه دغه سړی ته پته ده۔ چه دا مفتی نه دے او هسے اخوا دیخوا دے۔ که بیا تر ے دے مسئلے تپوس کوی۔ نو بیا دے گناهگار دے۔ او که هغه ته پته وی چه مفتی دے ــ او بیائی تر ے تپوس او کړو ــ او هغه غلطه فتویٰ ورکړه ـ نو بیا مستفتی گناهگار نه دے۔ اپریشن به ماهر ډاکټر کوی۔ که د ماهر ډاکټر د لاسه خوك مړه شو۔ نو خیر دے۔ او که یو هه ډاکټر نه وی۔ او که دده د لاسه ورته صحت هم ملاؤ شو۔ خطاء دے په نفس الامر کښې۔

ځکه حدیث دے : من قال فی القرآن برایه فاصاب فقد اخطأ ـ که مریض روغ هم شو۔ لیکن دا معالج مجاز نه دے۔ دے بیا هم خطاء شو۔

"فقد خانه": ۔ مشوره به د خیانت نه ورکوی۔ یوتن ډاکټر وو چه خوك به ورله راتلل۔ نو هغه ته به ئی وئیل چه اینه خوره۔ نو یو ځل ورته یوتن وئیل چه دا اینه به ماله فائده راکړی۔ وئیل که تاله در کوی او که نه ـ زما رور قصابی کوی۔ او هغه اینه خرخوی۔ هغه له فائده ورکوی۔ چه زر دا اینه خلاصه شی۔ چه ځانله بل کار کوی۔ نود خپلو مفادو دپاره مشوره ورکول دیته خیانت وائی۔

حدیث کښې دویم ځل چه " افتاه " راغلے دے۔ نو دا په معنی د استفتیٰ هم اغستے شے۔ سندئی حسن دے۔ او دارمی هم دا روایت ذکر کړیدے۔

د مستند مفتی شرائط

شیخنا الجاجروی لیکی : چه د مستند مفتی خلور شرطونه دی۔ (۱) : د وخت مشائخ او محققین ئی د فتوی ورکولو اهل او منی۔ (۲) : په علم الفرائض کښې پوره مهارت وی۔ (۳) : د الله یره پر ے غالب وی۔ (۴) : د خائسته اخلاقو مالك وی۔ او هغه مفتی صحیح نه دے۔ چه (۱) : عالم نه وی (۲) : عالم دے خو فتویٰ ورکولو کښې تحقیق نه کوی۔ (اسعد المفاتیح)۔

حدیث ۳۹ : وعن معاویة قال ان النبی ﷺ نهی عن الاغلوطات ... الخ۔

نبی ﷺ د اغلوطاتو نه خلق بند کړیدی۔ یو سړی په مغالطه کښې خلق اخته کوی۔ خپل علم ښائی

تپوس کوونکی د ځان اصلاح نه ده مقصد۔ د بل پریشانه کول او ذلیله کول دی۔ اودے تپوسونه کوی
(۲) : دا سائل په عجب کښې مبتلاء دے۔ اودے تپوس کوی۔ دا هم ټیك نه دی۔
(۳) : دده سوال مطلب تعمق دے۔بال کی کھال اتارنا ۔ دابه هم نه کوی : ﴿ لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ﴾ (سورة المائدة : ۱۰۱) ۔ د بنی اسرائیلو غوابه ترے نه جوړوی دا تعمق دے۔ یوداسے سوال دے چه د طالب علم د هغے په وجه سره ذهن تیزیږی داخیر دے : ﴿ ان من الشجرة شجرة لایسقط ورقها ﴾ نبی ﷺ د صحابه کرامو نه تپوس اوکړو۔ چه په اونو کښې یوه اونه ده۔ چه پاڼړی ئی نه غورځیږی ۔ داکومه اونه ده۔ جواب چاله نه ورتلو۔ نو صحابه کرامو تپوس اوکړو۔ چه مونږته ئی اووایه۔ بیا ورته نبی ﷺ اووئیل : داده کهجوری اونه ده۔
یا استاذ د شاګرد نه په امتحان کښې تپوس کوی پرچه ده۔ لکه مخکښې ذکراوشو۔ چه : انزل القرآن علی سبعة احرف ۔ په دے کښې څو توجیهات دی ۔ نو که استاذ تپوس کوی نو خیر دے۔ د استعداد مطابق تپوس به کوی۔ پخوابه طالبانو وئیل ددے څه معنی ده : من قال قال الله فقد کفر ۔ نوبیابه ئی ورته وئیل چه څوك دا اووائی چه الله قیلوله کړیده۔ نودے کافر دے ځکه ﴿ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ﴾ دیته مغالطات وائی۔ یا یوتن وائی : من اکرم محمدًا فقد کفر ومن ابغض محمدًا فقد فاز ۔ او روستو وضاحت کوی چه باب افعال د سلب مآخذ دپاره دے۔ اکرام ختمول او بغض لرکول۔
امام شافعیؒ یا امام ابویوسفؒ دے۔ بناء براختلاف څوك یو ذکرکوی څوك بل ذکرکوی۔
قاضی ابویوسفؒ د هارون الرشیدپه مجلس کښې ناست وو یا امام شافعیؒ په دے مجلس کښې ناست وو ۔ یوتن مشروتی کوله۔ اوخپل علم ئی خودلو۔ چه هغه کله خبره ختمه کړه۔ نودے پو هه شو۔ وئیل څه درنه هم یو تپوس کوم ۔ ماله د هغے جواب راکړه۔ هغه کوم صورت دے : چه په میراث کښې یووارث خورجوړیږی ۔ خورته ئی په هغے کښې یو درهم ملاویږی۔ نوبیا د هغه سره جواب نه وو۔ د هغے جواب به دا وی : یوتن مړشواو ۶۰۰ درهمه ئی پریخودل ۔ دده چه کوم خپلوان دی په هغے کښې دوه لونړه دی۔ یوه ئی ښځه ده۔ یوه ئی مور ده۔ دولس ئی رونړه دی۔ اویوه ئی خور ده۔ اوټول رقم ئی شپږ سوه روپی پریخودلے دی ۔ ورثه پنځه دی۔ دامیراث به څنګه تقسیموی۔ نودا تقسیمول غواړی : ﴿ فَإِن كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ﴾ اودارنګے ښځے ته به ثمن ملاویږی۔

اومورته به شپږمه ملاویږی۔ او رونړو خویندوته به: ﴿ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ ﴾ (سورة النساء: ١١)
په اعتبار سره ملاویږی۔ نو په دے ٦٠٠ درهمو کښی خورته یو درهم ملاویږی۔
کله چه څوك د خپلے تقوٰی خودلو دپاره تپوسونه کوی۔ مثلاً د احرام په حالت کښی مے مچ مړکړو۔
نو کفاره څه ده؟۔ جواب به ورکړے مچ پریږده انسان دے مړکړیدے۔ د هغے تپوس کوه۔ ما بال اهل العراق یسئلوننی عن قتل الذباب وقد قتلوا ابن رسول الله ﷺ وما سالونی ۔ عراقیانو حسین رضی الله عنه شهید کړیدے۔ د هغے تپوس نه کوی۔ او د مچ تپوس کوی۔
یا یوکس د قصده داسے وائی: حضرت عائشه رضی الله عنه فرمائی: نوبل ورته اووئیل عنها وایه۔ نو وئیل دا ضمیرم حضرت ته راجع کوو۔ او هغه مذکر دے۔ یا طالبان وائی: قدمتنی زید ۔ ترکیب راته ټیك کړه۔ دا "قد" فعل ماضی ده۔ زید فاعل او "متنی" مفعول به ده۔
فائده: علماء لیکی: ﴿ وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ ﴾ په قانون ددغسے متکبرنه داسے تپوسونه کول درست دی۔ چه مازغه ئی صحیح شی۔
رواه ابوداود سنده ضعیف فیه عبدالله بن سلام و مجهول۔

حدیث ۴۰: وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ تعلموا الفرائض والقرآن ...الخ۔
د فرائضو نه مراد یا فرض احکامات دی۔ دویم د میراث مسائل دی۔ دا حدیث ئی دلته هم راوړو۔ او چه کتاب الطهارة شروع کیږی۔ نو د هغے نه مخکښی داسے حدیث به راوړی۔
"فانی مقبوض": ۔ فانی امرء مقبوض ۔ ددے څه مناسبت دے د مخکښی سره۔ یعنی زما ترژونده څه د تعلیم سلسله تاسوته جاری کولے شم۔ څه چه وفات شم قبر کښی کیخودلے شم د مرگ نه روستو درس او تدریس نشته۔ بعضو غلطو صوفیانو واقعے جوړے کړیدی۔ هغه وائی: فلانکی به د قبرو الا نه سبق ایزده کولو۔ بعضے وائی: چه قبر خواله لاړ شی۔ او هلته مراقبه اوکړی۔ نو ذهن به دے کهولاؤ شی۔ دا ټولے غلطے خبرے دی۔
حدیث فیه اضطراب ومحمد بن القاسم الأسدی ضعفه احمد وغیره۔ قلت بل کذبه احمد والدارقطنی ۔ لیکن موقوف روایت د عبدالله بن مسعود نه صحیح دے۔

حدیث ۴۱: وعن ابی الدرداء قال کنا مع رسول الله ﷺ فشخص ببصره الی ....الخ۔

"یختلس": ۔علم د قرآن به ترے سلب شی۔ یوروایت کښې راځی: زیاد رضی الله عنه ورته اووئیل چه دابه څنګه اوشی۔ مونږ خوخپلو بچوته سبق ښایو۔ اوبچی به ئی بچو ته ښائی۔ دا سیدنا زیاد رضی الله عنه تپوس کړے وو۔ نبی ﷺ ورته اووئیل: ماخوته ډیر افقه اوچت سړی ګڼړلے۔ ولے دا یهودیان خپلو بچوته سبق نه ښائی۔

د حدیث مطلب داد ے: چه علم په عمل راټینګیږی۔ یعنی په علم به عمل ختم شی۔

او حدیث کښې راتلونکی فتنوته اشاره هم کیدے شی۔ او چه علماء وفات شی علم به ختمیږی۔

علامه طیبیؒ لیکی: چه کله نبی ﷺ بره آسمان ته اوکتل ده ته د خپلے نیتے د نزدیکت کشف اوکړے شو۔ انتهی۔ حدیث نه د عمل اهمیت معلوم شو۔ اود عمل جو هر تقویٰ وی۔ اود تقوٰی خائست ادب دے۔ (سنده صحیح وله شاهد)۔

حدیث ۲۴۲: وعن ابی هریرة روایة یوشك ان یضرب الناس اکباد الابل یطلبون ...الخ.

"**یطلبون العلم**": ۔علم تفسیر، حدیث او فقه ترے مراد ده۔

"**من عالم المدینة**": ۔مدینه کښې چه کوم عالم دے۔ددے نه بل څوك افضل په دغه وخت کښې به نه وی۔ داڅوك دے۔(۱): یوقول داد ے چه پخپله نبی ﷺ دے۔او جامع د ترمذی کښې دادی: چه سفیان بن عیینهؒ فرمائیلے دی: چه دا امام مالكؒ دے۔ څکه دے د مدینی اوسیدونکے وو۔ مدینه کښې ده سبقونه خودل امام مالكؒ مدنی دے۔

فائده: نبی ﷺ د امامانو نومونه نه دی اغستلے۔ چه یا امام مالكؒ دے یا امام بخاریؒ یا امام ابوحنیفهؒ دے یا امام شافعیؒ دے خو بعضے احادیثو کښې اشارات بعضے ائموته کیدے شی۔ نو په دے حدیث کښې اشاره شوه امام مالكؒ ته۔

مظاهر حق کښې دی: په روستو زمانه کښې په مدینه کښې ډیر ښکلے عالمان تیرشویدی۔ انتهی۔

او د ابن عیینهؒ خبره په ظن بناء ده نه په یقین۔ اوکه چا څوك ذکرکړیدی هلته هم حصر نه دے مراد۔ بلکه مثال ئی د وضاحت دپاره ذکرکړیدے۔ او عمر بن عبدالعزیز مراد اغستل صحیح نه دی۔

حدیث ۴۳: وعنه فیما اعلم عن رسول اللہ ﷺ قال ان اللہ عز وجل یبعث لهذه ...الخ۔

"من یجدد لها دینها": ۔دا دواړه قسمه کیږی غلط او صحیح دواړه وی۔ د صدی په ابتداء کښی داسے کس هم پیدا کړی۔ چه هغه د دین تجدید اوکړی۔ اود صدی په ابتداء کښی ورسره داسے هم پیدا کړی۔ چه هغه د دین تحریف اوکړی۔ اوبیا دا مجدد لګیا وی۔ د هغه چامقابله کوی۔ چه هغه په دین کښی تحریفات کوی۔ مشهوره ده: لکل فرعون موسٰی۔ د اول نه تر آخره دا سلسله روانه ده۔

ستیزہ کار رہا ہے ازل سے تا امروز چراغ مصطفوی سے شرار بولہبی

امام نوویؒ فرمائی: د مجدد بنیادی کار به د بدعاتو رد اود سنت اشاعت وی۔

د علماء دیوبند پهچان

مفتی محمود صاحبؒ په خپل تفسیر کښی د: ﴿الم ' ذَلِكَ الْكِتَاب﴾ دلاندے په تشریح کښی لیکی: چه علماء دیوبند چاته وائی ؟۔ وائی ددے دوه نښے دی۔ (۱): یو به دے د بدعاتو رد کوی (۲): دویمه نښه ئی ده۔نہ بکنے والا نہ جھکنے والا ۔ د هر باطل خلاف به کوی۔ دیته علماء دیوبند وائی۔

دا " من یجدد " یو فرد هم کیدے شی۔ اودا یو جماعت هم کیدے شی۔ د دیوبند د مدرسے بنیاد د بدعت په رد باندے دے۔ علامه بنوریؒ په معارف السنن کښی په کتاب الصوم کښی په دے باب کښی چه د سحر مونږ به په رمضان کښی وختی کیدو۔ ددے د لاندے لیکلے دی: چه: دیوبند قریة بقرب دهلی۔ دیوبند د یو کلی نوم دے د دهلی خوا کښی۔ اودلته یوه مدرسه ددے دپاره ده۔ چه د بدعاتو رد به په کښی وی ۔نو هغه ځنګه دیوبندے دے۔چه هغه د بدعاتو رد نه کوی۔ علماء دیوبند دا هم مجموعی حیثیت سره مجددین دی۔ بعضے بریلیان احمد رضاخان ته مجدد ماۃ حاضره وائی۔ صحیح خبره نه ده لیکن علامه طیبیؒ په دے حدیث چه بحث کوی نود " من یجدد " د لاندے لیکی: چه دا د فقهاء سره مه خاص کوے۔ چه صرف فقهاء دا به تجدید کونکی وی۔ بلکه دا به عام کوی۔ دے کښی به " اولو الامر " هم راولے۔ په " اولوالامر" کښی بعضے هغه دی۔ چه هغه مجددین دی۔ په دے کښی به "اصحاب الحدیث " هم راولے۔ په محدثینو کښی بعضے هغه دی چه هغه مجددین دی۔ په دے کښی به قراء صاحبان هم راولے ــ په دے کښی به واعظان هم راولے ــ دوی ته هم یو صفت د تجدید اللہ رب العزت ورکړیدے۔ اوپه دے کښی به هغه کسان هم داخل کړے۔ چه هغوی د سیاست قوانین

مدون کوی۔ اوخلقوته هغه رسوی۔ اوپه دے کښې به په صدۍ کښې یویوتن ممتازوی۔ اودا ټول صفتونه به ئې ورله ورکړے وی۔ نوبیا د مثال په طورباندے ئې د روموبني صدۍ د تیریدونه روستو مجدد د صدۍ عمربن عبدالعزیز" دے۔ نو هم په دغه صدۍ کښې په فقهاء کرامو کښې محمدعلی باقر" دے۔ اوداد فقهے په اعتبار سره دے۔ او هم په دغه صدۍ کښې قاسم بن محمدبن ابی بکردے۔ سالم بن عبدالله بن عمر دے۔ حسن بصری او محمدبن سیرین دے۔ په قراء کښې په اوله صدۍ کښې عبدالله بن کثیر دے۔ په محدثینو کښې په اوله صدۍ کښې هغه ابن شهاب زهری دے۔ بیادویم نمبر باندے مثال ورکوی: چه په دویمه صدۍ کښې په اولو الامر کښې مامون الرشید دے۔ لیکن دابادشاه پوره ټیك نه دے۔ دے څه معتزلی خیالاتو والا دے۔ په فقهاء کرامو کښې امام شافعی" اوامام احمد" دے۔ لؤلؤی د اصحاب ابی حنیفة" نه دے۔ د امام مالك" شاګردانو کښې اشهب دے۔ اوپه قراء کښې یعقوب دے۔ اوپه محدثینو کښې یحی بن معین دے۔ اوپه صوفیانو کښې معروف کرخی دے۔ اوبیائی د هغے طبقات ذکرکړیدی۔

د علامه طیبی" د بحث مطلب دادے: چه مجددین دایو کس نه وی۔ داډیرکسان وی۔ یو جماعت هم کیدے شی۔ امداد الفتاوی کښې مولانا اشرف علی تهانوی" داخبره ذکرکړیده: چه څنګه مجددین دی دغه شان باطل پرست هم دی۔ چه هغوی تجدید د الحاد کړیدے۔ نو هغه وائی: زمونږ په صدۍ کښې چه د الحاد تجدیدئی کړیدے هغه ته سر سید احمد خان وئیلے کیږی۔

شیخ صاحب" په ضیاء النور کښې د سر سید په عقیده رد کړیدے۔ د مولانا عبدالحئ عبارت ئې راغستے دے۔ ضیاء النور کښې ۱۸٦ باندے لیکلے دی: ولعمری افساد هؤلاء الملاحدة وافساد اخوانهم الاصاغر المشهور بغیر المقلدین الذین سموانفسهم باهل الحدیث وشتان ما بینهم وبین اهل الحدیث ...الخ ۔

په دغه مجددینو کښې الف ثانی" وو احمدسر هندی" د بدعاتو دشمن وو۔ یوتن څه غلطے خبرے کړیوے۔ نو هغه ورته جواب کښې وئیل: مخدوما فقیراتاب استماع امثال ایں سخنان ہرگز نیست ۔ څه داسے خبرے نه شم برداشت کولے۔ اوبیا ورته وائی: بے اختیار رگ فاروقی درحرکت مے آید ۔ څه فاروقی یم زمارګ په حرکت کښې راځی۔ څه هم غصه کیږم: اینجا قول امام ابوحنیفه وامام محمد معتبراست نه عمل ابی بکرشبلی وابی حسن نوری ۔ دغه مجدد وو۔ الف ثانی" څکه مجدد وو۔ چه آخوا ملحد اکبر بادشاه وو۔ نو د اکبر بادشاه خلاف ئې کړیدے۔ دغه تجدید د بدعاتو زیلے کټ کوی۔ اود سنت اشاعت کوی۔ لکه مجدد صاحب" چه په کښې غټے کارنامے دنیاکښې پریخودلے دی۔ مجموعی حیثیت سره محققین علماء دیوبند ددے دور مجددین دی۔

فائده : د دیوبندی تعریف

د دیوبندی تعریف شیخ محمدعبدالله الاسعدی القاسمی په خپل کتاب دارالعلوم دیوبند : ۳۹ باندے کړیدے : فمن تمسك بالكتاب والسنة الصحيحة الثابتة ' ويجتنب البدع والخرافات ' ويعمل بظاهر الشريعة تماما 'و يهتم بتزكية الباطن خصوصا فهو ديوبندى حقا ' ولولم يعرف قرية ديوبند ولم يسمع منها شيئا ۔ وان كان على خلاف ذالك فهوليس بديوبندى ولوكان سقط راسه فى ديوبند اللهم الا النسبة الى الوطن ۔

حدیث ۴۴ : وعن ابراهيم بن عبدالرحمن العذرى قال قال رسول الله ﷺ يحمل ..الخ ۔

"من كل خلف": ۔ یو خلُف دے او بل خلَف دے ۔ خلُف غلط جانشین ته وائی : ﴿فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ﴾ (سورة الاعراف : ۱۶۹) ۔ او بل خلَف (زبر سره) دے ۔ د خلَف معنی نیك جانشین دے ۔ **" تحريف الغالين "** : ۔ غالیان بدعتیان دی ۔ هغوی چه کوم تحریفونه کړیدی ۔ هغه به ښکاره کوی ۔ د احمد رضاخان ډیر تحریفات دی ۔ داسے د نورو باطل پرستو لکه سرسید احمد خان وغیره ډیر شے تحریفات دی ۔ ملاعلی قاریؒ لیکی : المبتدعة الذين يتجاوزون فى كتاب الله وسنة رسوله ۔ (مرقات) ۔

چه هغوی د الله په کتاب کښی او د نبی ﷺ په سنت کښی د حد نه تجاوز کوی ۔ نو بدعتیان دی ۔ پخوانی دور کښی قدریه ' جبریه او معتزله دی ۔ او د هغوی تاویلات دی ۔ د هغوی د تاویلاتو ازاله به کوی یوه نبته به د هغوی داوی : **"ينفون "** : ۔ لرے کوی به د دے علم نه ۔

(۱) **" تحريف الغالين"**: ۔ د بدعتیانو تحریفونه د پرویزیانو او د قادیانانو تحریفونه ۔

(۲) **" وانتحال المبطلين"**: ۔ او د دروغژنو غلط څیزونه ځان ته منسوب کول ۔ انتحال دیته وائی : یو څیز د ده نه وی ۔ او ځان ته ئی منسوب کوی ۔ شعریو وئیلے وی او دے ئی ځان ته منسوب کړی ۔ داهم کنایه ده د دروغونه ۔ یعنی دروغ تړل د باطل پرستو ۔

علامه طیبیؒ د دے حدیث په تشریح کښی لیکی : انتحال المبطلين ۔ ابن قطان وائی : ليس فى الدنيا مبتدع الا وهويبغض اهل الحديث ۔ په دے دنیا کښی هیڅ بدعتی نشته مګر دے به د محدثینو سره بغض کوی ۔ هر یو محدث سره به بغض کوی ۔

د علامه شاطبیؒ کتاب الاعتصام کښی دی : فانك لا تجد مبتدعا ممن ينسب الى الملة الا وهويستشهد على

بدعته بدلیل شرعي. علامه طیبیؒ د محمد بن اسلم قول ئې دلته نقل کړیدے: قرب الاسانید قرب الی الله تعالیٰ. چه قرب د اسانیدو د قرب الی الله ذریعه ده.

(۳) "وتاویل الجاهلین": - د جاهلانو تاویلونه به رد کوي. چه هغوی په مختلفو ځایونو کښې د ځان نه تاویلات کړیدي - د قرآن معنی ئې غلطه کړے ده. د حدیث معنی ئې غلطه کړے ده. نو دا به د هغوی کار وي - محترم عبدالعزیز نورستاني حقیقة الالحاد کښې دا حدیث نقل کړیدے. هغه وائي زمونږ نه خلق تپوس کوي چه خپل نوم ثابت کړے. یعنی اهل الحدیث. څه ئې ثابتوم دا حدیث دے ددے نه زمونږ نوم ثابت دے - دے حدیث کښې د علم او د اهل علم شرافت ذکر دے. او یهودو ته تعریض دے. چه تورات کښې تحریفات کړے دي. او باطل تاویلونه کوي.

وضاحت داد ے: یو خو دا حدیث ډیر اوچته مرتبه باندے نه دے. بعضوئی توثیق او بعضو په دے لږ کلام هم کړیدے. او مولانا زبیرعلي زی لیکلے دي: اسناده ضعیف ' معان بن رفاعة ضعیف والسند مرسل - تخریج مشکوة المصابیح : ۱۱۵). او ابن حزم معان بن رفاعة ته " لیس بالقوی " وائي. (محلی ۸ : ۲۶۵) - او ملاعلي قاریؒ لیکلے دي: وروی ایضا من اوجه أُخر ضعیفة ومعان بالنون دمشقي - قال ابو حاتم وغیره لا یحتج به ' کذا في التخریج . او عرف الجاري ۳ کښې دي: نص صریح است .

دویمه داده: چه داد هغوی منشور او طریقه کار دے. دے کښې دغه نوم نشته. د نوم په حیثیت.

الفصل الثالث

حدیث ۴۵: عن الحسن مرسلاً قال قال رسول الله ﷺ من جاءه الموت وهو.. ..الخ.

هر عالم به ځان طالب العلم ګڼړي . دا نه چه دے فارغ شو . چه زما د علم وخت ختم شو .

"لیحی به الاسلام": - چه اسلام په هغے سره ژوندے کړي. دا نه چه مقصد ئې د اسلام په شعائر د مال پیداګیر دے - یا خپل نوم او شهرت دے - بلکه د اسلام تازه کول ئې مقصد دي - دده او د پیغمبرانو په مینځ کښې یوه درجه فرق به په جنت کښې وي. یعنی دے کم په دیدے. چه ده ته نبوت نه دے ورکړے شوے.

قاضی صاحبؒ التعلیق الفصیح : ۵۰ باندے لیکي: چه دے به د ترقي تول مدارج سرته اورسي.

خود پیغمبرانو د نبوت درجه ورته نه شی حاصلیدے۔ انتهی۔

حدیث ۴۶ : وعنه مرسلاً قال سئل رسول الله ﷺ عن رجلین کانا فی بنی اسرائیل..الخ۔

"**احدهما کان عالما**": ۔عادل عالم وو۔ مخکښې حدیث کښې تیرشو: من کل خلف عدوله"۔ چه عالم وی او عادل وی ۔ نو دده مرتبه اوچته وی۔ که چرته عادل نه وی نودا عالم نه دے۔ دوی معلومات د علم ساتی۔ "**فضل هذا العلم**": ۔اشاره چه نبی ﷺ اوکړه۔ نودائی د هغے عالم د مرتبے په ذهن کښې د راوستلودپاره اشاره اوکړه۔ لکه: ﴿إِنَّ هَـٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ﴾(سورة بنی اسرائیل:۹)

د قرآن د عظمت دپاره ئی "هذا" اووئیلو۔ لکه:

هذا ابوالصقر فرد فی محاسنه   من نسل شیبان بین الضال والسّلم

دا "هذا" د مدح دپاره دے۔

صرف د بنی اسرائیلو خاص کس سره خاص نه دے۔ جنس عالم په جنس عابد غوره دے۔ کله چه هغه عالم ضروری فرائض او واجبات هم په ښه طریقه ادا کړے وی۔

اتحاف السادة المتقین :۷۴ باندے دی : عن ابی جعفر انه قال موت عالم احب الی ابلیس من موت سبعین عابدا.

حدیث ۴۷ : وعن علی قال قال رسول الله ﷺ نعم الرجل الفقیه فی الدین ....الخ۔

مرقات کښې دی : من علم وعمل وعلّم یدعی فی الملکوت عظیمًا ۔ اتحاف السادة المتقین ۱ : ۱۰۶ علامه ذهبی ؒ لیکی : چه داد عیسی علیه السلام قول هم دے۔ اود سفیان ثوری ؒ په ترجمه کښې ابن جوزی ؒ تخریج کړیدے۔ ددے دارومدار کرامتونه نه دی۔ مرقات کښې دی : اما الکرامة فعندهم حیض الرجال۔ اوکله چه کرامت باندے دهوکه کیږی۔ " بالکری مات " لکه چه په اوګد خوب مړشوے۔

یو روایت خطیب نقل کړیدے خپل تاریخ کښې دے د عبدالله بن عمرونه چه : افضل المؤمنین ایمانا الذی اذا سئل اعطی واذا لم یعطی استغنی۔ لیکن سند ئی صعیف دے۔

او مرقات کښې په بل ځل بیا د امام غزالی ؒ افسوس ذکرکړیدے چه مخکښې تیر شو : قال الغزالی ضیعت قطعة من العمر العزیز فی تالیف البسیط والوسیط والوجیز۔

علامه هیثمی ؒ لیکلے دی : چه فقهاء ځکه عزتمند دی۔ چه مال ، ځوانی او خوب ئی د خلقو د اصلاح دپاره قربان کړیدے۔

حدیث ۴۸ : وعن عکرمة ان ابن عباس قال حدث الناس کل جمعة مرةفان ابیت ..الخ۔

"کل جمعة ": ۔ مطلب دانه دے : چه د جمعی په ورځ باندے کوه۔ جمعی مطلب هفته کښی یو ځل خلقوته حدیث بیانوه۔ تقریرورته کوه۔ الحق الصریح والا ترے مسئله راویستے ده : چه په هفته کښی دوه ځله یا درے ځله تقریرونه به کوی زیات به نه کوی۔ لیکن که څه خلق پوره هفته په شوق و ذوق سره مطالبه کوی۔ یا خلق بدلیږی۔ نو بے ځائی کښی تقریرکوی۔ ښه خبره ده۔

مولانا احسان صاحب مدظله داسے وضاحت کوی : چه زمونږ تقریرونه ډیر څکه دی۔ چه زمونږه ایمان کلك نه دے۔ اود صحابه کرامو ایمان کلك وو۔ انتهی۔

دے کښی اصل کښی علت ته گوره۔ چه اکتاهټ په خلقو کښی نه راځی۔ نوتقریر ورته کوه۔ یاخلق اوځائی بدل دی۔

"وانظر السجع ": ۔ ځان بچ کړه د قافیه بندی نه۔ قافیه بندی په دوه قسمه ده۔(۱): چه بلاتکلفه ده نوداخیر دے (۲) : اودویم سره د تکلفه او د کاهنانوپه طرز ده۔ چه سوچ ورته نه کوی۔ لکه مثلًا : پاکستان کواستحکام اوبقاءدوام عطاءفرما۔ چه څه یوفصیح او بلیغ شم۔ نوبیاغوره نه ده۔

شیخ الحدیث مولانا بنوری ؒ چه کله معارف السنن اولیکلو۔ اومفتی شفیع ؒ ته ئی اولیږلو۔ نو هغه ورته په جواب کښی کوم خط لیږلے دے۔ نوپه هغے کښی ئی لیکلے دی : لیکن بلا تکلفه : قرات هذه الضمیمه الفخیمه وتشرفت بتوسم ما فی هذه الدرة الیتیمه فلله درمن اخرجها من الصدف الانیق واستخرجها من البحرالعمیق۔ دا سجعه ده۔ که دا بلاتکلفه راځی۔ نو خیردے۔

ددے روایت نه معلومه شوه : بدعتیان وائی : دعا مطلقه راغلے ده۔ که هررنگه ئی کوے۔ نو هررنگه باندے خودلته رد اوشو۔ په دعا کښی سجعه یو رنگ دے۔ اوپه دے رنگ ئی بندیز راوستے دے۔

داسے باطل پرست کله داسے عبارتونه راوړی۔ د بخاری : ۱۰۴ باندے اسامه د سیدنا سعد رضی الله عنه باره کښی الزامات لګوی چه : ان سعدا لایسیر بالسریة ولا یقسم بالسویة ولایعدل فی القضیة۔

باطل پرست د خپل باطل د سجع په تزویر باطل خائسته کول غواړی۔

"لایفعلون ذالك": ۔ ترك وجودی دے اودا دلیل دے ۔چه داشیء بدعت دے ۔ چه کله یو عمل نبی ﷺ اوصحابه کرامونه دے کړے۔ اوته ئی کوے۔ او دین ورته وائی ددے وجے نه دابدعت دے۔

اودا ترک تهیك او قوی دلیل دے : واتباع النبی کما یکون فی الفعل یکون فی الترك ایضا فمن واظب علی فعل لم یفعله الشارع فهو مبتدع ۔ هدایه کښې دی : سحر د اذان نه پس به صرف دوه رکعته سنت کوی ۔ نفلونه به نه کوی : لان النبی ﷺ لم یزدعلیها مع حرصه علی الصلوٰة ۔ د نبی ﷺ مونځ ډیر خوښ وو ۔ لیکن د دوو نه ئی زیات چه هغه سنت دی نه دی کړے ۔ داسے هدایه : ۱۱۸ باندے دی : ولا یتنفل فی المصلی قبل صلوٰة العید لان النبی ﷺ لم یفعل ذالك مع حرصه علی الصلوٰة ۔ او علامه شامیؒ ۱ : ۶۰ کښې لیکی : اذا تردد الحکم بین سنة وبدعة کان ترك السنة راجحًا علی فعل بدعة ۔

بعض علماء بار بار داخبره ذکرکوی ۔ چه داسے دلیلونه چه وی ۔ هغه تیك نه وی ۔ دا عدم دے او عدم دلیل نه دے ۔ داعدم نه دے ۔ دا ترك دے اوترك وجودی دے ۔ او وجودی دلیل دے ۔ اوکله وائی : چه نبی ﷺ نه دے کړے اوصحابه کرامو نه دی کړی ۔ داهندی دلیل دے ۔ داحنفی دلیل نه دے ۔ هندی معنی دیوبند یادوی ۔ داهم هندی دلیل دے ۔ هم شرعی دے ۔ هم نبوی دلیل دے ۔ هم د صحابه کرامو نه ثابت دلیل دے ۔ اوکله وائی : داممنوع هم نه دے ۔ اومطلوب هم نه دے ۔ عجیبه دلائل دی ۔

"رواه البخاری" : ۔ داصرف د بخاری روایت دے ۔ د مسلم نه دے ۔ ځکه د امام مسلمؒ داعکرمه نه دے خوښ چه د عبدالله بن عباس رضی الله عنه خصوصی شاګرد دے ۔ اوپه عکرمه چه د ابن عباس غلام وو ۔ مقدمه د فتح الباری کښې دی : چاورته کاذب اوخارجی وغیره وئیلے دی ۔ لکه عبدالله بن عمر ' سعیدبن مسیب ' ابن سیرین ' امام مالك ' او امام شافعی وغیرهم ۔ لیکن امام احمد ' اسحاق بن راهویه ' ابوثور' یحی بن معین ' اوابو حاتم رحمهم الله ئی توثیق کړیدے ۔ اوامام بخاریؒ ډیر روایات په خپل صحیح کښې داخل کړیدی ۔

حدیث ۴۹ : وعن واثلة بن الاسقع قال قال رسول الله ﷺ من طلب العلم فادرکه ..الخ ۔

دا اهل صفه نه وو ۔ بصرے ته ئی تشریف راوړے وو ۔ بیا شام او بیت المقدس ته لاړو ۔ ۹۸ یا ۱۰۰ سال ئی تول عمر وو ۔ دحدیث مطلب دادے : چه کوم طالب العلم خپل علم آخری عرفی حدته اورسو ۔ دوی له به ډبل اجرورکوی ۔ لکه مجتهد چه حق ته اورسی اوډبل اجرورکوی ۔ اوکه آخری عرفی حد دعلم ته اونه رسی ۔ هم به ورله یواجرد محنت ورکوی ۔ لکه چه مجتهد خطاء شی ۔ اویواجر ورله شته ۔

علامه ابن قیمؒ په تحفة المودود کښې : ۷۶ باندے لیکلے دی : چه اهل سعادت له د مرګ نه پس هم الله د دین هغه نیم ګړے شغل سرته رسوی : حتی قیل ان من مات وهوطالب للعلم کما له حصوله بعد موته و کذالك من مات وهویتعلم القرآن والله اعلم ۔

حدیث ۵۰ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان ممایلحق المومن من عمله ..الخ۔

"تلحقه من بعد موته": ۔ **اشکال** : ظاهرکښې اشکال دے چه مخکښې حدیث تیرشو۔ چه اذا مات الانسان انقطع عمله الامن ثلاث ۔ په هغے کښې درے خبرے وے۔او "الامن ثلث" کښې حصروو۔ اودلته ئې د دریونه خبرے سوا کړے۔نو هغه حصرئې خراب کړو۔

(۱) **:جواب** : هلته حصرحقیقي نه وو۔ هغه حصراضافي وو۔ (۲): **جواب** : دلته چه کوم اموریادوی د هغے مخکښې روایت سره تعارض نشته۔چه دا ټول یاپه علم کښې راځي۔یا صدقه جاریه کښې راځي۔ نوداحدیث د مخکښې پشان شو۔"الا من ثلاث" کښې چه کوم درے خبرے هلته دي۔ دلته هم دي۔ لکه علم اوصدقه جاریه او ولد صالح ذکرشویدی۔

"علما علمه ونشره": ۔یا صدقه جاریه ده۔که مصحف دے۔ که مسجد دے۔که مسافرخانے دي۔ اوکه نهر دے۔دا ټول په صدقه جاریه کښې راځي۔ نوددے وجے نه ئې د هغے حدیث سره ټکراؤنه راځي۔یوصدقه ده۔ اویوصدقه جاریه ده۔ زمونږ خلق صدقه دیګ پخولوته وائي۔ چه دیګ باندے کړي۔ داصدقه ده۔ خوجاریه نه ده۔ جاري هغے ته وائي: چه "مسجدًا بناه"۔وغیره وغیره۔

فائده : داحدیث دلیل دے چه مصحف نوم د قرآن د نبي ﷺ وخت کښې وو۔علامه مناویؒ دے روایت ته حسن وائي (فیض الباری ۲ : ۵٤) ۔او علامه البانیؒ ورسره موافقه کړے ده۔ چه په صحیح ابن ماجه کښې ئې ذکرکړیدے۔

حدیث ۵۱ : وعن عائشة انها قالت سمعت رسول الله ﷺ یقول ان الله عزوجل ..الخ۔

د علم د طلب لار دا مستلزم ده۔دے خبرے له چه د جنت لارے به ورته څه آساني کړم۔یعني علم به ورته آسان کړم۔علم ګران دے مشقتونه په کښې ډیردي۔خودا مشقتونه برداشت کول به دے طالب العلم ته څه آسان کړم۔په دنیا کښې به ده له د خپل معرفت اود خپل حقیقت اود خپلے پیژندګلودولت ورکړم۔ده له به داسے عقیدے اود عمل توفیق ورکړم۔ چه هغه جنت ته رسیدونکے امور دي۔ده له به څه د عبادت توفیق ورکړم۔"**طریق الجنة**": ۔ څه به ده ته د جنت محل اوښایم۔سورة محمد: ٦ کښې راځي:

﴿وَيُدۡخِلُهُمُ ٱلۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمۡ﴾ یو معنی ده خوشبوئي به کړم ورته۔دویم اوبه ښایم ورته لارے د جنت۔

"الورع ":۔ داسے تقویٰ ده چه د هغے د وجے د شبهاتونه انسان ځان بچ کولے شي۔ یو فتوی او بل تقوی وی۔ مفتی خو به درته د ډیرو خبروفتویٰ درکړی چه جائز دی۔ خو لیکن انسان ورع والا ځان بچ کوی۔ ځنګه چه د دین اصل ورع ده چه د شبهاتو به هم ځان بچ کوی۔ دغسے د دین فساد په طمع سره راځی۔ د شبهاتو متعلق سیدنا عمربن الخطاب فرمائی : لیاتی الناس یحدثونهم بشبهات القرآن فجادلهم بالسنن فان اصحب السنن اعلم بکتاب الله۔ (الابانة ۱ : ۲۵۰)۔

حدیث ۵۲ : وعن ابن عباس قال تدارس العلم ساعة من اللیل خیر من احیائها ..الخ۔

د علم درس او تدریس، مذاکره او تکرار، لږ وخت د شپے دا غوره دے تو له شپه په عبادت باندے چه رونړ کړی۔ دے کښی ثواب ډیر دے۔ د علم کلکولو کښی متعدی او لازمی فائده ده۔ طالب العلم له پکار دادی : چه دے په طالب العلمے کښی د عبادت سره شوق پیدا کړی۔ خو نفلی عبادتونه ډیر نه کوی۔ کله چه دے تکرار کوی۔ او بل ئی آوری۔ نو دیدے نیت د مدرسی اوکړی ۔ او چه څوك ئی آوری نو هغه دے نیت د طالبی اوکړی۔ او ددے دواړو اجرونه او ثوابونه دی۔ طالب العلم له ضروری ده۔ چه ګپ شپ اود موبائل په غیرضروری استعمال وقت ضائع نه کړی۔

علامه البانیؒ ددے روایت باره کښی لیکی : سنده ضعیف وفیه من لم یسم ۔

حدیث ۵۳ : وعن عبدالله بن عمرو ان رسول الله ﷺ مر بمجلسین فی مسجده ..الخ۔

مسجدنبوی عجیبه مسجدنبوی وو۔ سنټرل جیل هم وو۔ ثمامه ئی په کښی تړلے وو۔ د تذکیه نفس مرکز هم وو۔ د عبادتونو او د الله تعلق یوه مضبوطه ذریعه وه۔ د درس او تدریس غټه یونیورسټی هم وه ۔ طالبانو ته به په کښی نبی ﷺ سبق خودلو۔ ځانله په کښی اصحاب صفه هم اوسیدل۔ نو نبی ﷺ په دوو مجلسونو باندے تیرشو۔ وئیل دواړه په خیر باندے دی۔ دا به یو ذهن مونړ لرو۔ چه د دین څومره شعبے دی علی خیر دی : که څوك تبلیغ کوی نو ښه خبره ده کوی دے۔ که څوك تدریس کوی دا هم ډیره ښه خبره ده ۔ که څوك تصنیف او تالیف کښی اخته دی دا هم ډیره ښه خبره ده۔ چه د دین د هرے شعبے سره ستا مینه وی۔ چه څوك صحیح جهاد کوی په شرائطو نو دا هم ډیره ښه خبره ده۔ که ته هر یو کارکوی کوه۔ خو نورو ته سپك مه ګوره۔ نو نبی ﷺ په دواړو باندے شاباشی اووئیلو۔ خو تولو شعبو له پکار دی۔ چه قرآن سره خپله رابطه مضبوطه ساتی۔

"وانما بعثت معلما ": ﴿وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾ . (سورة البقرة : ١٢٩) - الله معلم لیږلے دے .: ﴿الرَّحْمَنُ ' عَلَّمَ الْقُرْآنَ﴾ - د نبی ﷺ استاذ الله دے - اود صحابه کرامو استاذ نبی ﷺ دے - اوبیا د تابعینو استاذان صحابه دی وهلم جرًا - دا سلسله د سند په دے هیئت کذائیه سره تردے وخت پورې رارسیدلے ده - حدیث د ابن عمر کښې دی : کان رسول الله ﷺ یعلمنا القرآن فاذا مر بسجود القرآن سجد وسجدنا معه - (مسند احمد) - اوجابر رضی الله عنه فرمائی : کان رسول الله ﷺ یعلمنا الاستخارة فی الامور کما یعلمنا السورة من القرآن - (رواه البخاری فی کتاب التهجد) -

معلومه شوه : چه نبی ﷺ معلم وو د قرآن -

"ثم جلس فیهم ": - بیا نبی ﷺ د علم اود طالبانو مجلس کښې تشریف فرما شو - څومره لوئی مقام دے د علم - اشعة اللمعات کښې شیخ عبدالحق صاحبؒ دے ځائی کښې د حدیث په تشریح کښې لیکلے دے :

گدایاں را ازیں معنی خبر نیست   کہ شاہ جہاں امروز است مارا

د دنیا غریبانانو تاسوته پته نشته - چه د دواړو جهانو بادشاه زما سره ناست دے -

کلاں گوشہ دھقان بہ آفتاب رسید   سایہ بر سرش انداخت چوں تو سلطانے

اس پیارسے آئے ہیں میرے گھر میں صنم آج   ہے اپنا مگر اور کا گھر دیکھ رہے ہیں

اوپه داسے وخت کښې محب د خپل محبوب په دیدن نه مړیږی - اوپه زبان حال وائی :

آئے ہو ابھی اور کہتے ہو جاتا ہوں میں   ذرا ٹھہرو میں نے جی بھر کر دیکھا نہیں

قرآن کښې دی : ﴿وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَه﴾ (سورة الکهف : ٢٨) - عابدین علی الدوام او مخلصین علی اکمل الوجوه چه چا کښې دا دوه صفتونه وی - نو نبی ﷺ ته وائی چه ته به ورسره کینې - اودے مجلس کښې ځان سره ټینګ اوساته - د عالم ډیره اوچته مرتبه ده - دا عام خلق پیر ته اوچت وائی چه ذکر کوی هغه هم غنیمت دے - لیکن اوچت عالم دے - او خاص کر عالم د قرآن -

د دارمی د روایت سند ضعیف دے -

حدیث ۵۴ : وعن ابی الدرداء قال سئل رسول الله ﷺ ماحد العلم الذی اذا بلغه ..الخ -

"حدالعلم ": حد الشيء الوصف المحيط بمعناه المميز عن غيره۔

هغه څيز چه احاطه اوکړے شي په هغے په داسے طريقے چه امتيازد اغيارونه راولي۔ ديته حدوائي۔ ذاتيات چه په کښې د بل نه مکمل جداکيږي۔ فقيه نه مراد اصطلاحي فقيه نه دے۔ کنز، قدوري فقط داکتابونه نه دي۔ داهم دي ليکن دا يواځې نه دي مراد۔

"في امر دينها ": ۔ چه د دين سره تعلق ساتي هغه نه يادوي ۔ د اعتقاد او عمل سره ئې تعلق ډير نشته ۔ د اخبار الغيب سره ئې تعلق نشته۔ عام چه کوم احاديث دي۔ لکه: الدين النصيحة ۔ داسے غونډے احاديث يائې ياد کړل۔ اويائې چهاپ کړل۔ اوتقسيم ئې کړل۔

سوال: ماحدالعلم تپوس شويدے۔ ماته مقدار د علم اوښايه۔ چه هغے مقدار ته څه اورسم چه زمانه فقيه جوړيږي۔ جواب: ئې دا ورکړيدے: من حفظ على امتي اربعين حديثا ۔ چا چه زما په امت کښې څلويښت احاديث ياد کړل۔ نو الله به ئې فقيه اوچتوي۔ نو سوال او جواب کښې خو مطابقت نشته۔ د علم حد نبي اونه خودلو۔ جواب ورکړيدے علامه طيبي" چه جواب ئې د نتيجې په اعتبارسره ورکړو ۔ دے سره لازمي معنى واخله۔ چه د کوم علم د حصول د وجے نه انسان فقيه جوړشو۔ نو دغه مقدار ئې دے۔ " کان فقيها ": ۔نوواړئې دغه علم حديث ۔ دويم: نبي ﷺ جواب على اسلوب الحکيم ورکړيدے ۔ ددے سوال ضرورت نشته۔ چه دا تا تپوس اوکړو۔ بلکه تاله تپوس داسے پکار وو۔ چه انسان د دنيا اود آخرت فائدے چه اخلي۔ نو هغه کوم کار کښې دي۔ چه اوئې کړم۔ نو نبي ﷺ ورته اووئيل چه هغه داکار دے۔ چه دا څلويښت حديثونه ياد کړي۔ اوبل ته ئې اورسوي۔ نو د قيامت په ورځ به تاته زما سفارش ملاؤ شي۔ اوځه به ستا دپاره ګواهي کوم۔ نو ددے نه بيا لوئې خير کوم يو دے۔ ديته وائي خائسته طريقه د سوال ۔لکه: ﴿ يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ﴾ نو قرآن کښې جواب ورکوي: ﴿ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴾ (سورة البقرة: ۲۱۵)۔ خرچ کوی که هرڅه خرچ کوی۔ دا پريږده دے کښې ډيره فائده نشته فائده په دے کښې ده۔ چه مصرف اوپيژني نووړپسے ئې ورته مصرف خودلے دے۔

بل مثال: ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ﴾ نو جواب ئې ورکړو: ﴿ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ ﴾۔ (سورة

البقرة ۱۸۹) - نود "الأَهِلَّةِ" حقیقت ئی خو ورته اونه خودلو - خوته ددے سوال سره څه تعلق ساتی - چه سپوږمی. وړه ولے ده او غټه ولے ده - دا اووایه چه ددے فائدے کومے دی - نو څه درته فائدے بنایم - داسے طریقه چه راځی نودیته وائی جواب "علی اسلوب الحکیم" -

د حدیث د اهمیت د وجے نه علماء کرامو کتابونه د اربعینیاتو لیکلے دی - چهل حدیث ورته وائی - په دے کښی رومبنے تصنیف عبدالله بن مبارکؒ کړیدے - اربعینیات د عبدالله بن مبارکؒ - دغسے ابن دقیق العید پرے هم کتاب لیکلے دے - امام نوویؒ او مفتی شفیعؒ هم کتاب لیکلے دے - مجموعة الرسائل د ملاعلی قاریؒ په دے کښی څلویښت احادیث د نکاح سره متعلق دی - او څلویښت احادیث د فضائل القرآن سره متعلق دی - دا څلویښت څلویښت هغه هم راجمع کړیدی - د نو کتاب نوم ئی دے : رفع الجناح وخفض الجناح باربعین حدیثا فی النکاح - که ددے څلویښتو احادیثو حافظ وی اوکه نه - که په معنی ئی پو هیږی او که نه - عامه خبره ده پکار داده - چه دے ئی خواره کړی - خولیکن ملاعلی قاریؒ دلته لیکی چه د احادیثو په معنی خوبه پو هیږی - داخبره د امام نوویؒ محل نظر ده هغه وائی : چه د احادیثو معنی ورله نه ورځی - او تش ئی خوروی هم کافی ده - ځکه دلته د علم فقهی د مقدار او د هغے فقهی تعریف خبره ده - د حفظ په صله کښی علی راغلے دے - " من حفظ علی " اودحفظ په صله کښی چه علی راشی - نو داد نگرانی معنی لره متضمن وی - "من حفظ " نگرانی کوی کوم کس - "حفظ علیه " معنی ده " رقیب علیه " - بالکل تام توجه ئی ورکړے ده - دا حدیث د فضائل الاعمال سره تعلق ساتی - عجیبه داده : چه دا حدیث کمزورے دے - اوپه دے احادیثو د فضائل اعمال کښی بعضے داسے دی چه هغه ضعیف دی -

علامه طیبیؒ دلته جمله وئیلے ده : وقد اتفق العلماء علی جواز العمل بالحدیث الضعیف فی فضائل الاعمال - د علماء په دے باندے اتفاق دے فضائل الاعمال کښی به په ضعیف حدیث باندے هم عمل کیږی - که ضعیف حدیث پیش کوی - نودے له اعتبار شته - الحق الصریح والاهم دا لیکی : چه فضائل الاعمال کښی داسے حدیث به معتبر وی - اوس وائی دے حدیث ته اوګوره - دیارلس سندونه دی - او دا تول ضعیف دی - او امام نوویؒ لیکی : و اتفق الحفاظ علی انه حدیث ضعیف وان کثرت طرقة - تول دا وائی چه دا حدیث ضعیف دے - اګرچه طریقے ئی ډیرے دی - خو خپله په بیا هم امام نوویؒ په دے عمل کړے دے - دے وجے نه امام نوویؒ ځانله اربعین لیکلے دی - چه ددے حدیث فضائلو حصول ماته

اوشی۔ او شیخ عبدالحق ؒ هم د خپل اربعین ذکر کوی۔
نو معلومیږی چه فضائل اعمال کښې ضعیف حدیث قابل برداشت دے۔ اودا تقریبًا اتفاقی خبره ده۔ ډیر زیات ضعیف به نه وی۔ او هغے له به شهرت نه ورکوی۔ او عقیده به دے داوی چه دادے ضعیف بیا په ضعیف حدیث باندے عمل هم کولے شی۔ که د نورو نصوصو سره ئی ټکراؤ نه راځی نو ټیک ده۔ دا ټولو لیکلے دی۔ شیخ عبدالسلام ؒ هم لیکلے دی انکار حدیث سے انکار قرآن تک: ۱۹۵ : ایسی حدیث ضعیف فضائل الاعمال میں قبول ہوتی ہے اور یہ بات امام احمد بن حنبل اور بہت محدثین سے ثابت ہے جیسا کہ ابن سید الناس نے کتاب عیون الاثر' ملا علی قاریؒ نے کتاب الموضوعات' سخاوی نے القول البدیع اور عراقی نے ...الحدیث اور تقریب شرح التهذیب اور بہت کتابوں میں مذکور ہے۔ کتاب کښې لیکی : چه یو احکامات دی۔ نو په هغے کښې به سختی کیږی۔ د امام احمد ؒ وغیره قول ئی نقل کړیدے۔ چه یو فضائل الاعمال دی۔ نو که په هغے کښې ضعیف حدیث ذکر کوی نو خیر دے۔ معجم صغیر د طبرانی دا چه چهاپ شویدے۔ نو ددے آخر کښې د غیر مقلدینو د یو عالم مولانا شمس الحق عظیم آبادی رساله ده۔ په هغے کښې دی چه د "لا یصح" مطلب دانه دے چه موضوع دے۔ زیات نه زیات دے ضعیف شی۔ بلوغ المرام کښې چه د باب اول کښې کله لیکی : چه دومره حدیث په دے کښې ضعیف دی۔ شرح العقیدة الطحاویه چه علامه البانی ؒ ئی تخریج کړیدے۔ په هغے کښې وائی چه دا ' اودا حدیث په کښې ضعیف دی۔ شیخ الاسلام ابن تیمیة ؒ فتاوی چه ده د هغے تخریج ئی کړیدے۔ نو په هغے کښې روایات ذکر کړیدی۔ علامه البانی ؒ وائی : د هغے روایت ضعیف دے۔ یا دده روایت موضوع دے۔ دا په اکثر کتابونو کښې راځی دا یو ائی فضائل الاعمال کښې ضعیف احادیث نه دی۔ په احکاماتو او د اسماء و صفاتو مسئلو کښې ضعیف حدیث مه راوړه۔

حدیث د ترمذی کښې دی : که د بره نه یو رسی راوغورځوی نو "لهبط علی الله" په الله به راوغورځیږی۔ دا روایت شیخ عبدالسلام ؒ په تنشیط الاذهان آخر کښې لیکلے دے۔ په بحث د اسماء و صفاتو کښې۔ اودا روایت ضعیف دے۔ پخپله ئی وئیلے دی چه روایت ضعیف دے : ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ (سورة الحدید : ۳)۔ ددے د لاندے تفسیر احسن الکلام کښې وائی : چه دا منقطع روایت دے۔ او منقطع د ضعیف قسم دے۔ او شیخ ؒ روستو په تنشیط الاذهان سلفی ایډیشن کښې لیکلے دی : نعم هذه الروایة واسنادها ضعیف۔ او لیکلے دی : ما حققت الامر فی ذالك الوقت فی تصحیح و تضعیف۔ حکمت القرآن تفسیر کښې دی سورة الحشر دایت د لاندے لیکلے

دی : چه دا ضعیف روایت دے۔ مونږ په رنړا د احادیثو کښې روایت دے : فما ذالت تلك صلوته حتی لقی الله ـ رفع الیدین والا مونږ د نبی ﷺ نه تر مرګه پورې ثابت دے۔ داد عصمت بن محمد په روایت سره دے۔ عصمت بن محمد وضاع دے۔ حدیث ئی موضوعی دے۔ او ضعیف خوخواه مخواه دے۔ یواځې د ابن حبان توثیق په داسے غوند مسئله کښې نه کافی کیږی۔ لکه دغه قاعده علامه البانیؒ، صاحب الحق الصریح او علامه بشیر الدین سهسوانی په صیانة الانسان کښې ذکر کړے ده۔

حدیث ۵۵ :وعن انس بن مالك قال قال رسول الله ﷺ هل تدرون من اجود جودًا..الخ۔

د جود تعریف : اعطاء ما ینبغی لمن ینبغی لا لغرض ولا لعوض۔

"ثم انا اجود": ـ حدیث د بخاری کښې راځی : چه د رمضان میاشت به راغله۔ نو نبی ﷺ به : کان اجود الناس ـ کالریح المرسلة۔ سیلۍ چه څنګه تیزه چلیږی۔ ددے نه زیات سخاوت به ئی کولو۔

"من بعدی": ـ غوره داده : چه د مرتبے بعدیت واخله۔ "امیر او حده او قال امة واحدة": ـ دے به د قیامت په ورځ باندے یواځی امیر وی۔ یابه څانله مستقل امت وی۔ دے یواځی دے۔ خو یواځی داسے دے۔ چه ته به وائی چه دے جماعت دے۔ جماعت هغے ته وائی : چه امیر ئی هم وی۔ او مامورئی هم وی۔ که دده مامور نه وی۔ نو خیر دے۔ دا حق پرست پخپله جماعت دے :

لیس من الله بمستنکر ان یجمع العالم فی واحد

لکه : ﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتاً﴾ (سورة النحل : ۱۲۰) ـ بلکه دا معنی ده : چه دے پخپله امیر دے یعنی تابع نه دے۔ څکه امیر تابع نه وی۔ او قاموس کښې لیکلے دی : د امت یو معنی ده : من هو علی الحق فخالف لسائر الادیان ـ اود امام مالكؒ قول دے فرمائی : بلغنی ان عبدالله بن مسعود قال یرحم الله معاذا كان امة قانتا فقیل له یا ابا عبدالرحمن انما ذكر الله عزوجل بهذا ابراهیم علیه السلام فقال ابن مسعود ان الامة الذی یعلم الناس الخیر ـ (تفسیر قرطبی تحت آیة ان ابراهیم كان امة، سورة النحل : ۱۲۰)۔

او مرقات کښې دی : قال ابن مسعود فی معاذ كان امة قانتا لله۔

حدیث ۵٦ : وعنه النبی ﷺ قال منهومان لا یشبعان منهوم فی العلم لا یشبع منه ...الخ۔

"فی العلم لا یشبع": ـ چرته به دا نه وائی چه څه عالم شوم۔ چه هر څومره غټ عالم ولے نه وی۔

بیابه هم ځان چنړی حسابوی ـ د علم دپاره انتهاء نشته دے ـ نه په عمر مړیدل شته نه په سوال ـ خائسته علماء حقیقت کښې اولیاء دی ـ البدایه والنهایه ۱۲ : ۱۱۷ کښې دی : ان لم تکن العلماء العاقلون اولیاء الله فلا اعلم لله ولیا ـ امام احمدؒ به فرمائیل : المحبرة الی المقبره ـ چه د علم انتهاء بمعنی " لا تقف عند حد " نشته ـ نود الله نه غواړه : رب زدنی علما ـ

حدیث ۵۷ : وعن عون قال قال عبدالله بن مسعود منهومان لایشبعان صاحب العلم.. الخ ـ

﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ﴾ (سورة الفاطر : ۲۸) ـ علامه آلوسیؒ د آیت په تشریح کښې لیکلے دی : والمراد بالعلماء العالمون بالله وبما یلیق به من صفاته الجلیلة وافعاله الحمیدة وسائر شؤونه الجمیلة لا العارفون بالنحو والصرف مثلاً فمدار الخشیة ذالك العلم لا هذه المعرفة فكل من كان اعلم به تعالی كان اخشی. وصح عنه ﷺ انه قال : انا اخشاكم لله واتقاكم له ـ

علامه عینیؒ کتاب العلم ۲ : ۵۷ باندے لیکلے دی : چه د علامه ابوالروح شرف الدین نه یو عالم تپوس اوکړو : ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ﴾ ـ ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾ ـ ددے دواړو آیتونو نه خو معلومیږی ـ چه صرف علماء به جنت ته ځی ـ جواب ئی ورکړو : ان المراد من العلماء المؤحدون وان الجنة لیست الا للمؤحدین الذین یخشون الله ـ

حدیث ۵۸ : وعن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ ان اناسا من امتی سیتفقهون ... الخ ـ

"یقرؤن القرآن " : ـ قرآن به وائی خو لیکن غلط استعمال به ئی دا قاری صاحب کوی ـ دده به کار دا وی ـ چه دے به د بادشاهانو سره ځی ـ او چه چرته څوك بادشاه وی ـ نود هغه ملگری به وی ـ یعنی علم به ورسره وی ـ خو استعمالوی به ئی د دنیا پرستو بادشاهانو د منشاء مطابق ـ

" ناتی الامراء فتصیب من دنیاهم " : ـ د ابن ماجه دا روایت بعض ځکه ضعیف گڼړی ـ چه راوی عبیدالله بن ابی برده مجهول دے ـ لکه ابوبکر الکتانی مصباح الزجاجة ۱ : ۳۸ کښې فرمائیلے دی ـ لیکن دا ئی هم فرمائیلے دی : چه امام منذری په کتاب الترغیب کښې تولوراویانو ته ثقه وائی ـ بلکه دوه ځایه نمبر : ۱۸۳ ، دغه شان : ۳۴۳۸ نمبر باندے ورته ثقه وئیلے دے ـ او ابن حجرؒ په التقریب کښې لیکی : مقبول من الرابعة ـ دا راوی اصل کښې عبیدالله بن المغیرة بن ابی برده دے ـ او نیکه ته منسوب کیږی ـ عبیدالله بن ابی بردة ورته وئیلے کیږی ـ کمافی التهذیب ـ اصل کښې عبید الله بن

المغیره ثقه او قابل اعتماد دے۔

"من القتاد الا الشوك": ۔ چه د ازغو اونے له لاړ شی نو صرف ازغی به ورته ملاویږی۔ بادشاهانو او وزیرانوله چه ځی نوستا په دین کښی به نقصان د هغوی د وجے نه خامخواه راځی۔

"قال محمد بن الصباح": ۔ شیخ عبدالحقؒ لیکی: صبّاح باندے "شد" وئیل پکار دی۔ داد بخاری، مسلم، ابوداود شیخ دے۔ ثقة او مأمون دے۔

مرقات کښی ملا علی قاریؒ ډیر لوئی بحث کړیدے۔ محمد بن سلمه قول ئی نقل کړیدے۔ هغه به فرمائیل: الذباب علی العذرة احسن من قاری علی باب هؤلاء الظلمة ۔ چه کوم مچ په ډیران باندے بنګیږی ۔ داده هغے قاری صاحب نه ښه دے چه د ظالمانو دروازو له هر وخت ورځی۔ بیا وریسے محمدبن سلمه دا خبره ذکرکړیده: ورحم الله والدی کان یقول لی ما ارید ان تصیر من العلماء خشیة ان تقف علی باب الامراء ۔ چه زما په والد صاحب دے الله رحم اوکړی۔ ماته به پلار وئیل چه ځه تا عالم نه جوړوم۔ ځکه په تا باندے یریږم۔ هسے نه چه همیشه ته د امراء په دروازه باندے ئی۔

بیا ئی یو خط نقل کړیدے مرقات کښی دی: چه علماء امام زهریؒ ته خط لیږلے دے۔ امام زهریؒ د بادشاه سره وو ۔ ورته ئی اووئیل د بادشاه نه رابهر شه: انك انست وحشة الظلمة، وسهلت سبیل الغی۔ د سرکشی لار دے ورته آسانه کړه۔ اتخذوك قطبا تدور علیك رحی باطلهم ۔ دوی ته د میچنی تیر ګرځولے ئی ۔ اویه تا باندے د خپلو غرضونو میچن اوړوی۔ وجسرا یعبرون علیك الی بلائهم ۔ بیا وائی: ته خوپل ئی ستا په وساطت باندے دوی آخوا خپل غرضونو دپاره ځی۔ وسلما یصعدون فیك الی ضلالتهم ۔ دریمه داده: چه ستا مثال د اندرپائی دے۔ چه د غرض چهت ته خیژی۔ نو تا ورته اندرپائی جوړه کړیده۔ ستا په واسطه خپل ضلالت ته خلق رسوی۔ یدخلون الشك بك علی العلماء ۔ اود علماء باره کښی شکونه پیدا کوی۔ مشهور اشعار دی۔ اسماعیل بن علیه وزیرد صدقات وو۔ عبدالله بن مبارکؒ ورته خط اولیږلو۔

یا جاعل العلم له بازیا	یصطاد به اموال المساکین
احتلت للدنیا ولذاتها	بحیلة تذهب بالدین
فصرت مجنونا بها بعد ما	کنت دواء للمجانین
این روایتك فیما مضی	عن ابن عون وابن سیرین
ودرسك العلم بآثاره	وترکك ابواب السلاطین
تقول اکرهت فما حیلتی	زل حمار العلم فی الطین

(جامع البیان العلم ۲ : ۲۳۶ الباب التاسع والثلاثون، تاریخ بغداد ۶ : ۲۳۶، میزان الاعتدال للذهبی ۱ : ۳۷٤)

چه یو تن ورځی د بیان دپاره هغه څانله خبره ده ـ خو په عامو حالاتو کښې قانون دادے چه :
نعم الامیرعلی باب الفقیر وبئس الفقیر علی باب الامیر ـ هغه ډیرخراب عالم دے چه د بادشاه په دروازه باندے هروخت اولاړ وی۔

اوکتاب الجهاد لعبدالله بن مبارکؒ په مقدمه کښې دی :

قد یفتح المرء حانوتا لمتجره — وقد فتحت لك الحانوت بالدین
بین الاساطین حانوت بلاغلق — تبتاع بالدین اموال المساکین
صیرت دینك شاهینا تصید به — ولیس یفلح اصحاب الشواهین

امام شعبیؒ به دا شعرونه وئیل :

اری اناسا بادنی الدین قد قنعوا — ولا اراهم رضوا بالعیش بالدون
فاستغن بالله عن دنیا الملوك کما — استغنی الملوك بدنیاهم عن الدین

(تاریخ ابن عساکر مختصر ۷ : ۱۵۸)۔

معلومه شوه : چه د علم غرض به جیب او خیټه ډکول نه وی۔ د تعلیم مقصد شکم پروری ګنړل هلاکت دے۔ مسئله د باطن ده نه د بطن۔

حدیث ۵۹ : وعن عبدالله بن مسعود قال لوان اهل العلم صانوا العلم ووضعوه ..الخ۔

مولانا ابوالحسن علی ندوی صاحبؒ لیکلے دی د تقریرونو کتاب کښې مهتممانوته فرمائی ۔
جو یکہ میں آیا اس سے بے اعتنائی برتی گئی ـ کوم کس چه په تانګه کښې عام انسان راغے۔ نو هغه ته نه ګوری چه مدرسے ته راغے ۔ جو موٹر میں آیا خان سرے راغے۔ نو بس استقبالونه ورله کوی۔ کله څه کله څه۔ دادے ذلت او رسوائی۔

د امام زهریؒ قول مرقات کښې دے : العلم ذکر لایحبه الا ذکور الرجال ای الذین یحبون معالی الامور ویتنزهون عن سفسافها ـ یعنی دغسے دنیوی محبت د مال سره د هغه چاکار دے۔ چه عقل او دین ئی دواړه ناقص وی۔

حدیث ٦٠ : وعن الاعمش قال قال رسول الله ﷺ افة العلم النسیان واضاعته ...الخ۔

د نسیان اسباب مه اختیاروه ـ نود نسیان نه به دے الله رب العزت بچ کړی۔ یودا چه ته مطالعه نه کوے۔ او وائی نافع علم راکړه۔ نوداسے خونه ورکوی۔ مطالعه به کوے۔ مطالعه باب مفاعله ده۔ دا

شرکت د جانبینو غواړي. دا کتاب ستا ماز غوته نندارہ کوی. چه په تا کښې څومره زور دے. زما دا خیرے خپلو ماز غوته راوستے شی اوکه نه۔ اودا ماز غه کتاب ته نندارہ کوی. چه څه څومره اخذکولے شم. دیته وائی مطالعه. نو مطالعه به د کتاب کوی. سوچ به دِ هم کتاب طرف ته وی. قلبًا او قالبًا به دے توجه خپل کتاب طرف ته وی. هسے نه چه ناست دلته ئی. او سوچ د بلے غاړے ته وی: ﴿إِنَّ فِيْ ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾ (سورة ق: ۳۷)۔ شاعران وائی تن مے دلے روح مے روضے منورے سره دے. د هغوی تن دلته وی. او روح ئی مدینی منوری کښې ګرځی. نو ستا تن دلته وی. اوګرځی په کلی کښې. نو چه مطالعه دے اوکړه نو تکرار به کوے. " اذا تکرّر تقرر ". بیا وروسته په درس کښې حاضری استاذ ته متوجه ناست وی.

اے طالب العلمه د "اشغال لا یعنینی " نه ځان بچ کړه.

شکوت الی وکیع سوء حفظی فارشدنی الی ترك المعاصی

فان العلم نور من اله و نور الله لا یعطی لعاصی

چه څومره دے ګناه نه وی. نو دومره به دے حافظه اوچته وی. نو د نسیان چه کوم اسباب ظاهری دی ددے نه ځان بچ کړه. اوبیا د علم نه مخکښې نورهم آفات دی. کله کله پیسے نه وی. دا لوئی مسئلے دی ـــ چه ستا شوق وی د علم سره نو غریبی تا نه شی روستوکولے د علم نه ـــ الاکمال کښې مصنفؒ د امام شافعیؒ په حالاتو کښې لیکلے دی: چه ده سره به دومره پیسے نه وے. چه په هغے کاغذ واخلی. اود استاذ خبرے پرے اولیکی. خو همت ئی نه دے بیللے. زاد راه ئی کم دے. شیخ الحدیث علامه بنوریؒ به چه د شوال په اول کښې افتتاحی تقریر کولو نو هغوی به وئیل: لکل شیء آفة وللعلم آفاة ـ د علم ډیر آفات دی. نه دے پریږدی ورته. که غرور' تکبر' حسد' پریخودل ورله ضروری دی او دعاګانی د استاذ واخله. د ابو هریرة رضی الله عنه حافظه چه اوچته ده نبی ﷺ ورته دعا کړیده. که د عبدالله بن عباس رضی الله عنه خدمات ډیردی نبی ﷺ ورته دعا کړیده: اللهم علمه الکتاب ـ اوځکه ئی دعاګانے دواړو ته کړی دی. چه د دواړو خدمتونه ډیر زیات وو. که یو طالب العلم ډیرذهین هم نه وی. خو چه ادب په کښې وی نو روستو ترے بیا الله رب العزت کار اخلی. اوکوم طالب کښې چه علمی تکبر وی اوبے ادبه وی علم ئی ضائع کیږی.

خپله ربیع بن سلیمان وائی: والله ما اجترء ت ان اشرب الماء والشافعی ینظر الی هیبة له. (مناقب الشافعی للبیهقی ۲: ۱۴۵)

علامه آلوسیؒ ددے ایت د لاندے لیکلے دی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتاً غَيْرَ بُيُوتِكُمْ﴾ (سورة النور: ۲۷) چه تواضع د تحصیل علم غټ سبب دے: وقد اعطانی الله عزوجل نصيبا وافيا منه فكنت اكثر التلامذة تواضعا وخدمة للمشايخ والحمدلله تعالى على ذالك.

حدیث ٦١ : وعن سفيان ان عمربن الخطاب رضی الله عنه قال لكعب من ارباب ..الخ.

عمر رضی الله عنه کعبؒ ته ولے اووئیل. اصل کښی کعب له الله مهارت ورکړے وو. د تورات هم. لیکن عمر رضی الله عنه اوچت عالم وو. خود تورات په امورو باندے ډیرنه ووخبر. اوکعب احبار تابعی دے. صحابی نه دے. او دده نه بعضے خبرے کمزورے هم نقل دی.

البدایه والنهایه کښی ابن کثیرؒ په اول اول کښی په ده باندے بحث کړیدے: ان كعب الاحبار لما اسلم في زمن عمر كان يتحدث بين يدى عمر بن الخطاب باشياء من علوم اهل الكتاب. (البدايه والنهايه ۱ : ۲۰).

"الطمع": طمع چه کوے څه ملاوېږی هم نه. طمع کښی په یو حرف باندے ټکے نشته.

شیخ عبدالحق صاحبؒ لیکی: چه دا طمع داسے شیء دے: يصير الاسد ذبابا. د زمری نه مچ جوړوی یوتن باطل پرست دے. اوده ته پته ده چه دده نه زما بُده کیږی. څه به ترے اشتقاق کوم. د هغه په مخکښی حق نه شی بیانولے. زیات نه زیات به دا وائی. داکار ډیر مناسب نه دے. اودده نه دا طمع لومبړه جوړوی. وی به زمری او لومبړه به ترے جوړوی.

آنچه شیراں کند روباه مزاج — احتیاج است احتیاج است احتیاج

آئین جوانمردی حق گوئی و بے باکی — اللہ کے شیروں کو آتی نہیں روباہی

او اشعة اللمعات کښی شیخ عبدالحقؒ لیکی: السلامة في الدين بترك الطمع في المخلوقين.

د بعضے علماؤ مدرسے چه څومره ورانے شوے دی. دننه په هغه کښی طمع اوپه دنیا پرستی اوخواهش پرستی وی. نو د طمع د وجے هرڅه وران شو. بلعم بن باعوراء ددنیا پرستی او خواهش پرستی د وجے د سپی غوندے جوړشو. طمع د علم نور، ثمره او برکت و تاثیر ختموی. ریاء او سمعه پیدا کوی.

امام ذهبیؒ خپل تاریخ کښی د شیخ عبدالله بن الحسین بن ابی البقاء واقعه نقل کوی: جاء اليه جماعة من الشافعية فقالوا انتقل الى مذهبنا ونعطيك تدريس النحو واللغة بالنظامية فاقسمت وقلت لواقمتمونی وصببتم على الذهب حتى اتوارى به ما رجعت عن مذهبي.

(تاريخ اسلام ۱۳ : ۱٤٦ : ۲۳۸۸٤ دارالكتب العربيه بيروت لبنان، التاج المكلل : ۲۱۷).

دغسے بےطمع شخصیت پہ اخلاص د دین خدمت کولے شی۔ حالانکہ نواب صاحب خپل تاج کښې لیکلے دی: چه دا مفتی ماهر، د حدیث حافظ او " لا یخاف فی الله لومة لائم " وو۔
د مدرس د جوړولو، د کتابونو حاصلولو، د مطبع د موادو تحصیل، اود مدرسے او د مسجد تعمیر، اهتمام اود شیخ الحدیث په منصب د فائزکیدوطمعے هرڅه برباد کړل۔ فالی الله المشتکی۔
د یو منصف عالم دین دپاره د امام ذهبیؒ په واقعه کښې غټ عبرت موجود دے۔

لقد اسمعت لو نادیت حیا ولکن لا حیاۃ لمن تنادی

تفسیر مظهری کښې دی د سورۃ الجن د یو آیت په تفسیر کښې هغه لیکی: العلماء امناء الرسل مالم یخالطوا السلطان ویداخلوا الدنیا۔ اوحلیة الاولیاء ۳ : ۱۹۴ کښې دی: الفقهاء امناء الرسل فاذا رایتم الفقهاء قد رکبوا الی السلاطین فاتهموهم۔ طمع اکثر طمع پاتے شی۔ او سړی ذلیله هم شی۔
فضائل القرآن د مستغفری ابوالعباس النسفی المتوفی ۴۳۲ هجری خپل کتاب کښې: ۲۵ نمبر باندے روایت راوړیدے: اذا غلب العالم الطمع ذهب بهاؤه۔ رونق ئی ختم شی۔ بیا ورته هوځیارانِ پیسه سرے وائی۔ مثال ئی دد ے دور د وکیل وی۔ گرمی کښې ورته چا اووئیل سوری ته شه۔ وکیل اووئیل چه څه به راکړے۔ د عام معمول مطابق حق خدمت اغستل دے کښې حرج نشته۔
د تمام پیغمبرانو تقریر کښې دی: ﴿وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾۔
(سورۃ الشعراء: ۱۰۹، ۱۲۷، ۱۴۵، ۱۶۴، ۱۸۰)۔

اک بات ہمارا بھی خدارا سن لو روداد نہیں صرف اشارہ سن لو
بندے کے سہارے کو اللہ کافی ہے بے سود ہے غیروں کا سہارہ سن لو

مسعرین کدامؒ به فرمائیل: من صبر علی الخل والبقل لم یستعبد۔ (تذکرۃ الحفاظ ۱ : ۱۷۸)۔
سرکه او عامه ترکاری سره چه څوک عادت وی هغه د چا غلام نه شی جوړیدے۔
بُنان بن محمدؒ چه علامه ذهبیؒ ورته محدث او شیخ الاسلام وائی لیکی: فرمائی: الحر عبد ما طمع، والعبد حر ما قنع۔ (سیر اعلام النبلاء ۱۰ : ۳۱۱)۔
د طمع باره کښې ادب الدنیا والدین کښې علامه ماوردی شعرونه نقل کړیدی

لاتخضعن لمخلوق علی طمع فان ذالك نقص منك فی الدین
واسترزق الله مما فی خزائنه فانما هو بین الکاف والنون
(وهکذا فی تاریخ بغداد ۳ : ٤٤٥)

حدیث ٦٢ : وعن الاحوص بن حکیم عن ابیه قال سال رجل النبی ﷺ عن الشر ...الخ۔

"ان شـر الشر شرار العلماء": ۔ عـالـم ' حاکم او پیر سم وی۔ نو خلق سم وی۔ اوکه چرته دا درے وارہ خراب وی۔ نو بیا خلق خراب وی۔ دین دریو کسانو وران کړیدے۔ بادشاهانو 'غلطو پیرانو' ناکاره عالمانو۔ او ودان کړے هم دے درے کسانو دے۔ ملا ' پیر او خان۔

علامه اقبال فرمائی : باقی نہ رہی تیری وہ آئینہ ضمیری ، اے کشتۂ سلطانی وملائی وپیری

حفاظت پھول کی ممکن نہیں ہے ، اگر کانٹے میں ہو خوئے حریری (ارمغان حجاز)

داحدیث ضـعیف دے۔ خو ډیر ضعیف نه دے۔ معلومه دا شوه : چه علماء په دوه قسمه دی۔ ښه هم او خراب هم۔ نـو پیـرانـو کښـی هم دوه قسمه دی۔ خو ډیرپه کښی خراب دی : ﴿یَـا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِنَّ کَثِیـراً مِّـنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَیَأْکُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَیَصُدُّونَ عَن سَبِیلِ اللّٰهِ﴾ (توبة : ٣٤) ډیـر د احبـارو او د رهبانو نه هغه ناروا خوراك کوی۔ حرام خوری۔ داسے ډیر علماء سوء دی اولړ په کښی صحیح وی۔ عبدالله بن مبارکؒ به فرمائیل :

وترك الذنوب حیاة القلوب ، وخیر نفسك عصیانها

وهل افسد الدین الا الملوك ، واحبار سوء و رهبانها

لقد وقع القوم فی جیفة ، یبین لذی العقل انتانها

(اعلام الموقعین ١ : ١١)۔

د علامه طیبیؒ قول مرقات هم نقل کړیدے : انهم کانوا شر الشر وخیر الخیر لانهم سبب لصلاح العالم وفساده۔

حدیث ٦٣ : وعن ابی الدرداء قال ان من اشر الناس عندالله منزلة یوم القیامة .....الخ۔

"عندالله": ورسره څکـه وائی یو د خلقو نظریه ده۔ او بل د الله رب العزت خبره ده ﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُکْمُ الَّذِینَ لَا یَعْقِلُونَ﴾ ﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللّٰهِ الَّذِینَ کَفَرُوا فَهُمْ لَا یُؤْمِنُونَ﴾ (سورة الانفال: ٢٢،٥٥)

او نبی ﷺ فرمائیلے دی : اولئك اذا مات فیهم الرجل الصالح بنوا علی قبره مسجدا اولئك شرار الخلق عندالله۔

"عالم لا ینتفع بعلمه": ۔ چه هغه په خپل علم باندے فائده نه اخلی۔ علم باندے فائده نه اغستل نو (١) یو دادی : چه عالم په خپل علم باندے عمل نه کوی۔ (٢) داده : چه عالم څخان سره علم ساتلے دے بل ته ئی نه رسوی۔ مرقات کښی دی : ویل للجاهل مرة وویل للعالم سبع مرات۔

نبی ﷺ به دعا غوختله : اللهم انی اعوذبك من علم لا ینفع۔

حدیث ۶۴ : وعن زیاد بن حدیر قال قال لی عمر هل تعرف ما یهدم الاسلام ....الخ۔

"زلة العالم": ۔ "زلة" معنی لغزش یعنی خویدل۔ عالم اوخوېږی۔ چه اوخویدو په کوم مسئله کښی نو ته وروپسے مه ځه۔ سورة النحل ۹۴ کښی راځی : ﴿ فَتَزِلَّ قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوتِهَا ﴾ د چا قدم به اوخویږی پس د مضبوطوالی د قدم نه۔ چه ته ددغے عالم په خطاء پسے ځی۔ نو روستو خلق گمراه کیږی۔ د هغے په وجه سره۔ وائی ځه لالا سره ژارم۔ لالا سره به نه ژاړی۔ چرته په لاره باندے هلك تیریدو۔ نو یو سړی اووهلو۔ نو خورئی وه هغه ورسره روانه وه۔ هغه هم په ژړا شوه۔ نو وئیل ته ولے ژاړے۔ نو وئیل ئی ځه لالا سره ژارم۔ چه ستا استاذ په کوم طرف باندے ځی۔ نو ته هم په هغه غاړه باندے ځه۔ ورته وایه ځه د نظریاتو تابع یم۔ ځه د شخصیاتو تابع نه یم۔ که په نظریه برابر ئی۔ نو ځم درپسے او که نه ئی نو په مخه دے خه۔

فتح اله شرح کښی دی : چه دا درے ئی ځکه ذکر کړل۔ چه د عالم لغزش د خلقو ظاهری اعمال خرابوی۔ او د بدعتی کجروی د خلقو عقائد تباه کوی۔ او د حاکمانو ظلم ئی معاملات او اموال بربادوی۔ او که عالم سم برابر وے نو بدعتی او حاکم به خپله من مانی نه شوه کولے۔

اعلام الموقعین کښی علامه ابن قیمؒ د کثیر بن عبدالله (ده باندے کثیر کلام مخکښی ذکر شوید ے امداد)۔ په سند لیکی : چه نبی ﷺ فرمائیلے دی : اخاف علیهم زلة العالم ۔ (۲ : ۱۷۳)۔

او د التحذیر من زلة العالم د عنوان لاندے لیکی : وان العالم قد یزل ولا بد اذ لیس بمعصوم ۔ او امام شعبیؒ د سیدنا عمر رضی الله عنه قول نقل کړیدے : یفسد الزمان ثلاثة ' ائمة مضلون وجدال المنافق بالقرآن والقرآن حق وزلة العالم ۔ او جمع الجوامع ۳ : ۶۲ باندے ۷۳۱۹ نمبر باندے روایت دے : عن ابن عمر قال النبی ﷺ ان اخوف مااخاف علی امتی ثلاث زلة عالم وجدال منافق بالقرآن ودنیا تقطع اعناقکم ۔

زلة العالم کسفینة تَغرق ویُغرَق معها خلق کثیر ۔ رواه ابن عبدالبرؒ فی جامع بیان العلم ۔

او الامر بالاتباع والنهی عن الابتداع کښی داسے دی : قال عمر هل تدری ما یهدم دین الاسلام ؟ قلت لا قال یهدمه زلة العالم ' وجدال منافق بالآیات ' وحکم ائمة المضلین ۔

او علامه نشاپوریؒ غرائب القرآن کښی ددے آیت : ﴿ كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْماً كَفَرُواْ بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُواْ أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ وَجَاءهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَاللَّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ (سورة آل عمران : ۸۶) د لاندے لیکلے دی : زلة العالم اقبح من زلة الجاهل ۔

شپږ خبرے علماء داسے ذکر کړے دی۔ چه د هغے د وجے دین خرابیږی (۱) : یوه خبره په هغے کښی داده : چه د آخرت کار کښی به ئی نیت کمزورے وی : ضعف النیة فی عمل الآخرة ۔ (۲) : بدن ئی گانړه دے د خواهشاتو سره : صارت ابدانهم رهینة بشهواتهم ۔ (۳) : ده کښی به امل او خواهشات ډیرزیات وی : غلبة طول الامل حتی قرب اجلهم ۔ (۴) : د نبی ﷺ سنت به ئی غورځولے وی۔ اوبدعات به ئی شروع کړے وی۔ (۵) : د مخلوق رضا به خوښوی۔ او د الله د خفگان پرواه ئی نشته : آثروا رضی المخلوقین فیما یشتهون علی رضی خالقهم فیما یکرهون ۔ (٦): جعلوا زلاة السلف دینا ومناقب لانفسهم ۔ سلفو کښی یو عالم خطاء شو۔ نودے ځانله هغه منقبت اوگنړی۔ او دهغه نه دین جوړ کړی۔(کتاب الاعتصام للشاطبی ۱ : ٦٤)

گلستان کښی دی : امام ابو حنیفهؒ په ختو کښی روان وو۔ یو ماشوم ترے مخکښی روان وو۔ نو ماشوم ته ئی اووئیل چه اونه خوېږی۔ هغے ماشوم ورته اووئیل چه ته د مسلمانانو امام ئی ته اونه خوېږی۔ دنیا دریسے رارروانه ده۔ هغه ټول به بیا اوخوېږی۔

"وجدال المنافق بالکتاب": ۔ د منافق سره کتاب څه کوی خو هسے به لگیاً وی۔ چه په کتاب کښی دا خبره ده۔ عرس په کتاب کښی ثابتوم۔ میلاد د کتاب نه ثابتوم۔ حاضروناظر د کتاب نه ثابتوم وغیره وغیره ۔ د جدال المنافق مصداق هغه کس دے۔ چه بدعت ښکاره کوی۔ او سنت پټ ساتی۔ او زلة العالم ئی مقدم کړو۔ د روستودوو خبرو سبب هم دغه دے : زلة العالم زلة العالم۔

حدیث ٦٥ : وعن الحسن قال العلم علمان فعلم فی القلب فذالك العلم النافع ...الخ۔

علم نافع هغه علم ته وئیلے کیږی چه تاله په آخرت کښی فائده درکړی۔ قرآن کریم کښی ورته اشاره کړیده : ﴿ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ ﴾ (سورة البقرة : ۱۰۲) ۔ چه په آخرت کښی درله فائده درنه کړی۔ نودا علم غیرنافع دے۔ اوکه وی نودا علم نافع دے۔ نبی ﷺ به د سحر د مونځ نه روستودرے ځله دا دعا غوښتله : اللهم انی نسئلك علما نافعا وعملا متقبلا ورزقا طیبا۔
(تاریخ بغداد ٤ : ۳۹) ۔ دا دوه قسمه علمونه شول۔

علم رسمی سربسر قیل است وقال   بے ازو کیفیت حاصل نہ حال
علم چوں بردل زنی یارے بود   علم چوں برتن زنی مارے بود

علم چه زړه ته کوز شی اوزړه پرے اووهی نودابه دے دوست شی۔ اوکه په علم باندے صرف ځان سموی نودابه درله مار جوړ شی۔

۱۰ روایت تاریخ بغداد ۴ : ۳۴٦ باندے ذکرشوید ے۔

حدیث ٦٦ : وعن ابی هریرة قال حفظت من رسول الله ﷺ وعائین فاما احدهما ..الخ۔

ابو هریره رضی الله عنه له الله رب العزت د احادیثو ډیر لوئی علم ورکړے وو۔ د هغے (۱) : یوه وجه داوه : چه دے به ده نبی ﷺ دخوانه خوزیدلونه۔ بخاری کښی روایت راځی : مهاجرینو او انصارو به زمینداری او تجارتونه کول۔ او دے به د نبی ﷺ سره شپه او ورځ مسجد نبوی کښی ناست وو۔
(۲) : دویمه وجه داده : چه نبی ﷺ ورته یو ځل اوویل چه ته څادر خورکړه۔ څادرئی خورکړو۔ نوبیا نبی ﷺ ورله گویا څادردم کړو۔ او ورته ئی اوویل داده خپلے سینے سره اولگوه۔ نو چه د سینی سره ئی اولگوو۔ نو وائی د هغے نه پس زمانه څه هیرشوے نه دی۔

"وعائین ": ۔دوه لوښی ډك د علمونو۔ د علم د دوو نوعو تشبیه ئی د دوو طرفینو سره ورکړیده۔ الأحتواء کل واحد منهما مالم یحتوی الآخر ۔ هریولوښے د خپل خپل څیزنه حاوی دے۔ دواړه هم ظرف او مظروف حساب کړه۔
علامه طیبی ؒ په الکاشف عن حقائق السنن کښی لیکلے دی : من کان محبا للدنیا ' اومصرا علی الهوی ' لم یتحقق بشیء من هذاالعلم ابدا ۔ علامه طیبی ؒ لیکی : قال الشیخ ابوحامد متصوفة اهل الزمان الا من عصمه الله تعالی اغتروابالرأی ' والمنطق ' والهیئة من السماع والرقص ۔ زما د زمانے صوفیان دهوکه شویدی په رأی خپله باندے۔ اوپه منطق او هیئت باندے ډیرزیات غاوره دی۔ او قوالی ئی ډیره خوښه وی۔ اوگډاګانی ډیرے زیاتے کوی۔ اوپه دے ډیرخوشحاله دی : والجلوس علی السجادات مع اطراق الرأس وادخاله فی الجیب کالمتفکر' ومن تنفس الصعداء ۔ چه سرئی ښکته کړے وی۔ دا زما د زمانے متصوفه دی۔ سم صوفیان نه دی۔ او پاتے شوددے دور بعضے جعلی پیران او د هغوی جعلی مریدان هغه ډیرنالائقه دی۔ " هذا البلعوم ": ۔ دے نه دا معلومه شوه چه بعضے علوم به په ممبرنه بیانوی۔ تیك ده د پیغمبرخبرے دی۔ حکمت القرآن کښی دی : چه د انبیاء د گناهونو ذکربه په ممبرنه کوی۔ چه دے پیغمبردا گناه کړیدے۔ اودے پیغمبردا گناه کړیدے۔ انتهی۔ اګرچه د هغوی خطاء اجتهادی شوے ده۔ خوددے څه حاجت دے۔ چه بے ضرورته ئی مستقل د تنقیدپه اندازکښی ذکرکوی۔ چه آدم علیه السلام دوغل ته پریوتو خطاء شو۔ نوح علیه السلام باندے د جاهلیت جزبه غالبه شوه۔ موسیٰ علیه السلام د نبوت نه مخکښی یوه غټه گناه کړے وه۔ دابه نه لیکی اونه به ئی بیانوی۔ بعضے خلق وائی ددے نه علم تذکیه اود هغے اسرار او رموز مراد دی۔ بعضے وائی داد فتنو خبردارے ورکول دی۔

د هغې دلیل داد ے: چه د ابو هریره رضی الله عنه په خپله روایت راځی چه "امارۃ الصبیان" نه پناه غوختلے شوے ده. د یزید حکومت ته په کښې بعض شارحین اشاره کوی لیکن صحیح نه دی. دوی وائی چه ٦٠ هجری کښې ددوی حکومت وو. او دے ابو هریرۃ رضی الله عنه دا وئیلے وو: چه الله ماد هغه حکومت نه مخکښې مړکړه. نو ابو هریره رضی الله عنه د هغے حکومت نه مخکښې وفات شویدے. ابو هریره رضی الله عنه به ددے ذکرنه کولو. سینه کښې ئې محفوظ ساتلو. لکه حذیفه رضی الله عنه د نبی ﷺ رازونه په سینه کښې کیخودلے دی. صدور الاحرار قبور الاسرار.

علامه هیثمیؒ لیکلے دی: چه داسے موقع کښې به امام زین العابدین فرمائیل:

یا رب جوهر علم لو ابوح به ... یقتل لی انت ممن یعبد الوثنا

لا استحل رجال مسلمون دمی ... یرون اقبح ما یؤتونه حسنا

فائده: دا تحقیق کمزورے دے. چه د ابو هریرۃ روایت: هلكة امتی علی ایدی غلمة من قریش. نه د یزید امارت مراد دے. اګرچه مشهوره دغه ده. شاه ولی اللهؒ ئې محل د عبدالملك بن مروان اولاد جوړوی. او ددے تائید د سیدنا ابو هریره د شاګرد په وضاحت سره بخاری کښې موجود دے. چه د بنو مروان اولاد ئې ورله مصداق جوړ کړیدے. دویمه خبره داده: چه د ابو هریره رضی الله عنه د دعا الفاظ داسے دی: اللهم لاتدرکنی سنة ستین ولا امارۃ الصبیان ـ دا دواړه بالکل جدا جدا څیزونه دی ـ لکه چه د معطوف او معطوف علیه د انداز نه معلومیږی. نو معلومیږی چه د ٦٠ هجری واقعه او د امارۃ الصبیان مصداق جدا جدا څیزونه دی. اود امام حاکم د روایت نه معلومیږی چه سیدنا حذیفه ئې مصداق د سیدنا عثمان شهادت ګرځوی.

(دریم): یاداسے علوم چه په چاکښې د هغے استعداد نه وی. دا مه بیانوه. اوس شپل زمیندار درته راجمع شویدی. چه یوپه کښې طالب نشته. اوته ورته وائی: چه نن درته څه یو اهمه مسئله بنایم. هغه دا چه په ایمان کښې کمے راځی اوکه نه راځی. نو هغوی په دے څه پو هیږی. هغوی ته خو ساده ساده خبرے کوه. د وخت نه ورته مخکښې خبرے مه کوه.

شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ د بخاری په شرح کښې مثال ذکرکړیدے. ددے مثال د هغے وړوکی ماشوم دے. د څلوروکالو یا د پنځوکالو او هغه د پلار نه تپوس اوکړی. چه بابا دے واده کښې څه چل دے؟. چه خلق ئې کوی. دے په دے نه پو هیږی چه څه چل وی. ځکه دے د هغے مقام ته نه دے رسیدلے

ـ چه کله بالغ شی او په ده کښی شهوت راشی نو دے به بیا په دے چل روستو پو هه شی. که دے وائی چه ما پرے پو هه کړه. نو دے پرے پو هیدے نه شی. نو چه څوك د خبرو استعداد نه لری. نو دا سے خبرے هغوی ته مه بیانوه. طالبان یا علماء ناست دی بیانوه خو چه شډل امیان درته ناست وی. هغوی د مونځ په الفاظو باندے نه پو هیږی. هلته څه حاجت دے. چه ته ئی ورته بیانوی. دلته یا دسعودی عرب ریاض دوارو ځایونو کښی عوام په خپل سنت عمل ته پریږده. بس هغوی راروان دی د مخکښی نه په یو طریقه باندے. هغه هم ثابته ده. که په ریاض کښی دی. هغوی رفع الیدین کوی. نو هیڅ حاجت نشته. چه هلته وائی چه په ترك د رفع باندے کوم احادیث راغلی دی. په هغے باندے به څوك عمل کوی. دغسے دا هم صحیح نه دی. چه امیانو ته په دے علاقه کښی د رفع الیدین کولو په تذکره تشویش پیدا کوی. دغه طاقت د شرك و بدعت رد کښی استعمال کړه.

فائده: علامه طیبیؒ واقعه نقل کړیده کوم کس چه علم د دنیا دپاره حاصلوی. مثال ئی دادے: ومثالهم مثال عجوز سمعت ان الشجعان تكتب اسماء هم فی الدیوان فتاقت نفسها ان یکتب اسمها فیهم. فلبست درعا ووضعت علی رأسها مغفرا وتعلمت کیفیة تبخترهم فی المیدان وحر کاتهم والتفاتهم وشمائلهم فیها وتوجهت الی المعسكر فلما نفذت الی دیوان العرض، وامرت بالتجرد عن المغفر والدرع لتمتحن بالمبارزة مع بعض الشجعان، فاذا هی عجوز ضعیفة، فقیل لها، اجنت للاستهزاء بالملك؟ والاستحماق اهل حضرته؟ فحینئذ تنكل نكالا لیس بعده، هكذا حال المدعین فی القیامة اذا كشف عنهم الغطاء، وافتضحوا علی روؤس الاشهاد. دا علم لسانی والا به د قیامت په ورځ د پتهکواو د جبونه رابهر کړے شی. او په اصلی صورت کښی په محشر کښی شرمنده پیش کړے شی. الله رب العزت دے زمونږ حفاظت په خپل رحم سره ددغے عالمی ذلت نه اوکړی.

حدیث ٦٧: وعن عبدالله قال یاایها الناس من علم شیئا فلیقل به ومن لم یعلم ... الخ.

"**فلیقل الله اعلم**": موسیٰ علیه السلام په نفس الامر کښی د سوال، جواب برابر ورکړے وو. تپوس ترے اوشو. چه ستا نه لوئی عالم شته. نو هغه ورته اووئیل نه. خو الله لږ خفه شو. چه تا ولے داسے اونه فرمائیل چه والله اعلم. ماته د هغے پته نشته. نو ورته ئی اووئیل څه خضر علیه السلام له اوهلته سبق اووایه. دا "لاادری" هم یو علم دے. دغسے تلویح توضیح کښی دی. اودلته مرقات کښی هم دی. د امام مالكؒ نه د څلویښتو مسئلو تپوس شویدے. او ٣٦ مسئلو کښی هغه وائی "لا ادری".

ماته پته نشته۔ دایو علم دے۔ چه سړی نه پو هیږی۔ او وائی چه څه نه پو هیږم۔ لکه څنګه چه ملائکو وئیلے وو: ﴿قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ﴾۔

اومفسر قرطبی د ایت د لاندے لیکی: قلت هذا فی زمن مالك فكیف فی زماننا۔ اولیکلے ئی دی: چه اوس علم ریاست له ایزده کوی نه درایت له۔ او په هم عصرئی ځان غالب کول مقصد وی۔

واقعه د علی رضی الله عنه

د زمخشری کتاب دے ربیع الابرار په هغے کښی د علی رضی الله عنه واقعه ده۔ دا واقعه شرح فقه اکبر کښی ملا علی قاریؒ هم ذکر کړے ده۔ علی رضی الله عنه نه یو تن د مسئلے تپوس اوکړو۔ او هغه په ممبر باندے ناست وو۔ هغه وئیل: څه نه پو هیږم۔ هغے سړی ورته وئیل: هسے په ممبر باندے ناست ئی۔ نوعلی رضی الله عنه ورته وئیل داخو مالړعلم کړیدے۔ د هغے په وجه په ممبر ناست یم۔ چه په کومو نه پو هیږم۔ او د هغے په وجه بره تلم نو نن به څه په آسمانونو کښی ګرځیدلے: ولو طلعت بمقدار جهلی لبلغت السماء۔ د عقل کل دعوٰی به نه کوی۔ چه څه خبرے دی۔ هغه ماته تولے معلومے دی۔

واقعه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نوسی

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نوسی ته طالبان ناست وو۔ سبق ئی خودلو طالبان ترے چاپیره ناست وو۔ یو تن ورته وئیل دا مسئله څنګه ده؟ ۔هغه وئیل ماله نه راځی۔ نو هغه ورته په غور کتل۔ نودے پو هه شو۔ نوورته ئی اووئیل: لاتنظر الی طول لحیتی و کثرة الناس حولی۔ دے ته مه ګوره۔ چه اوګده ګیره مے ده۔ اودا ګیر چاپیره رانه شاګردان ناست دی۔ چه نه پو هیږم خونه پو هیږم۔ چه ګیره زما څومره اوګده شوه۔ نودومره به زما علم سوا وی۔ داخو دے سره نه ده لازم۔

(مقدمه فتاوی دار العلوم دیوبند ' اعلام الموقعین ٤ : ٢٧٩)۔

او نوازل د ابو اللیث کښی دی: چه کله به یو کاله پورے امام ابو حنیفهؒ جواب نه ورکولو۔ او فرمائیل به ئی: لان یخطی الرجل عن فهم خیر من ان یصیب بغیر فهم۔

د: ﴿لَا عِلْمَ لَنَا﴾ په ذیل کښی تفسیر قرطبی کښی دی: الواجب علی من سئل عن علم ان یقول ان لم یعلم :الله اعلم ولا ادری ' اقتداء بالملائکة والانبیاء ۔ او مرقات کښی وجه بیان کړے ده۔ چه معلوم او مجهول کښی امتیاز دا هم یو نوعه علم دے۔ د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه جواب ئی نقل کړیدے۔ چه

د "ابا" په جواب کښې ئې فرمائيلے وو: اى سماء تظلني واى ارض تقلني اذا قلت في كتاب الله مالا علم لي به
. اګرچه د مرقات دغه روايت کښې انقطاع ده. د سلفو زياته يره به د افتاء نه وه.

حديث ٦٨: وعن ابن سيرين قال ان هذا العلم دين فانظروا عمن تاخذون دينكم ..الخ.

ابن سيرين د انس رضى الله عنه آزاد کړے شوے غلام دے. ١١٠ هجرى کښې وفات شويدے. د
خوب د تعبيراتو ماهر وو.

"تاخذون دينكم": - کوم کس چه حديث وائى. نو هغه به ئى د هرچانه اخلى. مخکښې يو روايت
ذکرشويدے: الكلمة الحكمة ضالة الحكيم فحيث وجدها فهواحق بها. چه داخود حکيم ورك شوے شئ
دے. چه کوم ځائى کښى اومندو. نو هغه به ئى اخلى. يعنى علم به د هرچانه اخلى اودلته وائى:
د هرچانه به ئى نه اخلى. نو په دے کښى تطبيق دادے: يو اميان دى هغوى به دومره ګورى چه دا سړى
قابل دے عالم دے فارغ دے. نو د هغه نه به تپوس کوى. يو طالب علم دے. او خصوصًا طالب
الحديث دوى به د هرچانه سبق نه وائى. د حديث استاذ به ئى ثقه او عادل وى. د قرآن وسنت د علم په
اغستلو کښى به احتياط کوى.

مقدمه د امام مسلم کښى دى: ابن سيرينؒ فرمائى: وينظر الى اهل البدع فلا يؤخذحديثهم. په علم حديث
کښى د سند اهميت مسلم دے: لولا الاسناد لقال من شاء ما شاء.

کتاب السنة للخلال کښى دى: وقال رجل من اهل البدع لايوب السختياني يا ابابكر اسئلك عن كلمة فولى
وهو يقول ولانصف كلمة. (الجزء السادس كتاب السنة للخلال) وهكذا في الابانة لجزء الثالث: ٤٤٧).

وهكذا في حلية الاولياء ٣: ٩).

عن مالك الامام انه قال لا تحمل العلم عن اهل البدع كلهم. (تهذيب تاريخ دمشق ٤: ١٧٥).

حديث ٦٩: وعن حذيفة قال يمعشر القراء استقيموا فقد سبقتم سبقا بعيدا وان ...الخ.

د نبى ﷺ په دورکښى چه کوم قراء وو. هغوى به عالمان هم وو. په هدايه کښى باب الامامة کښى د
هغے وجه ذکرکوى. هغه حديث کښى راځى: چه قاريان به مخکښى کوے. نو وجه ئى داده: لانهم
كانوا يتلقونه باحكامه - كه قاريان به وو. نو هغوى به د قرآن احکامات ايزده کړے وو. تش قارى به نه وو.
عالم به هم وو. على رضى الله عنه به علماؤ ته فرمائيل: ياحملة العلم اعملوا به فانما العلم من عمل.

موطا کښى د عبدالله بن مسعود روايت دے: انك في زمان كثيرفقهاءه' قليل قراءه' تحفظ فيه

حدودالقرآن وتضیع حروفه وسیاتی علی الناس زمان قلیل فقهاء ه کثیر قراء ه تحفظ فیه حروف القرآن وتضیع حدوده۔ (وهکذا فی بیان جامع العلم : ۳۶) ۔

سهیل بن عبدالله فرمائی : چه دنیا کښې اصل د علم باعمله حصول دے۔ والعمل کله هباء الا الاخلاص ۔اخلاص کښې بیا ډیر احتیاط دے۔وهب بن منبهؒ فرمائی : چه د علم طغیان کله د مال د طغیان غوندے وی۔

"استقیموا "۔استقامت اختیارکړې په نیغه لار باندے۔دا اصل کرامت دے۔

"سبقتم " ۔ستاسونه سبقت کړے شویدے۔نوتابعینوته وائی : چه تاسو د صحابه کرامو په لار باندے روان شی۔صحابه ته وائی : چه تاسوکلك شی۔ خلق درپسے دی۔یعنی اعمال د ریاء نه پاك کړے۔او عقائد د بدعاتو نه محفوظ اوساتی۔

مرقات کښې دی : ومن رکب متن الریاء اخذ عن یمین الصراط وشماله۔

او روستو د ګمراهی په کندوکښې داسے سرې تباه کیږی۔

حدیث ۷۰ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ تعوذوا بالله من جب الحزن ...الخ.

"المرآء ون باعمالهم ": ۔داډیرغلط عمل دے چه عملونه د ریاکاری دپاره کوی : ﴿ وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّيْ أَحَداً ﴾. (سورة الکهف : ۳۸) ۔تفسیر قرطبی کښې بالکل آخرکښې داسے لیکلے دی : یوعالم وو۔چاترے تپوس اوکړو۔چه ته عراق ته کله راغلے ئی۔نو هغه اووئیل شل کاله اوشو۔ چه څه راغلے یم : ان طاهربن الحسین قال لابی عبدالله المروزی منذکم صرت الی العراق یا ابا عبدالله قال دخلت العراق منذ عشرین سنة وانا منذ ثلاثین سنة صائم فقال یا ابا عبدالله سئلنك عن مسئلة فاجبتنا عن مسالتین ' وحکی الاصمعی ان اعرابیا صلی فاطال والی جانبه قوم فقالوا ماآحسن صلاتك ؟ قال وانا مع ذالك صائم۔

او د دیرشوکالونه زما روژه هم ده۔ څه روژی نیسم۔نو هغه ورته اووئیل یاشیخ ماد یوے خبرے تپوس اوکړو۔او تاله ماله د دوو جواب راکړو۔

خپله ریاکاری ئی په کښې ښکاره کوله۔اودا ډیرخراب کار دے۔د ریاکارتذکره شاعرکوی۔

بہ زمین چوں سجدہ کردم ز زمین ندا بر آمد کہ مرا خوار کردی تو بسجدہ ریائی

ماپه زمکه سجده کوله زمکے راله دا آواز راکړو۔سرپورته کړه ریاکاره۔د ریاکاری سجده کوی۔او د

ریاکاری سجده نه قبلیږی۔

بطواف کعبه رفتم به حرم رهم نه دادند　　تو بیرون در چه کردی که درون خانه آئی

وائی تلے اووم عمری له طواف مے کولو۔ نو طواف کښې ماله زمکے لار نه راکولو۔ بزبان حال ماته ئی وئیل بهرڅه کارونه کوی۔ چه دننه راپاسی هم راغلے۔ بیا وائی:

به قمار خانه رفتم همه پاک باز دیدم　　چوں بمسجد رسیدم همه یافتم ریائی

د جوارۍ ځائی ته لاړم نو ټول مے پاکان خلق په خپل کارکښې اولیدل۔ چه یو بل سره ئی مینه ده۔ او چه جومات ته راغلم۔ نو ټول یو بل سره وران دی۔ او د یو بل سره ئی مینه نشته۔ هر یو ریاکار دے۔

احیاء العلوم کښې امام غزالیؒ لیکلے دی: چه سیدنا عمر رضی الله عنه په یو واعظ پابندی لګولے وه چه ته به تقریر نه کوے۔ نو هغه اووئیل ماکښې څه چل دے۔ عمر رضی الله عنه ورته اووئیل۔ ته چه په ممبر باندے کینې نو بیا پرسیږی۔ تاکښې غرور ډیر راځی۔ که قاریان دی که خطیبان دی۔ که یا عالمان یا پیران دی۔ یامال لګونکی مالداران دی۔ ډیرکم د ریاکارۍ نه بچ دی۔

یو روایت کښې راځی: ان من ابغض القراء الی الله۔ دا قاری صاحب خو ډیر ابغض دے۔ د الله ډیر بدی شی۔ چه کله په کښې ریاکاری وی۔ او دنیا پرستی وی۔ د مالك بن دینار قول دے: ان الشیطن لیلعب بالقراء کما یلعب الصبیان بالجوز۔ (حلیة الاولیاء ۲ : ۲۷۵ دارالکتب العلمیة بیروت لبنان)۔

او دا ئی هم فرمائیلے دی: تجوز شهادة القراء فی کل شیء الا شهادة بعضهم علی بعض فانهم اشد تحاسدا من التیوس فی الزرب۔ (حلیة الاولیاء ۳ : ۲۷۸)۔

حدیث ۷۱: وعن علیؓ قال قال رسول الله ﷺ یوشك ان یاتی علی الناس زمان ... الخ۔

"لایبقی من الاسلام الا اسمه": ۔لکه نو مونه اسلامی جمهوریه پاکستان، اسلامی جمهوریه ایران۔ دا نو مونه د خوشحالۍ دی لیکن الله دے په کښې صحیح اسلامی نظام نافذ کړی۔ نن صبا د اسلام نه مکمل خبر نه دی۔ قرآن منی لیکن د قرآن، اسلام حقیقت عنقاء دے۔

"ولا یبقی من القرآن الا رسمه": ۔ښکلے ښکلے چهاپ خانے، د سروزرو او بو باندے لیکل د قرآن به وی۔ او عمل به ئی په قرآن نه وی۔

شیخ عبدالحقؒ اشعة اللمعات کښې لیکلے دی: مراد برهم قرآن تجوید حروف واتقان الفاظ بے تفکر وتدبر و معانی و عمل باوامر ونواهی آں۔

نو سوال راځي: چه قرآن به ولے رسم شي. جومات کښې قرآن نه بیانیږي. چه خلق ورته کیني. جواب ورکوي "مساجدهم عامرة": د دوی جوماتونه به آباد وي. دوی ښوك دی. دا چه اسلام برائے نام قرآن ئې رسمي کتاب ګڼړلے دے. ددے رسمیانو جوماتونه ددے برائے نام مسلمانانو جوماتونه آباد به وي. ډیرے غټے غټے بناء ګانې به وي. قالینونه به په کښې غټ غټ او مذیدار وي. خو دا به خالي وي د قرآن نه. په جومات کښې به هرڅه کوي ذکر، فکر، نعتونه، شعرونه او مشورے خو هغے کښې به درس د قرآن کریم نه وي. د قرآن د درس دپاره به په کښې وخت نه اوباسي. جومات به یو شپه کښې جوړ کړي. خو مانځه له به بیا نه راځي.

مسجد تو بنائی شب بھر میں ایمان کی حرارت والوں نے

من اپنا پرانا پاپی تھا برسوں سے نمازی بن نہ سکا

"علماء هم شر من تحت ادیم السماء": د آسمان د څرمنې د لاندے د ټولونه زیات شریان ئې علماء دي. دا ښومره شرونه چه جوړ دي. داد داسے رسمي ملیانونه جوړ دي. دا چه سم او پوره علم ئې نه دے کړے. دا ښومره فرقے چه جوړے دي. دا معتزله، خوارج، کرامیه او مرجئه دي. د دوی ملایان ټول نیم ګړے علمونو باندے فخر کوي.

"من عندهم تخرج الفتنة": د ملا نه ورانه ده او د مقتدیانونه ورانه ده. دوی کله وائي "الا بلا بگردن ملا". مونږ ورته وایو: ادی بدی بہ گردن مقتدی. ورانه د دواړو نه ده. څه جرنده ورانه ده. او څه دانے لمدے وي. قرآن کښې: ﴿أُولَـٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ﴾ او: ﴿أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾. (سورة الاعراف: ۱۷۹، ۱۷۶). دواړه آیتونه شته.

دحدیث وضاحت: هر یو ښیز دوه تصویره دي. یوئې اسم دے. او بل ئې معنی ده. اسم ئې صورت دے. او مسمی ئې حقیقت دے. لکه سره دي. نو(۱): یو هغه سره دي. چه ډول په کښې وي. پړق پړق کوي. او اصلي نه وي. (۲): چه هغه اصلي وي. چه په هغے کښې کوټ نه وي. هم ظاهري صورت ښکلے پکار دے. چه اسم دے. او هم ئې مسمی ښکلے پکار ده. چه هغه حقیقت دے. اوس بعض خلق اله وائي: ګنج بخش علي هجویري او غریب نواز ته. قرآن کښې دي: ﴿إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاء

سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم ﴾۔دا نومونه دي تش۔ ﴿مَّا أَنزَلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ﴾۔
(سورة النجم :۲۳)۔د اسلام سره اسم یادوی۔ او د قرآن سره رسم۔ ددے وجه داده : چه کوم کسان قاریان او د قرآن خادمان ځان ته وائی۔ نو هغوی د قرآن نه رسم جوړ کړو۔ تجوید کوی صرف مخارج ئی یاد کړیدی۔ تول کوشش ئی د تحسین الالحان دے۔ چه لهجه ښکلے ' آواز مزیدار وی۔ ددے په معانیو کښی سوچ ' فکر نه کوی۔ قرآن خوان چه فهم دان او په اخلاص سره عامل بلا چنین و چنان وی کامیاب دے۔
د صحابه کرامو عادت وو۔ چه لس آیتونه به ئی وئیل۔ هله به مخکښی تلل۔ چه تر څوئی پرے عمل نه وو کړے۔
علامه طیبی" وائی : داسے دور دے چه قاریان د معانی نه نه دی خبر۔ تفکر په معانیو کښی نه کوی۔ علامه قاسمی" یو ځائی لیکلے دی وائی : دا جاهلان خلق چه کله د قاریانو تلاوت اوری۔ او قاریان هم نه پو هیږی۔ نو چه وائی : ﴿ قَالَ اخْسَؤُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ﴾ په ښکلے آواز نو وائی :اللهم زد فزد۔ یا الله سوا ئی کړے۔ او اسلام داسے نه دے۔ اسلام باقی دے۔ او مسمی ئی مدرسه ده۔ ورانه ده ختمه شویده۔ زکوة چه کوم مقصد دپاره وو۔ چه په مخلوق باندے ترس اوکړه۔ او الله پرے رضا کړه۔ نن هغه صفت نشته۔ هغه په مخ ملاذه باندے زکوة ورکول دی۔ داسے د دین نور کارونه چه دی۔ په هغے کښی هغه اخلاص پاتے نه شو۔ علامه اقبال" وائی :

رہ گئی رسم آذاں روح بلالی نہ رہی　　　　فلسفہ رہ گیا تلقین غزالی نہ رہی

آذان کوی لیکن په هغے کښی روح د بلال نشته دے۔ که مونږ کوی خو اکثر الناس ساهون عن الصلوة۔ د مانځه د حقیقت نه بے خبره دی۔ او څوك نشته داسے چه د مونځ حقیقت ورته بیان کړی۔
نوټ :۔ د بیهقی په یو روایت کښی د " علماء هم " په ځائی " فقهاء هم " راغلے دے۔ المغنی ۱ : ۴۸۰ باندے ددے حدیث باره کښی لیکلے دی : یو جماعت ئی توثیق او یو جماعت ئی تضعیف کړیدے۔ او تاریخ بغداد ۱۱ : ۱۱۹ او تهذیب التهذیب کښی د امام احمد" نه توثیق نقل دے۔ مختلف فیه راوی دے۔ او حسن الحدیث دے۔ نو حدیث د حسن درجه لری.
دلته حدیث کښی راوی عبدالله بن دکین الکوفی باندے دغه کلام دے۔
د حدیث نه معلومه شوه : چه قرآن او په عمل بنیاد د تول دین دے۔

هذا هو القرآن نبراس الهدی　　　　دستورك الاسمیٰ المنیر المشرق
آیاته منبع العلوم جمیعا　　　　من قال لا فهو الغبی الاخرق

"هی خراب من الهدی": ۔ ان خرابها لوجود هداة السوء الذین یزیغون الناس ببدعتهم وضلالتهم۔

حدیث ۷۲ : وعن زیاد بن لبید قال ذکر النبی ﷺ شیئا فقال ذاك عند اوان ذهاب...الخ۔

په دے حدیث کښې دده بیان کوی ۔چه عالم په خپل علم باندے عمل نه کوی ۔ دے سره علم ختمیږی ۔ ځکه چه په علم عالم عمل نه کوی ۔ داسے عالم او جاهل دا یو شیء دے ۔ دے دواړو کښې فرق نشته ۔ اوچت خیز په علم باندے عمل دے ۔

حدیث ۷۳ : وعن ابن مسعود قال قال لی رسول الله ﷺ تعلموا العلم وعلموه ....الخ۔

"والعلم سینقبض": ۔ علم به د خپل ذات په اعتبار سره ختمیږی ۔ اوچه کله علم ختم شی ۔ نوورسره به فتنے رابشکاره کیږی ۔ ځکه دادیو بل اضداد دے ۔ حدیث کښې ترغیب دے په دے خبره باندے چه په علم عمل کوه ۔ چه چا پرے عمل کړیدے ۔ نو الله ورله نور هم علم ورکړیدے ۔

قرآن کښې راځی : ﴿وَمَن يَتَّقِ اللّٰهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا﴾ (سورة الطلاق : ۲) ۔ چه د الله نه اویریږی ۔ نو الله به ورله مخرج ورکړی ۔ معنی داده : چه د مشکل نه به ئی اوباسی ۔ خو دویمه معنی د مخرج دے ځائی کښې د مشکوة شارحین دا ذکر کوی : اخرج من الاشکالات ویرزقه علما من غیر تعلم ۔ ده له اشکالات ختموی علم باندے چه عمل کوی ۔ نو د ذهن اشکالات به دے ختمیږی ۔ ده له الله هغه علم ورکوی چه ده زده کړے نه وی ۔ ذهن ورته الله کھولاؤ کړی ۔ او بیا ئی ورسره روایت راوړیدے : من عمل بما علم ورثه الله علم مالم یعلم ۔ چاچه په خپل علم عمل اوکړو ۔ الله به ورله هغه علوم ورکړی ۔ چه ده له نه ورځی ۔

قرآن کښې دی : ﴿وَاتَّقُواْ اللّٰهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ﴾ (سورة البقرة : ۲۸۲) ۔ چه څومره تقوی وی ۔ د هغے په اندازه به هغه علم درکوی ۔ چه عمل به په هغے درته آسان کړی ۔ لیډری آسانه ده ۔ خو علم او بیا پرے عمل ډیریه محنت او د الله په فضل ملاویږی ۔

لیڈری چاہو تو فقط قوم ہے مہمان نواز گپ فروشوں اور اہل میز کو راضی کرو

حدیث ۷۴ : وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ مثل علم لا ینتفع به کمثل ...الخ۔

د حدیث مطلب دادے : چه علم او مال دے دواړو له ئی تشبیه ورکړه ۔ مال په لګولو سره فناء کیږی ۔ او علم زیاتیږی په لګولو سره ۔ "کمثل کنز": ۔ دا یو تشبیه ده د خزانے سره ۔ دا داسے تشبیه ده ۔ لکه


علماء وائی : النحوفی الکلام کالملح فی الطعام ۔ علامه طیبیؒ وائی : تشبیه العلم بالکنزوارد فی مجرد عدم النفع فی الانتفاع ۔ د علم تشبیه ئی چه د خزانے سره ورکړیده ۔ هغه داده : چه د دواړو کښی فائده اغستل نشته ۔ د علم مثال ئی د خزانے سره ورکړو ۔ لکه چه په خزانه باندے مار ناست وی ۔ نو مار ترے هم فائده نه اخلی ۔ او بل هم فائده ته نه پرېږدی ۔ نودے چه علم نه خرچ کوی ۔ نودے ترے هم فائده نه اخلی ۔ په علم کښی اوپه مال کښی فرق دے ۔ هغه دادے : وان العلم یزید بالانفاق والکنز ینقص والعلم باق والکنز فان ۔


فان المال یفنی عن قریب وان العلم باق لا یزال

" لا ینفق منه فی سبیل الله " : ۔ نه په ځان خرچ کوی ۔ اونه ئی نیکوکارونو او جهادکښی لګوی ۔

علامه البانیؒ لیکی : فالحدیث بمجموع الطرق حسن لا سیما له شاهد عن ابن عمر موقوفا ۔

دا روایت ضعیف دے ۔ ابراهیم بن مسلم باندے کلام دے ۔ لیکن د عبدالله بن عمر ﷛ نه موقوف صحیح دے ۔





دچاپ ځای
091-2580182
0300-5991873
0315-5991873